#ابلیس ناول څلورم پړاو

ناول: زقوم

لیکوال: خواجه زي

نشرکونکې: خواجه زی خپروندویه اداره. https://t.me/pashtoonovels0

@Shuhab09




@Shuhab09

"بِسمِ أٓاللّٰهِ أٓالرحمٰنِ أٓالرحیم"

ګنګس او نشه نشه وم، سترګي مې نشو خلاصولې خپل د شاوخوا يو غږ مې لا صحيح نشو آوريدلې ټول غږونه راته د مچې د بنګ،بنګ پشان تر غوږ کيدل کله ناکله په نيم خلاص سترګو د موټر تګ او د نور موټرونو د هارنګ غوږونه مې پيکه غوندی تر غوږ کيدل او سايه مې ورڅخه ليدل خو د هېڅ شي کامل درک او تفکيک مې نشو کولې،پوهيدم چې شېبه په شېبه د بدن تودوخه مې مخ پر پورته کيدو ده او بدن مې خولې،خولې کېږی د بوډا غږ مې لږ،لږ تر غوږ کېده داسې لکه د يو لرې ځای څخه چې ماته ناری وهې.

بوډا- طاها ښه يې؟ زما غږ آوری؟

غږ مې لږ،لږ ورڅخه اوريده خو د ځواب ورکولو توان راکې نه وه، د موټر په ناڅاپه دريدو نږدې وو د موټر د سيټ څخه لاندی وغورځېږم چې بوډا ونيولم او هغه کس ته چې داسې موټر يې ناساپه درولې وو په غوسه وويل: ړوند يې؟ سترګي نلری؟ نګورې موټر کې ټيي دی؟ دا نو څنګه موټرواني ده؟

د هغه ناشنا کس وېرېدلې غږ مې واورید چې په بند،بند لهجه یې وویل: و ... وبخښې قوماندان صيب ... ه ... هغه فکر مې نشو ..
بوډا په غوسه وويل: فکر دی نشو؟ ته هم ځانته پوليس وايې؟ پوهېږي که په دی هلک کوم څه وشي نو څه مصيبت به جوړ شي؟

دومره ګنګس وم چې د بوډا د خبرې په مطلب هېڅ پوه نشوم خو د هغه اندېښمن غږ مې واورېد چې زما اوږې وخوځول او زما د حال پوښتنه يې وکړل، خو زه لکه يو نشه يې معتاد پشان چې تازه يې نشه کړې وي داسې خمار،خمار زنګېدم او بغیر د څه ويلو مې سترګي خلاصول او پټول،احساس مې کاوه په مغزو کې مې په زرګونه او لکونه غږونه دي او ټول لګيا دي په يوځل راسره خبرې کوي ...

کله ناکله بيخې د دې ځاې او مکان څخه لرې کيدلم او يو بل ځاې کې به مې ځان ليدو، د ماشومانو ژړا مې اوريده د ښځو ساندې او کوکارې وي د سړيانو فريادونه وه د سترګو وړاندې مې يو، يو تصوير مخ پر بدليدو وو، بيا مې سترګې لږ سره کش کړل مخ کې مې بوډا وو چې د يو سړي سره چې سپينه چپنه يې اغوستې وه او ډاکټر ښکاريدو يو څه ويل خو ما نه اوريدل ...

خو دومره پوهيدم او درک مې کاوه چې نور موټر کې نه يم، نور هغه ځاې کې نه يم کوم ځاې کې چې الفا د يو وحشي ځناورو پشان خپل غاښونه زما او د عزيزې د وژولو لپاره تېز کړي، يو ناشنا احساس راته ويل ځاې دې امن دې طاها .. نور د الفا لاس نه درسېږي، نور کوم کس ستا د وژولو پسې نه دې ..ويده شه ... کرار آرام وکړه ... ته په امن کې يې ... دومره دا احساس ځواکمن وو چې بې اختياره مې بدن د هغه خبره ومنل او سترګې مې پټې شول ...

***

مغزو کې مې د ټنګ،ټنګ آوازونه وه داسې لکه چې يو کس لګيا دی او زما په سر کې فولادی میخ ټکوي همدومره مردار غږ او همدومره درد مې احساس کاوه، د لرې څخه د شور ماشور غږونه هم راتلل داسې لکه چې جنګ وي؟ مختلف او ګډوډ غږونه مې آوريدل، راسته اوږه مې داسې درد کول چې فکر مې کاوه يو څوک پکې ستنې نبباسې، نه يوازې راسته اوږه بلکې احساس مې کاوه ساه هم سمه نشم اخيستې او د هر ساه اخيستلو سره د سيني هډوکي مې جلا کېږي، کوښښ مې وکړو خپل

سترګي خلاصې کړم خو داسې درنې وه ته وا په شريش(چسپ) باندی چې يو پر بل
موښل شوي وی؟!

د څو ځله کوښښ کولو وروسته بلاخره وتوانيدم لږ نيم کښ ېول باندی خپل
سترګي خلاصې کړم خو ټول شيان راته پيکه،پيکه ښکاريدل د صحيح ليدو لپاره
مجبور څو ځله نور مې هم سترګي خلاصي او بندی کړل او بلاخره د څو شيبو
زحمت وروسته لږ مې ديد واضح شو لومړۍ څو شيبو کې مغزو کې مې هيڅ خبره
رانغلل؟ نه پوهيدم دا ځای چيرته دی؟ او زه دلته څه کوم؟ حتا د څو شيبو لپاره
خپل نوم مې لا ذهن ته رانغلو ...

خپل څنګ ته د يو شې په خوځيدو په تلوار مې نظر د کوټې د سپين چت څخه چې
يو خيرن ګروپ ورباندی راځوړند وو واخيست او هغه خوځيدونکې شئ پسې مې
مې وکتل، يو کس چې څهره يې صحيح نه ښکاريدل پر کوم کټ چې زه څملېدلې
وم پر هغه يې سر کيخودلې وو او داسې ښکاريده لکه چې ويده دی؟

په زير او مشکوک نظر مې وروکتل دا نو څوک دی؟ غوښتل مې لاس وړاندی کړم او
هغه کس وخوځوم او وپوښتم ته څوک يې؟ او زه دلته څه کوم؟ خو د لاس وړلو
مخکې هغه کس د خوب حالت کې خپل مخ لږ زما خواته راوګرځو د هغه په دی کار
ناساپه لکه چې يو چا زما د مغز د چالاند کيدو بتڼ وهلې وی، په يوه شيبه کې د يو
فلم پشان ټول څيزونه مې د سترګو وړاندی تېر شول .. زه په مرمۍ لګيدلې وم ...
الفا غوښتل ما ووژني ... عزيزی ورته زاری کول .. ما په الفا ريشخند ووهو او هغه
غوښتل زما ژبه پرې کړې ...

او بيا ... هغه ... هغه پيری چې زما مخه نيولې وه راغلو او زه يې له هغه ځايه
وژغورلم د هغه قواره چې زما پشان وه او د هغه خبره چې ويې ويل زه ستا "همزاد"
يم ... همزاد څه دی؟ بايد د شموئيل څخه دا پوښتنه وکړم ... او د هغه نوم ... نوم
يې ولې دومره عجيب وو "زقوم" ټول شيان مې ياد کې وه حتا دا مې هم ياد کې وه
چې د پوليسانو رينجر راغلو زه د سړک په غاړه وم ... د "زقوم" په تلو زما د بدن

انرژی هم لمینځه لاړل او هملته وغورځیدم ... د دی صحنو وروسته نور کوم واضح تصویر مې ذهن کې نه وو د هغه وروسته ټول شیان زیاتر ګډوډ وه یو څه ګډوډ صحني د بوډا د خبرو مې ذهن ته راتلل چې زما د حال پوښتنه یې کول او لکه چې د یو چا سره یې جنګ هم کوو؟

نه پوهیدم بوډا څنګه؟ او کله؟ تر ما رارسیدلې وو خو دومره پوهېدم او ډاډمن وم چې هغه زه تر شفخاني رارسولې یم، هغه سپین چپنه ډاکټر مې یاد کې وو چې زما سر ته ولاړ وو او یو څه یې ویل .. که بوډا زه تر شفخاني رارسولي یم  نو ... نو ..ذو ... ذوالفقار بیا دلته څه کوی؟

بې اختیاره مې سترګي د هغه پر مخ ښخې شوي، د ته نو چا خبر ورکړی؟ د دی فکر پر کولو چې بوډا یا جنرال دی ورته ویلې وی چې زه دا څو وخته چیرته وم او څه کار مې کاوه؟ د ویرې څخه مې د بدن ویښتیان زیغ ودرېدل، نه امکان نلری جنرال یا بوډا دومره بیعقلان نه دي چې د هغه ماموریت په اړه ذوالفقار ته کوم څه ووایې، هغه ماموریت دویته بیحد ارزښتمن وو هر چا ته د هغه په اړه څه نه وایې خو عملیات به نور خلاص شوی وی؟ اصلاً عزیزی چیرته دی؟ الفا څنګه شو؟ آیا ژوندی دی که مړ؟ اصلاً زما د تلو وروسته هلته څه وشول؟

پولیسانو هغوی ونیول او کنه؟ دومره مې فکر خراب وو چې یوازی غوښتل مې جنرال یا بوډا راګیر کړم او خپل ټول ذهني پوښتني ورباندی ځواب کړم خو د ذوالفقار سترې څهره چې د خوب حالت کې لا د قهر او غوسي څخه ډکه ښکاریدل د ماموریت هر ډول فکر زما له ذهن ویست، یعنې د رښتیا کیسي څخه خبر دی؟ د دی د پوهیدلو لپاره مجبور راویښ یې کړم خو ... بیحد څهره یې سترې ښکاریده یعنې څومره وخت کیږی چې دلته په داسی ډول ویده شوی؟

ضرور سترې وو چې داسي په ناستو ویده شوی؟ زړه مې ورپسي بیحد تنګ شوی وو څومره وخت کیدل چې د نږدی څخه مې نه و ولیدلې، هې زما بیچاره کاکا! هې ... دا لا ما غوښتل خپل ستونزی پخپل حل کړم؟ خو بیا هم د ذوالفقار پښه مې خپل

د ژوند ستونزو ته خلاصه کړل، د زړه له تل می یوازی همدا دعا کول چې ذوالفقار د اصل کیسي څخه نه وی خبر کنه باید آرمان وکړم چې ای کاش د الفا پر لاس وژل شوی واې ...

په همدی فکرونو کې وم او دوه سترګي مې د ذوالفقار څهرې ته نیولې وه چې ناساپه هغه خپل سترګي خلاصې کړل او زما نظر د هغه په دوه تک سرو سترګو کې چې د ډیر سوروالې څخه فکر مې کاوه وینه ورڅخه څڅیږی بند پاتي شو ...

زما د خلاص سترګو په لیدو هغه لکه چې د څو شیبو لپاره ګنګس شو؟ زما پشان .. خو ډیر ژر پر خود راغې په تلوار لځایه پاسید او زما خواته راټیټ شو .

ذوالفقار- ښه یې طاها؟ زما غږ آوری؟

شاید بې انصافې او یا هم بیعقلتوب وې خو د دومره وخت وروسته د یو داسې کس غږ اوریدل چې پوهیدم د ربښتیا هم یوازی او یوازی زما لپاره اندیښمن شوی پر شونډو مې مسکا راوسته زما د مسکا په لیدو ذوالفقار په حیرت د شونډی لاندی کرار وویل: خدای خیر ... لکه چې لیونۍ شوی؟

د هغه په دی خبره مسکا مې لا پسې زیات شوه او په نیولې غږ مې وویل: مه ویریږه ذوالفقار.... ښه یم ..

د دی خبری کولو وروسته تازه پوه شوم چې په خوله کې مې ماسک دی؟ او ذوالفقار لکه چې زما خبره هیڅ وا نه وریدل؟ ځکه په تلوار او اندیښمنې څهرې له کوټې ووت خو ډیر ژر د یو ځوان هلک سره چې سپینه چپنه یې اغوستې وه او ډاکتر ښکاریدو کوټې ته راننوت.

ډاکټر داسې حال کې چې ګروپ یې تقریبا زما په سترګو کې راننباسلو ویې ویل:
څومره وخت کیږی په هوښ راغلې؟
د ذوالققار اندیښمن غږ مې د هغه شاته واورید چې ویې ویل: ولاکه ... نه پوهیږم ..

د ډېر سترېیا څخه د یو شیبې لپاره مې سترګي پټي شول خو همدا چې خلاصې مې کړل نو ده راکتل ...

نه پوهېدم د ډاکټر ستونزه زما د سترګو سره څه وه؟ چې خپل ګروپ یې زما سترګو کې رانویست؟
ډاکټر- زما غږ اورې؟ پوهیږې چیرته یې؟

داسې حال کې چې کوښښ مې کاوه غږ مې د ماسک تر شا واورېدل شي کرار مې وویل: که دا ګروپ دی زما د سترګو څخه لرې کړې، نو هو ... هم ستا غږ اورم او هم پوهیږم چې چیرته یم.

زما د خبرې په اورېدو ډاکټر لکه چې تازه پر خود راغې په شرمیدونکي خندا یې ګروپ زما د سترګو څخه لرې کړو او ویې ویل: وبخښه، هغه د ډېر وخت وروسته په هوښ راغلې نو مجبور شوم د هوښیارتیا اندازه دې چک کړم ..

د هغه په خبره لږ ګنګس شوم؟ څه مطلب د ډېر وخت وروسته په هوښ راغلې؟ مګر زه څومره بې هوښ وم؟ غوښتل مې ماسک د خولې څخه لرې کړم فکر مې کاوه همداسې هم ساه اخیستلې شم او اکسیجن ته ضرورت نشته؟ ډاکټر هم لکه چې همدې خبرې ته پام شو ځکه په تلوار زما څخه مخکې هغه منحوس ماسک یې زما له خولې او پوزې لرې کړو، د هغه د لرې کیدو وروسته غوښتل مې یوه غټه ساه واخلم، فکر مې کاوه سږي مې د یو غټ ساه په آرمان دی؟

خو لا خوله مې نه وه خلاصه کړې چې یو وحشتناک درد مې خپل په سینه کې احساس کړو داسې چې ساه یې هملته سینه کې راته بنده کړل، مخ مې د درد څخه تک شین شو چې ډاکټر په ورخطایي وویل: په کراره ساه واخله ستا د سیني دوه هډوکي مات شوې ناساپه فعالیت یا ساه اخیستل درته ښه نه دی، باید ډېر احتیاط وکړې په کراره، کراره ساه واخله زما سره حساب وکړه د یو، دوه،درې په ویلو کرار ساه واخله او خوشې کړه هله افرین ..

ډاکتر په کراره يو،دوه،درې ويل شروع کړل او زه يې وهڅولم تر څو د هغه د هر عدد ويلو سره يو کوچني ساه واخلم، ما هم د هغه خبره ومنل او بلاخره د څو شيبو وروسته ساه اخيستل مې لږ نرمال شول، کله چې نفس مې راپورته شو نو تازه مې خپل ځانته فکر شو بغير د کميس څخه لوڅ،لېږ په کټ څمليدلې وم، پر سينه، راسته اوږه او حتا پر لاس مې لا سپينه پټې تړل شوی وه ...

زه دومره کله زخمی شوم؟ ياد مې وه چې مرمۍ مې په راسته اوږه وخوړل خو دا نور زخمونه البته بغير د سيني د زخم څخه چې پوهيدم د هغه دوه،درې زدنې لغتو له لاسه دی کوم چې د الفا کس راکړل دا نور زخمونه نه پوهېدم چې څنګه مې خوړلې؟ د ذوالفقار په غږ په ښود راغلم.

ذوالفقار- حالت يې څنګه دی؟
ډاکټر داسې حال کې چې زما سيروم بند کاوه پخندا وويل: خپل خو ګوری رک روغ دی ماشاءالله،زخمونه يې يو څه وخت نيسې تر څو جوړ شي خو نور کوم خاص ستونزه نلری.

عجيب وه ما تراوسه دومره مهربان ډاکټر چيرته نه وو ليدلې؟! هره خبره يې پخندا او ورين تندی کول؟ البته د هغه څخه لا ډېر عجيب دا وه چې ذوالفقار ما ته غوسه نه ښکاره کيدو؟ يعنې څهره کې انديښنه، تشويش، زړه تنګون او حتا غم لا ما محسوس کولای شو خو غوسه نه؟ او دی خبری زه لږ ډاډمن کولم چې د موضوع څخه ناخبره دی ...

که د اصل موضوع څخه خبر وايې نو خدای خبر که دومره نرم چلند يې زما سره کړی وايې، که د اصل موضوع څخه نه دی خبر نو مطلب بوډا او جنرال دوی ورته يو بل بهانه جوړ کړی؟ خو څه؟ غوښتل مې د ډاکټر څخه وپوښتم چې زه دلته څنګه راغلم؟ يا چا راوستلم؟ خو بيا مې د ځان سره وويل چې هسې نه بوډا دوی ورته يو خبره کړې وی او زه دلته ځان په ناګمان اچولو موضوع خراب کړم؟

خو چاره هم نه وه باید په یو ډول پوه شوی وایې چې څه کیسه ده؟ الفا او عزیزی څنګه شول؟ په همدی کش مکش کې وم چې د کوټې دروازه خلاصه شوه او زبیر په تلوار راننوت زما د خلاص سترګو په لیدو په خوشحالۍ تقریبا په چغه وویل:

زبیر- اوه خدایه زموږ قهرمان ملي بلاخره خپل سترګي خلاصې کړل ...

د هغه په دی خبره سترګي مې د حیرت خلاصه پاتې شوی او په تلوار مې د ذوالفقار خواته وکتل، یعنې دوي خبر دی چې ما څه کار کړی؟

زبیر په غټ قدمونو ځان زما تر کټ راورسو او داسې حال کې چې خوله یې له خندا نه ټولیدل ویې ویل: ولای زه د اول هم خبر وم چې ته ډیر پهلوان او دلاور انسان یې خو ګمان مې نه کوو چې تر دی حد دی اوسیږی چې یو انتحاری کس په غیږ کې راونیسې؟! البته ملامت نه یې فکر کوم د عربستان هوا داسې لیوني کړی یې ..

د زبیر په دی خبره دا ځل رسماً سترګي مې له کاسي راووتل دا څه اپلاتي لګیا دی؟ نه پوهیدم د هغه مطلب د دی خبرو څخه څه دی؟ انتحاری چیرته وو؟ پهلوانې او شجاعت چیرته وو؟ د عربستان هوا چیرته وه؟ یعنې امکان لری بوډا ورته ویلې وی چې ما د پکتیا یو لوی مافیا ډله د هغوی په ګیر ورکړل؟ که په دی خبره پوهیږی نو بیا ولې دومره خوشحاله دی؟ زبیر خو بیا هم کارونه یې د هضم کولو دی خو ذوالفقار ... په ګنګس انداز مې د هغه خواته وکتل یعنې هغه خبر دی او څه نه وایي؟

یعنی هغه ته مهمه نه ده چې ما ورته دروغ ویلې او د عربستان او د کار په بهانه د پولیسانو سره یوځای د یو خطرناک مافیا ډلې پسی تللې وم؟ اصلاً د ذوالفقار داسې کرار او آرام اوسیدل مې نشو هضم کولای اخر څنګه امکان لری؟ د ډیر فکر کولو څخه نږدی وو مغزه مې وچوی چې ډاکټر یو نامحسوس سترګکه داسې چې زبیر او ذوالفقار دوي فکر نشو راته ووهل او کرار یې د شونډې لاندی وویل: دومره فکرونه مکوه،صبر دوي رخصت کړم په کیسي دی سر خلاصوم.

د هغه په دی خبره لومړی مې حیرت وکړو خو ډېر ژر پوه شوم چې څه چل دی؟ دا د بوډا کس وو، په دی فکر یو راحت ساه مې واخیسته لکه چې بلاخره یو کس پیدا شو ما د دی ګنګس حالت څخه راوباسي؟

ډاکټر- مهربانې وکړی مریض یوازی پرېږدی د دومره بې هوښې وروسته ښه نه دی چی دومره وربااندی شور ماشور جوړ کړی، یو څو ساعت نور هم باید د نظر لاندی وی.

د ډاکټر په خبره ما هم خپل ځان لږ مریض ونیو ترڅو ذوالفقار او زبیر لاړشې،که څه هم زړه مې د دوارو پسي بیحد تنګ وو او غوښتل ښه ډېر مجلس او خبری ورسره وکړم خو لومړۍ باید خپل ټول ذهني پوښتني حل کړم د هغه وروسته بیا د زړه تنګون غم وخورم.

ذوالفقار- یعنې یو نفر هم ورسره پاتې نشو؟
ډاکټر- هو،هېڅوک ورسره مه پاتې کیږی ټول لاړشې،مریض باید یوازی ارام وکړی.
ذوالفقار زبیر خوا ته اشاره وکړل او ویې ویل: دا به لاړ شې خو زه به د څو ساعتو مخکی پشان دلته کرار کښینم خبری نکوم.
ډاکټر- نه ... کله چې وایم ټول لاړ شې، نو مطلب ټول لاړ شې او هېڅوک مه پاتې کیږی مریض باید یوازی وی.

ذوالفقار زما خواته اشاره وکړل او په تروش تندی وویل: که کوم شئ ته ضرورت ولرې نو څنګه ووایې؟ فکر نکوم په دی حالت دی خبری لا سم وکړی شې چغې وهل خو لری، نو غوره به نه وې چې زه یې څنګ ته پاتې شم؟

د ذوالفقار په دی دومره ټینګار د ډاکتر حوصله تنګ شوه او تقریباً په تنده لهجه یې وویل: محترم وروره! موږ دلته ډاکتران،نرسان او مجهز پرسونل لرو تر څو خپل د ناروغ ساتنه وکړو نو ضرورت نشته تاسو دومره اندیښمن اوسیږی،زه پخپل هر نیم ساعت وروسته د ناورغ لیدلو ته راځم، نو مهرباني مریض یوازی پرېږدی.

د ډاکټر په تنده لهجه د ذوالفقار د تندی ګونځې لاپسي زیات شول، څه دروغ ووایم که څه هم زړه مې غوښت ژر تر ژره پوه شم چې څه چل روان دی؟ خو بیا هم د ډاکټر تنده لهجه مې د ذوالفقار سره هیڅ خوښه نشول،نو ځکه زبیر ته چی کرار زما سر ته ولاړ وو اوپه یو ریشخندی خندا یې زما خواته راکتل مخ وګرځو او کرار مې وویل: څه ته داسی د لیونیانو پشان خاندی؟ زه کور ته لاړشه ذوالفقار هم د ځان سره ویسه(بیا می خپل غږ لږ راټیټ کړو او ومې ویل: نګوری څنګه غوسه دی؟ غواړی جنګ جوړ کړی؟

زبیر بغیر له دی چی زما یو خبری ته لا توجه وکړی په حیرت یې زما خوا ته راوکتل او ویې ویل: وزن دی اخیستی طاها؟! خو کوم عادی او نرمال وزن نه دی؟ باډی دی کړی ... ورزش دی کاوه؟

د هغه په دی خبره زړه مې غوښت خپل سر د کټ ووهم زه ورته څه لګیا وم او دی په کوم فکرونو کې وو؟ بغیر د څه ویلو مې ورته کتل چې شاید لږ عقل یې سر ته راشي خو هغه په راوتلو سترګو زما د بدن خوا ته راکتل او سر یې د لیونیانو پشان خوځاوه.

زبیر- باور می نه کیږی سکس پک دی کړی طاها؟ ته مګر عربستان ته د کار لپاره نه وی تللې؟ نو د کار کولو وخت کی خلک ډنګر کیږی، خوار کیږی .. نو ته ولې داسې شوی یې؟ سم د بدنسازانو پشان دی باډی کړی؟!

د ډیر غوسي څخه خندا راغلی وه،یالله زه څنګه د دی لیونی ملګری شوی یم؟ زه پر مرګ پروت یم، مرمۍ مې خوړلی، تیکه،تیکه او لاش،لاش یم او دی لګیا دی زما د خیټې د سکس پک په اړه خبری کوی؟ غوښتل مې خوله خلاصه کړم او ښه یې بیاب کړم خو د څه ویلو مخکی مې یو عجیب درد په سر کی وپیچل شو داسې درد چی بې اختیاره می "اخ" له خولی وو زما د دردمند غږ په اوریدو ټولو زما خواته فکر شو ذوالفقار په تلوار ځان زما تر کټ راورسو ..

ذوالفقار- څه وشو طاها؟ کوم ځای دی درد کوی؟
په همغه پټ سترګو مې په درد باندی وویل: سر مې ... سر مې درد کوی .. فکر کوم یو څوک پکې میخونه ټکوي ..

زما په دی خبره دا ځل د ډاکټر قهرجن غږ پورته شو: خود نو به درد کوی، ته تازه تقریبا د 44 ساعت بې هوښي وروسته په هوښ راغلې یې نو معلومداره ده چې د دومره چغ،ماچغ د اوریدو توان نلرې(بیا یې د ذوالفقار خوا ته مخ کړو او ویې ویل: دا ناروغ زما مسئولیت دی، که زما په خبره له کوټې څخه ونوځي او ناروغ یوازی پرینږدی نو مجبور کیږم د زور څخه کار واخلم او له کوټې مو وباسم، او اصلاً هم راته مهم نه ده چې تاسو د ناروغ خپلوان یاست ... نو یا پخپل لاړشې یا هم زه غږ کوم د شفخاني ساتونکو ته ترڅو په زور مو وباسي ...

د ډاکتر په دی ګواښ بې اختیاره مې سترګي خلاصې شول، هره شیبه په تمه وم چې ذوالفقار او ډاکټر لاس په ګریوان شې،خو لکه چې بلاخره د زبیر مغزو کار وکړو چې ذوالفقار یې له اوږې ونیو او غوښتل یې له کوټې ووځې، ذوالفقار داسې حال کې چې د غوسي څخه یی مخ تک سور شوی وو د کوټې څخه د وتلو مخکې خپل اوږه د زبیر د لاس جلا کړل او ما ته یی وویل: زه د کوټې بیرون یم کوم شئ دی غوښت غږ وکړه.

د سترګو په خلاص او بند کولو د "سمده" ځواب مې ورکړو چې بلاخره ذوالفقار او زبیر له کوټې ووتل د هغوی د تلو څو شیبې وروسته ډاکتر زما خواته مخ راوګرځو او په ناراضه لهجه یی وویل: باور پخدای دومره چې ستا ورور زما عصاب په دی دوه ورځو کې راخراب کړل په دی اته کال ډاکتری کې چا نه وه راخراب کړې ..

د ډاکټر په دی خبره مې نرۍ مسکا پر شونډو راغله حق مې ورکو چې غوسه اوسیږی، ما ذوالفقار پیژنده او پوهیدم چې څومره په داسې وختونو کې تند مزاج کیږی، بلخصوص که هغه موضوع کې زما نوم او نښان اوسیږی بیا نو سم ورڅخه د آتشفشان غر جوړیږی هغومره نه کنټرول کیدونکې او غوسه ناک داسې حال کی چې

خپل سر باندی می لاس واهه کرار می وویل: ورور مې نه دی.
ډاکټر- ورور دی نه دی؟ مه وایه چې پلا ...

خبره مې ژر ور پری کړل او ومې ویل: نه .. کاکا مې دی، دومره نو هم بوډا نه دی چی زما پلار اوسیږی.
ډاکټر- کاکا د دی؟
- هو.

ډاکټر- عجب! باور مې نه کیږی یعنې داسې کاکاګان هم شته؟
- څنګه؟

ډاکټر په کرار ګامونو زما خواته راغلو او داسې حال کې چې ځان یې زما د راسته اوږی د ټپ په کتلو بوخت کاوه په پوسخند یې وویل: زه هم کاکاګان لرم ماشاءالله دري،څلور دانې هم لرم خو ټولو زما څخه داسې بد راځی ته وا ما یی میراث خوړلی؟ زما د نوم او قواری څخه یی لا بد راځې، که وار په لاس ورشي په مرګ مې صرفه نکوی ... نو ځکه حیرت می وکړو کله چې دی وویل کاکا مې دی! ستا کاکا بیحد مهربان دی ... البته باید ووایم چې یوازی ستا لپاره مهربان دی ..!؟ موږ تخو یې دا دوه ورځې ژوند پرینخود ..

- دوه ورځې؟ یعنی زه دومره ډېر بې هوښ وم؟ زما لیدو ته بغیر زما د کاکا څخه بل کوم څوک رانغلو؟

ډاکټر- اوممم که مطلب دی جنرال صاحب یا امر صاحب ته وی؟ نو هو ستا لیدو ته هغوي دواړه راغلل خو مخامخ لیدنه نه وه! مطلب زیاتر زما سره یې لیدله او ستا د حال پوښتنه یې کول البته نن نه دی راغلې پرون ماښام تر ناوخت همدلته وه خو ځکه چې کاکا دی کوټه کې وو نو تاسره یې مخامخ ملاقات ونشو کړی.

- هغوی څه ویل؟
ډاکتر- چا؟

- جنرال صیب، څه یې ویل؟ زه څنګه تر دی ځای راغلم او هغه (نه پوهیدم چې د عزیزی یا د الفا خبره ده ته کول مناسب دی او کنه؟ د ډاکټر خبری بیحد بل ډول وه .. فکر مې کاوه شاید د اصل ماموریت کیسي څخه خبر ونه اوسیږی؟ نو ځکه ومې ویل: جنرال کوم څه زما لپاره و نه ویل؟ مطلب کله چی په هوښ راشم تا ته یی ونه ویل چی ما ته باید کوم څه ووایی؟

زما په دی خبره ډاکتر په کراره وخندل او ویې ویل: هو .. هو ویې ویل کله چې په هوښ راشې نو درته ووایم چې ستا لپاره یې یو ډیر ښه مجلس جوړ کړی او بیغم اوسیږه ستا دا شجاعت به زموږ هیر نشی ..

د ډاکټر په خبرو غوسه راغلل نه پوهیدم اخر ولې داسې نیم، نیم خبری کوی؟
- بس همدا یې وویل؟ کولای شې لږ واضح ووایه څه شوی؟ یعنې زه چا دلته راوړم؟ او جنرال تاته دقیقاً څه وویل؟ همغه خبره وکړه.

زما په غوسه ناک لهجه ډاکټر ګنګس شو او کرار یې وویل: ولې تا خپل په یاد نه دی؟
- په یاد مې دی خو غواړم چې ته یې راته ووایې ..

زما په دی خبره ډاکټر لومړی په حیرت راوکتل خو ډیر ژر حیرت یې په یو ساده خندا بدل شو او ویې ویل: ښه نو غوږ شه کیسه داسې وه ... ته یې دلته په ټپي حالت کې داسې چې بیحد وینه دی د لاس ورکړی وه جنرال نقیب(د بوډا اصلي نوم جنرال نقیب دی) پخپل شخصاً راوړی! البته ما خو ونه لید خو ډاکترانو ویل چې بیحد هم ستا لپاره ورخطا وو، ستا تر عملیات کیدلو هغه پاتي شو خو د عملیات وروسته کله چې ډاډمن شو ستا حالت ښه دی نو ستا کورنۍ ته یې خبر ورکړو او پخپل لاړ ...

البته د تلو مخکې د شفخاني مشر ښاغلي انوری ته یې ستا سپارښتنه کړې وه او ویلې وه چې تا یو انتحاری بریدګر کوم چې غوښتل یې ځان د هوایي ډګر مخکې فدایی کړی رانیولې او د هغه له لاسه دی مرمۍ خوړلې او خوږ شوی یې نو ځکه

ټول د شفخاني کسان باید پر تا بیحد پام وساتي ځکه تا یو بیحد شجاعانه کار کړی .. جنرال صیب ویل کله چې په هوښ راشې نو ستا د دی کار د تقدیر لپاره به یو غونډه ونیسې او شاید زما په نظر څه ناڅه جایزه هم د دی شجاعانه کار لپاره درکړی ...؟

په خلاصه خوله می ورته کتل دا څه لګیا دی؟ ما ورته په حیرت کتل او هغه لکه چی زما د دی کتلو څخه کوم بل مطلب واخیست چي پخندا یی وویل: باور وکړه ستا کار ډیر جرئت غواړی اصلاً ته ځنګه پوه شوی چی هغه کس انتحاری دی؟ او ځنګه دی جرئت وکړو خالې لاس ورباندی برید وکړی؟ یعنې ونه ډار شوی چې د وهلو جریان کې هغه ځان والوځوی؟ یعنی باور وکړه که ستا لځایه زه وایې نو د جنګ لځایه تښتیدلم ...

ډاکټر خپل د دی خبری وروسته د لیونیانو پشان پخندا شو خو ما یواځې ورته وکتل، باور مې نه کیدو بوډا او جنرال دوي زما د ټیي کیدلو پیښه څومره جالبه صحنه سازی کړی وه؟ مطلب داسی کار یی کړی وو چې د زبیر خبره زه یې پکې قهرمان ملی معرفی کړی وم!؟ خو ولې داسې کړی وو؟ خپل ځواب مې پخپل ورکړو تا یو خطرناک ترینه ډله او مافیا د هغوی په ګیر ورکړو خود به نو ستا څخه یو اتل جوړوی .. یعنې هغوی الفا او عزیزی نیولی؟ هو نو که داسې یو صحنه سازی کړی مطلب کار ختم دی او دوی په موافقت باندی ماموریت پای ته رسولې ...

چی اوس داسې غواړی زما تقدیر هم وکړی؟ په دی فکر نری مسکا می پر شونډو راغله، یعنی نور نه الفا شته او نه هم د هغه مردار ګروپ او باند؟ یعنې هر څه نور ختم شول؟ زه نور آزاد یم چی کور ته لاړشم، په بیغم خیال، بغیر د کوم ویرې او ډار څخه؟ نور مې ډاکتر ته کوم څه ونه ویل پوهیدم چې په کوم ډیر څه خبر نه دی او زیاتر د یو محافظ ډاکتر کار کوی نه کوم جنایي پولیس، سترګي مې وتړل، زما په سترګو پټولو هغه لکه چی پوه شو چې نور د خبرو حوصله نلرم ځکه د دوه درې دقیقو اخوا دیخوا کیدلو وروسته له کوټې ووت ..

د هغه په تلو سترګي مې بیرته خلاصی کړل او د لیونیانو پشان مې کرار ځان سره وخندل، یعني ماموریت خلاص شو؟ زه اوس خپل کور ته تللې شم هغه هم د هغه څه کم او زیات اتیا لک افغانیو سره؟ البته یو تقدیر نامه هم شاید راکړی او یو د دلاوری ایواډ هم؟ وااا .. په دی خبرو مې لکه لیونیانو پشان بیا د ځان سره وخندل چی دا ځل د اوږی درد می لږ ډیر شو خو دومره خوشحاله وم چی دا دردونه هېڅ نه راته ښکاریدل فکر می کاوه خوب وینم ..

اخر دومره خوشحالي او زه؟ امکان نلری؟ خو دا ځل لکه چې امکان لری؟ ډېر می زړه غوښته د عزیزی او د الفا حال معلوم کړم خو پوهیدم چی د اوس لپاره کوم کار نشم کولای باید په تمه پاتي شم  شاید بوډا یا د هغه کوم بل کس راشي او خبر راکړی؟ په همدی خوشحاله فکرونو کې کرار،کرار مې سترګی ګرم شول او ویده شوم ...

سهار چی له خوب راپاسیدم نو فکر می کوو لا هم ویده یم او خوب وینم؟ ځکه کوټه مې د زر رقم دولتي عسکرو څخه ډکه وه هغه هم د داسې کسانو څخه چې ما پکې یو هم نه پیژندو؟! که وواېم د هغوی په لیدو لږ وډار شوم نو دروغ به نه یې خو د ذوالفقار او زبیر په لیدو چی زما د کټ څنګ ته ولاړ وه وېره می لږ کم شول،په ګنکس انداز مې د هغوی خواته وکتل نه پوهیدم دا دومره ډیر کسان د څه لپاره دلته راغلی؟ زما د خلاص سترګو په لیدو یو،یو کس رامخکې کیدو او سم د پیرصیب سره چې ستړی مشي کوی همغسې په احترام یې ما ته لاس راکو او زما د حال پوښتنه یې کول کله به چې ومې ویل ښه یم نو بیا به یې زما تعریفونه کول؟

د هغوی دی کار ته لږ حیران وم، ځکه ما هغوي نه پیژندل زیاتره یې ناشنا کسان وه .. خو د یو اشنا کس په لیدو د خبری تر اخری مطلب ورسیدم او پوه شوم چې دا دومره کسان د څه لپاره زما لیدو ته راغلې ...!؟

بوډا په رسمې دریشې کې کوټې ته راننوت، باور می نه راتلو ټولو ورته سلامې ووهل؟ یعنی دا بوډا دومره رتبه درلود او زه نه وم خبر؟ د اغوستلې دریشي دواړه د

اوږو سرونه يې په طلايي رنګ ستورو پوښل شوی وه یوځای مې اوریدلې وه چې د نظامی کسانو درجه د هغوی د اوږي په ستورو معلومیږی؟

مطلب څومره چی ستوری ډېر وی هغومره د هغه کس رتبه پورته ده؟! د بوډا د دواړو اوږو په سرونو تقریبا درې،درې ستوری وه! مطلب تورن جنرال دی؟ یا که افسر جنرال؟ ولاکه ما د نظامي برخو په رتبه بندی دومره سر نه خلاصیدو خو دومره پوه شوم چی درجه یې په کوټه کې د موجود ټول کسانو څخه لوړه ده، زما خواته راغلو د هغه په راتلو غوښتل مې ځای کې کښینم خو هغه اجازه رانکړل خپل لاس یې زما په اوږه کیخود او زه یې څملیدلو ته مجبور کړم.

بوډا- څنګه یی ځوانه؟

د هغه د داسی رسمی لهجي په اوریدو لږ بل ډول احساس می وکړو ما څو میاشتي د هغه سره په یو کور کې وخت تېر کړی وو خو اوس راته ناشنا ښکاریدو، کوښښ مې وکړو ځان راټول کړم کرار مې وویل: د خدای فضل دی تاسو ښه یاست؟

زما په خبره د بوډا سترګي د خوشحالی وپرقیدل او ویې ویل: تر کوم وخت چی ستاسو پشان میړني او باتور ځوانان زموږ هیواد کی وی، موږ به تل ښه او خوشحاله اوسیږو زویه، خدای دی ستاسو پشان ځوانان زموږ له سر نه کموي ..

د بوډا د دی خبری ځواب په کوټه کې موجود ټول کسانو د امین په ویلو ورکړو بلخصوص زبیر؟! د زبیر خوله د خندا څخه داسې خلاصه وه ته وا د هغه څخه یې تعریف کړی نه زما؟ د هغه دی حالت ته مې خندا راتلل له بلخوا ذوالفقار وو چی تندی درې من تروش نیولی وو او ټولو ته یی بد،بد او په مشکوک نظر کتل،ډېر مې زړه غوښت د بوډا سره یوازی ځان خبری وکړم او د عزیزی او الفا په اړه ورڅخه معلومات واخلم، که ربښتیا ووایم زړه مې په عزیزی سوځیدو ...

غوښتل مې پوه شم چی مړ دی او که ژوندی؟ خو افسوس چی په دی حالت کې داسې خبری نه کیدل،بوډا د لاس په اشاره کوټه کې موجود یو کس ته یو څه وویل

چې هغه په ځغاستو له کوټې ووت خو ډېر ژر د يو ځوان هلک سره چې کمره يې په لاس کې وه او يو کارټ چې ورباندې ليکل شوی وو "د رڼا راډيو تلوزيزون خبريال" کوټې ته راننوت بوډا يو چار کونجه کاغذ چې په سر يې په غټ ټکو تقدير نامه، لاندې زما نوم او د هغه څخه اخير کې د دوه درې وزارتونو ټاپې وه زما لاس ته راکړه

البته د ملې اردو يو دريشې هم راکړل چې ورباندې يو غټ ستوری لګول شوی وو، د هغه شيانو د راکولو وروسته يې خبريال ته وويل چې زموږ عکس واخلی؟! يعنی زه په کټ باندې لوڅ لپړ څمليدلې وم او هغوی زما د کټ څنګ ته ودريدل او عکسونه يې واخيستل د درې،څلور اخيستلو وروسته بوډا يو ځل بيا را ښکته شو زه يې غيږ کې ونيولم او زما د غوږ څنګ ته يې کرار وويل: پوهيږم چې د دی حالت په ليدو ګنګس يې خو دومره پوه شه چې هرڅه همغسې پای ته ورسيدل څنګه چې زموږ توقع او پلان وو، جنرال صيب غوښتل ليدلو ته دی راشې خو ستا د کاکا په ليدو د راتلو څخه منصرف شو ويل يې يوه ورځ چې طبعيت دې ښه شو د حوزې خواته يو چکر راشه درته په تمه دی.

د دی خبری د کولو وروسته زما څخه جلا شو او د زړه له خلاصه يې زما تندی ښکل کړو؟! کله چې وايم د زړه د خلاصه نو باور وکړی همغسې په کلک او شوق يې زما تندی ښکل کړو، د هغه وروسته يو ځل بيا همغه ډنګر هلک ته يې اشاره وکړل چې هغه ژر يو سپين پاکټ د هغه لاس ته ورکړو بوډا پاکت زما پر پښو کيخود او په لوړ غږ يی وويل: که څه هم ستا کار پر پيسو او مالي شيانو نه جبران کيږی خو دا زموږ لخوا دمننې د ډالۍ په توګه وګڼه ستا کار د سلګونه بيګناه کسان ژوند وژغورل موږ د هغوی د هر يو د ويني پوره وړی يو تا ته.

بوډا يو لس دقيقې کوټه کې زما څنګ ته پاتي شو او زما د ميړانې او د کار د ښه والی په اړه يی خبری وکړل د هغه وروسته لاړ، د هغه د تلو سره سم کوټه کې موجود ټول کسان يو پر بل پسی روان شول، د هغوی د وتلو سره سم زبير زما د کټ

خواته تقریبا باید ووایم حمله راوچول او لومړی شئ چې کش کړو هغه سپین کاغذ پیچ پاکټ وو کوم چی بوډا اخر کی زما په کمپل کیخودلې وو؟!

زبیر بغیر له دې چې زما یا د ذوالفقار حیران نظر ته کوم توجه وکړې په تلوار یې پاکټ خلاص کړو د پاکټ دننه ډالر وه؟!

زبیر- سل، دوه سوه، درې سوه،څلور سوه .... اوممم دا یې هم ... اه باور مې نه کیږی دومره ډیالګونه یې وویشتل خو اخر کې یوازی دونیم زر ډالر درکړل؟

د زبیر په خبره په حیرت می وروکتل دونیم زر ډالر؟ یعنی تقریبا کم او زیات دوه لکه افغانۍ؟ عجب د رښتیا چې هم د دولت جیب سم د خلیفه کڅوړه ده،د پیسو کمې پکې نشته، ما د زبیر حرص او جوش خوړلو ته پخندا کتل هغه څه خبر وو چی ما د دی څخه مخکې لکونه افغانۍ په جیب وهلی؟ او دا دوه لکه زیاتر د یو ډالۍ حیثت لری نه کوم تقدیر او تمجید؟ زبیر لا لګیا وو پیسي اخوا دیخوا کول چی ذوالفقار په غوسه وویل: بس کوی که درشم هغه پیسي دی په خوله درننباسم؟

د ذوالفقار په داسې ناساپه او ګواښ کوونکی لهجه زبیر څه چې زما له نفس سینه کې بند شو، په حیرت می وروکتل دا ولې ناساپه دومره غوسه شو؟

زبیر- په تا څه وشول؟
ذوالفقار په غوسه او پوسخند وویل: څه وشول؟ یعنې ته هېڅ نه یې خبر چی څه شوی (ذوالفقار زما خواته اشاره وکړل او په همغه غوسه یې وویل: دا خر تللې په یو انتحاری کس یې ځان اچولې،مرمۍ خوړلی او نږدی وو چی مړ شې .... هغه وخت ته ... ته خوشحاله یې او پیسی شماری؟ یعنی یو ځل هم دی خبری ته فکر نکوی چی هغه مرمۍ که د اوږی لخایه د ... ده ...په ....پ(ذوالفقار په غوسه زما خواته راوکتل ... داسې غوسه چې د یوه شیبی لپاره و ډار شوم چی هسې نه ومې وهی؟

ذوالفقار- یعنی یو ځل دی هم دی خبری ته فکر ونکړو که خدای مکړه هغه مرمۍ ستا د اوږی لځایه ستا په زړه لګیدلې وایی، یا هغه انتحاری کس ځان الوځولې وایی نو

څه به شوی وایي؟ یعنی تاته دا خپل ژوند دومره کم ارزښت ښکاری طاها؟

هېڅ می ونه ویل پوهیدم چی نن وی که سبا دا خبری به ضرور اورم، البته د شکر ځای درلود چی د اصل کیسي څخه نه وو خبر،که خبر شوی وایی ما د پیسو لپاره تقریبا ځان د یو سل فیصده مرګ خولې ته اچولی وو شاید خپل پر لاسونو یی وژلې وایی؟

زبیر- داسې مه وایه ذوالفقار، اوس خو د خدای شکر ښه دی نو ولی هسې په منفي خبرو خپل فکر خراب کوی؟

د زبیر په خبره لکه چې ذوالفقار سم اور واخیست چی مخ یې د غوسي څخه تک سور شو او تقریبا په چغه یې وویل: منفی فکرونه؟ یعنی تا لیاده ووتل چی ده څه کارونه کړی ها؟

بیا یی زما خواته مخ راوګرځو او یو دوه ګام رانږدی شو د هغه په نږدی راتلو بې اختیاره خپل ځای کی د آماده باش حالت کی کښیناستم ذوالفقار په سور نه وو برابر وبربدلم هسې نه همدی حالت کې مې راونیسي او ومي وهي؟!

ذوالفقار- ځان څخه دی قهرمان ملی جوړ کړی؟ په انتحاری کسانو ځان اچوی؟ له کور تښتي؟ عربستان ته ځې؟ د ټولو خپل او خپلوانو سره قطع رابطه کوی؟ خپل ښځه او ماشوم د خسر په کور خوشې کوی او خارج ته د لنډغری پسې ځی؟ ښه نو طاها ته اوس دومره شې شوی چې دا ټول کارونه کوی او حتا زما څخه د یو نظر پوښتنه لا نکوی؟

یو کال ... پوره یو کال کور په کور او کوڅه په کوڅه درپسې وګرځیدم خو ستا هېڅ خبر مې پیدا نکړو .. خو کله چې دی خبر راغلو نو (زما زخمي بدن ته یی اشاره وکړل: نو په دی سر او شکلک مرمۍ خوړلی، د شفخاني په بستر پروت مې پیدا کړی او زه لا منفي فکرونه کوم؟

د ذوالفقار ټول خبرې حق وه ..یعنی انکار نشم کولای ما د هغه حق کې زیاتي کړې وو خو اوس کار تر کار تېر وو، زبیر چی ماحول خطرناک ولید نو کرار د ذوالفقار خواته راغلو داسی حال کې چی د هغه اوږه یې نیول زما خواته یی راوکتل او ویې ویل: خر دی ... پخدای چی دا طاها یو بی لکۍ خر دی ... په دی خبره کې شک مکوه باور وکړه زما زړه ستا څخه ډیر ورته ډک دی شیطان وایی راوې نیسه او ښه جوړ یې وډبوه

د زبیر په دی خبره په حیرت می وروکتل دا اوس راغلی د ذوالفقار غوسه سړه کړی؟ یا که غوسي ته یې ښه تیل واچوی؟

زبیر- خو اوس یې وخت نه دی ذوالفقار، ته یې دا خیرن مخ ته وګوره .. ستا په نظر ستا د یو څپیړې طاقت لری؟ خپل خو شاهید وی او و دی لیدل چې بوشکه،بوشکه وینه یې ورته تېر کړل، نو زما خبره ومنه او د اوس لپاره لعنت پر شیطان ووایه او خوشې کړه، خو قسم پخدای کوم ورځ چی پوه شوم چې ښه شوی او ستا د وهلو طاقت لری نو باور پخدای وکړه پخپل یې د غوږ نیسم او تا ته یې راوړم هغه وخت سم د دی یو کال د کارونو بدل ورڅخه واخله او داسې وواهه چې تر یو میاشت لځایه پورته نشي ...

که څه هم د زبیر یوه خبره مې لا خوښه نشوه خو لکه چې په ذوالفقار یې تاثیر وکړو؟! څکه زما له څنګ لری شو او د هغه ګواښونکي او وهلو انداز څخه څه ناڅه راووت او د کوټې منځ کې په ګرځیدو شو، د هغه په دی کار زه بیرته لږ خپل ځای کې څملیدم او هوسا ساه مې واخیسته البته پوهیدم چی دا موقتي اوربند دی او ذوالفقار بغیر د وهلو مې نه پریږدی خو دی خبری ته فکر کول چی نور نه کوم ماموریت شته او نه هم کوم ستونزه او زه ښه پریمانه پیسي هم لرم نو د ذوالفقار وهل راته یو ډول شوخي ښکاریدل نه کوم ګواښ؟!

زبیر ته حیران وم یعني د دي دومره خبرو باوجود بیا لګیا وو د پیسو د کم اوسیدلو څخه یی بنګ،بنګ کاوه د دی لپاره چی د ذوالفقار فکر بیا د دی موضوع خواته نشي

کرار می وویل: ه ... هغه محمد څنګه دی؟

زما په غږ ذوالفقار د قدم وهلو حال کې ودرېد په پوسخند یی راوکتل او ویې ویل: اوممم عجب؟! یعنې درته مهمه ده چې د هغه حالت څنګه دی؟

پوهیدم چې غوسه دی خو بیا هم داسې خبره یې زما هیڅ خوښه نشول نو ځکه ما هم تندی تروش کړو او د هغه پشان په پوسخند مې وویل: لکه چی خپل د ورور ګمان دی پر ما کړی؟ "اشاره می بابا ته وه" ستا ورور ته شاید مهم و نه اوسیږی چې زوی مړ دی که ژوندی؟ خو ما ته مهم دی، ما چې هر کار کړی د هغوي د ښه اوسېدلو لپاره مې کړې نه دا چې خپل د اولاد څخه کلونه، کلونه په داسی خبری کرکه وکړم چې د هغه هیڅ ګناه پکي نه وه ...

شاید ذوالفقار ګمان نه کوو چې زه به هغه پیښې ته داسې مخامخ اشاره وکړم؟! ځکه د څو شیبو لپاره هک حیران یې یوازی زما خواته راوکتل ما هم په پوسخند وروکتل، کلونه هم تېر شې هر یو که وبخښم بیا هم بابا، فکر نکوم په دومره آساني دی د هغه د دی دومره کلونو پعذاب کول او کرکه کولو څخه تېر شم او لیاده یې وباسم ...

ذوالفقار- خو زه فکر کوم ته د هغه څخه یو څو درجې بترر جاهل یې..

د ذوالفقار په دی خبره ناساپه دومره غوسه راغلل چی بغیر له دی چی خپل ټپي بدن ته کوم توجه وکړم نیغ په ځای کې کښیناستم او ومې ویل: ته حق نلری ما د هغه سره پرتله کړی ... زما تګ او د هغه مخ ګرځول فرق لری، زه لاړم ترڅو د اقرا او محمد ژوند جوړ کړم خو ... خو ستا ورور داسې حال کې چی کلونه یی و مخ ته وم زما څخه یې مخ ګرځو او زما څخه یې بد راتلل هغه هم یوازی په دی خاطر چې ګمان یې کاوه زما ... زما پر پیدایښت د هغه ښځه مړه شوی ...

زه یی د هغې د مرګ سبب ګڼلم کلونه یې په دی کار راڅخه کرکه کول نو .. ته .... ته حق نلری ...(د سینې هډوکی مې بیحد درد کاوه داسې درد چې سم ساه مې لا نشو

اخیستلې فکر مې کاوه اوس به  د ډیر درد څخه مې نفس بند شي خو د ذوالفقار خبرې داسې اور زړه کې راڅولی وو چې غوښتل می د دی ټول څو میاشتو غوسه ورڅخه وباسم زما د بد حال په لیدو زبیر په تلوار له اوړی ونیولم او کوښښ یې وکړو چې بیرته مې په کټ څملوی خو ما یی لاس لری کړو او د ذوالفقار خواته مې وکتل هغه هم لکه چی د راپیښ شوی بحث څخه پښیمانه وو چی په تلوار له کوټې ووت د هغه د وتلو سره سم زبیر په زور په کټ څملولم ...

زبیر- اه خدای مو دواړه خپل پر خدای واخله چې زه درڅخه بیغم شم، څمله څه د ځان څخه دی اوښ جوړ کړی او نه چو کیږی؟ اصلاً دا اوس د داسې خبرو وخت دی چې تاسو یې کوی؟

- زبیر ...
زبیر- مرګ زبیر څه دی؟
- بنده کړه خوله دی.
زبیر- سمده ته دی دا پس مرګ ملا په کټ وواهه زه به هم چوپ شم.

بغیر د څه ویلو څملیدم خو د سیني هډوکی می داسی درد کاوه چی خپل د غږ د نه ایستلو لپاره مجبور شوم خپل شونډه په غاښ کړم ساه مې نشو اخیستی، د هر ساه اخیستلو سره فکر می کاوه د سینی هډوکی می په زړه کی ننوځې، لا سم نه وم څملیدلې چی د کوټې دروازه خلاصه شوه ډاکټر او ورپسې ذوالفقار کوټې ته راننوت ډاکټر په افسوس او نچ، نچ ویلو زما خواته راغلو .

ډاکتر- دا نو څه حال دی؟ ومی ویل کنه یوازی نیم ساعت حق لری کوټه کې اوسیږی د هغه وروسته لاړ شې، تاسو ولی په خبره نه پوهیږی؟ دا مریض دی، ټپي دی، طبعیت یی ښه نه دی باید ارام وکړی نه باید ډیر خبری وکړی ..

د ډاکټر په هر خبره د ذوالفقار د تندی ګونځې ډیریدل، پوهیدم چې غوسه او خفه دی او دا ټول خبری او کارونه یی زیاتر د خفګان له لاسه دی ذوالفقار خپل د زړه

خبره، خپل اندیښنه زیاتر په کنځلو او ګواښولو کی بیان کول دومره درد می درلود چی نور می کوم توجه ورته ونکړل ډاکټر زما د لاس کنول کی د هغه پرون ماښام پاتی نیم سیروم له سر نناباسو او زبیر او ذوالفقار ته یې د کوټې څخه د وتلو وویل هغوی هم بغیر د څه ویلو روان شول چی د وتلو مخکې ما ورپسی غږ کړل.

- ذوالفقار ...

زما په غږ هغه و درید او مخ یی راوګرځو.
- ښه دی؟

مطلب مې محمد او اقرا ته وو تقریبا د نن سره څلورم ورځ کیدل چې د هغوې د حال څخه بیخبر وم، ذوالفقار ژر زما د خبری مطلب واخیست په تروش تندی سر وخوځاوه او ویې ویل: ښه دی، خو ستا د دی حال څخه نه دی خبر، مطلب هېڅوک نه دی خبر ...غواړی ورته خبر ورکړم؟
په تلوار می وویل: نه ...

ذوالفقار بغیر د څه ویلو راوکتل چې ما کرار وویل: د ډاکټر سره خبری وکړه غوارم د دی ځای لاړ شم.
ذوالفقار- فکر نکوم دومره ژر دی رخصت کړی.
- مهم نه ده، که زحمت نه درته کیږی یو جوړه پاک کالي راته راوړه غوارم د غرمي وروسته د دی ځای لاړشم.

ذوالفقار بیا بغیر د څه ویلو راوکتل چې ما هم نور څه ونه ویل او خپل سترګي مې پټي کړل د څو شیبو وروسته د دروازی د بند کیدلو غږ مې واورید ...

د غرمی د ډوډۍ خوړلو وروسته ډاکتر ته مې د تګ وویل خو هغه په کلک انکار وکړو، البته ما ته یې انکار چندان مهم نه وو زما د ښه بخت بوډا زما کالی، تذکره،موبایل او هر هغه شئ چې پر ما مربوط وه او دا څو میاشتو کې زما سره وه هغه یې بکس کې اچولی وه او داسې تر شفخاني رارسولې وه ته وا زه د رښتیا هم د

عربستان مسافر وم؟ د راوړل شوی بکس څخه مې یو جوړه تور کالې راوخیستل او بغیر له دی چې د ډاکتر بنګ، بنګ او مخالفت ته کوم توجه وکړم وا مې غوستل ذوالفقار د کوټې کونج کې بغیر د څه ویلو ولاړ وو او زما کارونه یی څارل

زبیر هم د بوډا لخوا راکړل شوي دریشي او تقدیر نامه زما د کالو بکس کې ځای پر ځای کول او همغه حال کې لګیا وو د ډاکتر څخه یې پوښتنه کول چی نور کوم دوا موا تخو ضرورت نشته؟

ډاکتر- زه نه پوهیږم زه د دیوال سره لګیا یم یا که ستاسو سره؟ وایم د ده د سیني دوه هډوکې مات شوی، اوږه یې ټپي ده هغه هم کوم عادی ټپ نه ... مرمۍ خوړلې بدن یې بیحد کمزوری دی که نور نه وی باید یوه هفته خو ضرور پاتي شی باید د نظر لاندی اوسیږی ستاسو څه تلوار دی تلو ته؟

کالی می واچول خو په بیحد زحمت، یعنې یو کمیس اچول درې ساعت وخت ونیو دری منه خوله مې وکړل دومره ستړی شوم چی مجبور د څو شیبو لپاره مې په کټ ږډ ووهل زما د دی حال په لیدو ډاکټر په غوسه وویل: ها ... دا یې هم حال .. ته ولی په خبره نه پوهیږی؟ ته باید څلرویشت ساعت د نظر لاندی اوسیږی.

- ښه یم، څه دلته د نظر لاندی اوسیږم څه کور کې؟ خبره یوه ده، زه هم کوم کار ته نځم غواړم کور ته لاړشم او همهلته کرار په نالۍ څملم او خوب وکړم.

ډاکټر- خو دلته کرار خوب وکړه، دا ځای او کور څه فرق لری؟ زنګ وواهه کورنۍ ته دی تر څو همدلته دی ملاقات ته راشی، زما خبره ومنه مه ځه ..
- ما د شفخاني څخه ښه نه راځی دا دوه شپي ځکه چې بی هوش وم نو دلته پاتي شوی یم کنه باور وکړه همغه اول شپه تلم ..

په زحمت په کټ کښیناستم خو سم نیغ نشوم کښیناستلې او نه هم بغیر د مرستی څخه څملیدلې شوم، د مرمۍ د ټپ څخه لکه چې د هغه پدرلعنت لغتو کار کړی وو؟ د سینی هډوکې می بیحد درد کاوه زبیر راسره مرسته وکړل تر څو کالې می سم کړم

او ودرېږم پښو کې مې کوم ستونزه نه وه البته هغه خوږه پښه می لږ درد کول خو دومره ډېر نه ... ذوالفقار زما د کالو بکس راوخیست او زموږ څخه مخکی له کوټې ووت، د هغه د وتلو وروسته داسې حال کی چې د زبیر پر اوږه می لاس اچولی وو کرار،کرار له کوټې ووتلم ...

د شفخاني څخه تر وتلو ډاکتر زموږ پسې وو او غوښتل یې ما د تلو څخه منع کړی، خو ما ورته هېڅ کوم توجه ونکړل .. ما د شفخاني د ماحول څخه کرکه کیدل او که تر مرګ نه وایې رسیدلې هیڅکله خپل په خوښه شفخانه کې نه پاتې کیدلم فکر مې کاوه شفخانه کې نفس نشم اخیستي هوا یې داسې درنه او نیولې وه، کله چې له شفخانې تلو نو د شفخانی ټول کارکونکي د خدای پاماني لپاره زموږ مخ ته راغلل د زبیر خبره د قهرمان ملی سره یی ال وداع کول ..د هغه دی لفظ ته هم خندا راتلل هم غوسه ... هغه په یو خاص لهجه قهرمان ملی ویل ته وا ما د رښتیا کوم اټوم په هوا کې خنثا کړی ...؟!

ذوالفقار خپل موټر د شفخاني مخکی درولې وو همدا چې له شفخاني ووتلو نو موټر کی کښېناستم خو د تلو مخکې زبیر تینګار کاوه تر څو د ډاکتر لخوا لیکل شوی نسخه همدلته واخلې، ځکه دلته یی زما ټول دوا مفته راکول؟ یعنې زما د اوسیدو، عملیات، دوا او ټول خدمات رایګان وه؟ دا هم دولت ته د کار کولو له برکت .. خو ذوالفقار په غوسه ورته وویل: خوله دی بنده کړه دوا موږ پخپل اخیستلې شو.

زبیر- زه هم پوهیږم چی ته یې اخیستی شی خو دلته مفته ده!؟ پوهیږی یعنې څه مطلب؟ یعنې دا( زبیر زما خواته اشاره وکړل او ویې ویل: دا چې اوس ګوری داسې سوری،سوری دلته ناست دی دا د دوي د غلطی له لاسه داسې شوی! که دوی خپل وظیفه په سمه ترسره کړې وایې او امنیت یې صحیح نیولی وایی نو ضرورت نه وو دا خر ځان د مرګ خولې ته واچوی او داسی زخمي شې، دوی خپل مسئولیت نه دی ادا کړی او زه غواړم د دی دوا په اخیستو دویته دا ووایم چی تاسو ډېر نالایق کسان یاست.

د زبیر دی خبری ته مې خندا راغلل او ومې ویل: یعنې ته د یو نسخې دوا په اخیستلو غواړې دا دومره لوی پیغام هغوی ته ورکړې؟

زبیر بد،بد راوکتل او ویې ویل: اول خو هو، او دویم ته دی د خولې کشک وتره او هر دقه هم دومره خپل دا خیرن غاښونه مه راښکاره کوه، دومره دی د ټولو مخ کې ځان ښه وښود چې هغوی هم د ځان سره وویل چې پر ده خو مرګ هم نه دی شوی، که تا لږ ځان ناروغ نیولې وایی شاید یو څه ډیر توجه یی درته کړې وایی،خو ستا د خلاص خولې له لاسه هغوی درته هېڅ ارزښت درنکړو او له سره یې تېر کړې.

- څه مطلب د سره یې تیر کړې؟ مه وایه چې زړه دی غوښتل ځان د دروغو مریض ونیسم ترڅو ډیر روپې راکړې؟ که مطلب دی دا وی نو افسوس دی پر تا وی .. ځکه زما زړه هغه راکړې پیسې لا نغواړې ما د پیسو لپاره داسې کار نه دی کړی ..

په زړه کې مې د ځان سره وویل البته د دی دوه لک پیسو لپاره مې دا کار نه دی کړی ما د سل لک افغانیو لپاره داسې کار کړی وو،په هر حال بیا هم د زبیر خبره یو څه بل ډول وه زما خوښه نشول.

زبیر- خبره د پیسو نه ده، که تا لږ عقل درلود او ځان دی ناروغ نیولې وایې نو امکان یې درلود خارج ته دی د تداوی لپاره واستوی ..
په ګنګس انداز مې وویل: خارج؟ خو زه خو دومره هم مریض نه یم چې خارج ته مې واستوي؟!

زبیر- ته نو څومره خر یې طاها؟ وایم ځان به دی د دروغو مریض نیولې وایې، ته پوهېږې دولت یعنې څه؟ یعنې زر دانی ستا پشان کسان خارج ته استولې شې زر دانې ... د دوي د جیب خو څه نه کمیږي؟ که تا لږ ځان ناروغ نیولې وایې شاید ته یې هم خارج ته استولې وایې کله چې هلته تللې وایې نو تا کولای شو دوسیه(کیس) جوړ کړې او درخواست ورکړې چې همیلته خارج کې پاتې شې ...

پوهيږې اوس وخت زياتر کسان په همدې بهانه خارج ته ځي، د دروغو يو ويډو جوړ کړې چې زه په خطر کې يم او فلانکې و بستانکې ډله يا کسان غواړې ما مړ کړې، خارج هم ورته قبولي ورکوي ستا خو لا د رښتيا کيس موجود وو باور وکړه ډير ژر يې قبولې درکول خو افسوس چې ته مغر نلرې افسوس ...

په حيرت مې ورته کتل خدايه ... څه ووايم؟ يعنې د زبير مغزه ولې زموږ د مغزو سره دومره فرق لرې؟ اخر دا دومره خبرې د ده ذهن ته د کوم خوا راځې؟ داسې شيطاني فکرونه ولاکه پخپل د شيطان بدبخت فکر ته لا راغلې وې په دې فکر خندا راغله چې زبير بد بد راوکتل.

چې ما په همغه خندا وويل: دا ته چيرته وې؟ ماښام دې ولې راته دا خبرې ونکړل؟ مفت،مفته د خارج قبولې مې له لاسه ولاړل ...

دومره خندا راغلې وه چې فکر مې کاوه نفس سم نشم اخيستې زبير چې وکتل زه ورباندې ريشخند وهم غوسه ورغلل غوښتل يې کوم څه ووايې چې ذوالفقار په غوسه ورته وويل: بنده کړه خوله دې دا اوس ستا نصيحت وو؟ دروغ ووايې ترڅو خارج ته لاړشې؟ هلته په خارج کې څه مرګ دې چې تاسو د تلو لپاره دومره ورته ځانونه حقير کوې؟

زبير غوښتل ځواب ورکړې چې ذوالفقار بيا اجازه ورنکړل او په همغه غوسه يې وويل: راپورته کيږې يا لاړشم؟
زبير- صبر لاړشم دا نسخہ ..
ذوالفقار- وايم راپورته کيږې که لاړشم؟

د ذوالفقار په تنده لهجه زبير نور څه ونه ويل او په غوسه موټر ته راپورته شو خو د ډير غوسي څخه يې د موټر دروازه دومره کلکه بنده کړل چې د ذوالفقار غوسه ناک غږ پورته شو.

ذوالفقار- هوشـــــش حيوان دروازه دې مات کړل!

د ذوالفقار په دې خبره زبير د موټر دروازه خلاصه کړل او يو ځل بيا يې همغسې په کلک بنده کړل .. د هغه په دی کار زما خندا په خوله وچه شول، پوهېدم چې اوس به يو جنګ جهاني پيل شي، ذوالفقار د قاتلانو پشان د زبير خواته وکتل او ويې ويل: ولې دی داسې وکړل؟

زبير بغير له دی چی ورته کوم خاص توجه وکړی په پوسخند وويل: خو تا ويل هوششش حيوان؟! نو د دی حيوان لکۍ د موټر د باندی پاتي وه هغه مې راتول کړل ..

د زبير په دی ځواب چی په بيحد جديت کې ذوالفقار ته وکړو ما خپل خندا کنټرول نشو کړی او د زړه له تل پخندا شوم، خدايه وايي لکۍ مې د موټر د باندی پاتي وه؟! دومره مې په کلک وخندل چی فکر می کاوه د سيني هډوکی مې سره جلا شول د خندا حال کې په درد باندی خپل په سينه مژ لاس کيخودو، ذوالفقار ته هم لکه چی د زبير په دی خبره خندا ورغلې وه چی خپل شونډه يې وچيچل او بغير د نور څه ويلو يې موټر روښانه کړو زبير نيم نظر زما خواته راواچو او ويې ويل: په کراره اوس به د پير خندا څخه مړ شې، زه نه پوهيږم دا ستا د خولط کشک نن ولی دومره خلاص شوی؟ په هر خبره دی هر هر دی؟

په ځوکی می بډه ووهل او خپل لاس مې په سينه کيخود همغه حال کی د درد څخه مې شونډه وچيچل البته زياتر د خندا د کنټرول کولو لپاره وو نه درد او ومې ويل: باور دی کيږی تقريبا يو کال کيده چی داسې د زړه له خلاصه مې نه وه خندلی ...

زما په دی خبره د ذوالفقار تندی تروش شو خو زبير په پوسخند او څه ناڅه په طعنه لرونکی لهجې وويل: ولای موږ خو همدلته وو خو دا يو کال ستا اوضاع يو څه بدله شوی وه ...

پوهيدم چی اشاره يی څه ته ده نو ځکه د دی لپاره چی د نن غرمي بحث بيا تکرار نشې په تلوار می وويل: زه به لږ ځملم فکر کوم صحيح نشم کښيناستلې!؟

زبیر- هو، هو څمله ښه ارام وکړه ستا حساب زما سره خوندی دی..

بغیر د څه ویلو شاته سیټ کې څملیدلم ذوالفقار هم په بیحد کرار موټر روان کړو د هر جمپ او د سړک د کنډ او کپر سره یې فکر زما خوا ته و تر څو پعذاب نشم د دوا تاثیر تراوسه په بدن کې مې پاتې وو یا هم شاید د زبیر خبره زه ورته کمزوری شوی وم چې د ویښ پاتې کیدلو انرژی مې لا نه درلود او سترګی مې پټې ،پټې کیدل چې ذوالفقار د موټر د هینداری څخه راوکتل او ویې ویل: مولا صیب او .. ستا پلار ته مې ستا د حال په اړه خبر ورکړو ... او ورته ومې ویل چې زموږ کور ته راشې ..

د ذوالفقار په دی خبره خوب مې یو دم له سترګو وپرید او په تلوار مې وویل: ټولو ته دی خبر ورکړو؟
ذوالفقار- هو.
- ولې؟ مطلب څه ضرورت وو دومره کسانو ته خبر ورکړې؟ او بیا ولې ستا کور؟ ما خپل کور ته ویسه.
ذوالفقار په تروش تندی راوکتل او ویې ویل: نو ولې زما کور؟

- مطلب مې دا دې چې اوس تا دومره کسان خبر کړی او دومره زحمت دی ویستلې نو ما خپل کور ته ویسه هلته راحت یم ..

ذوالفقار د موټر له هینداری بد،بد راوکتل او ویې ویل: لومړی خو دا چې بایـد خبر مې ورکړې وایې ... ځکه سبا ورځ که پلار دی خبر شې چې پر تا دومره کارونه شوی او ما نه دی خبر کړی نو زما ګریوان د هغه بل ځل پشان رانیسی ..
ژر مې وویل: هغه هیڅ حق نلری چې ستا ګریوان ونیسي که زما په غم کیدی نو پخپل دی راشي.

ذوالفقار په پوسخند وویل: تاسو څخه ګیله نشته تاسو ذاتاً همداسې یاست هغه که لالا دی، ذوالقرنین دی یا حتا که ته ... تاسو خوښیږی خپل ګناه د یو بل چا په غاړه واچوی او ځان بیغم کړی .. ستا پلار هم همداسې خاصیت لری، اوس کرار ناست دی

خو کله چې خبر شې چې داسی یو کار شوی او ما نه دی خبر کړې، بیا نو هغه وخت په هېڅ دلیل او منطق نه پوهېږي ما له ګریوان رانیسي او ملامت کوی مې او وایې: چې ما خپل زوی تاته امانت سپارلې وو ... او تخو پخپل پوهېږی چې زه د دی خبرو عصاب،مصاب نلرم که یوه خبره یې وکړل دویم کې ورسره جنګ کوم ...

نو ځکه د اول مې خبر ورکړو چې د راتلونکې جنګ مخه ونیسم او پاتي شول خبره زما د کور .. نو ته دی خپل دی حالت ته یو ځل سم وګوره .. دوه ګام صحیح نشې اخیستې زړه دی غواړې په دی خراب حالت دی د یو مریضې ښځې سره یوازی ځان کور کې پریږدم؟ هغه خپل ځان او خپل ماشوم وساتي یا که ستا څخه ساتنه وکړی؟

د ذوالفقار په دی منطقي خبرو خوله مې یو دم بنده شوه، رښتیا یې ویل بابا همداسي وو .. کال دوولس میاشتي یې زما د مرګ او ژوند خبر نه اخیست خو که کوم ورځ خبر شوی وایې چې داسې کار زما سره شوی؟! بیا نو هغه وخت تازه د ده په یاد راتلل چې زه یې زوی یم .. او هغه وخت د بیچاره ذوالفقار ګریوان یې رانیو ... او پاتي شول خبره د اقرا نو دا خبره یې هم څه ناڅه منطقي او د منلو وړ وه ...

هغه پخپله مریضه وه څو میاشتي مخکې د ګوردی عملیات کړې وو،هغې پخپل یو چاته ضرورت درلود تر څو د هغې ساتني وکړی څه ورسیږی چې زه هم ورته څملم چې راشه زما ساتنه هم وکړه ... په دی فکرونو خپل مبارکه خوله مې بنده کړل، اول وی که اخر باید یو ځل د ټول خپل او خپلوانو سره لیدنه وکړم تر قیامت خو نشم ورڅخه تښتیدلې ...؟ نو څه بهتر همدا نن دا تریخ غړپ تېر کړم؟ په دی فکر بیرته مې سر کیخود ..

زه تر مرګ ورسیدم ما خپل په سترګو مرګ ولید او شیبه په شیبه د عزرائیل"ع" د لیدلو په تمه وم خو بیا هم وژغورل شوم او هغه دی اوس ژوندی یم او ساه اخلم ... نو مطلب زه چې د مرګ سره لاس او ګریوان کیدلې شم نو بابا او خپلوان به څه وی؟ اصلاً داسې فکر به وکړم چې دا د خپلوانو سره لیدنه اصل کې د همغه منحوس

ماموریت یو حصه ده؟! څه پروا لری ما دومره وخت د هغه منحوس ماموریت سختي وزغمل دا یې هم په سر .. اخر کې دی خدای بیغمي راوړی ....

په دی فکرونو خپل ځانته مې دلداری ورکول چې ناساپه په بانک کې د هغه اتیا لک افغانۍ فکر راغلو ... د هغه په یاد راوړلو بې اختیاره خوږه مسکا په شونډو راوستل چې د زبیر په خبره ژر لمینځه لاړل ..

زبیر- ذوالفقار تا د ډاکتر څخه ښه سم پوښتنه وکړل ډاډمن یې چې طاها په سر کوم ټک نه دی خوړلې؟

د زبیر په دی خبره بد،بد مې وروکتل ذوالفقار هم د هینداری څخه په مشکوک نظر زما خواته راوکتل د دی لپاره چې ثابت کړم لیوني شوی نه یم په تنده لهجه مې زبیر ته وویل: بنده کړه خوله دی.
زبیر- ولې دی لکه لیونیانو پشان خندل؟
- نه مې خندل ...
زبیر- یعنې دا اوس درې منه زما خوله خلاصوه؟

- هغه ... د درد څخه مې خندل.
زبیر- الله اکبر ...لومړۍ ځل دی ګورم یو کس د درد څخه خاندی؟ اوس نو سل په سلو کې ډاډمن شوم چې لیوني شوی یې ...
نه پوهیدم څه ووایم چې زبیر نور خپل خوله بنده کړی؟ ښه وو ذوالفقار مې مرستي ته راغلو.

ذوالفقار- درد لری؟ که ډیر درد لری اوس لا د شفخاني څخه دومره نه یو لری شوی راځه بیرته لاړشو ..
- نه ... نه ضرورت نشته دومره هم درد نلرم ..
زبیر- خو تا ویل درد لری .. هغه هم دومره درد چې د ډیر حیرت د ژړا لځایه ورته خاندی؟

- زبیر ته وقران خوله دی بنده کړه، ما یو بد وکړل صحیح شو؟ نور زما پر عصابو مه څه.

زبیر په پوسخند د ذوالفقار خواته وکتل او ویې ویل: ګوره وایم یو خبره دی منځ کې مشکوکه ده خو ته یې نه مني.

د زبیر په دی خبره لږ ورخطا شوم، دوی په څه شک کړی؟ ذوالفقار په تروش تندی او مشکوک نظر د هینداری څخه راکتل د هغوی داسې کتلو هېڅ خوند رانکړو نو ځکه په تلوار مې زبیر ته وویل: څه اپلاتې لګیا یې؟ د څه مشکوک؟ یو خبری ته مې فکر شو پر هغه مې خندا راغلل اوس کفر می وکړو؟

زبیر د جنایی پولیسانو پشان زما خواته راوګرځید او ویې ویل: دا یې هم بل دلیل چې مشکوک ښکاری؟! لومړۍ دی وویل د درد څخه دی وخندل؟ خو کله چې لږ فشار درباندی راغلو خبره دی بدله کړ ...؟ نو مطلب یو شې پټوی چې خبره اخوا دیخوا کوی؟

د زبیر جنایي انداز ته مې خندا راغله یعنې که د څو میاشتو مخکې طاها وایې نو شاید وېرېدلې وایې او په همدی دوه الف و ب پوښتنو کې مې د ټول ماموریت د کیسي اقرار ورته کړی وایې ...! خو د پولیسانو سره اوسیدلو البته باید ووایم د عزیزی سره اوسیدلو هوښیار او چالاک کړی وم، نو ځکه کرار مې سر کیخود او د سترګو پټ کولو حال کې مې وویل:

- لیاده مې وتلې وه چې ته څومره د جنایی موضوعاتو شوقي یې؟ ښه وو چې را په یاد دی کړل خو متاسفانه باید ووایم چې زه حوصله نلرم ستا جنایي بیځایه پوښتونو ته ځواب درکړم البته یو بل وخت شاید؟! خو اوس یوازی غوارم ارام وکړم او هو پاتي شول خبره زما د خندا ... نو کله چې عربستان کې وم هلته مې یو ملګری درلود هغه به تل د افغانستان بد ویل او هېڅ یې نه خوښیده ...

ما به کله ناکله هغه ته د افغانستان تعریف کاوه او ویل به مې چې خپل وطن ګل وطن؟ نو اوس مې دی موضوع ته فکر کاوه که هغه خبر شې زه افغانستان ته د پښو کیخودلو سره سم داسې سوری،سوری شوی یم نو څنګه به راباندی ریشخند ووهې؟ او څومره به د زړه له خلاصه راباندی وخاندی؟ نو دی خبری ته په فکر کولو خندا راغله ...

د دی خبری وروسته موټر کې یو دم خاموشی خپره شوه او ما خپل پر ځان صد افرین وویل ... د رښتیا چې هم هر شئ زده کول غواړی، ما چې یو وخت د دروغو یوه خبره نشو کولای اوس داسې په ماهرانه او دقیق انداز مې دروغ ویل چې کله ناکله خپل مې هم باور کیده چې زه د رښتیا عربستان ته تللی وم او داسی یو ملګری مې درلود؟ د څو شیبو چوپتیا وروسته د زبیر طاقت بیا خلاص شو او خپل جنایی پوښتنی له سر پیل کړل.

زبیر- زما تر اوسه باور نه کیږی چې تا دی یو انتحاری کس نیولې وی؟ اصلاً ته څنګه پوه شوی چې هغه انتحاری دی؟ اصلاً که د پوهیدو څخه یې راتیر شو تا یوازی ځان څنګه دومره د هغه سره اخ او ډب وکړو؟ مطلب انتحاری کسان خو واسکټ اچوی او د بم وهلو تڼی هم په لاس کی نیسي؟ نو بیا تا څنګه دومره ورسره جنګ وکړو؟ مرمۍ دی وخوړل؟ خو هغه یو تڼی ونشو وهلی؟دا خبره هیڅ د عقل سره نه جوړیږی ..

د زبیر په دی خبره دا ځل د رښتیا هم لږ ورخطا شوم، د هغه خبره منطقی وه،خدای دی جنرال او بوډا ته هدایت نصیب کړی دا نو څنګه بهانه وه چی دوی راوړل؟ کولای شو د دی لځایه چې زما څخه د زبیر خبره قهرمان ملی جوړ کړی ویلې وایې چې هوایی مرمۍ مې خوړلی ... یا لاره کی جنګ نښتی وو او ما بدبخت پکی ټک خوړلی،یا زر نور بهانې وه نو څه ضرورت وو چې حتماً باید ما پکی قهرمان کړی؟ اخر خر هم پوهیږی چې یو هوښیار انسان هیڅکله په یو انتحاری ځان نه اچوی!

زبیر- ها؟ څه وشو؟ ولی ځواب نه راکوی؟ لکه چې دروغ دی نه سره جوړېږی؟
- ته ولې فکر کوی چی زه دروغ وایم؟ یا اصلاً زه باید ولې دروغ ووایم؟ په څه خاطر؟

زبیر غوښتل کوم څه ووایې چې ما په تروش تندی خبره ورپری کړل، یو وخت د ماموریت په جریان کې بوډا راته یو نصیحت کړی وو؟ راته ویلې وه کوم وخت چې پوه شوی یو نفر ستا په راز خبر شوی یا ستا په اړه داسی معلومات لری کوم چې ته نغواړې هغه کس ورباندی پوه شوی وایې نو د دی لځایه چې خاموش اوسیږی او هغه کس پرېږدی چې د هغه موجود اطلاعاتو څخه ستا په ضد کار واخلې، ځواب ورکړه او داسی خبری ورته وکړه چې هغه کم عقل، ساده او لیوني معرفی کړی کله چې داسی کار وکړې نو د هغه کس خبرو ته کوم څوک دومره ارزښت نه ورکوی ما هم هغه تخنیک په زبیر وکارو او د دفاع لځایه مې ورباندی حمله واچول البته لفظي حمله او ومې ویل:

- زه داسې فکر وکړه چې ته صحیح یې او زه دروغ وایم؟ اوس دا راته ووایه چې ایا ستا په نظر دا دومره کسان چی هلته نن راغلې وه هغوی هم دروغ ویل؟ ستا په نظر دا کوم هندی فلم دی چی موږ یی درته صحنه سازی کوو؟ ستا په نظر ایا د دې دومره کسانو راتګ دومره عکس اخیستل؟ دومره خبری کول؟ ایا دا ټول دروغ وه؟ او که هو ... نو د څه لپاره؟ یعنی دولت دومره بیکاره دی چی راشې زما لپاره چې نه کوم سیاسي کس یم، نه کوم مهم شخصیت یم زما لپاره راشې او دومره د دروغو پلان جوړ کړی؟ ته دی سر کې د عقل په نوم کوم څه هم لری او کنه؟ زما خو دی عصاب راوخوړل په دی بیخایه پوښتنونو ...

زبیر په تلوار ځان جوړ کړو چی کوم څه ووایې خو لکه چې د بوډا ویل شوي تخنیک کار وکړو؟ ځکه ذوالفقار په غوسه زبیر ته وویل: بس دی.
زبیر- نه ته صبر زه د دغه ځوا...

ذوالفقار- ومی ویل بس دی.
زبیر- خو د دغه ځوابـ ....

ذوالفقار- زبیر لکه چې نن دی د رښتیا هم بدن د وهلو لپاره خارښت کوی؟

زبیر چی خوله بنده کړل نو زما پر شونډو یو فاتحانه مسکا خپره شوه، لکه چې د جنايي پولیسانو سره کار کول څه ناڅه فایده هم درلود؟ اخر بلاخره ما خپل په ژوند کې یوه ورځ د زبیر خوله بنده کړی شوه ... زما د خندا په لیدو زبیر کرار د شونډی لاندی وویل: ډیر مه خوشحالیږه دا موضوع شاید ستاسو لپاره همدلته خلاصه وي .. خو زه چی ترڅو ستا د خولی ځخه رښتیا راونباسم طاها ... زما نوم به زبیر نه وي ...

زبیر یو ځل بیا د جنايي پولیسانو پشان راوکتل خو ما ورته یوازی وخندل، زره مې د زبیر د دی لیونتوب پسې لا تنګ شوی وو، د نیم ساعت وروسته کله چې د ذوالفقار د کور مخکینې سړک ته ورسیدو نو زبیر د موټر درولو او ښکته کیدلو وویل چې ما ورته وویل: زموږ سره کور ته نه راځی؟

زبیر د موټر څخه د ښکته کیدلو حال کی وویل: نه، تاسو نن کورنۍ میلمانه لری نو بهتره به وی چی یوازی اوسیږی او خپل زړه تنګون رفع کړی، موږ خو ډیر وخت لرو ډیر خبری به سره وکړو که څنګه؟ ته به ډېر شیان ما ته ووايي کنه؟

د هغه په دی خبره پخندا مې وروکتل او ومې ویل: نو پخیر لاړشې او هو داسي لاړ شه چې تر یو، دوه هفتو دی مخ لا ونه وینم چی هېڅ ستا د بیځایه خبرو حوصله نلرم.

زبیر غوښتل کوم څه ووايې خو د هغه د څه ویلو مخکې ذوالفقار موټر روان کړو خو ما د هغه غږ د لری څخه واورید چې په لوړ غږ یې وویل: یوازی یوه ورځ ... د هغه وروسته زموږ حساب کتاب شروع کیږی طاهـــا ....

د هغه په دی خبره نرۍ مسکا مې پر شونډو خپره شوه او د زړه له خلاصه مې د خدای شکر ادا کړو، زبیر چې هر څومره عصاب خراب کوونکي وو هغومره په ملګرتیا کې کلک وو د هغه دا ټول جنایي پوښتني او کارونه زیاتر د ملګرتیا او توجه له لاسه کیدل او زه نه پوهیږم ما کوم نیک عمل کړی وو چې خدای د هغه په بدل کې د زبیر پشان ملګری رانصیب کړی وو؟

ذوالفقار بغیر د څه ویلو کرار د کور خواته روان وو، خو زما بیحد خلق تنګ وو .. زړه مې غوښتل خپل کور ته لاړشم د ذوالفقار کور ته تګ مې نه خوښیده او دلیل یې هم معلومداره وو میشا وه! یعنې د هغه دومره جنګ او خبرو وروسته هیڅ مې زړه نه غوښت چې د هغې د کور دروازه دی لا وګورم نور خبری او لیدل خو لری، ډارېدم چې هسې نه فهیم خبر شي چې زه د ذوالفقار کور کې یم او بیا یې خرکې غیرت راویښ شې او زما ګریوان راونیسي؟

او له بلخوا سل په سلو کې ډاډمن وم چې ذوالفقار که بابا خبر کړی نو مطلب ذوالقرنین کاکا هم ضرور راځي ... یعنې د هغه دومره جنګ او رسوایی وروسته بیا هم زه ډاډمن وم چې ذوالقرنین کاکا یا حتا شاید فرید او فهیم هم راشي؟! زه دا بې شرم قوم پیژنم دوي په دی خبرو نه دی ویشتلي چې جنګ شوی؟ یا که مړی شوی؟ دوی چې کله د یو نوی خبر په اړه واوری نو ځانونه حاضر کوی او اوس خو ضرور راځي دومره غټ خبر د زبیر خبره قهرمان ملی جوړ شوی وم؟!

او همغسې هم وشول همدا چې ذوالفقار موټر خپل د کور مخکې ودروی او زه ورڅخه راښکته شوم نو لومړۍ نظر چې مې ولګید هغه د فهیم په منحوس مخ وو، د میشا دوی له کور راووت، زما په لیدو لومړۍ په حیرت راوکتل خو بېر ژر یې حیرت په پوسخند بدل شو، ما هم څو شیبې ښه په زیر وروکتل له دی چې د میشا دوي له کور راووت حیرت مې ونکړو، فهیم او فرید هغه منحوس او بیغرت د زماني دی چې بغیر له شک ویلي شم که آسمان ځمکې ته راښکته شي بیا هم میشا نه خوشی کوی؟! د دی لپاره نه چې مئین دی ورباندی ... اصلاً داسې کوم خبره نه ده

بلکې د جاهلیت څخه ... ما په بار،بار د هغوی د خولې څخه دا خبره اوریدلې چې وایې ښځه یا د میړه د کور ده یا هم د ګور ....

یعنې د ذوالقرنین کاکا زامنو ته دا خبره مهم نه ده چې جنۍ د ده سره په واده خوشحاله ده او کنه؟ دوي یوازې کوم شئ چې په نوم وی هغه ځانته ساتي د مقابل نفر احساسات ورته هېڅ ارزښت نلری او زه واقعاً د زړه له تل د میشا لپاره خفه وم که څه هم هغې چنداني کار زما حق کې ونکړو او مفت میدان یې بدنام کړم خو بیا هم په داسی یو جاهل مې نه وه پیرزو،یعنې د داسی یو جاهل انسان سره ژوند کول به څومره دردونکي وی؟ البته د میشا څخه مخکې لومړۍ افسوس باید زه خپل په خور وخورم چې د فرید پشان د یو بیعقل انسان په قید کیده ...

فهیم لږ رانږدی شو او زما فکر د هغه و مخ ته شو، غوښتل مې خپل د هغه زدني وهلو کوم نښه نښانه یې په مخ کې پیدا کړم خو متاسفانه لکه چې دا څو میاشتې وخت هغه زخمونه جوړ کړی وه؟ ذوالفقار د کور دروازه وټکول او ډیر ژر زما خواته راغلو پوهیدم چې غواړی مرسته وکړې خو نه مې غوښتل د فهیم مخکې ځان ناتوان وښایم نو ځکه د ذوالفقار لاس چې زما سره د مرستي کولو لپاره را اوږد شوی وو اخوا کړو او ومې ویل: ته موټر کور ته ننباسه زه پخپل تللې شم.

ذوالفقار غوښتل مخالفت وکړی خو د هغه د څه ویلو مخکې د فهیم منحوس غږ پورته شو چې په طعنه یې وویل: اوه ... اوه دا لمر نن د کوم خوا راپورته شوی؟ زما د کاکا تښتیدلې زوی د یو کال وروسته کور ته راغلې؟

بغیر د څه ویلو مې وروکتل دا ولې شرم نلری؟ یعنې که د ده کار خدای مکړه پر ما شوی وایې زه خو د ډېر شرم څخه پر ځمکه ننوتلم په قران ... خو ته و ده ته وګوره؟ داسی خبری کوی ته وا هیڅ نه دی شوی او امن و امان دی؟! ذوالفقار چې تازه فهیم ته فکر شوی وو تندی تروش کړو او ما یی د غاښونو کرپها واوریده چې د ډېر غوسي څخه یې یو پر بل کلک کړل، پوهیدم چې ذوالفقار دا څو ورځي زما څخه د مرګ تر حد غوسه دی، خو زما د ټپي بدن مراعت کوی او نه مې وهې خو له خدایه

یو بهانه غواړی ترڅو خپل غوسه پر یو بل چا خالي کړی او لکه چې هغه کس فهیم وو؟

ذوالفقار زه د اوږی څخه کرار ونیولم او خپل د کور خواته یې ټیله کړم او پخپل غوښتل یې د فهیم خواته لاړ شي خو لا ګام یې نه وو اخیستي چې د ذوالفقار د کور دروازه خلاصه شوه او د دروازی خلاصیدو سره سم ما څو مختلف د ښځو د ژړا غږونه واوریدل؟ او عجیب وه خو ټول مې وپیژندل؟ لومړی د ادی د ژړا غږ وو چې د ټولو څخه واضح راتله، دویم د اقرا د مور او دریم د عمه؟ د هغه غږونو په اوریدو بې اختیاره مې مخ د ذوالفقار د کور خواته وګرځو چې نظر مې په بابا ولګید چې له کور راووت ..

لومړی شئ ته چې مې فکر شو هغه د بابا کالي وه؟ بابا د تور کالو اچولو عادت نه درلود، یعنې زیاتر وخت سپین یا نور روښانه رنګونه یې اچول خو نن یې تور کالي اچولي وه؟ او دا کار یې زه لږ ګنګس کړم؟ ما چې لومړی ځل شموئیل ولید نو هغه د بابا په څېرې کی راغلي وو او تور کالي اچولي وه، یوې شیبې لپاره مې ګمان وکړو چې شاید شموئیل وی؟ خو همدا چې زما په لیدو د هغه په تندی کې ګونځې پیدا شول نو پوه شوم چې پخپل زما محترم پلار دی، د بابا یو نه بدلېدونکي عادت همدا وو چې تل زما په لیدو یې تندی تروش کیده!

د بابا شاته څنګه چې اټکل مې کړی وو .. ذوالقرنین کاکا له کور راووت او زموږ خواته راغلو همدا چې ما ته راورسید نو بغیر د کوم سلام،کلام یې زه کلک په غیږ کې ونیولم ... د هغه دا کار دومره حیران کړم چې د څو شیبو لپاره هر څه مې لیاده ووتل ... خو ډیر ژر د درد غږ مې پورته شو ذوالقرنین کاکا دومره په کلک غیږ کې نیولې وم چې فکر مې کاوه د سینی هډوکي مې مات شو زما د "اخ" په غږ ذوالفقار چې د جنګ حالت کې د فهیم خواته روان وو په تلوار یې ځان تر ذوالقرنین کاکا راورسره وو او هغه یې زما څخه لری کړو ...

د ذوالقرنین کاکا د لرې کولو سره سم ما له درد خپل شونډې وچیچل او خپل لاس مې د سینې په مات شوې هډوکي کېخود چې ذوالفقار په اندېښنې له اوږې ونیولم.

ذوالفقار- ښه یې طاها؟

درد مې درلود دومره چې ذوالفقار ته مې سم ځواب لا نشو ورکولای، خو له مجبورۍ څخه د دې لپاره چې د فهیم یا بابا مخکې کم رانشم په زوره مې سر وخوځاوه او کرار مې "هو" وویل چې ذوالقرنین کاکا په حیرت وویل: څه وشو؟ ما خوږ کړې؟

ذوالفقار داسې حال کې چې زه یې له اوږې نیولی وم په غوسه یې د ذوالقرنین کاکا خوا ته مخ وګرځو او ویې ویل: مګر ما تاسو ته خبر نه وو درکړی چې طاها په مرمۍ لګیدلې او ټپی دی؟ هغه وخت ته یې داسې غیږ کې نیسې؟

ذوالفقار غوښتل ذوالقرنین کاکا ته نور هم خبرې وکړی چې ما یې لاس ونیو او منع مې کړو، عمر کې یو ځل ذوالقرنین کاکا خدای خبر د کوم خوا راپورته شوی وو چې داسې مهربان شوی وو او زه یې غیږ کی نیولې وم نه مې غوښتل داسې شرمنده شې نو ځکه یو دروغجن مسکا مې پرشونډو راوسته او ومې ویل: کوم ستونزه نشته ذوالفقار زه ښه یم، راځې دننه کور ته بده ده ټول کوڅه کې ولاړ یو.

ښه وو زما بد حال یو ګټه ورسول او ډیر ژر ذوالفقار کور ته ننویستلم کله چې کور ته ننوتلم نو د بابا له ځنګ تیر شوم نه هغه کوم څه وویل او نه هم ما، یوازې هغه د دروازې له مخې لرې شو ترڅو زه ننوځم کله چې کور ته ننوتلم او مخامخ حالت مې ولید نو ځان سره مې وویل چې ای کاش همغه شفخانه کې پاتې وایې؟! یعنې زموږ ټول په نوم چې خپل او خپلوان وه راغلې وه ... د ټولو څخه جالب راته د ښځو ژړا وه؟! یعنې عمه،د ذوالقرنین کاکا ښځه ادې، حسنا،مروه،فرشته د اقرا مور او حتا د ذوالفقار ښځې داسې ژړل ته و زما مړی. راوړی؟!

البته که بل فرض زما مړی. هم راوړی وایې بیا هم نه پوهیدم چې فرشته نو ولی داسی په ساندو،ساندو ژاړی؟ یوه شیبه کې سم د محشر میدان شو زما د کور ته

ننوتلو سره سم ادی چې په برنډه کې ولاړه وه زما په لیدو په ژړا زما خواته را په ځغاستو شول خو لا رارسیدلې نه وه چې بابا یې مخه ونیول د لومړۍ ځل لپاره د بابا په دی کار خوشحاله شوم، که څه هم د ادی پسې مې زړه بیحد تنګ وو خو په کوم سرعت چی هغه راروانه وه فکر می کاوه د غیږې نیولو سره سم یې زما ساه هم وتل ...

ادی چې د بابا لخوا ونیول شول نو د لومړۍ ځل لپاره ما د هغې د اعتراض غږ واورید چې په ژړا یې بابا ته وویل: خوشې می کړه ظالم غوارم خپل زوی وګورم.

د ادی په دی خبره زما سترګي له حیرت خلاصي پاتی شوی، څه وشو؟ ادی بابا ته وویل ظالم؟ لومړۍ ځل وو چې داسې یو خبره مې د ادی څخه اوریده کنه د ادی عادت وو یوازی په سترګو او صحیح دی بابا ته ویل هېڅکله یې د مخالفت او نه منلو په نوم کوم څه نه پیژنده ..په همغه حیرت مې د بابا خواته وکتل چې هغه په غوسه خپل سترګي خلاص او بند کړل او کرار یې وویل: ټپی دی،غیږ کې مه نیسه د سیني هډوکی مات شوی په کراره ورسره خبری وکړه، ویني چی ژوندی دی نو دا بد حال په څه خاطر؟

د بابا په خبرو د ادی ژړا له پسی زیاته شوه چې دا ځل زه پخپل ورمخکی شوم بلا دی زما د مات هډوکو پسی شې ادی داسې جګر سوزه ژړل چې زما زړه یې لا په درد راوړ زما په مخکې تلو بابا په تروش تندی د ادی له مخې لری شو چې زه ورنږدی شوم او د ادی لاس مې ښکل کړو زما په دی کار هغې په ژړا زما سر ښکل کړو خو غیږ کې ونه نیولم،لکه چې د بابا خبرو تاثیر کړی وو؟ ادی غوښتل کوم څه ووایی خو ذوالفقار او بابا اجازه ورنکړل او کور ته یې ننویستلو ما ته یې د میلمنو کوته کې ښه سم فرمایشي ځای اچولې وو ..

ذوالفقار مرسته وکړل چې ځای کې څملم خو همدا چې ملا مې په نالي ولګیده فکر مې وکړو چې سم د مرمۍ ټک مې وخوړو .. داسې یو مردار درد مې سینه او اوږه

کې وپیچل شو زما د درد په لیدو ذوالقرنین کاکا په تلوار وویل: ما تاسو ته وویل چې نالي باندی څملیدل ورته ښه نه دی کاش یو کټ مو ورته راوړی وایې؟

د هغه په دی خبره د کور د هر کونج د مشوری یو غږ پورته شو، یو ویل زموږ کور کې کټ وو، بل ویل کاش موږ ته مو ویلي وایې موږ ورته کټ راوړو، بل ویل موږ به یې اوس ورته راوړو ... خلاصه چې د مور څخه د مهرباني میری چل وشو، خو ما دومره درد درلود چې بغیر له دې چې د هغوي کوم خبری ته پام وکړم د ذوالفقار لاس مې کلک نیولې وو او سترګي مي پټی کړی وه،زما د درد په لیدو ذوالفقار په اندیښنی وویل: یو دوه بالښت راوړی ترڅو تکیه ووهي زه اوس ځم پخپل ورته کټ راوړم ...

د هغه په خبره ډیر ژر دوه بالښت راورسیدل ذوالفقار مرسته وکړل ترڅو کښینم او د حق تیر نشم د څملیدو لځایه کښیناستل ښه وه دومره درد مې نه درلود، کله چې لږ طبعیت می ښه شو او ځای پر ځای شوم نو تازه کوټه کې موجود کسانو خواته مې فکر شو، کوټه ماشاءالله تر سر ډکه وه زما څنګ ته نالي باندی ادی ناسته وه او زما خواته یې راکتل او خپل اوښکې په ټکري پاکول د هغې څنګ ته بابا په تروش تندی ناست وو او ورپسی عمه،بشیر ماما، ذوالقرنین کاکا، د ذوالقرنین کاکا ښځه، فرشته چې دوه سترګي په ما کې وه او اوښکې نه وچېدل نه وم خبر چې دومره مینوال لرم ..!

د هغې څنګ ته د ذوالفقار ښځه د اقرا مور او کوچني خور وه خو اقرا نه وه؟ نه اقرا وه او نه هم محمد؟!

د هغوی په نه لیدو لږ ورخطا شوم خو لا مې خوله نه وه خلاصه کړی چې د کوټې د دروازی سره مې یو سیوری ته فکر شو، کله چې ښه مې وروکتل نو اقرا وه .. محمد یې غیږ کې نیولې وو او په سرو سترګو له ژړا یې زما خواته راکتل د هغې په لیدو بې اختیاره مې مسکا پر شونډو راغله، د هغې دا یو خاصیت زما پشان وو.. کله چې خلک به ډیر شول نو کوښښ یې کاوه داسې ځای اوسیږی چې د چا نظر ورباندی ونه لګیږی، کنه په کوټه کې د موجود ټول کسانو څخه ما ته رانږدی هغه وه ..

هغه باید د ټولو مخکې زما خواته راغلې وایې لومړۍ د پوښتنې کولو حق د هغې وو، خو پوهیدم چې شرمیږي، پوهیدم چې ورخطا ده او نشی کولای د دومره خلکو مخکې زما د حال پوښتنه وکړي او رانږدی شی زړه مې غوښتل بغیر د ادی، عمه حسنا، مروه او البته د اقرا د مور او خویندو څخه نور کوټه کې موجود ټول کسان وباسم او اقرا راوغواړم غوښتل مې د هغې سره خبری وکړم خو افسوس چې بغیر د کتلو مې هېڅ کار نشو کولای ...

محمد په یو خوار او ګنګس نظر شاوخوا کتل لکه چې د دومره خلکو په لیدو حیران شوی وو؟ باور مې نه کیدو د څو میاشتو په موده کې غټ شوی وو .. څهره یې بل ډول ښکاریده، د موبایل تر شا یو رقم وو خو چې مخامخ مې لیدو نو بل رقم معلومیدی ... زما د نظر په تعقیب ذوالفقار د کوټې د دروازی خواته وکتل چې ما ژر خپل نظر د هغه خوا واخیست، یعنې د دومره وخت وروسته او د دی باوجود چې واده مې کړی وو بیا هم دا چې اقرا ته د کتلو وخت کې یو چا لیدلې وایې شرمیدم ...

ذوالفقار د نیم نظر اچولو وروسته بیرته زما خواته راوکتل او لکه چې پوه شو چې زه د شرم څخه سور شوم چې نرۍ مسکا یې پر شونډو راغله د هغه په داسی خندلو زما شرم لاپسې زیات شو، خپل ځانته مې غوسه راغلل اخر دا اوس د شرمیدولو خبره وه؟ خو ښځه مې ده ورته ګورم نوش جان مې د ټولو دی لاس خلاص وی، ذوالفقار نه پوهیږم د سترګو په اشاره خپل ښځې ته څه وویل؟ چې هغه په تلوار خپل لځایه پاسیده او د اقرا خواته ورغلل ...

د یوی شیبې لپاره مې ګمان وکړو چې شاید غواړی اقرا کوټې ته راوړي؟ او ما دا کار نه غوښت، یعنې منم چې د اقرا سره مې غوښتل خبری وکړم او د محمد پسې مي بیحد زړه تنګ شوی وو، خو نه مې غوښتل د دومره کسانو مخ کیدی اقرا راشې .. البته د دی لپاره نه چې خدای مکړه په زړه شکمن وم یا داسې کوم بل خبره ما د اقرا لپاره نغوښتل هغه راشي،پوهیدم چې مجلس کې د دومره خلکو مخکې نشې راتلې او شرمیږي، کله چې د ذوالفقار ښځې اقرا کوټې ته د رانوتلو لځایه بیخې د دروازی

له کونج لری کړل نو تازه د ذوالفقار د خبری تر مطلب ورسیدم کله چې هغه ورځ یې زبیر ته وویل زه طاها پیژنم ... د رښتیا چې هم هغه زه پیژندلم د مننې په پار مې وروکتل چې هغه لځایه پاسید او ویې ویل:

– ښه نو، زه ځم ګورم که یو سم کټ مې پیدا کړو طاها ته یې راوړم، تاسو هم ډیر شور ماشور مه جوړوی ډاکټر ویل باید آرام وکړی،البته ډاکټر خو بیخې نه رخصت کاوه ویل یې تر یو هفتې خو باید د نظر لاندی اوسیږی خو دی ( ذوالفقار زما خواته اشاره وکړل او په تروش تندی وویل: خو پروفیسور صیب د ځان د رخصت کیدو حکم پخپل صادر کړو او راغلو نو اوس یې پریږدی لږ آرام وکړی.

د ذوالفقار د خبری په تایید کې ټولو خو "هو" وویل خو بغیر د ذوالفقار څخه یو کس هم له کوټې ونه وت!؟ د ذوالفقار د تلو وروسته یو دم یوازی شوم .. کاش نه وایې تللی د هغه شتون ډیر ښه وو اوس ټولو ما ته خوله نیولی وه او هر چا یو پوښتنه کول بلخصوص بشیر ماما چې پوښتنې زیاتر ریشخند، ټوکې او خلاصه د حد تیر وه، شاید نیم ساعت لا نه وو تیر شوی چی فکر می وکړو سر مې راباندی ګنکس شو احساس می کاوه د هغوی غږونه لکه د میخ پشان زما سر کی ټکول کیږی داسې بد راباندی لګیدل

خو بیا هم د شرم او مجبوریت څخه ناست وم او د هغوي د بیځایه پوښتونو ځواب مې ورکو،بشیر ماما د زبیر پشان خبری کول او لګیا وو ویل یې چې موږ باید پر دولت عریضه وکړو ترڅو یا ما خارج ته ویسي یا هم سم ډبل پیسي راکړی؟! او ذوالقرنین کاکا هم د هغه د هر خبری سره لس نور خبری یوځای کول او تایید یې کاوه یوازینی کس چې هیڅ دی موضوع کې څه ونه ویل هغه بابا وو! یوازی غوږ نیولې وو نه یې د چا خبره تایید کول او نه هم رد!؟

د بشیر ماما او ذوالقرنین کاکا بیځایه مشورو چې زور واخیست د لومړی ځل لپاره مې زړه کې ذوالفقار ته کنځل وکړل څه جبر وو چې دا ټول کلې پر ما خبر کړو؟ البته فکر نکوم ذوالفقار دی ټول خبر کړی وی؟ فکر کوم زیاتر پخپل راغلې نور د

کښیناستلو توان مې نه درلود زړه مې غوښتل سترګی پټې کړم او ویده شم خو افسوس چی داسې د څلور خواوو څخه محاصره شوی وم چی په راحت فکر مې سترګی لا نشو ترلې، د بابا په غږ په سل زور او زحمت مې سترګی خلاصی کړل.

بابا- ښه يې طاها؟

د بابا په غږ لکه چې معجزه شوی وی ... یو دم ټول کوټه چوپه شول او زموږ خوا ته په راکتو شول د هغوی داسې ناساپه چوپ کیدلو باندی ورخطا شوم، تر دا یو دقیقي مخکی مې زړه غوښتل ټول چوپ شی خو اوس ... اوس می زړه غوښت یو نفر خبری وکړی او ما د بابا د دروند نظر څخه بچ کړی خو متاسفانه چی هیڅوک مرستی ته رانغلل ..

- هو ښه يم.
بابا- خو زه فکر نکوم چې ښه اوسيږی(بابا خپل د دی خبری سره سم بغير له دی چې زما حیران نظر ته وګوری په همغه تروش تندی کوټه کی موجود ټول کسانو ته وويل: بهتره به وی چی یو څو ساعت یی یوازی پریږدو، ذوالفقار ویل ډیر وخت بې هوښ وو نو د ډیر بی هوښي وروسته ناساپه داسې شور ماشور يې په سر جوړول ښه نه دی ..

بابا دا خبره وکړل او لومړۍ خپل لځایه پاسید د هغه وروسته رسماً ټول يې له کوټي وشړل؟! یعنی د لومړۍ ځل لپاره د بابا دا کار می خوښ شو دا د بني اسرائیل قوم په خبرو نه دی مجبور همداسي ورسره وکړی، د ټولو د ویستلو وروسته بابا زما خواته راغلو نه پوهیږم ولی خو اوس چی راته داسی مخامخ وو نو د غوسي او خفګان لځایه ورڅخه شرمیدم؟!

یعنی ما دومره دا څو وخت ځان سره وویل چی ما ورڅخه بد راځي او فلان دی او بستان دی؟! خو اوس چی راته مخامخ وو یوازیني حس می چی درلود هغه شرم وو؟ نه شرم هم نه وو .. زیاتر یو ډول نفس تنګي او خلق تنګی وه زړه مې نغوښت

ورسره یوازې پاتې شم یو ډول عجیب احساس می درلود داسې لکه یو بیګانه کس سره چی انسان نغوارۍ اوسیږی او پعذاب وی، هو پعذاب د بابا شتون زه پعذابولم، بابا په همغه تروش تندی بغیر د څه ویلو زما خواته راغې د هغه په نږدی راتلو لږ وډار شوم نه پوهیږم ولې خو فکر می کاوه هسی نه ومی وهی؟!

په قران د بابا او ذوالفقار د وهلو او غوسې کولو وخت نه دی معلوم دوی دواړه ناساپه لیونیان کیږی او وهل شروع کوی، کله چی زما خواته راښکته شو یو دم ساه ویستل می بند شول فکر می وکړو چی د رښتیا غوارۍ ما ووهی؟! خو د هغه په خبره د شرم می شونډه وچیچل.

بابا- لږ تکیه دی اخوا کړه ترڅو بالښت دی سم کړم،څمله دومره کښیناستل درته ښه نه دی.

یعنی زه کوم فکرونو کی وم او بابا کوم فکر کی وو؟ خپل د څو شیبو مخکی فکر باندی شرم راغلو د بالښت څخه مې تکیه اخوا کړل بابا په تلوار دواړه بالښتونه زما له شا واخیستل او دی بلخوا ته یی کیخودل د هغه وروسته زما اوږه یی ونیول ترڅو مرسته وکړې زه په کراره څملم که څه هم درد می درلود او صحیح نشوم څملیدلی خو دا چی بابا دومره نږدی وو او زما اوږه یی نیولی وه د ډیر شرم څخه مې درد لیاده ووت او ژر څملیدم ..

د څملیدو وروسته بابا د څو شیبو لپاره همغسې زما سر ته ودرید او زما خواته یې راکتل شاید کتل یی چی درد لرم او کنه؟ خو ما سترګي پټی کړی وه او یوازی مې غوښتل بابا ژر تر ژر لاړ شې د څو شیبو وروسته فکر مې وکړو چی بابا لاړو؟ نو ځکه کرار مې سترګی خلاصی کړل خو هغه تر اوسه زما څنګ ته ولاړ وو زما د خلاص سترګو په لیدو یی کرار وویل:

بابا- ذوالفقار ته زنګ وهم چی دوا دی راوړی شاید هغه کی د درد کوم شې مې وی؟ سر مې د سمده په توګه وخوځاوه او غوښتل مې بیرته سترګي وتړم چې بابا وویل:

اوږه دې ډېر درد کوی یا د سیني هډوکي؟ ذوالفقار ویل په اوږی دی مرمۍ خوړلې؟
- هو .. هغه په اوږه مې مرمۍ لګیدلې ...خو دومره درد نلرم ښه یم.
بابا- نو څو شیبې مخکې ولې ناساپه رنګ دی دومره خراب شو؟
په بنده،بنده ژبه مې وویل: ه ... هغه ... بیحد ډیر غرږونه وه ... ن... نو ... ناساپه سر مې په درد شو ...

بابا سر د پوهیدو په انداز وخوځاوه او بلاخره زما له څنګ لری شو خو مخامخ نالې باندی کښیناست او دوه سترګي ماته ونیول، د هغه داسي کتلو باندی زړه کې مې ځان سره وویل هغه شور ماشور لا ښه وو اوس د بابا د نظر لاندی څوک نفس اخیستی شي؟ د ماشومتوب څخه ورڅخه ډاریدم او دا یوازی د وهلو په خاطر نه وو منم بابا زه ډیر وهلم خو زما وېره د هغه څخه د وهلو په سبب نه وه ... بابا یو ډول د پخوا خلکو خبره ځاره یې درلود، یو ډول هیبت داسې چې ما هیڅکله مخامخ ورسره خبری نشو کولای ...

یعنې زما یاد کې نه راځې کوم ورځ دی زه د بابا سره په یو مجمي کښیناستلې اوسیږم او ډوډۍ می خوړلې وی، زموږ ډیر، ډیر احساساتي صحنه د اختر په ورځ وه چې ما به یې لاس ښکل کاوه او اختر مبارکي به مو یره کول .. بس همدا زموږ د پلار او د زوی د مینې اخری حد وو، البته دا نشم ویلې چې بابا یوازی زما سره بد وو نه بابا ذاتً همداسې وو د طاهر سره یې هم چندان خبری او مجلس نه درلود خو بیا هم زما څخه یې ډیر د طاهر سره خبری کول که خبری هم نه کول پر هغه یی کار کاوه

طاهر هغسې وکړه، داسې وکړه، کور ته فلان شئ راوړه، فلانکي کس ته لاړشه خلاصه د کاروبار او مجلس نفر یې طاهر وو، خو ماته به چې راورسید نو امر کول به یې شروع شول طاها فلاني ځای ته مه ځه، طاها د فلانې کس سره مه ګرځه، طاها فلانکې کار مکوه، طاها د شپي وخت ویده شه باور پخدای زما د خوب وخت یې لا ټاکلې وو ... او خدای مکړه یوه ورځ ما د غلطي څخه د هغه کوم حکم نه وایې پر

ځای کړی نو پر تاسو دی ګلانو وریږی او پر ما دی ږبری ... یعنې هغه وخت یوازینی کس چې د بابا د وهلو څخه زه ژغورلې شوی هغه پخپل خدای وو ...

څکه نور د ځمکی په سر چا د بابا په مقابل کی ما ته پناه نشو راکولې، یعنې ما به د ډېر وېری څخه د ذوالقرنین کاکا کور ته پناه وړل چې ګوندی هغه به مې د بابا څخه بچ کړی؟ خو بابا به هملته راتلو او زه به یې د هغه مخکې وهلم ... یعنې اصلاً ورته مهم نه وه چې ذوالقرنین کاکا هلته دی یا نه ... هې ما چې څومره وهل د بابا څخه خوړلې فکر نکوم په تاریخ کیدی کوم بل چا خپل د پلار څخه دومره وهل خوړلې وی؟ او عجیب لا دا چې زه بیحد عاجز وم؟! باور پخدای زه ماشومتوب کی دومره معصوم وم چې حد یی نه درلود یوازیني خلاف کار می کرکټ کول وه بس .. چې هغه هم ...

بابا- مسافری څنګه وه؟
د بابا په غږ خپل د فکرونو څخه راووتلم.
- ها؟
بابا-وایم د مسافری ژوند څنګه وو؟ سخت وو؟

د بابا په دی خبره پوسخند مې پرشونډو راغلو او هرڅومره چې کوښښ می وکړو چې ځان کنټرول کړم خو ونه توانیدم او اخر مې د زبیر خبره خپل نیش وواهه او ومې ویل: زه عادت یم د مسافری او یوازی اوسېدلو سره،دومره سخته نه وه اخر ټول عمر مې همدی حال کې تېر کړې ..

زما په دی خبره چې مخامخ اشاره مې د بابا د هغه ظلمونو خواته وه کوم چې زه یې مجبور کړم له کلې څخه د پوهنتون ویلو په بهانه راوتښتم او کلونه د ذوالفقار په کور د مسافرانو پشان ژوند تیر کړم او تل راته ځان یوازی او بې کس ښکاریده .. هغه وختونو زما د ژوند بدترینه وختونه وه بابا د څو شیبو لپاره په چوپتیا کې راوکتل د هغه وروسته یې وویل: ځینو کسانو باندی خدای دا حال راوړی وی او هغوي محکوم

دی په یوازی توب ..خو ځینې کسان بیا د مستي خیټي ځانونه مسافر کوی لکه تا ... البته ملامت نه یې دا ځینې خاصیتونه او عادتونه دی د ماما خواته تللي ...

هغه همداسې کم حوصله او بیحد احساساتي دی، کنه ما خو نه یادیږی چې ما دی ته له کور شړلې اوسیږی؟ یا مې په زور مجبور کړی اوسیږی چی له کلې لاړ شې، ته پخپل زړه په زر بهانو له کور لاړی او همدا چې ښار ته دی پښه راورسیدل نو نه دی پلار پیژنده او نه هم مور او اوس هم نه شرمیږی چې د ښځو پشان ګیلې هم ته کوی؟

د بابا دی خبرو ته مې خوله خلاصه پاتي شوه، ده څه وویل؟ د ماما خاصیتونه؟ د خبرو څخه یې واضح ښکاریدل چې اشاره یې بشیر ماما ته نه وه؟! نو مطلب استاذ یادوی؟ عجب یعنې بابا هم خبر دی چې زه خبر شوی یم د هغه کیسي څخه؟ ما تر اوسه فکر کاوه یوازی ذوالفقار د دی موضوع څخه خبر دی او هغه هم د زبیر له برکت، خو نه لکه چې بابا هم خبر دی که بابا خبر دی نو ډیر امکان یې شته چی استاذ هم خبر اوسیږی؟

خپل ځواب مې پخپل ورکړو، خود خبر دی دا چې نن ټول کورنۍ راغلې خو استاذ نه وو راغلې مطلب د کیسي څخه خبر دی او زما سره د مخامخ کیدلو زړه نلرې .. د بابا دومره بیغم اوسیدلو ته مې غوسه راغلل یعنې ده خپل ټول ګناه زما پر غاړه راواچول او اوس کرار ناست دې او وایی ته پخپل ملامت یی ځکه احساساتي وی؟؟؟

په دی فکر په غوسه مې وویل: یعني ملامت اوس زه یم؟ یعني کلونه ما خپل د مړې معشوقي په غم کې خپل زوی ملامت حساب کاوه او د رنګ مې لا ورڅخه بد راتلل؟

زما په دی خبره بابا یو دم خپل ځای کې نیغ کښیناست او په یو غوسه ناک لهجه چې زه یې د ویری څخه قبض روح کړم ویې ویل: د خولې سره دی پام کوه، کوم څوک چې ته یادوي هغه اصل کې ستا مور ده نو په انسانیت یی نوم واخله.

عجب! باور مې نه کیدو یعنی پر بابا باندی هغه دومره ګرانه وه چې د کلونو وروسته اوس لا نغوارې د هغې نوم دې زه بې اودس واخلم؟

په پوسخند مې وویل: یوازی اولاد راوړلو باندی خلک پلار او مور نه کیږی هغه اولاد مسئولیت غوارې،ساتنه غوارې د حیواناتو او انسانانو فرق په همدی کیدی،شاید ژنیتکي توګه زه هغې دی نرۍ ته راوړی اوسیږم خو زما مور هغه نه ده .. هغه زما لپاره یوازی او یوازی ستا دویم ښځه ده البته میره ورته ویلې شم خو مور ...
هېڅکله هم نه ...

په تمه وم چې بابا غوسه شې جنګ وکړی،کنځل وکړی خو هغه یوازی خپل سترګې پټې او خلاصي کړل د هغه وروسته یې وویل: چا درته وویل؟
په ګنګس انداز مې وروکتل د خبری په مطلب یې پوه نشوم چې هغه بیا وویل: چا درته دا خبری کړی؟ ګمان نکوم چې خسر دی دا خبری درته کړې وی ځکه هغه دومره هم بیعقل نه دی، البته که کولای نو همغه لومړۍ کلونو کې درته ویل چی هغه دی ماما دی .. نو که هغه نه دی درته کړې چا ته د دی کیسو څخه خبر کړی یې؟

په پوسخند مې وویل: څه فرق کوی چې چا راته ویلې؟ مهم دا ده چې رښتیا یې ویلې او زه خبر شوم او پوه شوم چې دا ټول عمر ولې ستا د سترګو اغزی وم؟ او ولی دی تل زما څخه کرکه کیدل ..

بابا په حیرت وویل: کرکه؟ چا ویلې چې ما ستا څخه بد راځې؟

بابا چې ځان داسې ناګاره اچو ما ته یې سخت زور راکوو په پوسخند مې وویل: څه چی د رڼا ورځ پشان ښکاره وی ضرورت د چا بیان کولو ته نه وی ... نه یوازی زه ... بلکي ټول خپل او خپلوان پوهیږی چی تا زما د رنګ څخه لا بد راځې .. زه هم پوهیدم خو دلیل باندی نه پوهیدم البته ... (د بابا خواته مې وکتل او خپل اخری ټک می ښه زدني وکړو او ومې ویل: البته کله ناکله مې ګمان کاوه چی شاید ادی ستا څخه مخکې د کوم بل چا سره واده کړی وی؟! او زه یې د همغه خاوند زوی

اوسیږم؟! نو ځکه تا دومره راڅخه کرکه کیږي خو دی خبری ته می فکر نه وو شوی ...

بابا څو شیبې د حیرت څخه په خلاص سترګو راوکتل خو بیر ژر یې تندی تروش کړو او په غوسه یی وویل: ومې ویل کنه ملامت نه یی دا خاصیت دی د هغه بې مصرف، جاهل ماما خواته تللې هغومره بیعقل او هغومره ماشوم ...

نور مې د خبرو حوصله نه درلود یو خوا می سر درد کاوه له بلخوا بابا ځان داسی نیولی وو ته وا ټول غلطې زما ده او دی پاک پاکیزه دی؟؟ خدایي مې د داسی کسانو څخه بد راتلل کوم چې خپل ملامتیا او ګناه نه منې او تل کوښښ کوی د نورو په ملامت کولو ځان ښه او سم ثابت کړې، سر مې کیخود او سترګي مې پټي کړل چی د بابا غوسه ناک آواز مې تر غوږ شو.

بابا- کله چی درسره خبری کوم نو ځواب راکړه د خر پشان سترګي مه پټوه ...

د هغه په دی خبره سترګي مې خلاصې کړل او ورو مې کتل ما نه غوښتل د هغه سره خبری وکړم بلخصوص اوس چې هم مې سر درد کاوه او هم د خبرو حوصله مې نه درلود خو دا چې بابا ځان داسي بیګناه نیولې وو او ټول ملامتیا یې زما په غاړه راچول دا کار یې سخت زور راکو او زړه مې ویل طاها نن دی د خولی کشک خلاص کړه او ښه سم د دی څو کلونو د زړه براس دی ورباندی وباسه .. بلا دی تور وریسی شې چی اخر کی وهل خوری یا که کنځل .. خو نن خپل زړه ورباندی یخ کړه، په دی فکر لږ خپل ځای کې کښیناستم او بغیر له دی چې خپل د سیني درد ته کوم توجه وکړم ومې ویل:

- یعنې ستاسو په نظر ټول ملامت زه یم او تاسو هیڅ غلطي نه ده کړی؟
بابا بغیر له څه ویلو په تروش تندی راوکتل چې ما په پوسخند وویل: یعني زه بغیر د هیڅ کوم خاص دلیل څخه د کلې څخه راغلم؟
بابا بیا هم کوم څه ونه ویل چې ما وویل: په یاد مو دي په لسم ټولګي کې زه په

چهارنیمه امتحان کې په یو مضمون کې ناکام شوی وم؟ او هغه هم ځکه چې په راسته لاس لړم چیچلې وم او لیکنه مې نشو کولای استاذ هم بغیر د کوم توجه ناکام کړم، کله چې تاسو خبر شوی نو تر مرګ مو ووهلم داسې چې د ولاړیدو لا نه وم بیا همغه کال د همغه ټولګي په سالانه امتحان کې زه دریم نمره شوم! خو تاسو یو تش آفرین لا رانکړو؟!

بابا بغیر د څه ویلو په همغه تروش تندی راکتل چې ما په پوسخند وویل: دا خبره مې ځکه وکړل ځکه تاسو تل همداسی یاست ... تاسو زما د زری اندازه غلطي څخه غر جوړوی او ما ورباندی تر مرګ وهې او ملامت کوی مې ... خو هېڅکله زما ښه تاسو ته نه معلومیږی تاسو دا ولیدل چې زه د کلي ولاړم یا ستاسو خبره وتښتیدم خو دا مو و نه کتل چې ولی لاړم؟ ولې وتښتیدم؟ تاسو هغه کور پر ما جهنم کړی وو فکر مې کاوه هغه یو ګوله ډوډۍ چې راکوی هغه پر تاسو بار ده نو راغلم تر څو پر تاسو بار ونه اوسیږم راغلم تر څو نور مو د سترګو اغزی ونه اوسیږم ...

او اوس ... اوس هم کوم ګیله نلرم نه هم کوم شکایت لرم دا خبری مې هم زیاتر خپل په ګمان د یو احساساتي انسان په توګه وآوری نه کوم شکایت او ګیله ... ما د همغه اتلس کلنې څخه ځانته ویلې چې طاها ته پلار نلرې (په دی خبره مې د بابا د غوسي څخه د غاښونو چیچلو غږ مې واوریدل خو چوپ نشوم او ومې ویل: زه چې د مرګ حال ته هم ورسیږم بیا هم تاسو ته د زنګ وهلو او مرستي غوښتلو امید نلرم او دا کار تاسو زما سره کړی اوس کاش یوازی خبره ستاسو وایې ... ستاسو زما څخه مخ ګرځول او کرکه کول ټول خپل او خپلوانو ته دا اجازه ورکړی ترڅو زما پسې هر ډول چې زړه یې غواړی خبری وکړی ..

لومړۍ کې نه پوهیدم چې ولی دوی داسې چلند زما سره کوی خو اوس پوهیږم اوس درک کوم یې اوس راته د ورځ پشان روښانه ده چې ذوالقرنین کاکا ولې څو کال مخکې وویل طاهر ته فرشته ورکوم خو طاها ته نه ...

د بابا تروش تندی ته مې وکتل او په ترخه مسکا مې وویل: ځکه زه د هغوی په نظر ستاسو زوی نه یم( په دی خبره مې بابا خوله خلاصه کړه چې کوم څه ووایی خو ما اجازه ورنکړل او ومې ویل: البته زه په دی خبره شکر ادا کوم چې هغوی ما ته "نه" وویل خو دا چې په دی دلیل یې "نه" وویل دا راته زور راکوی نه پوهیدل ... هم کله ناکله بېر ښه وی اوس چې د څو کلونو مخکې خپل د خپلوانو کارونو ته فکر کوم نو ځان راته بیحد حقیر ښکاری دا چې د بشیر ماما کور ته زه او طاهر تلو او هغوی به تل زما او د هغه سره د مور او میری رفتار کاوه او زه څومره ساده وم چې فکر مې کاوه ګناه به شاید زما وی چې دوی داسې راسره کوی؟!

پوسخند مې وواهه او د بابا سترګو ته چې په عجیب ډول یې زما خواته راکتل ومې ویل: دا اوس چې دومره کسان دلته راغلې یو هم زما د لیدلو لپاره نه وه راغلې چې مثلاً ما ته ورخطا وه او زما د حال پوښتنه یې وکړل نه .. هغوی راغلې وه چې یو خبره پیدا کړی او سبا ورځ په همغه خبری باندی پر ما طعنه او ریشخند ووهې او د دی ټولو اصلې سبب تاسو یاست .. نو ځکه زړه مې هېڅکله درسره نه صاف کیږی خو اوس راته نور مهم نه ده زه غوارم یو نوی ژوند پیل کړم ستاسو ټولو څخه لری ...

په دی خبره مې بابا په تلوار وویل: بیا غواړی چیرته لاړ شې؟ غواړی بیا خپل د ښځې او ماشوم لاس ونیسي او په یوه شپه غیب شې؟

- زړه خو مې ډېر غواړی چې داسې کار وکړم خو نه، د ذوالفقار پخاطر دا ځل داسې نه ځم خو خپل ټول کوښښ کوم ستاسو او ستاسو د قوم او قبیلي سره تر اخری حد قطع رابطه وکړم (په دی خبره مې بابا په تروش تندی راوکتل چې ما وویل: نغوارم کوم توهین او سپکاوی چې ما کلونه تجربه کړو زما زوی یې تجربه کړی، تاسو ته شاید زه مهم نه وم خو ما ته زما زوی مهم دی، زه غوارم هغه په یو امن او سالم فضا کې غټ شې، خو دا امن او سالم فضا ستاسو د قوم د سایی لاندی نه کیږی ...

د دی خبرو وروسته د څو شیبو لپاره چوپ شوم ترڅو بابا کوم څه ووایې خو هغه بغیر د څه ویلو په تروش تندی لاندی غالۍ ته دوه سترګي نیولې وه او لګیا وو د غالې د سره یې کوچني شیان راټولو، د بابا دا خاصیت ما ته هم راغلی وو زه چې هم تل په ډیر ژور فکر کې تللی وایې نو دا کار مې کاوه خپل د شاوخوا د غالۍ له سر مې میده،میده شیان راټولو ...

بابا چې مې داسی په فکر کې ډوب ولید نو ځای کی څملیدم، ما خپل ټول کوښښ وکړو چې بیحد احساساتي خبری ونکړم او لکه چی کامیاب شوم؟! ما زیاتر منطقي خبری وکړل او دا هم د ماموریت له برکته وو ماموریت کې ما زده کړل چې خپل احساسات څنګه کنټرول کړم، که نن پخواني طاها وایې نو اوس مې دری ساعت اخوا دیخوا خبری او کیسي کول او اخری کې مې خپل د خبری مطلب هم سم نشو رسولای او هسی د بابا سره می جنګ کاوه

خو اوس ما خپل د خبری مفهوم ورسو او په دی کار سخت خوشحال وم بلاخره ما بابا پوه کړو چې هغه څه غلطي کړې وه؟! د بابا په آواز له فکرونو راووتلم، همغه څملیدلې حال کې مې وروکتل چې بابا ژوره ساه واخیسته او ویې ویل: یاد مې دی ... غرمه وه دوکان کې وم چې طاهر راغلو په هغه ورځ ستاسو د سالانه امتحاناتو نتیجه راتلل ما ورځخه ستا پوښتنه وکړل او هغه په خوشحالۍ وویل طاها دریم نمره شوی ...

بابا په زیر نظر راوکتل بیایې کرار وخندل او ویې ویل: کله چې ویې ویل دریم نمره شوی یې نو ځان سره می وویل لکه چې وهلو دی کار وکړو وګوره هلک تکړه شو اوس دریم نمره شوی؟! نو هغه شپه ستا د کامیابي په خوشحالۍ کې مې کور ته امروت راوړل څکه تا بیحد خوښیدل .. خو ( بابا په زیر نظر راوکتل او ویې ویل: خو څنګه چې زه نه وم خبر چې ته لړم چیچلي وی او د هغه له لاسه امتحان دی سم نه دی ورکړی او ناکام شوی یې،همغسې ته هم خبر نشوی چې هغه امروت او په سهار یی سلګون کوم چې مور دی درکړو هغه ستا د دری نمره توب شیرنې وه ...

د بابا په دې خبره حیران شوم؟! باور مې نه کیدو بابا ... نه امکان نلرې ... خو دا خبره یې رښتیا وه، یاد مې دې د رښتیا هم هغه شپه بابا امروت راوړې وه، او د هغه ورځ په سهار ادې ماته سلګون هم راکړو وو او ویل وه چې دا دې پلار درکړې .. خو ویې نه ویل چې ستا د دریم نمره توب په شیرنې کې ...

بابا- زه منم چې ما پر تا سختي کړې خو هغه هم دلیل درلود، ته د طاهر په پرتله ډېر ساده او بیحد احساساتي وې او اوس هم یې، نو ځکه ما د طاهر په پرتله پر تا ډیر سختې کول ترڅو کوم څوک دې غلطي لارې ته ونباسي خو اوس چې فکر کوم نو ما غلط طریقه خپل کړې وه ... ما باید د سختي لځایه د نرمۍ څخه کار اخیستي وایې باید د وهلو لځایه د خبرو له لارې مې پوه کړې وایې خو انسان واجب الخطا دې ..

دلته زه غلط شوم خو دا چې ته فکر کوې ما ستا څخه کرکه کیږې ... نو دا فکر دې غلط دې بیحد هم غلط دې .. او هو دا فکر دې هم غلط دې چې ګمان کوې ذوالقرنین په دې خاطر تاته فرشته درنکړل چې هغه ته زما د زوې په صفت نه مني ... ته زما زوې یې او دا هغه نسبت دې چې هېڅوک یې نشې بدلولې هېڅوک ... بشیر او د هغه د کورنۍ په اړه کوم څه نه وایم شاید د جاهلیت هغوي ستا سره ښه رفتار نه وې کړې خو بیا هم دا معنا نلرې چې ته دې تر دې حد ورباندې حساس شې او کینه په زړه کې ورڅخه ونیسي ..

او پاتي شول زما کارونه نو زما کارونه ته په کرکي مه تعبیر کوه ستا مور ...

بابا ژوره ساه واخیسته لکه چې د دې موضوع په اړه خبرې کول ورته ګران وه؟
بابا- که یاد دې وې نو زه ستا د واده کولو سره مخالف وم؟ پوهیږې ولې؟

د نه په انداز مې سر وخوځاوه چې بابا وویل: ضیالحق .. هغه ښه سړې دې خو ځینې کارونه یې زما هېڅ نه خوښیږې، او د هغه د کارونو څخه لا بتر دا چې ما نغوښتل زما کار پر تا وشي.

په ګنګس انداز مې وروکتل نه پوهیدم د بابا مطلب د دی خبری څخه څه دی چې نه مې غوښتل زما کار پر تا وشې؟ کوم کار پر هغه شوی وو چې هغه نه غوښتل پر ما وشې؟

بابا- ستا د ماما کورنۍ ته ارثً دا خاصیت رسیدلې چې د هغوی نسل ډیر ادامه نلری؟! شاید درته عجیب وی خو وګوره ستا ماما یوازی دی، مطلب یوازی یوه خور یې درلود نور نه کوم ورور او خور نلری حتا کاکا یا عمه لا نلری، همداسې د دوي ټول نسل دی د یو دوه څخه ډیر اولادونه او بچیان یې نه پاتي کیږی خپل ماما ته مګوره چې څلور پنځه لورګاني لری د هغوی ژوند ته وګوره د هغه یوه لور لا دریم ماشوم نلری ډیر،ډیر اولاد راوړی دوه داني ..

له بلخوا دوی ذاتً د ګوردی مرض لری دا یوازی ستا د ښځې ستونزه نه ده د ضیالحق ټول لورګاني او حتا ستا مور ... هغې هم د ګوردي تکلیف درلود لومړی کلونو کې زه نه پوهیدم چې څه ستونزه لرې چې ورځ تر بلې طبعیت یې خرابیږی؟ تل به مریضه وه تر دی چې یوه ورځ خبر شوم د ګوردی ستونزه لری هغه هم څه خبریدل وه! کله چې خبر شوم نو کار تر کار تیر وو یوه ګورده یې کامل خرابه شوی وه هغه هم داسې حال کې چې ته د یې د څلور میاشتو په نس وی.

بابا ژوره ساه واخیسته او څو شیبې چوپ شو .. زه هک حیران د هغه خولې ته زیر وم باور مې نه کیدو کوم خبری چی مې اوریدلی وه هغه مې نشو هضم کولای ...

بابا- ډاکتر ویل ماشوم راوړل امکان نلری، ویل یې یوه ګورده یې کامل خرابه او دویم یې بیحد کمزوری ده ویل ماشوم ضایع کړی خو ... خو زما زړه ونشو ... ته جوړ ماشوم وی زړه دی درزا درلود حرکت دی کاوه، ژوندی موجود وی ما د مولوی څخه مشوره وغوښتل هغه ویل دا قتل په حساب راځې .. ځکه ماشوم جوړ دی او د مور د مرګ خطر هم سل سلنه نه دی ډیر خلک په یو ګوردی ژوند کولای شې ..

مولا راته وویل دا ماشوم نرۍ ته راوړې د هغه وروسته خپل د ښځې سم صحیح علاج وکړه او بل ماشوم تر هغه وخت مه راوړې ترڅو چې ښځه دی سم صحیح ښه شوی نه وی، ما هم دا خبره ومنل خو د پیدایښت وخت کې ستا مور مړه شول، ضیالحق په دی خبره تراوسه زما سره کینه په زړه کې لری، هغه ویل ماشوم ضایع کړې او زما د خور علاج وکړه ..

باور مې نه راتلو فکر مې کاوه کوم خبری چې مې اوریدلې ټول هسې خوب او خیال دی؟! یا هم حتماً خوب وینم؟ خو د بابا جدی څهری ډاډمن کولم چی کوم خوب نه وینم او دا ټول رښتیا دی ...

بابا- بس نو د قسمت خبری وه البته تازه د ذوالفقار د خولې خبر شوم چي چندان پوره د قسمت خبره هم نه وه او زما د مور تعویذاتو هم پکې لاس درلود .. خو مرګ او ژوند د خدای لاس کیدی دا ټول یو بهانه د هغې د مرګ وه خدای هغې ته همدومره عمر لیکلې وو، د هغې په مرګ هر چا یو خبره وکړل یو ویل د ماشوم له لاسه مړه شول،بل ویل د ګوردی له لاسه او بل بیا وایې د ادی د تعویذاتو له لاسه، خو ... زه ... زه بیا ځان د ټولو څخه ډېر ملامت احساس کوم ..

بابا په دروند نظر راوکتل او ویې ویل: زه په دی پښیمانه نه یم چې ته مې وساتلې، خو خپل وجدان ته کله ناکله شرمنده یم او فکر کوم ما هغه ووژل؟! کله چې تاته ګورم نو هغه یاد ته راځې ستا څهره،خبری حتا ځینې اخلاق دی لا خپل مور ته تللې نو ځکه د ډېر کتلو توان درته نلرم ... زما مخ ګرځول ستا څخه د کرکې نه دی ... زه خپل ځانته شرمنده یم ستا په هر ځل لیدو هغه یاد ته راځې او فکر کوم ما ظلم کړی ...

نو هیڅکله دا فکر مکوه چې زه ستا څخه کرکه لرم نه ... هیڅکله هم نه ایا یو پلار خپل د اولاد څخه کوم چې د ده د وینې او غوښې څخه جوړ دی کرکه کولای شې؟ هغه هم داسې اولاد چې د مینې اخری نښه یې وی؟

بابا دا خبره وکړل او له کوټې ووت، خو د هغه یوه،یوه خبره زما ذهن کې ګرځیدل او د ټولو څخه زیات اخری خبره یی " هغه هم داسې اولاد چی ستا د میني اخری نښه وی؟" زه د بابا د میني پاتي اخری نښه وم؟ اوس پوهیدم چې زما په لیدو د بابا تندی ولې تل تروش کیږی؟ اوس پوهیدم چې بابا ولې زما او د اقرا د واده سره مخالف وو؟ هغه دی خبرو ته فکر کړی وو او غوښتل یې خپل په ګمان ما د راروان مصیبت څخه وساتي؟هغه غوښتل پر ما هغه کار ونشي کوم چې پر ده شوی وو ... همغه کار چې زما د غوړ د بیخ څخه تېر شوو؟!

که هغه ماشوم کوم چې اقرا ضایع کړو که هغه د یو میاشتي نه وایې او د څلور،پنځه میاشتو وایې او زړه یې درلود او ژوندی ماشوم وایې نه یو ټوټه غوښه نو ما به څه کول؟ که هغه پخپل نه وایې ضایع شوی ایا ما کولای شو ډاکټر ته ووایم چې لری کړی؟ که د یوی میاشتي وایې پریکړه اسانه وه ځکه ماشوم جوړ نه وو؟! هغه یوازی یو ټوټه غوښه وه، خو که جوړ ماشوم وایي بیا؟ ... شاید هغه وخت ما هم د بابا پشان پریکړه کړی وایې؟!

په دی فکر سر کې مې بنګهاری شو خدایه شکر دی ... شکر دی چې زه دی د دومره لوی مصیبت څخه چې ما یې فکر لا نه وو کړی وساتلم، د بابا د خبرو اوریدلو وروسته فکر مې کاوه یو لوی خیرات باید وکړم چې اقرا پخپل هغه ماشوم ضایع کړو او خبره تر څو میاشتو او نور شیانو ونه رسیدل کنه شک مې نه درلود چې د بابا کار ما تکرار کاوه .. او ... او هغه وخت ضرور د هغه ماشوم څخه ما یو دویم طاها جوړو؟!

***

دوه هفتي کیدل چې د ذوالفقار په کور کې مې لنګر اچولې وو، که څه هم بابا ډېر تینګار وکړو چې د هغه کور ته لاړشم خو ما ونه منل، د هغه خبرو وروسته چې دوارو یو بل ته وکړل د بابا څخه مې تر ډېره حده هغه پخوانې کینه او زړه نیول ختم شوی وه خو بیا هم دومره نه چې د هغه کور ته لاړشم، د بابا د کور څخه د

ذوالفقار کور کې لږ راحت وم، یوازې لـــږ که ذوالفقار اجازه راکړې وایې نو د هغه د کور څخه هم تښتیدلم، ذوالفقار بیچاره خپل ټول کوښښ کاوه چې زه د هغه کور کې راحت احساس وکړم خو ما ته ځان بیحد بد ښکاریده ...

ذوالفقار د دې لپاره چې زه مثلاً یعذاب نشم او د نفس تنګۍ احساس ونکړم میلمه خانه کې کوم چې لاره یې بیخی د کور څخه جلا وه او د حویلی دی بلخوا وه هلته خپل د ښځې سره ویده کیده او دا ټول کور یې تقریباً ماته راخوشې کړې وو ترڅو راحت اوسیږم،خو بیا هم ما ښه احساس نه درلود او زړه مې غوښتل ژر تر ژره خپل کور ته لاړ شم، دا دوه هفتي پر ما سم د دوه قرنو پشان تېر شول ..

لومړی او د ټولو څخه مهم دلیل یې دا وو چې د عزیزی، الفا، بوډا او جنرال دوی څخه بیخبر وم، البته د بوډا پسي مې زنګ وواهه د هغه نمبر مې د حفظ څخه زده کړی وه خپل پر هغه زوړکې موبایل کوم چې بوډا د کالو بکس کې راستولې وو ورپسې مې زنګ وواهه لومړی کې یې ځواب رانکړو خو کله چې ورته مسج مې واستو او ومې ویل چې زه یم طاها! نو ځواب یې راکړو خو بیحد رسمي او یخ؟ د یخ څخه مې مطلب داسې ځواب لکه یو بیګانه کس سره چې خبری کوی او بیخي نه پیژني؟ او دا لهجه یې هغه وخت بیحد رسمي او تقریبا بی ادبانه شول کله چې ورڅخه د عزیزی او الفا پوښتنه می وکړل؟!

لومړی مې ګمان وکړو چې شاید نغواړې د موبایل تر شا د دی موضوع په اړه خبری وکړي؟ نو ځکه ورته ومې ویل بل هفتي ته به د حوزې خواته درشم او هلته به د دی موضوع په اړه خبری وکړو؟ زما په دی خبره بوډا لاپسي اور واخیست او دا ځل تقریبا په غوسه یې وویل: زما په خبره دی سر خلاصیږی او کنه؟ وایم ته نور دی ماموریت کې نه یې نو بهتره به همدا وی چې نور د دی موضوع څخه لرې اوسیږی او دا موضوع لیاده وباسې،که ډیر کنجکاو یی دهغوي په اړه نو واوره الفا او عزیزی دواړه ژوندی او زندان کیدی ...

د هغه په دی ډول لهجه بیحد بد احساس مې پیدا کړو هغه داسې زما سره رفتار وکړو لکه نور ما ته محتاج نه دی نو ارزښت هم نه راکوی؟! دا کار یې بیحد پر ما بد ولګیده ما غوښتل ورته د عزیزی اخری خبری وکړم او د هغه طلاو په اړه وواېم زما په نظر هغه طلا د حکومت او دولت حق وو خو د بوډا په دی ډول رفتار خبره مې خوله کې پاتي شول هغه د زنګ قطع کولو مخکی بار،بار یوه خبره تکرار کول" طاها ستا نوم نور د دی ماموریت څخه خط وهل شوی نو نور ونه وینم چې دیخوا راشې بیخی د جنرال د لیدلو لپاره هم حوزی خواته د غلطې څخه رانشی موږ خبر یو چې ته ښه یی بس خدای دی تل ښه لره نور مونږ ته مزاحمت مکوه"

دا یې وویل او په بیحد حیرت کې زنګ قطع او سم دلاسه یې زه بلاک کړم؟! یعنې باور مې نه کیدو دومره ژر یې رنګ بدل کړو؟ تر پرون یې طاها جان،طاهاجان له خولی نه ولید، خو اوس چی کار یې وشو او ضرورت یې خلاص شو سم په لغته یې وشړلم؟! دومره دا کار یې زور راکړی وو چې زړه مې غوښتل هغه طلا یوازی ځان راوباسم او هیچا ته یې په اړه خبر ورنکړم، خو نه کیدل هغه کم طلا نه وه .. دومره ډیر وه چی ما یوازی ځان نشو راویستلې که بل فرض راویستلې مې هم وایې چیرته  یا پر چا مې خرڅول؟

ما ته هېڅوک نه وو معلوم ما ګمان کاوه چې د هغه طلاو د ځای په اړه به بوډا یا جنرال دویته خبر ورکړم او هغوی به هم د قدرداني په پار ما ته یوه حصه د طلاو راکړی؟ خو د بوډا خبرو ګنګس کړم دا دوه هفتي یوازینې فکر مې د همدی طلا خواته وو چې څنګه یی راوباسم؟ او ایا دولت ته خبر ورکړم او کنه؟ البته کله ناکله فکر مې د عزیزی خواته هم تلو خو ډیر ژر د دی خبری په یاد راوړلو چی بوډا وویل دواړه ژوندی دی خپل زړه ته مې تسلی ورکول،هغه یو مجرم او خلافکار دی، هغه د مافیا کس دی تر اوسه چی ژوندی دی یعنې د شکر ځای لری د دی وروسته چې هر کار ورسره کیږی هغه په ما نه دی مربوط ..

د دی دوه هفتو یو بل مصیبت د شموئیل نه لیدل او د هغه ښځه بتر دا چی دا دوه هفتو کې ما یو سم د زړه د خلاص خوب ونه کړو، یعنې همدا چی سترګې به مې وترلې نو بد خوب به می لیده هغه هم کوم عادی او نرمال بد خوب نه .. داسې خوب مې لیدلو ته وا ریښتیا دی؟ سم د زبیر خبره HD خوب مې لیده او ټول هم اخر کې داسی خلاصیدل چی زه یی تر مرګ ورېلم لومړۍ شپه کی مې خپل د څو کالو مخکې پخواني خوب ولید داسې چی د راویښ کیدو درې ساعت وروسته مې لا ژړل .. ذوالفقار مې خوب کی ولید همدغه کور همدغه حمام او ذوالفقار پکې په وینو لړلی پروت وو .. دا خوب ما څو کاله مخکې لیدلی وو کوم چی شموئیل راویښ کړم او راته ویې ویل چی خوب دې لیده او پیریانو پعذابولې همغه خوب مې په اول شپه چې د ذوالفقار کور کې ویده شوم ومې لید ...

او داسې په هغه خوب کې وېرېدلې وم چې اقرا راویښ کړم او ما هم د راویښ کیدلو سره سم داسې چغه وهلې وه چی بیچاره ذوالفقار د میلمه خاني ښځه په نیمه شپه په منډه ځان تر ما راورسو او زه درې ساعت لکه لیونیانو پشان هغه ته په کتو وم او له وېرې لړزیدم بیحد خراب خوب وو په دویمه شپه بیا همغه خوب مې ولید خو په یو څه توپیر .. په دریم شپه د هغه ښځه لا جالب خوب مې ولید دا ځل هغه ځای کې وم کوم ځای کې چې عزیزی مرمۍ خوړلی وه او ما راکش کاوه ..

خو فرق یې دا وو چې دا ځل مرمۍ خوړلې کس عزیزی نه وو؟ بلکې ذوالفقار وو .. نور ټول پیښې همغسې وه الفا راځې او وهل او خبری خو یوازی فرق یی دا وو چې د عزیزی لځایه ذوالفقار راسره وی ..دوه هفتي په پرلپسی توګه په عجیب انداز خو په یو ټاکلې پای مې دا خوبونه ولیدل د ټولو خوبونو پای یو بول وو ذوالفقار پکې مړ کیږی او زه ورباندی ژاړم ... دا کار زه تر جنون ورېلم هر ځل به چی له خوب راپاسیدم نو د وېرې ښځه لړزیدم نه پوهیدم چی څه روان دی؟ او ولی زه بار،بار یو بول خوب وینم؟

هغه هم داسې یو وحشتناک خوب؟ او ولې زما په هر خوب کی ذوالفقار دی؟ او ولې مړ کیږی؟ دا کار سم رواني مرضتیا راچولې وه داسې چې د وېرې څخه مې یو دقه لا سترګي نشو ترلې زړه کې مې زر رقم خیراتونه او نظرونه منلې وه چې خدای دی شموئیل یو ځل راسره مخ کړی، پوهیدم چې دا خوبونه کوم عادی خوبونه نه دی او ضرور دی شاته بیا د پیریانو لاس دی، خو دا چې ولې ذوالفقار رانیولې دا راته عجیب وه ...

***

نن دریم هفته وه چې د ذوالفقار کور کې وم او نن د نور ورځو په پر تله طبعیت مې ډیر ښه وو د اوږې د زخم کوک مې نن سهار لری کړی وو او د هغه د لری کولو سره سم مې یو زدنې حمام کړی وو د حمام وروسته فکر مې کاوه بدن مې سپک اوراحت شوی، د هینداری مخ کې ولاړ وو او خپل ځانته مې کتل دا درې هفتو ورزش نه کولو لړ باډی راخراب کړی وه خو دومره نه، عزیزی شاید خپل په ژوند کې ډېر بد کارونه کړی وی خو ما ته چې په هغه څو میاشتو کې ورسره وم تل خیر یې رارسیدلې وو .. لنډ نمونه یې هم همدا زما ورزش ته راوړل وه

په دی کار یې زه ورڅخه د زړه له تل مننډوی وم او دروغ څه ووایم بیحد مې زړه غوښتل که نور نه ویې د یو ځل لپاره هم که کیږی د نږدې وګورم! خو پوهیدم چې امکان نلری د بوډا د خبرو مخکې شاید یو امید مې درلود خو اوس پوهیدم چې ناممکن کار دی د هغه لیدنه ...

ذوالفقار- په کوم فکرونو کې غرق یې؟

- ها؟

ذوالفقار داسې حال کې چې د دهلیز په نالې کښیناست ویې ویل: درې ساعت کیږی هینداره کې ځانته ګوری د څه په اړه دی فکر کاوه؟

- ها ... هغه یادوی .. هغه ..هیڅ.. هسې فکر مې کاوه څنې راسره خوند کوی نو خپل ویښتیان به پریږدم وګوره اوس هم ویښتیان مې ډیر شوی ..

زما په دی خبره ذوالفقار یو نیم نظر راوچو او ویې ویل: هوم، خو زه فکر کوم سم معتاد معلومیږی ویښتیان چې دی ډیر شئ مخ دی دومره کک ورسره ښکاری داسې لکه چې ناروغ یې؟!

- رښتیا؟ یعنی ستا په نظر بد راسره ښکاری؟

ذوالقفار- اهوم.

- نو سمده نه یې پریږدم ماذدیګر ځم سلماني ته او کموم یې.

ذوالفقار- عجیب ده!

داسې حال کې چې د ذوالفقار مخامخ نالې باندی کښسناستلم ومې ویل: څه عجیب ده؟

ذوالفقار- دا چې تا زما خبره ومنل.

پخندا مې وویل: زه تل ستا خبره منم.

ذوالفقار بد،بد راوکتل او ویې ویل: هو بیحد ډېر ...

د هغه په دی ډول ناراضه لهجه باندی مې خندا لاپسي زیاته شوه، چې زما د خندا په غږ اقرا او د ذوالفقار ښځه چې آشپزخانه کې موښتي وه زما په غږ سرونه یې دهلیز خواته راښکاره کړل چې څه خبره ده چې زه داسې خاندم؟

ذوالفقار- نن ښه ښکاری؟

- هو، نن فکر کوم بیحد ښه یم، دا حمام کولو لکه چې معجزه وکړل؟ فکر کوم بدن مې بیحد سپک او راحت دی.

ذوالفقار- اهوم، بیا هم لږ پام ساته د سیني هډوکي دی سم جوش نه دی خوړلې.

د ذوالفقار په دی خبره خپل په سینه مې لاس کیخود د رښتیا هم اوس هم لږ،لږ درد یې درلود یعنې د مرمۍ ټپ ښه شو خو د هغه پدرلعنت لغتي ښه نشول، اخ کاش چې وس مې رسیده او هغه کس مې راګیر کړې وایې که نور نه وایې خپل د هغه خوړلو لغتو بدل خو مې ورڅخه اخیستي وایې ...

- ذوالفقار!

زما په غږ ذوالفقار داسې حال کې چې سر يې ښکته وو او خپل موبايل کې لګيا وو يو چا ته يې مسج کاوه د شونډي لاندې کرار "هوم" کړل چې ما په هيجان ورڅخه وپوښتل: د طلاو قيمت بازار کې اوس څومره دی؟

زما په دی خبره ذوالفقار د مسج استولو حال کې نيم نظر د سترګو له کونج راوچو او بيا بيرته خپل په موبايل اخته شو او ويې ويل: ولې پوښتنه کوی؟ غواړی د طلاو کاروبار شروع کړی؟

په شيطانه خندا مې وويل: هو، شايد.
ذوالفقار دا ځل کامل راوکتل او ويې ويل: خيرت خو دی؟ نن يو څه بيحد خوشحال ښکارې، خوب کيدی کوم د طلاو کانې ليدلي که څنګه؟ چې اوس په ويښه ورته چرتونه وهې؟

د ذوالفقار په دی خبره بيا مې د زړه له تل وخندل او ومې ويل: همداسي فکر وکړه، اوس ووايه قيمت يې اوس وخت بازار کې څومره دی؟ او ايا کوم څوک پيژني چې د طلاو کاروبار وکړی؟

زما په دی خبره ذوالفقار خپل يوه وريځ پورته واچول موبايل يې هم جيب ته کړو او ويې ويل: د رښتيا غواړی د طلاو کاروبار پيل کړی؟
- کاروبار خو نه، يعنې يوازی غواړم په قيمت يې پوه شم.
ذوالفقار- په څه خاطر؟
- هغه زما يو ملګری دی هغه راته ويل د طلاو کاروبار ډېر فايده لری نو ما ويل پوښتنه وکړم چې څنګه چل دی؟

ذوالفقار- کوم ملګری دی؟
- ته يې نه پيژني.

ذوالفقار- نو بد يې کړې .. ضرورت نشته ته ماته د طلاو کاروبار شروع کړې يو دوه هفتې ارام وکړه د هغه وروسته راشه زما شرکت ته ..

- زه ستا شرکت کې څه وکړم؟
ذوالفقار- کار وکړه.
- کار؟خو زه او زبير خو دوکانـ ...

لا خبره مې نه وه پوره کړې چې ذوالفقار وويل: دوکان نشته، زبير هم دا څو مياشتې کيږې چې زما سره کار کوي.
د ذوالفقار په دې خبره سترګې مې له حيرت راووتل او ومې ويل: ولې؟ زبير ولې ستا سره کار کوي؟ دوکان څه شو؟
ذوالفقار په تروش تندی راوکتل او ويې ويل: تا چې کوم دوه لک افغانۍ د دوکان څخه اخيستې وه زبير هغه بيرته پوره نشو کړې او مجبور شو دوکان خرڅ کړې.

د ذوالفقار په دې خبره دا ځل رسماً سترګې مې له کاسې راووتل او ومې ويل: خو ما د هغه په بدل کې خپل د کور حواله کيخودلې وه؟! هغه کور که کم تر کم دوه نيم، درې لک افغانۍ ضرور خرڅيده ...؟

ذوالفقار لکه چې د راپيښ شوی بحث څخه غوسه شوی وو چې ويې ويل: زبير ويل هغه کور د طاها دی او زه يې نه خرڅوم، ما ورته وويل که کور نه خرڅوی نو زه درته دوه لک افغانۍ د طاها لځايه درکوم خو دوکان مه خرڅوه، خو هغه نه منل اخر کې دوکان خرڅ کړو(ذوالفقار نيم نظر زما خواته راوچو او په همغه تروش تندی وويل: ستا برخه پيسې د دوکان خرڅولو وروسته ما ته راکړل اوس هم زما سره دی.

باور مې نه کيدو زبير زما له لاسه مجبور شوی وو دوکان خرڅ کړې، زه څومره بيعقل يم بايد د دې خبرې فکر می کړې وايې زبير دومره غيرت او شرافت درلود چې زما کور خرڅ نکړې زبير د ملګرتيا په دې خبرو کې تر اخرې حد وفادار وو يو دليل چې زبير راباندې بيحد ګران وو همدا و، زما له لاسه پر هغه څه کارونه چې نه وو شوی

او لا هم خندل یې؟! یعنې که د ده له لاسه پر ما داسې کارونه شوی وایې ولاکه مې ورته کتلې لا وایې خندل او خبرې کول خو لری ... زما په خاموش کیدو ذوالفقار وویل: ته هم سر له بل هفتې شرکت ته راشه، د پخوا پشان ته، زه او زبیر درې واړه یو ځای یو شرکت کې کار کوو ..

د ذوالفقار خواته مې وکتل هغه دا خبره په بیحد خوشحالۍ وکړل، لکه چې د دوکان په خرڅ کولو هغه خوشحال وو؟
- زبیر څنګه ومنل چې ستا سره کار وکړی؟
ذوالفقار په ګواښونکۍ انداز وویل: د انسان پشان، لکه څنګه چې اوس ته یې د انسان پشان منی ...

ما نه غوښتل د ذوالفقار سره کار وکړم،اوس خو بیخی می زړه نه غوښت ما څه کم او زیات اتیا لک نغد افغانۍ په بانک کې درلود او څه کم او زیات د میلونو افغانیو په بیه مې طلا درلود؟ هو طلا هغه طلا اوس زما وه الفا او عزیزی خو زندان کې وه او خدای خبر که له هغه ځایه ژوندی راغلی وایې پولیسانو هم د طلا په اړه معلومات نه درلود البته که خبر شوی هم وایې چې د هغه معدن طلا د الفا څخه عزیزی غلا کړی وه بیا هم د هغه ځای نشو پیدا کولای!

ځکه زه سل په سل ډاډمن وم چې عزیزی پولیسانو ته د طلاو په اړه نه وایې، نو مطلب هغه طلا اوس یوازی او یوازی زما ده؟! نو د دی دومره پیسو باوجود زه لیونی یم لاړشم د ذوالفقار سره شرکت کی کار وکړم؟ البته زه کار کوم خو د ذوالفقار سره نه ...

زما اراده وه یوازی ځان تجارت شروع کړم البته یوازی،یوازی هم نه .. اراده می وه د زبیر سره په ګډه یو تجارت پیل کړم ..

ذوالفقار- ها؟! څه وشو؟ ودی نه ویل راځې او کنه؟
- ها؟ چیرته؟

ذوالفقار څو شیبی په ځیر راوکتل د هغه وروسته یې په تروش تندی وویل: شرکت ته د کار کولو لپاره راځې او کنه؟

ذوالفقار په داسی ګواښونکي انداز دا خبره وکړل چې ما ته خندا راغلل ما په یوه ورځ یا یوه میاشت کی نشو کولای خپل ټول پیسي له بانک راوباسم یا هم هغه طلا خرڅ کړم نو مجبور وم د ذوالفقار سره تر یو مودی کار وکړم او همغه جریان کی کرار،کرار د طلا راباسلو لپاره یو پلان جوړ کړم او همچنان د یو نوی تجارت شروع کولو لپاره د زبیر سره مشوره وکړم البته کولای می شو یو دروغ ووایم او زبیر هم د طلا راباسلو کی د ځان سره ملګری کړم؟ البته اوس خو نه کیدو باید یو څو میاشتي می صبر کړی وایې ترڅو اوضاع لږ ارام شوی واې بیا، په دی فکر د ذوالفقار منتظر نظر خواته مې وکتل او ومې ویل: زبیر که درغلې نو مجبور زه هم درشم.

زما په دی خبره د ذوالفقار تندی خلاص شو او پخندا یې وویل: که زه خبر وایې چې د زبیر په راتلو ته هم راځې ما به اول ورځ هغه راضي کړی وایې ...
د هغه په خبره مې پخندا وویل: څه وکړم د زبیر بغیر زما کار نه کیږی، هر چیرته چې هغه ځې مجبور زه هم وریسی لاړشم.

په دی خبره مې ذوالفقار پوسخند وواهه او ویې ویل: هو ګورم چې څنګه د هغه پسي یې(د ذوالفقار د خبری طعنه مې واخیسته او پوه شوم چې مطلب یی زما هغه څو میاشتو ناڅاپه ورک کیدلو او بیا بیخبر مثلاً عربستان ته د تلو وه، غوښتل مې کوم څه ووایم چې ذوالفقار اجازه رانکړل او ویې ویل: یوه پوښتنه درڅخه کوم طاها .. او غوارم چې رښتیا ځواب راکړی ...

د ذوالفقار په دی خبره په وېرېدلې انداز مې وروکتل ځان سره مې ویل هسې نه ذوالفقار شک کړی وی چې زه عربستان ته نه وم تللې او د پولیسانو سره مې کار کاوه؟ ذوالفقار چې زما منتظر نظر ولید نو په تروش تندی وویل: ته چې څو میاشتي مخکې ناڅاپه خپل د ښځې او زوی سره غیب شوی رښتیا راته ووایه ایا زبیر ته دی ویلې وه؟ یعنې هغه ستا د ځایه خبر وو او کنه؟

د ذوالفقار په دی خبره مې یو هوسا ساه واخیسته او د هغه وروسته مې وخندل، ځکه هغه ورځ رایاد شول چې ذوالفقار زبیر رانیولې وو او قسمونه یې ورکول چې زما څخه خبر لری او کنه؟ او بیچاره زبیر قسمونه خوړل چې زما په اړه هیڅ معلومات نلری زما د خندا په لیدو د ذوالفقار تندی لاپسې تروش شو چې ما وویل: نه هغه هم نه وو خبر، مطلب هیڅوک نه وو خبر، تا هسې هغه بیچاره هغه ورځ رانیولې وو.

ذوالفقار په مشکوک انداز وپوښتل: هغه ورځ؟ کوم ورځ؟
پخندا مې وویل: همغه ورځ چې ما خپل کډه بیرته راوړل.
ذوالفقار- ته له کوم خوا خبر شوی چې ما همغه ورځ د زبیر څخه ستا په اړه پوښتنه وکړل؟

- ځکه چې هغه ورځ زه هملته وم.
ذوالفقار په حیرت وویل: څه؟ ته چیرته وی؟ ته هغه ورځ هملته وی؟ نو ما ولی ونه لیدی؟
په خندا مې وویل: هو هملته وم خو تاسو یو بل رانیولې وه نو ماته مو فکر نشو.

زما په دی خبره ذوالفقار ناڅاپه غوسه شو او ویې ویل: یعني ته هلته وی او لیدل دی چې مورِ څومره په اندیښنې کی یو خو راوړاندی نشوی؟

د ذوالفقار په داسی تنده لهجه خپل د کړی خبری څخه پښیمان شوم د دی لپاره چی د هغه غوسه راکم کړم په تلوار می وویل: هغه .... هغه ما ... ما غوښتل رامخکي شم او ... او خبری وکړم خو ... خو جرئت مې ونکړو ... هغه ورځ ته بیحد غوسه وی.

د دی خبری سره سم ذوالفقار خپل لځایه راپاسید او داسې حال کې چې زما خواته راتلو په ګواښونکي انداز یې وویل: نو ته زما د غوسي څخه هغه ورځ و وېرېدی؟

د هغه په داسې راولاړېدو په وېره باندی خپل ځای کې نیغ شوم، عجب بد مې وکړل کاش ګونګي شوی وایې خو دا خبره مې نه وایې ورته کړې.

ذوالفقار- که ته زما څخه وېرېدلې تا به داسې خپل په سر غول نخوړل، ته به داسې بیخبر د کور څخه نه تښتېدلې، که ته زما څخه وېرېدلې تا به قدم زما د اجازې بغیر نه اخیست، ووایه له قصد رامخکې نشوم ترڅو تاسو ښه وسوځیږی ..

په تلوار مې وویل: نه ... نه په قرآن داسی کوم خبره نه وه ..

ذوالفقار خپل لاس د وهلو په انداز راپورته کړو چې ما په تلوار وویل: وار ونکړی ذوالفقار په قران تر اوسه نه یم ښه شوی، د سینی هډوکی می تراوسه مات دی ګوره ....

داسې حال کې چې د ذوالفقار د وهلو څخه وېرېدلې وم خندا هم راتلل، زموږ دواړ په شور ماشور اقرا او د ذوالفقار ښځه له آشپزخاني راووتل او کله چې نظر یې د ذوالفقار په غوسه ناک حالت چې د وهلو لپاره زما سر ته ولاړ وو او ما چی زاری کول ولګید لومړی سترګی له حیرت راووتل خو ډیر ژر د ذوالفقار ښځې چغه کړل او یو څو ګام د ذوالفقار خواته رانږدی شول شاید غوښتل یې ذوالفقار زما څخه لری کړی؟ خو همدا چې ذوالفقار په دوزخی انداز وروکتل بیچاره د وېرې بیرته شاته لاړل یوازی غږ یې ما واورید چې په کراره یې وویل: دا څه کوی؟ خلک به څه وایې؟ مریض وراره دی خپل کور ته راوړی ترڅو ویې وهې؟

لکه چې د هغې خبرو کار وکړو چې ذوالفقار خپل سترګي له غوسي پټي کړل او داسې حال کې چې د شونډی لاندی استغفرالله ویل لږ زما څخه لری شو خو دومره ډیر نه همغسې زما مخ ته ودرید او داسی حال کې چی په غوسه یې خپل ګوته د ګواښ په انداز ماته خوځول ویې ویل: زما دی قسم وی طاها ... زما دی قسم وی ستا دا کار به زه لیاده ونباسم او ستا وهل به پر ما داسې فرض وی لکه د فرض لمونځ پشان ...

د ذوالفقار دی خبری ته مې خندا راغلل، یعني هغه داسې ښه وویل ستا وهل دی پر ما د فرض لمونځ پشان فرض وی چې ما ونشو کړی خپل خندا کنترول کړم زما

پخندیدو ذوالفقار چې روان و خپل ځای کې کښیناست ناڅاپه بیرته راوګرځید د هغه په بیرته راګرځیدو دا ځل ما د اقرا وېرېدلی غږ واورید چې "وی" کړل او مطلب ما بیا خپل په بیځایه خندیدو کار خراب کړو؟

ذوالفقار په غوسه وویل: خاندی؟ یعنې زما حالت تاته خنده دار ښکاری؟

داسې حال کې چې کوښښ مې کاوه خپل خندا راکنټرول کړم په تلوار مې وویل: نه ... نه پخدای پر تا نه خاندم نه پوهیږم نن څه مرګ راشوی هسې خندا راځې ...

ذوالفقار په غوسه راوکتل خو د څه ویلو مخکې د کور دروازه وټکیدل او مجبور شو تر څو وګوری څوک دی؟ د هغه په تلو اقرا او د هغې خور په حیران نظر زما خواته راوکتل، شاید غوښتل یې زه ورته ووایم چې ولې ذوالفقار غوښتل ما ووهې؟ خو ما په همغه خندا چې په هېڅ ډول مې له خولې نه تلل اقرا ته وویل: یو پیاله چای خو خپل د خیر ماته راوړه.

اقرا کرار سمده وویل او روانه شول د هغې د تلو سره سم د ذوالفقار ښځه هم روانه شوه خو د تلو مخکې په مشکوک انداز زما خواته راوکتل، لکه چې فکر یې کاوه زه لیوني شوی یم چې هسې خاندم؟ په دی فکر خپل د خولې کشک مې راټول کړو چې د دهلیز دروازه خلاصه شوه لومړی کس چې راننوت هغه استاذ او بیا وریسې طاهر وو؟! د استاذ په لیدو په اتومات توګه مې تندی تروش شو او د بابا خبره مې رایاد شول چې ویل یې ضیالحق ویل: کوچني ضایع کړه ... یعنې دی زما پر مرګ راضي شوی وو؟ یوازی د دې لپاره چې د ده د خور علاج وشې؟

خو د دی فکر پر کولو که خدای مکړه داسې موقعیت د طیبي سره مخ شې نو زه هغه وخت څه پریکړه کوم؟ په دی فکر غوسه مې لیاده ووتل که خدای مکړه د طیبي سره داسې کار وشې زه هم غوارم خور مې ژوندی پاتې شی د یو ماشوم لپاره خپل په خور خو سختي یا حتا مرګ نغوارم؟! په دی فکر د استاذ سره هغه پاتي زړه بدی مې هم لمینځه لاړل، دا چې زما څخه یې دومره وخت دا خبری پټ کړی وه لومړی

کی په دی کار یې ورځخه خفه وم خو اوس واقعاً ورځخه منندوی وم، زما په نظر کله ناکله په رښتیا نه خبریدل او لکه یو بیعقل پشان ژوند کول هم ښه وی ...!

د استاذ سلام ته مې کرار علیک وویل او طاهر چې راننوت د هغه سره مې بغل کشې وکړه،لومړۍ ورځ چې د ذوالفقار کور ته راغلم نو هلته مې طاهر د یو څو دقیقو لپاره ولید د هغه وروسته مې بیخې سم نه و لیدلې البته وروسته ادی راته وویل چې ښځه یې ماشوم لری خو طبعیت یې لږ خراب دی نو ډاکټر تر لسو شپو شفخانه کې بستری کړی او طاهر بیچاره هم د هغې سره وو، زما د لیدلو لپاره دا څو دقیقې راغلی وو د بغل کشې وروسته مې پخندا طاهر ته وویل: بیخې درځخه د انځر ګل جوړ شوی طاهر خان صیب!؟ یعني درې هفتې مخکې مې چې یو ځل لیدلې وی؟! ښه خو یې؟!

طاهر په شرم وویل: زه بخښنه غواړم حق لری ګیله وکړې، خو پخدای که د سر ګرولو وخت مې لا درلود.
لاس مې د هغه پر اوږه کیخود او داسې حال کې چې خپل څنګ ته مې کښینوی ومې ویل: ټوکې مې درسره کول دشمن دی شرمنده اوسیږه، څنګه ده ورینداره؟ ښه ده؟ پخپل څنګه یې؟ رنګ دی داسې خراب دی؟ خیرت خو دی؟

یعنې څومره چې زه فکر کوم زه شرمندوک او بې زبان یم، زما څخه زر چند طاهر عاجز او شرمندوک دی، یعنې زما حافظه کې داسی کوم ورځ یا نیټه نه راځې کوم کې چې طاهر د بابا د خبری خلاف کوم کار کړی وی، یا د بابا ورکړی شوی کار یې نه وی کړی؟ یا د بابا د یو کار خلاف یې ویلې وی زه دا کار نکوم ...؟! یعنې لنډ نمونه یی همدا واده کول یې لا د بابا پر خوښه وه، بابا ورته ویل زما د ملګری د لور سره واده وکړه د هم ویل سمده ..

که څه هم وروسته ځینو کسانو وویل طاهر پخپل په جنۍ مئین وو؟ خو زه فکر نکوم چې داسې کوم خبره دی وی؟ د طاهر په غږ په ښود راغلم.

طاهر- شکر د خدای رحم دی ټول ښه دی، بس دا میاشت لږ پعذابونکي وه نور د خدای فضل دی، پخپل ښه یې؟ اوس خو ډیر درد نلری؟
- خدای دی درته ستونزی حل کړی، شکر دی زه هم ښه یم.

زموږ دواړو مجلس تازه ګرم شوی وو چې ذوالفقار په پوسخند وویل: موږ هم دلته یوو(د هغه په غږ موږ دواړو وروکتل چې ذوالفقار په همغه لهجه وویل: نظر نشې تاسو دواړه ځنګه نمونه ورونه یاست؟ څومره ښه مجلس کوی، ما نه یادیږی ما دی تاریخ کې د ذوالقرنین یا لالا سره د دوه خبرو څخه ډیر مجلس کړی وی؟(بیا یې د طاهر خواته وکتل او ما ته په اشاره کولو یې هغه ته وویل: د ده غم مکوه زما او ستا څخه ډیر ښه دي څو شیبې مخکې نه وی چې وګوری خوله یې له خندا نه بندیدل ..

د ذوالفقار په دی خبره بیا مې خندا راغلل چې هغه وویل: ها وګوره بیا یې نیش خلاص شو ...
په همغه خندا مې وویل: بده ده چې خاندم؟ یعنې پر ما دی خندا نه پیرزو کیږی؟!
زما په دی خبره د ذوالفقار تندی تروش شو او ویې ویل: خبره ده پیرزو او نا پیرزو نه ده .. ته پخپل ښه پوهیږی چې ولې ستا د دی خندا څخه می بد راځې ...؟! نو د اوس لپاره خانده، خانده زما وار به هم راورسیږی ... هغه متل دی وایي: هزاره هم خدا داره ...

د ذوالفقار په دی خبره دا ځل نه یوازی ما بلکې استاذ او طاهر هم وخندل.
- شرط لګوم چې دا متل تا د زبیر څخه زده کړی ..

زما په دی خبره بلاخره د ذوالفقار د تندی ګونځې خلاصې شول او ویخندل، د هغه پخندیدو ډاډمن شوم چې د رښتیا هم هغه متل ذوالفقار د زبیر څخه زده کړی و؟! ما ویل ذوالفقار داسې متلونه نه زده دا ډول عجیب غریب الفاظ او متلونه یوازی او یوازی زبیر ویلې شې، لکه چې دا څو میاشتې زما نه موجودیت دوي بیحد یو دبل سره ملګری کړی وه؟ تر دی حد چې یو دبل خبری لا نقل قول کول؟ منم چې زما د تګ مخکې هم دوی یو د بل سره ملګری وه ...

خو لکه چې پر تګ مې یو څه ډیر ملګری شوی وه؟ او عجیب وه ما د بخیلی احساس درلود ...! لومړۍ مې په ذوالفقار بخیلې راتلل فکر مې کاوه که ذوالفقار د زبیر سره ډیـــر یعنی بیحـــد ډیر که ملګری شې نو شاید زما څخه یې توجه کمه شي؟! که څه هم بیحد غلط او احمقانه فکر په نظر راتلو خو ما داسې احساس درلود او له بلخوا په زبیر مې هم بخیلې راتلل! هغه زما یوازینې ملګری وو .. نه مې غوښتل خپل صمیمي ملګری د ذوالفقار سره تقسیم کړم ...

د هغه ماشوم احساس مې درلود چې کور ته یې میلمانه راغلې وی او مور و پلار یې ورته وایې خپل د لوبو شیان ورکړه د میلمنو ماشومانو ته ترڅو ورسره لوبې وکړي؟! یعنې هغومره حساس حالت چې هم مجبور یې خپل د لوبي شیان ورکړی او هم دی زړه نغواړی؟خلاصه چې زه خپل په ګډوډ احساساتو کې ورک وم چې استاذ راباندی غږ کړل.

استاذ- ښه یې محمد طاها؟

ژر مې ځان راټول کړو او ومې ویل: شکر د خدای فضل دی خپله ښه یاست؟
استاذ- شکر چې ښه یې، ذوالفقار ویل نن سهار دی خپل د زخم کوکونه خلاص کړی اوس خو درد نلری؟
- نه، ښه یم.

استاذ سر وخوځاوه او بیایې شکر وویل لکه چې هغه هم خبره د ویلو لپاره نه درلود؟ عجیب وه د دی پیښو څخه مخکې هر کله به چې ما او استاذ سره یوځای شو نو زموږ خبری او کیسي به نه خلاصیدی خو اوس؟ نه هغه خبره د ویلو لپاره درلود او نه هم ما ... د څو شیبو چوپتیا وروسته استاذ زړه نازړه او کرار وویل: خپل کور ته نه راځې؟

د هغه په دی خبره د ذوالفقار تندی تروش شو، ډاډمن وم که دا پوښتنه د استاذ بغیر بل هر چا کړی وایې نو ذوالفقار به یو داسې ځواب پر لاس ورکړی وایې چې نور په

عمر کی داسې نه وایې ویلې خو ځکه چې استاذ دا خبره وکړل نو څه یې ونه ویل او د هغه لحاظ یې وساته او یوازی په تروش تندی خپل چای پیاله راوخیسته د هغه د داسې ناراضه څهری په لیدو پخندا مې وویل: ولای که زما لاس کې وایې نو زما خو د اول ورځ څخه زړه غوښت خپل کور ته لاړشم، خو ذوالفقار اجازه رانکړل او اوس هم ذوالفقار یو داسې گرمه ترکي بخاری راته لګولې چې فکر نکوم تر یو میاشت دی د هغه د کور څخه ښور وخورم ...

زما په دی خبره استاذ او طاهر کرار وخندل چې ذوالفقار وویل: واقعا؟ یعنې د بخاری لپاره نغوارې لاړ شې؟

پخندا مې وویل: باور وکړه داسې یو خطرناک بخاری دی اخیستې، ورک دی ترکیه شی په دی بخاری جوړولو یعنې یو ځل چی اور واخلی دری ساعت نه مړه کیږی داسی په خوند،خوند بله ده چې زړه دی غوارې یو کمپل پر سر راکش کړی او کرار ورته ویده شې، خو افسوس چې د محمد له لاسه خوب چیرته کیږی.

ذوالفقار- رښتیا دا ولې دومره ژاړی؟ دا خو شپي کیږی د ژړا غږ یې تر ما لا راځې ..
سر مې د نه پوهیدو په انداز وخوځاوه او ومې ویل: ولاکه نه پوهیږم درسته شپه خوب نلری هسې بهانی کوی او ژاړی او اوس وګوره اوس بیا کرار ویده دی، خوب یې سر چپه شوی سهار لخوا کرار ویده کیږی او د شپي بیا زموږ په سر قیامت جوړوی.

استاذ- کله ناکله د ماشومانو د خوب وخت خرابیږی تاسو وربandی فکر وساتي مه پریږدی چې د سهار لخوا ویده شې، هر ماشوم چې سهار لخوا یې خوب پوره شې بیا دشپی کله ویده کیږی؟
- ما هم اقرا ته وویل چې همداسې وکړی، خو هغه وبریږي او وایې چې هسې نه خوب یې لا پسي خراب نه شي بیا به نه دشپې ویده کیږی او نه هم د ورځې؟! که داسې وشو نو هغه وخت به بیا سم ځنځیری لیونې جوړ شې؟

طاهر- ډاکټر ته یی ویسه شاید مریض وی؟ یا کوم ستونزه لری؟
- ولاکه چې څه ورباندی شوی یو څو ورځې نور هم ورته صبر کوم که ښه نشو مجبور یو ډاکټر ته یې ویسم ...

د غرمي ډوډۍ استاذ زموږ سره وخوړل او ماذدیګر خوا وو چې خدای پاماني وکړل او روان شو، البته د تلو مخکې ما ته لږ نصیحت هم وکړو او اخر کی د دی پر ویلو چې ژر خپل کور ته راشه لاړ د هغه د تلو څو شیبې وروسته بابا او ادی دوي راغلل او شپي ته هم پاتي شول البته د بابا راتګ د تل پشان یوازی نه وه؟! یعني زه نه پوهیږم ولې تل باید ذوالقرنین کاکا د بابا سره یوځای اوسیږی؟

البته دا چې یوازی راغلی وو او فرید و فهیم ورسره نه وه ما غوښتل د خدای شکر ادا کړم خو متاسفانه چې زما خوشحالۍ تر ډیره حد دوام ونکړل ځکه بابا وویل طیبي ډیر زه یادولم او غوښتل یی راشې خو فرید اجازه نه ده ورکړی؟! د بابا په دی خبری زما د څه ویلو مخکې ذوالقرنین کاکا په غوسه وویل.

ذوالقرنین- بد یې کړی چی اجازه یی نه ده ورکړی ته صبر زه اوس ورته زنګ وهم او وایم چې خپل ښځه او ماشومان راوړی، دا کار نو چا پکې راوړی؟ هر څه چې وو لاړو تېر شو دا دومره مرورتیا نو څه معنا لری؟ موږ دا درې، څلور کور یو د بل بغیر نور څوک لرو؟ چی وغواړو په دی کې هم یو دبل سره دښمنی وکړو؟

ذوالقرنین کاکا د دی خبرو وروسته په افسوس سر وخوځاوه او ویې ویل: دا ټول د یو بدبختي ښځې له لاسه چې زما وراره او زامن یې یو د بل د سر په جنګ واچول، خدای دی هغه ورځ ورکه کړی په کوم ورځ چی موږ د دی کور او کورنۍ سره خپلوی کول ...

د ذوالقرنین کاکا په خبرو ما هېڅ ونه ویل،یعنې څه مې ویلو ته نه درلود جنګ د ده خپل زامنو شروع کړی وو او دا چې اوس داسې خبری کول دا پر ما کوم احسان یې نه کاوه، غلطي د دوي خپل وه ما کوم ګناه نه وه کړی چې اوس دی عذاب وجدان

ولرم، او پاتي شول خبره د میشا ... که څه هم د هغې په هغه کار چې فهیم ته یې ویلې وه چې زه وربا‌ندې مئین یم؟! سخت عصاب مې ورته خراب وه خو بیا هم د زړه له تل ورته خفه وم،فکر وکړه نه دی میړه په زړه اوسیږي او نه هم د هغه کورنۍ او له بلخوا خسر دی د واده کولو مخکې تاته د کور خرابکوونکي ښځې په نظر هم وګوري وا ویلا ...

دا نو زما په نظر د یو جنۍ لپاره د جهنم څخه بتر ژوند راتلو نو ځکه د زړه له تل ورته خفه وم زما په نظر میشا دومره هم بده جنۍ نه وه چې تر دی حد ظلم دی ورسره وشي، د ذوالفقار په غږ فکر مې د هغه خواته شو.

ذوالفقار- ذوالقرنین! ته فکر نکوی کار دی یو څه غلط دی؟

د ذوالفقار په خبره ذوالقرنین کاکا په مشکوک توګه وپوښتل: د څه غلطي؟
ذوالفقار- همدا د فهیم واده .. ته پخپل ښه پوهیږې چې ما د خبرې کش، راکش کول نه زده او نه مې هم خوښیږي نو اوس هم مخامخ درته خپل خبره کوم، زما په نظر دا واده په نه کولو کې ستاسو خیر دی ... البته ما ته چندان ارزښت نلري چې ته زما خبره مني او کنه؟ زه دا خبره یوازې او یوازې په دی خاطر کوم چې سبا ورځ کوم رسوای جوړه نشي،زما په نظر د دوی دواړو واده کول هغه هم د دومره خبرو وروسته یوه لویه غلطی ده.

د ذوالفقار په دی خبره ذوالقرنین کاکا له غوسي سور شو او ویې ویل: د دی خبرو څخه دی مطلب څه دی ذوالفقار؟ تخو نغواړې خپل د زوی په نوم کړی ښځه د څو کالو وروسته خوشي کړم؟

ذوالفقار په پوسخند وویل: غوښتل مې درته د ورور په حیث یو نصیحت وکړم، خو .. د همدی خبرې څخه دی ښکاری چې څه ونه وایم بهتره به وی ...
ذوالقرنین کاکا په غوسه وویل: هو، زه هم فکر کوم چې ته څه ونه وایې بهتره به وی.

د ذوالقرنین کاکا په دی خبره دا ځل ذوالفقار غوسه شو او ویې ویل: باور مې نه کیږی یعنې په دی وخت او زمانه کې ته تر اوسه خپل په هغه جاهلانه نظراتو او فکرونو ولاړ یې؟ جنۍ په بار،بار وایې دا هلک مې نه دی خوښ او نغواړم ورسره واده وکړم بیا ته او ستا زوی ولې دومره انسانیت او شعور نلری چې دا خبره درک کړی؟په زوره غواړی هغه جنۍ راواده کړی؟ ته ماته دا ووایه ایا ته هغه په زوره را واده کولای شې؟ زه ستا او ستا د هغه بیعقل زوی په غم کې یم، پوهېږي هغه جنۍ د کلي کوم بې سواده جنۍ نه ده چې ته ورباندی زور واچوی او راواده یې کړی.

هغه دلته ښار کې رالویه شوی، تعلیم یې ستا د زوی څخه ډېر دی، پوهېږي د قسمت او شانس خبری دی البته زه خو وایم هغوی خدای په دی سر کې ووهل چې تاسو سره یې خپلوی وکړل، کنه چیرته هغه او چیرته ستا بې سواد، لوفر زوی؟ که د دی خبرو څخه تېر شم نو ته پوهېږي د هغې ماماګان څه کار کوی؟

کوټه کې موجود ټول کسان چوپ ناست وه، حتا ذوالقرنین کاکا چې خو شیبې مخکې د غوسي څخه سور او شین کیده اوس د ذوالفقار خولې ته یې سترګې نیولې وه، ما ته که څه هم دا بحث چندان مهم نه وو خو بیا هم کنجکاو وم ترڅو پوه شم ماماګان یې څه کاره دی؟ ذوالفقار په پوسخند وویل: مشر ماما یې قاضي دی او نور ماماګان یې په حقوق زنان کې لوی،لوي وظیفي لری، یعنې که خدای مکړه سبا ورځ یو ځل د جنۍ عصاب خراب شول او ستا یا ستا پر زوی شکایت وکړو بیا ته څه کوی؟ دا شرم بیا ته چیرته وړی؟

د زور څخه خو کار نشې اخیستي ځکه د هغوی زور ستا او ستا د زوی څخه ډېر دی پاتیږی خبره د دښمني نو فکر نکوم د دولت د ماموړانو سره دی څوک دښمني وشې کړی؟ او له بلخوا دا موضوع یوازی د فهیم نه ده، د فرشتي د ژوند خبره هم ده نو زما خبره ومنه لاړ شه د مشر په صفت کښینه او واضح خبری ورسره وکړه، زه نه وایم چی همدا اوس لاړشه او جنی خوشی کړه .. نه زه وایم لاړشه وګوره ایا جنۍ راضی ده کنه؟ وګوره ستونزه څه ده؟ او ایا په خبرو حل کیږی او کنه؟ ته مشر یې

@Shuhab09

نو لاړ شه مشری وکړه خبره فهیم ته مه پرېږده هغه په دوه پښو ترلې خر دی خبره نور هم خراب کوی ..

خو د دی ټولو خبرو باوجود که بیا هم ته زما خبره نه منې، نو "راه باز جاده دراز" هر کار چې کوی خود مختار يې خو فکر دی وی چې سبا ورځ که کوم مصیبت دی په سر رانازل شو بیا به ماته نه وایې چې ذوالفقار څه وکړم؟ په قران هغه وخت داسې کار درسره وکړم چې ټولو ته عبرت شې ...

د ذوالفقار په اخری خبره چې زیاتر ګواښ وو ماته خندا راغلل خو بابا په هشدار لرونکي توګه د ذوالقفار نوم واخیست چې ذوالفقار هم په ځواب کې په تروش تندی وویل: ما خپل غاړه د همدا اوس څخه خلاصه کړه،سبا ورځ زه ستاسو د جنجالونو حوصله نلرم خوشحالۍ مو خپل دی او غمونه مو تل زما د سر دی ...

پوهیدم چې د ذوالفقار د دی خبره مطلب ما ته نه دی، خو نه پوهیږم ولې بد احساس مې وکړو فکر مې کاوه شاید یو کونج کې ماته هم اشاره وی؟

د ذوالفقار په خبرو ذوالقرنین کاکا لږ فکرمند غوندی شو لکه چی د دولت او حقوق زنان خبرو لږ وېرولې وو؟ البته پوهیدم چی د هغه وېره زیاتر د رسوای څخه ده. زمونږ کلې کی دا خبری ډیر کم راپېښېدل، یعنې تر اوسه زما یاد دی چې یو وخت زمونږ کلی کې یوی ښځي خپل په درې ورونو د دی لپاره شکایت کړی وو چې د پلار میراث کې دیته برخه نه ورکول؟! د هغې دا شکایت په کلې کې داسې ډنډوره شوه او دومره خلکو د هغه ښځي او دهغې د خاوند او ورونو پسې وخندل او ریشخند يې وواهه چي د ښځې د میړه عصاب خپل ښځې ته چپه شول او د خلکو د شرم يې خپل ښځه ووژل ...

د هغې د وژولو باوجود هم دا پیغور او رسوای پټه نشول تر دی چې د هغې ښځې خاوند، ورونه او ځینې نږدی خپلوان د شرم څخه هغه کلې پریخود او لاړ، خو تر اوسه د هغې دا کار یو مثال پاتي شوي، یعنې یو دوه ښځې چې یو دبل سره جنګ

وکړې نو دا یوه یې دا بلې ته په پیغور وایې: تخو د فلانکي ښځې پشان بې شرم او ژبه وره یې لاړه شه دولت کې عریضه وکړه ... یعنې کلې کی د یو ښځې شکایت کول دومره رسوای لری که څه هم هغه شکایت په حق وی؟ او خپل د حق غوښتلو لپاره وی خو بیا هم زموږ خوا کې د ښځي لخوا شکایت کول په محکمه کې یو لوی پیغور،شرم او ننګ دی، ذوالقرنین کاکا چې هم چوپ شوی شک نلرم چې همدی خبرو ته فکر کوی ...!

زما په نظر خو د ذوالفقار ټول خبری منطقي وه، میشا دومره هم بې زړه او بې جرئت جنۍ نه وه، یعني زما تراوسه یاد دی چې هغې د پوهنتون په دوران کې زه او زبیر خپل په پیسو هوټل کې میلمانه کړی وو؟! یعنې زما ژوند کې ما لومړۍ ځل داسې جنۍ لیدل چې بغیر د کوم وېرې او ډار څخه یې خپل د مینې اظهار ما ته وکړو؟ که څه هم ما رد کړو ... البته زما رد کول هم ځانته دلایل درلود لومړۍ خو هغه وخت ما نه یو روپي جیب کې درلود نه مې کار درلود او لکه یو اتیم چک انسان پشان د ذوالفقار په کور کې مې د اوس پشان لنګر اچولې وو او خلاصه د کلام یو بیکار،لنډغر نفر وم خو دا ټول زما د رد کولو اصلې دلیل نه وه ...

اصل کې لعنت دی په شیطان وی خــو کله چې هغې داسې په بې پروای زه او زبیر چې مثلاً ناشنا هلکان و هوټل ته دعوت کړو بیا پخپل یی زما د موبایل نمبر وغوښت او داسې د مینې اظهار یی وکړو، نو شیطان زړه کې راوګرځول چې دا دومره ماهره ده او دومره بغیر د کوم ډار څخه داسی کار کوی نو خدای خبر ستا څخه مخکې د څومره نورو هلکانو سره به جوړه وه؟!

پوهیږم چې یو جانب قضاوت وو او شاید تر ډیر برید غلط هم وو خو یوه خبره ده چې موږ هلکان په هېڅ ډول ورڅخه نشو منکر کیدلې او هغه دا چې کوم جنۍ چې زموږ سره جوړه شي نو زموږ ذهن ته اول همدا خیال راځي چې دا که زما سره جوړه شول نو مطلب د نورو کسانو سره هم جوړه دهاو که دا ښه، حیا داره جنۍ وایې نو دا به زما سره نه جوړېدل ...

یعنې اسلام چې کامل دین دی په همدی سبب دی چې حتا دی خبری ته یې لا توجه کړې او حکم یې کړې چې د واده او نکاح مخکې د نامحرم کسانو سره خبری مکوي، البته دا حکم دوه جانبه دی یعني هلک او جنۍ دواړو ته ویل شوي او فکر کوم بیحد یو بهترینه حکم دی ځکه د اوس وخت زیاتر ستونزی د همدغه له لاسه راپورته کیږي ...

په هر حال اوس خبره دا ده چې میشا که فهیم نه وو خوښ نو بیا ولې نامزد شول؟ کولای شو هملته "نه" ووایې نه دا چې د څو کالو وروسته اوس تازه یې فیل د هندوستان یاد وکړی؟ د ذوالقرنین کاکا په غږ خپل د فکرونو څخه راووتلم.

ذوالقرنین- فکر کوم دواړه یو دبل سره بیرته ښه شوی؟ ځکه فهیم یی هره ورځ کور ته ځې راځې؟

د ذوالقرنین کاکا په دی خبره ذوالفقار په پوسخند وویل: فکر نکوم چې داسې کوم کار دې شوی وې؟! ځکه جنۍ د فهیم د رنګ څخه لا بد راځې خو ستا زوی هره ورځ یې کور ته روان دی او د هغه دا کار یوازی او یوازی هغه جنۍ په ضد راوړی ..

ذوالقرنین کاکا په مشکوک توګه وپوښتل: ته له کوم خوا پوهیږې چې جنۍ د فهیم په ورتلو خفه ده؟

نه یوازی ذوالقرنین کاکا چې دا ځل بابا هم په مشکوک انداز د ذوالفقار خواته وکتل چې ذوالفقار وویل: که لیاده دی نه وې وتلې نو زه د هغوي دروازه په دروازه همسایه یم؟! د جنۍ پلار ما یوه هفته مخکې د جمعي په لمانځه کې په مسجد کې ولید طبعیت یې بیحد خراب وو کله چی ورڅخه ومې پوښتل څه شوی؟ نو کیسه یې راته وکړل ویل یې ستا وراره هره ورځ زموږ کور ته راروان دی او د هغه په لیدو زما لور خپل د کوټې دروازه تړی او چغې وهې او له کوټې نه راوځې او وایې هغه ته ووایه زموږ له کوره لاړ شی ...

د ذوالفقار په دی خبره بابا خو خپل پیاله چاي راوخیستل او داسې ځان ونیو لکه چې دا خبره یې هېڅ نه ده اوریدلې؟! ما هم خپل غوږونه کاږه واچول خو ذوالقرنین کاکا په غوسه د شونډي لاندی وویل: پر پدرک دی د داسی لور لانت سې ...

ذوالفقار- ګوره ذوالقرنین هغوی نور پوزی ته رسیدلې ستا د زوی د دومره تګ،راتګ له لاسه هغه ورځ په قران یو ژړا یې ونکړل نور ښه سم خپل زړه یې خالي کړو ویل یې دې میاشت کې دا څلورم ځل دی چې د فهیم په سر خپل لور وهم، خو څه وکړم هر کار چی کوم هغه نه راضي کیږی او زه خو خپل لور نشم مړه کولای ...

ذوالقرنین کاکا په تلوار وویل: خو فهیم ویل موږ روغه کړی؟ دا یوه میاشت کیږی فهیم راپسې موښتی چې ژر تر ژره زما واده تیار کړه او زه غوارم واده وکړم، زه نن د همدی خبری لپاره د لالا خواته راغلم هغه ویل راځه د ذوالفقار کور ته هلته به ورباندی مشوره وکړو چی واده کله ونیسو؟ او ته وایې چې هغوي پر جنګ دی؟

ذوالفقار په پوسخند وویل: ستا زوی هسې ضد نیولې، خو غوږونه یې ښه خلاص کړه او ورته ووایه چې په ضد او زور هېڅ کار نه کیږی، ځکه چې دا موضوع یوازی د ده د ژوند نه ده دا د فرشتي د ژوند خبره هم ده ...
ذوالقرنین کاکا په پوسخند وویل: ستا د خبرو څخه واضح ښکاری چې ستا مشوره یوازی او یوازی د دوی دواړو په جلا کولو باندی ده؟! نو که فهیم خپل ښځه پریږدی مطلب هغه هلک هم فرشته باید خوشی کړی؟ نور نو پاتي څه شول؟

ذوالفقار په تروش تندی وویل: دا درې ساعت چې درته ګډ یم نو څه وایم؟ وایم لاړشه خبری ورسره وکړه او سر خلاص کړه چې اصل کیسه څه ده؟(ذوالققار څو شیبې چوپ شو دهغه وروسته یې په زړه نا زړه توګه وویل: زما په نظر هغوی یوازی غوارې خپل د لور کوژده خرابه کړی؟ خو فکر نکوم چې خپل د زوی او فرشتي کوژده دی هم خرابه کړی؟

د ذوالفقار په دې خبره دا د لومړۍ ځل لپاره بابا په دې موضوع کې ګډون وکړو او ویې ویل: ته ولې دا فکر کوې چې هغوی یوازې خپل د لور طلاق غواړې خو زوی فرشتي ته طلاق نه ورکوي؟

ذوالفقار په همغه فکرمند انداز د بابا خواته وکتل او ویې ویل: هغه ډېر ښه هلک دی، زه یې څه ناځه پیژنم،یعنې داسې جاهل هلک نه دی چې هسې په جوش او بیځایه خرافاتي غیرت کې راشي او داسې کوم کار وکړي او بل دا چې موږ خو په زوره طلاق نه ورکو د هغه خور پخپل طلاق غواړي نو دوی خپل د لور د کار د شرم هم فرشته نشي طلاق کولای، او له بلخوا د فهیم خسر بیحد یو عاجز او ساده انسان دی هغه نغواړي کوم دښمني او جنجال جوړ کړي نو ځکه فکر نکوم چې فرشته دې طلاق کړي ها ...! البته که تاسو ووایست چې موږ خپل د لور طلاق غواړو ځکه ستا لور زما د زوی څخه طلاق واخیست هغه وخت بیا شاید طلاق ورکړي کنه فکر نکوم ...

خلاصه چې تر ماښام،ماسخوتن همدا بحث روان وو بلخصوص کله چې فرید راغلو .. هغه وخت نو بحث د خبرو لځایه د وهلو،ډبولو حالت ته ورسید ځکه فرید ویل زه داسې کوم او هغسې کوم او خپل د ورور ښځه راوړم او د چا پلار زما مخه نشي نیولې او هغه زموږ ناموس ده او خلاصه چې د هر ډیالوګ او د مرګ خبرې سره یې زما خوا ته داسې راکتل ته وا د ده د ورور ښځه ما راتښتولې؟!

ما خو کوم څه ورته نشو ویلې خو بیا هم ذوالفقار دې خیر ویسي زما لخوا به یې یو خبره کول او فرید به یې چوپ کاوه خو هغه په داسې جذباتو کې راغلې وو چې زړه یې غوښتل په همدې نیمه شپه لاړ شي او میشا د پلار له کور په کش کولو،کش کولو خپل کور ته ویسي، یعنې د فرید چې دا حال وو ما فکر کاوه که فهیم خبر شي نو د هغه به څه حال وي؟ بلخصوص که خبر شو ذوالفقار ذوالقرنین کاکا ته دا مشوره ورکړې چې جنۍ طلاق کړه؟!

د ذوالفقار خبرې که څه هم منطقي او صحیح وه خو دوي خپل په پخواني جاهلیت پاتي وه او د ذوالفقار خبرې ورباندې ښه نه لګیدل ذوالقرنین کاکا خو یوازې تندی

تروش کړي وو خو شک نلرم که فرید په ذوالفقار وس رسیدلې وایې نو حتماً یو د لاس او ګریوان جنګ یې ضرور ورسره کاوه خو دا چې زور یې نه پر رسیدو نو یوازې خپل په ستوني بوج راوړو او چغي وهل، د هغه داسې حالت په لیدو ذوالفقار چې د بوډۍ خوړلو وخت کې زما څنګ ته راغلي وو او بیا تراوسه همدلته زما څنګ ته ناست وو کرار یې خواته ټیټ سوم او د غوږ څنګ ته مې وویل:

- بس یې کړه ذوالفقار، زه پوهیږم چې ستا خبرې او مشوره د نیک زړه دی، خو هغوي ستا خبرې نه خوښوي نو ته د څه لپاره دومره خپل عصاب خرابوې او د فرید  پشان د یو بې شخصیت انسان سره خوله اچوې؟ پریږده هر مرګ چې کوي و دې کړي ...

زما په خبرو ذوالفقار د سترګو له کونج راوکتل د هغه وروسته یې داسي حال کې چې کوښښ کاوه غږ یې زما پشان ښکته اوسیږي او څوک یې وا نه وري په غوسه یې وویل: زه مجبور یم ... پوهیږې که سبا ورځ دوی د غلطي څخه کوم غول وخوري نو یوازې دوی نه راګیر کیږي،بلکې زما نوم هم راځې او اصل مصیبت یې پر ما دی ځکه زه بیا د دوی همسایه یم ..

د ذوالفقار په دې خبره مې خندا راغلل او ومې ویل: زما مني خپل بسترې، مسترې راټول کړه او راځه زما سره، زه به خپل کور کې یو کوټه تا ته درکړم هملته زما سره اوسیږه د دوی د ستونزو څخه به هم خلاص یې ..

فکر مې کاوه په دې خبره به مې ذوالفقار غوسه شې خو هغه کرار وویل: زه چې د دوی حالت ته ګورم فکر کوم باید همدا کار وکړم ..
د ذوالفقار په دې خبره په حیرت مې وویل: ها؟! رښتیا وایې؟ یا که هسې ټوکوي کوې؟

ذوالفقار- ټوکې نکوم،رښتیا وایم که دوی سبا ورځ کوم غلط کار وکړو د ټولو دمخه ما ته ګوته نیول کیږي چې دا یې کاکا او د کاکا کور دی؟! د ټولو څخه زه دې مصیبت ته نږدې یم نو مجبور ځان وباسم ...

د ذوالفقار په دی خبره مې بیحد زړه ورباندی وسوځید د رښتیا چې هم خوشحالیانې مو خپل دی خو غمونه مو د ذوالفقار په سر دی .. که سبا ورځ فرید یا فهیم کوم بد وکړل لومړی کس چې د هغه ګریوان نیول کیږی او حساب کتاب ورسره کیږی هغه ذوالفقار دی په دی فکر په اندیښنی می وویل: زما منې راځه همدا سر له سبا زموږ کور ته لاړشو، فرید او فهیم په سور نه دی برابر هسې نه کوم ستونزه تا ته جوړه کړی؟

ذوالفقار- تللو کې ضرور ځم، ځکه د دوی ارادی ما ته د خیر نه معلومیږی .. خو ستا کور ته نه درځم، خپل د ملګری سره خبری کوم چې سر له سبا ما ته یو سم کور راپیدا کړی ..
- نو ولې زما کور ته نه راځې؟

ذوالفقار نیم نظر د سترګو لاندی راوچو خو کوم څه یې ونه ویل، غوښتل مې خپل پوښتنه بیا ورځخه تکرار کړم چې ولې نغواړی زما کور ته راشې؟ خو زما د څه ویلو مخکې د فرید منحوس غږ پورته شو چې په طعنه باندی ما ته وویل:

فرید- ستا په دې موضوع کې څه نظر دی طاها؟
د هغه په دی خبره په حیرت مې وویل: په کوم موضوع کې؟
زما په دی خبره فرید په پوسخند او قهر وویل: بیخي دی ځان ناګاره وانه چو؟ پوهیدم چې د فرید د دی خبرو مطلب څه دی، او ولې دا خبری کوی؟ خو ما نه غوښتل نن کوم جنګ وکړم نو ځکه خپل اوږې مې پورته واچول او ومې ویل: فکر نکوم زما د بحث موضوع دی اوسیږی چې زه دی پکې کوم نظر ورکړم؟!

فرید په همغه غوسه وویل: خو زه فکر کوم اصل د بحث موضوع ستا ده ..

د هغه په دی خبره د کوټې د څلور کونجو څخه غږونه پورته شول لومړی د ذوالفقار غږ و چې په غوسه یې فرید ته وویل: د خولې سره دی پام کوه، دویم غږ د ذوالقرنین کاکا وو چې فرید ته یې ویل بس یې کړه او دریم او د ټولو څخه جالب د

بابا غږ ووو چې ويې ويل: طاها په دی خبرو څه اړه لری چې ته وایې اصل موضوع د هغه ده؟

فرید په پوسخند وویل: لکه چې تاسو څو میاشتې مخکې کارونه لیاده ووتل؟
بابا په تروش تندی وویل: لیاده مې نه دی وتلې، په یاد مې دی چې زما کور کیدی غوښتل زما زوی ووهې او نه یوازی وهل بلکې یو مردار تهمت دی هم ورباندی ولګوو په یاد مې دی ..

د بابا په دی خبره که ووایم ښکر(شاخ) مې په سر کې شین شو نو دروغ به نه یې، البته نه یوازی زه چې کوټه کې موجود ټول کسانو د بابا د داسې دفاعي حالت څخه چې زما خوا یې ونیول د ډېر حیرت خوله خلاصه پاتي شوه، خو د ټولو څخه جالب د ذوالفقار حیرت وو هغه یو ځل د بابا خواته وکتل بیا زما خواته؟ لکه چې بیخی باور نه کیدو، البته زما پخپل هم باور نه راتلو چې بابا دی زما په طرفداری کې خپل ګران زوم ته داسې جواب ورکړی وی؟

فرید هم لکه چې د بابا څخه د داسې ځواب توقع نه درلود ځکه ورخطا شو او په بند،بند لهجه یې وویل: هغه ... هغه ...ټول ملامت ه ... همدا ...طاها ... دی کنه ...؟!

بابا په تروش تندی او څه ناڅه غوسه ناک لهجه وویل: ولې ملامت طاها دی؟ په کوم دلیل؟ ما هغه ورځ یوازی د ذوالقرنین په خاطر تا او فهیم ته کوم څه و نه ویل البته فهیم خو د کوم څه د ویلو نه وو (د بابا دی مستقیم اشاری ته چې مثلاً ویل یې فهیم د وهلو له لاسه نور د خبرو نه وو ما لږ حیرت وکړو! ځکه بابا دا خبره په ورین تندی وکړل؟ لکه له دی چی ما هغه ورځ فهیم وهلی وو خوشحال وو؟ او دا کار زه نور هم حیران کړم؟!

فرید غوښتل کوم څه ووایی خو بابا اجازه ورنکړل او ویې ویل: ګوره هلک، ستا او د فیهم هغه د څو میاشتو مخکې بیعقلتوب سم د دښمني کولو معنا درلود، دیته مګوره چې ما هغه ورځ کوم څه ونه ویل خو ستا کار یو دم غلط وو ته او فهیم په ناکه

تهمت زما کور ته راغلی او زما زوی مو په دی خاطر ووهل چې څه دی؟ ستا وریندار زما د زوی سره په یو پوهنتون کی درس ویلې او تاسو فکر کوی چې زما زوی د هغې سره یارانه لری؟ نو هغه پوهنتون کې زر نور انجوني هم درس وایې آیا ستا په نظر زما زوی د ټولو سره جوړ دی؟

ذوالقرنین- لالا هغـ...
بابا په غوسه وویل: ته څه مه وایه ذوالقرنین ته کوم خبره مکوه چې دا زامن دی ټول ستا د لاس داسي شوی ..

فرید چې د بابا څخه د داسی رفتار توقع نه درلود او فکر یې کاوه بابا به د تل پشان چوپه خوله کښینې او هغه به خپل اپلاتي ووایې او ما به د ټولو مخکې ملامت او ذلیل کړې، ناڅایه د ډیر غوسي څخه یې اور واخیست او د بې شرمي ښځې پشان په چغو یې وویل: پر موړ څه شوی چې ته یې پیغور زما پلار ته ورکوی؟ ستا د زوی پشان مو نه د خلکو ناموس ته کتلې او نه هم بیا د وېرې څخه له کور تښتیدلې یو، دا چې تراوسه مو ستا زوی ژوندی پریخودلې دا مو هم ستا د دی سپین ږیری خیال ساتلې او احسان مو دربانډی کړی کنه حق خو همدا وو چې پر همغه شپه مو مړ کړې وایـ ..

یعنې تر څو چې زه پر خود راتلم او پوهیدم چې څه وشول او څه نه؟ ذوالفقار زما د څنګ په یو جست پورته شو او فرید یې له ګریوان راونیو او داسې زدني څپیړه یې پر مخ ورکړل چې د هغه په شرق زه تازه پر خود راغلم ...

ذوالفقار په غوسه وویل: تا احسان کړی؟ تا د لالا سپین ږیری ته کتلې او طاها دی ژوندی پریخودلې؟ تا پر هغه شپه مړ کوو؟ مګر زه مړ وم چې تا وربانډی لاس پورته کوو؟؟ هـــا؟!

یو دم دهلیز کې سم د محشر میدان جوړ شو، ښځې چې بل کوټه کې وه او مجلس یې کاوه زموږ په شور ماشور له کوټې راووتل او په چغو شول؟! د دیخوا هم

ذوالقرنین کاکا،طاهر او بابا ذوالفقار رانیولې وو تر څو فرید خوشې کړی خو د فرید بیځایه اپلاتو چې د ذوالفقار څخه د څیپړی خوړلو وروسته سخت زور ورکړې وو او هر څه چې په خوله ورتلل ویل یې ذوالفقار یې لیونی کاوه او دیته یې هڅوو تر څو نور یې هم ووهې، خو دا چې دوه، درې نفرو ذوالفقار نیولې وو نو فرید زړه او جرئت پیدا کړی وو او هر مرګ یې ویل د هغه په بیځایه اپلاتو ذوالقرنین کاکا په غوسه ورباندی چغه کړل.

ذوالقرنین- خوله دی بنده کړه فرید، ورک شه له کوره ووځه.
خو فرید بې ادبې دی معاف وی سم د بازاری ښځو پشان چغه کړل: زه هیڅ ځای نه ځم نن شپه زه په دی بیغرت دا ثابته کوم چې ده د هغه فاح*ی سره یارنه درلود او د دومره بیغرتي وروسته تر اوسه ځان معصوم او نیک،نیک کوی ..

ذوالفقار چې د څلور خوا نیول شوی وو په غوسه یې وویل: خوله دی بنده کړه رزیل بیغرت ... بیغرت هغه دی او که ته؟ ته چې خپل د ناموس په عزت او پرده نه پوهیږی او غواړی څه ثابت کړی؟ خپل بې ناموسي؟

دی منځ کې زه وچ کلک صم،بکم ولاړ وم، نه پوهیدم څه ووایم؟ یا څه وکړم؟ یعنې یو داسی موضوع کې راګیر شوی وم چې هېڅ ګناه مې پکې نه وه، داسي یو تهمت راباندی لګیدلی وو چې نه منونکی وو، همدی وخت کې فرید زما خوا ته فکر شو او ناڅاپه د ذوالفقار سره یې جنګ کول او کنځلې کول خوشی کړل او زما پر خوا یې رامنډه کړل د هغه دا کار دومره په تلوار وو چې ما یوازی ورته کتل؟!

هغه په تلوار خپل د مخ د میوه خوری د کاسي څخه کوم چې د ذوالفقار ښځې مثلاً خپل د خاوند د میلمنو د ښه عزت ساتلو لپاره تازه میوه راوړی وه او هر کاسه کې د میوه پوست کولو لپاره چاقوګان کیخودلی وه یو چاقو راواخیست او زما پر خوا راغې او یو دم راباندی حمله کړل دومره د هغه برید ناڅاپه او خطرناک وو چې ما د ځان ژغورولو لپاره د هغه لاس ته په کوم کې چې چاقو وو حمله واچول او دومره

هنر مې وکړو چې چاقو مې په لاس کې ونیو او اجازه مې ورنکړل چې کولمې مې راوباسي ...

خو پدرلعنت داسې خپل په ټول زور چاقو تاو،راتاو او کش کاوه چې فکر مې کاوه د لاس ګوتي مې په کوم باندی چې چاقو مې نیولې وو قلم پرې شول، د ډیر درد او عجز څخه بې اختیاره مې ذوالفقار ته غږ کړل او هغوی هم تازه لکه چې پر خود راغلل چی ذوالفقار یې پریخود او زموږ خواته راغلل، لومړی کس چې راورسید هغه ذوالفقار وو چې په غوسه یې فرید زما څخه لرې کش کړو او ویې ویل: تا څه غول وخوړل؟

د هغه د کش کولو سره سم د فرید د لاس څخه چاقو ختا شو او ما په درد خپل خوږ لاس کلک ونیو دومره درد مې درلود چې په اخ او وخ ویلو د کوټې منځ کې کښیناستم زما د زخمي لاس په لیدو چې وینه ورڅخه شور،شور بهیدل یوه شیبه کې په قسم سره د ذوالفقار په سترګو کې مې هغه لیوني جنرال ولید کله چې غوښتل یې ما ووژني؟! یعني د هغه پشان یې چپه سترګه د ډیر غوسي و پریدل او د سترګو وراندی ته وا وینه راغلې وی داسي سترګی تکې سری شول او فرید یې راونیو یعني ما چې کله د ذوالفقار وهل ولیدل خپل درد مې لیاده ووت ...

ذوالفقار فرید د مرګ په نیت واهه، لومړی خو یې یو بوکس پر خوله ورکړو د هغه پر بوکس چې فرید پر ځمکه وولید ذوالفقار په تشي باندی دومره کلک په لغته وواهه چې فرید خپل د هغه دومره وزن او خیټي سره د ځمکی پورته شو او څنګ ته په ولاړه بخاری ولګید ... د فرید د بده بخت بخاری هم روښانه وه او په سر یې هم د هغه د ډیـــر ښه شانس دوه غټي،غټی چایچوشي کیخودل شوی وه چی اوبه یې تقریبا جوش وه؟! هغه د فرید په سر راوغورځیدل او د هغه چغه یې اسمان ته پورته کړل ما فکر کاوه چې ذوالفقار به همدلته خپل وهل ټکول بس کړی؟

خو ذوالفقار په یو انتحاری حرکت کې چایجوشه په لغته یو خوا ګوزار کړل او فرید یې بیا راونیو د هغه حالت سم د ځنځیری لیونیانو پشان وه دومره خطرناک چې

ټولو زما زخمي کيدل لياده وويستل او هغه يې راونيو خو عجيب وه بابا،ذوالقرنين کاکا، طاهر حتا ادی لا کمک ته راغلې وه او په ږړا او زاری کوښښ کاوه ذوالفقار منع کړی خو هيچا نشو نيولی؟!

ادی په ژړا وويل: ته وقران ذوالفقار بس يې کړه خو مړ دی کړو(بيا يې په همغه ژړا زما خواته چې هک حيران دی راپيښ شوی صحني ته مې کتل مخ راوګرځو او ويې ويل: ته و قران طاها راشه خپل کاکا د دی ځايه ويسه ...

د ادی په غږ په ښود راغلم په تلوار بغير له دی چې خپل خوږ شوی لاس ته کوم پام وکړم يا خپل د سيني درد ته کوم توجه وکړم د ذوالفقار خواته ورغلم له اوږی مې ونيو او په زاری مې ورته وويل: ته وقران ذوالفقار بس يې کړه مړ دی کړو.

ذوالفقار په همغه غوسه وويل: له مخه مې لری شه طاها ...زه نن دا خر همدلته انسان کوم چې سبا ورځ دا جرئت بيا ونکړی چې خپل منحوس غږ زما کور کې په کوم مشر پورته کړی، ته صبر زه ده ته د رښتيا جنګ وښايم ده تر اوسه د نرانو جنګ نه دی ليدلې، دی فکر کوی جنګ يوازی د ښځو پشان چغي وهل او بې شرمي کول دی، ته اخـــوا زه ده ته ناموسي جنګونه او دښمني وښايم ...

ذوالفقار غوښتل د فريد خوا ته لاړ شې خو ما يې اوږه کلک ونيول او په بيحد عاجزانه لهجه داسې چې عمر کې مې فکر هم نکوو دومره عاجزانه لهجه دی زه ولرم ومی ويل: بس دی ذوالفقار، پرېږده، لعنت په شيطان ووايه هغه پوه شو نور داسې کار عمر کی نکوی، خوشی کړه ...

نه پوهيږم زما د عاجزانه لهجي تاثير وو يا که د فريد د ژړا غږ؟! خو بلاخره ذوالفقار کرار سو همدا چې لږ کرار شو ادی د سترګو په اشاره وويل چې له کوره يی وباسه ما چی هم حالاتو ته وکتل نو د ذوالفقار د کوره ويستل راته د ټولو څخه مناسب کار ښکاره شو، ځکه فريد په داسې يو بد حال وو چې فکر مې نکو يو مياشت دی د ځمکي پخپل پورته شې، نو ځکه په تلوار مې ذوالفقار د کور د دروازی خوا ته کش

کړو او هغه هم بغیر د څه ویلو زما پسې شو په تلوار مې راسته چپه نه پوهیږم د چا څپلۍ پر پښو کړل خو له کور ووتلو ..

د سړک تر سره مې ذوالفقار کلک نیولی وو فکر مې کاوه که خوشې کړم بیا ځې او فرید وهی؟! ځکه هر لس ثاني وروسته یې له غوسې څخه یو لوی ساه اخیسته او ښکاریده چې زړه یی لا ډک دی؟

د کور څخه تقریبا ډیر لری شوی وو چې ذوالفقار ناڅاپه ودرید د هغه په دریدو زه هم و دریدم ... په بسم الله، بسم الله مې د هغه خوا ته وکتل ډاریدم چې ونه وایی راځه کور ته، ځکه لا هم غوسه وو او ډاریدم هلته په تلو به بیا جنګ وکړی خو هغه زما خوږ لاس ونیو او په تروش تندی وویل: د لاس څخه دی تر اوسه وینه روانه ده، ته دومره عقل نلری چی لاس دی په یو مرګ وتړی تر څو نور وینه ورڅخه لاړ نشې؟

د هغه په دی خبره تازه مې خپل لاس ته فکر شو، دومره د ذوالفقار هغه وهلو او جنګ ګنګس کړی وم چې خپل درد راکې هیر شوی وو، ذوالفقار په غوسه وویل: همدلته ودریږه زه اوس راځم.

غوښتل می وپوښتم چیرته ځې؟ خو هغه زما تر پوښتني کولو و نه دریډ او په لوی ګامونو راڅخه لری شو او د سړک هغه بلخوا ولاړ، ومې لید چې دوکان ته ننوت او زړه مې لږ راحت شو چې کوم جنګ ته نه ځې، تازه مې خپل درد په یاد شو خپل خوږ لاس مې په دی بل لاس کی کلک ونیو او د سړک په غاړه کښیناستم همدا چې هلته کښیناستم نو یخ مې احساس کړو زه یه یو جوړه نازک کالو کې په دی یخ کی راوتلی وم خپل پښو ته مې وکتل چې یو څپلۍ او بل د طاهر بوټ می پر پښو کړی وو خندا راغله ...

خدای دی د بدی ورځي انسان وساتي کله چی مصیبت راشی انسان څخه هوش او حواس ټول لاړ شي خپل د پښو څخه مې نظر واخیست او شاوخوا د موټرانو تګ راتګ ته مې وکتل ناڅاپه هغه شپه رایاد شول چې بوډا راته وویل عزیزی بچه باز

دی؟ او هغوی ګمان کاوه عزیزی ما ته خپل د مړ شوی نفری په نظر ګوری، زه چی غوسه شم او بیا په نیمه شپه له کوره ووتلم بیا عزیزی راغلو هغه شپه زه همداسې د سړک په غاړه ناست وم، هغه ما ته سګریټ ولګو او خبری وکړل بیا شموئیل راغلو څومره هغه وختونه اوس لری معلومیږی؟!

داسی لکه چی کلونه د هغه وخت څخه تیر شوی وی؟! عزیزی به اوس څنګه وی؟ ایا اعدام کړی به یې وی؟ یا د عمر قید به ورباندی لګیدلی وی؟ د هغه کارنامې دومره ډیر دی چې فکر نکوم د څو کالو بند ورباندی راشی، سل په سل ډاډمن یم چې یا اعدام کوی یا هم کم تر کم که قید ورباندی راشې د دیرش،څلویښت کالو قید ضرور ورباندی راځې، نه پوهېږم ولې خو زړه مې ورباندی سوځېده، د الفا خبری رایاد شول چې عزیزی ته یې حرموني وویلو، ایا رښتیا هم عزیزی کوم کورنۍ نلری او یتیم خانه کې لوی شوی؟ او برهان .. یعنی دواړه یو یتیم خانه کې لویان شوی وه چې عزیزی ورته ورور ویل؟ او دومره ورباندی ګران وو؟

یوه خبره چې تراوسه مې نشو هضم کولای هغه د عزیزی زارۍ کول وه هغه هم زما د ژغورولو لپاره؟! هغه تر اخری شیبې خپل پر مرګ و نه ډارشو د هغه یوازیني ډار چې درلود هغه دا و چې زه مړ نشم، او د هغه دا کار اوس ما ته عذاب وجدان راچولې وو فکر مې کاوه نمک حرامې او دوکه مې کړی، بد احساس مې درلود داسې لکه د شالخوا د یو نامرد ملګري پشان مې عزیزی پر څمکه وهلې .... خو ... خو نه هغه ... هغه یو قاتل دی هغه زما د سترګو وړاندی درې،څلور کسان ووژل زه نه باید پر هغه زړه وسوځوم په دی فکرونه مې غوښتل ځانته دلداری ورکړم او خپل عذاب وجدان کم کړم چې د ذوالفقار په غږ په خود راغلم ...

ذوالفقار- لاس دی راکه ...

بغیر د څه ویلو خپل لاس مې وړاندی ویوړ، ذوالفقار د غوسي وخت کې د کنټرول څخه وتلو او ما نه غوښت خدای مکړه د فرید د وهلو پشان وهل ورڅخه وخورم بلخصوص چې قسم یې هم راته اخیستي وو، ذوالفقار په تروش تندی د اب معدني د

بوتل سر خلاص کړو لومړۍ زما په وینو لړلې لاس ښه ومینځو د هغه وروسته د دسمال کاغذی د قوطي څخه یې څو دسمالونه راوویستل او زما لاس یې ورباندی وتړه ...

خو وینه بهیدل و نه دریدل او یوه شیبه کې ټول دسمال کاغذی زما د لاس په وینو سره شول، د دی حال په لیدو ذوالفقار په غوسه سر وخوځاوه او ویې ویل: ډېر پری شوی فکر کوم باید ډاکتر ته لاړشو حتماً کوک غواړی؟

خوله مې مخالفت ته جوړه کړه خو لا مې څه نه وه ویلې چې ذوالفقار په غوسه راوکتل او ویې ویل: که وهلو ته دی زړه شوی نو انکار وکړه طاها شابه ...

د هغه داسې غضبناک لهجي په اوریدو اتومات توګه مې خوله بنده کړل، ذوالفقار هم د سړک خواته مخ کړو لکه چې غوښتل یې موټر ونیسی؟ څکه دلته شاوخوا ما کوم نږدی شفخانه نه وه لیدلې د څو شیبو وروسته یو موټر و درید البته موټر ډیر لوکس وو یعني شخصي موټر ښکاریدو نه کوم ټاکسي؟! خو عجیب وه لکه چې مسافر بری کول؟ څکه ذوالفقار ورته د شفخاني آدرس ورکړو او بیا یې ماته د سپریدو اشاره وکړل زه هم بغیر د څه ویلو موټر ته پورته شوم، زما پسي ذوالفقار موټر ته راپورته شو او همدا چې دروازه یې د ځان پسي وتړل نو موتروان ته یې وویل:

ذوالفقار- خپل لخیره د موټر بخاری روښانه کړه ..
— په سترګو اوس یې روښانه کوم، داسې ښکاری چې ډېر وخت په سړک ولاړ واست؟ خیرت خو وو؟

ذوالفقار نه پوهېږم څه ځواب ورکړو خو ما خپل سترګي څلور کړل او د موټروان پسې مې وکتل، غږ یې اشنا وو؟ کله چې مخ مې ورڅخه ولید نو فکر مې وکړو چې فشار مې یو دم صفر شو، نفس مې سینه کې قید شو او د څو شیبو لپاره فکر مې کاوه زړه مې نه درزیږی؟! ولاړ وو پخدای چې زړه مې د مقابل کس په لیدو د څو

شیبو لپاره و دریږد، دا څنګه امکان لری؟ بوډا خو ویل مورِ د الفا او عزیزی د ډلې ټول کسان نیولې؟! نو بیا ... بیا غفار دلته څه کوی؟

یعنی زما پسی دی؟ چا راستولی؟ الفا که عزیزی؟ ضرور الفا راستولې ارسلان د مرګ مخکې وویل غفار د الفا جاسوس دی؟! که الفا راستولې نو مطلب الفا زندان کی نه دی؟ یعنې له زندان څخه تښتېدلی؟ یعنې اوس زما پسي دی؟ د ډېر وېرې،وحشت او استرس له لاسه د پوزی څخه مې وینه راتلل شروع شول چې زما څخه ژر د ذوالفقار فکر شو او یو څو دسمال یې زما خواته ونیول خو زما حالت دومره خراب وو چې یوازی غوښتل مې وتښتم ...

غوښتل مې د ذوالفقار لاس ونیسم او د دی منحوس موټر څخه ښکته شم او وتښتم مغزو کې مې زر رقم خبری تاو، راتاو کیدل ... الفا غفار زما پسي راستولې؟ او مورِ اوس د هغه موټر کې وو؟ او هغه بیغم روان وو تر څو مورِ ویسي الفا ته؟؟ خو زه یوازی نه وم؟! ذوالفقار؟!

په دی فکر فکر تازه په خود راغلم او د غفار خواته چې په شیطان مسکا یې د موټر له هینداری څخه زما خواته راکتل تقریبا چغه مې کړل: موټر ودروه ..
زما په ناڅاپه چغه ذوالفقار چې زما څنګ ته ناست وو او په تروش تندی زما د وینو لړلې پوزی ته کتل په حیرت یې له اوږی ونیولم او ویې ویل: څه شوی طاها؟

غفار په همغه شیطان خندا وویل: لا خو لاره پاتي ولې دومره تلوار؟!

خو ما د هغه غږ ته هیڅ توجه ونکړل د ډیر ویری او وحشت څخه مې بدن لړزیده دی خبری ته فکر کول چې غفار مورِ چا ته وړی زما زاره چول، خپل د دی دری هفتو لیدلی یو،یو خوب مې د سترګو وړاندی تیر شو هر خوب کې ذوالفقار راسره وو او اخر کی ... او اخر کی ... نه ... نه زه نه پریږدم داسی کوم کار وشي ..

ذوالفقار په اندیښني وویل: ولې داسي لړزیږی طاها؟ څه درباندی وشول؟

خو زه بغیر له دی چې د ذوالفقار خبرو ته غوږ ونیسم په یو ناځاپه حرکت کې مې د غفار مغزی له شالخوا راونیو زما په دی کار د ذوالفقار ورخطا غږ پورته شو ..

ذوالفقار- خدایه خیر ... طاها دا ته څه کوی؟ خوشی کړه اوس موټر ټکر کوی ...

ذوالفقار خپل د خبری سره سم زما اوږه کش کړل ترڅو ما د غفار څخه لری کړی خو ما غفار لاپسې کلک ونیو او په چغه مې وویل: موټر ودروه که نغواړی مړ شې نو موټــــر ودروه هلـــــ ...

غفار داسې حال کې چې کوښښ یې کاوه زما لاسونه خپل د مغزی څخه خلاص کړی په بند،بند لهجه وویل: که غواړې یو ارام مرګ ولری نو ما خوشې کړه او په کراره زما سره راشه کنه ...

مغزی مې ورڅخه لا پسې کلک ونیو او د لومړۍ ځل لپاره د وېرې لڅایه مې په غوسه ورته وویل: زما مرګ ستاسو پشان سپیانو په لاسونو کې نه دی خو ستا مرګـ..

لا مې خبره نه وه پوره کړی چې ذوالفقار په لوړ غږ تقریبا چغه کړل: موټــــر ودروه ....

نور پوه نشوم چې څه وشو یوه شیبه کې فکر مې وکړو چې هوا کې یم او د هغه وروسته په پوره زور د یو شې سره مې سر ولګید او بنګهاری شو، خو دومره پوه شوم چې موټر ټکر وکړو، څو شیبو لپاره نه مې کوم غږ واورید او نه مې هم څه احساس کړل خو څو شیبې وروسته د ذوالفقار په غږ چې ماته یې ناری وهل سترګي مې نیم کښې خلاصې کړل، تر اوسه مې صحیح غږ نشو اوریدلې د موټر شاوخوا د خلکو څخه ډکه وه ذوالفقار داسې حال کې چې د تندی او پوزی څخه یې وینه بهیدل زه یې د موټر څخه راوویستلم، راټول شوی کسانو څخه یو کس په زوره چغه کړل.

– امبولانس ته زنګ ووهې د موټروان حالت سم نه معلومیږی.

د هغه په غږ په همغه بد حال مې د غفار خواته وکتل بی هوښ وو، په سر کی د موټر ښیښه ننوتلی وه او وینه ورځخه بهیدل یو سړی خپل پټو د هغه په زخم نیولې وو خو وینه نه دریدل مقابل نفر موټروان کوم چې موږ ورسره ټکر کړی وو د هغه حالت هم چندان ښه نه ښکاریده خو ژوندی وو، که څه هم ګنګس وم او فکر مې کاوه کوم شې سم نشم لیدلې او دقه په دقه امکان لری چې بې هوښ شم خو بدن مې په اتومات توګه د خطر سیګنال راکوو او نه یې پریخودلم چې بې هوښ شم، موږ باید ژر تر ژره د دی ځای څخه لری شوو امکان لری د الفا کسان پر همدی شاوخوا وی ...

په دی فکر د ذوالفقار خواته چې په یو لاس یې خپل سر او په بل لاس یې زما اوږه نیولې وه وګرځیدم، البته زما اوږه یې زیاتر د تکیه کولو په پار نیولې وه ځکه حالت یې هېڅ ښه نه ښکاریده ...

- ذوالفقار موږ باید د دی ځایـ ...

لا مې خبره نه وه پوره کړی چې یو چا مې پر اوږه لاس کیخود، د هغه په دی کار بې اختیاره مې د خولې لاړی تېر کړل د ټکر وروسته د راټول شوی موجود کسانو زیاتر فکر د غفار او هغه بل موټروان خواته وو، نو بیا دا څوک دی چې زما خواته راغلو؟ لومړی فکر چې مې ذهن ته راغلو هغه دا وو چې د الفا نور کسان را ورسیدل؟ په دی فکر که څه هم خپل بدن کې مې د جنګ او مقاومت نور کوم توان او انرژی نه احساس کول خو بیا هم د فاعي حالت مې ونیو غوښتل مې همدا چې خبره تر ګواښ ورسیدل جنګ شروع کړم امکان یی درلود موجود کسانو کې یو کس مرسته وکړی او موږ ته د تښتیدلو لپاره لاره برابره شی؟

که یو ځل د دی ځای بچ شوی وایې بیا یې امکان وو چې د خلکو په شور ماشور کې مو ځانونه باسلی وایې، خو زما د هر کار د کولو مخکې یو اشنا غږ مې د غوږ څنګ ته وویل: زما سره راځه طاها دلته دی ځای امن نه دی ...

په تلوار د غرې د صاحب خواته وګرځیدم او د بوډا په لیدو د لومړۍ ځل لپاره دومره خوشحال شوم چې غوښتل مې غیږ کې ونیسم، فکر مې کاوه چې وژغورل شوو .. اصلاً دا خبره راته مهم نه وه چې هغه څنګه؟ او ولې دلته راغلې؟ همدا چې دلته وو زما لپاره د جنت زیری وو، بوډا په تلوار زما اوږه ونیول او داسې حال کی چی شاوخوا یی په مشکوک انداز کتل ویې ویل: د هغوی کسان همدی شاوخوا دی باید ژر لاړشو ..

بوډا د دی خبری سره سم غوښتل ما د ځان پسې د هغه شور ماشور څخه کش او وباسي خو ما د ذوالفقار خوا ته اشاره وکړل هغه نور پر پښو لا نشو دریدلې او وینه وه چې ټول کالی ورڅخه لړلې وه بوډا چې هغه ولید نو زه یې خوشې کړم او هغه یې د ځان سره کش کړو زه هم د هغوی پسې ګنګس او نشه،نشه روان شوم د سړک غاړې ته بوډا یو موټر ته اشاره وکړل او درې واړه په تلوار پورته شو د ذوالفقار د تندی څخه بیحد وینه تلل داسې چی ټول کالې ورته په وینو کړی وه او حالت یې بیحد خراب ښکاریدو مخ یې تک ژیړ شوی وو ما عمر کې نه یادیږی چې د ذوالفقار رنګ دې تر دی حد خراب شوی وی ...

بوډا موټروان ته چې ځوان هلک وو په کلک وویل: ژر حرکت وکړه.
ما په تلوار او اندیښنې وویل: شفخانې ته لاړ شه.

بوډا د مخکې سیټ څخه زما خواته راوکتل او ویې ویل: کوم ځای ته چې ځو هلته بهترینه ډاکټر شته نو آرام اوسیږه.

ذوالفقار همغه نیمه هوښیار حالت کې سترګې خلاص او بند کړل لکه چې فضا ورته ناشنا ښکاره شول؟ځکه همغه بد حال کې کوښښ وکړو ترڅو کښینې خو ما منع کړو او په تلوار مې وویل: مه کښینه حالت دی ښه نه دی ..

ذوالفقار په درد باندی خپل سترګې بند کړل او بیرته څملیده بوډا یو څو دسمال راکړل ما هم په تلوار ټول د ذوالفقار په مات شوی سر کیخودل چې هغه په کمزوری

غږ او نیم کښ خلاص سترګو وویل: موټر ټکر وکړو؟

- اوس ددی خبرو وخت نه دی.
ذوالفقار- تا موټروان پیژندو؟

څه مې ونه ویل چې ذوالفقار په همغه ګنګس او خراب حالت کې خپل تندی تروش کړو او په داسې غږ چې بیخې سم نه اوریدل کیده وویل: هغه څوک وو طاها؟

نه پوهېدم څه ورته ووایم؟ زه پخپل هم ګنګس او حیران وم، بوډا خوا ته چې دوه سترګي زمونږ پر خوا وه ومې کتل زما د نظر په لیدو هغه کرار وویل: ډیر خبری ویلو ته لرو ..

غوښتل مې ورڅخه پوښتنه وکړم چې ایا خبر دی الفا زما پسې نفر راستولی؟ خو دا پوښتنه کول راته غلط ښکاره شول، ځکه ځواب یې ډیر واضح وو، هغه خبر وو چې اوس دلته وو ... په همدی ذهني کش،مکش کې مې د ذوالفقار خواته فکر شو چې سترګي ترلی وه او نور څه یې نه ویل، ورخطا شوم څو ځله مې وخوځاوه خو هیڅ ځواب یې رانکړو د هغه په ځواب نه راکولو ناساپه په ژړا شوم زما د ژړا په لیدو بوډا لومړی په موټروان چغه کړل ترڅو ژر روان شي بیا یې ما ته وویل: څه نه دی شوی طاها، ښه دی یوازی بې هوښ شوی ..

شاید بوډا صحیح ویل خو زما باور نه راتلو د ذوالفقار مخ،ږیره،ګریوان او حتا د سر ټول ویښته یې پر وینو وه او دا ټول زما له لاسه ... په ژړا مې غیږ کې کلک کړو بوډا څو نور دسمالونه هم راکړل تر څو زه خپل مات شوی سر وتړم خو ما هغه هم د ذوالفقار په تندی کیخودل، د چپ وریځي پورته تندی زخمي شوی وو او ډیر هم زخمي وو داسې ډیره وینه ورڅخه روانه وه چې د دریدو نوم یې نه اخیست د هغه د دی حال په لیدو خپل ژړا مې هېڅ ډول نشو کنټرول کولای ...

- دا ټول زما له لاسه ذوالفقار ... کاش ستا لځایه زه داسې زخمي شوی وایې، خو ته ښه وایې ...

بوډا- دومره آرمانونه مکوه ستا حالت هم د هغه څخه چندان ښه نه دی، خو حیران په دی یم چې ولې نه بې هوښ کیږی؟!

ما ته هم عجیب وه! زه تر اوسه ولې نه وم بې هوښ شوی؟ کوم ټک چی ما وخوړو فکر مې کاوه د سیني هډوکې مې یو ځل بیا مات شوي داسې مردار درد یې کاوه، د لاس څخه خو مې له اول وینه روانه وه په هغه ټکر کې مې سر هم مات شوی وو او ما یی وینه تلل احساس کولای شو خو د دی دومره درد او وینه تللو باوجود زه تر اوسه پر هوښ وم! یوازیني دلیل یې شاید زما په نظر ذوالفقار وو؟ د هغه د خراب حال په لیدو ما خپل درد لیاده ویستلې وو ...

نه پوهیږم څومره وخت تیر شوی وو چې بلاخره موټر و درید او بوډا په تلوار زموږ خواته راغلو دومره ګنګس او اندیښمن وم چې هېڅ شاوخوا ته مې فکر نشو ټول هوش او حواس مې یوازی د ذوالفقار خواته وو، بوډا ماته اجازه رانکړل ذوالفقار ونیسم او پخپل یې یوازی ځان ذوالفقار له موټر وباسو او د کور پخوا روان شو، ما چی هم یوازینې توره وکړل هغه خپل ځان رسول د هغوي پسي وه کوم ځای ته چی بوډا راوړی وه هغه کوم شفخانه یا کلینک نه وو؟! کور وو ... خو دا چې د چا کور وو پوه نشوم ..

زموږ د ننوتلو سره سم دوه کسان مو مخي ته راغلل لومړی جنرال .. او دویم هم همغه ځوان ډاکټر چې زما علاج یې کړی و او ډیر یې هم ټینګار کاوه چې ما شفخانه کی وساتي، زموږ په لیدو ډاکتر د بوډا مرستي ته راودانګل او ذوالفقار یې یو کوټي ته ننباسلو زه هم وریسي وم همدا چې ذوالفقار یې څملو ډاکټر یې په زخم کتلو لګیا شو ...

ډاکټر- باید موضوعي بې حسې ورته ووهم، زخم یې کوک غواړي که څه هم بې هوښ دی خو امکان لری د کوک وهلو وخت کې پر هوښ شې؟
بوډا- ته ډاکتر یې هر کار چې کوی وکړه، زما څخه څه مشوره اخلې؟
ډاکټر- سمده نو هغه پیچکاری خپل لخیره ما ته راکړه ..

زه د کوټې کونج کې ولاړ وم او د اوښکو ډکه په ډک نظر د هغوی خبرو ته مې غوږ نیولې وو چې جنرال مې په اوږه لاس کیخود او ویې ویل: د دی حالت لپاره زه درڅخه بخښنه غواړم موږ باید تاته خبر درکړی وایې ...

دومره د ذوالفقار د حالت په اړه مې فکر خراب وو چې هیڅ پوه نشوم جنرال څه وویل؟ هغه چی هم زما خراب حالت ولید نو بوډا ته یې وویل: ژر کوی فکر کوم د ده حالت د هغه څخه بتر دی ..؟

د جنرال په دی خبره ډاکټر چی لګیا وو د ذوالفقار د تندی زخم شاوخوا یې بیچکاری تزریق کول غوښتل زما خواته راشی چې ما په تلوار وویل: نه ... نه ... هغه وګوره ... زه ښه یم د هغه حالت ښه نه دی ..

ډاکټر څو شیبی و درید د هغه وروسته داسې حال کی چې خپل کار یې په تلوار کاوه ویې ویل: تشویش مکوه دومره غټ زخم نه دی، کاکا دی ښه دی.
- خو د سر څخه یې بیحد ډیر وینه ولاړل، کاش یو شفخاني ته تللې وایی باید د سر عکس یی واخلو، هسې نه سر ته یې کوم زیان رسیدلی وی؟

ډاکټر- نه، فکر نکوم چی دومره کلک ضربه دی لیدلې وی او دا وینه تلل عادی خبره د،ه سر د بدن یوازی غړی دی چی په بیحد کوچني زخم باندی هم ډیر وینه کوی نو مه ورخطا کیږه.

که ووایم په کوټه کې د موجود هیچا په خبره مې باور نه درلود نو دروغ به نه یې، فکر می کاوه ټول راته چل راکوی، زړه مې غوښت ذوالفقار یو سم شفخانه او ډاکټر ته ویسم خو بدبختانه چې نه زه په چنداني ښه حالت کی وم او نه هم د باندی فضا مناسبه وه، الفا زما پسی وو، نه پوهیږم تر کله به د ذوالفقار څنګ ته ولاړ وم او د هغه د تندی زخم ته مې کتل چې ډاکتر لومړی زخم پاک کړو د هغه وروسته په حساب څلور کوک یې ورکړل او بیایې کوکونه ورته په پلستر وتړل خو دومره پوهیږم کله چې ډاکتر وویل: ښه نو اوس نو ستا نمبر دی ...

پر ځان پوه نشوم او ټول شیان می د سترګو مخکې تیاره شول ...

***

په سینه کې مې د شدید او نه زغمیدونکې درد له لاسه سترګي خلاصي کړل، د درد له لاسه مې ستمي کاوه ټول بدن مې د خولې څخه ډک وو،د سیني د درد له لاسه مې صحیح ساه نشو اخیستې په درد باندی مې لاس په سینه کیخود او بې اختیاره مې "اخ" له خولې ووت به درد باندی مې بیرته سترګي وتړل چې یو څو ناشنا او ګنګس خاطرې مې د سترګو وړاندی تېر شول الفا زما پسي غفار راستولې وو؟ موټر ټکر وکړو ... ذوالفقار ... بوډا ... په تلوار مې سترګي خلاصي کړل او په همغه نه زغمیدونکي درد کوښښ مي وکړو لځایه پاسیږم، ذوالفقار چیرته دی؟ په څه حال ... دی؟ اخری ځل مې چې ولیدو ډاکټر یې د سر په زخم لګیا وو

په زحمت باندی لځایه پاسیدم کوم کوټه کې چې زه وم هلته یوازی دوه دري نالې هوار وه او د کړکۍ څخه د لمر وړانګي راتلل او دا یې په ډاګه کول چې هغه منحوس شپه نور ختم شوی خو زما لپاره تر څو چې ذوالفقار مې پخپل سترګو روغ او جوړ نه وایې لیدلې هغه منحوس ساعت نه وو خلاص شوی .. په ګنګس او نامتعادل ګامونو د کوټې د دروازی خوا ته روان شوم خو لا مې لاس د دروازی د لاستي خواته نه وو وړی چې دروازه پخپل خلاصه شوه او جنرال د دروازی په چهار جوکاټ کې و درید زما په لیدو یې کرار وویل:

– بلاخره راویښ شوی؟ ولې پاڅیدلې یې؟ ډاکتر ویلـ ...

په تلوار یې د خبری منځ کې وولیدم او ومې ویل: ذوالفقار څنګه دی؟ چیرته دی؟ غوارم ویې ګورم.

لکه چې د ذوالفقار نوم چندان د جنرال په مزاج ښه ونه لګید چې تندی تروش کړو او داسې حال کې چې ما ته یې د کښیناستلو اشاره کول ویې ویل: کښینه،خبری به وکړو.
- نه ... زه غواړم هغه وګورم.

جنرال په همغه تروش تندی کوټې ته راننوت او بغیر له دی چې ما ته کوم توجه وکړی په نالې کښیناست او ویې ویل: که دلته وایې نو لیدلې به دی وایې ..
په تلوار او اندیښنی مې وویل: څه مطلب که دلته وایې نو لیدلی به مې وایې؟

ناساپه دا فکر مې ذهن ته راغلو چې شاید د سر زخم یې بیحد خطرناک وو او خدای مکړه کوم څه ورباندی شوی؟ په دی فکر مې ټول بدن له وېرې ولړزیده او تقریبا په ژړېدونکي لهجه مې وویل: څه وربانډی شوی؟ ډ ... ډیر ح ... حالت یې ... خراب وو؟ چیرته مو واستو؟ چیرته دی؟

جنرال په پوسخند وویل: اووو په کلاره، زما او ستا څخه یې حالت ډیر ښه وو، ستا د بې هوښ کیدلو یو ساعت وروسته په هوښ راغلو ...
- نو .. نو اوس چیرته دی؟ که په هوښ راغلې چیرته دی؟
جنرال څو شیبی په زیر نظر راوکتل د هغه وروسته یې وویل: راشه کښینه په پښو نشې دریدلې ...

د هغه په دی خبره مې خپل ځانته فکر شو د رښتیا هم دریدلې نشوم او د دیوال په نیولو تراوسه په پښو ولاړ وم، په بیحد ناتواني هملته د دروازی څنګ ته په هوار کړې نالې کښیناستم چې جنرال وویل: کاکا چې دی په هوښ راغلو لومړۍ خو یې ستا پشان لیونتوب کاوه او ستا پوښتنه یې کول کله چې ته یې ولیدلې او ستا د حالت څخه ډاډمن شو نو شکونه او پوښتني کول یې شروع شول تر دی چې موږ مجبور شو رښتیا ورته ووایو ...

سترګي مې کلک وتړل وای .... وای .... نه .... نه .. بلاخره ذوالفقار خبر شو، هغه هم په دومره بد توګه؟ ما غوښتل پخپل ورته د دی خبرو په اړه ووایم ... البته اوس نه، ما غوښتل څو کال وروسته کله چې په هغه پیسو او طلا مې تجارت شروع کړی وو او یو ارام ژوند مې ځانته جوړ کړې وو، هغه وخت ورته دا راز د یو خاطری پشان تعریف کړم نه په دی ډول .... نه په دی ډول چې هغه او ځان تر مرګ ویسم او داسې حال کی چی اخری نفسونه اخلو او یو مافیایي قاتل راپسې دی ورته دا خبره وکړم، لعنت دی وی .. لعنت دی وی ... ذوالفقار ما ضرور مړ کوی ... خو ډیر ژر مې دا فکر ذهن ته راغلو چې ما دی مړ کړی خو شکر چې هغه ښه دی ... هو شکر چې هغه ښه دی ... د جنرال په غږ مې وروکتل.

جنرال- زه پوهیدم چې د دی خبرو څخه د خبرویدو وروسته کاکا دی ضرور یو وحشیانه ریکش ښایي، څه ناڅه په دی څو کال همسایه توب کې مې پیژندلی وو، خو فکر می نکوه چې تر دی حـــد دی لاړ شي ...
- ولې څه یې کړی؟
جنرال په تروش تندی او غوسه وویل: څه یې کړی؟ یعنې که ستا کاکا نه وایې او د هغه څو کال همسایه توب لیاظ نه وایې او دا حالت نه وایې، نو داسې کار به مې ورسره کړی وایې چې عمر کی نور جرئت نه وایې کړی چې د دولت په یو مامور لاس پورته کړی ...

په حیرت مې وویل: په چا یې لاس پورته کړی؟

د هغه خواته زیر شوم باور مې نه راتلو یعنی ذوالفقار د جنرال سره جنګ کړی؟ زما د زیر نظر په لیدو هغه په تروش تندی وویل: هو صحیح ګمان دی کړی، غوښتل یې ما ووهي ... خو نقیب یې مخه ونیول او دواړو جنګ شروع کړو ..

دا ځل نو رسماً خوله مې د حیرت خلاصه پاتي شوه ذوالفقار د بوډا سره جنګ کړی وو؟ او وهلې وو؟ اوس چیرته دی؟ هسی نه د هغه د وهلو پخاطر یې په هغه زخمي حالت باندی زندان ته اچولې؟

@Shuhab09

په دی فکر په تلوار می وویل: اوس چیرته دی؟ تا ... تاسو خو هغه زندان ته نه دی اچولې؟

جنرال- زره خو مې ډیر غوښتو چې نور که نه وی د یو څو میاشتو لپاره خو یې هلته نناسم تر څو لږ عقل یی سر ته راشې، خو ومې ویل کنه متاسفانه چی په راپیښ شوی شرایطو کې داسی کار نشم کولای ..
- نو ... نو اوس چیرته دی؟

جنرال- تللې تر څو خپل کډه رابار کړی ..
په ګنګس انداز مې وپوښتل: څه وکړی؟

جنرال- خپل کور رابار کړی ..
- چیرته یې رابار کړی؟
جنرال- ستا د بې هوښي وخت کې ډیر خبری پورته ښکته شول د هغه خبرو او جنګ وروسته چې ستا کاکا او نقیب وکړو کښیناستو او دی نتیجې ته ورسیدو چې په دی شرایطو کې بهترینه کار دادی چې تاسو زموږ تر نظر لاندی اوسیږی ...

اصلاً نه پوهیدم چې جنرال څه لګیا دی؟ او د څه په اړه خبری کوی؟ زه اصلا تر اوسه په دی خبری نه وم پوهېدلې چې غفار پرون ماښام د ذوالفقار دوی د کور مخکې څه مرګ غوښتل؟ او چا راستولې وو؟ که الفا راستولی؟ نو آیا الفا د زندان څخه تښتیدلی؟ او که تښتیدلې نو دوی ولی ما ته د دی په اړه خبر نه دی راکړی؟

- یو دقه تاسو صبر وکړی، زه نه پوهیږم تاسو څه وایست؟ تاسو دا ماته ووایست چې پرون ماښام غفار ولي زما پسي وو؟ چا راستولې وو؟ الفا چیرته دی؟ او هو ایا تاسو زه د نظر لاندی نیولی وم؟ ولې مو د نظر لاندی نیولې وم؟ ځکه بوډ( ژر مې خپل خوله بنده کړل او ومې ویل: مطلب مې جنرال نقیب همغه دقه څنګه هلته راغلو؟ اخر روان څه دی؟ او هو د هر څه د ویلو مخکې هیله لرم چې د هغه منحوس ماموریت کار مه کوی چې بغیر د کوم اطلاعاتو مو د قرباني د غوا پشان میدان ته

ګوزار کړم، د پرون ماښام د پیښی وروسته دا موضوع یوازی ستاسو نه ده دا زما د ژوند موضوع هم ده نو زه پوره حق لرم چې کامل معلومات حاصل کړم چې اخر روان څه دی؟

زما د خبرو وروسته جنرال څو شیبی په چوپتیا کې د کوټې غالي ته نظر ونیوو د هغه وروسته یې په نیولې او څه ناڅه غوسه ناک لهجه وویل: څنګه چې زموږ پلان وو کارونه هغسې مخکې لاړ نه ..
په تلوار مې وویل: خو جنرال نقیب ویل هر څه همغسې شوی څنګه چې ستاسو پلان وو؟

جنرال- اوس چې دی وویل څه درڅخه پټ نکړم نو سم غوږ شه، تا چې کله زنګ ووهلو او خبر دی راکړو چې الفا او د هغه ټول کسان یوزای راټول شوی او د هغوی د نیولو بهترینه فرصت دی نو موږ د عملیات لپاره چمتو شو خو کوم آدرس چې تا راکړی وو هغه زموږ د حوزی څخه ډېر لری وو نو نقیب مجبور شو د همغه شاوخوا حوزی د پولیسانو څخه غوښتنه وکړی چې ځان تر تا در ورسوی، خو بدبختانه د هغه حوزی امر زما سره د ډېر پخوا راهیسې په یو موضوع باندی چپ دی ... مطلب چندان یو دبل د رنګ څخه مو ښه نه راځې ...

خو ستا لپاره موږ د هغه څخه مرسته وغوښتل البته موږ فکر کاوه چې هغه به یوازی خپل پولیسان ستا مرستي ته واستوی خو خبره هغه وخت خرابه شوه چې هغه پخپل شخصاً تر هغه ځای راغلو، موږ الفا او د هغه د باند ټول ډلې ته داسې پلان جوړ کړی وو چې همدا چې ورباندی حمله مو وکړل نو هغوی به وژنو (جنرال زما خواته چې په توجه مې د هغه خبرو ته غوږ نیولی وو راوکتل او بیا یی خپل خبرو ته دوام ورکړو او ویې ویل: موږ دا څو کال چې په دی ماموریت کار کاوه په یوه خبره مو سم صحیح سر خلاص شوی وو او هغه دا چې الفا ژوندی نیول او زندان ته اچول بیعقلې ده ..

ځکه هغه دومره رابطې او کسان دننه په دولت کې لری چی ساتل یې په زندان کی امکان نلری، نو ځکه د اول ورځې څخه پلان همدا وو چې الفا او حتا عزیزی که راګیر شول نو سم دلاسه باید ووژل شې خو بدبختانه د هغه کس له لاسه موږ ونشو کړی الفا و وژونو، ځکه هغه زما سره د هغه پخواني کینې او ضد پخاطر د ځان څخه د حقوق بشر مرستیال جوړ کړو او موږ یې وګواښولو که الفا مړ کړو نو دا به جرم او جنایت وی او زموږ پر خلاف به عریضه کوی،ځکه الفا تسلیم شوی او د تسلیم شوی کس وژل قانونن منع دی ...

د هغه دا بیځایه خبرو موږ مجبور کړو الفا زندان ته ویسو خو بیا هم امید مو زندان کی وو چې هلته به پر یو بهانه یې ووژنو خو نه پوهیږم څنګه امکان لری خو زموږ امریت او حوزه کې د هغه کسان وه...

په حیرت می وویل: س ... ستاسو حوزه کې د هغه کسان وه؟
جنرال- هو، خو په دی نه پوهیږم چې ایا دا کسان اوس تازه د الفا سره کار پیل کړی که نه د پخوا راهیسې ورسره دی؟ خو هر څه چې دی موږ خپل په ټول توان الفا یوازی دوه هفتي زندان کی وساتلي شو ..
- څه مطلب دوه هفتي؟ یعنی اوس الفا تښتیدلی؟
زما په دی خبره جنرال په پوسخند وویل: تښتیدلې؟ کاش تښتیدلی وایې، هغه وخت خو پر خوا به مو جوړه وایې او ویل به مو چې وتښتیدو ... خو ... هغه .... هغه په رسمی توګه آزاد شو .

تقریبا د ډېر حیرت څخه په چغه مې وویل: څه آزاد شو، هغه دومره جرمونه او قتلونه، څنګه امکان لری آزاد شی؟ دی مګر د مافیا مشر نه وو؟ مګر غیر قانوني توګه یې د وسلو قاچاق نه کوو؟

جنرال سوړ اسویلي وویست او ویې ویل: د پیسو زور ډیر بد وی طاها ... هغه د پیسو په زور ځان بیګناه ثابت کړو او دا ټول جرمونه یې په عزیزی واچول ..
په خلاصه خوله د حیرت مې وویل: عزیزی ... نه ... دا نو څنګه امکان لری؟

جنرال- موږ د همدی خبرو لپاره هغه تر زندان او د محکمی تر میز نه راکش کاوه، هغه دومره مکار او چلباز دی چې کولای شی په دوه دقیقو کې هر نفر د پیسو په زور خپل پر خوا کړی یوه هفته کیږی هغه آزاد شوی، کله چې آزاد شو ما خو هېڅ فکر نه کوو چې هغه دی وغواړی ستا خوا ته راشې، خو نقیب پر تا وېرېدی او ګمان یې کاوه چې الفا به ستا خواته راشې نو ځکه ستا د کاکا کور یې د نظر لاندی ونیولو

او دوه ورځې مخکې د هغه اټکل صحیح ثابت شو، ځکه زموږ کسانو غفار ستا د کاکا د کور شاوخوا لیدلې وو، زه بخښنه غواړم، موږ باید همغه وخت تاته خبر درکړی وایی ترڅو تا خپل فکر نیولې وایې خو موږ ویل چې ستا خبریدل یوازی ستا د ویرېدلو سبب کېږی نو ځکه بغیر له دې چې تا خبر کړو خپل امنیتي تدابیر مو ډېر کړل، خو پرون ماښام ناساپه تاسو په هغه بد حال له کور راووتلې او له بلخوا غفار د هغه راپیښ شوی حالت څخه ګټه پورته کړل او غوښتل یې تاسو اختطاف کړي ..

البته زموږ کسان د سایي پشان ستا پسې وه، که تا هغه کار نه وایې کړی او موټر ټکر نه وایی کړې، نو انکان یې درلود غفار ته د الفا خواته وړی وایي ... که داسې کار شوی وایې نو موږ کولای شو هملته د الفا کار ورخلاص کړو بهانه مو هم ښه پخه په لاس کی وه د اختطاف موضوع وه ...

څو شیبې په چوپتیا کې مې د جنرال خواته وکتل او کوښښ مې وکړو تر څو دا دومره نوی اطلاعات چې ناساپه مې اوریدلې خپل مغزو ته انتقال او هضم کړم، الفا بیګناه او نیک وصالح د زندان څخه آزاد شوی وو او د هغه ټول جرمونه په مفت خیټه په عزیزی لګیدلی وه او د هغه د اعدام کیدلو شانس یې سل په سلو کړې وو، له بلخوا دوی خبر وه چې الفا زما پسې دی او دا څو ورځې غفار د ذوالفقار کور زما د راګیر کولو لپاره د نظر لاندی نیولې

او په دی خبره جنرال او بوډا دوي خبر وه خو ما ته یې څه نه ویل، د هغه څخه لاېتر دا چې دوی شاهیدان وه چې غفار موږ لځان سره ورلو یا په بل قول غوښتل یې موږ اختطاف کړی خو دوی کوم کار ونکړو، بلکې په تمه وه تر څو زه تر الفا

ورسیږم او بیا دوی میدان ته راشی؟! یعنی دوی غوښتل زما ځخه د یو طعمې په توګه کار واخلې؟

په دی فکر د غوسی ځخه مې غاښونه وچیچل او ومې ویل: یعنی تاسو غوښتل زه تر الفا ورسیږم او بیا تاسو مرستی ته راشی؟ یعنی تاسو غوښتل نه یوازی زما بلکې زما د کاکا د ژوند په سر هم قمار ووهی یوازی د الفا د نیولو لپاره؟

جنرال- نه، داسې نه ده مورِ الفا ته دا اجازه نه ورکول چې تاسو ته کوم زیان ورسوی ...

یعنې دوي زه د زمری خولې ته اچولم او بیا دا امید یې درلود چې زمری ما ونخوری؟ په پوسخند مې وویل: تاسو اجازه نه ورکول؟ مګر هغه ستاسو د اجازی په تمه دریدو؟ تاسو زما او د ذوالفقار ځخه د یو طعمي په توګه غوښتل کار واخلې ترڅو الفا په لومه کې واچوی او راګیر یې کړی؟ خو ایا یو ځل مو هم دی خبری ته فکر وکړو که تاسو په وخت را ونه رسیږی یا کوم بل کار وشي بیا څه؟ بیا به څه وشی؟ یعنې تاسو ته زمورِ ژوند دومره هم ارزښت نه درلود؟

نو ستاسو او د الفا تر منځ فرق څه وشو؟ هغه هم خپل د غوښتنو د پوره کولو لپاره ځناور کیږی او خلک وژني او تاسو هم ... یوازی فرق مو په دی کیدی چې تاسو یې د دولت په نوم او د دولت د سیوری لاندی وژني خو هغه بیا د مافیا او مجرم په نوم ...

زما په دی خبره جنرال د غوسي ځخه تک سور شو او غوښتل یې کوم څه ووایې چې د کوټي دروازه خلاصه شوه، زه ځکه چې د دروازی ځنګ ته وم نو د دی لپاره چې وګورم څوک راغلو مجبور شوم یوسلواتیا درجې سر وګرځوم خو لا کامل سر مې نه و ګرځولې چې ذوالفقار په تروش تندی کوټې ته رانوت د هغه په راتلو جنرال ځایه پاځید او داسې حال کې چې له کوټي وتلو په طعنه لرونکي لهجه وویل: ما ستا په سر نه قمار کړی او نه مې هم چل درکړی دا ته پخپل وی چې حوزی ته راغلې او ماموریت دی ومنلو ما خو په زور نه وی مجبور کړی چی اوس داسي غوسه یی ..

جنرال دا خبره وکړل او د ذوالفقار د ځنګ څخه چې د ډیر غوسي یې خپل غاښونه چیچل تیر شو،پدر لعنت دا خبره له قصد وکړل ترڅو له یوه خوا د ذوالفقار د غوسي اور ته تیل وشیندی او له بلخوا ځان بیګناه ثابت کړی او ذوالفقار ته ووایې چې زه د هغه پسي تللې وم نه هغه زما پسي؟! او د ټولو څخه مهم غوښتل یې په دی خبری ما ته ووایي چی هر کار چې راباندی کیږی حق مې دی ځکه د سل لک پیسو حرص مې کړی وو، او لعنت دی زما په حرص شې ... لعنت ...

په غوسه مې خپل سترګی وترړل لعنت دی په شیطان وی ما څنګه په دی مکار،شیطان باور وکړو؟ البته دا اول ورځ څخه مې په ده دومره باور نه درلود او پوهیدم چې ستونزمن وخت کې راته شا کوی او یوازی مې پریږدی، خو د بوډا څخه مې هیڅ دا توقع او امید نه درلود، هغه څنګه داسې یو کار کولای شو؟ هغه څنګه زما او د ذوالفقار د ژوند په سر دومره ریسک اخیستلې شو؟ هغه خو د اصولو او قوانینو ډیر پایپند انسان وو، بیا ولې داسی یو کار وکړو؟ له دی چی زما څخه د الفا د راګیر کولو لپاره د یو جال او طعمی په توګه کار اخیستل شوی وو سخت مې زړه کوفت کړی وو، د ذوالفقار په غږ د هغه خوا ته مې وکتل ...

ذوالفقار- ولې؟

بغیر د څه ویلو مې وروکتل د هغه د خبری په مطلب پوه نشوم، څه ولې؟ هغه دروازه تړلې وه او تقریبا زما ځنګ ته ولاړ وو، د دی لپاره چې ښه یی ووینم سر مې لږ پورته کړو،نوی کالې اچولې وه د پرون ماښام هغه په وینو لړلې کالې نور نه وه اغوستي، د چپ سترګي له پاسه یې هغه څلور کوکونه ما ته داسې بریښدل لکه چې زما سره خبری کوی او وایي دا ستا د غلطي له لاسه ... دا ستا ګناه وه خو سزا یې ما ته راورسیدل ... هغه شاید په ظاهر یو عادی زخم او عادی څلور کوک وه،خو ماته هر کوک یې د زر مرمۍ د داغ څخه په کمه نه ښکاریدو ...

حاضرو وم سل مرمۍ وخورم خو هغه څلور کوک زما د کارونو او غلطیو له لاسه د ذوالفقار په تندی و نه اوسیږی، زور چې راکوو او زړه مې چی درد کوو په همدی

خبرى وو چې دا زخم او کوکونه زما له لاسه د ذوالفقار په تندی دی زه ملامت وم، پوهیدم چی نن د وهلو ورځ مې ده او چندان راته مهم نه وه برعکس پخپل مې هم ډېر زړه غوښت نن د ذوالفقار د لاس ښه جوړ وهل وخورم، دومره وهل وخورم ترڅو په پوست او هډوکو دا خبره احساس کړم او پوه شم چې ما څومره غلط کار کړی وو، خو زما د انتظار برعکس ذوالفقار د وهلو لځایه زما مخې ته کښیناست او ویې ویل:

ذوالفقار- پوهیږی طاها زه د اول ورځې پوهیدم چې ته ضرور یو داسې کار کوی چې د ژغورلو لځایه نور هم ځان په مشکلاتو کې ننباسي دا ستا د ماشومتوب څخه عادت دی د یو ستونزی څخه د وتلو لپاره د هغه څخه لا غټ ستونزه ځانته جوړوی، خو فکر مې نه کوو چې تر دی حد مخکې لاړ شې چی خپل د ژوند په سر قمار ووهې او د یو ګوردی او څو لکو افغانیو لپاره نه یوازی خپل ... بلکې خپل د ټول کورنۍ ژوند په خطر کې واچوی ...

په شرم باندی مې سر لاندی واچو هیڅ خبره مې کولو ته نه درلود، زه تر همدی حد جاهل او بیعقل انسان وم ما تل خپل په بیعقل کارونو نه یوازی ځان بلکي ذوالفقار هم بدبخت کړی وو، زړه مې غوښت څمکه سوری شې او زه پکې ننوځم خو دا خبری وا نه ورم، غټ ترینه آرمان مې په دی حالت کې دا وو چې ذوالفقار د خبرو لځایه د تل پشان خپل د لاسونو څخه کار واخلي او ښه جوړ لکه خر پشان مې ووهې، حاضر وم وهل وخورم خو دا خبری وا نه ورم د ذوالفقار داسې خبرو د هغه د وهلو څخه ډېر درد درلود ...

د ذوالفقار په غږ خپل د فکرونو څخه راووتلم: خو پوهیږی طاها؟ زه په دی خبرو نه یم غوسه چی تا ولې دا کار کړی؟!

په حیرت مې وروکتل څه مطلب په دی خبرو نه دی غوسه؟ نو په څه غوسه دی؟ ذوالفقار ژوره ساه واخیستل او بغیر له دی چې زما خواته وګوری ویې ویل: ځکه نه یم غوسه ځکه زه تا پیژنم طاها او پوهیږم هغه وخت چی تازه د هغه کیسو څخه

خبر شوی وی او پوهیدلې وی چې لالا دویم واده کړی او اصل کې ته د هغه د دویم ښځې زوی یې او هغه نور بیځایه خبری پوهیږم چې الله اعلم تر کوم حد رښتیا او دروغ دی، پوهیږم د هغه د اوریدلو وروسته تا ضرور په ساعتونو،ساعتونو د ځان سره په زرګونه منفي فکرونه کړی تر دی حد چې مجبور شوی د هغه فکرونو څخه د خلاصیدو لپاره وتښتي

خو هلته هم قسمت درسره یاری ونکړل او اقرا مریضه شوه، زه اصلاً هغه وخت ته فکر لا نشم کولای چې هغه ورځ به ستا څه حال وو کله چې د هغې ګورده یې ویستل(د ذوالفقار په دی دومره ژور او منطقی فکر لا شرم راغلو هغه زما دا ټول احساسات او حالات درک کړی وه او دومره په ښه توګه یې زما د هغه وخت احساس بیان کړو چې ما لا نشو بیان کولای، ذوالفقار راوکتل او خپل خبرو ته یې دوام ورکړو او ویې ویل: زه ستا دا ټول احساسات درک کولای شم او پوهیږم هغه وخت تا ضرور د ډیر ورخطای او ویرې څخه لاره ورکه کړی وه چې د دی خبیث جنرال داسی یو احمقانه وړاندیز دی منلې وو .. خو پوهیږی طاها زه غوسه او .... او خفه په څه یم؟!

بغیر د څه ویلو مې وروکتل چی ذوالفقار په بیحد احساساتي لهجه وویل: خفه په دی یم او زور دا خبره راکوی چی تا ... تا په یو داسې کس چې نه یې پیژنی ... نه دی ژوند ورسره تیر کړی ... نه حتا ستا خپل دی باور کولای شې او د مرستي لاس اوږد کولای شې او د هغه وړاندیز ته چې سل په سل مرګ ورسره ترلې غاړه کیخودلې شې، خو پر ما ... پر ما ... چی ... کاکا ... نه ...نه ... زه یوازی ستا کاکا نه یم ... ځکه ما ته پخپل لوی کړی خپل د ماشوم پشان ... کلونه مو یو دبل سره ژوند تیر کړې او د ژوند په هر پړاو کې زه درسره وم ... خو ... خو تا د دی دومره خبرو با وجود جنرال ته پر ما اولویت ورکړو ... تا ته هغه د اعتماد او مرستي غوښتلو وړ کس ښکاره شو خو زه نه ...

یعنې تا ما ته د یو بیګانه کس په اندازه لا ارزښت رانکړو او د دی لځایه چی زما څخه مرسته وغواړی یو بیګانه کس ته دی د مرستي لپاره لاس اوږد کړو، پوهیږی ستا دا کار ما ته څومره زور راکړو؟ زور یې ځکه راکړو او خفه ځکه شوم ځکه ... ځکه ... ته ماته زما د ژوند د ټولو کسانو څخه نږدی،ګران او ارزښتمن یې طاها ... خو ... خو تا ته زه حتا د یو بیګانه کس په اندازه لا ارزښت نلرم ....

د ذوالفقار خبري او لهجه دومره نامید کوونکي او خفه وه چې ما بې اختیاره په تلوار وویل: نه ... نه داسې هېڅ کوم خبره نه وه ذوالفقار هغه ...

خو ذوالفقار بغیر له دی چی زما خبرو ته غوږ شې په تلوار لځایه پاسید او داسي حال کې چې د کوټي د دروازی خوا ته تلو ویې ویل: تر ماذدیګر د کور سامان او شیان ځای پر ځای کیږی بیا راشه ...

دا خبره یې وکړل او بیا بغیر له دی چی زما خبری ته غوږ شي له کوټی ووت او دروازه یې کلک بنده کړل ... خدایه ما څه وکړل؟ د هغه یوه، یوه خبره مې ذهن کې ګرځیدل د هغه نامید او خفه څهره مې د سترګو له وړاندی نه لری کیدل، ما عمر کې ذوالفقار تر دی حد عاجز،خفه او غمژن نه وو لیدلې هېڅکله هم نه ... تل مې غوسه، قهرجن او د وهلو حال کی لیدلې وو خو نن ..؟! کاش نن هم همغسی وایې ..کاش نن یې هم وهل کړی وایې کنځل او ګواښونه یې کړی وایې خو ... خو داسی فکر یې زما په اړه نه وایې کړی ... کاش ... کاش یوه شوی وایې چې ټول فکرونه یې غلط دی او پر ما خپل د ځان څخه لا ډیر ګران دی زه مګر د هغه بغیر نور څوک لرم ژوند کې؟

***

یوه هفته د هغه منحوس شپي څخه تېرېدل داسې یوه هفته چې نه د ذوالفقار هغه خبرې هېری شوې او نه یې هم اغېزې کمې شوی، یوه هفته کیدل چې د ذوالفقار سره د هغه په پخواني کور کې کوم چې د جنرال د کور مخامخ وو د بوبا او جنرال په مشوره اوسیدلم خو داسې احساس مې کاوه لکه د پردي کس په کور کې چې

اوسيږم؟ ما او ذوالفقار که څه هم يو کور کې وو، خو ترمنځ مو د چوپتيا ديوالونه څه چې بيخې محلونه جوړ شوی وه، ذوالفقار نه راسره خبرې کولې،نه يې پوښتنه کوله،نه يې ګيله او نه يې حتی غوسه کول يواځې چوپ وو او د هغه دا چوپتيا تر هرې غوسې سخته وه.

کله به چې کوښښ مې کاوه يوازې ځان يې چيرته راګير کړم او خبری ورسره وکړم نو هغه به پاځېده او بلې خواته به تلو که به مې څه وويل يوازې به يې سر خوځاوه داسې رفتار يې کاوه لکه ما چې له سر پيژني نه؟ يا زه بيخی شتون نلرم، تر ټولو دردناکه دا وه چې د نورو سره ښه وو لکه د زبير سره يې همغه پخواني رفتار درلود خو يوازی زما د رنګ يې بد راغلې وه او حتا زما خواته يې کتل لا نه ...

د کوټې د دننه څخه د محمد د خندا غږ راتلې، په کراره مې دروازه خلاصه کړه، محمد پر غالې ناست و، کوچنی موټر يې په لاس کې و ذوالفقار يې مخ ته په زنګونو ناست و راحيل يې په غيږ کې نيولې وه او په لوړ غږ يې خندل، داسې خندا چې ما دا يوه هفته نه وه ليدلې ...

ذوالفقار- نه، نه! داسې کار به نه کوی هلک دا موټر دلته راوړه هله شابه، دا زما د لور موټر دی، ته يوازی د هغې موټروان يې نه د موټر صاحب ...
محمد په ماشومانه ژبه يو څه وويل چې د ذوالفقار د خندا غږ لا پسې ډېر شو.
ذوالفقار- ګوره هلک! زما عصاب به نه راخرابوی کنه ستا د ضد خپل لور ته د هلکانو د وهلو چل زده کوم هغه وخت به بيا وګورم چې څنګه زما لور ته په دی نيم ولويشت قد دی بدماشي کوي چورمې خان ...

زه د دروازې په چوکاټ کې ولاړه وم او د دوي جنجال ته مې په مسکا کتل چې ذوالفقار زما خواته فکر شو، زما په ليدو ناڅاپه چوپ شو خندا يې په اتومات توګه په تروش تندی بدله شول او محمد يې د ځان څخه لرې کړو او لځايه پاڅېد، بغير له دې چې زما خواته راوګوری زما له څنګ تير شو خو د تلو مخکې په کلک لهجه وويل: طبعيت دی ښه معلوميږي سر له سبا راشه شرکت ته ...

دا يې وویل او له کوټې ووت، د هغه په تلو د محمد ناراضه غږ پورته شو، لکه چې د ذوالفقار سره ساتیری خوند ورکړی وو چې په تک یې داسې په ژړا شو؟ دا یوه هفته کیدل چې د محمد یا اقرا سره مې سم خبری لا نه وکړې لکه بت پشان به درسته ورځ خپل کوټه کې یوازی ناست وم او د دی په اړه به مې فکر کاوه چې الفا به څه کوی؟ د الفا څخه وېرې ما ته روحي مرض راچولې وو دا یوه هفته کې خوب او خوراک مې ورک شوی وو ...

د دومره کک شئ په خرپ به هم غوږونه به مې تېز کول او د زړه درزا به مې پورته کیدل فکر به مې کاوه چې الفا یا د هغه کسان راغلې، شاید د ذوالفقار ورانديز شرکت ته د تللو دومره هم بد نه وی؟ که داسې یو څو ورځې نور په کور کې یوازی پاتې شم د الفا د کوم کار کولو مخکې خپل ځان په ډېر فکر کولو وژنم، په دی فکر ژوره ساه مې واخیسته او د محمد خواته چې ژړل یې ورغلم، زه باید ځواکمن اوسیږم، اوس چې داسې یو غلطي مې کړې او ټول مې د ځان سره په خطر کې اچولې د وېرې او افسوس لځایه باید مقاومت وکړم نور تښتيدلې او وېريدل بس دی ...

سهار وختي شاید د شپږ بجو شاوخوا وه چې ذوالفقار شرکت ته د تلو وویل، ژر چمتو شوم او له کور ووتلم او بغیر له دې چې د جنرال د هغه منحوس کور خوا ته وګورم او د څو کالو مخکې هغه ډاروونکې او زړه لرزونکې صحنې په یاد راوړم موټر ته پورته شوم زما د کښیناستلو سره سم ذوالفقار بغیر د یوه لفظ ویلو موټر روښانه کړو، ما هم خپل سترګې تر څو چې له کوځې وتلو وتړل خو بیا هم د سترګو شاته مې په وینو لړلې بوجۍ راغلل چې ژر مې سترګې خلاصې کړل لعنت دی وی په دې ژوند چې یو کراره ورځ ما پکې ونه لیده ...

خپل راسته لاس مې د موټر د هینداری څنګ ته کیخود او د باندی سړک خوا ته په کتو شوم، د زړه د تل مې غوښتل د ذوالفقار سره یو څه خبرې وکړم، خو د هغه چوپتیا او تروش تندی داسې وو چې ما جرئت د څه ویلو نه درلود ..

زمور چوپټیا دومره ژوره وه چې ما د موټر د انجن غږ او حتا د ټایرونو شور لا اوریدلې شو، هر څو دقیقي وروسته به مې د ذوالفقار خوا ته کتل او خپل جرئت به مې راټول کاوه چې یوه خبره وکم خو غږ به مې په ستوني کې وچ شو، نه پوهېدم څه ووایم؟ ذوالفقار بغیر د کوم خاص توجه څخه دوه سترګي مخامخ سړک ته نیولې وه او داسې لګه چې زه بیخې موټر کی نه یم په بیغم زړه یې موټروانی کول.

د څو دقیقو وروسته شرکت ته ورسیدلو دواړه د موټر څخه ښکته شوو، زما لومړۍ ځل وو چې د ذوالفقار دی نوی اخیستل شوی شرکت ته راتلم، ذوالفقار په همغه تروش تندی بغیر له دی چې ما ته په تمه شې شرکت ته ننوتلو زه هم وریسی شوم د ذوالفقار شرکت په یو درې منزل آپرتمان کې وو لاندی لومړۍ منزل د ذوالفقار شرکت وو که څه هم کوچنی وو خو بیحد منظم وو پورته دوه نور منزلونو کې په یو کې شخصي کلینک او بل کې لابراتوار وو ..

شرکت ته د ننوتلو سره سم لومړۍ کس مې چې مخې ته راغلو هغه زبیر وو، چې زما په لیدو په طعنه او خندا یې وویل: اوووو وګوری څوک راغلې؟ دا لمر نن د کوم خوا راختلې؟ ما ته به مو یو خبر راکړی وایې چی ستاسو د راتلو مخکې یو سره غالې، یو غوا، یو فیل یو ډایناسور مو د جناب طاها خان صیب د مبارک قدمونو مخکې حلال کړی وایې ... اخر د دومره لوی د عربستان د سفر راغلې، په دومره ښه راغلاست خو ارزی ...؟!

د زبیر د دومره خبرو په ځواب کې یوازی په درونډ نظر مې وروکتل، د کوم وخت څخه چې ذوالفقار د اصل موضوع څخه خبر کړی وو او ورته ویلې وه چې زه اصل کې نه کوم عربستان ته د کار لپاره تللې وم او نه مې هم کوم انتحاری رانیولې، نو لومړۍ کې خو ځان د ځمکې او آسمان وواهه او ذوالفقار ته یې ځان چینجې، چینجي کړو چې وګوره ما خو له اول ویل دا مشکوک دی خو تا نه منل، کله چې خپل ځان یې ښه پروفسیور معرفي کړو د هغه وروسته د نن پشان ما ته یې خبری کول شروع کړل ..

ذوالفقار بغیر د څه ویلو په درنو ګامونو زموږ له څنګ تیر شو او خپل دفتر ته لاړ د هغه په تلو زبیر په پوسخند زما خواته رانږدی شو او ویې ویل:

زبیر- ښه نو څه حال دی د عربستان د مسافر؟ بیا خو د تګ پلان نلری؟

بیا هم بغیر د څه ویلو مې وروکتل، زبیر ته ځواب ورکول مطلب ځانته مصیبت او د خبرو او بیځایه پوښتنو سلسله پرانیزل او ما هېڅ عصاب،مصاب نه د خبرو درلود او نه هم د کوم بحث نو ځکه بغیر د کوم اضافه خبرې مې وویل: زه باید څه کار وکړم دلته؟

زبیر په پوسخند وویل: ته او کار؟ نچ نچ .. ته زموږ قهرمان ملې یې ته باید یوازی امر وکړی امر، د کار لپاره موږ یو کنه؟
په بې حوصلې لهجې مې وویل: زبیر، په قرآن که د بیځایه خبرو حوصله لرم.
زبیر یو ځل بیا خپل په هغه عصاب خرابونکي پوسخند چې هېڅ یې د شونډو څخه نت لری کیدو ویې ویل: هو، نو ستا کونه خو د غټ،غټ جنرالو سره لګیدلې خود به زما د خبرو حوصله نلری ..

د زبیر دې بې ادبانه خبری ته چې یو دم بې معنا وه خندا راغله زما د خندا په لیدو هغه ته هم خندا ورغلل او ویې ویل: مه خانده، په قرآن زړه مې غوارې دا ویښتیان دی دانه، دانه له سر وباسم دومره مې زړه درته ډک دی،حیران په دی یم چې ذوالفقار ولې د دومره خبرو پوهیدلو باوجود ته نه یې وهلې؟ یعنې ما چې کله دا خبری او کیسي واوریدل زړه مې غوښتل خپل په لاسونو دی ووژنم، خو عجیب ده ذوالفقار ته ژوندی پریخودلې یی ..؟

کرار مې د شونډې لاندی وویل: کاش وهلې وایې خو داس چلند یې نه وایې راسره کړی ...
زبیر- څه دی وویل؟
- هېڅ ..

زبير تر ماذديګر ماښام راته د شرکت ټول ځايونه او کسان وښودل زما او د زبير بغير پنځه نور کسانو هم شرکت کې کار کوو چې دوه داني د ذوالفقار د ملګرى زامن وه او دا خبره ما ته عجيب وه! يعنې د ذوالفقار ملګرى د ځو کالو دى چې داسې دوه دانې ځوان زامن لرى؟ غوښتل مې د دى په اړه د زبير څخه وپوښتم خو بيا مې د ځان سره وويل چې پر ما يې څه چې د څو کالو دى؟ زه مګر لږ ذهني کشمکش لرم چې اوس د ذوالفقار د ملګرو د عمر پسى هم شم؟! زبير که څه هم د شرکت او هغه کې موجود ټول کسانو په اړه معلومات راکړل خو په طعنه؟!

مطلب د هر خبرى او کار سره يې ضرور يو چينجى زما خواته راچو، کله چې هغه کسانو ته يې زه معرفي کولم نو په پوسخند يې هغوى ته وويل: دا زموو د شرکت د رئيس وراره دى، دا ځو مياشتي د يو بيحـــــد،ضــــــرورى او عــــــاجـــــل کـــــار لپاره عربســــــــتان ته تللې وو او اوس تازه راغلې ډېر يى خيال ساتي، زموږ په رئيس بيحد ګران دى ...

يعنى د زبير دى چينجنو خبرو ته هم غوسه راتلل هم خندا، د ماذديګر د آذان وروسته ذوالفقار د تلو وويل ما هم ځان تګ ته چمتو کړو چې زبير مې خواته راغلو او ويې ويل: دا يوه هفته کې کوم مشکوک شئ خو دى نه دى ليدلى؟
په ګنګس انداز مې وپوښتل: څنګه مشکوک شئ؟

زبير څو شيبې په چوپتيا کې راوکتل د هغه وروسته يې وويل: زه دى خبرى ته حيران يم چې دا پوليسانو په کوم عقل او منطق ته د جاسوسي لپاره انتخاب کړې وى؟ اخر ستا دا سر او شکلک د جاسوسي دى چى هغوى ته داسى يو خطرناک مافيا ډلې ته استولى وى؟
بد بد مې وروکتل چې هغه وويل: مطلب مې دا دى چې د هغه عربستان د سفر کوم ملګرى خو دى په دى يوه هفته کې بيا زيارت کړى نه دى؟
تازه مې د هغه په خبره سره خلاص شو او ومې ويل: نه، د هغه شپى وروسته مې کوم څوک نه دى ليدلې ..

زبیر څو ځل سر وخوځاوه او ویې ویل: عجیب ده ..
- څه عجیب ده؟
زبیر- ګوره که د هغوی اراده ستا د وژلو وایې، نو باید همله موټر کې مخکې له دی چې ته له ځان څخه قهرمان ملې جوړ کړی وژلی وایې، زما له نظر اصلاً موټر درولو او تاسو پورته کولو ته ضرورت نه وو.. دومره لوی مافیا ډله ده یو تومانچه خو یې ضرور درلود؟ نو کولای شو همله د سړک په غاړه په تاسو ډزی وکړی او د هغه وروسته بیغم وتښتې، داسې پیښې اوس څومره ډیر شوی ورځ کې ضرور یو کس داسی مړ کیږی او اخباروالا وایې: د نامعلوم وسلوالو لخوا خپل د کور مخې ته په ډزو ووژل شو .. مطلب هغوی داسې کار ستا سره هم کولای شو خو ..

- دا منحوس خوله دی بنده کړه ...
زبیر- نه، ګوره زما د خبری مطلب دا دې چې هغه ته موټر ته پورته کړلې مطلب غوښتل یې تا خپل مشر ته ویسې؟ خو ولې؟ که خبره د جاسوسی وی نو هغه باید یوازی ته وژلې وایې نه دا چې تا ځانته وغواړی؟طاها!؟ ته خو بیا کوم څه نه پټ کوی؟
په تلوار او بند،بند لهجه مې وویل: زه ...؟! نه ... یعنې نه پوهیږم ولې هغوی غوښتل ما خپل مشر ته ویسي؟ زه هم ستا پشان بیخبر یم ...

زبیر په مشکوک انداز وویل: نه پوهیږم ولې خو یو حس مې وایې د مافیا مشر دومره هم خدای او قران نه دی وهلې چې ستا پشان یو خیرن انسان پسې بغیر د کوم خاص دلیل څخه نفر راوستوی، ضرور دی منځ کې یوه خبره شته ..؟ تخو د هغه څخه کوم داسې اسناد یا ثبوت نلری کوم چې هغه ته بیحد مهم دی؟

- نه ... زه اسناد او ثبوت څه کوم؟ څه چې وه هغه پولیسانو واخیسته ..
زبیر- عجیب ده، نو دا بیا ولې ستا پسې دی؟ ضرور دی منځ کې یو شئ شته چې شاید ستا خپل فکر هم نه وی ورته شوی؟

د زبیر دومره هوښیارتیا ته مې حیرت راغلو، دا فکر حتا د جنرال او بوډا ذهن ته لا نه وراغلې چې الفا ولې زما پسې دی؟ په څه دلیل؟شاید هغوی فکر کاوه الفا ځکه زما پسې دی ځکه هغه ګمان کوی زه د عزیزی کس یم؟ هغوی نه وه خبر البته هیڅوک نه وه خبر چې الفا اصل کې د دی لپاره زما پسې دی ځکه خپل طلا غواړی؟ همغه طلا کوم چی عزیزی ورڅخه غلا کړی وه، ما دا خبره هیچا ته نه وه کړی، یعنې غوښتل مې ویې کړم، همغه لومړۍ اونې چې د شفخاني څخه راغلم خو بوډا هغه وخت د خبرو اجازه رانکړل او اوس .... اوس ما ځکه چا ته د هغه طلاو په اړه څه نشو ویلې ځکه فکر مې کاوه دا زما د ژوندی اوسیدلو اخری دلیل دی ...

هو دا زما د ژوندی اوسیدلو اخری دلیل دی،که زه غواړم د الفا د شر خلاص شم باید طلا وساتم، د عزیزی یوه خبره مې تر اوسه ذهن کیده هغه به تل ویل: که غواړی د یو دښمن د شر څخه په امان کې اوسیږی نو د هغه یو کار ځانته بند کړه! کله چې د هغه کار تاته بند وی نو هغه مجبور دی ستا سره دوستي وکړی او ژوندی دی وساتي ځکه کار یې تا ته بند دی ... او فکر کوم د عزیزی دا خبره یو دم صحیح وه ... ځکه الفا تر اوسه زه په همدی دلیل ژوندی ساتلې یم چې د هغه کار ما ته بند دی، کنه د زبیر خبره هملته د سړک په غاړه غفار زه ویشتلې شوم ...

د هغه کار ما ته بند وو، الفا ښه صحیح پوهیږی چې عزیزی زر کاله وروسته هم هغه ته د طلاو د ځای په اړه څه نه وایې او یوازینې کس چې د عزیزی بغیر د طلاو د ځای څخه معلومات لری هغه زه یم ... نو مطلب زما ژوند د الفا لپاره مهم دی؟ او دا هغه دلیل دی چې زه یې باید صحیح وکاروم، ما د طلاو خبره ځکه جنرال او بوډا دویته ونکړل ځکه جنرال ویل د الفا کسان د هغه تر حوزی رسیدلې؟! یعنې امکان لرې د جنرال دوی ډیر کسان د الفا نفران اوسیږی او که دی وخت کې زه خپل د ژوندی پاتی کیدلو یوازینې دلیل یعنې طلاو په اړه دویته خبر ورکړم امکان لری دا خبره د الفا د جاسوسانو تر غوږو هم ورسیږی او زما اخری شانس هم لمینځه لاړ شي ...

او پاتي شول خبره د ذوالفقار او زبير نو دويته هم دا خبره نشم کولای او د هغه دليل دا دي چې ذوالفقار بيحد احتياط ناکه دی او له بلخوا جنرال او بوډا ورته الفا داسي سم په رسمياتو نه دی معرفي کړی .. يوازی ورته ويلې چې الفا يو مجرم دی ... يعنې يو ساده مجرم دی چې يو دوه کس نفر لری او ځانته مافيا وايې؟! دا يې ورته نه دی ويلې چې هغه د رښتيا مافيا دی نه هسې د خبرو ... نو که ذوالفقار ته د طلاو په اړه ووايم هغه ضرور جنرال دويته دا خبره کوی ځکه خپل په گمان په دی توگه به ما د خطر وساتي .. خو څه پوهيږی چې په دی توگه ما ښه د مرگ خولې ته اچوې؟!

او پاتي شول خبره د زبير ... نو فکر کوم څومره چې هغه د دی موضوع څخه لری وساتم هغومره به بهتره وی، ځکه زما ستونزه کوم د عادی کسانو سره نه وه چې زه دی زبير پکې راکش کړم دا د مرگ او ژوند لوبه وه او ما هيڅ نه غوښتل زما له لاسه دی زبير ته کوم زيان ورسيږی که زما لاس کې وايې ما ذوالفقار او خپل ټول کورنۍ هم د دی موضوع څخه لری ساتل خو بدبختانه چې دا کار نشم کولای، خو دومره کولای شم چې زبير د دی موضوعاتو څخه لری کړم د زبير په غږ په خود راغلم.

- ها څه دی ويل؟
زبير په مشکوک انداز راوکتل او ويې ويل: کوم فکرونو کی داسې غرق شوی وی چی دا دری ساعت کيږی چغې درته وهم ځواب نه راکوی؟
- ها؟! هغه ... هيڅ ... ښه نو زه نور لاړ شم ذوالفقار راته په تمه دی.
زبير په همغه مشکوک انداز سر وخوځاوه چی ما هم د تلو اراده وکړل خو لا د زبير د څنگ تير شوی نه وم چی هغه له اوږی ونيولم د هغه په دی کار ودريدم او مخ مې وروگرځو چی هغه کرار وويل: زما د موبايل نمبر خو درسره دی؟
- هو، تا پخپل زما موبايل کی ثبت کړو.

زبير- هو پوهيږم غوښتل می دا درته ووايم چې هر وخت ... مطلب هر وخت شپه وه، ورځ وه، نيمه شپه وه، مهم نه ده چې کوم وخت دی، بس هر کله چې احساس دی وکړو مرستي ته اړتيا لری يا کوم مشکوک شی دی وليده ما ته زنگ وواهه سمده؟

د زبیر په دی خبره مې مسکا پر شونډو راغله او ومې ویل: مننه، چې د دومره خبرو باوجود راسره یی.
زبیر په شیطنت وویل: اوس ورځخه د هندی فلمونو احساساتي صحنه مه جوړه چې زه د ژړا او غیرې ورکولو حوصله نلرم.

د هغه په دی خبره دواړه پخندا شو چې د ذوالفقار د موټر هارنګ پورته شو د هغه په اوریدو زبیر وویل: اوه، اوه د دی هارنګ وهلو څخه یې ښکاری چی عصاب،مصاب نلری ورځه مخکې له دی چی خپل راشې او دواړه سم فرش کړی ..

پخندا مې د زبیر سره خدای پاماني وکړل او له شرکت ووتلم، که څه هم د هغه خبره چې ویې ویل هر کله چې مرسته دی اړتیا درلود زنګ وواهه د زړه له تل خوشحال کړم خو ځان سره مې وویل: چې هېڅکله به زنګ ونه وهم تر څو خپل په مصیبت کیدی راګیر کړم هېڅکله هم نه ...

ذوالفقار په غوسه د موټر د شټرینګ شاته ناست وو زما په لیدو یې د قاتلانو پشان نظر راواچو خو کوم څه یی ونه ویل، زه هم بغیر د څه ویلو موټر ته پورته شوم همدا چې کښیناستم هغه حرکت وکړو، د موټر فضا د نن سهار پشان چوپ او درنه وه خو په دی توپیر چی ما د سهار په پرتله ښه احساس درلود له یو خوا د زبیر سره خبرو کولو روحیه رابدل کړی وه له بلخوا تازه فکرونه مې ذهن ته راغلې وه، زبیر رښتیا ویل الفا زما پسی دی ځکه د هغه یو ارزښتمن شې زما سره دی ... طلا؟!

هووو الفا د طلاو پخاطر زما پسي دی هغه ته مهم طلا ده نه زه ... بلخصوص اوس چې پوهیږی زه د عزیزی نفر هم نه یم یعنې نه د دښمن نفر یم او نه هم د دوست؟! نو مطلب کولایی شم ورسره معامله وکړم؟! طلا ورکړم او په بدل کې ورځخه وغواړم نور زما شا خوشې کړی؟! هغه یوازی طلا غواړی د زبیر خبره دومره هم خدای او قران نه دی وهلې چې زما پسې شې، نو معامله آسانه ښکاری کنه؟

بوډا ویل غفار په هوښ راغلې خو ځکه چې طبعیت یې بیحد خراب وو زندان ته یې نه دی وړی او همغه شفخانه کې د پولیسانو د نظر لاندی دی، زه باید په یو ډول د هغه سره د لیدلو اجازه واخلم او بیا د غفار څخه د الفا سره د خبرو کولو یوه لاره جوړه کړم، مخامخ خو زر کاله وروسته هم د الفا سره ملاقات نه کوم همغه یو ملاقات چې ما د هغه سره وکړو زما د اوه نسلو لپاره کافی دی، باید ورته زنګ ووهم او خبری ورسره وکړم؟

په دی فکر مسکا مې پر شونډو راغله دومره هم سخت موضوع نه وه څومره چی ما ورته فکر کاوه، یوازی یو زنګ وهل دی او الفا ته د طلاو ځای ښودل دی بس و سلام ... د هغه وروسته هغه خپل د طلاو پسې ځې او زه خپل د ژوند پسې ..

– خو که الفا د طلاو ځای د پوهیدلو باوجود بیا هم ستا پسې اوسیږی بیا څه کوی ماشومه؟

د هغه ناڅاپه غږ په اوریدو لاس مې بې اختیاره د څوکۍ څنډه کلکه ونیول او ساه مې په سینه کې بنده شوه.

زما په داسې ناڅاپه ریکشن ذوالفقار د موټر سرعت لږ راکم کړو او زما خواته یې راوکتل.
ذوالفقار- څه وشو؟

خو ما بغیر د ځواب ورکولو د موټر د شاته سیټ خواته چې شموئیل پکې په خندانه خوله ناست وو وکتل، زما په داسې کتلو ذوالفقار هم په مشکوک توګه هغه خواته وکتل ..

شموئیل پخندا وویل: لکه چې ومې ډارولې ماشومه؟
زره مې غوښتل ښه خبری ورته وکړم خو د ذوالفقار تروش تندی او مشکوک نظر د دی کار اجازه نه راکول نو ځکه مخ مې د هغه خواته کړو او داسې حال کې چې

کوښښ مې کاوه ځان عادی وښیم و مې ویل: هیڅ... هیڅ نه ...بس... سر مې لږ وګرځېد.

زما په دی خبره د ذوالفقار تندی لا پسي تروش شو او په همغه مشکوک لهجه یې داسې حال کې چې د موټر څخه د باندی شاوخوا کتل ویې ویل: رنګ دې بدل شوو داسې لکه چې د یو چا په لیدو وډار شوی؟
- نه ... نه .. داسې کوم خبره نه ده ما .. ما کوم څوک نه دی لیدلې، اصلاً ولې باید د یو چا په لیدو وډار شم؟

زما په دی خبره ذوالفقار یوازی څو شیبې په چوپتیا کې راوکتل او د هغه وروسته یې موټر سرعت بیرته ډیر کړو، که څه هم ذوالفقار په ژبه څه ونه ویل خو زه پوه شوم چې غوښتل یې ووایې: هغه خپل کارنامه لکه چې تا لیاده باسلې؟

د شموئیل د خندا په غږ بیحد مې ځان کنټرول کړو ترڅو مخ د هغه خواته ونه ګرځوم او ذوالفقار د دی څخه نور پر ځان شکمن نکړم، خو لځان سره داسې چې شموئیل یې واوری ومې ویل: په څه خاندی؟ یو خو راتګ دی د انسان پشان نه دی او له بلخوا خندا ته دی ګوره؟ اصلاً ته دا دومره وخت په کوم ګور وی چې اوس داسې راغلې؟

شموئیل- اووو په کراره ماشومه دومره غوسه؟ لومړی یو سلام، یو ستړی مشي، یو د حال او احوال پوښتنه بیا داسي غوسه ...

څه مې ونه ویل چې هغه ځان زما د څوکۍ خواته راکش کړو او په همغه خندانه لهجه یې وویل: خندا مې په دی راغله چې تا یو دم د ذوالفقار د زړه خبره وکړل، یعنې هغه دقه ذوالفقار همدا لفظ د ځان سره وویلو کوم چې تا فکر وکړو( به حیرت مې د ذوالفقار خواته وکتل د رښتیا داسی خبره یې هغه دقه ذهن ته راغلې وه؟ ما هسې حدس وواهه چې شاید داسې خبره غواړی وکړی ...)

شموئیل په همغه خندا وویل: هو، هغه دقه ذوالفقار یو دم ستا ویل شوی جمله ذهن کې د ځان سره وویل خو نه پوهیږم ولې تاته ونه ویل او چوپ شو؟ په هر حال پاتي شول خبره زما د دا څو وخته نه موجودیت نو د هغه دلیل هم ته پخپل یې ...

په حیرت مې وویل: زه؟
ذوالفقار- ته څه؟ له چا سره خبرې کوې؟
د ذوالفقار په داسې مشکوک لهجه پر ځان مې لعنت وویل ما غوښتل ذهن کې دا خبره وکړم خو لکه چې د ډېر حیرت له خولې مې ووتل؟ ژر مې ذوالفقار ته وویل: هسې ... له ځان سره... بس فکر مې کاوه ...

ذوالفقار د سترګو له کونج بد،بد راوکتل او په غوسه یې وویل: همدا ستا بدبختي ده چې د دې لځایه چې د یو چا سره خبرې وکړې او مشوره واخلې د لیونیانو پشان ځان سره بیځایه فکرونه کوې، کوې او اخر کې بیا داسې یو غول خورې چې نه یې خپل د صحیح کولو یې نه بل ...

د ذوالفقار په دې خبره مې سر په شرم ښکته واچو خو له دې چې بلاخره د یوه هفتې وروسته ذوالفقار خپل چوپتیا ماته کړل زړه کې خوشحال وم که څه هم چوپتیا ماتول یې ما ته په پیغور راکولو کې وو خو ما همدا هم قبول وو.

شموئیل- هوممم فکر کوم په بد وخت کې مزاحم شوی یم؟
د موټر د ښیښې څخه مې غوښتل ورته وګورم او ووایم چې بیځایه خبرې مکوه او د هغه خبرې مطلب دې څه و چې زما لپاره دا څو وخته نشو راتلې؟ خو د موټر ښیښه کې د شموئیل په نه لیدو فکر مې وکړو چې هغه تللې؟ غوښتل مې د شا څوکۍ خواته وګورم خو د کتلو مخکې د هغه غږ مې واورید.

شموئیل- لکه چې لیاده دې وتلې زه پیرې یم؟ او له بلخوا زه اوس داسې حالت کې تاته راغلې یم چې یوازې ته ما لیدلې شې نو مطلب زه هینداره کې نه ښکارم ...؟!
د شموئیل په دې خبره مې دومره حیرت وکړو چې د ذوالققار خبرې مې یو دم لیاده

ووتل او ذهن کې مې شموئيل ته وويل: يعنې تاسو داسې هم راتلې شی چې يوازی يو کس تاسو ليدلې شې خو نور کسان نه؟

څو شيبې د شموئيل کوم ځواب رانغلو د هغه وروسته د هغه لږ غوسه ناک غږ مې واورید چې ويې ويل: کرار،کرار زما زړه هم غواړی د ذوالفقار پشان دی ووهم.
- ها؟ څه؟ خو ذوالفقار خو زه نه يم وهلې؟
شموئيل- خو اوس فکر ورته کوی،بيحد يې هم زړه غواړی تا ووهی خو نه پوهيږم ولې ځان کنټرول کوی؟

د شموئيل په دی خبره په کراره می د ذوالفقار خواته وکتل، يعنی د هغه ذهن کی اوس زما د وهلو پلان جوړيږی؟

شموئيل- هو، او لومړی ځل دی چې زما هم بيحد زړه غواړی ذوالفقار تا ووهې ...
په کلاره مې د ذوالفقار څخه نظر واخيست او شموئيل ته می وويل: ولې؟ ما پر تا څه کړی چې غواړی ما ووهی؟ هغه ستا د قوم او خويش وهل،ټکول کم وه چی ته هم غواړی ما ووهې؟

شموئيل- خبره هغه نه ده طاها ... ته کله ناکله بيحد بيعقل او ساده کيږی، ما ته ضيالحق ته تقريبا يو،دوه کال يوازی په دی خاطر واستولې تر څو د هغه څخه زموږ پيريانو په اړه معلومات او د هغوی څخه د بچ کيدلو درس او طريقه زده کړې او له بلخوا څو ځله بار،بار په داسې توګه مې ستا سره ديدن کړی چې نور کسان هم شتون لری خو تا يوازی زه ليدلې يم او هغه وخت ته اوس زما څخه دا پوښتنه کوې چې ايا زه داسې کار هم کولای شم کنه؟ که ما داسې کار نشو کولاې اوس بايد ذوالفقار هم زه ليدلې وایې کنه؟ ستا په نظر په دی بيځايه پوښتنه دی د وهلو حق نلری؟

د شموئيل په دی خبره تازه مې مغزو کار پيل کړو، رښتيا وايې ما عجب بيځايه پوښتنه کړی وه؟ البته ملامت نه وم د ذوالفقار خبرو او بيا د شموئيل سره خبرو لږ

ذهن راګډوېږ او ګنګس کړو زه اخیر انسان یم یو وخت کې دوه مکالمي ذهن کې نشم ساتلې ضرور غلط کیږم ...

شموئیل په پوسخند وویل: خاوری دی د عزیزی په سر شې چې ستا پشان ټنبل انسان ته یې د هغه دومره طلاو ځای ښودلې، هسی نه د هغه طلاو ځای دی هم لیاده وتلې په دی فعال مغزو؟!

په شکمن انداز مې وویل: ته د طلاو په اړه د کوم خوا خبر شوی؟ هغه ورځ خو ته هلته نه وی؟

شموئیل پخندا وویل: په شک کولو کې ښه تکړه یې، په هر حال اوس څه نشم ویلې ډیر خبری او موضوعات دې منځ کی پورته ښکته شوی چې باید په اړه یې خبری وکړو، نن ماښام کله چی ټول ویده شول زه راځم ..

غوښتل مې ځواب ورکړم خو زما د څه ویلو مخکې هغه لاړ،د هغه د تلو وروسته خپل څوکۍ کی ځای پر ځای شوم،ذوالفقار د سترګو له کونج راوکتل خو څه یې ونه ویل، ځان سره مې وویل همدا یې وخت دی طاها خبری وکړه او ذوالفقار آشتي کړه، که پای وهل وی بیا هم کوم خبره نشته زه حاضر وم حتا وهل لا ورڅخه وخورم خو مقصد خبری راسره وکړی، د ذوالفقار خبری نکول د هر ډول عذاب څخه بتر وه، خپل ستوني مې تازه کړو چې ذوالفقار بیا د سترګو له کونج راوکتل چې ما ژر وویل: زه بخښنه غواړم ذوالفقار ...

ذوالفقار بغیر د کوم خاص ریکشن څخه بیرته نظر د سړک خواته ونیو، داسې لکه چې زما خبره یې هېڅ اوریدلې نه وی؟

- هغه ... هغه زه منم چې ما غلطي کړی خو ... خو ما نغوښتل زما د ژوند ستونزو کې ته راګیر شې، تا پخپل هم هغه ورځ وویل چې خوشحالیانې مو خپل دی او غمــ ...

لا مې خبره نه وه پوره کړې چې ذوالفقار د لاس په شا په خوله ووهلم، وار یې دومره کلک نه وو خو دومره وو چې زما د پوزې څخه وینه راشې او شونډه مې زخمی شې لا مې د درد "اخ"نه وه ویلې چې ناڅاپه موټر و درید په تلوار مې د ذوالفقار خواته وکتل د ډېر قهر او غوسې څخه یې مخ تک سور شوی وو او د مغزی رګونه یې راوتلې وه حالت یې سم د هغه شپې پشان وو چې فرید یې واهه؟! د هغه د دی حال په لیدو په وېره مې ځان د موټر د دروازې خواته جوخت کړو، عجب بد مې وکړل، کاش همغه مرور وایې او خبرې نه کوی خو نه دا چې لیوني شې، اصلا ما بد وکړل چې ومې ویل حاضر یم وهل ورڅخه وخورم خو یوازې آشتی شې ... زه خپل خبره همدا اوس بیرته اخلم ...

ذوالفقار په داسې غږ چې د ډېر غوسې څخه لړزیده ویې ویل: څه دی وویل؟ ها؟! که جرئت لرې یو ځل بیا ووایه ...

په وېره مې د خولې لاړې تېر کړل او نور مې هم ځان د موټر د دروازې خواته جوخت کړو، دا ولې ناڅاپه داسې لیوني شو؟ خو همدا ده پخپل هغه ورځ ذوالقرنین کاکا ته مګر ونه ویل چې ستاسو خوشحالیاني ستاسو دی خو غم مو زما په سر دی؟ نو ولې بیا اوس داسې غوسه شو؟!

ذوالفقار داسې زما خواته راکتل لکه چې د کوم ځواب اوریدلو په تمه وی؟! خو زه نه پوهیدم څه ځواب ورکړم؟ په وېره مې وویل: خو ... خو تا ... تا ... هغه ... هغه ورځ وویـ ...

لا مې خبره نه وه پوره کړې چې ذوالفقار یو ځل بیا لیوني شو خو دا ځل د وهلو لڅایه یې لومړۍ له ګریوان ونیولم خپل خواته یې کش کړم او د هغه وروسته یې یو ځل بیا د لاس پر شا په خوله ووهلم دا ځل یې یو څه کلک ووهلم، یا هم شاید ما داسې ګمان وکړو ځکه چې زما پوزه او شونډه د هغه لومړۍ ټک څخه خوږمن وه نو دویم ځل وهل یې بیحد دردمند وو داسې چې بې اختیاره مې اخ له خولې ووت او

لاس مې خپل په خوله او پوزه ونیو، خو خپل دویم لاس باندی مې د ذوالفقار لاس کلک ونیو تر څو د راروان وهلو څخه یې منع کړم البته که زور مې رسیدلې وایې ...

ذوالفقار داسې حال کې چې د ډیر غوسې څخه یې ستمې کاوه ویې ویل: بیعقل احمق انسانه .. مګر زما د خبری مطلب تا ته وو چې ته وایې هغه ورځ تا وویل ... ها؟! مګر ما ته یاد کړی چې تا خبره خپل ځان خواته کش کړه؟ د کوم وخت څخه ته ځان د هغوي په ډله کې حساب کوی؟ تا ته وایم طاها خبری وکړه ... خبری وکړه ما مه لیوني کوه د کوم وخت څخه زه تا ته د یو بیګانه کس حیثت لرم، چې زما خبری خپل خوا ته کش کوی او ځان داسې لری، لری کوی؟ هـــا؟!

ذوالفقار د هر ها ویلو سره زما ګریوان لا په زور نیو داسې چې ساه اخیستل راته سخته شوه د دی لپاره چې دا فشار لځان لږکم کړم ما هم د هغه لاس کلک ونیو خو چندان فایده یې ونکړل، دومره د هغه موجود حالت څخه مې بد راتلل چې حاضر وم ووایم بد مې کړی غول مې هم خوړلې او یوازی خوشې می کړه خو د ذوالفقار حالت داسې وو چې پوهیدم که خوله خلاصه کړم او هر خبره که وکړم یوازی خپل د وهلو شانس ډیروم او بس نو ځکه یوازی می وویل: وبخښه ...

خو لکه چې زما بخښنه هم د ذوالفقار په مزاج ښه ونه لګیدل ځکه خپل غاښونو یې سره وچیچل، د ذوالفقار سترګې د ډیر غوسې څخه تکې سری شوی وه،او ځکه چې زه بیحد ورته نږدی وم نو ما د هغه د سترګو هغه سری کرښې سم صحیح لیدلې او شمارلې شول او دا کار لا وېرولم، ځکه د ذوالفقار د غوسې اوج سم په ډاګه معلومیدی او مطلب طاها خپل فاتحه ووایه ...

خو د څو شیبو وروسته نه پوهېږم څه معجزه وشول خو بلاخره ذوالفقار زما بدبخت ګریوان خوشې کړو او شاته یې ټیله کړم خو دومره په زوره یې شاته ټیله کړم چې ملا مې د موټر د دروازی سره ولګیدل او له درد مې "اخ" پورته شو، ذوالفقار په تلوار له موټر ښکته شو او د موټر دروازه یې دومره په کلک بنده کړل چې له وېرې زما اوږی وپریدل، د هغه د تلو څو دقیقې وروسته خپل ځانته مې وویل: ښه شو زړه

دی یخ شو ډېر دی د ذوالفقار ښځه د وهلو آرمان درلود، واخله دا دې هم آرمان پوره، نور آرمانونه خو مې ولاکه دومره ژر پوره شې خو دا د وهلو او خراب شیانو آرمان مې له خولې لفظ نه وتلې خدای راپوره کړو دا هم زما شانس ...

داسې حال کې چې ځانته مې پيغورنه او کنځل کول لګيا شوم يو دوه دسمال مې د موټر د ښيښي له مخ راواخيستل او خپل په وينو لړلې خوله او پوزه مې پاکه کړه، عجب مردار درون لاس هم لری، یعني دا يې لا زه د زړه د خلاص ونه وهلم دا مې حال دی که د زړه د خلاص يې وهلې وايې نو څه به مې حال وايې؟ ځکه وايم چې د زړه د خلاص يې ونه وهلم ځکه ښکاريدل چې کوښښ يې کاوه وار يې کلک و نه اوسيږی، خو د دومره کنټرول باوجود دا زما حال وو فکر مې کاوه پوزه مې مات شوی او شونډه مې زخمي ده، نو صد افسوس دی د فريد بدبخت په حال وی ...

ذوالفقار هغه شپه هغه د مرګ په نيت واهه هغه هم په لاس نه .... په لغتو ... بايد ووايم چې د دی وهل خوړلو وروسته د فريد پر حال مې زړه وسوځيد، که څه هم چندان د قواری ښځه مې لا ورنه ښه نه راځې، خو اوس يو دم د فريد ژړيدل درک کولای شم چې د ذوالفقار ښځه د وهلو خوړلو حال کې ژړل ... يعنې زه په دی نيم کله وهلو لا نړدی وو و ژاړم څه ورسيږی هغه لغتو او بوکسانو ته؟! په همدی فکرونو کې وم چې د موټر دروازه خلاصه شوه او ذوالفقار موټر ته راپورته شو، د هغه په ليدو دومره و ډار شوم چې اتومات توګه مې ځان د موټر د دروازی خواته کش کړو ..

و ډېرېم هسې نه بيا ليوني شې او ومې وهې، زما په دی کار ذوالفقار په تروش تندی راوکتل خو بغير د څه ويلو يې يو بوتل آب معدني زما خواته راواچو، البته بايد ووايم زه يې ورباندی تقريبا وويشتلم دومره کلک يې راواچو خو ما بغير د اعتراض کولو ورځخه واخيست، تر څو غوسه نشې ... په قران لاس يې بد درون ...

ذوالفقار- زه نه پوهيږی پر تا اخر څه شوی؟ پخوا خو داسي نه وی .. خلک وايې د واده او ماشومانو سره سړی هوښيار کيږی؟ خو ته د هوښيار کيدو لځايه شين ډر

بیعقل شوی یې، خپل حالت ته دې هېڅ پام نه دی، نه ګوری ځان دې په کوم مصیبت کې اخته کړی، یو ډله قاتلان او مجرمان درپسې دې تر څو و دې وژني او دلیل یې څه دی؟ دلیل یې دا دی چې ته د یو ګوردی لپاره چې په 50/60 زر افغانۍ پیدا کیدل د یو خبیث جنرال په خبرو کې راغلې او د داسې کسانو منځ ته ننوتلې چې وینه تویول ورته د اوبو تویولو اندازه آسانه ده، تا مرمۍ وخوړل طاها ... نږدې وو هملته مړ شې خو تر اوسه تا ته دا موضوع هسې شوخي ښکاری ...؟!

ذوالفقار یو ژوره ساه واخیسته داسې لکه چې په دې ساه اخیستلو غواړی خپل غوسه کنټرول کړی؟ د هغه وروسته یې زما خواته راوکتل او ویې ویل: زما ګران وراره جانه فکر د دې چې څه غول دې خوړلې؟ یعنې که تا لږ ... یوازې لږ پر ما باور کړی وای‌ې او زما خوا ته راغلې وای‌ې او زما څخه دې مشوره غوښتلې وای‌ې نو نن به دې دا حال نه وای‌ې ...

- زه ... زه ډېر وګرځیدم ... خو ... خو ګورده نه وه.
ذوالفقار د ډېر غوسې څخه وخندل او ویې ویل: هې ساده، هې ... زه چا ته ستا د لاس وژارم؟ ها؟ چا ته؟ ګورده نه وه؟ یعنې ټول افغانستان کې د ګوردی قحطي راغلې وه؟ اصلاً دا ستا خبره یې صحیح دا دې افغانستان کې بیخی ګورده نه وای‌ې پیدا شوی نور هیوادونه کې هم ګورده قحط وه؟ کله چې درته وایم ساده، نو پر خوا دې بدلړیږی خو ته د ساده توب د درجې څخه لا نور اوښتې یې، ستا څخه نور شادګل جوړ شوی ...

هغه خبیث، بې پدر جنرال له قصد پر تا هره لاره بنده کړی وه تر څو ته بیعقل همدا ګمان وکړې چې د ګردی قحطې راغلی او بس یوازینې د نجات لاره همدا د ده رزیل خبره منل او جاسوسي کول دی ...( ذوالفقار څو شیبې چوپ شو د هغه وروسته په مشکوک توګه یې وویل: یا که سل لک افغانیو دی زړه وړی وو ها؟!

په تلوار می وویل: نه ... ما ... ما د پیسو لپاره دا کار ونکړو هغوی ... هغوی د دې څخه مخکې چې زه د دې ځای لاړشم ما ته دا وړاندیز کړی وو خو ما ونه منلو خو ...

خو څو میاشتی وروسته کله چې ... چې اقرا مریض شوه او ... ګورده ورته نه پیدا کیدل نو ... نو زه مجبور شوم د هغه څخه مرسته وغواړم ... نه د پیسو لپاره ... د ګوردی لپاره ...

ذوالفقار خپل غاښونه په غوسه یو پر بل کیخودل او ویې ویل: دا رزیل زه ژوندی نه پریږدم خپل په لاسونو یې وژنم، هغه په دی خبره پوهیدی چې ته یوازی شې او وډار شې نو هر غول خوری، نو ځکه له قصد یې داسې کار درسره وکړو ته یې له هر خوا نا امید کړی ترڅو د هغه خواته لاړ شې او مرسته ورڅخه وغواړی، خو خیر ... پروا نکوی دا کار به یې زه بې ځواب پاتي نکړم ...

د ذوالفقار په دی خبره وډار شوم او ومې ویل: څه وایی ذوالفقار؟ ته غواړی څه کار وکړی؟ هر څه وو تیر شو جنرال کوم فرید یا فهیم نه دی چی ته یی ووهی او هغه درته څه ونه وایې .. هغه د دولت کس دی تا خپل مګر هغه شپه ذوالقرنین کاکا ته نه ویل چی د دولت د خلکو سره دښمني څوک کولای شی؟ نو اوس خپل ولې داسې خبری کوی؟

ذوالفقار څو شیبی په دروند نظر راوکتل د هغه وروسته په نیولې لهجې وویل: که د هغه له لاسه پر تا کوم څه وشول راته مهم نه ده چې د دولت کس دی، یا جنرال دی، یا هر مرګ چې دی ... قسم اخلم طاها چې وژنم یې ... نو که درته مهم ده چې زما لاسونه د هغه په مردار وینو و نه لړل شې نو ژوندی پاتي شه ...

ذوالفقار خپل هر لفظ دومره په جدی او کلک توګه ادا کړو چې زما سل په سل باور راغلو که پر ما کوم څه وشي ذوالفقار جنرال وژني ...

د ذوالفقار د قسم اخیستلو وروسته موټر کې یو دم چوپتیا خپره شوه نه هغه نور څه وویل او نه هم، څو شیبې وروسته ذوالفقار په همغه چوپتیا کې موټر روان کړو، خو د موټر شټرینګ یې دومره خپل په لاسونو کلک نیولې و چې د ګوتو بندونه یې سپین ښکاریدل لکه چې غوښتل یې خپل غوسه په هغه بدبخت شټرینګ خالي کړی؟

ما په چوپتیا کې ورته کتل څه مې د ویلو لپاره نه درلود ځکه پوهېدم خبرې مې بې ګټې دي د ذوالفقار داسې قسم اخیستل مطلب که پر ما کوم څه وشول نو هغه ضرور خپل خبره پلې کوي، لومړۍ ځل وو چې خپل په ژوند وېردلم البته د ځان لپاره نه! د ذوالفقار لپاره، زه باید ژوندی پاتې شم نه د ځان لپاره نه هم د محمد یا اقرا ... لپاره یوازې او یوازې د ذوالفقار لپاره زه نغواړم زما په سر هغه قاتل شي ...

ذوالفقار- کوم بل ځای دې د تلو اراده ده که څنګه چې نه ښکته کیږې؟
- ها څه؟
د ذوالفقار په غږ په خود راغلم او تازه مې فکر شو چې کور ته رارسیدلې یو، بغیر د کوم ځواب ورکولو په هغه ګډوډ فکر له موټر څخه ښکته شوم او کور ته ننوتلم.

محمد د دهلېز منځ کې ناست و د پرون ماښام هغه کوچني موټر یې هم په لاس کې نیولې وو او پر غالۍ یې چلاوه او همغه حال کې په لوړ غږ د موټر د انجن پشان غږونه یې هم له خولې راویستل راحیل یې هم تر څنګ ناسته وه او پخپل کوچني لاسونو یې کوښښ کاوه موټر د محمد د لاس څخه واخلې خو محمد موټر ورڅخه کش کړو او په خوږه لهجه یې وویل: دا د ما دی ...(دا زما دی) ستا موتر اولته دی(ستا موټر هلته دی)

خو راحیل خپل د موټر لځایه د محمد د لاس موټر غوښت او چغې وهل د هغوي دواړو د دی حال په لیدو یو دم ټول راپیښ شوی پیښې مې لیاده ووتل او د دوي په تماشا شوم، ماشومتوب څه ښه وختونه وی نه د کوم شي اندیښنه او تشویش درسره وی او نه هم داسې کوم لوی مشکل لرې چې د حل کیدلو لاره نلرې خپل په نړۍ کې په شوخې او ساتیرې کې بوخت وی کاش موږ هم هیڅکله نه وایې لویان شوی کاش ...

د هغوی خوا ته ورنږدې شوم پر غالۍ د هغوی مخامخ کښیناستم او ومې ویل: زما خبره مني نو داسې وکړې یو وار دې محمد موټر د غالۍ تر هغه سره ویسې بل وار هم راحیل ته سمده؟

دوارړو راوکتل او لکه چې زما مشوره يې خوښه شوه ځکه دواړو په يو وخت وخندل د هغوي په خندا ما هم وخندل او د هغوي څنګ ته کښيناستم دومره د هغوی دواړو خبرې او کارونه خوږه وه چې کرار،کرار زه هم د هغوی سره په لوبه شوم،کله به ما موټر ګرځو کله به هم محمد خو راحيل نمبر نه منلو د محمد په نمبر کی هم موټر باندی ځان اچولو او په خندا به يې غوښتل موټر وتښتوی خو محمد به ورپسې وو او نه به يې پرېښودل ..

د محمد او راحيل خندا د کور ديوالونو ته نوې ساه ورکول، رښتيا چې هم ماشوم د خدای نعمت دی، دومره د هغوی سره مصروف وم چې خپل شاوخوا مې هيڅ پام نه وو کله چې سر مې راپورته کړو نو اقرا مې مسکا پر خوله د دروازې په چار چوکاټ کې ولاړه وليده زما نظر چې هغې ځانته وليد نو په همغه مسکا يې وويل: پخير راغلې، راځه د ماښام ډوډۍ تياره ده.

زما د کوم ځواب ورکولو مخکې محمد په خوشحالۍ وويل: بابا .... بابا اده ... اده (مطلب راځه، راځه) پخندا مې هغه په غيږ کې راواخيست چې راحيل هم خپل دواړه لاسونه زما خواته ونيول تر څو غيږ کې واخلم د هغې دی کارته مې خندا راغله لاس مې اوږد کړو او دواړه مې غيږ کې راواخيستل او اقرا ته مې وويل: چيرته مو سرخان هوار کړی؟
اقرا- ميلمه خانه کې ..

ميلمه خانې خواته روان شوم دسترخان له وخت هوار شوی وو ذوالفقار او د هغه ميرمنه ناست وه لکه چې ما ته په تمه وه؟ د بخښنې په غوښتلو کښيناستم، شايد په ظاهره يو عام ماښامنې وو خو د محمد خبرو د راحيل خندا د اقرا او د ذوالفقار د ښځې کله ناکله د ماشومانو په خبرو خنديدلو فضا ښکلې کړې وه داسی احساس يې راکوه لکه کورنۍ!

دې منځ کې يوازينی کس چې چوپ وو او هيڅ يې نه ويل هغه ذوالفقار وو،نه يې خبرې کولې او نه يې هم کتل يوازې د ماشومانو خبرو ته يې غوږ نيولې وو او د

هغوی کارونو ته يې کتل، د هغه داسی تروش تندی ته لږ حیران وم، وهل خو يې راکړل نو بیا دا تروش تندی او خبری نه کول بیا څه معنا لری؟ دا هم ښه وو اقرا زما خوږ شونډی او پوزی ته فکر نشو کنه څومره شرم وو که ویلې مې وایی ذوالفقار ووهلی یم؟ هغې به هم د ځان سره ویلې وايې عجب خسرګنې لرم سم جوګیان دی درسته ورځ يې وهل،وهل دی ..؟!

محمد زموږ څخه یو څه لری بالښت باندی پورته شو او بیايې لاندی ورڅخه ټوپ کړل،راحیل هم د هغه د کار تقلید وکړو او بیا دواړه پخندا شول، زما نظر د ذوالفقار خوا ته وو او ومې لیدل چې د ماشومانو په خندا يې نرۍ مسکا پر شونډو خپره شوه، د ربښتیا هم د ماشومانو خندا هغه کار کولای شي کوم چې شاید د لویانو زر خبری ونشې کړی، شپه ورو ورو راغله ېوډې وخوړل شول ذوالفقار د ډوډۍ خوړلو سره سم لځایه پاسید او خپل کوټې ته لاړ، زه هم څو شیبې دهلیز کې د ماشومانو سره کښیناستم خو کله چې د ذوالفقار میرمنې راحیل د خوب لپاره ویوړل ما هم محمد راواخیست او خپل کوټې خواته روان شوم ...

اقرا وختي د خوب ځایونه اچولې وه زما په لیدو محمد يې زما د غیږی واخیست تر څو ویده يې کړي، فکر مې نه کوو محمد دی دومره ژر ویده شي .. خو لا زه خپل ځای کې کښیناستلې نه وم چې فکر مې شو محمد ویده شوی او همغه د خوب په نیمه حال کې خپل په کوچني لاسونو خپل د بالښت څنډه نیولې او ارامه ساه اخلې، لځایه پاسید او د هغه تر څنګ کښیناستم په داسې غږ چې محمد راویښ نکړی اقرا ته مې وویل: څومره ژر ویده شو؟

اقرا په مسکا وویل: نن ډېر ستړی و نو ځکه ژر ویده شو.
سر مې وخوځاوه او داسې حال کی چې دوه سترګي په محمد وه ومې ویل: اهوم ... کله چې ویده کیږی څومره معصوم ښکاری کنه؟
اقرا- هو، ستا پشان ..
- څه؟

مخ مې د هغې خواته وګرځو هغې هم زما خواته راوکتل، سترګې یې ستړې وې خو په مینه یې وویل: ته هم لږ آرام وکړه طاها. دا څو وخت یو سم خوب لا نلرې.

څه مې ونه ویل یوازې په مسکا مې ورته کتل چې هغه زما له څنګ پاسیده او خپل پر ځای څملیده او لا څو شېبې نه وې تېرې شوې چې د محمد پشان د هغې ساه هم منظمه شوه او ویده شوه؟!

د هغې خواته لاړم باور مې نه راتلو دومره ژر څنګه ویده شوه؟ رنګ یې لږ خراب معلومیدی دا څو وخته زما لځایه دا ډیر ستړې او په استرس کیده، لومړی خو هلته د ذوالفقار کور کې د میلمنو له لایه مو روز نه درلود بیا په یوه ورځ کې مو کډه رابار کړل د هغه څخه لا ستړې کوونکې کار د محمد ساتنه وه، یعنې دا یو ساعت کې ځمکه او اسمان یې پر بل مخ کړو دومره شوخ، زه چې ماموریت ته تلم دومره شوخ نه وو، دا د ذوالفقار کور کې اوسیدلو شوخ کړې البته وهل یې هم زده کړې چې هغه شک نلرم ذوالفقار ورته زده کړې ...

د هغې تر څنګ پریوتم، سترګې مې پټې کړې، بدن مې ستړې و، خوب راتلو خو ذهن مې نا ارام وو، د ذوالفقار خبرې، د الفا سره معامله کول، د غفار سره د ملاقات وخت اخیستل او بیا شموئیل ..

همغه حال کې چې سترګې مې پټې وه لځان سره مې وویل: که راځې نو اوس راشه.
ناڅاپه د کوټې فضا بدله شوه، لکه هوا چې درنه شوې وی؟ په تلوار مې سترګې خلاصې کړې، شموئیل د کوټې په کونج کې ولاړ و ..
شموئیل- دا لا ما درته ویلې وه چې نن ماښام راځم؟ بیا تا غوښتل ویده شې ماشومه؟

کرار ساه مې واخیسته او ومې ویل: نه وم ویده، پوهېدم چې راځې.
د اقرا خوا ته مې وکتل، هغه لا کرار ویده وه، بې‌خبره له هر څه.

شموئیل- زه په حویلۍ کې درته په تمه یم ...

د شموئیل د تلو سره سم زه هم لځایه پاسیدم او د حویلي خواته روان شوم، شموئیل په حویلۍ کې کرار قدم واهه زه یې چې ولیدم نو په ورو،ورو ګامونو زما خواته رانږدې شو، څو شیبې په چوپتیا او دروند نظر یې راوکتل د هغه وروسته یې وویل: ته فکر کوې زه بې دلیله دا څو وخته ورک وم؟ یا که فکر کوې هغه ورځ چې ته الفا نیولې وې زه له قصد ستا مرستې ته رانغلم؟

بغیر د څه ویلو مې وروکتل، چې هغه ژوره سا واخیسته او ویې ویل: زقوم ...!
د دې آشنا غو عین حال کې ناشنا نوم په اوریدو غوږنه مې تیز شول.
- زقوم؟ څه؟!

شموئیل په بې حوصله انداز سر وخوځاوه او ویې ویل: دومره به خبر لرې چې هغه ستا څه کیږي؟
په حیرت مې وویل: زما؟ هغه یو پیرې دی زما څه کیدلې شي؟ هغه یوازې زما سره مرسته وکړل او ... او څهره یې بیحد زما پشان وه او هو ما فکر کاوه هغه تا زما مرستې ته راستولې؟!
شموئیل- نور؟
- نور څه؟
شموئیل- مطلب نور څه یې درته ونه ویل؟ بس همدومره پوهیږې؟

لږ فکر مې وکړو هغه چې کله زه د الفا څخه وژغورلم بیا یې خپل څهره راته وخودلم نو ویې ویل: زه ستا همزاد یم؟!

شموئیل- هو، صحیح دی وویل هغه ستا همزاد دی، البته موږ ورته قرین وایو ..
- یعنې څه؟ دا څه معنا؟
شموئیل- د ډېر بحث حوصله نلرم یوازې دومره پوه شه چې هغه او ته یو یاست.
سترګي مې له حیرت راووتل خو د څه ویلو مخکې شموئیل وویل: کله چې یو انسان

نړۍ ته راځي نو د هغه سره خدای یو قرین پیری هم زیږوی او زیاتر وخت یعنې سلو کې 99% سلنه وخت دا قرین پیری کافر وی او ستا قرین هم کافر دی

د شموئیل په دی خبره دا ځل د سترګو علاوه خوله مې هم له حیرت خلاصه پاتې شوه چې هغه پخندا وویل: دومره حیرت مکوه دا کار د ټولو انسانانو سره کیږی، البته څو سلنه خلک شاید په نړۍ کې موجود وی چې خپل د قرین سره یې په ژوند کې ملاقات کړی وی او ته یو د همغه کسانو څخه یې ...

- یعنې اوس باید په دی خبری خوشحاله شم؟
شموئیل کرار وخندل او ویې ویل: البته که قرین دی زقوم نه وایې باید خوشحاله شوی وایې،خو اوس فکر کوم باید خفه شې.
- ولې؟
شموئیل بیا یوه ژوره ساه واخیسته او ویې ویل:

- هغه ورځ ما غوښتل ستا مرستي ته راشم، خو ځینو پیریانو مې مخه ونیول، جګړه وشوه... اوږده، بده جګړه، زه یوازی وم هغوي ډېر وه که عبدالرحمان مې مرستي نه وایې راغلې نو خدای خبر که ژوندي پاتي شوی وایې، د هغوي شمیر دومره ډېر وو چې موږ تښتیدلو ته مجبور شو، زه پوهېدم چې ته په خطر کې یې خو هغه منطقه زما او زما د قوم د ټول پیریانو لپاره خطرناک وه، نه زه درتللې شوم او نه مې هم خپل د قوم کوم پیری د مرستي لپاره دراستولې شو نو مجبوره شوم د زقوم څخه مرسته وغوارم ... هغه ستا قرین دی خو ...

شموئیل په هغه تیاره کې مخامخ زما سترګو ته راوکتل له غوسي څخه یې سترګي وځلیدل کله چې ویې ویل: خو څومره چې ته ساده او دل رحم یې هغومره هغه خدای او قران وهلې دی، یعنې د دی باوجود چې ستاسو ژوند یو پر بل ترلې او ستا په مرګ هغه هم مړ کیږی هغه نغوښتل ستا سره مرسته وکړي او ویل یې: که مړ کیږی مړ دی شي پر ما یې څه؟

په حيرت مې وروکتل چې شموئيل د غوسې څخه وخندل او ويې ويل: ما ډېر اصرار وکړو تر څو ستا مرستي ته درشې،ځکه هغه يوازيني کس وو چې د هغه ځای پيريانو ورسره کوم کار نه درلود، هغه چې هم زما ډېر ټينګار وليد نو شرط يې کيخود ستا د ژغورلو لپاره ...
- څنګه شرط؟

شموئيل په پوسخند وويل: هغه يو قرين پيری دی او داسې پيريان حق نلری د آزاد پيريانو قبايلو ته تګ،راتګ وکړي يا هلته اوسيږی، د هغه شرط همدا وو ... ويل يې: زه طاها ژغورم خو ته به يوه هفته ما ته خپل په قبيله کې د اوسيدلو اجازه راکوی او ...
- او...؟

شموئيل په غوسه خپل غاښونه وچيچل ما تراوسه شموئيل په داسې حالت نه وو ليدلې، لکه چې زقوم بيحد غوسه کړی وو چې داسې غاښونه يې ورته له قهر چيچل؟

شموئيل- او يوه هفته چې زه هر کار ستا په قبيله کې کوم ته به راته څه نه وايې .... پوهېږی طاها هغه په دی يوه هفته کې دومره خرابي زما قبيله کې جوړه کړه چې دا يوه مياشت کيږی زه د هغه د خرابيو صفا کاری کوم خو نه خلاصيږی ...
د شموئيل غږ د غوسې څخه لوړ شو او ويې ويل: افسوس چې ستا قرين دی او مړ کولای نشم کنه قسم پر خدای خپل پر لاسونو مې وژی، خو خير دی عبدالرحمان ويسې چې رافکر يې کړو چې که وژلي نشو وهلې خو شو؟

نو ما هم هغه ته وويل چې زقوم که د اوه ځمکو تل، يا د اوه آسمانو سر ته هم ختلې وی راپيدا او ماته دی راوړی، غوښتل مې داسې کار ورسره وکړم چې د مرګ بتر وی، عبدالرحمان چې هم دی کارونو ته تکړه دی د يو ساعت په موده کې زقوم لاس تړلې ما ته راوړو ما غوښتل ښه د دی يو مياشت خپل د زړه کوفت ورڅخه وباسم خو هغه يوه خبره راته وکړل ...

- د څه خبره؟

شموئیل: هغه ویل ما مه وهې زه تاسو یو مهمه راز وایم ...؟!

- یعنې د طلاو خبره هغه تاته وکړل؟

د شموئیل په شونډو شیطان مسکا راغلل او ویې ویل: هو، لومړۍ خو راته د طلاو په اړه وویل او غوښتل یې په دی مثلاً راز خبری باندی زه هغه خوشی کړم! خو ما ورته وویل دا خو راز نه دی؟! طاها ما ته خپل هم د طلاو په اړه ویل نو چندان مهم خبره دی نه ده کړی او عبدالرحمان ته مې د هغه د وهلو وویل خو هغه د وهلو مخکې بیا چغه کړه چې نه ... نه ما مه وهې یو بل مهم راز وایم ..

پخندا مې وویل: عجیب ده خو فکر کوم هغه هسې د راز، راز پر ویلو غوښتل خپل ځان د وهلو څخه وژغوری؟!

شموئیل هم زما پشان وخندل او ویې ویل: ما هم همدا ګمان وکړو هسې هغه ډیر چالاک او مضر دی، خو هغه ډېر چغې وهل او ویل یې نه ... نه دا د رښتیا هم مهم راز دی نو مجبور ما هم ورته غوږ ونیو، هغه ورځ کله چې هغه ته وژغورلې نو د تللو لځایه هغه بیرته د الفا دوی خواته راځې او د هغوی خبرو ته غوږ نیسې، فکر کوم د الفا یو کس چې غفور نومیده که غضروف ..

د شموئیل د خبری منځ کې مې وویل: غفار.

شموئیل- هو ... هو غفار هغه الفا ته وایې عزیزی طاها ته ضرور د طلاو د ځای په اړه ویلې نو ضرورت نشته نور عزیزی ژوندی وساتو، عزیزی به مړ کړو او د طاها څخه به د طلاو د ځای په اړه معلومات واخلو، الفا هم د هغه کس دا خبره خوښیږی او غواړی چې عزیزی ووژنې، خو عزیزی ورته وایې زما سره د طلاو څخه لا ګټور معلومات شته ..

په بیحد توجه مې د شموئیل خولې ته دوه سترګې نیولې وه، زړه مې غوښتل هغه منحوس غفار خپل په لاسونو ووژنم، کاش هغه شپه مړ شوی وایې .. د دی لپاره نه چې زه یې د الفا په ګیر ورکړم د دی لپاره چې دومره نمک حرام وو چې غوښتل یې

عزيزی ووژني، منم چې ما هم د هغه جاسوسي پوليسانو ته وکړل او غوښتل مې هغه راونيسم خو ما هېڅکله د هغه د مرګ اراده نه درلودل، خو غفار؟! هغه څو وخت چې د عزيزی سره مې کار کاوه بار،بار د دی شاهيد وم چې عزيزی هغه ته ډېل پيسي، بهترينه موټر او حتا کور لا ورکړی وو د دی دومره کارونو باوجود ده ورسره دوکه او چل وکړو خبيث ...

شموئيل- د عزيزی سره داسې معلومات دی چې د طلاو څخه ډېر ارزښت لری الفا ته ..
- د څه معلومات؟
شموئيل- زقوم يوازی يو نوم اوريدلې، يعنې عزيزی يوازی يو نوم الفا ته ويلې وو کوم چې الفا يې د هغه د وژولو څخه منع کړی وو، او همغه وخت کې لکه چې پوليسان هم رارسيږی او دوی نيسی ...

په بې کرار مې وپوښتل: د څه نوم؟
شموئيل- سايه ...
- د څه سايه؟
شموئيل- د څه سايه نه ماشومه، لکه چې د هغه کس لقب سايه ده؟! يعنې يو ډول پټ نوم دی.
- لکه الفا؟
شموئيل- هو، افرين همداسې ...

د شموئيل په دی خبره يو دم بد احساس مې په ټول وجود کې خپور شو او په نااميد لهجه مې وويل: نو تا څکه موټر کې هغه خبره وکړل؟ يعنې ته فکر کوی الفا يوازی د طلاو پخاطر زما پسې نه دی؟
شموئيل زما سترګو ته راوکتل او ويې ويل: نه طاها .. الفا يوازی طلا نغواړی، الفا وېرېږي ... وېرېږي چې ته د سايې په اړه معلومات ولری؟!

په چوپتيا کې مې ورته غوږ نيولې وو.

شموئیل- که طلا هم ورکړې، بیا هم ګمان نکوم هغه تا پرېږدی، ځکه ته د هغه لپاره یواځې یو ساده کس نه یې .. ته د هغه لپاره یو خطر یې .. دا سایه که هر څوک یا هر شئ دی، الفا ورڅخه ډار لری او نغواړی کوم څوک د هغه په اړه معلومات ولری ...

د شموئیل په دی خبرو بیحد نامید شوم، ما نن دا موضوع تر ډېره برید ځانته حل کړې وه او خوشحال وم چې سبا ځم او د غفار څخه د الفا نمبر اخلم او هغه ته د طلاو ځای ښیم او وسلام ... خو اوس یو بل مصیبت حتا د طلاو څخه لا لوی مصیب مې په سر رانازل شوی وو، خو یوه شیبه کې مې دا فکر ذهن ته راغلو که الفا ته ووایم زه د سایه په اړه معلومات نلرم شاید نور زما شا پرېږدی؟

شموئیل پخندا وویل: زه ستا فکرونو ته حیران یم طاها ...
ور ومې کتل چې هغه پخندا وویل: یعنې د کوم کس د نوم څخه چې هغه وېرېږی ته د هغه کس نوم ورته اخلې او بیا ورته وایې زه د هغه په اړه معلومات نلرم؟
لږ مې فکر وکړو رښتیا وایې که نوم یې واخلم مطلب زه د هغه د فکرونو تایید کوم.
شموئیل په لوړ غږ په قهقهه شو چې ما په تروش تندی ورته وویل: مه خانده نه ویني زه په څه مصیبت کې راګیر یم چې حتا سم فکر لا نشم کولای؟ او ته په دی شرایطو کې پر ما ریشخند ...

لا مې خبره نه وه ختمه کړې چې شموئیل ناڅاپه خپل لاس پورته کړ او په ټیټ خو جدي لهجه یې وویل: چوپ شه.

زما ژبه د هغه په جدی لهجې په اتومات توګه بنده شوه، چې شموئیل سر لږ چپ اړخ ته ونیو، سترګې یې پټې کړې، داسې لکه چې تمرکز کوی او غواړی د یو ډېر لرې ځای څخه غږ واوری؟!

څو شېبې تېرې شوې، زما زړه بې‌اختیاره درزیدو د وېرې احساس مې درلود،

شموئیل کرار وویل: دلته یو څوک دی، زموږ ډېر نږدې.
ما په وارخطایۍ شاوخوا وکتل.

- څوک؟ دلته خو هيڅوک نشتـ .

خو لا مې خبره نه وه ختمه کړې چې شموئيل يو قدم شاته شو او بيا ناڅاپه په يوه شيبه کې د تور دود پشان زما د سترګو وړاندی غيب شو.
- شموئيل؟!

په ټيټ غږ مې د هغه نوم واخيست خو ځواب رانغی، يخه خوله مې د ملا په تېر راغلل، سترګې مې په وېره د کور شاوخوا وګرځول خو هېڅ نه وو؟ نه پوهېږم ولې خو يو حس د کور د دباندی خواته ټيل وهلم، په لړزانده ګامونو د حويلې د دروازی خواته روان شوم کله چې دروازی ته ورسيدم نو خپل ټول جرئت مې راټول کړو او دروازه مې خلاصه کړه،کوڅه کې توره شپه وه هېڅوک نه ښکاريدو د جنرال دوی د کور مخکې بل ګروپ يو څه کوڅه روښانه کړې وه ..

په همغه تياره کې مې د جنرال دوی د دروازی په سر کمری ته فکر شو او د دومره کوچني وسيلي په ليدو لږ مې زړه ډاډمن شو، که کوم څوک راشې کمره کې ښکاری، غوښتل مې بيرته کور ته ننوځم چې د کوڅې سر کې د دېوال تر څنګ په زحمت مې د يو سړی په سيوری نظر ولګيد، حرکت يې نه کاوه، خو سترګې يې مخامخ زما پر کور ښخې وی.

د زړه درزا مې ډېره شوه، غل نه ښکاريدو، د هغه درېدل د کتلو طريقه د ... د څار سړی و خو څوک زما د څارني لپاره نفر راستولې شي؟ امکان لری جنرال د ساتني لپاره دا کس دلته ګمارلې وی؟ هو ضرور هغه ګمارلې، که د الفا کس وايې بايد زما په ليدو يا يې حمله راباندی کړی وايې يا هم تښتيدلې وايې؟ خو دا کس ډاډمن ولاړ دی، مطلب يا د جنرال کس دی يا هم د بوډا چې داسې بيغم ولاړ دی؟!

په دی فکر بې‌اختياره مې يو قدم مخکې واخيست، چې هغه هم حرکت وکړ، خو شاته ..د هغه په دی کار لږ حيران شوم خو غږ مې ورباندی وکړ.
- ودريږه، ته څوک يې؟

زما غږ لکه چې هغه په خود راوړو؟ ځکه په تلوار او چټک ګامونو په ځغاستو شو، نه پوهیږم دومره زړه او جرئت ما د کوم خوا کړو خو زه هم ورپسي په منډه شوم ..
خو بې ګټې وه تر څو چې زه د کوڅي سر ته رسیدلم هغه تللې وو، د کوڅي سر کې ودریدم په سخته مې ساه اخیسته، له دی چې دومره په تلوار مې منډه کړې وه ستمي مې کاوه څو شیبې هملته ولاړ وم او شاوخوا مې کتل، چې تازه خپل موقعیت ته مې فکر شو کرار مې شا ته وکتل باور مې نه راتلو د یو ناشنا کس پسې په نیمه شپه له کور راوتلې وم او منډی مې وهلې وه؟ شاید د هغه پلان همدا وو چې ما د ځان پسی له کور راوباسي؟

په دی فکر بغیر له دې چې شاوخوا وګورم یو ځل بیا په منډه شوم او په یوه ساه مې ځان د کور خواته راورسو، خو کور ته د ننوتلو مخکې و دریدم، د کوڅې سر ته مې وکتل خو هېڅوک نه وو، یعنې هغه کس د الفا نفر وو؟ که د پولیسانو؟ که د پولیسانو نفر وو نو ولې وتښتیدی؟ خو لومړۍ ونه تښتیدو کله چې ما غږ کړل بیا وتښتید؟! اخر دا څوک وو؟

زما نظر لا هم د کوڅې خواته و او ساه مې لا سم ځای ته نه وه راغلې، چې د شالخوا مې د دروازې د پرانیستل کېدو غږ واورېد ...

— طاها؟

په تلوار شاته وګرځیدم، ذوالفقار د دروازی په چار چوکاټ کې ولاړ وو سترګې لا هم د خوب ډکي وه خو تندی تروش و.
ذوالفقار- په دی نیمه شپه ته د کور دباندی څه کوی؟
غوښتل مې یو دروغ ووایم او خبره خلاصه کړم، خو د ذوالفقار د نن ماذدیګر هغه خبری او ګواښ او بل دا چې په دی نیمه شپه داسې ناڅاپه راوتل په هېڅ ډول د دروغو په ویلو نه پټ کیدل،سترګې مې یو ځل بیا د کوڅې د سر خواته ونیول او بیا مې د ذوالفقار تروش تندی ته وکتل او ومې ویل:

- ه ... هغه ما... ما يو څوک وليد ...
ذوالفقار يو قدم مخې ته راغی.
– څوک؟
- يو سړی... دلته، د دېوال څنګ ته ولاړ وو.

زما په خبره ذوالفقار کامل کوڅي ته راووت او شاوخوا يې په مشکوک نظر وکتل او ويې ويل: اوس چيرته دی؟
ما ورو سر وخوځاوه او ومې ويل: لاړ... وتښتېد.
د ذوالفقار غږ سمدستي بدل شو.
– يعنې ته په نيمه شپه يوازې ځان د يو سړي پسي له کور راووتلې؟

ساه مې سينه کې بنده شول،عجب بد مې وکړل، لکه چې مجبور بيا د دروغو لمن ونيسم؟ په دی فکر په تلوار مې وويل: نه ...نه .. زه د هغه پسې نه يم راوتلې، زه تشناب ته تلم په حويلې کې مې غږ واوريد نو شکمن شوم، کله چې ښه غوږ مې ونيو نو غږ د کوڅې د خوا راتلو نو ما هم يوازی سر دباندی ښکاره کړو چې وګورم څه خبره ده؟ بس همدومره ...

ذوالفقار څو شېبې په چوپتيا کې راوکتل د هغه وروسته په غوسه يې وويل: د کوڅې منځ کې ولاړ يې او بيا وايې يوازی سر مې ښکاره کړو؟ نو دا ستمي په څه خاطر کوی؟
- ها؟! ستمي؟! نه .. زه ستمې نکوم هغه... لړ يخ دی د يخ د لاس داسې غبړ،غبړه ساه اخلم ..

ذوالفقار په غوسه خپل غاښونه سره وچيچل او ويې ويل: کرکه لرم له دی چې زما سترګو ته ګوری او دروغ راته وايې طاها ...زه تا خپل د لاس د ورغوی پشان پيژنم فکر کوی په دی خبرو دی خطا وځم؟

په شرم مې سر لاندی واچوا، منم چې ما دروغ ورته وویل خو د ده پخاطر مې وویل نه مې غوښتل ورخطا شي البته د ورخطایی څخه ډېر په دی خبره وېرېدم چې که پوه شي زه په نیمه شپه د لیونیانو پشان د یو ناشنا کس پسی څغاستلې یم په ژوندینې مې څرمن اوباسې ...

ذوالفقار یو ځل بیا په مشکوک انداز د کوټې خوا ته وکتل او ویې ویل: سهار د جنرال سره خبری کوم شاید هغه پوه شي دا کس څوک وو؟

بیا یې مخ زما خواته راوګورځو او په ګواښونکي لهجه یې وویل: له نن څخه وروسته لیدلې مې وی یوازی ځان چیرته تللې وی دا پښې دی درمات کوم طاها پوه شوی کنه؟

په تلوار مې سر د سمده په توګه وخوځاوه چې ذوالفقار د کور خواته ټیله کړم او پخپل هم راننوت، همغه حال کې چې دروازه یې بندول ویې ویل: که کوم مشکوک شئ دی ولید یا واورید نو د دی لځایه چې د خر پشان سر ښکته واچوی او د هغه شئ پسې یوازی ځان روان شې ما ته ووایه، د یو لځایه دوه نفر ښه وی که یوازی ځان دی راونیسي تر څو چې غږ له خولې باسي خبره دی خلاصه ده، ولې په خبره نه پوهېږی؟ پخوا دومره خر نه وی نه پوهیږم دا څو وخته ولې داسې شوی یې؟

بغیر د څه ویلو سر مې وخوځاوه او د کور پخوا روان شوم، سهار وختي ذوالفقار شرکت ته د تلو غږ وکړو زه هم ژر تیار شوم او له کوره ووتلم، لاره کې ذوالفقار که څه هم د پرون پشان مرور نه وو خو بیا هم خبری نکول او تندی تروش وو، غوښتل مې ورڅخه وپوښتم ایا د جنرال سره دی نن سهار ولیدل او د هغه کس په اړه دی پوښتنه وکړل؟ خو د هغه تروش تندی د هر ډول پوښتنو او بحث کولو څخه منع کولم ..

کله چې شرکت ته ورسیدو هغه بغیر د څه ویلو خپل دفتر ته ننوت او زه د زبیر خواته لاړم، همدا چې کښیناستم زبیر پوښتنې کول پیل کړل چې څه شوی؟ او څه

شوی؟ دومره یې وویل چې ما هم ورته د پرون ماښام کیسه وکړل، کله چې خبری مې خلاص شول نو زبیر په سر ووهلم او په غوسه یې وویل: مړ شې لخیره طاها ته د کوم وخت داسی قهرمان شوی یې چې په نیمه شپه د ناشنا خلکو پسی منډی وهې؟

- خوشې مې کړه زبیر، ومې ویل کنه هغه شیبه خپل هم پوه نشوم چې څه بد مې وکړل، خو اوس خو کوم څه نه دی شوی؟ نو ولې تاسو خبره دومره کش کوی؟
زبیر- خبره کش کو؟ اخ دوه پایه خره! ستا د مړه کولو لپاره زر ډول کسان درپسې دی او هغه وخت ته داسې یوازی ځان په نیمه شپه د هغوی پسې ځې او زړه دی هم غواړی چې د شجاعت یو مډال هم درکړو؟ زه نه پوهیږم تا په دی ذوالفقار اخیر څه چوف،منتر ویلې چې د دی دومره کارونو او خبرو باوجود تا نه وهې؟! کنه کوم ذوالفقار چې ما پیژندو باید د پرون ماښام په پیښې ته اوس ګوډ راغلې وایی نه خپل پر پښو ..

ما زبیر ته ویلې نه وه چې پرون ماذیګر ذوالفقار خپل زړه راباندی یخ کړو او ویې وهلم،په دی فکر په پوسخند مې وویل: دومره هم ښه شوی نه دی، څومره چې فکر کوی ...
زبیر- څه مطلب؟
نه مې غوښتل زبیر ته ووایم چې ذوالفقار ووهلم، نو ځکه خبره مې بدل کړل او ومې ویل: پرون ماښام د هغه کس د لیدلو وروسته کله چې ذوالفقار راغلو نو ویې ګواښولم .. ویل یې که یو ځل بیا داسې کار وکړم نو پښې مې قلم راماتوی ...
زبیر- نچ نچ په دی ذوالفقار ضرور یو شې شوی کنه هغه د ګواښولو سړی نه وو ... هغه ډیر د عمل سړی وو .. باید پښې درمات کړی وایې نه دا چې ویلې وایې ..

- مرګ،مرګ ورک شه زما له څنګ .. ته مثلاً زما ملګری یې هغه وخت غواړی ما خپل په کاکا ووهې؟ دا نو ستا ملګرتیا شول؟
زبیر- خره ... زه ستا پخیر خبری کوم ته دا څو وخته خپل په خیر او شر نه پوهیږی ..

- زما د سترګو له مخې ورک شه په هغه خیر او شر دی ...
زبیر- خپل ورک شه خیرن انسان، له خدایه غواړم هغه د مافیا مشر هم د هغه لیونی جنرال پشان لیونی وی او خدای دی تا هم په ګیر ورکړی چې دا بل پښه دی هم درته تبر نه چې په ساطور درته غوڅه کړی، هغه وخت به زما د نصیحتو په قدر پوه شې خر انسان ...

د هغه دی خبرو ته مې په خلاصه خوله کتل چې هغه مخ وګرځو، خو د تلو مخکې د خر پشان د شالخوا پر ما یو لغت وار کړل چې زما لځایه په څوکۍ ولګیدل د هغه په دی کار د خندا غړ مې پورته شو چې په ځواب کې د زبیر لخوا دوه،دری کنځل مې نصیب شول، زبیر تر دوه،دری ساعتو بیخې زما د میز خواته رانغلو او همغسې شا ګرځولې زما خواته ناست وو او خپل کار یی کاوه دومره چې زه خپل په کړی خبرو پښیمان شوم،ما نه باید د هغه سره دومره تیزی کړی وایې، زړه مې غوښتل لاړشم خبری ورسره وکړم او بخښنه ورځخه وغواړم ...

خو بیا مې ځان سره وویل اوس یې پریږده یو څو ساعت وروسته کله چې له شرکت څخه تلم نو هغه وخت به ورسره خبری وکړم او اشتی به یې کړم، اوس مې په قران که خپل حوصله لا درلود له یو خوا مې فکر د شموئیل په ناڅاپه غیب کیدلو خراب و له بلخوا الفا، طلا، غفار، عزیزی او هغه منحوس سایه د هغه څخه بتر لا هغه کس چې په نیمه شپه کې زموږ کور د ځار لاندی نیولې وو،اخر دا څوک وو؟! په همدی ګډوډ فکرونو کې لګیا وم خپل کار مې هم کاوه، زما دنده دا وه چې د اخیستل شوی او خرڅ شوی دواګانو لیست په کمپیوټر کی ثبت کړم، لګیا وم هغه مې کمپیوټر کې منظم کول چې زبیر مې د میز تر څنګ ودرید، د هغه په راتلو نیم نظر می ورواچو خو بیرته خپل پکار لګیا شوم چی هغه وویل: کار دی خلاص نشو؟

- نه، یو څه پاتې؟ کوم څه دی ویل؟
زبیر په شیطنت وویل: هو، غوښتل می درته یو مهم مقاله وښایم.
همغه حال کې چې کمپیوټر کې لګیا وم ومې ویل: څنګه مقاله؟ د شرکت په اړه ده؟

زبیر- نه، شرکت مقاله څه کوی؟ ستا د کار په اړه ده؟
د هغه په دی خبره نظر مې د کمپیوټر له صفحې واخیست او می ویل: زما د کار په اړه؟ کوم کار؟

زبیر په مسخره خندا وویل: همدا قهرمان ملی جوړولو په اړه دی ..
تندی می تروش کړو او ومې ویل: سم خبری وکړه زبیر په قران که نن ستا د خبرو او کارونو حوصله لرم ..

زبیر چی زما تروش تندی ولید نو د ریشخند او بیځایه خبرو کولو څخه تېر شو او خپل موبایل یې زما خواته ونیو، ما هم بغیر د څه ویلو یې موبایل راوخیست د فسبوک یو پاڼه وه چې یو څو صفحې خط پکې لیکل شوی وه د خط ویلو مخکی مې د زبیر خواته وکتل او ومې ویل: که بیځایه کوم فضول مقاله وی لکه هغه مقالې پشان دی چی څو کاله مخکې دی د روانشناسې په نوم پر ما وویل او هسې اپلاتې پکې لیکل شوی وه، نو د همدا اوس څخه خپل ځان وهلو ته تیار کړه ..

زبیر پخندا وویل: اووو په کراره د کوم وخت ستا څخه بروسلې جوړ شوی؟ تخو یو ځل مقاله ووایه بیا د وهلو ګواښ وکړه.

د هغه په دی خبره د موبایل خواته مې وکتل چی زبیر زما څنګ ته جوخت ودرید او داسې حال کی چی خپل د موبایل خواته یی اشاره کول په شیطان مسکا یی وویل: هغه لومړۍ مقاله وګوره هغه چی عنوان یې دی" ویښ وجدان" د زبیر په ویل شوی مقالې مې ګوته ټینګ کړل او کامل موضوع ته داخل شوم د لومړۍ دوه،دری کرښو د ویلو وروسته سترګی مې د حیرت پراخی شوی، مقاله زما په اړه وه؟ یعنی د زبیر خبره زما د قهرمان ملې کیدلو په اړه وه او لیکل شوی وه چی ما څنګه په خالې لاس یو انتحاری کس نیولې وو؟

یعنی څلور صفحې لیکنه زما د هغه نه کړې کار په اړه لیکل شوی وه او د مقالې په اخر کې هم ما ته د یو اتل درجه راکړل شوی وه چی خپل د هموطنانو د ژوند د

ژغورولو لپاره مې داسی یو خطرناک کار ته لاس اچولی وو،د هغه څخه جالب دا چی اخر کی زما هغه عکس چی لوخ لېړ د شفخانې په کټ پروت وم او څنګ ته می بوډا او نور امنیتي کسان ولاړ وه کیخودل شوی وو، زه لا د هغه ویل شوی مقالي په حیرت کی وم چی زبیر موبایل زما له لاسه واخیست او د څو شیبو اخوا دیخوا کولو وروسته یی موبایل بیرته زما خواته ونیو او ویی ویل:

– ډیر کسانو کمینټ کړی او ستا د هغه قهرمانانه کار په اړه یې نظرات وړاندی کړی خو د دغه کس کمینټ بیحد ما ته عجیب ښکاره شوه طاها .. ته یو ځل وګوره ستا په نظر یو څه بل ډول نه دی؟

زبیر چې کوم کمینټ خوا ته اشاره کول هغه مې ولوست،د رښتیا هم عجیب کمینټ و، یعنې دوه ټکي وه خو داسې چې انسان یې ګنګس کاوه،البته زه یې د ګنګس کولو لځایه وډار کړم لیکلې وه "عجیب ده د کوم وخت څخه عربستان پکتیا ته راغلې؟" د زبیر خواته مې وکتل او ومې ویل: ایا زه چې کوم فکر کوم ته هم همغسې فکر کوی؟

زبیر- ستا په فکر خو نه یم خبر، خو دا مسج ما ته داسې ښکاری لکه هغه کس چې د اصل کیسي څخه خبر وی او اوس د ریشخند او طعني په توګه وایې"د کوم وخت عربستان پکتیا ته راغلې؟" مطلب غواړي په کنایه توګه ووایې تخو عربستان ته نه وی تللې ...

د زبیر خبرو وېره نور هم را ډیره کړه ځکه ما هم همدا ګمان کړی وو، دا کس داسې کمینټ کړی وو لکه د هر څه څخه چې خبر وی؟ او اوس ریشخند وهي په دی دورغجني کیسي؟ خو دا څوک دی؟ زبیر داسې حال کې چې د هغه کس د فسبوک پروفایل کتلو ویې ویل: عجیب ده خو دا فسبوک اکانټ دقیقاً د دی پوسټ د نشر کیدلو شل دقیقي وروسته جوړ شوی؟ ساعت ته یې وګوره، هغه پوسټ شوی په اته او څلویښت دقیقو او دا اکانټ جوړ شوی په پوره نهه بجو؟!

- مقاله چا نشر کړی؟
زبیر- د حوزی لخوا نشر شوی.
- حوزه؟
زبیر- هو، وګوره د ** حوزی د امر لخوا نشر شوی، صبر د حوزی د امر نوم هم لیکل شوی وو ...

د کوم حوزی نوم چې زبیر وویلو زما ذهن ته یې یوازی د یو کس نوم راوست چې بې اختیاره مې له خولې ووت: حــمیدی؟
زبیر چې تر اوسه لګیا وو د هغه حوزی د مشر د نوم پسی ګرځیدو زما په خبره په خوشحالۍ سر وخوځاوه او ویې ویل: هو .. هو حمیدی همدغه کس خپل فسبوک پاڼه کې دا مقاله نشر کړی ...

د "حمیدی" د نوم اورېدلو سره بد احساس مې په وجود کې خپور شو، شونډې مې وچی شوې، کوم فکر مې چې ذهن ته راتلو هغه د منلو وړ نه وو ..

تر دی حد چې بېاختیاره مې له خولې ووتل.
- دا امکان نلری، هغه داسې کار نشې کولای ...
زبیر په حیرانتیا راوکتل او ویې ویل: ته یې پېژنې؟

څو شیبې مې ځواب ورنه کړ، ذهن مې تېرو ورځو خوا ته لاړ جنرال د اول ورځې د حمیدی ښخه چندان ښه نه راتلل، بوډا هم همداسې وو، ویل یې د مجبوریت ورسره کار کوو کنه ماموریت کې مو نه نیوو، اخیر جنرال او بوډا ولې د حمیدی ښخه بد راتلل؟ او دا عکسونه ... دا ټول اصل کې یو صحنه سازی وه چې بوډا او جنرال زما د کورنۍ او خپلوانو د خطا ویستلو لپاره برابر کړې وه، بوډا نغوښتل دا عکسونه عمومي فضا کې نشر کړې، نو بیا ولې حمیدی دا عکسونه او هغه خبری په عام فضا کې نشر کړی؟

په نیولې غږ مې زبیر ته وویل: یوې خبرې ته فکر کوم، خو له خدایه غواړم چې هسې زما منفي فکر او خیال اوسیږی نه ربنتیا ...

زبیر څوکۍ راکش کړه، زما څنګ ته کیناست، خندا یې له شونډو تللې وه په جدی انداز یې وویل: څه مطلب؟ زه پوه نشوم.
- نه پوهیږم زبیر ډاډمن نه یم خو فکر کوم حمیدی له قصد دا مقاله نشر کړی؟!
داسې لکه چې غواړې ما د جنګ منځ ته ټېل وهي ..؟

زبیر څو شیبې په تروش تندی زما خواته راوکتل بیا یې خپل موبایل ته وکتل او ویې ویل: که ته فکر کوی هغه د حوزی مشر یا همغه حمیدی له قصد غواړی تا جنګ ته واچوی نو ډیر امکان یې شته دا کمینټ هم هغه پخپل کړی وی؟ ځکه د مقالې د نشر کولو او اکانټ جوړ کولو منځ کې شل دقیقی فاصله ده،لومړی دا مقاله نشر کړی بیا راغلې خپل یې ورته کمینټ کړی؟! خو ولې؟ مطلب هغه هم د دولت نفر دی او ستا له خبرو څخه واضح ښکاری چې هغه ماموریت کې ستاسو سره ملګری وو .. نو بیا ولې باید وغواړی تا د جنګ میدان ته ټیل وهې؟

خپل سر مې لاسونو کې ونیولو،ګنګس وم نه پوهیدم څه روان دی؟ حمیدی ولې داسې کار وکړو؟ د ښه زړه یې دا کار کړی که د منافقت؟ ایا امکان لری هغه د الفا ... نه ... نه ... دی خبری ته فکر کول لا لیونتوب دی امکان نلری حمیدی دی د الفا جاسوس اوسیږی ...خو که جاسوس نه دی نو ولې داسی یو کار کړی؟ جنرال ویل د الفا جاسوسان زما تر حوزی رارسیدلې؟ ایا امکان لری د حوزی لفظ جنرال د یو کنایه او اشاری په توګه د حمیدی خوا ته کارولې وی؟

زبیر ژوره ساه واخیسته او ویې ویل: دا مقاله دوه معنا لری طاها، یا دا چې هغه غواړی ستا څخه قهرمان جوړ کړی یا هم غواړی نښه دی وګرځوي ...

د زبیر دا جمله دقیقاً زما د زړه خبره وه ما هم همدا ګمان کاوه، د زبیر د لاس څخه مې موبایل واخیست، مقاله مې بیا له سره ولوستل، هره کرښه اوس راته ستاینه نه،

بلکې یو ډول فریب او چل ښکارېده.

- فکر نه کوم دا مقاله دی زما د نوم د ښه کولو لپاره نشر شوی وی ...
زبیر- نو دځه لپاره نشر شوی؟
- دا نشر شوی تر څو ما طعمه وګرځوی ..
زبیر- طعمه؟ څه مطلب؟

ځواب مې ورنکړو خو زړه کې سل په سل ډاډمن وم چې دا مقاله ضرور د یو لوی پلان پر بنسټ نشر شوی، چې د هغه پلان تر شا د الفا لاس ضرور دی زه باید یوازې دا معلوم کړم چې حمیدی د الفا سره یو لاس دی او کنه؟ او ایا هغه ته جاسوسې کوی او کنه؟

زبیر چې زما ځواب وا نه ورید خپل موبایل کی لګیا شو او څو شیبی لا نه وه تیر شوی چې په حیرت یې ماته غږ کړل او ویې ویل: هغه اکانټ چې کمینټ یې کړی وو، یو دم لمینځه لاړ، وګوره بیخي پروفایل بند شو ..
په تلوار مې د موبایل سکرین ته وکتل د رښتیا هم هغه کمینټ او اکانټ دواړه پاک شوی وه، دا کار زما وېره د کمولو لځایه نور هم ډیر کړه
داسې حال کې چې دوه سترګي مې د موبایل په سکرین وه ومې ویل: زبیر ..
زبیر- هومم؟ وایه.

- زه فکر کوم باید یو ځل د غفار سره ووینم؟
زبیر د موبایل د سکرین څخه نظر واخیست، ما ته یې په ګنګس انداز راوکتل او ویې ویل: غفار؟ غفار څوک دی؟
- همغه کس چې هغه شپه یې غوښتل ما او ذوالفقار وتښتوی.
زبیر سمدستي سر راپورته کړ او ویې ویل: تا بیا بیځایه خبری شروع کړل طاها؟ ته د هغه سره څه کار لری چی غواړی ورسره ووینې او خبری وکړی؟ اصلاً ستاسو څه خبری پاتې چی ته غواړی دیدن ته یې لاړ شې؟

- زه غواړم د هغه څه وپوښتم چې الفا ولې زما پسې دی؟ او څه غواړی؟
زبیر خپل سر رانږدې کړو او په ټیټ غږ یې وویل: او ته فکر کوی چې هغه به تاته د بلبل پشان ځواب درکړی؟ ته څومره بیعقل یې طاها، که هغه د خبرو سړی وایې نو دا یوه هفته کې به پولیسانو ورڅخه معلومات اخیستې وایې، خو د هغه له خولې څخه هیچا تراوسه سپړ نه دی ویستلې ...

حوصله مې خلاصه شوه او په غوسه مې وویل: نو ته غواړې زه لاس په بل لاس کیږدم او کښینم چې هغوی هر کار زړه غواړی وکړی؟
زبیر- هو، زه همدغه وایم ستا قهرمان کیدلو ته ضرورت نشته په کراره کښینه ځکه پولیسان دا موضوع څیړی ..
په پوسخند مې وویل: پولیسان؟ ته فکر کوی دا پولیسانو چې الفا یوه هفته زندان کې ونشو ساتلې ایا زما ساتنه د هغه څخه کولای شی؟ یا هغه راګیر کولای شې؟

زبیر په فکرمند انداز راوکتل او کرار یې وویل: نو غواړی څه وکړی؟
- غواړم د غفار سره وګورم.
زبیر- فکر نکوم د هغه څخه دی کوم خیر تاته در ورسیږی ...

څه مې ونه ویل په چوپ نظر د کمپیوټر د سکرین خواته مې کتل،زه پخپل هم پوهیدم چې د غفار څخه خدای خبر ما ته کوم د خیر خبر راورسیږي، بلخصوص د پرون شپي د شموئیل د خبرو وروسته چې د هغه منحوس "سایه" یادونه یې وکړل او ویې ویل: چې الفا اصل کې د هغه د معلوماتو پسی دی نه طلا! خو بیا هم زما په نظر د دفاع لځایه حمله بهتره وه ...؟!

یعنې د دی لځایه چې د الفا د کوم وار په تمه اوسیږم، باید خپل وار وکړم یا هم یوه شم د هغه راروان حمله څه ده؟! زه خپل پر ځان نه وېرېدم خو خپل په کورنۍ بیحد وېرېدلم ... تر اوسه مې یاد دی لومړۍ ځل چې د عزیزی اصلي څهره مې ولیدل نو هغه وخت وو کله چې هغه د الفا لخوا راستول شوی دوه جاسوسان شکنجه کول، البته شکنجه نه باید ووایم وژل یې ..

هغه دوه کسانو څخه یو کس وویل که مورِ خبری وکړو نو زمورِ کورنۍ به ووژني، مطلب د الفا لومړۍ ګام د یو کس د بدبخت کولو او خپل غچ اخیستلو لپاره د هغه کس کورنۍ هدف ګرځول او وژل دی، که دا یوه هفته یې کوم کار نه دی کړی معنا یې دا نه ده چې زه یې لیاده ویستلې یم نه .. په دی فکرونو کرار مې وویل.

- که زه لارِ نشم نو هغوي به زما پسې راشي ..
زبیر- څوک؟ څوک به ستا پسې راشي؟
مخ مې د زبیر خواته وګرځو او ومې ویل: دا کوم عادی کسان نه دی زبیر،زه ستا او د ذوالفقار څخه ډېر پوهیږم چې څه بد مې کړی، خو اوس هغه کار شوی زه نشم کولای وخت شاته وګرځوم خو باید خپل کوښښ وکړم چې دا خطر د دی څخه مخکې چې لا ډېر لوی شي همدی نقطه کې لمینځه ویسم، زه نغواړم زما د بیځایه کارونو له لاسه څوک زیان وګوری ...

زبیر- طاها ته خپل وایې دا کسان خطرناک دی، بیا ولې غواړی یوازی ځان د دی خلکو مقابلي ته لارِ شې؟ ته کوم د فلم هیرو نه یې چې ځان قرباني کړی او دا نړۍ وژغوری، نو زما نصیحت او وصیبت ښه په خلاص غوږونو واوره ... زما ګرانه ملګریه! چې یوازی یو ښکر او لیکۍ کم لرې نور سم صحیح دوه پایه خر یې، هر کار چې کوی زمورِ سره په مشوره یې وکړه، مورِ ستا سره یو یوازی ځان کوم غول مخوره ...

څو ثانیې دواړه چوپ شو ..
- خپل به خر یې ..
زبیر پخندا شو او ویې ویل: ښه نو پلان څه دی؟ ذوالفقار ته دې د غفار سره د لیدلو خبره کړی؟
- نه.
زبیر- نو باید اول هغه ته ووایو، ځکه که د هغه له اجازې بغیر لارِشو، نو تا تخو فکر نکوم چې کوم څه ووایې خو زه ډاډمن یم چې زما مغزی به ضرور رامات کړی ...

سر مې وخوځاوه او ومې ویل: شک مکوه ما هم ژوندی نه پرېږدی.
زبیر- نو غواړې ورته ووایې؟
- هو.
زبیر- کله؟
- همدا اوس.

زبیر- ښه نو ورځه ورته ووایه، زه درسره نه ځم ته یوازې لاړ شه او اجازه واخله، هسې دا څو وخته عصاب،مصاب نلرې ستا لځایه به یې زه رانیولې یم او جوړ به یې وهلې یم، باور وکه زما هډوکان دومره ملایم دی که یوه لغته راکړې ماتیږی ..
په پوسخند مې وویل: دا څو شیبې مخکې ما ویل(د زبیر د خبرو تقلید مې وکړو او ومې ویل: هر کار چې کوی زموږ سره په مشوره یې وکړه، موږ ستا سره یو .. اوس څه وشو؟؟

زبیر بد،بد راوکتل او ویې ویل: ورک کیږه خیرن، زما د خبری مطلب د مافیا کسانو ته وو، نه ستا کاکا ته ... زه حاضر یم د زر مافیا کسانو سره مقابله وکړم او وهل ورځخه وخورم خو ستا د کاکا څخه یوه لغته ونخورم ...

- ولې؟
زبیر- خپل کاکا دی مګر نه دی لیدلې؟ په قرآن داسې دروند لاس لری که ما ووهې شک مکوه هډوکې مې ماتیږی، نو ورځه ته ورځخه اجازه واخله که ډېر غوسه شو او خبره وهلو، وهلو ته ورسیدل یو غږ وکړه زه یو څو کمکې نفران د مرستې لپاره دراستوم ...

پخندا مې وویل: زه دا هم د زړه ګرم کیدلو لپاره ښه ده چې فکر وکړم یو کمکې ډله مې شاته شته ..
زبیر هم پخندا وویل: هو، هو موږ دلته د مرستې لپاره چمتو یو، نو زړه دی لکه غر پشان غټ ونیسه اتل ... او مخامخ په دښمن لاړ شه ..

له څوکۍ پاسیدم خو د تلو مخکې زبیر مې په اوږه ووهلو او ومې ویل: د خولې سره دی پام کوه، ذوالفقار دومره هم لیونې نه دی چې په نه خبره یو څوک ووهې ..

زبیر- هو، نو ته دا خبره ونکړی نو څوک به یې وکړی؟ تا تر اوسه ورځخه وهل نه دی خوړلې ..

بغیر له دې چی د زبیر خبری ته کوم ځواب ورکړم د ذوالفقار د دفتر پخوا روان شوم. خو لاره،لاره کې خپل په زړه کې مې د زبیر د خبری ځواب ورکړو: ته څه خبر یې چې ما د هغه څخه څومره وهل خوړلې؟ که خبر شوی همدا پرون ماذدیګر مې لا ورځخه یو جانانه کش وخوړلو نو خپل پر حال به شکر وباسې ...

د دفتر دروازه مې کراره خلاصه کړه،ذوالفقار د میز شاته ناست و. کوټه عجیبه ارامه وه، داسې ارامي چې سړی پکې خپل د زړه درزا هم اوري. د دروازې تر څنګ ودریدم ذوالفقار زما راتګ ته پام نشو، نه پوهېدم مخکې ولاړ شم که همدلته ودریږم؟ هغه سر ټیټ نیولې او څو کاغذونه یې کتل، ما خوله جوړه کړه تر څو خپل راتګ ته یې متوجه کړم خو زما د څه ویلو مخکې هغه سر راپورته کړو او زما خواته په کتو شو ..

د هغه د نظر په لیدو د خولې لاړې مې تېر کړل او ژر مې وویل: هغه ... هغه ...ما ستا سره لږ کار وو.
ذوالفقار خپل سر ښکته واچو او بیا خپل پکار لګیا شو خو همغه حال کې وویل: هومم، وایه، څه کار دی وو؟

یو قدم مخکې لاړم،لاسونه مې بې‌اختیاره یو دبل سره کلک کړل او بغیر له دې چې خبر اخوا دیخوا کړم بې مقدمې مې ژر وویل: هغه ... زه غواړم... د ... د غفار سره ملاقات وکړم.
زما په خبره ذوالفقار کرار سر راپورته کړو او په ګنګس انداز یې وپوښتل: غفار؟ غفار څوک دی؟ او ته ولې غواړې ورسره ملاقات وکړې؟
یو ځل بیا مې د خولې لاړې تیر کړل او د سترګو له کونج د دروازې خواته مې وکتل ښه وو د راننوتلو وخت کې مې دروازه کامل نه وه بند کړې، که میدان د زبیر خبره د وهلو،وهلو شو د تښتیدلو لاره وه ..

ذوالفقار- تا ته وایم غفار څوک دی؟

د ذوالفقار په غږ په خود راغلم نظر مې د دروازې څخه واخیست او ومې ویل: هغه ... هغه ... همغه کس چې هغه ... هغه شپه یې موږ موټر ته پورته شو او ...
ذوالفقار خبره راپرې کړل او په تروش تندی وویل: او غوښتل یې تا مړ کړې؟!

کرار مې په ډار باندې سر وخوځاوه، چې ذوالفقار له څوکۍ راپاسېد خپل میز یې پریخود او ماته مخامخ ودرید، د هغه په دې کار پوه شوم چې تښتیدل باید لیاده وباسم او د زبیر د هغه کمکې کسانو په امید کښینم، البته که غږ مې تر هغوې ورسیده ...

ذوالفقار- ولې غوارې ورسره وګورې؟
په بند،بند لهجه مې وویل: هغه ... هغه ما فکر کاوه چې ... چې شاید کوم څه ووایې؟

ذوالفقار په قد کې یو څه زما څخه جګ وو، یعنې دومره نه وو خو اوس بیحد جګ معلومیدي! خپل سر یې زما خواته لږ راټیټ کړو او په کلک لهجه یې وویل: ته فکر کوې هغه به درسره مرسته وکړي؟
- شا ... شاید ... نه ..نه پوهېږم مطلب ډاډمن نه یم خو ... خو
ذوالفقار- خو څه طاها؟ هومم؟ خو څه؟ ته د څه لپاره غوارې د هغه سره ووینې؟

چوپ شوم نه پوهېدم څه ورته ووایم؟ زړه مې ویل رښتیا ورته ووایه او ځان بیغم کړه،خو عقل مې د دې کار څخه منع کولم، زه ذوالفقار ته اصل کیسه شاید وکړم خو اوس نه، اوس چې هر څه په هوا دې څه نشم ویلې، اوس یوازې د طلاو خبره نه ده زه باید لومړۍ پخپل ډاډمن شم چې الفا اخر په څه خاطر زما پسې دی؟ طلا که سایه؟ د دې خبرې د پوهیدلو وروسته شاید ذوالفقار ته ووایم؟!

ذوالفقار- تا ته وایم طاها .. ولې غوارې د هغه سره ووینې؟ کوم خبره دې مینځ کې شته چې زه ورڅخه نه یم خبر؟
- زه پخپل هم نه پوهېږم ذوالفقار، هر څه زما شاوخوا روان دي خو زه هم ستا پشان ناخبره یم، جنرال او بوډا دا یوه هفته کیږي ما ته هېڅ نه دي ویلې، یوازې وایې هر څه امن او امان دی خو پرون ماښام هغه کس بیا د نن مقاله ...

ذوالفقار ژر زما خبره پرې کړل او ویې ویل: د څه مقاله؟
سر مې وخوځاوه او ورته د هغه مقالې په اړه کوم چې زبیر راښودلې وه ومې ویل چې ذوالفقار په غوسه خپل غاښونه یو پر بل کیخودل او ویې ویل: نو باید د هغه حوزې مشر راونیسو او لکه خر یې ووهو، چې ولې داسې مقاله یې نشر کړې؟ نه دا چې ته د هغه بیعقل مجرم پسې لاړشي ...

- اوس د هغه وهل دومره مهم نه دی ...
ذوالفقار کرار زما خواته راغی، دومره ما ته نږدې ودرېد چې زما ساه اخیستل لا سخت شول.
ذوالفقار- ته فکر کوې دا کوم ساتیرې او لوبه ده طاها؟
ژر مې وویل: نه ..

ذوالفقار په داسې لهجه چې کوښښ یې کاوه غوسه یې ښکاره نشې ویې ویل: نو بیا ولې داسې خبرې کوې لکه ماشوم چې د کوڅې جګړه حل کول غواړې؟ ستا په نظر دا کوم د کوڅي د سر جنګ دی چې ته یې یوازې ځان حل کوې؟
بیا مې ژر وویل: نه، زه هم پوهېږم چې دا کوم د ماشومانو لوبه نه ده، نو ځکه خو غواړم د غفار سره خبرې وکړم .. شاید هغه یو د صلحې لاره وښايي، زه پخپل هم اوس پوه شوی یم چې د الفا سره جنګ نه کیږي، که جنګ کیدلو نو اوس به هغه آزاد نه وایې .. په زندان کې به یې خپل د اعدام ورځې او شپې شمارلې ..

ذوالفقار په غوسه وخندل او ویې ویل: ښه ده چې بلاخره عقل دی سر ته راغلو او پوه شې چې داسې خلافکارانو باندې د دولت زور هم نه رسیږي، کاش ... دغه عقل دې مخکې درلود او ځان دې په دې مصیبت کې نه وایې اچولې ...

په شرم باندې مې سر ښکته واچو دا ماموریت زما لپاره یو طعنه او پیغور ګرځیدلې وو چې زبیر او ذوالفقار هره شیبه زما په سر کې واهه ..

ذوالفقار بغیر د څه ویلو خپل د میز خواته لاړ څو شیبې هیڅا کوم څه ونه ویل او یوازی په دفتر کې د راځړېدلې ساعت ټک، ټک تر غوږ کیده خو څو شیبې وروسته ذوالفقار په کرار غږ داسې لکه ځان سره چې خبرې کوې ویې ویل: هغه کوم ساده سړی نه دی.

ما څه ونه ویل چې ذوالفقار مخ راوګرځو او ویې ویل: ته ورسره یوازې نه وینې ..
- څه؟
هغه خپل د میز څخه بیرته زما خواته راغلو او ویې ویل: که خبره د هغه سره د لیدو وی نو زه هم درسره ځم.

د زړه درزا مې تېزه شوه، د ذوالفقار او غفار مخامخ کول فکر نکوم چندان مناسب کار اوسیږی، بلخصوص اوس چې ذوالفقار هېڅ خپل په غوسې کنټرول نه درلود ...
- ته؟
ذولفقار- هو، زه .. ته کومه ستونزه لرې؟
- نه ... نه خو ..

ذوالفقار یو قدم رانږدې شو او ویې ویل: خو، مو نلری طاها، ته پخپل هم نه پوهېږی چې د څه ډول کسانو منځ کې ګیر شوی یې، امکان لری د هغه الفا ورته وایې څه مرګ ورته وایې؟ د هغه کسان د شفخاني شاوخوا اوسیږی ...
بغیر د څه ویلو مې وروکتل،چې ذوالفقار خپل خبرو ته ادامه ورکړه: که د هغوي کسان هلته وه او ناڅاپه یې پر تا برید وکړو بیا ته څه کوی؟ زه باید ستا سره اوسیږم.

څه مې ونه ویل ځکه یو خو ذوالفقار بیخې زما و دې مخ ته ولاړ وو، او له بلخوا داسې په جدی انداز یې خبری کول چې زه پوهیدم که یوازی "اما"اګر" یا "نه" ووایم نو داسې یو زدنې ټک به وخورم چې عمر کې مې خوړلې نه وی، نو ځکه سر مې د "سمده" په توګه وخوځاوه چې هغه خپل د څوکۍ خواته لاړ خپل کورتې ورڅخه

راوخیسته او همغه حال کې وویل: ښه نو وخت د چا له لارې اخلو؟ فکر کوم هغه د نظر لاندې دی؟ نو مطلب هر څوک خپل په سر د هغه سره ملاقات نشي کولای؟

- هو .. هغه ما فکر کاوه بوډا ته به زنګ ووهم.
ذوالفقار تندي تروش کړو او ویې ویل: بوډا؟ جنرال یادوی؟
- نه ... هغه جنرال نقیب، همغه چې تا ووهلو ..
ذوالفقار کرار د شونډې لاندې وویل: دومره هم بوډا نه دي ..
- څه دې وویل؟
ذوالفقار- هیڅ ... ورته زنګ وواهه او ووایه ملاقات د دوه کسان لپاره واخلې ..

سر مې وخوځاوه او ومې ویل: فکر کوم درې کسانو لپاره؟!
ذوالفقار- درې؟ موږ خو دوه یو؟ بل څوک غواړې راشې؟
په سر باندې د دفتر بیرون خواته مې اشاره وکړل او ومې ویل: زبیر.

ذوالفقار څو شیبې چوپ شو د هغه وروسته بغیر د څه ویلو زما له څنګ تیر شو او خپل د دفتر دروازه یې بند کړل،د هغه په دې کار په حیرت مې وروکتل چې هغه رانږدې شو او په کرار غږ یې وویل: طاها ... زه پوهیږم چې ته او زبیر یو د بل ښه ملګری یاست خو فکر نکوې دی موضوع ته د هغه پښه راکش کول ښه کار نه دی؟!
- څنګه پښه راکش کول؟

ذوالفقار- ګوره دا د مرګ او ژوند خبره ده هغه کسان چې ستا پسې دي په هیچا رحم نلري، پر ما که کوم څه وشي کوم څوک سبا ورځ ستا ګریوان نه نیسي چې درته ووایې ستا له لاسه په ذوالفقار فلانکې شئ وشو، خو خدای مکړه که ستا له لاسه په زبیر کوم څه وشي، زبیر شاید د ملګرتیا په حساب تا ته کوم څه ونه وایې خو د هغه کورنۍ، ورونه، پلار فکر نکوم تا همداسې خوشی کړي ...البته حق هم لري لنډ مثال یې همدا زه که خبر شم د زبیر د کارونو له لاسه پر تا یو څه شوی شک مکوه د زبیر مغزی ورماتوم، نو همدا ګمان پر هغوی هم وکړه هغوی هم نغواړي زوی ته یې د ملګرې له لاسه کوم زیان ورسیږي ...

د ذوالفقار خبرې يو دم صحيح وه، ما چې تر اوسه د طلاو خبره زبير ته نه وه کړې يا هم د "سايه"په اړه مې څه نه وه ورته ويلې دليل يې همدا وو،ما نغوښتل د هغه ژوند خطر کې واچوم، ما د ذوالفقار ژوند هم نه غوښت خطر کی واچوم،خو بدبختانه چې ذوالفقار اوس د هغوی په نښه کې راغلی وو که ما غوښتل که نغوښتل هغه دې لوبې ته داخل شوی وو، خو زبير مې د دی موضوع څخه لرې ساتلې شو په دی فکر کرار مې سر د سمده په توګه وخوځاوه چې ذوالفقار مې په اوږه لاس کيخود او ويې ويل: ضرورت نشته ته ورته کوم څه ووايې زه پخپل په يو بهانه باندی هغه شرکت کې ساتم ...

د دفتر له دروازې چې راووتو، سره هوا مې په مخ ولګېده، د زبير غږ مې تر اوسه د شرکت د دننه څخه اوريدو چې په غوسه يې خبرې کول، نه پوهېږم ذوالفقار ورته څه ويلې وه خو هغه يې زموږ سره راتلو ته نه وو پريخودلې، زبير هم خپل دا نارضايتي او غوسه په هغه نور بدبختانو باندی د چغو وهلو له لارې سره کول، ذوالفقار بې له دې چې څه ووايي، مخامخ خپل موټر خوا ته لاړ او د سترګو په اشاره يې ما ته هم د کښيناستلو وويل، زه هم بغير د څه ويلو موټر ته پورته شوم د موټر روان کيدولو سره سم ذوالقفار وويل:

– د ملاقات لپاره دی اجازه واخيستل؟
- ها؟! نه .. اوس ورته زنګ وهم.
ذوالفقار په تروش تندی راوکتل او ويې ويل: نو دا دومره وخت دی څه کول؟ خو زنګ به دی ورته وهلې وايې هسې نه د ملاقات وخت رانکړې، دومره مې زحمت وويستلو د زبير دومره کنځل مې وخوړل ...
په حيرت مې وويل: زبير تا ته کنځل وکړل؟

ذوالفقار خپل د خندا کنټرول کولو لپاره خپل شونډه وچيچل او ويې ويل: مخامخ خو يې د څه ويلو جرئت ونکړو،خو پوهېږم زړه کې ښه پريمانه کنځل راته کړې.
د ذوالفقار په دی خبره ومې خندل او ومې ويل: څنګه دی راضې کړو چې شرکت کې

@Shuhab09

پاتي شي؟
ذوالفقار په شیطنت وویل: دا هم د رئیس اوسیدلو کمالات دی.
- هومم او همدا دلیل دې چې زما هېڅ نخوښیږي د چا د لاس لاندی کار وکړم، کرکه لرم له دې چې څوک راباندې امرونه وکړی ...

ذوالفقار د سترګو له کونج نیم نظر راواچو او په تروش تندی وویل: یاد ته مې نه راځي پر تا مې دی کوم ورځ امر کړی وی؟!
- نه، تا نه دی کړی.
ذوالفقار- نو بیا ولې زما شرکت کې د کار کولو څخه دی بد راځي؟

د موټر د کړکی څخه د باندی مې وکتل ښار عادي روان و .. خلک، دوکانونه، موټر، موټرسایکلونه، د سړک په غاړه لاسې کراچې چې میده،شیان پکې خرڅیدل هر څه عادی او د پخوا پشان وه خو زما لپاره هر څه بل ډول ښکاریدل، نظر مې د بیرون څخه واخیست او د ذوالفقار ځواب مې ورکړو.

- ستا په شرکت کې د کار کولو څخه مې بد نه راځي ..
ذوالفقار- نو بیا ولې کله چې درته ومې ویل زما شرکت ته د کار لپاره راشه انکار دی وکړو؟
- ځکه ته بیحد ډېر زما او د زبیر مراعات کوی، داسې چې سړی احساس کوی مفت بغیر د کوم کار کولو پیسي جیب ته اچوی؟! او دا کار ما ته بد احساس راکوی ځکه خو د شرکت څخه دی لاړم، البته اوس هم د دی راپیښ شوی شرایطو پخاطر درسره یم کنه زه ترجیح ورکوم ستا په شرکت کې د کار کولو لځایه دوکانداری وکړم ..

ذوالفقار خپل دواړه لاسونه په سټیرنګ کلک کړل او په غوسه داسې حال کې چې د سترګو له کونج یې راکتل ویې ویل: زما شرکت زما زړه چې پر چا کار کوم او پر چا نه؟ او هو ما تاته هېڅکله مفت پیسي نه دی درکړی تا خپل د کار کولو په بدل کی هغه پیسي تر لاسه کړی نو بیځایه غول مخوره ...

د ذوالفقار په داسي تنده لهجه پوه شوم که یو بل خبره وکړم باید همغه شفخانه کې د غفار د کټ سره یو د بستری کیدلو کټ ځانته هم ونیسم، نو په دی فکر خپل مبارک خوله مې بنده کړل، شاید خبری مې په ذوالفقار بد لګیدلې وی خو همدا حقیقت وو ما د ذوالفقار شرکت کې کار کول نه خوښیدل لومړی دلیل یې همغه مفت پیسي راکول وه او دویم دا چې بار،بار مې د خپل، خپلوانو څخه اوریدلې وه چې ویل به یې طاها په مفت د ذوالفقار پیسې خوری، نو ځکه نه مې غوښتل د ذوالفقار شاوخوا کار وکړم ترڅو هغوی فکر ونکړی زه ذوالفقار لوټ کوم.

د دی لپاره چې هغه درنه فضا ماته کړم بوړا ته مې زنګ وواهه، د هغه شپې وروسته یې زه د بلاک لیست څخه راویستلې وم،یعنې د هغه دی کار ته مې هم خندا راتلل هم افسوس یعنې یعنې هغه فکر کړی وو چې زما د نمبر په بلاک کولو به ما د الفا څخه وژغوری؟ یعنې دا زموږ د مملکت د یو جنرال منطق دی؟ دومره یو احمقانه او ماشومانه فکر ... څو شیبې زنګ وهلو وروسته هغه موبایل پورته کړو.

- سلام علیکم.
بوړا- طاها؟ ته یې؟ څه شوی خیرت دی؟
- هو،خیرو خیرت دې هغه ... زه غواړم د غفار سره ملاقات وکړم.
څو شیبې د موبایل له هغه خوا هیڅ ځواب رانغلو،داسې چې ما فکر وکو شاید زنګ بند شوی وی؟ خو کله چې ومې کتل موبایل روښانه دی نو بیرته مې غوږ ته کړو خو څه مې ونه ویل د څو شیبو وروسته د بوړا جدی آواز مې تر غوږ شو.

بوړا- په څه خاطر؟ طاها ته پوهېږې د هغه سره لیدنه تا د الفا سترګو ته نور هم واضح کوی؟ اصلاً ته ولې غواړی دی موضوع ته بیا ځان راکش کړی؟ ته زما څخه ډېر د الفا په اړه معلومات لری او پوهیږی چې هغه څومره خطرناک کس دی بیا ولې غواړې دومره خطر او ریسک په سر واخلې؟

- زه ځان نه کش کوم بلکې دا تاسو یاست چې ما دی موضوع ته ټیل وهې،هغه مقاله مو ولې نشر کړل؟ یا هغه پرون ماښام هغه کس څوک وو زما د کور مخکې؟

بوډا په تلوار وويل: کوم مقاله؟ کوم کس؟
په پوسخند مې وويل: يعنې تاسو خبر نه ياست؟ ښه ده بايد خوشحال اوسيږم چې دومره مو زما خواته فکر دی؟
بوډا- طعني او پيغورنه پريږده طاها، سم ووايه څه شوی؟

د هغه دا بې خبره اوسيدلو دومره زور راکړی وو چې په تنده لهجه مې وويل: د بيځايه خبرو حوصله نلرم، که تاسو واقعاً زما د امنيت په غم کې واست نو د دی خبرو څخه بايد زما څخه مخکې خبر واست، زه اوس يوازی د غفار سره د ليدلو اجازه غوارم نور څه نه ...

څو شيبی بيا همغسی چوپتيا شوه د هغه وروسته د بوډا کرار غږ مې واوريد چې ويې ويل: سمده، که ته دومره د هغه سره د ليدلو شوقي يې، زه درته اجازه اخلم خو په يو شرط ...
-د څه شرط؟

بوډا- د غفار سره د ليدلو وروسته زما ليدلو ته راشه بايد خبری وکړو.
نيم نظر مې د ذوالفقار خواته واچو چې په ظاهره يې موټرواني کول خو اصل کې ټول هوش او حواس زما په خبرو کې وو، ومې ويل: نن نشم درتلې.
بوډا- ولې؟
- يوازی نه يم.
زما په دی خبره ذوالفقار بد،بد راوکتل چې بوډا وويل: سمده، کوم ستونزه نشته سبا راشه خو قول راکړه چې ضرور به راځې.
- سمده ګورم، اوس موږ د غفار سره ليدلې شو؟

بوډا- هو، زه خبر ورکوم تر څو د ملاقات وخت درکړی خو فکر دی نيسه، هغه دومره هم بی خطر سړی نه دی.
- سمده فکر مې نيسم مننه، خدای پامان.

د بوډا سره د خدای پاماني وروسته ذوالفقار په تروش تندی وویل: دا څه د شرط او درځم نه درځم او یوازی نه یم خبری روانې وه؟ څه کیسه وه؟
- کوم خاص خبره نه وه، بوډا د مقالې او هغه کس په اړه ناخبر وو، اوس چې ما ورته وویل نو هغه ویل راشه له نږدې سره وګورو او د دی موضوع په اړه خبری وکړو، همدا یې شرط وو ما هم یوازی ورته "هو" کړل خو اوس یې لیدلو ته نځم.

ذوالفقار په همغه تروش تندی وویل: ولې؟
- ځکه د هغه جنګ او وهلو وروسته فکر کوم تاسو یو دبل سره مخامخ نشې غوره به وی، زه نغوارم زما پخاطر ته د داسې کسانو سره لاس په ګریوان شی ذوالفقار، دا کسان د الفا څخه په کمه نه دی ...

ذوالفقار په غوسه وویل: لومړی خو دا نصیحتونه دې ځانته وکړه او دویم دا چې ضرورت نشته ته زما په فکر کې اوسیږی زه ډیر ښه پوهیږم کله جنګ وکړم او کله نه ... که هغه مې ووهلو حق یی وو، البته ما هغه نه وهلو هغه هسې د ځان د شلمبو مچ جوړ کړو او میدان ته یې راټوپ کړل ...

- یعنی تا د رښتیا غوښتل جنرال ووهی؟
ذوالفقار په غوسه د موټر شترینګ کلک ونیو او داسی حال کی چی غاښونه یې له ډیر قهر یو پر بل کیخودل ویې ویل: وهل نه، غوښتل می دا مغزی ورمات کړم ... خو بس شانس یی راوړو چې دی هلته وو او پرینخودم ...

څه مې ونه ویل خو دا خبره مې هېڅ نشو هضم کولای، یعنې منم چی ما هم د جنرال څخه چندان ښه زړه نه درلود خو بیا هم هیڅکله می د هغه د وهلو فکر ذهن ته نه وو راغلې، البته د دی لپاره نه چی ورڅخه وېرېږم نه ... د دی لپاره ځکه د عمر له لحاظ مشر دی یعنی بوډا دی او زما په نظر د بوډا کسانو وهل ښه کار نه دی، خو لکه چی ذوالفقار دی خبری ته کوم اهمیت نه ورکوی چی مقابل کس یې مشر دی که کشر؟

د څو دقيقو وروسته بلاخره شفاخاني ته ورسيدو، همغه شفخانه وه کوم کې چې زه بستری وم، خو نن راته د هغه ورځو څخه لا ډیر نفس تنګ ښکاریدل د دروازې مخې ته دوه مسلح کسان ولاړ وه چې له ظاهره یې ښکاریدل چې یو یې د شفخانې ساتونکي او بل پولیس عسکر دی، ذوالفقار د شفخاني مخې ته موټر ودرو خو د ښکته کیدلو مخکې زما خوا ته راوکتل او بغیر د کوم نرموالې وویل:

ذوالفقار- له دې دروازې چې ننوځو طاها، نو تاکید کوم ... هر خبره چې دی واوریدل یا هر څه چې دی ولیدل، نو بغیر د یو واو اخو یا دیخوا کولو به ماته وایې، کوم خبره به زما څخه نه پټ کوی، که پوه شوم زما څخه دی کوم څه پټ کړی دی پخدای داسې دی وهم چې د بزی غږ وکړې ..

د ذوالفقار په دی ګواښ هم وډار شوم او هم خندا راغلل، یعنې اوریدلې مې وه چې ځینو کسانو ویل داسې به دی ووهم چې د سپي غږ وباسې خو د بزی غږ مې تازه واورید، دا څو وخته ذوالفقار بیخې د حد ډیر عصبي شوی وو هر کار او خبره یې د وهلو او ګواښ وه.

ذوالفقار- ښکته شه،زه موټر همدی کونج کې دروم راځم.

بغیر د څه ویلو له موټر ښکته شوم د ښکته کیدلو سره سم یو عجیب احساس مې وکړو فضا یو ډول دروندوالې درلود .. نه پوهېږم څنګه یې بیان کړم خو داسې وه لکه د یو چا دروند نظر چې پر ما وی او ما څاری؟ خو هر څومره چې شاوخوا مې وکتل کوم څوک مې پیدا نکړو، ذوالفقار د موټر درولو وروسته زما خوانه راغلو او دواړه په ګډه شفخاني ته ننوتلو د شفاخانې دهلیز د دوا د بوی او د خلکو د شور ماشور څخه ډک وو، هر کس خپل د مشکل پسي منډې وهل، د غفار کوټه د دهلیز په پای کې وه.

مخکې تر دې چې ورننډې شو، یو پولیس ساتونکی مخې ته راغی، قد یې لوړ او تندی د جدیت څخه تروش وو.

– ودرېږئ.

د هغه په غږ ما او ذوالفقار دواړه ودریدو.
– دی خوا ته د راتلو اجازه نشته که کوم کار لری هغه بل بخش ته لاړ شې.
ما ژر وویل: موږ د ملاقات وخت لرو د هغه کس سره چې تاسو د نظر لاندی نیولی. زما په دی خبره هغه تازه لکه چې پوه شو موږ د بوډا کسان یو؟ ځکه د تندی تروش والی لږ کم شو خو لهجه یې همغسې جدی وه کله چې ویې ویل: ښه نو تاسو د جنرال نقیب راستولې شوی کسان یاست؟ تاسو ته د ملاقات اجازه شته خو یوازې د یو کس لپاره.

ما بې‌اختیاره د ذوالفقار خوا ته وکتل، ذوالفقار یوه شېبه چوپ شو خو ژر یې تندی تروش کړو او ویې ویل: خو موږ دواړه ورسره کار لرو.
– خو ما ته امر همداسې شوی.
ذوالفقار- د چا امر؟
ساتونکی لږ خاموش شو بیا یې وویل: د پورته مقاماتو لخوا امر دی زه نشم کولای یو وخت دوه نفرو ته د ننوتلو اجازه ورکړم ...

ذوالفقار یو دوه ګام د هغه ساتونکي خواته نږدې شو داسې چې زه په ډار د آماده باش حالت کې ودریدم، تر څو که ذوالفقار خدای مکړه د ساتونکي سره په جنګ شو ژر یې راونیسم ...

ذوالفقار په غوسه وویل: دا دومره فرمایشات د څه لپاره؟ دا اوس بندی دی که مېلمه؟ چې دومره مراعات یی کوی؟
ساتونکي هم د ذوالفقار پشان و درید غاړه یې تازه کړل او په کلک یې وویل: بندی دی که میلمه زه پر هغه کار نلرم، زه یوازې د امر عملي کولو مسؤول یم نو کله چی وایم یو کس نو مطلب یو کس تمام.

زه د دوارو تر منځ داسې ولاړ وم چې فکر مې کاوه که هر چا وهل شروع کړل نو اول ټک به زه نوش جان کوم خو راته مهم نه وه، یوازې غوښتل مې ذوالفقار جنګ ته پرینږدم بس ..

ذوالفقار د سترګو له کونج زما خوا ته وکتل او ویې ویل: ته ننوځه.
په حیرت می وویل: زه؟
ذوالفقار په همغه تروش تندی وویل: هو، مګر تا ورسره کار نه وو؟ نو ورځه ننوځه.

ساتونکي دروازه نیمه خلاصه کړه، د ننوتلو مخکې یو ځل بیا د ذوالفقار خوا ته مې وکتل، باور مې نه راتلو ما ته یې یوازې ځان د غفار سره دلیدلو اجازه راکړې وی؟
ذوالفقار په کرار ګامونو د دهلیز د مینځ څخه د کوټې مخامخ دیوال خوا ته روان شو او هملته په دیوال یې تکیه ووهل، خو لا هم دوه سترګی پر ما وه کله چی زما نظر یې ولید نو ویې ویل: ژر خپل خبری خلاص کړه او راشه.

سر مې د سمده په توګه وخوځاوه چې هغه په جدی لهجه وویل: که کوم خبره وشوه نو ما ته غږ کړه.

بیا مې سر د سمده په توګه وخوځاوه،چې ساتونکي غاړه تازه کړل د هغه په دی کار د ذوالفقار څخه مې نظر واخیست او کوټې ته ننوتلم، زما د ننوتلو سره سم د کوټې دروازه مې تر شا کرار وتړل شوه، غفار پر بستری د نیمه پورت حالت کې وو، کامل سر،تندی او د مخ نیمه برخه یې په سپین پانسمان تړل شوی وه لاس کې یې هم دوه بوتل سیروم لګیدلی و، خو د دی دومره زخمونو باوجود سترګي تراوسه د خباثت او رزالت څخه ځلیدل، زما په لیدو په خوشحالۍ وویل: اوهووو، وګوری څوک راغلې؟ اتل صاحب! څنګه دی نن مورږ غریبانان په یاد شو؟

د هغه پشان په طعنه مې وویل: ما ویل راشم وګورم مړ یې که ژوندی؟ البته فکر مې نکو د هغه دومره ټک خوړلو وروسته ژبه دی لا هم کار وکړی؟

غفار په لوړ غږ وخندل او ويې ويل: بايد ومنم چې غلطي مې وکړل ته مې کم لاس ونيولې ...

نه مې غوښتل د جنګ او طعنو له لارې خبره مخ ته ويسم، زه بايد هغه په خبرو راوړم، نو مطلب بايد د نرم لهجې څخه کار واخلم؟ په دې فکر کرار مې وويل: دا خبرې اوس پرېږده حالت دې څنګه دی؟
غفار په ريشخندي وويل: اومم د دولت په مېلمه پالنه کې يم، يو دم رک روغ.

بغير د څه ويلو مې سر وخوځاوه.
چې غفار ناڅاپه وويل: فکر مې کاوه د هغه دومره خطرناک کار په مقابل کې به د دولت څخه دې ښه پريمانه پيسې اخيستې وی؟ خو تخو ډېر بيعقل وختي سل لک افغانۍ ستا په نظر په مرګ ارزي؟

د هغه په دې خبره حيرت مې وکړو، دی له کوم خوا خبر شوی چې ما د سل لک افغانيو په بدل کی هغه ماموريت منلې وو؟
زما د حيرت په ليدو هغه په پوسخند وويل: د بد کسانو سره دې ښکر اچولې اتل صاحب ...

د هغه خبرو زړه کې وېره راواچول، خو ځان مې ناګاره واچو، دا دومره وخت کې په دې منحوس ماموريت کې يوه خبرې باندې مې ښه سر خلاص شوی وو، او هغه دا چې که غواړې ژوندی پاتې شې نو خپل وېره مقابل جانب ته مه ښايه، ما هم همغه کار وکړو او ومې ويل: زه ستا د بيځايه اپلاتو اوريدلو نه حوصله لرم او نه هم وخت.
غفار په همغه ريشخندی خندا چې هېڅ بدول يې له شونډو څخه نه ورک کيدل ويې ويل: خو بنديان ډېر وخت لری، کيسه وکړه د باندې څه خبرې دی؟

يو دوه ګام د هغه د کټ خواته نږدې شوم او په داسې غږ چې کوښښ مې کاوه کلک اوسيږي ومې ويل: خو زه نه د کيسي کولو لپاره راغلې يم او نه هم ستا پشان

بيځايه وخت لرم ... زه غوارم د الفا سره خبری وکړم.

زما په خبره غفار خپل سترګې لږ تنګې کړل، داسې لکه چې غوسه شوی اوسیږی؟ خو ډېر ژر بیرته خپل هغه ریشخندی حالت ته راوګرځید او ویې ویل: نچ،نچ د مشرانو نوم خلک په احترام اخلې بلخصوص د هغه چا نوم چې د سږی مرګ او ژوند د هغه په لاس کی وی ..؟
دا ځل ما پوسخند وواهه او ومې ویل: نه وم خبر چې کافر شوی یې؟ لکه چې لیاده دې وتلې؟ مرګ او ژوند د خدای لاس کیدی، نه د هغه ډارن الفا لاس کې چې د ډېر وېرې څخه یې ځان د موږک پشان په سل غارونو کې پټ کړی ...

که په نرم لهجه په خبرو نه راځې، نو زه هم پوهېږم څنګه یې خپل په خبرو وسوځوم او لکه چې ښه زدنې ځاې مې ګوزار وکړو ځکه بلاخره د غفار هغه ریشخندی خندا د شونډو لری شوه او په غوسه یې وویل: د خولې سره دی پام کوه، که ترا وسه ژوندی یې په دی معنا نه ده چې وژلې دی نه شې، بلکې په دی خاطر ژوندی یې ځکه الفا خوښیږی ستا پشان خره ښه سرګردان کړې،کوڅه،په کوڅه، سږک په سږک د سپي پشان دی وځغلوې، کله چې ښه منډې دی ووهل او په غپیدو شوی نو هغه وخت دې ووژني ...

د هغه په دی خبرو لومړۍ خو ښه غوسه راغلل داسې چې زړه مې غوښتل په کنځلو او وهلو خپل زړه وربانډی یخ کړم، خو اخری شیبه مخکې له دی چې داسې کار وکړم د غفار په مقصد پوه شوم هغه له قصد دا خبری وکړل ترڅو ما غوسه کړی، هغه همدا غواړی چې زه یې ووهم، غوسه شم او خپل کنټرول له لاسه ورکړم، په دی فکر خپل غوسه مې توف کړل او د هغه پشان په پوسخند مې وویل: اوه ... څومره خطرناک وډار شوم ...

غفار لکه چې زما څخه د دی کار توقع نه درلود ځکه یوه شیبه هک حیران شو، ما هم د دی فرصت څخه ګټه واخیسته او د هغه د کټ خواته نږدی شوم، د هغه و سر ته په څڼډونکې سیروم مې نظر واچو او کرار مې وویل: کوم سپي چې تا یاد کړو

غفار .. هغه ته پخپل يې ... ته الفا ته د يو سپي اندازه هم ارزښت نلرى فكر كوى
هغه به تا وژغورى؟ هغه هم د دى وروسته چې د هغه درسپارل شوى يو كار دى هم
په سمه توگه ترسره نكړو؟

د لومړۍ ځل لپاره د غفار سترگو كې مې وحشت وليد او زه پوه شوم چې يو دم
نښه مې صحيح ځاې ويشتلې، نو د دى لپاره چې نور هم خپل خبرى تاثيرناكه كړم د
هغه خواته ور ټيټ شوم او ومې ويل: تا كار خراب كړى غفار ... تا د هغه غوښتل
شوى يو نفر تر هغه ونشو رسولې، ته فكر كوى الفا به ستا دا كار وبخښي؟

غفار په وېرېدونكې نظر راوكتل چې ما په پوسخند وويل: خو زه تاته يو بل شانس
دركوم، زه نغواړم د الفا سره كوم جنگ او جگړه وكړم ځنگه چې پخپل هم پوهيږى
ما د پيسو لپاره د پوليسانو سره همكارى وكړل، زه پخپل نه كوم پوليس يم او نه هم
كوم دولتي كس، زه يو عادى نفر يم او غواړم عادى ژوند وكړم الفا د طلاو پسي دى
سمده زه طلا وركوم خو په يو شرط ...
غفار- د څه شرط؟
- زما شا دى پريږدى ..

غفار په مشكوك توگه راوكتل او ويې ويل: څنگه باور وكړم چې رښتيا وايې؟ شايد
دا ستا پلان اوسيږى چې په دى بول الفا ميدان ته راكش كړى او د پوليسانو په گير
يې وركړى؟
په پوسخند مې وويل: زه دومره هم بيعقل نه يم غفار چې يو غلطي دوه ځل تكرار
كړم، ستا خبره سل لک افغانۍ په مرگ نه ارزى، زه يوازى غواړم خپل كړى غلطي
جبران كړم بس ...

غفار څو شيبي هېڅ ونه ويل او په چوپ نظر يې زما سترگو ته سترگي ښخې كړل
داسې لكه چې غوښتل يې زما د سترگو له لارې پوه شي چې ايا رښتيا وايم كه
دروغ؟ يو څو گام د هغه د كټ څخه لرى شوم خو نظر مې ورڅخه وانخيست او د
هغه پشان مې وروكتل، ما خپل خبرى او پيغام په واضح توگه رسولي وو اوس

وخت د غفار وو چې پریکړه وکړي، د ښه شیبې چوپتیا وروسته غفار وویل: د یو ځای آدرس درکوم هلته لاړشه، هغه ځای کې زما یو کس دی چې تا تر الفا رسولې شي ...

په پوسخند مې سر وخوځاوه او ومې ویل: واقعاً یعنې ستا په نظر زه دومره بیعقل یم چې سر ښکته اچوم او ستا د راکړل شوی آدرس او کسانو پسې ځم؟ ما ته نمبر راکړه نه آدرس، زه حضوری ملاقات ته نځم.
غفار په پوسخند وویل: دومره وېره هم ښه نه وی اتل صاحب.
- وېره نه تدبیـــر ... هر شجاعت او زړورتیا تل میړانه نه وی .. بلکې بیعقلتوب وی او زه نغوارم په هسې میدان غیرت کې راشم او ځان مرګ ته ورکړم ..
غفار بیا څو شیبې چوپ شو د هغه وروسته یې وویل: نو ولیکه ..

د هغه په دی خبره په تلوار مې خپل موبایل راوخیست، غفار یو نمبر وویلو چې ما ژر ولیکلو د نمبر لیکلو وروسته غفار وویل: دغه نمبر ته زنګ وواهه او ووایه چې د مشر سره کار لرم.
- همدومره؟
غفار- هو، همدومره ..

که څه هم دا کار راته بیحد مشکوک ښکاریدی خو څه مې ونه ویل، همدا یو نمبر اخیستل هم زما په نظر غنیمت وو، فکر مې نه کوو په دومره آساني به غفار په خبرو راشي، خو لکه چې زما خبرو بیحد ډارولې وو؟ البته د هغه دومره ژر تسلیم کیدل او نمبر راکولو څخه زه ډاډمن شوم چې هغه د "سایه" د موضوع څخه ناخبر دی .. غفار هم فکر کوی الفا د طلاو لپاره زما پسی دی .. یعنی امکان لری د"سایه" موضوع زقوم هسې د شموئیل څخه د ځان ژغورلو لپاره جوړ کړی وی؟

د لومړۍ ځل لپاره د زړه له تل مې دعا کول زقوم دروغ ویلې وی او "سایه" یا داسې بل هیڅ منحوس موضوع ونه اوسیږی او الفا یوازی خپل طلا وغواړی، د هغه نمبر په اخیستلو او په دی فکر چې امکان لری زقوم دروغ ویلې وی او د طلا په ورکولو

هر څه سمیرې دومره خوشحال شوم چې بغیر د نور څه ویلو غوښتل مې د کوټې څخه ووځم، خو لا د دروازې لاستي ته مې لاس نه و رسیدلې چې د غفار نیولې غږ مې تر غوږ شو، د هغه په غږ شاته وګرځیدم ..

غفار- بل ځل شاید د لیدلو فرصت ونلرو، که د الفا سره دې خبرې وکړل ورته ووایه چې ما خپل کار سر ته ورسو.
- څه مطلب؟
غفار- د هر خبرې د مطلب پسې مه ګرځه یوازې همدومره ورته ووایه ..
نه پوهېږم ولې خو د غفار دې خبرو زړه کې شک راواچو، البته د شک څنګ کې ناڅاپه پر هغه مې زړه هم وسوځید او ومې ویل: هر کله چې ښه شوې نو زندان ته دې منتقل کوي، که دا موضوع په خیر خلاصه شوه شاید زه خپل د حق تېر شم او و دې بخښم؟ په دې ډول شاید سزا دې لږ راکمه شي؟!

زما په دې خبره غفار په لوړ غږ وخندل او ویې ویل: ته ډېر ساده یې، د الفا په ډله کې خلک زندان ته نه ځي... بلکې له سیستم ځي ...

د کوټې دروازه مې چې شاته وتړل شوه، لا هم ذهن کې مې د غفار وروستۍ جمله تاوېده:"د الفا په ډله کې خلک زندان ته نه ځي ... بلکې له سیستم ځي .." څه مطلب له سیستم ځي؟ قدم مې دروند و، د کوټې مخې ته هماغه ساتونکی ولاړ و، ټوپک یې پر اوږه، سترګې بې‌روحه، داسې ښکارېده لکه دلته وخت هم د اجازې پرته نه تېرېږي؟ ذوالفقار هم تراوسه د کوټې مخامخ دیوال باندې تکیه وهلې وه زما په لیدو د دیوال څخه یې تکیه واخیسته او زما خواته راغلو.

ذوالفقار- څه وشو؟
د هغه پولیس ساتونکي خواته مې وکتل چې په تروش تندې زموږ خبرو ته غوږ نیولی وو، د ذوالفقار اوږه مې ونیول او ومې ویل: راځه دباندې درته وایم ...

ذوالفقار بغیر د څه ویلو راسره روان شو کله چې د شفخاني څخه ووتلو نو یو ځل بیا همغه احساس مې وکړو لکه یو کس مې چې څاری؟ خو هر څومره مې چې شاوخوا وکتل کوم څوک مې ونه لید، ذوالفقار خپل موټر له پارک راوباسو او زما ومخ ته ودرېد چې زه هم په تلوار ورپورته شوم، بد احساس مې درلود فکر مې کاوه که یوه شیبه نور دلته پاتي شم نو یو بده پیښه به واقع شې؟ ذوالفقار هم لکه چې زما پشان احساس درلود ځکه بغیر د څه ویلو موټر یې روان کړو کله چې ښه د شفخاني څخه لرې شو نو موټر یې د سړک غاړې ته و درو او زما خواته راوګرځیدو.

ذوالفقار- ښه، اورم ...
نه پوهېدم څه ورته ووایم؟ سل سلنه دروغ مې هم نشو ویلې او سل سلنه رښتیا مې هم نشو ویلې ... تر اوسه خبره پنځوس،پنځوس وه زه تر اوسه کامل نه وم ډاډمن شوی چې ایا الفا یوازی د طلاو لپاره زما پسې دی یا که ګمان کوی زه د "سایه" په اړه معلومات لرم؟ نو ځکه نیم رښتیا نیم دروغ ومې ویل: هغه ... ما ورڅخه وپوښتل چې الفا د څه لپاره زما پسي دی او زما څخه څه غواړی؟ نو هغه ... هغه ویل الفا د یو شئ پسي دی او ګمان کوی چې هغه شئ زما سره دی؟

ذوالفقار په ګنګس انداز سر وخوځاوه او ویې ویل: د څه پسي دی؟ او ولې ګمان کوی چې هغه شئ ستا سره دی؟(زما د څه ویلو مخکې ذوالفقار په مشکوک انداز بیا وپوښتل: ستا سره خو د رښتیا د هغه کوم شئ نشته طاها کنه؟
- نه ... نه زه د هغه شئ څه کوم؟ زه اصلاً نه یم خبر چې هغه څه یادوی؟ هغه هسې پر ما بدګمان شوی ...

ذوالفقار- نو اوس څه کوی؟ ستا سره د هغه شئ نشته خو هغه ګمان کوی چې ستا سره دی او ستا پسي دی، نو اوس چاره څه ده؟ څه باید وکړو؟
- ما غفار ته همدا وویل او پوه مې کړو چې زه د الفا سره نه کوم کار نلرم او نه هم د هغه کوم شې زما سره شته ...

ذوالفقار په چوپ نظر راوکتل چې ما ژر وویل: ما د هغه څخه غوښتنه وکړل چې یو نمبر راکړي تر څو زه د الفا سره اړیکه ونیسم او هغه ته ووایم چې د هغه کوم شې زما سره نشته او زما شا پرېږدي ...
ذوالفقار په پوسخند راوکتل او ویې ویل: او ته فکر کوی هغه به ستا خبره ومنې او همداسې به دی پرېږدي؟
- نو څه وکړم؟

ذوالفقار- عجیب ده طاها! ته په داسې آساني وایې د هغه نمبر مې واخیست او ورته زنګ وهم او وایم چې ستا کوم شئ زما سره نشته، ته وا دا کوم ستا د دوکان مشتری دی او د یو جنس په سر مو یو د بل سره خبره یو پر دوه شوی ده،چې ته اوس ورته زنګ وهي او راضی کوی .. طاها ... هغه یو مجرم،قاتل دی ته فکر کوی هغه دومره بیعقل دی چې ستا د یو زنګ وهلو او خبر ورکولو باندی ستا شا پرېږدي؟

- خو همداسې لاس تر زني هم نشو کښیناستلې.
ذوالفقار- نمبر دی واخیست؟
- هو.
ذوالفقار- ما ته یې راکړه.
- ته یې څه کوی؟
ذوالفقار- همغه کار چې باید وشي، نمبر ورکوم جنرال او د هغه کسانو ته هغوي پولیسان دی په دی معاملې زما او ستا څخه سرونه ښه خلاصیږي، شاید دا نمبر تعقیب کړي یا یو بل کار وکړې ...

په چوپ نظر مې وروکتل ما په همدې دلیل ذوالفقار ته د طلاو خبره نشو کولای، زه پوهیدم چې هغه همداسې یو عکس العمل ښایی، ذوالفقار فکر کوی جنرال او د هغه کسان دا معامله حل کولای شي خو دی خبری ته فکر نکوی که جنرال د رښتیا هم دومره زورور وایې نو الفا باید اوس اعدام شوی وایې نه دا چې دباندی آزاد وګرځې ...

- ګوره ذوالفقار، نمبر څه همدا اوس هغوی ته ورکړو یا څه لږ وروسته یې ورکړو کوم فرق نکوی، نو زما په نظر پولیسانو ته د نمبر ورکولو مخکې غوره به دا وی چې زه یو ځل خپل کوښښ وکړم او خبری ورسره وکړم؟
ذوالفقار په تلوار وویل: نه، زما په نظر ته هر څومره د دی موضوع څخه ځان لری وساتي هغومره به ښه وی، ځان دی موضوع ته مه راکش کوه طاها، نمبر او هر څه په اړه چې پوهیږی جنرال او د هغه کسانو ته ووایه او ځان د دی جنجال څخه وباسه ...

- زه هم غوارم ځان د دی جنجال څخه وباسم خو هغوي ما نه پریږدی، د پرون ماښام هغه کس او د نن ورځې مقاله ... زه که هر څومره ځان ناګاره واچوم هغوی زما شا نه پریږدی ذوالفقار ... دا زنګ وهل زما اخری امید دی فکر کوم شاید وکولای شم هغه راضې کړم، نو اجازه راکړه خپل اخری کوښښ وکړم، که ونشو د هغه وروسته هر څه چې ته وایې همغسې کوم سمده؟

ذوالفقار څو شیبې بغیر د څه ویلو مخامخ سړک ته په کتو شو، د هغه وروسته زما خواته یې راوکتل او ویې ویل: یوازی یو زنګ .. یوازی او یوازی یو زنګ طاها ...

د ذوالفقار په دی خبره بیحد خوشحال شوم خو لا مې دا خوشحالۍ نه وه ښکاره کړی چې هغه وویل: یوازی پنځه دقیقي حق لری خبری وکړی، هغه هم زما و مخ ته به ورته زنګ وهې او موبایل به هم په لاډسپیکر ایږدی، هره خبره چې کیږی زه یې باید واورم، که په خبرو قانع شو خو ډیر ښه، کنه همغه شیبه څو او دا نمبر جنرال دویته ورکو سمده؟!

د ذوالفقار په دی خبرو خپل پر ځان مې لعنت وویل کاش دروغ مې ورته ویلې وایې، کاش نه مې وایې ورته ویلې چې غفار راته د الفا نمبر راکړی، د ذوالفقار و مخ ته زه الفا ته څه ووایم؟ نه د طلاو خبره کولای شم او نه هم کوم بل څه ویلې شم، ما چې دومره دروغ وویل کاش دا اخری ځل می هم یو دروغ ورته ویلې وایې څه کیدل؟

البته زه يې د ګواښ و ډار شوم د شفخاني ومخ ته يې داسې زدني ګواښ وکړو چې زه مجبور شوم نيم رښتيا او نيم دروغ ورته ووايم ...

ذوالفقار- په کوم سوچونو کې غرق شوی؟ زنګ ورته وهې او کنه؟
- هغه ... زنګ اوس ... هغ ...

لا مې خبره له خولې نه وه وتلې چې د موټر د شا سيټ څخه مې يو آشنا غږ تر غوږ شو.

— مرسته غواړی ماشومه؟

دا ځل نه وډار شوم او نه مې هم حيرت وکړو، بلکې د هغه شتون نرۍ مسکا پر شونډو راوستوه، کرار مې ځان سره وويل: لومړۍ ځل دی چې په يو سم وخت کې حاضريږی ...
شموئيل پخندا وويل: زه تل په ښه وخت راځم ماشوم، احسان فراموشې مه کوه.
داسې حال کې چې دوه سترګي مې د ذوالفقار منتظر او مشکوک نظر ته وه شموئيل ته مې ووېل: سمده تا ووېل او ما ومنل، دا خبری اوس پرېږده د ذوالفقار څخه مې وژغوره ..

شموئيل- زه نه پوهېږم ته ولې ورته دروغ وايې؟ زما په نظر هغه ستا څخه ډېر هوښيار او منطقي دی! که ورته د طلاو، عزيزی يا د هغه ټول ماموريت په اړه کيسه وکړی نو زما په نظر کار به دی راحت شي، زه سل په سل ډاډمن يم چې هغه تا درک کوی.

- هغه ما درک کوی، زه هم پوهېږم خو داسې چې هر کار کې وايې بايد پوليسانو ته خبر ورکړو او زه نور په پوليسانو باور نلرم که دوی دومره تکړه وايې نو الفا به د دوی څخه داسې بيغم نه وايې تللې.
شموئيل- اوممم ستا خبره هم صحيح ده، غواړی همدا اوس ورته زنګ ووهي؟
- هو.

زما د"هو"ویلو سره سم ناڅاپه ذوالفقار بې خود شو او سر یې په کلک د موټر په شټرینګ ولګید، د هغه په داسې غورځېدو په تلوار او اندیښنې مې غږ کړل: ذوالفقار ... ښه یې؟ څه وشو؟ ذوالفقارر؟!

د ذوالفقار اوږی مې نیولې وه او په اندیښي مې خوځاوه خو هغه هېڅ نه ویل.
- ذوالفقار ... څه دروشول؟ ته وخدای یو څه ووایه ... ذوالفقار؟
شموئیل- اووو په کراره څه نه دې وربانده شوی یوازی بې هوښ دی بس.

د شموئیل په دی خبره د هغه خواته مې وکتل،چې هغه پخندا خپل لاسونه د تسلیم کیدلو په انداز پورته کړل او ویې ویل: په کراره ماشومه، خو تا ویل د الفا سره غواړی خبری وکړی خو ذوالفقار دی نه پریږدی؟ نو ما هم بې هوښ کړو تر څو ته په بیغم فکر خبری وکړی.

د شموئیل په دی خبره یو هوسا ساه مې واخیسته، ذوالفقار مې په څوکۍ تکیه کړو د ناساپه بې هوښ کیدلو له سبب سر یې د موټر په شټرینګ لګیدلې وو او تندی لږ سور شوی وو،د هغه د سور تندی په لیدو په غوسه مې د شموئیل خوا ته وکتل او ومې ویل: انسان د یو کار د کولو مخکې وایې چې داسې کار غواړم وکړم، زما خو دی زاره راواچول، فکر مې وکړو خدای مکړه کوم څه ورباندی وشول چې داسې ناڅاپه راوغورځید، ته یې تندی ته وګوره ستا له لاسه خوږ شو ..

شموئیل په شیطان خندا وویل: بخښنه کوه خو زه انسان نه یم چې د یو کار کولو مخکې خبرداری ورکړم. او هوو دومره هم نه دی خوږ شوی زړه خو دی نه غوښتل غیږ کې ونیسم د هغه وروسته یې درته بې هوښ کړم؟
په پوسخند مې وویل: ستا د غیږی څخه موږ تېر یو، یوازی یو غوښتنه درڅخه لرم هغه دا چې د هر کار کولو مخکې دی خبری ته فکر وکړه چې موږ انسانان یو نه پیریان؟! کله ناکله د عبدالرحمان څخه بتر کارونه کوی، هسې څهره دی معصوم ده کنه د هغه څخه ډېر مضر او شیطان یې ..

شموئیل پخندا خپل اوږی پورته واچول او ویې ویل: ورونه یو خامخا ځیني عادتونه مو یو شان دی ..

کله چې د ذوالفقار لخوا مې خیال راحت شو نو د هغه پرون ماښام ناڅاپه غیب کیدل مې را په یاد شول او ومې ویل: پرون ماښام ناڅاپه چیرته ولاړی؟ فکر مې کاوه مړ شوی یې؟
شموئیل- مـړ؟ ولې دی داسې فکر وکړو؟
دا ځل ما خپل اوږی پورته واچول او ومې ویل: عبدالرحمان راته ویلې وه پیریان چې هر کله مری نو د تور دود پشان هوا ته ځې؟! ته هم پرون ماښام تور دود شوی ...؟!

زما په دی خبره شموئیل په کټ،کټ وخندل او ویې ویل: دود تر دود فرق لری ماشوم، زه پرون ماښام له قصد هغسې لاړم.
- څه مطلب له قصد؟
شموئیل په ځیر نظر راوکتل او ویې ویل: تا دا څو وخته کوم عجیب،غریب شئ خپل شاوخوا احساس کړي؟
په ګنګس انداز مې وویل: څنګه عجیب،غریب شئ؟
شموئیل- مطلب تا دا څو وخته داسې کوم شئ لیدلې چې ورڅخه پعذاب یا ووېرېږی؟ لکه بد خوب یا هم هسې ډارونکې خیال؟

د شموئیل په دی خبره خپل د دی یو میاشت خوبونه را په زړه شول او په تلوار مې وویل:هو، هو خوب وینم مطلب د کوم وخت څخه چې د ماموریت راغلې یم هره شپه عجیب او ډارونکي خوبونه وینم، البته ډارونکي ځکه دی چې هر خوب کې مې (د ذوالفقار خواته چې سترګې پټې وه ومې کتل او ومې ویل: هر خوب کې مې ذوالفقار ګورم چې وژل کیږی او زه هیڅ نشم کولای.

شموئیل په افسوس خپل سر وخوځاوه او ویې ویل: دا ټول د زقوم کار دی..
- څـه؟ زقوم؟

شموئیل- هو، ګوره ما درته لومړی هم وویل چې زقوم شاید ستا قرین اوسیږي خو هغه لومړی کافر او بل دا چې د ټولو پیریانو څخه مضر پیری دی، هغه غوښتل د"سایه" په اړه د خبر راکولو وروسته موږ هغه خوشې کړو، البته ما خو خوشې کړو خو ... شموئیل په شیطان مسکا وویل: خو لکه چې عبدالرحمان وهلې وو، نو هغه ته هم زموږ وهلو زور ورکړی وو، خو ځکه چې پر موږ دواړو یې زور نه رسیدو نو ستا خواته درغلې ...

هغه ټول بد خوبونه لیدل د هغه کار دی، هغه ستا قرین دی او ستا هر احساس او خاصیت ورته د رڼا ورځ پشان معلوم دی، هغه پوهیږي د ټولو څخه ډېر کوم خبره او موضوع تا خفه کوي؟ او لکه چې(شموئیل د ذوالفقار خواته اشاره وکړل او ویې ویل: پوه شوی چې ذوالفقار تا ته ډېر ګران دی نو ځکه دا موضوع یې نیولې تر څو تا ښه پعذاب کړي او خپل زړه درباندی یخ کړي ..

په خلاصه خوله د حیرت څخه مې وویل: یعنې زما خپل قرین ما ته د عذاب راکولو لپاره داسې خوبونه راباندی ویني؟
شموئیل سر د "هو" په ښه وخوځاوه چې ما په پوسخند وویل: وهلې تاسو دی او د زړه کوفت زما څخه باسي؟ ولې تل زه باید ستاسو د کارونو له لاسه وهل وخورم؟

د شموئیل د څه ویلو مخکې یو بل غږ وویل: ځکه چې ته کمزوری یې ...
د غږ سره سم عبدالرحمان د شموئیل څنګ ته د موټر په سیټ ظاهر شو، همغسې وو څنګه چې څو میاشتي مخکې مې لیدلی وو زما په لیدو پخندا یې وویل: څنګه یې کوچني جاسوس؟
په تروش تندی مې وویل: یو ته کم وی.

عبدالرحمان بغیر له دی چې زما خبری ته کوم توجه وکړي د شموئیل خوا ته یې وکتل او ویې ویل: ګمان دی صحیح وو زقوم په همدی شاوخوا ګرځي ..
- زقوم؟چیرته ګرځې؟
د عبدالرحمان لځایه شموئیل وویل: هغه شپه هغه کس ستا د کور مخي ته زقوم وو،

البته ما یې بوی ونه پیژندو، مورِ پیریان یو بل پر بوی پیژنو خو هغه عجیب بوی درلود نو ځکه ما د دښمن ګمان ورباندی وکړو او داسې لاړم چې خپل بوی مې ستا شاوخوا پریخود ...

- څه مطلب خپل بوی دی زما شاوخوا پریخود؟
د شموئیل د څه ویلو مخکې عبدالرحمان پخندا وویل: صبر زه یې ستاسو په ژبه ووایم دا بوی یو ډول کمیایي مواد دی چې مورِ پیریان یې کله ناکله په مهم ځایونو کې کارو،لکه د ګواښ کولو وخت کې، د ساتنې وخت کې، او کله ناکله د جنګ وخت کې مطلب داسې وخت یې کارو چې مقابل جانب ته ووایو دا کس یا دا ځای زما دی او نوردی نشې ورته کنه څیرې، وېرې کوم دی ...

د هغه په دی خبره شموئیل بد،بد وروکتل چې هغه پخندا وویل: وبخښه، خو څه وکړم دی په خبرو نه پوهیږی مجبور بل ډول ورته توضیح ورکړم. او هو ستا دا ګمان صحیح دی، د زقوم بوی بدل شوی.
شموئیل په حیرت وویل: څنګه بدل شوی؟
عبدالرحمان- نه پوهېږم چې څنګه یا په څه ډول بدل شوی یا که بدل کړی؟! خو د انسانانو بوی ورکوی ..

شموئیل او عبدالرحمان په عجیب نظر یو بل ته په کتو شول، داسې لکه یو لوی موضوع او راز یې مخ ته راغلې وی؟ خو ما لکه احمقانو پشان یو ځل شموئیل ته کتل بیا عبدالرحمان، اصلاً د هغوی د خبرو په مطلب نه پوهېدم ...

د څو شیبې چوپتیا وروسته شموئیل په دروند غږ وویل: ورځه وګوره څه غواړی چې دومره د طاها شاوخوا ګرځې او هغه یې د نظر لاندی نیولې؟ که ګیر دی کړو لومړۍ ورته ووایه که غواړی لاس،پښې او بدن دی جوړ پاتي شې نو نور دی د طاها شاوخوا ونګورم او وریسي وګوره دا بوی ولې بدل شوی؟ ایا دا کار ده خپل کړی؟ یا که کوم کس ورسره مرسته کړی؟ او ولې؟

عبدالرحمان پخندا وویل: دومره جدی کیږه مه، هغه د دومره غوسي ارزښت نلری دا چې وهل يې خوړلې زور يې ورکړی نو ځکه د طاها پسي دی چې خپل قصد د ده څخه واخلې او خپل پر ګمان موږ وسوځوی او پاتې شول خبره د بوی ...

عبدالرحمان خپل خبره لا نه وه پوره کړی چې ما وویل: یعنې څه چې ستاسو د سوځولو لپاره غواړی ما ووهې؟ زه مګر د قرباني غوی یم چې ستاسو لپاره د هر پیری څخه وهل وخورم؟

عبدالرحمان پخندا وویل: ته زموږ لپاره وهل نخوری ته وهل خوری ځکه تنبل او نالایق يې کنه یو قرین به څه وی او د هغه وهل به څه وی؟

شموئیل په کلک لهجه د عبدالرحمان نوم واخیست داسې چې عبدالرحمان وویل: اه ... دا دی لاړم څه مې ویلې چې ته دومره غوسه کیږی؟ خو رښتیا وایم یو قرین به څه وی د هغه څخه وېرېدل به څه وی؟ د یو قرین زور او ځواک د یو اصل پیری په نیم دی یعني ته د هغه څخه ډېر ځواکمن يې هغه یوازی فکرونو،خیالونو او خوبونو کې لاس وهنه کولای شي ډېر توره وکړې نو کولای شې یو جسم د یو ځای څخه بل ځای ته ویسي نور په خالي میدان هیڅ نشې، البته که ستا جسم ته ننوځې هغه وخت شاید یو څه خطرناک شي حتا امکان لری هغه وخت وکول ...

شموئیل اجازه ورنکړل عبدالرحمان خپل خبره پوره کړی او په غوسه يې وویل: ورک شه نور عبدالرحمان ...

دومره په غوسه يې وویل چې عبدالرحمان همغه شیبه کې غیب شو، لومړی ځل وو چې شموئیل مې دومره غوسه لیدو او لومړی ځل وو چې احساس می کړل د شموئیل په غوسه باندی د موټر فضا درنه شول ... خو ډېر ژر هر څه عادی شول.
په شک او تردید مې د شموئیل خواته وکتل نه پوهېدم هغه ولې داسې وکړل؟
شموئیل خو ژور ساه ګاني واخیستی د هغه وروسته يې وویل: غواړی تر ماښام کښیني او ماته وګوری؟ مګر تا نغوښتل الفا ته زنګ ووهې او معلوم کړې چې زقوم

رښتيا ويلې که دروغ؟ ذوالفقار زه ډېر په دی حالت کې نشم ساتلې، که زنګ وهې نو همدا اوس يې وواهه ...

د شموئيل په دی خبره په مشکوک او فکرمند انداز مې ورڅخه نظر واخيست او خپل موبايل مې له جيب راوباسو خو د زنګ وهلو مخکې يو ځل بيا د ذوالفقار پټ سترګو ته مې وکتل او کرار مې وويل: پوهېږم چې ته زما د ښه لپاره دا کارونه او خبرې کوی خو کله ناکله ژوند هغسې مخ ته نځې څنګه چې موږ يې توقع لرو ...

شمېره مې ووهله، زنګ روان وو ثاني لکه کلونو پشان تېرېدل يو ... دوه ... درې ... څلور ...

– الو ...

غږ عادي و، بيحد عادي خو ما ته يې بد احساس راکړو د غفار خبره را په ياد شول په تلوار مې وويل: د مشر سره غوارم خبری وکړم ...
څو شيبې چوپتيا شوه د هغه وروسته زنګ قطع شو په حيرت مې موبايل له غوږ لری کړو، زنګ يې بند کړو؟ ولې؟ يعنې بيا زنګ ورپسې ووهم؟
شموئيل- نه ..

د شموئيل په غږ نظر مې د موبايل د سکرين څخه واخيست چې هغه وويل: زنګ مه وهه امکان لری هغه خپل درته زنګ ووهـ ..

شموئيل لا خبره نه وه پوره کړې چې موبايل ته مې د همغه نمبر لخوا زنګ راغلو، په وېره او حيرت مې د شموئيل خواته وکتل چې هغه د سر په اشاره د موبايل ځواب کولو وويل، زنګ مې وصل کړو هېڅ غږ نه راتلو نه پوهېدم څه ووايم؟ يوازينې جمله چې مې ذهن ته راغلل هغه مې بې اختيار وويل: زه يم طاها ...

خو بيا هم هېڅ ځواب مې تر لاسه نکړو يو دم چوپتيا وه، خپل کار ته مې هم خندا راغلل هم افسوس ... داسې مې وويل زه يم طاها ... ته وا زه کوم رئيس جمهور يم

چې د نوم په اوریدو مې خلک باید ما وپیژني؟ لکه چې شموئیل هم زما فکر وویلو ځکه خپل شونډه یې وچیچل او مخ یې د ښیښی خواته وګرځو تر څو خندا یې زه ونګورم ..

– پوهېدم چې زنګ وهې ...

ناڅاپه د ډېر وېرې څخه زړه مې درز وهل، دا ... دا غږ ... دا غږ د الفا دی ... باور مې نه کیدو هغه د رښتیا ما ته ځواب راکړو؟ شموئیل هم د غږ په اوریدو زما خواته مخ راوګرځو او په تروش تندی سترګي راباندی ښخې کړل.

الفا- اوممم زه ډېر د موبایلي خبرو لیوال نه یم نو که کوم څه ویلو ته لری ژر یې ووایه کنه خدای پاماڼ ..

په تلوار می خبره ورپری کړل او ومې ویل: زه غواړم درسره معامله وکړم.
الفا- معامله؟(کرار یې وخندل او ویې ویل: یعنې ته فکر کوی ته دومره شئ یې چې زما سره معامله کولای شې؟
ژوره ساه مې واخیسته تر څو خپل وېره او وحشت کم کړم او ومې ویل: فکر نه .. بلکې ډاډمن یم چې راسره معامله کوی، کنه د موبایل ځواب دی لا نه راکو خبری کول خو لری ...

د هغه لوړ غږ قهقهه خندیدلو غږ مې واورید او باید ووایم د موبایل تر شا لا د هغه د غږ وډار شوم ..
الفا- اوممم، لومړی ځل دې چې عزیزی یو هوښیار کس خپل ډله کې ساتلي، خو صد افسوس چې هغه هوښیار کس جاسوس له اوبو راووت، نچ،نچ زما څخه لا بتر بد شانس دی دا عزیزی ...
بغیر د څه ویلو په چوپتیا کې د هغه خبرو ته غوږ شوم، ځواب مې نه درلود د هغه دومره طعنو ته ..

الفا- ښه نو هوښیار صیب، څه لرې د معاملې لپاره؟
- طلا ...
څو شیبې چوپتیا شوه د هغه وروسته الفا په کلک لهجه وویل: هغه خو زما ده ... هغه زما مال دی ... ایا ته زما په مال کې زما سره معامله کوې؟

د الفا په دې خبره په حیرت مې د شموئیل خواته وکتل، نه امکان نلرې ... لعنت دې وی خو لکه چې د زقوم خبره رښتیا وه؟! الفا طلا نغواړې، هغه .. هغه ...
الفا- فکر وکړه، ایا بغیر د طلاو څخه داسې کوم بل قیمتي شئ لرې چې پر هغه باندې ما د معاملې د میز سر ته راکش کړې هومم؟!
- لکه څه؟ زما سره یوازې د طلاو د ځای آدرس دی بس ... زه نور څه نلرم ویلو ته ..
الفا- یعنې ته غواړې زه ومنم چې دومره وخت د عزیزی سره د اوسیدلو باوجود ته د هېڅ کوم قیمتي او ارزښتمن شئ په اړه معلومات نلرې؟

- زه نه پوهیږم ته د کوم قیمتي شئ په اړه خبرې کوې؟ ما د عزیزی څخه یوازې د طلاو د ځای په اړه معلومات اخیستي نور نـ ..

لا مې خبره نه وه پوره کړې چې الفا په غوسه وویل: ما ته دروغ مه وایه، ته فکر کوې زه بیعقل یم؟ زه پوهېږم هغه حرمون* عزیزی تا ته د هر څه په اړه ویلې .. ووایه ... ووایه سایه چیرته ده؟! هـا؟ ګوره عزیزی نور نشې راتلې هغه زندان د هغه قبرستان دی .. نن وی که سبا هملته مړ کیږی، که دولت مړ نکړو زه یې همله وژنم خپل خو پوهیږې چې داسې کار کولای شم کنه؟! نو ولې غواړې د داسې یو مړ کس لپاره قرباني ورکړې؟! هوم؟

ته یو هوښیار هلک یې ولې غواړې ځان ځوانیمرګ کړې؟ ها؟ زما پخوا شه طاها ... زما پخوا شه او د عزیزی ټول معلومات ما ته راکړه، په بدل کې زه نه یوازې دا چې ستا ژوند دربخښم بلکې ښه ډېرې پیسې هم درکوم اصلاً څنګه دې خوښه ده چې هغه ټول طلا تاته درکړم هوم؟! په بدل کې ته یوازې ووایه سایه چیرته ده؟!

خوله مې له حيرت خلاصه پاتې شوه باور مې نه راتلو اخر دا سايه څه شئ؟ يا څوک وو چې الفا حاضر وو د هغه د ځای د معلوماتو په بدل کې هغه دومره ډېر طلا ما ته راکړې؟! عجيب وه خو د لومړۍ ځل لپاره مې د زړه له تل آرمان وکړو چې ای کاش د رښتيا مې د "سايه" په اړه معلومات درلود، خو د شموئيل په خبره خپل په فکر پښيمان شوم.

شموئيل- ته فکر کوی که د هغه په اړه دی معلومات درلود او الفا ته دی ويلی وايې نو هغه خپل په قول وفا کول او تاته يی طلا درکول؟ ته څومره بيعقل يی طاها ... هغه يو خونخوار، رزيل انسان ... نه انسان لا نشم ورته ويلې هغه ځناور دی .. داسې کسان خدای او د هغه رسول لا نه منې هغه وخت ته فکر کوی خپل په خبره به وفا وکړی؟!

غوښتل می شموئيل ته ځواب ورکړم چې د الفا غږ مې تر غوږ شو.
الفا- څنګه؟ زما وړانديز دی خوښ شو؟ معلومات راکوی؟

د شموئيل خبرو د هغه حرص او لجاجت څخه راوويستم او په کلک غږ مې وويل: زه نه پوهيږم دا "سايه" څوک يا څشې دی؟! د عزيزی د خولې څخه يو ځل مې لا دا نوم نه دی اوريدلې .. زما د صلحي او معاملی وړانديز تاته همدا د طلاو د ځای آدرس دی، زه نور د کوم شئ په اړه معلومات نلرم، چې تا ته يې درکړم ..

الفا په پوسخند وويل: ښکاری عزيزی خپل د لاس سپي ښه روزلې، ستونزه نشته په ژوند کې لومړۍ ځل مې غوښتل د نرمۍ څخه کار واخلم او دا موضوع حل کړم خو نه .. لکه چې بايد خپل په طريقي عمل وکړم ...

د دی خبری سره سم بنګهاری شو او موبايل زنګ بند شو، په حيرت مې موبايل د غوږ څخه لری کړو چې شموئيل په غوسه وويل: هغه ته وګواښولې ...

په ګنګس انداز مې وويل: ها؟ څه؟
شموئيل څو شيبې په چوپتيا کې راوکتل د هغه وروسته پخندا يې وويل: ستا مغزو

کې ضرور کوم ستونزه شته طاها، کنه دا دومره ساده توب نرمال نه دی.
بد،بد مې وروکتل چې هغه وویل: داسی مه راګوره خو رښتیا وایم، تا مګر د هغه اخری خبری وانه وریدل چې ویل یې "غوښتل مې د نرمۍ څخه کار واخلم او دا موضوع حل کړم خو نه .. لکه چې باید خپل په طریقي عمل وکړم ..." ستا په نظر دا خبره څه معنا لری؟

- څه معنا لری؟
شموئیل په پوسخند وویل: دا معنا لری ساده ګل صیب، چې تر اوسه الفا یوازی ته د نظر لاندی نیولې وی .. خو د دی زنګ او خبرو وروسته هغه سم صحیح په رسمي توګه ستا پسې شو، خو ته لا هم ګنګس یې ...

تازه په موضوع مې سر خلاص شو او پوه شوم چې په دی زنګ وهلو مې عجب بد وکړل، ما هغه سر عام خپل د ځان پسې کړو؟ په دی فکر په وېره مې د شموئیل خواته وکتل چې هغه په افسوس سر وخوځاوه او ویې ویل: کله ناکله د حد ډېر هوښیار کېږی داسې چې حیرت کوم دا دې ته اوسیږی؟ خو کله ناکله بیا د حد ډېر بیعقل کیږی نه پوهېږم ولې داسې کیږی؟ ستا په نظر کوم عصبي مشکل لری؟!
په غوسه مې وویل: ته زما د عصبي مشکل پسې یې؟ نګوری څه وشو؟ الفا وویل نه دې پرېږدم، پوهېږی دا څه معنا لری شموئیل؟

شموئیل- ښه پوهېږم چې څه معنا لرې خو څه وکړو؟ که درته ووایم مه وېرېږه او هغه هېڅ نشي کولای نو هسې دروغ به وی، ځکه الفا زه یوازی ځان نشم رانیولې البته رانیولې شم خو زما د نړۍ قانون دا اجازه ما ته نه راکوی، نو د اوس لپاره دومره درته ویلې شم چې په وېره څه نه کیږی طاها، نو د وېرېدلو لځایه خپل فکر په کار واچوه، البته د اوس لپاره فکر نکوم ستا فکر دی ډېر کار وکړی نو عبدالرحمان ته وایم چې دربانډی فکر وساتي، زه هم ګورم چې څه کولای شم؟ خو دومره مه وېرېږه (په غوسه یې خپل غاښونه سره وچیچل او ویې ویل: ستا د وېرېدلو د بوی څخه کرکه لرم ...

که څه هم بېحد وېرېدلې او ګنګس وم خو همغه حال کې مې وپوښتل: څه؟ زما د وېرې بوی؟
شموئيل په همغه غوسه وویل: هو، ستا د وېرې بوی، زه ستا وېره احساس کولای شم طاها ..او دا مې غوسه کوی نو کوښښ وکړه کله چې زما څنګ کې یې دومره ونه ډار شې، زه د اوس لپاره ځم خو فکر مې ستا خواته دی نو ارام اوسیږه الفا کوم کار د اوس لپاره نشې کولاې ...

د دی خبرو سره سم بغير له دی چې ما ته د کوم څه ویلو اجازه راکړی لاړ، د هغه د تلو څو شیبې وروسته ذوالفقار کرار په څوکۍ باندی وخوځید او سترګي خلاصی کړل، ما بغير د څه ویلو ورته کتل دومره مې فکر خراب وو چې حد یې نه درلود زړه مې غوښتل یوازی ځان یو ځای کښېنم او خپل په حال وژاړم، زړه کې مې آرمان کاوه چې  کاش دا کارونه یو بل چا راباندی کړی وایې تر څو اوس مې د هغه کس ګریوان رانیولې وایې او دا ټول کارونه مې پر هغه اچولي وایې او ورته ویلي مې وایی چی دا ټول مصیبتونه ستا له لاسه زما په سر راځې ... خو لعنت دی وی پر ما چی هر مصیبت رانازل کیږی زما د خپل بیعقلتوب له لاسه راباندی نازل کیږی، رښتیا یې ویلې چې خود کرده را تدبیری نیست ...

د الفا خبرو دومره وېرولې وم چې مغزو مې یو دم کار پریخودلې وو، هغه سر عام زه وګواښولم، دا کوم عادی خبره نه وه د یو مافیا او قاتل ډلې د ګروپ مشر او رئیس ما ته وویل ژوندی دی نه پرېږدم ... البته زه پر ځان و نه ډار شوم خدای په سر شاهد دی زه خپل په مرګ دومره وېره نلرم داسې چې بیخې خپل لاره رانه ورکه شې، زه خپل په کورنۍ ووېرېدلم، ما الفا پېژندو او پوهېدم چې د هغه د غچ اخیستلو لومړۍ ګام زما کورنۍ نښه ګرځول دی او دا فکر د جنون تر حد رسولم ...

ذوالفقار داسې حال کې چې خپل په تندی لاس تېرو وویل: څه شوی؟
د هغه په غږ یو څه خپل د وحشتناک او ډارونکو فکرونو څخه لیری شوم،نیم نظر مې وارواچو او ومې ویل: ښه یې؟

ذوالفقار- هو ولې؟
که څه هم په یو بد ذهني کش،مکش کې راګیر وم خو ځان مې راټول کړو او ومې ویل: نه پوهېږم، خو ته د خبرو منځ کې ناڅاپه بې هوښ شو، تندی دی هم د موټر په شټرینګ ولګید، اوس ښه یې؟ درد خو نلری؟ غواړې شفخانې ته لاړشو؟
ذوالفقار په حیرت باندی ځانته اشاره وکړل.
— زه بې هوښ شوم؟
- هو.
ذوالفقار- خو زما ولې څه یاد ته نه راځې؟ ما خو ستا سره خبری کول د الف ...

خبره مې ورپرې کړل او په تلوار مې وویل: هو، د هغه نمبر په اړه مو خبری کول او زما په نظر ستا خبره صحیح ده، موږ باید د زنګ وهلو بغیر د الفا نمبر جنرال او د هغه کسانو ته ورکړو، ستا په خبره زه چې هرڅومره د دی موضوع څخه ځان لری وساتم هغومره به زما په ګټه وی ...

ذوالفقار په مشکوک انداز راوکتل او ویې ویل: عجیب ده! تر همدا اوس دی زاری کول چې اجازه درکړم ورته زنګ ووهې خو اوس ... ناڅاپه څه دروشول؟

ژوره ساه مې واخیست او زړه کې مې ځان سره وویل: ته څه خبر یې چې زنګ مې ووهلو او ښه مې هم ځان بدبخت کړو ...
ذوالفقار- ها .. طاها تاته وایم ناڅاپه دی ولې نیت بدل شو؟

- هېڅ، یوازی زړه مې غواړې داخل ستا په خوله وکړم ...
ذوالفقار په همغه مشکوک انداز راکتل او ویې ویل: باوېمن یې چې یوازی همدا خبره ده؟ کوم څه خو زما څخه نه پټ کوی؟ اصلاً زه څومره وخت کیږی چې بې هوښ وم؟
- مه ورخطا کیږه دومره بې هوښ نه وی(بیا مې د شونډې لاندی کرار د ځان سره وویل: خو دومره وی چې زه ځان بدبخت کړم ...

ذوالفقار- ها؟ څه؟
- هېڅ، ذوالفقار روان شه ستړی یم غواړم ویده شم.

ذوالفقار غوښتل کوم څه ووایې خو کله چې زما پریشانه څهره یې ولیدل نو چوپ شو او موټر یې روان کړو کور ته د رسیدلو مخکې هغه منحوس نمبر مې ذوالفقار ته ورکړو، البته فکر مې نکوو کوم خیر دی د هغه نمبر څخه ووینې څنګه چې ما کوم خیر ورڅخه ونه لید، همدا چې کور ته ورسیدلو ذوالفقار موټر ودرو او زما خواته یې راوکتل او ویې ویل: ډاډمن یې چې نغواړې د نمبر ورکولو مخکې ورسره خبری وکړې؟

- ذوالفقار ستا ستونزه دقیقاً څه ده؟ تا مګر خپل نه ویل چې خبری مکوه؟ اوس خبری نکوم نو ولې راپسي موښتي یې؟
ذوالفقار بد،بد راوکتل او ویې ویل: ځکه چې زه تا پیژنم، او تل راته ثابت شوی کله چې ته د یو شئ څخه ناخاپه انکار کوی مطلب شاته یې ضرور یوه خبره شته، رښتیا ووایه طاها زما د بې هوښ کیدلو وخت کې تا خو زنګ نه دی وهلې ورته؟

د ذوالفقار دومره هوښیارتیا ته مې حیرت راغلو،خو ځان مې ونه بایلو او ومې ویل: یعنې ستا په نظر زه داسي یو انسان یم ذوالفقار؟! چې ستا د هغه بد حالت څخه ګټه اخلم او زنګ وهم؟

ذوالفقار څو شیبې په چوپتیا کې راوکتل د هغه وروسته یې وویل: زه دا خبری پرېږده راځه دا نمبر جنرال دویته ورکړو او ورته ووایو چې نن غفار تا ته څه ویلې.
- زه نځم.
ذوالفقار- ولې؟
- ستړی یم او خوب هم راځي او له بلخوا هېڅ د جنرال د بیځایه خبرو حوصله نلرم نو ته ورځه زه ځم کور ته.
ذوالفقار څو شیبی په مشکوک نظر راوکتل د هغه وروسته یې وویل: سمده، ته ورځه کور ته زه هم اوس راځم بیا خبری کو..

بغیر د څه ویلو له موټر ښکته شم او کور ته ننوتلم، نن مې د اوبو پشان په هر لس خبرو کې نهه خبرې دروغ ویلې وه، داسې چې خپل مې لا باور نه راتلو چې دا دې زه اوسیږم؟! زه د کوم وخت دومره ماهر دروغجن شوم؟ ما عمر کې دروغ ویل نه وه زده خو اوس؟ یوازینې خبره چې ذوالفقار ته مې دروغ نه وه کړې همدا ستړیا او خوب وو، یعنې فکر مې کاوه کیلو،کیلو وزن مې پر اوږو پروت دی زړه مې یوازې غوښتل سترګې پټې کړم او ویده شم ...

عجیب وه خپل ټول عمر کې مې دومره د ویده کیدلو لپاره تلوار نه وو خو نن بل رقم د خوب لیوني وم، کور ته چې ننوتلم نو اقرا او د ذوالفقار ښځه دهلیز کې ناستې وې، ترموز چای او د هغوی د ډکې پیالو څخه ښکاریدل چې ښه د غیبت میدان ګرم وو، کرار مې سلام واچو او بغیر له دی چې د هغوی څخه د کوم ځواب په تمه شم یا د محمد او راحیل خواته چې دواړه لګیا وه زما په لیدو یې لاسونو خوځولو کوم توجه وکړم مخامخ کوټې ته ننوتلم او په نالې څملیدم، زما د ننوتلو سره سم اقرا هم کوټې ته را دننه شول، کله چې زه یې څملیدلې ولیدم نو لږ ورخطا شوه.

اقرا- څه شوی طاها؟ ښه یې؟

هر څومره چې کوښښ مې وکړو سترګې خلاصې کړم او د هغې ځواب ورکړم خو ونه توانیدم، فکر مې کاوه سترګې مې د سریښ په واسطه یو پر بل کلک سریښ شوی، ذهن کې مې هیڅ خبره نه راتلل یوازینی شئ چې ذهن ته مې راتلو هغه وو خوب ... خوب او خوب د خوب څخه په ډکه لهجه مې اقرا ته یوازی دومره وویل چې ستړی یم او غواړم ویده شم ..

نور نو بغیر له دې چې خپل جورابي له پښو وباسم یا کورتي اخوا کړم یا حتا یو کمپل پر ځان راکش کړم سترګې مې پټې کړل او ویده شوم البته باید ووایم چې بې هوښ شوم ... نه پوهیږم څومره وخت به ویده وم خو خپل شاوخوا د بنګ،بنګ په

غړونو د خوب منځ کې مې وقفه راغلل، غړونه داسې وه لکه یوه ډله کسان چې زما شاوخوا ناست وی او خبرې کوی ...؟

– د شپې څخه تراوسه یو ځل هم نه دی راپاسېدلې؟
دا غږ مې پیژنده که څه هم کامل هوښیار شوی نه وم او د خوب حال کې وم خو پوهېدم چې غږ د ذوالفقار دی، د هغه په ځواب کې د اقرا ورخطا، اندیښمن او څه ناڅه ژړېدونکې غږ مې هم واورید چې ویې ویل: نه اوخښیه، درسته شپه حتا ښور یې لا ونخوړو څو ځله مې ورباندی غږ کړل خو هېڅ ځواب یې رانکړو اوس هم هر څومره چې ورباندی غږ کوم څه نه وایې ...

د اقرا د خبرې سره سم د ذوالفقار نږدی راتګ مې احساس کړل، لږ د خوب د حالت وتلې وم خو لا هم نه مې خپل سترګې خلاصولې شول او نه مې هم کوم حرکت کولای شو حالت مې د هغه ورځ پشان وو چې مرمۍ مې خوړلې وه او بوډا شفخاني ته ورلم، همغسې ګنګس،خمار او خپل د شاوخوا ماحول څخه ناخبره وم، زړه مې غوښتل ټول لاړ شې او ما یوازې پرېږدی تر څو ویده شم ...

ذوالفقار- طاها ... طاها ...پاڅه ... زما غږ اورې .. طاها ...

ذوالفقار د غږ کولو سره سم څو ځله کرار پر مخ ووهلم او له اوږی وخوځولم، خو ما بیا هم هېڅ و نه ویل البته زړه خو مې غوښتلو چې ځواب ورکړم خو توان د ځواب ورکولو مې نه درلود.
ذوالفقار- لږ یخې اوبه ماته راوړه ...

څو شیبې کراری شول، که څه هم ذوالفقار تر اوسه زما څنګ ته ناست وو او ما یې دروند نظر خپل پر ځان احساس کاوه خو له دې چې نور یې نه خوځولم او ناری نه راته وهل زړه مې بیا ډوب شو او کرار،کرار بیرته د خوب نړۍ ته تلم چې ناڅاپه پر مخ باندی مې د یخ اوبو پاشیدلو سره بې اختیاره مې سترګې خلاصې شول او جست خپل ځای کې کښیناستم ...

همدا چې سترګي مې خلاصې کړی نو لومړۍ نظر مې چې ولکید هغه په ذوالفقار و چې په تروش تندی او اندیښنې زما ومخ ته ناست وو، بیا د هغه شاته په اقرا چې د اوښکو څخه په ډک سترګو او بیا د ذوالفقار میرمن داسې حال کې چې راحیل یې غیږ کې نیولې وه د کوټې د دروازی مخې ته ولاړه وه، د هغوي په لیدو په حیرت مې وویل: څــه شوی؟ څه خبره ده؟

ذوالفقار په تروش تندی وویل: دا پوښتنه مورِ باید ستا څخه وکړو پر تا څه شوی؟ څه خبره ده؟
په حیرت مې خپل لوند کمیس ته وکتل بیا مې د ذوالفقار لاس کې د اوبو تش جګ ته وکتل او په غوسه مې وویل: پر ما څه شوی یا پر تا؟ څه مرګ دی چې د اوبو جګ دی پر ما راچپه کړو، عصاب دی پر ځای دی ذوالفقار که لیوني شوی یې؟!

ذوالفقار که څه هم له څهرې څخه غوسه معلومیدی خو ویخندل او خپل د لاس تش جګ یې پر فرش کیخود او بیا داسې حال کې چې زما څنګ ته پر نالې کښیناست اقرا او خپل ښځي ته یې مخ وګرځو او ویې ویل: ورځې بوېږۍ راوړی، ګوری چې هېڅ بلا نه دی وهلې، زما څخه ډیر ښه دی.

د ذوالفقار په دی خبره هغوي دواړه که څه هم تر اوسه له څهرې څخه اندیښنې ښکاریدل خو له کوټې ووتل، زه تر اوسه نه پوهېدم چې څه روان دی؟ له یو خوا ناڅاپه له خوب راپاسیدلې وم او مغزه مې نه وه روښانه شوی او له بلخوا هغه اوبه دومره یخې وه چې د یخ له لاسه لړزېدم داسې حال کې چې لځایه پاسیدم تر څو د الماري څخه ځانته یو وچ کمیس راواخلم په غوسه مې ذوالفقار ته وویل: مرض لری په دی یخ کې په سرې اوبه شیندی؟ بیا یو ځل فکر هم نکوی چې بدبخت ویده دی امکان لری په داسې ناڅاپه راپاڅولو د ویرې څخه سکته وکړی ..

ذوالفقار په تنده لهجه وویل: زما هم چندان ستا د راپاڅولو سره شوق نشته، ستا ښځې ژړل چې هله میره مې مړ دی ..

په حیرت الماری کې د ګرځیدلو څخه مې لاس واخیست او د هغه خواته مې وکتل چې ذوالفقار په تروش تندی وویل: ستا خوب د کوم وخت څخه دومره دروند شوی چې د پاڅیدلو نه یې؟
- زه هېڅکله دومره دروند نه ویده کیږم نن هم ځکه چې لږ ستړې وم داسې ویده شوی وم، اوس څه کیدل که یو دوه ساعت اضافه ویده شوی وایې او زه مو نه وایې راویښ کړی؟ بیا دا یوه شپه دې ما د ماښام ډوډۍ نه وایې خوړلې قیامت راتلې؟

زما په دی خبره ذوالفقار په حیرت وخندل خو ډېر ژر خندا یې په اندیښنې بدل شول او ویې ویل: نه د رښتیا یو مرګ درباندی شوی طاها ... پرون د شفخانې څخه د راتلو وروسته کوم نشه،مشه خو دی نه ده کړې هوم؟! ماښام چیرته وو؟ ته څلرویشت ساعت کیږی لکه اېږ پشان ویده وی، پرون ټوله شپه دی ښور لا نه وو خوړلې سهار هم داسې دروند ویده وی چی زه یوازی ځان شرکت ته لاړم او ته مې راویښ نکړې .

زه تازه اوس غرمه د شرکت راغلم او پوښتنه کوم طاها چیرته دی؟ وایی تر اوسه ویده دی ...! اقرا ته مې وویل راویښ دی کړی خو هغې چې څومره درباندی غږ کاوه تا ځواب نه ورکو، نو ځکه ورخطا شوی وه او ماته یې راغږ کړل، ما هم نیم ساعت په جان او قربان درته ناری کړل خو تا کرار د اوه پادشاهانو خوبونه ورته وهل، نو ځکه مجبور شوم اوبه دربانډی وشیندم اوس هم غوسه ته یې؟!

د ذوالفقار په هر خبره خوله مې له حیرت خلاص پاتې کیدل باور مې نه راتلو ذوالفقار ویل زه تقریباً څلوریشت ساعته ویده وم؟! خو ما ته ولې داسی ښکاریدل لکه همدا یوه شېبه مخکې چې د ذوالفقار د موټر راښکته شوی او کوټې ته راغلې اوسیږم؟

ذوالفقار په همغه مشکوک نظر راوکتل او ویې ویل: ډاډمن یې چې د شپې د ویده کیدلو مخکې دی کوم څه نه دی خوړلې؟

بغیر له دې چې د ذوالفقار خبرې ته کوم ځواب ورکړم د کړکۍ خواته لاړم، کله چې پرده مې پورته کړل او لمر مې ولید نو تازه باوري شوم چې هغوی رښتیا وایی، خو څنګه امکان لري ما احساس کاوه همدا اوس ویده شوی اوسیږم؟ یعنې که ډیر،ډیر وخت زما په نظر تیر شوی وي نو نیم یا هم یو ساعت ...

ذوالفقار په پوسخند وویل: اوس دی زما په خبرو باور راغلو؟ یا که درته د نن ورځې تاریخ هم وښایم تر څو کامل ډاډمن شې؟
د کړکۍ پرده مې خوشی کړل او د ذوالفقار خواته وګرځیدم.
- باور می نه راځې ذوالفقار، یعنی زه دومره ویده شوی یم؟
ذوالفقار سر وخوځاوه او کرار یې وویل: تا چی پرون ما ته وویل ناڅاپه په موټر کې بې هوښ شوی، نو زما حالت هم هغه دقه ستا پشان وو باور مې نه راتلو ... خو رښتیا څوک نشې بدلولې، اوس دا خبری پریږده، لاړ شه خپل موبایل وګوره چې د نن سهار راهیسې ځان مړ کړو دومره زنګونه ورته راغلل،تر دی چې زه مجبور شوم بند یې کړم.

- زما موبایل؟
ذوالفقار- هو، ستا موبایل.
- خو ځواب به دی ورکړې وایی چی څوک دی؟ شاید زبیر وو؟
ذوالفقار- ځواب می ورکړو، نه زبیر نه وو، هغه څه نومیده همغه چی ته ورته بوډا وایی؟ همغه وو ویل یې تا پرون قول راکړې و نو ولې نه راځی؟
- جنرال نقیب ؟
ذوالفقار په تروش تندی سر وخوځاوه چی ما وویل: نو څه دی ورته وویل؟
ذوالفقار- ورته ومې ویل طاها ویده دی.

- څه یې ونه ویل؟
ذوالفقار په تروش تندی وویل: فکر کوم غوښتل یې یوڅه ووایې خو ما ورباندی

موبایل بند کړو،(بیا په مشکوک لهجه یې اضافه کړل: هېڅ مې دا کس نه خوښېږی، یعنې د هغه خبیث جنرال څخه لا ډېر را ته مضر ښکاری.

داسې حال کې چې خپل د موبایل پسې ګرځیدم ومې ویل: خو ما بیا د جنرال څخه هیڅ ښه نه راځې، فکر کوم د هغه د هر خبری شاته د هغه ګټه ده او هغه هېڅکله د خدای لپاره کوم کار نکوی،خو پر بوډا څه ناڅه باور لرم فکر کوم لږ انسانیت لری.
ذوالفقار په همغه تروش تندی ووېل: خو زه پر یوه هم باور نلرم زما په نظر دواړه یو تر بل بتر دی، هر یو یې خپل د مقصد پسې دی او هیچا ته ستا ژوند مهم نه دی ..
خپل موبایل مې پیدا کړو د بخارۍ څنګ ته پر بالښت باندی وو، د راخیستلو حال کې مې ذوالفقار ته وویل: ولی داسی فکر کوی؟ پرون دی هغه نمبر جنرال ته ورکړو؟ څه یې ویل؟

زما په دی خبره د ذوالفقار تندی لا پسي تروش شو، خپل غاښونه یې سره وچیچل او ویې ویل: په همدی خاطر خو وایم چی یو ته هم ستا ژوند مهم نه دی، پوهېږې طاها کله چې هغه نمبر مې جنرال ته ورکړو او ورته ومې ویل چې غفار تا ته دا نمبر درکړی او امکان لری د الفا نمبر اوسیږی نو هغه د دې لځایه چې نمبر واخلې او مثلاً د هغه موقعیت تعقیب کړې یا یو بل مرګ وکړې، ما ته وایې غفار مړ ته هېڅ ونه ویل خو طاها ته یې د الفا نمبر ورکړو؟!

نو مطلب طاها زموږ ډېر په درد خوری او باید د هغه څخه کار واخلو، یعنې زما په مخ کې ستا څخه داسې یادونه وکړل ته وا ته کوم د هغوی د پلان پوره کولو وسیله یې؟ باور کوې طاها لهجه کې ستا په وړاندې هېڅ ډول همدردی او دل رحمې نه وه، د هغه په دی خبرو زړه مې غوښتل دا مغزی ورمات کړم ...

د ذوالفقار په دی خبره په چوپ نظر مې وروکتل خو څه مې ونه ویل، یو دلیل چې د جنرال څخه مې بیحـد بد راځې همدا دی، یعنې هغه تل ماته خپل د پلان پوره کولو د وسیلې په نظر ګوری او زما مرګ او ژوند د ذوالفقار خبره ورته هېڅ مهم نه دی، خو بوډا د هغه پشان نه وو البته دا زما ګمان وو، امکان لری هغه هم د جنرال پشان

@Shuhab09

وی یا د هغه ښځه لا بتر ..خو تر اوسه ما ورځخه کوم بد نه وه لیدلې نو زما په نظر د جنرال ښځه ډېر د باور وړ وو ..

بوډا ته مې زنګ وواهه او ورته ومې ویل چې غرمه دوه بجې شاوخوا حوزی ته د هغه د لیدلو لپاره ورځم، او بغیر د نور څه ویلو مې موبایل بند کړو او د الماری خواته لاړم یو کمیس مې راوخیست او د یو زیر پیرنې پسې ګرځیدم چې ذوالفقار په غوسه وویل: تا زما ښځه اجازه واخیستل چی د تلو وخت دی وټاکلو؟

همغه حال کې چې الماری کې ګرځېدم او ذوالفقار ته مې شا وه ومې ویل: یعنې ته د تلو اجازه نه راکوی؟
ذوالفقار په غوسه وویل: معلومداره ده چې نه یې درکوم، دوي د خیر کسان نه دی طاها ... دوی یوازی خپل د پلان او ماموریت په غم کیدی، او اوس ځکه چې تا ته ارتیا لری داسې ځانونه نیک،نیک کوی دوي غواړی تا خر یو کونج ته کړې او خپل خبری دربا‌ندی په زوره ومنې، البته جبر ته ضرورت نشته ته دومره بیعقل یې چې د هغوی په دوه خبرو خطا وځې.
- نو ته راسره راشه تر څو ځوک مې خطا نه باسې هوم؟!

ذوالفقار په همغه تروش تندی غوښتل کوم څه ووایې خو د دروازی په خلاصیدو او بیا د اقرا په راتلو چې سرخان یې په لاس کې وو چوپ شو، ما هم نور څه ونه ویل خپل کالې می له الماری راوخیستل او د حمام خواته لاړم، د کالو بدل کولو وروسته کله چې کوټې ته ننوتلم نو سرخان هوار وو او ټول ماته په تمه وه بیرته خپل د ځای خواته لاړم خو د کښیناستلو مخکې محمد مې پښه ونیول او په ناز باندی خبری کول شروع کړل ..

محمد- بابا ...
- جانې بابا څه وایې؟

محمد- لا ده دوو دوکان ته ( راځه ځو دوکان ته)

دا هم یو بل خاصیت چې محمد دا څو وخته پیدا کړی وو،یعني ورځ کې دوه،درې ځله د فرض لمانځه پشان ضرور دوکان ته تلو، زیاتر وخت هم ذوالفقار وړو،یعنې دا خاصیت ورته ذوالفقار پیدا کړی وو، هر ماذدیګر د کار څخه د راتلو وروسته او کله ناکله سهار کار ته دتلو مخکې او کله هم د شپې لخوا ضرور یې دوکان ته وړو او سل،یونیم سل افغانۍ میده شیان به یې ورته اخیستل، تر دی حد چې محمد هم عادت شوی وو، او هر چا ته به لګیا و چی ما دوکان ته ویسه، ښکته شوم محمد مې غېږ کې راواخیست او د ذوالققار څنګ ته کښیناستم.

- څشې غواړې دوکان کې واخلې؟

محمد په خوشحاله او ماشومانه لهجه وویل: کو کو اکم، پاپل اکم، کیک اکم( کاکو اخلم، پاپړ اخلم،کیک اخلم)

د هغه په داسې لیست ویلو پخندا مې غومبری ورڅخه کش کړو او ومې ویل: دومره ډېر شیان اخلې؟ راحیل ته یې هم ورکوی که یوازی ځان یې خوری خیټوره؟

محمد- نې ... رالیل نې ..(نه راحیل ته نه.)

- ولې هغه دی مګر د کاکا لور نه ده؟ هغې ته یې ولې نه ورکوی؟ که ورته ورنکړې هغه خو بیا ژاړی؟

زما په دی خبره محمد په فکر کې لاړو او د څو شیبو چوپتیا وروسته یې وویل: اته دی، اون دانه کو کو وکوم( اشه دې، یو دانه کاکو ورکوم)

د هغه داسې خوږی لهجې ته مې نور طاقت ونشو کلک مې څو ځله پر مخ ښکل کړو، او اخر کې مې کرار غچ ورباندی ولګو چې محمد ځان راڅخه لری کش کړو او تندی تروش کړو د هغه داسې تندی تروش کولو ته مې لا زړه ولاړ ..

- شوخ،شیطان ته ولې دومره خوږ شوی یې؟ هوم؟ دا څه خوری چې داسې خوږې، خوږی خبری کوی؟

محمد بغیر له دی چې زما خبری ته کوم توجه وکړی زما لاس یې کش کړ او ویې

ویل: بابا لا ده دوو(بابا، راځه ځو)
- اول ډوډۍ وخورو، بیا ځو ..

محمد- نې، دودی نې دوکان ته دو لا ده (نه، ډوډۍ، نه راځه دوکان ته ځو.)
- نچ، تر څو چې ډوډۍ ونخوری دوکان،موکان نشته ..
زما په دی خبره محمد ناخاپه بی شرمې او ژړا شروع کړل هیڅ هم د کرار کیدو نوم یې نه اخیست، ذوالفقار چې تر دی دمه په چوپتیا کې زما او د محمد خبرو ته غوږ نیولې وو د محمد په داسې ژړیدلو یې تندی تروش کړو او ما ته یې وویل: هغه ستا په خبرو پوهېږی چې ته ورته دومره امرونه کوی؟ ماشوم دی یو ځل یې تر دوکان ویسه، یو څو روپو شیان ورته واخله د هغه خوا چې راشې په خوشحالۍ ډوډۍ خوری ..

د ذوالفقار خواته مې وکتل او پخندا مې وویل: دا ټول ستا له لاسه داسې شوی ذوالفقار، کنه ده بې شرمې او دوکان ته تلل نه وه زده.

محمد چې وکتل ذوالفقار یې خوا ونیول نو لاپسې خپلچ بې شرمې ته یې زور ورکړو، او خدای په سر شاهید دی که هرخومره محمد راباندی ګران وو خو ما د داسی شغ ناک او ژړوندک ماشومانو څخه هېڅ ښه نه راتلل، نو ځکه تندی مې تروش کوو او په کلک لهجه مې ورته وویل: بیځایه بې شرمې او ژاړ مکوه، تر څو چې ډوډۍ ونخوری دوکان، موکان نشته وسلام.

توقع مې درلود زما په دی سیاست ناکه لهجه هغه لړ وډار شې خو محمد لا پسی ژړا ډېره کړل او بیخې د هندی فلمونو پشان یې ځان په ځمکه راواچو ما په خلاصه خوله د هغه دی ډګماری ته کتل او څه ناڅه خندا هم راغلې وه باور می نه راتلو د کوم وخت څخه دا پدر لعنت داسی شیطان شوی وو؟ زما نظر لا د محمد په ډګماری کې وه او خندل مې چې ناڅاپه ذوالفقار خپل لځایه پاسید فکر مې کاوه ډوډۍ خوړلې او غواړی خپل کوټې ته لاړ شئ؟

خو هغه د محمد خوا ته راغلو او هغه يې غیږ کې واخیست، او د کوټې څخه په وتلو شو خو د تلو مخکې کرار غږ یې ما واورید چې مثلاً محمد ته خو اصل کې زه یې په غوږ ووهلم او ویې ویل: بس دی مه ژاړه، زه دې خپل ورم دوکان ته ... د دې پلار څخه خدای خبر چې ته کوم خیر ویسی ...

پخندا مې ورپسي غږ کړل: ذوالفقـــار زما د زوی غوږونه زما په مقابل کې مه ډکوه ګوره دا کار دې هېڅ ښه نه دی ..
ذوالفقار مخ راوګرځو او په غوسه یې وخندل بیا په سترګو یې د اقرا خوا ته اشاره وکړل او ویې ویل: بده ده چې د ښځې مخکې دې راونیسم، نو که وهل نغواړې خوله دې بنده نیسه طاها ...

که څه هم ذوالفقار په کلک ګواښ وکړو خو ما ورته وخندل، نه پوهېږم لکه چې ویده کیدلو سرمست کړی وم چې د ذوالفقار سره مې ساتیری کاوه؟ ذوالفقار هم نور څه ونه ویل او له کوټې ووت د هغه د وتلو څو دقیقی وروسته د هغه ښځه هم د راحیل ویده کولو په بهانه له کوټې ووتل، زه او اقرا کوټه کې یوازی پاتي شو، د ډوډۍ خوړلو حال کې مې د هغې خواته چې په خفه انداز لګیا وه خپل د ډوډۍ سره یې لوبې کول وکتل او په شیطنت مې وویل: ښـــه نـــو، ښـه یعنې تا ګمان کړې وو چې لاړم مړ شوم چې په ژړا دې ټول کلې خبر کړی وو؟!

اقرا چې تر اوسه سر ښکته وو او خپل د ډوډۍ سره یې لوبي کول زما د غږ په اوریدو زما خواته یې راوکتل او ویې ویل: خدای دې نکوی، دا څنګه خبره ده چې ته یې کوی؟

په همغه خندا مې وویل: نو بیا ولې دې ذوالفقار ته غږ کړی وو؟
اقرا- نو څه مې کړې وایې؟ ټوله شپه تر غرمي په یو څنګ ویده وی ښور دې نه خوړه، هر څومره چې غږ مې هم کوم ځواب دې نه راکوو ورخطا شوم.

په شیطنت می وویل: یعنې که د رښتیا پر ما کوم څه شوی وایې نو تا تر غرمي صبر کوی او همغسې دې پریخودلم؟ یعنې دشپې یو ځل دی هم فکر ونکړو چی پر ده څه شوی چې ښور لا نخوری؟

اقرا په تروش تندی او څه ناڅه خفه انداز راوکتل او ویې ویل: ماښام درسته شپه نه یم ویده شوی، څو ځله په نیمه شپه مې درباندی غږ وکړو، کله چې ځواب دی رانکړو ورخطا شوم ساه کتل مې درڅخه وکتل، حتا څو ځله مې وکتل چې تبه خو نلری چې داسی بی حال یې؟ خو بدن دی ګرم نه وو او ساه دی هم منظم اخیسته، نو ځکه ډیر مې دربانډی ناری نکړل ځان سره مې ویل چې شاید ستړی به یې چې داسې دروند ویده شوی یې؟ خو بیا هم اندیښنه مې وه درته نو ځکه ټول شپه سر ته دی ویښه ناسته وم ...

د اقرا په خبره خندا مې په شونډو وچه شوه او لاس مې د ګولې اخیستلو وخت کې و دریډ، په حیرت مې وروکتل، باور مې نه راتلو اقرا ټوله شپه زما سر ته ویښه کښیناستلې وه؟ او د ویرې له لاسه یې زما ساه اخیستل چک کول؟ د هغې په دی خبره عجیب احساس مې وکړو داسې چې بې اختیاره لهجه مې هم ورسره نرمه شوه او ومې ویل: زه یوازی لږ ستړی وم، نور څه نه وو، هسې دومره اندیښمنه شوی وی.

هغې سمدستي ځواب رانه کړو، څو شیبې سم د زبیر پشان په جنایی نظر راوکتل د هغه وروسته یې وویل: ته چې کله وایې "نور څه نه وو" مطلب یو څه شته ..
د هغې داسې جنایي خبرو ته مې خندا راغلل.
- جنایي تحقیق اخلې د مولا لوری؟!
اقرا- که زه تحقیق وانخلم نو څوک به یې درڅخه اخلې؟(بیا یې کرار خپل خبرو ته دوام ورکړ: دا څو وخته بیحد پریشانه ښکاری طاها! خیرت خو دی؟

نه مې غوښتل اقرا زما د خرابات کارونو څخه خبره شي نو ځکه خبره مې بدله کړل او ومې ویل: ذوالفقار دوي ناوخته نکړل؟

اقرا- نه، ذوالفقار اوخښې تل چې محمد دوکان ته وړی نو همدومره وخت تېروی، خپل زوی نه پیژني هغه دومره فرمایشات او امرونه لرې چې مه وایه...

غوښتل مې د همدی موضوع پای ونیسم او بحث د محمد خواته ویسم خو اقرا په تلوار وویل: موضوع مه اړوه طاها، که کوم څه شوی ما ته ووایه ..
چوپ شوم، نه مې غوښتل اقرا ته دروغ ووایم، منم چې دا څو وخته په دروغ ویلو کې مې سم پې اچ دې اخیستې وه خو اقرا ته دروغ ویل مې زړه نغوښت او له بلخوا زړه مې دا هم نه غوښتل چې اصل کیسه دی هغې ته وکړم ځکه بغیر د اندیښني او تشویش څخه د هغې له لاسه هیڅ نه کیدل ..

اقرا په کراره وویل: د پرون شپې حالت دی طبیعي نه وو طاها ..
- ومې ویل کنه لږ ستړی وم نور کوم څه نشته .
اقرا- دروغ وایې ..
پخندا مې وویل: ته له کوم وخت جنایي پولیسه شوی یې چې زما څخه اظهارات اخلې؟
اقرا- له کله چې ته بدل شوی یې.

چوپ شوم ...

اقرا په خفه لهجه وویل: مخکې به دی هر څه راته ویل، خو د کوم وخت چې د عربستان څخه راغلې یې بیخې بدل شوی یې ..

سترګې مې ښکته واچول، خپل په ویل شوی دروغو شرمنده وم، خو کله ناکله دروغ یوازیني چاره وی، کرار مې وویل: ځینې خبرې که وویل شي نو د حل لځایه نور کسان هم په ستونزه کې اچوی ..
اقرا- نو زه نور کسان یم ستا په نظر؟
په تلوار مې وویل: نه ... ته... زما مطلب دا نه وو هغـ ..

اقرا خبره را پرې کړل او په نرم لهجه یې وویل: نو زما څخه خبره مه پټوه، زه هر کس نه یم طاها .. زه ستا ښځه یم .. نه یوازې په خوشحالۍ کې بلکې په هر حال کې ... نو ماته ووایه چې څه شوي؟

زړه مې تنګ شو، لاس مې اوږد کړو او د هغې د لاس پر شا مې کېښود او ومې ویل: سمده کوښښ کوم.
اقرا خپل لاس راڅخه کش کړو او ویې ویل: کوښښ مه کوه ... رښتیا وایه.

چوپ شوم او څه مې ونه ویل، کوم لفظ مې ویلو ته نه درلود ما اقرا ته نشو ویلې چې یو شیطان د انسان په جامه کې زما پسې دی، او د یو بلا او آفت پشان زه یې تر نظر لاندې نیولې یم،داسې کس چې د خلکو وژل ورته شوخي او ساتیري ښکاري .. د دې خبرو لځایه کرار مې وویل: ډوډۍ یخه کېږي.

زما په دې خبره اقرا پوه شوه چې د خبرو حوصله نلرم، ځکه نور ټینګار یې ونکړو او چوپه شوه، خو خپل دروند نظر یې همغسې ما ته نیولې وو، هغه نظر چې وېره او اندېښنه ورڅخه له ورایه ښکاریدل ...

د ذوالفقار موټر د بوډا د راکړل شوي آدرس مخې ته ودرېد، هغه زه هغه حوزې ته و نه غوښتلم کوم کې چې ما لومړۍ ځل جنرال، حمیدي او پخپل بوډا لیدلې وو، هغه ما ته د یو نوي ځای آدرس راکړو، کوم چې زه یې اوس مخې ته ولاړ وم، دا یو لویه ودانۍ وه البته باید ووایم بیس" قرارګاه" وو، جګ دېوالونه چې په سرونه باندې سیم خاردار پیچل شوي وو او په دروازه کې وسله‌وال ساتونکي ولاړ وه، داسې چې احساس دې کاوه زندان ته روان یې او ساه دې سینه کې بندیدل ..

ذوالفقار د موټر انجن بند کړو خو همغسې د موټر سټیرنګ یې کلک په لاس کې نیولې وو وویل: لا هم ناوخته نه ده، که اراده دې بدله شوې وي، بیرته ځو.

د موټر د دروازې لاستې ته مې لاس اوږد کړو او ومې ویل: موږ مجبوره یو ذوالفقار څه خپل په خوښه نه یو راغلې چې د زړه خبرې واورو ..

ذوالفقار په غوسه وويل: موږ نه يو مجبور طاها ... كه ته ونغواړې هغه هېڅ بد نشې كولای ..

پوهيدم چې ذوالفقار د بهاني پسې دی تر څو ما د دی ځای ويسي نو ځكه په كلك مې وويل: نو زما زړه غواړې د هغه سره ووينم.

په دی خبره مې ذوالفقار خپل غاښونه د غوسي وچيچل خو بغير د څه ويلو د موټر څخه ښكته شو،د دروازې څخه تر ودانۍ پورې واټن كم و، خو ما فكر كاوه همدا څو ګام هم د څو كلونو پشان راباندی تير شو، رښتيا كه ووايم هېڅ مې زړه نغوښت دلته راشم خو مجبور وم، د الفا په مقابل كې زما يوازينی پناه همدا بوډا وو د جنرال څخه مې هيڅ توقع نه درلود، دوه ساتونكو چې د دروازی مخې ته ولاړ وه زموږ تلاشي واخيسته. زما جيبونه، لاسونه، حتی بوټونه يې لا وكتل تر دی حد چې د ذوالفقار غوسه ناك غږ پورته شو او په تروش تندی وويل:

— څه قاتلان خو دی نه دی نيولې چې داسې تلاشي اخلې .. موږ دلته ستاسو مشر راغوښتلې يو ..

ساتونكي بغير له دی چې د ذوالفقار تُندی لهجې ته كوم توجه وكړی په كلك وويل: موږ مسئول يو، هر يو چې د دی دروازی څخه راننوځې موږ يې همداسې تلاشې اخلو حتا كه جنرال صاحب لا اوسيږی ..

د ساتونكي په دی خبره ذوالفقار نور څه ونه ويل خو تندی همغسی تروش وو، د څو دقيقو وروسته چې يوازی زموږ د تن كالې پر موږ ونباسل نور سم په زبر او زير يې تلاشې كړو د ننوتلو اجازه صادر شول، د دروازی د مخې څخه تير شو او هغه لوي ودانۍ ته ننوتلو، د ننوتلو سره سم يو لوی دهليز مو مخې ته راغې، د هغه ماحول په ليدلو لږ بد حس مې درلود ما د دی ځايونو څخه چندان ښه خاطره نه درلود لكه چې ذوالفقار هم د ماحول څخه چندان ښه رانغلل چې تندی تروش كړو ..

د دهلیز ټول دیوالونو په عکسونو، نقشو او عجیب غریب شیانو باندې پوښل شوي وو داسې چې انسان فکر کاوه کوم استخباراتي دفتر ته ننوځې نه کوم ساده امنیتي حوزې ته؟ کرار، کرار دهلیز کې روان وو چې یو بل پولیس عسکر چې د ملی اردو جامه یې اچولې وه او د څهرې څخه د 27/28 کالو ځوان معلومیدی زموږ مخه ونیوله او ویې ویل:

– کولای شې ووایست د څه لپاره دلته راغلې یاست؟
زما څخه مخکې ذوالفقار په تروش تندی ځواب ورکړو.
– یو چا راغوښتلي یو پخپل سر نه یو راغلي.
هغه هلک چې د څهرې څخه ماته لږ اشنا ښکاریدو خو پر ځای مې نشو راوړلی چې چیرته مې لیدلې؟ د ذوالفقار پشان تندی تروش کړو او ویې ویل: ما هم همدا پوښتنه وکړل چې چا راغوښتلې یاست؟ او د څه لپاره راغلې یاست؟

ذوالفقار- ولې ته د دی ځای چشمک زنه کمره یې چې د هر چا تګ راتګ ثبت کوی او پوښتنه کوی؟
د ذوالفقار په دی خبره که څه هم د هلک تندی تروش شو خو ویې ویل: هو فکر وکړه چې زه همغه یم، اوس وایه د چا لیدلو ته راغلې یاست؟
ذوالفقار- فکر کوم دا به پر تا اړه نلری، چې موږ د چا لیدلو ته راغلې یو؟ نو زه خپل د کار پسې ..

د ذوالفقار په ټُنده لهجه د هغه هلک تندی هم تروش شو او داسې ژوری ساه کانې اخیستل لکه چې غواړی خپله غوسه توف کړی او جنګ شروع کړی؟ د هغه د دی حال په لیدو ما ځان د هغوی د خبرو منځ ته واچو او غوښتل مې ووایم چې د جنرال نقیب لیدلو ته راغلې یو او هغه موږ راغوښتلې یوو،خو زما د څه ویلو مخکې زموږ د څنګ کوټې دروازه خلاصه شوه او بوډا ورڅخه راووت،کله چې پر موږ یې نظر ولګید نو بیحد حیران شو البته زموږ په راتلو حیران نشو .. بلکې د ذوالفقار او هغه هلک د جنګې حال په لیدو حیران شو او ویې ویل: نعیم څه خبره ده؟

د بوډا په غږ چې هغه هلک ته یې ناری کړل هغه خپل د جنګې حالت راووت خو په تروش تندی وویل: کوم خاص خبره نه ده پلاره! د دی کسانو څخه مې پوښتل چی د څه لپاره راغلی؟ خو لکه چی زموږ په ژبه نه پوهیږی؟

د هغه هلک په خبره چی بوډا ته یې پلار وویل ما په حیرت د بوډا خواته وکتل، دا د ده زوی دی؟ ما ویل څهره یی ولی ما ته دومره اشنا ښکاری؟ خپل پلار ته لږ،لږ تللی بوډا په تروش تندی د ذوالفقار خوا ته چې خوله یې جوړول تر څو د نعیم ځواب ورکړی وکتل او خپل زوی ته یې وویل: زما میلمانه دی، ما راغوښتلې مهرباني راځې دفتر ته ...

د بوډا په خبره ذوالفقار خپل خبره تېره کړل، او زما سره یوځای د بوډا دفتر ته ننوتلو، د بوډا دفتر یو ساده عادی دفتر وو یو میز څو څوکۍ او یو بخاری کوټه کې ایښودل شوی وه، البته یو کوچنی الماری هم وه چې د دوسیو څخه ډکه وه، بوډا د څوکی خواته اشاره وکړل او خپل د میز خواته لاړ د میز شاته څوکۍ باندی کښیناست، موږ هم د میز مخکې څوکی باندی کښیناستلو، ذوالفقار په تروش تندی تر اوسه د بوډا د زوی خواته چې زموږ سره یوزای خپل د پلار دفتر ته راننوتي وو کتل ...

بوډا چې د ذوالفقار جنګې نظر خپل پر زوی ولید نو ژر یې خپل د زوی خوا ته مخ وګرځو او ویې ویل: نعیم جان، لاړ شه یو دوه پیالي چای راوړه ..

د بوډا په دی خبره که څه هم ښکاریدل نعیم چندان ښه رانغلل خو د سمده پلار په ویلو له کوټي ووت د هغه د تلو وروسته بوډا زما خواته مخ کړو او ویې ویل: پخیر راورسیدئ؟
د هغه په غږ زه څوکۍ کی لږ ځای پر ځای شوم او غوښتل مې ځواب ورکړم چې زما څخه مخکې ذوالفقار په پوسخند وویل: هو، د هغه دومره تلاشې وروسته چې یوازی پاتي وو زموږ کمیسونه وباسې پخیر راورسیدو ..

بوډا په زير نظر د ذوالفقار خواته وکتل او ويې ويل: ته ولې تل د جنګ په حال کې يې؟

ذوالفقار په همغه ټنده لهجه ځواب ورکړ: زه د جنګ په حال کې نه يم، خو پر موږ د خرو ګمان هم مکوه، فکر مکوه چې زه طاها يم او کولای شې ما په دوه اخو ديخوا خبرو خطا باسې.

بوډا- موږ څوک نه دی خطا باسلې ..

ذوالفقار په ريشخند وخندل او ويې ويل: دا هلک چې اوس د چای پسې لاړو دا ستا څه کيږی؟

بوډا په مشکوک توګه د ذوالفقار په سترګو کې سترګي ښخې کړل او ويې ويل: زوی مې دی.

ذوالفقار په همغه پوسخند څوکۍ ته تکيه ورکړل او ويې ويل: هغه ماموريت ته چې تا طاها واستو ايا هغه ماموريت ته تا خپل زوی هم استولې وو؟

بوډا څو شيبې چوپ شو، چې ذوالفقار په غوسه وويل: ولې ځواب نه راکوی؟ ته چې دومره وطن پاله او وطن دوست يې ولې دی هغه منحوس ماموريت ته خپل زوی وا نه ستو؟ ولې دی زما وراره واستو؟

بوډا غوښتل کوم څه ووايې چې ذوالفقار يې خبره ورپرې کړل او ويې ويل: نه يوازی ته بلکې د جنرال دوه زامن هم پوليسو کې کار کوی او يو دانه خو يې بيخې د جنايي پوليسو قومندان دی.. ولې هغه خپل په دواړو زامنو کې يو زوی هغه منحوس ماموريت ته وانستو؟ ها؟(ذوالفقار داسې حال کې چې د غوسې څخه يې خپل غاښونه چيچل ويې ويل: ځکه مو وانستول ځکه تاسو پوهېدلی چې دا څومره خطرناک کار دی او د مرګ شانس پکې څومره ډېر دی نو ځکه (ما ته يې اشاره وکړل) دا زما خر، ساده وراره ته مو ګپ ورکړو او دی مو د بلا مخې ته واستو او اوس دا توقع هم لری چې زه پر تاسو باور هم وکړم؟

@Shuhab09

بوډا په کرار خو جدی انداز ووېل: لومړۍ خو دا چې ما طاها د هغه ماموریت لپاره نه وټاکلې، او دویم دا چې دا د تقدیر خبره وه که نعیم د برهان د کرکټر سره جوړ راغلې وایې شک مکوه ما خپل زوی د طاها لځایه دی ماموریت ته استو، خو نه زما او نه هم د جنرال کوم زوی د برهان په توګه عزیزی ته نشو تللې یوازی طاها و چـ..

ذوالفقار د جنرال خبره په غوسه ورپرې کړل او ویې ویل: زه نه پوهیږم برهان یې کوم خر دی یا عزیزی .. خو دومره پوه شه ما په دی بیځایه کرکټر،پریکټر خبرو نشې خطا ویستلې، تا او جنرال زما د وراره د ساده توب څخه ناوړه ګټه پورته کړل د یو ګوردی او دوه، درې زر افغانو په بدل کې مو د مرګ خولې ته واچو، اوس هم که خبره په پیسو حل کیږی نو(ذوالفقار د بوډا د میز خواته ځان ورټیت کړو او په کلک لهجه یې ووېل: نو زه درته د ګوردی پیسي هم درکوم او هغه اخیستل شوی پیسي هم ... یوازی د طاها نوم خپل د دی منحوس ماموریت څخه وباسې بس همدومره ...

بوډا خپل غاښونه یو پر بل کیخودل او د ذوالفقار پشان په کلک لهجه یې ووېل: ستا دا خبری دولت ته د توهین په معنا دی، تا همدا اوس خپل په خبرو د دولت دوه لوړ پوړو چارواکو باندی د منفعت طلبې او ناوړه استعمال کولو تور پوری کړو په دی جرم دی پوهېږی څو کال زندان ته اچولې شم؟

د بوډا په دی خبره ما په وېرېدلې انداز د ذوالفقار خوا ته وکتل، چې هغه په غوسه وخندل او ویې ویل: د همدی خبرو څخه دی ښکاری چې باید ستاسو د کوم همکاری او مرستي څخه لاس پریمنځو، که ته دومره نر وایې او زندان ته دی خلک اچولې شواي، نو الفا به اوس زندان کې وایې نه دا چې بیرون وګرځې او د خلکو د تښتولو او وژلو پلانونه جوړ کړی، تاسو یوازی د خولې خبری ښه کولای شې لوړ پوړو چارواکـــو ... که کولای شې زما د ګواښولو لځایه هغه راونیسه ...

د ذوالفقار په دې طعنه امیز لهجه بوډا سم اور واخیست همدا چې خوله یې خلاصه چې کوم څه ووایې ناڅاپه د کوټې دروازه په زور خلاصه شوه.

یو پولیس چې خپل کلاشینکوف یې لاس کې کلک نیولې وو او تېزه،تېزه ساه یې اخیسته د ننه راننوت او په همغه تلوار یې وویل: جنــرال صاحب ..
بوډا په قهر وویل: دا څه طریقه ده درانوتلو ها؟!

د بوډا په قهرجن غږ پولیس عسکر نېغ ودرید، خو غږ یې لا هم ورخطا وو کله چې ویې ویل: عاجل خبر دی جنرال صاحب... هغه ... هغه غفار ..

د غفار د نوم په اوریدو زما زړه یو دم ودرېد ..
بوډا په تروش تندي د هغه بدبخت پولیس عسکر په سر چغه کړل.
– غفار څه؟
پولیس- غفار... په شفخانه کې... وژل شوی ...

کوټه یو دم چوپه شوه، ذوالفقار په تلوار زما خواته راوکتل، زه بې‌حرکته خپل ځای کې ناست وم ... غفار وژل شوی؟ څنګه؟ چا؟ تازه مې مغزو کار پیل کړو او د غفار د خبرې په مطلب پوه شوم کله چې پرون ماذدیګر د راتلو مخکې راته وویل: ته ډېر ساده یې، د الفا په ډله کې خلک زندان ته نه ځي... بلکې له سیسټم ځي ... نو مطلب یې دا وو؟! هغه پوهیدی چې الفا یې وژني ...

بوډا په ناباوره لهجه وویل: څنګه؟ څنګه امکان لری؟

د پولیس عسکر د کوم ځواب ورکولو مخکې د بوډا زوی نعیم کوټې ته راننوت په لاس کې یو پتونس، درې پیالې او ترموز چای وو، هغه یې د میز په سر زموږ مخې ته کیخودل او په تروش تندی وویل: څو ساعته مخکې کله چې د ماښام ساتونکي ډله بدل شوی او د غرمې ساتونکي راغلې، یو کس د ډاکټر په جامه کې د غفار کوټې ته ننوتلې کیمره کې مخ نه ښکاري، یوازی دومره ښکاری چې د هغه کس د ننوتلو نیم ساعت وروسته اصلې ډاکتر راځي او ساتونکي مشکوک کیږی چې مخکیني ډاکتر نو څوک وو؟ کله چې ځي نو ګوری چې غفار مړ دی ...

ذوالفقار او بوډا په دقت سره د نعیم خولې ته کتل او د هغه خبرې اوریدل خو زما ټول فکر د الفا د پرون ماذدیګر خبرو کې وو هغه وویل: مجبور زه خپل په طریقي عمل وکړم؟! مطلب هغه یوازی یو ګواښ نه وو ... او نن د هغه د ګواښ لومړۍ قرباني غفار وو، غفار زموږ لاس کې یوازینی کس وو چې د الفا سره یې څه ناڅه مستقیمه لاره درلود د هغه د مرګ وروسته موږ هېڅ لاره نلرو چې د الفار سره اړیکه ونیسو ...

– البته نور اړیکه نیولو ته کوم ضرورت نشته ...ځکه الفا د غفار په مرګ د جنګ اعلان وکړو ماشومه ...

د شموئیل د ناڅاپه غږ په اوریدو اوږی مې له وېرې وپرېدل بیا هم شکر چې د ډېر وېرې څخه مې چغه ونه ویستل، زما په ناڅاپه حرکت ذوالفقار په مشکوک انداز وپوښتل: ښه یې؟ څه وشو؟

- ٥ ... هېڅ ..

شموئیل زما د څنګ تېر شو او موږ ته مخامخ د بوډا د څوکۍ څنګ ته ودرېد کله چې زما په پریدلې څهرې یې نظر ولګید نو ویې ویل: وبخښه، فکر مې نه وو تا ویلې وه د راتلو مخکې یو خبر درکړم، بل ځل خبر درکوم اوس خو راغلم ..

غوښتل مې یو دوه کنځل ورواچوم خو د بوډا په ناڅاپه کار په تلوار مې د هغه خوا ته وکتل ..

بوډا خپل میز ته کلک سوک ورکړو او په غوسه یې وویل: دا څنګه شوني ده؟ هغه زموږ تر امنیت لاندې و ..

نعیم داسې حال کې چې په مشکوک توګه زموږ خواته راکتل ویې ویل: دا کار زموږ د دننه څخه یو څوک کولای شې(او بیا داسی حال کې چې ځان یې ناګاره اچوو ویې ویل: رښتیا پرون تاسو د غفار لیدنې ته تللې واست؟

د بوډا نظر کرار زما پر خوا را وګرځېد او ويې ويل: تا .. طاها ... تا پرون د هغه سره ليدنه کړې وه، کنه؟

د بوډا لهجه د شک، ترديد، او تور څخه ډکه وه، هغه پر ما بدګمان شوی وو، ذوالفقار هم لکه چې په دی خبری پوه شو ځکه په تلوار يې د بوډا خوا ته مخ وګرځو او ويې ويل: نو څه؟ ته فکر کوی طاها هغه وژلې؟ تاسو خپل همدا اوس وويل چې يو کس د ډاکټر په جامه کې د هغه کوټې ته ننلې او وژلې؟ نو بيا ولې طاها ته داسی ګوری؟ نعيم په بې پروای خپل اوږی پورته واچول او په ريشخندی لهجه يې وويل: هو، ته صحيح وايې ..البته موږ داسې نه دی ويلې چې طاها هغه وژلې، موږ خو يوازی وپوښتل چې پرون تاسو ورسره ليدنه کړې او کنه؟ خو تاسو لکه چې خپل په ځانو بدګمان ياست چې داسې ورخطا شوی ياست؟

ذوالفقار په غوسه وويل: موږ څه نه دی کړې چې وغواړو بدګمان يا ورخطا شو، خو ستاسو لهجه او خبری بل ډول دی(او په طعنه يې ورزياته کړه: البته لږ ورخطا ځکه يم چې تاسو پوليسان کله چې زور مو په اصلي مجرم و نه رسيږی يا د هغه د پيدا کولو شهامت ونلری نو يو بيګناه کس ميدان ته راکش کوی او تور په هغه لګوی ...

د ذوالفقار په دی خبره نه يوازی نعيم چې بوډا هم تندی تروش کړو او خبری کول يې شروع کړل، خو زما نظر په شموئيل وو، د شموئيل په راتګ زه خوشحال شوی وم ځکه زما په نظر اوس وخت کې بوډا او د هغه زوی د ذوالفقار په خبره غوښتل موږ مجرمان ثابت کړې او دی شرايطو کې شموئيل مرسته کولای شول خو شموئيل بغير له دی چې زموږ خبرو ته کوم توجه وکړې دوه سترګي د هغه پوليس عسکر خواته نيولې وه او په مشکوک توګه يې ورته کتل ...

دا پوليس عسکر د غفار د مرګ د خبر راوړلو وروسته تر اوسه د کوټې څخه نه وو وتلې او د دروازی څنګ ته کرار ولاړ وو او زموږ خبرو ته يې غوږ نيولې وو، د څو شيبو وروسته شموئيل لکه چې زما دروند نظر خپل پر ځان احساس کړو نو کرار يې

زما خواته راوکتل او هغه پولیس عسکر ته په اشاره کولو یې وویل: دا جاسوس دی طاها ...

په خلاصو سترګو په تلوار مې د پولیس خواته وکتل چې زما د نظر په لیدو هغه لږ ورخطا او لږ خپل ځای کې ځای پرځای شو،چې شموئیل په همغه مشکوک لهجه وویل: خو عجیب ده! د الفا جاسوس نه دی ...

په همغه حیرت مې د هغه عسکر څخه نظر واخیست او د شموئیل خواته مې وکتل.
- نو ... نو بیا د چا جاسوس دی؟

شموئیل- د جنرال ..
په حیرت مې وویل: جنرال؟؟
شموئیل تندی تروش کړو او په زیر نظر یې د هغه عسکر خواته وکتل د هغه وروسته یې وویل: یوه خبره دی مینځ کې شوی طاها خو نه پوهېږم چې څه؟ خو دومره پوهیږم چې جنرال او بوډا نور یو دبل سره همکاری نکوی ...
- یعني څه؟ دا څه مطلب یو د بل سره همکاری نکوی؟ اصلاً جنرال د څه لپاره د بوډا دفتر ته جاسوس راستولې؟
شموئیل- زه دا خبره معلوم کوم ته تشویش مکوه.

بوډا او د هغه زوی تر اوسه د ذوالفقار سره بحث کوو، شموئیل د هغوی خواته وکتل او ویې ویل: بوډا فکر نکوم ملامت اوسیږی خو د هغه ذهن ستا پر خلاف ډک شوی، ته نن دلته راغوښتل شوی یې چې اظهارت ورکړی ..
- د څه اظهارات؟
شموئیل د بوډا زوی ته اشاره وکړل او ویې ویل: دا غواړی خپل پلار ته ځان هوښیار او با استعداد ثابت کړي او بدبختانه چې لاس ته یې هم ته ورغلې یې نو ځکه کوښښ کوی تا ګنهکار معرفی کړې ...

نعيم ته چې لکه منافق پشان د ذوالفقار په هر خبره کی یوه خبره اچول او هغه یې غوسه کوو ومې کتل او شموئیل ته مې وویل: اوس څه وکړم؟ ما د جنرال څخه هیڅ ښه نه راځې یوازیني کس همدا بوړا دی که دی هم پر ما بدګمان شو نو نور باید د دولت د مرستي څخه لاس ومینځم.

شموئیل- آرام اوسیږه طاها، تا کوم غلط کار نه دی کړی چې ورخطا شې لومړی دا عسکر له کوټي وباسه د هغه وروسته بوړا ته ووایه چې هر څه په فکر کی لری ستا څخه دی پوښتنه وکړی ...
- یعنې ورته ونه وایم چې دا عسکر جاسوس دی؟
شموئیل- نه، دا کار بې معنا ده طاها موږ باید لومړی پوه شو چې جنرال ولې دا کار کړی؟ او دوی دواړه ولې یو دبل پر خلاف شوی؟

د شموئیل په دی خبره ستوني مې تازه کړو زما په غږ ټول چوپ شول او زما خوا ته یې راوکتل چې ما بوړا ته مخ کړو او ومې ویل: هغه ما یو پوښتنه درلود ..

بوړا- څه پوښتنه؟
ما قصداً د هغه پولیس عسکر خواته و نه کتل خو اشاره مې د هغه خواته وکړل او ومې ویل: د غفار د مرګ خبر همدا عسکر راوړو کنه؟

بوړا سر وخوځاوه.
— هو.
- نو بیا ولې(لږ صبر شوم بیا د سترګو له کونج د هغه عسکر ورخطا څهری ته مې وکتل او ورزیاته مې کړل: نو ولې لا هم دلته ولاړ دی؟

فضا د څو شیبو لپاره یو دم چوپ شول او ټول د هغه پولیس عسکر خواته کتل پیل کړل، خو نعیم تندی تروش کړ او ویې ویل: څه مطلب؟

بغیر له دې چې د نعیم خوا ته وګورم د عسکر خواته مې وکتل او ومې ویل: کوم خاص مطلب نلرم، خو زما په نظر عادي پروسیجر دا دی چې د راپور ورکولو وروسته

عسکر ووځي، یا د اضافه معلوماتو او پوښتنو لپاره کښېني، خو دا عسکر نه وځي، نه کښېني او نه هم اضافه معلومات ورکوی نو ولې دلته ولاړ دی؟

زما په دی خبره د عسکر رنګ یو دم تک ژیړ شو، شموئیل په کراره وخندل او ویې ویل: کله چې داسې هوښیار خبری کوی خوښیږی مې ماشومه،افرین ښه روان یې ...

بوډا پر عسکر غږ کړ: ولې لا هم دلته ولاړ یې؟
عسکر په بند،بند لهجه وویل: ه ... هغه ... زه... د نورو اوامرو په انتظار وم.

نعیم چې لږ شکې شوی وو او له بلخوا د شموئیل په خبره هر کار یې کاوه تر څو خپل ځان خپل پلار ته هوښیار او زیرک ثابت کړې سمدستي د عسکر په خبرو کې ور ولوېد او ویې ویل: د څه اوامر؟ ته پخپل هم پوهېږی د خبر ورکولو وروسته عسکر حق نلری خپل د مافوق جنرال کوټه کې په تمه پاتي شې، ته باید د خبر ورکولو سمدستې وروسته له کوټې وتلې وایې ...

عسکر چې د پښو لاندی ځمکه تښتیدلې وه په لړزانده لهجه وویل: هغه ... زه ... زه بخښنه غوارم ..
بوډا څو شیبې په شکمن انداز د عسکر خواته وکتل د هغه وروسته یې وویل: تللې شې ..

عسکر چې دا خبره واوریدل ته وا د زوی زیری ورباندی کړی ویې دومره په خوشحالۍ او تلوار نظامي سلامې ووهل او داسې حال کې چې ما ته یې بد،بد کتل له کوټې ووت، د هغه د تلو وروسته ما د بوډا خواته مخ کړو او داسی حال کې چې کوښښ مې کاوه لهجه مې بیحد ارام اوسیږی ومې ویل: او تاسو هم که کوم پوښتنه لرئ نو مستقیم یې وکړئ، ما مه په طعنو وهې او مه هم په غوږ ... مخامخ خپل خبره وکړی ...

ذوالفقار زما خواته په چټک نظر راوکتل، خو د څه ویلو مخکې بوډا خپل لاسونه د میز په سر کیخودل او ویې ویل: ښه خبره ده، زما هم د اخوا دیخوا خبرو کولو څخه

چندان ښه نه راځي، نو دا راته ووایه طاها چې ته د چا پخوا یې؟
- څه مطلب د چا پخوا؟

بوډا داسې یو دروند نظر چې د یو با تجربه او پوخ افسر نظر وو راواچو او ویې ویل: د پخواني خبرو څخه که تېر شو نو باید داسې ووایم چې ته ولې د غفار لیدني ته ولاړی؟ د هغه څخه سره دی څه کار درلود؟ او ولې باید ستا د راتلو وروسته هغه ووژل شي؟

ذوالفقار غوښتل کوم څه ووایې خو بوډا خپل لاس د چوپ شه په انداز پورته کړو او ویې ویل: زه ستا د وراره سره کوم شخصي دښمني نلرم چې ته وېرېږي زه به کوم کار ورباندی وکړم، زه یوازی غواړم مرسته وکړم خو دا مرسته یوه جانبه نه کیږی طاها باید همکاری وکړی ترڅو زه ورسره مرسته وکړم.

ذوالفقار چې د بوډا په خبره تر لږ بریده ډاډمن شوی وو چې بوډا ما باندی کوم تور نه اچوی وویل: څنګه همکاری؟ تاسو خو نغواړی بیا یې کوم د بلا مخي ته د همکاری په نوم واستوی؟
بوډا- ډاډمن اوسیږه زه هیڅکله داسې کوم کار نکوم، زه وجدان لرم او خپل هم زامن او وراره ګان لرم، څنګه چې پر هغوی مې بد نه دی پیرزو همداسې په طاها مې هم نه دی پیرزو، نو هیله کوم د طعنو او پیغورونو لځایه دواړه زموږ سره همکاری وکړی ..

نه پوهیدم بوډا څه غواړی یا د څه همکاری غواړی؟ خو لهجه یې بیحد جدی وه.
شموئیل- اراده یې تاته نیک ده طاها ...
د شموئیل خواته مې وکتل چې هغه د بوډا څخه نظر واخیست او ویې ویل: نغواړی تاته کوم ضرر ورسوی، خبره یې ومنه ..

د شموئیل په تایید د خولې لاړی مې تیر کړل او ومې ویل: زه دی موضوع کې راګیر یم، نو که وغواړم او کنه باید همکاری وکړم ترڅو د دی مصیبت څخه ځان وژغورم

څه غواړې؟

بوډا کرار وویل: ته غواړې الفا ونیول شي؟
د زړه د خلاص مې ځواب ورکړو: ما ته مهم نه ده چې هغه نیول کیږي او کنه، زه د هغه سره هېڅ کوم کار نلرم زه یوازې غواړم په کرار ژوند وکړم ..
بوډا- حق درکوم چې داسې فکر ولرې، هر بل څوک که ستا لځای وایې نو همدا یې ویل، خو فکر وکړه که الفا ستا پسې وی او غواړی تا ووژني او ستا د ژغولو یوازیني لاره پولیسان اوسیږی خو هغوی درسره مرسته ونکړی بیا څه کوی؟

- څه مطلب مرسته ونکړی؟ یعنې تاسو نغواړی زما سره مرسته وکړې؟
بوډا- زه یې غواړم خو جنرال ... هغه نغواړي الفا ونیسې ..
په حیرت مې وویل: خو ولې؟ هغه ... هغه ولې نغواړی الفا ونیسې؟

د بوډا د کوم ځواب راکولو مخکې شموئیل وویل: ما ویل د دوي مېنځ کې کوم خبره شوی ... ښه نـــو دا خبره وه ... عجب ...

د شموئیل خواته مې وکتل، بیا مې د بوډا خواته وکتل. څه خبره وه؟
زما د څه ویلو مخکې، یا د شموئیل د کومې خبرې نه وړاندې، ذوالفقار په دروند غږ وویل: ولې نه غواړئ؟ مګر دا مصیبت تاسو د طاها پر سر نه دی نازل کړی؟ نو بیا ولې اوس ورسره مرسته نه کوئ؟

بوډا- ما نه دي ویلي چې قطعاً مرسته نه ورسره کوو. ما یوازې دا وویل چې د جنرال اراده راته لږ کمزورې ښکاري.
په بې صبرانه لهجه مې وویل: ولې؟ جنرال ولې نه غواړي الفا ونیول شي؟ دا خو د هغه د کلونو زحمت و! هغه خو ویل کلونه کېږي د الفا پسې دی، نو اوس ولې ناڅاپه ورڅخه لاس اخلي؟

بوډا چوپ شو او په تروش تندي یې خپلې سترګې میز ته ښخې کړې.
د هغه په داسې ناڅاپه چوپتیا مې زړه کې بد احساس پیدا شو.

د شموئیل خواته مې وکتل، هغه په تروش تندي بوډا ته کتل، کله چې زما دروند نظر یې خپل پر ځان احساس کړ، نو سر یې راپورته کړ او په کراره یې وویل: جنرال فکر کوي د الفا نیول ناممکن کار دی. له بلې خوا د ځینو حکومتي کسانو فشار هم ورباندې دی، او څه ناڅه د دنیا حرص هم ورباندې غالب شوی. نو ځکه غواړي عزیزی د الفا په نوم د محکمې شاته کش کړي ...

د شموئیل په خبره داسې احساس مې وکړ لکه څلور کیلوواټه تېز برق چې مې ونیسي داسې جټکه مې وخوړه، چې نه یوازې ذوالفقار، بلکې په کوټه کې موجود ټولو کسانو راواکتل.

عزیزی؟... د الفا په نوم محکمه؟
نه... دا... دا امکان نه لري...

په داسې غږ چې په زوره مې له ستوني راوتلو ومې ویل: ولې؟ ولې غواړي هغه د الفا په نوم ووژني؟

بوډا په راوتلو سترګو راته وکتل. حق یې درلود؛ دا د دوی پټ پلان و چې شموئیل ماته رسوا کړی و.

بوډا په مشکوکه لهجه وپوښتل: ته له کومه پوه شوې؟
په پوسخند مې وویل: دومره هوښیارتیا ته په اړتیا نه وی، خر هم په دې خبره پوهېږي چې جنرال ولې ناڅاپه د الفا له نیولو لاس واخیست. خو باور مې نه کېده... تر اوسه چې ذوالفقار خبرې کول، ما له ځانه سره ویل: "نه، دولت دومره هم دوه‌مخې نه دی." خو لکه چې تاسو له دوو نه هم ډېر مخونه لرئ...

ذوالفقار بې له څه ویلو په دروند نظر راکتل. عجیبه دا وه چې نعیم هم نور چالاکی نه کول.

فکر مې کاوه نږدې ده له ډېرې غوسې څخه مې سر وچوی، له ځایه پورته شوم زما د پورته کيدلو سره د ټولو نظر هم زما سره پورته شوو.

ما ته عزيزی چندان مهم نه و چې د هغه لپاره دومره خفه شم. که هغه د الفا په اندازه ګناه نه وه کړې، ترې په کمه يې هم نه وه کړې، خو دا هم انصاف نه و چې هغه د يو خبيث کس پر ځای ووژل شي، او هغه رذيل دی بې‌غمه دباندی ازاد وګرځي او ما ته دی ګواښونه وکړي.

تر ټولو د زغملو نه وړ خبره د جنرال دا ناڅاپي شاتګ و. زه له پخوا پوهېدم چې پر جنرال د ملاتړ حساب نه شي کېدای، خو دا تمه مې نه لرله چې بيخي به مې يوازې پرېږدي، ذوالفقار چې تر اوسه چوپ و، حوصله يې ختمه شوه د څوکۍ څخه د پورته کېدو په حال کې يې وويل: ما ته هم يو نفر ووايي چې دلته څه روان دي؟

نعيم په داسې حال کې چې د کوټې کونج ته ايښودل شوي کوچ خواته روان و، وويل:والله زه هم ستا په شان ناخبره يم. زما په نظر، يوازې دوه کسان په دی کوټه کې پوهېږي چې څه روان دي؟(يو نظر يې زما او د بوډا خواته وکړو او ويې ويل: ستا وراره او زما پلار.

د نعيم په خبره، ذوالفقار په تروش تندي زما خواته راوکتل او خپل وريځې يې د "څه خبره ده؟" په انداز پورته کړل ..

مجبور وم ذوالفقار ته لږ معلومات ورکړم، کنه د وهلو په زور يې راباندې ويستل، لاس مې په ويښتانو کې تېر کړ. همدا چې خوله مې خلاصه کړه چې څه ووايم شموئيل ناڅاپه د بوډا له څنګ څخه غيب شو!

د هغه په داسې ناڅاپي تلو خوله مې وچه شوه، چيرته لاړ؟

ذوالفقار- څه ته ګورې؟ وايې که نه دلته څه روان دی؟
- ها؟

نظر مې د شموئيل له تش ځايه واخيست.
- هو... هغه ... دا ډېره لويه موضوع ده، ذوالفقار .. خو دومره پوه شه چې ماموريت کې پوليسو الفا يوازې نه وو نيولې،بلکې د هغه د ډلې يو ډېر مهم کس يې هم د هغه سره نيولی و. خو زندان کې الفا چالاکې وکړه خپل ټول جرمونه يې پر هماغه کس واچول او ټولو ته يې وويل چې اصل الفا هغه دی، نه دی.

په پوسخند مې د بوډا خواته وکتل او دوام مې ورکړ: او ځکه چې الفا په دولت او په ځانګړې ډول د جنرال په شاوخوا کسانو کې ډېر نفوذ درلود نو چل او فريب يې ښه کار وکړو، ټول کارونه يې د هغه کس پر سر واچول شول او الفا بې‌ګناه خلاص شو. اوس هم داسې ښکاري چې جنرال غواړي هماغه کس د الفا په نوم محکمې ته کش کړي ..

ذوالفقار څو شېبې په فکرمند انداز سر وخوځاوه، بيا يې د ژبې لاندې ځان سره څه وويل، خو ناڅاپه د بوډا د ميز خواته ولاړ:

ذوالفقار- يعنې تاسو غواړئ هغه کس د الفا په نوم محکمه کړئ، او له اصلي الفا څخه لاس واخلئ؟ که داسې وي، نو طاها بايد څه وکړي؟ اصل الفا خو د طاها پسې دی، کنه؟

بوډا خوله خلاصه کړل چې کوم څه ووايې،خو د هغه د څه ويلو مخکې، ذوالفقار يو څه نور هم د هغه د ميز خواته نږدې شو او په ګواښونکي انداز يې وويل: يوازې يوه خبره راته وکړه ... يوازې يوه ... تاسو د طاها سره مرسته کوی او کنه؟ زه غواړم په دې خبرې پوه شم بس ..

نعيم چې ذوالفقار په جنګي حالت کې وليد، نو د کوچ څخه راپاسيد او يو،دوه ګام خپل د پلار د ميز خواته نږدې شو ..

ذوالفقار که څه هم د خبرو څخه غوسه نه ښکاريدو، خو څنګه چې د څوکۍ لاستې کلک خپل د ګوتو لاندې نيولې وو، او په بوډا يې سترګې ښخې کړې وه زه يې

پوهولم چې غوسه دی هغه هم بیحدد ...

ما فکر کاوه د ذوالفقار د جنګې حالت په لیدو به بوډا لړ ووېرېږي؟ خو هغه خپل د څوکۍ څخه راپاسید. مخامخ سینه په سینه د ذوالفقار مخې ته ودرېد، که څه هم د عمر له لحاظه نور بوډا په حساب راتلو خو اوس هم چهارشانه او ځواکمن بدن او قواره یې درلود د ذوالفقار څخه شاید یو، یا هم دوه سانتي په قد کې ټیټ وو، خو غږ یې کله چې په جدي انداز خبرې کول یې پیل کړل د ذوالفقار د غوسې څخه په کم نه وو.

بوډا- ما درته لومړۍ هم وویل، زه تا درک کوم چې د خپل وراره لپاره اندېښمن اوسیږی،خو زه یا هم د دولت نور کسان ستا یا ستا د وراره دښمنان نه یو چې ته هره شېبه زموږ سره په جنګ یې ...

د بوډا لهجه که څه هم جدي وه،خو د ذوالفقار غوسه یې سړه نه کړه.
ذوالفقار- نه، ته ما نشې درک کولای .. ته یوازی د درک کولو تمثیل کوې،اصلاً ما ته ستا درک کول او نه کول مهم نه دي، ما درڅخه یوازی یو ځواب غوښتی: مرسته کوې او کنه؟

بوډا- هو ...

د بوډا د «هو» لفظ دومره کلک وو،چې ذوالفقار بلاخره خپل د جنګي حالت څخه راووت،خو د څه ویلو مخکې،بوډا خپله خبره وغځوله: خو دا یوازی زما «هو» ده. زه د جنرال لخوا تاته کومه وعده نشم درکولای،زه تر اوسه نه یم خبر چې جنرال غواړي څه وکړي؟

ذوالفقار په پوسخند وویل: ته به نه یې خبر، خو زه خبر یم ...

بوډا په مشکوک انداز خپلې سترګې تنګې کړې،ذوالفقار یو، دوه ګام شاته شو او بېرته خپل په څوکۍ کښېناست، لا هم غوسه ښکاریدو خو لکه چې پوهیدو د بوډا سره

جنګ کول کوم ګټه نلری نو ځکه ځان یې کنټرول کاوه،لاس یې په ویښتانو کې تېر کړ.

ذوالفقار- پرون مازدیګر ما هغه ته هغه نمبر ورکړو،کوم چې غفار (ذوالفقار په سر زما خواته اشاره وکړه)طاها ته ورکړی وو او ویلي وو دا د الفا نمبر دی، خو جنرال د نمبر په لیدو هېڅ کار ونه کړ، یوازی یو څو اپلاتې خبری وکړل چې(ذوالفقار په غوسه د ګوتو په سر د څوکۍ لاستې وواهه) چې زړه مې غوښت دا مغزی ورمات کړم ...

بوډا- څنګه نمبر؟

د بوډا په دې خبره،ذوالفقار د سترګو له کونجه وروکتل او زما پر شونډو بې‌اختیاره پوسخند راغی.یعنې جنرال تر دې حده رذیل وو اوو زه نه وم خبر؟

ذوالفقار- یعنې ته د نمبر څخه نه وې خبر؟

بوډا مورې دوارو ته وکتل او سر یې د «نه» په انداز وخوځاوه.

ذوالفقار زما خواته راوکتل او په غوسه یې وخندل او ویې ویل: کله چې درته وایم خر یې، نو ومنه چې خر یې ... وګوره د چا په خبره دې ځان د مرګ خولې ته اچولی وو هغه کسان چې اوس د خپلې ګټې لپاره تا په میدان کې یوازی پرېږدي ...

بوډا په غوسه ناکه لهجه د ذوالفقار خبره پرې کړه:
— ما درته وویل چې زه طاها یوازی نه پرېږدم.بیا ولې هره شیبه داسې خبرې کوې؟

ذوالفقار هېڅ ونه ویل، څو شیبې چوپ وو د هغه وروسته ناڅاپه خپل له ځایه راپاسید، د هغه په داسې ناڅاپه راپاسیدلو ما فکر وکړو غواړی جنګ وکړی؟ نه یوازی ما بلکې نعیم او حتی بوډا هم همدا ګمان وکړو چې لږ خپل ځانونه یې وخوځول، زمورې په داسې اماده باش حالت ذوالفقار په پوسخند یو نظر نعیم ته بیا بوډا ته واچو او د هغه وروسته د کوټې د دروازې خواته روان شو.

د وتلو مخکې يې ما ته وويل: زه موټر کې درته په تمه يم ...
بوډا په تلوار ورباندې غږ کړل:
– چیرته ځې؟ موږ تر اوسه خبرې نه دي کړي.موږ باید مشوره وکړو، همکاری وکړو.
ذوالفقار پرته له دې چې مخ راوګرځوي وويل: جنرال چې شاته شو، نو مطلب دوه ورځې وروسته ته هم شاته کیږي نو د څه خبرې او همکاری؟ زه ځم تر څو فکر وکړم څنګه خپل خطا ویستل شوی وراره له دې مصیبت څخه وژغورم؟

د دې خبرې سره سم دروازه يې خلاصه کړل خو د تلو مخکې خپل اخری وار ښه کلک وکړو او ويې ويل: البته د دولت د مرستې بغیر ...

دروازه په زور وتړل شوه ... کوټه کې يو درنه چوپتیا خپره شوه، تر دی حد چې د کوټې په دیوال د راځړېدلې ساعت ټک،ټک لا ما اوریدلې شوو ...

بوډا خپل د څوکۍ خواته روان شو او په غوسه يې وويل: دا ستا کاکا ولې د مرچکو په بار ناست دی؟ ولې د هر چا او هر شئ سره په جنګ دی؟

د ذوالفقار غوسه ته وا ما ته يې سرایت کړی وه، چې د بوډا په خبره کې وولیدم او ومې ویل: هسې په جنګ دی؟ منم چې لهجه يې ټُنده او ترخه ده، خو رښتیا وايي.
تاسو زه دې ماموریت ته واستولم او د همکاری او زر نورو خبرو ډاډ مو راکړ، خو اوس چې زه د الفا د ټوپک د بزّ مخې ته ولاړ یم، تاسو يو، يو ځان باسې او ما یوازې پریږدئ ...

نعیم غوښتل چالاکې وکړي او کوم څه ووايې خو ما وار ورنکړ.

- که تاسو فکر کوئ الفا به یوازې ما ووژني او تاسو به بې‌غمه ګرځئ، نو دا ستاسو ډېر لوی غلط فهمې ده، زه شاید د الفا لومړۍ ښه واوسم، خو(د بوډا په سترګو کې مې سترګې ښخې کړې او په کلک غږ مې وويل: خو تاسو هم بچ نه یاست،زما وروسته ستاسو د يو، يو نمبر رارسیږي.

زما په خبرو د بوډا تندی تروش شو، چې ما په پوسخند دوام ورکړ:
- که په یاد کېدی وي نو تا د ماموریت په وخت کې راته د الفا نوم معنا کړی و؟ تا ویل، الفا هغه لیوه ته وایي چې د نورو لیوانو مشر وي؛ هغه چې تل لاره خلاصوي، ترڅو ډله او ګروپ یې په امنیت کې تګ وکړی، تا ویل دا الفا هم خپل د لقب په شان حرکت کوي. نو شاید دا خبره مو له یاده وتلې وي، الفا تل هغه کسان او ځیزونه چې فکر کوي په راتلونکې کې ده یا د ده ډلې ته خطر جوړېږی ژوندي نه پرېږدي...

بوډا چې زما د خبرو شاته پټ ګواښ په ښه توګه درک کړی وو په تروش تندی یې وویل: نو څه وکړو طاها؟ هـان؟ څه وکړو؟ که ته فکر کوې د الفا نیول اسانه دي او موږ لټې کوو، نو راته ووایه .. دوه هفتې کېږي د لیونیانو په شان ورپسې یو، خو هغه د اوبو په شان ویلې شوی او د ځمکې تل ته تللی، هېڅ خبر او ادرس ورڅخه نشته، د کوم خوا یې پیدا کړو؟

په پوسخند مې وویل: نو مطلب تاسو هم د جنرال له خبرو سره موافق یاست؟ غواړې د الفا په نوم عزیزی محکمې ته کش او ووژني؟

بوډا غوښتل څه ووایي، چې ناڅاپه د کوټې دروازه خلاصه شوه، زما شا د دروازې خواته وه نو ځکه فکر مې وکړ ذوالفقار بیرته راغی، خو د بوډا ناڅاپي د څوکۍ څخه پاڅېدل او د نعیم نظامي سلام اچولو پوه کړم چې شاته مې یو لوړپوړی دولتي منصبدار ولاړ دی.

په کرار مې مخ واړاوه، چې نظر مې په جنرال ولګید.

د هغه په لیدو لومړی خو مې شکر وایست چې ذوالفقار نشته، ځکه که هغه وای د بوډا د دې خبرو له اورېدو وروسته شک مې نه درلود چې دا ځل به یې په رښتیا د جنرال مغزی ورمات کړی وای. زما په لیدو جنرال خپل وریځه پورته کړل او ویې ویل: ته دلته څه کوې؟
زما د خولې خلاصولو مخکې بوډا وویل: ما راغوښتی ..

د هغه په خبره جنرال په تروش تندي زما څخه نظر واخیست او د بوډا خوا ته یې وکتل، د څو شېبو زیر نظر وروسته یې وویل: خبر شوي یاست؟ غفار وژل شوی.

ما بې‌اختیاره پوسخند وواهه، خو چې د جنرال نظر مې ولید، تندی مې تروش کړ. بوډا هم لکه چې د دې خبرې څخه چندان ښه رانغلل، ځکه ځواب یې ورنه کړ، خو نعیم په چالاکۍ او چاپلوس مخته راغی د جنرال خبره یې تایید کړه او هغه څه یې ورته تکرار کړل کوم چې موږ ته یې ویلي وو.جنرال د نعیم د خبرو له اورېدو وروسته سر وخوځاوه او بوډا ته یې وویل: اوس غوارې څه وکړې؟

بوډا پر خپل ځای کېناست او د ذوالفقار په شان، په طعنه‌امېزه لهجه یې وویل: څه وکړم؟ فکر کوم د کولو کارونه تاسو کوئ، جنرال صاحب!؟ نو تاسو وواياست، اوس غوارې څه وکړې؟

د بوډا په طعنه امیز لهجه ما خپل وریځې پورته واچول، نو د شموئیل خبره صحیح وه! د دوی دواړو مینځ کې اختلاف راغلې او نور یو دبل سره همکاری نکوی.

جنرال په تروش تندی وویل: دا خبره دی څه معنا لری؟

بوډا خپل لاسونه د میز په سر کیخودل او په داسې لهجه چې ښکاریدل ریشخند وهې ویې ویل: تاسو هغه ورځ وویل: خبره ختمه ده او پریکړه ستاسو پریکړه ده؟ نو اوس زما څخه ولې پوښتنه کوی چې څه وکړو؟

جنرال یو نظر د بوډا او بل نظر زما خواته راواچو او ویې ویل: نو د همدی لپاره دی طاها خپل دفتر ته راغوښتي؟
بوډا په پوسخند وویل: فکر کوی ما غلط کار کړی؟ ستا په نظر د ده حق نه دی پوه شې چې شاوخوا یې څه روان دی؟

جنرال- په دی کارو دی غواړی څه ثابت کړی نقیب؟
بوډا ځانته اشاره وکړل.

– زه؟ زه غوارم څه ثابت کړم؟ هېڅ هم نه، زه یوازې غوارم کله چې تاسو خبره ختمه کړې او نور څه نه اورې نو د طاها ژوند وژغورم، بس همدومره ..
جنرال په غوسه د بوډا د میز خوا ته نږدې شو څپل یو لاس یې د هغه د میز په سر کیخود او پر بل لاس یې زما خواته اشاره وکړل او ویې ویل: ولې داسې خبرې کوې لکه زه چې غوارم دا هلک مرګ ته ورکړم؟ هوم؟

بوډا په پوسخند وویل: ستا کار همدا معنا لري ..
جنرال په کلک وویل: نه .. زما کار دا معنا نه لري ..
بوډا ورو له خپلې څوکۍ پورته شو:
– ته غوارې عزیزی د الفا په نوم محکمه کړې دا ستا په نظر څه معنا لري جنــــرال صاحب؟

جنرال بې‌له خنډه وویل: دومره عزیزی،عزیزی مه وایه لیاده دی وتلې هغه یو مجرم دی، د الفا پشان حتا د هغه څخه څو چنده بتر، دولت زموږ څخه د مجرم نوم غوارې او موږ نوم لرو عزیزی .... هغه خطرناک دی، خلک ترې وېرېږي، دوسیه یې تیاره ده، سبا که د هغه د اعدام خبر خپور شي، ټول خلک به ووایي: د پکتیا لوی مافیا د دولت لخوا ونیول شو او ووژل شو ...

زه چوپ ولاړ وم، خو زړه مې نا ارامه وو، د عزیزی داسې ناحق محکمه کیدل د الفا په نوم او وژل کیدل راته هېڅ انصاف نه ښکاریدی، اوس د شموئیل د خبرې په مطلب پوه شوم چې ویې ویل: جنرال څه ناڅه په حرص کې راغلې، د رښتیا هم په حرص کې راغلې، هغه غوښتل د عزیزی په مرګ خپل نوم نیک کړی او ټول نړۍ ته ووایې: چې ما د پکتیا لوی مافیا الفا ووژلو ...

بوډا په طعنه امیز توګه وخندل بیا یې سر په افسوس وخوځاوه او ویې ویل: ته الفا نغواړې، تا له اول هم الفا نغوښت .. ته یوازې غواړې خپل درجه د الفا د نیولو په نوم پورته کړې، فکر مکوه چې خبر نه یم د هغه ماموریت په لیست کېدی خپل د زوی

نوم کوم چې د هغه ماموریت په زر کیلو متري کې لا نه وو اضافه کړې او دا دی هم ورسره لیکلې چې هغه د الفا په نیولو کې ډېره مرسته کړې ...

د بوډا په دی خبره جنرال خپل لاس د غوسی څخه موټ کړو، او ما په حیرت د دوار خواته وکتل، باور مې نه راتلو یعنې د ذوالفقار یوه،یوه خبره کرار،کرار رښتیا کیدل، جنرال خپل د زوی نوم د الفا د نیولو په ماموریت کې اضافه کړی تر څو د بوډا په خبره یو درجه او منصب ورکړی، داسې حال کې چې د هغه ماموریت په سر ما مرمۍ وخوړل او تر مرګ ورسیدلم البته تر اوسه هم د مرګ په خوله کې ولاړ یم ...

جنرال په غوسه وخندل او ویې ویل: دومره جوش مخوره، که غواړې ستا د زوی نوم به هم په لیست کې ولیکم څنګه خوښه دی ده؟ خو کوښښ مکوه چې ما ته سیاست رازده کړې نقیب ...

بوډا یو قدم مخکې راغی.
– لومړۍ خو دا چې زه نغواړم خپل زوی په چل او فریب کوم منصب ته ورسوم او پاتي شول خبره د سیاست ... نو زه سیاست چا ته نه زده کوم .. بلخصوص تاسو ته ... تاسو ماشاءالله دومره استعداد لری چې زموږ ټولو لاسونه مو تر شا تړلې په سیاست کې ... زه یوازی دا وایم چې دا کار مو صحیح نه دې چې د الفا په نوم عزیزی محکمه کړې، زه دا منم چې عزیزی مجرم دی هغه هم خطرناک مجرم خو ... زه هیڅکله دا اجازه نشم ورکولای چې تاسو هغه د الفا په نوم د محکمې شاته کش کړی دا کار نه قانوني دی نه هم اخلاقې ...

جنرال د ډېر غوسي څخه خپل لاس پر میز وواهه او چغه یې کړل:
– نو ته الفا نیولې شې چې د قانون او اخلاقو شعارونه ما ته راکوی؟ هان؟
بوډا په ډاډه لهجه وویل: شایـد ... امکان یې شته .. هېڅ کار ناممکن نه دی، خو که ویې هم نشم نیولې بیا هم( بوډا خپل سترګي د جنرال په قهرجن سترګو کې ښخ کړل او په کلک یې وویل: هېڅکله خپل د منصب د پورته کیدلو لپاره عزیزی د هغه

رزیل په نوم نه قرباني کوم، هر انسان باید خپل د ګناه بوج پورته کړی عزیزی به سزا ضرور ګوری خو .. خپل د ګناهونو سزا نه ده الفا ...

د بوډا دا خبرې مې دومره خوښه شوه چې د زبیر خبره زړه مې غوښتل هملته شپیلکه ووهم او ووایم: به افتخارش یک چک چک، خو هماغه شیبه پام مې شو چې هغه عسکر کوم چې شموئیل ویلې وه جاسوس دی، د کوټې دروازه یې خلاصه کړې او د اماده باش حالت کې ولاړ دی.

دا خو زه د بوډا په ګیر ورکوم ته صبر داسې خو یې ولاکه پرېږدم منافق، بد،بد مې وروکتل او نظر مې ورڅخه واخیست ...
جنرال د بوډا خواته ښه په زیر وکتل او په کلک لهجه یې وویل: خو زه دا قضیه همدلته ترم ..عزیزی به د الفا په نوم اعدام شي ... د افغانستان خلک سولې ته اړتیا لري، نه اوږدو تحقیقاتو او "دا دی او دا نه دی" بحث ته ...

بوډا- او که سبا ورځ الفا بیا سر راپورته کړ او خپل کارونه یې شروع کړل بیا څه کوی؟
جنرال شیبه چوپ شو، خو بیا یې په بیغم لهجه وویل: هغه وخت به بیا یو نوی الفا پیدا کړو ...

د جنرال په دی خبره زړه مې غوښت خوله خلاصه کړه او ښه جوړ یې سپک کړم، د جنرال خبری او کارونو ما ته سم د پاکستان دوه مخي سیاست رایادوه، یعنې خپل د ګټې لپاره تر هر حد تللې شي او هیڅ شئ ورته مهم نه دی ... په بوډا باندی هم لکه چې د جنرال دا جمله ښه ونه لګیدل ځکه د یوې شیبې لپاره یې سترګې پټې کړې، بیا یې پرانیستې او کرار یې وویل: ته زموږ اخری شانس د الفا د نیولو ده لمینځه وړی ...

د بوډا په دی خبرو ما خپل غوږونه ښه تیز کړل، څه مطلب زموږ اخری شانس د الفا د نیولو ده؟ یعنې بوډا غواړې ... نه ... نه امکان نلری بوډا دی داسې کوم فکر وکړی،

خو منطقي لاره او فکر همدا دی کنه؟ جنرال او بوړا د ماموریت د لومړۍ ورځ څخه ویل د الفا د نیولو یواځینې لار عزیزی دی؟!خپل په فکر په حیرت مې سر وخوځاوه، نه امکان نلری ..خو د بوړا په غږ په دومره تلوار مې د هغه خواته وکتل چې احساس مې وکړو د مغزی رګونه مې رګ،په رګ شول ..

بوړا- که عزیزی اعدام شي موږ به یو مجرم وژلی وي، داسې کس چې زر نور ځای ناستي په یوه شیبه کې پیدا کولای شي، هغه هم داسې ځای ناستي چې ته به په عزیزی شکر وباسې ... خو که هغه ژوندی پاتې شي نو شاید موږ تر الفا ورسېږو ... د الفا نیولو مطلب د دی ټول مافیا ډلو پښې غوځول، نو ته ولې غواړې د عزیزی پشان د یو کوچنې مجرم په سر د الفا پشان خطرناک مجرم خوشې کړې؟

کوټه په یوه درنه چوپتیا کې لاړل، خو څو شیبې وروسته د جنرال په خندا هغه چوپتیا ماته شوه.
جنرال- ته فکر کوی عزیزی به زموږ سره مرسته وکړی تر څو الفا ونیسو؟

بوړا سمدسې وویل: فکر نه، بلکې ډاډمن یم.
جنرال په تمسخر خپل سر وخوځاوه او ویې ویل: اوممم ویلې شې ته ولې دومره ډاډمن یې چې عزیزی همکاری کوی؟
بوړا- ځکه چې عزیزی بیعقل نه دی، هغه پوهېږی دا د هغه یواځینې د ژغورلو شانس دی ...

جنرال په شکمن انداز د بوړا څخه نظر واخیست، زما خواته یې راوکتل او ویې ویل: طاها، ته څه وایې په دی موضوع کې؟ تا زموږ څخه ډېر د عزیزی سره وخت تېر کړی ستا په نظر هغه به حاضر شې چې زموږ سره همکاری وکړی تر څو الفا ونیسو هوم؟

د جنرال په دی پوښتنه د ټولو نظر زما خوا ته شو، زه پوهېدم چې د دی پوښتني هر ځواب چې ورکړم کوم ګټه نلری ... هغوی له وخت خپل مشوری او خبری کړی وه دا

پوښتنه کول هسې يو ريشخند وهل وو پر ما، نو ځکه په کلک مې وويل: زه نه يم خبر چې هغه څه کوی خو په يوه خبره ښه پوهېږم(ټولو په غور سره سترګي زما خواته زير کړل چې ما په بې پروا انداز وويل: هغه دا چې زه بايد ځان وژغورم هغه هم پخپل، ځکه تاسو ټول خرڅ شوی ياست، يو د مقام لپاره بل هم د منصب او ځای لپاره ...

زما په خبره بوډا خو کوم څه ونه ويل ځکه زما د خبری مطلب هغه ته نه وو، خو د جنرال مخ له غوسې څخه تک سور شو او په چغه يې وويل: د خبرو سره دی پام کوه، فکر مکوه چې يو ماموريت کې دی ګډون کړوی نو دا حق لری چې موږ ته بې احترامې وکړې(بيا يې خپل ګوته د ګواښ په اندازه زما و مخ ته وخوځولو او دوام يې ورکړ: داسې به دی کاغذ پيچ کړم هلک! چې خپل به هم پوه نشې چې د کوم خوا دی وار خوړلې؟ ... زما سره به په ادب خبری کوی  پوه شوی کنه ..؟

د هغه دومره جوش خوړلو ته ما په بيغم نظر کتل، او لکه چې زما همدا بيغم نظر او سکوت هغه ته نور هم اور واچو چې د ډير غوسې څخه يې خپل غاښونه سره وچيچل، د څو شيبو وروسته بوډا وويل: ما ته ووايه ستا نظر څه دی؟

بوډا دا خبره زياتر د يو واسطه ګر او ميانجګر کس په توګه وکړل، ترڅو ما او جنرال يو بل سره جنګ ونکړو، د بوډا خواته مې وکتل بيا مې جنرال ته وکتل، که ووايم عزيزی شايد همکاری ونکړی .. نو جنرال خو د خدای همدا ورځ غواړی ... عزيزی وژني ... الفا ژوندي پاتې کېږي او زما نوم به د الفا د وژونو د ليست په اول سر کې وي. خو که ووايم عزيزی مرسته کوی ... نو شايد عزيزی ژوندی پاتی شې او که عقل ولری نو بې له شک چې همکاری به هم وکړی، خو ستونزه اوس دا ده چې عزيزی هم د الفا څخه په کمه زما مرګ نغواړی ...

د هغه خبره تر اوسه زما ذهن کيده کله چې خپل د شرکت د غلو نيولو لپاره يې زه وګمارلم نو راته ويې ويل: پيسې ما ته مهم نه دی چې هغوی څومره پيسې زما څخه غلا کړی؟ خو دا چې زما سره خيانت کوی او ما د شالخوا په خنجر وهې .. نو مور

داسی کس نه دی پیدا کړی چې سلطان عزیزی ته دی چل ورکړی او هغه دی د شالخوا په خنجر ووهي .. نـــوو مطلب که راووتلو اولې کس چې وژني هغه زه یم ...ځکه ما نه یوازی ورسره چل وکړو بلکې زندان او د مرګ خولې ته مې هم واچو ..

خوو عزیزی به یوازی ما ووژني نه زما کورنۍ .. ځکه د عزیزی سپي شرف لری په الفا او د هغه په نور سپیانو، ما خو هسې هم له هغې ورځې ځان مړ حساب کړی وو چې د برهان په نوم د هغه شرکت ته ننوتلم نو ولې اوس د مرګ له ویرې حق قرباني کړم او خپل د کورنۍ د ژغورلو یوازیني شانس هم لمینځه ویسم؟په دی فکر سر مې کرار پورته کړو د ټولو سترګي زما پر خوا وه په کرار خو کلک غږ مې وویل: زه فکر کوم چې عزیزی به شاید مرسته وکړي ...

جنرال په پوسخند وویل: ته په څه حساب دا وایې؟
- ځکه چې عزیزی د اول څخه هم د الفا نفر نه وو، او په دی خبره موږ ټول پوهیږو الفا عزیزی د یو وسیلي په توګه کاروه، او عزیزی هم په دی پوهیدی نو ستاسو په نظر کله چې یو کس پوه شي د هغه څخه غلط استعمال شوی او اوس د مرګ خولې کې دریدلې ایا هغه کس ته وفادار پاتې کیږی؟

بوډا په داسی نظر چې سترګي د خوشحالۍ څخه ځلېدل زما خبرو ته غوږ نیولې وو.

- عزیزی پوهېږي چې که اعدام شي، تاریخ او خلک به یې د یو وینه څښونکي، خبیث او رزیل انسان په نوم یاد کړي او که ژوندي پاتې شي، لږ تر لږه دا چانس لري چې خپل نوم وباسي ... الفا هغه خوشې کړې ... او د هغه د مرګ پسې دی ...

جنرال کرار سر وخوځاوه او ویې ویل: او ته څنګه دومره ډاډمن یې؟
د هغه سترګو کې مې سترګي ښخې کړل او په طعنه مې وویل: لکه چې لیاده مو وتلې؟ هغه ماموریت کې زه هم وم، نو دومره خو پوهېږم چې الفا هیڅکله خپل کسان نه ژغوري .. بلکې له سیستم څخه یې باسې ..

کوټه کې یو دم چوپتیا خپره شوه، بوډا کرار سر وخوځاوه داسې لکه چې زما د ټول خبرو سره موافق وی .. جنرال په فکر کې معلومېدي سر يې ښکته وو، خو د ځو شیبو وروسته د بوډا میز یې څو ټک کرار خپل د ګوتو په سر وواهه او ویې ویل:
سمده ... خو دا به وروستی چانس وي، سبا د عزیزی سره لیدنه وکړه د همکاری خبره ورته وکړه خوو(جنرال د بوډا خوا ته خپل سر ټیټ کړو او په کلک لهجه یې وویل:
خو د هغه یو شرط هم مه منه، که ویل یې په دی شرط همکاری کوم یا په هغه شرط همکاری کوم، خبره خلاصه ده ... زه د هغه د یو شرط منلو ته هم حاضر نه یم ...

دلته پریکړه زموږ لاس کیده هغه ته ووایه د الفا د نیولو په بدل کې یوازینې مرسته چې موږ ورسره کوو هغه به دا وی چې د هغه څخه به د الفا په نوم لګیدلې تورونه او جرمونه لری کوو ... خــو ورته ووایه ستا حساب کتاب لا پاتې، د هغه جرمونه د الفا څخه په کمه نه دی نو په مفت میدان د خلاصیدو خوبونه دی نه ګوری ...

***

په ظاهره موټر کې ناست وم او د ذوالفقار د شرکت خواته روان وو، خو ټول فکر مې د بوډا خواته وو، د جنرال د پرون د خبرو وروسته نن بوډا تللې وو د عزیزي ملاقات ته، تر څو هغه ته زموږ سره د همکاري وړاندیز وکړې، خو زما زړه نا آرامه وو یو نظر مې په سړک بل مې خپل په لاس کې په موبایل وو، بوډا ته مې ویلې وه د عزیزی سره د ملاقات وروسته ما ته دی زنګ ووهې او خبر دی راکړی چې څه شوی؟ او ایا هغه همکار کوی او کنه؟

البته زړه کې ډاډمن وم چې عزیزی ضرور همکاری کوی، ځکه یوازیني لاره یې همدا وه، خو ویرېدم چې کوم داسې شرط یا خبره ونکړې چې د جنرال لاس ته بهانه ورشي، جنرال د زنګ خطر پشان ولاړ وو، تر څو د عزیزی لخوا یو نامناسبه خبره واوری او هغه د محکمې خواته کش کړې، د پرون څخه چې پوه شوی وم جنرال خپل د زوی نوم هغه ماموریت کې د دروغو څخه اضافه کړی دی تر څو یو منصب او ځای په برخه شې، د جنرال د دی رنګ څخه مې لا کرکه کیدل ...

ذوالفقار ته مې دا خبره ونکړل هسې د پرون څخه تر نن داسې په فکرونو کې ډوب وو چې یوه خبره یې لا صحیح زما سره نه وه کړې، همدی ذهنې کش،مکش کې د ذوالفقار شرکت ته ورسیدلو د موټر څخه ښکته شوم او د سړک څنګ کې ودرېدم تر څو ذوالفقار موټر پارک کړی او بیا یوځای شرکت ته ننوځو، خو هغه موټر ونه درو ځان یې د موټر د ښېښې خواته لږ راکش کړو او ویې ویل: ته لاړ شه دننه، زه تر یو ځای لږ کار لرم ژر بیرته راځم.

- څه کار لری؟ چیرته ځې؟

ما عادی پوښتنه وکړل خو نه پوهېږم ولې پر ذوالفقار بده ولګیدل چې په غوسه یې وویل: پر تا یې څه چې چیرته ځم؟ او څه کوم؟ هان؟ تا ماته ډیر خپل د کارونو په اړه ویلې چې زه ووایم؟

په کرار او صلحه آمیز لهجه مې وویل: هغه ... ما هسې یو پوښتنه وکړل ذوالفقار .. ولې دومره غوسه کېږې ..؟
ذوالفقار ژوره ساه واخیسته خپل ویښتیانو کې لاس تیر کړ، ما فکر وکړو چې غوسه یې لاړل؟ خو هغه د نرمیدلو لځایه دا ځل په طعنه لرونکې لهجه وویل: ستا خبره که مړ شوم نو د مرګ خبر به مې در ورسیږی نو هسې زما پر عصابو مه ځه، ننوځه شرکت ته ...

دا خبره یې وکړل او موټر یې روان کړ ما په خلاصه خوله د هغه تګ ته کتل، ما کله ورته ویلې وه: که مړ شوم نو د مرګ خبر به مې در ورسیږی؟ فکر نکوم چې دا خبره دی ما ورته کړې وی؟
— تا کړې وه ... زه شاهید وم هغه ورځ ...
خپل شاته د ناڅاپه غږ په اوریدو اوږی مې له وېرې وپرېدل او په تلوار مې مخ وګرځو.

خو شاته مې هېڅوک نه وو .. نظر مې د شرکت په ښیښه یي دروازې ولګید چې زما د تصویر انعکاس وو او زما تر څنګ د یو بل سیوری ... سترګې مې کرار،کرار د ښیښې څخه واخیست ..
– تا دا خبره کړې وه هغه ورځ بیا جنګ مو هم وشو .. بیا ذوالقفار ته ووهلې ...
اوس یاد ته دی راغلل؟

خپل څنګ ته مې وکتل زما څخه په څو ګام واټن کې بیغم ولاړ وو، همغه تور اوږده کالې اچولې وه یوازې په دی توپیر چې مخ یې ښکاریدو، د مخ پوست یې دومره تک سپین وو چې د روح پشان معلومیده، شیطانه مسکا یې پر شونډو وه او سترګې یې داسې تکې تورې وه لکه د ژورې خاه تل ته چې سرې ګورې، هېڅ شئ پکې بغیر د تیارۍ نه ښکارېدل ...

بې اختیاره مې نوم ورڅخه پر ژبه راغی.
- زقوم ...!

سترګي د شیطنت وځلیدل او مسکا یې لا پراخه شوه، د شموئیل خبری رایاد شول چې ویل یې هغه ټول بدخوبونه د زقوم کار وو، په دی فکر تندی مې تروش کړو او ومې ویل: د څه لپاره راغلې یې؟ څه غواړې؟
زما په تُنده لهجه هغه خپل وریځې په حیرت پورته واچول او په ریشخند یې وویل: څومره تود هرکلې؟ نچ، نچ ... ملامت نه یې د هغه بد اخلاق شموئیل سره تګ،راتګ کوی د هغه پشان اخلاق دی خراب شوی، کنه ته پخوا ډېر خوش اخلاق هلک وی زما په یاد دی ...

- خبره اخوا، دیخوا مه کش کوه زقوم .. څه غواړې؟ د څه لپاره راغلې یې؟
زقوم په پوسخند وویل: ته څه لرې چې زه یې درڅخه وغواړم هوم؟ یوازی راغلې وم در په یاد کړم چې هغه خبره دی ذوالفقار ته کړې وه ... بس همدومره یوازی غوښتل مې مرسته درسره وکړم ...

د هغه په خبره ما هم پوسخند وواهه او ومې ویل: عجب! یعني ته دومره نیک صالح وی او زه نه وم خبر؟

زقوم- اوممم معلومیږی چې شموئیل دی ښه غوږونه زما په ضد ټک کړې.
- هو، همداسې فکر وکړه،اوس وایه د څه لپاره راغلې یې؟
زقوم په افسوس سر وخوځاوه او ویې ویل: نچ،نچ زه ستا بد نغوارم طاها، د دی لپاره نه چې راباندی گران یې ... نه ... یوازی د دی لپاره ځکه زه ستا همزاد یم .. پوهیږی دا څه معنا؟ یعني رښتینې دلشکسته عاشقان لا خپل د معشوق په مرگ نه مرې .. خو زه ... زه ستا په مرگ مرم نو خپله فکر وکړه زه ستا بد غوښتلې شم؟

که رښتیا ووایم د یوې شیبې لپاره د هغه په خبره دوه زړه شوم، زما دا دوه زړه توب زقوم هم درک کړو،چې په مکارتوب رانږدی شو او غوښتل یې نور هم زما ذهن گډوډ کړی، خو د څه ویلو مخکې په وېره شاوخوا په کتو شو او بیا په غوسه یې وویل: لعنت دی وې .... کرکه لرم له دې چې تل خپل د ځواک ښودنه کوی ...

د زقوم په دی خبره ما په گنگس انداز شاوخوا وکتل، څوک یادوی؟ څوک د ځواک ښودنه کوی؟ د هغه د خبری په مطلب هېڅ پوه نشوم خو د هغه په ناڅاپه غیب کیدو او بیا خپل شاته د یو کس د حضور په حس کولو پوه شوم چې د هغه مطلب چا ته وو؟ کرار شاته وگرځیدم او شموئیل مې خپل په څو قدمي کې په تروش تندی ولید ...

شموئیل- ولې د هغه خبرو ته دومره توجه کوی طاها؟ مگر ما درته هغه ورځ ونه ویل چې هغه ستا د ذهن سره لوبې کوی؟ بیا ته ولې د هغه په لومه کې لویږی؟
- ما د هغه کوم خبره ونه منل یوازی مې ورته غوږ نیولې وو.
شموئیل په همغه تروش تندی وویل: ولې باید غوږ ونیسې هان؟ کله چې وایم هغه مضر دی مطلب ورڅخه لری اوسیږه ...

په حیرت مې د شموئیل غوسي ته کتل، غوښتل مې ورته ووایم ما خو څه د دعوت کارت نه وو استولې چې ته داسې ما ته غوسه یې، خو د خولې خلاصولو مخکې هغه وویل: ضرورت نشته اوس څه ووایې، د سړک مینځ کې ولاړ یې ټول فکر کوی لیونۍ شوی یې چې د ځان سره خبرې کوی ...

د شموئیل په دی خبره تازه مې خپل شاوخوا فکر شو د رښتیا هم په سړک چې هر څوک تیریدو نو په عجیب انداز یې زما خواته راکتل ..

د سړک څخه مې نظر واخیست او غوښتل مې شموئیل ته ووایم پرون ته ولې ناڅاپه ولاړې؟ خو کله چې مخ مې راوګرځو شموئیل نه وو، یعنې نه راتګ یې د انسانانو پشان دی نه تګ ... خپل سر مې په افسوس ځانته وخوځاوه، لاړې لیونۍ شوی طاها هغه انسان نه دی چې تګ،راتګ یې د انسان پشان اوسیږي، یو ځل بیا مې په دی فکر خپل ځانته سر په افسوس وخوځاوه او شرکت ته ننوتلم، زبیر دوه سترګي زما خواته نیولې وه او ښکاریدل چې زما د هغه لیونیانو پشان حالت یې لیدلې وو ..

خو همدا چې زما نظر یې پر ځان ولید په تروش تندی مخ راڅخه وګرځو، زه هم خپل د میز خواته روان شوم خو د کښیناستلو مخکې پر هغه مې سلام واچو، خو زبیر ځواب رانکړو فکر مې وکړو غږ یې نه دی راڅخه اوریدلې؟ نو ځکه دا ځل لږ په کلک مې سلام ورباندی واچو خو هغه بیا هم کوم ځواب رانکړو، د هغه په دی کار لږ حیران شوم او خواته یې ورغلم لاسونه مې د هغه پر میز کیخودل او په کلک مې وویل: الووو اوری؟ وایم سلام جناب زبیر خان صیب ...

زما په دی کار زبیر بد،بد راوکتل او خپل شا یې کړل، د هغه دی کار ته مې خندا راغلل اوس مثلا مرور دی؟
پخندا مې وویل: د سلام ځواب ورکول واجب دی هان؟
زبیر په غوسه همغه حال کې چې ماته شا کړې وه وویل: نه وم خبر مفتي صیب ښه و چې و دی ویل.

په شیطنت مې وویل: اوس خو دا زحمت مې وویست او دومره مهم مثله مې درته بیان کړل، اوس نو ځواب راکړه.
زبیر په غوسه وویل: زه ستا رقم نمک حرام انسان ته ځواب نلرم، ورځه خپل د کاکا څخه ځواب واخله، تاسو خو هسې هم دوه نفره کارونه ډېر خوښیږي، زبیر دې مینځ کې کیلو پر څو؟ زه خو هسې هم ستاسو دواړو ته مزاحم یم ...

په چوپتیا کې مې د هغه خبرو ته غوږ نیولې وو او کوښښ مې کاوه و نه خاندم، یعنې زبیر سم د انجونو پشان ګیلې او شکایتونه کول، کله چې زما لخوا کوم ځواب یې وا نه ورید نو د سترګو له کونج یې نیم نظر راواچو او کله چې زما څهره یې ولیدل چې په زوره مې ځان تینګ کړی چې ونه خاندم سم اور یې واخیست، په غوسه یې راوکتل او ویې ویل: خانده .. خانده ته و نه خاندی نو څوک به خاندی؟ بدبخت خو زه یم چې ستا او ستا د هغه کله خراب کاکا سره ملګرتیا کوم، اصلاً زه دی شرکت کې څه مرګ غوارم؟

خپل د دی خبری سره سم د څوکۍ څخه راپاسید او خپل د میز له سره د شیانو په راټولولو شو او همغه حال کې په غوسه ویل: دا شرکت کې اصلاً زما ځای نه شته، چیرته چې څوک ما ته د میړی اندازه ارزښت نه راکوی ولې کار وکړم؟ پر ما خو څه د کار قحطي نه ده راغلې ځم یو داسی ځای کار کوم چې یو نفر خو مې انسان حساب کړی ..

زبیر همدا دعوی وهل او خپل شیان یې ټولول چې ما نور ځان کنټرول نشو کړې پخندا مې د هغه لاس ونیو تر څو نور خپل شیان ټول نکړی او ومې ویل: بس دی، دومره جوش مخوره بیا بدرنګ کیږی ...
زبیر په غوسه وویل: لاس دی اخوا کړه طاها،په قران قسم دومره مې عصاب درته خراب دی چې دا څوکۍ دی په دی سر وهم ... او د الفا او د هر خر څخه مخکې پخپل دی وژنم ...

- اوس ته غوسه په څه يې؟ ما څه کړي؟
زبیر په غوسه وخندل او ویې ویل: تا څه کړي؟ یو ځل بیا ... یوازې یو ځل بیا ته دا خبره وکړه طاها بیا زه درته وایم تا څه کړي ...
پخندا مې وویل: سمده نور نه وایم، خو ته په کرار شه ..
زبیر- زه نه په کراریږم، یا نن زه د دې ځای ځم یا هم ...
- یا هم څه؟
زبیر په زیر نظر راوکتل او ویې ویل: یا هم ته د الف څخه تر یا ټول خبرې راته کوې ...

غوښتل مې ووایم کوم خبرې؟ خو د زبیر د ګواښ لرونکې نظر په لیدو خپل خبره مې وخوړل او ومې ویل: سمده، ټول کیسه درته کوم، صحیح شو؟ اوس ارام اوسیږه ...
زبیر په مشکوک او جنایی نظر راوکتل او ویې ویل: ټول خبرې به کوې طاها ... د ټول څخه مطلب د دې ځای څخه د تلو نیولې تر هغه عربستان سفر او مرمۍ خوړلو ټول به په زبر او زیر راته کوې ... او هوو ده هغه بل ورځ چې زما څخه مو خر جوړ کړو او شرکت کې مو یوازې پریخودم او تاسو لاړې د غفارجوو لیدو ته .. د هغه ټول خبرې به هم راته کوې کنه زه ځم ...

د هغه داسې ګواښولو ته مې خندا راغلل.
- سمده ټول کیسه درته کوم اوس ته دې د هغه شیطان له خر راښکته شه ...
زبیر ژر،ژر خپل شیان بیرته په میز کیخودل او ویې ویل: که څه هم ستا د مردار شکل څخه مې هیڅ ښه نه راځي، خو خیر خپل په مهرباني دې بخښم او ستا منحوس د ګناهونو څخه تیریږم، ښه نو اوس کیسه يې کړه څه خبره وه؟
په افسوس مې د هغه دې کار ته سر وخوځاوه.
- یعنې زبیر که ته ښځه وایې په دې دومره سیاست چې ته لرې، په قسم سره درته ویلې شم میره دې د خلکو خبره ستا غلام جوړیدو ...

زبیر بد،بد راوکتل خو بغیر د څه ویلو یې خپل څوکۍ ته تکیه ورکړل او داسې په تمه وو ته وا زه غوارم د کوم جنایي فلم کیسه ورته وکړم؟ خپل څوکۍ مې د هغه د میز خواته نږدې کړل او د هغه شپې څخه نیولې چې د فهیم سره مې جنګ وکړو، بیا بیخبر د دی ځای څخه لاړم، په هوټل کې مې د ګارسونې دنده وکړل، د اقرا ناڅاپه مرضتیا، جنرال ته زما مجبوریت او هغه منحوس ماموریت سره اشنا کیدل، ټول مې ورته دانه په دانه وویل یوازی ځینې خبری مې سانسور کړل ..

لکه د طلاو په اړه مې ونه ویل،ځکه ګمان مې کاوه عزیزی به خپل طلا وغواړی، بل دا چې د عزیزی نوم مې هم ورته ونه ویلو یوازی مې وویل د الفا د یو کس سره مې کار کاوه، نه پوهېږم ولې خو نه مې غوښتل د عزیزی په اړه دی معلومات ورکړم ...

د خبرو حال کې وم او زبیر هم په دقت غوږ نیولې وو، چې ذوالفقار شرکت ته راننوت، د هغه په راننوتلو زه چوپ شوم خو هغه بغیر له دې چې زموږ خواته وګوری مستقیم خپل دفتر ته لاړ ...

د ذوالفقار په دی کار زبیر په حیرت لومړۍ زما خواته بیا د هغه د دفتر خواته وکتل او ویې ویل: څه خبره ده؟ ذوالفقار ولې داسې وو؟
ژوره ساه مې واخیسته.
- نه پوهېږم د پرون څخه چې د غفار د مرګ خبر یې اوریدلې داسې شوی ...

زبیر په حیرت د ذوالفقار د دفتر د بند دروازی څخه نظر واخیست او ویې ویل: څه دی وویل؟ غفار مړ شوی؟
ما تر اوسه زبیر ته د بوډا د پرون خبری کول او دا مې نه و ورته ویلې چې غفار مړ شوی، سر مې د "هو" په بڼه وخوځاوه ..
زبیر په تلوار وپوښتل: څنګه؟ چا .. چا وژلې؟
- ستا په نظر به څوک وی؟
زبیر- نه ... یعن ... یعنې الفا وژلې؟
- اهوم ...

زبیر- خو .. غفار خو د هغه خپل نفر وو کنه؟ نو بیا ولې ووژلو؟
څوکۍ ته مې تکیه ورکړل او په پوسخند مې وویل: دومره کیسه مې درته وکړل او ته اوس پوښتنه کوې ملانصرالدین نر وو که ښځه؟ (لږ مې د هغه د څوکۍ خواته ځان ټیټ کړ او ومې ویل: ستا تر اوسه سر نه دی خلاص شوی؟ دا کوم لوبه نه ده زبیر، دلته مرګ رښتینې مرګ دی، دویم شانس نلری ... ځکه خو پرون مو ته لځان سره ویې نه وړی، زه نغوارم زما د غلطیانو له لاسه پر تا کوم څه وشـ ..

زبیر په غوسه زما خبره راپرې کړل او ویې ویل: بیځایه اپلاتي او هندی ډیالوګونه ماته مه وایه، که اوس وخت زه ستا سره مرسته ونکړم نو دا زموږ ملګرتیا په څه درد خوری؟ هان؟ رښتینې ملګری تل د سخت وی، د خوشحالۍ په وخت کې خو هر کس درسره ملګری وی، ته فکر وکړه که ستا لځایه زه په دی حالت کې ګیر وایې نو ایا تا زه یوازی پریخودلم؟

څو شیبې په فکر کې لاړم، که زبیر زما لځایه په دی حالت کې وایې نو ما څه کول؟ بغیر د کوم شک مرسته مې ورسره کول،حتا که هغه لځان لری کړی هم وایې بیا هم ما غوښتل مرسته ورسره وکړم، ځکه زبیر زما یوازینې ملګری وو،نه یوازی ملګری بلکې د ورور حیثیت یې راته درلود ...
- نه، هېڅکله هم نه ... ما درسره مرسته کول ...

زما په دی خبره زبیر خپل هغه مرور حالت هېر کړ او په خندا یې خپل قلم د میز له سر راوخیست او ویې ویل: ښه نو دا احساساتي خبری اوس پرېږده او ښه په دقت سره فکر وکړه طاها، ته ډاډمن یې چې د "سایه" په اړه کوم معلومات نلری؟ یعنې بیخې دی دا نوم چیرته اوریدلې هم نه دی؟
- نه ..ومې ویل کنه تازه دا نوم مې د الفا څخه واورید، د هغه مخکې هېڅکله مې دا نوم نه وو اوریدلې ..
زبیر- تا د "سایه" په اړه ولې جنرال دویته کوم څه و نه ویل؟ شاید هغوې د دې موضوع په هکله معلومات ولری؟

- ما فکر کاوه که ورته ووایم نو هغوی به پر ما شکمن شي ..
زبیر- نو ولې پر تا شکمن شي؟
- ځکه ما هغوی ته ونه ویل چې ما د الفا سره خبرې کړې، البته دا خبره مې ذوالفقار ته هم نه ده کړې او هغه هم ناخبره دی، نو خوله به دې بنده نیسې او څه به د دې په اړه چا ته نه وایې ...

زبیر- ته چې داسې خپل په سر کارونه کوی زړه مې غواړې د ذوالفقار په ګیر دې ورکړم چې ښه یو جوړ فرش درکړې خو افسوس چې ستا په قسمت هغه د وهلو څخه ولیدلې ...

په پوسخند مې وویل: ستا په نظر شاید له وهلو ولیدلې وی، خو زما په نظر د پخوا څخه لا ډیر بې کنټرول شوی، یعنې فکر وکړه په جنرال یې وار کاوه خو بوډا ځان منځ ته اچولې وو او یو بل یې سره وهلې وه ... پرون هم د بوډا زوی ته نه درېدو، یعنې غوښتل یې د هغه د پلار په حوزه کې د هغه په مخکې د هغه زوی ووهې .. هغه هم هسې میدان ...

زبیر پخندا وویل: ښه زه شکر چې د وهلو لا نه دی ولیدلې او امید ورته شته، ښه دا خبرې پرېږده ..
زبیر د میز له سر د کاغذ یو صفحه راوخیسته او ورباندې لیکل یې شروع کړل.

زبیر- لومړی خطر یا هم داسې ووایم ستا د سر دښمن الفا دی چې فکر کوی ته د سایه په اړه معلومات لرې، او غواړې په هر ډول چې کیږي یا هغه معلومات ستا څخه واخلې یا هم تا ووژني، دویم خطر ستا خپل بې فکری ده ځکه ته تر اوسه نه پوهېږې چې کوم موقعیت کې شتون لرې او څنګه باید ځان وژغورې؟ دریم د جنرال شاته تک او بل نفر د الفا په نوم قرباني کول دي، مطلب د دولت د مرستې څخه لاس مینځل، څلورم بیا هم ستا بیعقلې ...

- بیا نو ولې زما بیعقلې؟

زبیر- ځکه که تا د سایه په اړه پولیسانو ته ویلې وایې نو هغوی شاید یو څه د الفا د نیولو امید پیدا کړی وایې، خو تا د دی خبری په پټ کولو هغوې نا امیده او ځانته مصیبت جوړ کړو.
- که ستا په نظر دومره مهم خبره ده نو دا اوس به بوډا ته ووایم؟
زبیر- ویلو کې باید ضرور ووایې، خو اوس فکر نکوم چندان ګټه ورسوی .. ځکه تا وویل هغه کس چې دوی غواړی ورسره همکاری وکړی د الفا د نیولو لپاره .. هغه کس د سایه په اړه پوهیږی؟ نو هغه به پخپل د سایه موضوع میدان ته راکش کړی تر څو خپل شتون دولت ته ګټور وښایی، نو مطلب ستا ویل او نه ویل اوس هیڅ ګټه نه رسوی، بلخصوص چې یوازی یو نوم دې ورڅخه زده نور خبر نه یې چې څه؟ یا ښځې دی یا ده؟

د پوهیدو په انداز مې سر وخوځاوه د زبیر دا خبره صحیح وه عزیزی د همکاری کولو وروسته لومړی شئ په اړه چې معلومات ورکوی همدا "سایه" ده ځکه دا زما په نظر د الفا د ملا مات کولو په اندازه یو مهم موضوع ده که نه وایې نو الفا به دومره ورخطا نه وایې ...د فکر څخه راووتلم او زبیر ته چې په ورقې باندی احتمالې خطرونه او د هغه څخه د بچ کیدلو لاری،چارې لیکل ومې کتل او ومې ویل: ته د کوم وخت څخه داسې هوښیار شوی یې؟

زبیر- زه د اول هوښیار وم خو بدبختانه چې تا سترګې نه درلود چې زما لیاقت ووینې ..

پخندا مې سر وخوځاوه چې ذوالفقار بېرته خپل د دفتر څخه راووت او زموږ خوا ته راغې.

ذوالفقار- تاسو دواړه بیا یو بل ته ورسېدلې او کار مو لیاده وباسل؟ که داسې روان اوسیږی نو مجبور ستاسو د دواړو څخه د یو نفر میز خپل دفتر ته ویسم تر څو دومره خبری ونکړی ...

زبیر- موږ خبرې نکول موږ فیصله کول.
ذوالفقار- د څه فیصله؟

د دې څخه مخکې چې زه کوم څه ووایم زبیر په خوشحالۍ او تلوار وویل: فیصله دا چې د نن څخه وروسته موږ درې واړه یو ټیم یو ... نو هر کار چې کوو باید درې واړه یې په مشوره سره وکړو ...

ذوالفقار زما خواته راوکتل، د هغه د کتلو په مطلب پوه شوم، هغه زه منع کړې وم له دې چې زبیر دی موضوع ته راکش کړم خو ما ..
ذوالفقار په افسوس ما ته سر وخوځاوه او ویې ویل: اوس څه ووایم؟
زبیر په چالاکۍ او څه ناڅه شیطنت وویل: هېڅ مه وایه، فیصله وشوه کار خلاص شو، تخو د وهلو بغیر بل کار نلرې دا(زما خواته یې اشاره وکړل) دا خو هم د وېرېدلو او ژړېدلو بغیر بل کار نلرې دی مېنځ کې زه (خپل سینه یې وټکول) زه باید دا درونډ مسئولیت خپل پر غاړه واخلم او تاسو ته هوښیارانه مشورې درکړم، زه که وه نه اوسیږم تاسو تباه یاست تباه ...

د زبیر په دومره سینه ټکولو او ځان هوښیار ګڼلو زما خندا راغله، د ذوالفقار په شونډو هم نرۍ خط پیدا شو، چې ښکاریدل ځان کنټرول کوي تر څو و نه خاندي ..

ورځ اوږده شوه، ماذدیګر آذانونه وشول خو د بوډا هېڅ زنګ رانغلو د شرکت کمپیوټرونه بند شول، نفران روان شول خو موږ درې واړه پاتي شو، د ټولو د تلو وروسته زبیر د شرکت دروازه د دننه لخوا بنده کړل او ټول په ګډه د ذوالفقار دفتر ته ننوتلو، ذوالفقار په کوټه کې موجود په یوازیني کوچ چوپ کښیناست او څه یې نه ویل، په فکرونو کې غرق معلومیدی، زبیر هم لاندې په فرش کښیناست او خپل موبایل یې راواخیست، زه هم د زبیر څنګ ته څملېدم او پورته د کوټې چت ته مې کتل شروع کړل ...

هر یو خپل په فکرونو کې ورک وو، موږ دلته مثلاً راټول شوی وو، تر څو یو پلان جوړ کړو خو اوس هر کس یو کونج کې خپل په فکرونو کې غرق وو، د څو شیبو وروسته زبیر خپل موبایل بند کړو او ناڅاپه یې وویل: بس، نور بس دی.

ما او ذوالفقار د هغه په ناڅاپه غږ د هغه خوا ته وکتل.
- څه بس دی؟

زبیر نیغ خپل ځای کې کښیناست.
— ګوری ښا، دا لوبه نه یوازی زموږ له لاس بلکې د دولت د لاس هم وتلې، که هغوی د اصل الفا د نیولو زور درلود نو هېڅکله یې د هغه کس د الفا په نوم نه وژلو د دې څخه ښکارې چې هغوی د اصل الفا د نیولو څخه ناتوان دی؟

ذوالفقار په پوسخند وویل: ته څومره نابغه یې؟ په دی خبری خو موږ هم پوهېدو ستا مغزو اوس کار وکړو؟

زبیر سر وخوځاوه.
— شک مکوه چې زه یم نابغه، خو زما مطلب دا دې اوس چې موږ پوهېږو هېڅوک د طاها سره مرسته نکوی نوو(زما خواته یې راوکتل: نو طاها... ته باید د دې ځایه ووځې.

- چیرته ووځم؟
زبیر- هر چیرته، خارج ته، بل ملک ته، هر چیرته چې ځې خو د یو لږ وخت لپاره پټ شه.

کوټه چوپه شوه، ذوالفقار کرار وویل: ته غواړې ووایې د طاها په تلو به هغوی طاها لیاده وباسې؟ او ستونزه به حل شې؟
زبیر ژر ځواب ورکړ: شاید پوره یې لیاده ونباسې، خو د اوس لپاره چې د هغوي د لیست په لومړۍ سر کې د طاها نوم دی د ده پر تلو به یې فکر ورڅخه لږ لری شې او ستونزه به موقتي حل شې ..

خپل ځای کې کښیناستم او په تروش تندی مې وویل: که زه لاړ شم، د الفا ټول فکر ستاسو خواته کیږی، اوس هم د هغه لومړی هدف زما وژل نه دی .. بلکې زما د کورنۍ تباه کول دی، نو زه نځم ... دا پلان دی خپل جیب کې وساته ..

زبیر- ما ته وګوره طاها، لځان خر مه جوړوه سم فکر وکړه، الفا ځکه تا د کورنۍ په سر ګواښوی ځکه چې ته د هغه د سترګو مخکې یې، د اوس لپاره ته د هغه د لوبې مرکز یې، الفا تا غواړي،مقاله ستا په اړه خپریږي، هغه فکر کوی ته د سایه په اړه معلومات لری، د ټولو توجه ستا خواته ده، نو که په دی وخت کې (هغه خپل ګوته پر فرش ووهل)که موږ لوبغاړی د ګیم وباسو نو لوبه ګډه وډه کیږي، د هغوی فکر دی خبری ته نه راځې چې ستا کورنۍ وګواښوی بلکې هغوی ستا پسې ګرځې چې ته چیرته یې؟

ذوالفقار په فکرمند انداز د زبیر خبرو ته غوږ نیولې وو، لکه چې د زبیر خبری خوښ شوی وه؟ خو زه چوپ ناست وم، زما په نظر دا کار یو دم احمقانه وو، که زه تللې وایې الفا خپل غوسه زما د کورنۍ په سر خالې کول ما هغه خبیث پیژنده هغه خپل دښمن هیڅکله لیاده نباسې ...

زبیر چې زموږ چوپتیا ولیدل نو په داسې لهجه چې موږ نور هم د تاثیر لاندی راوړی وویل: لږ وخت ورک شه طاها، موږ دلته معلومات راټولوو،لاره پیدا کوو، بیا چې فضا ارامه شوه بیرته راشه ...

ذوالفقار زما خواته په درووند نظر راوکتل،هغه نظر چې د غوسي لځایه ما پکې اندیښنه او ویره لیدل ...

ذوالفقار- زه ستا مره کیدل خپل د سترګو مخکې نشم لیدلې طاها ... زما په نظر د اوس لپاره بهترینه لاره همدا ده چې ته د یو څو وختو لپاره پټ شې ... دا کوم عادی کس نه دی چې موږ یې مقابله وکړو هغه ډېر زور لری نږدی بیلګه یې د غفار وژل د هغه دومره امنیت باوجود ...که هغه غفار ووژلې شو نو ستا وژل به ورته څه ویې؟

له دی چې دواړو یوه خبره کول خو اصل موضوع یې نه درک کول غوسه راغلل.
- تاسو دواړه لیونیان شوی یاست، که زه لاړشم الفا شاید ما پرېږدی خو تاسو نه پرېږدی زما د ورک کیدلو د زړه کوف ستاسو څخه باسې، زه نشم کولای خپل د ځان ژغورولو لپاره تاسو خطر کې واچوم دا زما خپل غلطی ده، نو کله چې غلط پریکړه کوم تاوان به یې هم پخپل وړم، او هو لیاده مه باسې بوډا تللې چې د الفا هغه کس ته د همکاری وړاندیز ورکړی که هغه د همکاری وړاندیز ومنلو نو الفا دی خپل فاتحه ووایې ...

زبیر په افسوس خپل سر وښوراوه.
– ته څومره بیعقل یې طاها، ته فکر کوی دولت چې خپل په دومره ځواک الفا ونشو نیولې هغه کس یې نیولې شې؟ که هغه کس الفا نیولې شو نو ولې اوس خپل په زندان کیدی او د مرګ په یو قدمي کې ولاړ دی؟

- هغه له غلطي ونیول شو، که میدان ته راشې الفا نیولې شې زه ډاډمن یم.
ذوالفقار په پوسخند وویل: او ولې ته دومره ډاډمن یې چې هغه الفا نیولې شې؟ غوښتل مې ورته ووایم ځکه هغه کس عزیزی دی ... سلطان عزیزی .. د الفا څخه په کمه نه دی ... خو چوپ شوم زما په چوپ کیدو ذوالفقار په افسوس سر وخوځاوه او ویې ووېل: زما یو ملګری هندوستان کېدي هلته کور لری، زه درته پاسپورت او ویزه اخلم د یو څو وختو لپاره هلته لاړ شه ...

بغیر د څه ویلو لاندی فرش ته مې کتل شروع کړل، په ذهن کې مې محمد، اقرا، ادی، بابا او ټول کورنۍ راغلل، که زما د تللو وروسته الفا هغوي خپل هدف وګرځوی بیا زه څه وکړم؟ کرار مې ووېل: ما تښتېدل نه خوښیږي، بد احساس لرم و دی موضوع ته ..

زبیر پخندا ووېل: دا تښتېدل نه دي، دیته تاکتیکي شاتګ وایې جنرال صاحب.

ذوالفقار څو شيبې بيا په همغه دروند نظر راوکتل او ويې ويل: دومره تشويش مکوه طاها، ستا د تلو وروسته ستا د ښځې او زوي کارونه هم جوړوم، يوه هفته کې به هغوی هم درپسې در ورسيږي ...

نظر مې د فرش څخه واخيست او د هغه جدی نظر ته مې وکتل او ومې ويل: خبره يوازی د هغوي نه ده ذوالفقار، تاسو ټول په خطر کې ياست زما په تلو فکر کوم د ښه کيدلو لځايه به نور هم کارونه خراب شي ...

ذوالفقار په تروش تندی وويل: دا دومره وخت دی خپل په زړه کارونه وکړل، يو نن زموږ په خوښه وکړه او بيځايه فکرونه هم مه کوه هيڅ نه کيږي ...

غوښتل مې مخالفت وکړم خو د ذوالفقار تروش او جدی څهرې خوله رابنده کړل، ذوالفقار چې زما چوپتيا وليدل نو له کوچ پاسېد، خپل د کورتې اغوستلو وخت کې زما او د زبير خواته راوکتل او ويې وويل: پاسېږي نور ناوخته کېږي شپه شول.

زبير زما څخه ژر لځايه پاسېد او ويې ويل: ښه نو اخری رائ څه شول؟ ځې که پاتې کيږی؟
ذوالفقار نيم نظر د سترګو له کونج راواچو او په کلک يې د زبير ځواب ورکړ: ځې .. سبا سهار دواړه ځو تر څو پاسپورټ ورته واخلو، د ويزی کار يې هم تر درې،څلور ورځو کيږی.

زبير- دومره ژر فکر نکوم ويزه ورکړې؟
ذوالفقار- زما يو ملګری رياست پاسپورت کې وظيفه لری، که ورته ووايم عاجل ويزه مو پکاره ده نو شايد په دوه،درې ورځو کې ويزه ولګوی ..

د ذوالفقار په دی خبره زبير پخندا زما خواته راوکتل او ويې ويل: ګوره تل مې درته ويل ملګری پيدا کړه چې يوه ورځ دی پکار راځې، خو تا زما خبره نه منل ...

په تروش تندی لځایه پاسیدم او ومې ویل: ما همدا یو ته نمونه پیدا کړې چې د اوه پشت(نسل) لپاره مې بس یې ...
زبیر پخندا وویل: هغه متل دی وایې: د ګل په بوی نو غوا څه پوهیږي؟ اوس هم ته غوا یې طاها غوا ...

په پوسخند مې وویل: یعنې اوس ته د دی متل ګل شوی؟
زبیر پخندا سر وخوځاوه.
— هو، او یوازی ګل هم نه ... زه ګل ګلاب یم ... ګل ګلاب ...
- اوممم رښتیا وایې ته ګل یې خو .. ګل آفتاب پرست، هر خوا چې خبره دې چلیږی همغه خوا مخ اړوی ..

زبیر غوښتل کوم ځواب راکړي خو د هغه د څه ویلو مخکې ذوالفقار چې کوښښ یې کاوه خپل خندا پټه کړی وویل: بس دی، ناوخته شول راځې ..

د دی خبری کولو سره سم لومړۍ ذوالفقار او ورپسې موږ له دفتر ووتلو، ذوالفقار شرکت دا ځل د بیرون لخوا قفل کړو او بیا خپل د موټر خواته روان شو، زه لکه روباټ پشان بغیر د څه ویلو ورپسې وم، ډېر خبری مې د کولو لپاره درلود خو پوهیدم چې یو هم ذوالفقار نغواړی واوری، هغه دا ځل غوښتل هر کار چی کیږی ما د دی ځایه ورک کړی، د هغه په نظر همدا یوازینې زما د ژغورلو لار وه، خو زما په نظر دا بربادی وه، نه ژغورل ...

که الفا خبر شوی وایې زه تللی یم بغیر له کوم شک زما کورنۍ هدف ګرځول او شاید لومړۍ هدف یې هم پخپل ذوالفقار وای؟ په دی فکر ټول بدن مې له وحشت ولړزیده نه، زه دا اجازه نه ورکوم چې هغه دی داسی کوم کار وکړی، زه دی سفر ته نځم ذوالفقار دی خپل زور ووهې ...

په دی فکر کرار مې د موټر سیټ ته تکیه ورکړل، ذوالفقار موټر روښانه کړو او زبیر ته چې ټکسې ته یې لاس نیولې وو هارنګ وواهه چې ځواب کې زبیر خپل لاس د

خدای پاماني په توګه وخوځاوه او موټر روان شو، د زبير لاره او زمونږ د فرق درلود نو ځکه هغه په ټکسي کې تلو، البته ذوالفقار نن ډير ورته وويل چې زه به دی ورسوم خو هغه و نه منل، ذوالفقار د څو ساعت مخکې څخه لږ خوشحال ښکاريده داسې لکه چې يو دروند بار يې د اوږو څخه لرې شوی وی؟ زما نظر يې چې خپل پر ځان وليد سر يې د "څه دی؟" په اندازه وخوځاوه غوښتل مې وپوښتم ولی ناڅاپه دومره خوشحال شوی؟ خو د څه ويلو مخکې موبايل ته مې زنګ راغلو، بوډا وو ..

يوه شيبه د هغه د نوم په ليدو لاسونه مې د وېرې څخه يخ شول، خو ژر مې زنګ پورته کړ.

- الو، سلام عليکم ...

څو شيبې چوپتيا وه خو د هغه وروسته د بوډا غږ چې ستړيا ما د موبايل تر شا لا حس کولای شو پورته شو..

بوډا- طاها ... يو ځل راشه زما دفتر ته ... همغه د پرون ځای ته ...

د هغه په دی خبره بد احساس مې پيدا کړو.

- ولې؟ څه شوی؟

بوډا په همغه ستړی لهجه وويل: راشه، پوه به شې ..

غوښتل مې ورځخه وپوښتم ايا عزيزی زمونږ سره همکاری کوی کنه؟ خو د ذوالفقار تروش تندی او هره شيبه زما خواته راکتلو پوه کړم چې ټول فکر يې زما د خبرو خواته دی، نو يوازی د سمده ګورم پر ويلو مې موبايل بند کړو، همدا چې موبايل مې بند کړو ذوالفقار وپوښتل: څوک وو؟

- بوډا وو.

ذوالفقار- څه يې ويل؟

- کوم خاص خبره نه وه، هغه ذوالفقار ما همدلته يو څنګ ته ښکته کړه.

ذوالفقار په تروش تندی راوکتل.

— ولې؟ چيرته غواړی لاړ شې؟

- غوارم د بوډا دفتر ته لاړشم.
ذوالفقار- د چا په اجازه؟

نیم نظر مې د هغه خواته واچو، یوازینې کار چې په ماموریت کې مې ښه زده کړې وو هغه وو دروغ ویل! نو همغه لاره مې خپل کړل او په کرار لهجه مې وویل: غوارم لاړشم او د هغه کس پوښتنه وکړم چې څنګه شو؟ او هم غوارم ورته ووایم چې زه د دی ځایه ځم ..
ذوالفقار په تروش تندی وویل: ضرورت نشته هغه ته کوم څه ووایې، زنګ ورته وواهه او ورته ووایه چې نه درځم.
- خو زه غوارم ورسره ووینم.
ذوالفقار په غوسه راوکتل.
— ته بد کوی ...

د هغه په غوسه ناک لهجه شاته نشوم برعکس د هغه پشان په کلک مې وویل: خو زه غوارم ورسره ووینم، که غوارې ما د دی ځای ورک کړی نو اجازه راکړه د بوډا سره د اخری ځل لپاره ووینم کنه هیڅ ځای نځم ..

ذوالفقار په غوسه خپل لاس د وهلو په انداز پورته کړ او ویې ویل: په دی خوله دی وهم طاها که یوازی یو ځل بیا ما ته شرط کیږدی ...

که څه هم د ذوالفقار د پورته شوی لاس څخه وېرېدلی وم، خو خپل د خبری څخه شاته نشوم او ومې ویل: ما ونه ویل چې نځم، زه وایم د تلو مخکې غوارم د اخری ځل لپاره هغه ووینم ..
ذوالفقار په همغه غوسه وویل: ته څه صنم د هغه سره لری چې غوارې د تلو مخکې وګوری هان؟
- هیڅ صنم نلرم خو غوارم ویې ګورم ..

ذوالفقار چې زما ضد ولید په غوسه یې راوکتل او ویې ویل: ای کاش ستا لځایه یو بل کس دلته وایې طاها ... نو هغه وخت زه پوهیدم چې څنګه د هغه ځواب ورکړم ..

بغیر د څه ویلو مې وروکتل څه مطلب زما لځایه بل څوک وایې؟ نو څه ځواب یې ورکاوه؟
ذوالفقار- سمده اوس چې دومره د تلو ضد لری نو دواړه یوځای ځو.
په تلوار مې وویل: نه ...

هغه کرار خو دروند زما خواته راوګرځېد.
— څه معنا نـه؟ ته یوازې چیرته نه ځې.
- خو زه غواړم یوازې لاړ شم.

ذوالفقار په غوسه وخندل.
— نن دی لکه چې دا بدن د وهلو لپاره خارښت کوی؟
د ذوالفقار په ګواښونکې لهجې لږ د موټر ښیښې خواته نږدی شوم، چې ذوالفقار په غوسه وویل: ولې نن دومره زما پر عصابو ځې؟

ژوره ساه مې واخیسته.
- زه نغواړم ته هلته راشې او جنګ جوړ کړې، زه ځم ژر هم بیرته راځم خلاصه خبره.

ذوالفقار په تمسخر وخندل.
— ته څه فکر کوې طاها، هغه به تا ته چای درکړی او بیا خبرو،خبرو کې به تاته رښتیا ووایې؟ ته څومره بیعقل یې که هغه خبر شو ته غواړی لاړ شې د زر رقم مکر او فریب څخه کار اخلې چې تا خـر بیا خطا باسې او یو نوی مصیبت کېدی واچوی.
- جنرال شاید داسې کار وکړې خو بوډا ... هغه داسې انسان نه دی، او هو که بیا هم کوښښ یې وکړو داسې کوم کار وکړی زه د هغه یوه خبره هم نه منم.

ذوالفقار- او که دی ومنل؟
- نه یې منم، هره خبره یې چې وکړه تا ته وایم.

ذوالفقار کلک څو ځله خپل لاس په سټیرنګ وواهه او ناڅاپه یې موټر د سړک څنګ ته ودرو، دومره ناڅاپه یې بریک ونیو چې نږدې وو زما سر په ښیښې ولږیږي،خو په زور مې ځان ونیو، ذوالفقا د قاتلانو پشان زما خواته راوکتل خو لا خوله یې نه وه خلاصه کړې چې موبایل ته یې زنګ راغلو، په همغه غوسه یې موبایل پورته کړو او الو یې کړل نه پوهیږم د موبایل شاته څوک وو او څه یې وویل؟ خو هر څوک چې وو ذوالفقار غوسه لیاده ووتل خپل ویښتیانو کې لاس تېر کړ او ویې ویل: همدا اوس؟ تا خو ویل سبا یا هم بل سبا شاید راشې؟

د موبایل شاته کس یو څو شیبې لګیا وو یو څه یې ویل خو ذوالفقار نور کوم ځواب ورنکړ یوازې د موبایل بندولو مخکې وویل: سمده زه لس دقیقو کې درځم.

ما ورته په منتظر او څه ناڅه مشکوک نظر کتل،زړه مې غوښتل وپوښتم څوک دی؟ خو د نن سهار خبرو یې خوله رابنده کړل.

ذوالفقار لږ شاته تکیه ورکړه،څو ثانیې یې هېڅ ونه ویل،بیا یې په ټیټه لهجه وویل: سمده لاړ شه ... یوازې لاړ شه زه درسره نځم خو (کامل زما خواته راوګرځید او ګوته یې د ګواښ پشان زما و مخ ته وخوځول) یوازې یو ساعت وخت لرې د هغه وروسته زه خپل درپسې درځم.

- مه راځه، ما د کور لاره لیدلې ...
ذوالفقار ژوره ساه واخیسته داسې لکه چې په دې ساه اخیستلو غواړې خپل غوسه کنټرول کړی؟
— ورځه، طاها ورځه ... خو فکر مکوه چې دا کارونه به دی زه بې ځوابه پاتي کړم نه ... نه زموږ دواړو حساب کتاب لا پاتې ..

@Shuhab09

د موټر دروازه مې خلاصه کړل او ژر ښکته شوم، د ذوالفقار اخري خبرو ما ته د عزيزي ګواښول راياد کړل، کله چې احمدزی راګير کړی وو او ګمان يې کاوه زه د هغه جاسوس يم بيا ناڅاپه چې الفا راغلو، هغه ورځ عزيزی هم زه همداسې وګواښولم خو بدبختانه چې خپل ګواښ يې عملي نشو کړی نچ،نچ بيچاره .. يعنې بوډا څه غواړی ووايې چې زه يې خپل دفتر ته وغوښتلم؟ ايا عزيزی به زموږ د همکاری وړانديز منلې وی او کنه؟

بله چاره نلری که غواړی ژوندی پاتي شي او د الفا په نوم مړ نشي بايد همکاری وکړی، عزيزی هوښيار دی خپل ځان مرګ ته نه ورکوی ضرور همکاری کوی، هو ... هو ضرور همکار کوی .. خو ... عزيزی داسې کس دی چې د هغه د راروان قدم وړاندوينه هيڅ څوک نشي کولای تل يو داسی کار کوی چې مقابل کس حيران کړې، يعنې امکان لری زموږ سره همکاری ونکړی؟ په همدی ګډوډ فکرونو کې مې يو ټکسې ونيول او د بوډا د دفتر پخوا روان شوم، د ذوالفقار کارونه هم راته مشکوک ښکاريدل دا چې ناڅاپه شاته شو او ما ته يې يوازی د تلو اجازه راکړل ..

يعنې چا ورته زنګ وواهه؟ او څه يې وويل چې ذوالفقار زما سره د راتګ پښيمان شو؟ هغه د موبايل شاته کس ته يې وويل لس دقيقو کې درځم ...چيرته ځې؟ د هغه دی کارونو ته مې هيڅ ښه احساس نه درلود.

دومره مختلف فکرونه مې ذهن کې ګرځېدل،راګرځېدل چې نږدی وو ليونی شم، د دی لپاره چې خپل د فکرونو څخه وتښتم په موټر کې روښانه راډيو ته مې غوږ ونيو، زما له قسمت يو داسې ګونګ موټروان مې په نصيب شوی وو چې حد يې نه درلود، کنه زما په نظر په نړۍ کې پر حرف ترين کسان همدا موټروانان دی، البته زياتر يې د سياسې چارو شنونکي دی ... موټروان د عمر څخه زما په سن معلوميدی خو د ډيری او اخيستل شوی بريتونو څخه يې پوه شوم چې تبليغي دی؟! بلخصوص چې راډيو کې يو اسلامي خپرونه راوړی وه او په بيحد توجه يې هم ورته غوږ نيولې وو، زه هم غوږ شوم چې واورم څه وايې؟

– یو ورور پوښتنه کړې چې سجده شکر څنګه ده؟ او ایا روا ده او که ناروا؟
نو لومړۍ خو دې خدای تا ته جزای خیر درکړې په دې پوښتنه کولو، ځکه دا موضوع کې نه یوازې تاسو بلکې ډېر ورونه او خویندې په شک کیدی چې ایا دا کار روا دی او که ناروا؟ ګوری کله ناکله داسې کیږی چې انسان ته یو ښه خبر ورسیږی یا د کوم مصیبت څخه بچ شې نو د هغه کس زړه غواړې، چې خدای ته یو سجده ولګوی چې دغه کار ته سجده شکر ویل کیږی ..

ځینو کسانو داسې یو غلط آوازه او غلط فهمې ښوره کړې چې نـــه داسې سجده اسلام کې نشته او ته داسې نشې کولې، نو دا هسې خبرې دی په دی خبرې باندی حدیث مبارک موجود دی په مسند احمد کې راځې او په نور احادیثو کتابونو هم داسې واقعات راغلې چې پیغمبر" صلی الله علیه وسلم" ته د فتوحاتو خبرونه راغلې هغه به کوم ځای ته یو ډله صحابه استولې وه نو د هغه ځای څخه د فتحې خبر راغلې او پیغمبر "صلی الله علیه وسلم" سجده شکر لګولې ...

البته بعضی مفسرین او فقها وایي چی په روایت کې د سجدې څخه مطلب یوه سجده نه ده، بلکې رسول الله "صلی الله علیه وسلم" دوه رکعت لمونځ کړی د شکر لمونځ، خو اکثر علما په دی اتفاق دی چی رسول الله "صلی الله علیه وسلم" یوازی سجده لګولې وه او دا خبره په موږ کی هم رواج ده لنډ مثال یې دا کرکټ کې کله چی یو لوبغاړې سل رنځ پوره کړی یا په بله اصطلاح سلیزه ووهې نو سجده لګوی، نو دا کوم غلط عمل نه دی، هـــا که کوم کس دوه رکعت نفل مونځ وکړی د هغه خبر په ډیر خوشحالۍ کی نو دا هم صحیح ده دواړه طریقو ته موږ صحیح وایو، نو پر بیځایه خبرو هسې دین ځانته مه سختوی ...

یو څو شیبې چوپتیا شوه، ما په توجه غوږ نیولې وو، مولوې بیحد روان او فصیح خبرې کول او لهجه کې داسې جذبه وه چې سړی مجبور کاوه د خبری تر اخر ورته غوږ شې، د څو شیبو وروسته یو بل پوښتنه یې راوخیسته او زما په نظر دا هم جالب وه!؟

– یو وروړ پوښتنه کړې چې د څڼو پرېښودلو حکم اسلام کې څه دی؟
جزاک الله خیرً په دی پوښتنه دی ... د نارینه لپاره د څڼو پرېښودل زموږ په مذهب کې یعنې حنفي مذهب کې د فقهې علما لکه د ابن عابدین په رد المحتار کې وایي: وېښتان پرېښودل جایز دي، دا د رسول الله ﷺ عادت او عبادت نه بلل کېږي، نه پرېښودل هم هېڅ ګناه نه لري، حنفیان دا سنتِ عادیه بولي، نه سنت مؤکده.

ځکه د فضیلت په اړه یې هېڅ کوم حدیث نشته، رسول الله ﷺ څڼې پرېښې، دا هغه وخت دود او رواج و،یعنې سنت عادیه عادت وو مشرکانو هم څڼې درلودې، لکه څنګه چې رسول الله ﷺ لنګ تړلی، پر اوښ سپور شوی او غوښې یې خوړلې، نو دې ته موږ سنت عمل نشو ویلې دیته سنت عادیه مطلب د عادت سنت ویل کیږی، ځکه دا په عاداتو او ضروریاتو کې راځي ...

البته د ږیرې د فضیلت په اړه ډېر حدیثونه موجود دی او حتا څومره اندازه باید ږیره پرېښودل شي هغه لا احادیثو کې ویل شوی، خو د څڼو په اړه یوازی یو قول درته ویلې شم هغه هم د شیخ ابن باز "رح" چې وایي: که چېرته کومه ټولنه کې څڼې بدې ګڼل کېدې یا د بدو خلکو نښه ګڼل کېده، نو غوره دا ده چې هلته څڼې یا اوږده وېښتان پرېښنښودل شي ...

مولوی یو، دوه نور پوښتونو ته هم ځواب ورکړ او بلاخره د بوډا دفتر ته ورسیدلو، که رښتیا ووایم هېڅ مې زړه نغوښت له موټر ښکته شم او د بوډا لیدلو ته لاړ شم، زړه مې غوښت همداسې دې موټر روان وی او زه دی د دی مولوی خبرو ته غوږ ونیسم، خو افسوس چې هېڅکله یو کار زما په زړه نه دی شوی، په نه زړه د موټر ښکته شوم کرایه مې حساب کړل او د بوډا د دفتر پخوا روان شوم البته د تلو مخکې مې د موټروان څخه مننه وکړل، زما په نظر د فضول سیاسي خبرو او بحث کولو څخه داسې یو اسلامي موضوع ته غوږ نیول ډېر ښه وو، که نور نه وو په یو څو اسلامي موضوعاتو خو پوه شوم.

د پرون په پرتله نن لږ د ماحول سره آشنا وم، نو ځکه ډېر ژر مې ځان د بوډا تر دفتر ورسو دروازه مې ټک،ټک کړل د هغه خوا د بوډا غږ راغلو چې ویل راځه، زه هم په لړزانده ګامونو دننه شوم، هېڅ ښه احساس مې نه درلود فکر مې کاوه چندان ښه خبرې مې په انتظار کې نه دی، بوډا په څوکۍ ناست و زما په لیدو کرار یې وویل: راغلې ..
- هو، څه شوی؟

هغه مستقیم موضوع ته لاړ:
— عزیزی همکاري نه کوي.

زړه مې یوه شیبه د درزېدو څخه ودرېد.
- څـــه؟ ولې؟
بوډا د څوکۍ خواته اشاره وکړل تر څو کښینم، په همغه لړزانه ګامونو د څوکۍ خواته روان شوم او کښیناستم چې بوډا وویل: شرط لري.
- د .. د څه شرط؟

بوډا په زیر نظر راوکتل او کرار یې وویل:
— هغه وایي چې یوازې له تا سره خبرې کوي ... او هر شرط او خبره چې لری تاته یې وایې ...

ساه مې سینه کې بنده شوه، څه معنا یوازی زما سره خبری کوی؟ زه د هغه سره څه خبره لرم د کولو لپاره؟ خو ډېر ژر دا فکر مې ذهن ته راغلو چې شاید هغه غوارې ډاډمن شي چې طلا یې په امن کیده؟ هو، ضرور همدا موضوع ده، عزیزی غوارې لومړۍ خپل زړه د طلاو لخوا بیغم کړې د هغه وروسته همکاری او نور خبری وکړی خوو جنرال ...

د بوډا خوا ته چې په زیر نظر یې تر اوسه په ما کې سترګي ښخې وه ومې کتل.
- تاسو ورته ونه ویل چې جنرال د هغه هېڅ شرط منلو ته تیار نه دی، او که همکاری

ونکړی مستقیم یې د اعدام خواته استوی؟

بوډا لنډ ځواب راکړ:
– ومې ویل.
په تلوار مې وپوښتل:
- ښه نو بیا هغه څه وویل؟

بوډا څو شیبې خپل د میز څوکې ته سترګې ښخې کړې د هغه وروسته په دروند غږ یې وویل: عزیزی ډېر عجیب انسان دی(ما خپل غوږونه ښه تېز کړل تر څو د بوډا خبرې ښه په غور واورم، هغه هم خپل نظر زما خواته کړو او ویې ویل: ما خپل ډېر عمر د داسې کسانو په نیولو او سزا ورکولو کې تېر کړې، داسې مجرمان مې نیولې چې خپل ځانو ته به یې د نړۍ کله خرابان ویل او من من وه، خو کله به چې ونیول شول او خبره په تر اعدام او محکمې ورسیدل نو ژړا ته به یې شروع ورکړل ...

باور کوی طاها داسې کسانو به ژړل او خدای او رسول به یې واسطه کاوه تر څو یو بل شانس ورکړو، خو عزیزی(بوډا خپل سر دواړه خواوو ته وخوځاوه) موږ هغه ته پخپل د همکاری وړاندیز ورکړو او ورته و مو ویل که زموږ سره همکاری وکړی نو شاید ژوندی پاتې شې، خو هغه د مرګ څخه د وېرېدلو لځایه پر ما خندل .. او شرط یې کیخود ..

بوډا په حیرت وخندل، خو ژر یې خندا په تروش تندی بدله شوه.
– هغه داسې نن زما خبرو ته غوږ نیولې وو او زما سره یې خبری کول ته وا موږ د مرګ پر حال یو او هغه یوازینې زموږ د ژغورلو لاره ده؟ هېڅ باور کوی طاها ... یعنې هېڅ وېره او ورخطایې په څهره کې نه وه فکر کوم(بوډا زما خوا ته چې د وېرې څخه مې خپل د خولې لاړې تېرول راوکتل او دوام یې ورکړ: عزیزی یا ډېر مضر او خطرناک سړی دی، یا هم ډېر بیعقل او ساده ...البته امکان لری د الفا څخه وېرېدلې هم اوسیږی؟ که څه هم ما یې څهره کې یوازینې شئ چې ونه لید هغه وېره وه ...

ما په داسې غږ چې کوښښ مې کاوه ونه لړزیږي ومې ویل: اوس .. څه وکړو؟
بوډا د زړه له تل"اه" کړل او سر یې د "نه" پوهېږم په انداز وخوځاوه.

دواړه د څو شېبو لپاره چوپ او خپل په فکرونو کې غرق شو، عزیزي همکاري نکوي، داسې حال کې چې پوهېږي دا د هغه د ژغورلو یوازیني لار ده، الفا ویلې وه عزیزي وژنم که په هر ډول وي، نو مطلب که دولت یې خوشې هم کړي الفا یې نه پرېږدي .. شاید عزیزي هم په دی خبره پوهېږي او د هسې ځغاستو او منډو وهلو لځایه غواړي یو اسانه مرګ ولري؟ یعنې امکان لری عزیزي د الفا په وړاندی تسلیم شوی وي؟

هو نو د هغه د نن کار همدا معنا درلود، یعنې باید پرېږدو چې عزیزي د الفا په نوم په یو خاموش مرګ ووژل شې؟ دا به ظلم نه وي؟ د هغه دردمند غږ مې غوږونو کې انګازي وکړل" د هغه لځایه ما ووژنه"ما هیڅکله خپل د ژوند د ارزښتمند کسانو څخه ساتنه ونشو کړې" هغه زما د ژغورلو لپاره الفا ته زاري‌کول، هغه ما ته خپل د ژوند د ارزښتمند کس خطاب وکړو ...

" البته دا خبره یې هغه وخت وکړل چې خبر نه وو ته جاسوس یې، که خبر وایې چې ته جاسوس یې نو ستا د ژوندی پاتې کیدلو لځایه زاری کول تر څو تا ووژني، طاها اوس مهم عزیزي او د هغه کارونه نه دی ته باید ځان وژغوری" یو ځل بیا د هغه څو میاشتو مخکې پشان ذهن کې مې دوه کسان په کش،مکش وه یو د عزیزي ښه ویل خو دا بل بیا راڅخه غوښتل چې منطقي فکر وکړم او ځان وژغورم

" طاها ته نامرده او بیغرت نه یې، څنګه کولاې شې خپل په فکر کې یوازی اوسیږې داسې حال کې چې هغه ستا له لاسه مرمۍ وخوړل او زندان ته وولید، هغه ستا له لاسه د اعدام پر پوله ولاړ دی، خو ته حتا د هغه د حق لپاره یو غږ لا نه پورته کوی؟ ته د کوم وخت داسې بزدل شوی یې؟ "

په دی فکر د بوډا خواته چې تر اوسه خپل په فکرونو کې غرق و نظر واچو او په کلک غږ مې وویل: زه غواړم د عزیزي سره ملاقات وکړم.

بوډا سر را پورته کړ او په ګنګس انداز یې وپوښتل: څه؟

"طاها داسی مکوه، هغه خطرناک انسان دی، یو څه خپل او خپل د کورنۍ په فکر کې اوسیږه ته غواړې ځان مرګ ته ورکړې؟ که ذوالفقار خبر شو ژوندی دی نه پرېږدی" سر مې وخوځاوه تر څو دا فکرونه له سر وباسم او بوډا ته چې دوه سترګې زما خواته نیولې وه ومې ویل: که د هغه د همکاری شرط زما سره لیدل وی نو سمده، زه به د هغه سره ووینم.

بوډا څو شیبې چوپ شو بیا یې سر لږ ښکته کړ، د هغه دی چوپتیا ته زما حوصله ختمه شوه او کرار مې وویل: دا انصاف نه دې چې د الفا په ګناه دی عزیزی ونیول شې، عزیزی ...( ژوره ساه مې واخیسته) هغه مجرم دی خو دومره هم نه، که موږ اجازه ورکړو هغه دی د الفا په نوم محکمه شې دا به لوې ظلم او بې‌عدالتي وی ..
بوډا څو شیبې همغسې چوپ وو، خو بیا یې سترګې راپورته کړل او په کرار غږ یې وویل: زه پوهېږم طاها چې ته څه ویل غواړې، خو تا خپل د جنرال د هغه ورځ خبره واوریدل ..

په تلوار مې د هغه خبره پرې کړل او ومې ویل: د عزیزی لومړۍ شرط دومره هم سخت نه دی، هغه غواړې خپل خبری او د همکاری شرطونه ماته ووایې، نو یو لیدنه دومره هم سخت نه ده، زه ورسره ګورم او خبری کوم که نور شرطونه یې سخت او د نه منلو وه، بیا هغه وخت تاسو اختیار لری چې هر کار کوی وکړی، خو اوس داسې ناڅاپه پریکړه کول ظلم دی.

بوډا یو ځل بیا د زړه له تل "اه" کړل او ویې ویل: دا کار زما لاس کې نه دی طاها، عزیزی چې کوم ځای بندی دی د جنرال د اجازی بغیر مچ لا هلته پر نشې وهلې، زه نن د جنرال د اجازی باوجود په داسې توګه هلته لاړم ته وا مجرم یم، دومره تلاشې راڅخه واخیستل شوه، نو ته فکر کوی زه تاته دا زمینه برابرولې شم تر څو د عزیزی سره ووینې؟

- جنرال به اجازه رانکړی؟
بوډا په غوسه وخندل.
– جنرال او اجازه؟ هغه وايي زه هېڅ شرط نه منم، وايي که عزيزی خبرې نه کوي په تور مرک چې نه يې کوی، هغه لګيا دی څرنوالې ته درخواست استوی تر څو په همدی هفته کې محکمه جوړه کړې او عزيزی د الفا په نوم ووژني ...

د بوډا په دی خبره په څوکۍ باندی د ډېر بې وسې څخه وغوړېدم او کرار مې د شونډی لاندی وويل: دا خو ظلم دی ...

بوډا په پوسخند سر وخوځاوه او خپل د مېز لاندې لاس کړ، څو شيبې وروسته يو شی يې راوويست او زما ومخ ته يې کيخود ...

نظر مې د هغه شئ پخوا لاړ او زړه مې ټکان وخوړ .. تومانچه ...
همغه تومانچه چې څو مياشتې مخکې عزيزی پخپله زما لاس ته راکړې وه او ويلي وه"يوه ورځ به دې پکار راشې"

بوډا له څوکۍ پاځېد، تومانچه يې زما خواته را ټيله کړل.
– دا لځان سره وساته..

بغير له دې چې د تومانچي څخه نظر واخلم کرار مې وويل: يعنې خبره تر دی حد خرابه شوی؟
هغه په ټيټ خو جدي غږ وويل: هو، خبره تر همدی حد خرابه ده، که عزيزی ووژل شو د الفا لاس نور هم خلاصيږی او لومړی کس چې د هغه هدف دی هغه ته يې طاها ... البته اوس هم يې ...

ژوره ساه مې واخيسته.
- فکر نکوم نور دې زما په کار راشي ..
بوډا- ولې؟
له څوکۍ پاسېدم، زما دومره هڅو هېڅ ګټه ونه رسول، فکر کوم بايد د ذوالفقار

خبره ومنم .. شاید الفا زما د تلو وروسته زما کورنۍ خپل هدف ونه ګرځوی، شاید دا هسې زما وهم او خیال اوسیږی؟لکه څنګه چې ګمان مې کاوه عزیزی به بغیر د کوم شرط او خبری کولو زمونږ سره همکاری وکړی ...

په دی فکر کرار مې وویل: څکه چې د دی ځای روان یم څم.
بوډا په اندیښني وویل: چیرته روان یې ځې؟

هندوستان ته تلو خبره مې ورته وکړل، بوډا څو شیبې په چوپتیا کې راوکتل لکه چې د هغه ذهن ته هم زما پشان اندیښنه راغلل،چې زما د تلو وروسته به الفا زما کورنۍ وګواښوی؟ خو دا خبره یې ونکړل د هغه لځایه یې وویل: ښه پریکړه ده اوس چې هر څه ستا پر خلاف روان دی د یو څو وختو لپاره یو ځای پټ شه خو ..( بوډا تومانچې ته اشاره وکړل) خو هر چېرته چې ځې دا لځان سره واخله ...

د کوټې د دروازې پخوا روان شوم خو د تلو مخکې په پوسخند مې وویل: فکر نکوم دا اجازه به ولرم چې بل هیواد ته دې لځان سره تومانچه ویسم؟

د دې خبری سره سم د بوډا د دفتر راووتلم، هوا تیاره شوی وه که څه هم ما ډېر وخت د بوډا دفتر کې تېر نکړو، خو د ژمې زیاتر ورځې همداسې دی د سترګو په رپ کې هوا تیاره کیږی، د ساتونکو څخه تېر شوم او د باندی سړک ته ووتلم، د دی ځای ادرس داسې وو چې مخ ته یې کوم موټر یا ټکسې نشو دریدلې،باید مخکې اصلې سړک خوا ته تللې وایې تر څو موټر مې نیولې وایې، همغه حال کې چې کرار روان وم خپل موبایل مې له جیب راوباسو ذوالفقار راته مسج کړی وو: چې چیرته یې؟ ځواب مې ورکړ: درغلم موټر نیسم لاره کې یم.

د مسج تللو سره سم د ذوالفقار ځواب راغلو "سمده ژر راشه او فکر دی هم ساته" د سمده پر ویلو مې موبایل جیب ته کړو، یو عجیب احساس مې درلود لکه یو څوک چې مې څاری؟ په دی فکر بې اختیاره مې شاته وکتل، خو کوڅه عادې وه، کوم عجیب شئ مې تر نظر نشو، زړه کې مې ځان سره وویل چې شاید زقوم وی؟ هسې

زه خو چندان شانس نلرم هر څوک چې مې پر قسمت برابر شي نو د ځان بلا راته وګرځي، دا هم زما د شانس مثلاً زما قرين دی خو د دښمن څخه په کمه نه دی ..

ګامونه مې تېز کړل او د هغه نفس تنګ کوڅي څخه ووتلم، زما د وتلو سره سم ميده،ميده باران هم شروع شو، دا يې لا بل مصيبت د باران په اوريدلو او د هوا په تياره کيدلو هر چا کوښښ کاوه ځان ژر خپل تر مقصد ورسوی، هر څومره موټرانو ته چې مې لاس نيو يو هم نه دريدو، د سړک په غاړه ولاړ وم او خپل په دی مردار شانس مې لعنت ويلو چې خپل څنګ ته په يو څو متره فاصله کې مې په يو سړی نظر ولګيد، تور اوږده کورتې يې اچولې وو مخ يې هم په خړ پټو پيچلې وو، نه يې حرکت کاوه، نه يې هم موبايل ته کتل، نه يې هم له چا سره خبرې کولې، يوازې ولاړ و او دوه سترګې زما خوا ته نيولې وه.

ژر مې مخ ورڅخه وګرځوې،داسې لکه خدای دی نکوی ما خو هېڅ نه دې ليدلې، خو قدمونه مې تېز کړل موټر نيول مې خوشې کړل او د سړک هغه بل غاړی ته روان شوم، زړه مې په يو سلو اتيا کې درزېدی، خپل ځان ته مې خپل دلداری ورکول" دا هسې تصادف دی طاها، هغه ستا پسې نه دی، کرار اوسېږه ضرور يو بل چا ته په تمه دی، ستا سره څوک څه کار لری؟ کرار خپل لاره وه" په همدی فکرونو کې د سړک هغه بل غاړی ته واوښتم او کرار مې د سترګو له کونج شاته وکتل ..

چې هغه کس مې خپل شاته راروان وليد، ساه مې سينه کې د ډېر وېرې څخه بنده شول، ژر مې مخ وګرځو او لا تېز شوم، لکه چې د رښتيا زما پسې دی؟ يعني د الفا نفر دی؟ هو نو بل څوک زما د سر دښمن دی؟ بايد لاره بدله کړم، بايد ورڅخه پټ شم په دی فکر په تلوار يوې تنګې کوڅې خواته واوښتم. دانه، مانه د ځينې کورونو ګروپونه روښانه وه او کوڅه يې لږ رڼا کړې وه، زما د بد بخته د باران وريدلو له امله ټول کورونو ته ننوتلې وه او کوڅه يو دم خالې وه ...

په تلوار کوڅه کې روان وم، البته د روان کيدلو څخه زيات د ځغاستلو حال کې وم، خو همغه حال کې غوږونه مې ښه تېز کړې وه، د هغه د پښو غږ مې خپل شاته

اوریده هغه هم کوټي ته رانوتلې وو، یوه شیبه خپل په دی کار سخت پښیمان شوم  د کوټي څخه خو سرک ډېر ښه وو، که نور نه و یو دوه کسان خو اخوا، دیخوا کیدل د هغوی د وېرې څخه یې هم مخامخ راباندی وار نشو کولای خو کوڅه کې؟ دلته چې هېڅوک نشته که راګیر مې کړي کار مې خلاص دی ..

همدی وخت کې د کوټي سر کې مې په دوه نور لارو نظر ولګید، دوه کوټي وه یو راسته خوا بل چپه خوا، بغیر د کوم فکر کولو په راسته کوټي ننوتلم، زړه مې دومره تېز درزیدی چې غږ یې ما پخپله لا اوریدي، کوټي ته د ننوتلو سره سم د یو کور په دروازی مې نظر ولګید چې نیمه خلاصه وه، بې اختیاره هغه کور ته ننوتلم ...

حویلی تیاره وه، لکه چې د دی کور برقونه نه وه؟ مخامخ دوه کوټې وه، یوه کوټه پوره تیاره وه خو دا بل کوټه کې زما په نظر ګاز روښانه وو؟ ځکه د اور پشان رڼا یې د پردو د منځ حویلې خواته راتلل ورسره د ماشومانو چغ، ماچغ هم راتلو، دروازه مې کرار بنده کړه، او د د یوال سره جوخت ونښتلم، کوڅه کې مې د قدمونو غږ واورید، لکه چې کوټي ته رانوت؟ یوه شېبه هېڅ غږ رانغې، ما د ډېر وېرې څخه نفس لا نه اخیست، څو شیبې وروسته د قدمونه غږ کرار،کرار رانږدې شو، او د همدی کور د دروازې مخې ته ودرېد، زما زړه داسې درزېدی چې ما فکر کاوه هره شیبه امکان لری د سینې څخه راووځې، د هغه کس سیوری مې د دروازې له لاندې څخه لیدې ..

یو څو ثانیې، همهلته ولاړ وو بغیر د کوم کار کولو څخه خو بیا ... کرار یې دروازه لږ خلاصه کړه، ما ځان د دیوال خواته لا جوخت کړو او زړه کې مې څه آیتونه او سورتونه چې زده وه هغه مې پر ځان چوف کړل او همغه حال کې مې ځان ته کنځل کول چې ولې د بوډا خبره مې ونه منل او هغه منحوس تومانچه مې راوانخیسته؟ که هغه رارسره وایې زړه مې لږ ډاډمن وو که خبره خرابه شې نو کولای شم د ځان څخه دفاع وکړم خو اوس  ... ناڅاپه نظر مې خپل و څنګ ته په یو بیلچې ولګید، چې دیوال سره یې تکیه کړې وو ..

کرار مې لاس اوږد کړ او د بیلچې لاستې مې پخپل لاس کې کلک ونیو، څو شیبې چوپتیا شوه او د هغه وروسته د هغه د قدمونو غږ چې کرار،کرار د کور له مخې لرې شو، بې اختیاره مې ژوره ساه واخیسته څو شیبې هملته ودرېدم تر څو ساه مې ځای ته راشي د هغه وروسته دروازه مې خلاصه کړه او د باندی کوڅه خواته مې وکتل کوم څوک نه ښکاریدل، بیلچه په لاس کرار له کور راووتلم غوښتل مې بیلچه بېرته خپل ځاې کې کېږدم خو بیا مې د ځان سره وویل چې د امنیت لپاره یې راوخله بیا که ژوند وو یوه ورځ به دې کور ته راشم او د بیلچې قیمت به د کور مالک ته ورکړم ..

په دی فکر کوڅه کې په منډه شوم ډېر ژر د سړک خواته مې ځان ورسو او لکه چې بیلچې فایده وکړل؟! ځکه یو موټروان خپل موټر ته پورته کړم، هغه راباندی د کاریګر ګمان کړې وو .. لاره کې زما لانده کالو او لاس کې بیلچې ته بار،بار کتل او سر یې په زړه سواندې انداز خوځاوه، ما هم بغیر د څه ویلو د موټر د ښېښې څخه د بیرون خواته کتل هغه سړی نور نه و، خو وېره یې تر اوسه زما په زړه کې وه او پوهېدم چې همداسې مې نه پرېږدی د نن تښته او ځغاسته یوازی د دې لوبې شروع وه ..

زر ډوله فکرونه مې ذهن ته راغلل، داسې فکرونه چې هر لوري ته تللو اخر یې زه الفا ته رسولم. دا سړی چې داسې زما دقیق آدرس درلود او زما پسې و، ایا زما د کورنۍ آدرس به ورته نه وی معلوم؟ که زه لاړ شم ایا هغوی به هدف و نه ګرځوی؟ تښتېدل ښایي ما وژغوري خو موقتي، خو زما کورنۍ خطر کې اچوی هغه هم د مرګ خطر .. زه د اول د تلو سره موافق نه وم، او اوس؟ اوس خو هېڅ امکان نه لری چې یو ګام دې لا د دې ښاره ووځم.

په همدې فکرونو کې ډوب وم. بیلچه مې لا هم کلکه په لاس کې نیولې وه، چې موټروان د موټر د هنداري څخه راوکتل.
ـ استاده، تر اوسه کار کې وې؟

د هغه په دې پوښتنه سل په سلو کې ډاډه شوم چې پر ما یې د کاریګر ګمان کړی.
لومړی مې غوښتل ووایم: نه، زه کاریګر نه یم.
خو لاس کې بیلچې او خپلو لانده کالو ته مې چې وکتل، پوه شوم که انکار وکړم
ښایي نور هم شکمن شي او دا ځل راباندی د غل یا معتاد ګمان وکړی؟!

ـ هو، کار لږ ډېر وو،نو ناوخته شو راباندی.

موټروان شاوخوا د څلور دېرش، پنځه دېرش کالو سړی ښکارېدی، خو نظر یې د زاړه سړیانو په شان زړه‌سواندی و، هر څو شېبې وروسته به یې له هنداري راکتل او بیا به یې په افسوس سر وخوځاوه، دومره یې دا کار تکرار کړ چې ما لا پر ځان زړه وسوځېدی ..!

څو دقیقې وروسته څلورلارې ته ورسېدو، ښار عادي و .. شور، دوکانونه، خلک،هر څوک په خپل کار لګیا وه، خو زما لپاره هېڅ عادي نه و.هر موټر ته مې په مشکوک نظر کتل،هر چا چې موبایل په لاس کې و داسې راته ښکارېده لکه زما راپور چې ورکوي او ما څاری ..همدې ذهني کشمکش کې مې له هنداري څخه یو تور موټر ته فکر شو، زموږ شاته راروان و. ښیښې یې تورې وې. لومړی مې د ځان سره وویل" چې هسې زما وهم دی او د وېرې اثر دی."

خو کله چې زموږ موټر لاین بدل کړ او هغه هم بدل کړ...
پوه شوم چې دا تصادف نه دی.

بیلچه مې لاس کې کلکه کړل ..

ژوره ساه مې واخیسته. دا د وېرېدلو وخت نه و.
که موټروان ته ووایم، شاید وارخطا شي.
که چپ پاتې شم، شاید ناوخته شي.
تور موټر نور هم رانږدې شو.
تر دې چې موټروان هم ورته پام شو.

– دا موټر ولې داسې راپسې دی؟

ما غوښتل څه ووایم، خو زما د خولې خلاصولو مخکې تور موټر په بې‌حده سرعت زموږ له څنګه تېر شو، د تور ښېښو له امله د موټر دننه څوک نه ښکارېدل، زموږ څخه چې مخکې شو سرعت یې کم کړ او بل سړک ته تاو شو.

بې اختیاره مې هوسا ساه واخیسته، زما پسې نه و ...
یا هم شاید غوښتل یې یوازې مې و وېروي؟

موټروان- څومره بیعقل شئ وو، دغه ځای نو د تېرېدو وو؟ نږدې وو چې ټکر وکړو ..

ما هېڅ ونه ویل،بیلچه مې کرار څوکۍ ته تکیه کړه، تر څو لږ عادي ښکاره شم. باران د ښیښې پر مخ کرښې جوړولې، ښار د ګروپونو په رڼا او د باران په هوا کې ښایسته ښکارېده، خو زه خپل په فکرونو کې غرق وم، ذهن مې د څو شپو مخکې په پرتله ګډوډ نه وو یوازې یو ډول بې حس وم ... داسې چې په فکر کې وم خو نه پوهېدم چې د څه په اړه فکر کوم؟ یوازینې شې چې پوهېدم او د زړه له تل مې غوښتې، دا وو چې کور ته ورسېږم او کرار ویده شم ... یو دروند خوب ... بغیر د کوم مزاحمت بس همدا ..

موبایل مې راوویست.
ذوالفقار څو زنګ وهلي وو.
جرأت مې ونه شو چې بېرته زنګ ورپسې ووهم. یوازې مې مسج واستوه: نږدې یم.
د ذوالفقار ځواب سمدستي راغی: پخیر راشې ..

همدومره ...
خو همدا دوه کلمې ډېرې معناوې درلودی ...
لس دقیقې وروسته د ذوالفقار د کور کوڅې ته ورسېدو.
د موټر راکښته شوم، بیلچه مې هم راواخیسته، جیب ته مې لاس کړ تر څو کرایه ورکړم خو موټروان مې لاس ونیو.

@Shuhab09

– همداسې مې راورسولې، يوازې دعا کې مې ياد ساته، څوک چې د کورنۍ لپاره په دومره زحمت حلال رزق ګټي دعا يې خدای نه رد کوی ..

دا خبره يې وکړل او روان شو، ما په حيرت ورپسې کتل، يعنې يو د سوالګر، ګدايګر ګمان چا راباندی نه وو کړې،چې نن د دی بيلچي په برکت هغه هم راباندی وشو.. هې ژوند هې .. په افسوس مې خپل ځانته سر وخوځاوه او روان شوم، باران دربدلې وو، خو تور وريځې لا هم په آسمان کې ګرځېدلې، د دې کوڅي او بلخصوص د جنرال د کور څخه کرکه لرم د کوم ورځ څخه چې دا منحوس جنرال ما ليدلی د خير ورځ مې نه ده ليدلې ...

لومړۍ هغه ليونۍ جنرال راپسې کړو چې غوښتل يې ما ټوټي،ټوټي او بوجۍ کې واچوي او اوس هم دا سپي الفا ...

ګامونه مې تېز کړل.
يو ځل مې شاته وکتل.
کوڅه خالي وه.
خو زما زړه لا هم ډاډه نه و.
کور ته نږدې شوم.
د جنرال د کور مخې ته ګروپ روښانه و.
بې اختياره مې نظر د هغه د دروازي په سر لګيدلې کمرې خواته ولاړ.
يو لحظه مې زړه وغوښتل د لاس منځنۍ ګوته مې ورته پورته کړم او ښې کنځلې ورته وکړم ..

خو نه.
نن مې نور ظرفيت نه درلود.
نه د بحث، نه د غوسې، نه د کنځلو ...
دا منحوس جنرال د مرګ لياقت لري.

یعنې زه بدبخته یې د مرګ خولې ته واچولم خو د ماموریت په لومړي لیست کې یې خپل د زوی نوم ولیکه، دا نو شین کفر نه دی؟ رشوت خور، خبیث، بې‌رحمه، اوس کاش یوازې زه په مصیبت کې وای، اوس الفا لکه سیوری نه یوازې زما بلکې زما د ټول کورنۍ پسې دی ...

کرار مې زړه کې وویل: «خدای دې تباه کړه...»

کلی مې له جېبه راوویسته.
لاس مې د یخ او سترېا له امله لړ رپېده.
یو ځل مې هڅه وکړه خو کلی سمه ننوته نه، دوهم ځل هم خطا شوه .. ځان مې کنټرول کړ، ژوره ساه مې واخیسته، دا ځل قلف خلاص شو، دروازه مې ژر وټېله او دننه شوم، څو شېبې همداسې ولاړ وم، حویلۍ نیمه تیاره و، د برنډې له ګروپ ژېړه رڼا پر لمدو خښتو لګیدل ..

لا مې دروازه پوره نه وه بنده کړې چې غږ مې واورېد:
– اخر راغلې...

مخ مې کرار وګرځاوه،ذوالفقار د برنډې په څوکه ولاړ و،لاسونه یې تر شا تړلي وو.
لکه له ډېر وخته چې دلته په تمه وو؟ سترګې یې مستقیمې زما پر لور وې.
کرار مې وویل: هو، راغلم.

ذوالفقار لږ مخکې راغې، سر تر پښو یې راوکتل، ناڅاپه سترګې زما په لاس کې پر بیلچې ولګیدل، په حیرت یې اشاره ورته وکړه.

– دا نو څه ده؟

بیلچه مې کرار د دیوال څنګ ته کېښوده.
- هېڅ ... ارزانه یې خرڅول ما هم واخیستل.

نه مې غوښتل ورته ووایم چې یو نفر تعقیب کولم، بیا زه په یو ناشنا کور ننوتلم او خپل د ساتني لپاره مې دا راوخیستل، او اوس مې هم ځان سره اوړل ..
که دا خبره مې ورته کړې وایې د هغه وروسته باید یو فاتحه مې هم د ځان پسي ویلې واې ...

ذوالفقار- ولې دې دومره ناوخته کړل؟

برنډې خواته نږدی شوم د بوټانو ایستلو حال کې مې کرار وویل: پخپل خو پوهېږې دشپې دی وخت کې څومره ترافیک وی ...

ذوالفقار څه ونه ویل.
یوازی راکتل.
لکه چې د کتلو له لاری غوښتل زما رښتیا او دروغ معلوم کړی؟

څو شېبې دواړه چوپ شو، یوازی د باران وروستي پاتي څاڅکې له چت څخه راڅخېدل ..
ذوالفقار- څو ځله مې درته زنګ وواهه ولې دې ځواب رانکړ؟

بوټان مې له پښو وویستل نیغ ودریدم خو د ذوالفقار خواته مې و نه کتل او ومې ویل: موبایل مې سایلنټ وو.

هغه کرار ساه واخیسته، زما په خبرو یې باور وشو کنه پوه نشوم، خو کرار یې وویل: څه یې درته وویل؟
- چا؟
ذوالفقار دا ځل لږ عصبي شو.
— لکه چې مغزه دی له کار ولیدلې؟ د چا لیدلو ته تللې وی؟ همغه یادوم.

- ها ... بوډا یادوی ..؟ هغه .. کوم خاص خبره نه وه همغه پخواني بحث ...
ذوالفقار- څه مطلب پخواني بحث؟

يوه لحظه چوپ شوم ..
که رښتيا ووايم نو بې له کوم شک همدا سبا مې د دی ځای استوی ..
خو که دروغ ووايم نو شايد يو شانس ولرم؟

- هغه ويل يې ...هغه کس همکاری کوی او د الفا د نيولو هيله شته ...

ذوالفقار بغير د څه ويلو زما لاس ته کتل، ناڅاپه يې وويل: دا لاس دې ولې ريږدي؟
په تلوار مې خپل لاس شا ته کړ.
- ه ... هېڅ ... ه.. هغه يخ دی.

ذوالفقار نور څه ونه ويل، يوازی سر يې وخوځاوه.
— راځه دننه، د دی موضوع په اړه به وروسته خبری وکړو ..

د ذوالفقار داسې شاتګ ته حيران شوم، ما فکر کاوه بحث به وکړي، او په زوره به زما څخه خبرې وباسي، خو هغه بې له څه ويلو روان شو. زه هم وريسې شوم. کور ته چې ننوتلم، تازه پوه شوم هغه ولې ناڅاپه غلی شو.

نظر مې پر بابا ولګېد، د دهلېز په سر کې پر نالۍ ناست و. يو لاس يې پر زنګون ايښی و او په هماغه لاس يې خپل فيروزه‌يي تسبيح تاووله، سر يې لږ ټيټ و. د دروازې په غږ يې سترګې راپورته کړې مستقيمې زما خوا وته راوکتل،په څېره کې يې هېڅ نه ښکاريدل نه موسکا، نه غوسه، نه بل کوم احساس، يوازې په دروند نظر يې راکتل ..

د هغه په داسې نظر زړه مې له وېرې ولړزېده،بايد ومنم د دومره کلونو وروسته اوس هم د بابا دا نظر وېرولم ..
ما فکر نه کاوه چې هغه دې دلته وي، البته د بابا د شتون څخه ډېر د ذوالقرنين کاکا په حضور حيران وم ..

لومړۍ شېبه حیرت مې وکړ، خو وروسته غوسه راغلل، یعنې یوه هفته مخکې زموږ جنګ تر مرګ او میر پورې ورسېدی خو اوس ... هغه دلته بیغم ناست دی ...

بې اختیاره مې پوسخند وواهه.
ذوالفقار د سترګو له کونجه راوکتل.
ما په طعنه وویل:
- عجیبه ده! ځینې کسان څومره ژر هر څه هېروي؟ لا یوه هفته هم نه ده تېره شوې.

ذوالفقار کرار، خو په ټینګار، زما نوم واخیست:
– طاها ...

خو ما خپل خبره پرېښوده.
– شرم هم ښه شی وي کنه؟

دهلېز کې چوپتیا خپره شوه.
د بابا تندی تروش شو، خو ذوالقرنین کاکا په کرار وویل:
– لکه چې زړه دې ډېر ډک دی، طاها جان؟
د هغه دا خبرې سم اور راواچاوه.
مخ مې د ذوالفقار خواته واړاوه.

هغه زما غوسه ولیده. په کراره یې وویل:
– چوپ اوسېږه.
- ولې؟ ولې چوپ اوسیږم؟ مګر رښتیا نه وایم؟

هغه خپل غاښونه په کلک یو پر بل کیخودل.
– اړتیا نشته ته څه ووایې. لاړ شه، خپل کالي بدل کړه.

دا ځل ذوالفقار ته مې هم غوسه راغلل،نه پوهېدم ولې د دومره جنګونو وروسته لا هم د دې کورنۍ سره رابطه نه پرې کوي؟

ولې هر ځل د دوی په لیدو هم خپل او هم زما اعصاب خرابوي؟
ولې یو ځل خبره نه ختموي چې ټول عمر هوسا شو؟

بیحد غوسه او عصبي وم خو ځان مې کنټرول کړ یوازې مې ژوره "اه" وویسته او غوښتل مې جنګ پای ته ورسوم چې ذوالقرنین کاکا کرار وویل:
– که زما په راتګ تر دې حده خفه یې، زه به ولاړ شم.

بابا سمدستي وویل:
– نه، داسې خبرې مکوه.
بیا یې زما خواته راوکتل.
– ځوانان .. په ځانګړې ډول د اوس وخت ځوانان، له خرو ښخه په کمه نه دي ..په خپل خبرو او کارونو نه پوهېږي، موږ مشران باید صبر او زغم ولرو ..

عصبي مې وخندل، بابا تل خپل په مثالونو کې زه د خر او نور حیواناتو سره مقایسه کولم ..
– هو، زه خر یم. ښه خبره مو وکړه. نو ښه به نه وي چې د دې خر پر اعصابو لاړ نه شئ؟ خر لغته هم غورځوي.

ذوالفقار دا ځل زما لاس کلک ونیو.
– طاها... ننوځه کوټې ته. همدا اوس.

سترګې یې بې‌حده جدي وې، ګواښ پکې و، یوه لحظه چوپ شوم ..د سترګو له کونجه مې د اشپزخانې دروازې ته وکتل، اقرا او خور یې ولاړه وه. محمد او راحیل یې په غېږ کې نیولي وو .. د دوی په لیدو غوسه مې یو دم راکمه شوه. نه مې غوښتل هغوی فکر وکړي زموږ کورنۍ بغیر د جنګ بل کوم کار نلری ... اقرا تر اوسه یوازې زموږ جنګونه لیدلي وه، لومړۍ فهیم بیا فرید او اوس ذوالقرنین کاکا ... په قران قسم دا ټول شر او جنجالونه د همدې کوره پورته کېږي.

لاس مې د ذوالفقار له لاسه ازاد کړ، او بغیر د څه ویلو خپلې کوټې ته ننوتلم.

دروازه مې تر نیمه وترله کوټه تیاره وه؛ یوازې د کړکۍ له لارې لږه رڼا راتله. لاس مې پر تندي کېښود. ذهن مې لا د تېرو پېښو له کش،مکش څخه نه و خلاص شوی چې دروازه په زور خلاصه شوه.

ذوالفقار دننه راغی او دروازه یې شاته وترله.

ذوالفقار- ته ولې داسې خبرې او کارونه کوې؟
غږ یې ارام و، خو غوسه پکې ښکاریده، ما ورته ونه کتل خو ځواب مې ورکړ:
- څه مې کړي؟
ذوالفقار څو ګامه رانږدې شو.
— څه دې کړي؟ تا د ذوالقرنین سره ولې داسې خبرې وکړې؟ هغه ستا مشر کاکا دی، احترام یې وساته.

په پوسخند مې وویل:
- احترام تل باید دوه طرفه وي ذوالفقار ..

ذوالفقار په تلوار وویل:
— هغه پر تا څه کړي؟

مخ مې د هغه خواته وګرځو، ذوالفقار مې نشو درک کولای، اخر ولې د دومره خبرو باوجود بیا هم د هغه خوا نیسي؟

- هېر دې کړل چې دوه هفتې مخکې څه وشول؟
خپل د لاس ورغوي هماغه چې فرید په چاقو وهلی و او نښه یې لا هم ښکاره وه د ذوالفقار خواته ونیو ..
- دا زخم ګوری ذوالفقار؟ دا د ده د زوی په برکت ما ته رارسیدلې، او ته وایې څه یې کړي؟

زما د لاس د زخم په لیدو د ذوالفقار تندی تروش شو، خو خپل د خبرې څخه پر شا نشو.
— اول دا چې دا زخم ذوالقرنین نه دی وهلی، دویم .. هر چا چې دا زخم درکړی تر دې سخت زخمونه خوړلي ... نو زما په نظر هر څه چې وه تېر شول، اوس ستا ستونزه څه ده؟

مخ مې ورڅخه وګرځو او د الماری خواته روان شوم چې کالي راواخلم، خو همغه حال کې په پوسخند مې وویل:
- عجیبه ده! ته او ستا ورونه هر څه ډېر ژر هېروئ ..

لا مې د الماری دروازه نه وه ترلې چې ذوالفقار کش کړم، و یې څرخولم او شا یې راته په الماری ووهل، که څه هم کلک یې و نه وهلم، خو د الماری لاستي مې په ملا ولګید او درد راغلو خو غږ مې ونه ویست ...

ذوالفقار په غوسه خپل غاښونه یو پر بل کیخودل، او په داسې غږ چې کوښښ یې کاوه د کوټې څخه بهر ونه وځي وویل:
— خبرو ته دې پام کوه طاها .. ذوالقرنین زما ورور دی، لکه څنګه چې مې فرید ته اجازه ورنه کړه زما په کور کې لالا ته بې‌احترامي وکړي، همداسې تا ته هم دا اجازه نه درکوم چې زما په کور کې هغه ته بې احترامې وکړې ... اوس هم د انسان پشان کالي دی بدل کړه او دباندی راشه د ذوالقرنین څخه بخښنه وغواړه او زموږ سره یو ځای د ماښام ډوډۍ وخوره ... او هو لیاده مه باسه د مجلس تر اخره به هم هلته یو کونج کې کښینې، پرېږده چې دوي ولاړ شي، بیا زه او ته ډېر خبری لرو ..

ذوالفقار د خبرو حال کې زما اوږه په لاس کې نیولې وه او د هر خبری سره یې زور ورکاوه .. که څه هم ډېر زور یې نه ورکاوه، خو ځکه چې زما ټپی اوږه وه، همغه چې ورباندی مرمۍ مې خوړلې وه، نو سخت درد یې کاوه خو غرور مې اجازه نه راکول غږ وباسم ...

@Shuhab09

ذوالفقار خپل د خبرو خلاصولو وروسته بغیر له دی چې ما ته وګوری، زما اوږه خوشې کړل او له کوټې ووت، دروازه یې هم داسې په کلک د ځان پسې بنده کړل چې نږدی و لځایه ووځې ... خپل اوږه مې په بل لاس ونیول او زړه کې مې ذوالقرنین کاکا ته ښه کنځل وکړل، ټول ملامت هغه و، که هغه نن نه وای راغلی نو ذوالفقار به داسې نه وایې غوسه شوی، خو چې لږ مې فکر وکړ نو ما هم چندان ښه چلند د هغه سره و نه کړ ..

ذوالفقار رښتیا ویل، ذوالقرنین کاکا تر اوسه په ښکاره ماته کوم زیان نه و رارسولې. که په پټه یې کوم کار کړی وی د هغه څخه نو خدای خبر دی، خو په ظاهر ما ورڅخه کوم بد نه وه لیدلې، نو دا حق نه و چې داسې بداخلاقې ورسره وکړم ... کالي مې بدل کړل او په نالې څملېدم، زړه مې نه غوښتل ژر مجلس ته لاړ شم،فکر مې ګډوډ و، نه پوهېدم څه سم دي او څه غلط؟ خلک په دوه لارو کې بند پاتې کېږي، خو زه داسې وم لکه په زر لارو کې چې بند پاتې یم.

یوازینی ښه چانس مې چې په دی بدبختیانو کې راوړی وو، هغه دا و چې بابا او نور خپلوان د اصلي موضوع څخه نه وه خبر، ذوالفقار هېچا ته څه نه وو ویلي، بابا ورڅخه د ناڅاپه کور بدلولو پوښتنه کړې وه، ذوالفقار هم ټول تور پر فهیم اچولی و او ویلې وه د هغه له لاسه مې کور بدل کړ چې سبا ورځ د هغه په خرتوبي زما ګریوان څوک و نه نیسې، او خپل د مات تندی په اړه یې هم ویلې وه چې شفخانې ته تلو لاره کې موټر ټکر وکړ ... البته تر یوه حده یې خبره رښتیا هم وه... موټر ټکر کړی و، خو پخپله یې نه و کړی ...

البته د ذوالفقار زړه غوښتل بابا ته رښتیا وواېې خو ما په زارۍ د دی کار څخه منع کړ، نو ځکه ذوالفقار مجبور شو زما لپاره دروغ وواېې ..

ما بابا ډېر ښه پېژنده، که هغه د دې موضوع په اړه خبر شوی وای نو هېڅ کوم خاص مرسته یې نکول، یوازې ما ته خوله نیول، کنځل یې کول او ویل یې: ته تل همداسې ساده او خـر یې ...

شاید یو ساعت همداسې بې هدفه پروت وم او چرتونه مې وهل، چې دروازه کرار خلاصه شوه او اقرا دننه راغله، د سترګو له کونجه مې وروکتل چې رانږدې شوه او زما تر څنګ کښېناسته، څو شیبې همغسې ناسته وه بیا یې کرار زما لاس پخپل لاس کې ونیو او ویې ویل:

– بوږۍ تیاره ده نه راځې؟

زړه مې غوښتل ورته ووایم: "نه، نه راځم."خو د ذوالفقار هغه خبرې او له بلخوا د اقرا شتون د «نه» ویلو جرات رانه واخیست، هغه لږ نور هم رانږدې شول او بیا کرار یې خپل لاس زما په ویښتانو کې تېر کړ،هماغه یوه شېبه داسې وه لکه یو نوی ساه مې چې وجود ته راغلې وی ... ټول ذهني کشمکش، ټول فشار، کرار، کرار رانه لیرې شو. سترګې مې بې اختیاره پټې شوې.

اقرا هم شاید زما آرامېدل احساس کړه، ځکه نور یې هم خپل د لاس لمس ډېر کړ، هماغسې کرار، کرار یې زما په ویښتانو کې لاس تېرو او په نرم غږ یې وویل:
– طاها... مجلس ته چې لاړې، خپل د پلار او ذوالقرنین کاکا مخې ته بد اخلاقي مه کوه، خبرې په ارام هم کېدای شي.

که اقرا دا خبرې څو دقیقې مخکې کړې وای، شاید غوسه شوی وای،خو اوس ...
اوس د هغې خبرې د نصیحت څخه ډېر د یو ښکلې ترنم پشان ښکارېده، څو شېبې هماغسې پروت وم، تر دې چې اقرا خپل لاس زما د ویښتیانو څخه لېرې کړ او ویې ویل:
– پاځېږه، هغوی په تمه دي، زه چې راتلم سرخان هوار و...

کښیناستم او دا ځل ما د هغې لاس پخپل لاس کې ونیو، تر اوسه ډېنګره وه، د هغه لعنتې مرضتیا وروسته یې سم وزن نه وو اخیستې ..

بې له دې چې فکر وکړم و مې پوښتل:
– ستا په نظر زه بد خاوند یم؟

د هغې سترګې زما په داسې ناڅاپه پوښتنه د حیرت راووتل.
— دا نو څنګه پوښتنه ده چې ته یې کوې؟
- رښتیا ووایه،ستا په نظر زه دومره جرات نه لرم چې یو کور اداره کړم؟

هغې زما لاس کلک ونیو.
— ته همدا اوس هم یو کور اداره کوې طاها ..! دا څنګه خبرې دی چې ته یې کوې؟
کوم چا درته څه ویلي؟
کرار مې وویل:
- تاسو انجونو هغه سړیان خوښېږي چې ځواکمن وي ... خبره او عمل یې یو وي. خو زه... زه داسې نه یم ...، غوسه مې خپل لاس کې نه ده، خپل د حق څخه دفاع نشم کولای، کله، ناکله نه پوهېږم څه سم دی او څه غلط؟ کله،کله داسې احساس کوم اقرا چې ... چې ستا لیاقـ ...

خبره مې لا نه وه خلاصه کړې چې هغې خپل لاس زما پر خوله کېښود.
اقرا- بس دې ... ته و خدای داسې خبرې مه کوه.

د هغې سترګو ته مې وکتل چې په بې حد جدیت یې زما خواته راکتل.
اقرا- ځواک دا نه دی چې څوک ډېر چغې وهې او څوک ډېر کنټرل کوی؟ ډارن او بې جرئت اصل کې هغه سړي دي چې ښځه یې لړه مریضه شي، د پلار کور ته یې پرېږدي او وایي: "ستاسې لور ده، تاسې یې علاج وکړئ." دا سړیان ډارن دی .. دوی د یو کور د اداره کولو نه دي .. خو تا... تا زما لپاره ځان مسافر کړ .. زما لپاره مصیبتونه او ستونزی دې تېر کړل، خو هېڅکله ...

هېڅکله دی ما ته دا احساس رانکړ چې پر تا بار یم ... ته هره ورځ کوښښ کوې چې زه او محمد ښه ژوند ولرو، همدا مسئولیت دی، همدا ځواک دی، ته د ډېر هغه سړیانو څخه چې یوازی د" نـر" نوم ځان سره لری ځواکمن او با جرئت یې طاها .. هېڅکله دا خبره ونکړې چې ته زما لیاقت نلری ... که خبره د لیاقت راشې زه ... زه ستا لیاقت نلـ ...

دا ځل ما یې خبره ورپرې کړل، چې هغې خپل شونډې یو پر بل کلکې کړل، داسې لکه په دی کار چې غواړې خپل ژړا کنټرول کړی؟ او بیا یې وویل: خپل د پلار خبرې دې په زړه مه نیسه، هغه ستا سره ډېره مینه لري، خو خپل د مینې ښودل یې نه دي زده ..

په پوسخند مې د هغې خوا ته وکتل او ومې ویل:
- بابا او زما سره مینه؟ هغه زما د رنګ لا بد راځې ..

اقرا په تلوار وویل:
— نه، داسې نه ده، هغه ستا سره ډېره مینه لري، ته چې نه وې راغلی دومره یې ستا پوښتنه د ذوالفقار اوخښې څخه وکړل چې هغه په تنګ راغلو او له کوټې ووت، د هغه د تلو وروسته یې محمد غیږ کې واخیست او هره دقیقه یې پوښتنه ترې کوله: بابا دې چېرته دی؟ څه کوي؟ ښه دی که نه؟ دومره ډېر یې دا پوښتنت د محمد څخه وکړل چې هغه هم حوصله ختمه شوه او زما پسې اشپزخانې ته راغی.

له ځایه پاڅېدم، او و مې خندل، خندا مې زیاتر د غوسې او تمسخر وه نه د خوشحالی.
- ته ضرور غلطه پوه شوې یې ... بابا زما دومره پوښتنې د ډېر مینه کولو له سبب نکوی ...؟ هغه تل پر ما شکمن دی او فکر کوي کله چې نه یم، نو مطلب ضرور په یو غلط کار پسې تللې یم ...

هغې غوښتل څه ووایي، خو ما یې خبره پرې کړه.
- ته لاړه شه، زه هم درپسې درځم ..

اقرا ځو شېبې په چوپتیا کې راوکتل لکه چې غوښتل یې کوم څه ووایې؟ خو بیا بغیر د څه ویلو کرار لځایه پاڅېده او له کوټې ووتله ...

د هغې د تلو وروسته کوټه بېرته چوپه شوه، یعنې بابا د رښتیا ما ته اندیښمن وو او زما پوښتنه یې کول؟ یا که بیا د پخوا پشان پر ما شکمن وو؟ کلې کې چې وم بابا تل

همداسې کول، يوه دقيقه که به ناوخته کور ته راغلم زر کنځل او سپکې سپورى به يې راته کول، تل به پر ما شکمن وو او فکر به يې کاوه چې زه چرس،سګريټ او هر غلط کار چې نړۍ کې موجود دى کوم؟

کله ناکله تر دې حد به شکمن کېده چې په نيمه شپه به زما کوټې ته راتلو او زما د کالو جيبونه به يې تلاشي کول! تر څو وګورى کوم نشه يې مواد خو نشته راسره؟ او موبايل ... هغه خو کفر وو ... کفر ... يعنې ما تر اتلس کلنې موبايل نه درلود لومړۍ موبايل راته ذوالفقار واخيست ... ځکه بابا دا عقيده درلود که زه موبايل ولرم نو زه به د انجونو سره خبرى وکړم؟ او د هغه څخه لا جالب دا چې د بابا دا ټول شکونه او پابنديانې يوازى پر ما وه ...

طاهر ته يې هېڅ نه ويل، په څو بجو ځې؟ په څو راځې؟ اصلا مهم نه وه ورته خو زه ... اوه،اوه که زه يو دقيقه ناوخته کور ته راغلې وايې کور نه وو د کربلا ميدان وو او بابا هم نه وو شمر ذوالجوشن وو ...

(شمر ذوالجوشن هغه کس وو چې د حضرت حسين"رض" ماشوم زوى چې تازه پيدا شوى وو په غشې وويشت او شهيد يې کړو، نو زياتر خلک کله چې غواړى يو کس ته د ډېر ظالم خطاب وکړى وايې فلانکي داسې دى لکه شمر ذوالجوشن)

ژوره ساه مې واخيسته، د پخوا فکرونو مې خپل د ذهن څخه لېرى کړل،خپل موبايل مې چارچ ته کيخود او بيا کرار له کوټې ووتلم ...

دهليز ته چې ننوتلم، د لوښو ټک، ټک مې د اشپزخانې څخه واورېد. قدمونه مې درانه وو، داسې احساس مې کاوه لکه د ډوډۍ خوړلو له ځايه د اعدام ميدان ته روان يم.

بابا د دسترخوان په سر کې ناست و، ذوالقرنين کاکا يې راسته لاس او ذوالفقار يې چپ خواته ناست وو. خبرې روانې وې، خو همدا چې زه يې وليدم ټول يو دم چوپ شول. يوې شېبې لپاره هېچا څه ونه ويل،ما کرار سلام واچو.

د ټولو نه مخکې ذوالفقار ځواب راکړ او خپل څنګ ته یې اشاره وکړه. زه هم بغیر له څه ویلو د هغه څنګ ته کېناستم. بابا او ذوالقرنین کاکا داسې زما د سلام ځواب راکړ لکه مچۍ چې بنګ،بنګ کوي، هغومره کرار او بې خوند.

اقرا د اشپزخانې څخه د اوبو جګ په لاس راووتله، همدا چې دسترخوان ته نږدې شوه ما یې له لاسه جګ واخیست. هغې سترګې راپورته کړې او را ویې کتل، په هماغه یوه نظر پوه شوم چې غواړي ووایي: زما خبرې هېر نه کړې، بد اخلاقي او جنګ به نه کوی.

بې له څه ویلو مې سر ورته وښوراوه. هغې هم جګ خوشې کړ او د دسترخوان آخر سر کې د خپلې خور او ماشومانو سره کېناسته. ذوالفقار چې مثلاً میزبان( کوربه)و، د قورمې قاب، مېوه او وچ ډوډۍ د بابا او ذوالقرنین کاکا خواته نږدې کړل او ویې ویل:

— بسم الله کړئ، ډوډۍ واخلئ.

د هغه په غږ کرار،کرار ټول په ډوډۍ خوړلو لګیا شول، ما هم لاس وغځاوه، خو اشتها مې نه وه. یوازې د دې لپاره چې د چا فکر راته نه شي او بیا څه ونه وایي، د دروغو یو دوه ګولۍ مې واخیستل.
بابا په عادي غږ وویل:
— کارونه مو څنګه دي ذوالفقار؟

بابا د جمع صیغه وکارول،مطلب زه یې هم یاد کړی وم، خو ما کوم خاص غبرګون ونه ښود.

ذوالفقار وویل:
— الحمدلله، روان دي، ګوزاره کېږي.

بابا- له کاریګرانو سره دې څنګه یې؟

لړ مې سر پورته کړ، د بابا مخامخ نظر مې پر ځان ولید، له کاریګرانو څخه یې مطلب زه وم. نظر مې د اقرا خوا ته لاړ چې په اندېښنه زما خواته کتل. د هغې خبره مې ذهن کې راوګرځېده: بد اخلاقي مه کوه. ژوره ساه مې واخیسته او بېرته خپل بوډۍ خوړلو ته لګیا شوم.

ذوالفقار- ښه دي، هر یو په خپل کار کوښښ کوي.

ذوالقرنین کاکا په خندا وویل:
– اورېدلي مې دي چې کاریګران دې ټول ماشاءالله د طاها جان رقم ځوانان دي؟

زړه کې مې د هغه ځواب ورکړ: اې مرګ او درد طاها جان، دا طاها جان دې ستا سر وخوري، ما د جان د لفظ سره حساسیت درلود، البته د حساسیت څخه ډېر دا لفظ راته منحوس ښکارېده ...

ذوالفقار- هو، زیاتره یې ځوانان دي، البته دومره کاریګر هم نه لرم، پنځه شپږ نفر دي.
ذوالقرنین کاکا په هماغه خندا وویل:
– هر څومره چې وي، زما په نظر د ځوانانو سره کار کول سخت دي، هغوی تل خپل رأی او منطق مني.

نیم نظر مې د هغه خواته واچوه. دا اوس زه پر غوړ ووهلم. غوښتل مې ځواب ورکړم چې بابا وویل:
– ټول ځوانان هم بې عقل نه وي ذوالقرنین، بعضې په خپلو خبرو او کارونو نه پوهېږي.

د بابا په دې خبره فضا یو دم خاموش شوه، لکه چې ټول زما له خوا د یو نامناسب غبرګون په تمه وو. خو ما یوازې پوسخند وواهه او خپل بوډۍ خوړلو ته مې دوام ورکړ.

ذوالفقار د ماحول بدلولو هڅه وکړه او محمد یې مخاطب کړ او ویې ویل:
– کوچني شیطان تا نن بیا زما لوری وهلي وه؟ مګر ما تاته هغه وار ونه ویل که بیا زما لور ووهې دوکان ته دې نه ورم؟

محمد چې د اقرا غیږ کې ناست وو بغیر له دې چې د ذوالفقار د خبری په مطلب پوه شې یوازی له دی چې ذوالفقار د ځغه نوم اخیستي وو او هغه ته یې غږ کړی وو په خوشحالۍ وخندل، د هغه پخندا د څو شیبو لپاره فضا لږ د جنګې حالت راووتل، او یو ځل بیا ټول په ډوډۍ خوړلو لګیا شول، خو ذوالفقار هر څو شیبې وروسته د سترګو له کونج زما خوا ته راکتل، اقرا که څه هم چوپه وه خو سترګو کې عجز او زارۍ وه، بابا او ذوالقرنین کاکا چې هر ځل خبری کول د هغې سترګي زما خواته راوړیدل ...

زه په ظاهره چوپ ناست وم، خو دننه مې طوفان و، زړه مې غوښتل خوله خلاصه کړم او ښه سم جنګ جوړ کړم، خو عقل مې ویل: یو نن د اقرا لپاره چوپ پاتې شه، همدا ستا چوپ اوسیدل خپل غټ ځواب دی ...

ډوډۍ وخوړل شول اقرا په تلوار سرخان ټول کړو او چاي راوړل، خو زه لا هماغسې د ذوالفقار څنګ ته ناست وم، بابا د چای پیاله پورته کړه، یو غوړپ یې ورڅخه وکړ او بیا بغیر له دې چې زما خوا ته وګوري وویل:

– د سړي عمر چې زیاتیږي باید فکر او عقل یې هم ورسره زیات شي.
د بابا داسې پټ طعنو ته چې زه یې پر غوږ وهلم هم خندا راتلل هم غوسه.
ذوالقرنین کاکا د بابا په خبره نمایشي وخندل او کرار یې وویل:
– د ځواني بل نوم لیونتوب دی لالا! موږ هم داسې وختونه تېر کړي، خو وخت هر سړی په عقل راوړي.

بابا سر وخوځاوه او بیا په همغه طعنه لرونکي انداز یې وویل:
– تېزي او لیونتوب که په دی وخت کې مهار نه شي ذوالقرنین ... نو داسې تاوان

@Shuhab09

رسوی چې ټول عمر یې بیا جبران نه کېږی.

بابا خپل د خبری اخر کې زما خواته راوکتل، ما هم مخامخ وروکتل خو د بابا نظر داسې نه وو چې زه فکر وکړم دا خبره دې هغه ماته کړې وی؟ عجیب وه خو ما داسې احساس کاوه چې د بابا د دی خبری مخاطب اصل کې یو بل کس دی نه زه؟

د محمد په غږ د بابا څخه مې نظر واخیست، هغه په خوشحالۍ او خندا له هغه کوټې چې اقرا دوي پکې ناست وه راووت او زموږ خواته راروان شو، داسې راروان وو ته وا دا ټوله کوټه چې د ده وي، زه د هغه تګ ته لږ ورخطا وم، ځکه شاوخوا د چایو پیالي،ترموز او بله(روښانه) بخاري وه وېرېدم چې ځان ونه سوځوی،خو هغه بیغم پخندا ځان تر ذوالفقار راورسو او نه سلام نه کلام د هغه په زنګون وخوت .. ما په حیرت ورته کتل باور مې نه کیدو د کوم وخت محمد دومره د ذوالفقار سره عادت شوی وو؟ ذوالفقار خپل یو لاس د هغه شاته ونیو چې ونه لوېږي.

محمد په خوږه لهجه ورته وویل: تاتا دوکان ته دو؟(کاکا دوکان ته ځو؟)

د هغه دې خبری ته خندا هم راغله او حیرت مې هم وکړ، محمد سم صحیح خبری کولای شول، یعنې د ژبي فصاحت او بلاغت یې زما څخه ډېـــر وو ... خو پدرلعنت له قصد کوچني خبری کول! یعنې لومړۍ ځل چې اقرا راته دا خبره وکړل هېڅ مې باور رانغلو خو ... باید ومنم دا نمونه خدای خبر د چا خواته تللې چې د همدی کوچني عمر څخه داسې چهارصد بیست او مکرجن جوړ شوی .. ولاکه نه زه داسې چلباز یم نه هم اقرا، خدای خبر دا چا ته تللې چې داسی نخره باز راغلې؟

ذوالفقار د هغه په خبره کرار وخندل او ویې ویل: ماندیګر مې دوکان ته ویوړې، نو د نن لپاره دی نمبر خلاص شوې، بیا سبا دی ورم.

ما فکر کاوه چې محمد به د هغه ورځ پشان چې ما ورته "نه" وویل او هغه بې شرمې او ژړا شروع کړل بیا به همغه کار وکړی، خو هغه په بیحد حیرت کې سر لاندی واچو

او د ذوالفقار خبره يې ومنل، دا ځل نو رسماً د حيرت مې سترګي راووتل، زما خبره يې هغه ورځ ونه منل خو د ذوالفقار ده يې ومنل؟

محمد چې د دوکان تللو څخه ناميد شوی وو، خپل د وخت تېرولو لپاره يې د ذوالفقار په ږيرې کې لاس وهل شروع کړل، خپل په کوچني ګوتو باندی د هغه د ږيرې ويښتانو تاوول او بيا کش کول ..
ما په تلوار ورباندی غږ کړل:
– مکوه محمد ...
محمد زما خبرې ته د مچۍ د بنګهاری اندازه لا ارزښت ورنکړ، اصلاً زما خواته ولا نکتل چې ما څه وويل کنه؟
خو ذوالفقار د هغه لځايه ځواب راکړ:
– پرېږده، ماشوم دی.

د ذوالفقار په تاييد محمد لا ليکۍ وکړل او شوخ شو. کله به يې د ذوالفقار په ګريوان کې لاس ننباسلو، کله به د هغه په سينه پورته، ښکته کېدلو، کله به يې ورته د سر ويښتيان اخوا، ديخوا ګډوډ کول، خلاصه لګيا وو هر کار چې زړه يې غوښت همغه يې کاوه، او ذوالفقار ... ذوالفقار يوازی خپل لاس د هغه شاته نيولي وو، تر څو ونه لوېږي، يعنې زه چې پلار يې وم او راباندی د ځان لا ډېر ګران وو، زړه مې غوښتل محمد راونيسم او ښه جوړ يې ووهم خو ذوالفقار ...

يعنې هېڅ باور مې نه راتلو هغه او دومره صبر او حوصله؟ کوټه کې موجود هيڅا څه نه ويل بابا خپل چاې څښل او کله ناکله د سترګو له کونج يې د محمد او ذوالفقار خواته کتل، ذوالقرنين کاکا هم خدای خبر په کوم فکرونو کې ډوب وو چې هېڅ يې نه ويل او دوه سترګي خپل د چای پيالي ته نيولې وو..

ناڅاپه د محمد فکر د ذوالفقار د لاس ساعت ته شو، د هغه د سيني څخه راښکته شو او د هغه لاس يې ځان خواته کش کړ، ذوالفقار هم بغير د کوم ممانعت خپل لاس د هغه خواته ونيو، محمد د هغه د لاس ساعت ته په کتو کرار وويل: دا څسې دی؟(دا

ښځې دی؟)
ذوالفقار پخندا وویل: دا ساعت دې،ولې تا ساعت نه دی لیدلې؟

خو محمد د ذوالفقار د توضیح ورکول مخکې خپل په هوښیارتیا او البته د ذوالفقار په مرسته د ساعت بند د هغه له لاسه خلاص کړ، لومړۍ د ذوالفقار په تقلید ساعت خپل لاس کې واچو خو ځکه چې ساعت یې په لاس باندی غټ و نو لکه چې خوند یې ورنکړ؟ خپل د لاس یې راوباسو او مخکې له دی چې موږ پوه شو څه پر څه دی؟

په یو انتحاری حرکت کې یې د ذوالفقار ساعت د هغه د چایو پیالي ته واچو، زما سترګي له حیرت راووتل، پوهېدم چې اوس به نو یو جانانه ټک محمد جان خوری او که رښتیا ووایم خفه نه وم پر وهلو یې، ځکه زما په نظر حق یې وو چې ذوالفقار یې ووهې، خو ذوالفقار خپل پیالې چای ته وکتل بیا یې محمد ته چې په خوشحالۍ د ذوالفقار خواته دوه سترګي نیولې وه، او ته وا یو غټ هنر یې کړی او اوس د شاباس په تمه دی وکتل او یوه ژوره ساه یې واخیسته چې محمد په خندا وویل:
– پاک تووو (پاک شو)

د هغه په دی خبره ناڅاپه ذوالفقار په قهقهه باندی پخندا شو، محمد یې خپل غیږ کې کلک ونیو او ویې ویل: زما ساعت خیرن و چې تا وایې پاک شو؟ هـــوم؟

او بیا بغیر له دی چې د محمد ځواب ته په تمه شې، خپل لوند ساعت چې چای ورڅخه څڅېدل د چاي پیالي څخه راوویست، زما خواته یې راوکتل او ویې ویل: معاش دی ولاړی کم شو.

زه چې تر اوسه د ذوالفقار دې نوی ورژن ته حیران وم،په ګنګس حالت مې وویل: ها؟ څه؟
ذوالفقار خپل ساعت زما ومخ ته وښوراوه او پخندا یې وویل: زوی دی زما ساعت خراب کړ، د دی تاوان ستا په تنخوا کې ګرځوم ...

د ذوالفقار خندا ما ته هم خندا راوسته او ومې ویل: پر ما یې څه؟ ما لومړۍ کې ورته وویل"مکوه" خو تا ویل پرېږده ماشوم دی؟ اوس هم هر کار چې کړی نوش جان یې. خپل ګناه دی وه ... او هو ته زما د پیسو څخه یوه روپې کمه کړه زه دربانډی شکایت کوم ...

زما په دی خبره د ذوالفقار خندا لا ډېره شوه او ویې ویل: شکایت؟ پر چا کوی شکایت؟ لکه چې لیاده دی وتلې رئیس دی زه پخپل یم؟

پخندا مې غوښتل ځواب ورکړم چې ذوالقرنین کاکا خپل ستوني صاف کړ، داسې لکه چې غواړی کوم خبره وکړی؟ د هغه په دی کار نه یوازی زما بلکې د ذوالفقار د شونډو مسکا هم ورک شوه.

بابا کرار خپل تسبیح تاوو کړل، زموږ څخه یې نظر واخیست او د ذوالقرنین کاکا خواته په کتو شو.

ذوالقرنین کاکا په کراره وویل:
– زه او لالا نن شپه د دې لپاره راغلې و چې ووایو کوم خبری او کارونه چې څو ورځې مخکې وشول هغه باید پای ته ورسو .. دومره کینه او حسد ښه نه دی، موږ د یوه کورنۍ غړې یو ..

د ذوالقرنین کاکا په دی خبری ما بې اختیاره پوسخند وواهه، چې بابا بد،بد راوکتل. د یو کورنۍ غړې یو؟ یعنې د هغه شرمونکي او رسوا کوونکي جنګ وروسته ما توقع درلود تر یو څو میاشتو د دې بنې اسرائیل قوم څخه غوړونه مې په کراره وی، خو دوي په دویم ورځ روغې جوړی ته راورسیدل عجیب ده ..

ذوالفقار کرار د محمد په ویښتیانو کې لاس تېر کړې او ویې ویل:
– موږ بې له شک چې یو کورنۍ یو ذوالقرنین، او زه زړه کې هېچا ته کینه او حسد نلرم، هر څه چې و تېر شو خو هېر مې نه دی ..
ذوالقرنین کاکا د لومړۍ ځل لپاره لږ غوسه شو او ویې ویل:

– زما زوی تر اوسه په بستر پروت دی،لاس او سر يې مات دي، خو مرور هم ته يې او لياده دې هم نه دی وتلې؟ فکر نکوی زموږ د راتلو لځايه ته بايد هلته راغلې وايې او خپل د هغه شپي د کار په اړه دې ورڅخه بخښنه غوښتلې واې؟

د ذوالقرنين کاکا په دی خبره زما خوله له حيرت خلاصه پاتي شوه، هغه غوښتل ذوالفقار لاړ شي د فريد څخه بخښنه وغواړی؟ جرئت مې نکو د ذوالفقار خواته وګورم پوهېدم چې د ډېر غوسي څخه اوس د انفجار حال کې دی ..

خو دا خبره مې هېڅ نشو هضم کولای نو ځکه و مې ويل: يعنې ذوالفقار راشي د فريد څخه بخښنه وغواړی؟

بابا- محمد طاها ...! ته چوپ اوسېږه.

د بابا په داسې جدی غږ چې زما نوم يې واخيست، خوله مې بنده شوه، او په غوسه مې خپل غاښونه سره وچيچل، په دی نفس تنګ او عصاب خرابونکي فضا کې د محمد کار باندی مې بې اختياره خندا راغله، هغه فکر وکړ چې بابا هغه ته ناری کړل کله چې ويې ويل"محمد طاها" نو ځکه خپل سر يې لږ کوږ کړ "ها" يې وويل او بابا ته په کتو شو، دومره په خوږ انداز يې دا کار وکړ چې د بابا په شونډو لا نرۍ مسکا راغله ...

خو د ذوالقرنين کاکا په خبره هغه فضا ډېر ژر لمينځه ولاړل.

ذوالقرنين- زه دا نه وايم چې څوک په سم و او څوک په غلط و؟ هر څه چې وو ستا خبره تېر شو، زه يوازی وايم کينه زړه کې مه ساته او راشه زموږ کور ته او ...
ذوالفقار په غوسه د ذوالقرنين کاکا خبره پرې کړل او ويې ويل:
– راشم ستا کور ته او ستا د زوی بخښنه وغواړم؟

ذوالقرنين کاکا چې د ذوالفقار جنګي حالت وليد په تلوار يې وويل: نه .. زه دا نه وايم چې ته راشه بخښنه وغواړه، زه وايم راشه خبری وکړه، تا هغه ورځ د خبرو

لځایه جنګ وکړ، ستا دا کار هېڅ ښه نه دی ذوالفقار ... تاسو ماشومان نه یاست چې خپل خبرې د وهلو او کنځلو له لارې حل کوی، خدای تاسو ته ژبه درکړې نو خپل خبره په ژبه وکړې، نه په کنځلو او وهلو.

ذوالفقار په غوسه او طعنه وویل:
— هو زه ژبه لرم او ښه خبرې کول مې هم ورباندی زده، خو بدبختانه چې ستا زامن د خبرو په ژبه نه پوهېږی ...
ذوالقرنین کاکا په عصبي لهجه وویل: نو وهې؟
ذوالفقار په کلک وویل: هو، کله چې په خبرو نه پوهېږی نو وهل به خوری ...

بابا په کلک د ذوالفقار نوم واخیست، فضا دومره درنه وه چې محمد لا خپل په هغه کوچني عقل احساس کړل، په کراره د ذوالفقار له غېږ پاځېد او په کوم لاره چې راغلې وو لاړ، ذوالفقار په غوسه خپل ویښتیانو کې لاس تېر کړ، زه بې څه ویلو ناست وم، چې ذوالقرنین کاکا ناڅاپه وویل:

— او ته، طاها ... ته پوهېږې چې د دې ټولو جنګونو اصلې جرړ ته یې ..

ما د ذوالقرنین کاکا دا خبره هضم کړې لا نه وه ځواب ورکول خو لا لرې چې ذوالفقار په غوسه ځواب ورکړ: خپل د زامنو غلطیاني په طاها مه اچوه.
ذوالقرنین کاکا هم د ذوالفقار پشان په غوسه وویل: زه د یو نفر غلطي پر بل نفر نه اچوم ذوالفقار، خو دا د رڼا ورځ پشان ښکاره ده چې تا د طاها لپاره فرید وواهه او دا لومړې ځل نه دی چې ته دا کار کوی ...

ذوالقرنین کاکا رښتیا وویل،که هغه ورځ زه نه وایې ذوالفقار فرید دومره هم نه واهه، هغه زما په خاطر فرید وواهـ، دا فکر مې لا کامل ځان سره نه وکړې چې د ذوالفقار په خبره حیران شوم.

ذوالفقار عصبي وخندل او ویې ویل: صحیح وایې، ته د یو نفر غلطي پر بل نفر نه اچوی ذوالقرنین خو ...(په کلک یې وویل: خو خپل د زامنو په غلطیانو سترګې

پټوی، ما فرید د طاها په سر ونه واهه، شاید نامناسب وخت مې د وهلو لپاره انتخاب کړی وو، چې تاسو داسې فکر وکړ چې ما فرید د طاها په سر ووهلو؟ خو نه ... ما فرید د طاها پخاطر ونه واهه ...

طاها خپل دومره زور لري چې خپل حق د فرید څخه واخلي، ما فرید په هغه خبرو او کارونو وواهه کوم چې ته ورڅخه ډېر ښه خبر يې(د ذوالفقار په دی خبره د ذوالقرنین کاکا رنګ وپرېد) نو مه نور زما خوله خلاصه وه او مه هم ما ته نصیحت کوه، ما ته د نصیحت کولو لځایه لاړ شه خپل زوی ته نصیحت وکړه، ځکه بل ځل داسې نه وهم چې په بستر څملې(ذوالفقار د قاتلانو پشان په ګواښونکې لهجې وویل: داسې وهم چې مستقیم یو ملاقات د عزرائیل "ع" سره وکړی ...

د ذوالفقار په دی خبره ما حیرت وکړ خو دومره نه، ځکه ذوالفقار تل ګواښ کاوه، زما حیرت د بابا په غبرګون وو، هغه د شونډی لاندی کرار وخندل او خپل تسبیح وارول! لکه چې د ذوالفقار دا خبرې ښه خوند ورکړی وو؟ او د هغه څخه لا جالب د ذوالقرنین کاکا غبرګون وو .. د هغه رنګ یو دم وپرید او داسې وډار شو لکه ذوالفقار د رښتیا غواړی فرید ووژني؟

ذوالفقار- نـو زما دا خبرې خپل د زوی تر غوږو ورسوه او ښه يې سر خلاص کړه ... او هوو زړه دی هم جمع ونیسه ذوالقرنین ..کور ته دی درځم، څه وکړو اخر وینه او غوښه مو هغه کور کیده، ستا خبره یوه کورنۍ یوو اخـر ...

د ذوالفقار ټول خبری د ګواښ په انداز وه، البته ځینې داسې وه چې زه يې هېڅ په معنا پوه نشوم،خو ذوالقرنین کاکا لکه چې ډېر ښه د ذوالفقار د خبرو مطلب واخیست چې خپل د جنګي حالت پر شا شو او په کراره يې وویل: ستا خبری صحیح دی ذوالفقار او وهل دی هم حق دی،چې د کاکا په صفت خپل وراره یو څپېړه ووهې، خو دا جنګ او جګړه نه باید ستاسو زړونو کې کینه او بغض واچوی، فرید جاهل دی،بیعقل دی، که یو نامناسب کار او خبره يې وکړل ته بیا مشری وکړه او د خبری څخه يې تېر شه ...

ذوالفقار بغیر د څه ویلو سر وخوځاوه نه پوهېږی ولې، خو داسی احساس مې درلود لکه دوي دواړه چې په رمز او راز خبرې کوی؟ یعنې احساس مې کاوه اصل موضوع کوم بل څه وه خو ذوالفقار او ذوالقرنین کاکا د زبیر خبره: جلسه پشت درهای بسته کې خپل خبره خلاصه کړل داسې چې زه هېڅ پوه نشوم اخر خبره څه وه؟

بابا او ذوالقرنین کاکا یو ساعت نور هم ناست وه، خو نور د کوم داسې موضوع په اړه یې خبرې ونکړل چې زموږ عصاب خراب کړی، زیاتر د سیاست او اقتصاد بحث وو د یو ساعت وروسته بلاخره د تلو اراده یې وکړل او لځایه پاځېدل. ذوالفقار څو ځله دواړه ته دشپي پاتي کېدلو ست وکړ خو بابا وویل: نه، ذوالفقار یو بل وخت به پاتي شو اوس کور کې څوک نشته انجوني یوازی دی.

ذوالفقار- ولې طاهر چیرته دی؟
بابا خپل د پېتو راخیستلو حال کې وویل: خپل ښځه یې وړې د پلار کورته ..
ذوالفقار سر وخوځاوه.
— نو لږ صبر شې چې زه موټر راوباسم.
بابا- نه، ضرورت نشته ما او ذوالقرنین کرار،کرار تر سړک ځو بیا هلته یو موټر نیسو.

غوښتل مې ووایم د شپي دي وخت کې موټر ژر نه پیدا کیږی، خو ښه وو زما د ویلو مخکې ذوالفقار دا خبره وکړل او بیا بغیر له دې چې د بابا ځواب ته په تمه شې د کور ووت تر څو خپل موټر روښانه کړې، د هغه د وتلو سره سم ذوالقرنین کاکا او بابا هم د دهلیز ووتل، زه هم د شرم او البته د ادب په پـار ورپسې ووتلم.

بابا ښکته شو، خپل بوټونه یې اغوستل، چې ذوالقرنین کاکا یې څنګ ته ودرېد او کرار، داسې چې ما په بېحد زحمت یې غږ اورېد بابا ته یې وویل:
— اصل خبره خو مو ذوالفقار ته ونکړل.

د ذوالقرنین کاکا په دې خبره بې‌اختیاره مې غوږونه تېز شول، څه مطلب اصل خبره؟

بابا خپل یو بوټ پر پښه کړ، د دویم د راخیستلو په حال کې یې د ذوالقرنین کاکا په شان کرار وویل:
— زموږ سره راځې نو وخت شته د ویلو لپاره.

ذوالقرنین کاکا- یعنې موټر کې ورته ووایم؟

بابا- نه، موټر کې دا بحث مه راخله. ذوالفقار عصبي سړی دی، غوسه به شې او خدای مکړه کوم ټکر مکر به وکړي. کله چې ورسېدو، زه یې د چای خوړلو لپاره خپل کور ته بیایم، بیا هلته ورته ووایه.

د دې خبرې وروسته یې سر راپورته کړ، چې نظر یې پر ما چې د جاسوسانو په شان دوی ته ځېر وم او د دوي خبرو ته مې غوږ نیولی و ولګید، یعنې دومره په جاسوسي انداز ولاړ وم چې بابا لا کرار وخندل، د هغه په خندا په تلوار مې خپل ځان سم کړ او داسې مې ځان ونیو لکه زه چې هېڅ خبر نه یم چې تاسو څه وویل؟ البته، د رښتیا هم خبر نه وم چې څه یې وویل؟ خو دومره پوه شوم چې هره خبره چې ده، یو اړخ یې په ذوالفقار تړاو لري او دوی وېرېږي چې هغه غوسه نشي.

یعنې څه خبره ده؟

څو شیبې په چوپتیا کې مې د بابا خواته وکتل، هغه هم بې له څه ویلو زما خواته کتل، داسې ښکارېده لکه کومه خبره چې غواړي وکړي، خو ویلې نشي؟ زما نظر یې چې پر ځان ولید، کرار یې وویل:
— سبا بیکار یې؟

یو څو لحظې چوپ شوم، بیا مې د بابا په شان کرار وویل:
— د غرمې وروسته بیکار یم، کوم څه شوي؟ خیرت دی؟

بابا نظر د حویلې د دروازې خواته واړاوه، چې ذوالفقار لګیا و موټر یې کوڅې ته باسه او ویې ویل:

– که بیکار یې، کور ته راشه.

همدومره. یوازې همدا یوه جمله یې وویل، کله چې زما ځواب یې وا نهورید، د سترګو له کونجه یې راوکتل او زیاته یې کړه:
– مور دې درپسې خفه ده.

د ادې د نوم په اورېدو لږ ورخطا شوم. دا څو وخته دومره په خپلو ستونزو کې ګیر وم چې ادې مې یو دم له یاده وتلې وه.
- خفه؟ ولې؟ څه شوي وربانديې؟ ښه ده؟ مریضه خو نه ده؟
بابا- نه، مریضه نه ده. یوازې لږ خفه ده. وايي زوی مې راڅخه لیرې شوی او کور ته نه راځي.

بابا دا خبره لږ په غوسه ناکه لهجه وکړه، خو زه پوه نه شوم چې د هغه دا غوسه اوس پر ما ده که پر ادې؟

ذوالقرنین کاکا بابا ته ناری کړل، څکه ذوالفقار موټر روښانه کړې و او بابا ته په تمه وو، د هغوی په لیدو بابا هم روان شو، خو د تلو مخکې زما خواته راوکتل،داسې کتل چې نه پکې غوسه وه او نه هم قهر.

– که بیکار وې، راشه.

د بابا دا "که" لفظ ډېر دروند و. د هغه په دې لفظ کې درخواست و. یعنې لومړی ځل زما په ژوند کې د بابا په لهجه کې امر نه وو! بلکې غوښتنه وه.

کرار مې سر وخوځاوه او ومې ویل:
– ګورم.

بابا یوه شېبه ودرېد، داسې لکه چې کوم بل څه هم غواړي ووايي؟ خو ځان یې ونیو او د سر په خوځولو موټر ته پورته شو.

@Shuhab09

ذوالفقار د تلو مخکې سر د موټر له ښیښې راوویست او ویې ویل:
— د کور دروازه بنده کړه. ما ته هم مه په تمه کېږه، زه کیلي لرم، هر وخت چې راغلم، خپله دروازه ځان ته خلاصوم.

د سر په خوځولو مې د ذوالفقار خبره تایید کړه او کور ته ننوتلم.

اقرا دوې د چای پیالې او ترموزونه د دهلیز څخه ټول کړي وه، او زموږ د کوټې ګروپ هم روښانه وه. کله چې ننوتلم، اقرا محمد ویده کړی و او خپله یې هم څنګ ته څملېدلې وه.

د نن ماښام د خبرو وروسته لږ ذهن مې ارام و. فکر مې کاوه نیم بوچ مې د اوږو څخه لیرې شوی. اقرا شاید په ظاهره یوازې ماته دلداری راکړل، خو د هغې خبرو دومره زما زړه ارام کړ او زما ذهني کشمکش یې لمینځه ویوړ چې حد یې نه درلود. خپل ځای کې څملېدم او که څه هم ذهن مې د ذوالقرنین کاکا خبرو کې ګیر پاتې و او بیحد مې زړه غوښت چې پوه شم هغوی ذوالفقار ته څه ویل غواړي، خو دومره ستړې وم چې ذهن مې د ډېر فکر کولو اجازه رانکړل او ډېر ژر سترګې مې ګرمې شوې او ویده شوم.

سهار د اقرا په غږ چې ویل یې:
— ولاړ شه، لمونځ دې قضا شو...

سترګې مې خلاصې کړې.

لومړی شی چې د پاڅېدو سره سم مې ورته پام شو، د ستوني بېحد درد و، چې لاړی مې لا نه شوای تېرولای. وریسې د بدن درد او بیا بېحد ستړیا... لکه چې د باران لاندې پاتې کېدو مریض کړی وم؟

په پټو سترګو او بېحد زحمت مې اودس وکړ او بېرته کوټې ته راغلم. نه پوهېږم څنګه مې لمونځ ادا کړ او ځان مې تر خپل ځای راورساوه او ویده شوم.

دویم ځل چې اقرا غږ وکړ، زړه مې حتا نه غوښتل سترګې خلاصې کړم. خو د ذوالفقار غږ چې له دهلیزه راتلو، مجبور کړم پاڅېږم.

غوښتل مې لاړ شم او ورته ووایم چې نن مې طبیعت ښه نه دی او غواړم کور کې پاتې شم. خو همدا چې دهلیز ته ورسېدم، ذوالفقار تیار او آماده ولاړ و. زه یې چې ولېدم لږ ورخطا او اندېښمن شو.

ذوالفقار- څه دربانډی شوی؟ دا ولې داسې یې؟

په زحمت مې د خولې لاړې تېر کړل او ومې ویل:
- فکر کوم د باران لاندې د پاتې کېدو له امله یخ وهلې یم، بیخې د ولاړېدو توان لا نه لرم. نو نن ماته اجازه راکړه غواړم لږ ارام وکړم.

ذوالفقار په تروش تندي وویل:
— څه مرمۍ خو دې نه ده خوړلې چې اجازه غواړې، یو ساده زوکام دی، هسې بهانې مه کوه طاها .. شابا راځه.

— باور وکړه، ذوالفقار، د تلو نه یم. بېحد یخ مې کېږي، زړه مې غواړي کرار ویده شم. دومره هم ظالم کېږه مه. اصلاً د دې اجازې تنخوا راته د میاشتې اخر کې کمه کړه، خو پرېږده چې ویده شم.

ذوالفقار په دروند نظر راوکتل بیا په کرار یو دوه ګام رانږدې شو او په داسې غږ چې یوازې زه یې واورم ویې ویل: زه پوهېږم ستا مرض څه دی، خو که ځان د ځمکې او آسمان هم ووهې بیا دی هم زه نن ورم او درته پاسپورټ اخلم، نو بیځایه بهاني مه راوړه او د انسان پشان راځه ...

د ذوالفقار په دی خبره تازه د هغه لعنتي پاسپورټ او نور خبرو ته مې فکر شو، ناروغتیا د یوی شیبې لپاره ټول شیان راڅخه لیاده ویستلې وه.

دا ځل نو د رښتیا مې غوښتل کوم بهانه راوړم او د تلو څخه انکار وکړم، خو د ذوالفقار تروش تندی او دروند نظر پوه کړم چې هر څومره که د هغه خبره ځان د ځمکې او آسمان ووهم، کوم ګټه نه لري او ذوالفقار که په رضا ونشو په ګواښ مې وړي، په دی فکر "اه" مې وویست او بېرته کوټې ته لاړم چې کالي بدل کړم. بدن مې بیحد ګرم او دروند وو، خپل ځان مې صحیح نشو نیولې، هر حرکت مې په زحمت کاوه، یعنې یو یخ وهلو او ساده زوکام تر دی حد کمزوری کړم؟

خپل موبایل مې د چارج راوباسه او بغیر له دې چې روښانه یې کړم جیب ته مې کړ او له کوټې ووتلم، ذوالفقار وختې موټر باسلې و او ما ته په تمه و، د اقرا سره مې خدای پاماني وکړل او بې له څه ویلو موټر ته وختم. زما د پورته کیدلو سره سم ذوالفقار د موټر ښیښې پورته کړې او د موټر بخاری چالان کړل، د ګرم هوا په لګیدو لږ مې ښه احساس وکړ، خو لا هم سر مې دروند او بدن مې ستړی وو.

د پرون باران له امله کوڅه لنده معلومېده، د اوبو کوچني ډنډونه لا هم د ولې(نلې) پر غاړه ولاړ وه. ذوالفقار بې له څه ویلو موټر روان کړ. ما د ښیښې خواته خپل تکیه سمه کړل، د بخارۍ د ګرمې هوا باوجود بدن مې لړزېده. همدا چې د کوڅې سر ته ورسېد، نظر مې مخامخ په یو تور لنډ کروزر ولګید چې د کوڅې سر کې د سړک غاړې ته ولاړ و. ښیښې یې تر نیمې تورې وې او انجن یې چالان معلومېدې ځکه سپین دود ورڅخه کرار ،کرار پورته کېدې ..

لږ ورخطا شوم کله چې د موټر څنګ ته په جنرال مې نظر ولګید، لاسونه یې تر شا نیولې وه او داسې ښکاریدی چې د یو چا انتظار باسې؟ څنګ ته یې یو ځوان هلک هم ولاړ و چې ما په لومړي نظر وپېژندی، د جنرال زوی و. هغه مور ته نه کتل خو د درېدو له حالت یې معلومیدل چې هر ناڅاپه پیښې لپاره تیار او اماده دی، حالت یې نظامی و او ما ګمان وکړ چې دا به همغه زوی وی کوم چې بوډا ویل نوم یې جنرال لیست کې لیکی تر څو کوم رتبه ورکړی.

په دی فکر بې اختیاره مې تندی تروش شو او کرار مې وویل:
- ذوالفقار ...

غوښتل مې ورته جنرال وښایم، خو هغه لکه چې زما څخه مخکې هغه لیدلې و چې په تروش تندی ورته کتل، لنډ کروزر ته چې نږدې شوو، جنرال لاس پورته کړ او د دریدو اشاره یې وکړه.

ذوالفقار بریک وواهه، موټر لږ مخکې ودرېد، بیا یې کرار شاته کړ تر دی چې د هغوی د موټر په برابر ودریدی، خپل د خوا ښیښه یې نیمه راښکته کړه او په درونډ غږ یې وویل:
— څه خبره ده؟

جنرال بې له دې چې د ذوالفقار پوښتنې ته ځواب ورکړي، یو ګام زموږ موټر ته رانږدې شو. سترګې یې مستقیم زما پر خوا وه.

جنرال- طاها... راښکته شه. یو دوه دقیقې درسره کار لرم.

د هغه غږ لوړ نه و، خو زما اوږی و پرېدل.
د جنرال په خبره ذوالفقار په تلوار وویل:
— څه کار لرې ورسره؟

جنرال بې له دې چې زما څخه نظر واخلي ذوالفقار ته ځواب ورکړ:
— مه وېرېږه، نه یې خورم، یوازې خبرې ورسره کوم.

ما د موټر دروازی خواته لاس یوور، غوښتل مې ښکته شم او پوه شم دا منحوس جنرال څه ویل غواړي. خو لا مې دروازه نه وه خلاصه کړې چې ذوالفقار لاس راڅخه کلک ونیو او په غوسه یې وویل:
— کښینه، ځای کې دې.

بیا یې په همغه غوسه د جنرال خواته مخ وګرځاوه او یې وویل:
– هر خبره چې لرې همدلته یې وکړه.

د ذوالفقار په دی کار جنرال په غوسه وخندل او یو قدم نور هم د موټر خواته رانږدې شو، د لنډ کروزر انجن لا هم کرار غږ کاوه. د هغه زوی د موټر څنګ ته بې‌حرکته ولاړ و، خو سترګې یې اوس نېغ پر موږ وې.

جنرال زما سترګو ته ځیر شو او په کلکه یې وویل:
– بهتر به دا وي چې نور د نقیب دفتر ته لاړ نه شې ... او دې موضوع ته هم ځان راکش نه کړې. پرېږده چې قانون خپل کار وکړي، زه د هغه یو شرط هم نه منم.

له "هغه" نه پوه شوم چې اشاره یې چاته ده، نو ځکه پوسخند مې وواهه او ومې ویل: قانون؟ د دولت قانون یادوې که خپل قانون؟

جنرال بې له کوم غبرګونه راوکتل.
– قانون، قانون دی طاها. اوس که هغه قانون زما وي که د دولت، فرق نه کوي. ته یوازې له دې موضوع څخه لرې اوسېږه. که خبر شوم زما د اجازې پرته تـا یا هم نقیب کوم کار کړی...

لږ د ښیېښې خواته راټیټ شو او په ګواښوونکې لهجه یې وویل:
– هغه وخت بیا زه پوهېږم او تاسو ..

ذوالفقار په تونده لهجه وویل:
– ګواښوې؟

جنرال په پوسخند خپل سر شاته کړ او ویې وویل:
– زه او ګواښ؟ نچ ... یوازې مې ورته یادونه وکړه، بس.

ما بې له څه ویلو د هغه مکارې خبرې ته کتل. دومره خبیث انسان، باور مې نه راتلو.

ذوالفقار په همغه تونده لهجه وویل: ضرورت نشته تاسو ورته څه یادونه وکړئ، طاها نه د چا سره کار لري او نه يې هم دفتر ته ورځي، او تاسو هم همداسي وکړی نور د طاها شاوخوا و نه ګرځي ..

د ذوالفقار په اخره خبره د جنرال تندی لږ تروش شو، خو سر يې وخوځاوه او ويې ویل: ډېر ښه خبره ده، خدای دي وکړي همداسې وي، که هغه زما کار کې کار ونلری زه هم ورسره کار نلرم ..

د دې خبرې سره شاته شو او خپل لنډ کروزر ته لاړ. زوی يې دروازه ورته خلاصه کړه. څو شېبې وروسته د موټر دروند انجن غږ پورته شو او لنډ کروزر کرار زموږ له څنګ تېر شو.

ذوالفقار هېڅ ونه ویل، یوازې يې د موټر ښیښې پورته کړې او په یو وحشتناک سرعت يې موټر روان کړ.

څو متره لا نه وو تللي چې ذوالفقار یو دم بریک وواهه، موټر د سړک غاړې ته ودرید، دومره ناڅاپه يې بریک وواهه چې نږدی و زه په سر باندی د ښیښې سر ولږیږم په زور مې ځان ونیو، ذوالفقار بې له دې چې څه ووایي، مستقیم زما خواته راوګرځېد. په سترګو کې نه غوسه وه او نه هم جنګ یوازی شک ...

ذوالفقار- طاها ... یوه پوښتنه کوم خو رښتیا راته ووایه، ته بیا څه کړی؟

د ذوالفقار لهجه دومره درنه وه چې ما په بند،بند ژبه وویل:
- ه... هېڅ .. م ... ما هېڅ نه دی کړی ..

ذوالفقار لږ رانږدې شو.
— نو دی ولې پخپله راغلی؟
- ن ... نه یم خبر ..

ذوالفقار په غوسه خپل غاښونه سره کلک کړل او ويې ويل:
– ما ته دروغ مه وايه.
په تلوار مې وويل: ما دروغ نه دی ويلې.

ذوالفقار ژوره ساه واخيسته، څو شيبې بيرون وکتل د هغه وروسته زما خواته راوګرځيد او په نرمه لهجه يې وويل: ګوره طاها ..زه اوس يو دم کرار يم، نه غوسه يم، نه هم قهر، کرار او ارام يم نو رښتيا راته ووايه، ته چې پرون د بوډا دفتر ته لاړی هغه څه درته وويل؟ څه شوی؟ تاسو دواړو څه کار کړی چې د ده تر غوږ رسېدلی او داسې په رڼا ورځ راغلې او تا ګواښوی؟ تا مګر ماښام ما ته ونه ويل چې هغه کس راضي شوی تر څو همکاري وکړي؟ او هيله شته چې الفا ونيسي؟ نو جنرال اوس څه ويل؟

زړه مې غوښتل هر څه رښتيا ورته ووايم او خپل ځان د دې عذاب راحت کړم، خو پوهېدم که اوس رښتيا ورته ووايم، نو هغه پوهېږی چې ماښام مې ورته دروغ ويلې وه، نو شک يې نور هم پر ما زياتېږي، نو ځکه د هغه بل ځل کار مې وکړ نيم رښتيا او نيم دروغ مې ورته وويل داسې چې په کراره مې پرېږدي ..

- هو، هغه کس منلې وه چې همکاري وکړي، يوازې يو دوه شرطونه يې درلودل.
ذوالفقار- شرط؟ د څه شرط؟
- دومره خطرناک شرطونه نه وه، خو جنرال يوازې د بهاني پسې دی هغه نغواړې اصل الفا ونيسې هغه يوازی غواړې خپل نوم نيک کړي، نو ځکه د هغه کس شرطونه يې و نه منل.

ذوالفقار بيا وپوښتل: شرط يې څه و؟

که ويلې مې وای شرط يې زما سره خبرې کول وه، نو پوهېدم چې غوسه کيده، او بوډا ته يې بد رد ويل .

- هغه .. ولاکه نه پوهېږم، بوډا یوازې راته وویل شرط لري، نور یې ونه ویل چې څه شرط لری؟ خو دومره یې وویل چې شرط یې آسانه دی که جنرال یې ومنې ..

ذوالفقار څو شېبې راته په ځیر وکتل. داسې دروند نظر چې زما ساه یې سینه کې بنده کړه. خو څو شېبې وروسته بې له څه ویلو یې موټر روان کړ.

شرکت ته چې ورسېدو، ذوالفقار بې له دې چې څه ووایې موټر تم کړ او ښکته شو، زه هم ورپسې ښکته شوم، سړه هوا چې مې پر مخ ولګېده بې اختیاره مې بدن ولړزېد. ذوالفقار د سترګو له کونج راوکتل خو د څه ویلو بغیر شرکت ته ننوت، زه هم په سترې ګامونو ورپسې ننوتلم، زبیر نه ښکارېدو لکه چې تراوسه نه و راغلې، ذوالفقار خپل د دفتر خواته روان شو، ما هم غوښتل خپل د میز خواته لاړشم چې هغه غږ کړل.

ذوالفقار- زما دفتر ته راشه ..
زړه مې غوښتل ورته په زاریو ووایم" ته وخدای خپل جنایي پوښتني د نن لپاره بس کړه" خو کله چې هغه مې ولاړ ولید مجبور خواته یې ورغلم او کرار مې وویل: بیا څه وایې ذوالفقار؟ د کور څخه خو دی په زور راوړم، دلته خو مې په کرار خپل کار ته پرېږده ..

ذوالفقار - دننه شه.
- خو زه کار لـ ..
ذوالفقار دا ځل په کلک وویل: وایم دننه شه طاها، د کار لپاره په دی خانه خراب شرکت کې نور کسان شته.

دومره په کلک یې دا خبره وکړل چې له وېرې مې اوږې وېرېدل، او په تلوار دفتر ته ننوتلم، تر څو د دی څخه نور غوسه نشي، نن مې هېڅ د وهلو طاقت نه درلود، د زبیر خبره پارچه،پارچه وم، ذوالفقار د دفتر دروازه وتړل او بغیر د څه ویلو د دفتر کونج کې د ګازي بخارۍ خواته لاړ، ټیټ شو بخارۍ ته یې اور واچو او څو شېبې په تمه

شو تر څو بخارۍ ښه سره شي، کله چې ښه ګرم شول نو یو څوکۍ د بخارۍ څنګ ته کېښودل او زما خواته یې مخ راوګرځو.

— راشه کښېنه.

هم حیران شوم او هم خندا راغله. یعنې هر کار کې باید غوسه وکړي؟ په څوکۍ کښیناستم. د بخارۍ ګرمه تودوخه چې راباندې ولګېده، بې اختیاره مې ځان وغځاوه. ذوالفقار خپل کورتي وویستل او د څوکۍ شا ته یې واچول، بیا بې له څه ویلو له دفتره ووت.

فکر مې وکړ شاید کوم کار لري، خو څو دقیقې وروسته پتونس په لاس کوټې ته راننوت. پتونس یې زما مخې ته په فرش کېښود او خپل د میز پر لور روان شو.

ذوالفقار- یو دوه ګولۍ ډوډۍ وخوره، وروسته له هغه پاکټ نه یو ګولی واخله، تبه دې شکوي...

سترګې مې په پتونس او د هغه دننه شیانو باندې ښخې شوې، او کرار مې وویل: دومره هم مریض نه یم چې ته مې دومره خیال ساتې، هسې ساده زوکام دی.

هغه د میز له مخ څو کاغذونه واخیستل او د کتلو په حال کې یې وویل: شاید ساده وي، خو که پام ونه کړې، سینه بغل کېږي.

چوپ شوم، کله چې داسې مهربان او ارام کېده، زړه مې غوښت هر څه رښتیا ورته ووایم، خو پوهېدم دا ارامي موقتي ده، که په حقیقت خبر شو ... د دې فکر په کولو لا بدن مې له ډار ولړزېد ما ذوالفقار ښه پېژانده، که خبر شوی وایې ما ورته دومره دروغ ویلې ژوندی نه پرېښودلم.

په پتونس کې یو کوچنۍ ترموز، یوه پیاله، دوه ګرمې ډوډۍ، یو کوچنی قاب مربا او د ګولیو یو پاکټ ایښي وو. یوه پیاله چای مې ځانته واچول او لږ ډوډۍ مې

@Shuhab09

راوخیسته.

- د مربا نه مې بد راځې،کاش د دی لځایه دی بل شې راوړی وایې ..

ذوالفقار د سترګو له کونج نیم نظر راواچو.
— پوهېږم، خو دا د دې لپاره نه دي چې ځان موړ کړې، یوازې یو دوه ګولې وخوره چې معده دې تشه نه وي. په خالې معدې دوا خوړل تاوان لري، زبیر ته مې ویلي چې غرمې ته یو سم شی راوړي.

- رښتیا و دې ویل زبیر .. زبیر چیرته دی؟ ما د راتلو وخت کې ونه لید.
ذوالفقار- د سروي لپاره مې استولی.
- په دې سهار وختې؟
ذوالفقار- هو، پرون یو کاریګر یو دواخاني ته دوا ورکړې وه، خو رسید یې نه و ورڅخه اخیستی. نن چې د پیسو پسې تللی، دواخاني والا منکر شوی او وایي" ما دوا نه ده اخیستې نو د څشې پیسې درکړم؟ "

په افسوس مې سر وخوځاوه، رسید نه اخیستل تل همداسې لانجې جوړول
- د څو روپو دوا وه؟
ذوالفقار- دوه، درې سوه ډالره ..
- اوو دا خو ډېر پیسي دي ... زبیر دې اوس همغه دواخانې ته استولی؟
ذوالفقار- اهوم.
- ته څه فکر کوی؟ ستا په نظر پیسې به ورڅخه واخلې؟

ذولفقار پخندا وویل: نه پوهېږم، خو زبیر ډېر ډاډه و، ما هم ورسره شرط ولګوې، او ومې ویل که پیسې دی راوړې نو زه هغه کاریګر کوم چې دا غلطي یې کړې د کاره نه لرې کوم.

په خندا مې وویل: فکر کوم شرط دی وبایلې ذوالفقار ... زبیر په دې کارونو کې ډېر ماهر لاس لري.

ذوالفقار- ته فکر کوی زبیر ورڅخه پیسې اخیستلې شې؟

خپل د چای پیالي څخه مې ځو غړپ وکړل، د چای تودوخې بدن راګرم کړ، ذوالفقار تراوسه زما خواته راکتل، د هغه د نظر په لیدو په خندا مې وویل: ته فکر کوی پیسې نشې راخیستې؟ هغه زبیر دی .. زبیر ... هغه بل شرکت کې چې و زبیر تل بغیر د رسید اخیستلو پیسې راټولول ..

ذوالفقار په جدی لهجې وویل: هلته منطقه او خلک اشنا وه، څوک منکر کېدلې نه شول، خو دلته مور څوک نه پېژنو که منکر شي څه ورباندی کوی؟

د ډوډۍ یوه وچه ټوټه مې ماته کړه.
- شاید... خو زبیر هم ساده نه دی، ښه خلک تاو را تاو کوی.

ذوالفقار د سر وخوځولو حال کې کرار وویل: وبه ګورو.

او بیا خپل په کار لګیا شو، ما هم ډوډۍ خلاصه کړه، ګولی مې وخوړه. او ځکه چې نرم او ګرم ځاې مې په ګیر راغلې و نو غوښتل مې د یو څو شېبو لپاره خپل سترګې پټې کړم او ویده شم، خو په څوکۍ خوب نه کېده. څوکۍ مې لرې کړه او د بخارۍ مخې ته په فرش کیناستم.

خو فرش یخ و. شاوخوا مې وکتل، نظر مې د ذوالفقار په کورتي ولګېد چې خپل په څوکۍ اچولې وه، کرار ولاړ شوم او را وامې خیسته، ذوالفقار بیرون و د کاریګرانو سره یې خبرې کولې، غږ یې ټیټ ټیټ راتلو، کورتي مې په فرش هوار کړل او وربانديې څملاستم. د بخارۍ ګرمې او څه ناڅه د هغه ګولې اثر و چې کرار،کرار مې سترګې پټې شوې او ویده شوم ...

نه پوهېږم څومره وخت به ویده وم، خو د خبرو غږونو خوب رامات کړ.

زبیر- پاپمن یې چې طاها دې د کار لپاره نیولی؟
ذوالفقار په کرار خو کلک لهجه وویل:
– هیس... په کراره. څه چغې وهې؟ نه ګورې ویده دی؟

زبیر په خندا وویل:
– شکر سترګې لرم او وینم چې ویده دی. خو وایم ولې دلته ویده دی؟ که مریض و، کور کې به دې پرېښی وای. دا چې په خپله غېږ کې دې دفتر ته راوستی او دلته دې ویده کړی... نور کاریګران به څه وایي؟ وایي به خپل د وراره کار پر موږ کوي او هغه ته مفت معاش ورکوي.

ذوالفقار په غوسه وویل:
– بد کوي هر څوک چې داسې خبره کوي. چا دا خبره کړې نوم یې راته ووایه چې همدا اوس یې له کاره رخصت کړم.

زبیر خپل اوږې پورته واچول.
– ما ونه ویل چې چا کړې. ما ویل، زړه کې به یې داسې راوګرځي.
ذوالفقار- بد کوي چې زړه کې هم داسې خبره راګرځوي. زه د طاها کار پر هغوی نه کوم. هر څوک خپله برخه کار کوي او خپله تنخوا اخلي. طاها که کار کوي او که نه، پر هغوی هېڅ تړاو نه لري. نو بېځایه منافقت مه کوه، زبیره.

زبیر لږ په غوسه وویل:
– زه منافقت کوم؟

د ذوالفقار د ځواب مخکې ما وویل:
- هو، ته منافقت کوې.

زما په غږ دواړه راوکتل.
ځاې کښیناستم او ومې ویل:
- زه دې خبرې ته حیران یم، چې ته زما ملګری یې که دښمن؟

زبير په خندا زما خواته راغی:
– زه ستا اصلي ملګری یم. هغه متل دې نه دی اورېدلی؟ وايي: دښمن به دې وخندوي دوست به دې وژړوي. زه هم همغه ستا ښه دوست یم، ځکه دا خبرې درته کوم.

بې له څه ویلو مې وروکتل، چې زبیر د ذوالفقار خواته مخ واړاوه:
– وګوره، همدې لپاره وایم ډېر ناز مه ورکوه. اوس یې ته نخرو ته وګوره... دا کچکول سر یې وګوره، بیا یې ته دې ناز او کرشمو ته وګوره...

په غوسه مې پر اوږه وواهه:
– خپل به کچکول سر یې .. ما څه ناز پر تا کړی چې هره دقیقه وايې ناز ته یې ګوره، ناز ته یې ګوره؟ ها؟

زبیر په ډراماتیکه لهجه وویل:
– اوو خدایه ما واخله! دا ناز نه دی نو څه دی؟ خلک شرکت ته د مزدورۍ لپاره راځي، خوله تویوي، زحمت باسي... او ته؟ ترموز چای، ګرم بخاری، ګرمه ډوډۍ، او کرار خوبونه وهې! دا لا ناز نه دی؟ اصلاً دا ټول ملامت ذوالفقار دی. د هغه له لاسه داسې شوی یې. یو دوه ورځې زما سره اوسه، نر درنه جوړوم.

په خندا مې وویل:
– خدایه توبه! څوک و چا ته وايي نر درنه جوړوم؟ اخر زمانه ده... ته لاړ شه لومړی خپله ږیره پرېږده چې خلک دې د ښځو په جمع کې حساب نه کړي، بیا راشه د نرتوب خبرې وکړه.

زبیر پر خپلې خرېلې ږیرې لاس تېر کړ او په شیطانه خندا یې وویل:
– څه وکړم مجبورې ده، که ږیره پرېږدم د ظالم لور مچ نه راکوي، وايي ږیره دې راباندې چوخیږي ...

د زبیر په دی خبره د شرم له لاسه تک سور شوم. زړه مې غوښت ځمکه خوله خلاصه کړې او زه پکې ننوځم. په ټیټ غږ مې وویل:
- ډېر بې ادبه یې، زبیر ...
زبیر په همغه شیطان خندا وویل: وې .. خو دلیل مې درته وویلو چې ولې ډېره اخلم؟ دې کې نو بې ادبي څه ده؟
- خوله دې بنده کړه.

زبیر په مضریت وخندل او ویې ویل: ولې؟ تاته دا خبری نه کوي ..

ذوالفقار په درنه لهجه د هغه خبره پرې کړل او ورباندی غږ یې کړل.
– زبیر ... بس یې کړه.

زبیر بلاخره غلی شو. باور مې نه راتلو، خو ناممکنه هم نه وه. زبیر تل داسې بې ادبه خبرې کولې، خو د ذوالفقار مخې ته لږ یې احتیاط کاوه، خو اوس لکه چې د ذوالفقار شخه یې هم حساب نه ورو.

ذوالفقار زما خواته راوکتل:
– څنګه یې اوس؟

نظر مې له زبیره واخیست او کرار مې وویل:
- ښه یم.

زبیر په پوسخند وویل:
– خود به ښه یې. ګرمه کوټه، ګرم بخاری، ګرمه ډوډۍ...

ذوالفقار بې له دې چې د هغه خبرې ته کوم توجه وکړي، سر یې وخوځاوه:
– ښه نو پاڅېږه، چمتو شه.
- ها؟ چېرته؟
ذوالفقار- د پاسپورټ ریاست ته. لیاده دې ووتل؟

د پاسپورټ نوم چې مې واورېد، د څو شېبو مخکې ښه حال مې له منځه لاړ.

ذوالفقار پرته له دې چې زما خواته وګوري، د دروازې پر لور روان شو، خو د وتلو مخکې یې وویل:
– زما کورتی هم درسره راواخله، زه موټر چالان کوم. او زبیر لیاده دې لاړ نشې هر پنځه دقیقې وروسته پر کاریګرانو یو چکر ووهه. ډېر ټنبلان شوي که څوک یې په سر ولاړ نه وي هېڅ سم کار نه کوي.

زبیر په خندا نظامي سلام وواهه:
– په سترګو، مشره. امر مو پر ځای کېږي.

ذوالفقار کرار وخندل او لاړ.

د زبیر د خوشحال لهجې څخه ښکارېدل چې پیسي راوړی، غوښتل مې ورځخه وپوښتم څنګه دې ورځخه پیسي واخیستل؟ خو د پاسپورټ اخیستلو هر څه لیاده وباسل، اوس څه وکړم؟ زړه مې تېز درزېده.

زبیر زما خواته راغی:
– ولې داسې خفه ناست یې؟
ژوره ساه مې واخیسته.
- زما هېڅ زړه نه غواړي لاړ شم.
زبیر- بیا دې خپل د پرون خبرې شروع کړې؟
- زبیر ..

هغه په تیز نظر راوکتل او په غوسه یې وویل:
– مرګ زبیر او درد زبیر .. بیا څه مرګ دی؟ زه نه پوهېږم طاها اخر ته څه چینجې لرې؟ ولې نغواړی لاړ شې؟

@Shuhab09

څو شېبې چوپ شوم. د زړه خبرې مې په ستوني کې بندې وې. باید له یو چا سره مې د زړه خبره کړې وای، کنه د ډېر فکر له لاسه لیونی کېدلم. او تر ټولو مناسب کس، زما په نظر د اوس لپاره زبیر و...البته که خوله یې بنده ساتلې وای او ذوالفقار ته یې څه نه وای ویلي.

زبیر خپل سر لږ کوږ کړ
— ها؟ څه دي؟ ولې د بزی پشان راګورې؟
- یوه خبره غواړم درته وکړم خو .. ډاډه نه یم چې راز ساتلی شې که نه؟

د "راز" د کلمې په اورېدو د زبیر خندانه څهره ناڅاپه جدي شول، زما ترڅنګ کښیناست او په ټیټ غږ یې وویل:
— څه شوي طاها؟ د څه راز ؟
- لومړی قول راکړه چې ذوالفقار ته به څه نه وایې، دا خبره دې یوازې زموږ ترمنځ پاتې شي... سمه ده؟

زبیر لږ ورخطا شو.
— سمه ده خو... نه پوهېږم قول درکړم که نه؟ هسې نه داسې خبره وی چې ذوالفقار باید حتماً وربانډی خبر شي؟
- نه .. که هغه ته ویل غواړې، نو هېڅ نه درته وایم.

غوښتل مې پاڅېږم، خو زبیر لاس راواچاوه او بېرته یې کښېنولم او په تونده لهجه یې وویل: ښه، سمه ده. چاته نه وایم. اوس ووایه، څه مرګ دی؟

د هغه اندېښمنې څېرې ته مې وکتل. د زړه دروزا مې لا پسې تېزه شوه. بیا مې د پرون ماښام کیسه ورته پیل کړه، د هغه کس په اړه مې ورته وویل کوم چې زه تعقیب کولم، بیا د هغه څخه تښتېدل او تر نن سهار د جنرال ناڅاپه راتلل...

تر پایه زبیر بغیر د څه ویلو په چوپتیا کې زما خبری اورېدلې،کله چې مې خبرې خلاصې شوې هغه په ورخطایۍ وویل:

— یعنې ستا پسې و؟
- هو.
زبیر- د هغه له لاسه په باران کې پاتې شوی او ناروغ شوې؟
کرار مې سر وخوځاوه، چې ناڅاپه هغه کلک پر سر ووهلم.
- اخ! ولې وهل کوی؟

زبیر په غوسه وویل:
— ته عقل لرې که نه؟ یو نفر ستا پسې وي، ته یې تعقیبولې، که په لاس ورغلې وای، خدای خبر څه به یې درسره کړي وای، او تا دا خبره د ذوالفقار څخه پټه کړې؟ ته ولې د خرو پشان کارونه کوې؟

له دې چې زبیر اصل موضوع نه درک کول غوسه راغلل.

- سمده دا زه یې خر او ته یې هوښیار صحېح شو؟ اوس ته دا فکر وکړه که هغه کس زما دومره دقیق آدرس درلود، ایا ستا په نظر زما د کورنۍ معلومات به ورسره نه وی؟

زبیر غلی شو، چې ما دوام ورکړ.
- زه الفا شاید پوره ونه پېژنم، خو دومره پوهېږم چې له حیوان څخه په کم نه دی. که زه ستاسو په خبره د دې ځایه لاړ شم، سل په سل ډاډمن یم چې تاسو او زما کورنۍ هدف ګرځوي، او زه نه غواړم زما د کارونو او غلطیانو له امله پر تاسو کوم څه وشې ... که داسې وشول، قسم دی زه خپل پر ځان یو بل راوړم ...

زبیر په تنده لهجه وویل:
— خوله دې بنده کړه! داسې کوم څه نه کېږی، وګوره تر اوسه ستا په کورنۍ هېڅ کوم څه نه دي شوي، نو دا هسې ستا وېره او وهم دی.
- کوم څه نه دې شوی، ځکه زه لا تر اوسه همدلته یم.

زبیر زما سترګو ته وکتل،دا ځل یې غوسه لږه کمه وه، لکه چې تازه زما اندیښنه یې درک کړې وه؟ ځکه په فکر کې ډوب ښکاریدی.

زبیر- نو اوس څه وکړو، طاها؟
- که زه پوهېدلې نو له تا مې مشوره نه اخیسته نابغه صیب.
زبیر لږ موسکی شو، خو ژر جدي شو.
— راځه ذوالفقار ته هر څه ووایو، ډاډمن یم هغه یوه لاره پیدا کولای شې.
په تلوار مې وویل:
- نه .. ذوالفقار ته به هېڅ نه وایې تا قول راکړی.
زبیر په حیرانتیا راوکتل.
— ولې؟ ولې نه غواړې هغه خبر شي؟

ژوره ساه مې واخیسته بیا مې کرار وویل:
- ګوره ذوالفقار دا څو وخته چې په دی موضوعاتو پوه شوی نو بیحد ډېر عصبې شوی، او د خبرو او فکر کولو پر ځای په هر کار کې د زور او ګواښ څخه کار اخلې، که په دی خبرو پوه شي، نو لومړی ما وهې بیا ځې د جنرال او بوډا ګریوان رانیسې او غټ جنګ جوړوی، کوم چې پایله یې هېڅ ښه نه ده.

زبیر- ته د جنرال په غم کې یې؟

په تلوار مې وویل: نه .. زه ولې د هغه په غم کې واوسیږم؟ د هغه خبیث له لاسه دا ټول مصیبتونه پر ما راغلل .. زه د ذوالفقار لپاره اندېښمن یم، لکه چې لیاده دې وتلې؟ جنرال د دولت یو لوړ پوړی چارواکی دی، که د ذوالفقار سره په ضد شو نو هر څه کولای شي، او زه نه غواړم ذوالفقار دی زما له لاسه په کوم مصیبت کې ولوېږی.

زبیر- خو زه فکر کوم داسې هغه ته دروغ ویل هېڅ ښه کار نه دی، شاید ستا نیت د خیر وی، خو ته ذوالفقار پیژني هغه د دروغو څخه کرکه لری .. بلخصوص که دروغ

ویونکي ته اوسیږي ... زما خبره ومنه رښتیا ورته ووایه، ذوالفقار دومره هم ماشوم او بې فکر نه دې چې د هر چا سره لاس په ګریوان شي او جنګ شروع کړي.

زبیر د دې خبرو کولو وروسته چوپ شو، څو شیبې وروسته زما له څنګ پاڅید او ویې ویل: زه یو ځل کاریګران وګورم ژر بیرته راځم.

سر مې ورته وخوځاوه او هغه بغیر د نور څه ویلو له کوټې ووت، د هغه خبرې لا هم زما په غوږونو کې تاوېده "رښتیا ورته ووایه."کوټه ناڅاپه ډېره غلې راته معلومیده داسې چې خپل د ساه اخیستو غږ مې لا اوریدلې شو ..

ووایم؟
که ونه وایم؟
که ورته ووایم...

نو ذوالفقار به اول غوسه شي، ښه یې پېژنم زبیر که هرڅومره ووایي نه غوسه کېږي خو زه یې پیژنم غوسه کېږي او شاید وار وکړي .. شاید نه چې سل فیصد وار کوي. د هغه وروسته سمدستي ځې د جنرال پسې، کېدای شي خبره له لفظي شخړې ووځي او یو د بل سره لاس په ګریوان شي. که خبره جګړې ته ورسېږي، جنرال کوم معمولې سړی نه دی، د هغه تر شا دولت ولاړ دی، ځواک لري، نفوذ لري.

که په ذوالفقار کوم څه وکړي بیا؟ هغه وخت بیا زه څه وکړم؟

خو که ونه وایم...

که سبا د بل خوا خبر شو، بیا به د هغه ورځ پشان زما سترګو ته وګوري او پوښتنه به وکړي: چې ولې دې ما ته دروغ وویل او خبره دې راڅخه پټه کړه؟
هغه وخت بیا څه ځواب ورکړم؟

هغه له دروغو کرکه لري... بلخصوص زما له دروغو څخه.

څه وکړم؟ که رښتیا ووایم غوسه کېږي او ځان ستونزې ته اچوي، خو که خبر یې نکړم او یوه ورځ خپل خبر شي شاید زما مخ ته لا نور ونګوري په دې دروغ او دوه مخي کولو باندې.

ذهن کې مې بیا دوه متضاد کسان احساس کول.
یو راته ویل: همداسې دروغ ویلو ته دوام ورکړه، د یو چا د ژغورلو لپاره دروغ ویل ښه دي، ته نه باید خپل د ژغورلو لپاره ذوالفقار خطر ته واچوې.
خو بل بیا ویل: د دروغ مزل لنډ دی، رښتیا ورته ووایه. ته تل د ستونزې یو خواته ګورې او خپل په زړه یې حل کوې، شاید د زبیر خبره صحیح وي، ذوالفقار دومره هم ماشوم او بې فکر نه دی چې جنګ جوړ کړي او ځان ستونزې ته واچوي، که خبر شو امکان لري یو د حل لاره پیدا کړي ..

په دې فکر ژوره ساه مې واخیسته. هو، دا خبره صحیح ده، د دروغ مزل تل لنډ وي. زه باید ذوالفقار ته هر څه رښتیا ووایم. رښتیا شاید ترخه وي خو یوازینۍ سمه لاره ده.

خو ډېر ژر هغه منفي اړخ مې رابیدار شو او ویې ویل: تا د ذوالفقار غوسه لیاده ویستلې؟ کله چې غوسه کیږي د غاړې رګونه یې راوځي، سترګې یې تکې سرې کېږي، خپل په ښه او بد نه پوهېږي. که ناڅاپه دې وخت کې له کنټرول ووت او جنرال او بوډا سره یې جنګ وکړو بیا؟

د دې فکر په ځواب کې مې د ذهن هغه مثبت اړخ وویل: طاها که نن رښتیا ووایې شاید جنګ جوړ شي، خو که خبره پټه کړې، امکان لري سبا د دې څخه لا لویه بلا درباندې راشي.

لاس مې پر تندي کېښود، سترګې مې پټې کړې.
خدایه څه وکړم؟ ووایم که نه؟

همدې فکرونو کې غرق وم چې د ذوالفقار د موټر هارنګ پورته شو، غږ یې د زړه درزا لا تېزه کړه. د هغه سره سم زبیر هم دفتر ته راننوت.

زبیر- ښه نو، څه فکر دې وکړو؟ رښتیا وایې کنه؟

په ستړې لهجه مې ځواب ورکړ:
- نه پوهېږم زبیر .. هېڅ نه پوهېږم، زړه مې وایې رښتیا ورته ووایم، خو عقل مې وایې دا کار لیونتوب دی.

زبیر پخندا زما خواته راغلو، زما په اوږه یې لاس کېښود او ویې ویل:
– ستا پر خوا دې بده نه لږېږي، خو طاها ته کوم عقل او مغزه نلرې چې وغواړې فکر هم ورباندې وکړې، همغه خپل د زړه خبره ومنه، خیر به دې پکې وي ...

بد، بد مې وروکتل چې د هغه خندا لمینځه لاړه او په اندیښنې وویل:
– طاها ... بد رقم دې لړلې .. هر رقم چې دې موضوع ته ګورم یوازې دې نتیجې ته رسیږم چې ذوالفقار ته رښتیا ووایو او تا د دې ځایه واستو ..

غوښتل مې کوم څه ووایم چې هغه خبره راپرې کړل او ویې ویل: پوهېږم ته خپل د نه تلو لپاره درې منه بیځایه دلایل لرې، خو ستا پاتې کیدل هم بیعقلې ده، د اوس لپاره هوښیاری دا ده چې د مبادا لپاره هم که کېږي ته لاړ شې پاسپورټ واخلې، د هغه وروسته درې واړه په کراره کښېنو او فکر کو چې څه وکړو؟

بیا ناڅاپه لکه چې کوم فکر یې ذهن ته راغلې وي، په خوشحالۍ یې وویل: ته پوهېږې طاها د عنایت الله پلار دولت کې کار کوي؟ او ستا د ښه شانس امنیتي بخش کې هم کار کوي.

غوښتل مې ویپوښتم عنایت الله څوک دی؟ او زه ولې خوش شانس یم چې د هغه پلار دولت کې کار کوي؟ خو زما د څه ویلو مخکې د دفتر دروازه په زوره خلاصه شوه او ذوالفقار راننوت، په غوسه یې زموږ خواته راوکتل او ویې ویل: کاڼه شوی

یاست، یا که زما غږ نه اوری؟ دا درې ساعت کیږی چغې وهم، هارنګ وهم (زما خواته یې په غوسه راوکتل) څه مرګ کوی چې نه راځې؟

د ذوالفقار په داسې ناڅاپه راتلو د زبیر خبره خوله کې وچه شوه، زما خواته یې راوکتل. د هغه د کتلو په معنا پوه شوم، له ځایه پاڅېدم، سر مې ورته وخځاوه او د ذوالفقار پسې شوم.

ذوالفقار داسې حال کې چې کرار، کرار د ځان سره بونګیدی او په غالب ګمان ما او زبیر ته یې بد رد ویل له شرکت ووت او موټر ته پورته شو. زه هم بغیر د څه ویلو ورپسې پورته شوم. هغه سمدستي موټر روان کړ.

یو څه چې له شرکت لیرې شو، جرأت مې وکړ او کرار مې غږ کړل:
- ذوالفقار ...

هغه د سترګو له کونجه په غوسه راوکتل.
— څه مرګ دی؟

دومره په کلک او غوسه یې وویل " څه مرګ دی؟" چې خوله کې مې خبره وچه شوه. غوښتل مې همدا اوس کرار، کرار د ریښتیا ویلو لپاره زمینه برابره کړم، خو لکه

چې اوس مناسب وخت نه و؟

زما په چوپ کېدو هغه د سترګو له کونج راوکتل، بیا یې لاس خپل په ویښتانو کې کش کړ او دا ځل لږ په نرمه لهجه یې وویل:
– څه دې غوښتل ووایې؟

څو شېبې چوپ پاتې شوم. نه ځای د خبرو لپاره مناسب و او نه هم د ذوالفقار طبعیت، رښتیا خو باید ضرور ورته ووایم نو څه اوس ووایم څه یو ساعت وروسته څه فرق کوی؟ کله چې کور ته ورسیدو هلته ورته وایم، په دی فکر کرار مې ورته وویل: هېڅ...
ناڅاپه د پرون شپې خبرې مې ذهن ته راغلې او ژر مې ورزیاته کړه:
- هغه... پرون ماښام ذوالقرنین کاکا تاته څه ویل؟

ذوالفقار په ګنګس انداز سترګې تنګې کړې، لکه چې زما په خبره صحیح پوه نشو، نو څکه لږ مې وضاحت ورکړ:
- پرون ماښام چې تا موټر روښانه کاوه، ذوالقرنین کاکا او بابا خبرې کول، ذوالقرنین کاکا ورته ویل: اصل خبره خو مو ذوالفقار ته ونه کړه؟ بابا هم ویل: د رسېدو وروسته به ورته ووایو. نو... تا ته یې څه ویل؟ څه خبره وه؟

ذوالفقار څو شېبې په درووند نظر راوکتل، بیا یې مخ بېرته سړک خواته واړاوه او ویې ویل: تا د هغوی خبرو ته غوږ نیولی و؟

په تلوار مې وویل:
- نه... ما غوږ نه و نیولی، زه هلته ولاړ وم، دوی خبرې کولې نو ما واوریدل.

ذوالفقار څو شېبې چوپ پاتې شو. د څلورلارې څخه یې موټر وګرځاوه، سټېرنګ یې کلک په لاس کې نیولی و. یو څو شېبې نور هم چوپتیا وه، بیا یې په بې‌حوصله انداز وویل:

— فهیم ...هغوی طلاق غواړی، خو فهیم طلاق نه ورکوي. پرون په زوره د هغوی کور ته ننوتلی و چې غواړم خپله ښځه ووینم .. هغوی هم ورسره جنګ کړی و ... ښه جوړ وهلې يې هم ورکړې وه، انجلۍ د پلار په کور نشته ..

په حیرت مې وویل: څـــه؟ جنۍ تښتیدلې له کوره؟
ذوالفقار بد ،بد راوکتل او ویې ویل: نه، جا ویل تښتیدلې؟
- خو ته وایې د پلار په کور نشته؟
ذوالفقار- زما مطلب دا دي چې خپل د بیار کور کې نشته، لکه چې هغوي يو چیرته د خپلوانو کور ته استولې او ذوالقرنین ته يې ویلي: یا په کراره طلاق راکړی یا هم خبره تر محکمې کشو، ذوالقرنین خو ته پېژنې د محکمې او دولت له نومه ډاريږي. پرون ماښام يې راته ویل ته واسطه شه چې موضوع په کراره حل شي ... ځکه خبره یوازې د فهیم نه ده، د فرشتې د ژوند خبره هم ده.

- ښه نو تا څه وویل؟
ذوالفقار خپل وریځې پورته واچول.
— ورته ومې ویل زه کوم کار نلرم، ما خپل مشوره دوه هفتې مخکې درکړل چې تاسو راباندی سترګي سرى کړل، اوس هم ستاسو کار دی،مړۍ کوی، دښمنې کوی هر کار چې کوی لاس مو خلاص زه نه کوم کار لرم او نه هم کوم خبره ..

د دې خبرې وروسته لږ چوپ شو، بیا يې کرار وویل:
— همدا خبره وه، نور څه نشته. هسې بې ځایه فکرونه مه کوه، ستا په اړه کوم خبره نه وه.

ما کرار سر وخوځاوه، خو ذهن مې د هغه په خبرو کې بند پاتې شو. زړه مې غوښتل بله پوښتنه هم وکړم... پوه شم اخر څه کېږي؟ اخري پرېکړه څه ده؟ خو د ذوالفقار له تروش تندي ښکارېده چې نور د پوښتنو حوصله نه لري. که لږ نور د دې موضوع په اړه خبرې وکړم غوسه کېږي، نو خوله مې بنده ونیوله، ځکه پر ما مربوط موضوع هم نه وه، د ذوالفقار خبره دا د هغوی کار و ...

ذوالفقار ناخاپه وپوښتل:
— لالا بیا تاته پرون ماښام څه ویل چې درې ساعت نه راتلو؟
خپل اوږه مې پورته واچول.
- کوم،خاص خبره نه وه،ویل یې سبا ته که بیکار وی راشه کور ته، ادی دی درپسې خفه شوی.
ذوالفقار- اومم او تا څه وویل؟
- ما ورته وویل ګورم.
ذوالفقار- نو نن ماښام ورشه، ډېر وخت کیږی چې نه یې تللی.

- زړه مې هېڅ نغواړی هلته لاړشم.
ذوالفقار- ولې؟ لالا کوم څه درته ویلې؟
ژوره ساه مې واخیسته.
- نه، بابا کوم څه نه دی ویلې هسې زړه مې نغواړی.

ذوالفقار لکه چې پوه شو زما د" نه" تلو اصلې سبب د ذوالقرنین کاکا کور او بلخصوص د هغه زامن دی.
ذوالفقار- ته د هغوي لپاره هلته نه ځې، چې زړه دی نغواړی، ته خپل د پلار او مور لپاره ځې.

ما په بې تفاوتې لهجې وویل: یوازی مور، ځکه پلار مې زه خپل کور ته دعوت نکړم.
ذوالفقار په تروش تندی نیم نظر راواچو.
— د پلار کور ته د تللو لپاره چا دعوت غوښتې چې ته یې غواړی؟
بیا یې پخندا دوام ورکړ.
— او دا غوښتل هم د لالا لخوا دی، مخامخ درته نشې ویلې نو ستا د مور خفګان بهانه کوی.
- ته ولې فکر کوې بابا د ادی په نوم ما هلته غواړی؟

ذوالفقار نیم نظر راواچو او په موسکا یې وویل:
— لومړۍ خو دا چې زه خپل ورور پېژنم، او دویم هم دا چې ستا سر په ځینو خبرو نه خلاصیږي ... اوس ورځې کنه؟
- نن ماښام د تلو حوصله نلرم، سبا ته به وګورم.

ذوالفقار بغیر د څه ویلو سر وخوځاوه، یو لس دقیقې بغیر د څه ویلو موټر روان و، او هر کس خپل په فکر کې ډوب و، چې ذوالفقار ژوره ساه واخیستل او ویې ویل:
— ما ذوالقرنین ته هغه ورځ څومره وویل په کراره دا خبره خلاصه کړه، خو لکه چې دوی تر څو یو رسوایي او دښمني جوړه نه کړي، په کراره نه کښیني.

په چوپتیا کې مې د هغه خبرو ته غوږ نیولی و. د ذوالفقار د خبرو تر شا یوازې غوسه نه وه... یو ډول ستړیا هم احساسېده. لکه له یو څه نه زړه ماتی وي. شاید له دې چې خبره یې ونه منل شوه، او اوس چې په ستونزه کې راګیر دي، د ده پسې دی خفه وي؟

خپل ځان ته مې فکر شو. زما کار د ذوالقرنین کاکا دوي له کاره په کمه نه و... که له یو نظر وګورم، زما کار په مراتبو د هغوی د کار بتر و. ذوالفقار راته ویلي وو نور ماته دروغ مه وایه، هره ستونزه چې لرې راته ووایه. خو ما... ما نه یوازې خپلې ستونزې ورته ونه ویل، بلکې دا یوه میاشت مې د ټول عمر په اندازه دروغ ورته وویل.

په دې فکر مې خپلې لاړې تېرې کړې، زه د کوم وخت دومره بزدل شوی یم چې ذوالفقار ته دروغ وایم؟ کلک اراده مې وکړه چې همدا اوس به ورته رښتیا وایم.
- ذوالفقار...
ذوالفقار- ها؟
- ه... هغه ما غوښتل درته یو څه ووایم.

زما د خبرې سره سم ذوالفقار موټر ودراوه او زما خواته راوګرځېد.
— څه وایې؟ څه خبره ده؟

د موټر له هینداري مې بیرون ته وکتل،د پاسپورټ ریاست ته رسېدلي وو. مخ ته یې د خلکو ګڼه ګوڼه او شور ماشور و. هماغه شېبه... اراده مې بدله شوه.
- اوس خو راورسېدو... ماښام کور کې درته وایم.
ذوالفقار په مشکوک انداز سترګې تنګې کړې.
— کوم څه شوي؟ که کومه خبره وي، همدا اوس ووایه.
- نه... کوم څه نه دي شوي. هسې یوه خبره وه، ماښام درته وایم.

هغه لږ راوکتل، بیا یې د پوهېدو په انداز سر وخوځاوه.
— سمه ده، ماښام بیا راته ووایه. ښکته شه، زه موټر پارک کړم. دلته د درېدو ځای نشته.
- سمه ده.

د موټر څخه ښکته شوم، ذوالفقار موټر د ریاست څخه یو سړک لېرې ودراوه او راغی. دواړه د ریاست خواته روان شوو. یو بد حال و، ته وا ټول افغانستان راغلی وي چې پاسپورټ واخلي.

ذوالفقار د خلکو له منځه د تېرېدلو حال کې خپل موبایل راوویست او یو چا ته یې مسج وکړ. همدا چې دروازې ته ورسېدو، هغه ځای ساتونکي ته یې یو څه وویل. د شور له لاسه مې سم وانهورېدل چې څه یې وویل. لږ وروسته یو کس چې رسمي دریشي یې اغوستې وه او شین کاټ یې هم په غاړه و، زموږ خواته راغی. ساتونکي ته یې اشاره وکړه او موږ ته یې دروازه خلاصه کړه ..

دننه شوو، هغه کس په ډېر خوش اخلاقۍ د ذوالفقار سره ستړې مشې وکړه.
ذوالفقار زما خواته اشاره وکړه:
— دا زما وراره دی، طاها.
هغه پخندا زما خواته لاس راوږد کړ.
— ښه نو ته طاها یې؟ ستا په اړه مې ډېر د ذوالفقار له خولې اورېدلي وو.

لاس مې ورکړ او سترې مشې مې ورسره وکړل، که څه هم لومړۍ ځل و چې لېدې مې خو داسې زما سره په صمیمت خبرې کول ته وا د کلونو راهیسې ما پیژني؟

د ریاست دهلېز ته ننوتو. خلک په قطارونو کې ولاړ وو، د کاغذونو اخوا،دیخوا کیدل او د خلکو شور،ماشور فضا درنه کړې وه، د ذوالفقار ملګرې موږ د ځان پسې کړو او د هغه ګېه ګوښې څخه یې لرې کړو.

د هغوي سره یوځای روان وم خو ناڅاپه داسې احساس مې وکړ لکه یو څوک چې راته ګوري؟ شاته مې مخ واړاوه، خلک ډېر وه، هر څوک په خپل کار لګیا و، خو یو ځوان هلک چې خړ کمیس یې اغوستی و، څو ګامه لرې ولاړ و او دوه سترګې یې زما پر خوا وه .. یا شاید هم ما داسې فکر کاوه چې زه یې د نظر لاندې نیولې یم؟

مخ مې ورڅخه وګرځوی او د ځان سره مې وویل: بې ځایه شک مه کوه، هغه ستا سره کوم کار نلری.

ذوالفقار د خپل ملګري سره په کرار غږ خبرې کولې، زه د هغوی څخه لږ شاته پاتې وم، یو ځل بیا مې شاته مخ وګرځو، خو دا ځل هغه ځوان هلک هلته نه وو ..

د هغه په نه لیدو زړه مې په درزېدو شو، خو ځانته مې دلداری ورکړل، هسې تصادف و. شاید خپل د کار پسې تللې وی، هر څوک چې تاته ګوری په دی معنا نه ده چې د الفا نفر دی کرار اوسیږه ...

خپل قدمونه مې چټک کړل او د ذوالفقار څنګ ته مې ځان ورسو، هغه د تلو حال کې نیم نظر په مشکوک انداز راواچو خو کوم څه یې ونه ویل.

په همدی مشکوک فکرونو کې د ذوالفقار سره روان وم چې ناڅاپه د دهلیز ټول ګروپونه مړه شول، په یوه لحظه کې داسې تک توره شپه شوه ته وا ماښام دی.

@Shuhab09

– څه وشول؟!
د ذوالفقار غږ مې واورېد، خو دومره تیاره وه چې ومې نه لید.

د څو ثانیو لپاره یو دم چوپتیا خپره شوه، داسې چوپتیا چې یوازې د خلکو درنې ساه ګانې اورېدل کېدل ... بیا یو دم ګډوډي زیاته شوه.

– برق لاړ؟
– موبایل ګروپ دی روښانه کړه.
– مه ټېل کوه.
– په نمبر کېدي ودرېږه.

خلکو یو د بل سره کش،مکش شروع کړ یو بل یې ټېله کول، دوسیې پر ځمکه ولوېدې، دې مینځ کې د یو څو ماشومانو د ژړا غږونه هم پورته شوه، فضا یو دم بدله شوه، ما بې اختیاره شاته قدم واخیست .. خو ډېر ژر پر خود راغلم او کوښښ مې وکړ چې ځان د ذوالفقار خواته نږدې کړم، هېڅ ښه احساس مې دی ناڅاپه برق تللو ته نه درلود.

– طاها!
د ذوالفقار غږ مې واورېده، خو نه مې لیده.

په تلوار مې خپل موبایل له جیب څخه راوویست، ګروپ مې ورڅخه بل کړ. سپینه کمزورې رڼا یې د خلکو پر مخونو ولګیدل، ناڅاپه یو کس مې کلک پر اوږی ټکر شو. ژر مې د موبایل رڼا د هغه کس خواته ونیول هماغه ځوان خړ کمیس هلک و، یوه شېبه دواړه یو د بل سره سترګې په سترګو شوو. هغه ډېر نږدې و ... ډېر .. د هغه په دومره نږدی لیدلو بد احساس مې په ټول وجود کې خپور شو.

هغه کرار وویل:وبخښه ورور تیاره وه و مې نه لیدی ..

هغه په ظاهره بخښنه وغوښتل خو غږ کې د بخښنې هېڅ کوم نښه نه وه، سترګي د خباثت ځلېدې، همغه حال کې چې دوه سترګي پر ما وه کرار یې خپل د جیب خواته لاس ویوړ، زما نظر هم د هغه د جیب پر خوا و، چې ناڅاپه یو چا کلک تر لاس ونیولم او ځان پسې کش کړم،لومړۍ مې ګمان وکړ چې کوم بیګانه کس دی او خوله مې ذوالفقار ته د چغو وهلو لپاره جوړه کړل، خو د ذوالفقار د غږ په اوریدو هوسا ساه مې وویستل.

ذوالفقار په غوسه وویل: نن لکه چې د خدای په فضل کوڼ شوی یې چې زما غږ نه اوری؟

د ذوالفقار ملګری د هغه وحشتناک دهلیز څخه چې سم د قبر پشان تیاره و، وویستلو او یو کوټې ته یې ننباسلو، دلته د بیرون لخوا رڼا راتلل کوټه روښانه وه، د ذوالفقار ملګری په تلوار زموږ خواته راوکتل او ویې ویل:
— تاسو همدلته کښینې زه وګورم دا برقونه ولې ناڅاپه لاړې؟

ذوالفقار ورته سر د "سمده"په توګه وخوځاوه او هغه په تلوار له کوټې وت، د هغه د وتلو سره سم ذوالفقار په غوسه زما خواته راوګرځید.
ذوالفقار- ولې هلته د بوت پشان ولاړ وی؟ دومره مې درته غږ کړل ولې دی ځواب نه راکو؟

زما زړه تر اوسه ځای ته نه و راغلې که څه هم کوم پیښه واقع نشول خو سل په سل باوړمن وم چې هغه کس زما پسي وو. ذوالفقار چې زما پرېدلې رنګ ولید لږ ورخطا شو.

ذوالفقار- څه شوی طاها؟ ستا دا رنګ ولې داسې پرېدلې؟
نه مې غوښتل نور ذوالفقار ته دروغ ووایم، نو ځکه رښتیا مې ورته وویل:
- ه .. هغه فکر کوم یو نفر زما پسې و.
زما په دی خبره ذوالفقار په حیرت راوکتل:

– څه دی وویل؟ څنګه یو کس ستا پسې وو؟
- هغه هلک ذوالفقار .. هغه ... هغه ما ته د الفا نفر ښکارهـ ..

لا خبره مې نه وه پوره کړې چې ذوالفقار د دروازې خواته حمله واچول او دهلیز ته ووت، دومره په تلوار ووت چې ما خپل ځان لا ونشو ښورولې، د هغه د وتلو څو شیبې وروسته تازه پر خود راغلم او زه هم ورپسې ووتلم،که څه هم بیحد ډارېدلې وم او زړه مې غوښت د هغه کس پسې د تلو لځایه همدی کوټه کې پټ شم،خو دا چې ذوالفقار یوازې لاړ، نو و ډار شوم چې د رښتیا هغه کس د الفا نفر نه وی او د ذوالفقار په سر کومه بلا را نه وړی ...

په دی فکر د کوټې دروازه مې خلاصه کړه، دهلیز کې تر اوسه تیاره وه او سم شې نه ښکارېدی ذوالفقار مې نشو لیدلې چې چیرته تللې؟ له یو خوا د هغه کس په لیدو ډاریدلې وم او له بلخوا د ذوالفقار په داسې ناڅاپه تلو .. د ډېر وېرې او وحشت څخه ژړا راغلې وه، دهلیز ته ووتلم او د ذوالفقار پسې په ګرځیدو شوم هغه ځای ته لاړم کوم ځای کې چې هغه هلک زما سره ټکر کړی و، خو هلته هېڅوک نه وه، ذوالفقار ته مې څو ځله غږ کړل خو کوم ځواب مې ترلاسه نکړ، د دهلیز څخه مې غوښتل بیرون ووځم .. په دی تیاره کې مې زاره چودل خو لا یو ګام مې نه واخیستې چې ذوالفقار راغږ کړل.

په تلوار مې مخ شاته وګرځو ذوالفقار داسې حال کې چې د ځغاستلو له لاسه ستمې کاوه رانږدی شو، بغیر د څه ویلو یې زما لاس ونیو او د ریاست څخه ووتلو، زموږ د وتلو سره سم د ذوالفقار ملګری مو مخې ته راغې زموږ په لیدو یې په حیرت وپوښتل:
– تاسو ولې بیرون راوتلې یاست؟

ذوالفقار داسې حال کې چې زما لاس یې لا هم خپل لاس کې کلک نیولی و، شاوخوا یې وکتل او کرار یې وویل:
– د برق په تلو بیخي نفس تنګ شو، نو ځکه بیرون راووتلو.

@Shuhab09

د ذوالفقار ملګري سر د پوهېدو په انداز وخوځاوه او ورو يې وويل:
– عجيبه ده...

ذوالفقار وروکتل.
– څه عجيبه ده؟

د ذوالفقار ملګری لږ غلی شو، بيا يې په ټيټ خو جدي غږ وويل:
– دلته داسې برق نه قطع کېږي، په ځانګړې ډول د کاري ساعتونو په وخت کې.

د هغه په دې خبره زما د زړه درزا پورته شوه. يعنې... يعنې امکان لري هغه هلک له قصد برق قطع کړی وي؟

ذوالفقار نيم نظر، په تروش تندي، زما خواته راواچاو او خپل ملګري ته يې وويل:
– لکه چې هېر شوې د دې؟ دلته افغانستان دی، هر کار امکان لري.

د ذوالفقار په خبره ملګری وخندل.
– هو والله، دا خبره خو دې سمه وکړه. خو موږ جنراتور لرو؛ که برق لاړ هم شي، په څو ثانيو کې بېرته رڼا راځي. خو دا ځل...
هغه ودانۍ ته اشاره وکړه.
– جنراتور هېڅ فعال نه شو.

ذوالفقار په مشکوک ډول سترګې تنګې کړې.
– يعنې خرابي ډېره وه؟

ملګري يې بې له ځنډ وويل:
– نه پوهېږم، خو کوم عادي تخنيکي ستونزه ما ته نه ښکاريده.

د هغه په دې خبره ما د رياست شاوخوا کتل شروع کړل، د خلکو شور ماشور لا هم اورېدل کېده. په کراره مې د ذوالفقار ملګري ته وويل:

– س... ستاسو په نظر برق له قصد قطع شوی؟

هیچا سمدستي ځواب را نه کړ. ذوالفقار یوازې زما خواته راوکتل...

ملګري یې اوږه پورته واچوله او ویې ویل:
– فکر نکوم څوک دې له قصد داسې کار وکړي، خو برق یوازې نه و خراب،وایي په اصلي شبکه کې ستونزه پیدا شوې؛ کمپیوټرونه نه خلاصیږي، سیستمونه بند دي.

زړه مې یو ځل بیا په زوره په دربېدو شو.

ذوالفقار ناڅاپه زما لاس کش کړ او د تلو په حال کې یې خپل ملګري ته وویل:
– د اوس لپاره موږ لاړو. سبا که شبکه جوړه شوه، بیا ما ته یو زنګ ووهه.

او پرته له دې چې د خپل ملګري ځواب ته انتظار وباسي، ویې ویل:
– راځه.

د ریاست څخه لېرې شوو او د ذوالفقار موټر چې چیرته پارک و، هلته ولاړو.

همدا چې د ذوالفقار موټر ته ورسېدو، هغه په غوسه زه د موټر خواته ټېله کړم، دومره په تیز چې ملا مې په کلک د هغه په موټر ولګېده او درد ډک غږ مې پورته شو.

خو هغه بې له کوم رحمه زما مخې ته ودرېد.

اوس یې هم ستمي کاوه، خو دا ځل د سترېیا څخه نه .. بلکې د غوسې څخه یې ستمې کاوه، سترګې یې تکې سرې شوې وې.

په کراره خو بېحد کلک لهجه داسې چې زما ساه یې په سینه کې بنده کړه، ویې ویل:
– ښه... اورم.

ستونی مې وچ شو. څو شیبې مې ځواب ورنه کړ، فکر مې نه کاوه دومره ژر او دومره ناڅاپه دی راګیر شم، د مناسب الفاظو پسې ګرځېدم. په همغه حال کې مې نظر هر خوا تاوېده، پرته د ذوالفقار له سترګو. د هغه سترګو ته د کتلو جرئت مې نه درلود. شرمېدم...

له دې چې یو ځل بیا ورته ووایم: ذوالفقار! د هغه دومره خبرو او نصیحتونو باوجود، دا یوه میاشت ما بیا هم تا ته دروغ ویل.

خو څومره چې زما نظر د هغه څخه په تېښته و، هغومره د هغه دوه سترګې پر ما ښخ وې.

په دروند غږ یې وویل:
— ما ته وګوره طاها ... زه پوهېږم ته دا یوه میاشت کېږي یو شئ زما څخه پټوې .. نو مخکې له دې چې زه یې په زوره ستا له خولې راوباسم چې څه پټوی پخپل د انسان پشان ووایه.

د زړه درزا مې دومره لوړه وه چې احساس مې کاوه ذوالفقار یې هم اوري.

په بند بند لهجه مې وویل:
— هغ... هغه ..
ذوالفقار خبره راپرې کړل او په ګواښونکي انداز یې وویل:
— د هر څه د ویلو مخکې زما دا خبره خپل په غوږ کی ښه وساته، که پوه شم دروغ راته وایې ژوندی دی نه پرېږدم ...

د ذوالفقار په دی ګواښ د خولې لاړې مې تېر کړل، زما په نظر هم د دروغو ویلو وخت نه و نو ځکه په همغه بند، بند لهجه مې وویل: ه ..هغه .. ز... زه پوهېږم چې... چې ..ته غوارې زما څخه ساتنه وکړې، خو ... خو دا موضوع دومره هم وړه نه ده ذوالفقار چې زما په تلو خلاصه شي.

ذوالفقار- اومم ښه، نو ته راته ووایه چې څومره غټه ده؟
– ذوالفقار... زه .. زه دا منم چې ... چې ما تاته دا یوه میاشت کېږي دروغ ویلي، خو... (د هغه سترګو ته مې وکتل چې زما خواته ځیر وې، او د ډېر قهر له امله یې چپه سترګه پرېده) خو باور وکړه ستا د ساتنې لپاره مې دا کار وکـ ...

لا خبره مې نه وه پوره کړې چې ذوالفقار د لاس پر شا په کوم چې ګوتمې اچولې وه پر خوله ووهل، دومره ناڅاپه ګوزار یې وکړ چې خپل د شونډې چودل مې احساس کړل او ډېر ژر خوله مې له وینو ډکه شوه.

لا د دې ټک څخه په خود نه وم راغلی چې ذوالفقار په ټول زور له ګریوان ونیولم او خپل خواته یې کش کړم، داسې حال کې چې د ډېرې غوسې څخه یې د مغزی رګونه راوتلي و، او بدن یې لړزیدی تقریباً په چغه وویل:
– ته غول نخورې چې زما لخوا فیصله کوې؟ ما تا ته مګر هغه ځل ونه ویل چې طاها نور به ما ته دروغ نه وایې؟ هـان؟

ذوالفقار خپلې ټولې خبرې په لوړ غږ، داسې چې زه یې له ګریوان نیولی وم او خوځولم وکړل.

دوالفقار- ته هېڅ و نه شرمیدلې چې یوه میاشت دې زما سترګو ته کتل او دروغ دې راته ویل؟ ته د کوم وخت دومره دوه مخی شوی یې طاها؟ هان؟ د کوم وخت څخه دې ما ته دروغ ویل شروع کړې؟

– ز... زه بخښـ ..

ذوالفقار پرې نه ښودم چې خپله خبره پوره کړم، زما ګریوان یې نور هم خپل خواته کش کړ. او په غوسه یې وویل:
– هېس... بنده کړه خوله دې! غږ دې وا نه ورم. ګونګی شه طاها... یوازې او یوازې ګونګی!

دومره په کلک یې دا خبره وکړه چې په اتومات ډول زما خوله بنده شوه، هغه یو ځل بیا زه د موټر خواته تېله کړم، خو دا ځل د لومړۍ وار څخه یو څه په کلک، داسې چې د ملا فاتحه مې وویل، زړه مې غوښت د ډېر درد له لاسه پر ځمکه کښېنم، خو غرور مې دا اجازه نه راکوله.

ذوالفقار زما مخې ته په ګرځېدو شو. په غوسه یې په خپلو وېښتو کې لاس تېر کړ او د شونډې لاندې یې له ځان سره یو څه ویل، نه پوهېږم چې ماته یې کنځل کول که ځان ته؟ خو لګیا و یو چا ته یې د شونډې لاندی کنځل کول ..

بېحده غوسه و داسې حال کې چې ما لا پوره خبره نه وه ورته کړې، هغه یوازې دومره پوه شوی و چې ما ورته دروغ ویلي، خو له دې نه و خبر چې څه، څه دروغ مې ورته ویلي؟ که په هغو خبرو پوه شي باید یو قبر ځانته واخلم ..

ذوالفقار ناڅاپه له ګرځېدو ودرېد. د هغه په دې کار مې خپل د خولې لاړې تېرې کړې، لکه چې یو ځل بیا باید د وهلو لپاره ځان تیار کړم؟ د شونډې له چاودېدلې برخې مې لا هم وینه راتله. د ذوالفقار د لاس ګوتمې په کوم چې زه یې ورباندې پر خوله وهلی وم په وینو ککړه و.

د هغه چوپتیا چې اوږده شوه، نور هم وډار شوم. غوښتل مې څه ووایم، لږ تر لږه دومره چې د ګناه بار مې لږ سپک شي. خو کله چې مې د ذوالفقار نظر تعقیب کړ، نو پوه شوم چې هغه ماته نه راګوری ...

هغه زما شا ته د سړک هغه بلې غاړې ته ولاړ هلک ته کتل، هماغه خړ کمیس هلک. د هغه په لیدو وېره لکه وینو پشان یو ځل بیا زما په رګونو کې په ځغاستو شوه. هلک د سړک بلې غاړې ته ولاړ و، موبایل یې پر غوږ نیولی و او سترګې یې زموږ خواته خښې کړې وې.

ذوالفقار په ټیټ غږ وویل:

– هماغه دی؟

په تلوار مې ځواب ورکړ:
- هو... هماغه دی.

ذوالفقار څو ثانیې نور هم د هغه هلک خواته ځېر پاتې شو. بیا بغیر له دې چې نظر ورځخه واخلې وویل:
— موټر ته پورته شه.
د دې خبرې سره سم یې خپل د موټر کیلۍ زما خواته راواچول او د سترګو په رپ کې د هغه هلک پر خوا په ځغاستو شو.

د ذوالفقار په منډه کولو، هلک هم سمدستي په منډه شو او ډېر ژر د خلکو په ګڼې ګوڼې کې ورک شو، زه لا هم د ذوالفقار د موټر ترڅنګ هک حیران ولاړ وم. نه پوهېدم د هغه پسې ولاړ شم که د هغه خبره ومنم او موټر ته پورته شم؟

څو شېبې وروسته مې ولیدل چې ذوالفقار په غوسه بېرته زما خواته را روان دی. هلک یو ځل بیا ترې تښتېدلی و. نور مې ځنډ جایز ونه باله او ژر موټر ته پورته شوم.

ذوالفقار داسې حال کې چې شاوخوا ته یې په شکمنه توګه کتل، د موټر خواته راغی. هماغه شېبه زما موبایل،کوم چې تر اوسه زما په لاس کې و او حتا ګروپ یې لا روښانه و په لاس کې مې ولړزېد، سکرین ته مې وکتل یو ناشنا نمبر و، یو خط مسج یې رالېږلی و خو داسې مسج و چې زما ساه یې په سینه کې بنده کړه.

"زموږ حساب کتاب خو لا پاتې دی... په دې دومره تلوار ته چیرته روان یې؟"

لاسونه مې یخ شول،سترګې مې بې اختیاره د موټر بیرون د خلکو په منځ کې په ګرځېدو شوې. یعنې الفا زما په اړه دومره دقیق معلومات لري چې حتا پوهېږي زه نن د پاسپورټ اخیستلو پسې راغلی یم؟ که ..که دومره معلومات لري، نو ولې یې تر اوسه کوم کار نه دی کړی؟ ولې یوازې تعقیب کوي... ولې یوازې ما ډاروي؟ ولې مخامخ ګوزار نه کوي؟

د غفار خبره مې ذهن ته راغله " الفا خپل دښمنان د سپي په شان ځغلوي ... دومره يې ځغلوی چې وغيږي او خپله د مرګ غوښتنه وکړي، خو مرګ به ورته يو آرمان ښکاره شي" يعنې الفا اوس همدا کار زما سره کوي؟ هغه ما تعقيب کوی ... ګواښوی... وېره وی ... خو مستقيم بريد نه راباندی کوی .. هغه غواړي زما ناچاري، وېره او وحشت ووينې.

د موټر دروازه په کلک خلاصه شوه او ذوالفقار راپورته شو، او سمدستي يې موټر چالان کړ.کله چې له پارکينګ څخه ووتلو، د موټر له هېنداري يې شاته وکتل، لکه چې شکمن و څوک مو تعقيب نه کړي؟ څو شېبې وروسته چې د رياست څخه ښه لرې شوی و او هېڅ کوم مشکوک شی نه تر سترګو کيدی، زما خواته يې نيم نظر راواچو او بيا د موټر له مخې څخه يې د دسمال کاغذ له قوطي څخه څو دسمال راوايستل او په غوسه يې زما خواته راوغورځول.

ذوالفقار- فکر مکوه که ځان مظلوم ونيسې، نو دا غول خوړل دی لياده باسم او څه نه درته وايم ... (د سترګو له کونج يې په قهر راوکتل او زياته يې کړه: په ډېر لوی غلط فهمي کې يې که داسې فکر کوی، ستا وهل د دی وروسته شروع کيږی يو ځل کورته ورسيږو ...

ذهن کې مې يوازی د هغه مسج لفظونه ګرځېدل"زموږ حساب کتاب خو لا پاتې دی... په دې دومره تلوار ته چيرته روان يې؟" يعنې الفا ما تللو ته نه پرېږدی؟ هغه وايې لومړۍ بايد حساب کتاب وکړو؟ څه مطلب حساب کتاب؟ يعنې غواړی ما ووژني؟ لکه څنګه چې غفار يې ووژلو؟ د ذوالفقار په قهرجن غږ تازه پر خود راغلم.

ذوالفقار- د خولې وينه دې پاک کړه... فکر مه کوه په دې دوه ځاځکو وينو دې خوشې کوم ..

هغه مسج دومره اعصاب راخراب کړي وه چې نور مې د ذوالفقار د هېڅ خبری حوصله نه درلود، په خبره کې ورولېدم او په غوسه مې وويل:

- پوهېږم چې زما په دوه ځاځکو وينو دې زړه په رحم نه راځي، تر څو چې خپل زړه راباندې يخ نه کړې او ښه مې ونه وهې نه مې پرېږدې ... پوه شوم .. نور يې مه تکراروه ... صحيح شو ...

ذوالفقار سمدستي په غوسه موټر د سړک څنګ ته ودراوه او زما خواته راوګرځېد، نه پوهېږم زما په څېره کې يې څه وليدل چې غوسه يې ناڅاپه لمينځه ولاړل او په انديښنه يې وويل: ناڅاپه څه مرګ در وشول؟ دا رنګ دی ولې داسې پرېدلې؟

په پوسخند مې وويل: هېڅ مرګ نه دی راشوی .. پوهېږی ذوالفقار ... (د هغه منتظر نظر ته مې وکتل او په زهرجن خندا مې وويل: زه پخپل پوهېږم څومره غلط کار مې کړی .. زه پوهېږم او درک کوم چې زما د غلطيانو له لاسه تاسو ټول په خطر کې ياست. خو باور وکړه ... قسم پر خدای ... که همدا شيبه پوه شم چې زما په مرګ هر څه حل کېږي نو شک مه کوه همدا شيبه ځان د موټر مخې ته غورځوم او تاسو ټول بېغمه کوم ..

ذوالفقار په غوسه وويل: غول مخوره ..
په همغه زهرجن خندا مې وويل: زه تل د بدبختو بغير نور ګټه چا ته نشم رسولې ذوالفقار .. ما تاته دروغ په دی اميد وويل چې ستا څخه به ساتنه وکړم ...(په زوره مې د ستوني لاړې تېر کړل) فکر مې کاوه که ته بيخبر اوسيږې ستا لپاره به ښه وی، خو ... ما وبخښه ... کاش ستا وراره نه وايې تر څو دومره زما پخاطر نه وايې پعذاب شوی ...

ذوالفقار په ګواښ او غوسه خپل ګوته زما ومخ ته وخوځول او داسې حال کې چې خپل غاښونه يې د ډېر قهر او غضب څخه سره چېچل په لوړ غږ يې وويل:
— غواړې په دی خبرو ځان مظلوم وښايې؟ غواړې په دی خبرو ما ليوني کړې؟ هان؟ دا کار دی بيا نوی زده کړې طاها؟ لومړی هر غول چې دی زړه غواړی هغه خوری او بيا کله چې راګير شې بيا نو ځان مظلوم نيسې تر څو کوم څه درته ونه وايم؟

- زه ستا د وهلو له ډار دا خبرې نکوم، ومې ويل که زما په وهلو زړه دې يخ کيږي څومره چې وس لرې ومې واهه، خو دا اصل موضوع نه بدلوي نن وي که سبا وي زما مرګ حتمې دی ...

ذوالفقار په غوسه خپل لاس د وهلو په انداز راپورته کړ او ويې ويل: يو بله اضافه خبره ته وکړه بيا وګوره چې خوله کېدې غاښونه پاتې کيږي او کنه؟

که څه هم د هغه ګواښ ډېر جدي ښکارېده، خو ما ورته کومه توجه ونه کړه. البته نور مې څه هم ونه ويل او چوپ شوم. هغه دسمالونه چې ذوالفقار زما خواته راچولې و، راوخيستل مې او خپل د شونډې وينه مې ورباندې پاکه کړه، که څه هم دومره کلک يې نه وم وهلې وه خو شونډه مې بد ډول چاودلې وه او درد يې کاوه، زړه مې غوښتل ذوالفقار ته ښه کنځل وکړم، خو بيا مې لځان سره ووېل اصل ملامت زه پخپل يم، که ما د لومړۍ ورځې ذوالفقار ته رښتيا ويلې وايې نو نن به مې دا حال نه وايې ..

که څه هم وهل مې خوړلي و او ګواښ مې هم اخيستی و چې کور ته په رسېدو تر دې به لا بد وهل به مې نصيب کيږي، خو بيا هم يو عجيب آرام احساس مې درلود، داسې ښکارېده لکه د پخوا په شان نور دومره وېره او اضطراب نه لرم. اوس مې آرمان کاوه چې کاش له اول مې ذوالفقار ته رښتيا ويلې وايې ..

اوس چې ښه فکر کوم زما د دروغو ويلو لس سلنه وېره که د ذوالفقار د غوسې وه نوی سلنه هغه خوبونو ته ګرځيدل کوم چې دوه مياشتې پرلپسې توګه ما هره شپه ليدل، هغه خوبونو زما اراده دومره کمزورې کړې وه چې فکر مې کاوه زما له لاسه اخر په ذوالفقار يو څه کيږي، او ما د هغه خوبونو تعبير لځان سره داسې کړی و که زه ذوالفقار ته رښتيا ووايم نو هغه به ځان خطر ته واچوي او زما هغه خوبونه کوم چې شموئيل ويل ټول هسې د زقوم مضريت دی رښتيا به شي ..

اوس د شموئیل خبره مې د زړه له تل درک کول، هغه یو دم صحیح ویل وه، اوس پوهېدم زقوم یوازې زما په خوبونو او فکرونو کې لاس وهنه نه کوله، بلکې زما احساسات یې هم ورو ورو کنټرولول،د ذوالفقار خواته مې وکتل چې په تروش تندی سټرینګ کلک په لاس کې نیولې و او دوه سترګي سړک خواته وی، کله چې یې احساس کړل چې زه ورته ګورم نو د سترګو له کونج یې راوکتل چې ما ژر وویل:

- ما نه باید تاته دروغ ویلې وایې، خو ...

ذوالفقار په همغه تروش تندی راوکتل او په پوسخند یې زما خبره پرې کړل او ویې ویل: خو څه؟ اها رښتیا تا غوښتل زما ساتنه وکړې په دروغ ویلو کنه؟

په شرم مې سر ښکته واچو، چې هغه په افسوس سر وخوځاوه.

ذوالفقار- هسې دی قد ویستلې طاها، عقل دی د یو ماشوم په اندازه لا نه دی، ستا څخه د محمد عقل لا زیات دی، که نور نه وی په دی خبره ښه پوهیږی که په کوم خطر کې وی نو رښتیا ووایې نه دا چې مخامخ زما سترګو ته راوګوری او دروغ ووایې ..

- ما بخښنه وغوښتل ذوالفقار، تر کله غواړی دا خبره زما په سر ووهې؟
ذوالفقار- د غول خوړلو وروسته بخښنه غوښتل څه فایده؟ که ته د بخښني سړی وایې نو د هغه لومړۍ غول خوړلو وروسته دی ما ته دروغ نه ویل.
- څه وکړم چې ته باور وکړی دا ځل د زړه له تل پښیمان یم او نور درته دروغ نه وایم؟

ذوالفقار عصبی وخندل او ویې ویل: نه، ته نور کوم زحمت مه باسه وراره ...تا ډېر څه وکړل اوس وار زما دی چې یو څه وکړم.

که څه هم د ذوالفقار لهجه ګواښونکي وه، خو له دې چې ما ته یې وویل وراره! خندا راغلل ذوالفقار هېڅکله ما ته داسې غږ نه و کړې، زما د خندا په لیدو هغه داسې

بد،بد راوکتل چې وډار شوم هسې نه کور ته د رسیدلو مخکې همدلته مې خمیره کړې.

- وبخښه هغه ... تا لومړۍ ځل داسې عجیب توګه وویل وراره .. نو خندا راغلل ..

ذوالفقار بد،بد راوکتل چې ما هم خپل خوله وتړل او ځان مې د موټر دروازې ته لړ نور هم نږدې کړ.

د مازدیګر د آذانونو سره یوځای د کور سړک ته ورسیدو، ما سهار چې یوه ګوله وچه ډوډۍ د یو پیاله چای سره خوړلې وه، له هغه وروسته مې هېڅ شئ نه و خوړلي، او اوس وږی وم غوښتل مې د ذوالفقار څخه وپوښتم چې هغه ستا فرمایش څنګه شو؟ تا خو ویل زبیر به د غرمې لپاره یو سم شئ راوړي؟ خو کله چې مې د هغه تروش تندی ولید نو خپل ځواب مې پخپله ورکړ: په داسې حال کې د ډوډۍ خبره کول ښه نظر نه دی طاها ...

همدا چې موټر له سړک څخه تاو شو تر څو کوڅې ته ننوځي، ذوالفقار ناڅاپه بریک وواهه، ما سر پورته کړ، کوڅه د موټرونو څخه ډکه وه. یوازې یو یا دوه نه...
نږدې اته یا نهه موټرونه ولاړ وو، او د ډېرو موټرو څراغونه لا هم بل وو. د دومره ډېر موټرانو په لیدو یو نااشنا بد احساس مې په زړه کې پیدا شو.

ذوالفقار هم لکه چې د هغه دومره موټرانو په لیدو لږ ورخطا شو، ځکه په ټیټ غږ یې ځان سره وویل:
— خدای دې خیر کړي.

موږ موټر هماغه د سړک غاړې ته ودراوه او ښکته شوو،هر ګام چې د کوڅې خواته نږدې کېدو، د شور، ماشور او ژړا غږونه مو واضح تر غوږ کیدل. د ژړا غږ چې مې واورېد، لومړی فکر چې مې ذهن ته راغی هغه دا و چې مړی شوی؟ خو څوک؟ چېرته؟ د چا کور کې؟

زړه مې ناڅاپه درووند شو. غوښتل مې منډه کړم او ژر تر ژره ځان تر کوره ورسوم. وېره مې زړه ته راولېدلې وه چې خدای مکړه په اقرا دوی خو کوم څه نه دی شوی؟ هغه مسج مې د سترګو مخکې پورته ښکته کیدی "زمونږ حساب کتاب خو لا پاتې دی... په دې دومره تلوار ته چیرته روان یې؟" ذهن کې مې یوه خبره راڅرخیدل د حساب کتاب څخه یې مطلب زما کورنی وه؟ اقرا ... محمد ... په دی فکر ساه مې سینه کې بنده شول، ذهن مې یوازی ویل منډه کړه او خپل په سترګو وګوره چې څه مصیبت درباندی نازل شوی..

خو لا یو ګام مې نه و اخیستی چې ذوالفقار له اوږی ونیولم او په کرار غږ یې وویل:
— په کراره طاها ... زمونږ کور کې خیریت دی ...
په لړزانده لهجه مې وویل: د ... د کوم خوا دومره ډاډمن یې؟
ذوالفقار کوڅه کې موجود موټرانو خواته اشاره وکړه.
— فکر نکوم زمونږ د کورنې او فامیل لپاره دی دومره نظامي کسان راشې، چې بیخې د قدم اېښېدلو ځای دی لا نه وی ..؟!

د هغه په خبره په تلوار مې د موټرانو خواته وکتل او تازه مې دی خبری ته فکر شو، ذوالفقار رښتیا ویل کوڅه کې موجود ټول موټران نظامي وه، ځینې د پولیسانو رنجرونه وه او یو،دوه هم لنډ کرزورونه وه کوم چې زیاتر د دولت کسانو کاروه. په دی فکر چې په اقرا دوي کوم څه نه دی شوی هوسا ساه مې واخیسته، خو لا هم حیران وم. اخر څه پېښ شوي؟ ولې دومره خلک راټول شوي؟

دا ځل لږ په ډاډه زړه د ذوالفقار سره روان شوم، د جنرال دوی د کور مخې ته امبولانس ولاړ و، سره څراغ یې پر دېوالونو تاوېده او کوڅه یې سور رنګ کړې وه، بیحد د خلکو ګڼه،ګوڼه وه او جالب دا وه چې زیاتر کسان چې ولاړ وه یا د پولیسانو جامه یې اچولې وه یا هم ساده دریشې اچولې وه خو لاسونو کې مخابري وی، زما ډېر زړه غوښت چې لومړی کور ته ننوځم او د اقرا دوی پوښتنه وکړم چې څنګه دی؟ خو ذوالفقار چې د هغه شور ما شور خواته روان شو مجبور زه هم ورپسې

شوم، ذوالفقار د یوه سږي ځخه چې د پولیسو جامه یې اغوستی وه او شاوخوا د اته دېرش یا هم نهه دېرش کالو ښکارېده وپوښتل:

– څه شوي؟ خیرت خو دی؟

هغه په بد نظر لومړی ذوالفقار بیا زما خواته راوکتل او په توند لهجه یې وویل:
– تاسو بل کار نه لرئ چې هره دقیقه راځئ پوښتنه کوئ څه شوي؟ څه شوي؟
د هغه په تونده لهجه د ذوالفقار تندی تروش شو.
ذوالفقار- زما د کور مخې ته مو داسې بیروبار جوړ کړې، نو که زه دا پوښتنه ونه کړم، څوک یې باید وکړي؟

پولیس لږ حیران شو، خو ژر یې خپل حالت سم کړ او دا ځل یې په نسبتاً نرم غږ وویل: تاسو د جنرال صاحب خپلوان یاست؟

ما غوښتل ووایم نه...

خو زما له خولې لا خبره نه وه وتلې چې ذوالفقار وویل: هو.

د هغه په دې کلک "هو" زما سترګې له حیرته پراخې شوې، موږ د کوم وخت د هغه خبیث جنرال خپلوان شوی و؟

خو ذوالفقار بغیر له دې چې زما حیران حالت ته کوم پام وکړي، دوه سترګې هغه پولیس عسکر خواته ونیول، چې هغه سمدستي خپل هغه ملګری کوم چې د دروازې مخې ته ولاړ و لږ څنګ ته کړ او موږ ته یې د ننوتلو لاره خلاصه کړه، بیا یې په چاپلوسه لهجه وویل:  خدای مو دې آخر غم کړي ... زه نه وم خبر چې تاسو د جنرال صاحب خپل یاست، دننه تشریف یوسئ.

ما په حیرت کرار له ځانه سره وویل: آخر غم کړي؟
زړه مې ناڅاپه درونږ شو، غوښتل مې وپوښتم: څوک مړ شوی؟

خو لا مې خوله نه وه خلاصه کړې چې ناڅاپه یو غږ راغی:

– طاها...

مخ مې چې واړاوه، نظر مې په بوډا ولګید چې د جنرال دوی له کور راووت، د هغه په لیدو د خولې لاړې مې په وېرې تېرې کړې، د هغه حالت هېڅ ښه نه ښکاریدی، رنګ یې پریدلې و او سترګي سرې وې، نظر مې د هغه له څهرې څخه راښکته او د هغه پر اوږه ښخ پاتې شو، د هغه اوږه په یو نظامي بانډیج کلکه تړل شوې وه، ما دا بانډیج ښه پېژنده دا کوم عادي ټوکر او پانسمان نه و دا بانډیج هغه وخت کارېدی کوم وخت چې مقابل جانب مرمۍ خوړلې وې، دا بانډیج زما پر اوږه هم و نو ځکه ډېر ژر مې وپیژنده، یعنې بوډا مرمۍ خوړلې چې داسې خپل اوږه کلک تړلې؟

بوډا کرار زموږ خواته راغی، ذوالفقار مخکې ورغی.
– څه شوي؟

@Shuhab09

بوډا شاوخوا کوڅه کې موجود کسانو ته وکتل، لکه چې نه غوښتل دلته کوم څه ووايي، ذوالفقار د هغه د کتلو په مانا پوه شو د کور خواته یې اشاره وکړه:
— راځې، دننه کور کې به خبرې وکړو.

بوډا سمدستي سر وخوځاوه، ذوالفقار په سترګو ما ته د کور خواته اشاره وکړه، د هغه د اشارې په معنا پوه شوم په تلوار کور ته ننوتم، تر څو وګورم اقرا دوی چیرته دی؟ همدا چې د کور دروازه مې خلاصه کړه نو اقرا مې د دروازې څنګ ته ولاړه ولیده، هغې د دروازې د کوچنې درز څخه دباندې کوڅې ته کتل، د هغې په لیدو د څو شیبو مخکې وېره مې ختمه شوه، خو د هغې دی کار ته مې خندا هم راغله. اقرا غوښتل کوم څه ووایې، خو ما د خبرو اجازه ورنکړل د کور خواته مې اشاره وکړه:

- کور ته ننوځه مېلمه لرو، وریندارۍ ته هم ووایه چې بهر رانشي.

زما په خبره اقرا سمدستي روانه شوه، د هغې منډه وهلو ته مې له شالخوا وکتل او بې اختیاره مې مسکا پر شونډو خپره شوه، چې ذوالفقار کور ته راننوت، شاوخوا یې وکتل کله چې حویلې کې کوم څوک و نه لید نو بوډا ته یې د دننه راتلو ست وکړ.

بوډا په کرار ګامونو کور ته راننوت، ما دروازه د هغه شاته بنده کړه او په تمه وم چې دوی مېلمه‌خانې ته ننوځي، خو بوډا وویل:
— همدلته به خبرې وکړو.

ذوالفقار سمدستې وویل: نه، داسې نه کیږي راځئ دننه یو پیاله چای وڅښې.

د ذوالفقار داسې ست کولو ته مې خندا راغلل، دوي دواړو یوه میاشت مخکې یو بل ښه جوړ سره وهلي،ډبولې وه، خو اوس یې بیا د چای څښلو ستونه سره کول عجیب وه ...
بوډا- ان شاءالله یو بل وخت، اوس لږ کار لرم.

د بوډا په دی خبره ذوالفقار هم نور ست ونکړ، او په کرار ګامونو په قدم وهلو شول، زه هم ورپسې شوم، د کور شاته حویلې ته چې ورسېدو بوډا ودرېد، څو شېبې چوپ و لکه د خبرو د پیل لپاره کلمې لټوي بیا یې په کرار غږ وویل: په جنرال دوي برید شوی.

د دې خبرې په اورېدو بی‌اختیاره مې وویل:
- په جنرال ...؟ چا .. چا برید کړی؟

بوډا زموږ دواړو خواته راوکتل او یو لفظ یې وویل، خو د هغه یو لفظ وزن دومره درووند و چې ما بې اختیاره پر دیوال لاس کیخود تر څو خپل تعادل وساتم. خو ذوالفقار هیڅ ونه ویل، یوازې یې تندی تروش کړ، خپل لاسونه یې تر شا وتړل او په درندو غږ یې هغه پوښتنه وکړل کوم چې زما ذهن کې هم ګرځېدل.

ذوالفقار- ژوندی دی؟

بوډا ژوره ساه واخیسته:
– هو، ژوندی دی... خو سخت ټپي دی.
که څه هم د جنرال د رنګ مې لا ښه نه راتلل، خو له دی چې ژوندی و بې اختیاره مې هوسا ساه واخیستل، خو دا بیغمې د بوډا په دویم خبره یو دم لمینځه لاړ ..

بوډا- خو زوی یې، وژل شوی...

نفس مې سینه کې بند شو ... څــه؟ د جنرال زوی مړ شوی؟ دا خبره مې لا هضم کړی نه وه چې بوډا خپل خبره وغځول او ویې ویل:
– البته یوازی د هغه زوی نه دی وژل شوی ..
ذوالفقار په غوسه د بوډا خبره ورپرې کړل او ویې ویل:
– څه مطلب یوازی د هغه زوی نه دی؟ واضح خبری وکړه نور څوک وژل شوی؟

بوړا ژوره ساه واخیسته:
— خبره داسې وه چې سهار وختې جنرال صاحب زما دفتر ته راغې و او ما ته یې ګواښ وکړ...
په حیرت مې ول: تاسو ته یې واښ وکړ؟ په څه خاطر؟
ذوالفقار په پوسخند وویل: تا ته یې هم ګواښو وکړ، که لیاده دی نه وی وتلې.

ما کوم توجه د ذوالفقار خبرې ته ونه ښودل او دوه سترګي د بوړا خواته ونیول چې هغه ژوره ساه واخیسته او ویې ویل:
— کوم دوسیه او لیست چې جنرال صیب منظم کړی و، او پکې د هغه کسانو نومونه لیکلي و کوم چې دی ماموریت کې ونډه اخیستې وه، هغه دوسیه د ده د دفتر څخه یو چا پټه کړی وه.

جنرال صیب هم ګمان کړی و چې دا زما کار دی، نو سهار وختې زما دفتر ته راغلو او زما ګواښول یې شروع کړل، خو ما ورته وویل چې ما دا کار نه دی کړی، هغه باور وکړ کنه الله اعلم، خو زما له دفتر ووت او لاړ .. خو د تلو یو ساعت وروسته یې خبر راغلو چې د محکې په لاره کې په موټر یې ناشنا کسانو برید کړی جنرال زخمي او زوی ځای په ځای وفات شوی ...

ذوالفقار په مشکوک توګه وویل: و دی ویل ناشنا کسانو؟ مطلب تاسو ډاډمن نه یاست چې برید چا کړی؟ هسې توکلې غواړی په الفا باندی دا خبره وتړی؟

بوړا خپل په باندیج داره اوږه لاس تېر کړ او دا ځل په داسې غږ چې غوسه ورڅخه له ورایه څرګنده وه وویل: نه، هسې ګمان نه دی ډاډمن یو چې د هغه کار دی.
ذوالفقار- د کوم خوا دومره ډاډمن یاست؟
بوړا- ځکه یوازې د جنرال زوی نه دی مړ شوی، حمیدی هم وژل شوی  ...

نور نو د رښتیا د درېدو توان مې نه درلود، هغوی خبری کول خو زه کرار پر ځمکه کښیناستم،فکر مې کاوه فشار مې ښکته شوی،ذوالفقار راباندی غږ کړل تر څو پاسېږم

خو ما د هغه لځایه د بوړا خواته وکتل چې هغه خپل جیب ته لاس کړ یو کاغذ چې څنډه یې لړ پر وینو سره وه خپل د جیب راوویست او ویې ویل:
– د دې څخه مخکې چې پر ما برید وکړی دغه کاغذ مې د حمیدی د جسد سره وموند او هلته ډاډمن شوم چې دا کار د الفـــا دی ..

د الفا د نوم په اوریدو د ذوالفقار تندی تروش شو، ما هم بې اختیاره ژوره ساه واخیسته، فکر مې کاوه د دی نوم سره مې حساسیت پیدا کړی هر ځل چې اورم، د زړه درزا مې تېزېږی ...

بوړا کاغذ زما خواته ونیو خو مخکې له دې چې زه یې واخلم، ذوالفقار په تلوار کاغذ د هغه له لاس کش او خلاص کړ، زه هم په زحمت پاسېدلم تر څو وګورم څه لیکلې په غټ تورو د کاغذ منځ کې لیکل شوې وه:

"زمری په نوم د ځنګل پادشاه دی ..
خو اصلي ځواک تل د لیوه په لاس کی وی ...
نو د لیــوانو د مشر الفـــا لوبي ته ښه راغلاست ..."

د هغه جملې پر ویلو فشار مې دا ځل بیخې صفر شو او بیرته پر ځمکه کښیناستم، دا جمله د الفا وه، دا مې ښه پېژندل هغه تل ځان د زمری څخه ځواکمن ګڼلو الفا .. د لیوانو مشر، هغه وحشي حیوان چې هېڅکله نه رامېږی .. ذوالفقار څو شېبې هېڅ ونه ویل، ما فکر کاوه شاید غوسه شې کنځل وکړی، خو هغه په چوپتیا کې کاغذ کرار خپل لاس کې تاو کړ او د شونډی لاندی وویل:
حرامي ....(خو ناڅاپه یې د بوړا خواته وکتل او په کلک لهجه یې وویل: دا حرموني اخر غواړی څه؟

بوړا- ځواک ... هغه خپل پخواني ځواک غواړی، د هغه نیول او زندان ته اچول که څه هم یوازې د څو ورځو لپاره وو، خو همدومره کافي وو چې د خلکو له زړونو یې وېره کمه شې، په داسې غیر قانوني ډلو او مافیایي باندونو کې بریالۍ هغه کس دی

چې وېره او وحشت يې ډېر وی ... د دوي قانون د ځنګل قانون دی هر يو چې غښتلې وی همغه پادشاه دی .. الفا خپل اعتبار د دی ماموريت وروسته يو څه له لاسه ورکړی، نور ډلې حاضر نه دی د هغه سره کاروبار وکړې، او دا کار هغه غوسه کړې، هغه غواړی په دی ډول بريدونو خپل ځان حريفانو ته قوی ثابت کړې تر څو بيا خپل نوم او ويره ژوندی کړي.

بوډا څو شيبې چوپ شو بيا يې کرار وويل: او عزيزی ...

د هغه د نوم په اورېدو مې بې اختياره غوږونه تېز شول او سمدستي مې وپوښتل:
- پر هغه څه شوي؟

بوډا ژوره ساه واخيسته، لکه چې دا خبره ويل ورته اسانه نه وي.
— الفا نه غواړي د عزيزی خبره تر محکمې ورسېږي ... هغه غواړي عزيزی پخپل ووژني، تر څو ټولو ته څرګند کړي چې لا هم زور او قوت د هغه په لاس کېدی ...

د دې خبرې په اورېدو مې د زړه درزا يو دم زور واخيست، د خولې لاړې مې تېرې کړې او په ډېر کرار غږ مې وويل:
- مړ کړی يې دی؟

بوډا سر وخوځاوه.
— نه... وار يې پرې کړی و. خو عزيزی هم عزيزی دی، دومره په اسانه نه مري... بچ شوی دی، خو ټپي دی.

بې اختياره مې هوسا ساه واخيسته، خو ذهن مې د راپيښ شوی حالت په اړه کش،مکش کاوه باور مې نه راتلو هر څه ډېر ژر مخ پر بدليدو وه، تر څو ساعتونو مخکې ټول شيان عادي وو... خو اوس داسې ښکارېده لکه يو ناڅاپه طوفان چې هر څه ګډوډ کړي وي.

ذوالفقار څه نه ویل او خاموش ولاړ و، بوډا ناڅاپه خپل جیب ته لاس کړ، ما فکر وکړ شاید کوم بل کاغذ راباسی؟ خو نه، دا ځل د کاغذ لځایه یو تور اوسپنه چې د ماذدیګر په کمزورې رڼا کې ځلېده خپل له جیب راوباسل ... توفنچه وه ... همغه زما توفنچه کوم چې عزیزی راکړې وه، بوډا څو شېبې په ځېر وروکتل بیا یې زما خواته ونیول.

– واخله.

ما بغیر د څه ویلو وروکتل، بوډا کرار سر وخوځاوه او ویې ویل:
– اوس حالت بدل شوی طاها... الفا اوس مخامخ بریدونه پیل کړي، که حالت داسې دوام وکړي بیا هېڅوک خوندی نه دی.

ما تر اوسه د توفنچې خواته وکتل، دا یوازی یو وسله نه وه، دا د را روان خطرناک حالتو لومړۍ نښه وه.

بوډا په همغه کرار غږ دوام ورکړ.
– ستا نوم که څه هم د جنرال په لیست کې نه و، خو موږ ټول پوهیږو چې د الفا .. د لیست په لومړۍ سر کې موجود دی.
ذوالفقار کرار زما خواته وکتل، د هغه په سترګو کې عجیبه جدیت و.
ذوالفقار- واخله طاها ..

ما په تردید او شک د ذوالفقار خواته وکتل، هغه خپل ویښتیانو کې لاس تېر کړ او په همغه جدیت یې وویل: د نن پیښه دی لیاده ووتل؟ که یوه ورځ یوازی ځان چیرته ګیر شوی وسله ښه ده پکار دې راځي واخله ...

د ذوالفقار خبره صحیح وه، نن څه چې ما د هغه بل پرون ماښام د پیښې څخه لا درس عبرت اخیستې و، لاس مې وغځاوه او توفنچه مې د بوډا له لاسه را واخیسته، عجیب احساس مې درلود فکر مې کاوه بیا هغه څو میاشتو مخکې ماموریت ته تللې یم ..

بوډا کرار وويل: پوهېږم شايد د دی توفنچې په ليدو چندان ښه خاطرات دی ذهن ته رانشي، خو متاسفانه نشم کولای دا توفنچه درته بدل کړم، حوزه کې د يو مرمی پوښتنه لا زموږ څخه کيږی، خو دا توفنچه ځکه چې د دولت نه ده نو ته يې لځان سره ساتلي شې ..له دې وروسته بايد ډېر احتياط وکړی ..

بوډا د دې خبری وروسته نور څه ونه ويل، يوازې يې سر وخوځاوه او د د دروازې خواته روان شو.

ذوالفقار تر دروازې پورې ورسره لاړ. ما هم د شالخوا ورپسې کتل، بوډا چې له کور ووت، نو د څو شيبو لپاره د کوڅې شور، ماشور تيز شو خو ذوالفقار ژر دروازه بنده کړل، زما خواته راغې او کرار يې وويل:
— راځه دننه کور ته (بيا يې زما لاس کې توفنچې ته اشاره وکړل) دا هم پټ کړه.

بغير د څه ويلو توفنچه مې جيب ته کړل او د ذوالفقار سره يوځای کور ته ننوتلم، اقرا دوي دهلېز کې وه، داسې ښکارېده لکه چې له ډېرې مودې راهيسې موږ ته انتظار وه، زموږ په ليدو خپل لځايه راپاسيدل لومړی ما او بيا يې د ذوالفقار خواته وکتل او کرار يې وپوښتل:
— څه شوي؟ دا دومره پوليسان د څه لپاره راغلي؟ څوک مړ شوی؟

سر مې پورته کړ او سرسري مې وويل:
- زموږ مخامخ همسايه دولت کې کار کوي، د هغه زوی يو چا وژلي، نو ځکه داسې حال دی.

اقرا او د ذوالفقار ښځې په وحشت سره "وي" کړل او اقرا په تلوار بيا پوښتنه وکړه:
— چا وژلي؟ بيچاره؟ دښمني لري که څنګه؟

ما کرار ځواب ورکړ:
- نه پوهېږم، موږ هم اوس خبر شو...

اقرا نور څه ویل غوښتل، خو ذوالفقار اجازه ورنکړه، او ما ته یې وویل:
— زما کوټې ته راشه، لږ کار درسره لرم.

د هغه د خبری په مطلب پوه شوم، د اظهاراتو وخت و، څه مې چې دا څو وخته کرلی وه نن مې باید ریبلې وای، بې له څه ویلو ورپسې روان شوم، کوټې ته چې ننوتلو ذوالفقار دروازه کرار وتړله او ما ته یې د کښیناستلو اشاره وکړه ...
— ښه نو له اول کیسه وکړه چې څه چل وو؟ البته، رښتیا ووایه، ځکه که دروغ ووایې، نو د هر خر څخه مخکې پخپل لاسونو دی وژنم او همدلته د حویلې شاته دی دفن کوم طاها ...

ذوالفقار په داسې جدیت زما د قبر ځای راوښودلو، چې د خولې لاړی مې تېر کړل او د ځان سره مې وویل: اوبه خو اوس هسې هم زما د سر تېر دی، نو څه یو متر وی څه دوه؟ څه فرق کوی؟ راځه ذوالفقار ته ټول رښتیا ووایه او دواړه بیغمه کړه، په دی فکر لګیا شوم او ټول کیسه مې ورته وکړل یوازیني شې په اړه چېمط ونه ویل هغه طلا وه! نه پوهېږم ولې خو هغه طلا راته امانت ښکاریدل .. د عزیزی امانت او زړه مې غوښتل هغه وساتم تر څو بیرته یې عزیزی ته تسلیم کړم ...

زما د خبرو کولو په جریان کې ذوالفقار بغیر د څه ویلو دوه سترګې راته نیولې، کله چې چوپ شوم نو هغه سر وخوځاوه او ویې ویل:
— همدومره؟ بل کوم شئ خو نه پټ کوی؟
- نه، څه چې وه هغه ټول مې درته وویل.

ذوالفقار سر د پوهیدو په انداز وخوځاوه بیا یې په ځېر نظر راوکتل او په کلک یې وویل: نور ما ته دروغ مه وایه طاها.
ژر مې سر د سمده په توګه وخوځاوه، تر څو خدای مکړه غوسه نشې.

ذوالفقار- لکه بزی پشان سر مه خوځاوه ژبه لری هغه وخوځاوه.
په تلوار مې وویل: هو .. پوه شوم نور کوم څه نه درڅخه پټ کوم.

ذوالفقار- دروغ هم مه راته وایه.
- سمده دروغ هم نور نه وایم.
ذوالفقار- خپل په سر هم کوم کار مکوه.

د هغه خبری داسې وه لکه ما چې پر قسم تېروی؟ د هغه دی کار ته پر شونډو مې نری مسکا راغلل او ومې ویل: سمده خپل په سر هم کوم کار نکوم.
ذوالفقار سر وخوځاوه او له نالې پاسېد همغه حال کې وویل:
— که دا توفنچه دی خوښه نه ده راکړه زه یې خپل د توفنچې سره درته بدل کوم.
په ګنګس انداز مې وویل:
- ستا توفنچه؟

ذوالفقار د الماری خواته لاړ یو څو جوړی کالې اخوا دیخوا کړل او بلاخره د یو جوړه کالو د جیب څخه یې یوه توره توفنچه چې نسواری لاستې درلود راوباسل.
د توفنچې په لیدو خوله مې له حیرت خلاصه پاتې شوه، زه د همدی ورځ څخه وېردلم .. له دی چې ذوالفقار دی منحوس لوبې ته ځان راداخل کړی ...
ذوالفقار توفنچه زما خواته ونیول.
— واخله وګوره ښکله ده؟ خوښه دی ده کنه؟

بغیر له دی چې د توفنچې څخه نظر لری کړم ومې پوښتل: دا تا له کومه کړل؟
ذوالفقار- وامې خیستل.
- د څه لپاره؟
ذوالفقار په ریشخند وویل:
— د دی لپاره که خدای یوه ورځ زوی راکړو نو د هغه په خوشحالی کې ټکان وکړم، دا نو ښکله بې معنا پوښتنه ده؟ معلومداره ده چې د امنیت لپاره مې واخیستل.

ذوالفقار داسې حق په جانب توګه راکتل چې پوهیدم هره څه ووایم هغه زما خبره نه مني.
- ذوالفقار .. توفنچه بې عجل مرګ دی، بلخصوص ستا لپاره چې په هسې خبره

غوسه درځې ..
ذوالفقار- ته وېرېږې چې په غوسه کې ورباندې کوم څوک ونه وژنم؟
- وېره نه، بلکې ډاډمن یم ..
ذوالفقار- غول مخوره، زه دومره هم بې اعصاب نه یم ... دا خبرې پرېږده وګوره دا توفنچه دې خوښېږي کنه؟

لومړۍ مې غوښتل ورته نصیحت وکړم او دا توفنچه ورځخه ورکه کړم، بیا مې چې ښه فکر وکړ نو د ذوالفقار خبره راته منطقي ښکاره شوه، موږ په عادي حالت کې نه و هره شیبه د هر پیښې امکان و داسې حالت کې د ذوالفقار سره توفنچه ښه وه، البته دومره هم لیوني نه و چې په مازې خبره خلک ووژني، به دې فکر ژوره ساه مې واخیسته او سر مې وخوځاوه.

ذوالفقار په خوشحالۍ وویل: وګوره دا نوی ماډل توفنچه ده مکروف نومیږي، پخواني توفنچو اوه مرمۍ خوړلې خو دا دوولس مرمۍ خوري، دا د روسیه ساخت دی.
توفنچه مې د هغه له لاسه واخیستل لږ مې وځرخول او بیا بې اختیاره مې وخندل او ومې ویل:
– ذوالفقار .. مکروف نه ماکروف نومیږي ..

هغه تندی تروش کړ.
– فرق یې څه دی؟ ما هم همدا وویل.

پخندا مې وویل:
– فرق یې دا دي چې بد چل دی خوړلې ...
ذوالفقار په ګنګس انداز وویل:
– څه دې وویل؟ ما چل خوړلې؟

د توفنچي شاجور مې راوویست د رښتیا یې هم دوولس مرمۍ خوړل، او له مرمیو ډک هم و، شاجور مې د ذوالفقار خواته ونیو او ومې ویل: وګوره دا دوولس مرمۍ خوري، داسې حال کې چې اصل ماکروف اوه مرمۍ خوری، مطلب دا بدل دی.

ذوالفقار په حیرانتیا راوکتل.

— ته څنګه د توفنچو په اړه دومره معلومات لرې؟

اوږې مې پورته واچول او ومې ویل:

— عزیزی راته ویلي و، هغه د وسلو په اړه ډېر معلومات درلود.

ذوالفقار بغیر د څه ویلو په دروند نظر راوکتل، چې ما د هغه توفنچه پخندا وڅرخول او ومې ویل: او دا خبره یې هم درته دروغ کړې چې دا نوی توفنچه ده، ماکروف صحیح ده چې د روسي ساخت دی خو د اوس نه دی د ډېر پخوا د شوروی د وخت دی.

خپل توفنچه مې د هغه خواته ونیول او ومې ویل: دا وګوره دا ګلاک دی.

ذوالفقار لږ رانږدې شو څو شیبې زما د توفنچې خواته وکتل د هغه وروسته یې وویل: دواړه یو رقم دی دومره فرق نکوی.

سر مې ورته وخوځاوه.

- نه... دا بیخي بل شی دی.

خپل د توفنچې شاجور مې ورته راویست او کرار مې وویل:

- دا وګوره دا اووه لس مرمۍ خوري، ستا د توفنچې څخه تقریباً دوه چنده.

ذوالفقار په حیرت وویل:

— اووه لس؟

- هو، اوولس ته دواړه لاس کې ونیسه.

ذوالفقار دواړه توفنچې واخیستل چې ما ورته وویل:

- کوم توفنچه ستا په نظر درنه ده؟

ذوالفقار خپل توفنچه راپورته کړل، چې ما پخندا وویل:
- اوس خپل په توپیر یې پوه شوی؟ عصری توفنچي سپکي وی خو مرمۍ ډېري خوري، خو ستا توفنچه درنه ده او مرمۍ هم لږ خوری.

ذوالفقار خپل توفنچي ته وکتل بیا یې په پوسخند وویل:
— ته غواړې ووایې ستا توفنچه زما ښخه ښه ده؟

خپل توفنچه مې د هغه له لاسه واخیستل او ومې ویل: هو، هغه هم ډېره ښه ده.
ذوالفقار په بې پروا انداز خپل اوږه پورته واچول او ویې ویل:
— مهم دا ده چې توفنچه ده او که ډز وکړې نو نفر وژلي شې، نور ټول بیځایه خبری دی ...

پخندا مې وویل: خود به یې تعریف کوی اوس خو دی چل خوړلې.

ذوالفقار بد،بد راوکتل بیا یې ناڅاپه وپوښتل:
— یعنې هغه کس .. همغه عزیزی هغه د وسلو کاروبارو کاوه چې تاته یې دومره معلومات درکړی؟
- نه، هغه د وسلو کاروبار نکو، د هغه سره ستا پشان ماکروف توفنچه وه، البته د هغه لاستي د شاجور برخه عزیزی د طلاو ښخه جوړ کړی و فرمایشي ... کله چې ماته یې دا ګلاک راکړ نو زما نظر د هغه په توفنچي و ما فکر کاوه د هغه توفنچه زما ښخه غوره ده، نو هغه وخت هغه راته د دی توفنچو په اړه معلومات راکړ ..

ذوالفقار- فکر کوم درته یې دروغ ویلې.
- ځنګه؟
ذوالفقار پخندا خپل توفنچه وخوځول او ویې ویل: شاید دا ډېر قیمتې وه او هغه تاته نشو درکولې نو ته یې په دی خبرو خطا ویستلې یې ...
- نه، د ماکروف بیه د ګلاک ښخه ډېره کمه ده،یعنې زه په دی توفنچې ستا رقم دوه

يا درې توفنچې اخيستلې شم(لږ چوپ شوم بيا مې وويل: عزيزی باندی هغه توفنچه بل ډول ګرانه وه ... داسې لکه يو ډول معنوی ارزښت چې ورته درلود؟

ذوالفقار غوښتل کوم څه ووايې چې ناڅاپه دروازه خلاصه شوه.

اقرا کوټې ته راننوته، ذوالفقار په تلوار خپل توفنچه د بالښت شاته پټه کړه، خو زه توفنچه په لاس داسې حال کې چې شاجور مې ورڅخه رااېستلی و په حيرانتيا د هغې خواته په کتو شوم، څو شېبې داسې چوپتيا شوه چې نه هغې څه وويل او نه هم ما. د هغې سترګې زما په لاس کې پر توفنچې ښخې وې، او زما سترګې د هغې پر څهره ... اقرا له وسلو څخه سخته کرکه درلوده او اوس چې يې زما په لاس کې توفنچه ليدلې وه نو په څهره کې يې له ورايه وېره ښکارېده ...

ژر مې شاجور توفنچې ته واچوه او ومې ويل:
- دا... د ذوالفقار توفنچه ده.

ذوالفقار سمدستي په حيرانتيا زما خواته راوکتل، چې ما ژر خپل خبره واړوله.
- نه... مطلب مې دا و چې ... دا د ذوالفقار د شرکت د ساتونکي توفنچه ده، هغه نن نه و راغلی، نو ذوالفقار دا له ځان سره راوړې وه ما هم کتل چې څنګه ده؟
بيا مې پوښتنه وکړه:
- تا کوم کار درلود؟

اقرا لکه چې زما خبرو لږ ارامه کړه،ځکه هوسا ساه يې واخيسته.
– هغه محمد راويښ شوی... ستا پسې ژاړي،ما ويل که بيکار يې يو ځل يې واخله.
- هو، بيکار يم اوس درځم.

اقرا په همغه ويرې انداز زما د لاس خواته وکتل او بيا کرار له کوټې ووته.
همدا چې دروازه بنده شوه ذوالفقار په کرار خو جدي غږ وويل:
– همدا څو دقيقي مخکې تا ماته څه قول راکړ؟
- څه قول مې درکړ؟

— دا چې نور به دروغ نه وایې.
نیم نظر مې د هغه خواته واچو او ومې ویل:
- نو اوس ما کله تاته دروغ ویلي؟

د ذوالفقار تندی تروش.
— نو دا اوس تا څه وویل؟
په حیرانتیا مې وویل:
- اقرا یادوې؟ ته غوارې هغې ته هم دا ټولې کیسې وکړم؟ که هغه له دې خبرو خبره شي خدای مکړه سکته کوي.

ذوالفقار په افسوس سر وخوځاوه.
— خبره هغه نه ده طاها، ما هم نه دی ویلې چې ته هغې ته رښتیا ووایه، کولای دی شو خبره واړوې یا هېڅ توضیح ورنکړې .. خو ستا ژبه په دروغو عادت شوې، همدا اوس دې داسې دروغ وویل چې زما لا باور راغلو چې دا توفنچه ستا نه ده ..

بې اختیاره مې وخندل، چې ذوالفقار د ولاړېدو حال کې کرار پر سر ووهلم او ویې ویل: د دې پر ځای چې خپل په دروغو وشرمېږې او سر ښکته واچوې خاندې؟

څه مې ونه ویل، چې ذوالفقار خپل توفنچه بېرته هماغه پخواني ځای کې پټه کړه او له کوټې ووت. د هغه له تلو څو شېبې وروسته ما هم خپل توفنچه جیب ته واچوله او کرار له کوټې ووتلم . باید ډېر پام وکړم اقرا نه باید هېڅکله زما په لاس کې توفنچه ووینې ...

هغه شپه تر سهار د جنرال دوي د کور څخه د ښځو د ژړا غږونه راتلل، او زما فکر د هغوي د هر چغې او ژړا سره د زر رقم خبرو او فکرونو خواته تلو، د سهار د اذان وخت و چې بلاخره هغه غږونه کرار شول، د لومړۍ اذان سره ما خپل لمونځ وکړ. او پر ځای څملیدم،تازه مې سترګې درنې شوې وې او غوښتل مې ویده شم چې ناڅاپه د کور دروازه وټکېده.

د دروازې په لومړۍ ټک سترګې مې خلاصې شوې. لا پوره نه و سهار شوی، هوا لا هم تیاره وه، د ځان سره مې وویل په دې سهار وختې څوک د کور دروازه ټکوي؟ بغیر له دې چې اقرا راویښه کړم په کرار له ځایه پاڅېدم او د حویلۍ خواته روان شوم، دروازې ته چې ورسیدم تر خلاصېدو مخکې مې غږ کړ.

- څوک یې؟

کوم ځواب رانغی، د دروازې لاستی مې لاس کې ونیو، او یو ځل بیا مې غږ کړ.

- څوک یې؟

بیا هم کوم ځواب رانغې یوازې چوپتیا وه، لږ شکمن شوم، لځان سره مې وویل شاید ما هسې ګومان کړې وی چې زموږ د کور دروازه ټکیږی؟ اصل کې شاید د بل کوم کور دروازه وی؟

په دې فکر د دروازې لاستی مې خوشې کړ او د کور خواته روان شوم، خو لا دوه ګام مې نه واخیستې چې دروازه بیا په ټکیدو شول.

ټک ...
ټک ...
ټک ...

دا ځل بې اختیاره مې لاس د جیب خوا ته لاړ، توفنچه مې راوخیسته او کرار،کرار بېرته د دروازې خواته نږدې شوم.

له خلاصېدو مخکې مې یو ځل بیا غږ کړل.

- څوک یې؟

خو بیا هم د څو شیبو مخکې پشان کوم خوب مې ترلاسه نکړ، دا ځل نو مې زړه کلک کړ، توفنچه مې ماشه کړل او په یو انتحاری حرکت کې مې دروازه خلاصه کړه.

خو کوڅه تشه وه ..
هیڅوک نه وو ..

په حیرانتیا مې شاوخوا وکتل، د کوڅې په تیاره کې یوازې په کوڅه کې د ولاړې موټراونو پیکه سایه ښکاریدل، نور نه کوم انسان تر سترګو کیدی نه هم کوم حیوان ...

څو شیبې مې ښه په ځېر شاوخوا وکتل، خو هېڅوک مې تر نظر نشو. لکه چې هسې توهم مې وهلې وو؟ د سهار یخ شمال چې راباندی ولږیده بې اختیاره د یخ له لاسه ولړزیدم غوښتل مې دروازه وتړم او کور ته ننوځم، لا مې لاس د دروازې په لاستي ایښی و او ننوتلې نه وم چې ناڅاپه نظر مې د دروازې مخې ته پر ځمکه باندی په یو کوچنی تور پلاستیک ولګید ...

د هغه په لیدو ځای کې مې جام پاتي شوم، زړه مې بې اختیاره په سینه کې په ټوپونو شو، ما د داسې ناشنا شیانو بلخصوص کوم چې کوڅه کې کیخودل شوی وی هیڅ ښه خاطره نه درلود، نظر مې د هغه تور پلاستیک څخه د جنرال د کور خواته لاړ همدلته ... همدلته هغه منحوس بوجۍ کیخودل شوی وه ... او اوس ...

د خولې لاړی مې تېر کړل او بیا مې د هغه تور پلاستیک خواته وکتل، خپل ځان ته مې دلداری ورکول شروع کړل، طاها دا هسې پلاستیک دی کوم شئ پکې نشته، ضرور کوم همسایه خپل د کور ګند راویستي او دلته یې ګوزار کړې، هو .. هو همداسی چل دی ... خو نه .. پلاستیک نه د ګندو ښکاریدی او نه هم ډېر ډک و، داسې و لکه چې تش وی؟

په دی فکر لږ مې جرئت پیدا کړ، په کرار مې یو ګام مخکې واخیست، ښکته شوم او پلاستیک مې له ځمکې راپورته کړ، زړه کې مې دعا،دعا کول چې پلاستیک تش وی

او هسې دلته د يو چا له لاس غورځېدلې وی، خو همدا چې را وامې خيست نو متوجه شوم چې پلاستيک لږ درونډ دی لکه چې کوم څه پکې وه؟

د خولې لاړی مې تېر کړل او د ځان سره مې وويل: اوس خو دی هسې هم راخيستې نو خلاص يې کړه او وګوره چې دننه پکې څه دی؟ په دی فکر د پلاستيک کوچنې غوټه چې زياتر نمايشي ورکړل شوی وه خلاص مې کړل او غوښتل مې د پلاستيک دننه لاس ننباسم چې ناڅاپه ...

د شا لخوا غږ راغې.

– طاها!

له وېرې مې توفنچه لاس کې کلک کړل او په تلوار وڅرخيدم.

ذوالفقار د برنډې په څوکه ولاړ و زما لاس کې د توفنچي په ليدو د حيرت څخه يې سترګي پراخي شوی، چې ما په تلوار توفنچه راښکته او بيا مې جيب ته کړل، هغه په کرار زما خواته راغلو او په مشکوک انداز يې وپوښتل:

– څه خبره ده؟ ته دلته څه کوې؟

ما خپل لاس کې پلاستيک ته اشاره وکړل او ومې ويل:
- دا مې د دروازې مخې ته پيدا کړ.

ذوالفقار په تلوار زما څنګ ته ځان راورسو، په شکمن ډول يې پلاستيک ته وکتل او ويې ويل:
– چا راوړی؟
-نه پوهېږم، دروازه څو ځله وټکېده، کله چې خلاصه مې کړه نو کوڅه کې هېڅوک نه و خو دا پلاستيک د کور مخکې اېښودل شوی و ..

ذوالفقار څو شېبې چوپ ودرېد. بیا یې کرار وویل:
– خلاص یې کړه.

پلاستیک مې په لاس کې وځرخو، زړه مې عجیبه ناارامه و. نه پوهېږم ولې خو داسې احساس مې کاوه لکه د دې کوچنۍ پلاستیک دننه کوم ښه خبر چې زما لپاره نه وي؟ خو د ذوالفقار شتون زړه او جرئت را زیاد کړی و، لاس مې پلاستیک ته ننباسې، یو کوچنی تور قوطی یې دننه و هغه مې راوخیست، پلاستیک کې نور شې نه و، قوطي مې پورته ونیو او ومې ویل:

- دا نو څشی دی؟

ذوالفقار زما د لاس قوطي واخیست او په تلوار یې خلاص کړ، دننه یې یو کوچنی ژیړ رنګ کاغذ او یو موبایل پروت و، د کاغذ په لیدو فشار مې یو دم صفر شو ... ن.. امکان نلری .. دا .. دا کاغذ څومره د بوډا د کاغذ پشان و؟ کوم چې د حمیدی د جسد سره یې پیدا کړی و .. ذوالفقار هم لکه چې همدی خبری ته فکر کاوه چې ژوره ساه یې واخیسته او کاغذ یې خلاص کړ، د سهار په هغه نیمه تیاره فضا کې ما د کاغذ په منځ کې لیکل شوی یوه غټ جمله ډېر ښه ولیدل او ساه مې سینه کې بنده شوه ...

" تاته دی ډالۍ وی طاها"

خپل د نوم په لیدو هغه یوځه پاتي احتمالات او شکونه هم لمینځه لاړل ... دا ... دا الفا راستولې و .. ذوالفقار په غوسه کاغذ جیب ته کړ او موبایل یې راوخیست، یو ساده تور سمسانګ موبایل و، تېې چې ووهل چالاند شو، کوم کوډ یې نه درلود، داسې و لکه چې تازه اخیستل شوی وی هېڅ اپلیکشن یا کوم بل شې پکې نه و انسټال شوی، بې اختیاره مې وویل:

- ذوالفقار ... ګالری .. ګالری یې خلاصه کړه ..

ذوالفقار نیم نظر د سترګو له کونج راواچو بیا یې د موبایل ګالری خلاصه کړه، یوه ویډو په ګالری کې موجود وه، یوازی یوه ... د ویډیو په لیدو ذوالفقار په تردید زما خواته راوکتل، چې ما په تلوار وویل:

- پلې کړه ذوالفقار ...

ذوالفقار په ویدیو ګوته ووهل او ویدیو شروع شوه، لومړی تصویر لږ لړزېده، داسې لکه چې موبایل په پټه نیول شوی وی؟ بیا کرار، کرار تصویر روښانه شو.

د څو شیبو لپاره مې زړه د درزیدو څخه ودرېد، که څه هم ډېر د دی کور او کوڅې خواته نه وم تللې خو ډېر مې ښه پېژندل ...

- دا... دا خو ...
ذوالفقار په حیرت راوکتل.

په ویډیو کې د بابا کور ښکاریدی، کمره د کوڅې له اړخه نیول شوی وه، لږ وروسته د جومات دروازه خلاصه شوه او څو کسان ورڅخه راووتل او بیا .. ویډیو زوم شول د یو کس خواته او ما د هغه کس څهره ښه صحې ولیدل بابا وو ..

د جومات له دروازې راووت، خپل فیرزوه یې تسبیح یې د واسکټ جیب ته واچول، ښکته شو خپل بوټونه یې پر پښو کړل، ودرید بیا خپل تسبیح له جیب راوباسل او داسې حال کې چې په ګوتو کې څرخول کرار،کرار د کور پر خوا روان شو ..

د ویډیو د هر ثاني په تېرېدو زما زړه داسې درزید چې فکر مې کاوه اوس دی چې له سینې څخه مې راووځي.

ذوالفقار کرار داسې لکه چې د ځان سره لګیا وی او باور یې نه وی شوی ویې ویل:
— دا ... لالا نه دی؟

بغیر له دی چې سترګې له موبایل څخه لرې کړم په لړزانده لهجه مې وویل:
- هو بابا دی ..

ویډیو بیا روانه شوه، د هغه د روانیدو سره زما د زړه درزا هم تېزه شوه. کمره کرار حرکت کاوه... د کوڅي د ارخ تېره شول او د کوڅې منځ ته راغله او بیا د بابا خواته نږدې شول، هر څومره چې کمره نږدې کېده، هغومره زما روح له وجوده تښتېده.بابا د جومات له دروازې راوتلی و، تسبیح یې په ګوتو کې څرخول او په ارام قدمونو روان و داسې لکه هېڅ خبره چې نه وي.

خو ناڅاپه کمره ښه ورنږدې شول او بیا یو ږد، دروند او وحشتناک غږ وویل:
– سلام علیکم.

هغه غږ داسې و لکه د مرګ د فرښتې غږ، د ویډیو تر شا د وېرې څخه زما د بدن ویښتیا زیغ ودرېدل، د غږ په اوریدو بابا ودرېد ..مخ یې کرار راواړو، څو شېبې په ځیر یې د هغه کس خواته چې کمره یې نیولې وه وکتل.
بیا یې کرار وویل:
– وعلیکم السلام.

هماغه لحظه ویډیو توره تیاره شوه، خو تر بندېدو مخکې، هماغه دروند غږ په تمسخر وویل:
– پلار دې څومره ښه سړی دی... طاها.

نور په ځان پوه نه شوم، ذهن مې یوازې یو فرمان راکاوه.
لاړ شه ...
وګوره بابا پر څه حال دی؟

غوښتل مې منډه کړم، خو د قدم اخیستلو مخکې ذوالفقار کلک تر لاس ونیولم.
– په کراره، طاها... لږ صبر وکړه.

په تېز نظر مې ورته وکتل.
- صبر وکړم؟ تا ویډیو ونه لیده؟ هغوی بابا تر نظر لاندې نیولی.

ذوالفقار ارام خو په جدي غږ وویل:
– ومې لیده.
لږ خاموش شو بیا یې زیاته کړه.
– او همدا دلیل دی چې باید له فکره کار واخلو.

د کوټې خواته مې وکتل، تیاره لا هم خپره وه، یوازې د لرې جوماتونو څخه اوس هم د سهار د اذان کرار،کرار غږ راتلې زړه مې بې واره درزېده ..
- ک ... که هغوی ورباندی کوم څه کړی وی بیا؟
ذوالفقار کرار وویل:
– که هدف یې وژل وایې نو ویډیو یې نه راستوله ..
زما سترګو ته ځېر شو.
– مستقیم به یې مړی دراستولی وای، لکه د جنرال زوی او هغه حمیدی ...

د هغه خبره مې ذهن کې په ګرځېدو شول، که څه هم عقل او منطق مې د ذوالفقار خبره منل خو زړه ... زړه مې ورخطا و او شاید دا زما په ژوند کې لومړی ځل و چې د بابا لپاره تر دې حده ورخطا شوی وم، په زړه کې مې دعا کول چې یوازې دا یو ځل، یوازی او یوازی همدا یو ځل دی خدای زما خبره واوری او بابا دی روغ و جوړ اوسیږی .. حاضر وم همدا اوس مړ شم، خو د بابا یو ویښته ته دی زیان نه وی رسیدلی ..

اوښکې مې بې اختیاره پر مخ روان شول، ذوالفقار چې زما ژاړ ولیدل لږ نرم شو.
– مه ژاړه طاها.
لکه چې زما ژړا عصبي کړی و چې په غوسه یې خپل ویښتیانو کې لاس کش کړ او ویې ویل:
– وایم مه ژاړه ... سمده همدا اوس ځو د لالا کور ته ..

سر مې پورته کړ.
- رښتیا وایې؟
– هو .. خو ژاړه مه.
بیا یې د کور خواته اشاره وکړه.
– کور ته راننوځه ترڅو زه لاړشم د موټر کیلیاني راوخلم، بیا ځو سمده؟

دومره مې حالت خراب و چې هیڅ نه پوهېدم څه وکړم؟ وېره مې زړه ته ننوتلې وه هره شیبه ذهن کې مې یوازی یو غږ انګازه کول" طاها پلار خو دی ښه سړی دی" دا غږ داسې و لکه روح چې زما له وجود باسې، ذوالفقار کور ته ننباسلم او بیا په تلوار خپل د کوټې خواته روان شو ډېر ژر بیرته راووت او زما خواته راغې.

– راځه.

دواړه په تلوار کوڅې ته ووتو، لمر لا سم نه و راختلې، کوڅه نیمه تیاره وه .. هوا هم یخه وه ..د پولیسانو د موټرو له امله ذوالفقار خپل موټر د کوڅې په آخر سر کې درولی و، موټر ته د پورته کیدلو سره سم ذوالفقار خپل موبایل راوویست او یو نمبر ته یې زنګ وهل شروع کړل کله چې مې سکرین ته وکتل، نو زړه مې لا ټک شو ...

پر سکرین لیکل شوي وو: لالا

زما سره د بابا نمبر نه و ...
د خپل پلار نمبر نه و ...
دومره مې هغه له ځانه لیرې کړی و، خو اوس...
هغه زما له لاسه په خطر کې و.

زړه مې غوښتل چې ای کاش ...
کاش هغه ورځ چې د الفا کسانو په مرمۍ وویشتلم، مړ شوی وایې ..
که هلته مړ شوی وایې، نو نن به دا ورځ نه وه،الفا به د لیوني سپي په شان زما د

کورنۍ پسې نه ګرځېده،که زه مړ شوی وایې، نو هیڅوک به په خطر کې نه وایې لوېدلي ...

اقرا ...ادی ... ذوالفقار او زبیر شاید .. شاید یو څو ورځې راپسې ژړلي وایې، خو ډېر ژر یې لیاده ویستلم، د هغه وروسته هر یو خپل د ژوند پسي تلې.. شاید هغه سل لکه منحوس افغانیو لړ تر لړه د اقرا او محمد ژوند سم کړی وای، بابا او ذوالفقار به هم زما د غلطیانو له امله په خطر کې نه وایې ... او زه ... زه به هم داسې د هر خبری او ټک سره د جنون تر حد نه وایې رسیدلې ...

دا فکرونه لیونۍ کولم هر څومره چې کوښښ مې کاوه نه مې شو کولای خپل ځان کنټرول کړم بد احساس مې درلود بلخصوص کله چې بابا خپل موبایل ته ځواب ورنکړ دا احساس مې څو چند شو، ذوالفقار موټر له کوڅي وویست .. همغه حال کې زما خواته لنډ نظر را واچاوه او ویې ویل:
— مه ژاړه طاها .. ان شاءالله چې خیرو خیرت به وی.

کوم ځواب مې ورنکړ، سترګې مې د سړک پر شاوخوا په تلونکو موټرانو و ګنډل او په زړه کې مې یوازې یو فکر ګرځېده " هسې نه ناوخته شوی وي؟"

ذوالفقار موټر ته سرعت ورکړ تر څو ژر د بابا تر کور ورسیږو ...

د موټر سرعت چې راښکته شو سر مې پورته کړ، کوڅه مې سمدستي وپېژندله. د بابا دوي کور ته رارسیدلې و ..موټر لا سم نه و دریدلی چې ما دروازه خلاصه کړه او ښکته شوم،یخه هوا مې پر مخ ولګېده، خو ما هېڅ احساس نه کاوه. یوازې مې منډه وهله.

ذوالفقار راپسې غږ کړل.
— طاها! لږ په کراره.

غږ مې ورځخه واورید خو کوم توجه مې ونکړل یوازې غوښتل مې خپل په سترګو بابا وګورم او ډاډمن شم چې کوم څه نه دي ورباندې شوي، په ژوند کې لومړۍ ځل د بابا د لیدو لپاره مې دومره تنده درلود ... کله چې د بابا دوي د کور دروازې ته ورسیدم، نو د ډېر ستړیا او ورخطایې څخه مې زړه داسې درزېده لکه اوس به له سینې څخه مې راووځي ..په بې صبرۍ مې دروازه وټکوله.

ټک... ټک... ټک...

خو هیڅ ځواب رانغی،لاس مې بیا پورته کړ او دا ځل لا په زور مې دروازه وټکوله. په لړزانده غږ مې ناري کړل.

- بابا ...

کوڅه چوپه وه، یوازې د لرې څخه د سپیو د غپېدو غږ راتلو هره شیبه پر ما د قرن پشان تېرېدل، بغیر د کوم صبر دا ځل لا په کلک مې دروازه ټکول شروع کړل ...

- بابا ..دروازه خلاصه کړه.

فکر مې کاوه زړه مې خولې ته راغلې دومره ورخطا وم، ذهن کې مې یوازې همغه منحوس غږ ګرځیده:

"طاها... پلار خو دې ډېر ښه سړی دی."

لاس مې پر دروازې ایښی و، داسې احساس مې کاوه که نن دا دروازه خلاصه نه شول زه به همدلته .. همدا شیبه مرم ...

څو شیبې چې پر ما باندی سم د جهنم د عذاب پر شان تېرې شول ناڅاپه د قلف د خلاصېدو غږ مې واورېد، او بیا د غژ، غژ غږ پر کولو دروازه کراره خلاصه شوه، زه بې اختیاره یو قدم شاته شوم چې بابا داسې حال کې چې سترګې لا هم د خوب

 څخه ډکې ښکاریدل او آماده باش داسې راغلې و چې د دروازې شاته هر څوک وې یو ښه جوړ وهل ورکړی له کور راووت ...

څو شیبې مې یوازې ورته وکتل، ذهن مې لا هم باور نه کاوه.
کرار مې وویل:
- بابا ..

زما څخه ډېر بابا زما په داسې په سهار وختي په دی بد حال لیدو حیران و، چې سترګې له حیرت پراخې شوی او په ناباوره غږ یې وویل: طاها؟ ته دلته څه کوی؟

زړه مې غوښتل ورنږدې شم، د لومړۍ ځل لپاره مې غوښتل غیږ کې ونیسم خو ..
خو قدمونه مې ونه خوځېدل، همغسې ولاړ خپل ځای کې پاتې شوم، یوازې په بې اختیاره ډول مې وپوښتل:

- ښه یاست؟

بابا یو ګام رامخکې شو ما ته مخامخ ودرید، او یو ځل بیا یې د سر څخه تر پښو په ځیر نظر راوکتل.
— زه خو ښه یم، خو ته راته چندان ښه نه معلومیږی، څه شوی؟ خیرت دی؟

کوم ځواب مې ورنکړ یوازی په تلوار مې خپل اوښکې چې پوهېدم تر اوسه مې پر مخ دی پاک کړل، داسې احساس مې کاوه لکه د زړه څخه مې چې یو درووند بار ناڅاپه پورته شوی وی، شاته مې د قدمونو غږ واورېد ذوالفقار و. پر بابا یې چې نظر ولګید ژوره ساه یې واخیسته او کرار یې وویل:

— شکر ...

بابا چې ذوالفقار ولید اندیښنه نور هم ډېره شول، زموږ دواړو خواته یې راوکتل بیا یې زما څخه وپوښتل:

– تا ته وایم طاها څه شوي؟ تاسو دواړه ولې داسې وارخطا یاست؟

زما بدن کې دومره شومه نه وه چې پر پښو دې لا ودرېږم څواب ورکول خو لرې، دا هم ښه و چې ذوالفقار راسره و هغه په نامحسوس توګه زما اوږه ونیول او ویې ویل: کوم خبره نشته، تاسو ښه یاست لالا؟

بابا په غوسه د هغه خواته وکتل.
– پر ما څه شوی چې تاسو دواړه هې هر دقه دا پوښتنه کوی؟ نه ویني ښه یم، پر تاسو دواړو څه مرګ شوی؟ ولې داسې اش او لاش یاست؟

په تلوار مې د ذوالفقار خواته وکتل د بابا خبرول هغه هم په داسې حال کې زما په نظر هېڅ مناسب نه و، خو دا موضوع داسې په اسانه هم نشول راپټولیدې بابا د هغه پلار پشان چې خپل ماشومان یې د خطا کولو حال کې راګیر کړې وی زموږ دواړو خواته راکتل، ذوالفقار زما خواته داسې راکتل لکه غواړی ووایې: یو دروغ ووایه هسې خو هم دروغ ویلو کې تکړه شوی یې ..

د هغه په دی نظر بې اختیاره مې خوله خلاصه کړل او ومې ویل:
- هغه ... هغه کوم خاص خبره نه وه ... هغه پرون ذوالفقار د یو نفر سره د دوا و په سر جنجال وشو، نو هغه کس ګواښول شروع کړل چې هسې به کوم او داسې به کوم او بیا نن سهار یې ستاسو د کور څخه یو ویډیو راستول او هسې اپلاتي یې ویل، نو موږ د هغه په لیدو لږ ورخطا شو کنه ذوالفقار؟

د ذوالفقار خواته مې وکتل چې هغه په خلاصه خوله د حیرت څخه زما خواته راکتل ..

د بابا په غوسه ناک غږ د هغه څخه مې نظر واخیست.
– تا څه کړی ذوالفقار؟ ته ولې تل د شر او جنګ پسې یې هان؟ یو دوه قوطي دوا اوس دومره ارزښت لری چې تا بیخي ځانته دښمن ورباندی پیدا کړ او خبره بیخې تر ګواښولو او وژولو ورسیدل؟

ذوالفقار په کرار داسې چې یوازې زه واورم ویې ویل:
– زه به ستا سره ګورم طاها ...

بیایې غږ پورته کړ او په غوسه یې وویل:
– نه دومره غټه خبره نه ده ..
بابا- نه ده؟ که دومره غټه خبره نه ده نو تاسو په دی سهار وختی په دی بد حال دلته څه مرګ غوارې؟

ذوالفقار چې زما په دروغو سم غوسه شوی و د بابا پشان په غوسه ناک غږ وویل:
– هېڅ خبره نشته هغه کس هم هېڅ غول نشی خوړلې،هسې ستا زوی اور اخیستی وو او چغې وهل چې زما پلار یې مړ کړې زما پلار یې مړ کړی، ما ورته وویل هغه هېڅ بد نشې کولای ...

د ذوالفقار په دی خبره ما سر ښکته واچو، بابا هم نور څه ونه ویل او د کور خواته یې اشاره وکړل.
– راځې دننه، کوڅه کې خبری نه کیږی ..

ذوالفقار زما اوږه د کور خواته ټیله کړل او په همغه تنده لهجه یې وویل:
– زه سل کار لرم باید لاړشم، طاها ځان سره ویسې چې نن مو ښه په دیدن موړ شې ..

د دی خبری سره سم روان شو چې بابا ورپسې غږ کړل.
– غوارې لاړ شې جنګ وکړی ذوالفقار؟

ذوالفقار بغیر له دې چې مخ راوګرځوي، خپل لاس په هوا کې وخوځاوه.

– نه لالا ... جنګ نه کوم ځم کار لرم.

او بیا د کوڅې سر کې خپل د موټر خواته روان شو، پوهېدم چې زما په دروغو غوسه شوی، خو بله چاره مې نه درلود ... بابا تر هغه وخته ولاړ و تر څو چې ذوالفقار خپل موټر چالاند کړ او له کوڅې ووت. د هغه د تلو سره سم بابا د دروازې له مخې لرې شو او په کلک لهجه یې ما ته وویل:

— راځه دننه.

سر مې ښکته واچو او کرار د کور حویلۍ ته ننوتم. لمر لا ښه نه و راپورته شوی د حویلۍ فضا یخه وه، بابا دروازه تر شا را وتړله او سمدستي زما مخې ته ودرېد. د هغه له سترګو ښکاره وه چې قانع شوی نه دی.

بابا- اوس راته سم ووایه طاها، دا څوک و چې ذوالفقار ورسره جنګ کړی؟

یو لحظه چوپ پاتې شوم. نه پوهېدم اوس څه ووایم؟ اوس چې بابا مې روغ او جوړ لیدلی و، په خپل راتګ سخت پښیمانه وم. زړه مې غوښتل کاش د ذوالفقار سره بېرته تللی وای.بابا چې زما چوپتیا ولیده، نور هم په غوسه شو.

— تا ته وایم، څوک و هغه سړی؟ ولې ګواښونه کول؟ او ولې ستاسو دواړو حالت دومره خراب و؟

لاسونه مې سره ونښلول، سترګې مې لا هم ځمکې ته نیولې وې، ذهن مې د بل دروغ د پیدا کولو هڅه کوله.
- هغه... هغه کوم خاص کس نه و. د یوې دواخانې کارکونکي، د دوا په سر لږ جنجال شوی و.

بابا ژوره ساه واخیسته، بیا یې سر لږ وخوځاوه.
— د دوا په سر؟
یو قدم زما خواته رانږدې شو.

— د دوا په سر خلک د مولا په آذان د خلکو کور ته د ګواښ ویډیوګانې نه استوي طاها.

زړه مې په زوره په درزېدو شو، داسې احساس مې کاوه چې د بابا له سترګو هېڅ شی نه پټېږي، او هغه پوهېږي چې اصل خبره بل څه ده.
بابا څو شېبې چوپ پاتې شو، بیا یې په ټیټ خو جدي غږ وویل:
— رښتیا ووایه، تاسو دواړو څه کړي؟

سترګې مې کرار پورته کړې. د بابا سترګې نېغ پر ما ښخې وې، داسې لکه د کټلو له لارې غواړي زما د زړه خبره راوباسي. یوه شیبه مې فکر وکړ، که رښتیا ورته ووایم نو څه به وشي؟ خو بیا مې نظر بلې خوا واړاوه او کرار مې وویل:
- هېڅ خبره نشته، هسې یو کوچنی جنجال و.

بابا څو شېبې بې حرکته ودرېد، بیا یې ژوره ساه واخیسته او د کور دننه خواته یې اشاره وکړه.
— راځه، دننه. اول یو پیاله چای وڅښه، بیا وروسته به خبرې وکړو، ځکه ستاسو داسې ناڅاپه راتګ هېڅ ماته د خیر نه ښکاري.

بیا بغیر له دې چې زما د کوم ځواب په تمه شي، د کور پر خوا روان شو. زه هم کرار ورپسې روان شوم، خو په خپل راتګ سخت پښېمانه وم، ځکه پوهېدم بابا مې په داسې اسانۍ نه خوشې کوي.

خو د دې ټولو خبرو سره سره، دا چې بابا ښه و او کوم څه نه و ورباندې شوی، هوسا ساه مې واخیسته.

لا دهلیز ته نه وم ننوتلی چې د یوې کوټې څخه د پښو چټک غږ راغی، ادې وه.
لکه چې د دروازې د ټکولو غږ یې اورېدلی و او راویښه شوې وه. زما په لیدو د یوې شېبې لپاره هماغه ځای کې ودرېده. بیا یې سترګې ناڅاپه له اوښکو ډکې شوې.

– طاها...؟

هغې داسې زما نوم واخیست لکه ډېر وخت وروسته چې څوک خپل ورک شوی شی پیدا کړي.سر مې پورته کړ. کله چې مې د ادې له اوښکو ډکې سترګې ولیدې، په ځان مې لعنت وویل چې تل یې د ژړا سبب کېدم ..

ادې په تلوار څو قدمه مخکې راواخیستل. همدا چې راته ورسېده، ما یې لاس ښکل کړ. هغې هم د تل په شان زما د سر ویښتان ښکل کړل، څو شېبې هماغسې زما سر خپل غېږې کې نیولی و. داسې ښکارېده لکه چې ژاړي؟

د بابا په غږ یې ځان راټول کړ او زه یې له غېږې جلا کړم، بیا یې په اندېښنه وپوښتل:
– زویه دا وخت؟ خیرت خو دی؟

ما لا د ځواب ویلو لپاره خوله نه وه جوړه کړې چې بابا وویل:
– تا ژړل چې زوی مې نه راځي، اوس چې راغلی پوښتنې دې نه خلاصېږي؟

بیا یې لږ په غوسه ناکه لهجه وویل:
– هغه پرېږده، ماته یو پیاله چای راوړه. خوب خو مو هسې هم حرام شو...

د بابا د خبرې په اورېدو ادې په تلوار زه د دهلیز خواته واستولم او خپله د آشپزخانې خواته روانه شوه، خو لا هم یې کله ناکله شاته راته کتل، داسې لکه چې لا هم باور یې نه و شوی چې زه د رښتیا په دې سهار وختي راغلی یم.

هر څومره وخت که تېر شوی وای بیا هم د هغه داسې دیکتاتوري مې نشو هضم کولای.نه پوهېدم اخر ادې ولې دومره د بابا خیال ساتي؟ او ولې هره خبره بې له چون او چرا مني؟ منم چې خاوند یې دی او حق ورباندې لري، خو دومره...

په افسوس مې سر وخوځاوه او دهلیز ته ننوتلم.

بابا د دهلیز په سر کې پر نالۍ ناست و. ما ته یې د مقابل نالۍ پر سر د کښېناستلو اشاره وکړه.

– کښېنه.

بې له څه ویلو کرار کښېناستم، خو زړه مې لا هم درزېده. پوهېدم چې د بابا اظهارات اخیستل لا هم نه دي خلاص شوي،دعا، دعا مې کول چې ادې ژر راشي. ماحول دومره دروند و چې د هغه چوپتیا د ماتولو لپاره مې په کرار وپوښتل:

– هغه .. م .. مروه او حسنا چیرته دي؟

بابا په ارام غږ وویل:
– ویده دي. که فکر دې وي، ته بیخي سهار وختي راغلې یې ..

نه پوهېږم د هغه د دې خبرې اصل مطلب څه و، خو پر ما بیحد بد ولګېدل، غوښتل مې ورته ووایم: که خفه یې، بېرته به لاړ شم.

خو لا خبره مې نه وه کړې چې بابا لږ شاته په بالښت تکیه ووهله او کرار یې ما ته غږ کړل:
– طاها...

ور ومې کتل. هغه لږ سر وخوځاوه.
– ته فکر کوې زه دومره ساده یم؟

د هغه د خبرې په مطلب پوه نه شوم. په ګنګس انداز مې ورته وکتل چې هغه دوام ورکړ:
– ته زما زوی یې، نه زه ستا... نو فکر مه کوه چې ما خطا باسلی شې. زه دې له کوچنیوالي پېژنم. کله چې دروغ وایې، له سترګو دې معلومېږي.

بابا په دومره جدي غږ دا خبره وکړه چې ما بې اختیاره سترګې ځمکې ته ونیولې، هسې نه چې رښتیا زما له سترګو زما دروغ ووینې ..
بابا ژوره ساه واخیسته.
– زه اوس په زور درنه کوم څه نه پوښتم. که نه غواړې څه ووایې، مه یې وایه... خو...

لږ چوپ شو، بیا یې په جدي غږ زیاته کړه:
– خو دا خبره دې یاد کې وساته، ته یوازې نه یې، هره خبره، هره ستونزه که لرې، ماته ویلې شې.

په حیرت مې د بابا خواته وکتل. باور مې نه راتلو چې دا خبره دې هغه کړې وي. لکه چې د دروازې مخې ته زما د اوښکو په لیدو سخت د تاثیر لاندې راغلی و چې داسې په نرمه لهجه یې دلداري راکوله. کنه بابا او داسې خبرې؟ الله اکبر...

ما د بابا د داسې نرمې لهجې سره هېڅ عادت نه و. تل مې ورڅخه وهل، کنځل او سپکاوی خوړلی و. اوس نه پوهېدم څه ووایم؟ ښه و هماغه وخت ادې د سرخان سره دهلیز ته راننوتله او زموږ هغه احساساتي مکالمه ختمه شوه.

ادې لومړی د چای ډکه پیاله د بابا مخې ته کېښوده، بیا یې زما خواته راوکتل او د چای اچولو په حال کې یې په یو ناراضه لهجه وویل:
– پرون مازیګر مې ډوډۍ ډېره پخه کړې وه. ویل مې همغه د پرون ډوډۍ به نن سهار هم وخورو، او بیا غرمې خواته به ګرمه ډوډۍ پخه کړم. که خبره وای چې ته راځې ګرمه ډوډۍ مې درته پخول ...

د ادې د خبرې په اورېدو بې اختیاره مې موسکا پر شونډو راغله، د چای پیاله مې د هغې له لاس واخیسته او په شیطنت مې وویل:
– د نا بللې میلمه څه چې په ګیر راشې هغه خوری، دومره نازونه نکوی ..

د ادی د څه ویلو مخکې بابا په تروش تندی وویل:
– د کوم وخت خپل په کور کې خلک میلمه بلل کیږی؟

د بابا دا خبره شاید په ظاهره یو ډول طعنه او پیغور و، خو د دی شاته څومره احساسات وه هغه ما درک کولای شو، هغه هم د لومړۍ ځل لپاره، ما هېڅکله د بابا د میني کولو دی انداز ته نه وکتلې ..

درې واړه چوپ شو، نن ما په همدی څو دقیقو کې د بابا هغه اخلاق ولیدل چې ټول عمر کې مې نه ولیدلې، هماغه وخت د دهلیز دروازه خلاصه شوه او مروه داسې حال کې چې سترګې یې لا هم د خوب څخه نیمې پټې وې، راننوتل څو شیبې ما ته فکر نشو او د ادی خواته را روانه شوه،خو کله چې یې زه ولیدم ناڅاپه ودرېده.

– طاها لالا؟
د هغې داسې ګنګس لهجې ته مې خندا راغله.
– هو، پخپل یم.
هغې په حیران نظر راوکتل.
– ته دا وخت؟
اوږې مې پورته واچول.
- ولې؟ په دی وخت کې راتګ منع دیـ ..

لا خبرې مې خلاصه کړې نه وه چې حسنا هم دهلیز ته راننوتل او د مروه تر شا ودرېده، هغې هم په حیرت زما خواته راوکتل او ویې ویل:
– رښتیا پخپل یاست؟

د هغوی داسې ګنګس حالت ته مې بیحد خندا راغلل او په شیطنت مې وویل:
- نه، دا زه نه یم دا زما روح ده ...

د هغوی په راتګ بابا خاموش شو، او د خبرو اصل محور د حسنا او مروه دوې لاس ته وولید، لومړۍ خو زما د نه راتګ څخه ښه ډېر ګیلې وکړل، بیا یې محمد او اقرا

یاد کړل چې ولې مې هغوی نه دی راوړی؟ ما هم ورته د بل ځل د هغوی د راوړلو قول ورکړ، کله چې چای مو وڅښه او سرخان ټول شو نو ګیلي او خفګان دویم پړاو ته لاړ او ویل یې ته د عربستان څخه راغلې خو مور ته دی هیڅ سوغات را نه وړ، د هغوی دی خبری باندی سخت شرم راغلو، له بلخوا وېرېدم که کوم ورځ دروغ مې رسوا شول نو څنګه به د دوی سترګو ته وګورم؟

تر لس بجو د هغوي سره ناست وم او خبری مې کول، دا نو تقریبا د یو کال وروسته زما راتګ و، مروه او حسنا چا ته د خبرو وار نه ورکو په یو نفس لګیا وی خبری کول، ما ورته غوږ نیولې و ځکه د داسی یو معمولې مجلس پسې لا زړه مې تنګ و، خو د بابا اعصاب خراب شول او په تونده لهجه یې وویل:
– بس دی نو، درې ساعت کېږی لکه ماتې رادیو پشان بنګ،بنګ مو دی.

د بابا په تونده لهجه دواړه چوپ شول او له وېرې څخه لړ د ادی خواته نږدی شول، بابا څومره چې زه وهلم هغومره ورباندی انجونې ګرانې وه، یعنې زما یاد ته نه راځې بابا دی کوم ورځ په حسنا،مروه یا حتا طیبې لاس پورته کړی وی، دوي د بابا د لوړ غږ څخه داسې ډاریدل لکه څنګه یې چې زه د هغه د وهلو څخه ډاریدلم، د هغوی معصوم څهرو ته چې مې وکتل پخندا مې وویل:

- ستاسو دواړو حکمونه واوریدل شول اغلو، ان شاءالله همدا میاشت چې معاش مې واخیست لومړی تاسو ټول بازار ته ورم او هر شې باندی مو چې لاس کیخود زه یې درته اخلم صحیح شو؟ راضې؟

زما په دی خبره د هغوی دواړو د خوشحالۍ غږ پورته شو، خو ادی وویل:
– ضرورت نشته خپل پیسي په دوی مصرف کړی، دوي هر شئ لری.

خپل د چاي تش پیاله مې پر ځمکه کېښوده او د پاځیدو حال کې مې وویل:
- پوهېږم چې هر شئ لری او زما پیسو ته ضروت نلری، خو زړه مې غواړی خپل خویندو ته خپل یو شئ واخلم(بیا مې ورزیاته کړه: ښه نو زه به نور لاړ شم.

ادې سمدستي وويل:
— دومره ژر؟
بابا هم سر پورته کړ.
- څه تلوار لرې؟

- باید شرکت ته لاړشم، ډېر کار لرم پرون هم لږ زوکام نیولې وم د کار لځایه د ذوالفقار په دفتر کې ویده وم،(بیا مې پخندا ووېل: اوس لاړشم لږ کار وکړم تر څو هغه پیسي ځانته حلالې کړم ...

لکه چې دا خبرې مې هغوی قانع کړل چې نور څه یې ونه ویل، خو ادی په ناراضه لهجه ووېل: کاش غرمی تخو پاتي شوی وایې ..

د دهلیز څخه د وتلو حال کې مې ووېل:
- ان شاءالله یو بل وخت راځم غرمه څه چې شپه هم تیروم، محمد او اقرا دوی هم راوړم ..

ادی زما پسې راروانه شول او لا هم ګیلې کول چې ناڅاپه یو خبره مې ذهن ته راغلل او د تلو څخه و دریدم، د بابا خواته چې لا هم خپل ځای کې ناست و او زما تک ته یې سترګي نیولې وه، و مې کتل او ومې ویل:

- ستاسو د موبایل نمبر څه دی؟
بابا لږ حیران شو.
— زما د موبایل نمبر؟
- هو، هغه ما نوی سیمکارت اخیستې، ستاسو نمبر نشته راسره.
بابا کرار سر وخوځاوه او ویې ویل:
— هغه نوکیا موبایل خو مې دا یوه هفته کېږي چې خراب دی، څو ورځې مخکې طاهر راته یو ساده سامسونګ موبایل راوړ، هغه هم پرون ماښام یو چا راڅخه غلا کړی، اوس نو نه موبایل لرم نه هم سیمکارټ.

د بابا په دی خبره ناځاپه د هغه څو ساعت مخکې وحشت او وېره یو ځل بیا مې په وجود کې خپره شول.

بابا بې له دې چې زما حالت ته پام وکړي وویل:
– اخر زمانه ده، دومره قیمتي موبایل هم نه و، یو ساده موبایل و، ولاکه د غلا کیدو ارزښت یې لا درلود.

بې اختیاره مې وویل:
– ت .. تور و؟
بابا په ګنګس انداز راوکتل.
– څه؟
- و .. وایم موبایل مو تور رنګ ساده سمسانګ و؟
بابا لږ په مشکوک توګه راوکتل او سر یې وخوځاوه.
– هو، تور ساده سمسانګ و، څنګه؟

ذهن کې مې ناځاپه هماغه موبایل راغلو، هماغه چې نن سهار په پلاستیک کې ایښی و، کوم کې چې د بابا ویډو وه .. زړه مې ناځاپه په درزېدو شو.

یعنې ...
هغه موبایل د بابا و؟

په ځان پوه نشوم چې په څه ډول مې د بابا او ادی سره خدای پاماني وکړ او له کور راووتلم، د کوڅې یخه هوا مې پر مخ ولګېده، خو پر ما یې هېڅ کوم اثر ونکړ احساس مې کاوه د دننه څخه په بدن کې مې اور بل دی، لړزېدم خو دا ځل د وېرې او وحشت څخه نه ... بلکې د ډېر قهر او غوسې څخه لړزېدم ..

ذهن کې مې یوازی یوه خبره ګرځېدل هغه موبایل د بابا و ..
هماغه ساده تور سامسونګ ..

هماغه چې ما نن سهار په پلاستیک کې پیدا کړ ..
هماغه چې له هغه څخه هغه ویډیو راوتلې وه.

یعنې الفا د بابا په موبایل کې ما ته هغه ویډیو راستولې وه، دا خبری ډېر معنا درلود، هغوی په دی کار غوښتل ماته دا مسج راوستوې چې څومره ماته نږدی دی او تر کوم حد تللې شې، لاس مې بې اختیاره موټ کړ. داسې احساس مې کاوه لکه چا چې زما په کور کې زه یې وهلې اوسیږم، د هغوی کار دقیقاً همدا معنا درلود .. څو شیبې د کوڅې په منځ کې ولاړ وم، بیا مې ژوره ساه واخیسته او د سړک خواته روان شوم.

یوه ټکسي مې ودروله.
- تر ښار ځې؟
موټروان سر وخوځاوه.
— کښېنه.

ټوله لاره مې تقریباً هېڅ ونه ویل، ذهن مې یوازې یو ځای کې بند پاتې و، الفا زما تر شاه رګ نږدی راغلې ..که اوس یې چاره ونکړم باید خپل د مرګ تیاری ونیسم، هغه هم نه یوازی خپل بلکې باید خپل د کورنې او ډېر نور کسانو د مرګ چمتو والې هم ونیسم ..کله چې د ذوالفقار د شرکت مخکې موټر ودرید، له موټره ښکته شوم، پیسي مې ورکړل او مستقیم د ودانۍ پر لور روان شوم، شرکت ته چې ننوتلم بغیر له دې چې د کوم چا خواته وګورم د دفتر تر دروازې مې ځان ورسو، او بغیر له دې چې دروازه وټکوم دننه ورغلم ...

ذوالفقار د میز شاته ناست و، په لاس کې یې یو فایل نیولی و، پر ما یې چې نظر ولګید سمدستي یې فایل پر میز وغورځاوه.

— اخر راغلې ...

غږ یې لا هم له غوسې څخه ډک و.

دروازه مې خپل شاته بنده کړه او څو قدمه د هغه د میز خواته ورنږدې شوم،
ذوالفقار خپل د څوکۍ شاته تکیه ورکړل او په تیز نظر یې راوکتل، بیا یې په عصبی خندا وویل:

– پوهېږی تا نن څه وکړل؟

هیڅ مې ونه ویل، چې هغه ناڅاپه له څوکۍ راپورته شو.

ذوالفقار- زه دی د لالا په مخ کې یو کله خراب،خر انسان معرفي کړم چې یوازی جنګ کول مې زده ...
بیا یې په غوسه خپل لاسونه پر میز ووهل.
– د دوا پر سر جنجال؟ ربښتیا؟ ولې دی ونه ویل چې ستا د عربستان د سفر په سر جنجال و؟ هان؟

سر مې په شرم ښکته واچو.
- زه بخښنه غواړم ذوالفقار، خو څه وکړم مجبور وم.
هغه وخندل، خو د غوسی خندا وه.
– مجبور وې؟
بیا یې نبغ راوکتل.
– ته داسې شاخ دار دروغ ویلو ته مجبوری وایې؟ ته مجبور نه وی طاها .. بلکې ستا عادت ګرځیدلې چې خپل د ځان د ژغورولو لپاره هر کس او څوک میدان ته راکش کړی او دروغ ورباندی وتړ ...

د هغه خبره مې نیمه کې پریخودل او ومې ویل:
- غوږ شه ذوالفقار، زه منم چې ما نن هېڅ ښه کار ونکړ، خو د هغه څخه یو مهم خبر درته لرم.

ذوالفقار څو شیبې په چوپتیا کې راوکتل د هغه وروسته یې په تروش تندی وویل:
– څه دی؟ بیا څه دروغ دی زما د خطا ویستلو لپاره جوړ کړی؟(خپل ګوته یې د

ګواښولو په انداز وخوځاوه) د همدا اوس درته وایم طاها که کوم دروغ دی وویل دا ځل دی لیاظ نکوم داسی دی وهم چې د بزی غږ وکړی..

- نه، په قران دروغ نه وایم، پوهیږی هغه موبایل ..
– کوم موبایل؟
- همغه چې نن سهار په هغه پلاستیک کې و.
ذوالفقار سر وخوځاوه.
– څه؟
کرار مې وویل:
- هغه د بابا و.

ناڅاپه درنه چوپتیا خپره شوه،ذوالفقار څو شیبې بې حرکته ودرید، داسې لکه زما خبره چې یې سم نه وي اوریدلې.

– څه دې وویل؟

خپل خبره مې بیا تکرار کړه.
- هغه موبایل د بابا و.

ذوالفقار په هماغه جدي انداز راوکتل.
– ته څنګه پوه شوې چې هغه موبایل د لالا و؟

ورو مې ساه واخیسته او ومې ویل:
- بابا وویل څو ورځې مخکې یې یو ساده سامسونګ موبایل اخیستی و، او پرون ماښام ورځخه غلا شوی.

ذوالفقار د میز له شا راووت. څو قدمه په کوټه کې وګرځېده، بیا یې دواړه لاسونه پر سر تېر کړل او د ژبې لاندې یې ورو وویل:
– لعنت دې وي ...دا هیڅ ښه خبر نه دی طاها .. هیڅ هم ښه خبر نه دی.

یو څو شېبې چوپتیا خپره شوه.
ذوالفقار بیا وویل:
— مورِ باید یو کار وکړو.
د هغه اندېښمن نظر ته مې وکتل.
- مثلاً څه وکړو؟

هغه بغیر له ځنډه وویل:
— لومړی باید لالا د دې خبرې څخه خبر کړو.
سمدستي مې سر وخوځاوه.
- نه.
زما په "نه" ذوالفقار سمدستي په قهر شو.
— ولې نه؟ هغه په خطر کې دی، حق لري پوه شي.
بیا مې په کلک غږ وویل:
- نه.

ذوالفقار څو ګامه په غوسه زما خواته رانږدې شو.
— څه مرګ دی چې هر څه ته نه وایې؟ پوهېږې نه یوازې لالا چې حتا طاهر،حسنا مروه او حتا ستا مور هم ښایي په خطر کې اوسیږي ..

هغه د لاس په حرکت وویل:
— مورِ باید لالا ته هر څه ووایو،بیا ورته یو ښه تومانچه واخلو، تر څو که اړتیا شوه ځان وساتي.
یو لحظه چوپ شو، بیا یې زیاته کړه:
— او یو دوه تعلیم یافته سپي هم واخلو،داسې سپي چې د کور ساتنه وکړي، شپه او ورځ.

ما ورو سر وخوځاوه.
- دا ټول بې فایدې دي ذوالفقار.

ذوالفقار په تیز نظر راوکتل.

— څه دې وویل؟ بې فایدې؟

- هو... بې فایدې.

دا ځل زه یو ګام ورنږدې شوم.

- ته فکر کوې یو سپی به د الفا مخه ونیسي؟

ذوالفقار چوپ شو.

ما ادامه ورکړه:

- یا یو تومانچه؟ جنرال هم وسله درلوده، هم زره دار موټر یې درلود او هم ساتونکي یې درلودل.

د ذوالفقار جدی نظر ته مې سترګې کلکې کړې او ومې ویل:

- خو د دې ټولو شیانو باوجود بیا هم څه وشول؟

کوټه په درنه چوپتیا کې ډوبه شوه.

ذوالفقار په عصبی انداز وویل:

— نو ته وایې څه وکړو؟

لاس مې جیب ته یوړ، کله چې د تومانچې یخه اوسپنه مې په لاس ولګېده، یو عجیبه د ارامتیا احساس مې رګ، رګ ته خپور شو، سر مې پورته کړ او د ذوالفقار ځواب مې ورکړ.

- باید له بوډا سره خبرې وکړو.

د بوډا د نوم په اورېدو د ذوالفقار تندی تروش شو.

— بوډا؟

- هو.

ذوالفقار عصبي وخندل.

@Shuhab09

— ته دا خبره د زړه څخه کوې یا هسې ټوکي کوی؟
- د زړه څخه وایم.

هغه په افسوس سر وخوځاوه.
— هغه خپل ټک خوړلې او زخمي دی، ته فکر کوې هغه په داسې حالت کې زموږ سره مرسته کوي؟
بیا یې په توند وویل:
— البته دا خبره هم لیاده مه باسه، چې هغه د دی خبرو مخکې ته په میدان کې یوازې پرېخودلې وی د جنرال خبری دی لیاده ووتل؟

- خو اوس حالت بدل شوی، زه فکر کوم د دی پیښو وروسته جنرال شاید هغه پخواني نظر ونلری؟
ذوالفقار- ته ډېر بیعقل یې چې د دولت د خلکو څخه د مرستې امید لرې، طاها ...
کرار مې وویل:
— ستا خبره صحیح ده، زما اراده هم د بوډا یا جنرال څخه د مرستې غوښتل نه ده.

ذوالفقار په ګنګس نظر راوکتل.
— نو د چا څخه مرسته غواړې؟

د دفتر د کړکۍ خواته ولاړم.څو شیبې د ښار شور ماشور ته مې غوږ ونیو، او بیا د دومره مودی وروسته هغه نوم چې پوهېدم اوس وخت زما د ژغورلو یوازینی لاره ده، کرار مې پر ژبه راوړ.

- عــزیــزی ...

***

د مازدیګر د آذان وخت و چې بلاخره د بوډا د کور پر خوا روان شو، یعني د غرمي څخه نیولې تر مازدیګر یوازی مې ذوالفقار ته دلیلونه راوړل تر څو راضی کړم د بوډا

کور ته لاړشو او د عزیزی سره د همکاری وړاندیز ورکړ، او بالاخره د څو ساعت وروسته ذوالفقار قانع شو، البته د قانع کیدلو مخکې مو دومره جنجال او بحث وکړ چې نږدې و د شرکت کسان راشي او موږ سره جلا کړي.

زما د بدبختی ځخه زبیر هم نن نه و راغلی، لکه چې خیرن تللی و د خسر کور ته، یو مسج یې راته کړې و لیکلې وه: خپل نامزد ته مې بهاری وړی، لومړی هېڅ په دی خبره پوه نشوم وروسته چې ویې ویل د سپرلي د راتلو لپاره یې ورته کالی شیان وړی نو تازه پوه شوم چې مطلب یې څه دی، نو هم خندا راغلل هم افسوس ..څو میاشتي مخکې ویل زمستاني ورم اوس بیا وایی بهاری ورم لکه چې را روان څو میاشتي وروسته به خزانې وړی؟

فکر نکوم هغوی کوم څه په دی نوم ورځخه غوښتلې وی، ځکه ما پښتنو کې دا رواجونه دومره نه و لیدلې دا زیاتر د فارسیبانانو رواجونه وه، خو زبیر هسې د بهاني پسي ګرځیدی چې د خسر کور ته لاړ شي خیرن ...

خلاصه د ذوالفقار د راضی کولو وروسته بوډا ته مې زنګ وواهه او د ملاقات غوښتنه مې وکړل، هغه هم وویل کور کې یم او که کوم کار لری هلته راشه، ما هم ورځخه آدرس واخیست او اوس د هغه د کور خواته روان و. ذوالفقار تر اوسه کامل راضی نه و چې زه دې بیا د جنرال او بوډا په کارونو کې شامل شم، خو هغه هم لکه چې پوه شوی و چې بل لاره نشته او مجبور یو ...

بوډا چې کوم آدرس راکړی و، هغه د ښار له شور، ماشوره ځخه لرې لیرې و. په یو ارامه، سرسبزه سیمه کې، که څه هم شاوخوا ډېر کورنه نه وه خو څو دانی چې وه هر یو یې ډېر لوی او ښکلی و داسې لکه کوچنی مانۍ چې وی ...

ما شاوخوا وکتل او بیا مې وویل:
- فکر کوم همدغه ځای دی ذوالفقار، ودریږه.

ذوالفقار بغیر د څه ویلو موټر د طلایي رنګ لویې دروازې مخې ته ودراوه، دواړه له موټره ښکته شوو او ما دروازه وټکوله.

څو شیبې وروسته نعیم دروازه راخلاص کړه، زمونږ په لیدو یې یو څه تندی تروش کړ او په ناراضه لهجه یې سلام واچو، ما او ذوالفقار هم د هغه پشان ځواب ورکړ، ولاکه چې پر ده مونږ څه کړی چې داسی قواره یې مونږ ته نیولې، ته وا د پلار میراث مو ورځخه خوړلې ..

نعیم- راځې دننه ...

دواړه بغیر د څه ویلو د نعیم پسې د کور حویلۍ ته ننوتلو. حویلۍ پراخ او منظم و. دواړو غاړو ته یې د سرو ګلانو بوټې کرل شوي و او په منځ کې یې د سپین کاشي په واسطه تر کور پورې مستقیمه لاره تللې وه، فضا عجیبه ارامه وه، د ښار شور، ماشور هیڅ پکې نه اوریدل کیده.

نعیم زمونږ ځخه یو څه مخکې روان و، ذوالفقار هغه ته په کتو په تروش تندی وویل:
– نه مې دا بوډا خوښیږی او نه هم د هغه دا زوی ..

د سترګو له کونج مې وروکتل او په کرار غږ مې وویل:
- ذوالفقار مونږ د دوی سره هیڅ کوم کار نلرو، نو لطفاً هسې کوم جنګ مه جوړوه.

ذوالفقار بد،بد راوکتل خو کوم څه یې ونه ویل، نعیم د یو غټې مخکې ودرید، دروازه یې خلاصه کړه او ویې ویل:
– مهرباني وکړئ.

دننه ننوتلو، کوټه پراخه وه، خو د حیرانتیا خبره دا وه چې تقریباً هیڅ اضافي شی پکې نه و. یوازې یو لوی میز، څو څوکۍ او د کوټې په بل سر کې یو غټ کیخودل شوی و، چې پر هماغه کوچ بوډا د نیمه تکیه وهلې حالت کې ناست و اوږه یې لا هم کلک ترلې وه، په جوړ لاس باندی یو پیاله چای نیولی و او لکه چې زمونږ په تمه و.

نږدې چې ورغلو له دې چې راپورته شي، یوازې په ارام نظر زموږ دواړ خواته راوکتل او ویې ویل:
– راغلئ.

ذوالفقار سر وخوځاوه او ما کرار سلام واچو، بوبا زما د سلام په ځواب کې کرار سر وخوځاوه او ویې ویل:
– کښېنئ.

د هغه د کوچ مخامخ ته یو څو څوکۍ او یو کوچني میز و، ما او ذوالفقار یو بل ته څنګ په څنګ په څوکۍ کښېناستو، څو شېبې هېڅا کوم څه ونه ویل. د هغه وروسته بوبا خپل د چای پیاله پر میز کېښوده، بیا یې مستقیم زما خواته راوکتل او ویې ویل: ښه نو طاها څه خبره ده؟

د هغه نظر داسې و لکه د ویلو مخکې پوهېږي چې موږ د څه لپاره راغلي یو؟ ژوره ساه مې واخیسته او کرار مې وویل: الفا ...

د بوبا تندی لږ تروش شو، خو ډېر ژر یې ځان بیرته عادي ونیو او ویې ویل:
– ادامه ورکړه، څه یې کړي؟

ما ټول جریان ورته بیان کړ، د ویډیو ... د ګواښونو ... د بابا د موبایل غلا کېدل...او دا چې الفا زموږ تر فکر ډېر موږ ته نږدې رارسېدلی.کله چې مې وویل: هغه موبایل زما د پلار و...

بوبا څو ثانیې په حیرت راوکتل، بیا یې خپل لاسونه سره وتړل او په فکر کې لاړ. څو شیبې کوټه په درنه چوپتیا کې ډوبه شوی وه، تر دی چې بوبا په کرار غږ وویل:
– هغوی دا کار له قصد کړی ..

ذوالفقار سمدستي وویل:
– هو، هغوی له قصد د لالا موبایل کې ویډیو راستولې، تر څو طاها وګواښوي او

ورته ووایې چې د هغه تر کور بغیر له دی چې څوک خبر شي رسیدلې دی او هر کار چی وغواړی کولای شي.
بوډا د موافقت په توګه سر وخوځاوه.
– هو، دقیقاً همدغه پیغام هغوی رسول غوښتل.

د دې خبری وروسته بوډا یو دم چوپ شو، بیا یې خپل د چای پیاله راپورته کړه یو کوچنی غړپ یې ورڅخه وکړ او موږ ته یې وویل: ځان ته چای واچوی ...

ذوالفقار په بې حوصلې لهجې وویل:
– د چای څښلو لپاره نه یو راغلي ستا نظر څه دی؟

بوډا کرار سر پورته کړ او ویې ویل:
– د اوس لپاره، باید صبر وکړو.
ما حیران ورته وکتل.
- څه؟ صبر وکړو؟
هغه په آرام غږ وویل:
– هو، صبر .. خپل امنیت ونیسئ خو ځانونه داسې مه ښکاره کوئ چې هېڅ کار کولای نشې او مجبور یاست ... نه برعکس داسې ځانونه ونیسي لکه هر شئ چې ستاسو په کنټرول کیدی، تر هغه وخت چې جنرال لږ پر پښو کیږی ...

ذوالفقار- ته غواړې موږ انتظار وباسو چې جنرال ښه شئ؟
بوډا سر وخوځاوه.
– هو.
بیا یې زما خواته راوکتل.
– زه پوهېږم چې ته دلته د دې لپاره راغلې یې تر څو عزیزی سره خبری وکړی، او مرسته ورڅخه وغواړی .. خو ما درته مخکې هم ویلې وه عزیزی زما لاس کې نه دی؟ هغه د جنرال سره دی نو باید هغه ته صبر وکړو ..

ذوالفقار په پوسخند وویل:
— او ستاسو په نظر جنرال مرسته کوی؟ جنرال د دی خبرو مخکې موږ جواب کړې و اوس هم فکر نکوم کوم کار وکړی.
بوډا- هغه وخت فرق درلود، اوس د جنرال زوی د الفا لخوا وژل شوی، هغه وخت جنرال یوازی د مقام او رتبي حرص درلود، خو اس چې زوی مړ شوی زه سل په سل ډاډه یم چې هغه د غچ اخیستلو حرص لری ...

د بوډا په دی خبره ما په تلوار وویل:
- زه هم همدا وایم، موږ باید همدا اوس دا خبره تر جنرال ورسو او هغه خپل پر خوا کړو، ځکه لا هم د هغه د زوی د مرګ داغ تازه دی او هغه د غچ اخیستلو لپاره لیوني دی، که یو څه وخت تېر شو د هغه د غچ اخیستلو اور هم مړ کیږی او هغه وخت موږ بیا په تش میدان پاتی کېږو ..

بوډا د پوهیدو په انداز سر وخوځاوه او ویې ویل: ستا خبری هم صحیح دی، خو ته جنرال سم نه پېژني هغه هر څومره د پښو ولوېږی بیا هم یو کاذب غرور لری او سرکش دی، که اوس موږ د هغه څخه مخکې هغه ته د مرستي لپاره لاس اوږد کړو، نو هغه شاید مرسته وکړی، خو بیا هم خپل د مقام زور کاروي او امرونه کوی، ځکه پوهېږی چې موږ هغه ته مجبور یو خړ ...

زما او د ذوالفقار منتظر نظر ته یې راوکتل او دوام یې ورکړ: خو که موږ صبر وکړو تر څو هغه زموږ خواته راشي او موږ ته د مرستي لاس اوږد کړی، بیا هغه وخت معامله بدلېږی ...

ذوالفقار په ګنګس انداز وویل:
— هغه نو ولې زموږ خواته راشي او د مرستي لاس اوږد کړی؟ هغه کس څه نومیږی؟ هان .. عزیزی ... همغه چې تاسو دواړه دومره ورباندی ډاډمن یاست چې که راخلاص شو د الفا ورقه ورپیچي، هغه  د جنرال لاس کیدی نو مطلب جنرال

زمورږ څخه د مرستي غوښتلو ته هېڅ حاجت نلری،هغه مستقیم پخپل د عزیزی سره معامله کوی ..

بوډا په شیطان خندا لومړی زما خواته وکتل بیا یې د ذوالفقار ځواب ورکړ.
– لکه چې خبر نه یې؟
ذوالفقار په ګنګس انداز سر وخوځاوه.
– د څه څخه؟
بوډا په مکار خندا وویل: مورږ د دی څخه مخکې چې عزیزی محکمي ته واستو هغه ته مو د همکاری وړاندیز کړی و، خو هغه ویلې وه چې په ځینو شرطونو چمتو دی چې زمورږ سره همکاری وکړی.

ذوالفقار په تروش تندی وویل: د څه شرط؟
بوډا په همغه مکار لهجه وویل: دا چې یوازی د طاها سره خبری کوی ...
د بوډا په دی خبرهذوالقفار په ګنګس انداز زما خواته راوکتل خو د څه ویلو مخکې بوډا وویل: نو مطلب جنرال طاها ته مجبور دی ... نو اوس تاسو باید یوازی صبر وکړی تر څو جنرال د مرستي لپاره ستاسو خواته لاس اوږد کړی، هغه وخت نو اصلي لوبه پیلېږی ...

***

نن څلورم ورځ وه چې د بوډا په لارښونې د انتظار حالت کې و، کرار،کرار د جنرال د راتګ څخه نامید کیدلم خو بوډا بیحد ډاډمن و هغه ویل جنرال سل په سل درځې، ما او ذوالفقار هم د هغه خبره منلې وه او دا څو ورځې په عجیب توګه په بیحد آرمتیا کې تېر شوی وه، نه کوم ګواښ مو تر لاسه کړې و او نه هم کوم عجیب پیښه او یا هم تعقیب شوی و، یو دم ارمتیا وه خو ما په دی آرمتیا کې د سکون احساس نه درلود فکر مې کاوه دا د طوفان د راتلو مخکې خاموشي ده ...

د ماښام د ډوډۍ خوړلو وروسته هر يو خپل د کوټې خواته روان شو، سبا جمعه وه او زما اراده وه د دومره وخت وروسته سبا اقرا د استاذ کور ته ويسم، دا څو مياشتې چې راغلې وم نه هغه خپل د مور او پلار کور ته تللې وه او نه هم استاذ دوی دلته راغلې وه، نو ما هم اراده وه سبا يې يو ځل ويسم، البته زما خو اراده نه وه اقرا وويل سبا که بيکار وی ما د پلار کور ته ويسه ما هم ومنل، که څه هم د استاذ سره تر اوسه هم چندان جوړ نه وم خو اقرا مې د هغوی د کور څخه نشو منع کولای دا د هغې حق و چې خپل پلار او مور ووينې ...

نيمه شپه وه، ټول کور په يو درنه چوپتيا کې ډوب و داسې چوپتيا چې حتا په دهليز کې د راځړېدلې ساعت د ټک،ټک غږ لا ما واضح اوريدی، خو ماته خوب نه راتلو، د يو اړخ په بل شوم خو خوب ته وا زما څخه په تېښته و. څو دقيقې مې سترګې وتړل چې شايد خدای رحم وکړی او ويده شم خو نه ...

څو شيبې نور هم همداسې اړخ په اړخ شوم تر دی چې د تندې احساس مې وکړ، په کراره له ځايه پاځيدم دروازه مې ورو خلاصه کړه او دهليز ته ووتم. د دهليز فضا نيمه تياره وه، يوازې د کړکۍ څخه د سپوږمۍ کمزورې رڼا دننه راتله، په کراره د آشپزخانې خواته روان شوم، يو پياله اوبه مې پياله کې ځانته واچول او همملته ولاړ وم او اوبه مې څښل چې ناڅاپه احساس مې وکړ چې د اشپزخانی د دروازی سره کوم څوک ولاړ دی ... که څه هم زما شا د دروازی خواته وه خو پوره مې احساس کولای شو چې هلته يو کس ولاړ دی ...

لومړۍ فکر چې مې ذهن ته راغلو هغه دا و چې د الفا نفر دی او کور ته رانوتلې ... په دی فکر بې اختياره مې لاس خپل د جيب خواته ويوړ خو لا توفنچه مې لمس کړې نه وه چې يو اشنا غږ مې تر غوږ شو.
— که د الفا کس واې، نو ستا په دی استخاری کولو د وخت يې وژلې وی ماشومه ...

بې اختياره مې هوسا ساه واخيسته او مخ مې وګرځو، څو ثانيې مې هېڅ ونه ليدل، خو کله چې لږ مې سترګې د تيارې سره عادت شوی، نو څنګه چې ګمان مې کړی و،

شموئیل د اشپزخاني د دراوزی سره ولاړ و، د وېرې له لاسه تر اوسه مې سم فکر نشو کولای، شموئیل یو دوه ګام رانږدې شو، کله چې زما پرېدلې رنګ ته یې پام شو نو په کرار یې وویل:
– لکه چې و مې ډارولې ماشومه؟

د هغه په دې خبره تازه مې لږ زړه ځای ته راغلو او په غوسه مې وویل:
- لعنت دې دربانډی وي شموئیل، دا څو یم ځل دی چې درته وایم د راتلو مخکې خبر راکړه، نږدې و زړه مې درېدلې وایې ...

شموئیل کرار وخندل او د اشپزخاني پر دیوال یې تکیه ووهل.
– یعنې دومره وډار شوې؟ پخوا دومره ډارن نه وې.
د اوبو پیاله مې د میز پر سر کېښودل او په همغه غوسه مې وویل:
- پخوا یوازې ستا د قوم او خویش په انتظار وم، نو ځکه دومره نه ډارېدلم خو اوس یو بل سپي هم راپسي شوی ..
شموئیل- یعنې ته د پیریانو څخه دومره نه ډارېږې، څومره چې د الفا څخه ډارېږې؟

لږ چوپ شوم بیا مې وویل:
- زه د دواړو څخه ډارېږم، خو ځکه چې دا څو وخته کوم پیرې،میرې مې نه و لیدلې نو لومړی فکر مې چې ذهن ته راغلو هغه خبیث و ..
شموئیل: یعنې دا څو وخته بیخې کوم پیرې نه یې ډارولې؟
لږ مې فکر وکړ بیا مې وویل: نه، یوازې څو هفتي مخکې مې زقوم لیدلې و، البته ته هم هلته وې، د هغه وروسته نه مې کوم پیرې لیدلې او نه هم کوم پیرې ډارولي یم.

شموئیل د پوهیدو په انداز سر وخوځاوه او په پوسخند یې وویل:
– فکر مې نکو چې دا خبره دې کار وکړي ..
- کوم خبره؟
شموئیل- هېڅ ..

څو شیبې دواړه چوپ شو تر دې چې ما وویل:
- ته دا څو وخته چیرته وې؟ فکر مې وکړ کوم څه درباندې شوي ..

شموئیل- نه کوم څه نه دې شوي، لږ کار مې درلود.
- دومره ډیر چې بیخې بیکار نه شوې یو ځل زما لیدو ته راشې؟

نه پوهیږم ولې خو د شموئیل څخه مې زړه خفه و، که څه هم هغه زما په وړاندې کوم مسئولیت او تعهد نه درلود، خو ما غوښتل هغه دې راسره مرسته وکړي، شاید دا هم د بیحیایې او بې شرمې اخیرې حد و، کنه شموئیل دلیل نه درلود زما په خاطر دې خپل کارونه پریږدي او زما ستونزې دې حل کړي.

شموئیل پخندا وویل: اوممم یعنې زما په دوه ورځې نه لیدو دومره خفه شوې وې؟
په تلوار مې سر پورته کړ.
- نه چا ویل؟

شموئیل کرار وخندل: حق لرې چې خفه اوسیږې، موږ ملګرې یو او ملګرې یو د بل احوال اخلې نه دا چې ناڅاپه ورک شې، خو باور وکړه هېڅ بیکار نه وم، حتا دومره چې ستا پوښتنه دې لا وکړم.

- دا دومره مهم کار څه و چې هیڅ نه بیکاریدې؟
شموئیل: عبدالرحمان ...
- عبدالرحمان؟ څه؟
شموئیل- مئین شوی ...
په حیرت مې وروکتل: څه دې وویل؟

شموئیل- څه چې دې واوریدل، خو کاش یو ساده مینتوب وایې تللې پر هغه ښاپیرۍ مئین شوی کوم چې څو میاشتي مخکې زما د وژلو لپاره راغلې وه ...
دا ځل نو خوله مې له حیرت خلاصه پاتې شوه.
- څ .. څه دې وویل؟ پر چا مئین شوی؟

شموئیل په پوسخند وویل:
– تللې زما د دښمن پر لور مئین شوی ...

څو شیبې په چوپتیا کې مې وروکتل، شموئیل دا ټول خبرې په غوسه کول، او البته حق یې هم درلود، فکر وکړه کوم کس چې ستا وژلو ته راغلې وی ناڅاپه ستا ورور پر همغه مئین شې ... که څه هم شموئیل غوسه و خو په دی فکر بې اختیاره مې خندا راغلل، چې شموئیل بد، بد راوکتل.

ژر مې خپل خندا راټول کړل او ومې ویل:
- وبخښه، خو واقعاً جالب خبره وه، اوس څنګه شو؟ مطلب دا عاشق خپل معشوقې ته ورسیدو کنه؟

د شموئیل د څه ویلو مخکې یو بل غږ وویل:
– فکر کوم ته باید څلرویشت ساعت په جای نماز کښیني او دعا وکړی چې دا عاشق او معشوق یو بل ته ورسیږی ...(په تلوار مې نظر د اشپزخاني د دروازی خواته لاړ چې عبدالرحمان په غوسه هلته ولاړ و، زما نظر چې پر ځان ولیدی په پوسخند یې خپل خبرو ته دوام ورکړ: ځکه زموږ په رسیدو د ټولو څخه ډېر ګټه تاته رسیږی ...

په حیرت مې ځانته اشاره وکړل.
- ماته؟ څنګه ګته؟
شموئیل په غوسه بد،بد د عبدالرحمان خواته وکتل، خو هغه بغیر له دی چې د شموئیل نظر ته کوم توجه وکړی زما خواته لږ رانږدی شو او په همغه پوسخند یې ویل:
– دومره خو به پوه شوی اوسیږی چې هغه د همغه قبیلې سره تړاو لری کوم چې کلونه زموږ دښمنان وه او د همدی دښمني پر بنسټ یې ته هدف ګرځولې تر څو تاته په تکلیف رسولو شموئیل یعذاب او تسلیم کړی، نو ته فکر وکړه اوس که موږ هغه دښمني په دوستي بدل کړو د ټولو څخه ډېر ګته چا ته رسیږی؟

په فکر کې ډوب شوم خو لا کوم معقول ځواب ته نه وم رسیدلې چې عبدالرحمان وویل: دومره فکر مکوه زه به درته ووایم، کله چې موږ بیرته متحد شو نو ته نه یوازې نور په امن کې یې او کوم پیری درته څه نه وایې، بلکې د احترام وړ هم ګرځې(بیا یې په پوسخند د شموئیل خواته اشاره وکړل او زیاته یې کړه: ځکه د دوولس قبیلو د مشر عفریت د زوی لقب درباندې دی ...

په حیرت مې وویل:
- د زوی؟
د عبدالرحمان د څه ویلو مخکې شموئیل په غوسهورباندې غږ کړل خو هغه بغیر د توجه په پوسخند وویل:
— هو کنه، ټول پوهیږي چې تاته حوا شیدي درکړي او ته یو رګ د پیریانو لرې، تر نن په همدې خبرې دې وهل خوړل او پعذابېدې، خو کله چې موږ متحد شو دا خبره به تاته افتخار وګرځي، ځکه ټول پیریان به تاته خپل د مشر د زوی په نظر ګوري او احترام به دې ساتي ...

شموئیل په غوسه وویل:
— بنده کړه خوله دې عبدالرحمان ...
د لومړۍ ځل لپاره عبدالرحمان د دې لځایه چې د شموئیل په غوسه وډار شي او کرار شي د هغه پشان په غوسه وویل:
— د همده په سر مګر ته زما خبره نه رد کوې؟ وګوره هغوی خپل پر خبره او وعده ولاړ دي،یوه هفته کیږي ده ته یې کوم څه نه دي ویلې، نو بهتره نه ده ته هم لږ د دې لځایه چې ټول فکر او ذکر دې طاها وګرځوی، لږ زموږ قبیلې او زموږ خلکو ته هم توجه وکړې، او یو ګام یوازې او یوازې یو مثبت ګام د دې اتحاد لپاره واخلې.

شموئیل یو دوه ګام د عبدالرحمان خواته نږدې شو، دواړه دومره غوسه وه چې د اشپزخانې هوا ماته درنه ښکاریده او په بیحد زحمت او ستونزه مې ساه اخیسته،

@Shuhab09

خو د هغوی فکر زما خواته نه و، او د دوه نر زمریانو پشان یو بل ته یې د حد او مرز ټاکلو کرښې ویستلې ..

شموئیل په غوسه وویل:
– ته خر یې که ځان په خرتوب وهې؟ هان عبدالرحمان؟ ته دومره عقل نلری، کوم قبایل چې سلگونه کلونه کیږی، زموږ سره په جنګ دی ایا ستا د میني پخاطر شا تګ او تسلمېدو ته چمتو کیږی؟

عبدالرحمان- هو تسلېمیږی، هغوی هم نور د دی جنګ څخه په تنګ راغلې، هغوی پوهیږی چې زموږ سره مقابله نشې کولای نو ځکه غواړی دا جنګ پای ته ورسوی او اتحاد ته راشې تر څو را روان نسلونه یې په امن او صلحه کې خپل په قبیله کې ژوند وکړی نه د مجرمانو پشان په غارونو کې ...

شموئیل عصبی وخندل او ویې ویل:
– ته ډېر بیعقل یې عبدالرحمان ... دا خبره دی صحیح ده چې هغوی زموږ د مقابلي نه دی، خو دا چې فکر کوی هغوی د جنګ څخه په تنګ راغلې، دا دی ډېره لویه غلط فهمی ده ... هغوي وکتل چې کلونه هم که وجنګیږی مخامخ پر موږ نشې غالب کیدلې، نو ځکه اوس یې خپل ستراتیژی بدل کړی او غواړی د اتحاد او دوستي پر نوم زموږ منځ ته راداخل شې او هغه کار چې کلونه یې ونشو کړی ستا د لاری تر سره کړی ..

عبدالرحمان - ته بېحد بد زړه او شکمن یې شموئیل، کنه باور وکړه هغوی د ربښتیا اتحاد غواړی او خپل ښه نیت یې ثابت هم کړ.
شموئیل په پوسخند وویل: څنګه یې ثابت کړ؟ یو دوه ورځې د طاها په خوشې کولو او نه ډارولو؟ ته دی ته ښه نیت وایې؟
عبدالرحمان- هو، زه همدی ته ښه نیت وایم، هغوی خو همدومره وکړل، خو تا ځواب کې څه وکړل؟ تا حتا د هغوی د رالیږل شوی نفر سره خبری لا ونکړل ...

د هغوی دواړو خبرې شیبه،په شیبه د قهر او جنګ خواته تلل او همغه اندازه زما ساه اخیستل هم تنګېدل، د هغوی د جنګ ته په تمه وم چې ناڅاپه فضا ارامه شوه سر مې چې پورته کړ نو شموئیل مې ولید چې ناڅاپه یې څهره بیحد ارام او مرموز شوی وه، او د څو شیبو مخکې هېڅ غوسه یې نور په څهرې نه ښکاریدل، د هغه په دی بدول ناڅاپه ارمیدو لږ ګنګس شوم،خو لکه چې ارمیدل یې فایده وکړل ځکه عبدالرحمان هم خپل د غوسې او قهر څخه لږ پر شا شو او بلاخره ما یو هوسا ساه واخیستل شول.

شموئیل په آرام خو جدی غږ وویل:
– سمده، ستا خبره به ومنم او فکر به وکړم چې د هغوی اراده د نیکۍده، خو یو شرط لرم.
عبدالرحمان سمدستي وویل: د څه شرط؟
شموئیل په شیطان مسکا وویل:
– قوانین او نوی احکام به ټاکو او د هغه پربنسټ به عمل کو، زه نشم کولای خپل قبیلي ته هغه کسان چې کلونه یې یوازی وینه تویول او دښمني کول زده دی، بغیر د چارچوکاټ څخه خپل د خلکو مینځ ته دعوت کړم، دا زما مسئولیت دی چې د مشر په حیث خپل د قبیلي ساتنه وکړم.

عبدالرحمان بغیر له فکر کولو په تلوار او خوشحالۍ وویل: سمده، زه هغوی ته وایم سبا راشې تر څو ته ورته خپل شرطونه او قوانین ووایې، باور وکړه هغوی ډېر ښه شوی دی نور دښمني نغواړی ...

شموئیل سر وخوځاوه او د هغه خبره یې تایید کړل، عبدالرحمان دومره خوشحاله و، چې ناڅاپه رامخکې شو او شموئیل یې په غیږی کې ونیو او د هغه اوږه یې ښکل کړل، د هغه دی کار ته مې بیحد حیرت راغلو یعنې د رښتیا دومره مئین دی؟
شموئیل کرار خپل لاس د هغه پر سر کش کړ او یو څه یې د هغه د غوږ څنګ ته وویل ما وا نه وریدل خو عبدالرحمان په خوشحالي د هغه د غیږی څخه جلا شو او

د سمده په سترګو پر ویلو د سترګو په رپ کی بغیر له دی چې ما ته کوم څه ووایی غیب شو ..

د هغه د تلو وروسته د شموئیل خواته مې وکتل، د هغه تندی تروش و او په فکر کې ښکاریدی د څو شیبو چوپتیا وروسته یې سر راپورته کړ او ویې ویل:
— هغوی غواړی عبدالرحمان زما په مقابل کې استعمال کړی، غواړی زما حیثیت د قبیلي مخکې راښکته کړې او عبدالرحمان د قبایلو مشر وټاکي ..

په راوتلو سترګو مې ورته وکتل، چې شموئیل په ترخه مسکا وویل:
— زه هغوی خپل د لاس د ورغوی پشان پیژنم،دا یوه هفته کېږي په دی بحث مو جنجال دی، خو عبدالرحمان لومړۍ ځل دی چې زما خبری ته غاړه نه اېږدی، عاشق شوی او د عاشق سترګي تل ړندی وی،
- ن ... نو اوس ته غواړی څه وکړی؟

شموئیل- قانون ... قانون زموږ نړۍ کې تل لومړۍ خبره کوی، او فرق نکوی چې رتبه دی څه ده؟ ټول مجبور او مکلف دی چې د قوانینو څخه پیروی وکړی، هغوی هم په دی قوانینو پوهیږی غواړی زما کور ته راشي او زما په قوانینو ما خپل خلکو ته مجرم ثابت کړې ...

د شموئیل د خبری په مطلب پوه شوم، هغه د دی څخه مخکې هم زما په خاطر خپل د نړۍ قوانین تر پښو لاندی کړی وه، د هغه لیونۍ جنرال په وژلو او زما سره په مرسته کولو، اوس هم پوهیدم چې د هغه مطلب د دی خبری څخه چې ویې ویل" هغوی په دی قوانینو پوهیږی غواړی زما کور ته راشي او زما په قوانینو ما خپل خلکو ته مجرم ثابت کړې ..." مطلب زه بیا د تل پشان د بدبختي او منحوسیت محضر وم ...

شموئیل- داسې مه وایه طاها، ته زما له لاسه په دی ستونزو باندی اخته شوی، او دا زما مسئولیت و چې ستا ساتنه وکړم، اوس هم د عبدالرحمان خبره یو دم صحیح ده،

هغوی نور ستا سره کار نلری، د هغوی هدف زه او زما قبیله ده کله چې زما سره لاس په ګریوان زما په قبیله کې اوسېږی تا ته نور ضرورت نلری، نو ته په امن کې يې،کله چې ته زموږ لخوا په امن کی اوسیږی نور حاجت نشته زه ستا د ساتني لپاره راشم ...

- مطلب د هغوی سره د اتحاد وروسته ته نور زما لیدو ته نه راځې؟
شموئيل- نه، کله چې قوانين وټاکل شې د هغه وروسته ټول مجبور يو ورباندی عمل وکړو بلخصوص اوس چې هغوی غواړی ما یوځای کې ملامت راګیر کړی او عبدالرحمان زما په مقابل کې وکاروی.

څه مې ونه ویل او چوپ شوم، شموئيل ته مې حق ورکو چې خپل د ځان او خپل د خلکو لپاره ما پرېږدی، بلخصوص اوس چې هغه اتحاد د پيريانو شر د تل لپاره زما د سر کم کاوه، خو هغه شر اوس د شموئيل و کور ته ننوتلو او له بلخوا ما د الفا په مقابل کې هغه ته ضرورت درلود، خو دا زموږ انسانانو ستونزه وه که ما ورڅخه مرسته غوښتلي وایې د هغه لپاره ښه نه و.

شموئيل- پوهېږم طاها چې ته اوس وخت زما مرستي ته اړتیا لری خو زه مرسته نشم کولای خو يوه څوک درته ښودلې شم چې ستا سره مرسته کولای شې ...
په تلوار مې وروکتل او ومې ویل:
- څوک؟
شموئيل- عزیزی ...
په حیرت مې وویل:
- څه؟ عزیزی؟

شموئيل په جدی غږ وویل:
— هو، عزیزی .. هر کار ځانته يو قانون لری طاها، لکه څنګه چې يو ډاکټر د نجار او يو نجار د ډاکټر په کار سر نه خلاصيږی، همداسې ته د الفا پر ژبه نه پوهېږی خو عزیزی د هغه پر ژبه ډېر ښه پوهېږی، هغه خپل ټول ژوند د هغه خلکو مینځ کې تېر

کړي او ډېر ښه پوهيږي چې څه وکړي، اوس وخت تاته مناسب ترينه کار د هغه سره همکاري کول دي، د هغه اعتماد تر لاسه کړه او همکاري ورسره وکړه، زه هم د تل لپاره نځم، يوازې د يو څو وخت لپاره موقتي د انسانانو نړۍ ته تګ راتګ بندوم، تر څو خپل خلک په امن کې وساتم هر کله چې د دښمن شر مې خپل د نړۍ څخه کم کړ ستا مرستي ته راځم وعده درکوم ...

خپل زړه مې کلک کړ، ما حق نه درلود خپل د ځان لپاره هغه ستونزه کې واچوم، هغه هم کله چې دومره توضيح راکړل او پوه يې کړم چې مجبور دی.
- اميد لرم چې ژر تر ژره د هغه کسانو شر کم کړی، او که څه هم عبدالرحمان مې چندان نه خوښيږي خو کوښښ وکړه که نور نه وی همغه يوه ښاپيرى د هغه لپاره ژوندي وساته.

زما په دی خبره شموئيل په لوړ غږ وخندل او زما خواته رانږدی شو، غيږ کې ونيولم او کرار يې وويل: کوښښ وکړه کوم شيان چې زموږ څخه درسيدلي د هغه څخه ګټه واخلې ماشومه .. ته شايد د يو اصل پيرى په اندازه ځواک ونلری، خو د يو عادی انسان څخه ډېر ځواکمن يې نو خپل د دی ځواکونو څخه ګټه واخله او ځان ژوندی وساته ...

کله چې له  غيږی څخه لرې شوم نو کرار مې وويل:
- فکر نکوم کوم ځواک دی ماته رارسيدلې وی، ځکه زه کوم عجيب شې نشم محسوس کولای، برعکس د عادی انسانانو څخه لا يو څو درجې ډارن او کمزوری يم.
شموئيل په مسکا خپل لاس زما پر اوږه کيخود او ويې ويل:
— خو زه هغه ځواکونه احساس کولای شم، يوازې بايد کوښښ وکړی چې پيدا يې کړی ... زه بايد نور لاړشم خو د تګ مخکې غوارم تاته يو ډالۍ درکړم ..

که څه هم د هغه پر تلو خفه شوم خو کله چې ويې ويل تاته يو ډالۍ لرم، نو شرم هم دی که ووايم خو خوشحاله شوم او غوښتل مې وګورم چې څه ډالۍ لری؟

شموئیل خپل لاس هوا کې وخوځاوه او ناڅاپه یو ګوتمي چې عجیب تور غمې په منځ کې و او په همغه تیاره کې لا پړقیدی زما خواته ونیو او ویې ویل:
— د دی ګوتمي غمي زمور د نرۍ څخه دی، خپل ګوته کې واچوه دا به زمور تر منځ د ارتباط لار وی ..

بیا یې خپل لاس پورته کړ او ما تازه همداسې یو ګوتمې البته په دی فرق چې د هغه غمي شین او البته ماته د راکړل شوی ګوتمي څخه ډېر غټ او ښکلې و ولید.

شموئیل- مور خپل نړۍ کې دیته د احساس غمي وایو.
- احساس؟
شموئیل- هو، احساس ... کله چې خطر کې اوسیږی نو د دی غمي سور او کله چې امن کې اوسیږی غمې شین رنګ ته بدلیږی او زه دا حالت خپل په ګوتمې کې لیدلې شم، که پوه شوم خطر کې یې نو که راتللې هم نشوم بیا هم کوښښ کوم یو څوک دی مرستي ته درواستوم ...

په حیرت مې ګوتمي لاس کې وګرځول اوس یې رنګ تور و.
- دا تور رنګ یې څه معنا لری؟ اوس خو تور دی.
شموئیل- ګوته کې کړه د اوس لپاره خاموش دی.

په هیجان مې ګوتمې ګوته کې کړل چې د غمې رنګ یې کرار،کرار د تور څخه شین ته بدل شو، د هغه په داسې رنګ بدلولو مې خوله له حیرت خلاصه پاتي شوه چې شموئیل کرار وخندل او ویې ویل:
— ښه نو طاها ته د تلو وخت دی، د بیا لیدو په امید خدای پامان ...

خدای پامانې مې وکړل او شموئیل لاړ د هغه د تلو وروسته تر څو دقیقو د هغه تش ځای ته مې سترګي نیولې وه، د څو شیبو وروسته کرار، کرار خپل د کوټې خواته روان شوم، خو لا هم خوب نه راتلو ګوتمي مې خپل د سترګو مخې ته نیولې وه او کتل مې، عجیب ګوتمې وه، لاستې نه د زرو څخه جوړ و نه هم طلا، بلکې د لرګی

ښخه و خو عجیب وه لرګۍ بیحد ښکلۍ او کلک و، د هغه ښخه جالب غمې و یو چار کونچه غمۍ چې شنه ځلا یې کول، د کنجکاوۍ ښخه مې له ګوتي وباسه تر ښو وګورم ایا بیا توریږی کنه؟

او په بیحد حیرت کې غمې کرار،کرار تک تور شو، بیا مې چې ګوتې کې کړل نو غمې شین شو، یعنې د سهار تر اذان زه لګیا وم دا ګوتمي مې ګوته کې باسل،ننباسل تر دی چې آذان وشو، پاڅیدم لمونځ مې وکړ، د لمانځه وروسته نور نو خوب راباندی غالب شو او ومې نشو کړی نور د ګوتمي سره سات تیر کړم او ویده شوم...

په درووند خوب ویده وم چې د اقرا په خوځول او غږ کولو مې سترګي نیمې خلاصې کړي.
- هوم ... څه وایې؟
اقرا- پاڅه میلمانه کور ته راغلې،ذوالفقار اوخښې ویل راویښ دی کړم.
مغزه مې لا هم د خوب حالت کې وه، نو ځکه بغیر د کوم فکر کولو مې کرار په خوبجن غږ وویل:
- نو زه میلمانه څه وکړم؟ ذوالفقار دی ورسره کښیني ..
اقرا- پاخیږه طاها، خپل میلمانه نه دی، هغه زموږ مخامخ کور همسایه دی، همغه چې زوی ځو ورځې مخکې یو چا وژلې و؟ فکر کوم د همغه کور کسان راغلې ...

د اقرا په دی خبره یو دم خوب مې له سترګو وپرېد، په تلوار ځاې کې کښیناستم.
- څه دی وویل؟ جنرال راغلې؟
زما په ناڅاپه راپاڅیدو اقرا په وېره لږ شاته شوه.
— هو، یعنې شاید همغه وی زه یې نه پیژنم، خو ذوالفقار اوخښې ویل تا ژر راویښ کړم.

نور مې د اقرا کوم خبری ته غوږ و نه نیو، په تلوار پاڅیدم او د میلمه خانې خواته روان شوم، اقرا څو ځله راباندی غږ کړل چې د تلو مخکې لاس و مخ ومینځم، خو زه

بغیر له دی چې د هغې خبرو ته کوم توجه وکړم، میلمه خانې ته ننوتلم د ننوتلو سره سم نظر مې په جنرال ولګید ...

د کرکۍ لاندی نالې باندی ناست و، راسته لاس یې په ګچ کې ترلې و، پر مخ باندی هم څو کوچني او غټ زخمونه لیدل کېدل، رنګ یېبهم  ژیړ و چې ښکاریده د بدن یو غرۍ ډېر ژور ژوبل شوی او د همغه څخه د وینو تللو له امله رنګ یې پریدلې، خو ځکه چې تور کالې اچولې وه او ناست و نو ما ته نه ښکاریدل چې نور کوم ځای زخمي دی؟ خو په یو کلمه کې د زبیر خبره پارچه،پارچه و، خو سترګي ... سترګي لا هم د پخواني زور او غرور څخه ډکې وې ..

خو دا ځل د هغه زور او غرور مینځ کې ما یې په سترګو کې څو مختلف شیان نور هم لیدل، لومړۍ یو مات شوی پلار ... هو جنرال که هر څومره ځان کلک نیولې و خو له سترګو ښکاریدل چې هغه پخواني کس نه دی او د زوی مرګ تر ډېره حد د هغه پخواني سرکښې څخه اچولې، او بل د غضب او انتقام اور چې له سترګو څخه یې بادیدی، ما جنرال د هغه د لور پر مرګ چې ټوټه،ټوټه جسد یې ورته په بوجۍ کې راوړ لا دومره غضبناک نه و لیدلې، لکه نن چې له سترګو څخه یې اور بادیدی ...

د ذوالفقار په غږ نظر مې د هغه څخه واخیست او کرار مې سلام واچو، څنګه چې ما کرار سلام اچولې و همغسې کرار ځواب کوته کې موجود کسانو راکړ، البته بغیر د بوډا څخه چې هغه لږ په لوړ او سر حال غږ ځواب راکړ، د کښیناستلو مخکې نیم نظر مې د سترګو له کونج د هغه خواته هم واچو، که څه هم په ظاهره کرار ناست و خو په سترګو کې عجیب ځلا وه! لکه له دی چې د ده خبره اخر علمې شوه او جنرال تر دی ځای راغې سخت خوشحاله و ...

زما د کښیناستلو سره فضا یو دم درنه شوه، هیچا کوم څه نه ویل، ذوالفقار دوه سترګي د جنرال خواته او جنرال بیا دوه سترګي زما خواته نیولې وه، بوډا هم په بیغم نظر کرار شاوخوا کتل، د څو شیبو درنه چوپتیا وروسته جنرال خپل ستوني

تازه کړ چې د هغه په دې کار د ټولو توجه د هغه خواته شوه، هغه چې کله د ټول نظر پر ځان ولید نو بغیر له دې چې زما څخه سترګي لرې کړي په دروند غږ وویل:

– زه مستقیم ځم اصل موضوع ته، مقدمه چینې او خبره اخوا،دیخوا کول مې نه خوښېږي ...

د هغه په دې خبره ما خپل د خولې لاړې تېر کړل، که څه هم دا څو ورځې د همدې شیبې په تمه وم خو اوس چې وخت یې راغلې و نو لړ وېره مې درلود، د سترګو له کونج د ذوالفقار د تندی تروش کیدل او لاسونه یو دبل سره ترل مې ولیدل .. چې جنرال دوام ورکړ.

– زه منم چې .. چې ما غلطي وکړل، داسې حال کې چې تا راته خبرداری راکړی وه، خو ما ستا خبره جدی ونه نیول او پایله شول زما ... زما د زوی مرګ ..
جنرال دا خبره په بیحد درد وکړل او د لومړي ځل لپاره مې ورباندی زړه وسوځېد ..

جنرال- که ما حرص نه وایې کړی شاید زو ... زوی مې اوس ژوندی وایې ..

د هغه خبرې یو ټول د عذاب وجدان څخه ډکې وه، جنرال خپل ځان خپل د زوی د مرګ لامل ګڼلو او زما په نظر هغه صحیح فکر کړی و هغه ملامت و، هغه خپل په حرص دا بلا پر ځان راوړې وه، ما خو کوم خبره د دلداری ورکولو لپاره نه درلود، ځکه زما په نظر جنرال ملامت و که هرڅومره اوس پښیمانه وایې خو بوډا که څه هم له لهجې څخه یې ښکاریدل چې د دروغو دلداری ده وویل:

– د خدای کارونه دی جنرال صیب، خپل یا بل په ملامت کولو کوم څه شاته نه راګرځې ...

جنرال د تایید په توګه سر وخوځاوه، بیا یې ژوره ساه واخیسته او په افسوس او نامید لهجه یې کرار وویل:
– هو ... نه راګرځې .. هېڅ شئ بیا شاته نه راګرځې ...(بیا یې زما خواته راوکتل)

ما خپل د غلطي سزا ولیدل، اوس غوارم جبران یې کړم ... نو ایا ته تراوسه خپل په هغه پخواني خبره ولاړ یې؟ غواړې زموږ سره همکاري وکړې او عزیزي راضي کړې تر څو(جنرال په نفرت او کرکه غاښونه وچیچل، د انتقام او غچ اخیستلو لمبه یې په سترګو کې وځلیدل کله چې ویې ویل: هغه خبیث الفا ونیسو؟

د هغه په دې خبره ما لومړۍ د ذوالفقار خواته چې چوپ ناست و او ښکارېدی چې زما د ځواب په تمه دی نظر واچو، بیا مې د بوډا خواته چې په شونډو یې شیطان مسکا خپره وه وکتل او اخر کې مې په کلک غږ وویل: هو ...

زما د "هو" ویلو وروسته کوټه څو شیبې په درنه چوپتیا کې ډوبه شوه، د جنرال سترګې لا هم زما پر مخ ښخې وې، لکه غوښتل یې چې ډاډ ترلاسه کړي چې زه رښتیا هم په خپله خبره ولاړ یم. د هغه په سترګو کې د انتقام لمبه لا هم بلېدله، خو تر شا یې یو ډول مات غرور هم و ...

بوډا کرار په خپل ځای کې لږ وخوځېد، شونډو ته یې یو نرۍ او مرموز مسکا راغله. داسې ښکارېده لکه د هغه پلان چې له څو ورځو راهیسې یې په ذهن کې ګرځېده، بالاخره عملي کېدو ته نږدې شوی وي.

ذوالفقار چوپ و، خو له تندي یې ښکارېده چې فکرونه یې لا هم ارام نه دي. څو شیبې نور هم په همداسې چوپتیا کې تېر شول تر دې چې بوډا وویل:

— ښه... نو اوس چې ټول په یوه خبره باندې توافق ته ورسیدلو نو نور باید وخت ضایع نه کړو.

جنرال سمدستي سر وخوځاوه.

— هو، صحیح وایې. هره شیبه بېځایه تېرول زموږ په تاوان ده.

بیا یې خپل چپ لاس ساعت ته نیم نظر واچاو او اضافه یې کړل:

— موږ باید همدا نن د عزیزي سره ووینو، ته بیکار یې طاها؟

د هغه دا جمله داسې نه وه چې زما سره دې مشوره کوي، نه ... د هغه لهجه امرانه وه، داسې لکه چې ویل یې: ځان بیکار کړه او راځه. زما د ځواب ورکولو مخکې ذوالفقار په همغه تروش تندي وویل:

– همدا نن؟

جنرال بې له ځنډه ځواب ورکړ:

– هو. همدا نن ..هر څومره چې موږ ځنډ کوو، هغومره الفا بې‌باک کېږي او نوي پلانونه جوړوي.

بیا یې زما خواته راوکتل او ویې ویل:

– ته خو نه غواړې دا ځل ستا کورنۍ هدف وګرځي، هوم؟

جنرال نه زما په غم کې و او نه هم زما د کورنۍ... هغه د تل په شان په خپل غم کې و او دا تلوار یې هم د خپل زوی د انتقام اخیستلو لپاره کاوه، نه زما د خیرخواهۍ لپاره ... خو لومړی ځل و چې د هغه دا تلوار او خودخواهي زما په ګټه وه، نو ځکه په تلوار مې سر وخوځاوه او ومې ویل: سمه ده، همدا نن ځو. خو د تلو مخکې اجازه راکړئ زه خپل لاس او مخ ومینځم.

د جنرال له خایه بوډا په ارام وویل:

– سمه ده، ورځه. موږ درته په تمه یو.

سر مې وخوځاوه او په تلوار پاڅیدم، خو د کوټې څخه د وتلو مخکې مې د ذوالفقار خواته وکتل. هغه هم زما خواته راوکتل، نظر یې داسې و لکه غوښتل یې ډاډ ترلاسه کړي چې زه په خپل تصمیم کې پوره هوښیار یم.

کوښښ مې وکړ لږ مسکا وکړم او د سر په خوځولو هغه ډاډمن کړم. زما په دې کار هغه ژوره ساه واخیسته، چې له هغه سره سم جنرال کرار له خپل ځایه راپاڅېد. د هغه حرکتونه که څه هم د زخمونو له امله درانه وو، خو له وجوده یې لا هم د یو پخواني نظامي کس هغه کلک عزم او غرور څرګندېده.

جنرال- موږ به هم لاړ شو، کوڅه کې درته په تمه یو. زما موټر کې ځو.
ذوالفقار- ولې ستاسو موټر کې؟
د جنرال له ځایه بوډا وویل:
– یو موټر کې تګ غوره دی.

ما او ذوالفقار که څه هم د هغوی د دې خبرې په مطلب پوه نه شو، خو سر مو د پوهېدو په انداز وخوځاوه. زه په تلوار له کوټې ووتلم او د حمام خواته روان شوم، خو د ذوالفقار غږ مې واورېد چې هغوی ته یې د تلو لاره خلاصوله.

د مخ مینځلو پر مهال یوه شیبه په هنداره کې مې خپل سترګو ته پام شو. زما سترګې خړ رنګ درلود، نه ډېر تورې وې او نه هم ډېرې خرمايي. د زبیر په خبره بور سترګې وم، خو په هنداره کې مې سترګې تکې شنې وې، یوه شیبه لاس مې مخ ته د اوبو اچولو څخه ودرېد، خو دویم ځل چې مې هنداري ته وکتل همغه پخوانی د سترګو رنګ مې و. څو ځله مې سترګې پټې او خلاصې کړې، خو نه ... دا ځل همغه رنګ و.

په زړه کې مې د ځان سره وویل شاید ما هسې توهم وهلی وي؟ په دې فکر خپل لاس او مخ مې وچ کړ او د حمام څخه راووتلم. بیا بې له دې چې له اقرا او نورو سره خدای پاماني وکړم یا ورته ووایم چې چیرته روان یم، په تلوار له کوره ووتلم. جنرال د یو تور نوي موټر څنګ ته ولاړ و او یو څه یې ذوالفقار ته ویل، که څه هم ورڅخه لرې لېرې وم او غږ مې واضح نه اورېدو، خو ذوالفقار د لاس د حرکاتو څخه ښکارېده چې غوسه دی، په تلوار یې خواته نږدې شوم تر څو پوه شم څه خبره ده.

جنرال- وایم ستا راتګ مناسب نه دی.
ذوالفقار په تونده لهجه وویل:
– زه هم وایم ولې مناسب نه دی؟ په څه دلیل؟
جنرال څو شیبې ذوالفقار ته په ځیر نظر وکتل، بیا یې په ارام خو قاطع لهجه وویل:
– دا یو دولتي ماموریت دی، ملکی کسان له ځان سره نشو وړلی.

ذوالفقار پوسخند وواهه، بیا یو قدم د هغه خواته ورنږدې شو او ویې ویل:
– دولتي ماموریت؟ ملکی کسان؟ لکه چې له یاده دې وتلې طاها هم یو ملکی وګړی و کوم چې تا خپل منحوس پلان کې داخل کړ.
بیا یې په تنده لهجه دوام ورکړ:
– نو ما ته د قانون خبرې مه کوه ...

جنرال ژوره ساه واخیسته او سترګې یې وتړلې، لکه چې غوښتل یې خپل ځان کنټرول کړي.

د هغه له ځایه بوډا رامخکې شو او ذوالفقار ته یې وویل:
– منم دا زموږ غلطي وه چې طاها مو ماموریت ته راکش کړ، خو اوس دلته خبره فرق کوي. طاها بیا هم د دولت ځینې کسان پېژني او پوهېږي چې زموږ لخوا ماموریت کې ټاکل شوی و، خو ستا راتګ ښه نه دی، موږ ټولو ته ستونزه جوړوي

ذوالفقار په قهر دا ځل د بوډا خواته مخ وګرځوه.
– ستونزه؟

ذوالفقار زما خواته، چې اوس یې څنګ ته رسېدلی وم، اشاره وکړه او ویې ویل:
– د ده راتګ ستونزه نه جوړوي خو زما راتګ ستونزه جوړوي؟ تاسو غواړئ زه دا ساده بیا ستاسو سره یوازې پرېږدم تر څو تاسو ورباندې خپل کارونه او پلانونه عملي کړئ او بیا هر کله چې مو کار خلاص شو، یوازې یې په میدان پرېږدئ؟

جنرال دا ځل خپل ځان کنټرول نشو کړی او په غوسه ناکه لهجه یې وویل:
– خپل خبرو ته دې پام کوه، هره خبره یو تاوان لري ...

د جنرال په دې ګواښ ما بې اختیاره د ذوالفقار اوږه ونیوله. جنرال لکه زخمي مار پشان و؛ اوس وخت کې هغه یوازې غوښتل یو څوک راګیر کړي او خپل زهر ورباندې وشیندي، او ما هېڅ نه غوښتل هغه کس دې ذوالفقار اوسیږی ..

جنرال چې زه ولیدم نو کرار یې وویل:
— کاکا دې پوه کړه، هغه زندان ته زه هر کس خپل په سر نشم ورلی، مسئولیت او زر پوښتني لری او زه هېڅ اوس د پوښتنو حوصله نه لرم.

ذوالفقار غوښتل د جنرال ځواب ورکړي خو ما اجازه ورنه کړه. لږ مې د کور د دروازې خواته راکش کړ او په کراره لهجه، داسې چې هغوی وا نه وری، ورته ومې ویل: جنګ مه جوړوه ذوالفقار. لومړی خو دا یوازې یو ملاقات دی او دویم دا چې د هغوی خبره هم صحیح ده. زما پښه خو د اولې ورځې په دې منحوس ماموریت کې خلاصه شوې وه، ته نو ځان دې لوبې ته مه راکشوه ...

ذوالفقار به غوسه زما لاس خپل د اوږې څخه لرې کړ، او داسې حال کې چې سترګې یې له قهر او غضب څخه ځلېدل ویې ویل: بې ځایه اپلتې مه وایه، زه تا د دوی سره یوازې نه پرېږدم. هر ځای چې ځې، زه هم درسره ځم.

د ذوالفقار راضي کول په نرمو خبرو او زاری داسې و لکه چې زمري ته ووایې: زما غوښه ترخه ده نو ته ما مه خوره؛ یعنې هغومره بې منطق کار. نو څکه د نرمو خبرو پر ځای نیغ اصل موضوع ته لاړم او کوښښ مې وکړ د منطق او دلیل له لارې هغه پوه کړم. دا کار که څه هم سخت و، خو ذوالفقار دلیل او منطق منلو، خو زاری یې هېڅکله نه منله ...

- ګوره ذوالفقار، موږ څلور ورځې د لیونیانو په شان د هغه راتګ ته په تمه وو. ته هم پوهېږې او زه هم چې موږ بله چاره نه لرو. د جنرال سره جنګ کول زموږ په تاوان دي. اوس وخت کې همدا زموږ یوازینی امید دی. تا هغه ویډیو ... د بابا موبایل ... او د پاسپورټ ریاست کې هغه پېښه له یاده وباسله؟ موږ یوازې هېڅ کار نشو کولای، یوازې باید کښېنو او د اندېښنې څخه ځان مړ کړو چې اوس به څه وشي او اوس به څه وشي؟

او هو، موږ کوم جنګ ته نه ځو، نه هم د الفا نیولو ته ځو. موږ یوازې د یو ساده ملاقات لپاره روان یو، او نه یوازې دا، بلکې د دې وروسته باید ته د ډېرو نورو خبرو د منلو لپاره هم چمتو اوسې. موږ دا څو ورځې په دې خبرو بحث کړی و، له یاده دې ووتل؟ ما درته وویل چې د هغوی سره د همکاریو په وخت کې شاید مجبور شم له کوره لرې واوسم لکه څنګه چې څو میاشتې مخکې تللی وم. موږ ټول شرایط سنجولي وو، ذوالفقار ...

خو ته په جنګ کولو زموږ هغه ټول پلانونه خرابوې. زه پوهېږم چې زما په اړه اندېښمن یې، خو زه دومره هم بې عقل نه یم. که نور نه وي ...

(لږ مې مسکا وکړه تر څو هغه درنه فضا لږ ارامه کړم)

- تېښته او ژوندی پاتې کېدل مې ښه زده دي، نو دومره اندېښنه مه کوه او پرېږده کوم کار مې چې شروع کړی هغه پای ته ورسوم. د یو ځل لپاره هم که کېږي زما ستونزه ما ته پرېږده تر څو حل یې کړم، ذوالفقار ...

ذوالفقار څو ثانیې چوپ شو. داسې ښکارېده لکه له ځان سره چې په جنګ وي. څو شیبې وروسته یې په کرار او اندیښمن غږ وویل:
— خو که څه وشول؟
ما په ډاډمنه لهجه ځواب ورکړ.
- لومړی خو هېڅ نه کېږي، خو بیا هم که خدای مه کړه کوم څه وشول نو هغه ستا په شتون کې هم کېږي.

ذوالفقار د دومره خبرو وروسته لا هم راضي نه ښکارېده، خو بالاخره ژوره ساه یې واخیسته او سر یې لږ ښکته کړ.

— سمه ده خو ...

زما خواته یې راوکتل.
— خو ژر به بېرته راځئ او هره خبره چې وه ماته به رښتیا وایئ. که دروغ دې
وویل بیا زه پوهېږم او ته، طاها ...

په تلوار مې سر وخوځاوه.
- سمه ده، حتماً.

ذوالفقار غوښتل کوم بل څه هم ووایې خو د جنرال په دروند غږ خبره یې خوله کې پاتي شوه.

جنرال- که بحث مو خلاص شوی وی نو راځه، ډېر وخت نه لرو.

د جنرال د غږ وروسته نور هېڅ خبره ونشوه، ذوالفقار په ناراضه توګه سر وخوځاوه او زه د موټر خواته روان شوم. بوډا جنرال ته د موټر د شا دروازه خلاصه کړه، د هغه د کښېناستلو وروسته په خپله د موټر د سټرینګ خواته کښېناست، لکه چې موټروان نه و؟ زه څو شېبې ودرېدم، شاته سیټ کې د جنرال خواته مې وکتل، هېڅ مې زړه نه غوښتل د هغه څنګ ته کښېنم، نو ځکه مخکې سیټ کې د بوډا سره کښېناستم. زما په دې کار د بوډا پر شونډو نرۍ مسکا راغله، خو کوم څه یې ونه ویل او موټر یې روښانه کړ.

د کوټې څخه د وتلو مخکې د وروستي ځل لپاره مې د ذوالفقار خواته وکتل چې د کوټې په منځ کې ولاړ و، لاسونه یې تر شا تړلي وو او سترګې یې زموږ پر موټر ښخې وې. د هغه له نظره نارضایتي او اندېښنه له ورایه ښکارېده. کوښښ مې وکړ لږ مسکا وکړم تر څو د هغه اندېښنه لږه له منځه یوسم، خو و نه توانېدم، ما خپل هم چندان ښه حالت نه درلود. زر فکرونه مې په ذهن کې ګرځېدل. موټر چې تر څو د کوټې څخه وتلو، ذوالفقار ولاړ و او راکتل یې. تر دې چې سړک ته ووتلو او د هغه له نظر پناه شو، د موټر دننه عجیب سکوت خپور و.

جنرال سترګې پټې کړې وې او سر يې په څوکۍ تکیه کړی و، له څېرې څخه يې ښکارېده چې لا هم درد لري. د هغه دومره کلکوالي ته مې حيرت راتلو، په دومره عمر کې څه جبر دی چې ځان دې کارونو ته اچوي؟ که زه د هغه پر ځای وای، هماغه څو کاله مخکې د هغه لیوني جنرال د مرګ وروسته مې استعفا ورکوله او خپل پاتې عمر مې په ارامه فضا کې تېراوه، نه دا چې په دې عمر کې د انتقام اخیستلو پسې روان شم. د رښتيا چې حرص د انسان سترګې ړندوي.

له هغه څخه مې نظر واخیست او د بوډا خواته مې وکتل چې د معمول په شان په کراره څېره لګیا و موټر يې چلولو، لکه راتلونکی حالت يې له وخته سنجولی وي او اوس يې زړه بې غمه وي. خو زه نه ارام وم، ذهن کې مې یو نوم ګرځېده:

سلطان عزيزي...

هغه کس چې د دومره وخت راهیسې د دې ټولو کیسو په منځ کې ولاړ و. څېره مې لړ، لړ ورڅخه هیره شوې وه. نه پوهېدم چې څنګه ښکارېده؟ نه پوهېدم زموږ د لیدو پر وخت به څه وايي؟ او تر ټولو مهم... نه پوهېدم هغه به راسره مرسته کوي او که نه؟

د نیم ساعت مزل وروسته بالاخره د زندان جګ سمینټي دېوالونه له لرې ښکاره شول. دېوالونه بېحده جګ وو او د ټولو دېوالونو پر سر هم اغزن سیم څو قطارونه تاو شوي وو او په کونجونو کې د ساتونکو برجونه هم ولاړ وو. د زندان دروازه غټه فولادي وه. خپل ټول عمر کې نه زندان ته راغلی وم او نه مې هم لیدلی و، البته زندان مې لیدلی و .. خو په فلم او سریال کې، هغه هم د خارج زندانونه نه د افغانستان.

بوډا موټر ورو کړ او د دروازې مخې ته ودرېد. يو ساتونکی مخ ته راغی، لومړی يې موټر ته په شکمن نظر وکتل، خو کله چې د موټر شاته سیټ کې د جنرال په څېره نظر ولګېد نو سمدستي يې نظامي سلام وکړ.

جنرال سترګې خلاصې کړې او یوازې یې سر وخوځاوه. د زندان غټه فولادي دروازه کرار، کرار خلاصه شوه او بوډا موټر د زندان حویلي ته ننباسه. حویلي کې عجیب فضا وه، څو پولیس ولاړ وو، یو دوه بندیان د ساتونکو تر څنګ روان وو، مخامخ یو غټ ودانۍ وه چې سر تر پایه فولادي رنګ درلود.

بوډا موټر ودراوه. یو پولیس عسکر په تلوار راغی او د جنرال د خوا دروازه یې خلاصه کړه. د هغه د ښکته کېدلو سره سم زه هم له موټر ښکته شوم. بد احساس مې درلود. خپل لاس کې ګوتمې ته مې وکتل، رنګ یې لا هم شین و. کرار مې له ځان سره وویل:

– ارام اوسه طاها... فضا امن ده.

همغه پولیس عسکر چې جنرال ته یې د موټر دروازه خلاصه کړې وه، لګیا و جنرال ته یې یو څه ویل، خو زما فکر د زندان شاوخوا ماحول ته و. فضا یې داسې درنه وه چې بغیر د کوم جرم درلودو لا انسان ډارېده. داسې ښکارېده لکه وخت چې په دې مکان کې نه تېرېږي او ولاړ وي.

د څو شېبو وروسته پولیس عسکر د ودانۍ خواته اشاره وکړه او ویې ویل:

– مهرباني د دې خوا څخه...

بغیر له څه ویلو درې واړه ورپسې روان شو. لومړی د یو تنګ دهلېز څخه تېر شو چې شاوخوا یې څو کوټې وې، خو د ټولو دروازې بندې وې. ښکارېده چې د عسکرو د ویده کېدلو ځای به وي. د دهلېز دیوالونه نوي وو خو خړ رنګ یې فضا تیاره او جدي کړې وه. زموږ د قدمونو غږ په دهلېز کې انګازې کولې.

د دهلېز په پای کې دوه ساتونکي د یو بل دروازې مخې ته ولاړ وو. زموږ په لیدو یې نظامي سلام واچاوه، البته ما ته خو یې وانچو، بوډا او جنرال ته یې واچاوه. له هغه

وروسته يې دروازه خلاصه کړه. همدا چې پښه مې د دروازې هغه خوا کېښوده نو پوه شوم چې ولې وايي زندان؟

څو څنګ په څنګ کوټو کې په لسګونه کسان د غټو فولادي دروازو تر شا بند وو. غږونه يې راتلل، چا ژړل، چا چغې وهل، چا زارۍکول .. که څه هم زندان ته نه وم راغلې خو دا صحنه راته عادی ښکاره نشوه، دا د زندان لځايه ډېر د شکنجې ورکولو مکان ښکاريدی ...د هر قدم اخيستلو سره په تمه وم چې همداسې يوې کوټې ته ننوځو او د عزيزی ملاقات وکړو، خو پوليس عسکر بغير له درېدلو په کلکو ګامونو روان و. نه پوهېږم لس که پنځلس داسې کوټو څخه تېر شو چې بالاخره عسکر د يوې کوټې مخې ته ودرېد او ويې ويل:

– ستاسو د زنګ وهلو وروسته د ملاقات کوټې ته مو راوست، دا نيم ساعت کېږي چې دلته په تمه دی.

جنرال د پوهېدو په انداز سر وخوځاوه او دروازې ته يې اشاره وکړه. عسکر په تلوار دروازه خلاصه کړه او څنګ ته ودرېد. لومړی جنرال او ورپسې بوډا کوټې ته ننوتل، خو ما د ننوتلو جرئت نه درلود. نه پوهېدم څنګه د هغه سره مخامخ شم؟ د هغه خاين احساس مې درلود، لکه د خيانت کولو په حال کې چې ګير شوی وم. زړه مې په تېزۍ درزېده. زړه مې غوښتل په کومه لاره چې راغلی يم پر هماغه بېرته لاړ شم، خو لا مې ګام شاته نه و اخيستی چې د څو مياشتو وروسته د هغه آشنا غږ مې تر غوږ شو، چې په ريشخند او تمسخر يې وويل:

– اوه، جنرال! څه پر بد حال يې.

د کوټې خواته مې وکتل. جنرال د دروازې دې څنګ ته ولاړ و، نو ليدلی مې شو، خو عزيزی نه راته ښکارېده. جنرال په غوسه يو دوه ګامه د کوټې هغه بل لور ته واخيستل او که څه هم زما له سترګو پناه شو، خو غږ مې ورڅخه واورېد چې ويې ويل:

– مورې دلته د ټوکو لپاره نه یو راغلي، عزیزی ...

عزیزی- اومم، ښه خبره ده، ځکه زه هم د ټوکو حوصله نه لرم.

جنرال- هو، ډېر ښه خبره ده چې دواړه پر یو حال یو، نو راځو اصل خبرې ته ...

عزیزی په خندا وویل:
– اصل خبره؟ مورې اصل او بدل خبره له یو بل سره نه لرو جنرال ... مورې هغه وخت له یو بل سره خبرې لرو کله چې ته زما لومړی شرط ومنې، او هغه ... (غږ یې درون شو کله چې ویې ویل: جاسوس راته رامخې ته کړې ...

عزیزی د «جاسوس» نوم داسې واخیست لکه کومه کنځا چې کوي. اوس نو خپل په بېرته تګ سل په سلو کې ډاډه شوم، هغه غوسه و ... بېحده هم غوسه و. د هغه په نظر زه یو خاین جاسوس وم چې مرګ مې هغه ته روا و. زما په نظر غوره به دا وه چې لاړ شم او یوازې د الفا مقابله وکړم. عزیزی د دې خبرو څخه داسې ښکارېده چې هېڅ مرسته نه کوي او برعکس که آزاد شو، د الفا مخکې به ما په خپلو لاسونو ووژني.

د دې ځای څخه د تښتېدو په فکر کې وم چې د جنرال لوړ غږ راغی:
– زمورې نیت د همکارۍ لپاره نیک دی عزیزی ... نو ستا لومړی شرط مو منلی. (بیا یې غږ نور هم پورته کړ او ماته یې غږ کړل: طاها! دننه راشه ...

خو زه هماغسې پر خپل ځای ولاړ وم. د دننه تلو جرئت مې نه درلود. بوډا چې زما خواته متوجه شو، نو د سترګو په اشاره یې د راننوتلو اشاره وکړه. زړه مې ویل: طاها، تښته ... خو عقل مې ویل: دا دې یوازینۍ د ژغورلو لاره ده. د شموئیل خبره مې ذهن ته راغله:

«د عزیزی اعتماد تر لاسه کړه، هغه مرسته درسره کولای شي.»

په دې فکرونو مې د خولې لاړې تېرې کړې، په خپلو ګډوډو وېښتانو کې مې لاس کش کړ او د کوټې دننه مې پښه کېښوده.

یوه ساده خو پاکه کوټه وه. شاوخوا یې ګروپونه روښانه وو او د کوټې په یو کونج کې کمره ایښودل شوې وه. د کوټې په منځ کې یو میز او څو څوکۍ وې. نظر مې د میز څخه پورته راغی او هغه مې لید، د زندان کالي یې اغوستي وو، خړ رنګ ساده او زړه کالې د کالیو پر اوږو او لستوڼو د وخت او استعمال نښې ښکاره وې، لکه چې څو ځله مینځل شوي وي او رنګ یې لږ تللې وی ...

لاسونه یې د میز پر سر ایښي وو، د لاسونو رګونه یې روښانه ښکارېدل، د زندان ژوند پر هغه کوم منفي اغیزه نه وکړې، برعکس بدن یې د زندان په دی رنګ تللې جامو کې لا پیاوړی او کلک ښکاریدی ... کرار مې نظر پورته لاړ وېښتان یې نور د پخوا په شان منظم نه وو. اوږده شوي وو او بې نظم پر تندي او غوږونو راپرېوتي وو. ږیره یې هم اوږده او بې نظم وه داسې لکه څو ورځې یې چې سم نه وي اصلاح کړې، کله چې مې سترګو ته وکتل نو ساه مې بې اختیاره بنده شوه.

سترګې لا هم هماغسې وه، ژورې، تېزې او له غوسې ډکې. داسې ښکارېدې لکه د یو بند شوي زمري سترګې چې د قفس له شا څخه خپل ښکار ته ګوري. په نظر کې کرکه، قهر، غوسه له ورایه ښکاریدل .. خو د دی ټول څنګ کې یو بل احساس هم د هغه سترګو کې ماته ښکاریدی چې صحیح مې نشو درک کولای داسې و لکه زړه تنګون؟

د څو ثانیو لپاره په کوټه کې مطلق سکوت خپور شو، یوازې د بیرون څخه د ځینو زندانیانو غږونه راتلل، عزیزی داسې حال کې چې دوه سترګې ماته نیولې وه کرار یې پر څوکۍ تکیه ووهل، بیا یې شونډو ته یو نری خو خطرناک مسکا راغله.

د هغه د داسې خندا په لیدو بې اختیاره مې یو قدم شاته واخیست، هغه زما تللې شاته قدم ته په ځېر وکتل او پر شونډو یې مسکا لا ژوره شوه، بیا یې په کرار خو

دروند غږ ووېل:

— نو بالاخره راغلې ...

د هغه د شتون،کتلو او لهجې څخه دومره وېرېدلی وم چې خبرې مې له یاده ووتلې او بې اختیاره مې سلام واچاوه. زما په دې کار د عزیزی مسکا پر خندا بدله شوه او ما پر ځان لعنت ووېل. هغه په عادي حالت کې هم عادت نه درلود د چا د سلام ځواب ورکړي، څه ورسېږي اوس چې زما د وینو تږی و. د جنرال په غږ د هغه خندا بنده شوه او ما د کوټې د دېوال خواته ځان کش کړ. هېڅ مې زړه نه غوښتل د هغه د سترګو مخې ته دې اخوا دېخوا شم. که زما په واک کې وای، د دې ځای څخه تښتېدل مې غوره ګڼل؛ د عزیزی کتل د شکنجې څخه په کمه نه وو.

جنرال ووېل:
— موږ دومره وخت نه لرو عزیزی، ویلې دې وه طاها راوړه تر څو همکاری وکړي (زما خواته یې اشاره وکړه) دا هم طاها... نو راځه اوس اصل بحث ته، الفا چېرته دی؟

عزیزی پرته له دې چې د جنرال د خبرو ځواب ورکړي، خپل لاس یې د څوکۍ تر شا یوړ او خپله تکیه یې سمه کړه. ټوله موده چې جنرال خبرې کولې، هغه دوه سترګې زما خواته نیولې وې، لکه په کوټه کې موجود نور کسان چې هېڅ اهمیت ورته نه لري. جنرال چې خپله خبره خلاصه کړه، نو دوه سترګې د عزیزی د ځواب اورېدو لپاره د هغه د خولې خواته ونیول، خو عزیزی داسې حال کې چې سترګې یې پر ما ښخې وې، کرار د ځان سره زمزمه کړه:

— طاها... نو اصل نوم دې طاها دی، نه برهان؟

جنرال چې د هغه لخوا د بل ځواب په تمه و، د عزیزی په دې خبره په غوسه خپل روغ لاس پر مېز ووهه. د هغه په دې کار عزیزی د یوې شېبې لپاره نظر له ما واخیست او د جنرال لاس ته یې وکتل.

جنرال په غوسه وویل:
– موږ دلته د لوبو لپاره نه یو راغلي، همکاري کوې که نه؟

عزیزي کرار وخندل او د جنرال د هغه دومره حرص او جوش خوړلو په مقابل کې یې وویل:
– ته له الفا وېرېږې؟

د جنرال پر ځای د لومړي ځل لپاره بوډا ځواب ورکړ:
– خبره د وېرې نه ده عزیزي. الفا یو وحشي ځناور دی چې زرګونه بې ګناه خلک یې وژلي، او ته یوازینی کس یې چې شاید موږ تر هغه ورسولې شې. نو دا همکاري یوه‌جانبه نه ده. په دې همکارۍ کې که زموږ یوه ګټه وي، ستا څو ګټې دي. نو غوره نه ده د وخت تېرولو پر ځای راشو اصل بحث ته؟ ته څه غواړې؟ یا بهتره ده ووایم د همکارۍ لپاره دې شرط څه دی؟

د بوډا په خبرو عزیزي د پوهېدو په انداز سر وخوځاوه او لږ جدي شو.

– زه یوازې یو شرط لرم...

جنرال په بې‌صبرۍ وویل:
– کوم شرط؟

عزیزي د یوې شېبې لپاره د جنرال خواته وکتل، خو ژر یې نظر بېرته زما خواته راوګرځېد او کرار، خو په شیطاني مسکا یې وویل:
– زما شرط ډېر ساده دی... (زما خواته یې اشاره وکړه) دا غواړم.

د هغه په دې خبره زما زړه د درزېدو څخه ودرېد. جنرال کرار زما خواته وکتل، بیا یې بېرته عزیزي ته مخ کړ.

– څه مطلب، دا غواړم؟

عزيزی خپله يوه پښه پر بل واچوله او په هماغه شيطاني مسکا يې وويل:
– مطلب دا چې برهان به بېرته زما سره کار کوي.

زه نه پوهېدم د عزيزی د کوم خبری او کار څخه وډار شم؟
د هغه د شيطاني مسکا څخه ..د هغه د "برهان" ويلو څخه، يا دا چې ما ته يې د يو شي په شان اشاره کړې وه ..

په کنکس حالت مې د هغه خواته کتل چې بوډا د مېز خواته نږدې شو او کرار يې وويل: لومړی خو دا چې د هغه نوم طاها دی، نه برهان عزيزی. او دويم، ته د هغه سره څه کار لرې؟ که نفر دې پکار وي، موږ د هغه څخه ډېر مسلکي کسان لرو چې کولای شي ستا سره مرسته وکړي او کارونه دې پر مخ يوسي.

عزيزی کرار وخندل:
– نه، زما همدا پکار دی. زه کوم مسلکي کس نه يم خطا ويستلی.

عزيزی خپل دواړه لاسونه پر مېز کېښودل او زما خواته چې د ډېرې وېرې له امله د کوټې د دېوال سره جوخت ولاړ وم او زړه مې غوښتل هماغه دېوال کې غيب شم، په ځير وکتل او په درنه لهجه يې وويل:
– زه دې مکاره پيشو خطا ويستلې يم، او تاسو خو ښه پوهېږئ چې زما ډېر خوښېږي بې‌ادب او وحشي حيوانات رام کړم...

د هغه په دې خبره ما د خولې لاړې تېرې کړې. زما دا حرکت د عزيزی د سترګو څخه پټ پاتې نه شو او ومې ليدل چې د شونډو مسکا يې لا ژوره شوه او سترګې يې وځلېدې.

جنرال په تروش تندي وويل:
– دا ممکنه نه ده. طاها د غلطۍ څخه لومړی ځل دې ماموريت ته راغلی، خو دويم ځل نه دی پخپله راتلې شې او نه هم څوک ورته اجازه ورکوي.

د جنرال د اجازې څخه مطلب خپله اجازه نه وه. هغه زما د مرګ او ژوندي پاتې کېدو په غم کې نه و. که وس او توان يې رسېده همدا اوس يې د عزيزی دا شرط منلو او زه يې لاس ترلی د هغه په ګير ورکول او هېڅ هم ورته مهم نه وو چې عزيزی مې وژني که نه. د هغه مطلب د اجازې څخه د ذوالفقار خواته و...

عزيزی په بې‌خياله توګه خپل اوږه پورته واچوله او څوکۍ ته د تکيه وهلو په حال کې يې وويل: زړه مو... ما خپل شرط ووايه، که تاسو يې نه منئ، اختيار لرئ...

کوټه کې درنه چوپتيا خپره شوه. جنرال په فکر کې لاړ، بوډا يو ځل زما خواته بيا د عزيزی خواته وکتل، هغه نه پوهېده چې عزيزی ولې دومره شله دی چې ما بېرته د ځان سره يوسي، خو زه ښه پوهېدم. عزيزی له خيانت او چل څخه کرکه درلوده او د هغه په نظر کې ما هغه ته چل ورکړی و، نو ځکه حاضر و هر کار وکړي تر څو خپل غچ له ما څخه واخلي.

يو ګام مخکې راغلم. غوښتل مې د هغه خبره ومنم... که څه هم د مرګ خولې ته د ځان اچولو په معنا وه، خو همدا يوازينۍ لار وه. که عزيزی همکاری نه وای کړې، خدای خبر د الفا راتلونکی ګام به دا ځل د چا وژل وای؟ خو دومره پوهېدم چې دا ځل وار به ضرور زما په کورنۍ و.

خوله مې خلاصه کړه تر څو د هغه شرط ومنم، خو د څه ويلو مخکې ناڅاپه عجيب احساس مې وکړ. لاس مې بې‌اختياره حرکت وکړ... ګوتمۍ...

په کومه ګوته کې مې چې ګوتمۍ وه، احساس مې وکړ چې هغه لږه ګرمه شوه. بې‌اختياره مې لاس لږ موټ کړ. د ګوتمۍ غمی که څه هم شنه ځلا کوله، خو ګرمه شوې وه او زما ګوته يې لږ سوځوله. دومره د ګوتمۍ په ناڅاپه ګرمېدو حيران وم چې خبره مې له ياده ووتله.

د جنرال په غږ مې نظر له ګوتمۍ واخيست، خو هماغه شېبه عزيزی ته مې پام شو. هغه په ځير او مشکوک نظر زما خواته کتل. کله چې زما نظر يې وليد، نو د يوې

شېبې لپاره یې زما لاس ته وکتل، بیا بېرته زما سترګو ته خو څه یې ونه ویل...

جنرال- دا شرط دې پر ما کومه اړه نه لري چې زه یې ومنم. طاها نه پولیس دی او نه هم کوم نظامي کس. هغه یو عادي وګړی دی، نو زه یې ستا سره کار کولو ته نشم مجبورولای. البته که خپله وغواړي، بیا بله خبره ده... خو له ما څخه دا توقع مه لرې چې دی موضوع ته یې راکش کړم...

د جنرال په خبره عزیزی خپله یوه وریځه د حیرانتیا په توګه پورته کړه، بیا یې زما خواته وکتل او ویې ویل: نو ته کوم پولیس یا نظامي کس نه یې؟ عجب...!

لکه چې په دې خبره خوشحاله شوی و، ځکه په مکارۍ لهجې یې وویل:
– کار خو لا آسانه شو، موږ دواړه یو د بل په ژبه ښه پوهیږو نو ژر توافق ته سره رسیدلې شو که څنګه برهان؟

زړه مې غوښتل خوله خلاصه کړم او په چیغه ووایم زما نوم طاها دی، نه برهان. خو یو ځل بیا د ګوتمۍ په ګرمېدو خوله مې بنده کړه. لعنت دې وي داسې ګرمېدل ته وا اور چې پکې بل وی، عجیب وه خو ما احساس کاوه دا یو ډول خبرداری دی .. لکه وایي چې خبرې مه کوه، اوس مناسب وخت د خبرو نه دی.

جنرال عزیزی ته مخامخ پر څوکۍ کښېناست او ویې ویل:
– مطلب اوس چمتو یې زموږ سره همکاری وکړې؟

عزیزی- هو، خو (د کوټې شاوخوا یې اشاره وکړل) خو فکر نه کوم د دې ځایه دې کومه مرسته وکړای شم، نو لومړی ما له دې ځایه وباسه ..

جنرال د مېز پر سر خپل ګوتې کرار ووهل او ویې ویل:
– دا دومره ساده خبره نه ده عزیزی، ستا آزادي یو لویه جنجالي پروسه لري.

د جنرال په خبره عزيزی ناڅاپه په کټ، کټ پخندا شو.
عزيزی- پروسه؟ پوهېږې جنرال، يو دليل چې ستا سره مې همکاری کول نه خوښېږي همدا دی ..
د مېز خواته ورټيټ شو او ويې ويل:
– ته د هغه فاح*ی په شان يې چې فرق ورته نه لری چې بوډا يې غ**ی که ځوان! هغې ته مهمه پيسه ده چې بايد ترلاسه يې کړي، ته هم همغسې يې فرق درته نه لری چې د چا سره همکاری کوې او څوک دوست دی او څوک دښمن؟ ته يوازې غواړې خپل هدف ته ورسېږې. خو... زه خر نه يم. هغه خر چې ته زما په سترګو کې وينې، هغه اصل کې ستا خپل سيوری دی جنرال ...

ما په خلاصه خوله د عزيزی خواته کتل، هغه تل کنځل او سپکاوی کاوه، خو داسې سپکاوی او توهين، هغه هم جنرال ته، باور مې نه راتلو. نه يوازې زه، بلکې د بوډا خوله هم له حيرت خلاصه پاتې وه. عزيزی په معياري توګه د خپلې خبرې مطلب ښه رسولی و. هغه ويلې وه چې جنرال دوه مخی او چلباز دی او د خپل کار د پوره کولو لپاره هر کار کولای شي. زه هم د هغه د دې خبرې سره موافق وم، خو... د هغه د بيان طريقه ډېره سپکه وه. هغه مثال چې جنرال يې د يوې فاح*ی سره مقايسه کړ بيخي يو عام جنګ و.

هره شېبه په تمه وم چې جنرال به له غوسې اور واخلي او عزيزی به راونيسي، خو عزيزی په پوسخند د هغه خواته کتل،داسې کتل لکه چې پوهېده جنرال هېڅ کار نشي کولای.

تازه د بوډا په خبرې مې سر خلاص شو کله چې د عزيزی سره يې لومړی ځل ملاقات کړی و او ماته يې ويلي و چې هغه له هېچا نه ډارېږي او داسې خبرې کوي لکه موږ هغه ته مجبور يو، نه هغه موږ ته. هو... عزيزی دقيقاً همغسې خبرې او کارونه کول لکه موږ بنديان او د مرګ پر حال يو او زموږ د ژغورلو يوازينۍ لار د هغه سره همکاری کول دي ...

ځو شېبې هېڅا څه ونه ویل او د ټولو نظر د جنرال پر لور و، خو هغه که څه هم له غوسې مخ یې بیخي سور شوی و، خاموش و. تر دې چې عزیزی په هماغه پوسخند وویل:

— تا تر اوسه زما دوسیه محکمې ته څه چې دولت ته لا نه ده معرفي کړې. دا دوه میاشتې دي زه نظر بند ساتلی وم.

زما د دوسیې لپاره چې تا کوم قاضي ټاکلی و، تر ځو بې له اخوا،دېخوا خبرو ما ورباندې ووژني، هغه ستا د لاس لاندې عسکر او ستا شاګرد تېر شوی" عبدالله خان کټوازی" نو ما ته د پروسې او "نه کېږي" او "قانون دی" او "دولت دی" او "فلان دی" او بستان دی" خبرې مه کوه .. زه خپل هفت خط د زمانې یم ... زه کارغه رنګوم او د باز په نوم یې پر خلکو خرڅوم، نو ماته چل مه راکوه جنرال .. که رښتیا غواړې الفا ونیسې، نو زما سره صادق اوسه...

بیا د جنرال خواته، چې سترګې یې د حیرت څخه خلاصې پاتې وې، ورټیټ شو او په کلک او داسې جدي غږ چې زما د بدن ویښتان یې زیغ ودرول ویې ویل:
— ته باید یوازې زما د دوسیې لاندې ولیکې دا الفا نه دی او خلاص... کله چې هغه منحوس نوم زما له سره لرې شي، هغه وخت پاتې کېږي سلطان عزیزی... او ته ښه پوهېږې چې د دې نوم شاته ته هېڅ خلاف او جرم نشې ثابتولای، ځکه... (په شیطاني مسکا یې وویل: ځکه سلطان عزیزی یو پاک، صادق او وطن‌دوست تاجر دی چې کاروبار یې د موټروانو سره دی نه د خلافکارانو سره که څنګه جنرال صیب؟

د یوې شېبې لپاره دا فکر له ذهنه را تېر شو چې ایا عزیزی رښتیا بندی و؟ که ځان یې قصداً دلته ساتلی و؟ د هغه معلومات، خبرې او کارونه د بندیانو په شان نه وو. ایا هغه اصلاً زموږ سره همکاری کولو ته ضرورت درلود؟

جنرال چې د عزیزی د خبرو تر تاثیر لاندی راغلې و، ځان یې راټول کړی او ویې ویل: ستا خبرې شاید تر یو حده صحیح وي، خو بیا هم ستا آزادول دومره اسانه خبره نه ده ..

عزیزی- فکر نه کوم دومره دې سخت کار وي. ته یوازې زما له دوسیې څخه د الفا نوم لرې کړه، نور له دې ځایه وتل زما کار دی...

بوډا په تلوار وویل: یعنې څه له دې ځایه وتل ستا کار دی؟ غواړې وتښتې؟

عزیزی په خندا وویل: تېښته او زه؟ که زما اراده د تېښتې وای، نو دا دومره وخت به نه وای پاتې شوی، زه غواړم په عزت له دې ځایه لاړ شم ...

نه پوهېږم جنرال څه وویل او هغه څه ځواب ورکړ. زما ټول فکر د هغه په دې خبرو کې بند پاتې و: "که زما اراده د تېښتې وای، نو دا دومره وخت به نه وای پاتې شوی."
فکر مې کاوه عزیزی له هغه څه ډېر خطرناک دی چې ښکاره کوي...

شاید نیم ساعت جنرال او بوډا د عزیزی سره لګیا وو او خبرې یې کولې. د هغوی د خبرو په دې ټول وخت کې زه د کوټې په کونج کې پرته له څه ویلو ولاړ وم، او عزیزی هم خپلې دوه سترګې زما خواته نیولې وې.

بالاخره دا نیم ساعت خبرې دې پایلې ته ورسېدې چې جنرال به لومړی د عزیزی له دوسیې څخه د الفا نوم او تهمت لرې کوي او له هغه وروسته به عزیزی زموږ سره همکاري کوي. جالبه دا وه چې هغوی د عزیزی په خبره باور درلود؟ یعنې هغه نه کوم ضمانت خط ورکړ او نه یې کومه بله وعده وکړه. یوازې یې وویل چې د آزادۍ وروسته به مرسته وکړي الفا ونیسو، بس... او جنرال او بوډا هم د هغه خبره ومنله.

یعنې هغوی هم پوهېدل چې عزیزی له خپلې خبرې نه اوړي؟
یا شاید هغوی فکر کاوه عزیزی هم دې همکارۍ ته مجبور دی؟

ځکه الفا یوازې زموږ پسې نه و، بلکې د عزیزی د مرګ پسې هم و. نو خطر د ټولو پر سر و او کله چې مصیبت پر ټولو وی بیا نو دښمن هم دوست ګرځې ..

نو دا همکاری اصل کې د بقا او ژوندي پاتې کېدو تړون و. البته زما لپاره خو یې همدا معنا درلوده، خو د جنرال لپاره دا د غچ اخیستلو تړون و .. د بوډا لپاره شاید د عدالت او بی ګناه خلکو د وژولو د مخنیوی تړون و ... خو عزیزی ... هغه مې نشو درک کولای یعنې که ووایم دا د هغه د ژغورولو تړون و نو شاید غلط خبره وی، ځکه هغه داسی نه ښکاریدی چې دا همکاری دی خپل د ژغورلو لپاره کړې وی؟ د هغه له خبرو او حرکاتو ما ته بل شې ښکاریدی لکه مالکیت ... غرور او ځواک ...

د تلو وخت کې عزیزی راغږ کړل او یوازی یوه جمله یې وویل خو داسې جمله وه چې زما نفس یې رابند کړ ..

عزیزی- ډېر ژر به سره ووینو، مکارې پیشو ...

نه پوهېږم هغه د پیشو سره څه شوق درلود چې هر ځل غوښتل یې ما وډاروي نو پیشو یې راته ویل؟ د جنرال او د بوډا څخه مخکې له کوټې ووتلم، هغوی لګیا وو د عزیزی د خبرو په اړه یې یو د بل سره مشوره کوله چې ما ورته د تلو وویل. بوډا نیم نظر راواچاوه او ویې ویل:
– تللې شې خو ځان ته پام کوه، د عزیزی د همکاری کولو خبر ژر تر الفا رسیږی .. امکان لری زموږ د کوم برید کولو مخکې هغه بیا کوم کار وکړی ...

یوازی مې ورته سر وخوځاوه او روان شوم. نه هغوی کور ته د رسولو ست وکړ او نه هم ما نور د هغوی د څېرې د لیدو توان درلود. د زندان له ودانۍ څخه چې راووتلم نو یخه هوا مې پر مخ ولګېده. داسې احساس مې وکړ لکه یو ساعت نه، بلکې کلونه کېدل چې هغه کوټه کې بند پاتې وم. څو ژورې ساه‌ګانې مې واخیستې او غوښتل مې د زندان د دروازې خواته روان شم چې یو عسکر ته مې پام شو. هغه داسې حال کې چې موبایل یې لاس کې نیولی و، دوه سترګې یې پر ما وې او زه یې څارلم.

لومړی مې ګمان وکړ چې هسې توهم مې وهلی، خو د څو شیبو وروسته پاڅمن شوم چې رښتیا ما څاري. ځکه بیخي نظر له ما څخه نه لرې کاوه.لعنت دې وي، یو همدا پاتې و چې جنرال یا بوډا زما د څارنې لپاره نفر وګماري، خو ژر دې خبرې ته مې فکر شو چې دا څارنه زما په ګټه ده، نه تاوان ... په دې فکر په بې‌غمه خیال له زندانه ووتلم. هغه عسکر هم یوازې د زندان تر دروازې زما پسې راغی. کله چې ټکسي مې ونیوله، هغه هم په موبایل کې یو څه وویل او همالته ودرېد نور یې تعقیب نه کړم.

ما هم موټروان ته ادرس ورکړ او سر مې د موټر په ښېښه تکیه کړ. موټر کرار، کرار د زندان څخه د لېرې کېدلو په حال کې و، خو زما فکر لا هم د هغه جګو دیوالونو تر شا د عزیزی د هغه اخري خبرې سره بند پاتې و.

"ډېر ژر به سره ووینو، مکاره پیشو."

څه مطلب ژر به سره ووینو؟ منم چې جنرال ومنله چې آزاد به یې کړي، خو بیا هم فکر نه کوم دومره ژر دې آزاد شي. شاید یوه هفته وخت ونیسي. خو عزیزی ډېر ډاډمن ښکارېده. داسې یې وویل "ژر به سره ووینو" لکه همدا نن شپه چې د لیدو دعوت راکوي؟! کور ته تر رسېدو پورې په مغز کې مې یوازې همدا یو نوم ګرځېده: عزیزی...

د هغه سترګې.
د هغه شیطان مسکا.
د هغه عجیب ډاډ چې په غږ کې یې و.
ولې دومره ډاډه و؟
ایا په رښتیا دومره ژر د زندان څخه راوتلی شي؟
او که آزاد شو، نو زما سره به څه کوي؟

د دې ټولو خبرو څخه چې زه کوم خبرې ډېر پعذاب کولم هغه دا وه چې هغه ولې ما غواړي؟ ولې یې د ټولو خبرو په جریان کې ما ته برهان ویل؟ داسې حال کې چې

@Shuhab09

بوډا ورته زما اصلي نوم ويلي و؟

بې‌اختیاره مې خپل لاس ته وکتل. ګوتمۍ مې تر اوسه په ګوته کې وه، خو نور ګرمه نه وه د ماښام په شان عادي وه. د عزیزی کارونو او خبرو ته فکر کول له یو خوا اعصاب راخراب کړي وو، له بل خوا دا چې باید همداسې یو عذاب لرونکې جلسه د ذوالفقار سره ولرم بیخی نو مرګ ته نږدې کولم.

یوه خبره چې تل هم د زړه قوت راکوي او هم یې نااميده کولم هغه دا وه چې:
هر حالت تېرېږي...

که هغه بد حالت وي که ښه حالت، هر حالت چې وي تېرېږي. لکه د عزیزی سره لیدنه چې ما ورته څومره فکرونه کړي وو چې څه به وشي؟ څه به ووایي؟ هغسې به شي، داسې به شي ...خو لاړ، تېر شو.

همداسې اوس مې د ذوالفقار سره د مخامخ کېدو او د هغه د راضي کولو په اړه فکر کاوه او زر رقم فکرونه مې ذهن ته راتلل، خو پوهېدم چې دا حالت هم تېرېږي.

بالاخره کور ته ورسېدم. کرایه مې حساب کړه او له موټر ښکته شوم. خپل جیب کې پیسو ته مې وکتل. باید د بوډا لپاره دعا وکړم چې د زبیر خبره د هغه قهرمانۍ ملې کیدو وروسته یې یو څه نغدې پیسې ما ته راکړې، کنه په دې بدو شرایطو کې یو دا شرم هم کم و چې ذوالفقار ته لاس ونیسم تر څو پیسې راکړي.

کور ته چې ننوتلم د غرمې وخت و. اقرا لګیا وه په اشپزخانه کې د غرمې لپاره ډوډۍ تیاروله. ماشومان هم دهلیز کې شوخي کول. اقرا چې پر ما نظر ولګېد نو په تلوار زما خواته راغله او پوښتنې یې پیل کړې.

اقرا- څه خبره وه؟ دا کسان د څه لپاره راغلي وو؟ ته چیرته لاړې؟

غوښتل مې کوټې ته لاړ شم، خپل خوب له سره ونیسم او ویده شم، خو د اقرا پرلهپسې پوښتنو د خوب فکر له ذهن څخه راویست.

- هېڅ ... کومه مهمه خبره نه وه.

زما په دې خبره د هغې موډ لږ خراب شو. شاید فکر یې کاوه د پخوا په شان به کښېنم او ټوله کیسه به الف په الف ورته وکړم. البته که شرایط د پخوا وای شاید دا کار مې کړی وای، خو اوس... فکر نه کوم د اقرا د پوهېدو کومه موضوع دې وي.

محمد او راحیل زما په لیدو په تلوار زما خواته راغلل. د ذوالفقار مېرمن د اشپزخانې د دروازې سره ولاړه وه. زه یې چې ولیدم کرار یې سلام واچاوه، ما هم د هغې په شان ځواب ورکړ.

ما فکر کاوه اقرا په ټولو خویندو کې عاجزه ده، خو د کوم وخت نه چې مې د ذوالفقار مېرمن لیدلې وه، بیخي مې ذهنیت بدل شوی و. زما په نظر د استاد ټولې لورګانې یو د بل څخه عاجزې وې...

ما په دې څو میاشتو کې بغیر د "هو"په سترګو ویلو پرته بل کوم لفظ د دې له خولې نه و اورېدلی چې ذوالفقار ته یې ویلې وی. البته دوی ډېرې خبرې هم نه کولې،منم چې زه هم چندان د خبرو څخه ډک نه وم، خو بیا هم فکر کوم شرایط مې د ذوالفقار څخه یو څه ښه وو. هغه د خبرو له ځایه د خپلې ښځې خواته کتل او همغه کتل کافی وو چې هغه یې پر مطلب پوه شي.

دا کار زما په نظر بېحده جالب و. که څه هم موږ دواړو واده پر یو وخت کړی و، خو باید ومنم د ذوالفقار مېرمن د ذوالفقار پر اخلاقو بېحده ډېره پوهېده، دومره چې اقرا لا زه نه پېژندلم ..

@Shuhab09

محمد او راحیل مې بېرته پر ځمکه کېښودل او غوښتل مې کوټې ته ننوځم چې ذوالفقار له خپلې کوټې راووت. زما په لیدو یې د خپلې کوټې خواته اشاره وکړه او ویې ویل: زما کوټې ته راشه، کار درسره لرم.

زړه مې غوښتل ورته ووایم: خیر دی، یو څو ساعت مې پرېږده چې ویده شم. بې‌حده زړه مې خوب غوښت، ټول وجود مې د ویده کېدلو لپاره چغې وهل، خو د ذوالفقار دروند نظر مجبور کړم چې د هغه د کوټې خواته روان شم.

لعنت دې پر تا وي جنرال! تا ته د لیدلو لپاره همدا د جمعې ورځ په لاس درغلې وه؟ بل کومه ورځ به راغلی وایې، نه دا چې دا جمعه پر ما حرام کړې...
همدا چې کوټې ته ننوتلم، ذوالفقار په تلوار زما خواته راغی.

— ښه، څه وشو؟
داسې حال کې چې سترګې مې د خوب له غمه پټې پټې کېدې، ومې ویل: همغه وشو چې فکر مو ورته کړی و.
ذوالفقار- یعنې څه؟
- یعنې دا چې هغه ومنله همکاري وکړي، خو شرط یې کېښود...

ناڅاپه چوپ شوم. که ذوالفقار ته ووایم چې عزیزي شرط کېښودلی چې زه د هغه سره کار وکړم، نو مشکوک کېدی او دا خبره یې نه منل، البته حق یې هم درلود دا خبره ډېره درنه وه، عزیزي یو مجرم دی، د مافیا غړی دی. د هغه شرط ولې باید زما کار کول د هغه سره وي؟

ذوالفقار په تروش تندي وویل:
— څه وشول؟ ولې چوپ شوې؟ شرط یې څه و؟

فکر کوم مصلحتي دروغ کوم ګناه نلري؟
- هغه... هغه شرط یې خپله ازادي وه. ویل یې تر څو مو چې له زندان څخه راخلاص کړی نه یم، همکاري نه کوم.

ذوالفقار په پوسخند وویل:
— دا شرط خو سل په سلو کې پکې راتلو تعجب نه لري. ښه، نور څه خبره وه؟
- نور ... نور دا چې زه شاید ستا سره کار ونشم کړی...

ذوالفقار په حیرانتیا وویل:
— څه؟ څه دې وویل؟ زما سره کار کول په دې خبرو څه اړه لري؟
- ذوالفقار، لېاده مه باسه. موږ کوم عادي حالت کې نه یو. اوس چې هغه همکاری کوي، نو مطلب دا دی چې زه باید تر ډېره بریده ستاسو څخه لرې اوسېږم. شاید امکان ولري یو څو وخته کور ته هم رانشم...

ذوالفقار په غوسه وویل:
— ته بد کوې! بیا یوازې لاړې د هغوی منځ ته غوړونه یې درډک کړل؟ څه یې درته ویلي چې غواړې کور او کار پرېږدې؟ هان؟

څو شیبې مې په ځیر د هغه غضبناک څېرې ته وکتل، بیا مې کرار وویل:
- زه څوک نه پرېږدم ذوالفقار. یوازی موقتي توګه لږ فاصله ستاسو څخه نیسم. البته خراب ځای ته نه ځم. عزیزی چې کله له زندان څخه آزاد شي، الفا د قهر او غضب اخري حد ته رسېږي. داسې وخت کې زما اوسېدل ستاسو سره هېڅ ښه نه دي. نو یو امن ځای ته ځم، هغه هم شرکت دی خو یو دولتي شرکت دی، په سلګونو کسان هلته دي، نو زما تګ راتګ هلته امن دی. تشویش مه کوه...

ذوالفقار- او کور ته نه راتک څنګه؟ مه وایه چې هماغه شرکت کې غواړې ویده شې؟
- راځم، کور ته راځم. خو امکان لري چې شاید یوه شپه ناوخته راشم یا یوه شپه رانشم. نو ما دا خبرې د همدا اوس څخه وکړل تر څو ته ټول شرایط وسنجوې او بیا هغه وخت جنګ ونه کړې.

ذوالفقار په ناراضه او عصبي توګه خپل ویښتانو کې لاس تېر کړ او د کوټې منځ کې په ګرځېدو شو.

ذوالفقار-  ته که زما شرکت کې کار وکړې یا بل شرکت کې څه فرق لري؟ دلته خو بیا هم زما فکر شته، ټول پېژنو هلته تګ خطرناک دی.
- ومې ویل هغه ځای کې امنیتي کسان ډېر دي، ذوالفقار... په قرآن که د ډېرو خبرو حوصله لرم. دا یو دولتي ماموریت دی. په داسې ماموریتونو کې هر څومره چې له کور او اصلي ژوند څخه لرې اوسېږو، هغومره زموږ ټولو په فایده کیده ..

یعنې عزیزی په نیم ساعت کې راضي شو تر څو همکاری وکړي، خو ذوالفقار ته دوه ساعتونه لګیا وم بیا هم راضي نه شو. اخر هم په غوسه له کوره ووت او لاړ.
د هغه د تلو وروسته زه هم خپلې کوټې ته لاړم. تازه مې کمپله راخیستې وه چې اقرا کوټې ته راننوتله، د هغې په لیدو په ګنګس انداز مې سروخوځاوه.

- کوم څه شوي؟
اقرا- نه، ه .. هغه تا ویل نن به مې د ادې کور ته وړې ..

د اقرا په دې خبره خپلې سترګې مې وتړلې، خدایه ... زما لویه خدایه ولې دا ټول مصیبتونه باید همدا یوه ورځ زما پر سر نازل شي؟

د اقرا معصومې څېرې ته مې وکتل. هغې د دومره وخت وروسته یو کوچنی غوښتنه زما څخه کړې وه، هغه هم ونه منم؟ ژوره ساه مې واخیسته او ومې ویل:
- اوس خو لا غرمه ده مازدیګر، ماښام خواته به دې یوسم بیا څو شپې هم هلته پاتې شه، دا څو وخته کېږي بیخي نه یې تللې ...

زما په دې خبره اقرا دومره خوشحاله شوه چې حد یې نه درلود. د هغې د خوشحالۍ په لیدو بې‌اختیاره مې مسکا پر شونډو راغله.

ما هغې ته ویلي وو سهار دې وړم او ماښام به بېرته راځو کور ته، خو اوس چې مې وویل څو شپې پاتې شه، داسې خوشحاله وه لکه ماشوم ته چې د هغه د خوښې ډالۍ ورکړې ..

له کوم وخت نه زه دومره ظالم شوی وم چې د هغې د احساساتو د کتلو له ځایه خپل حال راته مهم شوی و؟

- یو دوه ساعت وروسته پر ما غږ وکړه تر څو لاړ شو، سمه ده؟
اقرا په تلوار سر وخوځاوه:
— سمه ده.

د هغې د تلو وروسته کمپل مې پر سر راکش کړ او سترګې مې پټې کړې، خو په ذهن کې مې لا هم هماغه جمله ګرځېده: "ډېر ژر به سره ووینو"

***

د ماذدیګر لمونځ نږدې په قضا کېدو و چې اقرا له خوبه راویښ کړم. زړه مې نه غوښت پاڅېدل، خو بیا هم پورته شوم، اودس مې وکړ او په تلوار مې لمونځ ادا کړ. د لمونځ کولو وروسته د استاذ د کور پر خوا روان شوو. ذوالفقار ډېر وویل چې د هغه موټر دې ویسم، خو ما ونه منل او ټکسي مې ونیول. هغه خپل سهار وخت .. شرکت ته تللو نو فکر کوم چندان مناسب نه وه چې موټر یې ویسم ورڅخه

د څلویښت دقیقو وروسته د استاذ کور ته ورسیدم. د هغوی کور ته د ننوتلو مخکې خپل کور خواته مې وکتل، دروازه یې بنده وه. اقرا هم زما نظر ولید او کرار یې وویل: نور تر کوم وخت د ذوالفقار او خښې په کور کې پاتې کیږو؟ ولې خپل کور ته نه راځو؟

په کرار لهجه  داسې حال کې چې فکر مې د زر خبرو خواته تللې و د هغې ځواب مې ورکړ.
- راځو، د ذوالفقار سره خبرې وکړم، ان شاءالله همدې نږدی وخت کې خپل کور ته راځو.

خپل د کور د دروازې څخه مې نظر واخیست او د استاذ د کور دروازه مې وټکوله.
څو شیبې وروسته د اقرا د مور غږ د دروازې تر شا راغې "څوک یې؟"

اقرا زما څخه مخکې وویل:
– زه یم، مورې!

دا لفظ یې دومره په خوشحالۍ وویلو لکه د کلونو مسافر چې خپل کور ته راغلی وي. د اقرا مور، چې د هغې غږ یې واورید په منډه د دروازې خوا ته راغله. ما یې د پښو غږ اورېدې او دعا مې کوله چې اوس ونه غورځیږي، هسې نه د راتګ مخکې بیرته مخ پر شفخانه روان شو ..

څو شیبې وروسته دروازه خلاصه شوه،د اقرا مور بې له کوم سلام او کلام څخه اقرا کلک په غېږ کې ونیوله او ژړا یې پیل کړه،زه د دروازې څنګ ته داسې حال کې چې محمد مې په غیږ کې نیولې و ولاړ وم او دا احساساتي صحني ته مې کتل، د څو شیبو ژړا وروسته اقرا خپل د مور له غیږې جلا شول او تازه هغه وخت د اقرا د مور نظر پر ما ولګید، ما په کرار غږ سلام ورباندې واچو او سترې مشې مې وسره وکړل، هغې تازه زما غیږ کې محمد ته فکر شو نو لاس یې ونیو ما هم محمد ورکړ، دا ځل یې یو ساعت محمد په غېږ کې نیولې و او ژړل یې تر دې چې اقرا خپل کور ته ننوتل او زه یې هم دننه دعوت کړم، خو ما د ننوتلو مخکې مې د استاذ پوښتنه وکړه:

– استاذ چیرته دی؟

د اقرا مور داسي حال کې چې محمد یې کلک غیږ کې نیولې و وویل:
– مسجد کې دی.
- ښه، نو تاسو دننه لاړ شئ، زه هم مسجد ته ځم.

د اقرا مور په تلوار وویل:
– نه، راځه کور ته هغه به هم اوس راشي.

- نه، ځم د ماښام لمونځ به هم وکړم، بیا به یو ځای راشو.

هغې نور څه ونه ویل او کور ته ننوتل. د هغوی د تلو وروسته زه هم د مسجد پر خوا روان شوم. ما خپل څبلۍ ویستل چې خلک ډله،ډله د ماښام د لمونځ ادا کولو لپاره مسجد ته راننووتل زه څنګ ته ودریدم تر څو هغوی ننوځي، لومړۍ صف ښه و، خو ما اخر صف خوښېدی، نو ځکه د ټولو د ننوتلو وروسته اخری نفر زه وم چې مسجد ته ننوتلم او د جومات اخری کونج کې ودریدم.

همدا چې ودریدم قامت وتړل شو او لمونځ پیل شو، د لمونځ وروسته ځینې کسان کور ته روان شول، خو یوه ډله چې زیاتر یې سپینږیري وه ځانونه د محراب خواته کوم ځای کې چې استاذ ناست و نږدی کړل، ځکه استاذ عادت درلود چې د ماښام لمونځ وروسته د قرآن کریم تفسیر وکړي. زه هم هماغه ځای کې کښیناستم او غوږ شوم استاذ ته چې بسم الله کړل او ترجمه یې پیل کړه.

ما د استاذ سره څو کاله شاګردي کړې وه، خو داسې نه و چې زه طالب علم وم، ما زیاتر هغه ایتونه او دعاګاني د استاذ څخه زده کول کوم چې د پیریانو څخه د محافظت او د هغوی څخه په امن کې پاتی کېدلو لپاره وه، البته یو دور مې ورباندی د قرآن کریم ناظره هم زده کړې وه، خو ما مسلکې توګه هېڅکله د استاذ څخه درس نه و زده کړی زیاتر تګ،راتګ وخت کې هغه راته کیسي او ځینې د قران کریم سورتونه ترجمه کول خو اوس .. اوس چې استاذ د قران کریم تلاوت شروع کړی و نو زه پرته له دې چې د هغه ایت معنا واورم پوهېدم چې څه وایې؟ یعنې داسې مې د الفاظو معنا درک کوله لکه عربي چې زما خپله مورنۍ ژبه وي ..

هغه څه چې دا حیرانتیا دوه چنده کړل دا و چې زما سره لاس کې قرآن کریم نه و، خو کله چې استاذ د سورت تلاوت پیل کړو نو زه بغیر د چا د ویلو څخه پوه شوم چې استاذ د سورت البقره 187 آیت تلاوت او معنا کوي!

نه پوهېدم چې آخر څه روان دی، خپل لاس کې ګوتمۍ ته مې فکر شو،ځلا يې عجيب زياته شوې وه، بې‌اختياره مې د غمۍ خوا ورڅخه وګرځوله او د ورغوی خواته مې راواړول تر څو کوم څوک ورته پام ونکړي. تر اوسه مې باور نه و راغلی .. څنګه امکان لري زه د قرآن کريم دا آيت په فصيح عربي پوه شم، هغه هم داسې حال کې چې ما عمر کې عربي ژبه نه ده ويلې،پرته له قران کريم د څو سوروتو د معنا څخه. او زه څنګه قران کريم ټک په ټک آيتونه له حفظ په ياد راوړلې شم داسې حال کې چې ما په زور او زحمت يوازې پنځلس هغه هم کوچني سورتونه حفظ کړی وه؟

د استاذ په غږ مې فکر د هغه خواته شو:
— أُحِلَّ لَكُمْ لَيْلَةَ الصِّيَامِ الرَّفَثُ إِلَىٰ نِسَائِكُمْ... هُنَّ لِبَاسٌ لَكُمْ وَأَنْتُمْ لِبَاسٌ لَهُنَّ...

استاذ د آيت معنا کولو ته خوله جوړه کړه، خو ما چې آيت واورېد، پرته د استاذ د معنا کولو په ترجمه يې پوه شوم او د شرم څخه مې مخ سور شو.

استاذ د قرآن کريم پاڼه واړوله، بيا يې په درووند او ژور غږ وويل:
— په لومړيو کې چې کوم احکام د اسلام راتلل هغه ډېر سخت وه، لکه همدا آيت. البته دا ايت ناسخ دی منسوخ حکم د دې ايت داسې دې چې: که چا روژه ونيوله، نو د شپې څخه تر سهاره پورې نه خوړل، نه څښل، او نه له ښځو سره نزدېتوب کولای شول ...

استاذ لږ وقفه وکړل او بيا يې د آيت وضاحت لږ په عام لهجه وکړل.
— يعنې لومړۍ حکم چې د روژې نيولو نازل شو، هغه څه داسې و چې درسته ورځ خو ته روژه وی خو د شپې وروسته، يعنې د روژه مات وروسته که کوم څوک ويده شوی وايې نو پر هغه کس هر څه بند وه تر بل روژه مات، يعنې پيشلمې نه و هغه وخت کې ..کله چې دا حکم نازل شو نو ډېر واقعات پيښ شول يو په هغه کې دا و چې قيس بن صِرْمَةَ الأنصاري" رض" ټوله ورځ کار کړی و، خو کله چې د روژه مات وخت رانږدې شو نو د اذان مخکې د يوی شيبې لپاره هغه ويده شو، کله چې راويښ شو نو اجازه د کوم شئ د خوړلو يې نه درلود. ځکه ويده شوی و ...

نو دا صحابه په وړی نس دویم ورځ لپاره روژه ونیول او دویم ورځ بیا د روژه مات وخت کې همدا چل وربانده وشو، یعنې دا کار درې ورځې پر دغه صحابه تکرار شو، تر دی چې هغه د ډېر کمزورتیا او لوږی له لاسه بې هوښ شو، یو واقعه خو دا شوه، زر داسې نور واقعات هم پیښ شوی خو په ټوله کې جالب واقعه یې د حضرت عمر "رض" ده. څنګه چې خوب خوراک او څښاک حرام کاوه همغسې ښځې ته نږدی ورتګ هم حرام کاوه، واقعه په مختلفو روایتو کې راغلې ځینې وایې د روژه مات وروسته حضرت عمر "رض" ویده شوی و او کله چې راویښ شو نو بغیر له دی چې فکر وکړی د ویده کیدلو وروسته ښځې ته نږدی ورتلل حرام دی هغه خپل د ښځې سره کوروالې وکړ ...

ځینې راویتونو کې بیا داسې راځې چې حضرت عمر"رض" د تروایح لپاره تللې و مسجد ته کله چې تراویح څخه کور ته راغلو نو ښځه یې ویده وه، ده راویښه کړل اوکوروالې ورسره وکړ ..

استاذ کرار وخندل او ویې ویل:
– اوس فرق دا نه کوی چې حضرت عمر"رض" ویده شوی و او که د هغه ښځه. خبره دا ده چې دلته کوم حکم چې و هغه مات شو، د کوروالې وروسته حضرت عمر "رض" تازه دی خبری ته فکر شو چې دا ما څه وکړل؟

که څه هم له یو خوا په دی چې ناڅاپه په یوه ورځ کې په عربي ژبه روان پوهیدم حیرت مې کړی و، له بلخوا دا موضوع چې استاذ یې تفسیر کو بیحد د شرم او خجالت موضوع وه، خو د دی ټولو خبرو باوجود کله چې استاذ وویل: د کوروالې وروسته حضرت عمر "رض" تازه دي خبری ته فکر شو چې دا ما څه وکړل؟ خندا راغلل. البته یوازی ما نه بلکې ځینو نور کسانو هم وخندل چې استاذ هم پخندا وویل:

– خلاصه چې دا خبری د هغه زړه کې وېره واچول او هې عمر خو عمر وو .. زموږ جامعه کې د دی څخه ډېر غلط پیښی واقع کېږی خو د شرم،حیا،غیرت او زر نور

بیځایه خبرو په نوم خلک خپل موضوع ... یعنې یو اسلامي موضوع مولا ته نه وایې خو حضرت عمـــر "رض" هغه لاړ او مخامخ پیغمبر "ص" ته یې دا خبره وکړل.

خبره دا نه وه چې هغه شرم نه درلود نه ... د حضرت عمر"رض" شرم او غیرت به تاسو په دی ټول نړۍ کی مثال پیدا نکړی. خو هلته خبره د دین د احکامو وه او عمر ... عمر د حکم څخه انکار کوونکي نه و، پیغمبر "ص" ته یې وویل داسې غلطي راڅخه وشول څه وکړم؟ پیغمبر "ص" فکر کې لاړ چې د دی سزا او حکم به څه وی؟ لا مبارک خوله یې نه وه خلاصه کړی چې خدای حکم رانازل کړ.

خپل لومړۍ حکم یې واخیست او ویې ویل: د دې وروسته د شپې خوړل، څښل او له ښځو سره کوروالی تر فجر یعنې سهار آذان پورې حلال دی ... د دي مبارک آیت شان نزول اصل کس قیس بن صِرْمَة الأنصاري" رض" د هغه لپاره په واقعه دا ایت نازل شو. خو د حضرت عمر"رض" واقعه هم ډېره مشهوره ده او ډېر مفسرینو بیان کړی ...

نو دا آیت" أُحِلَّ لَكُمْ لَيْلَةَ الصِّيَامِ الرَّفَثُ إِلَىٰ نِسَائِكُمْ، هُنَّ لِبَاسٌ لَكُمْ وَأَنْتُمْ لِبَاسٌ لَهُنَّ" ناسخ ایت د هغه حکم شو، البته ما د ناسخ او منسوخ بیان د دی څخه مخکې هم کړی و ایا د چا یاد کیدی چې ناسخ او منسوخ څه معنا لری؟

استاذ چې دا خبره وکړل زما په ذهن کې اتومات توګه د ناسخ او منسوخ معناوی راغلې،خو لا مې خوله نه وه خلاصه کړې چې احساس مې وکړ ګوتمۍ مې په ګوته کې سره شول، په تلوار مې نظر د ګوتمۍ خواته کړ چې یو اشنان ډېر غږ زما له څنګ وویل:

– زما پیشو مولوی شوی پر جوماتونو ګرځي ...

دومره په تلوار مې سر پورته کړ چې مغزې مې رګ په رګ شو، خو پرته له دې چې خپل د مغزی درد ته کومه توجه وکړم، دوه سترګې مې د هغه خواته ونیولې. نه... دا ... دا امکان نه لري .. دومره دا صحنه نه منونکې وه چې بې‌اختیاره مې وویل:

— نه ... دا امکان نه لري...

زما په دې خبره د هغه سترګې له شیطنته وځلېدې او کرار یې وویل:
— اوه، فکر یې لا نشې کولای برهان! چې څه څه امکان لري دې نړۍ کې؟

غوښتل مې پاڅېږم، خو عزیزی خپل لاس زما پر اوږه کېښود او د ولاړېدو مخه یې راڅخه ونیوله.
عزیزی- کښېنه مسجد دی. وایي کله چې د قرآن تلاوت کېږي نو شاوخوا ملایکې راځي او غوږ نیسي ..

زما خواته یې نیم نظر راواچوه، چې د ډېرې وېرې له لاسه ګونګی شوی وم او بیا کرار یې وویل: فکر وکړه زه هم هماغه ملایکه یم چې حاضر شوم ... البته په دې توپیر چې زه د عذاب ملایکه یم نه د رحمت.

بیا په خپله خبره پخندا شو، خو زما په نظر دا خبره یې یو دم صحیح وه. عزیزی د عذاب فرښته وه چې ناڅاپه زما په سر را نازل شوې وي. باور مې نه راتلو چې څنګه دومره ژر ازاد شوی و؟ تور کالي یې اغوستي وو، ویښتان او ږېره یې د نن سهار په شان نامنظم نه وو. یعنې کله ازاد شوی و چې تللی او دومره پر ځان هم رسېدلی؟

عزیزی پرته له دې چې زما خواته وګوري، خپله تکیه یې د مسجد ستنې ته ورکړه او استاذ خواته په اشاره کولو یې په مضر خندا وویل: غوږ شه، مولا صیب څه وایي؟ عجب جالب بحث دی کنه؟

هغه بې‌غمه ناست و او د استاذ خبرو ته یې غوږ نیولی و، خو زه اصلاً پوه نه شوم چې استاذ څه وویل. یوازې د خلکو په پاڅېدو بې‌اختیاره زه هم له ځایه پاڅېدم.
یو، یو کس د استاذ سره خدای پاماني کوله، او ما هېڅ نه غوښتل چې استاذ دې ما د عزیزی سره ووینې. نو ځکه په تلوار له مسجد څخه ووتلم عزیزی هم کرار زما پسې راروان شو.

زما د بد قسمت څپلۍ مې نه ښکارېدې، ما د مسجد مخې ته ایښې وې، خو اوس نه وې. عزیزی د مسجد د دروازې څنګ ته زما په تماشه ودرېد.

عزیزی- نچ،نچ... لکه چې څپلۍ دې یو چا غلا کړې؟ څومره بد ... د خدای په کور کې هم غلا کوي نمک حرام خلک...

نه پوهېږم هغه پر دی خبری غوښتل ما په غوږ ووهې، یا یې هسې وویل، په هر حال کوم فرق یې نه درلود ما یوازې غوښتل ژر له دې ځایه لاړ شم او عزیزی هم ویسم، خو لعنت دې وي زما پر شانس، د استاذ غږ مې واورېد چې ماته یې راغږ کړل.

– طاها؟

د هغه په غږ زړه مې غوښتل کښینم او وژاړم په خپل دې منحوس بخت، کرار مې سر وګرځاوه او استاذ مې د مسجد مخې ته ولید. زما په لیدو په خوشحالۍ زما خواته راغی.

- سلام.

استاذ په خوشحالۍ زما د سلام ځواب راکړ او خپل لاس یې زما پر اوږه کېښود.
– علیک سلام، کله راغلې؟ یوازی راغلې یې که محمد دوي دې هم راوستي؟

په وېره مې د عزیزی خواته وکتل. هغه پرته له کوم ښور خوړلو خپل ځای کې ولاړ و او دوه سترګې یې زما او د استاذ خواته نیولې وې. په بند بند ژبه مې د استاذ ځواب ورکړ: هو... ه ..هغوی مې هم راوستي. ستاسو کور کې دي.

استاذ په هماغه خوشحالۍ او خندا، چې زما په لیدو یې په څېره کې راغلې وه، وویل: خدای مو هر کله راوله. راځه... راځه کور ته.

او زه یې له اوږې لږ کش کړم چې ما ژر وویل: هغه... زما څپلۍ نشته. تاسو لاړ شئ، زه خپل څپلۍ پیدا کړم، درځم.

استاذ تازه زما حالت ته پام شو.
– څپلۍ دې نشته؟ چېرته دې ایښې وې؟

استاذ خبرې کولې، خو زما دوه سترګې پر عزیزی وې چې کرار یې د دیوال څخه تکیه واخیسته او زموږ خواته راروان شو. د هغه په لیدو بې‌اختیاره مې استاذ له اوږې ونیو. هغه په حیرت راوکتل.

– څه شوي طاها؟ خیرت دی؟

داسې حال کې چې لا هم نظر مې پر عزیزی و، ومې ویل:
- هو ... خیرو خیرت دی. ک... کوم څه نه دي شوي. تاسو لاړ شئ، زه خپل څپلۍ پیدا کوم لړ هم دوکان کې کار لرم... هه... هغه محمد ژړل چې ورته پاپړ واخلم. تاسو لاړ شئ، زما کار خلاص شو درځم.

استاذ غوښتل بیا ټینګار وکړي، خو ما اجازه ورنه کړه او تقریباً د کور خواته مې ټېله کړ. خو هغه لکه چې د عزیزی شتون ته متوجه شوی و، ځکه په مشکوک ډول یې زما او د هغه خواته کتل.

هره شیبه په تمه وم چې عزیزی زما څنګ ته ودرېږي او استاذ پوه شي چې دی زما پسې راغلی، خو عزیزی پرته له دې چې ما ته کومه توجه وکړي، استاذ ته یې کرار سلام واچاوه او روان شو،د هغه په تلو هم حیران شوم او هم مې هوسا ساه واخیسته. استاذ هم لکه چې د عزیزی په تلو زړه بې‌غمه شوی و، چې په مسکا یې وویل: فکر نه کوم کوم څپلۍ چې له دې ځایه ورک شي بیا پیدا شي. وګوره، هره جوړه چې اضافه وه هغه پر پښو کړه. دا هم د مسجد راتلو ګټه ده.

هغه دا خبره په طنزي توګه وکړه، خو زما حال دومره خراب و چې خندا خو لرې، یو وچ مسکا مې هم پر شونډو رانغله. استاذ هم زما د حال په لیدو ګمان وکړ چې شاید زه تر اوسه ورڅخه خفه یم، نو ځکه ځان یې راټول کړ او کرار یې وویل:

– کور کې درته په تمه يم.

په تلوار مې سر وخوځاوه چې استاذ روان شو. تر هغه وخته ولاړ وم تر څو استاذ کور ته ننوت. همدا چې هغه کور ته ننوت، د عزيزی غږ مې خپل څنګ ته واورېد. دومره وېرار شوم چې بې‌اختياره څو ګام مخکې وپرېدم. عزيزی په ريشخند زما وېريدلو ته وکتل او يو جوړه نوي بوټان يې زما خواته راواچول.

عزيزی- واخله، دا پر پښو کړه.

نوي بوټانو ته مې وکتل، د هغه خپل نه وو. نه پوهېدم دومره ژر يې دا بوټان له کومه پيدا کړي وو؟ خو د هغه ډارونکې فضا د کمولو لپاره مې په بند، بند لهجه وويل: م... مننه.

عزيزی يواځې سر وخوځاوه،ښکته شوم تر څو بوټان پر پښو کړم، چې ويې ويل: دا مولا...

د هغه په دی خبره په وېره مې سر پورته کړ، زما وېرېدلې نظر چې يې وليد، نو په پوسخند يې وويل: مه وېرېږه، زه موليان نه وژنم. څه دې کېږي؟ پلار دې و؟

مخکې له دې چې زه کوم ځواب ورکړم، هغه وخندل او ويې ويل: شانس ته ګوره، خلک يو پلار لا نه لري، خو ته يو وخت کې دوه ژوندي پلرونه لرې ...

د هغه دا خبره دومره راباندې بده ولګېده چې غوښتل مې خوله خلاصه کړم او ورته ووايم: خپل به د دوه پلرونو څخه يې، پدرلعنت. خو لا خبره مې نه وه کړې چې يوځل بيا ګوتمۍ مې په ګوته کې ګرمه شوه او د هغه سره سم د باد او برق په شان يوه خاطره مې د سترګو مخې ته تېره شوه.

عزيزی پر وينو لړلې ډبرې ته تکيه ورکړې وه او الفا ورته په خندا ويل:
"دا ستا همغه حرمو*ي برادرخوانده نه دی کوم چې په يتيم خانه کې يوځای ورسره

غټ شوی وي؟"

ښايي دا صحنه يوازې يوه شيبه زما له سترګو له وړاندې تېره شي وه، خو دومره ګټه يې وکړه چې خوله مې وترم او عزيزي ته څه ونه وايم. هغه پلار نه درلود، او هغه ورځ الفا په همدې خبرې تحقير کړی و، نو دا به بيعقلي وی چې زه هم ورته توهين ورته وکړم، د شموئيل خبره مې ذهن ته راغله چې ويل يې: د عزيزي اعتماد تر لاسه کړه، هغه دې ژغورلی شي. عزيزي زما د ژغورلو يوازينۍ لار وه، نو عقل حکم کاوه چې د جنګ او جګړې پر ځای هغه له ځان سره په صلح او دوستۍ کې وساتم.

په همدې فکر سر مې بېرته ښکته کړ چې عزيزي وويل:
— و دې نه ويل دا مولا دې پلار و؟

نيم نظر مې د سترګو له کونجه ورواچاوه. يعنې عزيزي چې د جنرال د پلان په اړه دومره دقيق خبر و، حتا پوهېده چې دوسيه کوم قاضي ته ځي؟ او هغه څوک دی او څه کاره دی، نو ايا امکان لری زما په اړه معلومات ونه لري؟ ډاډمن وم چې هغه زما په اړه له ما څخه ډېر معلومات درلودل. دا د هغه له بېځايه پوښتنو ښکاره کېده. هغه يوازې غوښتل په دې پوښتنو ما وډاروي.

- نه، پلار مې نه دی.
پاڅېدم او د هغه سترګو ته په کتلو مې وويل: خسر مې دی...

عزيزي په نمايشي ډول خپلې وريځې د حيرانتيا له مخې پورته کړې.
— خسر؟ تا خو ويل واده دې نه دی کړی او مجرد يې؟

سر مې ښکته واچاوه. دلته نو ژبه نه چلېده. هغه ته ما دروغ ويلي وو.
عزيزي- او دا محمد ... دا څوک دی؟ ورور د دی؟

کرار مې وويل: نه، زوی مې دی.

څو شیبې هېڅ غږ رانغی. کله چې مې سر پورته کړ، نو عزیزی په حیران نظر راکتل.
زما نظر یې چې ولید، نو په خندا یې وویل: ته خو ډېر پټ مضر وختلې برهان...
واده دې کړی... زوی لرې... څو کلن دی؟

زما سره کرښه زما کورنۍ وه. زه د هغوی لپاره دې حالت ته رسېدلی وم، او د هغوی لپاره حاضر وم د عزیزی په شان له یو لېوني سره همکاري وکړم، تر څو د الفا له شر څخه هغوی خوندي وساتم. زه د هغوی لپاره مرګ ته هم چمتو وم.د عزیزی خبرو زما د مسئولیت هغه رګ، کوم چې ما د خپلې کورنۍ په وړاندې درلود، وتخنوی. هغه حق نه درلود چې په دې موضوع کې زما کورنۍ راکش کړي. که داسې یې وکړل، نو زه حاضر وم چې د الفا تر څنګ عزیزی هم د دښمن په لېست کې شامل کړم.

عزیزی- هومم؟ و دې نه ویل څو کلن دی؟ همدا یو زوی لرې؟

یو،دوه ګامه د هغه خواته ورنږدې شوم او مخامخ ورته ودرېدم. هغه په قد کې له ما څو سانتي جګ و، نو سر مې پورته ونیو تر څو خبره مې پرې اغېز وکړي، زما دې ناڅاپه نږدې کېدو ته هغه په حیرانۍ یوه وریځه پورته واچول، چې ما په کلکه لهجه وویل: ستا ستونزه زما سره ده عزیزی .. ما ستا جاسوسي کړې وه، ما ته زندان ته اچولې وی او ستا طلا هم زما سره ده. نو خبره دې زما سره کوه، حق نه لرې زما کورنۍ خپل دې مردار لوبي ته راکش کړې، کنه هغه وخت به ما داسې خاموش ونه ګورې.

زما په خبرو د عزیزی شونډه لږ پورته شوه او نیمه موسکا یې وکړه. بیا یې سر تر پښو ما ته یو نظر واچاوه او په هماغه خندا یې وویل:
— دومره غټ ګواښ؟ مه کوه اوس به مې زړه له وېرې ودربږي...

زړه مې غوښتل یو بوکس یې پر دې خوله ووهم، تر څو نور داسې پر ما ونه خاندی او ریشخند و نه وهي، خو افسوس چې دا کار مې نشو کولای. عزیزی یو، دوه ګامه

شاته شو او دا ځل يې په داسې لهجه، چې هېڅ ريشخند او پوسخند پکې نه و، وويل:

– که ګواښونه دې خلاص شوي وي، نو مخکې شه ډېر کار لرو.
د هغه په دی خبره په حیرت مې وویل: څه؟ چیرته؟ ی... یعنې څه کار لرو؟

عزیزی خپل تللي دوه ګامه شاته بېرته رامخکې شو او یو ځل بیا هغه اعصاب خرابوونکې مسکا يې پر شونډو راغله او ویې ویل:
– دومره ژر دې له یاده ووتل؟ زموږ حساب کتاب خو لا پاتې دی.

د عزیزی په دې خبره د یوې شېبې لپاره مې ساه سینه کې بنده شوه.
نه... دا ممکن نه ده... د عزیزی دا خبره څومره هغه مسج ته ورته وه کوم چې د پاسپورټ ریاست مخکې ماته شوی و! یعنې امکان لري هغه تعقیب کوونکی کس د الفا نه... بلکې د عزیزی نفر وي؟ د دې فکر په کولو لا بدن مې له وېرې ولړزېد...

عزیزی- څنګه؟ زړه دې نه غواړي راشې؟

وېره هغه هم د عزیزی مخې ته، هېڅ جایز نه وه. بالخصوص اوس چې ګمان مې کاوه شاید د دې ګواښونو او جنجالونو یو اړخ په عزیزی پورې تړاو ولري.

- ه ...هغه سبا به درشم. نن .. نن نشم کولای.

عزیزی په شیطنت وویل: ولې نشې کولای؟( بیا لکه چې تازه په یو خبره پوه شوی وی سر يې وخوځاوه او ویې ویل: اهان .. لکه چې د خسر له کوره دې زړه نه بېلېږي؟ هان؟

تندی مې تروش کړ.
- د ډېر وخت وروسته راغلی یم، نشم کولای بېخبره لاړ شم.
عزیزی- اوممم... که څه هم زموږ حساب کتاب ډېر درووند دی برهان! خو څکه چې زه

ډېر رحم‌دل انسان یم، نو ستا به لږ مراعات وکړم.
مخ یې وګرځاوه خو د تلو څخه مخکې یې وویل:
– لس دقیقې وخت لرې. غوارې خپل زوی ته پاپړ واخله، یا هم له خپل ښځې سره خدای پاماني وکړه. هر کار چې کوې، خو لس دقیقې وروسته غوارم په موټر کې اوسیږی ..

د دې خبرې له کولو سره سم روان شو. غوښتل مې ورپسې غږ کړم چې موټر چیرته دی؟ چې ناڅاپه د کوڅې په سر کې مې د عزیزی په اشنا تور موټر نظر ولګېد. هماغه د څو میاشتو مخکې موټر یې و.

عزیزی کرار، کرار د موټر خواته روان شو، خو موټر ته د پورته کېدو مخکې زما خواته مخ راوګرځاوه، او خپل د لاس بند یې وواهه .. زه یې په اشارې پوه شوم هغه ویل: لس دقیقې دې شروع شوې...

حیران شاوخوا مې وکتل، څه وکړم؟څو شېبې مې سترګې وتړلې او کله چې مې خلاصې کړې، موضوع واضح وه.

په چټکو ګامونو د دوکانونو خواته لاړم. عزیزی مې لیدلی شو د موټر ښیښه یې ښکته کړې وه او سګریټ یې راخیستې و، د سګریټ روښانه کولو حال کې یې په پوسخند زما خواته سترګې نیولې وې.موټر له دوکان سره ډېر فاصله نه درلود.
دوکاندار چې زه ولیدم نو له خپل څوکۍ راپاڅېد، ما په تلوار ورته وویل:

- یو، دوه دانې پاپړ او کاکو غوارم.

دوکاندار د سر په خوځولو روان شو ترڅو زما غوښتلي شیان راوړي، ما هم هماغه حال کې د سترګو له کونج د عزیزی خواته وکتل چې اوس بېغمه لګیا و خپل سګریټ یې دود کوه.

د حساب کتاب څخه يې مطلب څه دی؟
يعنې غواړې ما مړ کړې؟
نه، که اراده يې د مرګ وای، دومره زحمت د راتلو او خبرو کولو يې نه ایست.

د دوکاندار په غږ مې د هغه خواته وکتل. شيان مې له لاسه واخيستل او پيسې مې ورکړې، بيا په هماغه تيز قدمونو د استاذ د کور خواته روان شوم.د دروازې تر خلاصولو او کور ته تر ننوتلو پورې د عزيزی دروند نظر مې پر ځان محسوسولی شو.

کور ته چې ننوتلم نو اقرا مې په حويلي کې وليده، چې محمد يې په غيږ کې نيولی و او هغه ژړل.

- څه شوي؟

زما په غږ هغه په تلوار زما خواته راغله.
اقرا- ښه شو چې راغلې، زوی دې زه ليونۍ کړم.
محمد زما په ليدو غوښتل ژړا د سر ونيسي،خو همدا چې زما په لاس کې يې پاپړ شيان وليدل، نو خلاصه خوله يې د ژړا له ځايه په خندا بدله شوه.

د هغه ژړا دومره ژر په خندا بدله شوه چې ما بې اختياره وخندل،شيان مې د هغه لاس ته ورکړل او اقرا ته چې هغې هم د محمد په دې ناڅاپي حالت بدلولو خندل، وويل: زه بايد يو ځای لاړ شم، لږ کار لرم.
زما په دی خبره اقرا په تلوار زما خواته راوکتل.
— چيرته ځې؟ څه کار لرې؟
- کوم خاص کار نه دی، د ډېر وخت وروسته يو ملګری مې وليد، د هغه سره ځم.

اقرا په ناراضه لهجه وويل:
— خو... بابا تاته په تمه دی.

د کور خواته مې وکتل.
-زما لخوا ورڅخه بخښنه وغواړه، خو مجبور یم لاړ شم،هغه هم کوڅه کې راته ولاړ دی.

اقرا- که نور نه وی یو څو دقیقې خو راشه، ستړی مشی خو وکړه.
- مسجد کې مې ولید، ستړی مشی مې هم ورسره وکړل.
اقرا- بیرته راځې؟

داسې حال کې چې یو نظر مې پر اقرا او بل د کور پر دروازه و، او حساب مې کاوه چې څو دقیقې پاتې دي، ومې ویل: نه پوهېږم شاید راشم، شاید هم نه. بیا خبر درکوم ښه نو لاړم، پر ځان پام کوه.

اقرا غوښتل کوم بل څه هم ووايي، خو ما اجازه ورنه کړه او په تلوار له کوره ووتلم.
د عزیزی موټر تر اوسه د کوڅې په سر کې ولاړ و، او له دې واټن څخه یوازې د هغه لاس، چې سګرېټ یې نیولی و او د موټر له ښیښې راویستې معلومیدی.

هر ګام چې د هغه خواته نږدې ورتلم، هغومره منفي فکرونه او خبرې مې ذهن کې راګرځېدل. نه پوهېدم د عزیزی سره تګ صحیح کار دی او که نه ..
خو بله چاره مې هم نه درلوده.دا هغه لار وه چې ما خپله ټاکلې وه.
د موټر څنګ ته چې ورسیدم، عزیزی په دروند غږ بغیر له دی چې زما څخه نظر واخلې موټروان ته چې ماته یې څېره سم نه ښکارېده، غږ کړل.

— اشرف.
اشرف- امر کوئ، مشره.
عزیزی- د هغه وخت څخه چې درته ویلي مې وو قید یې کړه، څومره وخت پاتې؟
اشرف- د ټاکلي وخت څخه مو درې دقیقې لا تېرې دي مشره.
عزیزی سر د پوهېدو په انداز وخوځاوه، لږ شیبه چوپ پاتې شو، بیا یې کرار وویل:
— اوممم... درې دقیقې.

بغیر له دې چې څه ووایم، ورته کتل مې،نه پوهېدم اوس څه وکړم؟ بخښنه وغواړم؟ که چوپ پاتې شم؟د عزیزی مخ ته مې وکتل، خو د هغه له سترګو هېڅ نه ښکارېدل، یوازی په جدی او حساب اخیستونکې نظر یې راکتل، لکه چې باید بخښنه وغواړم؟ خوله مې جوړه کړه تر څو ووایم وبخښه، خو د څه ویلو مخکې عزیزی د موټر خواته اشاره وکړه.

عزیزی- راپورته شه.

یوه شیبه مې ځنډ وکړ، خو د هغه له کتلو پوه شوم چې هغه د انتظار سړی نه دی. نو ژر مې ځان راټول کړ، د موټر د بلې دروازې خواته لاړم او پورته شوم، زړه مې یو سلو اتیا کې درزیدی، د سترګو له کونج مې خپل ګوتمی ته وکتل تر اوسه یې شنه ځلا کول خو یو څه پیکه او کمرنګ، خو همغه هم زما زړه لږ ډاډه کړ چې خطر کې نه یم. موټر لا نه و روان شوی چې عزیزی راغږ کړل.

– برهان ...

په وېره مې مخ وروااړوه. عزیزی څو شېبې په ځېر راوکتل، بیا یې خپل لاس کې لیټر ته اشاره وکړه، د هغه په لاس کې لیټر او بیا د هغه سګرټ ته مې وکتل، لکه چې بیا خپل هغه پخواني شریفي وظیفي ته راستون شوی وم؟ پرته له څه ویلو مې لیټر له لاسه واخیست او سګرټ مې ورته روښانه کړ.

عزیزی د سګریټ څخه یو غټ کش واخیست او څو شیبې یې لوګي په سینه کې وساته.که ووایم د سګرټ هوس مې وکړ نو دروغ به نه وي. عزیزی په دومره خوند سګرټ واهه چې زما زړه هم غوښتل د دومره وخت وروسته، که نور نه وي، لږ تر لږه یو دانه سګریټ خو ووهم.

خو خپل د دې وسوسي مقابله مې وکړل او نظر مې ورڅخه واخیست، یو همدا پاتې چې ذوالفقار یا بابا خبر شي زه سګریټ وهم، په قران توبه،توبه مې نکړی،زموږ په

کورنۍ کې سګریټ وهل جرم څه بلکې کفر و. سګرټي انسان ته به یې د معتاد په سترګه کتل او بد به یې ورځخه راتلل.

خپل لاس کې لیټر ته مې وکتل عجیب لیټر و، تک تور پوښ یې درلود او پر بدنه باندې د یو کبرا مار انځور شوی و چې خپل ځان یې د لیټر پر شاوخوا راپیچلې او خوله یې خلاصه کړې وه، دوه لبه دار ژبه یې د چیچلو په انداز راویستې وه او جالب دا وه چې ژبه یې د لیټر د روښانه کېدلو ځای کی وه، کله به چې لیټر روښانه شو نو داسې معلومیدل لکه د همدې مار له خولې څخه چې اور بادېږي ..

دا لیټر دا اول ورځ څخه چې ما د عزیزی سره کار کول پیل کړ وو،نه پوهیدم خو تل یې خوښیدل په همدې لیټر خپل هغه عجیب غریب سګریټ پر ما روښانه کړی، لا مې سترګي په لیټر وه چې د عزیزی لاس مې ومخ ته ونیول شو، پرته له څه ویلو مې لیټر کرار د هغه لاس ته ورکړ، هغه یوازې چینجې درلود چې پر ما خپل سګریټ روښانه کړی، هغه څو میاشتي چې ورسره وم د ده لپاره مې خاص یو لیټر اخیستې و او جیب کې مې ساته تر څو د هغه سګریټ وربانده روښانه کړم، اوس هم لکه چې باید بیا یو لیټر واخلم؟

عزیزی هېڅ نه خوښیده خپل لیټر دی چا ته ورکړی دا لیټر وربانده ګران و د هغه توفنچي پشان، خلاصه عزیزی داسی عجیب غریب شیان ډېر درلودل کوم چې چا ته یې نه ورکول او تل یې د ځان سره ساتل. البته شاید دا یوازې د عزیزی خاصیت نه و؟ د بابا تسبیح مې یاد ته راغلل هغه هم خپل د تسبیح سره عجیب مینه درلودل او خوښیدل یې تر دی حد چې حاضر نه و هغه هیچا ته ورکړی، شاید دا شیان هغوی ته یو ډول معنوی ارزښت درلود؟

د ځان سره مې فکر وکړ چې زما سره ایا داسې کوم خاص شې شته چې تل ما د ځان سره ساتلي وی او بیحد راته ارزښت ولری او رابانده ګران وی؟ ډېر ژر مې خپل ځواب تر لاسه کړ نــه، ما داسې شئ نه درلود. ګوته کې د ګوتمۍ په ګرمیدو مې د هغه خواته فکر شو، لکه چې د دې وروسته یې لرم! هغه هم یو خاص ګوتمۍ چې نه

یوازې د یو خاص ملګرې د لاس نښه ده بلکې، احساس مې کاوه چې زما احساس او خبرې لا درک کولای شي، په دې فکر چې زه هم د دې وروسته داسې یو شئ لرم چې معنوي ارزښت راته لري بې اختیاره مې مسکا پر شونډو راغله.

موټر په کرار روان و د موټر دننه فضا دومره ارامه وه چې د انجن غږ هم اورېدل کېده. عزیزی په کراره خپل سګرټ واهه او په فکر کې ښکاریدی، خدای خبر زما لپاره به خپل په ذهن کې څه پلانونه جوړوي؟ په احتیاط مې نظر د هغه څخه واخیست چې د موټر په هینداره کې په موټروان مې نظر ولګید، ناڅاپه مې ساه بنده شوه.

د موټروان څېره راته بیحد اشنا ښکاریده، سترګې مې لږ تنګې کړې، تر څو په حافظه مې فشار راوړم او ځان ته ووایم چې دا څوک دی؟ ښه مې چې ورته وکتل ناڅاپه د زړه درزا مې لا تېزه شوه.

دا ... دا څنګه امکان لري؟ دا ... دا خو ارسلان دی!

د خولې لاړې مې په وېره تېرې کړې. دا څنګه امکان لري؟ ما خو په خپلو سترګو ولید چې عزیزی هغه وواژه، په مرمۍ یې په سر وویشت. د ډېرې وېرې له امله مې یخ خوله د ملا په تېر راغله. سترګې مې لا هم د هغه پر څېره خښې وې، خو هغه هېڅ غبرګون ونه ښود.حتی د پخوا په شان، چې زما په لیدو به یې حتماً تندی تریو کاوه، نن یې هېڅ ونه کړل. یوازې یې د سرک خواته کتل او موټر یې چلاوه.

د هغه په لیدو دومره ډارېدلی وم چې د عزیزی پر غږ مې اوږې له وېرې وپریدې. زما په داسې وېرېدلو عزیزی خپل یوه وریځه په تعجب پورته کړه او په کراره یې وویل: څه خبره ده؟

په وارخطایي مې یو ځل د عزیزی حیران نظر ته او بیا د ارسلان خواته چې بیغم یې موټر چلاوه وکتل، عزیزی زما ګنګس او وېرېدلی نظر تعقیب کړ او لکه چې پوه شو زه ولې داسې وډار شوم؟ ځکه کرار یې وخندل او ویې ویل: مه وېرېږه ...

خپل د سګریټ څخه یې یو کش واخیست او د هغه لوګي داسې حال کې چې زما پر مخ خوشی کاوه وویل: دا اشرف دی .. د ارسلان ورور ..

په حیرت مې وروکتل، خو عزیزی په بې‌غمه یو بل کش هم خپل د سګریټ څخه واخیست او ویې ویل: د ورونو څېرې کله ناکله یو شان وي.
لږ چوپ شو بیا ما ته په کتو یې کرار وویل: ته ورور لرې؟ ایا د هغه څهره هم ستا پشان ده؟
زما د کوم څه ویلو مخکې وخندل او ویې ویل: اووو لیاده مې وتلې وه، تا ویل ستا د کورنۍ په اړه دی نور خبری ونکړم،کنه بیا ته نوکاري لګوي او ګواښونه کوی ...

د عزیزی خبری زما لومړني ویره او وحشت لږ کم کړ، خو لا هم زړه مې نامنظم درزېده. سترګې مې بیا د موټروان خواته ولاړ، بې‌حده د ارسلان په شان و،قواره یې، بدنه یې، اوس چې ښه فکر کوم حتی غږ یې هم کله چې عزیزی ته یې ځواب ورکړ د ارسلان په شان و، خو د عمر له مخې لږ کم ښکارېده.

کله چې لږ بادېمن شوم چې دا اشرف دی د ارسلان ورور .. نه پخپل ارسلان، نو دی خبري ته مې حیرت راغلو چې عزیزی دا ولې راوستي؟ عزیزی د ارسلان قاتل و او اشرف د هغه ورور! نو عزیزی لیوني شوی چې داسي ډک ټوپک یې خپل څنګ ته ساتلي، نه وېرېږی چې هغه ناڅاپه ورباندی برید وکړی او خپل د ورور په خون خواهې کې دي ووژني؟

د عزیزی غږ مې چې خپل د غوږ څنګ ته واورید د بدن ویښتیان مې زیغ ودریدل، باید اقرار وکړم زه د عزیزی څخه د الفا په اندازه وېرېږم. دوي دواړه دوست او دښمن نه پیژني هر وخت چې عصاب یې خراب شې یوازی ماشه کش کوی، لکه څنګه چې ارسلان یې وواژه ..

عزیزی- دومره مه وېرېږه، مړې په دې نړۍ کې دویم ژوند نه کوي برهان! مګر دا چې د هندوانو رقم دا فکر او عقیده ولري چې هغوی اوه جنمه لری؟!

د سترګو له کونج د هغه شيطان څهرې ته چې پر ما يې خندل و کتل او کرار مې وويل: دا د ارسلان ورور دی؟

هغه سر د "هو" په بنه وخوځاوه، نه پوهېدم څنګه ورته ووايم يعنې خپل په دې خبرې نه پوهېدی؟ ناڅاپه مې دا خبره ذهن ته راغلل چې امکان لري اشرف له دې خبرې نه وي خبر چې ارسلان اصل کې پخپله عزيزی وژلي؟ امکان لری عزيزی ورته د دروغو ويلې وی چې ارسلان الفا وژلي؟ په دې فکر مې ځانته آفرين وويل، ضرور همدا خبره ده عزيزی به د ارسلان مرګ په الفا اچولی وی او د انتقام اخيستلو په نوم به يې اشرف لڅان سره نيولې وی؟

نيم نظر مې د اشرف خواته واچو او دا ځل مې زړه ورباندی وسوځيد، فکر مې کاوه څنګه چې جنرال ماته چل راکړ همغسې عزيزی هغه ته چل ورکوی، خو د عزيزی په خبره خوله مې له حيرت خلاصه پاتي شوی ...

عزيزی- دومره خپل د چرګ په شان مغزو باندی فشار مه راوړه، هغه خبر دی چې ما يې ورور وژلي ...

په تلوار مې مخ د هغه خواته واړوه.
- څ ... څه دی وويل؟

عزيزی داسې زما خواته راکتل ته وا کوم جالب سرګرمي او تفريح يې چې پيدا کړې وی.

عزيزی- دا کوم لوبه نه ده برهان! زموږ نړۍ ستا د نړۍ سره څمکه تر آسمان توپير لری، دومره به تاسو د قانون او قوانينو تابعداره نه ياست څومره چې موږ يو، او زموږ قانون کې لومړۍ خبره(په درنه لهجه داسې چې زما ساه يې سينه کې بنده کړل ويې ويل: وفـــاداری ... نفر بايد خپل مشر ته وفاداره وی په هـــر وخت او په هر حال کې. د هغه وروسته نه بايد خپل بادار او مشر خطر کې واچوی، که داسې وکړی لکه څنګه چې ارسلان وکړل نو د هغه سزا ...

لږ چوپ شو خو ناڅاپه يې خپل غږ پورته کړ داسې چې د وېرې څخه زما اوږی وپرېدل.

عزيزی- نو د هغه سزا څه ده اشرف؟
اشرف بغير له دې چې حتا نيم نظر زموږ خواته راواچوی په کلکه لهجه وويل: مرګ ده مشره ... سزا يې مرګ ده.

کوښښ مې وکړ لږ ورڅخه لرې شم، عزيزی زما نامحسوس شا تګ ته پام شو، خو څه يې ونه ويل، د هغه دا دوه قوانين دواړه ما مات کړې وه، نو مطلب بايد خپل اخری وصيت نامه وليکم؟

د دې خبرو او بحث وروسته نور نه ما کوم څه ووېل او نه هم عزيزی، اشرف هم ته وا روباټ دی يوازی مخکې کتل او موټر يې چلاوه، د څراغونو رڼا د ښيښو له لارې کله زما پر مخ لګېده او کله ورک کېده. د موټر د درنې فضا څخه د خلاصون لپاره مې د ښيښې څخه بهر وکتل، سړکونه راته لږ نااشنا ښکاره کېدل. يو وخت مې احساس وکړ چې د ښار له شور او ماشور څخه کرار، کرار لېرې کېږو.

په احتياط مې د عزيزی خواته وکتل، هغه په ارامه ناست و. داسې ښکارېده لکه هر څه چې د هغه په کنټرول کې وي،خو زما زړه نږدې و د ډېر وېرې څخه خولې ته مې راشې، يوازيني شئ چې دې موټر کې ټينک کړی وم، تر څو ځان د موټر لاندی وانچوم او ونه تښتم ګوتمۍ وه، هغه تر اوسه شنه ځلا کول مطلب لا په امن کی وم؟! خو دا د دی سبب نه کيد چې خپل منفي فکرونه کنټرول کړم، هر څومره چې موټر مخکې تللو، هغومره زما بې‌قراري زياتېده.

ذهن کې دا فکر تاوېده: "چې آخر چېرته روان يو؟ ولې دومره د ښار څخه لېرې شو؟" د عزيزی د کور لاره دا نه وه، حتا هغه کنډواله کوم چې عزيزی خپل د شکنجې مرکز ورڅخه جوړ کړی و، هغه هم دلته نه و. اوس چې کوم خوا موټر روان و، دا د ښار بل سر و.

ډېر مې زړه غوښتل د عزيزی څخه وپوښتم چې چيرته روان يو؟ خو ځان کې مې دومره جرئت نه ليد چې دا پوښتنه وکړم. له بلې خوا پوهېدم که پوښتنه هم وکړم، خدای خبر چې عزيزی کوم ځواب راکړي، نو غوره مې وګڼله چې چوپ اوسم،د څو دقيقو وروسته، بلاخره موټر ورو شو. په تلوار مې سر پورته کړ، د يو غټ، لوکس کور مخې ته ولاړ و.

کور د يوې کوچنی ماڼۍ په شان ښکاره کېده،جګ سپين دېوالونه، غټه دروازه، او دننه د باغ شنې ونې چې د بندې دروازی تر شا لا ښکارېدې. د دروازې دواړو خواو ته دوه وسله وال ساتونکي ولاړ وو، دواړو تورې جامې اغوستې وې او حالت يې داسې و لکه هره شيبه چې جنګ ته تيار وي.

د موټر په ليدو، يو ساتونکي په تلوار د دروازی خواته منډه کړل او ژر يې دروازه خلاصه کړه. اشرف هم موټر هغه لوکس ماڼۍ ته دننه کړ. کله چې موټر د حويلۍ منځ ته ورسېد، ما په حيرت شاوخوا وکتل. حويلۍ بې‌حده پراخه وه، دواړو خواو ته منظم باغ جوړ شوی و، شنې ونې او ښکلي ځراغونه يې فضا نوره هم ارامه کړې وه.

د حويلۍ په منځ کې يو کوچنی حوض و چې د شنو پاکو اوبو څخه ډک و. د کور مخ ته غټې زينې پورته تللې وې. د زينو دواړو خواو ته غټ، غټ ستنې ولاړې وې چې ماحول يې سم د پخوا وخت د پادشاهانو د ماڼۍ ګانو په شان ښکاره کاوه. اشرف موټر کرار د زينو مخې ته ودراوه، د موټر د دروازی د خلاصيدو غږ مې واورېد، خو دومره د ناديده کسانو پشان د شاوخوا ماحول په کتو کې ورک وم چې خپل موقعيت مې هير کړی و. د عزيزی پر غږ تازه پر خود راغلم.

عزيزی- راښکته شه ...

د عزیزی خواته مې وکتل، هغه د موټر څخه ښکته شوی و او زما لپاره ولاړ و. د هغه په لیدو بې له ځنډه مې د موټر دروازه خلاصه کړه او ښکته شوم.

یو ځل بیا مې د کور شاوخوا وکتل. یعنې هر څومره چې مې کوښښ کاوه ځان نادیده ونه ښایم، خو نه کېدل دا کور بېحده ښکلی و. ما په ژوند کې لومړی ځل داسې یو ځای لیدې، عزیزی بې له دې چې زما خواته وګوري د زینو پر خوا روان شو.

عزیزی- ولې ولاړ یې؟ راځه.

د هغه پر غږ د شاوخوا کتلو څخه مې لاس واخیست او ورپسې روان شوم.
سپینې پراخې زینې د سنګ مرمر څخه جوړې شوې وې، شاید پنځه یا شپږ زینې به وې. کله چې ورڅخه پورته شو، د کور لویه لرګینه دروازه خلاصه شوه. یو ساتونکی چې دننه ولاړ و، بې له څه ویلو یو ګام شاته شو تر څو موږ دننه لاړ شو. همدا چې دننه شوم، د کور د دننه فضا په لیدو نفس مې سینه کې بند شو...

یو لوی سالون و. د سالون چت دومره لوړ و چې ما ګمان کاوه کوم هوټل یا قصر ته ننوتلی یم. د ګروپونو له ځایه یو غټ کریسټالي څراغ د سالون له چت څخه راځوړند و چې نرم ژېړ رنګ رڼا یې ټوله فضا نیولې وه. د سالون دوارو خواو ته جګ، جګ ستنې ولاړې وې او لاندې ځمکه په قیمتي غالیو باندې پوښل شوې وه.

د سالون په منځ کې څو لوکس کوچونه ایښودل شوي وو او راسته خواته یې یو اوږد دهلیز تللو چې ښکارېده هلته شاید د خوب یا هم د میلمنو کوټې وي.

زه لکه د لیونیانو په شان ولاړ وم او شاوخوا مې کتل. دا ځای کوم عادي کور نه ښکارېده او باور مې نه راتلو چې دا دې د عزیزی وي؟

عزیزی چې زما حیران دریان نظر ته پام شوی و، په هغه لوکس کوچ باندې د کښېناستلو په حال کې کرار خو په داسې لهجه چې ما ورڅخه غم، افسوس او حسرت احساس کولای شو، وویل:

– دا کور ما لس کاله مخکې جوړ کړی و، خپل د کورنۍ لپاره ..
څو شیبې چوپ شو، لکه د هغه وخت یادونه چې ورته سخته وي.
– کله چې هغوی لاړل، نو ما هم دا کور پرېښود، خو نن بله چاره نه وه. دولت زما کور، شرکت او حتا زما سرمایه قبضه کړې. جنرال ویل تر څو ورځو شاید بېرته راکړي، خو تر هغه وخته مجبور یم همدلته اوسیږم. ستا په نظر ښکه ځای دی؟

د عزیزي لهجه که څه هم کلک وه خو زما زړه وربانده وسوځېد. شاید هغه له پیله داسې ظالم انسان نه و. هغه کورنۍ درلوده او دومره هم وربانديې ګرانه وه چې داسې ښکلې ماڼۍ یې د هغوی لپاره جوړه کړې وه. خو دا نړۍ ټول ترې واخیستل حتا هغه برهان نومی کس، کوم چې عزیزي ته د ورور او کورنۍ حیثیت درلود. په یوه شیبه کې هغه ټول ښایست او ښکلا د ماحول راته بې معنا شول، داسې ماڼۍ او ژوند انسان څه وکړي کله چې هېڅوک ونه لري؟

د عزیزي پر غږ د هغه خواته مې وکتل. هغه خپله یوه پښه پر بله واچوله او خپل مخامخ کوچ ته یې اشاره وکړه.

– راشه برهان، کښېنه. دومره هم فکر نه کوم چې بد ځای وي؟!

یو څو شیبې مې بغیر له څه ویلو وروکتل، خو بالاخره کرار ورمخکې شوم او د هغه مقابل کوچ باندې کښېناستم.

زما د کښېناستلو سره سم اشرف هم سالون ته راننوت او همدلته د هغه ساتونکي سره چې دروازه یې خلاصه کړې وه ودرېد. یوه شیبه هېڅا څه ونه ویل او مطلق خاموشي په سالون کې خپره وه، تر دې چې عزیزي هغه سکوت مات کړ او اشرف یې د خبرو مخاطب کړ.

– ښکه شول زموږ میلمانه؟

اشرف نیغ ودرېد او په جدي انداز یې ځواب ورکړ:
— راغلي، مشره. تاسو ته په تمه دي.

ما سر پورته کړ او د دوارو خواته مې وکتل. د عزیزی د "میلمه" د لفظ څخه ما هېڅ ښه نه راتلل. هغه چې کله ویل میلمه، نو مطلب یې اصل کوم میلمه نه وی، بلکې مطلب یې داسې یو کس ته وی چې د شکنجې کولو لپاره یې رانیولی وی.
خدای خبر بیا یې څوک رانیولی و؟

په وېره مې د خولې لاړې تېرې کړې. لا څو ساعته یې د زندان څخه د راخلاصېدو نه وو تېر شوي چې بیا یې خپل کارونه شروع کړي وو.د اشرف په خبره چې ویې ویل "تاسو ته په تمه دي"، عزیزی په شیطاني مسکا خپل ږیره کې ګوتې ووهلې او سر یې وخوځاوه.

— د اوس لپاره یې تاسو لږ خاطر داري وکړئ، زه وږی یم غوارم ډوډۍ وخورم.
اشرف- په سترګو مشره.

اشرف د دې خبرې د کولو سره سم روان شو، خو هغه بل ساتونکی لا هم ولاړ و.
عزیزی هغه ته اشاره وکړه او هغه هم په تلوار روان شو.
د هغوی د تلو وروسته موږ دواړه یوازې پاتې شو.

عزیزی- ډوډۍ دې خوړلې؟

په وېره مې وروکتل. وږی وم. د سهار څخه چې د جنرال سره بندي خانې ته لاړم، بیا د غرمې څخه تر مازیګر مې خوب وکړ او اوس چې ماښام و دلته ناست وم، بغیر له دې چې حتا یو غړپ اوبه لا وڅښم،خو په داسې شرایطو کې ګوله ډوډۍ مې لا د ستوني څخه نه تېرېده نو په دروغو مې وویل: هو، ډوډۍ مې خوړلې.

عزیزی څو شیبې راوکتل. د هغه وروسته د ولاړېدو په حال کې یې وویل:
— کومه خبره نه ده، یو ګوله زما سره هم وخوره، تخو پوهېږې زما یوازی ځان

ډوډۍ خوړل نه خوښيږي.

غوښتل مې ممانعت وکړم چې هغه اجازه رانکړل او په پوسخند يې وويل: له څه ويرېږې؟ هوم؟ مه وايه چې له دې وېره لرې چې نمک ګير نه شې؟ البته فکر کوم اوس وخت ټول کسان کوم کاسه کې چې ډوډۍ خوري، همغه کاسه کې توف کوي ...

د هغه طعنه مې واخيسته. هغه ما ته نمک حرام ويل شايد حق يې درلود؟ بغير له څه ويلو پاڅېدم او د هغه پسې شوم. د سالون راسته خوا ته يو بل کوچني دهليز ته ورته ځای و چې څو څوکۍ او يو ميز ايښودل شوي وو. عزيزی يوه څوکۍ راکش کړه او کښېناست. زه هم د هغه په تقليد، د هغه څخه د څو څوکۍ په فاصله کښېناستم.

څو شيبې وروسته همغه ساتونکی چې عزيزی ورته اشاره کړې وه، غټ پتنوس په لاس راښکاره شو، پتنوس يې پر ميز کېښود. دننه يې دوه رقم وريجې، غوښه، سلات او قورمه وه. داسې ښکارېدل لکه تازه چې پخې شوې وي،د بازار ډوډۍ نه ښکاريده، شاوخوا مې وکتل. امکان يې و چې شخصي آشپز ولري. په داسې ماڼۍ کې فکر نه کوم شخصي آشپز نيول کومه ستونزمنه خبره وي.

همغه شيان چې د عزيزی مخې ته يې کېښودلې وه زما مخې ته هم کېښودل. که څه هم استرس او وېرې مې اشتها خرابه کړې وه، خو کله چې د ډوډۍ بوی راباندې ولګېد، مقاومت مې مات شو او لاس مې مخکې کړ چې ډوډۍ وخورم.

خو قاشوق نه و.

دا هم د عزيزی يو بل عجيب خاصيت و، هغه هېڅکله په قاشوق ډوډۍ نه خوړله. يعنې فکر وکړه، د دومره ښکلې ميز او څوکۍ تر شا کښېنې او بيا په لاس ډوډۍ وخورې!

څه مې ونه ويل او د بسم الله په ويلو مې ډوډۍ خوړل پيل کړل. لا څو ګولې مې نه وې کړې چې عزيزی هغه ساتونکي ته، کوم چې موږ ته د ډوډۍ راوړلو وروسته د

دهلیز په سر کې ولاړ و، غږ کړل.

– لاړ شه پوښتنه وکړه چې د وریجو کویني شته کنه؟

(کویني د دیګ تل ته وايي. کله ناکله وریجې د دیګ په تل کې لږ سوځي، البته کامل نه؛ نو همغه ته کویني ویل کېږي.)

ساتونکی د سر په خوځولو روان شو. د هغه د تلو وروسته عزیزی زما خواته راوکتل او ویې ویل: دا دوه میاشتې کېږي کویني مې نه دي خوړلي، د دیګ ټول خوند په هماغه کویني کې وي.

بغیر له څه ویلو مې یوازې سر وخوځاوه،څو شیبې وروسته ساتونکی بېرته راغی. په لاس کې یې یو قاب و چې د وریجو کویني پکې وې. هغه قاب یې د عزیزی مخې ته کېښود. عزیزی دومره په شوق کویني خوړل شروع کړل چې زما خولې لا ورته اوبه وکړل، لکه چې زما دروند نظر ته یې پام شو څکه سر یې راپورته کړ. کویني ته یې اشاره وکړه او ویې ویل:

– خوري؟

که څه هم وسوسه شوی وم چې یو ګوله ورڅخه وکړم تر څو وګورم اخر څنګه خوند لري چې عزیزی داسې په شوق خوری؟ خو شرم و نو ځکه سر مې د "نه" په شان وخوځاوه. عزیزی هم نور څه ونه ویل.

د ډوډۍ خوړلو وروسته ساتونکي شیان ټول کړل او چای یې راوړ، عزیزی سګریټ راوویست او ما ته یې اشاره وکړه، د میز له دې سر څخه پاڅېدم لاړم د هغه له لاسه مې لایټر واخیست او سګریټ مې ورته بل کړ.

د سګریټ د بلېدو وروسته غوښتل مې بېرته خپل ځای ته لاړ شم چې ناڅاپه عزیزی له لاس ونیولم، د هغه په دې کار په وېره مې ورته وکتل، چې هغه خپل څنګ ته

ځوکۍ ته اشاره وکړه.

– کښېنه ..

که څه هم ډارېدلی وم، خو خبره مې ورڅخه ومنله او څنګ ته یې کښیناستم. که عزیزی زما د وژلو اراده ولري، نو څه څنګ ته یې ناست اوسم، یا څه څو ځوکۍ ورڅخه لېرې، هغه ته کوم فرق نلری، په دی خبرو مې ځانته دلدارۍ ورکول خو د هغه قرباني احساس مې درلود چې د حلال کولو مخکې اوبه،خوله کې مالګه او ډوډۍ ورکوی حتا سترګي یې لا په رانجو توروی او ښه یې عزت کوی، زړه مې ویل عزیزی هم د مرګ مخکې ما ته ډوډۍ راکړل، ښه یې عزت هم وکړ اوس نو باید ځان حلال کولو ته چمتو کړم، همدی فکرونو کې وم چې موبایل ته مې زنګ راغی. بغیر له دې چې د عزیزی حضور ته کوم توجه وکړم، په تلوار مې موبایل راوویست.

دا څو وخته د الفا د وېرې څخه د موبایل هر زنګ راته د خطر زنګ ښکارېده.

کوښښ مې وکړ د نوم پر ویلو معلوم کړم زنګ چا وهلې؟ خو بدبختانه چې هېڅ نه ښکاریدی ..څو ورځې مخکې موبایل مې له لاسه وولید او سکرین یې مات شو، دومره چې اوس ماته نه ښکاریدی چې زنګ وهونکي څوک دی؟ مجبور ځواب مې ورکړ.

- الو، سلام علیکم.
د هغه خوا د ذوالفقار قهرجن غږ راغی:
– ما درته ونه ویل د رسېدو وروسته یو زنګ ما ته ووهه؟
د هغه د غږ په اورېدو هوسا ساه مې واخیسته او ومې ویل:
- له یاده مې ووتل.
ذوالفقار په طعنه وویل: فکر مې نه کاوه چې دومره د خسر د لیدو شوقي اوسیږی چې پر لیدو یې ټول شیان لیاده وباسې .. اوس شپې ته راځې که هملته پاتې کېږې؟

د ذوالفقار په خبره مې په ناارامه نظر د عزیزی خواته وکتل. هغه داسې حال کې چې په څوکۍ تکیه وهلې وه او سګریټ یې واهه، په دروند نظر یې زما خواته راکتل او داسې ښکارېده لکه زما هره خبره چې په دقت اوري.

له دې چې مجبوره وم یو ځل بیا ذوالفقار ته دروغ ووایم، سخت شرمنده وم خو بله چاره نه وه. نه مې شو کولای هغه ته ووایم چې د عزیزی سره یم. که دا خبره مې کړې وای، یقیناً لیونی کېدی او شک مې نه درلود چې په همدی نیمه شپه راتلو او که راغلی وای، عزیزی جنرال یا بوډا نه و چې د ذوالفقار د خبرو او ګواښونو په وړاندې خاموش پاتې شوی وایې او څه یې ورته نه وایي ویلې، هغه عزیزی وو سلطان عزیزی ...

د ذوالفقار پر غږ پر خود راغلم او په تلوار مې ځواب ورکړ:
- نه، شپې ته پاتې کېږم.
ذوالفقار لږ په شکمن غږ وویل:
— ښه یې؟ ولې ژر ځواب نه راکوې؟ کومه ستونزه خو نشته؟
- نه... خیرو خیرت دی ذوالفقار .. هغه استاد خبرې کول فکر مې د هغه خواته و. سبا به وګورو، خدای پامان.

او بې له دې چې د هغه د کوم ځواب په تمه شم، موبایل مې بند کړ.
د زنګ بندولو وروسته مې څو شیبې موبایل کلک په لاس کې ونیو، بیا مې کرار سر پورته کړ،عزیزی لا هم هماغسې ناست و، سګریټ یې د ګوتو تر منځ نیولی و او په خاموشه نظر یې زما خواته راکتل. د سګریټ لوګي زما خواته راتلو او ما ځان په زور نیولی و چې ونه ټوخم. عزیزی یو غټ کش له سګریټه واخیست او داسې حال کې چې کرار یې لوګي خوشې کاوه ویې ویل:

— ذوالفقار؟

د هغه په دې خبره که ووایم زړه مې ودرېد، دروغ به نه وي. عزیزی زما وېرې او وحشت ته پام شو، ځکه شیطان موسکا یې پر شونډو راغله او ویې ویل:
– داسې ښکارې لکه ډېر مهم کس چې وی درته هوم؟ څه دې کېږي؟

بې له څه ویلو مې ورته وکتل، هغه بیا له سګریټه یو غټ کش واخیست او د سګریټ وهل شوې ایرې یې په سګریټ دانه کې کرار وټکول.

عزیزی- دومره اندېښنه مه کوه برهان! زه د خلکو په شخصي ژوند کې کار نه لرم .. مګر دا چې مجبور شم...

د هغه په دې خبره وېره مې خپل د وجود په رګ، رګ کې احساس کړه. د دې فکر پر کولو چې عزیزی به د ذوالفقار پر سر کومه بلا راوړی زما زاره چول، څه ورسېږي که وغواړي خپل ګواښ عملي کړي...

کوښښ مې کړ په کلک لهجه خپل خبره وکړم.
- ستا کار زما سره دی، نو زما له کورنۍ څخه لرې اوسه عزیزیـــ...

عزیزی خبره را پرې کړه او د لومړي ځل لپاره ما د هغه په سترګو کې د ځان لپاره غوسه ولیده.

عزیزی- مشر...! د نن وروسته ما ته مشر غږ کوه. عزیزی ستا لپاره نور شتون نه لري، برهان!

هغه دومره په کلک دا لفظ ادا کړ چې ما بې اختیاره سر وخوځاوه.

له څوکۍ پاڅېد او ویې ویل: ښه نو راځه چې خپل حساب کتاب ته ورسېږو.

په حیرت مې وروکتل.
- چ... چېرته؟

هغه د سالون هغه بل سر ته اشاره وکړه، کومې خواته چې یو اوږد دهلیز تللی و، او ما ګومان کاوه چې د میلمنو یا د خوب کوټې به هغه خوا وي.د هغه پر شونډو بیا هماغه کراره خو خطرناکه موسکا راښکاره شوه او ویې ویل: غواړم خپل د مېلمنو سره دې پېژندګلوي وکړم.

د هغه په دې خبره د زړه درزا مې سمدستي تېزه شوه.

عزیزی بې له دې چې زما ځواب ته انتظار وکړي، د دهلیز پر لور روان شو. زه څو شیبې هماغسې په خپل ځای کې ناست وم. پوهېدم چې چندان ښه شیان مې په انتظار کې نه دي، خو پوهېدم که ورپسې لاړ نه شم، نو خبره به نوره هم خرابه شي. په خاموشه قدمونو ورپسې روان شوم، دهلیز اوږد او نیمه تیاره و. څنګه چې ګومان مې کړی و، همغسې و. څنګ په څنګ څو کوټې وې او د دیوالونو پر سر کوچني څراغونه لګېدلي وو چې ژېړه رڼا یې پر فرش خپره کړې وه. د قدمونو اوازونه مو په خاموشه فضا کې لږ انعکاس کاوه.

عزیزی د دهلیز تر پایه لاړ او هلته ودرېد. کله چې ورنږدې شوم، نو یو درونډ اوسپنیز دروازه مو مخې ته وه،دروازه ساده نه وه غټه، درنه او داسې ښکارېده لکه د کوم زندان دروازه چې وی.!؟

عزیزی زما خواته راوکتل.
– راځه.

کرار ورنږدې شوم. هغه خپل له جیب څخه یو کیلۍ راوویستل او دروازه یې خلاصه کړه. دروازه د «غژ غژ» غږ په کولو کرار،کرار شاته ولاړه،د دروازې له خلاصېدو سره سم یخه هوا او د نمناک دیوالونو بوی مې تر پوزې شو... داسې بوی لکه د زړو دیوالونو، لندبل او څه ناڅه د وینې ... د خولې لارې مې تېرې کړې. لاندې د زینو اوږده لړۍ ښکته تللې وه عزیزی پرته له ځنډه ښکته روان شو، زه هم مجبور ورپسې

روان شوم.هره زینه چې ښکته تلم، داسې احساس مې کاوه لکه د کومې بلې نړۍ پر لور چې روان یم.

کله چې ښکته ورسېدو، یو پراخ زیرزمیني سالون مې مخې ته راښکاره شو،د پورته ماڼۍ ښکلا دلته هېڅ نه وه.دلته هر څه یخ، خالي او سخت و. دیوالونه خام کانکریټ وو. ځینې دیوالونه نمناک وو او د ځېنو سمېنټ رالوېدلی و. له چت څخه څو ګروپونه راځوړند وو چې زیرزمینې رڼا کړې وه، د زیرزمینې په منځ کې دوه فلزي څوکۍ وې.

البته کومې عادي څوکۍ نه ښکارېدې، داسې ښکارېدې لکه د شکنجې لپاره چې جوړې شوې وي؟ البته شک مې هغه وخت په یقین بدل شو چې ورباندې وچ سور رنګ مې ولیدې، که څه هم پخوانی ښکارېده، خو معلومېده چې وینه ده.

د څوکیو تر څنګ یو اوږد میز ایښودل شوی و، چې پر سر یې مختلف شیان اېښودل شوي وه: ډول ډول ځنځیرونه، چاقوګان، پیچتابونه،امبر، اوسپنیز چنګکونه، لینونه او داسې شیان چې ما یې نومونه لا نه وه زده ..

د هغه شیانو په لیدو مې خپل فاتحه وویل، دا د رښتیا د شکنجې ځای و، او د عزیزی د «حساب کتاب اخیستلو» له لفظه داسې ښکارېدل لکه چې زما جنازه به د همدې ځایه نن وځي، فکر مې کاوه د میلمه څخه مطلب زه پخپل وم! ځکه که کوم بل څوک وایې نو ما لیدې، خو دې منحوس زیرزمینې کې زموږ دواړو بغیر هېڅوک نه وو.

عزیزی په هغه عجیب،غریب وسایلو کې لګیا و او اخوا دېخوا کول یې، هماغه حال کې یې په ناراضه توګه سر وخوځاوه.

عزیزی- نچ... دا یو هم په درد نه خوري، مجبور خپل له لاس څخه کار واخلم. ستا څه نظر دی؟

زما خواته راوڅرخېد.

نه پوهېدم څه ووايم. د ميز پر سر هغه عجيب، غريب شيانو ته مې وکتل، بيا مې عزيزی ته وکتل. زما په نظر يو ټک کې مړه کېدل د دې څخه غوره دي چې په ساعتونو شکنجه شي.

په همدې فکر بې اختياره مې وويل:
- توفنچه... فکر کوم غوره انتخاب دی.

زما په دې خبره عزيزی په لوړ غږ وخندل. د هغه د خندا غږ په زيرزميني کې وپيچل شو،يو دم احساس مې وکړ چې د څو کلونو مخکې پېښه يو ځل بيا راباندې تکرار شوی. هغه وخت يو ليوني جنرال نيولی وم او غوښتل يې ټوټې، ټوټې او بوجۍ ته مې واچوي. اوس هم د هغه څخه سل چنده بدتر ليوني کس په لاس کې ورغلی وم.

عزيزی د انکار په توګه سر وخوځاوه او ويې ويل:
— نه... د توفنچې مرګ ډېر آسان دی. يو ټک او خبره خلاصه ... زه غواړم د دې دوه مياشتو قصاد واخلم نو دومره آسان مرګ خوند نه کوي.

د هغه په دې خبره يخه خوله مې د ملا په تير راغله، بې اختياره مې خپل لاس کې ګوتمې ته وکتل. ګوتمې اوس هم شنه رڼا کوله خو ډېر پيکه، د څو ساعتونو مخکې په شان ځلا يې نه وه. شايد دا د خطر نښه وه؟ مطلب زه اوس په خطر کې يم؟ خو شموئيل ويل چې هر کله خطر کې وې د ګوتمۍ غمۍ سره رڼا کوي!

د عزيزی خواته مې وکتل چې لګيا و ځنځيرونه يې لاس کې اړول، بايد ورته رښتيا ووايم شايد هغه وخت يې لږ راباندی زړه وسوځېږي، که ورته ووايم جنرال زما د مجبوری څخه غلط ګټه پورته کړل او جاسوسي ته يې مجبور کړم نو امکان لری زړه يې په رحم راشې، بايد يو دليل پيدا کړم، کنه خدای خبر چې نن شپه له دې ځايه روغ ووځم، دی عجيب،غريب فکرونو کې خپل جيب کې توفنچي ته مې هم فکر وکړ

که عزیزی د رښتیا زما د وژولو اراده ولری نو باید یو اخری انتخاب او لار هم ولرم او هغه اخری لار د توفنچي استعمال و ..

خو دا لاره هم چندان راته منطقي او د خلاصون نه ښکاریدل، ځکه بل فرض که زه عزیزی وولم یا حتا مړ یې کړم بیا هم د دی ځای څخه ژوندي نشوم وتلې، ځکه کور د هغه د ساتونکو څخه ډک و، نو مطلب یوازیني د ژغورلو لار د عزیزی څخه بخښنه غوښتل وه، په دې فکر خپل شونډې مې لمدې کړې او غوښتل مې د زارۍ کولو لپاره مقدمه چینې وکړم چې ناڅاپه عزیزی خپل موبایل له جیب رااوویست ...

عزیزی- څه کوی اشرف؟ زه په تمه یم.

بس همدا یوه خبره یې وکړل او موبایل یې بند کړ، خو د هغه همدا یوه جملې زما بدن کې یوه نوی ساه وچلول، ایا امکان لری د میلمه څخه یې مطلب اصل کې زه ونه اوسیږم؟

د همدی فکر په کش،مکش کې وم چې د زیرزمیني اخر خواته ټک شو، دومره ناڅاپه دا ټک و چې زه خپل ځای کې وپرېدم او تازه هلته مې یو دروازی خواته فکر شو، چې خلاصه شوه او دوه ساتونکي ورڅخه زیرزمینې ته رادننه شول، هغوی یو سړی چې ښکارېدل نیمه بې‌سده دی له لاسونو څخه نیولی و او راکش کاوه یې، کله چې لږ رانږدې شول، سړی یې د زیرزمینې په منځ کې پر ځمکه وغورځاوه.

سړی د ډېر درد څخه یو کرار "اخ" له خولې وباسه او ځان یې لږ راپورته کړ همدا چې سترګي مې د هغه پر مخ ولګید خوله مې له حیرت خلاصه پاتي شوه دا ... دا خو ...

دا خو هماغه سړی و... هماغه چې څو میاشتې مخکې یې عزیزی د ټېپي کېدو وروسته د ویښتانو څخه رانیولی و او د وهلو په حال کې یې ورته کنځل کول. ما دا کس پر لاس ویشتلی و خو مړ نه. بوډا ویل د الفا ټول کسان یې زندان ته اچولي، نو دا دلته څه کوي؟ دا خو باید اوس زندان کې وای، نه دلته په داسې حال کې، مخ یې

پړسېدلی و، د شونډې څنډه يې شلېدلې وه او وچه وينه يې پر مخ او تندی کلکه موښتې وه. کالي يې هم خيرن او شکېدلي ښکارېدل. په سختئ سر پورته کړ، خو لا يې سترګې د ماحول سره سم نه وې اشنا شوې، چې عزيزی په بې‌حده کرار او ډاډمنو ګامونو د هغه خواته ورنږدې شو.

سم د يو وحشي زمري په شان چې خپل ښکار ته ورو ورو ورنږدې کېږي.
کله چې د هغه څنګ ته ورسېد، پرته له څه ويلو يې هغه ته کتل پيل کړل. د عزيزی نظر دومره دروند و چې د هغه سرې پر ځای زما ساه په سينه کې بنده شوه.

ده عزيزی ته کنځل کړی و. نه يوازې کنځل، بلکې عزيزی يې د ويښتانو څخه نيولی و او سپکاوی يې ورته کړی و.

عزيزی خپل جيب ته لاس کړ، سګريټ يې راوويست او زما خواته يې وکتل. د هغه د کتلو معنا مې پوهه شوه. غوښتل مې حرکت وکړم، خو د وېرې له لاسه مې لاس او پښې يخ شوې وې او نشوم خوځېدلی.

عزيزی- برهـــان...

په غړېږې بې اختياره ورنږدې شوم، ليټر مې د له لاسه واخيست او سګريټ مې ورته بل کړ.

عزيزی يو اوږد کش خپل د سګريټ واخيست او لوګي د هغه سړي پر مخ خوشې کړ. سړی لږ وخوځېد.

عزيزی په کراره لهجه وويل:
– نو بالاخره ستا زيارت مې نصيب شو.

د عزيزی په ليدو د هغه سړي سترګې د وېرې او ډار څخه پراخې شوې او په بند، بند غږ يې وويل: م... ما... څه نه دي کړي...

عزیزی کرار وخندل، د هغه داسې خندا ما ښه پېژندله. دا خندا هېڅ د خیر معنٰی نه درلوده.

عزیزی- تلوار مه کوه... لا خو شپه اوږده ده. زه به دې په یاد راوړم چې څه دې کړي... هوم؟

بیا یې کرار زما خواته راوکتل.
— ستا څنګه خوښه ده برهان؟ لومړی د دوی حساب کتاب وکړو؟

ما پرته له څه ویلو ورته کتل. د هغه سترګي د غچ اخیستلو او شیطنت څخه ځلېدل،دومره چې زه بې اختیاره له وېرې ولړزیدم.

عزیزی اشرف ته اشاره وکړه تر څو هغه سړی پر څوکۍ وتړي. اشرف راوړاندی شو هغه سړی د ځمکې څخه کش کړ او د څوکۍ خواته یې روان کړ. عزیزی ساتونکو ته مخ کړ او د سر په اشاره یې وویل: هغه بل هم راوړئ.

ساتونکو پرته له څه ویلو د دروازې خواته وګرځېدل. ما لا هغه سړي ته دوه سترګې نیولې وې چې اشرف د ځنځیرونو په مرسته د هغه لاسونه او پښې په څوکۍ کلک تړل، چې هماغه وخت ساتونکو یو بل سړی هم په راکش کولو زیرزمنیې ته راوړ، د دې حالت تر هغه بل هم بد و. داسې ښکارېده لکه ډېر وهل شوی چې وي. یو لاس یې د سینې پر سر ایښی و او د درد له امله یې ساه په زور اخیستل.

کله چې یې سر لږ پورته کړ او سترګې یې زما پر مخ ولګېدې، نو زما څخه ډېر هغه حیرت وکړ، دا کس ما پېژنده، که څه هم شاید یوازې یو ځل مې لیدلی و، خو ښه مې په یاد و.دا هماغه نفر و چې د الفا په خبره یې زه د لغتو لاندی نیولې وم او زما د سینې هډوکی یې مات کړی و. هغه هم لکه چې زه وپېژندلم، ځکه سترګې یې لږ پراخې شوې، خو ژر یې ځان راټول کړ.

ساتونکو دا کس هم د هغه بل څنګ ته کش کړ او په څوکۍ یې وتړه. د ځنځیرونو د ټک ټک اوازونه په زیرزمیني کې خپاره شول. عزیزی کرار، کرار د هغوی تر منځ په ګرځېدو شو. د څو شیبو وروسته د هغه سرې مخې ته ودرېد کوم چې ده ته یې کنځل کړی و.

څو شېبې په درونډ نظر وروکتل، بیا یې په کرار خو ډارونکې غږ، داسې غږ چې زما د بدن ویښتیان یې لا د وېرې څخه زیغ ودرول ویې ویل: ته ډېر بېعقله یې... هغه وخت چې دې فرصت درلود باید زه دې وژلی وای...
سر یې لږ د هغه خواته ټیټ کړ او کرار یې وویل:
– ته په دی خبره مګر نه پوهېږې چې یو زخمې زمری د جوړ زمري څخه ډېر خطرناک دی؟ هوم؟

د هغه د ځواب ورکولو مخکې، دا بل کس کوم چې زما د سینې هډوکی یې مات کړی و، په غوسه او سپکه لهجه د عزیزی خبره پرې کړه او ویې ویل:
– ته فکر کوې ته زمری یې؟ ته یو مردار سپ...

د هغه خبره لا نه وه ختمه شوې چې عزیزی ناڅاپه د هغه پر مخ کلک سوک وواهه، دومره کلک چې د څوکۍ ځنځیرونه په زور وشورېدل او د سرې سر شاته ولګېد. د هغه د غاښونو د مات کیدلو غږ ما پخپل واورید ..عزیزی خپل لاس هوا کې وخوځاوه تر څو د هغه کس د خولې وینه ورڅخه پاکه کړې.

عزیزی- ادب... ادب زده کړه... کله چې یو مشر خبرې کوي، خوله دې بنده وساته...

بیا زما خواته راوګرځېد او ویې ویل:
– همدغه کس ته وهلې وې کنه برهان؟

زما ژبه د وېرې څخه بنده شوې وه، یوازې د سر په خوځولو مې "هو" وویل. عزیزی سر د پوهېدو په انداز وخوځاوه او هغه کس ته چې د سوک خوړلو وروسته یې لږ سترګې خلاصې کړې وې وویل: هغه ورځ ما درته څومره وویل برهان مه واهه؟

هوم؟څومره مې درته وويل دا نجس لاسونه دې د هغه څخه ليرې کړه... هان؟(بيا يې په ګواښ لرونکې انداز دوام ورکړ: غوښتل دې د هغه ژبه پرې کړې؟

د عزيزی سترګې د قهر او غوسې څخه تکې سرې شوې وې،د ليونيانو په شان يې دا يوه خبره تکرارول. برهان... برهان... د هغه خبرې عادي نه وې. عزيزی د برهان نوم داسې اخيست لکه هغه اصل برهان چې وهل شوی وی. د يوې شېبې لپاره مې داسې احساس وکړ چې عزيزی د ريښتيا او خيال نړۍ کې ورک شوی، يو ډول د جنون او ليونتوب حالت ورباندې راغلی و. هغه فکر کاوه زه د ريښتيا برهان يم او دا کار زه ډارولم.

هغه دويم کس د عزيزی غير نرمال حالت ته پام شو، ځکه د څو شيبو مخکې خاموشي په زارۍ بدل شول او ويې ويل: مورږ .. نه غوښتل داسې وکړو .. مشر ... مورږ مجبور کړو ..

د هغه غږ لړزېده. عزيزی څو شيبې بغير له څه ويلو د هغه خواته وکتل، د څو شيبو لپاره زيرزمينې کې درنه چوپتيا خپره شوه، داسې چې ما د هغوی ډاريدلې ساه ګانې  لا اورېدلې شو، هغه چوپتيا د عزيزی پخندا مات شول.

عزيزی- مجبور... هوم؟
يو قدم ورنږدې شو.
— عجيبه ده! د هر چا پښه چې دې کوټې ته خلاصه شوې ويلې مجبور و ...

هغه سړي غوښتل کوم بل څه ووايي، خو د وېرې له امله يې غږ سم نه راوت. عزيزی يو ځل بيا خپل د سګريټ څخه کش واخيست، او لوګي يې د هغه پر مخ خوشې کړ. همغه حال کې وويل: ته پوهېږې ستونزه څه ده؟
هغه کس په وارخطايي سر وخوځاوه.
عزيزی- ستونزه دا ده چې تاسو غلط نفر وواهه... هغه هم ډېر غلط...
هغه کس بې اختياره وويل: مورږ نه پېژانده...

عزیزی ناځاپه وخندل.
– همدا خو ستونزه ده، تاسو هغه نه پېژندو .. خو زما خبره مو هم نه اوریدل، ما ځومره وویل مه کوی هوم؟ څومره مې منع کړی هوم؟ خو تاسو نه منع کیدی، نو اوس مو څنګه خوښه ده چې یو بل سره وپیژني؟

د دې خبری سره سم، کرار د هغه عجیب، غریب شیانو خواته روان شو، د میز له سر یې یو کوچني فلزي چنګک راواخیست. هغه چنګک داسې و لکه د ماهۍ نیولو جال، څلور تېز سرونه یې درلودل، په کرار قدمونو د هغوی خواته نږدی شو. هر قدم یې داسې اخیست لکه هېڅ کوم بیړه او تلوار چې نه لري .. لکه دا شپه چې یوازې د همدې لپاره جوړ شوی وی ..

خو نیمه لاره کې ناځاپه ودرېد، بیا یې سر لږ پورته کړ او زما خواته یې وکتل.
– برهان...

د هغه په غږ د زړه درزا مې یو سلواتیا ته پورته شو.

– راشه.

بې اختیاره ورنږدې شوم. عزیزی هغه فلزي چنګک زما لاس ته راکړ، د هغه یخوالی مې تر هډوکو احساس کړ.
عزیزی- شروع یې ته وکړه...
په حیرت مې وویل: زه؟
عزیزی پخندا سر وخوځاوه.
– هو، ته.

خپل د سګریټ ایرې د مېز پر څنډه ووهل او ویې ویل:
– حساب کتاب باید برابر وي، دا نفر ستا دی ..
څو ګامه شاته لاړ او په ارامه لهجه یې وویل: نو خپل حساب واخله ...

د دوارو کسانو درنې ساه ګانې مې واضح اورېدل. چنګک په لاس د هغوی مخ ته ولاړ وم، نه پوهېدم څه وکړم. هغه نفر چې عزیزی ته یې کنځل کړې وه، د دی بل نفر څخه چې زه یې وهلې وم ډېر ډارن ښکاریدی، ځکه زما لاس کې د چنګک په لیدو رنګ یې یو دم ژیړ واوښت او په زاری شو:

— زه بخښنه غواړم... داسې مه کوه... خیر دی، هر څه چې ووایست زه هغه کوم، خو خیر دی ما خوشې کړې..

عزیزی ورو سر وخوځاوه.
— نچ، د بخښنې لپاره ناوخته شوی...

بیا یې زما خواته را وکتل. د هغه نظر دومره درونډ و چې د وېرې له لاسه مې د خولې لاړې تېرې کړې. منم چې خپل مې هم زړه غوښتل دا بل کس کوم چې زه وهلې وم ووهم، ما د ده منحوس له لاسه دوه میاشتې ښور نشو خوړلې نږدې و چې مړ شم، خو بیا هم داسې وهل او شکنجه کول زما کار نه و... زه دومره هم وحشي نه وم. ما خپل قصد شاید پر یو دوه لغتو او بوکسانو اخیستې وای، نه په دې عجیب، غریب شیانو ...

بې اختیاره مې د عزیزی خواته وکتل چې شاید زړه یې لږ په رحم راشې، خو نـــه عزیزی د رحم په نوم کوم شې نه پېژندې، هغه کرار ولاړ و، سګریټ یې په ګوتو کې نیولی و او داسې یې زما خواته راکتل لکه یو ښوونکی چې د درس ورکولو وروسته خپل شاګرد ته ګوری، چې ایا د هغه ورکړې تمرین صحیح حل کوی کنه؟

زما نظر یې چې پر ځان ولید کرار یې وویل:
— وخت مه ضایع کوه برهان ...

د هغه کس سترګې زما او د عزیزی تر منځ ګرځېدلې، آخر کې زما لاس کې چنګک باندې نظر ښخ پاتې شوې او په زاریو یې وویل: مه کوه وروره... خیر دی... بد مو کړې...

عزيزی د هغه کس خواته چې زارۍ يې کولې وکتل، څو ثانيې يې هېڅ ونه ويل، بيا يې د ميز څخه يو فلزي پيچتاب راواخيست او د ګواښ په انداز يې د هغه خواته وخوځاوه او ويې ويل: ته ډېرې خبرې کوې، مه مې مجبوروه چې د ملګري څخه دې مخکې ستا چاره دروکړم ..

د عزيزی په ګواښ د هغه خوله بنده شوه، د هغه په چوپ کېدو عزيزی پوسخند وواهه او زما خواته يې راوکتل.

— برهان.

په وېره مې وروکتل چې عزيزی هغه کس ته کوم چې زه يې وهلی وم اشاره وکړه او ويې ويل: دا کس ته وهلې وې، غوښتل يې ستا ژبه درپرې کړي .. نو ولې ورڅخه خپل قصد نه اخلې، هوم؟ ولې ولاړ يې؟

زما د زړه درزا دومره تېزه شوې وه چې خپله مې اورېده. په ذهن کې مې يوه خبره تاوېده: که دا کار زه ونه کړم، عزيزی به يې پخپله وکړي، او هغه وخت به خبره تر دې څو چنده خرابه شي، د عزيزی په غږ کې داسې جديت و چې د مخالفت جرأت يې نه راته پرېښود. يو قدم بې اختياره د هغه کس خواته ورنږدې شوم، کوم چې زه وهلی وم، هغه بې له څه ويلو په کرکه او نفرت راکتل، خو د هغه له ځايه دا بل کس په سترګو زارۍ راته کول، نه پوهېږم د ځان له وېرې زارۍ کولې که د دې کس لپاره؟

د زيرزميني خاموشي دومره درنه شوې وه چې ما خپل د قدمونو غږ او د هغوی د وېرېدلو ساه‌ګانو غږ ښه واضح اورېدې. کله چې د هغه کس مخ ته ورسېدم، نو نه پوهېدم چې څه وکړم.خپل لاس کې مې چنګک ته وکتل. يعنې په دې ووهم؟ يا بل کوم کار په دې کېږي؟ څو شېبې ګنګس ولاړ وم، خو د عزيزی پر غږ پر خود راغلم او بې اختياره مې ګوزار وکړ. چنګک د هغه د څوکۍ پر څنډه ولګېد او د فلز تيز اواز په زيرزميني کې خپور شو.

کوم کس باندې چې ما چنګک وار کړی و، هغه بې له وېرې راکتل، خو د هغه له ځایه هغه بل کس په ژړا شو. د هغه په ژړا عزیزی کرار وخندل او ویې ویل: آفرین، ښه لوبه ده د وهلو مخکې ډار ... خو کوښښ وکړه نښان دې دا ځل سم وي زه د ډېر لوبې حوصله نه لرم برهان ..

د عزیزی په خبره کې یو ډول ګواښ و داسې لکه چې وایي: یا ته دا کس ووهه، یا زه درولاړېږم او لومړی تا، بیا هغه وهم.

وېره، وحشت، ځان ساتنه او شاید غوسه او غچ اخیستل هم ناڅاپه د عزیزی په دی خبره زما په بدن کې په تګ راتګ شوو، او دا ځل مې چنګک ښه په دقت د هغه کس خواته وار کړ، چنګک مخامخ د هغه پر اوږه ولګېد او په بېحد حیرت کې د هغه څلور تیزې شاخې د هغه کس د اوږې په غوښه کې ننوتلې، او د هغه سره سم د هغه دردمند غږ هم پورته شو.

په وحشت یو ګام شاته لاړم. باور مې نه راتلو؛ چنګک کامل د هغه په اوږه کې ننوتلی و. څو شېبې یو دم چوپتیا خپره شوه، او یوازې د هغه کس دردمند غږ اورېدل کېده. خو ناڅاپه عزیزی په خندا شو، په خوشحالۍ یې خپل لاسونه وپړقول او ویې ویل:
– آفرین...

یو څو قدمه رانږدې شو.
– همدغه مې غوښتل.

د هغه د دې خبرې مطلب مې ډېر ژر واخیست، دا اصل کې زما شکنجه وه، نه د هغوی .. عزیزی پوهېدې چې زه له دې شیانو څخه وېره او کرکه لرم، او اوس همغه کار یې زما په لاس کاوه. هغه په دې ډول هم خپل دښمنانو ته سزا ورکوله، هم ما ته. دا یوازې شکنجه نه وه .. دا یوه لوبه وه، رواني لوبه...

عزیزی کرار زما اوږه راوټپوله او په همغه خوشحاله لهجه یې وویل:
– اوس یې راکش کړه.

- څــه؟

عزیزی د چنګک تار ته، چې لا هم زما په لاس کې و، اشاره وکړه.
— راکش کړه ..

د هغه په دې خبره ساه اخیستل مې د څو شېبو لپاره له یاده ووتل، هغه غوښتل چې د چنګک تار کش کړم تر څو چنګک د هغه کس د اوږې غوښه له ځان سره وشلوي او راووځي،بې اختیاره مې تار خوشې کړ او سر مې د "نه" په شان وخوځاوه.

زما په دې کار عزیزی تندی تروش کړ او رانږدې شو.

عزیزی- بد مې راځي له دې چې خپل خبره دوه ځل تکرار کړم برهان ...
په بند،بند لهجه مې وویل: دا... دا ظلم دی .. زه دا کار نشم کولای ..

عزیزی په شیطان مسکا سر وخوځاوه.
— کولای شې، ډېر یې ښه هم کولای شې ...

ښکته شو د ځمکې څخه یې تار راواخیست او په یو ناڅاپه حرکت کې یې زه د لاس ونیولم او تار یې زما لاس ته راکړ. کوښښ مې وکړ ځان ورڅخه لېرې کړم، خو د هغه زور راباندې ډېر و. په زوره یې تار زما پر لاس وپیچو، او بیا یې زما لاس شاته کش کړ، زما د لاس کش کولو سره سم د هغه کس دردناکه چیغه د زیرزمیني په فضا کې وپیچل شوه او چنګک پر وینو او غوښو لړلی د هغه له اوږې راووت. د راوتلو سره سم وینه په بېحد سرعت د هغه کس پر شلېدلو کالو راوبهېده.

هغه صحنه دومره ډارونکې وه چې زه بې حرکته په خپل ځای کې ودرېدم. دوه سترګې مې د هغه کس چغو او فریادونو ته نیولې وې، چې عزیزی په درنه لهجه وویل: و دې لید؟ وشوو .. یوازې لږ زړه او جرئت یې غوښت بس ...

@Shuhab09

بې حرکت ولاړ وم، چې عزیزی د هغه کس مخې ته ودرېد، هغه د ډېر درد څخه خپل سر ښکته نیولې و، عزیزی بې له دې چې کوم تلوار وکړي د هغه د زنې لاندې خپل لاس کېښود او مخ یې ورڅخه راپورته کړ.

عزیزی- اوممم څو دقیقې مخکې خو دې ډېر اپلتې ویل اوس ولې چوپ یې؟

هغه کس څه ونه ویل، خو د درنه ساه اخیستلو او سور شوی مخ څخه یې ښکاریدل چې ډېر درد لری، عزیزی چې د هغه چوپتیا ولیدل په یو ناڅاپه حرکت کې د هغه خوږه اوږه کوم چې ما په چنګک زخمي کړې وه، په یو کلک سوک ووهل، دومره کلک یې ګوزار وکړ چې هغه کس د زړه له تل چغه کړل، د هغه چیغه په ټول زیرزمیني کې وپیچل شول، زما معده د ډېر وېرې او استرس له امله سره راټول شول، احساس مې کاوه چې څه مې چې خوړلې هغه مې خولې ته راغلل، غوښتل مې مخ بلې خواته واړوم چې عزیزی په غوسه ناک لهجه راباندی غږ کړل.

عزیزی- نه برهان ... مخ ګرځول او نه کتل دلته نه لرو، ښه دې سترګې خلاصې کړه او په غور وګوره ...

دومره په جدی او غوسه ناک انداز یې دا خبره وکړل چې بې اختیاره مې مخ بیرته وګرځو او ور ومې کتل، عزیزی چې زما نظر ولید نو بیا یې د هغه کس زخمي اوږې ته بوکسونه بند کړل، یو ځای وار کاوه، بوکس یې بل کوم خواته نه تلو یوازې ښه یې همغه زخم و، د هغه د هر وار سره د هغه سرې چغې اسمان ته پورته کیدل او د هغه سره سم ما احساس کاوه ساه مې مخ پر بندېدو ده، ما خپل په ژوند کې ډېر بد شیان لیدلي وه .. خو دا ... دا بل شئ وو ..

دومره یې هغه کس وواهه چې نور د چغو،بوغو څخه وولید او د ډېر درد څخه بې هوښ شو، د هغه د بې هوښ کیدلو وروسته عزیزی خپل وهل ودرول، د عزیزی لاس او مخ د هغه کس پر وینو لړلې وو، د اشرف خواته یې وکتل چې هغه په تلوار ورته یو پاک دسمال راوړو عزیزی په داسې بیغمې خپل لاسونه او مخ پاک کړو ته وا کوم

اوبه چې ورباندې شیندل شوې وې نه وینه، څهره کې هېڅ احساس نه ښکارېدی هېڅ ..

خپل د لاس او مخ پاک کولو وروسته زما خواته راوګرځېد.
– دلته راشه برهان.

دومره هغه ماحول ډارولې وم چې بغیر د څه ویلو د روباټ پشان د عزیزي خواته ورنږدې شوم، هغه د میز له سر یو تور نری کیبل راواخیست او زما لاس ته یې راکړ.

عزیزي- دا ونیسه.

بې اختیاره مې لاس اوږد کړ او کیبل مې د هغه له لاسه راواخیست، خو لاس مې لړزیدی، عزیزي د سترګو له کونج زما لړزیدونکې لاس ته او بیا ما ته راوکتل او ویې ویل: دوي غوښتل ما ووژني، خو تا زه وژغورلم ... که څه هم جاسوس وې، نو ستا حساب کتاب د دوي څخه جلا دی مه وېرېږه ....

د عزیزي په دی خبره مې باور راغلو، عزیزي که هر څومره مکار او خبیث وایې خو خبره یې خبره وه، هغه خپل د خبرې څخه نه پر شا کیدې، خو زما وېره اوس یوازې زما د مرګ نه وه، ما د داسې شیانو د لیدو طاقت نه درلود، د هغوی په هر چیغه باندې زما ساه سینه کې بندیدل او احساس مې کاوه چې هغه ګوزار ما خوړلې ...

عزیزي د هغه کس څنګ ته کوم چې ډېر یې زارۍ کول و درید، د هغه رنګ د ډېر وېرې څخه تک ژیړ شوی وو، عزیزي چې د هغه په څهره نظر ولګید نو پخندا یې سر وخوځاوه او ویې ویل: نچ، نچ نـــر او دومره ډارن؟ هغه خبیث به هم خوشحاله وی چې نفـــران لرم، خبر نه دی چې نفران یې زما د څهرې په لیدو خپل پرتوګونه ژېړوی ...

هغه کس په وېرې او ژړا وویل: خیر دی ... ما خوشی کړې ... ما کوم څه نه دی کړی ... زه مجبور وم ... نور داسې کار نکوم ... خیر دی ...

خو عزيزی بغير له دې چې د هغه خبری ته کوم ارزښت ورکړي زما خواته راوکتل او ويې ويل: تاسو غواړی زه ستاسو سره همکاری وکړم کنه؟
نه پوهېدم د هغه د دې خبرو څخه څه مطلب دی؟ نو ځکه کوم ځواب مې ورنکړ چې هغه په شيطان مسکا وويل: نو څنګه دی خوښه ده چې دا همکاری همدا نن شپه شروع کړو هوم؟

بيا يې د هغه کس خواته اشاره وکړل.
– همدا نن شپه خپل حسن نيت ما ته ثابت کړه برهان ... څومره چې د زړه د خلاص دا کس ووهې هغومره به زه ستا پر همکاری باور وکړم ...

خپل د زړه درزا مې په غوږونو کې اورېده. لاس مې داسې رېږېده چې مجبور شوم موټ يې کړم. عزيزی غوښتل چې زه د دې کس پر وهلو خپل همکاری ثابت کړم. دا کس د الفا نفر و، که هر څومره نيک او صالح وای، بيا هم مجرم و. خدای خبر څومره کسان به يې وژلي وي.

د شموئيل خبره مې ذهن ته راغله، هغه ويل:
– د عزيزی اعتماد تر لاسه کړه... همدا يې لاره ده.

عزيزی خپله راته لاره وښودله. زه بايد يوازې ورباندې لاړ شم او عمل وکړم.
خو... خو زه څه کاره اوسيږم چې مجرم او نامجرم معلوم کړم او سزا ورکړم؟ هغه که هر څومره مجرم اوسي، سزا ورکول يې زما کار نه دی. خو که دا کار ونه کړم، زما اخري لاره هم بندېږي او خدای خبر چې زه به له دې ځايه ژوندی ووځم که نه؟
دا فکر دومره ځواکمن و چې بې اختياره ورمخکې شوم او لين مې کلک پر لاس وپيچاوه. دا ځای د کمزورۍ او ژړا نه و.

زما په ناخاپه مخ ته راتلو او لين نيولو، عزيزی خپل يو وريځ پورته واچول او يو څو قدمه د هغه کس له څوکۍ څخه لېرې شو، لکه چې غوښتل يې دا صحنه له لرې په آرامه او خوند وګوري.

@Shuhab09

هغه کس چې زه یې د لین سره ولیدم، غوښتل یې خوله زاریو ته جوړه کړي خو ما وار ورنکړ او و مې واهه، نه پوهېږم ګوزار مې رښتیا کلک و که هغه کس د دروغو چیغې وهلې، خو داسې چیغې یې وهلې چې زما غوږونه یې راته ګاڼه کړل.

مخامخ ورته په کتلو مې وار نه شو کولای، نو سترګې مې وتړلې او شروع مې ورکړه. نه پوهېږم څو لینونه به مې هغه کس وهلی وي، خو زه عزیزی نه وم. هر څومره مې چې ځان کلک کاوه، بیا مې هم نه شو کولای.

کله چې د هغه کس د درد چیغه مې واورېده، سترګې مې بې اختیاره خلاصې کړې. د هغه پر مخ او مغزي د لین ټپونه وو. راسته سترګه یې هم تک سره شوې وه، داسې ښکارېده لکه یو ګوزار مې چې هلته هم وهلی وي.

داسې ژړل... داسې چیغې یې وهلې چې نور مې طاقت ونشو.

څه مې چې خوړلي وو، ټول مې قی کړل. ټوله معده مې تشه شوه. د قی تریخ بوی مې خوله ډکه کړه. بې اختیاره مې لین لاندې واچوه او یو قدم شاته لاړم.
د عزیزی د خندا غږ او ورپسې د هغه کرار زمزمه مې واورېده:
— همدا دی...

زما خواته رانږدې شو او په هماغه ارامه لهجه یې وویل:
— انسان همداسې عادت کېږي.

غوښتل مې ورته ووایم نور بس دی... غوښتل مې زارۍ وکړم چې نور مې له دې جهنم څخه پرېږدي چې لاړ شم... خو سر مې راباندې دروند شو. هر څه راته دوه، دوه ښکارېدل. احساس مې کاوه نور پر پښو نشم درېدلای.

کوښښ مې وکړ یو څه ونیسم تر څو خپل د غورځېدو مخه ونیسم، خو کوم شی مې لاس ته رانغی او په هماغه یخ کانکریټي سمینټ ولوېدم.

خو د بېهوښه کېدو مخکې مې د عزیزی کرار غږ واورېد چې ویې ویل:
– لا تیار نه دی... اوبه راوړئ...

نه پوهېږم څومره وخت به بېهوښه وم. پر مخ د اوبو د شیندلو سره مې په زور سترګې خلاصې کړې. د څو شېبو لپاره پوه نشوم چې چېرته یم. سر مې سخت درد کاوه او سینه مې داسې وه لکه چا چې ورباندې یوه غټه دبره ایښې وي.

کرار کرار حواس مې راجمع شول او پوه شوم چې د عزیزی د کور په هغه منحوس زیرزمیني کې پر یخ کانکریټي ځمکه پروت یم.

کوښښ مې وکړ ژوره ساه واخلم، خو د قی، وینې او نمجنو دیوالونو بوی چې مې تر پوزې شو، ساه اخیستل مې بند کړل.

په زحمت مې سر پورته کړ. عزیزی مې مخې ته ولاړ و. یو لاس یې په جیب کې و او په بل لاس کې یې نیم سوځېدلی سګرېټ نیولی و. په ارامه نظر یې زما خواته کتل. کله چې زما نظر یې ولید، نو پر دوه پښو زما مخې ته کښیناست او ویې ویل:
– راویښ شوې؟

غږ مې له ستوني ونه شو ایستلای. شاوخوا مې وکتل. هغه دوه کسان لا هم په هماغه چوکیو تړلي وو. یو یې بې‌حاله ځوړند و او نه ښکارېدی چې مړ دی که ژوندی. خو دا بل یې لا هم کرار کرار ساه اخېسته. د هر ساه اخیستلو سره یې د درد نه زګیروي کاوه.لکه چې زما د بېهوښۍ په وخت کې هم عزیزی بې کاره نه و کښیناستلی او خپل زړه یې په دې بدبختانو یخ کړی و.

د هغه حال په لیدو معده مې یو ځل بیا راتوله شوه،عزیزی د سګرېټ څخه یو اوږد کش واخیست او لوګي یې کرار زما پر مخ راخوشې کړ او همغه حال کې کرار وویل:
– ته ډېر کمزوری یې برهان... سم د پیشو په شان. خو پیشو اوسېدل په دې زمانه کې هېڅ ښه نه ده، ځکه سپیان ډېر شوي.

بې له څه ویلو مې ورته وکتل. چې هغه په افسوس سر وخوځاوه.

– لا شپه شروع شوې نه ده او ته بېهوښه شوې...

د هغه خبرې یو ځل بیا د زړه درزا رازیاته کړه. په زحمت مې ځان کش کړ او د دیوال سره مې تکیه وکړه. لاسونه مې لا هم رېږدېدل.

عزیزی زما مخې ته ودرېد. څو شېبې چوپ و. بیا یې سر لږ کوږ کړ او ویې ویل:
– خو خیر، پروا نه لري انسان کرار کرار عادت کېږي.

د دې خبرې وروسته بیا د هغه منحوس میز خواته لاړ او یو بل عجیب، غریب وسیله یې ورڅخه راواخیسته. د هغه لومړي کس خواته ورغی هغه لږ پر هوښ راغلې و، کله چې مخې ته یې ودرېد، نو هغه په نیمه بېهوش حالت کې سر پورته کړ، د عزیزی سترګو ته یې وکتل او په کمزوري غږ یې وویل: لعنت دې پر تا وي، حرام*ی

عزیزی په لوړ غږ وخندل. د هغه د خندا په اورېدو زما اوږې له وېرې وپریدې.
عزیزی- که د هغه خبیث نفر نه وایې، شاید خپل نفرانو کې مې نیولې وایې، زما کلک خلک خوښېږي،داسې کسان ژر نه ماتیږي او نه هم مري. دوی پوهېږي چې څنګه وجنګېږي...

بیا یې زما خواته راوکتل او په افسوس یې سر وخوځاوه:
– د داسې کلک کسانو ماتو یو بل خوند لري برهان، خو ته یې نشې احساس کولای. خیر نن شپه به په همدغه کتلو ګوزاره وکړو ...

غوښتل مې پاڅېږم، خو پښې مې لا هم کمزورې وې. هماغسې کښیناستلو حالت کې عزیزی ته ځیر شوم، چې هغه عجیب وسیله، چې د قیچي پشان وه د هغه کس د ګوتو خواته نږدې کړه او بیا یې د ټوکر پرې کولو پشان د ګوتو پرې کول شروع کړل. د چغو غږ دومره زوروړ و چې زما غوږونه یې کاڼه کړل، خو عزیزی داسې بې

احساسه لګیا و لکه یو قصاب چې خپل حلال شوی قرباني ټوټه کوي، بغیر د رحم او زړه سواندي څخه.

ما یوازې دومره وکولای شول چې خپل سترګې کلکې وتړم، زړه مې غوښتل غوږونه مې هم وتړم، خو دومره توان مې نه و.نه پوهېږم څومره وخت به هغه کس چغې کړې وي، خو کله چې غږونه کرار شول، سترګې مې خلاصي کړې. احساس مې کاوه چې د زړه درزا مې غوږونو کې درب،درب کوی. عزیزی کرار زما خواته راوګرځېد او په خوشحاله لهجه یې وویل: دا خاصیت دی ښه دی، ژر عادت کېږي د یو کار سره.

په بې‌روح نظر مې وروکتل چې هغه خپل سګریټ پر ځمکه وغورځاوه او د بوټ لاندې یې مړ کړ.

عزیزی- د نن لپاره همدومره بس دی، نه غواړم بیا بې هوښه شې.
زما خواته یې لاس ونیو او ویې ویل: راځه چې پورته لاړ شو.

په حیرت مې د هغه را غځېدلي لاس ته وکتل، یعنې بلاخره دا شکنجه پای ته ورسیدل؟ یا که ... که هغوی مړه شول؟ غوښتل مې د هغه کسانو خواته وګورم خو عزیزی داسې زما مخ ته ولاړ و چې ما هغه کسان نشو لیدلې، عزیزی چې زما سرګردان نظر ولید نو داسې حال کې چې زه یې داوړی څخه نیولم تر څو له ځمکې څخه مې راپورته کړی ویې ویل:

— نه دي مړه، دومره اسانه مرګ زه هر چا ته نه ورکوم برهان ... هغوی باید زړه، زړه درد تجربه کړي، زه د هغوی څخه د نورو لپاره د عبرت درس جوړوم، تر څو نور هیڅکله څوک ځانته دا جرئت ورنکړي چې پر ما مربوط کوم شئ خواته لاس اوږد کړی ...

بغیر د څه ویلو مې وروکتل چې عزیزی د ځمکې څخه راپورته کړم او د زیرزمینې څخه یې وویستلم، کله چې د زیرزمیني درنه دروازه مې شاته بنده شوه تازه ساه اخیستل مې په یاد شول، احساس مې کاوه د روح یوه ټوټه مې هغه زیرزمیني کې

له لاسه ورکړې، د سرګردان روح پشان د عزیزی پسې روان وم، هره ګام چې د هغه منحوس زیرزمیني څخه لرې کیدم احساس مې کاوه لکه خپل د ځان څخه چې لرې کیږم، ما نن یو سر عام ظلم نه یوازې په سترګو ولید بلکې په هغه ظلم کې مې ونډه هم واخیستل، ځان راته نجس او ګنهکار ښکاریدی،کله چې پورته سالون ته ورسېدو، د مابۍ رڼاګانې او ښکلا عجیبه راته ښکاریدل ..

هماغه ښکلی سالون وو، هماغه قیمتي غالۍ وی، هماغه لوی کریستالي څراغ وو .. خو اوس دا هر څه راته بې‌معنا ښکارېدل،څو دقیقې مخکې ما د همدې مابۍ لاندې د انسانانو چیغې اورېدلې وې چې په ژوندینې ورڅخه ګوتې پرې کېدل او ټوټه،ټوټه کیدل ...عزیزی بې له دې چې څه ووایي د کوچ پر لور ولاړ او کښیناست. بیا یې خپل د سګریټ د قوطي څخه اخرې سګریټ راوویست او بغیر له دی چې ما ته غږ کړی خپل یې روښانه کړ.

عزیزی تل دومره سګریټ نه واهه، مګر دا چې بیحد غوسه او عصبی وایې، او اوس هم لکه چې عصبی او غوسه و؟ خو د څشي څخه؟ هغه خو خپل زړه یخ کړو هغه کسان یې ټوټه،ټوټه کړل نو بیا ولې عصبی او غوسه دی؟

سر مې ګنګس او پښې مې ناتوان وه،دومره چې بغیر د عزیزی د ویلو کرار،کرار د هغه د مخامخ کوچ خواته نږدی شوم او کښیناستم، لاسونه مې لا هم لړ ریږدېدل،څو شیبې هېچا کوم څه ونه ویل،یوازې د ساعت ټک ټک او د عزیزی د سګریټ لوګي په فضا کې تاوېدې،بیا عزیزی په نیولې او کرار غږ وویل: لومړی ځل سخت وي.
سر مې پورته کړ او ور ومې کتل،هغه زما خواته نه کتل خپل د سګریټ لوګي ته یې سترګي نیولې وه.

عزیزی- خو کرار،کرار عادت کېږی ..

د هغه په خبره مې سترګې وتړل، زه پوهېدم چې د هغه د نن شپې کار د همدی لپاره وو، هغه غوښتل ما د ځان پشان کړې خو ما دا نه غوښت، ما نه غوښتل د هغه په

شان شم، ما نه غوښتل د داسې شیانو سره عادت شم، ما نه غوښتل بې رحم او ظالم شم، غوښتل مې دا خبرې په چغه ورته وکړم خو زما د څه ویلو مخکې عزیزی د دهلیز خواته اشاره وکړه او ویې ویل:

– همدلته په یو کوټه کې ویده شه، فکر نه کوم په دی حالت کې د تلو توان ولری ..

د هغه په دی خبره مې خپل ټول زړه او جرئت راټول کړ او ومې ویل: ن ... نغواړم دلته پاتي شم.

زما په غړ د یوی شیبی لپاره عزیزی سګریټ وهل بند کړل او د سترګو له کونج یې زما خواته راوکتل، چې ما هم مخامخ وروکتل، که څه هم د هغه سترګو ته د مخامخ کتلو جرئت مې نه درلود خو مجبور وم خپل خبره په کلک ورته وکړم، ما داسې دوام نشو ورکولې.

- عزیزی... زه... زه ستا په شان نه یم ..او نه هم غواړم ستا په شان اوسیږم ...

د هغه سترګو کې هېڅ نه ښکاریدل یوازی راکتل او خپل سګریټ یې واهه، احساس مې کاوه خبرې مې پر هغه هېڅ تاثیر نلری، خو بیا هم ناامید نشوم او دوام مې ورکړ.

- زه نغواړم د داسې وحشیانه کړنو سره عادت وکړم، ما غلطي کړی زه دا خبره منم خو ... خو قسم پر خدای ما ستا مرګ نه غوښت، زه د مجبوری څخه دی منحوس ماموریت ته داخل شوم.

د هغه ورځو په یاد راوړلو چې د لیونیانو په شان در په در د اقرا لپاره د ګوردی پسې ګرځیدم، سترګي راته د اوښکو ډکې کړی.

- ما یوازی غوښتل خپل کورنۍ وساتم او اوس .. اوس هم همدا غواړم. د هغه لپاره خپل مرګ ته هم راضی یم خو ..

د عزیزی سترګو ته مې وکتل چې اوس واضح غوسه پکې ښکاریدل او تندی هم تروش کړی و، خو لا هم بغیر د څه ویلو یې سګریټ واهه.

- زه داسې شیان نشم لیدلې، ما شکنجه کړه، ما وواهه ..خو زما مخکې څوک داسې ظالمانه مه شکنجه کوه، که غواړې ما ته عذاب راکړې زر نوری لاری شته ..

چوپ شوم او په منتظر نظر مې د عزیزی خواته وکتل تر څو خپل د خبرو اثر ورباندی وګورم خو هغه په بې احساس لهجه وویل: یعني ومنم چې دومره بیعقل یې چې د یو ګوردی لپاره دی ځان مرګ ته ورکړ؟

ګورده! فکر نه کوم چې ما دی د خبرو وخت کې د ګوردی نوم اخیستی اوسیږی؟ یا ویلې مې وی چې د ګوردی لپاره ماموریت مې ومنلو، نو دی د کوم خوا پوه شوی؟ یعنی بوډا او جنرال دوی ورته ویلي؟ که د ګوردی خبره یې کړی ضرور د هغه پیسو په اړه یې هم ویلي، خپل د خولی لاړې مې تیر کړل او کوښښ مې وکړ داسی خبره وکړم چې د هغه په نظر د رښتیا مجبور راشم نه دا چې ګمان وکړی د پیسو د حرص له لاسه مې ځان مرګ ته اچولی.

- یو .. یو څو روپۍ هم راکړل خو .. خو باور وکړه اصل کې مجبور وم.
عزیزی په پوسخند خپل د سګریټ څخه کش واخیست او سر یې وخوځاوه.
— مجبور ...! څومره دی واخیستي هغه وواېه؟ هوم؟ زما په سر دی څو واخیستي طاهــا؟

دومره ډار مې د برهان د نوم په اوریدو نه درلود څومره چې خپل د نوم په اوریدو مې احساس کړ.

- ج .. جنرال هر څه ټاکلې وه ما یوازی یو ..یوه ګورده غوښتل، خو هغه س .. سل لک افغانۍ هم راسره ومنل.

کله چې د سل لک افغانیو نوم مې واخیست نو د عزیزی د کتلو رنګ بدل شو، دومره په بې احساس توګه یې راوکتل چې ما په تلوار وویل: ما .. ما هغه پیسي نه دی مصرف کړی باور وکړه، ما یوازی یوه ګورده او شل لک افغانۍ مصرف کړی، نور یوه روپي ته مې لا لاس نه دی وهلې، که ... که ته غواړی زه درته نه یوازی هغه اتیا لک افغانۍ درکوم بلکی کار کوم پوره سل لک درکوم او ستا طلا هم درکوم بس... بس ما په کرار پرېږده... ته او .. او الفا دواړه لاړ شې ...

د دی خبری د خلاصیدو وروسته دعا، دعا مې کول چې عزیزی راسره موافقت وکړی او زما د سر لاس واخلې خو هغه بغیر د څه ویلو په ځېر نظر راوکتل او خپل د سګریټ څخه یې کش واخیست،څو شیبې همغسې ناست و بیا یې خپل سر په کوچ باندی تکیه کړ او کرار یې وویل: لاړ شه ویده شه.

بس همدومره، زما د هغه دومره خبرو او زاریو ځواب همدا یوه کلمه وه "لاړ شه ویده شه" خوله مې خلاصه کړه چې یو څه نور زاری هم وکړم چې شاید خدای په زړه کې رحم واچوی خو زما د خولی خلاصولو مخکې عزیزی په لوړ غږ د اشرف نوم واخیست، د هغه د نوم اخیستلو سره سم اشرف لکه پیری پشان د دهلیز څخه راښکاره شو. داسې ښکارېده لکه له مخکې نه چې هلته په تمه ولاړ و.

اشرف- امر کوی مشره.
عزیزی بغیر له دی چې خپل سترګي خلاصي کړی کرار زمزمه کړل:
— برهان د میلمنو کوټې ته ویسه غواړی ویده شې.
اشرف- په سترګو مشره.

بیا یې زما خواته راوکتل تر څو ورسره روان شم، خو ما لا هم په هیله مند نظر د عزیزی خواته کتل، خو د څو شیبو وروسته چې لا هم هغه خپل سترګي خلاصی نکړی، په نامیدی له کوچ پاسیدم، عزیزی خپل د خبری څخه نه پر شا کیدی کله چې ویل یې لاړ شه ویده شه،مطلب دا بحث خلاص دی او لاړ شه .. د هغه دا چوپتیا یوه

معنا درلود دا چې: هغه کار به ته کوی کوم چې زه وایم او ستا خبره ما ته د یو روپۍ ارزښت هم نلري.

اشرف مخکې شو او زه ورپسې روان شوم، د سالون څخه تر وتلو امید مې درلود چې عزیزی به شاید غږ وکړي او وبه وایې چې صحیح دی پیسي راوړه او ته خلاص یې خو نه .. هغه غږ ونکړ او موږ د سالون څخه ووتلو، اشرف د یو کوټې دروازه زما لپاره خلاصه کړه او خپل روان شو ..

د هغه د تلو وروسته په سترې او خسته ګامونو کوټې ته ننوتلم،یوه لویه خو ساده کوټه وه. یو ساده پالنګ، میز، دوه څوکۍ او یو کړکۍ چې د باغ خواته خلاصه وه،څو شیبې هماغسې ولاړ وم. بیا کرار د کټ خواته نږدی شوم او ورباندی څملیدم، که څه هم نن درسته ورځ مې خوب کړی و خو بیا هم سر مې ګنګس و او خوب راتلو خو د څو شیبو مخکې پیښو خوب ته نه پریښودلم، همدا چې سترګې به مې پټې کړې نو د هغه کسانو چیغي ... د ځنځیرونو کشیدل ..د وینو او نمجن دیوالونو بوی داسې به مې تر سترګو کیدل ته وا لا هم هملته یم ...

په تلوار مې سترګې خلاصې کړې، زړه مې بیحد تیز درزیدی، د خلاصي کړکۍ خواته مې وکتل د باندی باغ ارام و د مابۍ د څراغونو رڼا پر درختو لګېدل او فضا داسې ښکاریده لکه هېڅ بد شی چې دلته نه وي پیښ شوی او دا یو ډېر ارام او ښکلی ماحول دی ..خو زه پوهېدم، چې د دی ظاهری ښکلا او ارمښت شاته څنګه یو وحشتناک نړۍ پټه ده، یو داسې نړۍ چې د انسان مرګ او ژوند پکې د یو حیوان اندازه لا ارزښت نلري، په همدی فکرونو کې وم چې ناڅاپه احساس مې کړل ګوته کې مې ګوتمۍ ګرم شول.

په حیرت مې خپل لاس ته وکتل، د غمۍ رنګ د شین څخه فیروزی ته اوښتي وو، دا نو ولی داسې شو؟ شموئیل یوازی درې رنګ یاد کړی وه، نه یې د ګرمیدو په اړه ویلې وه نه هم دا رنګ، نو ولې اوس ګرم شو او ولې فیروزی ځلا کوی؟ غوښتل مې ګوتمۍ له ګوته وباسم چې ناڅاپه یو اشنا غږ وویل:

— تاسو انسانان پخپل ځان لا رحم نلرئ ...

په تلوار مې سر پورته کړ، د کړکۍ څنګ ته د دیوال سره تکیه وهلې ولاړ .
په لیدو یې بې اختیاره مې تندی تروش شو، لکه چې دا نن ورځ منحوس ورځ وه!
شروع یې د جنرال څخه وشول بیا د عزیزي لیونتوب او اوس هم دی ..
په غوسه مې وویل: د څه لپاره راغلې یې؟ څه غواړې؟

— د احساس ګوتمۍ، شموئیل درکړې؟

د هغه نظر زما په لاس باندې ښخ و، خپل لاس مې موټ کړ تر څو ګوتمۍ وه نه ګورې، په دې کار نظر یې د ګوتمۍ څخه زما د سترګو خواته راغی .

- وایم د څه لپاره راغلې یې؟
زقوم- مرسته .
بې اختیاره مې وخندل.
- مرسته؟ ته او مرسته؟ باور وکړه هېڅ ښه وخت دی د ټوکو کولو لپاره نه دی ټاکلې زقوم .. نن په کافي انداز مې عصاب خراب دي نو مهرباني وکړه او لاړ شه ...

زقوم- یعنې مرسته نغواړې؟
- نه، زه ستا څخه هېڅ ډول مرسته نغواړم یوازې خپل شر کم کړه او لاړ شه ...

هغه خپل تکیه د دیوال څخه واخیسته او یو دوه ګام رانږدې شو، همغه تور اوږده چپنه یې اغوستې وه.
زقوم- مه وېرېږه، بدل کې کوم شئ درڅخه نغواړم، ملګرې دې ډېر سخي دی د وخت یې بیه ادا کړې ..

بې اختیاره مې وویل: شموئیل؟
زقوم- هو.

په ذهن کې مې یوازې یوه پوښتنه ګرځېده: شموئیل بیا ولې له ده سره معامله کړې؟

- څه بیه یې درکړې؟

زقوم لږ سر کوږ کړ، لکه زما پوښتنه چې ورته خوندوره ښکاره شوې وي. بیا یې په شیطنت وویل: هغه نو زموږ ترمنځ خبره وه.
په پوسخند مې وویل:فکر نه کوم ستاسو ترمنځ خبره دې پاتې شي، ځکه هغه بل ځل هم معامله تاسو کړې وه، خو اخر کې زور زما څخه وویستل شو. خپل کارونه دې هېر شول؟

زقوم په خندا وویل: هغه وار د هغه وار سره لاړ. اوس نوې ورځ ده او نوې معامله. مه وېرېږه، ستا سره نور کار نه لرم. اوس ووایه، مرسته غواړې که نه؟
لږ مې فکر وکړ. شموئیل هسې هم ورسره معامله کړې وه او بیه یې ورکړې وه، نو زما منع کول څه ګټه لرله؟ په همدې فکر مې وپوښتل: څه مرسته کولای شې؟

زقوم یو قدم نور هم رانږدې شو، زما سترګو ته یې وکتل او ویې ویل: زه کولی شم د نن شپې پېښه ستا له ذهنه پاکه کړم.
یوه لحظه چوپتیا شوه.

- څه دې وویل؟

زقوم- زه کولی شم د نن شپې د هغو کسانو چیغې، وینې، زارۍ او ژړاوې ټولې ستا له ذهنه پاکې کړم. البته په بشپړه توګه یې نشم پاکولای، خو کولای شم داسې یې درته بدل کړم لکه یو مبهم تصور... داسې چې ته فکر وکړې دا هسې یو خوب او خیال و.

- څنګه غواړې دا کار وکړې؟
زقوم په پوسخند وویل: دومره ژر دې هېر شول؟ دا زما له ورو ورتیاوو څخه ده. زه کولی شم د یو کس له ذهنه یادونه لرې کړم، یا یې ګډوډ کړم. دروغ حقیقت وګرځوم

او حقیقت دروغ.
بیا یې په شیطنت وویل: ما یو ځل مخکې هم دا کار ستا لپاره کړی و.

په حیرت مې وویل: زما لپاره؟ کله؟

زقوم په افسوس سر وخوځاوه او ویې ویل: تر اوسه مې فکر کاوه چې ساده یې، خو اوس پوه شوم ته بیعقل یې، طاها... نه ساده.

په غوسه مې وروکتل چې هغه په خندا وویل: حق خبره باید وشي، مه خفه کېږه. خو ته ایا دومره هم فکر نه لرې چې عزیزی ولې له تا پوښتنه ونه کړه چې هغه وروستي وخت کې ته څنګه ناڅاپه غیب شوې؟ تر اوسه دې د عزیزی خبرو ته پام نه دی شوی؟ هغه فکر کوي ته د هغه تر څنګ زخمي پروت وې، او پولیس راغلل او تاسو یې وژغورلې ..

بیا یې په شیطاني خندا وویل: هغه نه پوهېږي چې ما تا له هغه ځایه وتښتولې. ما د هغه فکر او خیال ګډوډ کړ.

د زقوم په دې خبره ناڅاپه د عزیزی د هغې خبرې په مطلب پوه شوم چې ویل یې: "ستا حساب له دوی څخه جلا دی، ځکه که ته هم جاسوس وې، خو زه دې وژغورلم."

په هماغه حیرت مې د زقوم خواته وکتل او ومې ویل: نو ولې دې د هغه فکر بدل کړ؟

زقوم په بې‌پروایي اوږه پورته واچوله او ویې ویل: لومړی خو د فکرونو ګډوډول او توهم اچول زما هنر دی، نو ما هم ترې خوند واخیست. دویم دا چې زه ستا د ملګري په شان نه د کومې قبیلې مشر یم او نه کوم څوک شاته لرم چې ساتنه مې وکړي. نو ځکه مې خپل راتګ پټ کړ، تر خو ستا د ملګري دښمنان زما پسې نه شي. زما لپاره خپل ژوند ډېر ارزښت لري. نه غواړم ستا یا د بل چا په خاطر مړ شم.

يعنې دا لومړی ځل و چې يو کار زما په ګټه پای ته رسېدلی و.

زقوم د نورو پيريانو له وېرې خپل راتګ او زما سره مرسته پټه کړې وه، خو د هغه همدې کار سبب شوی و چې د عزيزی په نظر کې زه يو وفادار کس ښکاره شم،داسې ځوک چې خپل ژوند يې د هغه لپاره په خطر کې اچولی و او نږدې و چې د الفا له خوا ووژل شم.بې‌اختياره مې خندا راغله.هغه خلک چې وايي: «له شره خير راوزي»، اوس يې مانا راته معلومه شوه. د زقوم له شره هم زما لپاره خير راپيدا شوی و.

زما په خندا زقوم خپل وريځه په حيرت پورته واچول او ويې ويل: اوس مرسته غواړې که نه؟

که ووايم د هغه د وړانديز په مقابل کې وسوسه شوم، نو دروغ به نه وي. خو په زقوم باور کول راته اسانه نه و. هغه يو ځل زه خطا ويستلی وم، نو امکان يې درلود بيا هم دا کار وکړي.په ځير مې د هغه شيطاني نظر ته وکتل او ومې ويل: د باور وړ نه يې. خدای خبر په دې کار کې دې بيا څه پلان دی؟

زقوم په خندا وويل: ملامت نه يې. د هغه د احساس ګوتمۍ دې پر ګوته کړې ده، نو ضرور به د هغه په شان شکمن او بدګمان کېږې.

د هغه په خبره مې خپل لاس ته وکتل. ګوتمۍ لا هم فيروزي ځلا کول.

زقوم- ما درته د مرستې وويل نور ستا زړه که مني که نه. او هو دومره فکر مه کوه. دا فيروزي ځلا هغه وخت کوي کله چې ستا شاوخوا کوم پيری وي.

په حيرت مې ور وکتل.
- پيری؟ خو کله چې شموئيل راکړه، ځلا يې ونه کړه، حال دا چې هغه هلته و.

زقوم څو شېبې په ځير راته وکتل، بيا يې وويل: دا د هغه د ګوتمۍ برخه ده. د شموئيل حضور نه ښکاره کوي، خو نور پيريان چې درته نږدې شي نو دا د خبرتيا په

توګه رنګ بدلوي. دا ګوتمۍ ډېر ارزښت لري. نه پوهېږم شموئیل په کوم دلیل تا ته درکړې؟

په ګنګس انداز مې وویل: څنګه ارزښت لري؟

زقوم په مکرجنه موسکا وویل: څه راکوې چې درته ووایم؟
- څه مطلب، څه راکوې؟

زقوم- مطلب دا چې زه مفت نه د چا لپاره کار کوم او نه هم معلومات ورکوم...

ما تر اوسه دومره مطلب‌اشنا کس نه و لیدلی. البته فکر مې کاوه جنرال ډېر مطلب‌اشنا دی، خو اوس چې زقوم ته ګورم هغه راته ډېر هم ښه ښکاري.

- څه غواړې؟

زقوم په فکرمند انداز چوپ شو، لکه چې د غوښتلو شیانو په اړه یې فکر کاوه. خو ناڅاپه یې خندا له شونډو ورکه شوه او په تروش تندي یې وویل: نه... زه ستا سره کومه معامله نه کوم. د هغه عصاب خراب ملګري د جنګ حوصله دې نه لرم. اوس وایه، مرسته غواړې که نه؟

غوښتل مې ووایم چې د همدې ګوتمۍ په اړه معلومات راکړه، خو لا مې خوله نه وه خلاصه کړې چې هغه وویل: د ګوتمۍ په اړه معلومات نه درکوم، د جنجال حوصله نه لرم. یوازې دومره مرسته کولای شم چې د نن شپې دا ټولې پېښې ستا په ذهن کې داسې تصور کړم لکه هېڅکله چې نه وي پېښې شوې.

بیا یې خپل لاس زما خواته را اوږد کړ.
— که غواړې، لاس دې راکړه.

د هغه را غځېدلي لاس ته مې وکتل او یو ځل بیا مې په ذهن کې د زیرزمیني چیغې، ژړا، وینه، زارۍ او د عزیزی لخوا د هغه کس د ګوتې پرې کېدل د سترګو مخې ته

راژوندي شول. بې اختیاره مې سترګې پټې کړې.

چې زقوم په وسوسه کوونکي لهجه کرار وویل: بیا به ارام خوب وکړې طاها .. او کله چې سبا راویښ شې، یوازې به دا خبره دې یاد کې وی چې دلته مېلمه وی ..

سترګې مې خلاصې کړې.
- او قیمت یې؟

زقوم په بې‌حوصله لهجه وویل: هېڅ. ومې ویل کنه، بیه یې د وخت ادا شوې، اوس غواړې که نه؟

د خلاصي کړکۍ خواته مې وکتل. باد د ونو پاڼې کرار خوځولې، ماحول بیحد ارام و، داسې لکه هېڅ شی چې نه وي پېښ شوی خو زه د دوو شیانو تر منځ ولاړ وم؛ یاد او هېرول ...

یاد... چې درد لري...
او هېرول چې شاید قیمت ولري ...!؟

زقوم- ښه نو څه پرېکړه دې وکړل؟

د هغه د مکار څهرې خواته مې وکتل، که څه هم ورانديز يې ډېر ښه و خو د شيطان له خولې د جنت زېرې اصل کې د دوزخ په معنا دی! دا پيښه شايد د عمر تر پايه ما ته عذاب وګرځي خو د درد هيرول او تيښته کول هغه درد څو چنده کوی، د يو مصيبت او ستونزی څخه خلاصون دا نه دی چې هغه ستونزه هيره کړو، بلکې خلاصون يې دا دې چې هغه ستونزه ومنو او مقابله يې وکړو، زه تل په تيښته کې وم او همدا تيښتې زه تل د يو مصيبت څخه بل مصيبت ته اچولم، خو دا ځل غوارم مقابله وکړم که څه هم پوهېږم سخت او دردونکې به وی خو هېرول زما کوم درد نه دوا کوی، په دی فکر په کلک لهجه مې وويل: نـــــه ...

***

يوه مياشت د هغه منحوسې شپې څخه تېرېدل، په دې يوه مياشت کې ډېر شيان زما ژوند کې بدل شوی وه، لکه تر ټولو لومړی ما د ذوالفقار له کوره خپل سامان راټول او خپل کور ته کډه کړی وه، که څه هم ذوالفقار اجازه نه راکوله، خو زه نور هلته نشوم پاتې کېدلای، که څه هم ذوالفقار او د هغه ښځې بيحد ښه چلند زموږ .. سره درلود خو ما ځان هلته مزاحم احساسو

کله چې ذوالفقار ته مې د تلو وويل نو هغه سخت غوسه شو، او د تل پشان د غوسه کيدلو وخت کې ګواښونه شروع کړل او نږدې و راباندې لاس هم پورته کړي، خو ځان يې ونيو، خو په مرورتيا او خبرو نه کولو يې خپل نارضايتي بيان کړل.

خو دا مرورتيا اوږده نه شوه. په دويمه هفته پخپله زما کور ته راغلو البته په دی بهانه چې "د محمد ليدو ته راغلې يم نه ستا" که څه هم ټوله شپه يې ما ته په تروش تندی او بد،بد نظر راوکتل خو همدا چې راغلی و زما لپاره بس و.

بل لوی بدلون په دی یوه میاشت کې دا و چې ما د عزیزی په دفتر کې کار شروع کړ، او د جنرال او بوډا سره مې تګ راتګ بند کړ. البته د هغوی سره تګ،راتګ مې د عزیزی په خبره بند کړ، ځکه چې هغه ویل: زه درسره په دی شرط مرسته کوم او ستا کورنۍ د الفا څخه خوندی ساتم چې ته به نور زما سره کار کوی او د جنرال او بوډا سره به نور نه وینې، یعنې په شفر،شفر کې یوه کړم چې نور به د دولت خواته هیڅکله نه ځم او ما هم ومنله، بله چاره مې نه درلوده.

که د جنرال،بوډا یا د دولت څخه ما ته کوم خیر رارسیدي نو د عزیزی همکاری ته به خبره نه واې رسیدلی ..اوس چې خبره تر دی ځای رارسیدلی نو مجبور یوازی د همده خوا ونیسم که څه هم چندان ښه انسان نه ښکاریدی ...

اوس نږدې یوه میاشت کېږي چې د عزیزی په شرکت کې کار کوم،خو دا کار د هغه څو میاشتو مخکی د ماموریت د کار په شان نه دی، باید ووایم چې اوس تقریباً کاریګري کوم نه کار .. ځکه عزیزی ماته د صفاکارۍ او چای جوړولو دنده راکړې ده. حتی معاش یې هم راته ټاکلی دی، د میاشتې لس زره افغانۍ ..

خو باید ووایم چې د هغه ټول وحشت، وېرې او استرس وروسته دا یوه میاشت زما د ژوند تر ټولو آرامه میاشت وه. عزیزی د هغه شپې وروسته له ما سره کوم خاص کار نه درلود، نه یې راسره خبرې کولې، نه یې کوم غیر قانوني او غیر اخلاقي کار راباندی کاوه او نه یې هم د ځان سره چیرته وړلم. سهار په شپږ بجو د ټولو کسانو څخه مخکې شرکت ته راتلم او مازدیګر په پنځه بجو بېرته تللم. نه کوم بې ځایه امر و، نه د الفا د کسانو کوم مشکوک حرکت او تعقیب وو، او نه هم کوم سخت کار.

البته فکر کوم عزیزی خپل په ګمان غوښتل چې د صفاکارۍ په کار راکولو ما پعذاب کړې، خو هغه نه پوهېده چې زه د داسې کارونو سره عادت یم.یو وخت مې په یو خراب هوټل کې د ګارسوني کار کاوه لوښي مې مینځل، میزونه مې پاکول حتا هوټل مې جارو کاوه هغه هم داسې هوټل چې د کثافاتو بوی به تر کوڅې پورې رسېده. دا خو لا د موټرو لوکس شرکت و. داسې ښکارېده لکه یو پنچ ستاره هوټل.

شرکت پخپل منظم او پاک و، موټرونه دومره پاک وه چې ما فکر کاوه تازه یې د فابریکي راویستلې دی، که څه هم د موټرانو په ماډلو مې سر نه خلاصیدي خو دومره پوهېدم چې هر دانه یې د یو عادي کس د ټول ژوند د درآمد او عاید څخه ډېر قیمت لری. دا هم د خدای نظام دی یو چا ته دومره ورکوی چې نه پوهیږي څنګه یې مصرف کړی؟ خو بل کس ته د ماښام د ډوډۍ لا نه ورکوی، عجیب وه راته چې د ورځې لسګونه کسان د همدی موټرونو د اخیستلو پسي راتلل چې د هغه په پیسو یې کولای شول د سلګونو غریبانانو ژوند بدل کړی، خو نه یې بدل کاوه ...

زما کار ډېر ساده او آسانه و. سهار به مې چای تیاراوه، د شرکت سپین کاشي شوی ځمکه به مې پاکول او کله ناکله به مې د موټرو پر سر یو نرم دسمال هم کش کاوه تر څو دوړې پرې پاتې نه شي. خو په حقیقت کې چندان دوړې هم نه وه، ځکه دا موټرونه اکثره وخت دومره پاک ساتل کېدل چې یوازې په هفته کې یو ځل دسمال ورباندې کش کول بس و، نو مطلب زما ډېر وخت په بیکاری او شرکت کې په هسې کتلو او همچنان هر لس دقیقي او نیم ساعت وروسته عزیزی ته په چای ورلو تېرېدی ...

نن هم د دې یو میاشت د عادت مطابق د ټولو څخه وختې راغلې وم، د شرکت دروازه مې خلاصه کړه او دننه شوم، په سالون کې هیڅ څوک نه وو، یوازې د څراغونو رڼا پر موټرو لګېده او هغه یې لا پرقول، سم د یو مغازی د ښیښو شاته د قیمتي کالیو پشان.

جارو مې راواخیست او سر،سری مې د سالون منځ جارو کړو، د جارو خلاصیدو وروسته د آشپزخاني خواته ولاړم، زما کار اشپزخانه کې یوازی د چای تیارول وه، اشپزی لپاره یې جلا کس درلود چې یو بوډا، مهربانه او بیحـــد ګپاو انسان و، یعنې دومره خبری کول چې حد یې نه درلود.

ما زیاتر وخت په دروغو یو بهانه ورته راوړل او ځان مې ورڅخه خلاصوه، یو ځل به چې شروع شو نو د چوپ کیدو نوم به یې نه اخیست د سیاست څخه نیولې،

@Shuhab09

اقتصاد،جهاد، د افغانستان حالات، نړیوال بازار، تاریخ، جغرافیه،زراعت،مالداری خلاصه همه کاره و، په هر برخه کې یو سر ریښته او خبره د ویلو لپاره درلود، که څه هم خبری زیاتر وخت ما ته جالب وه خو دومره هم نه وې چې وغواړم نیم ورځ ورته غوږ ونیسم ..

نو ځکه تل مې خپل چای وخت تیاروه او کوښښ مې کاوه ډېر د اشپزخانې خواته رانشم، خو له بلخوا زړه مې هم ورباندی سوځیدی، بیچاره یوازی وو، هم په شرکت کې چا ورسره خبری نه کول او هم په کور کې د خبرو کس یې نه درلود، یو دې وو یوه یې بوډۍ ښځه، اولاد یې نه درلود ویل یې مشکل په ما کې و او اولاد مې نه کیدی ښځه ته مې اختیار ورکړ چې ځې که راسره پاتې کیږی؟ ښځې یې ویلې وه پښتنو کې چا میړه خوشې کړی؟ بی اولاد هم درسره یم،

تل د دی خبری په کولو یې په افسوس سر خوځاوه او ویل یې موږ نران ډېر بې وفا یو که خبر شو ستونزه زموږ په ښځه کیده، نو که د نړۍ غریب ترین سړی هم اوسیږو اسمان ځمکې ته راوړو او خپل ځان مرګ ته ورکوو خو دویم واده کوو، خو ښځې داسې نه دې، ما هم په دی یوه میاشت کې لږ خپل د ژوند په اړه ورته ویلې وه، کله چې دا خبره مې ورته وکړل چې ښځې مې ګورده عملیات کړی او د عملیات وروسته ډاکټرانو راته وویل چې شاید نور مو ماشوم ونشې، نو بیحد خفه شو خو له دی چې یو زوی لرم شکرونه یې وویستل او نصیحتونه یې راته شروع کړل، چې خپل د ښځې سره ښه رفتار کوه او بل واده مه کوه او دا یو زوی درته بس دی خدای دی همدا درته نیک او صالح کړی ...

د هغه د خبرو په یاد راوړلو مې پخندا سر وخوځاوه او ګاز مې روښانه کړ، د اوبو شور کرار،کرار پورته شو.

لا مې چای نه و تیار کړی چې د شرکت د حویلۍ څخه مې د موټر غږ واورید، یوازیني کس چې حق درلود خپل موټر د شرکت حویلي ته رانباسي هغه عزیزی وو. په دی فکر لږ مې د اشپزخانې څخه سر وباسه او د شیشه یې کړکۍ څخه مې بیرون

خواته وکتل، د موټر څخه ښکته شو او اشرف ته یې یو څه وویل، اشرف هم د سر په خوځولو موټر ته پورته شو او عزیزی د شرکت خواته راروان شو، د هغه په راتلو په تلوار بیرته اشپزخاني ته ننوتلم، هغه دومره وختي شرکت ته نه راتلو، څه شوی چې نن دومره وخت راغلې؟

د هغه د قدمو غږ مې په سالون کې واورید او ځان مې نور هم د ګاز خواته نږدی کړو، د هغه شپې وروسته د عزیزی څخه مې ویره زر چنده شوی وه، تل مې کوښښ کاوه د سترګو څخه یې لرې اوسیږم، نه یوازی زه بلکې شرکت کې موجود ټول کاریګرانو کوښښ کاوه د هغه د نظر څخه پناه اوسیږی، کله به چې شرکت ته راننوتلو نو ټول کارکوونکي به ګونګیان کیدل او اضافه خبره به یې نه کول، هر چا کوښښ کاوه چې د هغه مخې ته کومه تېروتنه ونه کړي.

په تلوار مې د چای پیالي برابر کړل، دا یوه میاشت کې د هغه په اخلاقو پوه شوی وم، کله به چې شرکت ته راننوتو نو لومړۍ جمله به یې تل همدا وه:

– برهـــان، زما دفتر ته یو پیاله چای راوړه ...

او همداسې هم وشول. د آشپزخانې مخې ته د هغه قدمونه کرار شول، بیا د هغه دروند غږ راغی چې په کرار یې وویل:

– زما دفتر ته یو پیاله چای راوړه.

د دې خبرې سره سم روان شو، زما د ځواب په تمه هم نه شو. ما هم د ګاز لمبه لږه کمه کړه او ترموز مې د چایو ډک کړ. وچ چای مې هم لږ زیات ور واچول تر څو سم زدنې تریخ شین چای جوړ شي، ځکه د عالي جناب عزیزی صاحب صاف چای نه خوښیده.

یعنې دومره مې د هغه ماموریت پر وخت د ده څخه بد نه راتلو، څومره چې اوس مې ورڅخه بد راځې، یواځې دعا، دعا مې کوله چې هغه منحوس الفا ونیول شي یا

مړ شي تر څو زما لپاره لاره خلاصه شي او له دې جهنمه وتښتم.

دوه پيالې مې راواخيستې خو بيا مې يوه بېرته الماري کې کېښوده. عزيزی تل يوازې چای څښلو. يوه پياله، ترموز او يو کوچنی قاب کې مې څو چاکليټونه کېښودل او د آشپزخانې څخه راووتلم، يو څو کارکوونکي تازه راغلي وو. د تېرېدو پر وخت مې ورسره سلام عليک وکړ او د عزيزی د دفتر خواته مې قدم واخيست.

د هغه دفتر په دويم منزل کې و. کله چې هلته ورسېدم، منشئ لا نه و راغلی. د دروازې مخې ته چې ودرېدم، د يوې شېبې لپاره تم شوم، ځکه د دننه څخه د موبايل د خبرو غږ راتلو،عزيزی خبرې کولې، غږ يې ټيټ و، خو غوسه پکې ښکاره وه.

— نه ... ما درته وويل چې دا کار بايد همدا هفته خلاص شي.
يو څو ثانيې چوپتيا شوه، بيا يې وويل: د پيسو ستونزه نشته، ستونزه دا ده چې څوک بايد خبر نه شي.

زما د زړه درزا لږ تېزه شوه،بې اختياره مې غوږ لږ د دروازې خواته نږدې کړ.
بيا يې وويل: زه خپل موټر دراستوم، ته يواځې هغه راضي کړه. هر څومره پيسې چې غواړي ورکړه، يواځې سبا سهار زه *** همدلته غواړم.
هغه يو نوم هم واخيست، خو ما سم وانهورېد.

بيا يې وويل: که دا کار خراب شو، بيا زه پوهېږم او ته. که خپل ځان درباندې ګران وي، کار سم وکړه.

بيا څو شېبې چوپتيا شوه. ما خپل ځان نور هم د دروازې خواته کش کړ تر څو د هغه غږ ښه واضح واورم، چې ناڅاپه دروازه خلاصه شوه ..
دومره ناڅاپه خلاصه شوه چې نږدې و د پتونس سره د دفتر منځ ته وغورځېږم، خو په زور مې ځان ونيوه. سترګې مې له حيرت پراخې شوې، عزيزی مخامخ داسې حال کې چې لا هم موبايل يې پر غوږ و زما و مخ ته ودرېد.

ما څه کړي وو؟

ما د جاسوسانو په شان د هغه خبرو ته غوږ نیولی و.

زه څومره بې عقله یم. د عزیزی د دفتر شاوخوا ټول ځای په کمرو ډک و، زه څنګه داسې بې غمه دلته ولاړ وم او غوږ مې نیولی و؟

عزیزی د میز خواته اشاره وکړه چې پتونس هلته کېږدم، زړه مې په یو سلواتیا کې درزېدي په لړزانده ګامونو د هغه د میز خواته ورنږدې شوم.

هغه هم د دفتر دروازه بنده کړه،د دروازې په بندېدو مې نفس سینه کې بند شو.

عزیزی د موبایل شاته د سمده پر ویلو موبایل بند کړ او خپل د میز خواته راغی. څو شیبې زما تر څنګ ودرېد. ما د ډېرې وېرې څخه نفس هم نه اخیسته.

بیا کرار زما له څنګ تېر شو او خپل په څوکۍ کښېناست.

د هغه په لېرې کېدو لږ پر ځان پوه شوم. په تلوار مې پتونس پر میز کېښود او غوښتل مې له کوټې ووځم، چې هغه وویل:

ــ چای واچوه.

د خولې لاړې مې په وېره تېرې کړې، خو بې له څه ویلو مې ترموز راوخیست او د چای پیاله مې ډکه کړه. لاسونه مې لړزېدل،هره شیبه په تمه وم چې هغه به خپل پوښتنې شروع کړي او وبه وایي چې ولې مې د دروازې شاته د هغه خبرو ته غوږ نیولی و.

خو عزیزی هېڅ ونه ویل،یواځې په دروند نظر راکتل،په ډېر مشکل مې پیاله ډکه کړه او د هغه مخې ته مې کېښوده. هغه زما لړزانده لاس ته وکتل، بیا یې زما سترګو ته راوکتل.ما په تلوار خپل نظر ترې واړاوه او په عاجزانه لهجه مې وویل:

- کوم بل کار خو نه لرئ؟ ز ... زه لاړ شم؟

عزيزی د چای پياله پورته کړه، همغسې سری يو غوړپ ورځخه وکړ، بيا يې په ځير نظر راوکتل،د شونډې کونج يې د موسکا په انداز لږ پورته شوه.

— ورځه ... خو بل ځل د دروازې شاته ډېر ونه درېږې ..

يعنې دا خبره شايد د هغه له خولې کامل نه وه راوتې، چې زه لکه د جيټې طياري په شان د هغه د دفتر څخه ووتلم، د دفتر دروازه مې چې شاته بنده کړه، تازه ساه اخيستل مې په ياد شول، وژغورل شوم؟ باور مې نه راتلو عزيزی هېڅ راته ونه ويل، يوازی خبرداری راکړو چې بل ځل داسې کار ونه کړم ..

د څو شيبو وروسته چې ساه مې لږ ځاې ته راغلل ځان مې راټول کړ، نيم نظر مې د سالون کونج کې کمرې ته واچو او روان شوم، يوازينې ځای چې کمره نه درلود هغه زينې وه هملته د زينو سره کښيناستم خپل په مخ مې لاس تېر کړ، مرګ مې د يو قدمې څخه تېر شوی وو، څومره جاهلانه کار مې کړی و، د دی لځايه چې د هغه اعتماد تر لاسه کړم داسې کار مې کړی و چې هغه مې لا پر ځان مشکوک کړې وو.

خپل سر مې يو دوه ځل وواهه، خاوری دی زما په سر شې دا نو څه کار و چې ما وکړ؟ څو شيبې نور هم هلته کښيناستم او ځانته مې بد رد وويل د هغه وروسته بيرته لاندی سالون خواته روان شوم، خو ټوله ورځ دا خبره مې ذهن کې ګرځيدل چې عزيزی د چا پسې موټر استوی؟ څوک بايد راضي شې؟ موضوع اخر څه ده؟ خو هر څومره چې مې فکر وکړ هېڅ نتيجې ته ونه رسيدم.

نن بيا زما د بد شانس څخه غفور کاکا آشپز) هم نه و راغلې چې د هغه سره په خبرو کولو دا موضوع لږ له ذهن وباسم، نه پوهېږم څه ستونزه يې درلود چې نه و راغلې، د غرمې وخت کې کارکونکو د دباندی هوټل څخه ځانته ډوډۍ راوغوښتل، زما کوم شئ زړه نه غوښت ځان سره مې ووېل لومړۍ به لمونځ وکړم بيا به چای دم کړم او د هغه وروسته لاړ به شم يو شې به ځانته واخلم. په دی فکر د سالون اخر کونج کې مې جای نماز کوم چې غفور کاکا د ځان لپاره راوړی و هوار کړ.

او پر لمانځه و دریدم د لمونځ خلاصیدو وروسته ناست وم دعا مې کول، البته د دعا څخه ډېر ښېرا می کول چې خدای دا منحوس، خبیث الفا زما د ژوند لری کړی، ما د دی مصیب وژغوری، ما ته د نیکي هدایت وکړی او د هر ډول شر او فساد څخه مې په امان کې وساتي او ..

– پنځه دقیقو کېدی لمونځ خلاص کړ، خو نیم ساعت کېدی دعا نه خلاصیږی؟

د عزیزی په غږ اوږی مې له وېرې وپرېدل او په تلوار مې مخ وروګرځو، داسې حال کې چې خپل یو لاس یې جیب کې اچولې و زما شاته ولاړ و، په تلوار مې جای نماز ټول کړ او مخ ته یې ودرېدم، د هغه دلته داسې ناڅاپه شتون یوازی یوه خبره را په زړه کول .. کور دی خراب شو طاها راغلې د نن سهار پوښتنه درڅخه وکړی چې ولې د هغه د دفتر د دروازی شاته ولاړ وم؟

عزیزی- زه وږی یم ...

د هغه په دی خبره په ګنګس انداز مې وروکتل چې هغه په بې حوصله لهجه وویل: آشپز نن نه دی راغلې ...

یو څو شیبې نور مې هم په ګنګس او چوپتیا کې وروکتل، خو ژر مې مغزو کار پیل کړ او د هغه د خبری په مطلب پوه شوم او په تلوار مې وویل: غواړی د بیرون څخه کوم شئ تاسو ته راوړم؟

عزیزی- نـه، غواړم خپل هلته لاړ شم.

د هغه په دی خبره بیا ګنګس شوم، وایې وږی یم، ډوډی هم دلته نخورم غواړم هوتل ته لاړ شم، خو ورځه نوو ما خو څه نه یې نیولې چې زما څخه اجازه اخلې!

عزیزی- اشرف یو ځای تللې موټر یې هم له ځان سره وړی، نو د همدغو موټرانو څخه یو راواخله او راځه.

تازه د هغه د خبرې په مطلب پوه شوم. ډېر مې زړه غوښت ورته ووایم: یو بل کس خپل شخصي موټروان کړه زه هېڅ ځای نه درسره ځم. خو دا جرئت مې د عزیزی په مخ کې نشو کولای، نه اوس او نه هم شاید زر کاله وروسته. نو ځکه مې یوازې وویل: کوم موټر راواخلم؟

عزیزی لږ فکر وکړ، بیا یې په بې پروا وویل: هر یو چې ستا زړه وي.
د دې خبرې سره سم د شرکت د دروازې خواته روان شو، خو د وتلو مخکې یې وویل: زه بهر درته په تمه یم، ژر راشه.

د هغه د تلو وروسته د موټرانو خواته مې وکتل. ټول یو د بل څخه ښکلي او قیمتي ښکارېدل. نه پوهېدم کوم یو وباسم. د دې ټولو په منځ کې یو تور موټر و چې طلایي کرښې یې شاوخوا کش شوې وې،که رښتیا ووایم زما دا څو وخته په همدی موټر نظر و زما په خیال دا موټر په دې ټولو موټرونو کې ښکلی وو،له ځانه سره مې وویل: همدا نن دې ورځ ده طاها .. که نور نه وي یو چکر خو پکې وواهه

په دې فکر د شعبې خواته روان شوم او د هغه ځای مسئول ته مې د عزیزی خبره وکړه. هغه هم د موټر کیلیاني راکړل او یو نفر یې هم راسره راوستوه تر څو مرسته وکړي موټر وباسم، هغه کس راته د شرکت دروازه خلاصه کړه او زه موټر ته پورته شوم. یعنې څومره چې له بهر څخه ښکلی ښکارېده، د دننه څخه دوه چنده ښکلی او راحت و. څوکۍ دومره نرمې او ملایمې وې ته وا د خوب لپاره جوړې شوې وي. کله چې مې موټر چالان کړ، هېڅ غږ یې ونه کړ، ډېر کرار چالان شو، په بیحد شوق مې موټر د شرکت څخه وباسه. داسې روان و لکه په هوا چې روان وي.

عزیزی د شرکت د دروازې سره ولاړ و، ساتونکی هم څنګ ته و او یو څه یې ورته ویل. کله چې د موټر سره خواته یې نږدې شوم او هغه راباندی نظر ولګید نو نرۍ موسکا یې پر شونډو راغله. خپل جیب ته یې لاس کړ، څو روپۍ یې راوایستې او د ساتونکي لاس ته یې ورکړې. که څه هم ساتونکي نه منلې، خو عزیزی په زور ورکړل

او بیا د موټر خواته راغی. ما فکر کاوه لکه پخوا په شان به مخکې سیټ کې کېني، خو هغه شاته سیټ کې کښېناست.

د هغه د دې کار په مطلب ښه پوه شوم. هغه په دې ډول کارونو غوښتل ما ته وښيي چې نور کوم ارزښت ورته نه لرم او د یو نوکر په سترګه راته ګوري. البته ما ته چندان مهم هم نه و. بیخي ښه شو چې مخکې سیټ کې کښې نه ناست خیرن، همغه شاته سیټ دې د ده مبارک شي.

موټر چې د شرکت څخه لرې لیرې شو، کرار مې وپوښتل: چیرته لاړ شم؟
عزیزی څو شېبې چوپ شو، بیا یې وویل: د دې څلورلارې سر کې چې کوم هوټل دی هماغلته لاړ شه.
- سمه ده.

تر هغه ځای پنځه دقیقې لار هم نه وه، کولای شول پیاده لاړ شي نه دا چې دا دومره قیمتي او ښکلی موټر په زحمت کړي، که یو خط په دی موټر ولوېږي زرګونه افغانۍ تاوان کوی، خو دا تاوان لکه چې عزیزی ته چندان مهم هم نه و، که زه د هغه له ځای وایې هېڅکله مې د دوه قدم لارې لپاره دا موټر نه راویست.

هوټل ته چې ورسېدو، موټر مې د دروازې مخې ته ودراوه. د هوټل مخې ته چې څومره کسان ولاړ وه هغه ټولو د موټر خواته په ځېر نظر راوکتل، حق مې ورکو ما هم لومړۍ ځل دی موټر ته په همدومره نادیده توب کتلې وه، عزیزی د موټر دروازه خلاصه کړه ما غوښتل موټر یو څه څنګ ته ویسم او هملته د عزیزی د راتګ په تمه شم، خو عزیزی د ښکته کیدلو حال کې راغږ کړل.

— راځه، موټر همدلته پرېږده.

د هغه په دې خبره په حیرت مې وروکتل ما فکر کاوه زه یې خپل د موټروان او ساتونکي په شان راوړی یم، تر څو د هغه د موټر ساتنه وکړم،په کراره مې وویل: زه هم راشم؟

عزیزی په بې حوصلې لهجه وویل: هو، ته هم راشه.
- خو موټر ..
عزیزي- لس دقیقو کې څوک نه غلا کوی، ېوېی خورو بیرته ژر راځو.

خوله مې مخالفت ته جوړه کړل خو د څه ویلو مخکې عزیزی د موټر ښکته شو او د هوټل د دروازې خواته روان شو.

عزیزی یو کوچني هلک ته چې د هوټل مخې ته ولاړ و او د بوټ رنګولو سامان یې په لاس کې و څو روپۍ ورکړې او د موټر خواته یې اشاره وکړه. هلک په خوشحالۍ سر وخوځاوه. عزیزی پخندا او داسې مهربانۍ چې زما سترګې ورته د حیرت راووتې د هلک په سر لاس تېر کړ او هوټل ته ننوت. زه په هماغه خلاصه خوله د حیرت کرار کرار ورپسې روان شوم.

څه وشو؟ عزیزی او مهرباني؟ الله اکبر... ضرور خوب وینم.

هلک زما له څنګ تېر شو او زموږ د موټر څنګ کې یې خپل د بوټ رنګولو سامان وغوړاوه او کښېناست. لکه چې عزیزی د موټر د ساتلو لپاره ورته پیسې ورکړې وې. په هماغه حیرت هوټل ته ننوتلم. هوټل دننه نسبتاً خاموش و. څو مېزونه ډک وو، خو ډېر شور نه و. عزیزی شاوخوا یو نظر واچاوه او بیا یې د سالون په اخره برخه کې یو مېز ته اشاره وکړه.

— هلته به کښېنو.

زه لکه د روباټ په شان بې له څه ویلو ورپسې روان وم. د هغه د داسې ناڅاپه مهربانۍ څخه مې هېڅ چندان ښه نه راتلل، په ځانګړې ډول که خبره ډوډۍ خوړلو ته رسېدله وای. هغه یوه میاشت مخکې هم ماته ښه ډېل ډوډۍ راکړې وه، خو وروسته یې داسې کار وکړ چې څه مې چې خوړلي وو ټول مې قي کړل. اوس مې هم احساس کاوه شاید بیا هماغسې کومه کیسه وي.

په زړه نا زړه توګه د هغه مېز خواته لاړم چې عزیزی ټاکلی و او کښیناستم، شاوخوا مېزونو ته مې وکتل،خلک کرار په خپلو مینځونو کې په خبرو بوخت وو. زموږ د کښیناستلو سره سم یو ګارسون چې تور دریشي او پتلون یې اغوستی و او په لاس کې یې مینو نیولی و، زموږ د مېز خواته راغی او مینو یې د عزیزی مخې ته کېښوده.

– څه فرمایش لرئ؟ څه راوړم تاسو ته؟

عزیزی بې له دې چې د مینو خواته نیم نظر هم واچوي، هغه یې زما خواته راواړوله او ویې ویل:

– ته وګوره.

خدایه ته خپل خیر راپیښ کړه... زه د عزیزی د داسې ناڅاپه مهربان کېدلو څخه هېڅ ښه خاطره نه لرم. مینو مې ورڅخه واخیسته او خلاصه مې کړه. د خوراکونو نومونه ډېر وو، خو زما ذهن یو خوا د عزیزی په دې کارونو حیران و او بل خوا خپل جیب ته مې فکر کاوه.لاس مې کرار جیب ته دننه کړ. څو تاو شوي نوټونه مې لمس کړل. له ځانه سره مې حساب وکړ: که ډېر ساده شئ واخلم، شاید پیسې مې بس شي.په همدې فکر، بې له دې چې د مینو هغو عجیب غریب شیانو ته وګورم، ومې ویل: زما لپاره یو ساده قابلي پلو راوړه... بس.

ګارسون سر وخوځاوه او د عزیزی خواته یې وکتل،عزیزی د څو شېبو لپاره په ځیر نظر زما خواته راوکتل، بیا یې د ګارسون خواته مخ کړ او ویې ویل: قابلي، کباب، سلاد، تازه چرګ او د غوایي غوښې قورمه... او دوه شین چای راوړه.

ګارسون چې دومره فرمایشونه واورېدل، په خوشحالۍ یې سر وخوځاوه او فرمایش یې ولیکه. غوښتل یې لاړ شي چې عزیزی ورباندې غږ کړل: دا شیان د دوو کسانو لپاره راوړه.

ما په زړه کې وویل: خدایه خیر... که بیل ډېر شو بیا به څه وکړم؟ بیا به یې څنګه ورکړم؟ غوښتل مې ورته ووایم زما لپاره دومره شیان مه راغواړه، خو بیا مې فکر وکړ شاید عزیزی کوم بل کس هم راغوښتی وي او دا شیان به د هغه لپاره وي. هسې نه غړ پورته کړم او هغه ووایي: تاته خو مې نه دي راغوښتي... هغه وخت به بیا دا شرم چیرته وړم؟

په همدې فکر خوله مې بنده کړه او څه مې ونه ویل.

ګارسون چې لاړ، څو شېبې چوپتیا خپره شوه. ما شاوخوا خلکو ته کتل. عزیزی د مېز سر په ګوتو کرار وټکوه، بیا یې زما خواته راوکتل او ویې ویل: څو کلن یې؟

- ها؟
— وایم څو کلن یې؟
نه پوهېدم دا پوښتنه د څه لپاره کوي، خو ځواب مې ورکړ: اوه ویشت کلن یم.

عزیزی سر وخوځاوه.
— اوممم... نه ښکارې. ما فکر کاوه شاید د دوویشت یا درویشتو به یې.
څه مې ونه ویل چې هغه بیا وپوښتل: څو کاله کېږي چې واده دې کړی؟

دا ځل نو لږ ورخطا شوم،عزیزی زما د ښوونځي یا پوهنتون کوم ملګری نه و چې د څو کاله نه لیدو وروسته یو بل مو لیدلې وی او اوس سره ناست یو او خپل د ژوند کیسې سره کوو. هغه عزیزی و... او دا پوښتنې که څه هم په ظاهر ساده ښکارېدې، خو د هغه له خولې هېڅکله هم ساده نه وې.

- فکر کوم دا کال یې پنځم دی.
عزیزی شاته څوکۍ ته تکیه ورکړه.
— اووو، پنځه کال ماشاءالله، ډېر ژر دې واده کړی ..
بیا لږ چوپ شو خو ناڅاپه یې وویل: نو ولې یوازې یو زوی لرې؟

زړه مې غوښتل ورته ووایم: ستا اجازې ته په تمه وم پدر لعنت!

اصلاً د هغه د داسې شخصي خبرو څخه مې ښه نه راتلل، خو پوهېدم چې د هغه دا خبرې بې دلیله هم نه دي؛ عزیزی هېڅکله بې دلیله پوښتنې نه کوي. په همدې فکر ستونی مې صاف کړ او په یو لفظ کې مې ځواب ورکړ، تر څو نور دا بحث کش نه کړي.

- میرمن مې مریضه وه.

عزیزی څو شېبې په خیر راوکتل،داسې کتل لکه غوښتل چې زما له سترګو له لارې زما د خبرې اصل مطلب پیدا کړي.

— اوممم ... نو ولې دې دویم واده ونه کړ؟

دا پوښتنه یې دومره ناڅاپه وه چې لږ مې خوله خلاصه پاتې شوه. څو شېبې مې ځواب پیدا نه کړ، خو بیا مې کرار وویل: دویم واده مې زړه نه غوښت.
عزیزی د میز پر سر ګوتې وټکولې او په شیطانه لهجه یې وویل: ولې؟

نه پوهېدم د هغه د دې خبرو شاته اصل کې څه مطلب دی؟ ډېر مې زړه غوښتل ورته ووایم: خپل اصل خبره وکړه او زما پر اعصابو دومره مه ځه.

- ښځه مې ښه ده، زوی هم لرم، بس همدا راته کافي دي.

د عزیزي شونډې د موسکا په انداز پورته شوې، خو زه پوه نه شوم چې دا موسکا یې د حیرانتیا وه که د تمسخر.

عزیزی- اومم... نو وفادار سړی یې.

څه مې ونه ویل، چې هغه په ډېر کرار وویل: ژوند عجیبه شی دی، برهان... ځینې خلک ډېر څه غواړي خو نه یې لري، ځینې نور بیا هر څه لري خو قدر یې نه کوي.

څه مې ونه ویل، نه پوهېدم دا خبرې ولې راته کوي.

په همدې وخت کې ګارسون د خوراکونو پتنوس په لاس راغی. د هغه په راتلو بېحده خوشحاله شوم، ځکه د عزیزی خبرې بندې شوې. ګارسون قابلي پلو، کباب، قورمه، سلاد او نور شیان پر میز کېښودل او غوښتل یې چې لاړ شي، چې عزیزی ورته وویل:

— بېرون د تور موټر څنګ ته یو ماشوم دی، هغه ته هم د همدې شیانو څخه یو خوراک یوسه. پیسې زه درکوم.

ګارسون د «سمده» په ویلو روان شو، خو ما په حیرانتیا د عزیزی خواته کتل. هغه د بوډۍ خواته اشاره وکړه او ویې ویل: وخوره.

د دې خبرې سره سم یې خپل د کباب یوه ټوټه پرې کړه او خولې ته یې یوړه. په بېغم خیال، پرته له کوم تلوار څخه یې په خوند خوند خپله بوډۍ خوړله.
د هغه په لیدو ما هم قاشوغه پورته کړه. قابلي پلو ښه و؛ وریجې نرمې وې او کشمش او ګازرې هم ډېرې پکې نه وې. خو زه دومره د خوراک په خوند نه پوهېدم. ذهن مې د عزیزی په خبرو کې بند پاتې و.ولې داسې عجیب، غریب پوښتنې وکړې؟ د دې خبرو شاته یې څه مقصد و؟

څو شېبې یوازې د لوښو د ټک ټک او د خلکو د خبرو غږ اورېدل کېده.عزیزی کله ناکله د سالون شاوخوا ته نظر اچاوه، بیا به یې بېرته خپل خوراک ته پام شو. ما هم کوښښ کاوه عادي ښکاره شم. له ځانه سره مې وویل: طاها، آرام اوسېږه... داسې مه ښکاره کوه لکه کوم جرم چې دې کړی وي.

کرار مې د اوبو ګیلاس پورته کړ او یو غوړپ مې ترې واخیست. عزیزی هم شین چای ځانته واچاوه او څو ثانیې یې پیاله په لاس کې ونیوله، بیا یې یو غوړپ ورڅخه وکړ او هماغه حال کې یې وویل: بوډۍ سمه ده؟

په تلوار مې سر وخوځاوه او ومې ويل: هو.

عزيزی سر وخوځاوه او بېرته چوپ شو.

څو شېبې وروسته يې بيا خپل د چای پياله پورته کړه، يو غورپ يې ورڅخه وکړ او هماغه حال کې چې پياله يې په لاس کې وه ويې ويل: ته ډېر ساده انسان يې.

دا خبره يې داسې وکړه لکه تعريف چې کوي، خو زه پوهېدم د عزيزی له خولې د «ساده» کلمه هېڅکله د تعريف لپاره نه استعمالېږي.

د ډوډۍ خوړلو څخه مې لاس واخيست او هغه ته مې کتل شروع کړل. هغه هم راوکتل او ويې ويل: پوهېږې ساده خلک په دوه ډوله وي.

بې له څه ويلو مې وروکتل.
هغه سر وخوځاوه او ويې ويل: يو هغه سادګان دي چې اصل کې بېعقله وي، او دويمه ډله هغه سادګان دي چې زړونه يې پاک وي...

بيا يې مستقيم زما سترګو ته راوکتل.
— او زه فکر کوم ته د دوهمې ډلې څخه يې.

دا ځل نو رښتيا حيران شوم. عزيزی اوس مثلاً زما تعريف وکړ؟

عزيزی- خو هغه پاک زړه ساده کسان بيا يو خاصيت لري، هغوی چې کله پر يو چا باور وکړي، نو تر اخره ورسره درېږي.

د هغه په دې خبره مې بد احساس پيدا کړ. هغه داسې خبرې کولې ته وا زما کوم جرم چې راڅېړي!

عزيزی- نو ته چا ته داسې ړنده وفاداري لرې، برهان؟ هوم؟ نن سهار دې زما د دفتر د دروازې شاته څه کول؟

@Shuhab09

پوهېدم چې د نن سهار خبره عزيزی داسې په اسانه نه خوشې کوي، خو باور مې نه راتلو چې داسې وخت کې به مې راونيسي؟څو شېبې مې هېڅ ونه ويل.عزيزی کرار ناست و، لکه يوه عادي پوښتنه چې کړې وي او اوس د ځواب په تمه دی. زما انديښمن نظر يې چې وليد، کرار يې وخندل او ويې ويل: مه وېرېږه، کوم کار درسره نه لرم.

په سختۍ مې وويل: ما... ما يوازې چای راوړی و، هېڅ مې نه دي اورېدلي...

هغه په موسکا سر وخوځاوه.
– پوهېږم.
خپل د چای پياله يې پر ميز کېښوده او مخامخ يې زما سترګو ته راوکتل.
– که بل څوک ستا ځای داسې غوږ نيولی وای، شايد اوس دلته نه وای ناست.

دا جمله يې دومره عادي وکړه، ته وا يو ټوکه؟ خو د خبرو شاته چې کوم ګواښ پروت و هغه ما ښه درک کولای شو. ما د عزيزی هغه څهره ډېره ښه ليدلې وه. ناڅاپه هغه شپه را ياد شوه؛ د عزيزی پر وينو لړلي لاسونه، د هغه کسانو چغې، زارۍ دومره هغه تصويرونه واقعي و چې نړدې و بيا قي ووهم، خو په زوره مې ځان کنټرول کړ.

عزيزی بې له دې چې زما بد حالت ته کومه توجه وکړي، د خپل ډوډۍ څخه يې يو څو ګولۍ وکړې، بيا يې شاته څوکۍ ته تکيه ورکړه او ويې ويل: دا يوه مياشت کېږي چې د الفا پسې يم.(د الفا د نوم په اورېدو مې غوږونه تېز شول.) عزيزی چې زما توجه وليده، نو کرار يې دوام ورکړ:

– د هغه نيول بې معنا خبره ده، په دې خبره به اوس هم ته پوه شوی اوسې، هم ستا ملګري ..(مطلب يې جنرال او بودا دوی ته و.)

عزيزی- نو زما اراده هم د هغه د نيولو يا دولت ته د سپارلو نه ده، تر څو قانون اجرا شئ(د قانون اجرا شئ لفظ يې په بيحد تمسخر وويلو) زه غوارم هغه ووژنم،خو د

هغه وژل دومره هم آسانه خبره نه ده. هغه کلونه کېږي خپل ریشه په مافیا کې غځولې. نو دا یوه میاشت کې ایله په بیله ما د هغه یو څو کسان د هغه پر خلاف واخیستلې شول، البته د هغوی اخیستنه هم آسانه نه وه، په زر رقم چلونو، ګواښونو، وعدو، پیسو او نور شیانو په واسطه مې واخیستل.

لږه شېبه چوپ شو، بیا یې وویل: نن سهار چې تا غوږ نیولی و، ما د هغه د یو کس د اخیستلو په اړه خبرې کولې. هغه د الفا ډېر مهم کس دی، خو هېڅ ډول نه راضي کېږي چې زموږ سره ودرېږي.

په حیرت مې د عزیزی خواته وکتل، باور مې نه راتلو چې هغه ما ته د خپل کار په اړه معلومات راکوو.

عزیزی خپل جیب ته لاس کړ، سګریټ یې راوویست او د روښانه کولو په حال کې یې وویل: دا خبرې ځکه درته کوم، تر څو ته پوه شې برهان .. چې ته نور د پولیسو جاسوس نه یې ته زما کس یې.

د سګریټ څخه یې اوږد کش واخیست او هغه د لوګي خوشی کولو حال کې وویل: نو په پټه د غوږ نیولو پر ځای مخامخ راشه او زما څخه پوښتنه وکړه. البته زما په نظر، ته هر څومره چې د دې موضوع څخه شاته اوسېږې، هغومره ستا لپاره ګټور دي.

مخامخ یې زما خواته راوکتل او ویې ویل: الفا څخه اوس لیوني سپي جوړ شوي. که دا کس یې هم زموږ پر خوا شي د هغه قبر کیندل شوی. داسې کسان چې اوبه یې واخلې بیا زګو ته هم لاس اچوي. نو سل په سل امکان لري تاته ګواښونه شروع کړي او تا وډاروي ..خو مه ډارېږه... او مه هم زما په پټه کوم کار کوه. هغه شاید تاته د همکارۍ درخواست وکړي او زر نور خبرې امکان لري خو باور ورباندی مه کوه، زه شاید بد اوسیږم خو ستا مرګ نه غوارم ..خو الفا ...

هغه ته هېڅ شئ مهم نه دی که همکاری هم ورسره وکړی د کار خلاصیدو وروسته دی وژني .. نه یوازی تا .. بلکې ستا ټول کورنۍ وژني .. زه هغه ستا څخه ډېر ښه پېژنم نو د هر کار د کولو مخکې زر ځله زما دی خبرو ته فکر وکړه، خپل په کارونو ما پر ځان دویم ځل مه بدګمانه کوه برهان ..چې دا ځل رحم نه درباندی کوم.

د هغه په دی ګواښ د وېرې څخه مې یخه خوله د ملا په تیر راغلل، هغه فکر کاوه زه الفا ته جاسوسی کوم؟

عزیزی لکه چې زما سترګو کې وېره ولیدل چې غږ یې لږ نرم شو او کرار یې وویل: مه وېرېږه، تر څو چې غلط ګام وانخلې زه درسره کوم کار نه لرم او نه هم پرېږدم چې الفا کوم کار وکړی، د وېرې پر ځای د عقل څخه دی کار واخله مه پرېږده ستا د کمزورۍ ټکی چې ستا کورنۍ ده الفا پیدا کړي. خپل له کورنۍ سره مینه او وفاداري ولره، خو دومره نه چې د ډېرې مینې له امله هغوی د هلاکت کندې ته واچوې.

بیا یې ورو وویل: تل احساسات ګټونکي نه وي برهان، باید د عقل څخه هم کار واخیستل شي.

د هغه په دې خبره تازه د هغه د مشکوک پوښتنو په معنا پوه شوم. هغه په دوه درې ساده پوښتنو زما د کمزورۍ ټکی پیدا کړی و،باور مې نه راتلو عزیزی باید تللې وایې جنایي پولیس شوی وایې هغه ډېر ښه پوهیدی اظهارات څنګه واخلې چې مقابل نفر لا خبر نشې څه روان دی؟

عزیزی- وفادار اوسه، خو بېعقل نـــه ...

د دی خبری وروسته زما د قاب خواته چې یوازی یو دوه قاشوغي وریجې مې ورڅخه خوړلې وه اشاره وکړل.
— ډوډۍ دی وخوره.

ډوډۍ خپل پر خبرو پر ما زهر کړل اوس وایې ډوډۍ دی وخوره، غوښتل مې ورته ووایم نور نخورم موړ شوم خو د څه ویلو مخکې هغه خپل د سګریټ څخه د کش کولو حال کې د سر په اشاره د هوټل کونج ته اشاره وکړه.

– هغه دوه کسان وینې؟

د هغه کسانو خواته مې وکتل کوم چې عزیزي ورته اشاره کړې وه، زموږ څخه څو میز شاته د هوټل په کونج کې دوه کسان ناست وو. عمرونه یې هم ډېر ښکاریدل، یو یې تک سپین ږیره درلودل او دویم که څه هم د عمر ډېر معلومیدی خو ږیره یې خړه وه،نری مخ او تکې توری سترګي درلود.

بیرته د عزیزي خواته چې کرار لګیا و خپل سګریټ یې واهه ومې کتل او ومې ویل: هو، وینم یې.

عزیزي خپل سوځېدلې سګریټ د قورمي په خالې قاپ کې مړ کړ او د چای ترموز د راخیستلو حال کې وویل: پیژنې؟

نیم نظر مې د سترګو له کونج بیا د هغوی خواته واچو، نه مې پېژندل، همدغه خبره مې عزیزي ته هم وکړل چې د هغه پر شونډو موسکا راغلل او ویې ویل: د کوم وخت چې راغلې یو ته یې د نظر لاندې نیولې یې.

د زړه درزا مې ناڅاپه پورته شوه.
- زه؟ زه یې د نظر لاندی نیولې یم؟

عزیزي کرار سر وخوځاوه.

یوازیني فکر چې مې ذهن ته راغلې هغه دا و چې دا کسان د الفا دی! په دی فکر په تلوار مې خپل د ګوتمۍ خواته وکتل، خو هغه شنه ځلا کول، خو دومره د عزیزي په

خبری ډارېدلې وم چې غوښتل مې خپل توفنچې ته لاس ویسم چې عزیزی فکر شو راته او په کرار غږ یې وویل:

— هیسس ..ارام اوسیږه دا د الفا کسان نه دی، الفا دومره بیعقل نه دی چې دوه بوډاګان زما پسې راوستوي دا ضرور یا تا پیژني یا هم د یو چا ګمان یې درباندی کړی.

د عزیزی داسې آرام اوسیدلو ته حیران وم، څنګه په داسې حال کې چې دوه نفرو موږ د نظر لاندی نیولې وو، دې کرار لګیا دې چاي څښې؟ د هغه څخه بتر دا چې ما ته یې هم ویل کرار اوسیږه ...

په بې قرار لهجه مې وویل: زه دا کسان نه پیژنم، امکان لری خطرناک اوسیږی.

عزیزی خپل څوکۍ ته تکیه ورکړل او په داسې لهجه لکه زما خبری چې ورته تفریح اوسی وویل: اوممم بل فرض که ستا ګمان صحیح وی او دا کسان خطرناک وی نو څه کوی برهان؟

- نو .. نو باید یو کار وکړو؟
عزیزی په همغه خندانه لهجه وویل: لکه څنګه کار؟ غواړی توفنچه راوباسې او وار وکړی؟ هوم؟ هغه هم د دومره خلکو په شتون کې د هوټل دننه؟
- نه .. خو .. باید یو کار وکړو باید لاړ شو یو امن ځای ته د دی ځایه باید لری شو.

عزیزی خپل وریځه په دروغجن حیرت پورته واچول او ویې ویل: اومم امن ځای ..امن ځای ستا په نظر کوم ځای دی؟

د عزیزی خبری مې نه اوریدل دوه سترګې مې د هغه کسانو خواته وه، هغوی دواړه لا هم هماغسې ناست وو، خو اوس راته عادي خلک نه ښکارېدل بلخصوص کله چې هغوی هم اوس ښه په ځېر زما خواته راکتل.

د عزيزی په غږ د هغوی څخه مې نظر واخیست.
– ولې دومره وېرېږې؟ ایا ستا په وېرېدلو کوم ستونزه حل کېږی؟
د هغه دا بې‌ځایه خبرې مې حوصله را تنګه کړه او په غوسه مې وویل: زه نه وېرېږم! خو عقل حکم کوي چې په هغه ځای کې چې خطر وي، ځان ورڅخه لیرې وساتم؛ نه دا چې د بې‌عقلانو په شان کښېنم او ورته چای وڅښم...

عزيزی د چای څښلو حال کې د څو شیبو لپاره زما د خبری په اوریدو پیاله بې حرکت لاس کې ونیول او زما خواته یې سترګې ونیول، د هغه په راکتلو تازه پوه شوم چې څه بد مې وکړل.

غوښتل مې ورته ووایم:
وبخښه... خوله مې خطا شوه... تا ته مې دا خبره نه کوله.

خو زما د خولې خلاصولو مخکې ناڅاپه مې د سترګو له کونج د هغه دوو کسانو خواته فکر شو. هغوی له ځایه پاڅېدلي وو او زموږ د مېز خواته را روان وو.

د هغوی د هر ګام په نږدې راتلو سره ما په ذهن کې ژر ژر پلان جوړول:
که وار یې وکړ، لومړی باید د مېز لاندې لاړ شم تر څو مرمۍ راباندې ونه لګېږي. وروسته باید زه هم ورباندې ټکان وکړم. کېدای شي د خلکو په شور ماشور کې هغوی ووېرېږي او لاړ شي.

په همدې فکرونو کې وم. یو لاس مې په جیب کې د توفنچې پر خوا نیولی و او په بل لاس مې د مېز څنډه ټینګه نیولې وه.

خو عزيزی ...

هغه کرار ناست و، زما دې حالت ته یې په خوند کتل او خپل چاي څښه، تر دې چې هغه کسان زموږ د مېز مخې ته راورسېدل او سلام یې واچاوه.

زما خو اوضاع معلوم وه بغیر د ځواب ورکولو مې په مشکوک توګه ورته کتل، عزیزی خو هم عمر کې د چا سلام نه ځواب کاوه، اوس هم بغیر له دې چې خپل چاي څښل بند کړې د سر په خوځولو یې مثلاً د هغوی سلام ته علیک وویل، هغه سپین ږیري سړي زموږ دواړو حالت ته لږ په مشکوک انداز راوکتل، خو نظر یې ډېر ژر زما پر مخ ټینګ شو، داسې یې راته کتل لکه یو څوک چې د ډېر وخت وروسته یو اشنا کس ویني.

لږ مخکې راغی او په ارام غږ یې وویل: وبخښې بچیانو، که څو شېبې اجازه وی دلته کښېنو؟

په تلوار مې د عزیزی خواته وکتل، نه پوهېدم څهووایم؟ عزیزی په همغه بې پروا انداز خالي څوکۍ ته اشاره وکړل او ویې ویل: کښېنئ.

د عزیزی په خبره هغوی دواړه زموږ د میز ترڅنګ په خالي څوکۍ کښېناستل،زما زړه لا هم درب درب درزیدی. داسې احساس مې کاوه لکه هره لحظه چې یو پېښه کېدونکې وي، هغه سپین ږیري سړي یو ځل بیا زما پر مخ سترګې ټینګې کړې خو ناڅاپه یې وویل: زویه... ته ذوالکفل پېژنې؟

د بابا د نوم په اوریدو مې د څو شېبو لپاره حتی ساه لا سمه و نشو اخیستلې، خو ډېر ژر پر خود راغلم او په تلوار مې وویل: ذوالکفل...؟

هغوی دواړو د"هو" په انداز سر وخوځاوه او زما د ځواب په تمه شول، ما د سترګو له کونج د عزیزی خواته وکتل، چې لا هم بیغم لګیا و چاې څښه، بیا مې د هغه دواړو کسانو منتظر نظر ته وکتل او کرار مې وویل: ذوالکفل .. زما پلار دی.

ناڅاپه د هغه دواړو بوډاګانو په څېرو کې داسې بدلون راغی لکه د اوږدې مودې یو دروند بار چې چا د اوږو څخه لرې کړی وی، سپین ږیری سړی خپل څنګ ته ملګری ته وکتل او پخندا یې وویل: و دې لید؟ درته ومې ویل څهره بیحد اشنا ده.

د هغه په دې خبره دا ځل دا بل خږ ږیرې سړی لږ ځان زما خواته رانږدې کړ او په مشتاق لهجه یې وویل: نو ته د ذوالکفل زوی طاهر یې؟

د طاهر د نوم په اوریدو مې بیا حیرت وکړ، خو د څه ویلو مخکې هغه سپین ږیری سړی خپل ملګری ته وویل: نه ... طاهر نه دی ..
زما خواته یې راوکتل او ویې ویل: طاها یې کنه؟

داسې وویل طاها یې کنه؟ لکه زه باید ووایم هو طاها یم، خو ما خپل د نوم په اوریدو هغه هم د دوه داسې کسانو لخوا چې عمر مې کې مې لا نه وه لیدلې، د حیرت هک پک ولاړ وم او نه پوهېدم چې څه ووایم؟ هغوی هم داسې دوه سترګې زما خولې ته نیولې وه تر څو زه یوه خبره وکړم، د عزیزی په غږ د ټولو فکر د هغه خواته شو، هغه خپل د چای پیاله پر میز کیخودل او یو دروند نظر یې د هغه دواړو خواته واچو او ویې ویل:

— هو، همغه دی، خبره مو وکړی څه کار ورسره لری؟

د عزیزی لهجه دومره درنه وه چې ما فکر کاوه هغه دوه کسان به لږ پر خود راشي او بالاخره به ووایي چې ما د کومه خوا پېژني؟ خو هغوی په خوشحالۍ له خپلو څوکیو پاڅېدل او زما سره یې په بغل کشي سر روغبړ وکړ! د هغوی په راپاڅېدلو زه هم د مجبورۍ له مخې پاڅېدم او روغبړ مې ورسره وکړ، خو لا هم په ګنګس انداز مې ورته کتل. هغه سپینږیري سړي په خندا خپل لاس زما پر اوږه کېښود او ویې ویل:

— زه غمی خان یم، او (خپل څنګ ته هغه خږ ږیري سړي ته یې اشاره وکړه) دا توریالي خان دی. موږ دواړه د ذوالکفل، مطلب ستا د پلار ملګري یوو. موږ تازه دا څو میاشتې کېږي چې وطن ته راغلي یو. نن ستاسو کور ته کلي ته ورغلي وو... خو هلته ستاسو خپلوانو ویل چې تاسو دا څو کاله کېږي ښار ته راغلي یاست. ادرس او د ذوالکفل د موبایل نمبر مو ورڅخه واخیست، خو بوډاتوب دی بچیه، ادرس زموږ د

دوارو له یاده ووت. ستا د پلار نمبر ته مو چې هر څومره زنګ واهه، هغه ځواب نه راکو.

د ډېرې ستړیا له لاسه دلته کښېناستو، او اراده مو وه چې د ډوډۍ خوړلو وروسته بیا کلي ته لاړ شو او دا ځل سم دقیق ادرس او د ذوالقرنین نمبر هم راواخلو، چې شاید هغه ځواب راکړي. خو ته قسمت ته وګوره... (خپل د ملګري خواته چې توریالي خان یې معرفي کړی و وکتل او په خندا یې وویل: همدا چې پر تا مې نظر ولګېد، زړه نا زړه شوم او توریالي ته مې وویل چې دا د ذوالکفل زوی راته ښکاری، خو هغه نه منل ویل یې غلط شوی یې. خو ما ویل نه پر خپل دی که څه هم شل کاله مخکې کله چې ماشوم وې لیدلی مې وې، خو بیا هم ومې پېژندلې. هماغه څېره دې ساتلې یوازې قد او عمر دې لوړ شوی...

بیا یې یو ځل د پښو له نوک څخه د سر تر ویښتو پورې راوکتل. اوس چې پوه شوی وم دا کسان څوک دي، نو وېره مې له منځه تللې وه. خو د هغه بوډا دومره حافظې ته حیران وم. ما یو کس اوس لیدلی وای، دوه دقیقې وروسته مې شکل او قواره ورڅخه له یاده وتل، خو ده زه شل کاله مخکې هغه هم په ماشومتوب کې لیدلی وم او تر اوسه یې په یاد وم!

توریالي- کور مو چېرته دی؟

د هغه په غږ له فکر راووتلم او په محترمانه لهجه مې وویل: همدلته نږدې دی، که...

د عزیزی خواته مې وکتل چې په چوپ نظر یې زموږ خواته کتل. زما په کتلو د هغوی نظر هم د عزیزی خواته شو، نو ما ژر وویل: دا زما رئیس دی. که اجازه راکړې نو تاسو به تر کوره ورسوم کنه ذوالفقار ته به زنګ ووهم تر څو هغـ...

لا مې خبره نه وه پوره کړې چې عزیزی له ځایه پاڅېد او ویې ویل: خپل مېلمانه موټر ته ویسه زه حساب وکړم درځم.

د هغه په دې خبره حيران شوم. غوښتل مې ورته ووايم ضرورت نشته ستا په موټر کې لاړ شو. ته يوازې اجازه راکړه، زه خپل موټر کرايه کوم. خو د عزيزي د نظر په ليدو خبره مې په خوله کې وچه شوه. حتا دومره جرئت مې هم ونه کړ چې د راغوښتلې ډوډۍ پيسې حساب کړم. هغه دواړو هم په مشکوک انداز زموږ خواته راکتل، په تلوار وويل: مهرباني، راځئ...

زما په غږ هغوی د عزيزي څخه نظر واخيست او زما پسې شول. د هوټل څخه چې ووتلو هغه ماشوم هلک تر اوسه د موټر تر څنګ ناست و. کله چې زه موټر ته ورنږدې شوم نو هغه لومړۍ ګومان وکړ چې زه بيګانه کس يم او ځان يې تيار کړ تر څو ما د موټر له څنګ وشړي، خو کله چې يې زما په لاس کې د موټر کيلي وليدله نو د جنګي حالت څخه پر شا شو او په ګنګس انداز يې وويل: هغه کاکا څه شو؟

د هغه په دې خبره چې عزيزي ته يې کاکا وويل خندا راغله. د عزيزي د څېرې کوم ځای د کاکاګانو په شان و؟ د هغه څېره سم د ظالم جلادانو په شان وه، نه کاکا.
د موټر دروازه مې خلاصه کړه او د بابا د ملګرو خواته مې وکتل چې په حيران نظر يې موټر ته کتل.

- مهرباني.

زما په غږ هغوی تازه پر خود راغلل او د سر خوځولو په حال کې موټر ته پورته شول. ما هم دوه سوه روپۍ له جېبه راوويستې او هغه هلک ته مې ورکړې. که څه هم عزيزي ورته پيسې ورکړې وې، خو بيا هم دومره په تمه پاتې شوی و زما په نظر حق يې وو.

د پيسو ورکولو وروسته موټر ته پورته شوم چې هغه سپين ږيري سړي، چې ځان يې غمی خان معرفي کړی و، ژر وپوښتل:

— بچيه، دا سړی چې تا خپل رئيس معرفي کړ څه کار کوي؟

ډېر مې زړه غوښتل ورته ووایم: خلک وژني... خو ځان مې راکنټرول کړ او کرار مې وویل:د موټرانو د خرڅولو شرکت لري.

دوارو د «ها» په ویلو سر وخوځاوه او سپین ږیري دا ځل لږ په خندا وویل: ما ویل داسې موټر څنګه ورسره دی. نو ځوانیمرګ پیسه‌دار دی؟ ته ورسره څه کار کوې؟ موټروان خو یې نه یې؟

لومړی مې غوښتل د هغه خبره تایید کړم، خو دا د کلي خلک وو، په ځانګړي ډول د بابا ملګري وو. که ورته ووایم موټروان یم نو د بابا هغه نوم او نشان خرابېده او له بلخوا که بابا پوه شوي وای چې ما د هغه ملګرو ته څه ویلي پر ما یې قیامت جوړاوه.

نو له دروغو مې کار واخیست او ومې ویل: نه، زه یې شریک یم.

زما په دې خبره د څو شیبو لپاره هغوی هک حیران شول، خو بیا یې وا،وا ماشاءالله، ماشاءالله او تعریفونه شروع کړل. په خپلو دروغو شرمنده نه وم، ځکه زه ربښتیا هم د عزیزی شریک وم، البته شریکِ جرم...

د هغوی د تعریفونو په وخت کې عزیزی له هوټله راووت، د هغه په لیدو ناڅاپه له خپلو ویلو دروغو پښیمان شوم. که دوی ورته زما خبره وکړه او هغه یې رد کړه بیا؟ خو ژر مې د ځان سره وویل: هغه عزیزی دی دا کار نه کوي. نه پوهېږم د هغه دومره ظلم او وحشت لیدلو باوجود په عزیزی مې باور درلود!

موټر ته چې رانږدې شو، هلک یې مخکې ورغی او یو څه یې ورته وویل. د عزیزی پر شونډو مهربانه موسکا راغله، بیا یې څو روپۍ د هغه خواته ونیولې، خو هلک وانخیستې او د څه ویلو سره یې زما خواته لاس ونیو. شاید ویل یې چې ما بیسې ورکړي؟

@Shuhab09

عزیزی نیم نظر زما خواته راوچوه، بیا یې پیسې د هلک په جیب کې کېښودې او پرته له څه ویلو دېخوا را روان شو. د موټر شاته سیټ کې لا هم د دوه نفرو د کښېناستو ځای و، خو عزیزی مخکې سیټ کې زما څنګ ته کښېناست. د هغه د کښېناستو سره سم، د بابا ملګرو د هغه د کاروبار په اړه ورځخه پوښتنې شروع کړې.

یو دلیل چې نه مې غوښتل د بابا دملګرو سره عزیزی مخامخ کړم همدا وو، دا د کلي خلک وه دوي دومره خبری کول چې روغ انسان لا ورځخه په تنګ راتلو څه ورسیږی عزیزی ته، اندیښمن وم چې عزیزی کوم داسې خبره ونکړی چې ما د بابا د ملګرو مخکې شرمنده کړي.

غمی خان په کنجکاو لهجه عزیزی خواته وکتل او ویې ویل: نو ځوانه، یوازی د موټرانو کاروبار کوې که نور کارونه هم لرې؟

د هغه د دې پوښتنې په اورېدو مې د زړه درزا تېزه شوه، یعنې یوه دقه یې لا صبر ونکړ او زما کړی خبره یې عزیزی ته وویل، بې اختیاره مې د سترګو له کونجه د عزیزی خواته وکتل. یوه شیبه مې زړه کې وېره وولیدل چې هسې نه عزیزی خپل د اصلي کار په اړه کومه خبره وکړي؟ هسې په سور نه دی برابر ..

د عزیزی شونډه د موسکا په انداز پورته شول او په شیطانه لهجه یې وویل: نه، دا کار هسې د شوق کوم اصل کار مې بل دی ...

د هغه په دې خبره لاسونه مې پر سټیرنګ لږ کلک شول، په زړه کې مې وویل: خدایه خیر دا اوس څه وایي؟

غمی خان په شوق وپوښتل: ماشاءالله، نور کوم کارونه؟
عزیزی کرار ساه واخیسته او ویې ویل: د ځمکو د اخیستلو او خرڅولو کاروبار هم کوم.

د هغه په دې خبره بې اختیاره مې هوسا نفس واخیست، او د سترګو له کونج مې وروکتل چې هغه پخندا خپل یوه وریځ راته پورته واچول، پدرلعنت هسې زه یې پعذابولم ...

توریالي- ښه کاروبار دی، خو ځمکه تل پر یو بیه نه وې، ډېر خلکو د ځمکې په اخیستلو او خرڅولو کې تاوان کړی.

عزیزی بغیر له دې چې نیم نظر لا د هغوی خواته واچوی ویې ویل: د تجارت یو مهم قانون صبر دی .. ډېر خلک غواړي ژر پیسه پیدا کړي، خو اصل تاجر هغه دی چې صبر کوی او کله چې شانس په لاس ورشي ورڅخه ګټه اخلې.

غمی خان د سر په خوځولو د عزیزی خبره تایید کړل او ویې ویل: هو، ولای بالکل سمه خبره کوی.

عزیزی- ځمکه هم همداسې ده. نن شاید ارزانه وي، خو که سړی سم ځای انتخاب کړي او صبر وکړی ځو کاله وروسته څو چنده ارزښت پیدا کوي.

د هغه د خبرو انداز داسې و لکه د رښتیا چې کوم د ځمکې تاجر وی؟ د هغه په داسې مسلکې خبرو زه لا د یو شیبې لپاره خطا وتلم، څه ورسیړی د بابا ساده ملګرو ته.

توریالي خان په خندا وویل: نو ته خو ښه حسابي سړی یې.
عزیزی په همغه درنه لهجه ځواب ورکړ: هېڅ کار اوس وخت کې بې له حسابه نه کېږي.

ما بغیر د څه ویلو موټر روان کړی و، عزیزی د هغه خبرو کولو وروسته چوپ ناست و، خو د بابا ملګری لا هم لګیا وه او د هغه د تجارت تعریفونه یې کول.

غمی خان- والله ښه کار کوې بچیه، ځمکه که سړی پر وخت واخلي نو د سرو زرو ارزښت پیدا کوي(لږ چوپ شو بیا زما خواته په اشاره کولو یې وویل: طاها جان دی

یوازې د موټرونو په شرکت کې شریک دی یا دی کاروبار کې هم؟

خپل شونډه مې کلک وچیچل، جرئت مې نه درلود د عزیزي خواته وګورم، رسوای خو رسوای وی خو داسې لاس په لستوڼي رسوای نوو خدای دی زما د دښمن په نصیب لا نه کوی. څو شیبې عزیزی هېڅ ونه ویل د هغه وروسته یې په کراره وویل:

— بـر... طاها د ځمکې د تجارت لیوال نه دی، کنه هلته مې هم د ځان سر شریک کاوه، کنه طاها؟

نیم نظر مې د سترګو له کونجه د هغه مرموز او شیطان نظر ته واچوه، او د مجبورۍ او البته د شرم له امله مې د هغه خبره تایید کړه. دا دې هم خیر ویسي چې زما دروغ یې رسوا نه کړل. د عزیزي د دې خبرې وروسته مې د موټر سرعت دوه چند تیز کړ، تر څو ژر تر ژره ورسېږو، د دې نه مخکې چې د بابا ملګري ما رسوای عالم کړي.

د نیم ساعت وروسته بلاخره د بابا د کور کوڅې ته ورسېدو. د موټر سرعت مې راکم کړ او د کور مخې ته مې ودراوه. لومړی خو مې غوښتل د کوڅې په سر کې موټر ودروم تر څو عزیزي د بابا کور صحیح ونه ګوري، خو د لږ فکر کولو وروسته دې نتیجې ته ورسېدم چې دا هسې بېځایه کار دی. ځکه که عزیزي یوه میاشت مخکې په یوه شیبه کې د استاد د کور آدرس پیدا کړی شو او تر مسجد پورې راغی، نو آیا د بابا د کور آدرس پیدا کول به ورته سخت وي؟

البته بل فرض که د بابا د کور آدرس ونه لری، ځکه ویل یې ټول مې د نظر لاندې نیولي تر څو الفا کوم کار ونه کړي، نو مطلب آدرس لري.په همدې فکر مې موټر د بابا د کور د دروازې مخې ته ودراوه او د بابا ملګرو ته مې د کور خواته په اشاره کولو وویل: راځئ... همدا زموږ کور دی.

هغوی دواړو د موټر له کړکۍ څخه د کور خواته وکتل او کرار یې وویل: ماشاءالله... ښه کور مو دی.

ډېر مې زړه غوښتل هغوی ښکته کړم او موټر په پوره سرعت له دې ځایه لیرې کړم، خو ادب حکم کاوه چې ښکته شم او هغوی د کور تر دننه رهنمایي کړم. په همدې فکر مې موټر بند کړ او له موټره ښکته شوم. زما د ښکته کېدو سره سم هغوی هم راپسې راښکته شول، خو عزیزی راښکته نشو، بلکې هماغسې د کښیناستلو په حالت کې یې په ځیر زموږ د کور خواته وکتل.

د هغه دا نظر مې هېڅ خوښ نشو، نو ځکه مې په خپل ټول زور څو ځله دروازه وټکوله. نه پوهېږم بابا څه ستونزه درلوده چې په ټکنده غرمه کې هم د کور دروازه قلف کوله.

د څو شیبو وروسته د قدمونو غږ او ورسره د بابا غږ راغی.
— درغلم، دروازه دې ماته کړه!

د دروازې له ټکولو مې لاس واخیست. بابا د هغه ورځ په شان په غوسه دروازه خلاصه کړه، خو کله چې یې پر ما نظر ولګېد نو لږ حیران شو او غوښتل یې څهووایي، خو ما د خبرو اجازه ورنکړه.په تلوار یو ګام شاته شوم تر څو بابا خپل ملګري ووینې او ومې ویل: ستاسو مېلمانه مې راوړل.

بابا په هماغه حیرانتیا زما شاته وکتل. د بابا ملګري هم لږ رانږدې شول تر څو بابا یې ښه ووینې. یوه شېبه دواړه لوري یو بل ته کتل، لکه د حافظې په کوم پخواني کونج کې چې د یو بل څېره لټوي.

بیا ناڅاپه د غمی خان پر مخ موسکا خپره شوه او په خندا یې وویل: عجب بوډا شوی یې، ذوالکفل!

د بابا سترګې یو دم پراخې شوې او کرار یې د ځان سره زمزمه کړل:
– غمی... پخپله یې؟

د هغه د خوب ورکولو نه مخکې د بابا هغه بل ملګری چې توریالی نومېده، ورمخکې شو او په شوخ لهجه یې وویل: هې خلکو، زه هم دلته یم!

د هغه په غږ بابا تازه په خود راغی. ځکه د ځو شیبو مخکې حیرانتیا ناڅاپه په خوشحالۍ او خندا بدله شوه. عجیب وه، بابا ډېر ملګري درلودل خو د هېچا په لیدو مې تر دې حده خوشحال نه و لیدلی.لومړی یې غمی، بیا یې توریالی په غېږ کې ونیول، او له هغه وروسته یې ژر د کور دروازه لا خلاصه کړه او هغوی ته یې د ننوتلو اشاره وکړه.

بابا- راځئ... راځئ دننه راځئ. خدای مو هرکله راوله. زما خو تر اوسه باور نه کېږي چې تاسو دې راغلي اوسئ.

توریالي په خندا وویل: والله، زما هم باور نه کېږي. په داسې رقم مو ستا کور پیدا کړ چې که کیسه یې واورې د خندا به شین شې...

غمی خان په خندا د هغه خبره تایید کړه او د کور دننه یې پښه کېښوده او غوښتل چې ننوځي، خو ناڅاپه راوګرځېد او د عزیزی خواته په اشاره کولو یې بابا ته وویل:
– یو بل مېلمه هم لرې، هغه هم را دعوت کړه.

ما تازه په ذهن کې پلان جوړاوه چې د موټر خواته وګرځم او الفرار، چې د هغه په خبره مې «اه» له سینې ووته، چا تاته د ست کولو ویلې وه؟! خو خپل کار کوه ته په بل چا څه کار لرې بوډا، دومره مې د هغه دی خبری ته غوسه راغلې وه چې حد یې نه درلود، د موټر خواته مې وکتل عزیزی لا هم چوپ ناست و، خو نظر یې تر اوسه زمونږ د کور خواته وو، د هغه ځخه مې نظر واخیست او د بابا خواته په کتو شوم چې په مشکوک نظر یې عزیزی ته دوه سترګي نیولې وه.

ځان مې د بابا او عزيزي د کتلو ترمنځ واچوه. زما په دې کار بابا لږ حيران شو چې ما په تلوار وويل: هغه ... هغه زما رئيس دی. ډېر هم کار لري. يوازې ستاسو مېلمانه مو راوړل، موږ بايد نور لاړ شو، ډېر کار لرو...

ما غوښتل په دې خبرو د بابا فکر له عزيزي واړوم، خو لکه چې زما په دې خبره، چې ومې ويل «زما رئيس دی»، بابا لا شکمن شو. ځکه زه يې کرار څنګ ته ټېله کړم او د موټر خواته يې يو، دوه ګامونه واخيستل.

د بابا په نږدې ورتلو عزيزي نيم نظر زما خواته، چې د بابا شاته ولاړ وم او تقريباً په سترګو مې ورته زارۍ کولې چې د موټر څخه راښکته نه شي واچاوه. بيا يې د بابا خواته وکتل او په يو ناڅاپه حرکت کې يې د موټر دروازه خلاصه کړه او راښکته شو.

تر څو چې عزيزي راښکته کېدی بابا د هغه مخې ته رسېدلی و. بابا لومړی د عزيزي مخ ته دوه سترګې ونيول، د عزيزي د چپ وريځې څخه نيولې تر زنې پورې يو ژور داغ وو، کوم چې په لومړۍ نظر ليدو باندې هر کس پوهېدی چې دا کوم معمولي ټپ نه دی او د چاقو نښان دی، د هغه څخه بتر د مغزی يو خواته يې د کبرا مار ټيټو وهل شوې وو، د مار نور بدن د هغه د کالو لاندې پټ و يوازې د مار دوه پړقيدونکې سترګې او ژبه چې د چيچلو په انداز يې راويستلې وه معلوميدل، او بابا هم هغه ټيټو ته دوه سترګې ښخې کړې وه.

بابا له ټيټو څخه کرکه درلوده. البته عزيزي سر تر پايه د بابا د قوانينو خلاف کس وو، بابا يو ځل بيا سر تر پايه عزيزي ته په تروش تندی وکتل، حق مې ورکو چې شکمن شي، اصلاً عزيزي له سل متری څخه ښکارېده چې کوم عادي کس نه دی او مفسد دی .. او دا خبره بابا لکه چې درک کړې وه، ځکه د څو شيبو مخکې موسکا يې نور په شونډو نه وه او په بد نظر يې د عزيزي خواته کتل. عزيزي هم له هغه څخه په دوه چنده مشکوک نظر د بابا خواته کتل.

د عزیزی راوستل د بابا تر دروازې بېعقلي وه، او تر هغه دوه چنده بېعقلي دا وه چې دوی دوارہ مې سر مخامخ کړل، دا نو بیخې جاهلیت وو ..

په ویره مې یوه سترګه د بابا او بله د عزیزی خواته وه، چې عزیزی د سترې مشې په پار بابا ته لاس وغځاوه. د هغه په دې کار بېحده حیران شوم. عزیزی او داسې کار؟ هغه داسې باادبانه کارونه نه وو زده.

بابا نیم نظر د عزیزی غځېدلي لاس ته واچاوه او بیا یې په نه زړه لاس ورکړ. عزیزی ښه په کلک د بابا لاس څو ځله وخنډه او په داسې حال کې چې د بابا سترګو ته یې سترګې اچولې وې، په کراره یې وویل:

– سلطان... سلطان عزیزی یم.

بابا هم د هغه په شان ورته وکتل، خو د دې پر ځای چې ځان معرفی کړي، زما خواته یې اشاره وکړه او ویې ویل: د طاها پلار یم.

عزیزی نیم نظر د سترګو له کونجه ما ته راوچاوه او د سر په خوځولو یې کرار وویل: خوشحال شوم له لیدو مو، حاجي صاحب.

بابا هم د هغه په شان سر وخوځاوه او دا ځل لهجه یې لږ نرمه شوه.
– مننه له دې چې زما مېلمانه مو راورسول. راځئ دننه، یو پیاله چای به وڅښو.

د بابا په دې خبره د بابا ملګرو هم عزیزی ته ټینګکار شروع کړ، خو عزیزی دوه سترګې زما خواته نیولې وې. عجیب وه، خو داسې یې زما خواته کتل لکه له ما چې اجازه غواړي؟چوپ اوسېدل مې مناسب ونه بلل. د بابا خواته ورنږدې شوم او په تلوار مې وویل: ن... نن ډېر کار لري، فکر نه کوم چې بیکار وي، کنه رئیس صاحب؟

عزیزی په پوسخند زما خواته وکتل او د سر په خوځولو یې کرار وویل: هو، نن بیکار نه یم. ان شاءالله یو بل وخت به مو خدمت کې حاضر شم.

بابا بالاخره د هغه لاس خوشې کړ او همدارنګه له خپلې مشکوکې لهجې هم لږ پر شا شو. د یو څو نور ستونو پر کولو چې زیاتر د بابا ملګرو وکړل بلاخره کور ته ننوتل، نه پوهېږم د بابا ملګرو عزیزی کې څه لیدلې وه چې داسې ورباندی مئینان شوی وه او هېڅ زړه یې نه کیدې چې هغه پرېږدی، د هغوی په تلو بېاختیاره مې هوسا ساه واخیسته. چې د عزیزی د پوسخند غږ مې واورېد خو کومه توجه مې ورته ونه کړه.

شکر په خیر تېر شو، البته فکر کوم موقتي په خیر تېر شو؟ ځکه د بابا له نظره واضح ښکارېده چې خپل تحقیقات به له ذوالفقار څخه کوي.

په دی فکر زړه مې غوښتل خپل سر پر دې ځمکه، ځمکه ووهم. که بابا د عزیزی نوم ذوالفقار ته واخلي، ذوالفقار ما وژني. ما هغه ته دا یوه میاشت ګپ ورکړی و او په دروغو مې ورته ویلي وو چې زه د جنرال او بوډا لخوا په رامعرفي شوي یو نظامي شرکت کې کار کوم. ورته ویلي مې نه وو چې د عزیزی سره کار کوم.

خلک دروغ وایي تر قرنو، قرنو نه رسوا کېږي، خو زما دروغ هماغه دقه یا څو ورځې وروسته رسوا کېږي؛ هغه هم داسې رسوا چې عالم او ادم شرموی ...

په غوسه مې د عزیزی خواته وکتل،هغه تر اوسه په پوسخند دوه سترګې زما خواته نیولې وې. زما دا ټولې ستونزې د همدغه له لاسه دي.

که ده د ځان ژغورلو لپاره هغه ورځ الفا ته د هغه منحوس سایي نوم نه وای اخیستی، الفا به لکه د لیوني سپي په شان زما پسې نه ګرځېده، چې ایا زه هم د هغه منحوس سایي په اړه معلومات لرم او که نه؟ امکان یې درلود چې الفا بیخي زما پسی نه وایې شوی او خوشی کړی وایې ..

که د هغه خبرو څخه هم تېر شم، که ده دا شرط نه وایې ایښې چې زه به ورسره همکاری کوم، نو اوس به د ذوالفقار له خبریدو دومره نه وېرېدم.په دې فکرونو مې بېاختیاره تندی تروش شو او په غوسه مې وویل: څه ته ګورې؟ ګلان دې وشېندل، اوس نو موټر ته پورته شه...

د عزیزی سترګې د یوې شیبې لپاره د حیرانتیا څخه پراخې شوې.
– څه دې وویل؟

د هغه په دې خبره مې خپل ژبه کلک پر غاښ کړل، د څو شیبو لپاره مې هېڅ ونه ویل. البته څه مې د ویلو لپاره نه درلود، اخر کې هم د موټر دروازه مې خلاصه کړه او بې له دې چې ورته وګورم موټر ته پورته شوم.

- ه ... هغه ما ویل مهرباني راځې تر څو شرکت ته مو ورسوم.

عزیزی هملته ولاړ وو، د څو شیبو لپاره یې په دروند نظر زما خواته وکتل، بیا کرار،کرار د موټر خواته راغی او دروازه یې خلاصه کړه، دا ځل د شاته سیټ کې د کښیناستلو لځایه مخکې سیټ کې کښېناست.

کله چې د موټر دروازه یې وتړل، یو درنه چوپتیا خپره شوه، ما په زر بسم الله ویلو موټر چالان کړ، خو لا مې حرکت نه و کړی چې عزیزی کرار راغږ کړل.

– برهان ..

د هغه په غږ لاس مې د وېرې څخه لړ ولړزید خو ژر مې ځان راټول کړ.
- بله ..

هغه لږ سر زما خواته راوګرځاوه، د سترګو هغه عجیبه نظر یې لا هم زما پر مخ و.
– ته نن ډېر زړه ور شوی نه یې؟

د هغه په دې خبره د زړه درزا مې پورته شوه، خو ځان مې کلک ونیو.
- و .. ولې کوم څه مې ستاسو د خبری خلاف کړی، مشره!

له قصد مې مشر وویل چې شاید په دی محترمانه لهجه مې پرېږدی، خو عزیزی کرار پوسخند وواهه او ویې ویل: اوس نو بیخې ډاډه شوم چې یو خبره شته ...

@Shuhab09

څه مې ورته ونه ویل، البته عزیزی ته توضیح ورکول هېڅ کوم ګټه نه لری، هغه یوازی خپل په فکر او خبره باور لری او د مقابل کس خبره ورته د میږی هومره ارزښت لا نه لری.

د څو شیبو لپاره نه ما کوم څه وویل او نه هم هغه، د هغه وروسته عزیزی کرار خپل سر لږ زما خواته راټیټ کړ، او په داسې لهجه چې څه ناڅه حیرت او خندا پکې ښکاریدل ویې ویل: عجیبه انسان یې برهان ... کله ناکله زما څخه دومره وېرېږې چې چونګ لا نشې ویستلې، خو کله ناکله بیا داسې دلاور شئ چې ما ته امر کوې..

د کوڅې سر ته مې موټر کرار،کرار روان کړ. د زړه له تل مې غوښتل یوازی ژر،تر ژر له دې ځایه ووځم، د دې څخه مخکې چې کوم کار وشې، همغه حال کې د عزیزی ځواب مې هم ورکړ.

- انسان پر یو حال نه وی، کله، ناکله بدلیږی ..
عزیزی- خو ما د هغه کس څخه بد راځې چې رنګ بدلوی ...

څه مې ونه ویل عزیزی هم چوپ شو، البته خپل زهر یې وشیندل او ما ته یې په لفافه کې وویل جاسوس دوه مخکې، خود به نو اوس چوپ کیږی..

خو دا چوپتیا یې ډېر دوام ونه کړل او ناڅاپه یې وویل: ستا پلار ډېر عجیب سړی دی.

د هغه په دی خبره مې بې اختیاره لاسونه پر سټرینګ کلک شول.
- څنګه عجیب؟
عزیزی- نظر یې بل ډول وو..

نیم نظر مې د هغه خواته واچو، خو څه مې ونه ویل، عزیزی داسې حال کې چې سرک خواته کتل کرار وویل: زما پر مخ یې ډېر وخت نظر اچولې وو، لکه د یو شئ پسې چې ګرځیدی؟

اوړی مې پورته واچول او رښتیا مې ورته وویل: زما د پلار عادت دی ما ته هم تل په تروش تندی ګوری، البته فکر کوم تاته یې ځکه یو څه بد کتل، ځکه چې ټیټو دی درلود(عزیزی نیم نظر راواچو چې ما کرار وویل: زما پلار د ټیټو څخه بیحد بد راځي.

عزیزی کرار وخندل.
— نه، فکر نه کوم خبره دې د ټیټو اوسیږی..
څه مې ونه ویل، چې د څو ثانیو وروسته هغه بیا وویل: ستا پلار زه خوښ نه شوم ...

د هغه دې خبری ته مې خندا راغلل، نه پوهېږم ولې خو عزیزی د بابا تر تاثیر لاندی راغلې وو، کنه ما هېڅکله عزیزی نه ولیدلې چې د یو چا په اړه دومره خبری وکړی.
زما د خندا په لیدو هغه خپل یوه وریځه پورته واچول چې ما ژر وویل: زما پلار همداسې دی، د یو چا څخه یې ژر ښه نه راځي ...

عزیزی نور څه ونه ویل او چوپ شو، ما هم موټر عمومي سړک ته وباسلو، او کوښښ مې کاوه ژر تر ژره ځان شرکت ته ورسوم تر څو د عزیزی د شر بې غم شم، چې هغه کرار وویل: په یوې خبری مې سر نه شو خلاص.

بې اختیاره مې ویوښتل: څه؟

هغه زما خواته مخ راوګرځو او په دروند غږ یې وویل: دا چې ستا د پلار څهره ولې ما ته آشنا ښکاري؟

لاس مې بې اختیاره د موټر په سټرینګ کلک شو.
- څ .. څه مطلب آشنا ښکاری؟

عزیزی د څو شیبو لپاره چوپ شو، بیا یې کرار وویل:
— داسې احساس کوم لکه چې مخکې مې کوم ځاې لیدلی دی، خو ځای ته یې نه

شم راوړلې چې کوم ځای؟

کوښښ مې وکړ چې ځان عادي ونیسم، خو زړه مې نړدی و له سینې راووځې.
- امکان نه لري.
عزیزی کرار وویل: ولې؟
- زما پلار خپل ټول عمر کلي کې تېر کړی، تازه دا څو کال کېږي ښار ته راغلې، او اوس هم کوم ځاې کې چې اوسیږی فکر نه کوم تاسو دې د هغه ځایونو خواته ورشه درشه ولری، چې وغواړی ویې ویني ..

عزیزی څو شیبې چوپ شو، د موټر له کړکۍ دباندی خواته وکتل، لکه د کوم پخواني یاد لټون چې کوی، بیا یې کرار وویل: کېدای شي ...

زړه کې مې دعا کول چې عزیزی نور د بابا په اړه پوښتني کول او خبری کول بند کړی، خو نه پوهېږی نن ده څه د بابا سره راخیستې وه چې هېڅ ډول یې دا بحث نه خوښې کاوه.

عزیزی- ستا پلار کوم وخت پوځ کې و؟

دا ځل نو رسماً سکته مې ووهل، نه پوهیدم د هغه دا خبری اخر څه معنا لری؟
- څنګه؟

عزیزی په ژور انداز راوکتل او ویې ویل: د هغه د لاس ورکول انداز عادی نه وو، هغه د نظامي کسانو په شان ما ته لاس راکړ.

په بند،بند لهجه مې وویل: ن ... نه ضرور غلط شوی یاست، زما پلار نظامي کس نه دی، فکر نه کوم هغه دې عمر کی توفنچه لا لاس کې نیولې اوسی، هغه یو وخت تجارت کاوه اوس هم دوکان لری ...

عزیزی د پوهیدو په انداز سر وخوځاوه او شکر نور شرکت ته تر رسیدلو یې د بابا یا زما د کورنۍ په اړه کوم پوښتنه ونکړل. همدا چې شرکت ته ورسیدلو هغه خپل د دفتر پخوا روان شو ما هم موټر بیرته د هغه پخواني ځای ته ویوړ، البته مجبور شوم اوبه او دسمال راوړم او د سر یې ومینځم لږ خیرن شوی وو، همغه حال کې چې لګیا وم موټر مې مینځلو ټول فکر مې د عزیزی د هغه عجیب غریب پوښتونو او خبرو خواته وو، ولې د بابا په اړه دومره کنجکاو وو؟ ولې هغه خبره وکړل؟ او ولې د بابا څهره د هغه په نظر اشنا راغله؟ امکان لری بابا یې کوم ځای لیدلی وی؟ خو چیرته؟

په همدی فکرونو کې وم چې جیب کې مې د موبایل په لړزیدو په خود راغلم، په تلوار مې جیب ته لاس کړ او موبایل مې راوویست.

خیر دې زبیر ویسي چې دا موبایل یې په زور راباندې واخیست، کنه تر اوسه به هغه مات موبایل راسره وای چې د چا نمبر به لا راته نه ښکاریدی، د موبایل سکرین ته مې وکتل، په سکرین چې کوم نمبر ښکاریدی هغه نمبر ناشنا و نه مې پېژنده، لومړی فکر مې چې ذهن کې راغی هغه د عزیزی د څو ساعتو مخکې خبری وه ..

هغه ویل شاید الفا درته ګواښ وکړی یا مسج وکړی، په دی فکر وډاریدم چې هسې نه د رښتیا الفا اوسیږی؟ خو بیا مې د ځان سره وویل: شاید کوم خپل وي او تازه یې زما نمبر پیدا کړی وی؟ په دې فکر په زړه نازړه توګه مې شنه تنۍ کیکاږله او «الو» مې کړل.

د هغه خوا د بابا دروند غږ راغی چې پرته له سلام علیک څخه یې په غوسه ناکه لهجه وویل: دومره دې تلوار و چې کور ته لا رانه‌وتلې؟ مور دې درته په تمه وه. که نور نه و، د هغې لپاره خو به دې یو سر دننه راښکاره کړی وای!

د بابا د غږ په اوریدو مې هوسا ساه واخیستل، او غوښتل مې عزیزی بهانه کړم او ووایم چې رئیس مې راسره و، نو ځکه دننه رانغلم، خو د څه ویلو مخکې بابا وویل:

ماښام خپل د ښځې او ماشوم سره راشه درته په تمه یو. ذوالفقار ته مې هم خبر ورکړی، هغه هم راځي.

د ذوالفقار د نوم په اورېدو سره په تلوار مې وویل: نه... مطلب زه کار لرم، نشـ...

لا مې خبره پوره کړې نه وه چې بابا په کلک غږ وویل: بېځایه بهانې مه راوړه، طاها! ماښام کور کې اوسه، درته په تمه یو.

د دې خبرې سره سم، پرته له دې چې زما د کوم بل ځواب په تمه شي، موبایل یې بند کړ. څو شیبې مې خاموش سکرین ته سترګې ونیول رښتیا یې ویل: که له کوم شي تښته وډار شې، هماغه شي دې پر سر راځي.

زه د ذوالفقار سره د مخامخ کېدو او له دې چې بابا ورڅخه د عزیزی په اړه پوښتنه وکړي وېرېدم، او اوس هماغه کار وشو. تر ماښام پورې مې زر ډول فکرونه او بهانې له ځان سره جوړې کړې، تر څو د بابا کور ته لاړ نه شم، خو د طاهر او بیا د ذوالفقار په زنګ وهلو مجبور شوم چې بهانې پرېږدم او روان شم.

اقرا ته مې چې کله د بابا کور ته د تګ خبره وکړه، نو د پخوا په شان خوشحاله نه شوه. داسې حال کې چې هغې تل هڅه کوله زما او زما د کورنۍ اړیکې ښې کړي، خو نن نه یوازې خوشحاله نه شوه، بلکې لږ خفه هم ښکارېده. خو زما ذهن د بابا له اړخه دومره خراب و چې د هغې خفګان ته مې هېڅ پام نه شو.

موټر مې ونیو او د ماښام لمونځ پر قضا کېدو و چې د بابا کور ته ورسېدو. د ذوالفقار موټر د بابا د کور مخې ته ولاړ و. د هغه په لیدو سره مې «اه» له سینې ووت، لکه چې نن ماښام زما د سپکولو شپه ده؟!

کرایه مې حساب کړه او غوښتل مې کور ته ننوځم، چې د کوڅې منځ کې مې په یو کس نظر ولګېد. داسې حال کې چې موبایل یې په غوږ نیولی و، دوه سترګې یې د بابا د کور خواته وې.

دومره مشکوک ښول یې د بابا کور تر نظر لاندې نیولی و چې ما بې‌اختیاره لاس خپل جیب ته ویوړ، خو بېرته مې وپېژاند. دا د عزیزي نفر و، یو،دوه ځله مې مخکې هم لیدلی و. ضرور یې دلته راستولی و تر څو د بابا کور تر نظر لاندې ونیسي.

که څه هم پوه شوم چې دا کس د عزیزي نفر دی، خو بیا هم زړه مې طاقت ونه کړ. محمد مې د اقرا په غېږ کې ورکړ او د کور دروازې د ټکولو په حال کې مې ورته وویل: ته دننه لاړه شه، زه اوس راځم.

هغې غوښتل څه ووايي، خو ما اجازه ورنکړه او په غټو ګامونو د هغه کس خواته روان شوم.

زما په لیدو هغه کس هېڅ خاص غبرګون و نه ښود. همااغسې یې په موبایل کې خبرې کولې، چې زه کرار کرار ورنږدې شوم. زما په نږدې ورتلو هغه بلاخره د بابا له کور نظر واخیست او زما خواته په راکتو شو چې ما په کلکه لهجه ورڅخه وپوښتل: دلته د څه لپاره ولاړ یې؟

زما په دې خبره هغه څو شیبې په تروش تندی راوکتل او بیا یې وویل:
– یعني ته نه یې خبر؟(کوم ځواب مې ورنکړ چې هغه په بې حوصلې لهجې وویل: مشر راستولی یم.

پوهېدم چې د عزیزي کس دی، خو دا چې داسې ولاړ و، دا مې هېڅ خوښ نه شو. دلته په کور کې یوازې بابا او طاهر نه وو. دلته حسنا وه، مروه وه، طیبې هم تګ راتګ کاوه، او زما هېڅ زړه نه غوښت دا منحوس انسان دلته ودرېږي او زما خویندو ته د ساتنې په نوم خپل مردار سترګې ونیسي.ما د عزیزي له هېڅ کس څخه ښه نه راتلل، هغوی ټول د خپل مشر په شان ناپاک وو.

- پوهېږم چې څوک یې. وایم دلته څه غواړې؟

لکه چې زما پوښتنه هغه غوسه کړ، چې یو ګام رامخکې شو. خو د کوم کار کولو مخکې د موبایل شاته کس ورته یو څه وویل. نه پوهېږم څه یې ورته وویل، خو ناڅاپه د هغه تندی تروش شو او موبایل یې زما خواته ونیو.

ما هم پرته له څه ویلو موبایل ورڅخه واخیست.

– ستونزه څه ده؟ خپل خو پوهېږې چې مشر دا کس ټاکلی، بیا ولې هسې جنګ کوې؟

د اشرف د غږ په اورېدو زما تندی هم تروش شو.

- فکر کوم مشر دې دا کس زما د کور د ساتنې لپاره ټاکلی، نه د دې لپاره چې خپل مردار نظر زما د کور کسانو ته ونیسي. که داسې وي، نو زه هېڅ داسې ساتنې ته اړتیا نه لرم. همدا اوس مو نفر له دې ځایه لرې کړئ.

زما په دې خبره نه یوازې د دې کس، چې دلته زما مخې ته ولاړ و، تندی تروش شو، بلکې د اشرف غږ هم قهرجن شو.

اشرف- خولې سره دی پام کوه، فکر مه کوه چې مشر درته څه نه وایي، نو ته کولای شې زموږ په سرو پورته شې.

د دې راپېښ شوي حالت څخه دومره غوسه وم چې بې له فکر کولو څخه مې وویل: زه ستا سر د پورته کېدلو لایق لا نه ګڼم، نو خپل نفر ته ووایه د دې ځای څخه لیرې شي، کنه زه ښه پوهېږم چې څه کار وکړم.

اشرف خوله خبرو ته جوړه کړه، خو د څه ویلو مخکې ما وړاندې موبایل بند کړ. بیا مې هغه کس ته چې د ډېرې غوسې څخه یې غاښونه چېچل او داسې ښکارېده لکه زړه یې غواړي زما مغزې را مات کړي، په پوسخند موبایل ورکړ او ومې ویل: اوس به

دې مشر درته زنګ ووهي او له دې ځایه به دې منتقل کړي، فکر دې نیسه نور دېخوا رانشې ...

بیا په پوره اعتماد به نفس د بابا د کور خواته روان شوم. عجب خوند کوي پر یو چا زور ویل. اوس پوهېدم عزیزی ولې دومره زور ویل خوښوی،کله چې یو نفر ته حکم کوی او هغه مجبور دی چې وې منې اه اه عجب خوند لری .. سر مې دوارو خواته وخوځاوه، لعنت دی وی زه د کوم وخت بل چا ته په زور ویلو خوشحالیږم؟ لکه چې کرار،کرار د عزیزی مردار خاصیتونه ما ته هم راځې؟

په دې فکر یو غټ استغفرالله مې وویل،خدای دی نه کوی زه د هغه په شان شم، کور ته د ننوتلو مخکې د هغه کس خواته مې وکتل چې لا هم لګیا و په غوسه یې موبایل کې خبری کول، عزیزی مې دومره پېژانده او ډاډه وم که اشرف ورته ویلي وای چې ما په دې خبره جنګ کړی، نو ضرور یې دا سپی د بابا د کور له مخه لیرې کاوه. د لومړي ځل لپاره په خپل کړي کار سخت خوشحال وم.

کور ته چې ننوتلم نو مروه مې د حویلي په کونج کې ولاړه ولیده. همدا چې پر ما یې نظر ولګید په تلوار یې وویل: خیرت خو و لالا؟ هغه سړی څوک و؟

د هغې په لیدو بې اختیاره مې موسکا پر شونډو راغله، د هغې پر سر مې لاس تېر کړ او ومې ویل: کومه خاصه خبره نه وه، لاره یې غلطه کړې وه، د یو ځای آدرس یې پوښتنه کوو. ورینداره دې چیرته لاړه؟

مروه- پورته مې یوړه، د ادی سره ده.
کور ته د ننوتلو په حال کې مې وپوښتل:
— ذوالفقار یوازې راغلی؟

مروه داسې حال کې چې زما پسې روانه وه، په خوشحالۍ وویل: نه، د کاکا ښځه هم ورسره راغلې، خپله لور راحیل یې هم راوړې. محمد او راحیل چې یو بل ولیدل نو یو بد حال یې جوړ کړ.

د هغې دې خبرې ته مې خندا راغله. څومره چې زه او طاهر عاجز او کم‌ګپ وو، هغومره مروه او حسنا د خبرو ډکې وې.

دهلیز ته چې ننوتلم، نو لومړی نظر مې د طاهر پر ښځه ولګېد. لکه چې د دوو میاشتو وروسته بالاخره د پلار له کوره یې زړه جلا شو او راغله. والله آفرین دې وي په طاهر، دومره حوصله! زه که په کور کې اوسېږم، یوه ورځ مې هم زړه نه غواړي اقرا له کوره ووځي، څه ورسېږي دوو میاشتو ته.

دا یو خاصیت ما له بابا اخیستی و. هغه دا عقیده درلوده چې ښځه که هر ځای وی، باید شپه د خپل خاوند په کور کې تېره کړي. بابا د شپې لخوا ادی د هیچا کور ته نه پرېښوده، حتا د خپلو ورونو کور ته هم نه. او ما هم همدا خاصیت درلود، زما هم هېڅ زړه نه غوښت د شپې لخوا اقرا چېرته پاتې شي، مګر دا چې زه ورسره اوسېږم.
د هغې سره مې سترې مشې وکړې او د ادی د کوټې خواته لاړم. هر څومره ناوخته چې مېلمه خونې ته لاړ شم زما په نظر زما په ګټه ده.

ادی د اقرا سره خبرې کولې او هماغه حال کې یې محمد کلک په غېږ کې نیولی و او ښکل کاوه یې. خو محمد زورکي وهل تر څو د راحیل خواته لاړ شي. د ذوالفقار میرمن هم هلته وه، د هغې سره مې هم سلام علیک وکړ او د ادی خواته لاړم.

ادی راڅخه خفه وه. ویل یې د راتلو قول دې راکړی و خو یوه میاشت کېږي چې ورک یې. حق مې ورکاوه چې راڅخه خفه اوسیږي. زه که ځان هم د هغې لپاره قربان کړم، بیا هم د هغې یو احسان مې لا نه دی جبران کړی. زه د ادی د قیام تر قیامته پوروړی یم، هغې زما حق کې د یو اصلي مور څخه لا ډېر مورتوب کړی ...

یو څو دقیقې د ادی څنګ ته کښېناستم او کوښښ مې وکړو چې په خبرو هغه خوشحاله کړم او زما ساده مور د رښتیا هم په دوه خبرو خوشحاله شوه، د ادی دا کارونو زه کله ناکله حیران کولم .. اخر یوه ښځه څنګه تر دی حد ښه اوسیدلې شي؟

دا دومره مینه هغه څنګه کولای شې؟ ولې دومره عاجز او معصوم ده؟ ولې زړه کې کینه او بغض نه لري؟

ولې زما څخه يې کرکه نه راځي؟ مګر زه د دی د بنې زوی نه يم؟ د هغه ښځې زوی چې د دی کور يې ورخراب کړ؟ فکر کوم د ادی ذهن ګډوډ شوی او زه ورته خپل زوی ښکارم او طاهر ورته د بنی زوی ښکاری؟ هو فکر کوم همدغه چل شوی، کنه امکان نه لری دومره ښه اوسيدل.خو ادی د طاهر سره هم بد چلند نه درلود، هر څومره مې چې فکر کاوه هغومره دا موضوع راته نه حل کيدونکي ښکاريدل.

د طاهر ښځه چې کوټې ته راننوتله نور مجلس بيخي زنانه شو، نو ما هم پاتې کېدل مناسب ونه ګڼل او لځايه پاځېدم.زما د پاځېدو سره محمد او راحيل هم زما پسې شول او غوښتل يې هغوی دواړه هم ويسم. دومره په معصوم توګه دواړه زما ومخ ته و دريدل چې په خندا ښکته شوم، دواړه مې په غېږ کې راوخيستل او د مېلمه خانې خواته روان شوم.

د بابا د ملګرو د خندا غږ تر دهليز راتلو. په کراره مې دروازه خلاصه کړه او د سلام په ويلو دننه ننوتلم. د بابا ملګري دواړه د هغه څنګ ته ناست وو، د هغوی مخامخ په خالي نالې ذوالفقار ناست و او د هغه ښي خواته طاهر و. عجيب وه خو ذوالقرنين کاکا نه ښکاريدی! ما فکر کاوه د تل په شان به په اول نالې د بابا څنګ ته هغه ناست وی ..

د ذوالفقار په ليدو محمد ځان زما له غېږې داسې کش کړ چې نږدې و راڅخه ولوېږي په تلوار مې راونيو.

- په کراره، څه کوې؟

خو هغه بې له دې چې زما خبرې ته غوږ شي، ځان يې د ذوالفقار خواته کش کاوه. ذوالفقار په خندا د هغه خواته کتل. مجبور ښکته شوم او هغه مې پر ځمکه خوشې کړ.همدا چې د محمد پښه پر ځمکه ولګېده، په يوه منډه يې د «تاتا، تاتا» په ويلو

ځان تر ذوالفقار ورساوه او د هغه غېږ ته يې ځان واچوه. د هغه داسې ناز او مکر ته مې خندا راغله او ومې ويل:

- يعقوب او يوزارسيف بلاخره يو بل ته ورسېدل، نظر نه شې ...

ذوالفقار داسې حال کې چې محمد يې په غېږ کې نيولی و، په تروش تندي وويل: ته خبرې مه کوه.

د هغه په داسې غوسه ناکه لهجه لومړی لږ ورخطا شوم، چې هسې نه بابا ورته د عزيزی په اړه کوم څه ويلي وي. خو په دويمه خبره چې ويې ويل: دا يوه مياشت کېږي، يو ځل دې هم زما تر کوره را نه وړ.

پوه شوم چې غوسه يې د ده د کور څخه زما په تلو ده، نه په کوم بل شي.
په دې فکر هوسا ساه مې واخيسته او د طاهر سره د سترې مشې وروسته د ذوالفقار دا بل څنګ ته کښېناستم.

محمد په يو علمګيري باندی ذوالفقار ته خبرې شروع کړې وې چې زما هېڅ باور نه راتلو دا دې زما زوی وي. اخ... دومره ناز، دومره عشوه! دا ښه ده چې جينۍ نه ده، کنه په قرآن د زبير خبره يو هېواد يې خپل پر عاشقانو آباد کاوه ...

لا مې نظر د ذوالفقار او محمد خواته و چې د بابا ملګرو د نن غرمې او زما سره د ليدلو کيسه پيل کړه. د هغوی د خبرو په جريان کې ذوالفقار په تروش تندي کرار وويل: دا څوک يادوي دوی؟ دا نوی رئيس دې څوک دی؟ تا د چا سره شراکت شروع کړی؟

د دې پوښتنو لپاره مې ځان تيار کړی و، نو ځکه بغير له کومې ورخطايۍ مې وويل: بيا وروسته درته وايم.

ذوالفقار نیم نظر راواچاوه خو کوم څه یې ونه ویل. یعنې د بابا ملګری تر څو چې یو نفر رسواي عالم نه کړي نه یې خوشې کوي، یوه خبره یې خوله کې نه ټینګېږي. زما د راتلو مخکې نه یوازې دا کیسه یې یو ځل کړې وه، بلکې دانه دانه هغه خبرې چې موږ په موټر کړي وو، لکه د شراکت د عزیزی د ځمکو کاروبار، دا ټول یې بابا، ذوالفقار او طاهر ته زما د راتلو مخکې هم کړي وو، او زما د راتلو وروسته یې یو ځل بیا تکرار کړل.

ما هم یوازې ورته کتل او سر مې خوځاوه، ذوالفقار هم په تروش تندي غوږ نیولی و، او پوهېدم چې د دې مجلس څخه د وتلو وروسته باید یو ښه اظهارات هغه ته ورکړم.

غمی خان- ولای ډېر هوښیار سړی و.
توریالي په خندا وویل: خود به هوښیار وي، که هوښیار نه وای دومره پیسې به یې نه درلودې. تا یې موټر سم ولید؟ په قران سم د پادشاهانو موټر و.

ما بغیر له څه ویلو د هغوی خبرو ته غوږ نیولی و. یعنې که دوی د عزیزی د اصلي کار څخه خبر شي، ایا بیا به هم داسې د هغه تعریفونه وکړی؟ یا که هغه وخت به یې نظر بدل شی؟ په همدې فکر کې وم چې د بابا ملګري زه مخاطب کړم او ویې ویل: څومره پیسې ګټې؟ د میاشت درامد دې څومره دی؟

د هغه په دې خبره لږ خپل ځای کې وخوځېدم، د دې پوښتنې توقع مې نه درلوده. د بابا خواته مې وکتل چې په ځیر نظر یې زما خواته سترګې نیولې وې.

ـ ه... هغه معلوم عدد نه دی، د موټر د خرڅېدو په حساب پیسې راکوي، کله ناکله لس، کله پنځلس...

غمی خان- اوممم... د یوې میاشتې لپاره ښه تنخوا ده. البته ما فکر کاوه چې شاید یو څه ډېر وي، ځکه که داسې موټران چې نن تا چلو درسره وي نو په خرڅولو یې باید که نور نه وي یو څلوېښت، پنځوس زره خو ته د میاشتې وګټې.

ځان سره مې وویل که یو څو شېبې نور چوپ پاتې شم، د بابا ملګری نه یوازې په دی خبرو او پوښتنو ما رسوا کوی، بلکې امکان لري دا خبره تر نورو خپلوانو هم ورسوي چې طاها د موټر خرڅولو شرکت لري... په قران د دوی څخه د هر څه توقع کېدای شي.

- هو، ستاسو خبره بلکل صحیح ده، د دې څخه ډېرې پیسې د هغه موټرانو په خرڅولو ګټي، خو زیاتره پیسې د رئیس دي.

توریالي- ولې د هغه دي؟ تاسو مګر شریکان نه یاست؟

د راحیل پر ویښتو مې لاس تېر کړ او کوښښ مې وکړ ځان عادي وښایم، نو ځکه په خندا مې وویل: نه، شراکت چېرته و؟ زه په لسمه برخه شریک یم، مطلب سلو کې ۹۵ سلنه شرکت او درآمد د هغه دی او پنځه سلنه زما .. یو ډول په نوم زه د هغه شریک یم، البته زه خو په همدې لس، پنځلس زره افغانیو د میاشتې هم راضي یم، کار مې کېږي.

زما دا خبری د بابا د ملګرو موډ لکه چې خراب کړ، ځکه چوپ شول. لکه چې هغوی د رښتیا فکر کړی و چې زه د موټرانو شرکت لرم! خو څو شېبې وروسته غمی خان په خندا وویل:زه خیر دا پنځه سلنه هم ډېر شی دی. مقصد شریک اوسېږه، کرار کرار خدای مهربان دی، خپله برخه ورباندې ډېره کړه.

بغیر له څه ویلو مې سر وخوځاوه. هو، خپله برخه ډېره کړم هغه هم پر عزیزی... البته که کومه برخه وایې لا یو خبره ...

ښه و، لکه چې دا د پنځه سلنې د برخې خبرې فایده وکړه، ځکه د بابا ملګرو نور زما د سر لاس واخیست او خپل مجلس یې شروع کړ. دواړه ماشاءالله داسې د خبرو ډک وو. البته بابا هم ورسره مجلس کاوه، یعنې ما هېڅکله بابا تر دې حد په خبرو نه و لیدلی، خو نن ماښام یې د هغوی سره بېحده ډېر مجلس وکړ. ډوډۍ راغله، وخوړل

شوه، سرخان تېول شو، چای راوړل شول، خو د دوی مجلس د خلاصېدو له ځایه لا په ګرمېدو شو.

زما خو خوب راغی. خپل د شا بالښت مې څنګ ته راکش کړ او ښه سم تکیه مې ورباندې ووهله. ذوالفقار هم لکه چې حوصله تنګه شوې وه، خو مجبور ناست و. زما په تکیه وهلو یې نیم نظر راواچاوه چې ما کرار وویل: څومره ډېر مجلس کوي.

ذوالفقار هم زما په شان کرار وویل: د شلو کالو وروسته یې یو بل سره لیدلي، او دا بیا د لالا ډېر قریب ملګري دي نو ځکه خبرې نه خلاصېږي.

بیا یې نیم نظر زما سترې څېرې ته راواچاوه او ویې ویل: او بل خو ته د مجلس سره آشنا نه یې، تل د مجلسونو څخه په تېښته وې، نو ځکه اوس درته دا مجلس سترې کوونکی ښکاري.

په پوسخند مې وویل: یعنې تا ته دا مجلس ډېر خوږ ښکاري؟

ذوالفقار د شونډو لاندې کرار وخندل او غوښتل یې کوم څه ووایي چې د بابا ملګري په خندا وویل: لکه چې تاسو ځوانان زموږ د بوډاګانو د مجلس څخه سترې شوي؟

د هغه په دی خبره ما په تلوار خپل تکیه سمه کړه. هېڅ مې زړه نه غوښت په دې موضوع د بابا څخه خبرې وخورم چې تا زما د میلمنو عزت ونه ساته.

ـ نه، داسې کومه خبره نه ده، هغه زما ملا لږ درد کوي نو ځکه بغیر له تکیه وهلو نشم کښیناستلی...

تورياليي خان په خندا خپل د چای له پیالې یو غوړپ وکړ او ویې ویل: ستا او د طاهر جان پر خوا دې بده نه لګېږي، خو تاسو دواړه خپل د پلار خواته نه یاست تللي .. د ذوالفقار خواته یې اشاره وکړه او په خندا یې ورزیاته کړه: ما چې ذوالفقار خان نن لومړی ځل ولید نو فکر مې وکړ چې همدا د ذوالکفل مشر زوی دی. څېره، اخلاق

او خبرې يې يو دم د ذوالکفل په شان دي. خو ذوالکفل ويل نه دا مې کشر ورور دی ...

بيا يې زما او د طاهر خواته چې زما څخه لابتر د ذوالفقار څنګ ته ناست و او بيخي ښکاريدی لا نه، نيم نظر واچو او ويې ويل: خو تاسو هيڅ خپل د پلار په شان نه ياست. البته څېره مو خپل پلار ته تللې، خو بدنه مو د هغه په شان قوي نه ده.
د هغه د خبرو په ادامه غمي خان وويل: د اوس وخت د ځوانانو د بدن هډوکي د پلاستيک په شان دي، د پخوا سړيو ته کله رسېږي؟ توريالي ته هم عجيب خبرې کوې...

يعنې محترمانه توهين تاسو تر اوسه ليدلی و؟ هغه نو همدا دی. يعنې په خبرو، خبرو او «جان، جان» ويلو کې يې موږ ښه سپک کړو. بغير له څه ويلو مې ورته کتل، چې توريالی خان په خندا د بابا خواته مخ کړ او ويې ويل: ما فکر کاوه که نور نه وي، ستا يو زوی خو به ضرور ستا رقم نظامي وي...

د «نظامي» د نوم په اورېدو بې‌اختياره مې غوږونه تېز شول او نېغ په خپل ځای کې کښېناستم. څه مطلب، ستا په شان نظامي وي؟ بابا د نظام سره څه کار لري؟

ناڅاپه د عزيزې خبره مې ذهن کې راوګرځېده:
«ستا پلار خو کوم وخت پوځ کې نه و؟»

بابا غوښتل خپل ملګري ته ځواب ورکړي، خو زه په تلوار د هغه د خبرو منځ ته وغورځېدم او ومې ويل: څ... څه مطلب نظامي وي؟ بابا د پوځ او نظام سره څه کار لري چې موږ نظاميان شو؟

غمی خان په خندا وويل: ته زموږ قومندان ته وايې د نظام سره څه کار لري؟
بيا يې د بابا خواته مخ کړ او ويې ويل: تا خپلو زامنو ته د پخواني وخت کيسې نه دي کړې؟

په حیران نظر مې د بابا خواته وکتل. څه مطلب د پخواني وخت کیسې؟ په تمه وم چې بابا به د هغه خبرې رد کړي او ووايي دا هسې ټوکې کوي او زه د قومندان او نظام سره څه کار لرم. خو بابا داسې حال کې چې په تروش تندي یې زما خواته کتل، خپل ملګري ته وویل: طاها د مجلس او خبرو سره دومره شوق نه لري. نن هم ستاسو په برکت تر دې وخته ناست دی او غوږ یې نیولی...

د بابا په دې خبره زړه مې خولې ته راغی. نو مطلب... د عزیزی خبره رښتیا وه؟ څنګه امکان لري؟ ولې ما بیخي دا خبرې نه دي اورېدلې؟

په ګنګس انداز مې د ذوالفقار خواته وکتل، خو د هغه په څېره کې هېڅ حیرت نه و، لکه چې هغه له وړاندې خبر و چې بابا نظامي کس و. خو چیرته؟ څه وخت؟

د بابا د ملګري په غږ په خود راغلم.

توریالي- خو زما تر اوسه په یوه خبره سر نه شو خلاص، هغه دومره کسانو کې ته ولې زموږ قومندان وټاکل شوې؟ ستا عمر خو هم دومره نه و چې ووایم زموږ د ډلې بوډا او مشر وې...

د هغه په خبره بابا کرار وخندل او ویې ویل: حافظه دې کمزورې شوې، توریالي... کنه هغه ورځ که دې سم یاد وي، کله چې موږ ټول یې په یوه لیکه ودرولو، جنرال مصطفی وویل: تاسو کې کوم چا مخکې نظامي تېر شوی او عسکري یې کړې؟ نو هغه دېرش کسانو کې یوازې ما او د خدای بخښلي مولا اکبر اخوند زوی لاس پورته کړ. خو څکه چې هغه یوازې نهه میاشتې عسکري کړې وه او ما دوه کاله، نو زه یې ستاسو قومندان وټاکلم...

توریالي خان لکه چې تازه دا خبره په یاد شوه، سر یې وخوځاوه او په خندا یې د بابا خبره تایید کړه.

– رښتيا وايې، ما بيخي له ياده وتلې وه دا خبره. خو تا چيرته دوه کاله عسکري کړې وه؟

د هغه په دې خبره ما هم د بابا خواته دوه سترګې ونيولې، زما د زړه پوښتنه يې کړې وه.

د بابا د کوم ځواب ورکول مخکې غمۍ خان په خندا د بابا خواته مخ کړ او توريالي ته يې په اشاره کولو وويل: د ده خبرې په زړه مه نيسه، د شپې د لسو بجو وروسته د ده مغزه کار نه کوي ...

په دې خبره دواړه پخندا شول چې توريالي خان تندی تروش کړ او غوښتل يې څه ووايي، خو غمۍ خان بيا هم اجازه ورنه کړه او ويې ويل: حافظه دې بيخي له لاسه ورکړې توريالي! لياده دې وتلې ذوالکفل د محمد ظاهر شاه د پاچاهۍ په وروستيو کلونو کې دوه کاله اجباري عسکري کړې وه.

بيا يې په خندا او لږ طعنه لرونکې لهجې وويل: البته حق لرې چې دا خبره دې له ياده ووځي. هغه وخت ته په دې بهانه چې د کور سرپرست يې او بل نارينه په کور کې نه لرې، له عسکرۍ معاف شوی وې.

د غمۍ خان دا طعنه پر توريالي ډېره بده ولګېده، چې ژر يې په ځواب کې وويل: ما خو بيا هم يوه بهانه درلوده. کور کې زما پرته بل نارينه نه و. ته خپله خبره وکړه! کله چې عسکر درپسې راغلي وو، مور دې غوجله کې پټ کړی وې چې زه زوی نه لرم ...

د هغوی په دې خبرو زما خوله د حيرت څخه خلاصه پاتې وه. باور مې نه راتلو دوی د کوم زماني کيسې کولې؟ ظاهر شاه په کوم قرن کې تېر شوی وو؟

دا خبرې ما هم اورېدلې وې چې د ظاهر شاه د پاچاهۍ په وخت کې د هغه عسکر کور په کور ګرځېدل او ځوان هلکان يې په زور عسکرۍ ته وړل. دا د هغه وخت د

حکومت قانون و، له اتلسو تر شلو کلونو هلکان باید دوه کاله حتماً عسکري کړې وای. خو دا چې بابا هغه وخت تللی و، دا خبره مې هېڅ نه شوه هضمولای. اخر بابا دومره زوړ نه و، د بابا په ړېره کې تازه دا دوه کلونو کې یو څو تار سپین ویښته راپیدا شوي وه، نو څنګه امکان لري هغه د ظاهر شاه په وخت کې عسکري کړې وي؟

د تورياليي او غمۍ خان بحث لږ زور واخیست، تر دې چې بابا د هغوی د خبرو منځ ته وغورځېد او دواړه يې چوپ کړل.

بابا- مهمه دا نه ده چې څوک عسکرۍ ته تللی و او څوک نه. مهمه دا ده چې موږ ټول یوځای د یو دښمن په مقابل کې وجنګېدو...

ما په ګنګس انداز کرار د ځان سره وويل: د کوم دښمن په مقابل کې وجنګېدئ؟

زما غږ بابا او د هغه ملګرو وا نهورېد، خو زما تر څنګ چې ذوالفقار ناست و، هغه واورېد او کرار يې وويل: د شوروي په مقابل کې، جهاد يې کړی و...

د هغه خواته مې وکتل او د هغه په شان کرار مې وویل: بابا جهاد کړی؟ خو هغه وخت چې شوروي حمله وکړه بابا دوی خو مهاجر شول؟ نو جهاد يې چیرته کړی؟ زه ولې د دې کیسو څخه نه یم خبر؟

ذوالفقار د سترګو له کونجه نیم نظر راوچواوه او ويې ويل: صحیح ده چې مهاجر شوي وه، خو یوازې کورنۍ، ماشومان او ښځې یې تر یو امن ځای وړي وه، د هغه وروسته دوی بیرته د جهاد لپاره افغانستان ته راغلل.

بیا یې یو نظر د سترګو له کونج زما خواته راواچو او په پوسخند يې دوام ورکړ: ته نو کوم وخت زموږ مجلس کې حاضر وی چې خبر شې؟ زما خو حافظه کې هغه ورځ یاد ته نه راځي چې ته دی میلمه خانې ته راغلې اوسیږی او د میلمنو سره کښیناستلې اوسی چې خبر شې .. پوهیږی طاها بغیر زموږ د شناخته خپلوانو او

هغه کسانو ښځه چې ته یې یو ځل ناڅاپې لیدلې یې ټول د لالا ملګری او دوستان فکر کوی لالا یو زوی لری نه دوه ...

د ذوالفقار په دې خبره سر مې ښکته واچاوه. هغه رښتیا ویل، زه هېڅکله هغه مجلسونو کې نه حاضریدم کوم کې چې د بابا ملګري او خپلوان وو. بد مې ترې راتلل. البته خبره د بد راتلل هم نه وو، یو ډول ماشومتوب او ضد و. بابا به زه د کرکټ ښځه منع کولم، ملګري به یې راته نه پرېښودل، زور به یې راباندې ویلو. ما به هم د هغه په ضد د هغه خبره نه منله او د هغه مجلسونو کې به نه حاضریدم.

حیران وم، ما ټول عمر کې خپل پلار ونه پېژند او پوه نه شوم چې هغه یو وخت نظامي او جهادي کس تېر شوی وو! خو عزیزی په یوه دقیقه کې، یوازې په یو لاس ورکولو، هغه وپېژاند ...

غمی خان ژوره ساه واخیسته او ویې ویل:
– عجب وختونه وو چې تېر شول ...

توریالي خان په خندا د هغه خبره تایید کړل.
– هو والله، ما داسې په یاد دي لکه همدا پرون چې هغه ورځ تېر شوی وی، خپل د زاری کولو غږ مې تراوسه په غوږ کیدی چې بابا ته مې کول، تر څو اجازه راکړې افغانستان ته د جهاد لپاره راشم ...

د هغه په خبره بابا کرار وخندل او ویې ویل:
– فکر کوم دا زموږ د ټولو مشترک حال و. ما ته هم دادا اجازه نه راکوله. هغه ویل ستا دوه کاکاګان تللې د جهاد حق ادا شوی، نورو ته ضرورت نه شته خو ما ...

بابا آه وویست او بیا یې وویل: ما چې هر څومره زاری وکړې ګټه یې ونه کړه. اخر د ګواښ ښځه مې کار واخیست. ادې ته مې وویل: شپې ته چې دادا راغی ورته ووایه ذوالکفل وایي یا اجازه راکړه او په دعا او تکبیر مې په خپله خوښه او رضا رخصت کړه، یا به پټ ځم،هغه وخت به مړی او ژوندی به مې ونه وینې ...

– ادی د شپې دادا ته زما خبری کړې وه، سبا سهار چې شو د مازدیګر وخت و چې دادا خپل کوټې ته وغوښتم او راته ویې ویل: هلکه، تا خپلې مور ته څه ویلي وو؟

بابا کرار وخندل، لکه چې هغه وختونو ته تللی وي او ویې ویل: ما هم خپل ټول جرئت راټول کړ او ورته ومې ویل چې غواړم افغانستان ته لاړ شم او د مجاهدینو سره یوځای شم،خو شېبې دادا هېڅ ونه ویل، یوازې راوکتل، د هغه وروسته یې یوه خبره او یو شرط راته کېښود.

توریالي او غمی خان دواړو کرار وخندل. غمی خان په شوخ لهجه وویل: والله، زما په نظر بهترین شرط او خبره وه.

دا ځل نه یوازې بابا او د هغه ملګرو بلکې ذوالفقار هم وخندل. خو ما په ګنګس حالت د هغوی خواته وکتل.څه شرط و؟ څه خبره وه؟ دوی ولې خاندي؟ حتا طاهر هم خندل! داسې لکه چې په کوټه کې یوازې زه ناخبره وم.

توریالي- دې خبری ته مو کله فکر کړی، هغه وخت به ټولو پلرونو او مشرانو همدا یو شرط خپل زامنو ته کیخود چې دا ولې؟
غمی خان په هماغه شیطنت وویل: په ولې خو خبر نه یم، خو والله چې د نرتوب شرط وو زما خو بېحده خوښ و.

بیا ټولو وخندل چې زما زړه طاقت ونه کړ او کرار مې له ذوالفقار څخه وپوښتل: څه شرط و؟

ذوالفقار د سترګو له کونجه په خندا راوکتل، خو د څه ویلو، مخکې بابا خپل د چای له پیالې یو غړپ وکړ او ویې ویل: زما په نظر دا شرط هغه وخت زیاتره په دې خاطر اېښودل کېده چې زموږ پلرونه او مشران وېرېدل چې زموږ نسل خلاص نه شي!

توریالي- اوممم... شاید. البته یو بل دلیل یې زما په نظر دا و چې هغه هلک د تلو وروسته ځان سره دا فکر وکړي چې شاته مې ښځه او ماشوم پاتې دي، باید بېرته راشم. یو ډول د ځان ژغورلو او ژوندي پاتې کېدو لپاره روحیه وه.

غمی خان- هسې خبره ده، مرګ چا پر دې خبرو راګرځولی؟ پوهېږې د هغه وخت دومره کسان زه پېژنم چې د مور په نس کې وو او پلرونه یې د جهاد په وخت کې شهیدان شوی او دوی خپلو کاکاګانو ته پلار وایي، او حتا په دې نه دي خبر چې اصلي پلار یې دا نه دی، بلکې دا یې کاکا دی چې د پلار د مرګ وروسته یې مور په نکاح کړې ده.

توریالي- هو، دا خبره خو دی سمده، خو زما په نظر هغه وخت مشرانو غوښتل د خپل زوی ځخه یو نښانه ولري. نو زیاتره ځکه د جهاد ته د زامنو استولو مخکې ودونه یې ورته کول یو، دوه یا درې میاشتې به هلک د خپلې ښځې سره تېرولې او بیا به تللو. که په دې موده کې هغه ښځه امیندواره شوې وای او که هلک یې نرې ته راوړی وای، بس نو د اختر زېری و.

غمی خان- فکر کوم د هماغه وخت دا متل مشهور شو چې وایي: د زوی زېری دې وي؟! ځکه د جنګ او جهاد په وخت کې هر چا غوښتل زوی پیدا شي، تر څو د کور ساتونکي او د میدان سرې وي.

توریالي خپل سر وخوځاوه او ویې ویل: فکر کوم زموږ د مشرانو دا کار له یو اړخه سم هم و. ته وګوره په هغه جنګونو کې موږ څومره شهیدان ورکړل. که نوی نسل نه وای راغلی، اوس به زموږ نسل ختم شوای وایې ..

بابا چې تر اوسه چوپ و، خپله خاموشي ماته کړه او ویې ویل: ستا په نظر زموږ نسل شوروي ختم کړ؟

زه چې تر اوسه خلاصه خوله د دوی خبرو ته غوږ وم، د بابا په خبره مې فکر د هغه خواته ولاړ. بابا خپل واسکټ ته لاس کړ او تسبیح یې راوویست عجیبه وه، خو

داسې ښکارېدل لکه د تسبیح په اړولو چې غواړي خپله غوسه کابو کړي.

بابا- تاریخ وایې افغانانو د شوری سره د جهاد په وخت کې یو، یو نیم میلیون شهیدان ورکړل. دوه، دوه نیم میلیون خلک یې معلول شول. اته، نهه میلیون کسان یې مهاجر شول. هغه چې د هېواد دننه بې ځایه شول هغه خو لا نه یادی ... اوس ته راته ووایه هغه یو نیم میلیون کسان چې تاریخ یې د شوروي د یرغل شهیدان بولي ایا ټول شوروي وژلي دي؟

کوټه ناڅاپه په درانه سکوت کې ډوبه شوه،غمۍ خان او توریالي خان کرار خپل د چای پیالې راوخیستې. داسې ښکارېده لکه د بابا د خبرو شاته چې پټ مطلب دوی ښه درک کړی وي، ځکه تندیان یې تروش شول او څېرې یې درنې شوې.خو ما په حیرانتیا د بابا خواته کتل، که شوروي نه دي وژلي نو دا دومره خلک چا وژلي؟

لکه چې زما د زړه پوښتنه بابا واورېدل چې خپل چوپتیا یې ماته کړه او ویې ویل: د شوروي په مقابل کې شاید زموږ قبرونه او هډیری د مرو څخه ډک شوی وی، خو زموږ نسل چې تباه شو، زموږ وطن چې خاوری او ایری شو هغه زموږ د خپلو مشرانو لخوا وشو ... هماغه مشران چې موږ یې شاته ولاړ وو او د جهاد او اسلام نارې مو وهلې.

بابا لږه شېبه چوپ شو بیا یې ادامه ورکړه: همدا د پرون ورځې خبره ده،موږ شوروی ته ماتې ورکړل او په خوشحالۍ خپل د کورنۍ خواته راون شو، تر څو هغوي بېرته هېواد ته راوړو. خو ناڅاپه خبر راغی چې حزب اسلامي دی، جنبش اسلامي دی، وحدت اسلامي دی، اتحاد اسلامي دی او خدای او قران وهلې مسلمان اسلامې په نومونو د قدرت وږو او سپو یو د بل پر ضد درېدلې او خپلمنځي جګړه یې پیل کړې ده.

شوروي زموږ یو ولایت دومره ولاکه خاورو سره خاورې کړی وی،څومره چې احمد شاه مسعود، حکمتیار، سیاف، عبدالعلي مزاري، دوستم او رباني دوي لوټه، لوټه او

خاوری، خاوری کړ .. هر یو د غر پر سر ناست وو او کابل ته یې راکیټونه نیولي وو. سل، یو نیم سل زره بې ګناه خلک همدوی شهیدان کړل ... کابل یې چور او کنډواله کړ، د خلکو په مال، سر او ناموس یې صرفه ونکړل او یو رسوا بربریت او وحشي توب یې شروع کړ، دا هغه وخت د کابل حال وو ...

ته فکر وکړه دا د کابل د افغانستان د پایتخت او مرکز حال وو .. نو د نورو ولایتونو به څه حال وو؟ کابل چې په داسې اور کې وسوځید نور ولایتونه خو د دوزخ یوه دروازه وه ... هر ولایت ځانته بادار درلود او هر چا خپل د ځواک او قدرت لپاره بیګناه خلک وژل او لوټ کول .. خلاصه د کلام شهر بې پرسان وو .. نو دا مه وایست چې موږ شوروی تباه کړو ... نه ... نه ...

موږ شوروي تباه نه کړو ...
هسې د هغوی نوم مه بدناموئ.
موږ خپلو جهادی مشرانو تباه کړو ...

د بابا خبرې ډېر راته د غفور کاکا (د عزیزی د شرکت آشپز) د خبرو په شان ښکاریدی. هغه دا یوه میاشت خپل ورځ او خبره حکمتیار او نورو جهادي مشرانو ته په کنځلو او ښېراو پیل او پای ته رسول. خو ما فکر کاوه دا د هغه شخصي غوسه ده، خو اوس د بابا په دې خبرو پوه شوم چې نه ... دا یو تریخ حقیقت دی.

ما دا خبرې د تاریخ په کتابونو کې تل راسته او چپه اوریدلې وه، خو اوس د بابا په خبرو پوه شوم چې زموږ ریشه د اول ورځې جهادی مشرانو له بیخ په تیشه وهلې وه، ما تاریخ د مکتب په کتابونو کې ویلې وو خو بابا دوی تاریخ په خپلو سترګو لیدلی او تجربه کړی وو، بابا د دې خبرو وروسته چوپ شو.

خو داسې ښکاریده لکه د غمۍ خان په زخم چې یې مالګه شیندلې وي، ځکه دا ځل هغه په قهرجن غږ خبرې پیل کړې، خو هره جمله یې د درې کنځلو او یوې خبرې سره

ويله. له دې ښکاريده چې زړه يې څومره ډک دی او غوسه يې تر کومه حده رسېدلې ده ...

غمۍ خان- د مشر نوم لا دې خبيثانو ته اخيستل کفر دی! دا حرامی*ان ولاکه د جنت بوی لا حس کړی، نه يوازې په لکونو بې ګناه خلک يې د خپل حرص له لاسه ووژل، بلکې د خدای د کعبې حرمت يې لا ورمات کړ، هغه وخت زما داسې په ياد دی لکه همدا پرون چې و. کله چې دوی د سپيانو په شان يو د بل سره په جنګ شول، نو ټول اسلامي هېوادونه په ننواتي ورته راغلل او ورته ويې ويل: مه کوئ خدای او قرآن ته وګورئ. خپل جهاد په دې سياسي حرص مه خرابوئ. سوله وکړئ، د يو بل وژنه بنده کړئ.

هغه وخت عربان د اوس وخت په شان دووس او دلګان نه وه، عربانو هغه وخت غيرت درلود. د شوروي پر ضد يې نه يوازې زموږ سره مالي مرسته کوله بلکې خپله هم راغلي وو او زموږ سره يې يو ځای جهاد کاوه، هغوی غونډه جوړه کړه. ټول دا په نوم جهادي خنزيران يې مکې ته وغوښتل. د خدای د کور تر څنګ يې ودرول.
د کعبې غلاف يې ورته په لاس ورکړ او ورته ويې ويل: قسم واخلئ، چې نور به خپلمنځي جګړه نه کوئ، يو ګډ او متحد حکومت به جوړوئ.

دا د بې پدر، بې مادر اولادونو هلته د خدای په کور باندی لاس کېښود او قسم يې واخيست،خو پښه يې افغانستان ته لا نه وه رارسېدلې چې بيا يې لکۍ ډنګ کړه او خپل جنګونه يې بېرته پيل کړل(د دی خبری سره ناڅاپه چوپ شو، خو بيا يې په افسوس وويل: رښتيا وايي ذوالکفل ... رښتيا وايي موږ تباه خپلو خلکو کړو، نه شوروي.

غمۍ خان چې خبرې کولې، داسې ښکارېده لکه کلونه کلونه غوسه چې يې په سينه کې بنده پاتې شوې وه او اوس کرار،کرار د خبرو په بڼه راوتله.

توريالي- موږ ساده خلک وو، فکر مو کاوه جهاد کوو، د خدای لپاره جنګېږو، د وطن لپاره قرباني ورکوو. خو نه و خبر چې اصل کې هغه غټ ښامارانو ته لاره خلاصو او خپل وطن ورباندی برباد کوو ...

غمی خان چې لږ د هغه غوسه ناک او جذباتي حالت راښکته شوی و، پخندا او ټوکو وویل: ولای که د اوس وخت پوه ما هغه وخت درلود، په شوروی مې ټک لا نه کوی، د دی جهادی خنزیرانو لځایه کاش هغوی افغانستان نیولې وایي، موږ تخو یې کوم تاوان نه درلود برعکس ګټه یې هم رارسیدل(زما خواته چې په حیرت مې ورته کتل سترګک ووهل او پخندا یې دوام ورکړ: یو شني سترګي تک سپین شوری ښځه خو به مې په نصیب شوی وایې کنه کاکا دی جارسی؟ عجب خوند به یې کړی وایې ....

لومړی یو څو شیبې د هغه دی خبری ته هک حیران شوم، خو ډېر ژر د هغه د خبری شاته مطلب مې واخیست، کله چې یو انسان ډېر د یو شئ یا یوې خبری څخه وکرېږی او پعذاب شي، نو هغه وخت د هر څه څخه تېرېږی او بدترینه شئ غواړی، لکه غمی خان چې د مجاهدینو د ظلمونو څخه دومره په تنګ راغلې و، چې په کفر راضی و خو د دی په نوم مسلمانانو باندی نـــه ...

شاید یو نیم ساعت نور هم هلته ناست وم او د هغوی خبرو ته مې غوږ نیولې وو، خو اصل کې ټول فکر مې دی خبری ته وو چې بابا د کوم قرن او زماني وو؟ فکر وکړه بابا هغه وختونه لیدلي و کوم چې موږ یوازې د تاریخ په کتابونو کې ویلې وه. بابا څومره حکومتونه لیدلی وه؟ په دی فکر د ځان سره حساب کول مې شروع کړل.

ویل یې د ظاهر شاه د پادشاهي اخر وخت کې عسکری کړی وه، نو مطلب هغه وخت یې لیدلې، د سردار داود خان سپین کودتا او د جمهوریت دوره یې لیدلې، د نورمحمد ترکي او د خلقیانو انقلاب یې لیدلې، د شوروی مقابل کې خو جهاد کړی، بیا یې د مجاهدینو خپلمنځي جګړه لیدلې، د طالبانو راتګ یې لیدلې، د هغوی سقوط او د امریکا او ناټو راتګ یې هم لیدلې، د کرزی د جمهوریت دوره او بیا اشرف غني ...

سترګي مې د حيرت راووتلې، يعنې يو کس دومره بدل،بدل زماني ليدلې وه. پادشاهۍ، انقلابونه، جهاد، کورنۍ جګړې او بيا نوی نظام.

بابا ته بايد د تاريخ د غټ ترينه عيني شاهد ايواډ ورکړی شي، ما چې ياد ته راځي کرزی رئيس جمهور ووو، البته تر دوه کال مخکې چې اشرف غني رئيس جمهور شو. بس دوه رئيس جمهوران مې ليدلې او اميد هم نه لرم چې نور دی و ليدلي شم، ځکه فکر کوم عمر مې خدای خبر د بابا تر عمر ورسيږي زه ډېر، ډېر عمر وکړم ځلويښت يا هم پنځوس کال د هغه وروسته يا مې يو څوک وژني يا هم طبيعي توګه سکته قلبي کوم او مرم ...

د يوولس بجو شاوخوا وه چې ذوالفقار خپل لځايه پاڅيد او د تګ يې وويل، بابا ورته ډېر وويل چې شپه پاتي شه خو هغه ويل کار لرم بايد لاړ شم، د هغه په پاڅيدو زه هم پاڅيدم چې بابا په يو بد نظر راوکتل چې ما په تلوار وويل: د ذوالفقار سره د کور تر دروازې ځم، کور ته نه ځم، نن شپه همدلته پاتي کيږم.

زما په دی خبره د بابا نظر لږ نرم شو او څه يې ونه ويل چې زه هم د ذوالفقار سره د کوټې راووتلم هغه خپل پر ښځه د تلو غږ وکړ او ماشاءالله ښځه يې لکه چې يو ساعت مخکې حجاب کړی ناسته وه! ځکه د ذوالفقار په همغه لومړۍ غږ تيار اماده راووتل، ذوالفقار چې هغه وليدل نو د کور د دروازې خواته روان شو خو ماته يې هم اشار وکړل تر څو ورسره لاړ شم، يعنې د دومره مجلس وروسته ما خپل نوم لياده ووت خو د ذوالفقار خپل اظهارات اخيستل لياده ونه وتل ...

ذوالفقار- ښه نو وايه، دا نوی رئيس دی څوک دی؟

يو څو شيبي مې وروکتل، هغه روان دی کور ته ځې فکر نه کوم اوس وخت داسی خبره کول ورته مناسب وی؟ په دی فکر کرار مې وويل: دومره مهم خبره نه ده، يو بل وخت چې بيکار وی په اړه يې درته وايم، اوس ورېندار درته په تمه ده.

زما په دی خبره ذوالفقار خوله خبرو ته جوړه کړل او غوښتل یې همدا اوس زما له خولې اقرار واخلې خو کله چې خپل ښځه د کور د دروازی سره ولاړه ولیده، په غوسه یې راوکتل او ویې ویل: فکر مه کوه چې په دی بهانو راڅخه خلاص شوی، سبا سهار یا راځې زما دفتر ته او ټول کیسه د اول تر اخر راته کوی، یا زه پخپل ستا هغه منحوس شرکت ته درځم او معلوم کوم چې ته بیا څه کوی چې ما ورڅخه ناخبر ساتي؟

د ذوالفقار دی خبری ته فکر کولو لا زما زاره راچول، څه ورسیږی که د رښتیا هغه د عزیزی سره مخامخ شې، عزیزی یو عصاب خراب انسان و چې خپل د خبری بغیر یې د بل چا خبری ته د یو روپي ارزښت لا نه ورکو او ذوالفقار هم د هغه څخه دوه چند عصاب خراب وو،که خدای مکړه دوی دواړه یو د بل سره مخامخ شوی وایې هغه ورځ د یو نه د یو جنازه باید ما کړی وایې او ډېر امکان یې درلود هغه یو کس ذوالفقار وایې ... په دی فکر په تلوار مې خپل سر وخوځاوه لعنت دی په شیطان وی، دا نو څنګه بیځایه فکر دی ... استغفرالله ... الله اکبر ... اعوذبالله ...

- ضرورت نشته ته راشې، زه خپل درځم دومره مهم خبره نه ده.

ذوالفقار خپل د موټر خواته روان شو او همغه حال کې کرار وویل: خدای دی وکړی طاها ... خدای دی وکړی چې همدا ستا خبره وی، که خدای مکړه خبر شوم بیا دی یو بد کړی او ما ته دی نه دی ویلي هغه وخت بیا زه پوهیږم او ته ...

د هغه د ګواښ و ډار شوم خو و مې نه ښود او ځان مې ارام ونیو، چې ذوالفقار موټر روښانه کړ او راون شو. د هغه د تلو وروسته د کور شاوخوا مې وکتل خو هیڅوک کوڅه کې نه ښکاریدل، لکه چې عزیزی خپل نګهبان سپي د دی ځایه لری کړی وو؟ بلاخره یوه ورځ زما خبرې پر یو چا تاثیر وکړ او هغه کار وشو کوم چې ما غوښت، دا ورځ باید په تاریخ کې ولیکم ...

کور ته چې ننوتلم بابا دوی لا هم مجلس کاوه خو زه دومره ستړې وم چې نور د یوی خبری د اوریدلو حوصله مې لا نه درلود، څه ورسیږی د هغوی د مجلس ...
حسنا ته مې وویل: زه چیرته ویده شم؟ هغې هم راته یو کوټه وښودل او ویې ویل: وریندار او محمد هغه کوټه کیدی، کله چې کوټې ته ننوتلم نو اقرا او محمد دواړه ویده وه، خو عجیب وه اقرا د خوب وخت کې لا څهره غمژن ښکاریدل! نه پوهیدم نن ولې دومره خفه او غمژن وه؟ حتا زما سره یې یوه خبره لا ونکړل، ډېر مې زړه غوښت راویښه یې کړم او ورڅخه وپوښتم چې ولي داسې خفه یې؟ خو بیا مې زړه ونه شو ځان سره مې ویل سبا سهار کار ته د تلو مخکې راویښه کوم یې او ورڅخه پوښتنه کوم، په دی فکر ځای کې څملیدم خو خوب چیرته وو؟

د یو اړخ په بل او د بل څخه په بل شوم خو خوب نه راتلو، هره شیبه دی خبری ته مې فکر کاوه چې سبا څنګه د عزیزی څخه اجازه واخلم او د ذوالفقار شرکت ته لاړ شم؟ او که لاړ هم شم هغه ته څه ووایم؟ دا نو بیخي د شرم څخه لا شرم دی چې د هغه سترګو ته وګورم او ووایم: ذوالفقار ستا د هغه دومره نصیحتونو، خبرو او قسمونو باوجود ما بیا دا یوه میاشت تاته دروغ وویل!

که دا خبره وکړم شک نه لرم خپل توفنچه راخلې او دوولس مرمۍ مې ولې ... نه پوهیدم څه وکړم هر ډول چې مې فکر کاوه هېڅ نتیجي ته نه رسیدلم، همدی کش، مکش کې شاید نیم ساعت تېر شوی و چې ناڅاپه یو فکر مې ذهن ته راغلو ...

که سبا ورته مخامخ ووایم نو د وهلو، ټکولو، جنګ او غوسې حد به دوه چنده شي خو که همدا اوس ورته ووایم، نو تر سبا سهار به شاید غوسه یې لږ سړه شي او که بیا هم ډېر غوسه وي، په یو دوه لغتو به بسنه وکړي.

په همدې فکر مې لاس ورو جیب ته کړ او موبایل مې راوویست. څو ثانیې مې یوازې سکرین ته وکتل. زړه مې په زور زور درزېده. واټساپ مې خلاص کړ او د ذوالفقار نوم مې پیدا کړ.

کور ته به رسېدلی وي؟ هسې نه ویده شوی وي؟ که ویده هم وي، بیا هم باید مسج کې دا خبرې وکړم مخامخ د ویلو جرئت یې نه لرم.

په دې فکر ګوتې مې د کیبورډ پر سر ودرېدې، خو لیکل اسانه نه وو. څو ځله مې لیک پیل کړ، خو بیا به مې پاک کړ. اخر مې ژوره ساه واخیسته او ورته مې ټول حقیقت ولیکه. البته د هر خط سره مې دا جمله هم اضافه کوله چې:

«ګوره، دا یوه میاشت هېڅ نه دي شوي، او دا د هغه په برکت داسې امن دی.»
یعنې دومره مې د عزیزی د دروغو تعریف وکړ چې نږدې و زما خپل هم باور پرې وشي چې هغه ډېر ښه انسان دی!

د مسج لیکلو وروسته څو شېبې مې خپلې لیکنې ته سترګې ونیولې. څو ځله مې لاس ولاړ چې مسج پاک کړم او سبا سهار د یو بل دروغو په ویلو دا خبره تر یو مناسب وخته له ذوالفقار څخه پټه کړم. خو نه کېده، تر کله به مې دروغ ویلې؟

که رښتیا ووایم، د بابا او د هغه د ملګرو د جهاد کیسو په غیرت راوستم او دا مسج مې ذوالفقار ته ولیکه. دا هم جهاد دی کنه؟ د دروغو په مقابل کې.

دا ځل مې تردید ونه کړ او ژر مې د استولو ټنۍ کېکاږله پیغام ولاړ...
د موبایل سکرین ته مې داسې دوه سترګې نیولې وې، ته وا زما د مرګ او ژوند موضوع په همدې مسج ترلې وي.

یوه دقیقه تېره شوه...
بیا بله...
بیا بله...

شاید ویده شوی وي؟

په دې فکر، په ناهیلۍ مې غوښتل موبایل بند کړم چې ناڅاپه د ذوالفقار په پروفایل آنلاین ولیکل شو او د هغه سره سم زما د استول شوي مسج لاندې دوه ټیکونه آبي شول.

مطلب ذوالفقار پیغام ولوست.

د یوې شیبې لپاره مې نفس اخیستل هم هېر شول او نیغ خپل ځای کې کښېناستم.

یو ثانیه...
بیا دوه...
بیا درې...

همداسې شاید یوه یا دوه دقیقې تېرې شوې وي، خو هېڅ ځواب رانغی. داسې احساس مې کاوه چې کوټه کې یوازې زما د زړه د درزا غږ انګازې کوي. دومره ژور سکوت و...

خو د دوه دقیقو وروسته ذوالفقار، بې له دې چې کومه پوښتنه وکړي یا یو لفظ ووایي، آفلاین شو. یعنې یوازې یې مسج ولوست او لاړ...

باور مې نه راتلو چې بې له څه ویلو لاړ.

ځای کې څملاستم، خو دومره مې فکر د ذوالفقار دې ناڅاپي سکوت خراب کړی و چې هر څو ثانیې وروسته مې د موبایل سکرین ته په دې امید کتل چې شاید ځواب یې راکړی وي، خو نه کوم پیغام، نه کوم غبرګون...

یوازې د آفلاین نښه، چې معلومېده دا اکانټ لس دقیقې مخکې دا مسج کتلی.
بد احساس مې درلود. زړه مې غوښتل یو بل مسج هم ورپسې وکړم، خو مناسب راته ونه ښکارېد. زر بول فکرونه مې ذهن ته راغلل...

@Shuhab09

یعنې ډېر غوسه شوی؟
هسې نه همدا اوس راشي؟ نه، لیونی خو نه دی...
هسې نه غوسه یې دومره ډېره وي چې نور هېڅکله زما سره خبرې ونه کړي؟
نه، ذوالفقار داسې کار نه کوي...

په هماغه تیاره کې مې د کوټې چت ته سترګې ونیولې،عجب بد مې وکړل... کاش مخامخ مې ورته ویلي وای. د ذوالفقار سکوت د هغه د وهلو او ټکولو څخه ډېر دردناک دی. اوس دا شپه به څنګه سهار شي؟

هر څومره چې وخت تېرېده، هغومره مې ذهن خرابېده. بیا مې موبایل خلاص کړ او د واتساپ د نمبرونو لیست ته مې وکتل.یوازې ذوالفقار، اقرا او زبیر راسره وو. عجیب وه، خو زبیر لا هم آنلاین و.

یو څو ثانیې مې د هغه نوم ته وکتل او بیا مې مسج ورته ولیکه: ویښ یې؟
یعنې مسج لا تللی نه و چې د هغه ځواب راغی.
زبیر- اوووو... ډېره واړوی، څوارلسم سپوږمۍ په نیمه شپه راښکاره شوه!
بې اختیاره مې د هغه مسج ته موسکا پر شونډو راغله. غوښتل مې ځواب ورکړم، خو زما څخه مخکې د هغه بل مسج راورسېد.

زبیر- زه خو تل تر ناوخته ویښ یم. ته دا ووایه چې ته څنګه تر اوسه ویښ یې؟
ساعت ته دې کتلي دي؟

زړه مې نه غوښت زبیر ته د دې موضوع په اړه څه ووایم، نو ځکه مې ولیکل: هسې خوب نه راتلو.

سمدستي مسج راغی: خوب نه درځي، یا کومه نوې قصه شروع شوې ده؟ هوم؟
رښتیا ووایه، کوم نفری دې پیدا کړی که څنګه؟

بې اختیاره مې وخندل.
- خپل گمانونه پر ما مه کوه.

زبیر- هې قسمت هې! زما نوم هسې رسوای عالم دی، کنه ستا نفریان او عاشقان زما څخه ډېر وو، تر دې حد چې بیخي ښاپېریاني هم درپسې وې!

د هغه په دې خبره د خندا غږ مې پورته شو چې اقرا د خوب حال کې لږ وخوځېده. په زوره مې خپله خندا کنټرول کړه تر څو هغه راویښه نه شي، غوښتل مې یو دوه کنځلې ورته ولیکم، خو باید دا یوه خبره ومنم.د زبیر د لیکلو سرعت بېحده تیز و.یعنې تر څو چې ما یو مسج لیکه او استاوه، زبیر به څلور مسجونه راستولي وو!

زبیر- زما د تجربې په اساس تر نیمه شپه خلک یوازې د دوه دلیلونو لپاره ویښ پاتې کېږي: مینه... یا مصیبت...

یو څو ثانیې مې سکرین ته وکتل بیا مې ولیکل: فکر کوم زما حالت دوهم دی.
دا ځل مسج یې بېحده ژر راغی:
– څه شوي طاها؟ د څه مصیبت؟ چیرته یې؟

ژوره ساه مې واخیسته،احساس مې کاوه که له چا سره دا خبره ونه کړم، نو د ډېر فکر کولو څخه به مې سر وچوي، خو د دومره لیکلو حوصله مې هم نه درلود، نو لاړم هغه مسج مې چې ذوالفقار ته استولې و هغه مې کاپی کړ او زبیر ته مې واستو ..

د ذوالفقار په شان زبیر هم تر څو ثانیو هېڅ ځواب رانکړ، و ډار شوم چې هسې نه دې هم افلاین شې نو ځکه بل مسج مې ژر ورپسی واستو.

- ستا په نظر اوس به څه وشي؟

زبیر- زما په نظر؟ ته لومړی یو ځل بیا ووایه چې څه دی ووېل؟ زه پوه نه شوم.

@Shuhab09

د هغه دا خبره داسې وه لکه ته یو ځل بیا خبره تکرار کړه تر څو زه درته کنځل وکړم!
ځواب مې ورنکړ چې هغه په لیکلو لګیا شو یعنې شاید یو دقیقه لګیا وو مسج یې لیکې او ما فکر کاوه چې څه کنځلې امکان لری وکړی؟ او همغسې هم و کله چې مسج راورسید یوه صفحه وه چې شروع یې هم د کنځلو څخه شوی وه او پای هم ..

ما یې هغه یوه صفحه کنځل ویل چې بل مسج یې هم راغې:
— په قران که زه د ذوالفقار لځایه وایې داسې مې وهلې لکه خر ... داسې چې یوه میاشت د پورته کیدلو نه وایې طاها ... اصلاً فکر کوم ستا کار د وهلو څخه تېر شوی زه د ذوالفقار لځایه که وایې نور مې ته عاق کولای، دروغ به یوځل وی، دوه ځل وی تا لیدلې چې خوله خلاصوی دروغ، خبره کوی دروغ، هغه هم داسې معمولې دروغ نــــه داسې شاخداره او لکۍ داره دروغ، په قرآن قسم تا د دروغجنو نوم لا وشرمو په دی دروغو ویلو دی. ..

- یعنې ستا په نظر زما کار غلط وو؟

زبیر څو شیبې هېڅ ونه ویل د هغه وروسته لومړۍ یې یو د خندا بیا حیرت او ورپسې یو د ژړا اسټیکر راوستو او د هغه وروسته یو مسج.
زبیر- په قرآن ته نور د خر د مقام څخه لا وتلې یې طاها .... خدای خبر ته کوم ځناور ګرځیدلې یې؟ یوه میاشت دی دروغ ویلې هغه هم داسې رسوا دروغ او اوس لګیا یې وایې" ستا په نظر زما کار غلط وو؟" نه کاکا دی قربان شې ستا کار یو دم اسلامي او مسلماني وو، اصلاً ستا دی کار ته باید یو ایواډ هم درکړی شې ...

یعنې نیم ساعت کامل زبیر کنځل وکړل،وکړل ښه چې خپل زړه پر ما خالي کړ د هغه وروسته یې وویل: نور دی څه وویل ذوالفقار ته؟

- همدا مسج مې چې تاته دروا‌ستو همدا مې هغه ته استولې و، بس نور مې څه نه دی ورته ویلې ..
زبیر ژر ولیکل: بیا هغه څه وویل؟

- ستونزه همدا ده چې هغه يوازې مسج ولوست، خو هېڅ يې ونه ويل او مستقيم آفلاين شو.

څو شيبې زبير هېڅ ونه ويل بيا يې وليکل: طاها دا هېڅ ښه نښه نه ده.
زه خپل د ذوالفقار په داسې ناڅاپه چوپتيا ډاريدلې وم، د زبير په خبره بتر و ډار شوم.

- زه هم همدې خبرې ته فکر کوم.

زبير- که ذوالفقار هماغه ذوالفقار وي کوم چې زه پېژنم، نو د هغه دا چوپتيا ډېره بد معنا لري ...

ژر مې وليکل: نو اوس څه وکړم؟
زبير- طاها...
- ها؟
زبير- يوه خبره درته کوم خو و نه ډار شې ...

يعنې زبير د وېرې يو داسې اسټيکر راستولې چې د مسج څخه ډېر زه په اسټيکر باندې و وېرېدم ...

- وايه.

زبير- هېـــــخ مرګ نه درباندې کوي، هغه باندې ته خر دومره ګران يې چې ځانته به کنځل وکړې خپل زړه به وخورې خو تاته ولاکه ترخه خبره لا وکړي، خاورې دې ستا دا ګيدړسينګې شې چې هر يو ګورې ستا د کو*ې په سې دی او پر تا مينان دی ...

د زبير خبرې که څه هم سراسر توهين او کنځل وه خو زما فکر يې بدل کړو او د يو څه نور خبرو وروسته مې موبايل بند کړو او ويده شوم.

سهار چې له خوبه پاڅېدم،سر مې داسې دروند و او داسې خوب راتلو چې حد يې نه درلود، خو وايي کنه د پرى مزدور سهار پر آذان پاځيږي نو زه هم مجبور وخت پاڅيدلم ژر مې ځان تيار کړ او د معمول په شان د عزيزى د شرکت خواته روان شوم. ادى راباندى د چاى څښلو ست وکړ خو ما ويل نه بايد ژر لاړ شم زما بيچاره وور خبره نه وه زه خپل د يو نفر چاى تياروم او که ژر لاړ نه شم زما چاره کوى.

شرکت ته چې ورسېدم، يوازى د شرکت ساتونکي راغلې و، د هغه سره مې سلام عليک وکړ او دننه ننوتلم، د هره ورځ، په شان لومړى کار مې دا وکړ چې د اشپزخاني کوچنۍ کوټې ته ننوتلم او چايجوشه مې پر ګاز کېښوده او همغه حال کې لږ د آشپزخاني شاوخوا مې هم پاک کړل تر څو غفور کاکا دومره سترى نه شي، خو د دي ټول کار په جريان کې ذهن مې هلته نه و،هر څو شيبې ورويته مې موبايل خواته کتل. ذوالفقار لا هم هېڅ ځواب نه و ورکړى.

که څه هم زبير په کنځلو،کنځلو کې دلدارى راکړې وه خو بيا هم د ذوالفقار د داسې چوپتيا څخه مې هېڅ ښه احساس نه درلود، د چايجوشي څخه کرار،کرار بخار پورته کېده خو زما نظر لا هم د موبايل پر سکرين وو. چې ناڅاپه يو چا د اشپزخانى دروازه کرار وټکول، که څه هم دروازه يې کرار ټکولې وه خو ځکه چې زما فکر نه و اوږى مې له وېرې وپريدل او په تلوار مې مخ وروګرځو، د شرکت ساتونکى و.

- کوم څه غواړې؟
— نه، هغه(د دروازې خواته اشاره وکړه) يو سړى دباندې ولاړ دى.
په ګنګس انداز مې وپوښتل: څوک؟
هغه لږ فکر وکړ بيا يې وويل: ولاکه زه يې نه پيژنم خو وايي ستا کاکا دى.

د هغه په دى خبره ساه مې سينه کې بنده شول، زما کاکا ...! ذوالفقار ...نه... شايد بل څوک وي. خو بل څوک په دى سهار وختي تر دى ځاى نه راځي او ځان زما کاکا نه معرفي کوى، د ساتونکي په خبره خپل د فکرونو څخه راووتلم.

– که نه یې پیژني زه یې د شرکت له مخې وشړم؟
په تلوار مې وویل: نه ... زه راځم پیژنم یې ..

ساتونکي څو شیبې په مشکوک نظر راوکتل، خو بیا بغیر د څه ویلو ووت، د هغه په تلو په تلوار مې ګاز بند کړ او له آشپزخاني ووتلم، یوازې یوه خبر مې ذهن کې ګرځیدل، د عزیزې د راتګ مخکې باید ذوالفقار له دې ځایه رخصت کړم ...

دومره ورخطا وم چې هېڅ پوه نه شوم د آشپزخاني څخه د شرکت تر دروازې څنګه ولاړم، همدا چې ووتلم ذوالفقار مې د ساتونکي د غرفې مخکې لاس په سینه ولاړ ولید، که ووایم پښې مې له حرکت ووتل دروغ به نه وي، داسې په درونד نظر یې راکتل چې هر ګام راته د اور په سر د اخیستلو په شان ښکارید، کله چې ورنږدې شوم نو د هغه د قهرجن نظر په لیدو ټول تیار کړې خبرې مې له ذهن وپریدل او لکه ګونګیانو په شان هغه ته په کتو شوم.

ذوالفقار- ولې؟

د هغه دا لفظ که څه هم دوه ټکې وه، خو زما زړه یې خولې ته راوړو. دا خبره ذوالفقار څو میاشتې مخکې کله چې لومړی ځل خبر شو چې ما ورته چل ورکړی راته کړې وه، او د هغه وروسته تر ډېره وخت زما څخه یې مخ ګرځو، د دې فکر پر کولو چې بیا وغواړي هغه کار وکړي ورخطا شوم ..

- وبخښه .. زه پوهیږم چې ته غواړې زما څخه ساتنه وکړې، پوهیږم سخته ده درته چې ما د داسې کسانو او خلکو مینځ کې یوازې پرېږدې خو ... زه مجبوره یم ذوالفقار، نو خیر دی درک مې کړه، پوښتنه راڅخه مه کوه چې څه کوې؟ ځکه زه خپل هم نه یم خبر چې څه کوم؟ یوازې راباندې باور ولره د پخوا په شان پوهیږم اوس وخت ما هغه باور لمینځه وړی، خو ته یوځل د پخوا په شان باور وکړه او ما خپل کار ته پرېږده، قسم دی که کوم ځای پوه شوم خطر کې ولیدلې یم درته خبر درکوم سمده؟!

ذوالفقار د غوسي څخه په سرو سترګو راوکتل.
— که خبر وايې هغه ځل ما څومره عذاب تېر کړ، شايد اوس دی په دومره آساني دا خبره نه وايې کړې طاها ...

خپل د يخن دوه پورتني تڼۍ مې خلاصي کړل، احساس مې کاوه صحيح ساه نشم اخيستې.
- زه بخښنه غوارم، خو باور وکړه زه هر شئ سموم.

ذوالفقار- ضرورت نشته ته کوم شئ سم کړم، يوازې راته ووايه دلته پر تا څه کار کوی؟ د هغه وروسته زه پخپل موضوع ته رسيدګې کوم ...
- نه .. ذوالفقار ته نشې کولای، هېڅوک زما بغير دا موضوع نشې حل کولای، زه بايد پخپل دا کار وکړمـ ...

خبره مې خوله کې وچه شول او ناڅاپه مې نفس بند شو، خپل پوه شوم چې رنګ مې وپرېدی، ذوالفقار په انديښني له اوږی ونيولم.

ذوالفقار- بسم الله ... څه درباندی وشول طاها؟
خو زما نظر د ذوالفقار شاته پر عزيزی باندی ښخ وو، او فکر مې کاوه زړه مې خولې ته راغلې، ذوالفقار تيز زما نظر تعقيب کړ او د عزيزی خواته په کتو شو.

ذوالفقار- همدغه دی؟

د هغه څخه مې نظر واخيست او په تلوار مې ذوالفقار ته وويل: ته بايد لاړ شې .. ورځه بيا زه خپل درځم خبری کو ...

ذوالفقار په غوسې زما اوږه کېکاږل او ويې ويل: نو همدغه دی عزيزی ...

عزيزی د پخوا خلاف چې موټر به يې د شرکت حويلۍ ته راننباسه، نن يې موټر د سړک غاړې ته ودرو او راښکته شو. د هغه له ښکته کېدو سره سم اشرف او هغه کس

چې پرون ماښام ما د بابا د کور مخې ته لیدلی او بیاب کړی و، جوړه د اشرف سره له موټر راښکته شول.

هغوی غوښتل د عزیزی سره یو ځای زموږ پر خوا راشي، خو عزیزی د لاس په اشاره ودرول. او یوازی ځان زموږ خواته را روان شو. د عزیزی د سترګو نظر تېز او ځېره یې سخته وه او داسې راروان و لکه د جنګ میدان ته چې ننوځي.

د هغه په نږدې راتلو ذوالفقار زما اوږه خوشې کړه او د هغه مخې ته ودرېد. زما د زړه درزا تر یو سلواتیا رسېدلې وه. په ذهن کې مې یوازې یوه جمله تاوېده:

اوس به جنګ کیږی ...

ځکه نه یوازې د عزیزی په ځېره کې غوسه ښکاره وه، بلکې ذوالفقار هم د ساعتي بم په شان ولاړ و. لاسونه یې کلک موټ کړي وو، داسې چې ته وا زړه یې غواړي همدا چې عزیزی رانږدې شي په خوله یې ګوزار ورکړي.

عزیزی زموږ مخې ته ودرېد. څو ثانیې یې په دروند نظر لومړی ماته او بیا ذوالفقار ته وکتل، وروسته یې په ارام غږ ماته وویل: څه خبره ده؟

د عزیزی دا پوښتنه داسې وه لکه حملې ته چې ولاړ وی او یوازی غواړی زه د هغه خبره او فکر تایید کړم او وایم چې دا کس زه نه پیژنم، یا زما سره په جنګ دی! په دی فکر په ورخطای مې وویل: کاکا مې دی ..

زما په دې خبره د عزیزی د بدن هغه جنګي حالت لږ راکښته شو، خو لا هم په مشکوک نظر یې ذوالفقار ته کتل. ذوالفقار، چې تر اوسه په چوپ او قهرجن نظر عزیزی ته کتل، یو ـ دوه ګامه ورنږدې شو او په ارام غږ یې وویل: ته باید عزیزی اوسې؟

عزیزی کرار وخندل، خو خندا یې د خوښۍ نه، بلکې د تمسخر وه.
— هو، هماغه یم او ته هم باید...

لږ چوپ شو. سترګې یې زما خواته راواړولې، بیا بېرته د ذوالفقار خواته وکتل او هماغه پوسخند پر شونډو یې وویل: ته هم باید د دې کورنۍ پیشو تربیه کوونکي اوسې...!

د عزیزی په دې خبره زه یو دم ځای کې جام ودرېدم. ذوالفقار هم څو شیبې لکه چې ګنګس شو او د عزیزی د خبرې په مطلب پوه نشو، خو ناڅاپه یې په غوسه وویل: محمد... محمد طاها یې نوم دی. صحیح یې نوم واخله.

د ذوالفقار په دې خبره عزیزی بیا کرار وخندل او زما خواته یې وکتل.
— هممم... تر پرون بل نوم و. بیا ناڅاپه طاها شو... نن هم محمد طاها شو... سبا به پر کوم نوم شي؟

د عزیزی دا خبره ښکاره طعنه وه. هغه غوښتل زما د جاسوسۍ او د برهان د نوم استعمال ته اشاره وکړي او ښه خپل مطلب یې راورسول ځکه ما د شرم له امله سر ټیټ کړ. ذوالفقار غوښتل څه ووایي، خو عزیزی ناڅاپه خپل لاس د سترې مشي لپاره د هغه خواته وغځاوه.

په حیرت مې د هغه لاس ته وکتل دا نو څه کار و؟

ذوالفقار څو شیبې په تروش تندي د عزیزی لاس ته وکتل، خو بالاخره یې لاس ورکړ. عزیزی د هغه لاس کلک ونیو، څو ځله یې وښوراوه او ویې ویل: سلطان... سلطان عزیزی مې نوم دی.

ذوالفقار هم د هغه لاس کلک نیولی و. زما سترګې بې اختیاره د هغوی پر لاسونو ولګېدې. عجیب حالت و،دواړو داسې کلک یو دبل لاسونه سره نیولي وو لکه د زور

ازموینه چې کوي. وډار شوم چې هسې نه لاسونه یې مات شي! خو د عزیزی پر شونډو هغه ارامه مسکا ښودله چې دا زور ورته چندانې هم زور نه ښکاري.

ذوالفقار- ذوالفقار یم... د محمد طاها کاکا.

زما په یاد نه راځي چې ذوالفقار دې عمر کې کوم وخت زما نوم دومره پوره اخیستی وي. خو نن نه یوازې زما کامل نوم یې واخیست، بلکې خپل نسبت یې هم ورسره وویل داسې کار چې هغه عادتاً نه کوو. عزیزی د پوهېدو په انداز سر وخوځاوه او ورو یې د شونډو لاندې د هغه نوم تکرار کړ:

– ذوالفقار...

لکه چې ذهن کې د دې نوم پسې ګرځیدی، څو شیبې وروسته چې مسکا یې نوره هم پراخه شوه، پوه شوم چې بلاخره یې په یاد شول چې دا نوم یې څو ځله زما له خولې اورېدلی و. ځکه په شیطنت یې زما خواته راوکتل. د هغه دا بډول کتلو څخه مې هېڅ ښه نه راتلل.

عزیزی د ذوالفقار لاس خوشې کړ او د شرکت خواته یې اشاره وکړه.
– راځئ دننه خبرې وکړو. دا ځای د خبرو لپاره مناسب نه دی.

زه هره لحظه په تمه وم چې ذوالفقار د هغه خبره رد کړي او جنګ شروع کړي، خو په نهایت حیرانتیا کې ذوالفقار د هغه خبره ومنله او د عزیزی پسې شرکت ته ننوت.
زه لکه لیونیان په شان یوازې په میدان پاتې شوم. څه وشول؟ دوی خو باید همدا اوس سره جنګېدلي وای کنه؟ نو ولې داسې په ارام یو د بل خبره مني؟

په ګنګس حالت د هغوی پسې روان شوم. عزیزی مستقیم خپل دفتر ته لاړ. ذوالفقار او زه هم ورپسې وو،کله چې دفتر ته ننوتو، عزیزی د خپل ریاست د څوکۍ پر خوا روان شو او موږ ته یې هم د کېناستو اشاره وکړه.

ذوالفقار د میز مخې ته په څوکۍ کېناست، خو زه د کوټې په کونج کې پر چرمي کوچ کېناستم او دواړو ته مې سترګې ونیولې،عزیزی د کېناستو سره سم په پوسخند خپل یوه پښه پر بل واچوله. زما سترګې بې اختیاره د هغه د پښې پر خوا ولاړې. ځکه هغه وخت چې ما د جاسوس په توګه د عزیزی سره کار کاوه، هغه راته یوه خبره کړې وه ...

"کله چې د معاملې د میز تر شا کښېنې نو هڅه وکړه د بدن په حرکاتو خپل برلاسې او بریا وښایې." د هغه یو ساده تخنیک دا و: پښه پر بل پښه اچول.

هغه ویل: "په دې حرکت سره ته مقابل کس ته دا پیغام ورکوې چې دلته مشر ته یې او وروستۍ خبره هم ستا ده." سترګي مې د عزیزی له پښې واخیست چې هماغه شېبه مې د هغه مرموز نظر پر ځان احساس کړ. دو سترګي زما خواته نیولې وه او پر شونډو یې هم هماغه اعصاب خرابونکي موسکا وه. دا هم د هغه د پټو قوانینو څخه یو بل قانون وو .. موسکا.

هغه به ویل: "په هر حالت کې چې یې موسکا مه پرېږده. د انسان څېره د هغه ځواک ښکاره کوی، که څېره دې وېرېدلې وي، نو تا د جنګ شروع کولو مخکې جنګ بایللې دی"

عجیبه دا وه چې نه یوازې عزیزی، بلکې الفا هم دا قوانین عملي کول،هغوی یوازې د زور له لارې نه، بلکې د حرکاتو، نظرونو او چوپتیا له لارې هم خپل قدرت ښود. بوډا د دوي دې کار د مافیا توره روانشناسي ویل ...

د ذوالفقار په غږ د دی فکرونو څخه راووتلم.

ذوالفقار د میز خواته ځان کش کړ، دواړه لاسونه یې د میز پر سر کیخودل او سترګې یې نېغ د عزیزی پر سترګو کې ښخ کړل، کوم کار چې شاید ډېر کم کسانو د هغه د کولو جرئت درلود!

ذوالفقار- ته د طاها څخه څه غواړې؟ د هغه سره دې مشکل څه دی؟

کوټه څو ثانیې په درنه چوپتیا کې ډوبه شوه، عزیزي هماغسې پر څوکۍ تکیه وهلې یوه پښه پر بل اچولې په چوپتیا او دروند نظر ذوالفقار ته کتل، البته د هغه دا کتل زیاتر د مقابل نفر د معلوم کولو لپاره وو، ما د هغه د داسې چوپتیا او آرامښت څخه کرکه راتلل او اعصاب مې ورته خرابیدل، خو افسوس چې کوم څه مې نشو ورته ویلې، خو ذوالفقار ... هغه چې د عزیزي لخوا کوم ځواب وانه ورید نو بلاخره خپل هغه غوسه ناک څېره یې وښودل او ویې ویل: ها؟ څه ته ګوری؟ ته خبرې پر پیسو کوی که څنګه؟

د ذوالفقار په دی خبره نفس مې سینه کې بند شو او په راوتلو سترګو مې د عزیزي خواته وکتل او همغه حال کې بې اختیاره مې لاس خپل د جیب خواته ویوړ، منم چې د عزیزي سره جنګ کول اخر پایله مرګ دی خو .. که په ذوالفقار وغواړی وار وکړی مجبور زه هم ورباندی وار وکړم، عزیزي بغیر له دی چې کوم خاص غبرګون وښایې وویل: ته پوهېږي زه څوک یم؟

ذوالفقار په طعنه وویل: هو، پیژنم دی ښه دی هم پیژنم(بیا په یو انتحاری حرکت کې کوم چې ما هېڅ توقع د ذوالفقار څخه نه درلود، خو البته باید درلودلې مې وایې ځکه هغه ذوالفقار وو، عزیزي ته یې وویل: ته یو قاتل، د موادو خرڅونکي او د یو خنزیر مافیا راسته لاس یې .. همدغه دی شجرنامه ده کنه؟ اوس ووایه ستونزه دی زما د وراره سره څه ده؟ څه ورڅخه غواړې؟

فکر مې کاوه عزیزي دم په دم خپل توفنچه راخلې او خبره ختمه... خو برعکس هغه ناڅاپه په لوړ غږ خندا شروع کړل، د هغه خندا ما ته هغه شپه رایادول کوم شپه چې هغه دوه کسان شکنجه کول هغه وخت یې هم همداسې خندل، د ډېر وېرې له لاسه مې د ملا په تیر یخه خوله راغله،عزیزي څو ثانیې ښه د زړه د خلاص د روانې لیونیانو په شان وخندل د هغه وروسته د میز سر یې کرار خپل په ګوتي وټکاوه او ویې ویل:

— خوښ مې شوی ... ما یو مخ او هغه کسان چې یوه خبره کوی خوښېږي خو .. لږ مخکې ټیټ شو او په ارام خو خطرناک غږ یې وویل: خو زما شجره نامه دې غلط وویل ... قاتل دې صحیح،د موادو قاچاق کوونکې هم تر یو برید صحیح خوووو. زه د هیچا د لاس لاندی نه یم ... بلخصوص د هغه بوډا د لاس لاندی خو هېڅکله هم نه ...

دوارو څو شیبې په دروند نظر یو بل ته سترګي ونیول، تر دی چې ذوالفقار دا چوپتیا ماته کړل او ویې ویل: ما ته مهم نه ده چې ته څوک یې؟ او ستا کارنامې څه دی؟ او د چا د لاس لاندی یې کنه؟ زما پوښتنه دا ده چې ته زما د وراره څخه څه غواړی؟ که د دې لپاره دی نیولې چې ستا جاسوسي یې یو وخت کړی، نو هغه یوه خبره وه لاړه تېره شوه، ته په هغه جاسوسي نه مړ شوی نه هم کوم تاوان درورسیدو نو اوس څه غواړی؟

عزیزی- احســـــان ... زه دوه ډول کسان هېڅکله نه هېروم، لومړی هغه چا چې زما حق کې بد کړې وی .. داسې کسانو ته زه بخښنه نه کوم ... ځکه بخښنه کول او تېرېدل د لــــوی خلکو کار دی ... خو زه دومره هم لوی نه یم نو چا چې بد رارسولي بد به ویني او دویم ...

نیم نظر یې د سترګو له کونج زما خواته چې په کامل توجه مې د هغه خبرو ته غوږ نیولې و واچو او ویې ویل: دویم هغه کس چې راباندی احسان کړی وی ... ستا وراره، که د بې‌فکری له امله وو، که د ساده‌توب له امله و یا که د رحم له مخې و، خو زما په حق کې یې احسان وکړ. او کوم کس چې د سلطان عزیزی په حق کې احسان وکړی او هغه په میدان کې یوازی پرینږدی، تاریخ شاهید دې چې عزیزی تر مرګ هغه کس یوازی نه پرېږدی ...

په خلاصه خوله د حیرت مې وروکتل، باور مې نه راتلو عزیزی خپل ځان زما احسانمند ګڼلو، هغه ورځ مې په یاد راغلل چې کله د عزیزی پسي شاته وګرځیدم، کله چې هغه مې له اوږی ونیو تر څو د هغه ځای لاړ شو نو هغه په بیحد خوشحالی

@Shuhab09

ویلې وه "زما پسي راغلې؟ " یعنې یو تګ د هغه لپاره دومره ارزښتمند وو؟ ناڅاپه پر عزیزی مې زړه وسوځید هغه عمر کې داسې یو کس نه درلود چې د هغه په غم کې اوسیږی یا د هغه سره یوازی ملګرتوب د هغه لپاره وکړی نه د هغه د مقام او ځای لپاره ...

عزیزی د برهان لپاره مرګ ته ځکه تیار و، ځکه په ټول نړۍ کې یوازیني کس یې وو ... هغه برهان ته خپل کورنۍ ویل مطلب برهان هغه ته یوازی د ورور او ملګری حیثیت نه درلود، برهان د هغه لپاره د پلار، مور، خور، ورور د ټولو د میني او خالي ځای د ډکولو معنا درلود، برهان د هغه په خبره د هغه کورنۍ وه ...

یوه شیبه کې د عزیزی ټول زور او ځواک راته د حسرت او افسوس ښکاره شو، ولې تل زما په قسمت کې دا ډول کسان برابریږی؟ لومړۍ هغه لیونۍ جنرال چې غوښتل یې ما ووژني او بوجۍ کې مې واچوي، هغه هم همدا آرمان او افسوس درلود، هغه هم کوم کورنۍ نه درلود او خپل د ژوند یوازیني امید یې د هغه پدرلعنت جنرال پر هغه ... استغفرالله لور ترلې و او هغه یې د ټول نړۍ په مقابل کې غوښتل خو هغې ... هغې بیا ټول نړۍ غوښتل بغیر د هغه بدبخت جنرال څخه .. نوم یې څـه وو؟ ها جلال الدین یعنې د هغه پر ضد د ټول کلې سره جوړه وه ...

او عزیزی ... عزیزی هم همداسی و عزیزی هم هېڅوک نه درلود او یوازی و،خو فرق یې د هغه لیوني جنرال سره دا وو، چې ما د هغه لیونۍ جنرال یوازینی امید د هغه په نظر د هغه څخه اخیستي وه خو ... خو دلته پخپل د عزیزی اخری امید یعنې برهان جوړ شوی وم ...!

د ذوالفقار په غږیو ځل بیا د فکرونو څخه راووتلم.

ذوالفقار- زه نه پوهیږم طاها پر تا څه احسان کړی، خو کله چې ته خپل مني چې هغه دربانډی احسان کړی، نو ولې د هغه دا احسان نه جبران کوی؟ ولې نه خوشې کوی؟ د څه لپاره دې ځان سره ساتلې؟

عزیزی په یو ټکي کې ځواب ورکړ، خو داسې ځواب وو چې ما او ذوالفقار دواړو په یو وار وویل: څـــه؟
عزیزی- د هغه د امنیت لپاره.
ذوالفقار- د هغه د امنیت لپاره؟

عزیزی د کوټې شاوخوا وکتل،خو ناځاپه یې نظر پر ما ټینګ شو او ویې ویل: مورې دواړو ته یو پیاله چای راوړه.

د عزیزی دا خبره داسې وه لکه ما چې د نخود د لټون پسې استوی او نه غواړی د هغوی د خبرو شاهد اوسیږم، د ذوالفقار خواته مې وکتل چې شاید هغه مخالفت وکړی، خو هغه بغیر د څه ویلو راکتل .. مطلب هغه هم د عزیزی په دی کار راضی و، ډېر مې زړه غوښتل لاړ نه شم خو د عزیزی دروند نظر مجبور کړم چې لځایه پاځیږم او روان شم، د دفتر څخه چې ووتلم، دوه پښې مې درلود دوه نور مې هم قرض کړل او په تلوار مې ځان اشپزخاني ته ورسو تر څو ژر تر ژره چای تیار کړم او بېرته دفتر ته لاړ شم چې دوی څه خبری کوی؟

غفور کاکا راغلې و څو ځله یې راڅخه د یو شئ پوښتنه وکړل خو زما دومره تلوار و چې هېڅ ځواب مې ورنکړ، ترموز او دوه پیالي چای مې ژر پتونس کې کیخودل او تقریبا په ځغاستو د عزیزی د دفتر خواته روان شوم، د شرکت ځینې کارکونکي چې راغلې وه زما د داسي تلوار په لیدو یې په افسوس یو دبل سره وویل: ضرور رئیس ورسره بد اخلاقي کړي، چې داسي په تلوار ورته چای وړی بیچاره ...

خو زه بغیر له دی چې د هغوی خبرو ته کوم توجه وکړم ځان مې د عزیزی تر دفتر ورسو لومړی خو شیطان ویل همدلته د دروازی تر شا غوږ شه چې څه وایې؟ خو هغه ورځ چې مې په یاد راغلل نو دا فکر مې له ذهن لری کړو، پتونس مې یو لاس کې ونیو او دروازه مې پر بل لاس وټکول، د هغه سره سم غوښتل مې دننه شم خو د عزیزی غږ راغې چې ویې ویل: یو دقه صبر ...

د هغه په دی خبره "اه" مې له سيني ووت. لعنت دی پر تا وی عزيزی څه چينجي لری چې ما نه پرېږدی؟ شيطان ويل پټونس په دی ځمکه وواهه او دننه لاړ شه ...

— اوه .. اوه لعنت په شيطان ووايه، دومره غوسه دې د صحت لپاره ښه نه ده.

خپل څنګ ته د ناڅاپه غږ په اوريدو نږدی و له خولې مې چغه ووځې، خو په زوره مې ځان راکنټرلو کړ.

د دې لځايه چې خپل څنګ ته وګورم، لومړۍ نظر مې خپل پر ګوتمۍ ولګيد چې د غمۍ رنګ يې فيروزه يې ته اوښتې وو، د هغه د نوم د اخيستلو سره سم مې نظر پورته کړ.

- زقـــوم

زقوم په خندا وويل: جان! څه په ناز دې زما نوم واخيست.

که څه هم د ده د منحوسې خبرې په ليدو مې له خپل ځان څخه لا بد راتلو، خو نن يې په ليدو بې‌حده خوشحال شوم.

زقوم په حيرت وويل: زما په ليدو خوشحال شوې؟ ولې؟
- تا او شموئيل يو د بل سره معامله کړې ده کنه؟ چې ته به له ما سره مرسته کوې؟!
زقوم په مشکوک نظر راته وکتل بيا يې په ريشخند وويل: د څه مرسته؟ غواړې د پټونس چای دې له لاسه واخلم؟
- نه... (د عزيزی د دفتر خواته مې اشاره وکړه) لاړ شه، وګوره هغوی څه خبرې کوي.

زقوم په شيطنت وخندل.
— يعنې لاړ شم جاسوسي وکړم؟ ما له شموئيل سره داسې کومه معامله نه ده کړې.
-معامله، معامله وي زقوم ..دا نه کوم او هغه نه کوم او دا پکې نشته. شابه روان شه وګوره هغوی څه وايي؟

زقوم- خپل خولې ته پام کوه، زه دې مزدور نه یم. ما له شموئیل سره معامله کړې، کوم د نوکرۍ قرارداد مې نه دی امضا کړی چې ته داسې امرونه راباندې کوې.

یعنې زقوم او عبدالرحمان دواړه د یوې ریشې خلک دي،عبدالرحمان هم په جدي وختونو کې ریشخند وهې او ځان کش،راکش کوی او زقوم هم، که څه هم کرکه مې درلود له دې چې زقوم ته دی زارۍ وکړم خو بله چاره نه وه .. غوښتل مې خوله زارۍ ته جوړه کړه چې همغه وخت د عزیزی د دفتر دروازه خلاصه شوه او ذوالفقار ورڅخه راووت. د هغه په راوتلو خوله مې بنده شوه.

ذوالفقار نیم نظر زما او زما په لاس کې پتونس ته واچاوه او تندی تروش کړ، خو بې له دې چې څه ووايي روان شو. په حیرت مې د هغه تلو ته وکتل.

دا ولې لاړ؟
هغوی څه یو بل ته وویل؟
ذوالفقار ولې زه له ځان سره و یې نه وړم؟

ورپسې مې غږ کړل: ذوالفقار ..!
خو هغه بغیر د ځواب راکولو خپل ګامونه چټک کړل، غوښتل مې ورپسې روان شم چې د عزیزی غږ د دفتر له دننه راغی:

— چای راوړه، برهان...

د هغه په غږ هماغه ځای کې ودرېدم او د ذوالفقار تلو ته مې سترګې ونیول.
مرګ دې شه چای عزیزی!
په غوسه د ذوالفقار د تلو څخه مې نظر واخیست او د عزیزی د دفتر ته ننوتلم، په تلوار مې پتوس د هغه د مېز پر سر کېښود او غوښتل مې د دفتر ووځم او د ذوالفقار پسې لاړ شم، که ژر تللې وایې شاید لا هم د شرکت دباندی وایې او لیدلې مې وایې، خو لا پتونس مې پر میز سم نه و کیخودلې چې عزیزی کرار وویل:

— د شرکت څخه د وتلو اجازه نه لرې برهان، مګر دا چې کارې وخت دی پای ته رسیدلې وی.

دا خبره یې په داسې حال کې وکړه چې خندا یې پر شونډو وه او دوه سترګې یې زما خواته نیولې وې پدرلعنت! هغه نه غوښتل چې زه د ذوالفقار پسې له شرکته ووځم او ترې وپوښتم چې څه شوي دي؟ خو ولې؟ ده ذوالفقار ته څه ویلې وه چې اوس زه یې د هغه سره د لیدو څخه منع کولم؟ له یو خوا د ذوالفقار په داسې بې توجهې چې حتا زما خواته یې لا ونه کتل غوسه راغلې وه او بل د عزیزی په دی کار چې نه یې پریخودلم د هغه پسي لاړ شم ..

- څه دې ورته وویل؟

عزیزی چې لګیاو ځانته یې د چای پیاله ډکوله، زما په خبره نیم نظر یې زما خواته راواچاوه او سر یې وخوځاوه: څه دی وویل؟
دا ځل لږ په غوسه مې وویل: وایم، ذوالفقار ته دې څه وویل؟ زه دې ولې له کوټې وویستم؟

په تمه وم چې هغه کوم وضاحت راکړې چې ذوالفقار ته یې اخر څه ویلې وه چې هغه داسې غوسه لاړ او حتا یوه خبره یې لا زما سره ونکړل؟ خو نه ... هغه عزیزی وو هغه خپل د کارونو وضاحت هیچا ته نه ورکو، اوس هم بغیر له دی چې زما خبری ته کوم توجه وکړي خپل پیاله چای راوخیستل او کرار یې وویل: خوږه دې نه ده راوړې، ولې؟!

عزیزی په دی خبرو اړولو غوښتل ما ته د یو احمق په سترګه وګوري، نه یوازی احمق بلکې غوښتل یې ووایې چې زه تاته حساب درکوونکي نه یم چې ته زما څخه پوښتني کوي او د هغه دا کار سخت ماته زور راکړ. لومړی مې غوښتل ورسره جنګ وکړم او په غوسه د هغه له خولې حقیقت راوباسم، خو ... پوهېدم چې عزیزی د زور

سرې نه دي، که په نرمي درته يوه خبره وکړل شه تر شه، کنه په زور يې د چا پلار له خولې څخه لفظ خبره لا نشې ويستلې ...

نو څکه ژوره ساه مې واخيسته او په زړه کې مې پر شيطان لعنت ووايه. عزيزی په هماغه منحوسه موسکا زما حرکات د نظر لاندی نيولې وه، چې ما په کراره وويل: اوس درته خوږه راوړم.

عزيزی- اهوم.

بې له دې چې نور څه ووايم، روان شوم، همدا چې د دفتر دروازه مې شاته وتړله زقوم بيا راښکاره شو، په نچ نچ او شيطنت يې وويل: دومره غوسه مه کوه بيا ژر سپينږيري کيږې ..
اعصاب مې دومره خراب وه چې حد يې نه درلود.
- خوله دې بنده کړه او ورک شه زقوم ..
زقوم په شيطنت وويل: ولې؟ تا مگر مرسته نه غوښتل؟

يعنې کله چې په کار مې و هغه وخت يې ناز کوو او اوس .. اوس چې کار تر کار تېر شوی وايې" تا مگر مرسته نه غوښتل؟" له يو خوا د ذوالفقار د داسې بې‌توجهۍ له امله غوسه وم له بلخوا د عزيزی په ځواب نه راکولو غوسه وم او د هغه ټولو څخه بتر د زقوم په دی ريشخندي مې اعصاب تر مرگ خراب وه، دومره چې بې له فکره راوگرځېدم او پر زقوم مې وار وکړ...!

يوه شيبه خپل په کړی حرکت پخپل هک حيران شوم، خو د هغه څخه ډېر حيرت مې هغه وخت وکړ چې زقوم ولگېد...!
يعنې ما هېڅ فکر نه کاوه چې زه به وکولای شم هغه ووهم. اصلاً ما فکر کاوه لکه د فلمونو په شان به لاس مې هسې په هوا کې لاړ شي او هغه به غيب شي!
خو کله چې ولگېد او «اخ» يې وويل په حيرت دوه گامه شاته شوم او خپل لاس ته مې کتل پيل کړل، څه وشو؟

زقوم داسې حال کې چې خپل پوزه د درد څخه کلکه نیولې وه، په غوسه یې وویل: وژنم دې طاها!
ما د حیرت څخه په خلاصو سترګو وویل: ت... ته څنګه ولګېدې؟ ته خو باید غیب شوی وای!

زقوم په غوسه سر راپورته کړ او زما په لاس کې ګوتمي خواته یې وکتل، د هغه له کتلو مې مطلب واخیست.

او په ناباوره خندا مې وویل: نه... مه وایه چې... دا ګوتمۍ ...
زقوم په همغه غوسه وویل: دا منحوسه ګوتمۍ زموږ د پېریانو د نړۍ څخه ده، نو موږ ته ضرر را رسولای شي.

لومړی څو شېبې په حیرت خپل لاس کې ګوتمۍ ته په کتو شوم، چې د هر وخت څخه ډېر فیروزه یې ځلا یې کول او بیا ... بیا ناڅاپه لکه لیونیانو په شان خندا مې پیل کړه. زما د خندا په لیدو زقوم نور هم غوسه شو.
زقوم- دا کار دې بې ځوابه نه پرېږدم.
د هغه له ګواښ څخه هېڅ ونه وېرېدم، برعکس په پوسخند مې وویل: لاس دې خلاص توره دې هم تېره ..ګورم چې څه کوې؟ اوس هم ورک شه کنه... (خپل بوکس مې ورته وښود) یو بل جانانه ټک هم خوري، زما ګرانه قرینه!

زقوم له قهره خپل غاښونه سره وچیچل.
– زه خپل حق پر خدای لا نه پرېږدم، ته خو یې لا بنده یې طاها ..یوازې ګوره څه درسره کوم!

په خندا مې وویل: والله وهل هم کله ناکله فایده لري ..ګوره ته تر پرون کافر وې خدای دې نه ما نه خو اوس .. اوس وګوره په یو بوکس دې خدای ومنلو! وایم یو بل درکړم اسلام به هم ومنې!

زما په داسې ریشخند وهلو زقوم نور سم د انفجار په حال کې شو، او ما ته عجب خوند یې راکاوه د هغه داسې غوسه او جوش خوړل.

زقوم په پوسخند وویل: ملامت نه یې ګوتمۍ دربانديي بلاخره خپل تاثیر وکړ، د غوسې پر وخت د شموئیل په شان خبرې او کارونه کوې .. بدل شوی یې ..

بغیر د څه ویلو مې وروکتل چې هغه د تلو مخکې یو دوه کنځل او ګواښ وکړ او بیا لاړ .. دا زما د نن یا پرون ستونزه نه وه، زه تل د غوسې پر وخت له کنټروله وتلم او داسې به مې احساس کاوه لکه بل څوک چې زما په وجود کې وي،خو نن ..نن زه له کنټروله ونه وتلم، غوسه وم خو ځان مې کنټرولولای شو.

یعنې امکان لري دا ګوتمۍ زما غوسه کنټرول کړې وي؟ زقوم ولې وویل د شموئیل په شان شوی یې؟ ګوتمۍ پر ما څه تاثیر کړی؟ دا ګوتمۍ نور څه کولای شي؟ دا یوه میاشت هېڅ د ګوتمۍ خواته مې پام نه وکړي، چې وګورم نور څه کولای شي، یعنې ما تر همدا نن فکر کاوه دا ګوتمۍ یوازې رنګ بدلوی او د یو خطر د راتلو مخکې خبر راکوی! خو د نن د کار وروسته په دې خبرې پوه شوم چې په دې ګوتمۍ زه پیریانو ته هم ضرر رسولې شم، خو څنګه؟

احساس مې کاوه د شموئیل خبره رښتیا ده.

ما څواک درلود، خو یوازې پخپل بیخبر وم او نه پوهېدم چې څه شی دی؟
یعنې امکان لری د پیریانو کوم خاصیت ما ته هم راغلې وی؟ که راغلې نو کوم خاصیت؟ زړه مې غوښتل ژر تر ژره یوځای یوازې کښېنم او وګورم چې نور څه کولای شم په دې ګوتمۍ؟ په همدی فکرونو کې وم چې د ښو غږ مې واورېد، هغه هم ډېر نږدې، فکر مې وکړ زما شاته یو څوک دی؟ خو کله چې مې مخ واړاوه نو هېڅوک نه وو .. خو څو شېبې وروسته د عزیزی د دفتر دروازه خلاصه شوه او هغه په مشکوک نظر راووت.

ما څنګه د هغه د راتګ قدمونه، د دومره نږدی څخه هغه هم څو شېبې مخکې د هغه د راتلو اورېدلي وه؟!

یوه شېبه یې پرته له څه ویلو راوکتل، بیا یې کرار خو مشکوک توګه وپوښتل: څه کوې؟

د هغه په دې خبره لږ وارخطا شوم، خو ځان مې راټول کړ.
- هېڅ، ولې؟
عزیزی یو،دوه ګام رانږدې شو، سترګې یې لږ تنګې کړې.
— څه د لېونیانو په شان ځان سره لګیا یې؟
د هغه په دی خبره د خولې لاړی مې تېر کړل.
- څـ .. څه مطلب؟

عزیزی په حیرت وویل: مطلب دا چې زه ړوند نه یم برهان(خپل لاس یې پورته د چت خواته ونیو او ویې ویل: شرکت ټول د کمرو څخه ډک دی.

د هغه په دی خبره تازه مې کمری په یاد شول، خاوری دی زما په سر شې ما کمری څنګه لیاده وتلې وه؟ یعنې عزیزی .. وای ... وای ..
عزیزی- څو دقیقې کېږي د کمری څخه درته ګورم، ولاړ یې د ځان سره خبرې کوې او بیا ناڅاپه بوکسونه واروی ..(لږ چوپ شو او بیا یې په نیمه موسکا وویل: کومه ستونزه یا خبره لری نو مخامخ یې وکړه، د زړه غوسه دی هوا ته په بکسونو ورکولو مه خالي کوه ... اوس دا وایه چې جنګ دی د چا سره وو؟

یوه شېبه مې هېڅ ونه ویل، که ورته وایم چې دلته یو پیری ولاړ و او جنګ مې د هغه سره و، یقیناً سمدستي ما د لېونیانو روغتون ته استوي، او د دی خبری کول هم مناسب نه وه چې ووایم هو پر تا غوسه وم او دلته مې خپل غوسه خالي کول!
په زوره مې لږ خپل خوله د خندا په توګه کړه کړه او ومې ویل: نه جنګ خبره نه ده هغه .. هغه ما ... ما ورزش کاوه.

عزیزی پخندا سر وخوځاوه.
– ورزش؟

نظر یې زما د لاس خواته لاړ، هماغه لاس ته چې ګوتمۍ پکې وه، ما په نامحسوس توګه خپل لاس موټ کړ او شاته مې ونیو، خو د عزیزی پام شو، څو شیبې په ځیر نظر زما دی کار ته وکتل بیا یې کرار وویل: عجیبه ورزش دی.

ما یوازی د خولې په جینګ کولو د هغه خبره تایید کړل، او غوښتل مې الفرار وکړم چې هغه ناڅاپه وویل: تخو کوم عصبي ناروغي نه لری؟

دا پوښتنه عزیزی یو ځل مخکې هم زما څخه کړې وه، هغه وخت چې پیریانو زما د وېرولو لپاره د موټر مخکې ماشوم راچولې و، خو اصل کې هېڅ هم نه وه، هغه شپه عزیزی همدا پوښتنه زما څخه وکړل او اوس ... پر زقوم مې لعنت وویل چې د هغه له لاسه زه دلته لیوني خطاب شوم. په تلوار مې وویل: نه ... ومې ویل کنه یوازی ورزش مې کاوه .. نور کوم خبره نشته ..

هغه څو شېبې نور هم په دروند او ځیر نظر راوکتل، د هغه وروسته یې وویل: سمده .. خو که بل ځل دې بیا د هوا سره د بوکس مسابقه کول نو لږ احتیاط کوه.
خپل د دفتر خواته روان شو خو د ننوتلو مخکې خپل زهر وشیندل منحوس.
– که څوک دی په دی حال وګوری فکر به کوی شرکت ته مې لېونیان استخدام کړي.

او د دی خبری سره سم خپل دفتر ته ننوت او دروازه یې بنده کړل،خو زه لا هم هماغسې ولاړ پاتې وم.
فکر کوم د لیوني ګمان کول بهتره دی له دې چې فکر وکړی د پیریانو سره سرو کار لرم، هغه هم داسې پیری چې زما په شکل او قواره دی، خو زما د وینو تږی دی..
کرار،کرار د اشپزخانې پر خوا روان شوم.

درسته ورځ نور له آشپزخانې څخه ونه وتلم. هر چا چې چای غوښت، همدلته مې تیاراوه او د غفور کاکا په لاس مې استوي، غوښتل مې تر ممکنه حده د عزیزی له

سترګو لرې پاتې شم. غفور کاکا چې زه په آشپزخاني کې ولیدم بیحد خوشحاله شو په ځانګړي ډول کله چې مې ورته د بابا او د هغه د ملګرو د جهاد کیسې مې هم وکړل، عجیبه وه خو غفور کاکا بابا څه ناڅه پېژنده!

بابا او د هغه ملګرو د حکمتیار، یعنې د حزب اسلامي تر رهبري لاندې جهاد کړی و، چې پکې ډېر پښتانه کسان وو. غفور کاکا هم د حکمتیار په حزب کې و، نو ځکه یې وپوښتل: ستا پلار د کوم قندک قوماندان و؟

زه اصلاً پوه نه شوم چې د هغه د دې خبرې معنا څه ده، نو ورته مې وویل: ولاکه نه یم خبر.
غفور کاکا- یوه ورځ باید ضرور ستا پلار ووینم(بیایې پخندا زیاته کړه: شاید خپلوان راووځو؟
د هغه په دی خبره پخندا مې وویل: خدای دی وکړی چې زموږ خپل راووځي، خو فکر نه کوم چې داسې کار دی امکان ولری ...
غفور کاکا- ولې؟

- زموږ خپلوان یو خاصیت لری، چې سم د بني اسرائیل د قوم خاصیت دی. هر چیرته چې وی د سلواتیا متری څخه یې زه په هغه خاصیت پیژنم چې دا زموږ طایفه ده ...
زما په دی خبره غفور کاکا د خندا څخه شین شو او ویې ویل: خپل د قوم څخه دی زړه پوخ دی هلکه!

- ولای د خلکو خپلوان وګوری، د نړۍ پروفیسران، پوهان، عالمان د همدوي په خپلوانو کې تېر شوی، خو زما خپلوان بیا دوه کارونو کې نران دی، لومړۍ د هر چا پسي په خبرو او غیبت کولو کې او دویم دا چې هر خارجی هیواد ته لاړ شي نو زموږ د خپلوانو یو کس به هلته ضرور وګوری، ځکه زموږ خپلوان د درس ویلو او خپل هیواد کې د زحمت ایستلو لځایه خارج ته تښتیدل او هلته لنډغری کول ډېر خوښوی، زما پلار یو متل کوی وایې: غوښه خو په هر چا ګرانه ده، خو پیشو بیخي

ورباندی ایمان راوړی، اوس هم پیسي ګټېل د هر چا آرمان دی خو زموږ خپلوان بیخی خدای مکړه ایمان ورباندی راوړی ...

غفور کاکا کرار سر وخوځاوه او ویې ویل: اوس وخت زمانه د پیسو ده بچي! ټول همداسې شوی.

کوم ځواب مې ورنکړ،د یوې بجې په شاوخوا کې عزیزی له شرکت څخه ووت او لاړ. د هغه دا تګ لږ عجیب و، عزیزی په دې وروستیو کې دومره وختي له شرکت څخه نه تلو. په هر حال زه خو د هغه په تګ خوشحال شوم.

د مازدیګر د اذانونو وخت و چې زه هم د کور پر لور روان شوم. لومړی د بابا کور ته ولاړم. غمی خان او توریالي خان د غرمې ډوډۍ وروسته تللي وو، حسنا ویل چې غمی خان کاکا د تلو مخکې ټول کورنۍ راتلونکې اوونۍ خپل کور ته بللې دي، ځکه د هغه د زوی واده دی او بابا هم دا بلنه منلې ده.

ما ته دا موضوع چندان اهمیت نه درلود، تر هغه وخته چې بابا وویل:
– ته به هم راځې.

دلته مې نو طاقت ونه شو او یو کلک "نه" مې وویل زما په"نه" بابا تندی تروش کړ، خو ما چندان اهمیت ور نه کړ او اقرا ته مې وویل: تیاره شه، کور ته ځو.

ادې ډېر وویل چې شپه پاتې شه، خو ما ونه منله او د بابا له کوره روان شوم. زه د بابا د سکني ورور، یعنې ذوالقرنین کاکا څخه په تنګ یم او زړه مې غواړي ورسره قطع رابطه وکړم. بابا وایي: راځه زما د ملګرو کورونه وګوره او له هغوی سره ناسته ولاړه وکړه، یعنې زه دا موجود خپلوان لا نه غواړم بابا وایې راشه نور هم خپل کړل ... الله اکبر ...

کله چې خپل د کور کوڅي ته ورسیدلو نو د دی لځایه چې خپل کور ته ننوځم اقرا او محمد مې د استاذ د کور خواته واستول او ورته ومې ویل: زه یو ځای مهم کار

لرم، امکان لري شپې ته ناوخته راشم، نو تر هغه وخت ته خپل د پلار کور ته لاړه شه ...

زما په دې خبره اقرا دومره خفه شوه چې یوه شېبه پخپله خبره ګنګس شوم. ایا ما کوم بد شی وویل؟ زه خو دومره له کوره نه تلم. دا یوه میاشت یوازې کار او کور و. نن هم ځکه وتلم چې غوښتل مې د دې ګوتمۍ په اړه ځان پوه کړم.
خو نه پوهېږم اقرا ولې دومره خفه شوه. داسې يې له ما مخ واړاوه چې حتا زما په غږ يې هم شاته ونه کتل، او د خپل پلار د کور دروازه يې داسې په کلکه زما پر مخ وتړله چې بې اختیاره یو ګام شاته لاړم.

دومره غوسه... هغه هم اقرا؟
څه شوي؟

که څه هم بې‌حده زړه مې غوښت د استاذ کور ته ننوځم او د اقرا څخه د هغې د دې وروستیو ورځو د عجیب چلند پوښتنه وکړم، خو هوا مخ پر تیاره کېدو وه او زما زړه هېڅ نه غوښت شپه د هغه پیریانو په ځاله کې تېره کړم. نو ژر مې یو موټر ونیو او د خپل پخواني کور پر خوا روان شوم، د ماښام اذانونه په کیدو وه چې بلاخره ورسېدم. له موټر ښکته شوم، کرایه مې حساب کړه او په تېزو ګامونو د هغه کور پر خوا روان شوم چې څه ناڅه ډېرې ترخې خاطرې مې پکې درلودې.

له جیب څخه مې کیلي راوویسته. یوه میاشت مخکې زبیر د دې کور کیلي او د ځمکې اسناد راته راوړي وو. البته په یو جنګ جهاني او غوسه باندی ..!

دروازه مې خلاصه کړه، خو د ننوتلو مخکې مې د کوڅې شاوخوا وکتل. ډېر نور کورونه هم تازه بار شوی وه او اوس زیاتره دا منطقه هدیره جوړه شوی وه. زما څنګ ته چې کوم همسایګان وو، هغوی هم خپلې چهاردیوالي نړولې وې او څلور پنځه تازه قبرونه پکې ښکاره کېدل.اوس یوازې زما کور، یو دوه نور کورونه او یو مسجد پاتې وو.

کور ته ننوتلم او دروازه مې شاته بنده کړه. هوا تیاره وه او څه سم نه ښکارېدل، نو مجبور شوم د موبایل څراغ روښانه کړم،د برنډې مخې ته دیوال لکه چې د ډېر باران له امله نړېدلې و او د کور د ننوتلو لاره یې یو څه بنده کړې وه. په زحمت مې خامې خښتې او خاوره یوې خوا ته کړل او دننه لاړم.

د ننوتلو سره سم لومړی نظر مې په هغه رسۍ ولګېد چې یو نیم کال مخکې مې د خپل جاهلیت په وخت کې تړلې وه،د هغه په لیدو بې اختیاره مې وخندلم، داسې چې غږ مې په کور کې انګازه وکړه.

عجب خر وم زه...

یعنې ما غوښتل د دې لپاره ځان ووژنم چې استاذ راته دروغ ویلي او اصل کې زما ماما دی، او زما مور بل څوک ده چې زما د زېږېدو پر وخت وفات شوې ده!

څومره بېعقله وم زه.

که څه هم له عبدالرحمان څخه چندان ښه مې نه راتلل، خو باید ومنم چې دلته د هغه احسانمند وم. که هغه نه وای راغلی او هغه خبرې یې نه وای کړې، ما به هسې میدان په نه خبره ځان وژلی و، دننه لاړم او نظر مې له هغې منحوسې رسۍ واخیست.حتا هغه ژېړه بوشکه لا تر اوسه همهلته ایښې وه. د هغه په لیدو یو ځل بیا مې دا ومنله چې زه د حد اوښتی جاهل وم.

ما دا کور همداسې پرېښی و او زبیر ته مې ویلي وو چې خرڅ یې کړه. دا هم ښه وه چې زبیر دې کور ته نه و راغلی، که نه دا رسۍ او هغه ژېړه بوشکه د هر څه ګواه وه چې ما غوښتل څه بد وکړم، د کوټې په منځ کې ودرېدم. هوا بنده وه او د زړو ختو، لمدو دیوالونو او دوړو ګډ بوی پکې خپور و. داسې احساس کېده لکه کور چې له ډېر وخته د ژوندي شئ ساه نه وي اورېدلې. سکوت دومره ژور و چې د خپلو قدمونو غږ هم راته دروند ښکارېده.

د کوټې کونج کې د زاړه فرش خواته ولاړم او راوا مې خيست. داسې ښکارېده چې د ژمي پر مهال کوټه څخېدلې وه،ځکه پر فرش د زړو ختېو نښې ښکارېدې. دوه درې ځله مې په زور وځنډه، چې د دوړو له امله ټوخی راباندې راغی او د کوټې خاموشي زما د ټوخې په غږ ماته شوه. فرش مې دوه لايه هوار کړ او ورباندې کښېناستم.

ښه... نو اوس څه وکړم؟

ګوتمۍ ته مې وکتل. په نيمه تياره کې يې شنه ځلا کول، له ځان سره مې کرار وويل:
ستا ځواکونه زه څنګه وپېژنم؟

عبدالرحمان ويلي و چې ځکه ما د پيريانو شيدې څښلې دي، نو د هغوی ځينې خاصيتونه راغلي او دا خبره شموئيل او پخپل حوا .. يعنې د شموئيل ميرمنې هم تاييد کړل چې شايد د هغې ځينې ځواکونه ماته راغلې وی، خو هغه هم نه پوهيدل چې دقيقاً کوم ځواکونه دی؟ ښه نو زه اوس څه وکړم؟ زه بايد لومړی ګام کې وګورم چې پيريان کوم کوم خاصيتونه لري... بيا به وګورم چې ايا هغه ما ته هم راغلي که نه؟! هو دا کار سم دی ... په دې فکر شاوخوا په کتو شوم.

هينداره... بايد يوه هينداره پيدا کړم.

هغه ديوال چې نړېدلی و، د کور د کړکۍ يوه ښيښه يې هم له ځان سره ماته کړې وه. زما د ښه قسمت، دا شنه ښيښه وه چې د مقابل کس تصوير يې څه ناڅه ښکاره کاوه.

هغه ټوټه مې راواخيسته او د هماغې منحوسې بوشکې څنګ ته مې ودروله. موبايل مې هم د بوشکې پر سر کېښود، تر څو لږ رڼا وکړي. بيا مې څو شېبې په چوپتيا خپل تصوير ته کتل.

ښه نو...

د پیریانو لومړنی ځواک دا دی چې هغوی کولای شي د هر انسان په شکل او صورت کې ظاهر شي، البته بغیر د پیغمبر ﷺ د مبارکې څېرې څخه، هغوی آن کولای شي د حیواناتو لکه مار، پیشو او سپي په شکل هم راڅرګند شي.خو له حیواناتو به تېر شم، هسې نه پر کوم حیوان بدل شم او بیا خپل اصلي شکل ته راستون نه شم. چندان شانس خو نه لرم.

نو یوازې باید وګورم چې ایا  صورت بدلولی شم که نه؟!

باید د یو چا څېره په ذهن کې تصور کړم، بیا داسې خیال وکړم لکه هغه کس چې زه شوی یم.هو... فکر کوم دا بهترینه لاره ده.سترګې مې وتړلې لومړی کس چې ذهن ته مې راغی نه پوهېږم په څه دلیل وو؟ خو هغه ذوالفقار و. څو شېبې مې د هغه څېره په ذهن کې تصور کړه، بیا مې سترګې خلاصې کړې او هینداری ته په کتو شوم خو نه...

هیڅ بدلون نه و.

شاید پیریان د شکل بدلولو مخکې کوم دعا یا منتر وایي؟
خو بیا مې سمدستي خپل ځواب پخپله ورکړ، نــه،هغوی خو دا کارونه له ماشومتوبه زده کوي لکه موږ چې خبرې کول، ډوډۍ خوړل،منډې وهل او په لاره تلل زده کوو. هغوي هم دا کارونه زده کوی، دا د هغوی د وجود یو عادي خاصیت دی.
یو ځل بیا مې هڅه وکړه، خو بیا هم کومه نتیجه ورنه کړه،په ناامېدۍ مې خپل پیکه تصویر ته په هینداره کې وکتل وکتل،ښه نو باید د هغوی بل خاصیت وګورم. دا د شکل بدلولو خاصیت یې شاید ماته نه وی راغلې.

په دی فکر د پیریانو د نورو خاصیتونو په اړه مې سوچ وهل شروع چې ناڅاپه هینداره کې خپل سترګو ته مې پام شو ... زما سترګې!

زما سترګې خرمایي، خړ رنګ درلود... خو اوس...اوس مې سترګې د ذوالفقار د سترګو په شان تکې تورې وې! په حیرانتیا یو دوه ګامونه نور هم د هیندارې خواته

نږدې شوم او ښه په ځير مې خپلو سترګو ته وکتل.

نه...
دا امکان نه لري ...
شايد هسې زما توهم وی؟
بايد يو ځل بيا يې امتحان کړم ..
هو، هو بايد يو ځل بيايې امتحان کړم ..
په دې فکر سترګي مې وتړل او دا ځل د زبير د سترګو د رنګ تصور مې وکړ د هغه سترګي، صاف عسلي رنګ درلود چې د لرې څخه لږ شني ښکاريدل، د څو شيبو وروسته کله چې مې سترګې خلاصې کړې...

الله اکبر!

د سترګو رنګ مې د زبير د سترګو په شان وو، بې اختياره د ډېر حيرانتيا او هيجان څخه په خندا شوم،ما کولای شول د خپلو سترګو رنګ بدل کړم! يعنې پيريان بشپړ شکل بدلولی شي،خو زه يوازې د سترګو رنګ بدلولی شم.که څه هم دا چندان لوی خاصيت نه ښکاريده، خو زما په نظر دا هم يو غټ پرمختګ و. دا ځل کوښښ مې وکړ بغير له دی چې د کوم چا د سترګو رنګ ته فکر وکړم يوازی پر ويلو خپل د سترګو رنګ بدل کړم، د ځان سره مې کرار وويل زما د سترګو رنګ شين دی! او کله چې سترګي مې خلاصي کړی، د رښتيا هم د سترګو رنګ مې شين وو ..

دومره خپل په دی نوی کشف خوشحال وم چې د ليونيانو په شان په يوه دقيقه کې مې شايد شل رنګ د سنرګو بدل کړل.وای... بيحد جالب کار و،ما تل ارمان درلود چې د سترګو رنګ مې خاص وي.لکه چې بالاخره يو ارمان مې پوره شو.په دی فکر په کټ کټ مې وخندل. شين رنګ زما په نظر ښه راسره ښکارېده، نو هماغه مې پرېښود او بيا مې د پيريانو د نورو خاصيتونو په اړه فکر کول پيل کړ.

ښه، نو هغوی کولای شي د باد او برق په شان چټک حرکت وکړي،یعنې زه هم داسې تېز منډه وهلی شم؟ د کوټې شاوخوا مې وکتل که څه هم فضا لږه وه خو امتحان مې کولای شو، د کوټې په منځ کې ځو ځله وځغاستم. که څه هم د پیریانو په اندازه تېز نه وم، خو داسې احساس مې کاوه چې د یو عادي انسان په پرتله چټک یم.

لکه چې د هغوی د هر خاصیت څخه یوه برخه ماته راغلی وه، خو په بیحد کمه اندازه، دومره کمه اندازه که پام مې ورته نه وایې کړې هېڅ مې محسوس کولای لا نشو.

ښه نو... بل خاصیت یې غیب کېدل دي.
خو فکر کوم دا خاصیت امتحان نه کړم بهتره به وي!

هسې نه غیب شم او بېرته را نه شم! ما ته د هغوی د هر خاصیت څخه ډېره کمه حصه راغلې نو شاید دا هم دومره راغلې وی چې غیب به شم خو بیرته به راتلې نه شم!؟ په دې فکر د دې خاصیت د امتحان کولو د خیر تېر شوم.

بل خاصیت یې دا دی چې ډېر درانه شیان په اسانۍ پورته کولای شي،شاوخوا مې وکتل، خو داسې کوم دروند شی مې پیدا نه کړ چې ورباندې زور ازمایې وکړم، خیر دا کار به بیا یو بل وخت امتحان کړم. ښه نو... بل خاصیت؟ اها... اورېدل.

هغوی کولای شي د انسانانو د ذهن خبرې واوري، که د خاصیت یې راغلې وی یو څرکه خیرات کوم، خو افسوس چې دا خاصیت اوس نه شم امتحان کولای، ځکه د اوس لپاره شاوخوا مې کوم انسان نشته.

دومره د لیونیانو په شان د پیریانو د خاصیتونو په کشف کولو کې ډوب وم، چې نه مې وخت ته پام و او نه هم ماحول ته، ناڅاپه د شالخوا د یو ډې غږ په اوریدو نږدی و د ډېر وېرې څخه مې زړه و دربږي ...

شاته د کتلو پر ځای مې لومړۍ خپلې ګوتمۍ ته وکتل. د هغه غږ سره چې لومړی فکر زما ذهن ته راغی، دا و چې شاید کوم پیری وي! شموئیل راته ویلي وو چې زما له راتلو مخکې په دې کور کې پیریان اوسېدل.

خو کله چې مې د ګوتمۍ رنګ شین ولید او هغه غږ یو ځل بیا راغږ کړل نو بې اختیاره مې په زړه کې وویل: کاشکې پیری وای...

— دلته څه کوې برهان؟

دا ځل نو مجبور شوم چې شاته مخ واړوم، تازه مې د سګرېټ تریخ بوی احساس کړ. داسې ښکارېده لکه له څو شیبو راهیسې چې په کوټه کې خپور وي. د زړه درزا مې یو دم تېزه شوه. هغه د کوم وخت راهیسې دلته ولاړ و؟

که څه هم کوټه تیاره وه، خو د سګرېټ لمبه مې په هماغه تیاره کې هم ولیده. شاته دیوال ته یې تکیه ورکړې وه او ولاړ و. داسې نه ښکارېده چې تازه راغلی وي.اوس چې مې ښه پام وکړ، د کوټې فضا د هغه د سګرېټ له لوګي ډکه وه. مطلب دا چې ډېر مخکې راغلی و...یعنې زما دا ټول لیونتوب یې لیدلی و؟ زړه مې دروند شو، نن لکه چې زما د رسوای شپه ده؟ عزیزی دلته څه غواړې؟

کرار له دیواله جلا شو او زما خواته رانږدې شو. کله چې د تیارو څخه د موبایل د کمزورې رڼا خواته راغی، نو مخ یې راته ښکاره شو،خو ای کاش چې مې نه وای لیدلی.

د هغه سترګې زما پر ځای د کوټې منځ کې په راځوړندې رسۍ ټینګ وو، څو شېبې هماغسې ورته کتل. بیا یې نظر کرار راښکته کړ او هغه منحوسې بوشکې ته یې وکتل.وروسته یې نظر زما پر مخ ودرید.

زما ستونی وچ شوی و. داسې احساس مې کاوه لکه ژبه مې چې په حلق نښتې وی، عزیزی یو ګام نور هم رانږدې شو، د سګرېټ لوګی یې کرار هوا ته پورته شو او بیا په

کرار خو جدل لهجه وویل: څه کوې دلته؟

زه هماغسې ولاړ وم. نه مې نظر د هغه له سترګو لرې کولی شو او نه مې خوله خلاصولای شوه، خوله مې بنده شوې وه او نه پوهېدم چې څه ورته ووایم؟

په نیمه شپه په دی تیاره کنډ،کپر کور کې چې رسۍ د چت څخه راځوړند ده، بوشکه یې هم لاندی کیخودل شوی او زه یې هم څنګ ته ولاړ یم، کوم دلیل راوړلې شم چې عقل او منطق یې ومني؟ چوپ ولاړ وم خوله مې وچه شوې وه او ذهن مې بېخي تش و.

عزیزی یو ځل بیا د کوټې شاوخوا ته وکتل. خو بیا یې نظر د هغه منحوس رسۍ خواته راغی او هلته ودرېد، څو شېبې هماغسې په ځیر ورته وکتل، لکه د کومې معما حل چې لټوي، بیا یې کرار وویل:

— دا رسۍ ولې دلته ځوړنده ده؟
په تلوار مې ځواب ورکړ.
- د ... د وختي څخه دلته پاتې وه، ت ... ته دلته څه غواړې؟
عزیزی بې اختیاره وخندل، ښه په لوړ غږ.
— اوممم نو له وختي څخه دلته پاتي وه؟
یو ګام نور هم زما خواته رانږدې شو، اوس نو مخامخ راته ولاړ و.
— زه دلته څه کوم؟ ته دا ووایه چې ته دلته څه کوی برهان، هان؟(سر یې کرار وښوراوه) نیمه شپه کې، په دې کنډواله کې ...

ناڅاپه رسۍ خواته ورنږدې شو او لاس یې ورباندې تیر کړ، همغه حال کې خپل د سګریټ څخه اخری کش واخیست او خلاص شوی سګریټ یې پرځمکه وغورځو او خپل د بوټ په څوکه یې مړ کړ، ما د هغه هر حرکت د نظر لاندی نیولې و چې ناڅاپه تېز یې راوکتل او ویې ویل: تا غوښتل ځان ووژنې.

عزیزی دا لفظ دومره په غوسه ویلې و چې ما بې اختیاره ورته په تلوار وویل: نه ... په قرآن دا د وخت دلته ځرېدلې وو ..

خو داسې ښکارېدل لکه عزیزی چې زما هېڅ خبره نه اوري، سترګې یې عجیب شوې وې، لکه ذهن چې یې یوازې په یو فکر کې بند پاتې وي.

– تا غوښتل ځان ووژنې!
دا ځل یې په لوړ غږ وویل.
– دا رسۍ... دا بوشکه... دا ځای... دا ټول شیان د یوی خبری ګواهې ورکوی برهان ..!
ما د رد کولو هڅه وکړه.
- نه، باور وکه هېڅ داسې خبره نشته، اصلاً زه ولې باید ځان ووژنم؟ لیوني خو نه یـ ..

لا مې خبره نه وه پوره کړې چې عزیزی ناڅاپه له اوږه ونیولم او په زوره یې خپل خواته کش کړم.

عزیزی- د عقل خبری خو ته هېڅ مه کوه، چې ستا څخه بل بیعقل په دی نړۍ کې شتون نه لری ... یوازی دا راته ووایه چې چا درته څه ویلې؟ په څه دلیل؟(ناڅاپه سترګو کې د شک چپه راښکاره شوه او زما اوږه یې لا کلک ونیول) ال .. الفا هغه درته زنګ وهلې؟ وی ګواښولې؟ څه یې درته وویل؟

عزیزی ما ته د خبرو وخت نه راکو، لګیا و خپل د ذهن شکونه او فکرونه یې ټول په خوله راوړل او غوښتل یې زه یو دانه تایید کړم خو ما .. ما ته نه چا ګواښ کړی و او نه حتا د ځان وژنې اراده مې درلوده، نو نه پوهیدم چې څه ځواب ورکړم!؟ عزیزی چې زما چوپتیا ولیدل بلاخره چوپ شو او نور څه یې ونه ویل، خو په زور یې زما اوږه کش کړل او د کوټې د دروازې خواته روان شو، د کور د راغورځیدلې دیوال څخه یې تقریبا په کش کولو تېر کړم او د حویلې د دروازی خواته روان شو.

هوا کامله تیاره شوی وه داسي ښکاریدل لکه ساعت چې د نهه،لس بجو په شاوخوا وی! په دی فکر د حیرت څخه مې سترګي پراخي شوی، زه څو ساعت دې کور کی یوازی وم؟ ما ولي وخت ته فکر نه و شوی؟

د کور څخه چې راووتلو تازه مې شاوخوا فکر شو او د ډېر وېری څخه مې نفس بند شو، زه یکې یوازی په دی توری شپې کې، په داسې کنډ کپر کور کې، چې شاخوا یې ټول د قبرونه څخه ډک وه بیغم ناست وم؟ اصلاً ولې ونه وېرېدلم؟ ولې ما د هغه تیاری څخه د وېرېدلو احساس نه درلود، برعکس هغه تکي توری شپي ماته آرمښت راکو، په دی فکر ساه مې یو ځل بیا سینه کې بنده شوه ...

نه ... دا څنګه کیدلې شي؟ شموئیل ویل مورږ پیریان زیاتر تیاره ځایونه خوښو او هلته اوسیږو ... مطلب د هغوی دا خاصیت ما ته هم راغلې؟ هو نو زه تقریبا پنځه ساعت په داسي خاموش او تیاره ځای کی یوازی وم او د وېرېدلو لځایه ورته خوشحاله وم! که عزیزی نه وایې راغلې خدای خبر تر کله به دلته وایې؟

عزیزی چې بیا ځلې د لاس څخه کش کړم په خود راغلم، د کوڅې په سر کې موټر ولاړ و چې د څراغونو کمزور رڼا یې لږ کوڅه روښانه کړې وه، کله چې ورنږدی شو نو اشرف مې ولید چې په تروش تندی د موټر د سټېرنګ شاته ناست و. زمورږ په لیدو سم نیغ کښیناست، عزیزی بغیر د یو لفظ ویلو څخه د موټر د شا دروازه خلاصه کړه او زه یې تقریبا په ټیله کولو په زور موټر ته دننه کړم او پخپل هم راپورته شو.

— حرکت وکړه.

اشرف بغیر د کوم پوښتنې سر وخوځاوه او موټر یې چالان کړ.

موټر چې له کوڅې ووت، تازه مې په یاد شول چې موبایل مې د هغه منحوسې بوشکې پر سر پاتې شوو! غوښتل مې اشرف ته ووایم چې موټر ودروي تر څو خپل موبایل پسې لاړ شم، خو د موټر فضا دومره درنه وه چې غږ مې لا نه شو ایستلای. عزیزی په بشپړ سکوت کې خپل مخ د کړکۍ خواته اړولی و او سګریټ یېګ واهه،

اشرف هم داسې چوپ و چې د ټايرونو څخه غږ راتلې خو د ده څخه نه ..د عزيزی ناڅاپه راتګ مې هېڅ نه شو هضم کولای. ولې زما پسې راغلی و؟ ښايي فکر يې کړی وي چې ما په هغه کنډکپر کور کې د الفا سره د ليدو وخت ټاکلی! هو، يقيناً همدا ګمان به يې کړی وي.

شاوخوا مې وکتل نه پوهېدم چې چيرته روان يو او ولې؟ عزيزی خو وليدل چې هلته زما پرته بل څوک نه و، نو بيا ما چيرته وړي؟ نور مې زړه طاقت ونه کړ او غوښتل مې وپوښتم چې چيرته روان يو، چې ناڅاپه مې د موټر په مخکينۍ هېنداره کې خپلو سترګو ته پام شو... زما سترګې لا هم شنې وې! عزيزی څنګه دې ته متوجه نه شو؟

په تلوار مې سترګې پټې کړې او چې بيا مې خلاصې کړې نو همغه پخواني رنګ يې و. ژوره ساه مې واخيسته، زما په دی کار عزيزی د اوږې له پاسه نيم نظر راواچوه. چې ما هم فرصت له لاسه ور نه کړ او ومې ويل: چ... چيرته روان يو؟

عزيزی بې له ځوابه د سګريټ يو کش واخيست، د هغه د دی حالت څخه مې هېڅ ښه نه راتلل، د هغه منحوسې شپې په شان شوی و.
- باور وکړه عزيزی، هلته هېڅوک نه وو، او زه هم د چا ليدو ته نه وم تللی. هغه زما خپل کور دی...

عزيزی بيا هم هېڅ غبرګون ونه ښود. د هغه دا سکوت زه تر مرګه رسولم. بې اختياره مې خبرې کولې، يوازې د دې په اميد چې يو څه ووايي او زه له دې عذابه خلاص شم.

- ما... ما غوښتل هغه کور وګورم ځکه غواړم خرڅ يې کړم.

بلاخره عزيزی يو غبرګون وښود،په پوسخند يې سر وخوځاوه او ويې ويل: نيمه شپه د کتلو او خرڅولو وخت دی؟ لکه چې د کور اخيستونکي دې پيريان دي چې د شپې لخوا معامله کوي؟

د هغه په دې خبره په وېره مې د خولې لاړې تېرې کړې. که څه هم پوهېدم چې هغه په ریشخند دا خبره وکړه خو بیا هم وډار شوم. هېڅ مې زړه نه غوښت چې داسې فکر وکړي چې زه له پیریانو سره کوم تړاو لرم.

- ن ..نه... ګوره... (ژوره ساه مې واخیسته او نیغ مې د هغه سترګو ته وکتل، تر څو خبره مې وړباندې لږ تاثیر وکړی) نن ورځ زما لپاره ډېره بده ورځ وه... نو ځکه غوښتل مې لږ یوازې واوسم. بل ځای مې نه درلود، نو مجبور شوم هلته لاړ شم...
عزیزی د سګریټ لوګی زما پر مخ راخوشې کړ او په پوسخند یې وویل: اووم... نو ځکه دې غوښتل ځان ووژنې، ځکه کاکا دې درڅخه خفه شوی؟

لومړۍ مې غوښتل ورته ووایم چې" نه، ما نه غوښتل ځان ووژنم" خو له دې چې هغه زما هره خبره د ځان وژنې خواته اړوله غوسه راغله او بې اختیاره مې ورته وویل: هو، ته صحیح وایې فرض کړه چې غوښتل مې ځان ووژنم، په تا یې څه؟

د دی خبری کولو سمدستي وروسته پښېمانه شوم، په ځانګړي ډول کله چې مې د عزیزی هغه غوسه ناک نظر ولید. چې د ځنځیري لیونیانو په شان یې راوکتل، خو افسوس چې خبره تر خبری تیره وه ...

- ما... ما نغـ...
خبره مې لا نه وه پوره کړې چې عزیزی په غوسه وویل: هېس! غږ دې وا نه ورم.

دومره په کلک یې وویل چې خوله مې سمدستي بنده شوه. په وېره مې ځان د موټر دروازې خواته کش کړ. لکه چې نن ماښام مې قبر کیندل شوی؟!

نه پوهېدم څه ورته ووایم چې ارام شي. هېڅ څه مې ذهن ته نه راتلل. تر دې هم بد دا چې فکر مې کاوه اوس که هره خبره وکړم زما په تاوان تمامیږي، ځکه عزیزی زما هره خبره چپه اوریدل، فکر کوم د اوس لپاره سکوت تر ټولو غوره لاره ده، که غواړم ژوندی پاتې شم.

څو دقیقې وروسته موټر د یو سرک خواته تاو شو او ما هغه سرک وپېژانده. دا د عزیزی پخوانی کور و هماغه چې د ماموریت پر مهال مې پکې کار کاوه. د هغه کور په لیدو لږ هوسا ساه مې واخیسته. شکر د هغه بل منحوس کور خواته لاړ نه، کنه هلته د ننوتلو مخکې ما سکته کول.

د کور مخې ته چې ورسېدو اشرف له موټر ښکته شو، د کور دروازه یې خلاصه کړه او بیا بېرته موټر ته راپورته شو او موټر یې دننه ننباسه. د موټر تر درېدو مخکې ما غوښتل څه ووایم، خو عزیزی دومره چوپ و چې ما د خبرو جرئت نه درلود.موټر چې ودرېد، عزیزی دروازه خلاصه کړه او ښکته شو، همغه حال کې په دروند غږ ماته وویل: راښکته شه.

دومره په دروند غږ یې دا خبره وکړل چې بې اختیاره مې خوله زاری ته جوړه کړه:
- عزیزی، زما خبرې ته غوږ ش...

— راښکته شه، برهان.

دویم ځل چې یې وویل"راښکته شه" نور د بحث ځای نه و پاتې له موټر ښکته شوم، خو د زړه درزا مې پخپله اورېدل عزیزی بغیر له دې چې شاته وګوري، مستقیم روان شو، خو بد دا و چې کور ته د ننوتلو پر ځای د کور شا خواته روان شو. څو شیبې وچ کلک خپل ځای کې ودریدم، دا دومره وخت د ماموریت کې ما د دی کور د شا برخه نه وه لیدلې، او نه پوهیدم چې هلته څه دی؟ د اشرف په غږ په ښود راغلم. هغه په پوسخند وویل: ورځه، که درېسې راشې خیر به دې نه وي نازولې ...

د هغه دی طعني ته مې سخته غوسه راغلل، خو خبره یې صحیح وه که عزیزی زه خپل شاته نه وایې لیدلی قیامت یې جوړه و، په دی فکر که څه هم هېڅ مې زړه نه غوښت د عزیزی پسی دی لاړ شم خو د مجبوری روان شوم، کله چې د کور شاته ورسیدم نو عزیزی مې د یو کوچني دروازی مخې ته ولاړ ولید زما په لیدو یې دروازه خلاصه کړه او ما ته یې لومړۍ دتګ اشاره وکړل ...

@Shuhab09

په ویره مې د هغه دروازې خواته وکتل داسې ښکاریدل لکه چې زیرزمیني اوسیږې!
په دې فکر د وېرې څخه مې رنګ وپرید، زیرزمینی هغه هم هغه وخت چې عزیزی غوسه وی هیڅ د خیر نښه نه ده ..

عزیزی- ننوځه ..

د هغه په غږ مې وروکتل او غوښتل مې خوله زارۍ کولو ته جوړه کړم خو عزیزی وار رانکړ له اوږې ونیولم او په غوسه یې دننه خواته ټیله کړم، لاندی یو څو ځیني وی نږدی و وغورځیږم خو د دیوال په نیولو مې ځان کنټرول کړ، لاندې زینې تیاره، لمدې او یخې وی ..

عزیزی- روان شه ...

د همدی ځای څخه مې د زیرزمینی خواته وکتل یخ او سړه هوا ورڅخه پورته راتله او ورسره یو عجیب بوی هم وو .. لکه د حیواناتو بوی .. د زړه درزا مې نوره هم تیزه شوه. خو بغیر د څه ویلو کرار، کرار د دیوالو په نیولو مخکې روان شوم، کله چې لاندې ورسېدم، نو یو کوچنی زیرزمیني دهلیز و. په سر کې یو زوړ ګروپ پیکه رڼا ورکوله. دا ځای دومره ډارونکي نه و خو ... خو د دهلیز په پای کې یو..

یو اوسپنې دروازه وه .. سم د زندان د دروازې په شان .. د هغه په لیدو شاته مې مخ وګرځو او په قسم سره ویلي شم په هغه توره تیاره کې مې لا د عزیزی شیطان او ځلیدونکي نظر ولیدې او د وېرې څخه مې ژبه بنده شوه ...

- څه .. څه غواړې عزیزی؟ و .. ولې دې زه دلته راوړم؟

عزیزی په همغه شیطان نظر رامخکې شو او د هغه اوسپني دروازی خواته روان شو، خو د تلو مخکې زما لاس هم د ځان پسې کش کړ او ویې ویل: هېڅ... غوارم د یوې اهلي پیشو څخه وحشي پیشو جوړه کړم...

د هغه په دې خبره سل په سلو کې ډاډه شوم چې نیت یې ما ته د خیر نه دی، په ځانګړې ډول هغه وخت چې د ګوتمۍ ځلا هر ګام د هغه منحوسې دروازې خواته په نږدې ورتلو پیکه کېده. کله چې د دروازې یو قدمۍ ته ورسېدو، د ګوتمۍ ځلا ډېره کمه شوه او لږه سره رڼا پکې وځلیدل ... دا نو هغه شېبه وه چې د زارۍ پر ځای مې له عزیزی سره کشمکش پیل کړ. غوښتل مې خپل لاس ورڅخه خلاص کړم او له دې منحوس ځایه وتښتم، خو هغه دومره کلک نیولی وم چې ځان مې نه شو ورڅخه خلاصولای...

- عزیزی... خوشې مې کړه... خیر دی... عزیزی، ما پر تا څه کړي چې غواړې ما ووژنې؟ خیر دی... په قرآن که بیا ستا د خبرو خلاف کوم کار وکړم... خوشې مې کړه...

زما په چیغو او زاریو عزیزی هېڅ خاص غبرګون ونه ښود،لکه زما غږ چې هېڅ اورې نه! خو د اوسپنېز دروازې شا ته موجوداتو باندې لکه چې زما چیغې ډېر هم بد ولګېدلې .. ځکه د دروازې مخې ته راغلل او خپل ناخوښي یې په ډارونکو غږونو وښوده...د دروازې شاته دوه غټ سپیان تړلي شوی وه، دومره غټ او وحشي وه چې په تیاره کې یې هم سترګې ځلېدې.

کله چې یې موږ ولیدلو، دواړو په غپلو پیل وکړ. د هغوی غږ په زیرزمیني کې داسې انګازه وکړه چې زما زړه یې له وېرې ودروو. بې اختیاره یو ګام شاته شوم، خو عزیزی بېرته ځان خواته کش کړم.په وېره مې نوم ورڅخه واخیست: ع... عزیزی...

— هیس ...
په کراره زما خواته راوګرځېد. د ګروپ په پیکه رڼا کې یې سترګې له غوسې تکې سرې ښکارېدې.
— تا غوښتل ځان ووژنې، کنه؟

سمدستي مې په وېره سر وخوځاوه.

- نه! په خدای که مې داسې کوم کار کاوه...

عزيزی ناڅاپه په لوړ غږ وويل: دروغ مه وايه!

د هغه په لوړ غږ د سپيانو غپېدل هم زيات شول.

— ما هر څه په خپلو سترګو وليدل... هغه رسۍ... بوشکه... کنډواله کور...

زه يې خپل خواته کش کړم او له ګرېوانه يې ونيولم.

— ته فکر کوې ژوند د لوبو شی دی؟ که يو چا درته لږ تندی تروش کړ، نو ته ځې ځان وژنې؟

له ډېرې وېرې څخه مې ژړا راغلې وه.

- په قسم که مې داسې کوم فکر و، هغه رسۍ له پخوا څخه هلته وه...

عزيزی د لېونيانو په شان وخندل.

— جالب ده... د دومره وېرې باوجود بيا هم دروغ وايې ...

غوښتل مې يو بل قسم هم واخلم، خو لا مې خوله نه وه خلاصه کړې چې عزيزی د کوټې دروازه خلاصه کړه، د دروازې خلاصولو سره سم سپيان راپورته شول او غوښتل يې زموږ خواته راشي، خو ځکه چې د کوټې دننه په دوه غټې ځنځيرو تړل شوی وه ... ديخوا نشو راتلې که څه هم تړل شوی وه او زما خواته نشو راتلې خو غپيدل او غاښونه ښکاره کولو يې زما زاره راوچول، زه لا د هغوی وحشتانک څيرو ته په کتو وم چې عزيزی په يو ناڅاپه حرکت کې د کوټې دننه ټېله کړم ..

دومره په کلک يې ټيله کړم چې تقريباً د کوټې منځ کې ولوېدم، زما د ولېدلو سره سم سپيانو راحمله کړل، خو زه په داسې يو سرعت چې خپل لا ورته حيران شوم ځان مې د دراوزې خواته ورسو، سپيان د کوټې تر نيمايې راتلې شول، ځنځيرو نور د تګ اجازه نه ورکول، عزيزی لګيا و دروازه يې د شالخوا قفل کول چې ما يې لاس ونيو.

- عزیزی داسي مه کوه .. ته وقران زه دلته مرم .. ما د دی ځایه وباسه ..
خو هغه بغیر له دی چې زما خبری ته کوم توجه وښایې لګیا و دروازه یې قفل کول.
— نن شپه همدلته تېره کړه برهان ...
د هغه په دی خبره زړه مې تر ستوني راورسېد.
- م .. ما څه کړي؟ ک .. که غواړې و مې وژنې زر نور لاری شته خو سپیان .. داسې کار مه کوه ... خیر دی زاری درته کوم عزیزی ...

د یوې شیبې لپاره هغه د دروازی د قفل کولو څخه لاس واخیست او په چوپتیا کې راوکتل، د هغه دا نظر لږ امید په زړه کې راپیدا کړو.
- قسم پخدای درته اخلم چې هغه رسۍ ما نن ماښام هلته نه وه ځوړند کړی، منم چې ما کړی وه، خو د اوس خبره نه ده ..

دومره وېرېدلی وم چې حاضر وم خپل د ژوند رسوا ترین حقیقت عزیزی ته ووایم خو یوازی د دی ځای وژغورل شم.

ورته مې هغه کیسه وکړه چې کله خبر شوم استاذ په اصل کې زما ماما و، خو څو کاله یې راته دروغ ویلي وو. بیا مې د بابا په اړه هم ورته وویل دا چې زما پلار له ما بد راتلل، ځکه فکر یې کاوه چې زه د هغه د معشوقې د مرګ سبب شوی یم.

- ه... هغه وخت ما دا رسۍ ځوړنده کړې وه، خو... وروسته پښېمانه شوم. باور وکړه، نن ماښام چې مې هغه رسۍ ولیده، پر خپل حماقت مې خندا راغله او پر ځان مې افسوس وکړ چې څنګه مې غوښتل د داسې بې‌ځایه موضوع لپاره دومره جاهلانه کار وکړم.

عزیزی زما خبرو ته په چوپ نظر غوږ نیولی و. د هغه سترګې لا هم له غوسې تکې سرې وې، خو دا ځل پکې یو بل څه هم و... لکه فکر... یا شک...
کرلر یې زما له لاسه خپل لاس خلاص کړ او ویې ویل: نو منې چې تا ځوړنده کړې وه؟

په حیرت مې وروکتل. ما دومره اوږده کیسه وکړه، خو هغه لا هم په همدې خبره کې بند و چې هغه منحوسه رسۍ ما ځوړنده کړې وه که نه!
ژبه مې په خوله کې وچه شوه. د سپیانو غپېدل لا هم شاته روان و، لکه زما د مرګ شېبې چې شمېري.

- م... ما... (ژوره ساه مې واخیسته) ما خو درته وویل چې دا د ډېر پخوا خبره ده، نه د اوس...

عزیزی یو قدم رانږدې شو.
— مهم د پخوا او اوس نه ده برهان. ته پوهېږې زه تاته ولې "پیشو" وایم؟

بې له څه ویلو مې ورته وکتل چې هغه په افسوس سر وخوځاوه.

— پیشو ذاتاً وحشي ده، د ښکار کولو خاصیت لري. خو موږ انسانان هغوی په کورونو کې ساتو او همدا کار د دې سبب کېږي چې هغوی خپل اصلي خوی هېر کړي. تر دې هم بد دا چې ځینې یې دومره اهلي شي، که یې له کوره وباسې د کوڅې نورې پیشوګانې یې خوري... هو، خوري، برهان...

یو دم یې غږ لږ دروند شو.

— او ته هم هماغه اهلي پیشو یې. ستا کاکا ته له دې نرۍ لرې د خپل سیوري لاندې د یو اهلې پیشو په شان لوی کړې شاید د مهربانۍ له امله، خو زما په نظر دا کار اصل کې ستا وژل وو. ستا کمزوري، وېره، بې‌باوري دا ټول د هغه له لاسه دي. هغه ته د یو نر په شان نه .. بلکې د یوې نجلۍ په شان روزلی...

یو دم یې په لاس اوسپنیزه دروازه ووهله او په خوشحالۍ یې وویل: خو زه دلته یم... نو غم مه کوه. زه به درته ټولې د نرتوب لارې وښیم.

بې اختیاره مې پوښتنه وکړه: ولې؟

عزیزی څو شیبې چوپ شو. لکه څپله چې هم د دی پوښتني په ځواب صحیح نه پوهیږی، خو څو شیبې وروسته په داسې غږ چې زه پوه نه شوم درد پکې و که افسوس ویې ویل: زه یوه تېروتنه دوه ځله نه تکراروم، برهان...

د دې خبرې سره سم کرار،کرار شاته روان شو. چې زه تازه په ښود راغلم او په عاجزانه غږ مې ورته ناری کړل: عزیزی... ما دلته مه پرېږده .. خیر دی...
د تلو حال کې ودرید او یو ځل بیا یې راوکتل. دا ځل یې نظر دومره سخت نه و.
– وېرېږې؟

ځواب مې ور نه کړ. شاید ځکه چې ځواب یې ښکاره و.
هغه ورو سر وخوځاوه.
– ښه ده... وېرېدل بد نه دي. همدا وېره انسان لویوي...
بیا یې په خندا زیاته کړه:
– که د وېرې خبره هم نه وای، بیا هم نن ماښام ما ته له دې ځایه نه ویستلی برهان... ځکه تا زما عیش خراب کړ. د میاشتو وروسته مې غوښتل لږ زړه تازه کړم، خو تا ټول عیش او نوش را خراب کړ. نو نن شپه همدلته له خپلو "نویو ملګرو" سره پاتې شه... خو فکر دی وی زما بچیانو ته څه ونه وایې ...

د هغه په دې خبره مې سترګې له حیرته پراخې شوې. هغه دې مردار سپیانو ته "بچیان" وویل؟

لکه چې زما حیرانتیا باندی پوه شو، د سپیانو خواته یې اشاره وکړه او ویې ویل: دا دواړه مې له کوچنیوالي را لوی کړي لکه خپل اولاد. د دوی یو رګ د لیوه دی. هر څومره چې روزنه ورکړې، بیا هم بشپړ نه اهلي کېږي... خو وفادار دي. که څه هم تل زما خبره نه مني، خو... یو ښه خاصیت لري،هر څوک چې ور وغورځوم هډوکي لا ورته زیښې ..

د دې خبرې سره سم په خندا د زیرزمیني د دروازې خواته روان شو. هر څومره مې چې زارۍ وکړې، نور یې شاته را ونه کتل،د دروازې د قلف کېدو غږ چې راغی... داسې احساس مې وکړ لکه د ژوند وروستۍ لار هم راباندې وتړل شوه.

چوپتیا خپره شوه،خو دا چوپتیا ارامه نه وه... درنه وه... لکه د طوفان نه مخکې سکوت...د غاښونو د جنګېدلو، ستمي او غرر، غرر غږ باندی مې کرار سر واړاوه. سپیانو نور ما ته د څو شېبو مخکې په شان نه کتل، دا ځل یې په ما تمرکز کړی و. لکه زه نور انسان نه وم بلکې ښکار وم... د هغوی ښکار.

زړه مې په سینه کې دومره په زور درزېده چې ګومان مې کاوه هغوی به یې هم اوري،یو قدم مې شاته واخیست او د اوسپنې دروازې ته جوخت شوم. د ځمکې یخوالی مې تر پښو پورې راوخوت.

- ارام... ارام...

لاس مې د هغوی پر خوا اوږد کړی و او هڅه مې کوله ارام یې کړم... خو داسې ښکارېده چې دا کار مې برعکس اغېز وکړل،یو سپی کرار،کرار زما خواته را روان شو، د هغه د ځنځیر د کش کېدو غږ د کوټې په ماحول کې انګازه وکړل، او زما د زړه درزا نوره هم تیزه شوه، غوښتل مې تر اخری حد شاته لاړ شم خو نور ځای نه و، ګوتمۍ ته مې وکتل. لا یې هم سره کمزورې ځلا کوله... لکه د مړه کېدونکي اور وروستۍ لمبې.

دوی حس کوی ..

دا فکر لکه برق و باد په شان د ذهن څخه مې تېر شو، حیوانات د پیریانو شتون حس کولای شي او دوی زما هغه پټ برخه حس کړې وه .. دوی پوه شوی وه چې زه یوازې انسان نه یم .. او همدا و چې هغوی لیونیان ... ګنګس او شکمن شوی وه، د هغوی په نظر زه اوس یوازې ښکار نه وم ... بلکې خطر هم وم ..

دا یو سپی چې مخکې راغلې و خپل غاښونه یې د داړلو په انداز راښکاره کړل او ستمی وکړ، همغه حال کې خپل ځنځیر یې هم په ځمکه راکش کړ، تر څو تر ما راورسیږی، خو دا بل سپي آرام خپل ځای کې ولاړ و، خو سترګې یې مستقیم زما پر سترګو ټینګې وی ..

د زبیر خبره مې ذهن ته راغلل ..
لیوه د وېرې بوی احساس کولای شي ...
ساه مې بنده کړه.
نه... نه باید ووېرېږم.
نه باید مخ واړووم.

سترګې مې د هغه څخه واړول او پر هغه سپی چې زما خواته راروان و ټینګې کړې. یو قدم نور رانږدې شو، او د غاښونو ښکاره کول یې لا ژور شول دا سپی چې زما خواته راروان وو تک تور و بیخی بل څه و سترګو کې واضح کرکه ښکاریدل .. داسې حال کې چې شاته هغه بل سپین سپي خاموش او لږ آرام ښکاریدی ...

– ستاسو انسانانو یو متل دی وایې پخوا کال په کال اوس لاس په لستوڼي ..
د هغه ناڅاپه غږ په اوریدو سمدستي مې شاته وکتل ... زقوم.

د اوسپنې دروازې شاته ولاړ و... په هماغه شیطاني موسکا،د هغه په لیدو دا ځل دواړه سپیان یو دم لیوني شول او غپیدل یې شروع کړل، په بیحد وحشیانه توګه غپیدل او ځنځیرونه یې کش کول.

زقوم پخندا وویل: نچ... نچ... ستا او زما معامله خو بیخی غرمه تر ماښام حل شوه طاها ...

په داسې حال کې چې مرګ مې خپل په څو قدمی کې لیدی بیا هم په غوسه مې وویل: څه مرګ غواړې دلته؟!

هغه کرار، کرار د زیرزمیني په منځ کې په تاوېدو شو، لکه دا صحنه چې خوند ورکوي.

زقوم- زه؟ هېڅ... راغلی یم د انصاف تماشا وکړم...

بیا یې د سلام اچولو په شان خپل لاس د سپیانو خواته وخوځاوه، د هغه په دی کار سپیان نور هم وحشي شول او خپل ځنځیرونه یې لا په کلک کش کړل، داسې چې یوه شېبه ووېرېدم چې ځنځیرونه یې ونه شکېږي!

- ورک شه زقوم .. کنه قسم په خدای په خپلو لاسونو دې وژنم!

زقوم په لوړ غږ وخندل.
— ته؟ ته چې اوس د مرګ په خوله کې ولاړ یې، ما ته د مرګ ګواښ کوی؟
رانږدې شو،سترګې یې را باندې ټینګې کړې او په پوسخند یې وویل: د ګواښ پر ځای... لږ زاري وکړه طاها ..شاید زړه مې نرم شو...!

یو دم نه پوهېږم دا غرور له کومه راغی، خو په پوسخند مې وروکتل او ومې ویل: زاري! هغه هم زه او بیا تاته؟ لکه چې په ویښه خوبونه وینې، زقوم؟؟

زقوم زما د دې ځواب په اورېدو یوه شېبه هک حیران شو، خو بیا یو دوه قدمه رانږدې شو او په داسې غږ چې غوسه ورڅخه له ورایه ښکارېده ویې ویل: تر نن غرمې مې شک درلود... خو اوس ډاډه شوم چې...
چوپ شو، سترګې یې پر ما ټینګې کړې.
— شموئیل...

د "شموئیل" د نوم په اورېدو غوږونه مې تېز شول.
- شموئیل څه...؟

زقوم په شیطان موسکا وویل: هېڅ... (شاته ولاړ) ما د هغه سره ستا په سر معامله کړې وه کنه؟ خو... د هغه با وجود مرسته نه درسره کوم، ځکه ته مې نه خوښېږې .. خو معامله هم نشم ماتولای، په ځانګړې ډول د یو عفریت سره خو ابداً ډغره نشم وهلی...(په شیطاني موسکا، داسې حال کې چې کرار، کرار لېرې کېده ویې ویل: تا زه خپل د موبایل پسې واستولم او ما هم ستا خبره ومنله، ځکه زه تل ستا مرسته کوم زما ګرانه قرینه! خو... بدبختانه تر څو چې ما ستا موبایل راوړو، د سپیانو ځنځیر وشلېد او ته یې وخوړلې... هې... څومره غمجنه سناریو کنـه؟!

د دې خبرې سره سم په کټ، کټ پخندا شو او بیا د سترګو په رپ کې غیب شو، داسې لکه چې له اول یې هلته شتون نه درلود...

کرار مې نوم ورڅخه واخیست، خو هېڅ ځواب مې ترلاسه نه کړ. بې اختیاره مې وخندل... یعنې د زقوم څخه بل حرمو*ی ما په خپل ژوند کې نه و لیدلی، هغه غوښتل په دی دروغجني کیسي شموئیل خطا باسې ..

د سپیانو د غپېدو په غږ کرار مې مخ واړاوه. د سپیانو صبر لکه چې نور ختم شوی و. ځنځیرونه یې د ماتېدو په نیت کشول، سترګې یې سرې وې او غاښونه یې تر هر وار ډېر د حملې لپاره راویستي وو. لاس مې کرار پورته کړ.

- ارام... ارام...

خو دا ځل هغوی ارام کېدل نه غوښتل. هغه تور سپی یو بل قدم هم رانږدې شو، چې ما بې اختیاره خپل جیب ته لاس کړ. که خبره خرابه شوه، مجبور یم چې په مرمی وولم... خو... خو جیب کې مې توفنچه نه وه... هک حیران شاوخوا مې وکتل... نه... نه... زقوم...؟

خو یو بل فکر هم هماغه شیبه ذهن ته راغی،عزیزی... توفنچه شاید عزیزی اخیستې وې نه زقوم! هغه ویل: "زما بچیانو ته څه مه وایه..."
لګیا وم په زړه کې مې دواړو ته کنځل کول، چې ناڅاپه هغه کار وشو کوم چې ما

ترې وېره او وحشت درلود.تور سپي ځان په دومره زور کش کړ چې د فلزي ځنځیر د ماتېدو غږ ما سم صحیح واورېد، او بې اختیاره مې وویل: نـــه!

خو ناوخته و...

تور سپی چې ځان ازاد ولید، په یو ټوپ یې ځان پر ما راواچوه. یوازې یو سیوری... یو وحشي، تور سیوری، چې سپین غاښونه یې په هغه تیاره کې پرقېدل.د هغه د حملې په مقابل کې ما یوازې یو کار کولی شو ځان مې ارخ ته واچوه. خو د هغه پنجې زما پر اوږه ولګېدې، او ګرم لکه د اور په شان درد مې ډېر ژر په اوږه کې خپور شو.

چیغه مې کړه... خو هېڅ ګټه یې ونه کړه، برعکس سپی لا پر خود راوړ، مخ یې راوګرځاوه. په سترګو کې یې عجیب ځلا وه... لکه له دې چې بلاخره خپل دښمن سره مخ شوی و سخت خوشحال و...

دا ځل د بدن پر ځای مستقیم زما پر ستوني حمله واچول، او هلته ما د عزیزی خبره سم صحیح په رسمیاتو ومنله... دا رښتیا لیوه و... لیوه او زمری دا دواړه هغه حیوانات دي چې خپل ښکار د ستوني څخه نیسي،لاس مې پورته کړ تر څو خپل ستونی د هغه د غاښونو څخه وساتم، خو لاس مې په بشپړ ډول د هغه د غاښونو لاندې لاړ او د خپلو ګوتو د هډوکو د ماتېدو غږ مې پخپله احساس کړ...

درد...

یوازینی لفظ چې هغه شیبه کې ټول بدن مې ورسره په جنګ و همدا و... درد... او درد...

شاته پر یخې ځمکې لوېدلی وم او سپی مې پر سینه راپروت و. وزن یې دومره ډېر و چې زما ساه یې رابندوله.

@Shuhab09

"پورته شه... پورته شه!"

بدن مې يوازې همدا چيغې وهلې.

خپل جوړ لاس مې په تلوار شاوخوا وخوځاوه، تر څو د ساتنې لپاره کوم شی پيدا کړم، چې ناڅاپه يو بل وحشي غږ مې هم واورېد... سپين سپی هم راخوشې شوی و...زړه مې ناڅاپه ودرېد"کيسه ختمه شوه.."ذهن مې ويل نور هر څه خلاص دي، خو بدن مې لا هم نه تسليمېده.

خپل لاس مې د تور سپي له خولې راوويست او د هغه د ستوني لاندې مې کلک ونيو. بل لاس مې په ځمکه وګرځاوه چې ناڅاپه يو يخ... درونند... شی مې لاس ته راغی،د مات شوي ځنځير ټوټه وه...بې له فکره مې راکش کړ.تور سپی غوښتل بيا حمله وکړي، چې په دواړو پښو مې په نس وواهه او له ځان څخه مې لرې کړ، خو لا سم نه وم ولاړ شوی چې هغه بيا راټوپ کړل، خو دا ځل ژر مې حرکت وکړ او په ځنځير مې وار وکړ.

د ځنځير وار د هغه پر سر ولګېد خو ونه درېده، بيا مخکې راغی.دوهم وار مې په ټول زور وکړ.دا ځل لرې شاته شو او پر ځمکه ولوېد. زما فکر لا د هغه خواته و، چې سپين سپی له اړخه راباندې حمله وکړه. پنجې يې زما پر ملا ولګېدې او پر ځمکه يې راوغورځولم او دا ځل دواړو په يو وخت راباندی حمله واچول ... چيغه مې کړه...

خو دا چيغه مې نور د وېرې څخه نه وه...
خپل غږ ته پخپله حيران شوم...
يو وحشي زور مې د خپلې چيغې سره احساس کړ...
د ځنځير ټوټه مې کلکه ونيوله...

سپين سپي يوازې زما اوږه په غاښونو کې نيولې وه، خو تور سپی ځان زما تر ستوني را رسوه،ځان مې تاو کړ،تور سپی مې تر ځان رالاندې کړ او ځنځير مې د هغه پر غاړه تاو کړ...

د تور سپي خرر،خرر او ستمي بدل شو. اوس د ساه اخیستلو لپاره یې لاس او پښې وهل نه، زما د خوړلو لپاره. خو ما پرې نه ښود، لا مې زور ورکړ، دومره مې کلک ونیو تر دې چې بدن یې دروند شو او د اخ او ډب ځخه وولید، کله چې ساه یې پرې شوه، پرې مېښود.خو سپین سپی لا هم زما پر اوږې موښتی و. ځنځیر مې د تور سپي د ستوني ځخه راخوشې کړ او یو ټک مې د هغه پر سر ورکړ.

دا د تور سپي په پرتله ډېر ډارن ښکارېده. په لومړي ټک شاته لاړ او زما اوږه یې خوشې کړه. عجیب و، درد مې نه احساس کاوه، داسې حال کې چې پوهېدم د هغوی غاښونه زما تر هډوکو رسېدلي وو او کالی مې د وینو ځخه لنده شوی، خو درد مې نه احساس کاوه ..کرار پورته شوم. سپین سپی دواړه سترګې زما خواته نیولې وې، خو دا ځل هوښیار ښکارېده. ارام یو قدم رانږدې شو، غوښتل یې وګوري زما کوم اړخ کمزوری دی چې حمله راباندې وکړي. د هغه دې هوښیارتیا ته مې خندا راغله... عجب پدرلعنت وو ...

پر وینو لړلې ځنځیر مې په لاس کلک تاو کړ. عجیب و، دا لوبه مې خوښه شوه. زړه مې غوښتل ورسره وجنګېږم، دا جنګ راته جالبه لوبه ښکارېده. تر ټولو جالبه دا وه چې د هغه د حرکتونو او د "خرر، خرر" په معنا پوهېدم داسې لکه خبرې چې کوی او د خپل مړ شوی ملګري د وینې غوښتونکي وو.

- راشه... نږدې راشه، خپل د ملګري قاتل نه غواړې ووژنې؟ هومم؟ که ډار شوی یې؟

زما په دې خبره لکه چې پوه شو، ځکه خپل تېز غاښونه یې راوښودل او د خرر،خرر په غړونو راټوپ یې کړل. خو دا ځل زه چمتو وم. ځان مې اړخ ته واچاوه او د هغه وزن مې پرېښود چې تېر شي، خو مخکې له دې چې بېرته راووګرځي، دویم وار زما و. د ځنځیر ټوټه مې د هغه پر غاړه تاو کړل.هغه زور ډېر کړ چې ځان خلاص کړي نږدې و چې خلاص هم شي، ځکه رښتیا هم زور یې ډېر و... خو "نه!"

غاښونه مې سره ټینګ کړل او لا مې کلک ونیو. هغه څو شیبې سخت کوښښ وکړ، خو دومره مې کلک نیولی و چې هېڅ خوځېدلې نه شو، بالاخره کمزوری شو.د هغه خرخر ورو ورو کرار شو، او په فضا کې چوپتیا خپره شوه. یوازې زما د درنې ساه اخیستلو غږ اورېدل کېده.

بالاخره لاسونه مې ولړزېدل او ځنځیر مې خوشې کړ. بدن مې نور زما نه و. کرار، کرار په ګنګس قدمونو شاته لاړم.دواړه سپي بې حرکته پر ځمکه پراته وو. هغوی زما د وژلو لپاره راغلي وو... خو اوس زه ژوندی وم خو هغوی دواړه مړه وو.

په دې فکر د لیونیانو په شان په کټ، کټ پخندا شوم او شاته د کوټې یخ دیوال ته مې تکیه ورکړه، پر پښو نشوم دریدلې کرار، کرلر وښوېدم او پر ځمکه کښیناستم.خپل لاس ته مې وکتل، کوم لاس چې سپي سم ژولې وو ..شکر ګوتې مې نه وې پرې شوی یوازی زخمي شوی وه هغه هم ډېر بد، ګوتمۍ مې پر همدغه لاس وه او عجیبه وه... فیروزه یې رڼا کوله. فکر مې وکړ چې شاید زقوم شاوخوا وي، خو نه... هلته زما پرته بل هېڅوک نه و.

نو... نو دا فیروزه یې رڼا د څه لپاره ده؟!

د ګوتمۍ په غمۍ مې کرار لاس تېر کړ او د ځان سره مې وویل: نو د غوسې او وېرې په وخت کې زما نیمه برخه د یو واقعي پیري په اندازه فعالېږي...

دا رڼا زما د خپل وجود څخه وه!

د ګوتمۍ فیروزه یې رڼا کرار،کرار مخ پر کمزوری کیدو وه، د هغه سره زما د بدن هوښیارتیا هم کرار، کرار کمېدل. لاسونه مې درانه شول، پښې مې یخې شوې او سترګې مې په خپل سر بندیدلې، هڅه مې وکړه ځان ویښ وساتم، خو نه مې شو کولای. همغه حال کې چې دیوال ته مې تکیه ورکړې وه کرار، مې سترګې سره بند شول، بدن مې سپک شو، د فکرونو شور کرار شو او هر څه تیاره شول.

@Shuhab09

سترګي مې پټې شوی، خو نه د درد څخه نه د وېره یوازې د سترېیا څخه ..
خاموشي...
بشپړه خاموشي.

***

پر مخ باندی د رڼا په لګیدو سترګي مې نیم کښې خلاصې کړې، ډېر ژر مې ټول شیان یاد ته راغلل زه تر اوسه د عزیزی په هغه منحوس زیرزمیني کې وم، د رڼا دا یوه نرۍ کرښه د زیرزمینې د دروازې له درز څخه دننه راتلل، لکه چې یو چا د زیرزمینې دروازه خلاصه کړې وه! هوا یخه وه، یا شاید زما یخ کیدی؟ د عزیزی خوشحال غږ مې د زینو څخه د راښکته کیدو حال کې واورید.

عزیزی- بــــرهـــــان ... ویده یې؟ عجیب ده زما بچیان هم لکه چې ویده شوی؟ د هغوی غږ هم نه راځې ..
بیا یې په شیطان خندا وویل: اووو لکه چې درې وارو دشپې یو توافق ته سره رسیدلې یاست او یو هم شمول حکومت مو سره جوړ کړی؟!

عزیزی لګیا و خپل په خبرو یې خندل، او دیخوا راروان و تر دې چې د اوسپنیزی دروازی مخ ته یې قدمونه راورسیدل او و درید. ما په پوره هیجان د هغه پر مخ خپل سترګي ښخ کړې وه، غوښتل مې وګورم په اصطلاح خپل د بچیانو د جسدونو په لیدو څه غبرکون ښایي؟

عزیزی د دروازی شاته هک حیران بغیر د کوم حرکت کولو ولاړ و، زه یې سم نه شوم لیدلې ځکه د کوټې کونج کې وم، څو ځله یې سترګي خلاصي او پټې کړل تر څو دا صحنه هضم کړی او بیا ناڅاپه د لومړۍ ځل لپاره ما د عزیزی لړزیدونکې لاس او غږ واورید چې  دروازی د خلاصید حال کې ما ته ناری کړل ...

— ب... بـــرهـــان ..

که څه هم ځواب مې ورکولای شو خو ور مې نکړ، هېڅ مې زړه نغوښت ورسره خبره وکړم، عزیزی اوسپنیزه دروازه په تلوار خلاصه کړه او دننه راننوت، دومره ورخطا و، چې اوس چې زه یې ومخ ته وم لا یې نه لیدلم او سترګي د کوټي شاوخوا ګرځیدل، د مخ رنګ یې بدل شوی و، سترګې یې پر ځمکه د وینو په نښو ښخې پاتي وی .. د مات شوي ځنځیرو ټوټې او دوه بې‌حرکته سیوري، عزیزی کرار یو قدم مخکې کېښود. بیا بل...

څه یې نه ویل یوازې ساه اخیستل یې دروند شوی وو، سترګې یې کرار، په ټول کوټه کې وګرځول او بلاخره زه یې د دیوال څنګ ته تکیه کړی ولیدم.

ودرېد.
لکه وخت چې ودرېږي.

یوازې یو کلمه یې په ډېر کرار خو بیحد امید لرونکي انداز وویل:
— برهان...

بغیر د ځواب ورکولو مې وروکتل چې عزیزی په تلوار ځان تر ما راورسو او بغیر له دې چې پام وکړی ځمکه پر وینو ده زما ومخ ته پر زنګونو کښیناست، سترګو کې عجیب احساس و، نه پوهېږم په داسې حال کې چې ټوټه، ټوټه وم دا ریشخند وهل نو د کوم خوا شول خو په پوسخند مې عزیزی ته وویل: ب .. بچیان دی شهیدان شول عزیزی ... درته د زړه صبر غوارم ...

په تمه وم عزیزی د دی خبری سره سم یو زدنی څپېړه پر مخ راکړی،خو برعکس هغه ناڅاپه په غېږ کې ونیولم، دومره ناڅاپه او عجیب وو د عزیزی دا حرکت چې د څو شیبو لپاره هک حیران پاتي شوم! شاید یوه دقیقه یې بغیر د څه ویلو کلک غېږ کې نیولې وم کله چې خوشې کړم نو د لیونیانو په شان پخندا شو او خپل تندی زما پر تندی تکیه کړ، ماښام لیوني سپیانو زه دارلې وم خو لکه چې اثر یې پر عزیزی کړی و چې داسې لیوني شوی وو؟!

همغه حال کې زما سترګو ته راوکتل او پخندا یې وویل: خیر دا بچیان مې هغه نړۍ کې بیا شفاعت کوی، اخر تا شهیدان کړی غازی صاحب ...

د عزیزی په دی خبره دا ځل د دوارو د خندا غږ پورته شو، خپل ځانته حیران وم، د دی لځایه چې غوسه اوسیږم یا کنځل وکړم لګیا وم د عزیزی په خبرو مې د هغه سره خندل! لکه چې مغزه مې له لاسه ورکړی؟!

عزیزی چې اوږه راښخه ونیول تازه مې درد احساس کړ او "اخ" مې له خولې ووت چې هغه په تلوار پاڅید زما جوړه اوږه یې ونیول او د ځمکې راپورته کړم، تازه مې لکه چې د درد سیستم کار پیل کړی و او درد مې احساس کاوه د لاس ګوتي خو مې هیڅ نشو ښورولې، اوږه مې هم احساس کاوه چې فلج شوی، د ملا درد خو مې بیخی لیوني کړی وم او خلاصه یوه کلمه کې ټوک،ټوک وم.

عزیزی چې ولیدل بیخي حرکت نشم کولای تقریبا غیږ کې راوخیستم او په تلوار د زیرزمیني ښخه ووت، څیره یې بدل شوی وه، نور هغه عجیب احساس یا وېره یې په سترګو کې نه ښکاریدل، یوازی غوسه او قهر یې په سترګو کې لمبې وهل او ما دیته فکر کاوه لکه چې د دی ټوته،ټوټه کیدو وروسته د عزیزی لخوا یو ځل بیا قیمه،قیمه کیږم؟!

عزیزی بغیر د څه ویلو په تلوار زه د هغه منحوسې زیرزمینې ښخه د کور خواته ویوړم،کله چې د کور سالون ته ننوتلو نو اشرف هلته ولاړ و، زموږ په لیدو په راوتلو سترګو یې راوکتل چې عزیزی په غوسه ورباندی غږ کړل.

— څه ته ګوری اشرف، ډاکټر ته زنګ ووهه همدا اوس ...
ورته وایه که ژوند دی درباندی ګران دی نو دوه دقیقو کې ځان دلته راورسوه ...

اشرف چې د عزیزی په غږ د حیرت ښخه راوتلې و، بغیر د کوم بل پوښتنې کولو په تلوار د کور د دروازی خواته په ځغاستو شو، عزیزی زه د سالون په مینځ کې په کوچ څملولم او پخپل زما څنګ ته د کوچ لاندی کښیناست.

زما لاس يې ونيو، هماغه لاس چې سپي دارلی و، زخم يې ژور و خو وينه راتلل يې بند شوی وه او يوازې د پرون ماښام راغلې وينه وربانده وچ کلک موښتي وه.

عزيزې څو شېبې په خاموش نظر نه يوازې هغه زخم، بلکې زما د بدن هر زخم يې د نظر لاندې تېر کړ او بيا يې په کراره، خو دروند غږ وويل: څنګه ... څنګه راخوشې شول؟ دا سپيان په دومره کلک ځنځيرو تړل شوی چې کلونه کېږي د هغه ځای ښور نشې خوړلې، ولې نن ... ولې نن ماښام چې ته هلته وی راخوشی شول، هان برهــان؟

زړه مې غوښت ښه جوړ يې سپک کړم، يعنې زه يې د هغه دوه وحشيانو سپيانو سره يوازې پرېخودم او اوس جنايي پوښتني هم دې راڅخه کوی؟ خوله مې کنځلو ته جوړه کړل چې ناڅاپه د زينو خواته مې فکر شو، يوه ښځه چې تقريبا هېڅ يې نه و اچولې او ګېوډ ويښتيا يې پر اوږو پراته وه د زينو څخه کرار، کرار راښکته کېده، د هغې په ليدو لومړی شيبه کې سترګي مې د حيرت پراخي شوی خو ژر مې خپل سترګي کلک وتړل او په کلک مې وويل:

- استغفــرالله ...

زما په استغفرالله ويلو عزيزی چې تر اوسه يې نظر زما په زخمونو و په حيرت راوکتل خو ژر يې نظر خپل شاته لاړ او هغه ښځه يې وليدل.

عزيزې- ته تر اوسه دلته څه مرګ غواړې؟
د عزيزې په غوسه ناک لهجه د ښځې د وېرې څخه ډک غږ پورته شو خو ما کوم توجه ورته ونکړل، ښه نو کيسه داسې وه؟ اوس د عزيزې د پرون شپې د خبرې په معنا پوه شوم عيش! يعنې زه يې د دوه سپيانو سره په هغه زيرزميني کې بندی کړې وم چې نړدی و ټوټه،ټوټه مې کړې او خپله دلته لګيا و*** استغفرالله لعنت دی په شيطان وی اصلاً ولې په شيطان؟ لعنت دی پر تا وی عزيزی چې د شيطان لاس دی لا تر شا تړلې په دی حرامېتوب کې.

ښځه لګیا وه یو شئ ویل خو عزیزی وار ورنکړ،زما له څنګ پاځید او د هغې خواته روان شو، ما تر اوسه سترګي ترلې وه خو د هغوی غږونه مې واضح اوریدل.

عزیزی- تاته مې ونه ویل چې زما د راتلو مخکې له دی ځایه ورکه شه؟
ښځه چې د عزیزی د غوسه ناک لهجې په اوریدو ژړا ته رسیدلې وه په سلګو یې وویل: ک .. کالي مې نه درلود.
عزیزی- کالی؟ ته مکر لوڅه، لغړ زما کور ته راغلې وی چې وایې کالي نه لرم؟ خو همغه د پرون ماښام کالې دی واچوه او ورکه شه.
جنۍ- ه .. هغه کالې خو تا راباندی وشکول.

عزیزی په پوسخند وویل: ما ..؟ ما وشکول؟ عجب! اصلاً ته کالې څه کوی؟ همداسې لاړه شه شاید لاره کې یو څو تازه مشتریان هم پیدا کړی ...

د عزیزی په دی خبره زما خو د ډېر حیرت څخه د غوږونو څخه دود وخوت، دومره بې شخصیت انسان نو ما خپل ټول عمر کې نه ولیدلې.

هره شیبه په تمه وم چې ښځه یو دوه کنځل عزیزی ته واچوی او په غوسه روانه شي او له کور ووځې، خو زما د فکر برعکس ښځې په ناز او نخرو وویل: جان مې! ته څنګه دا خبري ما ته کوی؟ موږ څومره ښه شپه یو دبل سره تېره کړه، تا یوه شیبه لا نه پریخودم ...

یعنې زه دلته فرې هېښ بال وم! په سرۍ لا نه شمارلم او لګیا وه داسې خبری کول، زړه مې غوښت ویلې غوړی شه او د ځمکې تل ته لاړ شم، یعنې دومره و شرمیدم د هغه دواړو بې حیاو له لاسه زه ګز،ګز له ځمکي ووتم.
عزیزی په لوړ غږ وخندل او ویې ویل: ته فکر کوی د ډېر میني څخه مې درسته شپه نیولې وی؟

ښځې د ناز څخه په ډک غږ وویل: هو نو جــان! څومره خوندوره شپه وه هېڅ مې زړه درڅخه نه مړېــ ...

د ښځې په ناڅاپه چيغ نور خبره مې ورځخه وا نه وریدل او په تلوار مې سترګي خلاصي کړې، عزیزی د ښځې ویښتیانو کلک په موټ کې نیولې وه، ښځې هم چغي وهل او کوښښ يې کاوه چې ځان د عزیزی له لاسه وژغوری خو عزیزی دومره کلکه نیولې وه چې خوشې کیدل يې ناممکن ښکاریدل.

عزیزی په یو ډارونکې لهجه وویل: چنداني ښه ایټینګ دی نه دې زده، ستا څخه خو (زما خواته يې په سر اشاره وکړل او په پوسخند يې وویل: برهان لا ښه رول لوبولي شي، داسې رول چې تر اخر پوه نه شوم چې جاسوس دی ...

د عزیزی خبری مې هېڅ نه شو درک کولای، نه پوهیدم زما راکش کول دی بحث کې او د ښځې داسې نیول اخر څه معنا لری؟

ښځې په چغو،چغو ژړل او د عزیزی څخه يې غوښتل چې خوشی کړې، د څو شیبو وروسته بلاخره د عزیزی زړه لکه چې په رحم راغی، که څه هم دا خبره ناممکن وه خو ښځه يې شاته د زینو خواته ټیله کړه او په غوسه يې وویل: هغه خبیث الفا فکر کړې زه پر یو کو*خطا وځم؟

د الفا د نوم په اوریدو بې‌اختیاره ځای کې نیغ کښیناستم، ښځې څه نه ویل یوازی د تمساح په شان های، های اوښکې تویولې، چې عزیزی خواته ورتیټ شو او په پوسخند يې وویل: پرون ماښام چې زما د موټر مخې ته راغلې او ځان دی ما ته په نمایش کیخود همغه دقه پوه شوم چې یو چا راستولې يې، خو نه پوهیدم چې چـا؟ نو ځکه تر کور مې راوړې تر څو نفر معلوم کړم او کوم وخت چې.

عزیزی په لوړ غږ وخندل ښکته شو د ښځې له مخ څخه يې یو اوښکه خپل پر ګوته پاک کړل او په ریشخند يې وویل: هغه وخت چې تا فکر کاوه عزیزی د خر په لکۍ سپور دی او پر ځان نه پوهیږی او لګیا وی زما د خولې څخه دی خپل په خام خیال معلومات ویستل، زه پوه شوم چې د هغه خبیث بوډا راستول شوی مرداره موږکه يې نو ځکه درسته شپه مې کلک نیولې وی، ما ویل اوس چې دومره زحمت يې

ویستلې او ته یې راستولې یې نو ناشکری ښه کار نه دی، ما ویل یو زړه خو تازه کړم مفت مال دی ...

زما خو رسماً د ډېر حیرت څخه خوله خلاصه پاتي وه، یعنې دا ښځه اصل کې د الفا جاسوسه وه! او غوښتل یې د دی لاری د عزیزی معلومات الفا ته ویسي؟ خو عزیزی .. الفا خبر نه و عزیزی د هغه څخه په حرامیتوب کې یو دوه ګام وړاندی دی.
ښځې چې د عزیزی خبری واوریدی او پوه شوه چې راګیره شوي، نو دا ځل د رښتیا او د زړه د خلاص او وېرې څخه یې ژړا شروع کړل، او همغه د ژړا حال کې ځان د عزیزی پښو ته وغورځو او په زارۍ ورته ویل: چې ما مه وژنه او زه مجبور وم او داسي زر نور بهاني ...

عزیزی هم بغیر د کوم خاص غبرګون څخه په چوپتیا کې ورته کتل، د څو شیبو کتلو وروسته یې ورته وویل: زه ښځې نه وژنم بلخصوص یو فاح*ه خو بیخي نه وژنم، ستا وژل د یو مردار موږک د وژلو په اندازه لا ارزښت نه لری ...

د دې خبری سره یې خپل پښه شاته کش کړل او ښځې ته یې د تلو وویل، ښځې په حیرت د عزیزی خواته کتل شاید باور یې نه راتلو چې عزیزی په دومره آساني د هغې د ګناه څخه تېر شوی!؟ البته زما هم باور نه راتلو، عزیزی او داسي رحم دلې؟ داسې و لکه د هندو له کور چې قرآن ووځي .!

عزیزی په پوسخند ښځې ته چې په حیرت ورته کتل سر وخوځاوه او ویې ویل: څه ته ګوری؟ غواړې یو بل شپه هم راسره تېره کړې؟!

ښځې چې دا خبره واوریده دوه پښي درلود دوه نور یې هم قرض کړل او په یو جست لځایه پاسیدل او بغیر له دی چې خپل کالو یا حال ته کوم توجه وکړې خپل د ځان د ژغورني په پاز د کور د دروازی خواته په منډه شول، خو دوتلو مخکې عزیزی ورباندی غږ کړ.

عزیزی- د کور مخکې ساتونکي څخه یو شئ واخله داسي لوڅه لېږه که لاړه شې فکر نه کوم خپل تر بادار ورسیږې جـــان مې(عزیزی د جان مې لفظ د هغه ښځې په شان په ناز او نخرو ادا کړ او پوسخند یې هم ورسره وواهه، خو زړه یې دلته یخ نه شو او خپل اخری ټک یې ښه کلک وکړ) او هو خپل بادار ته ووایه چې د فاح* شاته مه پټ کیږه که نـر یې میدان ته راشه ...

ښځه نور ونه دریدل چې عزیزی د دې څخه نور سپکه، سپانده کړي او په تلوار له کوره ووتل، د هغې د تلو سره عزیزی زما خواته راغي او په شیطان خندا یې سر وخوځاوه او ویې ویل: هې زما قسمت! هر خوا چې مخ ګرځوم د جاسوسانو باران دی راباندی ...

بغیر له څه ویلو مې ورته کتل. دا یوه خبره باید ومنم، د عزیزی سترګې د باز د سترګو په شان تیزی وی، باز د آسمان له سره د دریاب په تل کې ماهي ویني او نیسي. عزیزی هم جاسوس د یو سلام په ورکولو پېژنده. همدا سبب و چې جنرال هیڅکله الفا خواته جاسوسان په بریالیتوب سره نشو استولی، ځکه د عزیزی په شان د کس له نظره تېرېدل اسانه نه وو. خو حیران وم زه یې څنګه ونه پېژندلم؟ ولې پر ما د جاسوس ګمان ونه کړ؟

د سالون د دروازې په خلاصېدو له عزیزی څخه مې نظر واخیست. دروازه په تلوار خلاصه شوه او اشرف د یو منځني عمر سړي سره دننه راغی. سړي تور بکس په لاس کې نیولی و او د سالون فضا ته یې په یو بې‌تفاوته نظر کتل، داسې لکه دلته راتګ ورته عادت وي. خو کله چې یې په عزیزی نظر ولګېد، نو ځان یې راټول کړ او په تلوار زموږ خواته راغی.

عزیزی زما خواته په اشاره کولو ډاکټر پوه کړ چې هغه بدبخت ټپي زه یم.
ډاکټر چې زما حال ولید، څو شېبې یې په حیران نظر را وکتل، خو بیا ژر لاس په کار شو. زما خواته راغی خپل بکس یې د مېز پر سر کېښود او زما تر څنګ کښېناست. لومړی یې زما لاس ونیو، هماغه لاس چې سپي داړلی و. د زخم پر سر وچ شوي

وينې ته يې وکتل، بيا يې په کرار زما ګوتې وخوځولې او ويې ويل:
– ګوتې دې خوځولې شې؟

د سر په خوځولو مې "هو" وويل. خوځولی مې شول خو درد يې درلود، نو ځکه نه مې غوښتل ښور ورکړم.

ډاکټر- ښه دی، کوم رګ د اصلي ګوتو نه دی پرې شوی، زيات فشار پر هډوکو راغلی.
بيا يې د عزيزی خواته وکتل او ويې ويل: زه يې اوس پانسمان کوم، خو شايد يو اکسری ته اړتيا ولري، تر څو وګورم چې هډوکی مات شوی که نــ..
ډاکټر لا خبره نه وه پوره کړې چې عزيزی په تروش تندي وويل: نه دی مات شوی.

نه يوازې ما، بلکې ډاکټر هم په حيرت د عزيزی خواته وکتل. زمونږ د حيران نظر په ليدو عزيزی په پوسخند وويل: ما مات شوي هډوکي ډېر ليدلي. ستا د لاس يوازې غوښه شلېدلې، هډوکی نه دی مات.

په پوسخند مې سر وخوځاوه. منطقي خبره وه. عزيزی دومره هډوکي مات کړي وو چې اوس د يوسلواتيا متری څخه يې د مات شوي هډوکي پېژندنه کولای شول. په دې استعداد بايد لاړ شي کوم شفاخانې ته، ضرور به ورته د اکسری ويستلو مفت کار ورکړي...

ډاکټر سر وخوځاوه او بيا زما د لاس او نور زخمونو کتلو ته يې دوام ورکړ، هماغه حال کې يې وويل: سپي داړلی يې؟

کوم ځواب مې ور نه کړ. زما په نظر، خر هم پوهېده چې دا نښې د سپي دي نه د کوم بل شي. ډاکټر چې زما له خوا کوم ځواب وانه ورېد نو ويې ويل: ليونی سپی خو نه و؟

دا ځل نو د عزيزی خواته مې وکتل. دا د هغه په اصطلاح "پچيان" وو. نو معلومات به يې هم هغه ته وه. عزيزی چې زما نظر وليد نو کرار يې وويل: نه، ليونيان نه وه

یو څه لږ ضدی او خبره نه منونکي وه ...
دا ځل نو طاقت مې ونه شو، په پوسخند مې وویل: هو، بیچاره ګان یوازې لږ شوخ طبع وه؟ کنه نور چندان بد ماشومان نه وه... خدای دې وبخښي.

عزیزی د سترګو له کونجه را وکتل، او شونډه یې د خندا په انداز لږ پورته شوه، خو څه یې ونه ویل. خو اشرف په حیرت وویل: خدای دې وبخښي؟ څه مطلب؟

د هغه حیران نظر ته مې وکتل او خوله مې جوړه کړه چې په افتخار ووایم د عزیزی بچیان مې هغه بل دنیا ته حواله کړل، خو عزیزی وار را نه کړ او په تروش تندي یې اشرف ته وویل: د یو دوه ساتونکو سره لاندې زیرزمیني ته لاړ شه او هغه ځای پاک کړه.

اشرف لکه چې په اورېدلې خبری باور ونه شو، ځکه یو نظر یې ما ته او بل عزیزی ته واچاوه. چې عزیزی بیا وویل: ژر لاړ شه، او هو، د هغه ځای له پاکولو وروسته د غلام سره لاړ شه، د سپیانو له هغه لوی کمپ څخه یو دوه ښه غښتلي سپیان راوړه.

د عزیزی په دې خبره دا ځل نو اشرف سم صحیح پوه شو چې څه چل شوی؟ او ما کومه کارنامه کړې، ځکه د حیرت څخه یې سترګې راووتې. خو بې له څه ویلو شاته شو او له سالون ووت.

ډاکټر له خپل بکس څخه پخته، الکول او یو څه نور شیان راوویستل او زما د لاس پر زخم یې کار پیل کړ،کله چې د الکولو څخه لنده پخته یې زما د لاس پر زخم ووهل د ډېر درد له امله مې بې‌اختیاره خپل لاس ورڅخه راکش کړ. ډاکټر را وکتل او کرار یې وویل: پوهېږم چې درد لري، خو مجبور یم چې زخم دې ضد عفوني کړم، تر څو میکروب ونه نیسي. نو لږ وزغمه...

د دې خبرې سره یې بیا زما لاس ونیو او کار ته یې دوام ورکړ. یعنې د سپیانو په داړلو دومره درد مې احساس نه کړ، لکه څومره چې اوس مې درد احساس کړ، زړه

مې غوښتل ښه په زوره وژاړم، خو د غاښونو په کلکولو مې ځان کنټرول کړ. ژړل، هغه هم د عزيزی مخې ته، رسوايي وه...

ډاکټر په عادي لهجه وويل:که دا ښه پاک نه شي، وروسته درته ستونزه پيدا کوي.

ما بې له څه ويلو يوازې خپل غاښونه سره کلک کړل، د لاس د پانسمان کولو وروسته زما اوږې ته يې پام شو، خو ناڅاپه لکه فکر چې دې خبرې ته ورغلی وي چې امکان لري دا زخمونه په نورو ځايونو کې هم وي. ځکه پاڅېد او ما ته يې د قميص ويستلو وويل.

د هغه په دې خبره په حيرت مې وروکتل، زه د دوی مخې ته کالي وباسم؟! ما تر اوسه د اقرا، چې ښځه مې ده او محرمه مې ده، مخې ته هم په داسې رڼا ورځ کې کالي نه وو ايستلي، څه ورسېږي د دوی مخې ته ...
ډاکټر چې زما له خوا کوم حرکت ونه ليد، نو يو ځل بيا يې وويل: قميص دې وباسه ځوانه، تر څو زه دې سم بدن وګورم او زخمونه دې وترم، چې هسې نه خدای مکړه کوم مصيبت د دې زخمونو څخه درته پيدا نه شي.

- ن... نه کېږي؟ همداسې د قميص سره يې وګورې؟
د ډاکټر د څه ويلو مخکې عزيزی په خندا او شيطانه لهجه وويل: مه وېرېږه، کوم اضافه شی به نه لرې، څه چې موږ لرو هغه به ته هم لرې. نو قميص دې وباسه، ټول د يو جنس څخه يو ...

د هغه په دې خبره د شرم څخه تک سور شوم. دا خبرې له هغه څخه اورېدل تعجب نه درلود، عزيزی د حيا او شرم په نوم کوم شی نه پېژند. اوس که ما لږ خپل ځان اخوا دېخوا کش کړی وای، خدای خبر څه فکرونه به يې له ځان سره کړي وای. په دې فکر پر ځای سم کښېناستم او قميص مې وباسه، خو له سره مې نشو ايستلی،له يوې خوا اوږه مې درد کوله او له بلې خوا د ملا او لاس درد هم و. ډاکټر دې خبرې ته متوجه شو او مرسته يې وکړه.

د قمیص له لرې کېدو وروسته تازه مې خپل بدن ته پام شو، او که ووایم وحشت مې وکړ، نو دروغ به نه وي. ټول بدن مې د غټو او وړو نښو ډک و. دا چې په ځمکه مې ځان اچولی و، له بلې خوا د هغو وحشي سپیو پنچو ټول بدن راته خط، خطی کړی و.

ډاکټر چې زما بدن ولید، په حیرت یې وویل: خدای ژغورلی یې ځوانه، یو خیرات خو درباندې واجب دی! څنګه ژوندی راوتلی یې؟

څه مې ونه ویل، او نظر مې د عزیزی خواته شو چې په تروش تندي زما خواته راکتل. د ده په اصطلاح بچیانو زه داسې آش او لاش کړی وم، او اوس د بخښنې غوښتلو لځایه تندی هم د ده تروش دی، منحوس.

ډاکټر د الکول کوم قوطي چې راوړی و، تقریباً ټول یې زما پر بدن خالي کړل او سم یې په الکولو ولمبولم. د اوږې زخم یې راته څو ځله ومینځه او ویې ویل: دا زخم دې د ټولو څخه ژور دی.

زما د څه ویلو مخکې، عزیزی چې تر اوسه چوپ و، په درووند غږ وپوښتل: خطرناک خو نه دی؟

ډاکټر سر وخوځاوه: نه، که چرک او میکروب ونه کړي، خطرناک نه دی. خو یو ځل یو سم شفاخانې ته لاړ شې، شاید سپي کومه ناروغي درلودلې وي، نو واکسین کول ضروري دی، د سپي او نورو حیواناتو زخمونه زیاتره د میکروب له لاسه انسان وژني، نه د ټپ له امله.

څه مې ونه ویل، ډاکټر هم د پانسمان کار ته ادامه ورکړه او څو دقیقې وروسته یې زما لاس، اوږه او ملا په سپین بنداژ کې راوتړل. خپل ځان ته په کتو شوم ملا او اوږه بیا هم ښه ده د کالو لاندې یو ډول پټېږي... خو لاس مې څنګه کړم؟ اقرا که مې لاس ووینې زړه به یې د وېرې و درېږي. مجبور بیا ورته یو دروغ ووایم... آه، نور له دې دروغ ویلو څخه ستړی راغلی وم، خو چاره نه وه.

زما په "آه" ویستلو ډاکټر فکر وکړ چې زه خپلو زخمونو ته ورخطا یم، نو ځکه یې په مهربانۍ لهجه وویل: دومره ورته فکر مه خرابوه ځوانه. دا زخمونه ژر جوړېږي، لکه د نورو زخمونو په شان.

د هغه په دې خبره مې په ګنګس انداز وروکتل څه مطلب د "نورو زخمونو په شان؟" کوم زخمونه یې یادول؟

ډاکټر خپل بکس بند کړ او د پورته کېدو په حال کې یې په موسکا وویل:
– په اوږه دې د مرمۍ ټپ و او د سینې هډوکی دې که څه هم جوش خوړلی او ډېر نه ښکاري خو زه ډاکټر یم، دا شیان نه رانه پټېږي. دسینې هډوکي دی مات شوی وو.

په حیرت مې ورته وکتل. فکر مې نه کاوه چې دومره تکړه وي، بلخصوص چې عزیزی راغوښتی و ګومان مې کاوه د کوم کلینک نرس به وي، خو دا ډېر تجربه‌کار ښکارېده.لاس یې زما خواته وغځاوه، خو بدبختانه زما لاس په پانسمان کې تړلی و او ورسره لاس مې نشو ورکولی. هغه هم تازه لکه چې دی خبرې ته فکر شو ځکه په خندا یې زما پر ښي اوږه لاس کېښود او ویې ویل: پر ځان پام ساته. کومه دوا نشم درکولای ځکه د سپي دارډ ډېر خط...

خبره یې لا نه وه پوره کړې چې عزیزی ورباندې غږ کړ:
– تللی شې...

د عزیزی په غږ هغه خپل خبره لا پوره نکړل، او ژر یې ځان ټول کړ او د سر په خوځولو له سالون ووت.

د هغه له وتلو څو شیبې وروسته، ما هم ځان لږ راټول کړ. خپل کمیس مې راوخیست اوږه، ملا او یو لستوڼی یې شلېدلي وو او په وینو لړلي وو. دا کالي نور د اغوستلو نه وو... خو بله چاره هم نه وه. په زحمت مې هغه بېرته واغوستل.

بیا مې د عزیزی خواته، چې دوه سترګې یې زما پر لور نیولې وې، وکتل او کرار مې وویل: زه... غوارم خپل کور ته لاړ شم...

غږ مې کمزوری و، ځکه د دې ټولو مصیبتونو وروسته په دې خبره ښه پوه شوی وم چې د عزیزی سره ضد کول، د هغه خبره نه منل، او د هغه د امر خلاف کار کول، آخر ضرر یړازی او یوازی ما ته رارسېږي. ځکه هغه په هیڅا رحم نه درلود.

عزیزی کرار زما خواته وکتل. نظر یې لومړی زما پر مخ ودرېد، بیا یې ښکته زما پر کالو واچاوه چې ټول په وینو لړلي، شلېدلي او په بد حالت کې وو. بیا یې په ارام، خو کلک غږ وویل: په دې حال؟

ځواب مې ورنه کړ.
هغه سر وخوځاوه او ویې ویل: که په دې حالت بهر لاړ شې، یا خلک دربانديې د لېوني ګومان کوي، یا هم پولیس دې د معتاد په نوم نیسي...

بیا یې سر لږ اړخ ته واړاوه:
– زما یوه جوړه کالي واغونده. لاس او مخ دې هم ومینځه، بیا لاړ شه...

په تلوار مې وویل: اړتیا نشته...

دا مې کرار وویل، ځکه د هغه کالي مې نه غوښتل، خو خپله هم پوهېدم چې بې له دې بله لاره هم نه لرم.
عزیزی بې له دې چې بحث اوږد کړي، وویل: درخواست مې درڅخه ونه کړ چې ته یې رد کړې برهان .. امر مې درکړ.

د هغه په دې خبره چوپ شوم. داسې وایې امر مې درکړ ته وا دی کوم رئیس جمهور یا پادشاه دی خیرن، منحوس .. څو شېبې مې سترګې پټې کړی بیا مې ژوره ساه واخیسته او د پورته کېدو هڅه مې وکړه. بدن مې لا هم درد کاوه، خو ځان مې په زحمت ودرولو. بې له دې چې څه ووایم، د عزیزی له څنګ تېر شوم.

@Shuhab09

خو زړه کې مې د ځان سره وویل: هزاره هم خدا داره عزیزی ... هغه ورځ لری نه ده چې دا ټول بلاوی چې دې زما په سر راوړی دوه چنده یې ستا په سر راوړم، یوازې صبر شه او ګوره ...

د عزیزی د کوټې خواته لاړم نه. یو خو په دویم منزل کې وه او ما د دومره زینو د ختلو توان نه درلود، بل هېڅ ښه احساس مې نه درلود چې داسې یو مردار ځای ته ولاړ شم. نو لاندې منزل کې یوې کوټې ته ننوتلم.

څو شېبې وروسته دروازه وټکېدل او اشرف یوه جوړه تور کالي راوړل او بې له کومې خبرې یې زما مخې ته کېښودل او له کوټې ووت. یو څو شیبې مې کالو ته وکتل بیا مې کرار لاس وغځاوه او کالي مې راواخیستل. باید ژر تر ژر کالې بدل کړم او د دی منحوس ځایه ووځم.

کله چې مې خپل کمیس وباسه، سترګې مې په خپل زخمونو ولګېد، سور، تور کرښې او خطونه مې په بدن وه. ځینې د سپي د غاښونو نښې وې او ځینې د هغه د پنجو. لاس مې کرار خپل پر اوږه تېر کړ، د ټولو څخه ډېر درد لاس او اوږی مې کاوه، درد یې د خلکو خبره تر هډوکي رسیدلې و، غاښونه مې سره کلک کړل.

- لعنت دې پر تا وي، عزیزی...

په ډېر ټیټ، خو له کرکې څخه په ډک لهجه مې دا خبره وکړل، بیا مې خپل لاس ته وکتل کلک تړل شوی و خو لا هم د درد درزا پکې وه. ګوتمۍ د پانسمان لاندې پټه شوې وه. او ما هېڅ فکر نه و شوی چې د پانسمان وخت کې ګوتمي دی بل لاس ته واچوم مجبور په تخت کښیناستم او خپل د لاس پانسمان مې خوشی کړ تر څو ګوتمۍ د ګوتي وباسلي شم، کله چې پانسمان مې لری کړ او خپل د لاس ګوتۍ مې ولیدل بې اختیاره مې د شونډې لاندی وویل: حیوان لا پر تا شرف لری عزیزی .. وګوره څه بلا دی زما په سر راوړل..

لګیا وم خپل لاس مې بیرته پانسمان کاوه چې ناڅاپه د ګوتمۍ غمۍ ته مې فکر شو چې فیروزه یې ځلا یې کول، په تلوار مې سر پورته کړ او په غوسه مې وویل: دلته څه مرګ غواړې؟

زقوم چې تر اوسه د کوټې د دروازې څنګ ته ولاړ و، زما په غږ په تلوار یې زما موبایل زما خواته ونیو او ویې ویل: ستا موبایل مې درته راوړ..

نظر مې ورڅخه واړاوه او خپل د لاس په پانسمان کولو لګیا شوم، خو هماغه حال کې په پوسخند مې وویل: دعا کوه چې زه شموئیل بیا ونه وینم زقوم... کنه قسم دی داسې دې د هغه په ګېر ورکړم چې پوستکی درنه وباسي...

زقوم په حیرانۍ وویل: ولې؟ ما څه کړې؟

سر مې پورته کړ او د هغه بې‌غمه څېرې ته مې وکتل. رښتیا هم، بد او ښه په هره طایفه کې وي، که ما زقوم د شموئیل پر ځای لومړی لیدلی وای، نو بې له شکه به مې فتوا ورکړې وه چې ټول پیریان خبیث دي. خو اوس .. اوس پوهېږم هر څه کې ښه او بد شته.

په پوسخند مې وویل: و دې لیدم، زړه دې بې‌غمه شو چې لا ژوندی یم او ستا پلان ناکام شو .. نو اوس ورک شه.

زقوم ځان بیخي ناخبره واچاوه:
– کوم پلان؟

خپل لاس مې وتړه او پاڅېدم. د عزیزې غټ کمیس مې راواخیست،چې زما دوه تنه پکې ځایېدل او د اغوستلو په حال کې مې وویل: هغه ستا غمجن سناریو یادوم.
زقوم په خندا وویل: هغه خو ما هسې ټوکې کولې، باور وکړه...

کمیس نه یوازې پراخ و، بلکې ډېر اوږد هم و. لستوڼي یې هم راته لوی وو. داسې حال کې چې لستوڼي مې تاوول، په پوسخند مې ورته وویل: د ګیدړې نه یې پوښتنه وکړه چې شاهد دې څوک دی؟ ویې ویل: لکۍ مې... اوس ستا خبره هم هماغه د ګیدړې باور دی ..

زقوم په پوسخند یو دوه ګامه رانږدې شو او داسې حال کې چې موبایل یې زما خواته نیوو ویې ویل: فکر مې کاوه چې نور نو هوښیار شوی یې... خو تا لا هم هماغه بې‌عقله یې، زما ګرانه قرینه...

په غوسه مې ورته وکتل. چې زقوم خپل لاس په زړه کېښود او په ناز او ادا یې په خندا وویل: ته ولې دا خبره هېروی چې ستا په مرګ، دا دل شکسته عاشق هم مري ها...؟ موږ دواړه په یو جسم کې د دوو روحونو په شان یو طاها .. ستا درد زما درد دی، ستا ستونزه زما ستونزه ده... ته راته لکه اکسیجن یې، که ته مړ شې زما نفس بندېږي...

که څه هم د زقوم دا ټول خبرې د ریشخند او پوسخند څخه ډکې وه خو رښتیا وه. البته یوازې هغه برخه یې رښتیا وه چې ویې ویل: «ستا په مرګ زه مړ کېږم.» ځکه زقوم زما قرین و. نورې خبرې یې یوازې ډایلاګونه وو.

- که تا زما مرګ نه غوښت، نو ولې دې د سپیانو خولې ته واچولم؟ او هغه خبرې دې وکړې؟

زقوم په خندا سر وخوځاوه:
— بالاخره دې یوه د عقل خبره وکړه! هغه خبرې مې ستا د وېرولو لپاره وکړې. غوښتل مې خپل قصد درڅخه واخلم. هېر دې شول؟ تا زه پرون غرمه ووهلم، هغه هم د یو عفریت د احساس په ګوتمي پوهېږې څومره درد یې درلود؟

په پوسخند مې وویل: حق دې و، هغه سوک.
زقوم هم زما په شان په پوسخند وویل: نو ستا هم حق و، هغه وېرېدل.

- نو ستا هم حق دی چې د شموئیل په ګېر دې ورکړم، تر څو څرمنه دی وباسې، ځکخ غوښتل دی ما ووژني ..

زقوم لږ جدي شو:
– ولې دا یوه خبره بار،بار تکراروی؟ ما خو درته وویل ما نه غوښتل چې تا ووژنم، او بل دا چې سپیان ما نه دي خوشې کړي. ته خپله هم پوهېږې، هغوی ستا وجود درک کړی و، ځکه داسې لېوني شول.
- که ستا دا ټول خبرې رښتیا هم اوسیږی، بیا هم زه پر تا باور نه لرم. ځکه تا زه هلته یوازې پرېښودم.

د زقوم سترګې له شیطنت وځلېدې:
– هې! زړه دې مات شو چې یوازې مې پرېښودې؟
په پوسخند مې وویل: خنګه دې خوښه ده... زما د زړه ماتېدو په بدل کې، شموئیل ستا یو،دوه هډوکي درمات کړي؟

د زقوم شیطان نظر ناڅاپه په غوسه بدل شو:
– هره دقیقه ما مه ګواښوه طاها... کنه دا ځل داسې کار دربانديې کوم چې پر سپیانو شکر وباسې .. ما یوازې پرېښودې ځکه ضرورت و...
- ضرورت و؟

زقوم داسې حال کې چې زما له څنګ لږ لرې کېده، په پوسخند وویل: هو، ضرورت وو! تا مګر نه غوښتل چې خپل پیریاني رګ او ځواکونه کشف کړې؟
بې له څه ویلو مې ورته وکتل. هغه په پوسخند وویل: نو ما هم مرسته درسره وکړه.

- مرسته دې وکړه؟
زقوم د "هو" په ښه سر وخوځاوه، چې ما په غوسه وویل: هغه وخت تا څه مرسته وکړه چا ما ونه لیدل!؟

زقوم د فکر په انداز سر وخوځاوه:
— اوممم... ډېر، ډېر مرسته مې وکړه... خو ته تل احسان‌فراموش يې طاها! ته زما احسان هېڅکله نه منې،نمک حرام يې بدبختانه... خو خير ما دا مرسته درسره وکړه چې درته مې زمينه برابره کړه. شايد ريشخند درته ښکاره شي، خو تاسو انسانان خپل ځواک هغه وخت کشف کوئ، کله چې په خطر کې ولوېږئ. نو ما هم ته هماغه خطر ته واچولې، تر څو ته خپله نيمه پټه برخه ووينې. زه پر همغه شاوخوا وم که خبره خرابه شوې وايې مرستي ته دې درتلم خو تا ...

زقوم په دروغجن احترام سر ټيټ کړ او په ريشخند يې وويل: خو زما ګران قرين، زما په شان دلاور دی... شجاع دی... يوازې يې د دوارو چاره وکړه!
په حيرت مې وويل: ته هلته وې؟ يعنې زما ګوتمۍ ستا له امله ځلېده؟
زقوم- نه... ګوتمۍ تاته په يو محدود حد کې زموږ خبر درکولی شي. مثلاً که ستا لس متره کې کوم پيری وي ګوتمۍ دې خبروي... خو زه لرې وم.

- نو مطلب هغه ځلا...؟

زقوم- هو. هغه ځلا ستا خپل وه طاها... ته د غوسې او وېرې په وخت کې د پيريانو ډېر ځواکونه کارولی شې(څو شيبې چوپ شو بيا يې وويل: ښه نو د نن لپاره د مهرباني پايمانه مې ډکه شوه لاړم ...

د دې خبرې سره سم د شموئيل په شان، حتی زما د ځواب په تمه لا نه شو او غيب شو.

خو خبرې يې تر څو شېبو پورې زما په ذهن کې ګرځېدې. هماغه ګډوډ ذهن سره مې کالي بدل کړل او د کوټې دننه تشناب ته لاړم. هينداره ته مې وکتل...خپل ځان مې نشو پېژندلای. نه پوهېدم څه احساس لرم؟ اصلاً، په هينداره کې د ولاړ کس تصوير راته نااشنا و...يوازې څو ساعته مخکې، زما ټول فکر د ځان ژغورل و... خو اوس... سترګې مې پټې کړې.

- فکر مه کوه، طاها... ډېر فکر مه کوه...

ژر مې خپل لاس او مخ ومینځه او له کوټې ووتلم.

سالون ته چې راغلم عزیزی په ارامه، داسې لکه هېڅ چې نه وي شوي، ناست و او په کراره یې ډوډۍ خوړله. زما په لیدو یې سر لږ پورته کړ، سترګې یې پر ما ودرېدې او سر تر پایه یې راوکتل بیا یې د مېز بلې خوکۍ ته اشاره وکړه.

– راځه، کښېنه..
په کراره مې وویل: مننه، تاسو یې وخورئ.

بس همدومره مې ورته وویل. که تر دې ډېر مې خبرې کړې وای، امکان یې درلود چې خوله مې خلاصه شوی وایې او یو بل مصیبت مې ځان ته جوړ کړی وای. عزیزی څو شېبې همداسې راوکتل، بیا یې پرته له دې چې څه ووایي، خپل خوراک ته مخ کړ،لکه زما خبرې چې هېڅ اهمیت ورته نه لري. چوپتیا خپره شوه نه پوهېدم څه وکړم.

د څو شېبو وروسته عزیزی بغیر له دی چې خپل د ډوډۍ خوړلو څخه لاس واخلې کرار وویل: اشرف.
اشرف سمدستي ځواب ورکړ: بله، مشره.
عزیزی- برهان تر کوره ورسوه.

غوښتل مې انکار وکړم، خو ځان ته مې وویل: چوپ اوسه طاها! تر څو چې د دې منحوس کور څخه نه یې وتلی خوله دې وګنډه. پرته له څه ویلو د اشرف شاته روان شوم، چې ژر تر ژره لاړ شم. خو لا یو ګام مې نه و اخیستی چې عزیزی راغږ کړ.

په وېره مې مخ وروګرځاوه. بیا څه وایي؟

عزیزي یوه شېبه په ځیر راوکتل، بیا یې خپل جیب ته لاس یووړ او زما توفنچه یې له جیب څخه راوویسته او د مېز پر سر یې کېښوده. سترګې مې بې‌اختیاره پر خپلې توفنچې ټینګې شوې او یو پوسخند مې پر شونډو راغی. نو ګومان مې سم و، زما توفنچه عزیزي اخیستې وه. خو څنګه؟ ولې مې ورته بیخي فکر نه و شوی؟ باید د عزیزي په کارنامو کې د غلا کارنامه هم اضافه کړم. دا کار هم په ډېر ماهرانه ډول کوي.

زما نظر یې چې پر توفنچې ولید، نو په سترګو یې ورته اشاره وکړه او ویې ویل: راشه، توفنچه دې واخله.

څو شېبې بې له کوم حرکته ولاړ وم او ورته کتل مې. شیطان ویل: ورته ووایه، توفنچه دې ستا مبارک وي، زه د سوال مال نه غواړم... خو بیا مې کرار حرکت وکړ او د هغه د مخې څخه مې خپله توفنچه واخیسته. د توفنچې اوسپنه چې مې لاس ته ولګېده، عجیبه د آرامښت احساس مې په بدن کې خپور شو. که څه هم لږ درنه وه، خو زما لاس ورسره عادت کړی و. عجیبه وه،داسې احساس مې کاوه لکه زما د بدن یوه برخه چې رانه ورکه شوې وه.

توفنچه مې واخیسته او بغیر له دې چې څه ووایم، روان شوم. د عزیزي درونډ نظر مې خپل شاته محسوس کولاې شو خو یو ځل مې هم شاته ونه کتل او مخامخ د اشرف پسې له کوره ووتلم.

په موټر کې فضا ارامه وه. نه ما څه وویل، نه هم اشرف. عجیبه وه خو د اشرف عادت بدل شوی و. یو ډول خاص نظر یې پر ما ساته او عین حال کې راڅخه وېرېده! لکه چې د سپیو مرګ زما په لاس دی وېرولی و؟! په پوسخند مې شاته څوکۍ ته تکیه ورکړه. ښه ده چې راڅخه ووېرېږي، داسې کسان که درڅخه وېره ونه لري، پر سر دې پورته کېږي.

@Shuhab09

شاید د سهار د اوو یا اتو بجو شاوخوا وه، ځکه دومره خلک نه تر سترګو کېدل. سړکونه زیاتره خالي وو. کله ناکله مې د موټر له ښیښې څخه بهر کتل، خو ذهن مې بل ځای و...

د سپیو غړونه...
د ځنځیر ماتېدل...
د وینو بوی...
د عزیزی خندا...

بېاختیاره مې سترګې پټې کړې. څو دقیقې وروسته موټر ودرېد، او له هغه سره سم د اشرف ارام غږ پورته شو: راورسېدو.

بغیر له دې چې وګورم، دروازه مې خلاصه کړه او ښکته شوم، خو کله چې شاوخوا مې وکتل نو دا... دا زما کور نه و... اصلاً دلته کوم کور نه و. مخې ته مې یوه غټه شفخانه وه او شاوخوا یې هم درملتونونه او دوکانونه وو. زما د ښکته کېدو سره اشرف هم راښکته شو او زما خواته راغی. په تروش تندي مې وویل: ما وویل غوارم کور ته لاړ شم، تا ولې دلته راوستم؟

اشرف په کرار غږ وویل: مشر ویل، کور ته د وړلو مخکې دې شفخانې ته یوسم، تر څو یو سم ډاکټر دې زخمونه وګوري.
په پوسخند مې وویل: دا مشر دې څومره مهربان دی! لومړی مې د سپیانو سره اچوي، بیا چې په سپیانو یې وخوړلم نو علاج مې کوي! ماشاءالله دې رحمدلي ته یې...

فکر مې کاوه اشرف به هم د ارسلان په شان د عزیزی خوا ونیسي، خو برعکس هغه په بېغم لهجه وویل: هغه سپیان د ډېر وخت راهیسې هلته دي، څوک نه خوري... مطلب تر څو چې مشر ورته د خوړلو ونه وایي، څوک نه خوري عجیبه ده چې ځنګه راخوشي شول او بیا تا (سر تر پایه یې راته وکتل) او تا ځنګه ووژل؟

په پوسخند مې خپل دواړه لاسونه ورته وښودل او ومې ویل: په دې لاسونو مې ووژل، تر هغه مې نیولي وو چې ساه یې ووتله.

زما په دې خبره په واضح ډول د اشرف په سترګو کې مې وېره ولیده، او عجیبه دا وه چې د هغه د وېرې په لیدو ښه احساس مې وکړ. شفخانې ته ننوتلم، اشرف عاجل بخش ته یووړم، او دې کار ته مې لږ خندا راغله. عاجل بخش ته خو عاجل مریض وړي، نه هغه څوک چې پر زخمونو یې یوه شپه تېره شوې وي.

ډېر ژر یو ډاکټر او دوه نرسان زما سر ته حاضر شول او زما د زخمونو په کتلو شول. هماغه حال کې یې له اشرف څخه پوښتنې کولې: دا څنګه سپی و؟ لیونی خو نه و؟ او داسې نور... خو اشرف د ټولو په ځواب کې یوازې یوه خبره کوله: نه یم خبر.

مجبور ما ورته لږ معلومات ورکړل. زما د خبرو وروسته ډاکټر په ارام غږ وویل: وېرېږه مه، خو خبره جدي ده. که سپی لیونی وي، دا ناروغي چې موږ ورته (Rabies) وایو د سپیانو لخوا انسانانو ته منتقل کیږی ډېره خطرناکه ده. البته د زخم په ژوروالي هم تړاو لري چې متأسفانه ستا ټول زخمونه ژور دي، نو د خطر امکان یې لا زیات شوی.

د ډاکټر په خبره مې خندا راغله. هغه ویل وېرېږه مه! یعنې ما چې هغه دواړه وحشي سپیان په خالي لاس ووژل، ونه وېرېدم اوس به وېرېږم؟!

اشرف په تلوار وپوښتل: څنګه خطرناک؟

نیم نظر مې د سترګو له کونج څخه د اشرف خواته واچاوه. دا زما په غم کې نه و چې داسې پوښتنې یې کولې،ده د عزیزی لپاره معلومات ټولول، ځکه زما له تلو وروسته به یې هغه ته د دې ټولو خبرو راپور ورکاوه. په دې فکر په پوسخند مې مخ ورڅخه واړاوه.

ډاکټر، چې د څه شي د لیکلو په حال کې و، اشرف ته وویل: کله ناکله نښې ډېرې کمزورې ښکاري. یعنې په څلرویشتو ساعتونو کې کېدای شي یوازې لږه تبه، سر درد او سټرېا وي. خو هر څومره چې وخت پرې تېر شي، هغومره نښې بدلېږي. که لیوني سپي دارلی وي، نو د اوبو څخه وېرېږي،نه اوبه څښلی شي او نه هم اوبو ته نږدې ورتلی شي. ډېر اضطراب او وارخطايي پیدا کېږي، د ستوني درد، ځینې وختونه بېدلیله غصه او بېکنټروله حرکات هم کوي...

د ډاکټر په خبرو ما یوازې ورته کتل. فکر کوم دا ټول کارونه زما په بدن کې همدا اوس هم روان وو،خو برعکس! مثلاً، پخوا به کله ناکله ډېر غوسه کېدم، خو نن مې خپله غوسه تر ډېره حده کنټرول کړې وه. پخوا به ځینې حرکات زما په لاس کې نه وو، خو نن پر خپل بدن پوره کنټرول درلود او وېره... نن یوازینی شی چې نه مې احساس کاوه، هغه وېره، اضطراب او وارخطايي وه. البته د اوبو څخه هم نه وېرېدم، څکه څو دقیقې مخکې مې لاس او مخ مینځلي وو. نو دا ډاکټر هسې اپلاتي لګیا و. البته لږ، ډېــــر لږ مې تبه او سر درد درلود، چې هغه هم د بېخوبۍ او درد له امله و.

ما خو د ډاکټر خبرو ته چندان اهمیت ورنه کړ، خو اشرف په وېره وپوښتل: یعنې مري؟

د هغه په دې خبره مې بد، بد وروکتل او ومې ویل: خپله به مري، رزیل! څه زما مرګ ته دې اشتها صافه کړې؟

ډاکټر چې زما دا خبره واورېده، په خندا یې سر وخوځاوه او اشرف ته چې تندی یې تروش نیولی و وویل: نه، که درملنه ونه شي حالت خطرناک کېږي. خو اوس تاسو ژر راغلي یاست او که واکسینونه په وخت وشي، هېڅ هم نه کېږي ان‌شاءالله.

د دې خبرې سره سم هغه ورقه چې تر درې ساعت ورباندې لګیا و د اشرف لاس ته ورکړه او د دوا د راوړلو یې وویل، اشرف پرته له څه ویلو نسخه واخیسته، یو نظر

يې ماته واچاوه او په چټکو ګامونو له کوټې ووت.
د هغه له تلو وروسته، ډاکټر زما خواته راوکتل:
– دا پانسمان تا خپله کړی؟ که دلته د راتلو مخکې کومې بلې شفخانې ته تللی وې؟

- يو کس و... البته ډاکټر و، هغه وکړ خو کور کې.
ډاکټر د پوهېدو په انداز سر وخوځاوه:
– ډېر ښه پانسمان يې کړی... البته د لاس پرته چې ..
خبره مې ورپرې کړه:
- هغه ما خلاص کړ... کنه هغه يې هم ښه کلک تړلی و.

ډاکټر غوښتل نورې پوښتنې هم وکړي، خو زما له لنډو ځوابونو پوه شو چې د خبرو حوصله نه لرم. او چوپ شو.

اشرف د دواګانو د يو کوچنی پلاستيک سره راغی،ډاکټر يې د لاس پلاستيک واخيست او دوه پيچکارۍ ورخخه راوايستلې. يوه يې سور رنګ درلود او بل د اوبو په شان سپينه وه، دواړه يې په يو ځل راته وکړل. د ستنې نری درد مې د لاس له رګونو تېر شو او تر اوږې پورې مې ورسيد خو غږ مې پورته نکړ.

د پيچکاريانو د کولو وروسته ډاکټر لګيا شو يو لېست نور خبری او نصيحتونه يې راته وکړل چې مهم يې زما په نظر همدا څو خبری وی: د سپي د داړلو واکسين تقريباً څلور-پنځه ډوزه وي چې په لومړۍ، درېيمه، اوومه، څوارلسمه، يوويشتمه، او کله ناکله تر اته‌ويشتمې ورځې پورې بايد په ترتيب ولګول شي، ما ته يې نن يو واکسين وکړ ويل نور بيا په ترتيب راشه ..

په زړه کې مې وويل: يعنې دومره سپي نه وو، څومره چې واکسينونه دي...

ما د ډاکټر دا خبرې هم چندان جدي ونه نيولې، خو اشرف ټولې خبرې ښه په دقت سره ذهن کې ثبت کړل.

نیم ساعت وروسته، بلاخره ډاکټر د تلو اجازه راکړه. له شفخانې ووتو. دا ځل اشرف زه تر کوره ورسولم. د موټر څخه د ښکته کېدو مخکې یې راباندی غږ کړل.
— مشر درته یوه هفته رخصتي درکړی، کار ته مه راځه ..

په پوسخند مې سر وخوځاوه.
احسان یې کړی... یوه هفته رخصتي یې راکړې...
په زړه کې مې کنځل ورته شروع کړل.
«پدرلعنت... زه په سپیانو ټوټه ټوټه کړم، اوس یې ځان مهربان او رحم‌دل نیولی...»

دروازه مې وټکوله، پوهېدم چې اقرا کور کېده، د هغې عادت نه و تر غرمې د استاد کور کې پاتې شئ او همداسې هم وشول. څو شېبې وروسته اقرا دروازه راته خلاصه کړه په سترګو کې یې سل سوالونه پراته وو... خو ما ورته وار ورنه کړ. له څنګ یې تېر شوم. نه مې غوښتل زما حالت ته یې فکر شي، د هغې د ژړا د اورېدو هېڅ توان مې نه درلود.

خپل خوږ لاس مې جیب کې ننباسلې و او سر مې هم ښکته نیولی و، او بې له دې چې شاته وګورم، د خپلې کوټې خواته روان وم. بدن مې ډېر درد نه کاوه خو بیحد ستړی وم دومره ستړی چې نه مې د اقرا تروش تندی ته فکر وکړ او نه مې دیته فکر وکړ چې د عزیزی منحوس کالي بدل کړم. یوازې مې کمپل په ځان راکش کړ او پریوتم.

خو د ویده کیدلو مخکې مې نظر په اقرا چې د کوټې د دروازې څنګ ته په غمجنه څېره ولاړه ولګید او ومې ویل: محمد دې خوا راپرېنږدې... غوارم ویده شم. ټوله شپه مې خوب نه دی کړی...

هغې څو شېبې هماغسې په غمژن نظر راوکتل، نظر یې دروند و... لکه څه ویل چې غواړي، خو ټکي نه پیدا کوي.
بیا یې په ډېر کرار غږ وویل: چیرته وې...؟

کمپل مې پر سر راکش کړ، هېڅ د خبرو توان مې نه درلود، لکه چې په هغه پیچکاریو کې کوم د خوب یا نشې دوا وه. سترګې مې هیڅ نشو خلاصولي،په نیمه بې هوش حالت کې مې یوازې دومره وویلې شول:
- یو ځای مې کار درلود...

او بس، نور نه اقرا څه وویل او نه هم ما ... او ویده شوم البته باید ووایم چې بې هوښ شوم ... نه پوهېږم څومره وخت به ویده وم خو ناڅاپه د ژړا په یو کرار غږ د خوب منځ کې مې وقفه راغلل، د ښځې ژړا وه او عجیبه دا وه چې د ژړا غږ ډېر د اقرا د غږ په شان و!

په دې فکر ناڅاپه نیغ ځای کې کښیناستم. څو شیبې ګنګس مې شاوخوا وکتل، نه پوهېدم چیرته یم، او څه خبره ده؟ خو کرار، کرار هر څه واضح شول. په خپله کوټه کې وم. اقرا...اقرا د کوټې په کونج کې ناسته وه. سر یې ښکته و او اوښې یې رېبدې ژړل یې!

یوه شیبه مې فکر وکړ چې شاید خوب وینم، خو د هغې ژړا دومره ریښتیني وه، چې دا فکر مې پرېښود.په ګنګس حالت کرار ورنږدې شوم او څنګ ته یې کښېناستم.

- څه شوي؟ ته ولې ژاړې...؟

اقرا سر راپورته کړ، سترګې یې د ژړا له لاسه تکې سرې شوی وه او اوښکې یې پر مخ رواني وې، غمژنه وه خو .. څیره کې د غم څنګ کې د لومړي ځل لپاره د دومره کلونو وروسته ما غوسه هم لیدل، هغې داسې په خونکار نظر راوکتل، چې هغه پاتې یو څه نشه مې هم سمدلاسه له سره وپریده.

اقرا- څه شوي؟ زه ولې ژاړم؟ یعنې ته بیخي نه یې خبر چې زه ولې ژاړم؟

د هغې په داسې قهرجنه لهجه خپل ټول کړي او نه کړي کارونه مې ذهن کې وګرځېدل...

زما د کوم کار له امله اقرا دومره غوسه کېدلی شي؟ یعنې امکان لري خبره شوې وي چې ما د هغې د ګوردي لپاره... نــه، امکان نه لري چې په دې موضوع خبره شوې وي. اصلاً که خبره شوې هم وي، نو فکر نه کوم غوسه دې شي. دا موضوع فکر نه کوم د هغې د غوسې سبب وي. ضرور بله خبره ده!

په دې فکر، په نرمه لهجه مې وویل: باور وکړه، نه یم خبر چې ولې ژاړې؟ کوم ځای دې درد کوي؟ مریضه یې؟

زما په دې خبره اقرا لکه چې بیخي راځخه ناامیده شوه، ځکه یو ځل بیا یې ژړا له سره ونیوله. نه یوازې ژړا، بلکې د ژړا په منځ کې یې یو، دوه ټک هم خپل سر ته ورکړل.د هغې په دې کار لومړی حیران شوم، خو ډېر ژر مې لاسونه ورڅخه ونیول. حیرانتیا مې په غوسه بدله شوه. د هغو ښځو څخه مې کرکه درلوده چې د مصیبت او ستونزو پر وخت خپل ځان وهي، ویښتان شکوي یا خپل مخ ته څپېړې ورکوي... او اقرا...

په قهرجنه لهجه مې وویل: څه مرګ دی پر تا؟ څوک مړ دی چې ته ځان وهې او داسې ماتم دې نیولی؟ ها؟ خو خبره وکړه!

اقرا په ژړا وویل: زه بدبخته یم... زه سیاه‌بخته یم... چې نشم کولای خپل کور او خاوند وساتم...

ګنګس وم. نه پوهېدم ستونزه څه ده؟ دا ژړا، دا خبرې...اخر په څه خاطر دي؟
- څه شوي اقرا؟ ته وقران سمه خبره وکړه.
اقرا د ژړا څخه په لړزېدونکي غږ وویل: ته فکر کوې زه نه پوهېږم...؟
د هغې په دې خبره لا حیران شوم.
- په څه...؟

په تمه وم چې اقرا څه ووایي، خو هغه ناځاپه له ځایه پاڅېده، زما د کالو خواته یې اشاره وکړه او تقریباً په چغه یې وویل: دا کالي د چا دي...؟ ها؟ دا د چا کالي دي چې

تا اغوستي؟

په ګنګس انداز مې خپلو کالو ته وکتل. د عزيزی کالي مې پر تن وو، خو لا هم نه پوهېدم چې د اقرا مطلب څه دی.
اقرا چې زما چوپتيا وليده، په ژړا يې وويل: ولې چوپ يې؟ ولې څه نه وايې؟ که کوم کار دې نه وي کړی، نو ولې څه نه وايې؟ دا د چا دي؟

- نه پوهېږم څه وايې اقرا، ستا د دې کالو سره څه ستـ...

اقرا پرې نه ښودم خبره پوره کړم او په هماغه ژړا چې زما اعصاب يې خط، خطې کول، ويې ويل: دا يوه مياشت کيږی چې هر دوه،درې ورځې وروسته يو بهانه راوړې او شپې کور ته نه راځې، پرون ماښام هم ولاړی، موبايل دې هم بند کړ،کله چې راغلې يو ځل دې لا زما خواته ونه کتل، نور کالې دی اغوستي وه او بيا راته وايې "څه خبره ده؟"

يوه شېبه چوپه شوه، خو ناڅاپه يې په داسې دردناک غږ يوه داسې پوښتنه وکړه چې زه حيران وم، د هغې په دې غږ وژاړم که د دې بېځايه پوښتنې له امله سر په دېوال ووهم!

اقرا- تا... تا بل واده کړی؟
- دا ته څه لګيا يې...؟

د اقرا له سترګو دوه غبرګ اوښکې وڅڅېدې او پر مخ يې روانې شوې. د هغې د اوښکو په ليدو چې څومره زړه مې په درد راغی، دومره د هغه سپيانو او د عزيزی له کارو په درد نه و راغلی. همدا شيبه، همدا لحظه حاضر وم دا ټوله نړۍ په بل مخ واړوم، خو يوازې اقرا نوره ونه ژاړي،خو بدبختي دا وه چې د هغې د دې څو مياشتو ذهن کې ساتلي شکونه، وېره او درد نن په يو ځل د آتشفشان د غر په شان چاودنه کړې وه او هېڅ ډول نه کراريدل.

په هماغه د اوښکو ډکو سترګو رانږدې شوه او ویې ویل: رښتیا راته ووایه، طاها... قسم دی هېڅ نه درته وایم، نه جنګ کوم، نه ژاړم... یوازې رښتیا راته ووایه، دروغ مه وایه...

چوپ شوم... چوپ شوم، تر څو هغه خپل زړه خالي کړي. غوښتل مې پوه شم چا د اقرا ذهن په دې خبرو ډک کړی... چې ما... ما بل واده کړی؟

اقرا- ټ... ټولو راته ویل، خو زما باور نه کېده... ویل مې طاها...(زما سترګو ته یې وکتل، او په داسې لړزېدونکي غږ چې زما زړه یې له کاره ویست ویې ویل: طاها داسې کار نه کوي... ټولو ویل نر د اولاد پسې دی... که اولاد دې ونه شي، ته به خبره نه یې او بن به یې درته په سر راوړی وي... خو... خو ما نه منل... ما ویل طاها د هغه سړیانو په شان نه دی...(په ژړا زما څنګ ته کښېناسته) ما دا خبره منلې وه چې ستونزه لرم... ما منلې وه چې ستا لپاره نیمګړې یم... او حق مې درکاوه چې که وغواړې بل ... بل واده وکړې... خو ولې...؟

غږ یې مات شو...

– ولې دې ماته ونه ویل؟ ولې دې زه د ټولو خلکو مخې ته شرمنده کړم؟ د هغو خلکو مخې ته چې ما تل ستا دفاع کوله.

اقرا په ژړا، ژړا کې خپل په زړه کې ساتلې ټولې خبرې وکړې...

خویندو یې ورته ویلي وو چې زه ورباندې بله ښځه کوم... د خاله لوڼو یې پیغور ورکړی و چې اولاد نه لري... حسنا او مروه په ټوکو کې ویلي وو چې د ذوالفقار ښځه ماشوم لري، مور هم ستا نه بل وراره یا وریره غواړو، کنه ورور ته مو بل واده کوو... حتی د بابا چوپتیا یې هم په دې معنا اخیستې وه چې هغه غواړي ما ته بله ښځه وکړي، تر څو نسل یې دوام ومومي...

خلاصه اقرا په خپل ذهن کې ماته واده کړی و،ماشومان یې هم راته پیدا کړي وو، او او اوس یې زه د قاضی مخې ته راکش کړی وم.

خو جالب دا وه چې د هغې په خبرو باندې ما دومره معلومات تر لاسه کړل چې خدای خبر که کال وروسته مې لا ترلاسه کړي وای، لکه دا چې د ذوالفقار مېرمن ماشوم لري، حسنا او مروه کله ناکله د اقرا سره بې‌چوکاټه ټوکې کوي، او له ټولو مهمه دا چې خویندې یې د فساد اصلي منبع دي او باید له دې وروسته د خاله کور ته له تګ څخه بیخي منع کړم...

د اقرا ټولو خبرو ته مې په چوپتیا کې غوږ نیولی و او وشرمېدم... وشرمېدم له دې چې پر یو بالښت چې د چا سره سر ږدم او د مینې ادعا یې کوم، د هغې د زړه او ذهن له سلګونو فکرونو او پرېشانیو څخه په یوه یې هم خبر نه وم. ځان راته بیخي بد معلوم شو، فکر مې کاوه یو ډېر خراب خاوند یم چې اقرا خپله د زړه یوه خبره هم راسره نه ده شریکه کړې.

اقرا د ژړا په حال کې دوه سترګې زما خواته نیولې وې، تر څو د هغې دا ټول بې منطق فکرونو،شکونو او خبرو باندی د تایید ټاپه ولګوم او پرېږدم دا خپل د خیالي راغلي بنې په غم کې های،های وژاړي او ماتم ونیسي.

د هغې د اوښکو ډکو سترګو ته مې وکتل. او د ذوالفقار د هغه خبرې درد مې اوس احساس کاوه چې څو میاشتې مخکې یې ویلي وو: «ولې؟» د هغه د دې یو لفظ درک او درد ما نن خپب په ټول وجود احساس کړ. ولې اقرا پر ما باور نه درلود؟ ولې هغې فکر کاوه زه داسې انسان یم؟ ولې... ولې... ولې؟

کرار مې ساه واخیسته، زړه مې دروند و. خپه وم له دې چې اقرا ولې دا خبرې مخکې نه وې راته کړې، او ولې یې ځان دومره په عذاب کړی و؟

خپل جوړ لاس مې د هغې خواته وغځاوه، تر څو یې لاس ونیسم، خو اقرا سمدستي خپل لاس شاته کش کړ او ویې ویل: مه کوه ...

غږ يې مات و... داسې مات لکه چې نور هېڅ شی نه شي زغملای.
پوهېدم که اوس چوپ پاتې شم، دا فاصله به نوره هم لويه شي، نو ځکه د هغې د "مه کوه" باوجود مې لاس ورځخه ونيو. خو اقرا ځان شاته کړ او بيا يې وويل: درته وايم مه کوه... طاها...

خو دا ځل مې پرې نه ښوده، خپل خواته مې راکش کړه، لومړی خو شيبې زور وواهه، خو کله چې زور يې ونه رسيد نو ناڅاپه په ژړا شوه.

- هيسس... بس دی... مه ژاړه...

خو هغه لا هم لړزېده او ژړل يې، کرار مې وويل: يعنې تا يو کميس وليد او دومره پرېپرېږه کيسه دې ورته خپل په ذهن کې جوړه کړه خو زما لاس دې ونه ليد ..!

زما په دې خبره د هغې ژړا لږ کراره شوه. او که څه هم ځان يې ناکاره اچولی و، خو ومې ليدل چې د سترګو له کونج زما لاس ته يې کتل شروع کړل. په دويم ځل چې مې پانسمان خلاص کړی و، نو لږ وينه ورځخه راغلې وه او پانسمان يې پر وينو کړې و د اقرا سترګې په هماغه وينه باندې ښخې وې... نور يې نه ژړل، خو بدن يې لا هم لړزېده.

شونډې يې لږ پرانيستې... خو هېڅ ونه ويل، ما هم څه ونه ويل.

اوس چې هغه لږ ارامه شوې وه، زما نشه هم بېرته راګرځېدلې وه، سم نشوم کېناستلای. زړه مې غوښتل يو شئ ته تکيه ورکړم، خو نه مې غوښتل اقرا په دې حالت کې يوازې پرېږدم،له ځايه پاځېدم اقرا مې هم له ځان سره پاځوله. نه پوهېږم هغه بېره بېنګره شوې وه که زما زور زيات شوی و، خو په يو لاس مې له ځان سره پورته کړه او د بستری خواته روان شوم. هغې چې وليدل کوم خواته روان يم نو بيا يې مقاومت شروع کړ.

اقرا- خوشې مې کړه طاها... مه کوه... اوس ادې راځي، محمد ورسره دی...

@Shuhab09

د هغې خبرو ته مې غوږ ونه نیو پر بستری کښېناستم، بالښت ته مې تکیه ورکړل او هغه مې خپل خواته راکش کړه، کلک مې په غېږ کې ونیوله.اقرا بېقراره وه، ځان یې خوځاوه، خو ما کلک نیولې وه. د هغې دې حالت ته مې خندا راغله.

- پوهېږې دا څو وخته دا یو فکر مې ذهن کې ګرځېده چې اخر دا محمد د چا خواته تللې چې داسې ضدی راغلی؟ خو کس مې نشو پیدا کولای، ځکه نه زه ضدی یم او نه هم ته راته ضدی ښکاریدی خو نن ..(پخندا مې وویل: نن په ثبوت راته ښکاره شوه چې د چا خواته تللې د مولا لوری ...

اقرا- خوشې مې کړه!
- نچ، تا خپل خبرې وکړل، خپل زړه دې خالي کړ، اوس نو زما وار دی.
اقرا- زه ستا هېڅ خبره نه اورم!
- اورې... ښه یې هم اورې.
– خوشې مې کړه وایم، نه غوارم څه واورم!
خپل د لاس حلقه مې د هغې څخه لږ خوشې کړل او ومې ویل: سمه ده، ورځه ...

زما په دې خبره اقرا ناڅاپه غلې شوه. لکه باور یې چې نه و شوی، خو بیا ناڅاپه سترګې یې له اوښکو ډکې شوې، د هغې د دی حال په لیدو په خندا مې وویل: عجیبه مخلوقات یاست تاسو ښځې .. تر اوسه دې چغې وهل چې خوشې مې کړه، اوس چې وایم سمه ده، بیا ژاړې؟

اقرا په غوسه شاته ټیله کړم.
– لرې شه!
خو ما پخندا خپل د لاس حلقه ورباندی کلک کړل او ومې ویل: نه نو، شانس دی خلاص شو، اوس به یا خبرې کوو، یا هم همداسې پاتې کېږو... خو خوشې کول پکې نور نشته.

اقرا ژوره ساه واخیسته.

– په لاس دې څه شوي...؟

په خندا مې وویل: اها... نو غواړې خبرې وکړو؟

سر مې کرار د هغې خواته ښکته کړ، د هغې غوږ ته نږدې شوم او په ډېر نرم غږ مې وویل: لومړی دا چې ستا هغه ټولې خبرې بېځایه وی اقرا جانې .. ځکه زه هېڅکله دا کار نه کوم... هېڅکله...

د هغې بدن اوس هم نیولې او مضطرب و، د دی لپاره چې لږ ارامه شې کرار مې خپل لاس د هغې پر ملا تېر کړ. عجیب حرکت و خو اقرا د یو پیشو په شان زما غېږ کې ځان راټول کړ، د پیشوګانو خوښېږي چې څښتن یې په سر او بدن د محبت او مهربانۍ لاس تېر کړی په دی کار هغوي آرامېږی او اقرا هم همداسي وه ...

د هغه منحوس ماموریت څخه نیولې تر همدا نن ما اقرا داسی غېږ کې نه وه نیولې، ناز مې نه ورکړی، وایې ښځې د خاوند غریبي،بې وسي،ناچاری او هر مشکل او ستونزه زغملې شې، خو د خاوند بې تفاوتي او نامهرباني نشې زغملې. شاید یو دلیل چې اقرا نن داسي ناځاپه د احساساتو چاودنه وکړه همدا زما بي توجهی وه!

زه دا څو وخت دومره د عزیزی،الفا او د هغوی لخوا په راپیښ ستونزو کې راګیر وم، چې اقرا مې بیخي لیاده ویستلې وه، که څه هم مینه ناک الفاظ او خبری مې نه وه زده او نه مې هم عمر کې تر اوسه ویلې وه، خو کوښښ مې وکړ نن د اقرا لپاره لږ بدلون وکړم، پر ما اقرا ګرانه وه خو دا ګرانښت ما هیڅکله په الفاظو باندی هغې ته نه و ویلې، داسې حال کې چې مشهور فلسیوف وایې: سړیان د سترګو لخوا مئینان کیږی، ځکه هغوی په لومړۍ نظر کې ښکلا ګوری، خو ښځې بیا د غوږ لخوا مئینانې کیږی ځکه هغوي خبری اوری، نو ځکه سړیان دروغ وایې او ښځې آرایش کوی ...

په دی فکر کرار مې وویل: زه هېڅکله پر تا بل واده نه کوم اقرا، هېڅکله .. ځکه ته زما لپاره بس یې ... ته زما هر څه یې ... که دا ټوله نړۍ یوه خوا شې او ته بلخوا، نو شک مه کوه زما ټاکنه ته یې ...

غیږ کې مې لا کلکه کړه او دوام مې ورکړ.
- ما هغه ډول مینه ناک خبرې نه زده چې درته ووایم د آسمان څخه درته سپوږمۍ او ستورې راوړم، او فلان و بستان کوم خو ... ستا لپاره شاید ته باور ونکړې خو حاضر یم ځان مرګ ته هم ورکړم.

زما په خبرو او حرکاتو د هغې د بدن لړزه کرار،کرار لمینځه ولاړل او ارام ساه یې واخیسته، ما چې هم ولیدل کار مې فایده وکړل نو دوام مې ورکړ.

- زه هېڅکله... هېڅکله دا کار نه کوم دا خبره تل ذهن کې وساته.
یوه شېبه چوپ شوم، بیا مې کرار وویل: پرون ماښام شرکت کې مې کار درلود، تر ناوخته هلته وم، سهار خواته کار خلاص شو نو زه هم د کور خواته راروان وم چې د راتلو وخت کې یو دوه کوڅه ډب سپیانو راباندې حمله وکړه ..

اقرا ناځاپه زما کمیس کلک ونیو، وېرېدلې وه، هغه ژر وېرېدل یو دلیل چې تر اوسه مې ورته د هغه منحوس ماموریت په اړه نه و ویلې، او د ویلو ارداه مې هم نه درلود همدا و، نه مې غوښتل هغه و وېرېږي، خپل د لاس حرکت مې بیا شروع کړ تر څو کراره شي او پخندا مې وویل: څه نه دي شوي، یو کوچنې زخم و خو ملګرې مې مجبور کړم چې شفخانې ته لاړ شم او د سپیانو واکسین وکړم، دا کالۍ هم هغه راته راوړل، زما کالۍ د سپیانو سره په کش مکش کې شلیدلې وه، نه مې غوښتل په هغه کالو کور ته راشم او ته و وېرېږې ..

پخندا مې د هغې ویښتیان ښکل کړل او ومې ویل: خو که خبر وایې چې د مولا لور داسې په یوه جوړ کالو زما په سر قیامت جوړوی نو ولاکه مې بدل کړي وایې ...

اقرا خپل سر زما پر سینه کېښود او بیا یې ژړل شروع کړل،خو دا ژړا یې نور د غوسې او بیځایه فکرونو څخه نه وه، لاس مې د هغې په ویښتیانو کې تېر کړ او ومې ویل: هېس، بس دی نور مه ژاړه ...

همغه حال کې یو، دوه تازه لفظونه چې اوس مې زده کړې وه او پوهیدم چې اقرا ورباندی کراریږي وویل تر څو نور ونه ژاړي ...
- هېڅوک... هېڅکله... ستا ځای نشي نیولای، نو ځان په بیځایه فکرونه مه پعذابوه ...

خو اقرا لا هم زما کمیس کلک خپل په چنګ کې نیولې و او ژړل یې، د اوښکو څاڅکو یې زما کمیس رالوند کړ، زما اراده وه دا کالې بیرته عزیزی ته ورکړم خو اوس ..
اوس امکان نه لری چې دا کار وکړم ...زه د اقرا د سترګو یوه اوښکه لا د پردی کس سره نه شریک کوم، هېڅکله هم نه ...

اقرا لا هم زما په سینه سر ایښی و، خو ژړا یې ورو ورو کرارېده، خو لا هم د ساه اخیستلو په منځ کې کله ناکله سلګې وهل.

یو څو شېبې همداسې تېرې شوې، بیا اقرا په ډېر کرار غږ، داسې چې لا هم شک پکې پاتې و، وویل: ټول دې رښتیا وویل کنه؟

سر مې لږ ښکته کړ، د هغې په وېښتو کې مې لاس تېر کړ.
- هو.

اقرا لږ شاته شوه، مخ یې زما خواته راوګرځاوه. سترګې یې لا هم سرې وې، خو دا ځل پکې یوازې ژړا نه وه، یو بول وېره هم وه.

اقرا - نو بیا دا یوه میاشت ولې داسې شوی وې؟ ولې بدل شوی وې؟ موبایل دې تل بند، ناوخته راتلل، دا ټول څه و...؟

ژوره ساه مې واخیسته، ما فکر وکړ خبره خلاصه شوه، خو اقرا کیسه بېرته له سره تازه کړه. یو څو شېبې چوپ شوم. که ورته ووایم ستا د ګردې لپاره د مرګ یو ماموریت ته مې غاړه کېښوده او تر اوسه په هغه مصیبت کې ګېر یم، نو ایا څه ګټه

@Shuhab09

رسوي دا خبرې کول؟ نه، هېڅ ګټه نه رسوي، یوازې اقرا تر مرګ ورخطا او وېروي بس.

اوس خو شک کوي چې نه راځم، شاید کوم بل چیرته مې سر ګرم وي، خو د دې خبرو څخه د خبر کېدلو وروسته هره دقیقه چې موبایل ته ځواب ورنه کړم یا یوه دقیقه ناوخته راشم، دا به فکر کوي چې مړ شوی یم!

یو ملا څخه مې اورېدلي و، ویل یې د ښځې د رضا کولو لپاره دروغ ویل کومه ګناه نه لري! خو ویل یې شاخداره دروغ مه وایاست، نو مطلب نیم رښتیا نیم دروغ روا دي. په دې فکر کرار مې وویل: څو میاشتې مخکې چې ما د کوم کس څخه ستا لپاره ګرده واخیسته، عربستان ته د تلو پیسې مې واخیستې، د هغه کس څخه مې شل لکه افغانۍ هم اخیستې وې ..

زما د دې خبرې په اورېدو د اقرا سترګې د حیرت پراخې شوې، خو څه یې ونه ویل. چې ما یې لاس ونیو او کرار مې وویل: دا کور، دا نور زموږ خپل دی، ما په هغه پیسو دا واخیست.

د اقرا ساه د حیرت بنده شوه، چې ما ژر دوام ورکړ.
- لوی سفر و، زما اندېښنه وه تاسو ته. دا کور مې واخیست تر څو که کومه ورځ زه نه وم، یا کومه ستونزه شوه ته او محمد د کرایې او د کور د غم سره مخ نه شئ ..

د هغې شونډې لړ ولړزېدې، خو څه یې ونه ویل.
- دا یوه میاشت زه د هغه کس شرکت کې کار کوم، او ځکه چې قرضدار یې یم، نو د نورو کاریګرانو په پرتله لړ سخت او ډېر کار راباندې کوي، خو ته اندېښنه مه کوه، یوازې د یو څو نورو میاشتو خبره ده، بیا ان شاءالله هر څه سمېږي، قول درکوم.

اقرا- دا کور تا واخیست؟ زموږ لپاره؟

په خوشحالۍ مې سر وخوځاوه.
- هو، او پوهېږې د دې کور قواله مې هم ستا په نوم کړې ده...

په تمه وم اقرا په دې خبره خوشحاله شي، خو ناڅاپه هغه په ژړا شوه. د هغې په ژړا ګنګس شوم! ولې ژاړې؟ کرار مې لاس د هغې پر سر تېر کړ.
- هېس، بس... نور مه ژاړه...

اقرا په کراره غږ وويل: ولې .. ولې دې زما په نوم کړ دا کور هان؟ تا.. تا د راتلو نيت نه درلود؟

په تلوار مې وويل: نه، داسې خبره نه ده. ومې ويل کنه لوی سفر و، او د لومړي ځل لپاره زه دومره ستاسو څخه لرې تلم، نو انسان خپل په واک کې نه وي، خپل د زړه د بېغمه کولو لپاره مې دا کار وکړ.

اقرا- ولې دې زما په نوم کړ؟
په خندا مې وويل: ستا په نوم وي يا زما په نوم، څه فرق کوي؟
بيا په شيطنت مې دوام ورکړ: مګر دا چې ته ما له کور وشړې چې دا ستا کور دی؟

اقرا په غوسه راوکتل، چې زما خندا لا زياته شوه، چې هغې په نيولي غږ وويل: ولې دی دا خبرې زما څخه پټ ساتلې وه؟ تا زما لپاره خپل ځان دومره ستونزو ته ورکړی او زه د دې پر ځای چې ستا ملتيا وکړم، لګيا وم پر تا مې تهمـ ..

خبره مې ورپرې کړه.
- مهمه نه ده، تېر شو...

اقرا لږ سر راپورته کړ، سترګې يې زما پر مخ راوګرځولې او په کراره غږ يې وويل: زه بښنه غوارم...
- نه، ستا غوسه پر حقه وه، ما نه بايد ته دومره بېخبره پرېښودلې وای، دا زما غلطي

وه چې تا دومره منفي فکرونه وکړل او خپل ځان دی په عذابه کړو، زه درته ملامت یم.

اقرا غوښتل کوم بل څه هم ووایي، خو ما نور د خبرو توان نه درلود، هر څه دوه، دوه راته تر سترګو کېدل. اقرا مې نور خبرو ته پرېنښودله، څملاستم او هغه مې هم غېږ کې ونیوله. اقرا مخالفت ونه کړ، ما هم کمپل پر دواړو راکش کړ او په خوبجن غږ مې وویل: د هغه پېچکاریانو نشه فکر کوم تر اوسه مې په بدن کې ده، نو نورې خبرې به یو بل وخت ته پرېږدو، راځه اوس ویده شو.

اقرا - غرمه ده، ته ویده شه، زه ځم د ادې څخه محمد راوړم.

اقرا غوښتل پاڅېږي، چې ما اجازه ورنه کړه.
- یو دوه ساعتونو باندې څه نه کېږي، هسې دا کور ما د همدغه وختونو لپاره ستا د پلار د کور څنګ ته اخیستی، چې که کومه ورځ لاس مو بند وي، محمد وساتي او ستا مرسته وکړي، کنه په دې کنډواله باندې کوم هوښیار انسان شل لکه افغانۍ ورکوي؟

اقرا نور څه ونه ویل او په کراره زما غېږ کې څملاسته. ما هم چې اوضاع په صلح او ارامش کې ولیده، سترګې مې پټې کړې، خو د ویده کېدلو مخکې مې کرار وویل: نور هېڅکله زما څخه کومه خبره مه پټوه،هر څه وي راشه مخامخ راته وایه، دومره خپل اعصاب مه خرابوه ..

اقرا کوم ځواب رانکړ، ما هم کوم څه ونه ویل او خپل د غېږې په کلکو مې د هغې دې سکوت ته د "هو" معنا ورکړه. منم چې ما کامل رښتیا ونه ویل، خو دروغ مې هم ونه ویل، ما رښتیا وویل خو… په فلټر او سانسور باندې، او اصلاً هم په خپلو خبرو پښېمانه نه وم.

پېچکارۍ نه وې، سم د بېهوښۍ دوا وه. ټوله ورځ مې په خوب تېره کړه، د ماښام خواته اقرا راویښ کړم، خو دومره ګنګس وم چې یوازې په اهوم، ها، هو ځواب ورکړ

او بېرته ويده شوم. هغې چې هم زما ګنګس حالت وليد، نو لږ ورخطا شوه، خو بيا هم هوښياري يې وکړه. د دې پر ځای چې ټول کلی خبر کړي، تللې وه شير برنج يې پوخ کړی و او همغه زما د ګنګس حالت کې يې يو دوه ګولې په خپل لاس راکړې. ما خو بيخي ياد نه دي چې څنګه خوند يې و؟ او څنګه مې وخوړ؟ يا څو ګولې مې وخوړلې؟ يوازې همدا چې اقرا لرې شوه، بېرته ويده شوم ...

نه پوهېږم څومره وخت به ويده وم، چې خپل په زخمي لاس د يو شي په لګېدو سترګې مې خلاصې کړې. کوټه نيمه رڼا وه، داسې چې پوه نه شوم دا اوس د بلې ورځې سهار دی؟ که د همغه ورځې مازديګر؟ اقرا زما تر څنګ ناسته وه او لګيا وه په ډېر احتياط يې زما د لاس پانسمان خلاصاوه.

په نيولي غږ، چې د خوب له امله و، ومې ويل: څه کوې...؟
اقرا زما په ناڅاپه غږ لږ وډاره شوه، خو بيا يې په کرار وويل: راويښ شوې؟
- اهمم...

سترګې مې سمې خلاصې کړې او هغې ته مې وکتل،هغې چې زما نظر پر ځان وليد نو کرار يې وويل: غواړم د لاس زخم دې وګورم او پانسمان يې بدل کړم.
بيا يې زما لاس کرار ونيو او ويې ويل: درد خو نه لري؟

د هغې داسې احتياط ته مې خندا راغله، زړه مې غوښتل خپل د اوږې زخم ورته وښايم او ووايم: تا غلط ځای نيولی اصل درد دلته دی، خو پر هغې مې زړه نه وه پيرزو، نو ځکه په موسکا مې سر وخوځاوه او ومې ويل: نه، دومره زخم نه دی چې درد ولري، او بيا ته يې چې په داسې احتياط ګورې، بيا خو بيخي درد نه لري.

زما په دې خبره د هغې مخ د شرم او حيا څخه سور شو او په تلوار يې وويل: او .. اوس چې راويښ شوې، نو زه به د پانسمان شيان راوړم.

د دې خبرې سره سم په تلوار له کوټې ووتله. په خندا خپل ځای کې کښيناستم، خو بيا دې خبرې ته مې فکر وکړ چې ما خو د پانسمان شيان نه وو راوړي، نو اقرا د

کومه خوا غوارې د پانسمان شیان راوړې؟ خو څو شېبې وروسته چې کوټې ته راغله، نو رښتیا هم د پانسمان شیان یې لاس کې وو.

- دا د کومه خوا شول؟

اقرا داسې حال کې چې په ډېر احتیاط یې زما زخم خلاصاوه، ویې ویل: دا ذوالفقار اوښې ستا د اوږې د زخم لپاره راوړي وو، خو تا زخم ژر خلاص کړ نو دا پاتې شول.

د پوهېدو په انداز مې سر وخوځاوه، چې هغې په کراره زما د لاس پانسمان خلاص کړ. زما په زخم چې یې نظر ولګېد، نو یو دم ساه یې بنده شوه او په رپېدونکي غږ یې وویل: دا... دا خو ډېر زخم دی.
- نه دومره نه دی.
اقرا - دومره نه دی؟
په خندا مې وویل: اهوم، دومره نه دی.

اقرا څو شېبې سترګې وتړلې، شاید غوښتل یې خپله غوسه کنټرول کړي؟ بیا یې په کرار زما د زخم شاوخوا په الکولو پاک کړ او په یو نوي پانسمان کې یې زما لاس وتاړه. لکه چې زخم ښه شوی و؟ ځکه د الکول وهلو په حال کې د پرون په شان درد ونه کړ، یا هم شاید د اقرا د لاس کمال و چې ما درد احساس نه کړ؟!

کله چې پانسمان کول خلاص شول، نو هغې کرار د پانسمان له پاسه زما په زخم لاس تېر کړ او ویې ویل: ښه یې...؟
- تر هغه چې ته راسره یې، ښه، ښه یم.

د اقرا په شونډو نرۍ موسکا راغله، چې ما ناڅاپه وویل: راځه نن بهر لاړ شو.
اقرا په حیرت راوکتل.
— په دې حال؟

خپل ځان ته مې وکتل او ومې ویل: څنګه حال دی؟ روغ جوړ یم، زړه خو دې نه غواړي د سپي په یو غاښ ما یوه هفته په کور بستر کړې؟
اقرا - نه، خو اوس تازه دې سترګې خلاصې کړې، پرون درسته ورځ او شپه ویده وې، یو بله ورځ به لاړ شو، چې ته لږ ښه وې.
- زه یو دم ښه یم، شابه بهانې مه راوړه، پاځېږه، ډېر وخت کېږي چیرته نه یو تللي، محمد چیرته دی؟

اقرا چې هر څومره انکار وکړ ما یې خبره ونه منل، او په زوره مې راضی کړل چې همدا نن به ځو بیرون، هغې چې هم زما اراده بیرون ته د تللو لپاره کلکه ولیده، نو په خوشحالۍ یې وویل: چیرته غواړې لاړ شو؟
- هر ځای ته چې ته امر وکړې.

زما په خبره د هغې په مخ کرار، کرار خوشحالي ښکاره شوه، داسې لکه یو ماشوم ته چې د هغه د خوښې شی ورکړی.

- ژر تیاره شه.
اقرا پخندا وویل: سمده، اوس څه تلوار لرې؟
- وېرېږم بیا انکار ونکړې.
اقرا به همغه خندا وویل: نه، انکار نه کوم.
- نو ژر کوه.

اقرا چې پاڅېده تر څو تیاره شي او محمد هم تیار کړي، زه هم له ځایه پاڅېدم. اقرا دومره خوشحاله وه چې د پانسمان شیان یې همدلته کوټه کې پرېښودل او لاړه. ما هم هغه راواخیستل او حمام ته ننوتلم. کمیس مې وباسه او خپل د اوږې پانسمان مې په خپل بدل کړ او دومره درد یې وکړ چې حد یې نه درلود. د ملا د پانسمان د بدلولو په حال کې وم چې د حمام دروازه وټکېده، په تلوار مې وویل: حمام کوم، څه وایې؟

اقرا - کالي مې درته راوړي.
• سمده، صبر.

د دروازې شاته شوم او دروازه مې د یو لاس اندازه خلاصه کړه. نه مې غوښتل اقرا دا نور زخمونه وګوري او د څو شېبو مخکې خوشحالي په غم بدله شي. خو هغه دومره خوشحاله وه چې بغیر د کومې پوښتنې کولو یې کالي زما لاس ته راکړل او لاړه.

په تلوار مې د پانسمان شیان ټول کړل او کالي مې بدل کړل. د بدن څخه مې د الکولو بوی تلو، خو لمبېدلی نه شوم، ځکه پانسمان لوند کېده، نو مجبور یوازې مې سر ومینځه چې اقرا فکر وکړي حمام مې کړی، او په خپل بدن مې درې من عطر ووهل تر څو د الکولو بوی راڅخه لاړ شي.

له هغه وروسته د هینداري مخې ته ودرېدم. د څو میاشتو وروسته لومړی ځل و چې ما هېنداره کې خپل د ویښتانو جوړولو لپاره ځانته کتل. عجیب احساس مې درلود، خوشحاله وم! د ژوندي اوسېدو احساس مې درلود. ما د اقرا څخه ډېر دې آرامتیا ته اړتیا درلوده تر څو د دې څو وختو د راپېښې شویو کیسو څخه لږ لرې شم او یو هوسا ساه واخلم.

خپل ځان ته مې هېنداره کې وکتل او کرار مې له ځان سره وویل: ژوند وکړه طاها .. ژوند وکړه او خوشحاله اوسېږه، دوه ورځې دنیا ده، په غم نه ارزي. تر کله به د الفا، عزیزی او زر نورو شیانو له وېرې پر ځان قیامت جوړوې؟ څومره وخت چې خدای درته لیکلی، هغومره ژوند به کوې. د خدای قسمت نه بدلېږي، که مرګ دې پوره وي د یو ماشي په چیچلو هم مری، او که نه وي نو د زر مرمیو د باران څخه هم ژوندی پاتې کېږې. نو همدغه شېبه کې ژوند وکړه، نه د تللي وخت غم کوه او نه هم د راتلونکي، بیدار اوسېږه خو .. ډارن نه ...

لګیا وم ځان ته مې روانشناسي او انګېزشي خبرې او نصیحتونه کول چې د محمد پر غږ په خود راغلم.

@Shuhab09

د محمد په غږ مې له هېنداري څخه نظر واخیست، خو د وتلو مخکې مې ځان ته د وروستي ځل لپاره وویل: دا بلا ما پر خپل سر راوستې نو اوس باید خپله ورته ودرېږم. ما ذوالفقار ته ویلي وو چې خوشې مې کړه، خپل مشکل به خپله حل کوم. نو اوس باید یوازې ځان د دې ستونزې چاره وکړم، هم خپل کورنۍ او هم خپل ژوند وساتم.

دروازه مې خلاصه کړه او بهر ووتلم. محمد د دروازې مخې ته ولاړ و، سترګې یې په تمه راته نیولې وې. همدا چې یې پر ما نظر ولګېد نو په چغه یې وویل: بابا! دباندی دووو؟ چکل ته دوو؟

د هغه خبرو او خوشحالۍ ته مې موسکا پر شونډو راغله ښکته شوم، پر یو زنګون یې مخې ته کښېناستم.او د هغه په ویښتانو کې چې اوږده شوي وه او اقرا ویل غوارم څڼې ورته پرېږدم لاس مې تېر کړ او ومې ویل: هو بیرون ځو، چکر ته ځو ..

زما په دې خبره هغه د خوشحالۍ څخه داسې چیغه کړه چې نږدې و زما د غوږ پرده وشکوي ..

- په کرار محمد، چغې مه وهه.

خو محمد او خبره منل، ناممکن ... د کوټې په منځ کې یې منډې وهلې او ځان ته خوشحال و،اقرا حجاب کړې راغلل غوښتل یې محمد چوپ کړي، خو محمد د زبیر خبره چمپ یې لا زموږ په خبرو نه نیو، یوازې لګیا و ځانته یې خوشحالۍ کول.
پخندا مې ورته سر وخوځاوه او خپل د بوټونو خواته لاړم، چې محمد هم زما پسې راغې.

محمد- بابا!
- جان!

زما مخې ته ودرېد او په معصومه لهجه يې وويل: لاليل او تاتا هم راځي؟ (راحيل او کاکا هم راځې؟)

په خندا مې د هغه غومبري کش کړ.
- سمې خبرې کوه هلکه! نه، هغوی نه راځي.

محمد لږ خفه شو. شونډې يې راټولې شوې او ځمکې ته په کتو شو، د هغه خپه څېره مې چې وليده خپل بوټ مې پر پښو کړ او په يو جست مې هغه له ځمکه راپورته کړ، زما په دی کار هغه له هيجانه چغه کړل او زما خوږه اوږه يې کلک ونيول، که څه هم درد يې وکړ خو پروا مې ونه کړه.

د دروازې خواته روان شوم او د هغه د غوږ څنګ ته مې کرار وويل: اول ځو، ماما او تاته شيان اخلو، ډوډۍ خورو، بيا د کاکا کور ته ځو سمده؟

محمد چې دا خبره واورېدل، مخ يې بېرته وځلېد او په خوشحالۍ سر وخوځاوه. د هغه خوشحاله څېرې ته مې وکتل او زړه کې مې حسرت راغی. ماشومان په يوه خبره خپګان هېروي او بېرته خاندي. کاش موږ غټان هم داسې وای، دومره مو فکرونه نه کول او ژوند مو پر ځان نه تريخاوه.

له کوره ووتلو، دروازه مې قلف کړه او د سړک خواته روان شوو. اقرا غوښتل خپل مور ته ووايي چې موږ بيرون ځو، خو ما اجازه ورنه کړه.

- بېرته همدغه کور ته راځو اقرا، هغه وخت بيا ورته ووايه.

زما په خبره هغې هم نور څه ونه ويل او زما څنګ ته را روانه شوه، د موټر نيولو مخکې مې ورځخه وپوښتل: اوس چيرته لاړ شو؟
اقرا په خندا اوږې پورته کړې.
— نه پوهېږم، هر چېرته چې ستا خوښه وي.

زما د څه ویلو مخکې محمد په چغه وویل: بادال ته دوو تا ول شیان اکلوو(بازار ته ځوو تا ویل شیان اخلو)

د محمد په خبره ما او اقرا دواړو وخندل.

- فکر د دې دا ورځ تر بلې هغه خپل زده کړې خبرې هم هېروي. داسې خبرې کوي ته وا یو کلن ماشوم دی. دا ولې داسې کوي؟
اقرا په موسکا وویل: بابا او ذوالفقار اوښې د ده دا ډول خبرو ته خوشحالېږي او خاندی، نو ځکه دی نور هم ماشومانه خبری کوی.

سر مې وخوځاوه.
- یعنې د دوه کسانو پخندا دی باید خپل ټول چینل بدل کړي؟خدای دی زموږ پرده د ده سره وکړی دا چې اوس داسې چهارصد بیست دی، خدای خبر راتلونکي کې به څه بلا جوړیږی؟
محمد ناځاپه په غوسه وویل: نې .. بلا نې ..
د محمد په خبره اقرا پخندا شوه او ویې ویل: ماشوم دی اوس په دې خبرو نه پوهېږي. غټ شي، سمېږي.

د موټر د درولو لپاره مې لاس پورته کړ او همغه حال کې مې کرار وویل: خدای دې وکړي ..

موټر ودرېد، سپاره شوو. عمومي بازار ته د تلو پر ځای مې د هغه نوي شاپینګ مال آدرس ورکړ. یو ځل مخکې له زبیر سره ورغلی وم. پنځه منزله ودانۍ وه، هر منزل کې لسګونه دوکانونه وو. د کالو، موبایلونو، بوټونو، عطرونو او هر څه.

په درېیم منزل کې یو ښه رستورانت هم و. که څه هم قیمتونه یې لوړ وو، خو بیا مې هم هماغه ځای وټاکه. د ډېر وخت وروسته له اقرا سره بیرون تللم نو حق یې و چې یو ښه ځای ته یې ویسم.

د پیسو چندان غم نه وو، د زبیر په برکت مې یو څه پیسې د بانک رااېستې وې، کله چې نوی موبایل یې ماته اخیست نو په غوسه یې وویل: هغه اتیا لک افغانۍ دی خپل مرګ ته ساتلي چې نه یې راخلې؟ دوه ورځې دنیا ده راوخله عیش وربانډی وکړه، سبا به مړ یې ...

د هغه په دی مثلاً نصیحت مې یو څه پیسي د بانک راواخیستې، چې اوس هم راسره وی.

تر رسېدو پورې محمد سر د کړکۍ خواته نیولی و. او هر څه یې چې لیدل مورِ ته یې هم ښودل. اقرا د هغه خبری تایید کول او په موسکا یې د هغه ښودلې شیانو خواته کتل، خو ما یو لاس وربانډې راچاپېر کړی و، تر څو ځان ډېر له کړکۍ څخه بهر نه کړي. خو دومره شوخ و چې کله به یې لاس د ښیښې څخه ایسته او کله هم سر، څو ځله مې ورته وویل"محمد! مه کوه خوږېږي" خو هغه پخندا خپل کار تکرار کاوه، په همدی کشمکش کې بلاخره ټاکلي ځای ته ورسېدو. له موټره ښکته شوم، کرایه مې حساب کړه، مخ مې چې واړاوه نو اقرا مې ولیده چې په حیران نظر یې شاوخوا کتل.

د هغې اوږه مې په موسکا ونیوله او د هغه ښکلي شاپینګ مال خواته مې روانه کړه. چې هغې په اندېښمن غږ وویل: ولې دلته راغلو طاها؟ همغه خپل بازار ته به تللي وو.

ومې خندل.
- ولې؟ دا ځای دې خوښ نه شو؟ ښه شیان لري.
اقرا لږ شاوخوا ته وکتل، بیا یې کرار وویل: نه، خبره د خوښېدو نه ده، دا ځای یو څه بل ډول دی.

د هغې په خبره مې وخندل او دننه ننوتلو، د خلکو ګڼه ګوڼه ډېره وه، ټول ښاري او لوکس کسان ښکارېدل، د هغوی په لیدو اقرا نور هم زما څنګ ته رانږدې شوه. د هغې

دې حرکت ته مې موسکا په شونډو راغله. او خپل لاس مې د هغې شاته کېخود او په کراره غږ مې وویل: ښه شیان خرڅېږي، ډاډه یم خوښ به دې شي. او هو( په شیطنت مې وویل: له قصده مې دلته راوستې، چې سبا ورځ که چا دربانده ځان پورته،پورته کاوه نو ته هم ورته ووایه: وې خورې، زه له خپل مېړه سره هغه نوي شاپینګ مال ته تللې وم.

ما دا خبره په ټوکو وکړه، خو اقرا د خندا لځایه په تروش تندی وویل: ما دا کارونه نه خوښېږي. چا ته په دې خبرو ځان نه شم ښودلای.
- اهوم، پوهېږم خو اوس وخت زمانه داسې ده، که دا کار نشې کولای، نو د هغوی د خبرو پروا هم مه کوه، بلخصوص خپل د خاله د لوڼو د خبرو ...

اقرا ژر وویل: نه، هغوی طعنه نه راکوي.
په پوسخند مې سر وخوځاوه خو نور څه مې ونه ویل، نه مې غوښتل د هغه بحث په راکش کولو خپل وخت خراب کړم. خو همداسې مې هم دا خبری نه پریخودې.

کرار، کرار مو دوکانونه کتل شروع کړل، اقرا په لومړیو کې زړه نا زړه وه، هر څه ته به یې یوازې کتل او تېرېده. خو چې ما ورته یو دوه شیان واخیستل، نو لږ زړه وره شوه. شاوخوا ته یې په خوشحالۍ کتل شروع کړل او کله به یې څه راښودل، کله به یې د بیو پوښتنه کوله.

محمد هم زما له غېږې راښکته شوی و او هر څه ته به یې لاس اچو او غوښتو به یې. ما په خندا د هغه دی کارونو ته کتل. زموږ شاوخوا یو دوه کسان چې په دوکان کې ولاړ وو، یو بل ته په ریشخند څه وویل. له انداز څخه یې معلومېده چې پر موږ یې د نادیده کسانو ګمان کړې او خاندی، خو ما چندان توجه ورته ونکړل.

د محمد کارونه د رښتیا هم څه ناڅه د نادیده ماشومانو په شان وه، خو څه؟ ماشوم و که لږ نادیده توب یې کړی وایې څه قیامت خو نه راتلې. د هغه خوښ شوي ډېر

شیان مې ورته واخیستل، تر څو دوکاندار هم فکر ونه کړي چې یوازې د نندارې لپاره راغلي یو.

د دوه منزل دوکانونه مو چې وکتل محمد ستړی شو، چې ما په خندا غېږ کې راواخیست او تندی مې ورڅخه ورښکل کړ.
- همدومره دې انرژي وه؟

اقرا خپل د لاس پلاستیک راوښود چې زیاتره د محمد په خوښه اخیستل شوې شیان وه او ویې ویل: یعنې دا لا کمه انرژي وه؟

پخندا مې سر وخوځاوه او ومې ویل: پورته منزل کې هوټل دی، راځه هلته لاړ شو. یو څه به وخورو، لږ دمه به هم وکړو. دا ډېر لوی ځای دی، تر اوسه مو یوازې دوه منزلونه کتلي.

اقرا بې له څه ویلو زما خبره ومنله. دریم منزل ته پورته شوو.هوټل ته چې ننوتلو، لږ مې زړه تنګ شو. ټول ګډ ناست وو، د کورنیو لپاره کوم ځانګړی ځای نه و. د هوټل تر ټول کونج، پټ او ارام ځای مې وټاکه او هلته کښېناستو.

اقرا بې قراره وه. شاوخوا ته یې په ناارامه نظر کتل او نقاب یې د مخ نه لیرې کاوه. د هغې بې قرارۍ چې مې ولیده کرار مې ورڅخه وپوښتل: غواړې ستا لپاره څه واخلم او کور کې یې وخورې؟ که دلته راحت نه یې؟

اقرا په شرم راوکتل او یوازې یې سر د "هو" په معنا وخوځاوه.
ګارسون چې راغی، ورته مې وویل زموږ فرمایش پیک کړې. خو د محمد لپاره مې همدلته یو برګر او جوس راوغوښت.

محمد هم نامردی ونکړل او یو ځل بیا یې خپل اصل وښود،یو چپس به یې خوړو بل به یې لاندې غورځاوه. د مېز پر سر ایښي کاغذي دستمالونه، قاشوغه، پنچه، د مالګې قوطۍ... هر څه یې یو یو لاندې اچول. هر څومره مو چې منع کاوه هغه نه منع

کیدی. یعنې محمد د هغه شوخ، وحشي او بې‌پروا ماشوم نمونه و، چې خلک ورته وايي: د پیري چوچی.

وروستی کار یې دا وکړ چې د مالګې شیشې قوطۍ یې راواخیسته او پر ځمکه یې وویشت قوطۍ مات شو او ځمکه ټول مالګو ونیول، د هغه په دې کارونو اقرا د شرم څخه نږدې وه ځمکې ته ننوځي، ځکه هوټل کې موجود ټول کسانو زموږ خواته راکتل خو ما په خندا اقرا ته وویل: ماشوم دې ستا خبره، غټ شي سمېږي.

په دی خبره مې اقرا کرار وخندل، محمد مې غیږ کې راواخیست یو دقه نور که هلته پاتي شوی وایې نو د هوټل مالک په زوره ویسلو، نو ما ویل پخپل لاړ شو عزت به مو ساتلې وی، کله چې د پیسو حساب کولو د کس خواته لاړم نو هغوی هم نامردی ونکړل نه یوازی د مالګي د قوطي پیسي بلکې د کاغذ دسمالي پیسي هم راڅخه واخیستل،ځکه محمد هغه ټول خراب کړی وه ما هم بغیر د کوم جنجال پیسي ورکړل او خپل د پیک شوی خوراک په راخیستو د هغه ځایه راووتو.

پاتي څو منزل کې ډېر ونه ګرځېدو ځکه اقرا ستړی شوی وه، او محمد هم د دی دومره کارنامو وروسته کرار خپل سر زما په اوږه کیخودلې و او ویده و، یو عطر او یو بکس مو په څلورم منزل کې واخیستل او بغیر له دې چې د پنځم منزل خواته سر معلوم کړو رااووتو، جالبه وه کله چې راووتو نو د غرمۍ اذانونه کېدل. موږ په اته بجو د سهار راغلي وو، او اوس غرمه وه، وخت بیخي ژر تیر شو.

موټر مې ونیو، لومړۍ مې غوښتل د ذوالفقار کور ته لاړ شم، ځکه محمد ته مې قول ورکړی و خو بیا مې چې خپل خوږ لاس ته وکتل نو پښیمانه شوم، که تللي وایې ذوالفقار د لاس پوښتنه راڅخه کول او ما خو ورته رښتیا نشو ویلې چې عزیزی د سپیانو سره اچولې وم، نو مجبور باید دروغ مې ویلې وایې او د هغه دومره دروغو وروسته یو بل دروغ بیخې نو د مره کیدو خبره وه، نو غوره مې وبلل چې تر یو څو وخته د ذوالفقار خواته لاړ نه شم، په دی فکر موټروان ته مې خپل د کور ادرس ورکړ.

موټر چې روان شو محمد سر راپورته کړ، او په خوبجن غږ یې وویل: د تاتا کور ته دوو...؟

د هغه پر سر مې لاس تېر کړ او کرار مې وویل: نه نن نه ځو، یو بله ورځ به لاړ شو چې کاکا په کور وي اوس شاید شرکت کې وي.

محمد شونډې راټولې کړې، څو شېبې یې راوکتل، لکه ارزونه چې کوي دروغ وایم که رښتیا؟ بیا یې سر زما پر سینه کېښود او کرار یې وویل: اته بله ولز دوو(اشه بله ورځ ځو)

د هغه په دې زر قانع کېدو مې بیا هماغه پخوانی حسرت راپیدا شو. کاش موږ هم د ماشومانو په شان په یو وعدې او یو خبرې خطا وتلو او دومره راحت مو هغه موضوع هېرول.

اقرا راوکتل او کرار یې وویل: غرمه ده تر څو چې رسیږو ذوالفقار اوښې هم د شرکت څخه راځي.
د سترګو له کونج مې وروکتل.
- یو بله ورځ به لاړ شو.
اقرا- ولې دې زړه بدل شو؟ محمد خو ډېر خوشحاله و.

د موټر د ښیښې څخه مې بهر وکتل، بیحد شور،ماشور و هر چا خپل د کار پسې منډې وهلې، هر یو خپل په غم بوخت وو.

- تاسو هم ستړې یاست زه هم، نو نن به آرم وکړو بیا یوه بله ورځ په کراره به لاړ شو.

اقرا څو شیبې راوکتل. داسې ښکارېده لکه پوه شوی چې وې خبره یوازې ستړیا نه ده، خو پوښتنه یې ونه کړه. همدا د اقرا ښه خوی و، کله، ناکله د انسان چوپ درک کیدل د خبرو څخه ډېر ښه وي.

موټر چې روان و، محمد داسې درونډ ویده شو ته وا زانګو کې اچولې، سر یې زما پر سینه و او ما یې د ساه منظم تګ راتګ ته غوږ نیولې و. اقرا هم چوپه وه، یوازې کله ناکله خپل اخیستل شوی شیانو پلاستیکونه کتل او د سترګو د ځلیدو څخه یې ښکاریدل چې خوشحاله ده.

کور ته چې ورسېدو، کرایه مې حساب کړه او محمد مې غېږ کې راواخیست. عجیب احساس مې درلود ما محمد د خوب حالت کې ډېر غیږ کې راخیستې و خو نن .. نن چې مې راوخیست د هغه حالت چې سر یې زما په اوږه تکیه کړی و او لاسونه یې زما په غاړه راتاو کړي وه یو ناشنا خوشحالۍ او د محافظت احساس زړه کې راپیدا کړ، شاید همدا حس د پلارتوب وو! دا چې همدا شیبه حاضر وم د هغه د ساتني لپاره ځان مرګ ته لا ورکړم، نه یوازی د هغه لپاره بلکې د اقرا لپاره چې په خوشحالۍ لګیا وه د کور دروازه یې خلاصول.

څومره دا څو وخته د دوی څخه لری شوی وم، چې اوس هغه طبیعي احساسات راته ناشنا او خوندور ښکاریدل!

دننه چې ننوتلو، د کور فضا ارامه او خاموش و، داسې خاموش چې انسان فکر کاوه ګواکې په دنیا کې هېڅ بلا او مصیبت نشته.

محمد مې په نالې باندی کرار کېښود. لږ وخوځېد یو څه یې په خوب کې وویل، بیا بېرته غلی شو. اقرا په موسکا باندی کمپل ورباندی واچو، زه هم د همغه نالې بل سر کې کښیناستم ټول بدن مې داسې درد کاوه لکه چا چې د بدن هډوکي راته دانه،دانه رااېستي او بېرته غلط ځای کې ایښي وي.

اقرا زما خواته راغله.

– لاس خو دې درد نه کوی؟

- نه، ښه یم.

هغې زما د "نه" مانا ښه پېژندله، خو بیا یې هم څه ونه ویل، یوازې یو پیاله اوبه راته راوړل او د آشپزخانې خواته لاړل تر څو اخیستلې شیان راوړي، څو دقیقې وروسته سرخان او بوډۍ راوړل.

ما نن نه پرون هم نه هغه بل پرون چې یو ګوله بوډۍ خوړلې وه، البته بغیر د اقرا د هغه دوه قاشوق شیر برنج څخه چې په خوب کې مې خوړلې وو، نور مې هېڅ نه وه خوړلې او اوس مې هم شې زړه نه غوښت، یعنې همدا چې د هغه خوراکونو بوی راباندی ولګید فکر مې وکړ چې موړ شوم، په دی احساس "اه" مې له سینې ووت، زه بیا د څو کالو مخکې په شان شوی وم هغه وخت چې شموئیل او نور پیریان ډېر زما شاوخوا تلل،راتلل زه همداسی د بوډۍ وولیدم، او اوس د ګوتمې خواته مې وکتل چې شنه ځلا یې کول، اوس بیا زه د هغوی خواته نږدی کیږم نو ځکه د هغوی خاصیتونه ډېر ځان ښکاره کوی، د اقرا په غږ په خود راغلم.

اقرا- ولې نه خوری؟
- هان! خورم یې ..

د مجبوری څخه مې لاس بوډۍ ته ویوړ، زه کامل پیری نه یم چې د بوډۍ په نه خوړلو او پر بوی کولو موړ شم، زه انسان یم نو مجبور بوډۍ وخورم کنه له لوږی مرم، لومړۍ ځل چې داسی شوم شموئیل راته یو شویس راکړ چې ورباندی ښه شوم خو اوس .. اوس شموئیل نشته او زه نه پوهیږم هغه شویس د کوم خوا کړم؟ مجبور د زقوم څخه مرسته وغواړم.

دوه ګولې بوډۍ مې د خدای د وچ زوره وخوړل، او ډېر ژر مې لاس ونیو خو د دی لپاره چې د اقرا اشتها خرابه نشې هملته کښیناستم او په خبرو کولو مې کوښښ وکړ د هغې فکر خپل د بوډۍ نه خوړلو څخه واړوم.

- خوښ دی شو شاپینګ مال؟
اقرا په خوشحالۍ سر وخوځاوه.

— هو، ډېر ښکلې شيان يې درلود خو ..

- خو څه؟

اقرا خپل د لاس ډوډۍ څو ځله ټوټه کړل او کرار يې وويل: لږ ماحول يې بل ډول و.

- اهوم، دا ځل نو زما په خوښه لاړې خير بل ځل بيا ته ځای وټاکه.

د اقرا د ډوډۍ تر خلاصيدو مو د نن ورځې خبرې وکړل، اقرا د محمد د کارونو وويل چې څومره هلته وشرميدل او بد احساس يې درلود، خو ما ورته خندل منم چې محمد هلته ډېر شوخي وکړل خو محمد همدا و هغه هر چيرته همداسې شوخی کول او اصلاً فرق يې ورته نه درلود چې کوم ځای کيدی.

اقرا چې سرخان ټول کړ زه په زور پاڅيدم اودس مې وکړ او پر لمانځه ودريدم، خدای دې زما مونځ قبول کړی خو هر رکعت کې دا فکر مې کاوه چې ژر خلاص شې چې ويده شم، بلاخره لمونځ مې خلاص شو او زه هم د محمد څنګ ته څمليدم، اقرا چې هم ستړې شوی وه هغه هم راغله پخندا يې وويل: که يو څوک راشي څومره بده ده مونږ ټول په ټکنده غرمه کې ويده يو.

پخندا مې وويل: خپل هم وايې ټکنده غرمه، نو دې وخت کې څوک څه غواړی چې راشي؟ کراره ويده شه نن ستړې شوی، فکر مې وو درته هر دوه ګام وروسته دې خپل تشې نيو، ګورده دې بيا درد کوی؟

زما په دې خبره اقرا په تلوار وويل: نه، درد نه لرم.

سر مې وخوځاوه او نور مې څه ونه ويل، نه مې غوښتل خپه يې کړم بلخصوص چې يو نن ورځ مې خوشحاله کړی وه، نه مې غوښت هغه خوشحالۍ ورته زهر کړم،خو د اقرا د دې درد پټ کولو څخه مې کرکه درلود هغه بل ځل يې هم همداسې خپل درد پټ کړ، پټ کړ او د درد ګولې خپل په سر وخوړلې چې ځان يې دې حال ته ورسو او اوس هم لګيا وه همغه کار يې کاوه، بايد همدا سبا يې يو سم ډاکټر ته

ویسم.ډاکټر ویلې وه د اقرا دا بل ګورده هم میکروبې او لږ خرابه ده، شاید د همغه ګوردی میکروب یې ډېر شوی وی؟

په همدی فکرونو کې ویده شوی وم، ماذدیګر د محمد په کار چې زما په ملا یې ځان واچو او زه یې درد مړ کړم راویښ شوم، پدرلعنت په همغه خوږ ځای ټوپ اچولې و شیطان ویل یو ټک پر دی مخ ورکړه، خو د خندا په غږ یې چې خوشحال و له دی چې زه یې راویښ کړی یم، زړه مې ونشو څه ورته ووایم خو خپل قصد مې د هغه د لاس په غاښ کولو واخیست او پاڅیدم ..

هغه شپه فکر کوم د ډېر مودی وروسته زما د ژوند بیغم ترینه او خوشحال ترینه شپه وه، خو زما خوشحالیاني ډېر دوام نه لری سهار وختي د دروازی په ټکیدو له خوب راویښ شوم.

دومره کلک یې دروازه ټکول ته وا جنګ ته چې راغلې.لځایه پاڅیدم د بدن هر رګ مې د اعتراض غږ کاوه او خوب یې غوښت، اقرا هم د دروازی په ټکېدو راویښه شوی وه، په اندېښنه یې زما خواته راوکتل او ویې ویل: په دی سهار وختي به څوک وی؟

- زه ګورم ته ویده شه.

اقرا بغیر د څه ویلو سر وخوځاوه خو د ویده کیدلو لځایه ځای کې کښیناسته.
د دروازی په دویم ځل ټک،ټک چې دا ځل بیخي کلک و، په تلوار له کوټې ووتلم.
د دروازې خواته ورنږدې شوم خو د خلاصولو مخکې مې خپل توفنچه راوویسته او غږ مې کړل: څوک یې؟

د هغه خوا آشنا غږ راغې.
— زه یم اشرف. دروازه خلاصه کړه.

د اشرف د غږ په اوریدو هوسا ساه مې واخیسته، خو بیا مې هم دروازه سمدستي خلاصه نه کړه. سترګې مې لږ تنګې کړې. دومره سهار وختي؟ اشرف؟ دلته؟

- څه غواړې؟
اشرف- تخو دروازه خلاصه کړه، مهم کار درسره لرم مشر رالیږلی یم.

د عزیزی د نوم په اوریدو مې هیڅ ښه احساس ونکړ، خو مخ مې بې‌تفاوته وساته. او کرار مې د دروازې قلف خلاص کړ.اشرف د دروازې مخې ته ولاړ و. مخ یې سترې و، سترګې یې سرې وې، داسې لکه ټوله شپه چې نه وي ویده شوی. په یوه لاس کې یې د موټر کیلي تاووله او بل لاس یې جیب کې و.دروازه مې پوره خلاصه کړه.
- څه خبره ده؟

هغه لومړی شاوخوا وکتل، بیا یې په بې حوصلې لهجې وویل: تیار شه باید شفاخانې ته لاړ شو.

د هغه په خبره لومړی فکر مې چې ذهن ته راغلو هغه دا و چې عزیزی زخمي یا مړ دی او شفخانه کېدی او اشرف زما پسي راغلې، په دی فکر په تلوار مې وویل: څه شوی؟ عزیزی مړ دی؟

اشرف ژامه ټینګه کړه او په غوسه یې وویل: دا څه اپلتې لګیا یې؟ په مشر هیڅ نه دی شوی، هغه ویل تا ویسم شفخاني ته تر څو درته واکسین وکړی ...
-اهان ..

سر مې د پوهیدو په انداز وخوځاوه، خپل فکر ته مې خندا راغلل، اخ د چا زور په عزیزی رسیږی؟ چې ما داسی فکر وکړ چې هغه یې مړ کړی،هغه که کوم څوک مړ نه کړی څوک هغه نشي مړ کولای.

اشرف- اوس راځې کنه؟
- یو دقه صبر اوس راځم.

دروازه مې بنده کړه او کور ته ننوتلم،اقرا دهلیز کې ولاړه وه زما په لیدو په تلوار مې خواته راغله.
اقرا- څوک و؟ څه خبره وه؟
- هغه زما ملګری و، زما لیاده وتلې وه نن باید دویم ډوز واکسین ووهم.
اقرا- ستا زخم یعنې دومره خطرناک دی؟
ومې خندل تر څو د هغه وېره کمه شي.
- نه، د خطر خبره نه ده. د احتیاط لپاره واکسین ته ځم، ډاکټر ویل د کوڅي سپیان دی امکان لری کوم مریضي ولرې نو غوره ده په وخت دا څلور،پنځه ډوزه واکسین واخلم.

اقرا په اندیښنې راوکتل، شاید غوښتل یې نور پوښتني هم وکړی، خو ځان یې ونیو د هغه لځایه یې کرار وویل: سهار چای به دې څښلې وایې .
- بېرته راځم.

خپل موبایل مې راوخیست، اقرا ته مې یو څو پیسي د احتیاط لپاره ورکړل او له کوره ووتلم. اشرف موټر چالان کړی و او ما ته په تمه و،مخکینۍ څوکۍ کې د هغه څنګ ته کښېناستم. زما د کښیناستلو سره سم اشرف موټر روان کړ، سړک ته تر وتلو هیڅا څه ونه ویل د هغه وروسته ما کرار وویل: څه تلوار مو وو؟ خو غرمي ته به تللې وایې، په دی سهار وختي راورسیدې.

اشرف ځانته سګرېټ بل کړ، اوږد کش یې ورڅخه واخیست او په تروش تندی وویل: ما هم چندان علاقه نه وه چې په دی سهار وختي خپل خوب ستا لپاره حرام کړم، خو مشر امر وکړ ...(څو شیبې چوپ شو بیا یې په زړه نازړه توګه وویل: نن یې لږ مزاج خراب و.

په پوسخند مې وویل: کومه ورځ د هغه مزاج ښه دی؟
اشرف بد،بد راوکتل چې ما هم خوله بنده کړه، نه مې غوښتل د ارسلان په شان

اشرف هم ځانته دښمن کړم، ارسلان هم د عزيزی په سر زما سره چپ و، خو څه فايده د هغه د دومره وفاداری باوجود اخر د عزيزی په لاس ووژل شو بدبخت.

ډېر ژر شفخاني ته ورسيدو، او څکه چې زموږ کار د تزريقاتو و نو پنځه دقيقو کې يو نرس راورسيد واکسين يې وکړ او يو کوچني ورقه يې هم راکړل.

– بل ځل چې راغلې هر چا چې درته واکسين کاوه دا ورته وښايه تر څو پوه شي څو يم ډوز واکسين دی؟

ورقه مې ورځخه واخيستل، او سر مې د پوهيدو په انداز وخوځاوه چې هغه هم نيم نظر زما زخمونو ته واچو او ويې ويل: هر دوه ورځې وروسته پانسمان بدل کړه.

د پنځه دقيقو وروسته کار خلاص شو او له شفخاني راووتو، د اشرف تندی درې من تروش و، لکه چې زما خبره بيحد ورباندی بد لګيدلې وه، همغه چې ومې ويل عزيزی مړ دی؟ ولاکه عزيزی څه تعويذ پر دوي کړی چې داسي وفاداره دی ورته!

- زه خپل تلې شم.

د هغه د تروش تندی په ليدو مې دا فکر وکړ چې غوره به وی خپل لاړ شم، خو اشرف د خوشحاله کيدو لځايه نور هم تندی تروش کړ او ويې ويل: نه، خپل دی ورم  د مشر امر دی.

ما هم نور څه ونه ويل او موټر ته پورته شوم، څو دقيقې وروسته مې په هينداره کې يو شئ ته فکر شو، يو سپين موټر زموږ تر شا راروان و. په لومړي سر کې مې چندان توجه ونه کړه. فکر مې کاوه چې ضرور زه غلط شوی يم، خو چې اشرف يو سړک بدل کړ او هغه هم راوګرځېد نو سترګې مې په مشکوک انداز تنګې کړی.بيا مې هينداري ته وکتل. د سپين موټر تر شا يو تور کرولا هم راښکاره شو.دا ځل نو ډاډمن شوم چې د تعقيب لاندی يو په کراره مې وويل: اشرف...

هغه خپل نیم وهل شوی سګریټ د ښیښې څخه بهر وغورځاوه.
— څه دی؟

هینداره کې هغه موټرونو ته مې اشاره وکړل او ومې ویل: فکر کوم د تعقیب لاندی یو.

زما په دی خبره اشرف سمدستي هېنداري ته وکتل. د مخ رنګ یې لږ واوښت، خو ژر یې ځان راټول کړ او په عادي لهجه یې وویل: کوم یو؟

په سترګو مې شاته اشاره وکړه.
- سپین سراچه او د هغه شاته تور کرولا دوه موټر دی.

اشرف بې‌اختیاره سیده کښېناست، سټېیرنګ یې کلک په لاس کې ونیو او بې له دې چې سر راوګرځوي، په هېنداره کې یې یو ځل بیا د هغه موټراونو خواته نظر واچاوه او د شونډي لاندی کرار وویل: لعنت دی وی ..

- فکر کوی موږ تعقیب کوی؟

اشرف بغیر د ځواب راکولو د موټر سرعت تېز کړ، د هغه په دی کار خپل د پوښتني ځواب مې ترلاسه کړ، زما شک صحیح و هغه موټرانو موږ څارلو.
غوښتل مې د اشرف سره خبری وکړم خو هغه زما خبرو ته غوږ نه نیو. جیب ته یې لاس کړ، خپل موبایل یې راوویست او په تلوار یې یو نمبر وواهه.

اشرف- موبایل پورته کړه ... موبایل پورته کړه ...
همدا چې د موبایل هغه خوا ځواب ورکړ اشرف په تلوار وویل: سلام مشره ..
یوه شېبه چوپ شو، بیا یې ژر وویل: هو، واکسین مو وکړ، خو .. هغه زموږ پسې دوه موټر دي... هو... نه، تراوسه یې څه نه دي کړي... هو...

د هغه د تندي خولې ته مې وکتل،د سهار يخ موسم و خو د اشرف پر تندی خوله ولاړه وه، او د دی مطلب دا و چې اوضاع ډېره خرابه ده او هغه وېرېدلې!

اشرف د څو شيبو غوږ نيولو وروسته وويل: سمه ده.
او موبايل يې بند کړ، په تلوار مې ورځخه وپوښتل: څه يې وويل؟

اشرف ژامه ټينګه کړه.
— ويل يې لاره بدله کړی. مستقيم مه ځې، که شک مو په يقين بدل شو، نو ځان په ګير مه ورکوی ..

په پوسخند مې وويل: اووو ماشاءالله څومره استراتيژيک مشوره يې درکړې.

اشرف داسې په غوسه راوکتل، لکه زړه يې چې غوښتل ما په لغت له موټر څخه دباندې وغورځوي، خو ځان يې کنټرول کړ. د سټېيرنګ پر سر يې ګوتې کلکې کړې او موټر يې ناڅاپه له عمومي سړک څخه د يوې تنګې کوڅې خواته واړاوه. کوڅه خامه وه، موټر ټوپونه وهل. ما له هينداره څخه شاته وکتل. زموږ د تاوېدو سره سپين موټر هم کوڅې ته راننوت او د هغه شاته تور کرولا هم.

په کراره مې وويل: فکر کوم شک مو يقيني شو!

اشرف نيم نظر د هينداره له لارې شاته موټرو ته واچاوه، ښکنځل يې وکړل او د موټر سرعت يې لا زيات کړ. د کوڅې سر کې بل سړک ته واوښتو، خو هغوی لا هم زموږ پسې وو. د موټر دننه فضا بېحده درنه وه. اشرف ډېر ورخطا و، هره دقيقه يې يا شاته موټرو ته کتل او يا يې کنځل کول. همدای حال کې موبايل راوويست او زه پوه شوم چې غواړي عزيزی ته زنګ ووهي، خو عزيزی موبايل نه پورته کاوه.

اشرف- لعنت دې وي، ولې موبايل نه پورته کوي؟

که څه هم حالت ډېر خطرناک و، او تر هغه هم زیات د عزیزی څواب نه ورکول اندېښمنوونکي و، خو د دې ټولو خبرو باوجود عجیبه وه، زه نه وېرېدم.

په ریشخند مې وویل: فکر کوم مشر دې غوارې مور د دوی په لاس ووژني، څکه څواب نه درکوي!

اشرف په قهر وویل: خوله بنده نیسه!
په خندا مې اوږه پورته کړه او ومې ویل: د هغه د څواب نه ورکولو څخه خو همداسې ښکاري.
اشرف د غوسې نه غاښونه وچیچل، خو څه یې ونه ویل چې ما وپوښتل: ته څه فکر کوې؟ که د دې کسانو په ګیر لاړ شو، دواړه وژني که یو؟

اشرف په غوسه نیم نظر راواچاوه، بیا یې په پوسخند وویل: زه له خپل مرګ سره کومه ستونزه نه لرم، خو خوشحالېږم چې لومړی ستا مرګ په خپلو سترګو ووینم، بیا مړ شم.

د هغه په شان په پوسخند مې وویل: د زړه له تله درته خفه یم، خو بدبختانه دا ارمان به ګور ته یوسې، څکه زه په دومره آسانۍ نه مرم.

اشرف په پوسخند وویل: ستا زړه به په دې خبره خوشحال وي چې د مشر لپاره به تا ژوندی وساتي، خو دا خبره دې ذهن کې وساته، زما مرګ به په یوه مرمۍ وي، خو تا به ټوټه ټوټه کوي، تر څو د مشر غوسه راوپاروي. نو ډېر مه خوشحالېږه، په هر حال کې ستا مرګ زما نه ډېر دردناک دی.

د هغه په دې خبره چوپ شوم. دا خبره یې حق وه. که نیول شوي وای، اشرف یې به په یوه مرمۍ ویشتلی وای او خلاص، خو زه یې به ژوندی تر الفا وړی وای او هلته به یې د عزیزی د غوسې لپاره ټوټه ټوټه کړی وم. په دې فکر مې په پوسخند وویل:
عجیبه ده، د دې ټولې نړۍ زړه راته ډک دی او غوارې ټوټه ټوټه مې کړې، خو ته قسمت ته وګوره، زما پر ځای هغوی ټوټه کېږي...

اشرف څواب رانکړ، خو د تندي خوله او د سترګو بې‌قراري یې، چې هره شیبه یې شاته کتل، پوه کړم چې ټول فکر یې په تښتېدو کې دی.

اشرف- توفنچه دې درسره ده؟
- هو، څه یې کوې؟
اشرف- که موټر ډېر څنګ ته راغلل، نو د اپلتو ویلو پر ځای وار وکړه.
- ډېر مې زړه غوښت دا خبره دې ومنم، خو...
خپل خوږ لاس مې د هغه مخې ته وخوځاوه او ومې ویل: زما لاس خوږ دی، او زه په چپ لاس وار نشم کولای.

اشرف په پوسخند وویل: نو ووایه چې خبرو ته تکړه یې، نور د کوم کار نه یې.
- برعکس زه د ډېر کار سړی یم، یوازې ستاسو د دې مردار کار نه یم.

اشرف خوله خلاصه کړه چې څه راته ووایي، خو ناڅاپه سپین سراچه په سرعت ځان زموږ د موټر چپ طرف ته راورسوه او خپل موټر یې زموږ په موټر وواهه. موټر ولړزېد، نږدې و چې چپه شي.

— ای ستا خو د مو****

اشرف په کنځلو سره سټېیرنګ کلک ونیو او بېرته یې موټر برابر کړ. ما شاته وکتل. د سراچې ښیښه نیمه راکښته شوې وه، دننه ناست سړي توري عینکې په سترګو وې، خو څېره یې ماته آشنا ښکارېده. سترګې مې په مشکوک انداز تنګې کړې.

- دا سړی مې یو ځای لیدلی؟
اشرف په تلوار وویل: په هر جهنم کې چې دې لیدلی وي، اوس مهمه د هغه رذیل څېره نـ ...

د هغه خبره لا نه وه ختمه شوې چې تور کرولا زموږ د موټر شاته ځان جوخت کړ.
اشرف په چغه وویل: کمربند دې وتړه!

ما لا لاس کمربند ته نه و وړی چې کرولا له شا زموږ موټر ته ټکر راکړ. موټر نږدې و چې چپه شي. زما سر په مخکې ښیښه ولګېد. اشرف په تلوار بریک ونیو تر څو د موټر د چپه کېدو مخه ونیسي.

هغه سړک چې موږ پرې راغلي وو خام و او له اصلي لارې لرې و. په دې لاره تګ راتګ ډېر کم و. اشرف په کراره خو وېرېدونکې لهجه وویل: لکه چې راګیر شو؟

د هغه په دې خبره خپل د دردمند تندي څخه مې لاس اخوا کړ او مخ ته مې وکتل. دوه موټر زموږ مخې ته ولاړ وو او لاره یې بنده کړې وه. شاته مې وکتل. سپین سراچه او تور کرولا هم له شا ولاړ وو او موږ د څلورو موټرو په منځ کې بند وو.

په خندا مې وویل: څومره مشهور کسان یو، دومره خلک مو هرکلي ته راغلي.

اشرف په غوسه راوکتل.
— ته په دې حال کې هم غول خوری؟
- نو څه ووایم؟ غواړې وژاړم چې ګیر شو؟
هغه غاښونه سره وچیچل، سټېرنګ یې کلک ونیو او کرار یې وویل: نه یو ګیر ځان کلک ونیسه.

- غواړې څه وکړې؟

اشرف ځواب رانکړ. یوه شېبه چوپتیا شوه، بیا یې ناڅاپه ګېر بدل کړ، پښه یې تر اخره پر اېکسلېټر کېښوده او موټر یې مستقیم د شا خواته موټر باندې وروخېژاوه. په حیرت او وېره مې ورباندې غږ کړل: اشـــرف!

د ټکر دروند غږ پورته شو. زموږ موټر د شاته موټر په دروازه ورننوت، ښیښه ماته شوه او موټر نیمه لار جوړه کړه. زما سر د څوکۍ سره ولګېد، سر مې یوه شېبه ګنګس شو، خو د اشرف په چغه په ښود راغلم.
— یو دوه هوایي ټکه وکړه!

په تلوار مې توفنچه راوویسته. که څه هم لاس مې درد کاوه، او سم مې کوم شې نشو لیدلې خو یو دوه ټکه مې په کرولا موټر وکړل. هماغه شیبه اشرف سټېیرنګ بېرته تاو کړ او موټر د مات شوي ځای نه ووت، خو لا بشپړ نه و خلاص شوی چې شاته کرولا موټر هم په حرکت کې شو.

- چپ خواته تاو شه، کوڅې ته ننوځه!

اشرف بې له سوچ هماغه خواته تاو شو. سپین سراچه هم راپسې کوڅې ته راننوتله.

- په دې آسانۍ مو نه ایله کوي.
اشرف په پوسخند وویل: پوهېږم!

کوڅه تنګه وه، دواړو خواوو ته دېوالونه وو. زموږ موټر په سختۍ تېرېده. د کوڅې سر ته چې ورسېدو، نو مخې ته مو د خټو او شګو ډک ټرک ولاړ و. د هغه په لیدو د زړه درزا مې یو سلواتیا ته پورته شوه. په تلوار مې شاته وکتل، درې موټر زموږ پسې کوڅې ته راننوتلي وو.

- ختم شوو، دا ځل نو راګیر شوو...

اشرف ناڅاپه موټر د یوې نیمه خلاصې دروازې خواته تاو کړ. کور تازه د جوړېدو په حال کې و. د لومړي ځل لپاره قسمت یاري وکړه، د کور بلې خوا ته نه دروازه وه او نه کوم بل شی، لاره یې بلې کوڅې ته وتلې وه. زموږ پسې هغه موټرونه هم کور ته راننوتل.

اشرف - وار وکړه!

ما ژر د موټر له ښیښې سر وباسه او توفنچه مې شاته ونیوله. دوه درې ډزې مې د هغوی پر موټر وکړې، خو یو هم سم ونه لګېد، ټول راسته چپه ولګېدل. خو دومره فایده یې وکړه چې هغوی لږ وځنډېدل او بریک یې ونیو.

اشرف هماغه شېبه موټر بلې کوڅې ته، او له هغه ځايه په تلوار عمومي سړک ته واړاوه، او د باد په شان يې خو سړکونه يو دبل پسې بدل کړل او د عزيزی د شرکت لاره يې ونيوله.شاته مې وکتل، نور هغه موټرونه نه ښکارېدل. څو شېبې دواړه کرار ناست وو. له هغه وروسته ما کرار وويل:

- لکه چې بچ شوو؟

زما په دې خبره اشرف په دروند نظر راوکتل خو ناڅاپه دواړه په خندا شوو.

شرکت ته چې ورسېدو، د دروازې ساتونکي داسې ښکارېدی لکه زموږ په تمه چې وو! ځکه په تلوار يې دروازه خلاصه کړه. موټر چې د شرکت په حويلۍ کې ودريد راښکته شوم، تازه هوا په لګيدو تازه مې ځانته فکر شو او د بدن درد مې شروع شو، د ټول څخه ډېر د لاس درد مې وو، چې د مرمۍ ويشتلو له امله د لاس په ګوتو مې زور راغلې و او پانسمان يې پر وينو شوی و، زه خپل پر لاس لګيا وم اشرف هم د ساتونکي سره په خبرو بوخت و، چې ناڅاپه زما نظر د دويم منزل د خلاصې کړکۍ خواته شو. عزيزی خپل د دفتر کړکۍ هېڅکله خلاصه نه پرېښوده، مګر دا چې عصبي به و او سګرېټ به يې څکوه.

په مشکوک انداز مې له ساتونکي وپوښتل: د عزيزی دفتر ته څوک راغلی؟
زما په خبره اشرف او ساتونکي دواړو راوکتل،ساتونکي په زړه نازړه لهجه وويل: يو کس و... ډېر غوسه هم و. همدا چې راغی، بې له اجازې اخيستلو د مشر دفتر ته پورته شو.

اشرف په غوسه وويل: يعنې تا ونه پېژاند چې څوک و؟ ولې دې اجازه ورکړه چې پورته لاړ شي؟ دا څه طويله ده چې هر څوک سر ښکته نيسې او ننوزي ..

د اشرف خبرو ته غوږ نه شوم او په تلوار د عزيزی د دفتر خواته روان شوم. دوه فکرونه مې ذهن کې ګرځېدل: ذوالفقار دی يا ... يا الفا... نه پوهېږم ولې، خو احساس مې کاوه چې همدا دوه کسان کولاې شې عزيزی دفتر کې وساتي او

پرېښږدی چې زموږ پسې راشي ...په تلوار پر زينو پورته شوم او د غفور کاکا غږ کولو ته مې غوږ ونه نيو چې ما پسې ناری وهل، کله چې د عزيزی دفتر ته ورننږدې شوم نو بې له اجازې غوښتلو ورننوتم.

لومړی شئ ته مې چې پام شو، د سګرېټو لوګی و او د يو نفر قهرجن غږ چې د عزيزی د مېز مخې ته ولاړ و او ما ته يې شا وه لوړ قد، پراخې اوږې، سپين کميس .. چې مخ چې يې راوګرځاوه هک حيران شوم .. دا دلته څه کوی؟

جنرال...!

بې‌حده غوسه ښکارېدې خو د غوسې ترخنګ ستړی هم و، داسې لکه څو شپې يې چې خوب نه وي کړی. لاسونه يې د مېز پر سر ايښي وو او مخامخ عزيزی ته ولاړ و. د دروازې په خلاصېدو دواړو زما خواته راوکتل. عزيزی په خپل څوکۍ کرار ناست و، خو د ناست کس په شان نه ښکارېده، زياتره د يوه قهرجن مار په شان ښکارېده چې ځان يې تاو کړی وي او د وخت انتظار کوي، تر څو خپل زهر وشيندي. سترګې يې په جنرال ښخې وه او په کرار يې سګرېټ واهه.

د جنرال په کار چې ناڅاپه يې مېز په سوک وواهه. اوږې مې لږ له وېرې ورپېدې.
— تا ماته چل راکړ، عزيزی! دوه مياشتې کېږي چې ما ځغلوې، هره ورځ راته وايې سبا، بل سبا... سبا با سبا ...خو الفا نه نيسې!

د "الفا" نوم چې مې واورېد، غوږونه مې تيز شول. دروازه مې کرار خپل شاته بنده کړه.عزيزی يوه شېبه زما خواته راوکتل، بيا يې بېرته جنرال ته مخ کړ او په کراره لهجه داسې حال کې چې خپل سګريټ يې په سګريټ داني کې مړ کاوه وويل: دا زما دفتر دی نو غږ دې ښکته کړه، ما د پورته غږ بد راځي ..

جنرال په پوسخند وويل: ستا دفتر؟ لکه چې لياده دې ووتل؟ ما ته له هغه خانه خراب زندان څخه راخوشې کړی! که زه نه وای هډوکي دې لا هلته چينجيانو خوړل. نو اوس ماته دفتر، دفتر او امرونه مه کوه ...

د جنرال په دې خبره بې‌اختیاره مې لاس د توفنچې خواته یووړ، د عزیزی سپکاوی هېڅ ښه انجام نه لری، زه عیني شاهید د داسي پیښي تېر شوی یم.

عزیزی کرار له ځایه پاڅېد او د جنرال خواته ورنږدې شو.
– زما حافظه ډېره قوی ده جنرال، خو ستا حافظه راته کمزروی ښکاری، تا زه د زندان څخه راخوشې نه کړم زه پخپله راووتلم لومړی خبره،او دویم دا چې الفا زما په جیب کې نه دی چې راویې باسم او تاته یې درکړم. که د هغه نیول دومره اسانه دی لاړ شه ویې نیسه ولې زما پښې ښکولوي هوم؟

د عزیزی په دی خبره جنرال له غوسې وپړسېد او د عزیزی خواته ورنږدی شو، که څه هم جنرال په قد او قواره کې غښتلې او جګ وو، خو د عزیزی مقابلې ته نشو رسیدلې. خو بیا هم د عزیزی سترګو ته ځیر شو او په مشکوک لهجه یې وویل: خبره د اسانه او سخته نه ده عزیزی! ته له قصد نه غواړې چې هغه ونیول شي.

د جنرال په دې خبره ساه مې په سینه کې بنده شوه او بې‌اختیاره مې د عزیزی خواته کتل پیل کړل. څه مطلب؟ عزیزی له قصد نه غواړي الفا ونیول شي؟ کوم فکر چې ذهن ته راغلو هغه نه منونکې و نه... امکان نه لري. عزیزی د دومره کارونو وروسته هېڅکله بېرته د الفا سره لاس نه یو کوی.

عزیزی بې له دې چې غوسه شي، سر یې لږ کوږ کړ او ویې ویل: د خولې سره دې پام کوه جنرال... چې څه ترې راوځي.

جنرال په ګواښ خپل ګوته د هغه مخې ته وخوځوله.
– زه د خولې سره پام وکړم که ته؟ ته چې دوه میاشتې کېږي ماته چل راکوې! زما کسان مړه شول، زما پیسې ولاړل زما نوم خراب شو... او ته ... ته دلته کرار ناست یې دفتر، دفتر وایې او امرونه کوی؟

فکر مې کاوه د جنرال په دی خبرو به عزیزی غوسه شي، خو برعکس عزیزی په شیطان موسکا شاته لاړ او بېرته په خپل څوکۍ کښېناست، داسې لکه د جنرال د

ناچاري او قهر ليدل چې خوند ورکوي.

عزيزی- ستا کسان نه، جنرال... ووايه ستا زوی. ته يوازې د خپل زوی غچ غواړې نه د بدل چا ...

د عزيزی په دی خبره جنرال د ډېر خشم او غوسي څخه ولړزيد او په لوړ غږ يې وويل: هو! زه د خپل زوی غچ غواړم او تا قول راکړی و. نو نر اوسه او په وعده دې وفا وکړه!

په حيران نظر مې د هغوی دواړو خواته کتل، عزيزی څه کړي وو چې جنرال يې تر دې حده لېونی کړی و؟ هغه خو ماته ويلي وو چې د الفا کسان خپل لوري ته راکاږي او وخت رانږدې دی چې الفا راونيسي، خو د جنرال خبرې داسې ښکارېدې لکه عزيزی چې هېڅ نه وي ورته ويلې او د هېڅ شئ څخه نه وی خبر .

عزيزی د څو شېبو لپاره د جنرال غوسې ته په خوند وکتل. بيا يې کرار زما خواته نظر راوګرځاوه او په کراره يې وويل: نږدې راشه برهان ..

د هغه په غږ لږ وېرار شوم خو بې‌اختياره ورنږدې شوم. جنرال په غوسي د سترګو له کونجه راوکتل، خو عزيزی په خندا وويل: څنګه چې وينې، د جنرال صيب حوصله خلاصه شوې ده او همدا نن الفا غواړي... نو ښه نه ده چې د يو مشر سړي خبره پر ځمکه وغورځوو کنه؟

د هغه د خبرو په مانا نه پوهېدم، خو د هغه د شيطان نظر په مانا ښه پوهېدم. عزيزی له جنرال سره لوبې کول او ريشخند يې ورباندی واهه، په کراره مې سر وخوځاوه. چې عزيزی يو سپين کاغذ د ميز له سر راواخيست قلم يې وربانديې کېښود، بيا يې په هماغه شيطاني موسکا زما خواته ونيو او ويې ويل: تخو خپل پوهيږې چې متأسفانه زه سواد نه لرم. نو ته دا واخله زه درته د الفا ادرس وايم، ته يې وليکه تر څو جنرال صيب ولاړ شي او په خپلو لاسونو هغه ونيسي.

د عزیزی سترګو ته مې وکتل هغه ریشخند واهه، آدرس همداسي هم ورکول کیدی شو لیکلو ته ضرورت نه و، هغه غوښتل په جنرال ریشخند ووهې او غوښتل یې زه هم دی لوبه کې د هغه سره ګډون وکړم او .. جالب وه زما هم زړه غوښت ورسره دی لوبه کې ملګری شم، جنرال زه لړ نه وم پعذاب کړی نن یې ورځ وه چې د هغه کارونو جبران وکړم که څه هم د یو نظامي او بلخصوص داسې بانفوذ جنرال ځانته دښمن ګرځول بیعقلې وه،خو خپل د وېرې او فکر کولو برخه مې خاموش کړل او د عزیزی دې لوبه کې د هغه سره ملګری شوم. شاید د هغه لیونیانو سپیانو د داړلو اثر و چې داسې لیوني کارونه مې نن کول!

د جنرال مخ ته مې وکتل ژامه یې کلکه نیولې وه. هغه هم شک کړی و خو اوس یې هم فکر کاوه چې شاید عزیزی ورته رښتیا وایې،په پوسخند مې د کاغذ خواته لاس اوږد کړ، قلم مې راواخیست او ومې ویل: که څه هم لاس مې خوږ دی خو د جنرال صیب په احترام یې لیکم.

عزیزی یو نظر زما د لاس خواته راواچو بیا یې په شیطان موسکا وویل: همغه پخواني آدرس دې ...

د هغه مطلب مې واخیست پر شونډو مې پوسخند لا زیات شو، او قصداً مې په غټو تورو لیکل شروع کړل. داسې توري چې د کوټې له بل سره هم ښکاریده، زما د هر توری په لیکلو د جنرال د تندي رګونه له غوسې راوتل، کله چې لیکنه مې بس کړل عزیزی کاغذ زما له لاسه واخیست، یو نظر یې ورباندی واچاوه او په خندا یې وویل: آفرین، غټ دې هم لیکي.

ما هم په بې‌پروا یې اوږه پورته کړه او په مضریت مې وویل: هغه د جنرال صیب سترګې لږ کمزورې دی نو ما ویل لږ په غټ تورو لیکنه وکړم چې ښه واضح یې ویني.

عزيزی زما په خبره ښه په خوند وخندل، لکه چې زما کار سخت خوند ورکړی و!
جنرال يو قدم رامخکې شو.

— تاسو دواړه پر ما ريشخند وهې؟!
ځان مې ناګاره واچو او ومې ويل: نه صيب خدای دی نه کوی، موږ خو ستاسو سره مرسته کوو.

د جنرال لاس له غوسي سوک شو، داسې لکه چې زړه يې غوښتل زما پر مخ يې را ووهې. خو د عزيزی په غږ فکر يې د هغه خواته شو.

- نه نو جنرال قهر مه کوه، واخله ادرس هم وليکل شو لاړ شه الفا ونيسه ..

بيا يې کاغذ د جنرال ومخ ته وغورځاوه.

جنرال د کاغذ خواته دوه سترګي ونيول او ځېره يې له غوسې سره واوښته، ځکه ما  د ادرس لځايه ليکلې وه:

"الفا هغه ځای کېدي چې ستا لاس نه ورسېږي."

عزيزی ناڅاپه په زوره خندا شروع کړل، د هغه پخندا ماته هم خندا راغلل خو د شونډې په چيچلو مې خپل خندا کنټرول کړل، جنرال کرار سر راپورته کړ. د سترګو څخه يې د اور لمبې باديدی.

جنرال- ښــه نو، غواړی داسې لوبه وکړی؟

جنرال يو ځل بيا زما ليکلي کاغذ ته سترګې ونيولې،څو شېبې هماغسې ولاړ و. نه يې څه وويل، نه يې کوم حرکت کاوه يوازې سترګې يې د کاغذ پر تورو ښخې وې، داسې لکه هر حرف چې په زړه کې ساتي.

د عزیزی خندا هم ورو ورو کراره شوه، خو لا یې هم د شونډو په کونج کې موسکا پرته وه. زه هم چوپ ولاړ وم، ځکه فضا ناڅاپه د جنرال په چوپ کېدو بدله شوې وه. جنرال چې څو شېبې مخکې په غوسه چیغې وهلې، اوس بېخي خاموش ولاړ و د هغه دا چوپتیا ماته هېڅ خوند نه راکوه.

څو شېبې وروسته جنرال کرار سر راپورته کړ. لومړی یې زما خواته راوکتل. کتل یې عادي نه و، داسې کتل و لکه زما د مرګ نېټه چې راته ټاکي. د هغه له نظره لږ وېرار شوم، خو ومې نه ښود.له ما وروسته یې نظر عزیزی ته واړاوه او په عجیبه ارامه لهجه یې وویل: ښه ده، لږ تر لږه پوه خو شوم.

ما او عزیزی بغیر د څه ویلو ورته کتل،چې جنرال لاس اوږد کړ، د مېز له سره یې کاغذ راواخیست، تاو یې کړ او جیب ته یې واچاوه. بیا یې نیم نظر زما خواته راواچاو، خو زر یې بېرته واخیست او عزیزی ته یې وویل: اوس پوه شوم چې څوک د چا ترڅنګ ولاړ دي او څوک به د چا سره ژوندی خښېږي!

د هغه په دې ګواښ خپل په کار پښېمانه شوم. جنرال په دولت کې ډېر نفوذ او زور درلود. کاش خپله غوسه مې نه وای ورباندې ایستلې. زه خپل کم دښمنان لرم چې دا مې هم ورزیات کړ؟

خو عزیزی د وېرېدو پر ځای په خندا سګرېټ راوویست او ماته یې د بلولو اشاره وکړه. ما هم بې له څه ویلو سګرېټ ورته بل کړ. عزیزی اوږد کش خپل د سګرېټ څخه واخیست، لوګی یې د جنرال خواته پو کړ او په ریشخند یې وویل: فارسیبانان یو متل لري وایي: راه باز، جاده دراز.

په حیرت مې د عزیزی خواته وکتل. زما فارسی چندان ښه نه وه، لږ لږ پرې پوهېدم خو خبرې مې نه شوې ورباندې کولای. خو عزیزی دا جمله په صافه فارسي وویل نه دری، لهجه یې ډېر ایراني لهجې په انداز وه او زما شک راغلو چې عزیزی شاید یو

وخت ایران ته هم تللې و؟ جنرال د عزیزی په خبره یوازی سر وخوځاوه او بغیر د څه ویلو روان شو.

خو د کوټې دروازې ته چې ورسېد ودرېد. مخ یې زما خواته راوګرځاوه او په کراره لهجه یې وویل: او ته طاها... تا ډېر غلط ځای او غلط کس انتخاب کړی. ډېر ژر به په خپل دې کار پښېمانه شې،خو هغه وخت به ډېر ناوخته وي.

جنرال دا وویل او له کوټې ووت،د هغه له تلو وروسته څو شېبې دفتر کې چوپتیا خپره شوه. کرار مې د عزیزی خواته وکتل. لا یې هم نظر په بنده شوې دروازه و او سکریټ یې واهه کرار مې وویل: فکر کوم هېڅ ښه کار مو ونه کړ.

عزیزی د سترګو له کونجه راوکتل.
– د هغه له خبرو وېرار شوې؟

په تلوار مې وویل: نه، خو داسې وخت کې چې موږ له هرې خوا راګیر یو، د جنرال دښمن کول د هوښیارۍ کار نه دی. هغه لا هم په دولت کې ډېر نفوذ او ځواک لري.

زما په خبرو د عزیزی پورته شونډه د خندا په انداز پورته شوه او کرار یې وویل: ته هغه ته دښمن وایې؟ زه هغه د دښمنۍ وړ لا نه ګڼم. جنرال نور هېڅ نه دی... د هغه سترګې انتقام ړندې کړې دي. د داسې کسانو ملګرتیا د دښمنۍ نه ډېر تاوان لري.

د جنرال خبره مې ذهن کې راوګرځېده. ناڅاپه مې وپوښتل: ته ولې نه غواړې الفا ونیسې؟

عزیزی په دروند نظر راوکتل، داسې چې د یوې شېبې لپاره له خپلې پوښتنې پښېمانه شوم. خو څو شېبې وروسته هغه کرار وویل: الفا که ژوندی وي، یو مصیبت دی... خو که مړ شي زر مصیبتونه دي.

په ګنګس نظر مې وروکتل.
- څه مطلب؟

عزیزی کرار د مېز پر سر ګوتې ووهلې.
– په ښار کې زر ډلې دي واړه، غټ، پټ، ښکاره. نیم یې د پیسو لپاره کار کوي، نیم یې د وېرې لپاره، خو زیاتره یې د الفا د نوم لاندې منظم دي.

نیم نظر یې زما خواته راواچاوه او بیا یې وویل: که الفا ناڅاپه مړ شي، یا ونیول شي، نو دا ټولې ډلې به خپل په سر شي. بیا به هره کوڅه خپل بادار لري، هر سړک کې به جلا مالیه اخیستل کېږي، او داسې مرداري به جوړه شي چې نه به د دولت زور ورسېږي نه د بل چا. هغه وخت به زرګونه خلک مړه شئ ..

څو شېبې مې په سکوت د عزیزی خواته وکتل، خو ناڅاپه خندا راغله.
هغه په ځیر نظر راته وکتل چې ما په هماغه خندا وویل: عجیب ده،یعنې ته اوس د خلکو په غم کې یې؟
عزیزی خپل نیم سوځېدلی سګرېټ په سګرېټ داني کې مړ کړ، لاسونه یې پر سینه کېښودل او ویې ویل: ته شک لرې؟ زه تل د خلکو خدمتګار یم.

د هغه دا خبره دومره خندوونکې وه چې بې‌اختیاره مې په لوړ غږ وخندل.
- ته او د خلکو خدمتګار؟ ته د دې ښار تر ټولو لویه بلا یې.

دا خبره مې د زړه خبره وه، خو بې اختیاره مې له خولې ووتله. او سمدستي پوه شوم چې بد مې وکړل.خو عزیزی یوازې په موسکا راوکتل او ویې ویل: کله کله یوه بلا ښه وي،تر څو د نورو بلاوو مخه ونیسي.

بیا یې خپل مخې ته څوکۍ ته اشاره وکړه.
– کښېنه.

بې له څه ویلو کښېناستم او د هغه خواته مې وکتل. طبعیت یې ښه معلومېده، نو ما هم زړه او جرئت وکړ او ومې ویل: تا ویل چې د الفا ډېر کسان دې خپل خواته کړي او نړدې ده چې هغه ونیسې؟

عزیزی بې له څه ویلو، په درووند نظر او د شونډو پر سر په هغه مرموز موسکا چې هېڅ ډول یې د شونډو څخه نه لرې کېدل راوکتل او سر یې د تایید په توګه وخوځاوه، چې ما وویل: نو ته غواړې لومړی د الفا وېره، زور، پیسې او خلک ورڅخه واخلې، بیا وروسته الفا ووژنې... مطلب غواړې دویم الفا له ځانه جوړ کړې؟

زما په دې خبره د عزیزی سترګې د شیطنت وځلېدې او په خندا یې ځان د مېز خواته راټیټ کړ.
— هوښیار شوی یې خو دا فکر دی غلط دی، زه د هیچا په نوم او شان نه کېږم، زه عزیزی یم او تل به هماغه اوسم.
بیا یې په طعنه لرونکي انداز وویل: رنګ او نوم بدلول ستاسو کار دی، نه زما.

د هغه په دې طعنه مې خوله په خپله بنده شوه. عزیزی چې ولیدل خوله یې را باندې وتړله، نو بحث یې بدل کړ شاته څوکۍ ته یې تکیه ورکړه او ویې ویل: اشرف چېرته دی؟

- حویلۍ کې د ساتونکي سره و.

عزیزی سر د پوهېدو په انداز وخوځاوه، بیا یې زما لاس ته وکتل او په تروش تندی وییل: د هغو موټرو او کسانو په اړه په کوم څه پوه شوې؟ له کوم وخته یې تعقیب کولای؟

په بې‌پروایۍ مې اوږه پورته واچوله او ومې ویل: د واکسین وهلو وروسته، چې له شفاخانې لږ لیرې شوو نو زما پام شو ورته، یو سپین سراچه او بل تور کرولا زموږ پسې وو.

— کسان دې ولیدل؟
- یوازې یو نفر مې ولید او آشنا راته ښکاره شو.
د عزیزی مشکوک نظر ته مې وکتل او ومې ویل: داسې ښکارېده لکه کوم ځای مې چې لیدلی وي! خو پر ځای مې رانهٔ وست.

عزیزی سر د پوهېدو په انداز وخوځاوه، لکه زما خبرو ته چې فکر کوي.
— نمبر پلیټ؟

په خندا مې اوږه پورته واچوله.
- هغه کشمکش کې چې د مرمیو ېزونه او د موټرو ټکرونه وه، ستا زړه غوښتل زه د نمبر پلیټ پسې وګورم؟ او هو، که فرضاً لیدلی مې هم وای، فکر نه کوم په کوم درد مو لګېدلی وای. داسې کسان زیاتره جعلي نمبر پلیټ کاروي.

زما د خبرو په جریان کې عزیزی په مرموز او شیطان موسکا سترګې را باندې ښخې کړې وې. کله چې خبرې مې خلاصې شوې، نو په پوسخند یې وویل: نن د دې پر ځای چې د هغو موټرو د تعقیب له وېرې د اهلي پیشو په شان ولړزېږې او خدای او رسول یاد کړې، لکه نر ولاړ یې د هغه وخت کیسه کوې او خاندې آفرین .. هوښیار او زړور شوی یې ... ښه پرمختګ دی ...

د عزیزی په خبره خپل ځان ته مې فکر شو. هغه رښتیا ویل. نن زه ونه ډار شوم، برعکس ټوکې مې کولې، خبرې مې کولې، حتا مشورې مې ورکولې... او دا ټول د عزیزی له لاسه.په پوسخند مې د هغه شیطان نظر ته وکتل او ومې ویل: تا دومره بلاوې زما پر سر راوړل چې دا مصیبتونه د هغه په مقابل کې راته هېڅ نه ښکاري.

عزیزی څو شېبې بې له څه ویلو په چوپ نظر راوکتل، بیا یې سترګې زما پر لاس ولګېدې.

— لاس دې ښنګه دی؟
د هغه په خبره خپل زخمي لاس ته مې وکتل.

- ښه دی.
— اوږه دې څنګه ده؟
- هغه هم دومره درد نه لري، خو...

خپل وېښتان مې پورته کړل او خپل تندی مې وروښود. د موټر د ښيښې سره د لګېدو له امله، که څه هم پر وينو شوی نه و، خو پړسېدلی و.
په پوسخند مې وويل: دا هم يو نوی يادګار ستا لخوا. تر څو چې ته الفا نيسې، فکر کوم زه بايد خپل قبر وکينم.

عزيزي بې له څه ويلو په تروش تندي راوکتل، چې زه کرار له څوکۍ پاڅېدم او ومې ويل: ښه نو، په اجازه دې زه نور ځم کور ته.

زما د پاڅېدو سره سم عزيزي هم له خپل ځايه راپاڅېد.
— يوازې مه ځه.
- لار مې معلومه ده، دوه قدمه لاره ده.
— لار دې نن يو څو نورو کسانو ته هم معلومه شوې. نو يوازې تګ دې ښه نه دی، زه دې رسوم.

د هغه په دی خبره د هغه کنډ کپر موټر مې په ياد شو او پخندا مې وويل: ستا موټر خو ولاړ، اشرف درته پورزه پورزه کړ، په څه کې غواړې ما ورسوی؟

عزيزي په خندا د کوټې د دروازې خواته روان شو او هماغه حال کې وويل: لکه چې لياده دې وتلی؟ موږ پخپل موټرونه خرڅوو، يو موټر دی، ستا بلا واخلې ...

البته دا اخري خبره يې ډېر کرار وکړه، خو ما واورېده او حيران شوم.
عزيزي هم عجيب انسان و. زه يې هغه شپه د سپيانو قفس ته واچولم، او نن راته وايي: زما موټر دی، ستا بلا واخلي.

فکر کوم عزیزی ضرور کوم عصبي یا رواني مرض لري.
زه خو چندان شانس نه لرم، قسمت کې مې تل لیونیان او اعصابیان دي.

د عزیزی پسې له دفتره ووتلم. لاندې منزل ته چې ورسېدو، عزیزی یو کاریکر ته د موټر د راایستلو وویل. جالب دا و چې هماغه موټر یې راویست کوم چې ما هغه ورځ راخیستی و. همدی وخت کې اشرف هم رانوت او له عزیزی سره په خبرو شو. زه لږ شاته ولاړ وم، نو خبرې مې واضح نه اورېدې. البته زړه مې هم نه غوښت د هغوی خبرې واورم. پوهېدم د هغه موټرو او تعقیب کوونکو کسانو په اړه خبرې کوي.

د زینو ترڅنګ ولاړ وم او د هغوی خواته مې کتل چې غفور کاکا مې خواته راغی.
— څنګه یې، ښه یې؟ راتلو وخت کې مې دومره درپسې غږ کړل، یو ځل دې هم راونه کتل.

د هغه په خبره لږ شرمنده شوم.
- وبخښه، تلوار کې وم پام مې نه شو.

غفور کاکا په مهربانۍ وویل:خیر دی، کومه خبره نشته. (زما د لاس خواته یې وکتل.) اوس څنګه یې؟ ښه یې؟ پرون چې نه وې راغلی، د اشرف زوی څخه مې ستا پوښتنه وکړه. هغه ویل سپیانو داړلی یې او خوړ یې. ویل یې مشر درته یوه هفته رخصت درکړی، نو ځکه نن چې مې دلته ولیدې لږ ورخطا شوم.

خپل لاس ته مې وکتل.
-ښه یم اوس شکر، هو رخصتي یې راکړې وه، خو لږ کار مې درلود، راغلم. اوس هم روان وم تللم.

— ښه ده لاړ شه آرام وکړه. خدای دې دا کوڅه ډب سپیان برباد کړي. چېرته یې وداړلې؟ څوک نه و درسره؟

غفور کاکا یو کس له خدایه غوښت چې د ده خبرو ته غوږ ونیسي، خو ما نن هېڅ د خبرو حوصله نه لرله. خو هغه دومره مهربان و چې زړه مې نه کېده خبره یې ورپرې کړم. همدا چې خوله مې خبرو ته جوړه کړه، د لومړي ځل لپاره عزیزی د نجات فرښتې په شان راورسېد.

— راځه.

د هغه په غږ غفور کاکا ورته سلام واچو عزیزی هم د معمول په شان یوازی سر وخوځاوه او زما څخه مخکې روان شو، ما هم د عزیزی سره کار لرم خبره بهانه کړل او د غفور کاکا سره مې خدای پاماني وکړل خو هغه لږ په مشکوک انداز زما او د عزیزی خواته راکتل، حق یې درلود اخر یو چاي جوړونکي د شرکت د رئیس سره څه کار درلودلې شې؟ په تلوار له دفتر ووتلم.

عزیزی پخپل د موټر شاته ناست و، زه هم مخکیني سیټ کې د هغه ترڅنګ کښېناستم. چې هغه موټر له شرکت وباسه، یو لاس یې په سټېیرنګ و او په بل لاس کې سګرېټ نیولې و.ما د موټر له ښیښې نه بهر کتل، خو اصل کې ټول فکر مې د جنرال خواته و.

د هغه دښمن کول لویه بېعقلي وه. کاش نن چوپ پاتې شوی وایی. که زما خواته راغلی وای، ټول ګناه به مې د عزیزی پر غاړه اچولې وه. او ورته ویلی به مې وایې: چې زما له لاسه څه نه کېږي او مجبور یم. هغه به هم منلې وای... خو اوس؟ نن ما په ښکاره توګه د عزیزی خوا ونیول او جنرال مې ځانته دښمن کړ.

په همدې فکرونو کې وم چې عزیزی بې له دې چې راوګوري وویل:
—ولې دومره چوپ یې؟
په تروش تندي مې وروکتل.
- خپل بدبختیانو ته فکر وړی یم.

عزیزی نیم نظر د سترګو له کونجه راواچاوه، بیا یې وویل:
— د څه بدبختي؟

له عزیزی سره دېرې خبرې کول خپله بې‌عقلي وه. زما د ډېرو مصیبتونو پیل او پای د همده له لاسه و. نو ځکه کرار مې وویل: هېڅ...

عزیزی خپل سګرېټ د کړکۍ نه بهر وغورځاوه او ویې ویل: پوښتنه مې وکړه، د څه بدبختۍ؟
دا ځل نو طاقت مې ونشو او په پوسخند مې وویل: دا زخمونه مې لا نه دي ښه شوي، نو نه غواړم نور وربانديې اضافه کړم.

زما په دې خبره د عزیزی د سترګو د کونج کرښې ژورې شوې او ویې خندل.
— اها... نو مطلب بدبختي دې زه یم؟
مخ مې ورواړاوه او ومې ویل: نه، ته بدبختي نه یې... ستا شتون بدبختي راولي. تر نن مې فکر کاوه بدبختي یوازې الفا، د هغه کسان، ته او ستا کسان دي... خو د نن وروسته باید جنرال هم دې لېست ته اضافه کړم. زه کومه خوا ونیسم؟ د شموئیل قوم لا بل...

ژر مې خبره پرې کړه، خو ناوخته و ځکه عزیزی په مشکوک نظر راوکتل او سر یې وخوځاوه.

— شموئیل؟ دا نو کوم خر دی؟
په تلوار مې وویل: هېڅوک...

عزیزی موټر د څلورلارې خواته واړاوه او کرار یې وویل:
— الفا دې بدبختي ده، دا د منلو وړ ده. زه دې بدبختي یم، دا هم تر یوه حده د منلو وړ ده. جنرال دې بدبختي حساب کړې، که څه هم منطقي نه ده ځکه هغه هېڅ نه شي کولای خو خیر، ستا د کوچني دماغو لپاره هغه هم دښمن صحیح، خو دا

شموئیل څوک دی؟(په مشکوک نظر یې راوکتل) و دې ویل د هغه قوم، قومي دښمني لرې؟

په تلوار مې وویل:
- نه... هغه...

نه پوهېدم څه ووایم؟ یو همدغه بدبختي کمه وه چې عزیزی ته ووایم د پیریانو سره هم لاس په کریوان یم، په دروغو مې وخندل.
- شموئیل مې بدبختي کې حساب نه کړ .. شموئیل زما زوی دی.

عزیزی سمدستي وویل:
— ستا د زوی نوم مګر محمد نه دی؟
بیا مې همغه دروغجن خندا وکړه.
- هو نوم یې محمد دی، مطلب مکمل نوم یې محمد شموئیل دی.

عزیزی په پوسخند راوکتل.
— عجب! تاسو ښه یاست، څلور څلور نومونه لرئ. یعنې ته خپل زوی ته د بدبختۍ په نظر ګورې؟

نور نو ژړا راغلې وه. ماته چا ویلی و چې راشه، عزیزی ته خپل بدبختۍ بیان کړه؟ خاوري دې زما پر سر شي.کوښښ مې وکړ ځان عادي وښیم، که ورخطا شوی وایم عزیزی به لا ډېر مشکوک شوی و.

- نه، ما بدبختي ونه ویل مطلب مې فکر و. محمد... یعنې شموئیل ډېر شوخ دی. پرون مې له ځان سره بازار ته بیولی و، نږدې ټول دوکانونه یې راچپه کړی وایې، یو بایسکل یې غوښت ما ورته وانخیست. اوس مې فکر کاوه چې دا ټول به څنګه سموم، نو ځکه د خبرو منځ کې د هغه نوم مې هم خولې ته راغلو، خدای دې نه کوی چې هغه دې زما بدبختي اوسیږي ...

عزیزی څو شېبې په مشکوک نظر راوکتل، لکه زما په خبرو چې باور نه وی کړی؟ په اندېښني مې ورته کتل چې هغه وپوښتل: نو ولې دې ورته بایسکل وانخیست چې اوس دومره د هغه په اړه فکر کوی چې بیخي بدبختي کی حساب کوی؟

د هغه په دی خبره نامحسوسه توګه مي هوسا ساه واخیسته او ومې ویل: لا ماشوم دی، ځان خوړوی ...

عزیزی نور څه ونه ویل او موټر یې روان کړ. څو شېبې وروسته چې زموږ د کور د کوڅې مخې ته یې موټر و درو، نو زما د ښکته کېدو مخکې یې په کلک غږ وویل: د کور شاوخوا دې ساتونکي یو څه نور هم زیاتوم. البته فکر نه کوم الفا دې دومره بېعقله وي چې تر کور درشي، خو بیا هم احتیاط ښه دی. ته هم خپل فکر ساته.

سر مې د "سمه ده" په نښه وخوځاوه او ښکته شوم، خو د موټر څخه د لرې کېدو مخکې عزیزی راپسې غږ کړل: طبیعت دې ښه ښکاري، دوه ورځې وروسته شرکت ته راشه او هو په تندي دې هم یخ کېږده، پړسوب یې کموي.

په حیرت مې د هغه خواته کتل چې عزیزی موټر روان کړ او لاړ، خو زه تر څو شېبو هملته ولاړ وم او د هغه د موټر تش ځای ته مې سترګې نیولې وه، بیا کرار د کور پر خوا راون شوم. عزیزی یا پوره لیوني دی، یا هم پوره عصبي، رواني مرض لری په دې خبره کې شک نشته، کنه یو انسان څنګه تر دی حد عجیب،غریب اوسیدلې شې؟! البته یو څو کنځل مې هم وکړل زما اراده وه دا یوه هفته د اقرا او محمد سره تېره کړم، خو لکه چې تر څو د عزیزی منحوس حضور زما د ژوند پر شاوخوا وی دا کار ناممکن دی.

کور ته چې ننوتلم اقرا د دهلېز څخه په تلوار راووته. په څېره کې یې اندېښنه وه، خو چې پر ما یې نظر ولګید هوسا ساه یې واخیسته.

اقرا- راغلې؟ ښه یې؟
په خندا مې وویل: هو ښه یم، باور کوی ټول لاره مې ستا چای ته فکر کاوه.

زما په دی خبره اقرا پخندا وویل: کښېنه اوس درته ډوډۍ راوړم.

سر مې وخوځاوه او کښېناستلو حال کې مې وویل: محمد نه دی راویښ شوی؟
اقرا چې د اشپزخاني خواته روانه وه ځواب یې راکړ: نه، لا ویده دی، هغه سهار لخوا ډېر وېدېږي.
- هو، نو خود به ویده کیږي، تر نیمه شپه خو یې موږ خوب ته پرېنخودو.

اقرا همغه موسکا پر خوله سرخان زما و مخ ته غوړاوه او ډوډۍ یې راوړه، د کور دا ساده ماحول د ګرمۍ ډوډۍ بوی ساده چای دا ټول راته له هر لوکس ځای ښه ښکارېدل.

اقرا زما مخې ته کښېناسته.
— واکسین دې وکړ؟
- هو.
— درد خو یې نه درلود؟
پخندا مې وویل: نه دومره کک ستنه وه، تر څو چې ما ورته ځان چمتو کاوه له وخت ډاکټر کړی وه.

اقرا په خفګان خپل سترګې واړولې.
— ته هر څه په خندا تېروې.
که څه هم ډوډۍ ته مې هېڅ زړه نه کیدی خو یوه ګوله مې خولې ته واچول او د چای څښلو حال کې مې په شیطنت وویل: خندا د ژوند مالګه ده.

همدی وخت کې محمد هم راویښ شو او نیم ویده، نیم بیدار حالت کې زما خواته راغی او زما په زنګون راوخوت. د هغه دی کار ته مې خندا راغلل، خو راتګ یې ګټه وکړل خپل ډوډۍ مې ټول پر هغه وخوړل.
تر غرمې پورې په کور کې وم. د محمد سره مې ساتیری وکړ، د اقرا سره مې خبری

وکړل خو ټول موده فکر مې د هغې ناڅاپه حرکاتو ته و چې کله ناکله به یې خپل تشې نیو، د غرمې د لمانځه وروسته ورباندې مې غږ کړل.

- اقرا، تیاره شه.
هغې د آشپزخانې څخه سر راښکاره کړ.
– چیرته؟
- ډاکټر ته ځو.
هغې سمدستي انکار وکړ.
– نه ... یعنې ضرورت نشته زه اوس درد نه لرم ښه یم.

د هغې دا حالت هېڅ خوند رانکړ داسې وېرېدلې وه ته وا کوم شې چې پټوي؟ او همدی حالت یې زه هڅولم چې خپل خبره په کلک وکړم.

- زه هم پوهیږم چې ښه یې، خو ډاکټر ویل هر دوه میاشتي وروسته باید یو ځل چک اپ وکړو، زه هم نن بیکار یم نو راځه چې لاړ شو

اقرا- او .. اوس ضرورت نشته، یو بل وخت به لاړ شو.
- ضرورت شته. ستا د ګردې خبره ټوکه نه ده، شابه ژر کوه.
هغې غوښتل بیا څه ووایي، خو زه ورننوتې شوم او په کلک مې وویل: ومې ویل ځو یعنې ځو، زما سره خبره یو پر دوه مه کوه.
اقرا څو شېبې راوکتل، خو کله چې زما اراده یې کلک ولیدل نو کرار یې وویل: سمه ده.

محمد چې زموږ خبرو ته تر اوسه غوږ و، په خوشحالۍ چغه کړه:
– بادال ته دوو زه ام دم.(بازار ته ځو، زه هم ځم!)

د هغه خبرو ته مې خندا راغله.
- نه، بازار ته نه ځو او تا هم په دې خبرو هېڅ ځای نه وړم، خلک به وایي دا څنګه ګونګي هلک دی!

محمد په غوسه خپله پښه پر ځمکه ووهله.
— نې ..زه دم.
- نچ، ته به نن د انا او نیکه سره پاتې کېږې.

محمد مې د استاد په کور کې پرېښود. که څه هم لږ یې وژړل خو پروا مې ونه کړه، د محمد وړل د شفخاني ماحول ته هېڅ ښه نه وو.موټر مې ونیو او روان شوو.

ډاکټر ته چې ورسېدو، کلینیک نسبتاً ارام و. دا یوازې د ګردې متخصص و، د اقرا عملیات همدغه ډاکټر کړی و. کله چې ورننوتلو، زموږ مخکې یو دوه نور کسان وو. یو یې ځوان هلک و، له خپل ورور سره راغلی و. ویل یې یوه میاشت مخکې یې ګرده غورځولې او اوس راغلی تر څو پایپ وباسي.

دا پایپ ما ښه پېژاند. په افسوس مې ورته کتل. ځوان هلک و، شاید شل-یویشت کلن به و، خو دومره ډنګر و چې اوږې یې راوتلې وې.
اقرا هم دوه سترګې د هغه د پیپ خواته نیولې وې،شاید هغې ته هم هغه وختونه په یاد راغلې وه!؟

هلک چې د ډاکټر کوټې ته ننوت، څو شېبې وروسته یې د چیغو غږ پورته شو. د اقرا خواته مې وکتل، سترګې یې وترلې او ځان یې راټول کړ.

ما هغه پایپ لیدلی و،یو لویشت په تشه کې ننباسي کله چې د یو میاشت وروسته یې راباسي بغیر د کوم بې هوښی یا بی حسې راکش کوی او بیحد درد لری، که څه هم تجربه کړې می نه و خو د اقرا حالت مې په یاد دی چې هغه ورځ څنګ وتپیدل د درد له لاسه. د څو دقیقو وروسته هلک تک ژیړ رنګ نیولې له کوټې راووت، ورور یې د اوږی نیولې و، د هغه د وتلو سره سم موږ کوټې ته ننوتلو.

ډاکټر عمر خوړلی سړی و، عینکې یې د پوزې پر سر ایښې وې. زموږ له کښېناستو سره سم یې یو نسخه او معاینات ولیکل او ویې ویل: دا ټول ټېسټونه وکړئ، بیا راشئ.

نسخه مې واخیسته او له کلینیکه ووتلو. په یوه ساعت کې معاینات خلاص شول او نتیجې مو ډاکټر ته راوړل.
ډاکټر د ورقو په لیدو جدي شو. د څو شېبو ورقو اخوا،دیخوا کولو وروسته یې وویل: تاسو ولې احتیاط نه دی کړی؟

ما په تلوار وویل: څنګه احتیاط؟ مور خو ډېر احتیاط کړی.

ډاکټر سر وخوځاوه:
– نه، واضح ده چې احتیاط نه دی شوی. ګرده ډېره اغېزمنه شوې ده، میکروب یې نیولې او تر یوې اندازې ډېره هم پکې جوړه شوې ده.

د "ډېرې" په نوم زما او د اقرا ساه سینه کې بنده شوه. نیم نظر مې د هغې ته واچاوه. او ډاکټر ته مې وویل: مور خو ډېر احتیاط کړی، څنګه امکان لري؟

ډاکټر عینکې سمې کړې او ویې ویل:
– خاموشه ناروغي همداسې وده کوي. ما ویلي وو چې هر دوه یا درې میاشتې وروسته باید معاینات وشي، تر څو معلومه شي چې بدن نوی ګرده منلې که نه؟ او د هغه څنګ کې دا کمزوری ګرده هم د ځار لاندې ونیسو، خو اوس ته وګوره خبره له میکروبه تر ډېرې رسېدلې او تاسو تازه فکر شو چې راشې ..

په ویښتانو کې مې لاس تېر کړ او په اندیښنه مې وویل: دوه میاشتې مخې راغلې وه، خپل د پلار سره تاسو ویلې وه کوم ستونزه نشته اوس ناڅاپه څه وشول؟ مور خو ډېر احتیاط کړی، تاسو ویلي وو د یو کیلو څخه دې زیات وزن نه پورته کوئ، لوبیا، نخود او داسې شیان دې نه خورئ، اوبه دې ډېرې څښې مور دا ټول خبرې مراعات کړې وه، بیا نو دا ډېره له کومه شوه؟

ډاکټر چې په دقت زما خبرو ته غوږ نیولې و کرار یې وویل: دوا! ما ویلي وو له اجازې پرته هېڅ دوا مه کاروئ. هغه څنګه؟ دا څو وخت کې کومه دوا خوړلې؟

د ډاکټر په دی خبره سمدستي مې د اقرا خواته وکتل، په تمه وم چې د دی خبری څخه انکار هغه وکړی، اقرا چې زما او د ډاکټر نظر پر ځان ولید، خپل بکسه یې غیږ کې کلک ونیول او په لړزیدونکي غږ یې وویل: ی... یو دوه پاکټ ګولې مې خوړلې ..

د اقرا په خبره سترګي مې د حیرت پراخي پاتي شوی، ما ورته ویلې وه بار،بار مې هم ویلې وه که درد لری ما ته وو‌ایه خو خپل په سر به کوم دوا او ګولې نه خوری او دا وایې دوه پاکټ ګولې مې خوړلې! اقرا زما خواته نه راکتل سر یې ښکته نیولې و.
ډاکټر په افسوس سر وخوځاوه او ویې ویل: کوم ګولې دی خوړلې؟

د اقرا څخه مې نظر واخیست او میز ته مې کتل شروع کړل، بیا یې خپل په سر د درد ګولې خوړلې وه خو ماته یې نه و ویلې ولې؟ خپه وم .. خپه نه چې د چاودني پر حال وم ذهن کې مې زر خبرې اخوا،دیخوا کیدل خو په چوپه خوله ناست وم او په تمه وم چې هغه وو‌ایې د درد کوم ډول ګولې خوړلې خو ... د اقرا په خبره که وو‌ایم نفس مې لاړ دروغ به نه وی ...

په یو تلوار مې د هغې خواته وکتل چې مغزی مې رګ،په رګ شو.
اقرا په داسې غږ چې په زرو اوریدل کیدی وویل: د .. د ماشوم کیدو دوا وه ..

- څه دی وویل؟

زما په غږ اقرا په ویره ځان په څوکي کی راټول کړ، ما خپل په غوږونو باور نه کیدو، فکر مې کاوه غلط مې اوریدلې، خو د ډاکټر په پوښتنه او د اقرا ډاریدلې ځوابونو پوه کړم چې څه قیامت مې پر سر راغلی او زه بیخبریم.

ډاکټر- څومره وخت کیږی چې کاروی؟
اقرا- د .. دا یې دریم اوونۍ ده ..
ډاکټر په قهرجن لهجه وویل: ته د یو ګوردی غورځولو او د بل میکروبي اوسیدلو باوجود څنګه دومره ژر د ماشوم کېدلو دوا کاروی؟ ته پوهیږی دا ډول دواګانې د یو

@Shuhab09

نرمال کس لپاره لا خطرناک دی او باید د بشپړ څار لاندې وکارول شي. تا چې ګرده له لاسه ورکړې تخو باید زر چنده پام وکړې، ماشوم مهم دی که ستا صحت؟ هان؟!

بیا یې زما خواته مخ کړو او په خبرو شو، خو ما هېڅ نه اورېدل، خبرې راته د لرې غږونو په شان راتلل او تېرېدل. سترګې مې په یو ځای خښې وې، خو ذهن مې بل ځای روان و. ما دا څو میاشتو کې اقرا نه له کور بهر وړی وه او نه هم د بل چا سره د تللو اجازه مې ورکړې وه، نو دا دوا دې له کوم خوا کړل؟ چا ورته راوړل؟ ولې زما بې اجازې استعمال کول؟

ډاکټر لا هم خبرې کولې، خو ما یې یوازې د خولې خوځېدل لیدل. د "احتیاط" "ناروغي" دوا "ډېره"ماشوم" خطر" دا ټکي مې کله ناکله د هغه له خولې اورېدل خو واضح نه پوهیدم چې څه وایي؟

په ذهن کې مې یوازې یو فکر بیا بیا راګرځېده:
ولې دا کار وکړ؟ ولې له ما پټ کړ؟

د اقرا لاس ته مې فکر شو چې د بکس لاستي یې کلک خپل د ګوتو تر منځ نیولې و او سره تاو کاوه یې، داسې لکه خپل ځان ته چې سزا ورکوي.

ډاکټر خپل عینکې سمې کړې او کرار یې وویل: اوس حالت جدي دی. باید سمدستي دوا بنده شي، او منظم څار ته اړتیا لري، زه هېڅ دوا نه لیکم ځکه دوا ستا د ګردی لپاره لکه زهر دی، یوازې ویل شوی شیان مراعات کړې، دوا په قطعي توګه بند کړې. که سالم بدن او روغ صحت غواړې نو لومړۍ مې هم ویلې وه اوس بیا هم وایم تر پنځه،شپږ کالو د ماشوم راوړلو فکر لا مه کوی، کله چې روغه شوی د هغه وروسته د ماشوم دوا وکړه خو هغه هم د یو قابل ډاکټر تر نظر لاندی نه خپل په سر ...

د ډاکټر خبرې چې خلاصې شوی لومړۍ زه له ځایه پورته شوم، ډاکټر ته مې سر وخوځاوه او له کوټې ووتلم اقرا هم زما پسې راروان شوه.

د کلینیک د دهلېز هوا بیحد راته درنه ښکاریدل، خلک تلل، راتلل، خبرې یې کولې، خو زما لپاره ټول غړونه او خبرې بې معنا وې. د کلینیک څخه چې بهر ووتلو ژوره ساه مې واخیسته او بغیر له دې چې د اقرا خواته وګورم یا کوم څه ووایم موټر مې ونیو  او د کور آدرس مې ورکړ. موټر د ښار په ګڼه،ګوڼه کې روان و هر کس خپل د کار پسې و ژوند د څو ساعتو مخکې په شان روان و خو زما ذهن ...

زما ذهن د ډاکټر په کوټه کې د اقرا په خبره کې بند پاتي و، دومره مې فکر خراب و چې بې اختیاره مې مخ د هغې خواته چې سترګي نمجني وه وګرځو او ومې ویل:
ولې دی ماته ونه ویل؟ چا ته ډاکټر ته بوتلې وی چې هغه دوا یې درته لیکلې وه؟
(کرار،کرار غوسه راباندی غالب کیدل او خپل کنټرول مې له لاسه ورکو) خبری وکړه د چا په اجازی د چا سره تللې وی اقرا هـــان؟

اقرا د وېرې او وحشت څخه په راوتلو سترګو او په بند،بند لهجه وویل: چ ... چغي مه واهه طاها .. م ... موټر کې یو ..

د هغې خبره صحیح وه موږ بیرون و د پردې کس موټر کې و او هغه دوه سترګي د هینداری څخه زموږ خواته نیولې وه، عقل او منطق حکم کاوه چې خوله بنده ونیسم، او رسوای جوړه نکړم. خو دومره غوسه وم چې نه مې شو کولای ځان کنټرول کړم.

- ما ته نصیحتونه مه کوه، خوله خلاصه کړه وایم د چا سره تللې وی؟
اقرا په لړزیدونکي غږ وویل: د ... د ادی سره ...
لاس مې موټ شو او غاښونه مې سره وچیچل.
- د ادی سره دی؟ ښه ده ... ډېر ښه ده، د چا په اجازه تللې وی؟

اقرا د ډېر وېرې څخه لړزېده. د هغې د دې حال په لیدو که څه هم سخت غوسه وم، خو ژوره ساه مې واخیسته او د شونډو لاندې مې کرار وویل: لعنت دې په شیطان وي... استغفرالله ... استغفرالله و اتوب الیه...

چوپ شوم، خو دا چوپتیا موقتي وه. اقرا هم لکه چې په دې خبره پوه وه، ځکه هره شېبه یې راکتل او سترګې یې له اوښکو ډکېدلې، خو ما ورته هېڅ توجه ونه کړه. د کور کوڅې ته چې ورسېدو نه پوهېږم د موټر کرایه مې څنګه حساب کړه. په تلوار ښکته شوم او د استاد د کور خواته روان شوم. اقرا هم زما شاته راروانه وه او زارۍ یې کولې، خو ما یې یوه خبره هم نه اورېده.

د کور دروازه مې په زور خلاصه کړه. دومره غوسه وم او زړه مې ډک و چې لاسونه مې لړزېدل. ذهن کې مې یوازې یوه خبره ګرځېده: تا ځان د دې لپاره مرګ ته ورکړ، او دې ستا بې اجازې داسې کار وکړ...

دننه چې ننوتم، د اقرا مور په حویلي کې ناسته وه او ماش یې پاکول. زموږ په لیدو ورخطا شوه، د ماشو غاب یې څنګ ته کېښود او د راپاڅېدو په حال کې یې وویل: خدای دې خیر کړي، څه شوي؟

اقرا زما اوږه کلکه ونیوله او په زارۍ کرار وویل: چې څه ونه وایم، خو ما په غوسه خپل اوږه د هغې له لاسه وایسته او د مور خواته یې ورنږدې شوم.

- د چا په اجازه؟

د اقرا مور زما د خبرو په مطلب پوه نه شوه. په ګنګس او اندېښمن انداز یې وویل: څه د چا په اجازه زویه؟

ناڅاپه غوسه مې خپل اوج ته ورسېده.
- وایم د چا په اجازه دې زما ښځه ډاکټر ته وړې او دوا دې ورته اخیستې؟ هان؟
د اقرا مور لکه ګونګۍ شوې چې وی، څو ځله یې خوله خلاصه او بنده کړه، خو د ډېرې وېرې او ورخطایۍ څخه یې غږ نه راوت.

اقرا چې د خپلې مور حال ولید، یو ځل بیا یې زه په زارۍ د اوږې څخهه ونیولم.
— مه کوه، ته و قرآن جنګ مه جوړوه طاها... ارام اوسه...

په غوسه مې له ځانه لرې کړه.
- زه ارام اوسم؟ څنګه ارام شم؟ تا مګر ماته د ارامېدو کوم دلیل پرېښی چې وایې ارام شه؟

زمور په چغو،پوغ استاد په تلوار له کوټې راووت، ورسره یې دوه لوڼې هم راووتي. استاد په حیرت زما، اقرا او خپلې ښځې خواته کتل د څو شیبو وروسته زما خواته یې سترګې ونیول او ویې ویل: څه شوي محمد طاها؟ ته ولې داسې چغې وهې؟

زړه مې نه غوښتل استاد ته بې‌احترامي وکړم، خو نور مې حوصله ختمه شوې وه. داسې احساس مې کاوه چې زما دومره سختۍ، ستونزې او قربانۍ ټولې بې‌معنا او پوچ وې.

- څه شوي؟!
د اقرا د مور خواته مې لاس ونیو او په پوسخند مې وویل: خپل د ښځې څخه پوښتنه وکړئ چې څه شوي؟
د استاد تندی زما په لوړ غږ تروش شو.
— سمه خبره کوه.
د ډېرې غوسې نه مې خندا راغله.
- سمه خبره؟ سمه خبره دا ده چې ستا ښځې زما له اجازې پرته دا...
اقرا مې د لاس څخه ونیوله او د مور خواته مې ورټېله کړه.
- دا بې‌عقله یې ډاکټر ته ورې، تر څو په خپل ګومان د خپل لور ژوند ورته ګل ګلزار کړې.

لږ چوپ شوم تر څو خپل غوسه کنټرول کړم، خو نه کیدل، هر څومره چې مې کوښښ کاوه خپل ځان مې نشو کنټرول کولای.

- د ماشوم دوا یې ورته له یو ناپوه جاهل څخه اخیستې، او دا درې اوونۍ کېږي زما له خبرولو بغیر په پټه باندی دا دوا استعمالوي! نن مې ډاکټر ته وړې وه پوهېږي

ډاکټر راته څه ویل؟

د استاد دروند نظر ته مې وکتل او د ډېر غوسي څخه مې پخندا وویل: ویل مبارک دې شه د اولاد په دوا دې خپل ښځه په خپل لاس د مرګ کندې ته ټېل وهلی ده.

زما په دې خبره د استاد سترګي د حیرت پراخې شوی، او د هغه سره سم د اقرا او د مور ژړا یې هم پورته شوه.

استاد خپل د ښځې خواته ورنږدې شو او کرار یې وویل: محمد طاها رښتیا وایي؟ تاسو دواړو بې اجازې داسې کار کړی؟

د اقرا مور په ژړا وویل: ما .. ما یې خیر غوښت... زه نه وم خبره چې داسې کېږي... ټولو ورته د اولاد طعنې ورکولې، هر چا یو خبـ ..

پرې مې نه ښوده چې خپل خبره پوره کړې او په غوسه مې وویل: هر چا غول خوړل چې طعنه یې ورکوله! دا دې بیخي طعنه ورکړې وای، نو ته ځې وژنې یې؟

اقرا مور- زه نه وم خبره چې دوا ورباندې بد اثر کوي...
د اقرا خواته مې وکتل چې د خپلې مور غېږ کې یې ځان پټ کړی و.
- سمده ته نه وې خبره، ته څنګه؟
زما په غږ اقرا نور هم د مور غېږ ته ننوته، خو ما یې لاس راکش کړ.
- مور دې نه وه خبره، ته خو خبره وې کنه؟ ته خو پوهېدې چې ډاکټر څه ویلي و، بیا ولې ولاړې؟

اقرا په ژړا کوښښ وکړ خپل لاس راڅخه خلاص کړي.
— پرې مېږده طاها... ته و قرآن په کراره مې پرېږده...

د هغې دا خبره دومره بده راباندې ولګېده چې بې اختیاره مې لاس ورڅخه خوشی کړ.

- پرېږدم دې؟ ما ځان ستا لپاره مرګ ته ورکړ، چې اخر ته د يو حرم*ی د راوړلو لپاره ماته وايې پرېږده مې؟!

اقرا چې وليدل ما يې خبره غلطه معنا کړه، نو د ژړا په حال کې يې غوښتل وضاحت راکړي، خو ما غوږ ورته ونه نيو.

- سمه ده... په کراره دې پرېږدم... زما له خوا ..

چوپ شوم خو غوښتل مې طلاق ورته ووايم.دا هغه لفظ و چې هغه دقه کې شيطان اعصابو او خوله کې راواچو خو د ويلو مخکې، استاذ زما په اراده پوه شو او په غوسه يې راباندی غږ کړل او زما خبره يې خوله کې وچه کړل.

— بنده کړه خوله دې، طاها...!

د هغه په غوسه ناکه لهجه تازه په خود راغلم. ما... ما غوښتل څه وکړم؟
اقرا په راوتلو سترګو له حيرته راکتل، داسې لکه روح چې د بدن څخه وتلی وي. مور او خويندې يې هم په ژړا او حيرت راکتل، د هغوی حال ته مې چې وکتل، لکه تازه چې عقل مې سر ته راغلی وي.

استاد د لاس څخه کش کړم او له کوره يې وويستلم.
— وځه، د کوره وځه طاها ...

د دروازې څنګ ته چې ورسېدو، اقرا مې وليده چې د مور په غېږ کې راولوېده. د هغې په ولېدو د خويندو او مور چيغه يې پورته شوه.

بې اختياره مې ځان د هغې خواته کش کړ، خو استاد پرېښښودم. په غوسه يې د کور له دروازې وويستم.

— وځه، له کوره وځه طاها...
- اقرا...

استاذ په غوسه وویل: هېڅ نه دي وربانديږ شوي، خو که ته بېعقل دلته پاتې شې، ډېر کارونه به وکړې. زه... لاړ شه. هر کله چې دې غوسه سړه شوه، راشه. خو تر هغه چې دې غوسه نه وې خلاصه شوه دیخوا دې ونه وینم. زه خپله د دواړو سره خبرې کوم.

که څه هم استاد زه په زور له کوره وشړلم، خو لهجه او خبرې یې د جنګ نه وې. کله چې یې دروازه زما پر مخ وتړله. پوه شوم چې څه بد مې وکړل او خپل سر ته مې ټک ورکړ. دا ما څه وکړل؟ ولې مې داسې خبره وکړه؟ خدایه، دا څه خاوري مې پخپل سر واچولې؟

زړه مې غوښتل بېرته کور ته ننوځم او له اقرا څخه بخښنه وغواړم، ورته ووایم چې زما اصلاً داسې اراده نه وه، د هغې ناباوره نظر، هغه شیبه چې هغه منحوس لفظ مې تر خولې نړدی و راووځې،یوه شېبه مې هم له سترګو نه لیرې کېده.لکه لېونیانو په شان د استاد د کور مخې ته ګرځېدم. څو ځله مې دروازه هم وټکوله، خو استاد خلاصه نه کړه.

د بدن تودوخه مې دومره لوړه شوې وه چې سمه ساه مې نه شوه اخیستی، خپل د ګریوان یو دوه تنۍ مې خلاصي کړې خو کوم ګټه یې ونکړل، بدن مې اور کې سوځېد، سر مې داسې درد کاوه چې احساس مې کاوه هره شېبه امکان لرې د سر رګونه مې وشلېږي.

د استاد د دروازې مخې ته ناست وم او لکه لېونیانو په شان له ځان سره غږېدم. نه پوهېږم تر څومره وخته هلته وم، خو نه د استاد د کور دروازه خلاصه شوه او نه هم زما د جنون حالت کرار شو.له ځایه پاځېدم او روان شوم.دلته نور نه شوم پاتې کېدای. پوهېدم چې استاد دروازه نه خلاصوي او که فرضاً یې خلاصه هم کړي، اجازه به را نه کړي دننه لاړ شم. اصلاً که دننه هم لاړ شم څه ووایم؟

@Shuhab09

همداسې بې هدفه کوڅه کې روان وم،ولې مې خپل ځان کنټرول نه کړ؟ که استاد مې خبره کې نه وای راولیدلې، څه خاوري به مې پر سر شوې واې؟ولې مې دا موضوع په کراره، د خبرو له لارې حل نه کړه؟ولې مې د وحشیانو په شان د هغوی پر کور حمله وکړه او دومره سپکې خبرې مې وکړې؟

ولې؟
ولې؟
ولې؟

ذهن مې د ډېرو فکرونو ښخه د چاودېدو په حال کې و،باید له یو چا سره خبرې وکړم، باید دا هر څه یو چا ته ووایم. کنه د ډېر فکرونو څخه سکته وهم، په دې فکر د زبیر د کور لاره مې مخ ته ونیوله او روان شوم ...

د ماښام د آذانو وخت و چې د هغه د کور مخې ته ورسیدم، د دروازې مخې ته یې ولاړ وم خو دروازه ټکولو ته زړه نازړه وم، خو چیرته تللې وایې؟ کور خو مې پر غم ولړو، ذوالفقار خو راښخه خپه و، د بابا کور ته خو تللې نشوم نو چیرته لاړ شم؟ که د زبیر سره مې هم خبرې نه وایې کړې مړ کېدلم، په دی فکر د کور دروازه مې کرار وټکول، څو شیبې وروسته زبیر پخپل د کور دروازه خلاصه کړه زه یې چې پر هغه بد حال ولیدم ورخطا شو.

زبیر- څه شوی طاها ښه یې؟
- کور ته مې نه پرېږدې؟
زبیر- نه، مطلب ولې نه راځه خو څه شوی دا خو ووایه.
بغیر د څه ویلو ورپسې ننوتلم چې زبیر مې مخې ته ودرېد او کرار یې وویل: بیخې پر بد وخت راغلې.

د هغه په دی خبره لومړی فکر مې چې ذهن ته راغلو هغه دا و چې د هغه کوژدنه راغلې، نو ځکه ودرېدم او ومې ویل: وبخښه، نه وم خبر چې بیکار نه یې، زه به لاړ

شم.
زبیر په غوسه وویل: مرض، مطلب مې کار او بیکاری نه ده، ستا طبعیت چندان ښه نه راته ښکاری او ذوالفقار دلته دی.

د ذوالفقار د نوم په اوریدو سترګي مې وترل.
- اوس نو بیخي ځم.
زبیر کلک له اوږی ونیولم.
— بد کوی چې ځې، څه دښمن خو دی نه دی. صحیح دی چې یو څه یو دبل څخه خپه یاست خو دا مانا خو نه لری چې بیخي یو بل سره مخامخ نشې راځه.
- نه، پرېږده نن چندان حوصله نه لرم زه به لاړ شم غوره به وی.

غوښتل مې لاړ شم خو زبیر کلک له اوږی ونیولم او په زوره یې د میلمستون خواته چیرته چې ذوالفقار ناست و کش کړم، خو د ننوتلو مخکې کرار راته وویل: کله چې دننه ننوتلو پوهیږم چې یو دبل څخه دا څو وخته لږ خپه یاست او ستا حالت هم نن چندان ښه نه دی، خو یو سلام وربآندی واچوه خپل خو پوهیږی چې ذوالفقار په دی موضوع باندی یو څه حساس دی.

سر مې وخوځاوه او کرار د هغه په څنګ کې کوټې ته ننوتلم، ذوالفقار په تروش تندی ناست و خپل پیاله چاي ته یې کتل چې ما کرار سلام وربآندی واچو. زما په غږ په تلوار یې سر راپورته کړ.

څو شیبې په ځیر راوکتل خو زما د سلام ځواب یې رانکړ. نه پوهېږم قصداً یې رانکړ، یا که زما په لیدو دومره حیران شوی و چې ځواب راکول یې له یاده وتلي وو. خو په هر حال ځواب یې رانکړ. ما هم څه ونه ویل او له هغه څخه په ښه لرې واټن کې کښېناستم.

زبیر نیم نظر زما او بیا د ذوالفقار خواته واچاوه او د ماحول د بدلولو لپاره یې په خندا وویل: له ډېر وخت وروسته درې واړه یو ځای شوي یو، زما منځ نن شپه

همدلته پاتې شئ، د مجردۍ د وخت یاد به وکړو.

ما خو دومره اعصاب خراب وو چې یوازې ورته ومې کتل، خو ذوالفقار وویل: زه بیکار نه یم، باید کور ته لاړ شم.
زبیر- عه ذوالفقار! نېشه کې تېشه مه وهه.
ذوالفقار- خبره د نېشې او تېشې نه ده، کور کې څوک نشته، باید لاړ شم.

زما ذهن دومره خراب و چې نظر مې ورڅخه واخیست او خپل په فکرونو کې ډوب شوم، نه پوهېږم زبیر څه وویل او ذوالفقار څه ځواب ورکړو، خو یو وخت د زبیر په غږ چې ماته یې نارې وهلې، په ګنګس انداز مې سر پورته کړ.

- ها؟ ما ته دې ویل؟
زبیر- هو، هغه ما ویل په دې لاس دې څه شوي؟
- لاس؟

خپل لاس ته مې وکتل او تازه مې په یاد راغلل چې لاس مې په پانسمان ترلې، سر مې چې پورته کړ، د ذوالفقار دوه سترګې مې پر ځان ولیدې چې په مشکوک او ځیر نظر یې راکتل.

- هېڅ، هسې لږ خوږ شوی.

زبیر هم لکه چې پوه شوی و چې دا بحث کشول چندان ښې پایلې نه لری، نو ځکه ژر یې سر و خوځو او بل بحث یې راوخیست. زه بیا چوپ کښېناستم. حتا هغه پیاله چای چې زبیر راته ډکه کړې وه، هغه مې لا ونه څښله. پر خپل راتګ سخت پښېمانه وم، زړه مې غوښت بېرته لاړ شم.خو زما د کوم کار نه مخکې ذوالفقار له ځایه پاڅېد، د هغه په پاڅېدو زبیر په تلوار وویل: ولې پاڅېدې؟ لا خو ماښام نه دی شوي ډوډۍ خو وخوره، که شپه نه کوې.

ذوالفقار نیم نظر زما خواته راواچاوه او د روانېدو په حال کې یې وویل: لاړ شم تر څو تاسو راحت اوسئ او خبرې وکړئ.

د هغه مطلب مې واخیست، خو څه مې ونه ویل. زبیر یو څه ست وربانده وکړل، خو ذوالفقار بې له ځواب ورکولو له کوټې ووت. که څه هم دواړه له کوټې وتلی و او دروازه یې هم بنده کړی وه خو ما یې غږ واورېد چې کرار یې له زبیر څخه وپوښتل: څه وربانديې شوي؟

زبیر- هېڅ، هسې لږ اعصاب یې خراب دي.
ذوالفقار- واقعاً؟ خو زه فکر کوم د لږ څخه یو څه ډېر یې اعصاب خراب دي؟!
زبیر- زه هم نور نه یم خبر چې څه شوي؟
ذوالفقار- ته څنګه ملګری یې چې خپل د ملګري له ستونزې نه یې خبر؟
زبیر هم چوپ پاتې نه شو او همغه شېبه یې د ذوالفقار طعنه په طعنې ځواب کړل.
— ته څنګه کاکا یې چې خپل د وراره له ستونزې نه یې خبر؟
ذوالفقار- ښه پوښتنه وه. زه ځم تر څو تاسو خبرې وکړی، بیا خبر راکړه چې څه شوي؟
زبیر- سمه ده، زنګ درته وهم.

د دې خبرو سره سم غږونه کرار شول، بیا د دروازې غږ راغی چې د ذوالفقار د تلو خبر یې راکړ. د ذوالفقار په تلو خوشحاله شوم. کولای مې شول زبیر ته د زړه خبره وکړم او زړه مې لږ سپک کړم، خو د ذوالفقار وروستۍ خبره چې ویې ویل: بیا خبر راکړه، زړه نا زړه کړم که زبیر ته ووایم او هغه ذوالفقار ته ووایي بیا؟

څو شېبې وروسته زبیر کوټې ته راننوت، زه هماغسې په فکرمند انداز ناست وم، چې زما څنګ ته راغی او کېنېناست.

زبیر- څه شوي طاها؟ ته ولې نن داسې پر بد حال یې؟
- هېڅ.

زبير- زما خوله مه خلاصوه، واضح خبره ده چې یو مرګ شوی، ووایه څه شوي طاها؟ کنه سکته کوم او په غاړه کېدي لوېږم.
- اوس د خبرو حوصله نه لرم، یو بل وخت به ووایم.

د دې خبرې سره سم غوښتل مې پاڅېږم چې زبیر له اوږې ونیولم او په زوره یې کښېنولم.

زبير- بد کوې یو بل وخت یې وایې، همدا اوس خوله خلاصه کړه، زما خو دې زړه راوچاو.

لږ مې فکر وکړ بیا مې وویل: لومړی قول راکړه که درته ووایم نو ته به ذوالفقار ته څه نه وایې.
زبیر په تلوار وویل: بیا تا څه بد کړي چې ما قسم خورده کوې چې ذوالفقار ته څه ونه وایم؟(زه یې څواب ورکولو ته پرېنخودم او په وېره یې وویل: بیا کوم څوک درپسې دي چې و دې وژني؟ هان؟ هغه... هغه کس څه نومېده؟ عزیزی! هغه درته کوم ګواښ کړی؟ څه شوي طاها، خبرې وکړه.

- نه، هغه موضوع نه ده... ما...

چوپ شوم. نه پوهېدم دا خبرې ورته کول صحیح دي که نه؟ زما په چوپ کېدو زبیر په غوسه شو.

زبیر- تا څه مرګ؟ تا څه کړي؟
- ذوالفقار ته به نه وایې.
زبیر چې زما په دې خبره غوسه شوی و، په قهر یې وویل: نه وایم مړ شې، هېڅ نه ورته وایم. خبره دې وکړه.

د زبیر په قول تر یوه حده باور کېدلی شو. البته که ذوالفقار ګواښولی او مجبور کړی نه وای، کوم څه یې نه ورته ویل. په دې فکر ورته شروع شوم، د نن ورځې کړې

خبرى، جنګونه،فکرونه، شکونه څه چې مې په زړه کې و هغه ټول مې زبير ته وويل.

کله چې خبرې مې خلاصې شوې، زبير په خلاصه خوله راوکتل.
زبير- تا... تا د دومره ورې خبرې لپاره دومره غټ غ*ل وخوړل؟!
اوس چې د زړه خبرې مې کړې وې، لږ مې د زړه بوج سپک شوی و.

- خولې سره دې پام کوه.
زبير- پام وکړم؟ وام! ستا د خسر له ځايه زه وايې، لاس نه چې په لغته مې وهلی او له کوره مې شړلی، دا نو څه کار و چې تا کړی؟
- دومره خبره مه کش کوه زبير، ومې ويل ناڅاپه غوسه شوم، اوس خو... (د طلاق نوم مې نشو اخيستی د هغه لځايه مې وويل: کوم څه نه دي شوي.

زبير په غوسه يو دوه ټکه په سر او اوږه ووهلم.
— نه دي شوی؟ که زړه دی يخ شوی نه دې لاړ شه طلاق ورکړه، پر پښو ترلی خره!

د هغه په دی خبره غوسه راغله.
- بس يې کړه زبير، وايم زما داسې کومه اراده نه وه او نه مې هم داسې کوم کار کړی. يوازې غوسه شوم او حق مې و چې غوسه شم.
زبير په تنده لهجه وويل: حق دې وو؟ هېڅ دې هم حق نه و؟ د څه حق هان؟ تا ورته مګر کم دروغ ويلي دې؟ دا يې هم د هماغو خبرو بدل. څه چې کرې هغه به ريبې. دا ټول ستا د کارونو نتيجه ده، نو هېڅ حق هم نه لرې.

د هغه په دې خبرو دومره غوسه راغله چې حد يې نه درلود.
- حق مې نه و؟ يعنې که ستا ښځه ستا له اجازې پرته د مور سره لاړه شي او داسې کار وکړي، ته ورته هېڅ نه وايې؟

زبير په تلوار ځواب راکړ:
— د ويلو او کولو ډېر فرق وي، تا د خبرو پر ځای غ#ل شيندلې، تا هېڅ د داسې جنګ او خبرو حق نه درلود.

د زبیر په دې بېول خبرو او طعنو داسې احساس مې وکړ لکه په زړه کې مې هغه مړ شوې د غوسې اور یو ځل بیا را بل شو، داسې چې بې اختیاره مې شاته دیوال ته سوک ورکړ. هغه هم په خپل خوړ لاس. دومره غوسه وم چې درد ته مې هېڅ پام نه شو. زما په دې ناڅاپه حرکت زبیر یو قدم شاته شو، خو ژر پر خود راغې او په حیرت یې وویل: دا څه بد کوې طاها؟ لاس دې ... لاس دې پر وینو شو!

خو زه دومره په قهر وم چې خپل لاس ته مې هېڅ پام نه و.

- ته ماته وایې چې زه ورباندې حق نه لرم هان؟ ته مګر زما دا حال نه وینې؟ زه د چا له لاسه دې حالت ته رسېدلی یم؟

زبیر چې ولیدل زما غوسه له کنټروله وتلې، لاسونه یې د ارامولو په نیت پورته کړل او په نرم غږ یې وویل: په کراره، صحیح ده، ته صحیح خبره کوې، ته حق لرې پوره هم حق لرې، اوس ارام شه. راکړه لاس دې وګورم.

خو ما یې خبره وانه ورېده، سرې شوې غوسه مې ځلور چنده په جوش راغله.

- ما د هغې د ګردې لپاره، د دې لپاره چې کوم څه ورباندې ونه شي، د هغه خبیث جنرال خبره ومنله. ته فکر کوې زه دومره خر وم او نه پوهېدم چې هغه د خدای لپاره مرسته نه کوي؟ زه پوهېدم خو بیا هم د هغې لپاره مې خطر قبول کړ. جنرال ویل د مرګ امکان شته، خو ما پروا ونه کړه.( ساه مې درنه شوه، خو خبرې مې ونه درولې)په هغو پیسو مې د دې لپاره کور واخیست. قباله مې د دې په نوم کړه. پاتې پیسې مې د دې په نوم حساب کې کېښودې، چې که سبا زه نه وم... که زه مړ وم... دا چا ته محتاجه نه شي.

زبیر نور د ارامولو هڅه نه کوله، یوازې ناست و او غوږ یې نیولی و. شاید هغه هم پوه شوی و چې زه دا وخت نصیحت ته نه، بلکې یو اورېدونکي ته اړتیا لرم.

- ما د هغې لپاره دروغ وویل، ته وایې تا دروغ ویلي هغې هم ویلي خبره خلاصه. ولې خلاصه؟ هان؟ ما دروغ ویلې صحیح دې منم یې خو ما ځکه ویل چې دا ونه

@Shuhab09

ډار شي، اندېښمنه نه شي، دا فکر ونه کړي چې د دې له لاسه زه په مصيبت کې لوېدلی یم. ما دروغ وويل چې دا خوشحاله پاتې شي.

خو دې... دې د خلکو خبرو ته وکتل. زما له اجازې پرته يې د ماشوم لپاره ځان په خطر کې واچاوه. که... که ماشوم يې راوړی هم وای، که شل ماشومان يې هم راوړي واې که پر دې کوم څه شوي وای ما هغه ماشومان په څه بلا وهل؟ ما هغه د حر*ی تخم څه کو؟ هان؟ دا زما حق نه دی چې خبر شم دا پر خپل ځان څه بلا راوړی؟

خپل زخمي لاس مې د هغه مخې ته پورته کړ.
- پوهېږې؟ د همدې کشمکشونو په منځ کې زه دې حال ته رسېدلی یم. بدن مې وګوره، يو سالم ځای به ته پکې پيدا نه کړې. همدا نن سهار د مرګ له خولې بچ شوم. زه هره ورځ د سل ستونزو مخې ته درېږم، يوازې د دې لپاره... او ته وايې زما څه حق؟

څو شېبې چوپ شوم، بيا مې کرار وويل: زه منم چې نن تيز لاړم،غوسه مې له حد واوښتل، هغه خبری مې وکړل چې نه بايد کړې مې وايې، خو ته زما حال نه شې درک کولای زبير ...

شونډه مې کلکه وچیچل تر څو خپل د ژړا مخه ونيسم.
- ته نه پوهېږې ... ته نه پوهېږي کله چې دې ساه په بل وجود کې بنده وي،څومره درد او ليونتوب لري. ما ورته نه غوښت هغه منحوس لفظ ووايم، زه هېڅکله حاضر نه یم داسې کار د هغې حق کې وکړم. خو هغه شيبه له کنټروله ووتم. خپل د دې څو وختو درد، عذاب، وېره ټول مې د سترګو مخ ته راغلل او د هغې دا بېځايه کار ليوني کړم يوه شيبه کې پوه نه شوم چې څه وايم.

زما د خبرو خلاصيدو وروسته زبير تر ډېره وخته چوپ ناست و، يوازې کله ناکله به يې سترګې زما پر زخمي لاس ولګېدې او بيا به يې زما خواته راوکتل، د ښه شيبې

چوپتیا وروسته یې ژوره ساه واخیسته او کرار یې وویل: خبرې دې خلاصې شوی؟ که لا هم د زړه توش دی پاتې؟

په سترګو نظر مې وروکتل.
- ریشخند وهې؟

زبیر- نه، ولې ریشخند ووهم؟ اول ځل دی چې د دومره وخت وروسته ستا د خولې رښتیا خبره اورم.

تندی مې تروش شو، چې هغه په خندا وویل: صبر، اول یو پیاله اوبه درته راوړم، ستونی به دې وچ شوی وي.

د دې خبرې سره سم پاڅېد، له جګ څخه یې یو ګیلاس اوبه ډک کړل او زما خواته یې ونیو. ما هم بغیر د څه ویلو ګیلاس پر سر پورته کړ او په یو ځل مې نیمایي پیاله اوبه وڅښل. لاسونه مې لا هم رپېدل.

زبیر لږ رانږدې شو او په کراره لهجه یې وویل: ګوره طاها، ته خپل د ښځې سره مینه لرې، دا خبره موږ ټولو ته معلومه ده. ټول پوهېږو چې ته څنګه ورپسې شیدا او مجنون یې، خو یوه بله خبره هم شته... کله ناکله انسان د ډېرې مینې څخه غلط کارونه کوي.

تېز مې وروکتل.
- یعنې ما غلط کار کړی؟
زبیر- که لغتې نه واروې، دیوالونه پر بوکسونو نه وهې نو هو، تا غلطې کړې.

غوښتل مې خبره وکړم خو هغه پرېنښودم.
زبیر- ګوره ته هر څه یوازې ځان خپل پر اوږه اخلې. مشکلات، درد،خطر، وېره ټول یوازې ځان زغمې چا ته څه نه وایې. هر څه پټوې، هر څه یوازې ځان حل کول

غوارې. بیا د همدې پېښولو لپاره دروغ وایې. خو دروغ، دروغ دي طاها... که د خیر لپاره وي که د شر لپاره. که سل لارې هم ورته وباسې، بیا هم دروغ دي.

په غوسه مې وویل: یعنې ته غوارې زه کښېنم هغې ته ووایم چې په څه بلا کې مې ځان د هغې لپاره اچولی؟ ووایم چې د مرګ خولې ته تللی وم؟ ستا په نظر په دې خبرو به هغه خوشحاله شي؟ زما ستونزې به حل شي؟

زبیر سر وخوځاوه.
— نه، ما دا ونه ویل. یوازینی ښه کار چې دې کړی همدا دی چې خپلې ښځې ته دې هر څه نه دي ویلي. زما د خبرې مطلب هغې ته نه وو، زما مطلب زه او ذوالفقار یو. ته ځان قهرمان جوړوې او مور له هر څه بې خبره ساتي.
- نه مې غوښتل زما د لاس پر تاسـ...

زبیر خبره را پرې کړه او په غوسه یې وویل: بنده کړه خوله دې! همدغه جاهلانه فکر دې مور ټول تر مرګه ورسولو. دومره خبرې دې پټ کړل، دومره دروغ دې وویل... څه دې حل کړل؟ کومه توره دې وکړه؟ هېڅ! لا دې هر څه نور هم خراب کړل.

چوپ شوم، چې هغه ژوره ساه واخیسته.
— زه دې له ځانه وشړلم، ذوالفقار دې تر لیونتوبه ورساوه. پوهېږې نن مې د څه لپاره ذوالفقار دلته راوستی و؟

بغیر د څه ویلو مې وروکتل چې هغه په پوسخند وویل: عصبي مرض ورته پیدا شوی، هغه بله ورځ یو قلم دوا یو کاریګر غلط په رسید کې لیکلې وه. ذوالفقار دومره غوسه شو چې نږدې و ټول دفتر پر بل مخ راواړوي. آخر زه منځ کې ولوېدم، په زر بسم الله او الله اکبر مې هغه سړی ورڅخه خلاص کړ او دې مې دفتر ته واستاوه. څو دقیقې وروسته چې ورپسې دفتر ته ننوتم، ذوالفقار یو ګولۍ خوله ته واچول خو زما په لیدو په تلوار یې پاکټ پټ کړ.

سترګې مې د حیرت پراخې شوې.
- د څه ګولۍ؟ ولې یې پټ کړې؟

زبیر- ما هم همدا وپوښتل، هغه ویل د سر درد ګولۍ دي او زه یې د دفتر څخه وباسلم، خو زما باور ونشو غرمه چې ذوالفقار د لمانځه لپاره د شرکت ووت، زه یې دفتر ته ولاړم.
بې اختیاره مې ځان ورنږدې کړ.
- ښه بیا؟
زبیر- وګرځېدم د ګولۍ پاکټ مې پیدا کړ، خپل د میز په روک کې یې ایښی و. عجیب غریب دوا وه، ما مخکې نه وه لیدلې. عکس مې ورڅخه واخیست، خپل یو ډاکټر ملګري ته مې واستاوه. هغه چې وکتل، راته یې وویل ..

زما خواته یې راوکتل او په افسوس یې وویل: د عصبي مرض کسانو دوا وه، د هغو کسانو چې خپل ځان نه شي کنټرولولی او جنون لري.

ساه مې سینه کې بنده شوه، چې زبیر څه ناځه په غوسه ناک لهجه وویل: ذوالفقار عصبي و، په دې خبره موږ دواړه پوهېږو خو دومره لیونی نه و چې د جنون ګولۍ وخوري او دوا استعمال کړي، پر خوا دی ښه لږی که بد خو هغه ستا د لاس دی حال ته رسیدلې طاها ...

سر مې ښکته واچو، باور مې نه راتلو چې ذوالفقار تر دې حد عصبي شوی وې چې دوا دی وخوری ..

زبیر- له کومې شپې څخه چې ته په پټه وتښتېدې او هیچا دې د ځای او حال په اړه معلومات نه درلود، نه یوازې ذوالفقار بلکې موږ ټول ورخطا او پریشانه کړو، بیا داسې ناڅاپه راتګ دې دومره دروغ او پټ کارونه دي د ټولو څخه ډېر زیان ذوالفقار ته ورسو، تا خپل په فکر د هغه ساتنه کول خو تا د هغه ملا ورمات کړل طاها ..

د زبیر هره خبره د ټوپک د مرمۍ په شان نیغ زما په زړه لګیدل.

@Shuhab09

زبیر- هغه شپه چې تا راته وویل ذوالفقار ته دې مسج کړی او رښتیا دی ورته ویلې خو هغه ځواب نه دې درکړی، ما ستا سره د خبرو وروسته هغه ته زنګ وواهه. ټوله شپه نه و ویده شوی، سهار تر هغه وخته چې ستا د کار ځای ته ستا پسې درغې ویښ و.

چوپ پاتې شوم.

زبیر- ته سوچ وکړه، هغه به څه څه فکرونه کړي وي دا ټوله شپه؟

خبره مې د کولو لپاره نه درلود، زه ملامت وم .. ذوالفقار ته تر قیام، قیامت ملامت وم د دی خبرې څخه انکار نشم کولای، هغه زما حق کې وروری نــه! چې پلارتوب کړی و او ما ...

زبیر- پر خوا دې بده ونه لږېږي، ته زما ملګری یې د ورور تر حده راته ګران یې. خو هغه شپه مې ذوالفقار ته وویل چې تا دې پر بلا ووهې ...(د حیرت څخه په پراخو سترګو مې وروکتل چې زبیر په بې پروا یې وویل: د هغه خپه حالت مې نشو لیدلې چې ستا لپاره په ډیپریشن کې تللې، نو ځکه مې دا خبره ورته وکړل، خو د هغه دومره غوسې او خفګان باوجود هغه ستا پسې درغلو، باور وکړه طاها ستا پسې ضرور د کوم پیر دعا ده چې داسې کاکا دې په نصیب شوی، کنه اوس زمانه کې خپل پلار لا د سړی دومره خیال نه ساتې کاکا خو لرې ...

- عزیزی ته یې څه ویلې وه؟ ته خبر یې؟

زبیر- پوره کیسه خو یې راته ونه کړه، خو زما په ډېر پوښتنو او شله توب یوازی دومره یې راته وویل چې، عزیزی نومیږی څه نومیږی همغه ستا د سر بلا! هغه یې ګواښولې او ورته ویلې" د مجبوری څخه خپل وراره ستا سره پرېږدم،خو که خدای مکړه خبر شوم یو ویښته ته یې لا زیان ستا لخوا رسیدلې ژوندی دې نه پرېږدم."

د زبیر په دی خبره بې اختیاره پخندا شوم چې هغه بد بد راوکتل.

زبیر- په څه مرګ خاندی؟

- هیڅ، هسې فکر مې کاوه د ذوالفقار ګواښ څومره په عزیزی اثر کړی ماشاءالله!

زبیر څو شیبې په مشکوک توګه راوکتل د هغه وروسته یې وویل: دا خبرې مې درته وکړل تر څو پوه شې چې ستا د دروغو له لاسه زموږ په سر څه بلاوی چې نه دی نازل شوی، نو د خدای روی ته وګوره او نور دی دا دروغ بند کړه، موږ په رښتیا ووژنه خو په دروغو ویلو باندی مو ژوندی مه ساته ...

څو شیبې دواړه چوپ شو، د زبیر خبری ټول صحیح وه، ما د دروغو پر ویلو کوښښ وکړ دوی له خطر وساتم خو برعکس لا مې د خطر خولې ته واچول.

زبیر شاته بالښت ته تکیه ورکړه، بیا یې زما خواته داسې راوکتل لکه غواړي چې خپل هر خبره په کراره زما سر ته راننباسي.
– ښځې عجیب خاصیتونه لري طاها... د خولې او د زړه خبره یې ډېر وخت یو شان نه وي. ستا ښځه کېدای شي ستا مخې ته یې ځان خوشحاله ښودلی وي، خندلې وي، عادي ګرځېدلې وې خو زړه کې به یې سل فکره، سل وېرې او سل خبرې ګرځېدلې.

زبیر د ښځو په اړه ډېر معلومات درلود نو ځکه بغیر د څه ویلو ورته غوږ شوم تر څو پوه شم زما او د اقرا ستونزه کوم ځای کیده؟

زبیر- ته اوس هغه ملامته حسابوې او فکر کوې ستا په حق کې یې ډېر غلط کار کړي. سمه ده، غلطي یې کړې... خو یو ځل دې موضوع ته د هغې له نظره هم وګوره. هغه دې ماشاءالله، سبا بل سبا محمد د څلور کالو کېږي، تر اوسه تاسو بل ماشوم نه لرئ. ته نشې درک کولاې چې دا موضوع څومره د یو ښځې لپاره غټه او جدی ده. خاصتاً اوس چې اکثر ستاسو خپلوان فکر کوي مشکل ستا په ښځه کې دی، دا خبره فشار پر هغې دوه چنده کوی، هره ناسته کې اشاره، هره خبره کې طعنه، هره خوشالي کې د بل ماشوم یادونه هغې ته کېږي ..

د زبیر په دې خبره د اقرا د ځو ورځو مخکې جنګ،ژړا،غوسه او خبرې ذهن ته راغلې، هغې هم ویلې وه ټول راته طعنه او پیغور راکوی ..

زبیر- هغې شاید ځان یوازې احساس کړې وي. شاید فکر یې کړی وي که ماشوم وشي، هر څه به بېرته سم شي. ته به خوشحاله شې، کورنۍ به چوپ شي، خلک به خولې بندې کړي. ښځې کله کله د طعنو لاندې داسې کار کوي چې وروسته خپله هم ورباندې پښېمانه وی. نو ځکه وایم، ستا کار غلط و او حق دې نه درلود داسې وکړې. لکه څنګه چې هغه ستا د حال نه وه خبره، ته هم د هغې د حال نه وې خبر.

- یعنې ستا په نظر مونږ دواړه غلط یو؟
زبیر بې له ځنډه ووېل: هو، دواړه غلط یاست.
خپل ګوته یې زما خواته ونیول.
– ته وایې ما د هغې لپاره دا وکړل، هغه وکړل، کور مې واخیست، پیسې مې کېښودې، ځان مې مرګ ته ورکړ... په دې خبرو ځان پر حق ګڼې.

بیا یې لاس د کوټې بلخوا ونیو.
– هغه هم ځانته دلیلونه لري. هغه بیا وایي د خلکو خبرې وې، طعنې وې، د کورنۍ فشار و، وېره وه، یوازېتوب و.

جالب وه خو د زبیر هر خبره راته یو دم صحیح ښکاریدل.
زبیر- تاسو دواړو په خبرو نه کولو، خپل درد نه ویلو او هر څه په زړه کې ساتلو باندی ځان دې ځای ته رسولی. خاصتاً ته... چې ځان د ټولې نړۍ څخه هوښیار ګڼې.

غوښتل مې څه ووایم، خو د حق خبره ځواب نه لری نو ځکه چوپ شوم.
زبیر نږدې یو ساعت ماته خبرې وکړل، سم د یو راونشناس ډاکټر په شان، د هغه د خبرو وروسته داسې احساس مې وکړ لکه چا چې په لومړی ځل زما مخې ته هنداره نیولې وي او زما اصل څیره راته ښایې ..

کرار مې وویل: ما... نږدې و چې هغې ته طلاق ورکړی وای.
زبیر- نږدې و... خو ورکړی خو دې نه دی، نو لا امید شته. لا دروازه بنده نه ده. لا هم کولای شې هر څه له سره جوړ کړې.
په سترې غږ مې وویل: فکر نه کوم دروازه دې خلاصه وي... هغه استاد کلکه وتړله.

زبیر یوه شیبه راوکتل، بیا په لوړ غږ پخندا شو.
— ورک شې طاها، مطلب مې د کور دروازه نه وه، د امید دروازه وه.

د هغه په دی خبره تازه د هغه د خبری په مطلب پوه شوم او خندا راغللچ، چې هغه زما زخمي لاس ونیو.

زبیر- ته لا هم چانس لرې چې هر څه سم کړې. خو اول ...
زما خوږ لاس یې پورته کړ.
— اول باید دا لاس دې وګورم. بیا به لږ دا جنګلي ږیره او مخ دې درسم کړم، خلک درڅخه وحشت کوي چې ویني دی.

د زبیر خبرو او نصیحتونو تر ډېره حد آرام کړی وم نو ځکه په موسکا مې وویل: بیا؟
زبیر- بیا به یو هوسا ساه واخلې. شپه به همدلته زما سره تېره کړې، مغزه به دې ریفرش شي او بیا سهار به په کرار او ارام اعصابو خپل کور ته لاړ شې.

په ګوتو یې شمېرل شروع کړل.
زبیر- اول به د خپل خسر لاس او پښې ښکل کړې، بخښنه به ورڅخه وغواړې ورته وبه وایې بد مې کړي. بیا به د خواښې څخه بخښنه غواړې، بیا به د خپلې ښځې...

په تونده مې خبره وریرې کره.
- د هغوی څخه د څه لپاره بخښنه وغواړم؟
زبیر دواړه سترګې راته غټې کړې.
— ته نو عجب خر یې طاها!
په غوسه یې لاس پورته کړ.

– تللی یې د خلکو کور ته، ټولو ته دې سپکاوی کړی، نږدې و چې خدای مه کړه خپله ښځه هم پر ځان طلاق کړې وای... اوس وایې د څه لپاره بخښنه وغواړم؟

غږ یې نور هم لوړ شو.
– ته واې بخښنه، زه وایم که پر یوې بخښنې دې خوشې کړي، خیرات وکړه، تا کوم معمولي کار نه دی کړی. ستا د خسر پر ځای که زه واې ...

خبره مې ورپرې کړه او ومې ویل: هو پوهېږم... په لغته دې د کور څخه شړلم.

زبیر- دقیقاً شک مه کوه، همدا کار مې دربانده کوو.

هغه شپه تر ډېره د زبیر سره ویښ کښیناستم او د هر خوا مو خبری وکړل، ما ورته د شموئیل لخوا د راکړی ګوتمۍ، د هغه د خاصیتونو، د نن سهار د الفا د کسانو د تعقیب، د عزیزی لخوا سپیانو ته اچول کیدل ټول مې ورته وویل او زبیر حرص او غوسه وخوړل ویل سبا درځم شرکت ته او عزیزی سره ګورم خو ما منع کړ، د هغه راتګ هېڅ ګټه نه درلود هسې زما ستونزی ډېرول.

هغه هم قسم واخیست چې دغسې خو یې نه پرېږدي، یوه ورځ نه یوه ورځ راځې او که نور نه وی خبری ورسره کوی، ما هم دا بحث بند کړ او ورته ومې ویل چې دا څو وخته کېږي بوډۍ ته مې زړه نه کیږی، او د هغه بل ځل په شان شوی یم. زما په دی خبره زبیر چې مشوری تل په لستوڼي کې پراته دی وویل: سبا به لاړ شو یو مولا ته تر څو وګوری څه دربانده شوی؟

خو ما یې خبره ونه منل د زبیر مولیان تل داسې وه چې د ستونزی حل کولو لځایه یې، ستونزې دوه چنده کول او یو دوه نور اضافه بلې پیریان یې هم زما د مرګ لپاره راپسې کول. نو ځکه مې خبره ورڅخه رد کړل، هغه هم زما د ګوتمۍ په اړه نور پوښتنې وکړل او اخر کې زما څخه وغوښتل ګوتمۍ هغه ته ورکړم تر څو هغه یې خپل په لاس وګوری او ایا د رښتیا رنګ بدلولې شي او کنه؟ ما هم له ګوتي راوباسل او هغه ته مې ورکړل.

خو عجیب کار وشو! زبیر چې کله غوښتل ګوتمۍ راواخلي نو ګوتمۍ داسې سره شول لکه اور او زبیر ونشو کړی هغه راپورته لا کړی په ګوته کول خو لری خبره، څو ځله یې کوښښ وکړ خو ویې نشو کړي، تر دې چې ما راوخیسته او ګوتمۍ عادی حالت ته راوګرځیدل، په دی عجیب او جالب کار پوه شوم چې د ګوتمۍ یو بل خاصیت دا دې چې یوازی یې زه په ګوته کولاې شم او نور کسان نشې کولای دا لاس کې ونیسې.

نه پوهېدم د ګوتمۍ دا کار د دی په خاطر و چې زه نیم پیری وم! یا دا چې شموئیل ما ته خاص ډالۍ کړی وو، نو نور کسانو نشو اخیستلې؟! هر څه چې و خو ما ته یې خوند راکړ، چې زما څخه یې څوک نشې اخیستې، دا څو وخت بیحد د دې ګوتمۍ سر عادت شوی وم.

دشپې درې بجو شاوخوا وه چې بلاخره د ویده کیدلو اراده مو وکړل، البته زبیر شله و چې په همدی نیمه شپه زما ږېره او ویښتیان منظم او قیچي کړی، خو ما ونه منل او په زوره مې د ویده کیدو وویل، جالب وه زبیر همدا چې څملید دوه دقیقي لا نه وه تېر شوی چې خروپوف یې پورته شو او ویده شو، خو ما ته خوب نه راتلو.

سترګې مې د کوټې چت ته نیولې وې او ذهن مې لا هم د اقرا د نن ورځ په ناباوره نظر کې بند و، او فکر مې کاوه چې سبا به په کوم مخ د هغې سره مخامخ کېږم او څه به ورته ووایم؟

چې ناڅاپه د کوټې هوا درنه شوه، د کړکۍ پرده بې له باده وخوځېده. او د ګروپ په پیکه رڼا کې د کوټې په کونج کې یو تور سیوری مې ولید، خپل د ګوتمۍ خواته مې وکتل چې فیرزوه یې ځلا یې کول، بغیر له دې و وېرېږم یا ورخطا شم په کرار غږ مې وویل: راووځه... پوهېږم ته یې.

د سیور کرار خندا پورته شوه.
– تکړه شوی یې طاها، نه وېرېږي!

په سترې غږ مې وپوښتل.
- څه غواړې؟ د څه لپاره راغلې يې؟

زقوم کرار رانږدې شو، پښې پر ځمکه نه وه، داسې راروان و لکه په هوا، زما ومخ ته چې راورسيد و دريد او په شيطان موسکا يې وويل: زه څه نه غواړم، خو ته يې غواړې؟

- زه؟ جالب ده هغه وخت زه څه غواړم؟
زقوم په همغه شيطان څېره راوکتل او ويې ويل: آرامښت ... يو هوسا ژوند ... يو ښکلې خوب ...

غاښونه مې سره وچيچل.
- هېڅ ښه وخت دې د ريشخند وهلو لپاره نه دې ټاکلې که(خپل هغه لاس چې پکې ګوتمۍ وه پورته مې کړ او ومې ويل: که زړه دې زما د لاس د وهلو پسې تنګ شوی وی هغه بيل خبره ده کنه ورک کيږه.

زقوم د دې لځايه چې غوسه شې پخندا شو.
— نچ، نچ دومره په دی ګوتمۍ مه نازېږه، اخر يوه ورځ به درڅخه ورکه شې، زه خو ستا د مرستي لپاره راغلې يم. زه د معاملې کس يم معامله کوی؟

- د څه معامله؟

زقوم سر کوږ کړ او په وسوسه کوونکي لهجې وويل:
— زه کولای شم ستا د نن ورځې خبرې ستا د ښځې، د هغې د مور، پلار حتی د هغې د خويندو له ذهن څخه وباسم، داسې چې هېڅ خبره چې نه وي شوي. نه چيغه، نه سپکاوی، نه هغه لفظ، نه دا شپه.

د هغه په دی خبره په پوسخند ځاې کې مې کښيناستم، نيم نظر مې د زبير خواته چې کرار ويده واچو او غوښتل مې خبره وکړم چې زقوم وويل: ستا د ملکری له

ذهن څخه هم دا خبره ویستلې شم، دا په تخفیف کې حساب کړه.

دا ځل نو د رښتیا خندا راغله.
- پوهېږې تخفیف هغه څوک ورکوی چې جنس یې نه خرڅېږي! ستا هم لکه چې د چا سره معامله نه کېږي چې زما پسې موښتې یې او تخفیف هم راکوی!؟

زقوم- نه، زما معاملې تل کېږی، نن یوازی ستا لپاره راغلم ځکه چې ته مې قرین یې او بد مې نه دی درباندی پیرزو.
په پوسخند مې وویل: اوه څومره مهربان! نظر نشې.
زقوم- ښه نو، اوس معامله کوی؟
ځاې کې څملیدم او کلک مې وویل: نــه ..

زقوم زما سر ته رانږدی شو او په حیران غږ یې وویل: ولې نــه؟
- ستا لخوا هېڅ مرسته او کار نغواړم تللې شې.

زقوم چې زما کلک انکار ولید نو په وسوسه اچوونکي انداز رانږدی شو او ویې ویل: یعنې ته نغواړې سبا کله چې کور ته ځې اقرا په ورین او خوشحاله تندی ستا و مخ ته راشي؟ داسې لکه هېڅ چې نه وی شوی؟ یعنې ته نغواړې خسر او خواښې دی د پخوا په شان تاته په احترام او مهرباني وګوری؟

سترګي مې پټې کړل او کرار مې وویل: ښه کوښښ وو، خو زما ځواب بیا هم "نه" دی.
زقوم زما د غوږ څنګ ته کرار وویل: یعنې ته غواړې سبا سهار د همدغه درد، ستونزو او غم سره لاړ شې؟ غواړې د هغوی غوسه،اوښکې، قهر او مات کیدل بیا وګوری؟ ته دومره ظالم نه وی طاها ...

تر دې ځایه مې هم په زور مقاومت کړی و، خو په دی خبره یې زړه نازړه شوم او کرار مې وپوښتل: تا ویل معامله او شرط؟ څه غواړې د دی په بدل کی؟
زقوم چې ولیدل زه یې راضي کړی یم په خوشحالۍ او چلبازی وویل: ومې ویل کنه

ته زما قرین یې او درد او غم مې نه دی درباندی پیرزو، نو سخت معامله نه درسره کوم، یو ډېر راحت کار دی.

- څه کار؟

زقوم- لومړی به ستا ستونزه حل کړو د هغه وروسته به درته ووایم.
ځاې کې کښیناستم.
- نــه، لومړی ته ووایه د څه شرط او کار؟ د هغه وروسته زه پریکړه کوم چې ویې منم کنه؟

زقوم- اوممم، جالب ده، تا پخوا چني وهل نه وه زده او دومره د دی خبرو پسې هم نه ګرځیدي.
- هغه پخوا وو، اوس اوس دی، نو وایه څه کار زما څخه غواړی؟
زقوم څو شیبې زما د ګوتمی خواته راوکتل، د هغه په دی نظر بې اختیاره مې وویل:
- نــه ...

زقوم په ګنګس انداز د ګوتمی څخه نظر واخیست او ویې ویل: څه نه؟
- څه ته چې دې سترګي نیولې او پلان دی ورته جوړ کړی، "نه" زه د ګوتمی په سر معامله نه کوم.
په تمه وم زقوم غوسه شي خو هغه پخندا وویل: نـه، نــه ..زما معامله د ګوتمی نه ده، که څه هم که وایخلم په ښه بیه یې معامله کولې شم ځکه د یو عفریت د احساس ګوتمی ده او ارزښت لری. خو نــه، زما شرط بل شئ دی.

د هغه دا بډول خبرو کولو هېڅ خوند رانکړ، لګیا و معامله،معامله یې کول خو اصل خبره او شرط یې نه ویلو، څو شیبې نور هم ورته صبر شوم خو کله چې هغه خبره واړول ما هم پریخود او ځملېدم، چې هغه په وسوسه کوونکي انداز بیا زما سر ته راغې او ویې ویل: یوازې ووایه "هو" هغه وخت ته کرار کښېنه او وګوره زه څنګه ستا د ښځې د هغه د پلار او ټول کورنۍ د ذهن څخه دا ورځ باسم، ته یوازی "هو"

وکړه بیا به نه نور جنګ پاتې شي، نه اوښکې، نه شرم. سهار به هر شئ د پخوا په شان وی.

په پوسخند مې وویل: زه داسې نامعلوم معامله هغه هم ستا سره، زر کاله وروسته هم نه کوم لاره دې نیسه او څه ..
زقوم- خو تا غوښتل معامله وکړی؟
- اوس پښیمانه شوم، نو ښه وخت ولری ورځه.
زقوم- ښه فکر وکړه طاها، دا ستا د خلاصون یوازیني لار ده.

لځایه پاڅېدم او هغه ته چې زما سر ته ولاړ و، ورنږدې شوم، د هغه د څاه په شان ژور سترګو ته مې سترګي ونیول او ومې ویل: خلاصون؟ خلاصون هغه ته وایي چې سړی خپل ګناه ومني، نه دا چې د خلکو د ذهن څخه هغه خبره هېره کړی، ما ټول عمر دروغ وویل، خبري مې پټ کړل، د وېرې څخه وتښتېدم خو نور بس دی.

زقوم تندی تروش کړ.
– که سبا هغوی درته بخښنه ونکړی بیا؟
په کلکه مې ځواب ورکړ:
- بیا به نو خپل د بیځایه غوسي او خبرې سزا وینم، او حق مې هم دی چې سزا ووینم.

زقوم- که ښځې دې پریښودي بیا؟ بیا څه کوی؟
په پوسخند مې وویل: ناممکن خبره ده، هغه ما هېڅکله نه پرېږدی.
زقوم- که خسر دې وشړلی؟
- نو د دروازی تر شا به تر هغه وخت کښېنم چې راضي شي او ما وبخښي، خو دروغ نه وایم او نه هم ستا څخه مرسته غوارم.

زقوم په غوسه وویل: یعنې ته زما مرسته رد کوی؟
په کلکه مې وویل: هو، زما ستونزه، زما ښځه، زما کور، زما غلطي، زه به یې خپله

حل کوم. ستا شیطاني معاملې ته ضرورت نشته. نو ورک شه.

زقوم کرار زما له څنګ لرې شو خو د تلو مخکې په ډارونکې لهجې وویل: پښېمانه به شې طاهاا، ډېر سخت به پښیمانه شې په دې کار دې ...

ځای کې څملیدم سترګې مې پټې کړې او کرار مې وویل: شاید ... خو دا پښېماني ستا سره د معاملې کولو څخه زر چنده غوره ده.

د زقوم د تلو وروسته بیا مې دوه سترګې چت ته ونیول، خو خپل په کار خوشحاله وم. د شیطانانو غټ ترینه غلبه پر انسان همدا وسوسه ده، که انسان دیته تسلیم نشې هغه هېڅ نشې وربانډې کولای. زه زقوم تباه نه کړم، زما خپل دروغو زه تباه کړم. نو وخت یې دی چې نور یو اساسي، ریشه کنده تغیر وکړم بس دې هر څومره چې و وېرېږدم او دروغ مې وویل.

سهار د مولا په آذان سترګې مې خلاصې شوې. ټوله شپه نه وم ویده شوی یوازی سترګې مې ترلې وه خو ذهن مې ویښ و. څنګ ته مې زبیر داسې ویده و لکه د دنیا له هېڅ غمه چې خبر نه وي. خوله یې نیمه خلاصه وه، لاس یې پر تندې ایښی و او هر څو شېبې وروسته به یې داسې غړ کاوه ته وا غوی چې وی.

په دې فکر بې اختیاره خندا راغلل، زبیر پخوا د خوب وخت کې غړونه نه ویستل، خو دا څو وخته چاغ شوی و زما په نظر د همغه له امله داسې شوی و، لمونځ مې وکړ پر هغه مې هم غږ وکړ، زبیر یو دوه،درې ځله هوم،هوم وویل خو پا نه څید، زبیر بیحد په لمانځه کې ټنبل و، ما هم نور غږ وربانډې ونکړ چې اوس ونه وایې یوه شپه کور ته مې میلمه شوی د ځان څخه یې راته شیخ القران جوړ کړی خوب ته مې نه پرېږدی..

لاس مې درد کاوه. لکه چې د دیوال سوک اوس خپل اثرات راښکاره کړل هغه وخت په ګرمه وینه کې وم په درد یې چندان پوهه نشوم. زبیر پانسمان راته بدل کړی و

خو بیا هم لږ وینه ورڅخه راغلې وه، څو شیبې مې وروکتل خو ژر مې نظر ورڅخه واخیست نن د لاس د درد وار نه وو، نن د زړه وار و.

پر دیوال ځړېدلې هېنداري مخې ته ودرېدم، زبیر رښتیا ویلي و. وېښته مې د جنګلیانو په شان خوره واره او نامنظم وه، سترګې مې د بې خوبۍ له امله تکې سرې وي، مخ مې هم سترې او وېښته مې هم ګډوډ وه، د ځان سره مې وویل: په دې شکل لاړ شم؟

د زبیر په غږ مخ مې د هغه خواته وګرځو.
— تر اوسه لمر لا صحیح نه دی راختلې، ته غواړې اوس لاړ شې؟
- نور مې طاقت نه کېږي، درسته شپه خوب رانغلو.
زبیر- ولې دې ما ته ونه ویل، د خوب ګولې راسره وه، یو دانه مې درکول بیغم به ویده شوی وایې.
- اوس خو تېر شو، ته ویده شه زه ځم.

دا خبره مې ځکه وکړل چې د هغه سر لا هم پر بالښت و او سترګې نیم کښې خلاصوې، خو زبیر ځای کې کښېناست او ویې ویل: نه، په داسې مهمه ورځ زه کله ویده کېدلې شم؟ کښېنه زه اوس راځم.

زبیر له کوټې ووت، څو شیبې وروسته یو جوړه پاک کالي او ورسره د وېښتیانو اخیستلو ماشین سره راغې زما و مخ ته کښېناست او په خوشحالۍ وویل: ماښام مې لا دا ستا ږېرې او وېښتیانو ته لاس نه درېدې صبر لږ دې شاه داماد کړم، که په دې حال لاړ شې خسر دې ولاکه د کور د دروازې مخې ته لا پرېږدی کور ته تلل خو لرې خبره.

د هغه په دې خبره که څه هم، اندېښمن او ورخطا وم خو ومې خندل،لس دقیقې وروسته کله چې د زبیر له مخې پورته شوم او هینداره کې خپل ځان ته مې وکتل نو د رښتیا لږ د انسانانو په شان شوی وم، زبیر خپل د راوړو کالو خواته اشاره وکړل او

@Shuhab09

ويې ويل: کالې دی بدل کړه.
په تلوار مې وويل: نه، کالي لا نه بدلوم همدا ړيره او ويښتيان هم فکر کوم چندان ښه کار مې ونکړ چې سم مې کړل؟!
زبير- ولې؟

پخندا مې وويل: هغه ورځ چې عزيزی خپل په سپيانو ټوټه،ټوټه کړم بيا وروسته يې زړه راته په رحم راغی او خپل يو جوړه کالې راکړل، ما هم هغه واغوندل او کور ته راغلم، خدای دی داسې ورځ نه درباندی ويني زبير .. يو بد حال ستا وريندارى راباندی جوړ کړ چې تا دويم واده کړی او دا کالې هغې درکړی او فلان و بستان سم د ملانصرالدين نقل وو..

زما په دی خبره زبير د خندا څخه شين شو او ويې ويل: عجب! بد زړه ښځه لری طاها، البته له يو نظر حق يې هم درلود چې داسې فکر وکړی، خو ته يې بد وېرولې يې ..

د هغه په دی خبره مې وخندل چې زبير په جدی انداز وويل:
— واوره څه درته وايم طاها... نن چې د خسر کور ته ولاړې، نو د ننوتلو مخکې خپله غوسه، بېځايه غرور، قهر، خبرې او ځان پر حق ګڼل ټول د دروازې شاته پرېږده او ننوځه. يوازينی کار چې نن بايد وکړې هغه اورېدل دي او بس.
- يعني هره خبره واورم؟
— هو، هره خبره. که کنځل يې هم درته وکړل، په سړه سينه يې واوره. البته فکر نه کوم خسر دې داسې انسان وي، خو د هر لفظ اورېدو ته ځان چمتو کړه.

- سمه ده، خو که بيخي کور ته پرېنښودم بيا؟

زبير- بيا نو دا بوس مغزه دې په کار واچوه او په يو ډول دننه لاړ شه. خو ځان به مرور نه نيسې. تا غلطي کړې، نو که د غلطي وروسته د بخښنې غوښتلو پر ځای

خپل تندی تروش ونیسي، خسرګنۍ دې فکر کوي چې ضرور دې بلخوا لین دین جوړ کړی چې زموږ د لور خواته نه راځې.

- واقعاً؟ یعنې ستا په نظر داسې فکر کوي؟

زبیر- هو، هغوی ستا د ژوند د حال خبر نه دي. نو ستا دا لرې کېدل او ځان مرور نیول، هغوی پر همدغه مانا تعبیروي نو د انسان په شان لاړ شه، او څنګه چې دې پرون ستونی وشکو، همغسې یې نن هم وشکوه، خو د بخښنې لپاره. خپلې ښځې ته ثابت کړه چې د هغې لپاره ورخطا وې.

- اهوم، سمه ده کوښښ کوم، خو که ناوخته شوې وي بیا؟
زبیر مخامخ زما سترګو ته راوکتل.
— نه ده ناوخته شوې طاها... خو که وخت په دی خبرو تېر کړې نو په مرور د زمان ورځخه د ناسور زخم جوړېږي، او بیا هېڅ علاج نه لري.

د زبیر ټولې خبرې مې په تفسیر او تجوید واورېدې. د هغه وروسته خدای پاماني مې ورسره وکړل او له کوره ووتلم.

که څه هم د سپرلي موسم و، خو د سهار هوا لا هم یخه وه، او زه خو بیا بیخي د مولا د آذان سره راوتی وم. سړکونه زیاتره خالي وو، دوکانونه بند وو، او یواځې ځینې غریب کار کسان په تګ راتګ وو.

نه پوهېږم، خو تلو ته مې ډېر تلوار و، نو ځکه د پیاده تلو پر ځای مې موټر ونیو. استرس مې درلود.

هغه کور ته تلل چې پرون مې پکې طوفان جوړ کړی و، داسې مثال یې درلود لکه سړی چې د جګړې میدان ته بېرته شاتګ کوي. نه پوهېدم څه به مې په انتظار کې وي.

دومره مې فکر ګډوډ و چې نه پوهېږم کله ورسېدم. د موټړوان په غږ په خود راغلم، له موټر ښکته شوم، کرایه مې حساب کړه او د استاذ د کور خواته روان شوم.هر ګام چې د هغوی د کور خواته نږدې کېدم، د زړه درزا مې پورته کېده، او خپل پرونۍ خبرې مې ذهن کې راژوندۍ کېدې.

هغه لفظ... د اقرا سترګې... د استاذ غوسه... د اقرا د مور او خویندو ژړا...

سترګې مې پټې کړې او ژوره ساه مې واخیسته.

- بس... بس دی طاها، ډېر منفي فکرونه مه کوه. خدای مهربان دی. سخت به وي، خو ناممکن نه دی. تا تر دې سخت کارونه ممکن کړي، دا خو کوم شی نه دی. لږ زړه او جرئت ولره، خوري دې نه څوک. پرون دې څنګه ټول بیاب کړل؟ نن هم همغسې د ټولو څخه بخښنه وغواړه... اسانه کار دی.

د استاذ د کور دروازې ته لا نه وم نږدې شوی چې زما د کور د څنګ نه یو نفر رانږدې شو. د هغه تګ د عام کس په شان نه و، داسې راروان و لکه زه یې چې تر نظر لاندې نیولی یم؟ دوه سترګې یې پر ما وې.بې اختیاره مې لاس خپل د جیب توفنچې خواته یووړ، خو کله چې ښه رانږدې شو نو څېره یې د مضر کسانو په شان راته ښکاره نه شوه، نو لاس مې ونیو.

– سلام.

د هغه سلام ته مې د سر په خوځولو علیک وکړ، چې هغه زما د کور د دروازې خواته اشاره وکړه او ویې ویل: مشر هغه ډالۍ تاسو ته رالېږي.

د هغه په دې خبره په تعجب مې د هغه شاته خپل د کور د دروازې خواته وکتل، او سترګې مې د حیرت پراخې شوې.زما د کور د دروازې مخې ته یو ښکلی، لوکس سور رنګ د کوچنیانو بایسکل ایښودل شوی و. د هغه په لیدو څو شېبې چوپ وم او ګنګس شوم. عزیزی دا د څه لپاره راستولی؟

خو ناځاپه د پرون سهار خبرې مې ذهن ته راغلې چې هغه ته مې په دروغو ویلي وو محمد بایسکل غوښت.باور مې نه کېده... یعنې زما خبره یې ذهن کې وه؟ عجب بیکار انسان دی.

لومړی مې غوښتل رد یې کړم، بیا مې د ځان سره وویل چې واخلم یې غوره ده، هسې یو بهانه هم لاس ته راځي چې محمد ته مې بایسکل راوړی.په دې فکر د هغه کس نه مې مننه وکړه، او د استاذ کور ته د ننوتلو مخکې مې بایسکل راواخیست.
د استاذ د کور دروازه بنده وه. لاس مې دوه ځله پورته کړ، خو د دروازې د ټکولو جرئت مې نه درلود.زړه مې دومره په زوره درزا کوله چې ګومان مې کاوه هر څوک که رانږدې شي، اوري یې.

ژوره ساه مې واخیسته او بلاخره کرار مې دروازه وټکوله.خو کوم ځواب رانغی، دویم ځل مې لږ زور ورکړ.د څو شېبو وروسته د دننه څخه د قدمونو آواز مې تر غوږ شو، او ساه مې سینه کې بنده شوه.

شیطان ویل: طاها، تښته... په کومو سترګو غواړې د هغوی سره مخ شې؟ اصلاً څه غواړې ووایې؟

خو د زبیر خبرو د تلو څخه منع کولم،د بایسکل لاستي مې کلک لاس کې ونیو، تر څو خپل استرس ورباندې پټ کړم.د څو شېبو انتظار وروسته، چې پر ما د یو قرن په شان تېر شوو، بلاخره دروازه کراره خلاصه شوه. اړ استاذ زما مخې ته ودرېد.

جرئت مې نه درلود د هغه سترګو ته وګورم.
که څه هم سترګو کې نه غوسه وه، نه قهر، نه حتا سپکاوی... خو مهرباني هم نه وه د پخوا په شان.

په دروند او خاموش نظر یې راوکتل.
د هغه په دې بڼول نظر تر اخري حده مې سر ښکته واچو. ستونی مې وچ شوی و، د

خولې لاړې مې تېرې کړې او په داسې غږ چې په زور له ستونې مې راوت، ومې ویل: سلام علیکم...

استاذ څو شېبې همداسې راوکتل، بیا بغیر له دې چې زما د سلام ځواب راکړې په کرار خو درونـد غږ وویل: ولې راغلې یې؟

د استاذ دا لفظونه په ظاهره شاید کومه خاصه مانا نه لرله، خو شاته یې څومره خبرې، ګیلې او ناخوالې پرتې وې، هغه ما ښه درک کولای شو او لا شرمنده کېدم. ژوره ساه مې واخیسته، لږ مې د سترګو له کونجه وروکتل او د خطاکار انسان په شان مې کرار وویل: بخښنې غوښتلو ته...

استاذ بغیر له دې چې خپل نظر راڅخه واخلي، په هماغه درنه لهجه یې وویل: بخښنه؟ د چا څخه؟

د استاذ په دې پوښتنه لا ډېر شرمنده شوم. هغه په یو لفظ وپوهولم چې ما یوازې یو یا دوه کسانو ته سپکاوی نه و کړی، بلکې ټولې کورنۍ ته مې کړی و. نو اوس بخښنه د چا څخه غوارم؟
د بایسکل لاستی مې په لاس کې تاو کړ او کرار مې وویل: د ټولو څخه... ستاسو، د خاله څخه... (ژوره ساه مې واخیسته) اقرا... د ټولو څخه. زه د زړه له تله تاسو ته شرمنده یم.

استاذ یو قدم مخې ته راغی.
– پرون چې دې چیغې وهلې، سپکې خبرې دې کولې، زما د کور عزت دې تر پښو لاندې کاوه... هغه وخت دې دا شرم چېرته و؟

د استاذ په هر لفظ زړه مې غوښت اوبه شم او د ځمکې تل ته لاړشم، دومره ورته شرمنده او خجالت وم.شونډې مې وخوځېدې، خو لفظونه راڅخه ورک وو. یوازې سر مې لا پسې ښکته کړ، داسې وم لکه شاګرد چې د خپل استاد مخې ته په جرم ولاړ وي.

په مات غږ مې وویل: نه پوهېږم څه ووایم... هغه وخت په غوسه وم ړوند شوی وم. هر څه مې خراب کړل. که سل ځله بخښنه وغواړم بیا هم کوم ګټه نه کوی پوهېږم.

استاذ څو شېبې همداسې راوکتل. بیا یې سترګې زما لاس کې د بایسکل خواته واړولې.

— دا څه دي؟
لږ وارخطا شوم خو ژر مې وویل: دا ... دا مې محمد ته راوړی، غوښتل مې خوشحاله شي.

استاذ بیا زما سترګو ته راوکتل.
— ماشوم به په یو بایسکل خوشحاله او خطا باسې، خو دا نور به څنګه کړې؟
څه مې ونه ویل چې استاذ کرار وویل:

مورې تاته د زوم په نظر نه کتل طاهاٰ، ته مورې ته خپل د زوی په شان ښکاریدلې. منم چې خواښې او ښځې دی غلطي کړې خو حق دا نه و چې ته داسې شور جوړ کړې، زما د لور اوښکې دي ولیدل؟ دا ما تاته ایا په بد کې درکړې وه چې تا داسې زما کور کې زما ومخ کې راته وژړول؟ غوسه وې صحیح، خپه وی صحیح خو نر هغه دی چې د غوسې وخت کې ځان کنټرول کړې او خپل ژوند وساتي، که ما ستا مخه نه وایې نیولې تا به څه کړې وایې! اوس دی مخ درلود چې بیا دلته زما د کور مخې ته راشې او ښځه مې ووایې؟

د استاذ هر خبره حق وه، ځواب مې نه درلود ورته هغه چې هم زما خاموشي ولیدل نو شاته لاړ او اراده یې وه چې دروازه وتړی خو ما په تلوار دروازه ونیول، چې استاذ وویل: اوس یې نه درسره پرېږدم طاهاٰ، خپه ده او نغواړم په خفګان زما له کور ووځې.
- اجازه راکړې چې خبرې ورسره وکړم.

استاذ- درسته شپه ویښه وه او ژړل یې، تازه ویده شوی لاړ شه ته هم ارام وکړه یو بل وخت بیا راشه کله چې دی اعصاب آرام وه.

استاذ د دی خبری سره سم دروازه بنده کړل خو تللې نه و چې ما ورباندی غږ کړل.
- داسې مه کوه ماما .... ما .. ما هم درسته شپه سترګه نه ده ترلې که ویې نه وینم یو قدم د دی ځایه نه ځم.

نه پوهېږم ولې خو بې اختیاره مې استاذ ته ماما وویل! ما هیڅکله هغه ته دا لفظ نه و استعمال کړی، د کوم وخت څخه چې پوه شوی وم چې ماما مې دی د ماما د لفظ مې لا بد راغلې وه خو نن مې فکر کو دا هېر شوی او پټ شوی نسبت یوازیني لاره ده چې ما د دی کور تر دننه پریښودلې شې، او همداسی هم وشول د څو شیبو وروسته دروازه کراره خلاصه شوه او استاذ څنګ ته ودرید. سترګو کې عجیب احساس و، لکه چې هغه هم زما له خولې د لومړۍ ځل لپاره د ماما د نوم په اوریدو حیران شوی وو!

استاذ- دا دې اول او اخر ځل وی طاها چې دا لفظ د واسطي په توګه پر ما کاروی، ما دوه لارو کې هیڅکله مه بندوه.

استاذ دا خبره وکړل او بغیر له دې چې زما خواته وګوری کور ته ننوت، خو دروازه یې زما لپاره خلاصه پریښوده، زه هم تر شا کرار ورپسې کور ته ننوتلم. د پښو اواز مې راته دروند ښکارېده. پرون همدلته، همدی ځای کې په قهر راغلی وم، خو نن داسې راننوتم ته وا مجرم چې د خپلې فیصلې انتظار باسي.

حویلي خاموشه وه. د سهار رڼا د دیوالونو پر سر خوره وه. د دیوال کونج ته د پرون د ماشو غاب ایښی و، څو نور لوښي یې هم څنګ ته پراته وو، او هغه ځای چې پرون د اقرا مور ناسته وه، اوس تش و.

استاد بې له دې چې شا ته راوګرځي، وویل: همدلته ودرېږه.

زه هم هملته ودرېدم. لاس کې مې بايسکيل کلک ونيو، زړه مې دومره په زور دربيدی چې فکر مې کاوه اوس دی چې له سينې څخه مې راووځي.
استاذ د مخامخ کوټې د دروازې مخې ته ودرېد او په کرار غږ يې ناری کړل.
— اقرا...

د نوم په اورېدو يې لا زما ساه بنده شوه،څو شېبې هېڅ غږ رانغی. بيا د قدمونو ډېر ورو اواز راغی. داسې ورو، لکه هر قدم چې په شک اخلي. دروازه لږه خلاصه شوه. لومړی يې لاس ښکاره شو، بيا يې د لستوڼي څنډه... بيا پخپله اقرا.

د ليونيانو په شان مې ورپسې وکتل، سترګې يې پړسېدلې وې، د ژړا نښې پکې له ورايه ښکاره وې. رنګ يې تک ژيړ شوی و، او څېره يې زما څخه بتر ستړې وه، د ستړيا ځنګ کې په خيره کې وېره او درد هم تر سترګو کيدی.
هغې زه نه وم ليدلی د استاد و مخ ته ولاړه وه چې استاذ شاته شو او د هغې نظر تازه پر ما ولګيد، خو کاش چې سترګې مې ورڅخه نه وايې ليدلې، سترګو کې هغه پخوانی نرموالي يا مينه نه وه، کرکه هم نه وه يوازې يو مات باور و.

دومره هغه نظر يې عصبی کړم چې نظر مې ورڅخه واخيست، خو د استاذ په غږ ور ومې کتل چې کرار يې وويل: هغه کوټې ته لاړ شې او خپل خبری وکړی، خو ..

زما خواته يې مخ راوګرځو.
— خو زور، ګواښ او چيغه دی خبرو کې وا نه ورم طاها! چې دا ځل د هيڅ خبری پروا نه کوم.

شونډې مې وخوځېدې، خو غږ نه راوت. څو ځله مې هڅه وکړه. آخر په مات غږ مې وويل: سمده.

استاذ کوټې ته ننوت او اقرا که څه هم له سترګو يې ښکاريدل چې نغواړی ما وګوری خو راسره روانه شوه، هغه کوټې ته لاړو کوم کې چې ما تل د استاذ څخه درس ويلو،

اقرا لومړۍ ننوتل او زه ورپسې، دروازه مې وتړل او د هغې خواته مې مخ راوګرځو خو هغې ما ته نه راکتل، نظر یې پر بنده دروازې و، عجیب وه خو نظر کې وېره وه!

- اقرا ...

زما په غږ د دروازې څخه یې نظر واخیست، چې زه ورنږدې شوم.
- زما څخه وېرېږې؟ یو شپه کې دومره درته بیګانه شوم چې یو کوټې کې راسره د اوسیدلو ډار لرې؟

اقرا زما د خبرې په اورېدو څو شېبې هماغسې ودرېده. نه یې ځواب راکړ، نه یې زما خواته وکتل. یوازې شونډې یې لږ سره وخوځېدې، لکه ډېر څه چې زړه کې لري خو د ویلو طاقت یې نه وي.

بیا یې په کرار خو په مات غږ وویل: یوه شپه کې نه...(په ناباور نظر یې را وکتل) یوه شېبه کې راته بیګانه شوې ... داسې چې هر څومره مې درته کتل، نه مې پېژندلې.پرون چې دې چیغې وهلې، ما داسې احساس کاوه لکه هغه سړی چې ما کلونه ژوند ورسره تېر کړی، نن زما مخې ته نه دې ولاړ،بلکې یو بل څوک دی... یو بیګانه کس...

دا جمله یې په دومره کرار او غمجن غږ وکړل چې زما نفس یې راپرې کړ. یو قدم ورنږدې شوم.

- اقرا... ما ته غوږ شه. پوهېږم چې ما غلطۍ کړې او هر څه مې خراب کړل، خو په خدای قسم قصداً مې نه غوښتل داسې وشي.

هغې ژر وویل: قسم مه خوره.
غږ یې لوړ نه و، خو دومره کلک و چې پر ځای ودرېدم.
— خپل ښه پوهېږې چې ما د قسم اخیستونکو کسانو څخه څومره کرکه راځي.

سر مې ښکته شو لاس مې کلک موټ کړ، هو پوهېدم اقرا د قسم لفظ د خبرو جریان کې نه خوښېده.

- نو څه وکړم؟ څه ووایم چې باور دې وشي؟
هغې په دردناکه لهجه وویل:
– هېڅ...(سترګې یې له اوښکو ډکې شوې) ما چې کوم باور او اعتماد پر تا درلود هغه تا پرون داسې مات کړ چې اوس هېڅ درڅخه نغوارم.

غوښتل مې خبره وکړم خو اقرا وار رانکړ او ویې ویل: یوه شېبه مې لا دا فکر په ذهن کې لا نه و راګرځېدلی چې ته به راته داسې لفظ ووایې... پوهېږې، پرون ستا لخوا د هر کار تمه مې درلود د کنځلو، سپکو خبرو او حتا د وهلو د هر څه تمه مې درلود خو د دې لفظ هېڅکله هم نه ..

- ما څه ونه ویل.
اقرا غمجن موسکا وکړه.
– و دې نه ویل، خو اراده دې وه... که بابا دې مخه نه وای نیولې.
ویښتانو کې مې لاس تېر کړم او په بې حوصلې لهجه مې وویل: نو څه مې کړی وایې؟ تا زه تر لیونتوب ورسولم، ته فکر کوې دا هر څه ماته اسانه وه؟منم چې تر حده واوښتم خو ستا د کار له لاسه داسې شوم ...

زما په دې خبره کوټه کې یو دم درنه چوپتیا خپره شوه. داسې چوپتیا لکه وخت چې ناڅاپه درېدلی وي. اقرا داسې لکه فشار چې ښکته شوی وی خپل لاس یې شاته ونیو او په کراره په نالې کښېناسته، د هغې دی حال ته مې لږ اندیښنه شوه، نو ځکه یو ګام ورنږدې شوم خو د هغې په نیولې غږ ځای پر ځای ودریدم.

– پوهېږې پرون ما ولې ژړل؟
بغیر د څه ویلو مې وروکتل چې اقرا وویل: د دې لپاره مې ژړل چې کوم کس چې ما

انتخاب کړی و... کوم کس باندی چې ما ویاړ کاوه... کوم کس چې د میني دعوا درلوده هغه پرون زما له سترګو ولوېد.

د دې خبرو سره سم یې د اوښکو غټ،غټ څاڅکي بر مخ راوبهېدل، چې زه بې اختیاره خواته یې ورنږدې شوم او مخامخ ورته کښېناستم.
- مه کوه .. ته وقرآن داسې نامیده خبرې مه کوه، که هره سزا راکوې زما قبول ده، که خبرې نه راسره کوې مه یې کوه. زه به دې تر هغه وخت ناز ویسم او جان و قربان به درته ووایم تر څو چې زړه دی راسره رضا شي، که غوسه یې کنځل راته وکړه اصلاً ومې وهه خو ... خو دا حق نه لرې چې ما دې له زړه وباسې اقرا... دا حق نه لرې.

سر مې کرار د هغې په اوږه کېښود،اقرا لومړی ځان لږ کش کړ او ممانعت یې وکړ، خو ما اجازه ورنکړل چې راڅخه لری شې یا زما سر خپل د اوږې لری کړی، هغې چې هم زما ضد ولید نو کرار،کرار ارامه شوه او د زور وهلو څخه یې لاس واخیست خو ژړا یې شروع کړل.

د هغې دا آرام ژړا مې ښه پیژندل، دا د هغې د تسلیم کیدو مخکې اخری مقاومت و، یوازی یو دوه نرم خبری غوښتل تر څو د زړه بړاس یې ووځي،کراره شي او بیا پر ما باور وکړی، دا څو وخته مې دومره پیژندلې وه، څنګه چې ما د هغې بغیر وخت نشو تېرولې هغې هم نشو تېرولې ...

په دې فکر کرار مې وویل: موږ دواړه په غلطه وو اقرا ...ما ګومان کاوه که کور وساتم، پیسې وګټم، ستا علاج وکړم، بس همدا کافي ده او زه یو ښه خاوند یم، خو دا خبره مې لیاده وتلې وه چې یو کور یوازی په دیوالونو نه آبادېږي، بلکې هغه کور کې موجود د هغه ښځې په احساس، درک کولو آبادېږي..

ژوره ساه مې واخیسته.
- دا زما غلطي وه، خو تا ... تا هم د سم کولو لځایه زما په شان غلطیاني شروع کړل،

تا په دې فکر چې شاید د ماشوم په راوړلو به هر څه سم کړي، زموږ د کور هغه ظاهرې ښېښتې هم راوغورځول.

د اقرا لاس مې کلک په لاس کې ونیو.
- زما غوسه په دې خاطر وه، که ته زر ماشومان هم راوړې که ستا د سر یو ویښته ته خدای مکره زیان ورسیږي، زه هغه ماشومان په څه بلا ووهم؟ که پر تا کوم څه وشي  قسم درته اخلم هغه ټول درته په ژوندیني یتیم خاني ته استوم، زه ماشومان څه وکړم کله چې ته ناروغ اوسیږې یا ... یا ونه اوسیږې ... که پر تا کوم څه وشي زه خپل د ساتلو لا نه یم، څه ورسیږي بل چا ته ... که ته ونه اوسیږې زه هېڅ یم اقرا ... هېڅ ...

کښېناستم د هغې راتوی شوی اوښکې مې په لاس پاک کړل.
- ماته یو چانس راکړه... آخرنی چانس. باور وکړه دا ځل هر څه سموم، هر څه ستا د خوښې مطابق کوم... خو په دې شرط چې ته هم راسره اوسیږې،که ته راسره ونه اوسیږې یا خبرې راڅخه پټې کړې زه یوازې ځان هیڅ کار نشم کولای.

د اقرا سترګو کې یو کمزوری امید راښکاره شو، چې ما یې لاس کلک ونیو.
- راسره یې؟ یو بل چانس راکوې هوم؟ پر ما یو ځل بیا باور کوی خوږې؟

اقرا کرار د تایید په توګه سترګې خلاصې او وتړلې، چې ما په خوشحالۍ د هغې لاس ښکل کړ.

- نو راځه چې خپل کور ته لاړ شو.
اقرا خپل د اوښکو پاکولو حال کې وویل: همدا اوس؟
په تلوار مې وویل: هو، همدا اوس، همدغه دقه راځه ... راځه چې خپل کور ته لاړ شو. باور وکړه ټوله شپه نه یم ویده شوی.

اقرا څو شیبې راوکتل خو ناڅاپه یې غږ لږ بدل شو او په مشکوک لهجه یې وویل:
هو، د ویښتو او ږیرې څخه دې ښکاري چې خوب دی نه دی کړی ...

د هغې دی توجه ته هغه هم په دی وخت کې خندا راغله، ښه و چې کالی مې ورځخه نه واخیستې کنه واویلا دا مصیبت به مې چیرته وړی وایې؟ خپل لاس مې په ویښتانو کې تېر کړ او کرار مې وویل: تللی وم د زبیر کور ته، هغه مې ویښتان او ږیره سم کړل. ویل یې که داسې جنګلی لاړ شې، خسر دې د دروازې مخې ته لا نه پرېږدي کور تخو لرې، نو مجبور شوم ستا د لیدو لپاره د هغه خبره ومنم.

زما په دې خبره بلاخره د اقرا شونډو ته لږه موسکا راغله، خو لا هم لکه زړه نازړه وه او باور یې نه و شوی ویې ویل: که تا دومره فکر درلود، داسې کار به دې نه وای کړی.

- تېرې شوې خبرې نور مه راکشوه، دا موضوع چې هر څومره وځپړو هغومره دواړه پکې ننوځو او ملامتېږو. نو زما خبره ومنه او دا خبره همدلته پرېږده...

اقرا غوښتل څه ووایي، خو ما اجازه ورنکړه او د موضوع بدلولو لپاره مې وویل: رښتیا، ته راشه... ما محمد ته څه اخیستي.

اقرا- څه؟

له ځایه پاځېدم، اقرا مې هم له ځان سره پاځوله او له کوټې ووتلو. په حویلي کې ولاړ سور بایسکل ته مې اشاره وکړه چې اقرا په خوشحالۍ وویل: دا دې کله واخیست؟

په خندا مې وویل: اخیستل یې ته څه کوې؟ راوړی مې په دې نیت و که د زوی چاپلوسي وکړم خدای مهربان دی چې د مور زړه یې په رحم راشي.

زما په دې خبره اقرا په کراره وخندل او زه حیران شوم. کور ته د راننوتلو مخکې دومره ناامېده وم چې فکر مې کاوه یا به مې استاذ د کور د دروازې له مخې شړي، یا به اقرا راسره خبرې نکوی، او که خبری هم وکړې آشتي هم شي نو یو، دوه اوونۍ خو ضرور وخت نیسي چې دا خبرې یې له زړه او فکره ووځي.

خو نیم ساعت کې ټول ذهنیت مې خراب شو. اقرا د هغه ضدی ښځو څخه نه وه، هغې زما په شان یو ارام او کرار ژوند غوښت.

د کورنۍ له جنجالو او خبرو څخه په تنګ وه. نه یې غوښتل په خفګان او غوسه د نورو ښځو په شان د پلار کور کې ټیکه واچوي او خپل او زما ژوند په دې خبرو تریخ کړي.

شاید دا نصیحتونه او خبرې ورته مور کړې وي. د اقرا مور ډېره ساده او عاجزه ښځه وه. ما بار، بار د هغې له خولې اورېدلي وو چې خپلو لورګانو ته به یې د صبر، زغم، مهربانۍ او د خاوند د احترام ساتلو خبرې کولې.

شرمنده شوم له دې چې داسې یوې ښځې ته، چې کوښښ یې زما د کور ساتل او جوړول وو، بې احترامي مې کړې وه. که څه هم د هغې لاره غلطه وه خو ما حق نه درلود ورته دومره بې احترامي وکړم.

- محمد چېرته دی؟
اقرا- د ادې سره دی، ماښام هغې ویده کړ.
- نه یې راویښوې؟ رایوړه چې خپل بایسکل وګوري.

اقرا لنډ راوکتل، خو ژر یې بایسکل ته سترګې ونیولې او کرار یې وویل:ته نه غواړې کوټې ته ننوځې او د ادې څخـ...

اقرا چوپه شوه، خو زه پوه شوم چې مطلب یې څه دی.

- زه ورته ډېر شرمنده یم، دومره چې نشم کولای اوس یې سترګو ته وګورم او بخښنه ورڅخه وغواړم.

اقرا څه ونه ویل، خو ښکارېدل چې زما په همدې نیمه بخښنې غوښتلو هم خوشحاله شوه. کوټې ته ننوتله او څو شېبې وروسته محمد په غیږ له کوټې راووته.

محمد لا هم ویده و او سترګې یې نه وې خلاصې کړې. باور مې نه راتلو، د دغه شیطان چوچي پسې لا دومره مې زړه تنګ شوی و چې ورمخکې شوم، د اقرا له غېږ څخه مې راواخیست او څو ځله مې ښکل کړ.

زما په داسې کلک ښکلولو هغه په ناخوښۍ سترګې خلاصې کړې، خو کله چې پر ما یې نظر ولګېد نو په خوشحالۍ راغبږ کړل:

محمد- بــابـــا...
- جانې بابا... قربانې بابا... بابا دې ستا بلاګردان شي...
اقرا کرار، داسې چې ما یې په زور غږ واورېد، د شونډو لاندې وویل: خدای دې نه کوي.

د هغې په دې خبره که ووایم کیلو، کیلو ګوره مې زړه کې ویلې شوه، دروغ به نه وي. دومره خوشحاله شوم. د هغې خواته مې وکتل او په شیطنت مې وویل: زه دې د دواړو څخه قربان شم.

زما په دې خبره اقرا د شرم څخه شونډه وچیچل او تکه سره شوه. چې ما په خندا محمد د بایسکل خواته ویوړ، خو همغه حال کې د استاذ د کوټې پردې خواته مې پام شو. واضح ښکارېدل چې شاته یې یو کس ولاړ دی او دېخوا راګوري.

شاید د اقرا مور وه؟ دا لومړی فکر و چې ذهن ته مې راغی، او ګومان مې هغه وخت په حقیقت بدل شو چې استاذ خپل ښځې ته غږ کړل او د هغه سره سم پرده خوشې شوه.

ذهن ته مې د ادې خبره راغله، کله ناکله به ما د فرید شکایت ادې ته کو او هغه به مې منع کول له دی چې د فرید سره ښه رفتار کوی خو ادی به تل ویل: که غوږ ګران وي، غوږوالۍ هم په انسان ګرانیږي بچي!

خو ما د ادی دا خبره نه شو درک کولای او په مطلب یې نه پوهېدم، خو اوس پوه شوم، د ادی مطلب دا و که لور پر چا ګرانه وي، د مجبورۍ څخه زوم هم ورباندې ګرانیږي، او دا د اقرا د مور حال و، یوازی د هغې نـه، شاید د ډېر میندو حال وو.

محمد څو ځله بایسکل راسته چپه کش کړ، خو چل یې صحیح نه و زده. نه پوهېده چې څنګه یې روان کړي.د هغه د دې کشمکش په لیدو، په خندا مې هغه پر بایسکل کېناوه او ورته مې وښودل چې څنګه بایسکل روان کړي، خو د استاذ په ناڅاپه غږ ځاې کې ودریدم او مخ مې د هغه خواته چې د برنډې په څوکه ولاړ و وګرځو.

استاذ- خیرت؟

هغه داسې وویل "خیرت؟" لکه غوښتل یې پوه شي چې اخر موږ څه پایلې ته ورسېدو؟

ما ځان سم کړ، مخامخ مې د هغه سترګو ته وکتل. د راتلو وخت کې هېڅ نه وم، یوازې یو مات شوی کس وم، خو اوس... اوس چې اقرا زما څنګ ته وه، زما سره وه او زما خبره یې منلې وه، د غرور او ځواک احساس مې کاوه.

استاذ هم لکه چې زما حالت ته پام شو چې خپل یوه وریځه یې په حیرت پورته کړه، چې ما په ویاړ او غرور وویل: غواړو خپل کور ته لاړ شو کنه اقرا؟

زما په خبره استاذ د اقرا خواته وکتل، چې هغې د شرم څخه ژر سر ښکته واچاوه.

استاذ بیرته زما خواته مخ راوګرځاوه او داسې حال کې چې په ږیره کې یې لاس واهه، سر یې وخوځاوه او ویې ویل: عجب!

ما په تلوار وویل: ښه نو ستاسو په اجازه، موږ به نور لاړ شو.
استاذ- ډېر دې تلوار نه دی؟

لومړی فکر چې ذهن ته مې راغی، همغه مې بې‌اختیاره پر خوله هم راغی.
- دا منطقه امنیت نه لري، وېرېږم چې حق مې غضب نه شي.
زما په دې خبره استاذ کرار وخندل او ویې ویل: منطقه ډېره ښه امنیت لري، مه وېرېږه. تا (د اقرا خواته یې اشاره وکړه) داسې ځاې کلک خپل میخ ټکولی چې حق دې د منطقي بغیر هم درپسې درځي...

د استاذ اشاره د اقرا دومره ژر راضي کېدو او زما سره راتلو ته وه. اقرا هم لکه چې په دې خبره پوه شوه ځکه د شرم تکه سره شوه، خو ما پخندا وویل: لا کار پاتې دی، باید لږ دا میخونه نور هم کلک کړم.

استاذ سمدستي وویل: خو زه فکر کوم ته باید له دې وروسته لږ د خپلې خولې میخونه کلک کړې.

د هغه په دې خبره خندا مې پر خوله وچه شوه. تر نن مې فکر کاوه استاذ طعنې او پیغور ورکول نه زده، خو نن پوه شوم چې هغه هم په طعنو کې د چا څخه په کم نه دی، یوازې مراعات کوی کنه سم پروفیسور دی په طعنو ورکولو کې ...

یو څو شېبې مې وروکتل خو نور مې خبره ورسره یو پر دوه نه کړه یوازې د "ستاسو په اجازه" ویلو مې محمد د بایسکل سره راپورته کړ او د خپل کور خواته روان شوم. اقرا هم راپسې راغله.

کور ته چې ننوتلو، لومړی کار چې مې وکړ، یو غټ کمپل مې راکش کړ او ویده شوم. البته محمد خپل خوب پوره کړی و نو د ویده کیدلو لځایه خپل د بایسکل سره لګیا شو، خو ما او اقرا چې ټوله شپه په ویښه سبا کړی وه ډېر ژر ویده شو، د غرمې وخت کې د محمد په چغ ماچغ چې وړی شوی و او ډوډۍ غوښتل. دواړه راویښ شو.

اقرا په تلوار لځایه پاڅېدل تر څو هغه ته ډوډۍ ورکړی او کرار یې کړې، د هغې په پاڅیدو زما خوب هم خراب شو او ځاې کې کښېناستم، خپل موبایل مې راواخیست،

د روښانه کولو سره سم د زبیر قطار مسجونه په سکرین راښکاره شول، د سل مسجونو څخه یې خو ډېر مسجونه کړي وه" څه وشو؟ " پریښودی؟ "صلح مو وکړل؟ " خسر دی څه درته وویل؟" وې وژلي که څنګه؟ " ولې ځواب نه راکوی؟" د کور خو یې نه یې شړلې؟" که شړلې یې خبر راکړه درپسې درشم" کوم کار ونکړې ګوره" هسې نه چرس ووهې او ځان نشه کړی" که داسې کار دی وکړ ګوره خپل شیدی نه درته بخښم طاها ..."

د هغه د عجیب غریب مسجو پر ویلو مې سترګي د حیرت پراخي شوی، بلخصوص اخری مسج یې د هغه پر ویلو د خندا څخه شین شوم، چې اقرا د اشپزاخاني څخه سر راښکاره کړ.

اقرا- څه شوی؟ په څه خاندی؟
په خندا مې سر ورته وخوځاوه.
- هېڅ، هسې د زبیر مسجونو ته مې خندا راغله.

اقرا ځو شپې راوکتل، خو بیا بغیر له څه ویلو خپل کار پسې روانه شوه. ما هم زبیر ته په یوه جمله کې ولیکل: "آشتي مو وکړه او خبره په خیر خلاصه شوه."

هغه هم هماغه شېبه زما مسج ولوست او د لیکلو په حال کې و، خو ما موبایل بند کړ. پوهېدم چې اوس غواړي ووایي: دا ټول زما د "برکت" وشو او که ما ستا ویښتان او ږیره نه وای درته سمه کړې، خسر دې د کور د دروازې مخې ته لا نه پرېښودی. او همداسې یو پړ، پړه خپل تعریفونه یې کول دا ځو وخته مې ښه دا خاصیت ورڅخه پېژندلی و. نو ځکه موبایل مې ورباندی بند کړو.

هغه شپه، ځکه چې موږ دواړو خپل خوب پوره کړی و، نو تر نیمې شپې ویښ پاتې شو او مجلس مو وکړ. اقرا د کور د رنګ کولو، نوي سامان اخیستلو او نورو شیانو په اړه خبرې کولې. د هغې دا موضوع ډېره خوښېده، نو ما هم ورته په پوره توجه غوږ نیولی و.

اقرا- اوس چې کور مو خپل دی او کرایه نه دې نو کرار، کرار کولای شو ورته ښکلي شیان واخلو.
- لکه څنګه ښکلي شیان؟
اقرا په خوشحالۍ وویل: مثلاً کولای شو د خپلې خوښې رنګ ورکړو، پردې ورته بدل کړو، د نالۍ پوښونه واخلو، حتا کولای شو یو څو ګلان او ونې په حویلي کې وکرو.

د هغې دې خوشحالۍ او شوق ته مې په خندا کتل او سر مې خوځاوه. ما ته نه هغه رنګ مهم و، نه هغه سامان چې اقرا یاداوه، نه کوم بل شی... ما ته یوازې د اقرا هغه خوشحالي او خندا مهمه وه کله چې د دې موضوع په اړه یې خبرې کولې. سترګې یې له خوشحالۍ ځلېدې، او زه د همدې خوشحالۍ لپاره حاضر وم د هغې یاد شوي ټول شیان واخلم...

د شپې شاوخوا دوه بجې وې چې بالاخره د ویده کېدو پرېکړه مو وکړه. که څه هم غرمه تر ډېره ویده شوی وم، خو بیا هم سخت خوب راتلې دومره چې د سر ایښودلو سره سم ویده شوی وم.

نه پوهېږم څومره وخت به تېر شوی و، خو ډاډه وم چې لا سهار نه دی شوی، چې د موبایل په زنګ خوب کې مې وقفه راغله. په پټو سترګو مې موبایل راواخیست او "الو" مې کړ.

د هغه خوا د زبیر وېرېدلی او عجیبه غږ مې تر غوږ شو. د هغه په غږ لږ هوښیار شوم.

زبیر- الو طاها... چېرته یې؟ راشه!
- څه شوي زبیر؟ خیرت خو دی؟ چېرته درشم؟
زبیر په وېره وویل: راشه... ستا د کور کوڅې سره یم... نه پوهېږم څنګه درته ووایم، خو یوه عجیبه پېښه راسره شوې ده.

د هغه په دې خبره نیغ ځای کې کښېناستم او هغه لږ خوب مې هم له سره وېرېد.

- څه شوی؟ د څه پېښه؟ ته نیمه شپه کې دلته څه کوې؟ الو... اورې؟ زبیر...

خو د زبیر ځواب رانغی،نه پوهېږم په کوم تلوار له ځایه پاڅېدم او د کور د دروازې خواته مې منډه کړه. دومره ورخطا وم چې هېڅ فکر مې ذهن ته نه راتلو، چې په دې نیمه شپه زبیر دلته څه غواړي؟ او څه پېښ شوي؟مغز مې جام شوی و، او یوازینی فکر چې ذهن ته راتلو هغه دا و چې باید ځان تر هغه ورسوم.

دومره په تلوار کې وم چې بغیر له دې چې څپلۍ پر پښو کړم، له کور ووتلم.
ذهن کې مې د زبیر یوه خبره تاوېده: "راشه... ستا د کور کوڅې سره یم..."

کله چې کوڅې ته ووتلم، نو شاوخوا تک توره شپه وه. نه سپوږمۍ روښانه وه، نه رڼا سمه لګېده. یوازې د کوڅې اوږده سیورې او د دیوالونو سایې ښکارېدې.هېڅ آواز شاوخوا نه تر غوږ کېده. یو ډول عجیب خاموشي خپره وه.خو زه دومره زبیر ته ورخطا وم چې هېڅ مې دې شیانو ته پام ونه کړ او د کوڅې سر ته په منډه شوم. د زړه درزا مې پخپله اورېده.

هر قدم مې چې اخیست، احساس مې کاوه یو بل نفر هم شاته راپسې روان وي.
د کوڅې سر ته چې ورسېدم، نو په یو سیورې مې نظر ولګېد. که څه هم څېره یې راته په هغه تیاره کې ښکاره نه شوه، خو ګومان مې وکړ چې زبیر به وی نو ځکه ورباندې غږ مې کړ او مخکې لاړم.

زما په غږ هغه کس لږ وخوځېد، خو ځواب یې رانکړ،په تلوار مخکې ورغلم. کله چې ښه ورنږدې شوم، نو مخ مې ورڅخه ولید... زبیر و.

- څه شوي زبیر؟ ته په دې نیمه شپه کې دلته څه کوې؟

زبیر د ځواب راکولو پر ځای خپل لاس زما خواته ونیو،په حیرت مې د هغه د لاس خواته وکتل... او ناڅاپه ساه مې سینه کې بنده شوه...

د زبیر لاس کې بوجۍ وه...
همغه... همغه منحوسه بوجۍ وه...
د بوجۍ څخه څاڅکي، څاڅکي وینه تویېده.

دومره ډار شوی وم چې سترګې مې له هغه بوجۍ نه شوې اخیستی.
زبیر په کرار ګامونو رانږدې شو او بوجۍ یې ښه زما خواته ونیوله.

زبیر- واخله طاها... دا ستا برخه ده...

په ډار څو ګام شاته شوم، او ژړا ته نږدې شوی وم چې ناڅاپه خپل لاس کې ګوتمۍ ته مې فکر شو، هېڅ رڼا یې نه کول یو دم خاموش وه. د هغه په لیدو مغزو مې ډېر ژر کار پیل کړ او پوه شوم چې دا ټول هسې خوب دی، نه رښتیا.
په دې فکر د لیونیانو په شان د وېرې او وحشت مینځ کې مې خندا شروع کړل.

- همدومره دې زور و زقوم؟ نااميده شوم درڅخه...

زما په دې خبره زقوم چې د زبیر په شکل کې ښه ځان ځای پرځای کړې و، او بوجۍ یې زما خواته نیولې وه، او په شیطاني موسکا یې کوښښ کاوه ما وډار کړي، خندا یې په خوله کې وچه شوه، چې ما په افسوس ورته سر وخوځاوه.

- فکر مې کوو ته ډېر ځواک لرې، خو ته ...

بیا مې سر ورته په افسوس وخوځاوه چې زقوم په غوسه خپل اصلي شکل کې راڅرګند شو او بوجۍ یې لرې د کوټې خواته وغورځوله.

زقوم- څنګه پوه شوی چې خوب وینې؟
په پوزخند مې خپل د لاس ګوتمۍ وروښوده.
- پوهېږې دا ګوتمۍ هغه وخت توره ځلا کوي چې زما په لاس کې نه وي، خو ته وګوره اوس زما په لاس کې ده، بیا هم توره ځلا کوي! نو مطلب زه جسماً دلته

موجود نه یم. که جسماً دلته نه یم، نو مطلب دا مې روح ده ... او روح په دوه شرایطو کې د انسان له بدنه جلا کېدای شي، لومړی خوب، دویم مرګ...

زقوم په تلوار وویل: نو ته مړ یې.
پخندا مې وویل: فکر نه کوم، ځکه که زه مړ وای نو ته به دلته نه وای.
زقوم- نو زه به ولې نه وای؟
په شیطنت مې وویل: اومم... ځکه چې ته د شجره‌نامې له مخې شیطان یې او انسان چې کله مړ کېږي نو روح یې پوهېږي څوک اخلي؟

زما په دې خبره واضح مې ولیدل چې زقوم له وېرې ولړزېد، او ما خوند واخیست هغه زه دلته راغوښتي وم چې ما وډار کړی خو اوس ما هغه راګیر کړی وو، پوهېدم چې شیطانان د عزرائیل"ع" د نوم او حضور څخه څومره ډار او وحشت لری، نو ما هم همغه خبره راونیول.

- آفرین، صحیح ګومان دی وکړ، هماغه راځي پخپله راځي .. یوازی هم نه راځې... د یو لښکر سره راځې ... هې ... عجب راتګ به یې وي .. رښتیا تا تر اوسه لیدلی؟

زقوم په غوسه وویل: ورځه ورک شه، خو فکر مه کوه چې په داسې آسانۍ به دې پرېږدم ...

په خندا مې سر ورته وخوځاوه.
-هېڅ، هسې د زبیر مسجونو ته مې خندا راغله.

اقرا څو شېبې راوکتل، خو بیا بغیر د څه ویلو خپل د کار پسې روانه شوه، ما هم زبیر ته په یوه جمله کې ولیکل چې "آشتي مو وکړه او خبره په خیر خلاصه شوه."

هغه هم هماغه شېبه زما مسج ولوست او د لیکلو په حال کې و، خو ما موبایل بند کړ. پوهېدم چې اوس غواړي ووایې: دا ټول زما د "برکت" که ما ستا ویښتان او ږیره نه وایې درته سمه کړې خسر دې د کور د دروازی مخې ته لا نه پرېښودي. او

همداسې يو پرېپره خپل تعريفونه کوی، دا څو وخته مې ښه دا خاصيت ورځخه پيژندلې وو.

هغه شپه، ځکه چې مورې دواړو خپل خوب پوره کړی و، نو تر نيمې شپې ويښ پاتې شو او مجلس مو وکړ. اقرا د کور د رنګ کولو، نوي سامان اخيستلو او نورو شيانو په اړه خبرې کولې. د هغې دا موضوع ډېره خوښېده، نو ما هم ورته په پوره توجه غوږ نيولی و.

اقرا- اوس چې کور مو خپل دې نو کرار،کرار کولای شو ورته ښکلې شيان واخلو.
- لکه څنګه ښکلي شيان؟
اقرا په خوشحالۍ وويل: مثلاً کولای شو خپل د خوښې رنګ ورکړو، پردې ورته بدل کړو، د نالۍ پوښونه واخلو، حتا کولای شو يو څو ګلان او درختي حويلۍ کې وکرو. اوس خو مو خپل کور دی.

د هغې دې خوشحالۍ او شوق ته مې پخندا کتل او سر مې خوځاوه، ما ته نه هغه رنګ مهم و، نه هغه سامان چې اقرا ياداوه، نه کوم بل شئ ما ته يوازې د اقرا هغه خوشحالي او خندا مهمه وه، کله چې خبرې کولې. سترګي د خوشحالۍ څخه پرقيدل، او زه د همدی خوشحالۍ لپاره حاضر وم د هغې ياد شوی ټول شيان واخلم ...

د شپې شاوخوا دوه بجې وې چې بالاخره د ويده کېدو پرېکړه مو وکړه. که څه هم غرمه تر ډېر ويده شوی وم خو بيا هم سخت خوب راغلې و، دومره چې د سر ايښودلو سره سم ويده شوی وم. نه پوهېږم څومره وخت به تېر شوی و، خو ډاډه وم چې لا سهار نه دی شوی، چې د موبايل په زنګ خوب کې مې وقفه راغلل، په پټو سترګو مې موبايل راواخيست او "الو" مې کړ.

د هغه خوا د زبير وېربدلی او عجيبه غږ مې تر غوږ شو، د هغه په غږ لږ هوښيار شوم.

زبير- الو طاها... چېرته يې؟ راشه!
- څه شوي زبير؟ خيرت خو دی؟ چيرته درشم؟
زبير په وېره وويل: راشه... ستا د کور کوڅې سره يم... نه پوهېږم څنګه درته ووايم، خو يوه عجيبه پېښه راسره شوې ده.

د هغه په دی خبره نيغ ځاې کې کښېناستم او هغه لږ خوب مې هم له سر وپرېد.
- چيرته؟ زما د کور سره؟ ته نيمه شپه کې دلته څه کوی؟ الو .. اوری .. زبير ..

خو د زبير ځواب رانغې نه پوهېږم په کوم تلوار لځايه پاڅيدم او د کور د دروازی خواته مې منډه کړه، دومره ورخطا وم چې هېڅ فکر مې ذهن ته نه راتلو چې په دی نيمه شپه زبير دلت  څه غواړې؟ او څه پيښ شوی؟ مغزه مې جام شوی وه او يوازيني فکر چې ذهن ته راتلو هغه دا و چې بايد ځان تر هغه ورسوم، دومره په تلوار کې وم چې بغير له دې چې څپلی پر پښو کړم له کور ووتلم، ذهن کې مې د زبير يوه خبره تاويده" راشه... ستا د کور کوڅې سره يم.."

کله چې کوڅي ته ووتلم نو شاوخوا تک توره شپه وه،نه سپوږمی روښانه وه، نه رڼا سمه لګېده. يوازې د کوڅې اوږد سيوري او د ديوالونو سايه ښکاريدل، هيڅ آواز شاوخوا نه تر غوږ کيدی، يو بېول عجيب خاموشي خپره وه، خو زه دومره زبير ته ورخطا وم چې هېڅ مې دې شيانو ته پام ونکړ او د کوڅي سر ته په منډه شوم، د زړه درزا مې پخپل اوريدل

هر قدم مې چې اخيستې احساس مې کاوه يو بل نفر هم شاته راپسې روان وي.
د کوڅې سر ته چې ورسېدم، نو په يو سيوری مې نظر ولګيد که څه هم څېره يې راته هغه تياره کې ښکاره نشوه خو ګومان مې وکړ چې زبير دی، نو ځکه ورباندی غږ مې کړل او مخکې لاړم، زما په غږ لږ وخوځېد، خو ځواب يې رانکړ.

په تلوار مخکې ورغلم، کله چې ښه ورنږدی شوم نو مخ مې ورڅخه وليد زبير و.
- څه شوی زبير؟ ته په دی نيمه شپه کې دلته څه کوی؟

زبیر د ځواب راکولو لځایه خپل لاس زما خواته ونیو، په حیرت مې د هغه د لاس خواته وکتل او ناڅاپه ساه مې سینه کې بنده شوه ... د زبیر لاس کې بوجۍ وه ... همغه ... همغه منحوس بوجۍ وه ... د بوجۍ څخه ځاځکي،ځاځکي وینه تویېدل، دومره ډار شوی وم چې سترګي مې د هغه بوجۍ څخه نشو اخیستي زبیر په کرار ګامونو رانږدی شو او بوجۍ ښه زما خواته ونیول.

زبیر- واخله طاها دا ستا برخه ده ...

که څه هم تر مرګ وېرېدلې وم، خو ډېر ژر مې ځان راټول کړ او پوه شوم چې دا ټول هسې خوب دی نه رښتیا.

په دې فکر ناڅاپه پخندا شوم.
- همدومره دې زور و زقوم؟ نامید شوم درڅخه ...

زما په دی خبره زبیر چې بوجۍ زما خواته نیولې وه، شیطاني موسکا یې له شونډو وپرېدل چې ما پخندا وویل: څومره چې ته ما پیژني هغومره زه هم تا پیژنم زقوم، لیاده مه باسه ته زما قرین یې ...

زما په دی خبره زقوم چې پوه شوی و، پلان یې ناکام شوی خپل په شکل کې راڅرګند شو او بوجۍ لرې د کوځي خواته واچول.

زقوم- څنګه پوه شوی چې خوب ویني؟
په پوسخند مې خپل د لاس ګوتمۍ وروښودل.
- پوهېږي دا ګوتمۍ هغه وخت توره ځلا کوی چې زما لاس کې ونه اوسیږی، خو ته وګوره اوس زما لاس کیده بیا هم توره ځلا کوی! نو مطلب زه جسماً دلته موجود نه یم، که جسماً دلته نه یم نو مطلب دا مې روح ده او روح په دوه شرایطو کې د انسان د بدن څخه جلا کیدلې شې لومړۍ خوب دویم مرګ ...

زقوم- نو ته مړ یې.
پخندا مې وويل: که مړ وایې ته به دلته نه وایې.
زقوم- نو زه به ولې نه وایې؟
- اوممم ځکه چې ته شجره نامه کې شیطان یې او انسان چې کله مړ کیږی نو روح یې پوهیږی څوک اخلې؟

زما په دی خبره واضح مې ولید چې زقوم له ویرې ولړزید.
چې ما پخندا وویل: آفرین، ښه فکر دی وکړ همغه راځې پخپله ... رښتیا تر اوسه دی لیدلی؟
زقوم- ورځه ورک شه، خو فکر مه کوه چې په داسې اساني دې پریږدم.

خو ما چې تازه د زقوم څخه خپل د غچ اخیستلو وار په لاس راوړی و، په پوسخند مې دوام ورکړ:
- یعنې دومره ورڅخه ډار لرې چې حتا نه غواړې نوم یې لا واورې؟
زقوم په هماغه غوسه وویل: زه نه ورڅخه ویریږم.
په پوسخند مې وويل: هو، ښکارې... رښتیا پوهیږې ما اوریدلي ستاسو مشر ارباب (شیطان) انسان د مرګ تر شیبې پورې په کرار نه پریږدي، د انسان د غوږ څنګ ته کښېني او کوښښ کوي هغه د ایمان څخه واړوي، خو کله چې ستا د ارباب ارباب راشي (مطلب مې عزرائیل "ع" و) نو هغه وخت د ویرې څخه تښتي.

زقوم چې د ډیرې غوسې له امله د چاودیدو په حال کې و، تقریباً په چیغه یې وویل: ته حق نه لرې هغه ته داسې بې‌احترامي وکړې!

په ریشخند مې وویل: اوو... نو شیطان دومره درته ګران دی؟ نچ نچ... بدبختانو اخر کې به ټول یو ځای په جهنم کې وسوځیږئ...
زقوم په غوسه وویل: څنګه دې خوښه ده، د هغه څخه مخکې تا وسوځوم؟
په بې‌پروایۍ مې وویل: کوښښ دې وکړه خو فکر نه کوم دومره زور ولرې.

زقوم په شیطاني لهجه وویل:شاید زه یې ونه لرم، خو پوهېږې نور شیطانان دا زور لري چې خپل د مشر قصد درخخه واخلي.

د هغه په دې خبره لږ وېدار شوم، یو همدا پاتې و چې شیطان او د هغه مریدان ځان پسې کړم، نور خو ماشاءالله د بدبختۍ هر خوا پوره را رسېدلې وه. د موضوع د اړولو لپاره مې وویل: دا خبرې پرېږده، ته دا وواېه چې ستا ستونزه زما سره څه ده؟ زقوم په غوسه زما مخې ته ودرېد. سترګې یې له غوسې ډکې وې.

— زه نه غوارم ستا قرین اوسم.
یوه شېبه چوپ شوم، بیا مې په ګنګس انداز وویل: ته نه غوارې زما قرین اوسې؟ زقوم په هماغه غوسه سر وخوځاوه.
— هو، نه غوارم. نه یوازې ستا، زه قرین اوسېدل نه غوارم. قرین یعنې بند... یعنې هېڅ ځای ته تلل نشته. یعنې تل به ستا سره تړلی یم... ستا د ژوند سیوری. زه دا نه غوارم... زه ازادي غوارم.

د زقوم لهجه بیحد جدی وه خو ماته خندا راغلل او ومې ویل: نو څه وکړم؟ ورځه حقوق بشر کې شکایت وکړه، هان ... رښتیا تاسو خو حقوق بشر نلری،حقوق پیریان لری لاړ شه هلته شکایت وکره ...
زما په دی خبره زقوم څو شیبې بغیر د څه ویلو په درونده نظر راوکتل او لومړۍ ځل و چې د هغه د داسې نظر په لیدو زه لږ وېدار شوم او ژر مې وویل: باور وکړه، زما هم شوق نشته چې تا په زور خپل قرین جوړ کړم، خو اوس خو همداسې شوی، څه وکړم؟ څنګه تا ازاد کړم؟ زما له لاسه کوم کار کېږي؟

زقوم لږ شانته شو، غاښونه یې وچیچل، بیا یې په کرار خو سخت غږ وویل: زه اوس ازادي نه غوارم، ځکه پوهېږم چې دا امکان نه لري.
- نو څه غوارې؟
زقوم- یو چا ما ته چل راکړی او غوارم د هغه څخه ښه بدل واخلم.

بې‌اختیاره خندا راغله او ومې ویل: نن څه جالب خبرې اورم! یو چا تاته چل درکړی؟ الله اکبر! دا نو څنګه امکان لري؟ څنګه چل یې درکړی؟

زقوم لږ رانږدې شو، غږ یې ورو کړ:
- یو مولا دی، اصل کې جادوګر دی. هغه ویل که زه د هغه غوښتنې ومنم، نو ما ته به د یو عادي پیري ژوند راکړي... ازادي به راکړي...(تندی یې تروش کړ) خو هغه دروغ ویل، یوازې خپل کار پر ما کاوه کله چې کار خلاص شو زه یې وشړلم ...

په حیرت مې وویل: مولا؟ انس که جن مولا؟
زقوم- انس!
د هغه په دې خبره حیرت مې لا زیاد شو.
- انس! یعنې تا د یو انسان مولا سره معامله وکړه؟
زقوم د "هو" په بڼه سر وخوځاوه.
- د څه معامله وه؟ هغه تاته څنګه ازادي درکوله؟

زقوم- دا بحث ډېر پېچلی دی، خو په ساده توګه که درته ووایم، ستاسو انسانانو په ژبه نو داسې فکر وکړه چې ته غواړې لاړ شې خارج ته، خو ستا سره نه ویزه شته نه پاسپورټ، نو ته څنګه ځې؟

لږ مې فکر وکړ.
- نه ویزه شته نه پاسپورټ ... قاچاقي!
زقوم په تایید سر وخوځاوه، چې زما سترګې د حیرت پراخې شوې.
- یعنې څه؟ تا غوښتل قاچاقي چیرته لاړ شې؟

زقوم- د پیریانو نړۍ ته... موږ قرینان ځان ته کوم خاص نړۍ او واک نه لرو، موږ ستاسو سره ګرځو، ستاسو سره خبرې کوو او ستاسو نړۍ کې تګ راتګ کوو، خو ما غوښتل د یو عادي پیري په شان ژوند وکړم، نه د یو بندي قرین په شان ... نو ما

معامله وکړه، هغه کولای شول راته یوه لاره پیدا کړي تر څو د پیریانو نړۍ ته تګ راتګ وکړم، خو چل یې راکړ، یوازې موقتي کار و. ډېر ژر ونیول شوم ..

د زقوم په دې خبره لومړۍ د شموئیل خبره ذهن ته راغلل چې ویل یې: تاسو تذکره لرئ خو موږ یو خاص بوی لرو چې د هغه په اساس یو بل پیژنو" بیا د عبدالرحمان خبره ذهن ته راغله، چې شموئیل ته یې وویل: زقوم په همدې شاوخوا دی، خو عجیب ده بوی یې بدل شوی!

نو دا هماغه معامله وه کومه چې زقوم کړې وه، یو ډول جعلي اسناد یې ځانته جوړ کړي وه تر څو په هغه باندې د پیریانو نړۍ ته لاړ شي خو ډېر ژر راګیر شوی و..
په دې فکر، په خندا مې وویل: جالب ده، ما فکر کاوه دا قاچاقي تګ راتګ او دا جعلي اسناد یوازې زموږ د انسانانو نړۍ کې شتون لري،خو ماشاءالله تاسو هم پرمختګ کړی، ویزه، پاسپورټ او حتا قاچاقبران هم لرئ! خو عجیب ده، دا قاچاقبر مو نو ولې انسان دی؟

زقوم څو شېبې چوپ شو، د هغه وروسته یې وویل: هغه ډېر کسان په دواړو خواوو کې پېژني.
په ریشخند مې وویل: اهوم... نو مشهور قاچاقبر دی...
زقوم- ریشخند وهې؟
په خندا مې وویل:نه، ولې ریشخند ووهم؟ یوازې راته جالب و. ښه، له ما څخه ته اوس څه غواړې؟

زقوم چې د همدې پوښتنې په تمه و، په خوشحالۍ وویل: مرسته راسره وکړه، غوارم هغه کس ته داسې سزا ورکړم چې عبرت ورته وګرځي ...
- نو ولې زما څخه مرسته غواړې؟ ورځه خپل قصد پخپل ورڅخه واخله.
زقوم- خبره مه اړوه طاها... ته خپله پوهېږې چې زه یوازې په خیالونو، فکرونو او خوبونو کې لاس‌وهنه کولای شم، نور نشم کولای کوم فزیکي کار تر هغه وخته ترسره

کرم تر څو چې یو جسم ته داخل نشم، او بدبختانه ځکه چې زه قرین یم نو نشم کولای د هر چا جسم ته ننوځم، یوازې ستا جسـ...

خبره مې ورپرې کړه.
- صبر... صبر، څه دې وویل؟ زما جسم؟ یعنې ته غواړې زما جسم ته راننوځې، ما خپل د کنټرول لاندې راوړې او لاړ شې خپل قصد د هغه مولا، جادوګر، څه مرګ دی، د هغه څخه واخلې؟

زقوم په کراره سر وخوځاوه، لکه ډېر عادي وړاندیز چې یې کړی وي.
زقوم- یوازې د لږ وخت لپاره. ته به هېڅ شئ هم احساس نکړې. کله چې کار خلاص شي، بېرته به دې خوشې کړم.

په بې‌باورۍ څو قدمه شاته لاړم او بیا مې په ریشخند وخندل.
- ته فکر کوې دا کوم د څلور لاری کرایي ټکسي ده چې غواړې د یو څو ساعتو لپاره یې په قرض واخلې بیا یې ماته راوسپارې؟!

زقوم چې زما مخالفت ولید نو د لومړي ځل لپاره د هغه په څېره کې عاجزی او بېوسي ښکاره شول.

زقوم- طاها... یوازې یو ځل. هغه هم د لږ وخت لپاره ..قسم کوم چې تا ته به هېڅ زیان ونه رسېږي.
په پوسخند مې وویل: قسم؟ عجیب ده ته کافر د کوم وخت څخه خدای او قرآن منې چې قسم یادوې؟

زقوم د دې لځایه چې زما په طعنو غوسه شې یو ګام رانږدې شو. غږ یې نرم شو داسې نرم ته وا زاری چې کوی.
— ته نه پوهېږې، خو که دا وار مې له لاسه ووت، بیا شاید هېڅکله چانس پیدا نه کړم. هغه زه استعمال کړم، ما ته یې چل راکړ، دوکه یې کړم زه یوازې غواړم خپل حق ورڅخه واخلم.

په بې‌پروايۍ مې اوږه پورته واچول.
- ښه کار يې کړې نوش جان يې، چا تاته ويلې وه چې لاړ شه د يو انسان مولا سره معامله وکړه؟ څه چې کړی همغه به ريبې ..
زما په دې خبره د زقوم تندی تروش شو.
— دا ستا په خير هم ده.
- زما په خير؟ ستا په نظر دا زما په خير ده چې يو شيطان راشي زما جسم ته ننوځي، ما بې‌واکه کړي او بيا راته ووايي "انديښنه مه کوه د څو ساعتو خبره ده؟!"
(په غوسه مې دوام ورکړ: دا خير دی تاته مبارک وی زه دا کار نه کوم هېڅکله هم نه.

زقوم يو ګام نور هم رانږدې شو.
— ګوره طاها ته نه پوهېږې دا کس ډېر مضر دی، که همداسې پرېږدو تا ته هم ضرر رسوی.

په کلک مې وويل: دا کس که فرعون هم وي، بيا هم زما جسم د کرايې کور نه دې چې زه يې تاته په کرايې درکړم.
زقوم غاښونه وچيچل.
— ته مجبور يې.
په قهر مې وويل: پلار به دې مجبور وی، زما خوله پر ځان مه خلاصوه زه دا خبره زر کاله وروسته هم نه منم.

زقوم- په مفته کار نه درڅخه غواړم معامله راسره وکړه، دوه ساعت خپل جسم ماته په قرض راکړه د هغه په بدل کې زه تاته هغه شويس راوړم کوم چې په خوړولو يې بوډۍ ته دی زړه کيږی، پوهېږم چې اوس بوډۍ نشی خوړلې او پيريانو په شان په بوی مړيږی ..

په پوسخند مې وويل: وسوسه کوونکي خبره وه خو زما ځواب بيا هم "نـه" دې ترجيح ورکوم د لوږی له لاسه مړ شم خو تاته خپل جسم درنکړم ..

زقوم یو څه نور هم کوښښ وکړ خو کله چې ولید زما خبره نه دوه کېږي نو کرار شاته لاړ د هغه په شاته تلو ناڅاپه فضا درنه شوه. د کوڅې تیاره لکه نور چې هم تیاره شوی وي،زقوم په ګواښونکي لهجه وویل: معامله مې وکړه، مشوره مې وکړه .. زاری مې وکړل .. خو تا یوه خبره هم ونه منل اوس نو و دربړه چې څه درباندی کوم ...

د هغه په دې خبره لړ و ډار شوم خو ځان مې کلک ونیو او ومې ویل: تر څو چې زه ژوندی یم، ته زما د رضا پرته زما سیوري ته لا نشې رانږدې کېدای، په زور راتلل خو لری خبره، که تا د زور له لاری دا کار کولای شو نو زاری به دی نه کول.

زقوم څو شېبې چوپ ودرېد. بیا یې په کرار وخندل او ویې ویل: غوښتل مې ستا په مشوری دا کار وکړم تر څو لیوني ملګری دی راته په غضب نشې، خو لکه چې لړ باید خطر واخلم؟!

د دی خبری سره سم کرار،کرار شاته روان شو، او د تیاری مینځ کې ورک شو، د هغه د ورک کیدلو سره سم د ژورې ساه په اخیستو له خوب راویښ شوم.
په کوټه کې وم، په زوره مې ساه اخیسته تندی مې د خولې څخه ډک و. د سهار د آذانو وخت و د آذان کرار غږ د کوټې له کړکۍ څخه دننه رانئوت. اقرا او محمد کرار ویده وه، په تلوار مې خپل لاس ته وکتل ګوتمۍ په خپل ځای وه.

هوسا ساه مې واخیسته، لعنت دې وی دا اوس خوب و که رښتیا؟ څومره رښتینئ ښکاریدي!

پاڅیدم اودس و لمونځ مې وکړ اقرا مې هم لمانځه ته راویښه کړه بیا بیرته خپل ځای ته راغلم او څملېدم، احساس مې کاوه د بدن انرژی مې مخ پر خلاصیدو ده، پوهېدم چې بدن مې د ډوډۍ نه خوړولو له لاسه مخ پر کمزوری کیدو دی، او د هغه څخه بتر دا چې پوهیدم د زقوم او هر بل پیری په رانږدی کیدو زما انرژی لمینځه ځي، د هغوی راتګ زما انرژی اخیستل.

زه انسان وم او نه مې شو کولای په دوامداره توګه د پیریان سره په تګ راتګ کې اوسیږم، باید یو کار مې کړی وای .. باید شموئیل مې خبر کړی وای پر بل چا مې باور نه درلود .. البته زما ستونزه بل چا حل کولای هم نشو ..

په همدی فکرونو کې خوب وړی وم،سهار د نهه بجو شاوخوا وه چې دروازه وټکېده. اقرا د اشپزخاني څخه راغږ کړل، په پټو سترګو له خوب ورغلم او دروازه مې خلاصه کړه، د دروازی شاته اشرف ولاړ و، زما په لیدو خو شیبې راته ځیر شو بیا یې په مشکوک توګه وپوښتل: دا رنګ دې ولې داسې خراب دی؟
خپل په مخ مې لاس تېر کړ او په بې حوصلې لهجې مې وویل: راغلې یې زما د رنګ پوښتنه وکړې؟
زما په توند لهجه اشرف کرار وخندل.
— نه، ستا رنګ په څه بلا وهم، مشر ویل درپسې درشم.

د هغه په دی خبره تازه د عزیزی د هغه ورځ خبره ذهن ته راغلل، چې زما رخصتي لغوه کړل او ویې ویل دوه ورځې وروسته کار ته راشه، سترګې مې وموښلې او په کرار لهجه مې وویل: نن مې لږ طبعیت ښه نه دی، کولای شې د مشر څخه دې راته اجازه واخلې؟

د اشرف تندی تروش شو.
— څه شوی؟ تبه لرې؟
- نه... سر مې دروند دی، بدن مې درد کوي فکر کوم زوکام نیولې یم.

اشرف خو شیبې په شکمن نظر راوکتل د هغه وروسته خپل موبایل یې راوویست، یو دوه ګام زما د کور د دروازی څخه لری شو او په خبرو لګیا شو، پوهیدم چې د موبایل هخوا عزیزی دی، د خبرو منځ کې اشرف دوه درې ځل زما خواته راوکتل او بیا یې یو څه وویل تر دې چې موبایل یې بند کړ او زما خواته راغې.

اشرف- اجازه یې درکړل ویل که ډېر مریض یې شفخاني ته دی ویسـ..

په تلوار مې خبره ورپرې کړل.
- نه ... شفخاني ته ضرورت نشته، مننه چې رخصت دې راته واخیست.
د کور دروازه مې لږ بنده کړه خو پوره بندولو مخکې مې وویل: ډېر مې زړه غوښت د پیاله چای ست دربندی وکړم، خو حوصله یې نه لرم نو ښه وخت ولری ..

د اشرف کرار خندا مې واوریدل خو نور و نه دریدم او روان شوم، جالب وه د اشرف رفتار او اخلاق راسره بدل شوی وه، د پخوا په شان یې راته تندی نه تروش کو او هر خبره کې د مشر، حکم ..د مشر خبره نه ویلو، ولاکه چې څه معجزه شوی وه خو مهربان شوی وو! البته د دوي دښمني او دوستي نه ده معلومه یو دقه جاني، جاني ملګری یې بل دقه دې درب ولې مرِ کوې دې ...

دروازه مې وترله او ببرته کوټې ته راغلم. اقرا د محمد مخې ته ناسته وه او په چای کې یې ورته ډوډۍ میده کوله. زما په لیدو یې وپوښتل: څوک و؟
- د شرکت ملګری مې و، راغلی و چې ما له ځان سره کار ته یوسي.

اقرا- اوس غواړې لاړ شې؟

په سترې انداز مې ځان پر نالې وغورځاوه.
- نه، ورته مې وویل نن مې طبعیت لږ ښه نه دی.
اقرا څو شیبې راوکتل، بیا یې په کراره وویل: رښتیا هم نن دې حالت ښه نه ښکاري، درد لرې؟

په بې‌حوصلې خندا مې وویل: نه، د څه درد؟ هسې سترې یم، نو ځکه مې بهانه ورته راوړه.

اقرا محمد ته یو ګوله ډوډۍ په خوله ورکړه او په جدي لهجه یې وویل: ټوکې مه کوه طاها... رنګ دې ژېړ شوی، سترګې دې ننوتلې دي، مریض یې؟!

د هغې په دې خبره نظر مې ورڅخه واړاوه. څه مې ورته ویلې وای؟ دا چې نیمه شپه مې له خپل قرین سره په دې خبره جنګ کړی، چې هغه زما بدن غوښت؟
ژوره ساه مې واخیسته او ومې ویل: هېڅ نشته، بس لږ ستړې یم.

اقرا نور څه ونه ویل، خو پوه شوم چې زما په خبرو یې باور ونه کړ.

تر غرمې همدلته پروت وم. سترګې به مې چې پټې کړې، نو د زقوم خبرې به ذهن ته راتلې"غوښتل مې ستا په مشوره دا کار وکړم خو اوس..."
په غوسه مې سترګې خلاصې کړې او ومې ویل: لعنت دې پر تا وی منحوسه!
اقرا د اشپزخانې څخه راغږ کړل: څه دې وویل؟

په تلوار مې ځواب ورکړ: هېڅ... محمد ته مې ویل شور مه کوه، غوارم ویده شم.

اقرا څه ونه ویل، خو ومې لیدل چې د محمد پسې له آشپزاخانې ووتل تر څو کرار یې کړي.

تر مازدیګره په همدې ذهنې کشمکش کې وم او هېڅ کار مې زړه نه غوښت. تر دې چې بیخي مې حوصله تنګه شوه،له کوټې راووتلم او دباندې د برنډې په څوکه کښېناستم.محمد لګیا و، خپل بایسکل یې راسته چپه چلاوه. د هغه دومره زحمت ته چې د هر غورځېدو وروسته به راپاځېد، بایسکل به یې سم کاو خو بیا به راچپه کېده، په خندا مې کتل، چې دروازه وټکېده.

اقرا چې د محمد څنګ ته ولاړه وه، زما خواته راغله تر څو کور ته ننوځي، زه هم پاځېدم او دروازه مې خلاصه کړه.

زبیر و، د خندا څخه په ډکه خوله ولاړ و. د هغه په لیدو بې‌اختیاره د ماښام لیدلی خوب مې ذهن ته راغی او ګومان مې وکړ چې بیا زقوم دی؟ خو د ګوتمې په ځلا چې شنه ځلا یې کوله، ډاډمن شوم چې کوم پیری نه دی او پخپل زبیر دی.

خو په عادي حالت کې نه ښکارېده. ویښتان یې په یو هنر پورته کړي وو، نوي کالي یې اغوستي وو، دومره عطر یې وهلی و چې د سلواتیا متری څخه لا بوی ورڅخه تله، خوله یې هم درې منه وازه نیولې وه او هغه بېځایه موسکا یې هم پر خوله وه چې هر وخت د کومې بلا جوړولو مخکې به یې خپل پر شونډو خپرول.

زبیر- دا ولې داسې یې؟ ته وا د درې ورځو وروسته چا له قبره راویستی یې.
- ته خپل حال وایه دلته څه غوارې؟
زبیر- کالي بدل کړه، ځو.
- چېرته؟
زبیر- میلمستیا ته.
- لومړی خو یو سلام واچوه.

زبیر- ښه سلام علیکم، راځه چې ځو.
- وعلیکم سلام، نه ځم.
زبیر- ځې.
- حوصله نه لرم زبیر، مریض یم.
زبیر په خندا وویل: ته مریض نه یې، سست یې. البته که خسر یا ښځې وهلی یې هغه بیا بله خبره ده.

- بېځایه خبرې مه کوه، زړه مې نه غوارې.
زبیر رانږدې شو، غږ یې ښکته کړ.
— واده دی... کوم ساده میلمستیا نه ده، ډېر غټ واده دی... ډوډۍ، کباب، قورمه، شیریني، او تر ټولو مهمه... ټول مفت راکوي.
د هغه په دې خبره بېاختیاره مې وخندل.
- ته به کله موړ شې؟
زبیر- زه شکر موړ یم، غوارم تا موړ کړم. شابه، تیاره شه لس دقیقې وخت لرې.

- نه ځم زبیر.
زبیر- ځې... ښه هم ځې... ته ماته دا ووایه، دا څو کالو کې کوم واده ته تللی یې؟ البته خپل د واده بغیر؟
لږ مې فکر وکړ، خو زما د ځواب ورکولو مخکې زبیر وویل:په مغزو دې فشار مه راوړه، نه یې تللی نو راځه، نن زه دربانديې احسان کوم او ورېم دې. هغه هم کوم معمولي واده نه دی، داسې بزنم دی...

غوښتل مې ووایم نه غوارم لاړ شم، خو زما د څه ویلو مخکې زبیر د کور دننه سر ننباسه او په لوړ غږ یې وویل: وریندارې! دا ستا مېره زه له ځان سره بیایم واده ته، قول درکوم چې نه پرېږدم هېچا ته دې وګوري، اجازه شته یوسم؟

د زبیر په دې کار زما سترګې د حیرت پراخې شوې، خو اقرا مې ولیدله چې لږ د برنډې خواته یې سر راښکاره کړ او په کرار غږ یې وویل: ویسه ورور، نن ټوله ورځ کور کې و.
د اقرا په دې خبره حیرت مې دوه چنده شو. د هغې خواته مې وکتل او ومې ویل: ته هم زما خلاف شوې؟
اقرا په هماغه کرار غږ وویل: لږ وګرځه، طبعیت به دې ښه شي.

زبیر په خوشحالۍ دواړه لاسونه خلاص کړل.

زبیر- ای جااان وا دې ورېدل؟ حکم صادر شو اوس نو راځه.

ژوره ساه مې واخیسته او غوښتل مې بیا مخالفت وکړم، چې زبیر د کور دننه ټېله کړم او خپله هم راننوت.

زبیر- ډېرې خبرې مه کوه، ورځه لاس او مخ دې ومینځه، تر هغه وخته به زه د ښاغلي محمد خان سره خبرې وکړم.

زبیر د دې خبرې سره سم د محمد خواته روان شو، زه هم د مجبورۍ کوټې ته ننوتلم. اقرا لګیا وه په تلوار یې زما کالي له الماری څخه رااېستل.

- بیخې تلوار دی نه دې چې ما له کوره وشړې!
اقرا یو جوړه تور کالي زما خواته ونیول او ویې ویل: ستا اوسېدل کور کې ښه خوند لري، خو په دې شرط چې خوشحاله اوسېږې، نه دا چې په فکرونو کې ډوب شې. نن د سهار څخه دې اعصاب خراب وو، لږ وګرځه، شاید فکر دې پر بل شي.

غوښتل مې ووایم نه، کوم څه نشته، خو اقرا خبرې ته پرېنښودم او له کوټې ووتله. ما هم کالي بدل کړل او د زبیر پسې لاړم.

هغه د تل په شان، کله چې به کوم ماشوم ته ورسېد، نو مضریت به یې شروع شو. یعنې که ما زبیر نه پېژانده، نو ضرور د هغه په دې کارونو مې ګومان کاوه چې هغه بچه باز دی!

محمد یې رانیولی و، همدغه پنځه دقیقو کې یې لاسونه، مخ ټول ورته په غاښ لګولو شنه کړي وو، او هماغه حال کې لا هم لګیا و، په شیطنت یې محمد ته ویل: دا پښه دې سبا خورم، نن لپاره موړ شوم.

محمد هم د دې پر ځای چې وژاړي، لګیا و په کټ، کټ یې ورته خندل.
نږدې لاړم، محمد مې د هغه څخه راواخیست او په خندا مې وویل: بس یې کړه زما زوی دې پوست کړ، تازه یې یو دوه کیلو وزن اخیستی وو.

زبیر په خندا له ځایه راپاڅېد او داسې حال کې چې د محمد غمبوري یې کش کول، ویې ویل: بېحد خوږ دی طاها، باور مې نه کېږي چې ستا زوی دې وي.

یو دوه دقیقې مې په درونډ نظر وروکتل، چې هغه په خندا وویل: منفي فکر مه کوه، مطلب مې دا و چې تاته نه دی تللی. ته خپل ځان ته وګوره، تروش تندی، د سپي په

شان عصبي مغزه... خر ليوني .. او بيا ته ده ته وګوره، خوږ، ښايسته، قند... هې نو نه لرم لور چې خپل زوم دی کاکا دې جارسې ...

په خندا مې محمد د کوټې خواته واستاوه، که څه هم نه تلو، خو په زور مې واستاوه، او د زبير سره له کوره راووتلم. هماغه حال کې مې په خندا ورته وويل: که لور دی درلود هغه وخت دی بيا ځان پورته نيو او مور غريبانانو ته دی لور نه راکول، لکه ذوالفقار په شان!

زبير په حيرت وويل: ذوالفقار محمد ته لور نه ورکوی؟ ته ليوني شوی يې؟
- باور وکړه، يوه ورځ هسې د ټوکو مې دا خبره ورته وکړل، هغه هم همغه دقه ځواب راکړ او ويې ويل زه خپل نه درکوم.
زبير پخندا وويل: نـــه، امکان نه لری ضرور ټوکي درسره کړی، کنه ټولو ته معلومه ده چې په ذوالفقار محمد او ته خر څومره ګران يې ...
- منم چې محمد ورباندی ګران دی خو باور وکړه ويل لور نه ورکوم.
زبير په خندا راوکتل او ويې ويل: يو خبره درته کوم خو خوا بده نه کړی.
- څه؟
زبير- ذوالفقار شايد ځان سره فکر کړی وی چې ستا زوی به هم ستا په شان شوده وی نو ځکه لور نه درکوی.

بد، بد مې وروکتل چې زبير پخندا وويل: خوا مه بدوه خو دا يو تريخ حقيقت دی.
- نـه، ذوالفقار په دی خاطر دا خبره ونکړل، ذوالفقار ځينې عجيب اعتقادات لری.
البته زمور په ټولنه کې عجيب دی.
زبير- څنګه عجيب؟
اوږه مې پورته واچول.
- مثلاً دا چې ذوالفقار وايې زه خپل لور هغه هلک ته ورکوم کوم هلک چې زما د لور خوښ وی، يعنې هر هلک باندی چې د هغې لور لاس کيخود همغه ته يې ورکوی.

زبیر پخندا وویل: عجب! که هلک بیا د ده لور ونه غوښتل بیا؟
پخندا مې وویل: بیا نو هلک دی خپل فاتحه ووایې ...

د سړک سر کې مو ټکسي ونیول او روان شو، زبیر ټوله لاره دومره په شوق خبرې کولې، ته وا د خپل ورور واده ته چې روان وي، خو زه لا هم نه پوهېدم چې د چا محفل دی.

- دا د چا واده دی اخر؟
زبیر- زما د ملګري د ملګري د ماما د خسر د زوی د کاکا واده دی.
په تروش تندي مې وروکتل.
- څــه؟
زبیر- زما د ملګري د ملګري د ماما د خسـ
خبره مې ورپرې کړل.
- مړ شې زبیر دا نو اوس څنګه شجره نامه ده!؟ یعنې ته زوم نه پېژنې، نه کور والا پیژني؟ نه دعوت شوی یې خو وروان یې؟

زبیر پخندا وویل: وې، ومې ویل کنه زما د ملګري د ملګري د ماما د خسر د زوی د کاکا واده دی. نو مطلب پیژنم یې، او هو انسان باید ټولنیز اوسیږی طاها... ژوند په اړیکو روان دی.

- دا نو ولاکه په هېڅ مذهب کې اړیکه اوسیږی، دا خاص مفت خوری ده ...

زبیر په خندا وویل: دا بیځایه خبری خپل د ذهن څخه وباسه طاها، ژوند ډېر ساده او آسانه دی، هر څه په شرط او شرطو مه غواړې، لږ بې‌دعوت هم یو ځاې لاړ شه، لږ بې‌نوبته هم یو کار وکړه، لږ بې‌فکره هم وګرځه، لږ لیونتوب هم وکړه سبا به مړه یو ولاکه د چا په یاد کې لا اوسیږو.

په تروش تندي مې وروکتل.
- لږ مفت خوری هم وکړو.

زبیر په خوشحالۍ وویل: آفرین! اصل مطلب مې همدا وو.

ما چې هر څومره کوښښ وکړ زبیر د دې واده څخه منع کړم بریالي نشوم، تر دې شل دقیقې وروسته ټکسي د یو هوټل مخې ته ودرېده. بې اختیاره مې قدم ودرېد. د هوټل مخ ته اوږد قطار د لوکس موټرانو ولاړ و. د رڼاګانو داسې ځلا وه لکه اختر چې وی، دروازه کې درشې کړې ساتونکي ولاړ وو، خلک په قیمتي کالو کې د موټرانو څخه راښکته کیدل، ټول داسې لشمک،لشمک وه چې ماته ځان پکې خړ،پړ کوچې ښکاریدی زما څخه د زبیر کالی او قواره لا ښه وه لږ د هغوي په شان وو.

ټولو ځانونه داسې نیولې وه ته وا د ښار ټول اختیار چې د دوی په لاس کې وي.

په حیرت مې وویل: زبیر، دا اوس واده دی که د وزیرانو شورا؟
زبیر په شوق وویل: درته مې وویل چې د بزنم خلکو واده دی.

په شکمن نظر مې شاوخوا وکتل.
- ورک شې د دی بزنم لفظ سره دی. دا خلک یو هم ماته عادی نه ښکاری ته د کوم خوا دا کسان پیژنې؟

زبیر سترګک ووهل.
— زه تاته معمولي کس ښکارم؟ زه خپل بزنم یم ..
په غوسه مې وروکتل.
- یو ځل بیا .. یوازی یو ځل بیا ته ووایه بزنم بیا وګوره چې ستا دا غاښونه به چیرته وی!
زبیر پخندا وویل: اووو ته اوس ځان څخه راته جکی چان مه جوړوه راځه دننه لاړ شو.

زبیر په زوره د ځان سره دننه بوتلم. زړه مې ناارامه و. هر قدم اخیستلو سره مې داسې احساس کاوه چې اوس به یو څوک راشي او وبه وایي: وبخښئ کارت مو وښیاست.

خپل جیب ته مې لاس کړ توفنچه مې نه وه راوړې، د هغه نشتون بد احساس راکو، په همغه ناآرامه لهجه مې کرار وویل: زبیر ستا سره کاټ شته؟ که څوک وپوښتي د چا له طرفه راغلي یو څه به ورته وایو؟

زبیر په ډاډه لهجه وویل: ته دې خوله بنده ونیسه زه هر شئ سموم.
- شرم به هغه وخت وی چې د دی ځایه مو په لغت وشړې.

د دروازې مخ ته رسیدلې و ساتونکي هر راتلونکی کس ته کتل، د ځینو څخه یې نومونه پوښتل او ځینې همداسی ننوتل، زما د زړه درزا ما خپل اوریدل د اخری ځل لپاره مې وویل: زبیر... زما ومنه راځه بیرته لاړ شو هسې رسوای مه جوړوه.

زبیر- هیس... یوازی وخانده.
- څـه؟
زبیر- وایم دا منحوس خوله دې لږ سره کش کړه او وخانده، که خوشحاله اوسیږې هغوی هم فکر کوی چې دعوت یو، البته دعوت خو یو خو داسي د رسمي کسانو لخوا نه یو.

په قهر مې وروکتل، خو د څه ویلو مخکې یو ساتونکي چې تور دریشي اچولې وه او د هوټل د کارکوونکو په شان ښکاریدی زموږ ومخ ته ودرید او په بیحد احترام یې وویل: ښاغلو، مهرباني وکړئ، له ما سره راشئ.

ما او زبیر یو بل ته وکتل، زبیر هم د څو شیبو لپاره غلی شو.
چې ما په شک وپوښتل: موږ؟

ساتونکي په ارامۍ وویل: هو، تاسو ... له دیخوا راځې.

د زبیر سترګې د خوشحالۍ څخه و پړقیدل او په کراره یې زما د غوږ څنګ ته وویل: و دې لید؟ درته ومې ویل کنه زه هم بزنم یم.

په کراره غږ داسې حال کې چې د ساتونکي شاته روان و ومې ویل: بنده کړه خوله دی، ته خپله هم نه پوهېږې چې څه روان دي؟

هوټل ته چې ننوتلو خوله مې له حیرت خلاصه پاتي شوه،یو اوږد سالون و سری غالی پکې غوړیدلې وه دیوالونو طلایي رنګ درلود او طلایي څراغونه هم وربلندی راځوړند وه، د سالون سر کې سټیچ و چې د زوم ځاي پکي ښکلی جوړ شوی و د هغه څنګ کې دوه کسان ولاړ وه چې سندری ویل،میزونه په ښایسته ډول قطار شوی وه، په سټیج کې رڼاګانې بلې وې، د میلمنو شور او خندا فضا ډکه کړې وه.
د هر میز په سر پنځه،پنځه کسان ناست وه، زبیر داسې روان و لکه د هوټل مالک چې دې وی، مستقیم یې یو میز پیدا کړ او کښېناست.

زبیر- راځه، دلته ښه ځای دی.
کرار مې وویل: که وپوښتنه وکړې څوک یاست څه به وایو؟
زبیر په بې پروایې لاس وخوځاوه.
— وایو خپل یو.
- د چا خپل؟
زبیر- عه زما اعصاب دی راوخوړل طاها، کله چې وپوښتل هغه وخت به یې چاره وکړو اوس راشه کښینه د منظرو څخه خوند واخله.

د کښېناستلو حال کې مې په غوسه وویل: زه پوهېږم تر څو چې ته مو دواړه پر وهلو ورنکړې او رسوا مو نکړې د دی کارو څخه دی لاس نه اخلې.

زبیر پخندا وویل: غم مه کوه، تر څو چې زه درسره یم یو کاکل ویښته دی لا څوک بد نشي کتلې.

د زبیر خبرو ته مې هیڅ پام نه و، په ورخطای مې شاوخوا کتل، هر ځل چې کوم نفر زموږ د میز خوا ته راتلو زما د زړه درزا پورته تلل او فکر مې کاوه اوس به وایي: "پورته شئ." خو د نیم ساعت وروسته چې مجلس ښه ګرم شو او چا زموږ خواته

فکر نشو زما ورخطایي هم راکمه شول، زبیر په هوټل کې موجود د هر چا خواته اشاره کول او ریشخند یې ورباندی واهه.

زبیر په افسوس وویل: ته دې مستې سندری ته وګوره طاها .. بیا ته دې بوډاګانو ته وګوره چې پښه یې د لحد په غاړه ده.
پخندا مې وویل: ولې زور درکوی.
زبیر- زور نه راکوی، خو ته خپل لږ قضاوت وکړه دا سندره، دا محفل، دا ځای د دغه رقم خلکو سره ښه ښايي؟ دوي دی لاړ شي کوم مسجد کېدي کمپ واچوی او خداې دې یاد کړی، چې شاید خدای مهربان شې او ویې بخښې.

- که څه هم د خبری سره دی موافق نه یم خو فکر د دې؟(د هوټل شاوخوا مې اشاره وکړه) ټول بوډاګان دی د ګوتو په شمار یو دوه دانې که پکې ځوانان وی.

زبیر- فکر کوم واده هم د یو بوډا دې!
په حیرت مې وروکتل.
- څـه؟

زبیر- ډاډمن نه یم، خو ګومان کوم چې بوډا دی.
- ولې ګومان کوې؟
زبیر- ګوره زه خپل د ملګري لخوا دې واده ته دعوت شوی وم، همغه چې درته مې ویلي وو، پلار یې دولت کې کار کوي او نظامي دی. هغه بیا خپل د ملګري لخوا دعوت شوی و او خبره د هغوی د فامیل له طرفه ده. واضح کیسه خو یې ونه کړه، خو داسې لږ، لږ یې وویل چې واده د هغه کس دی کوم چې دوه کاله مخکې ریاست‌جمهوری ته ځان نوماند کړی و.

په حیرت مې وویل: ریاست‌جمهوری ته؟

زبیر- هو، او دومره تعجب هم مه کوه هغه کال ستا هېر شوی؟ د لرګي د پورته کولو ټولو ځانونه نوماند کړي وه، دی هم د هماغه کسانو له ډلې څخه و. پوهېږې ملګري

مې ویل، نوولس رایې یې ورېږ وي.

د زبیر په دې خبره ډېر مې کوښښ وکړ چې موضوع ته په منطقي نظر وکړم، خو "نوولس رایې"... بې‌اختیاره مې خندا راغلل، چې زبیر هم پخندا شو.

— اوس نو ځان غټ ونیسه د پاچا واده ته مې راوړی یې.

- ورک شې د پاچا سره! نوولس رایې خو زه چې ځان نوماند کړم لا ګټم. دی په کوم عقل او منطق ځان کاندید کړی و؟

زبیر- د ریاست جمهورۍ ټول شرایط یې درلود.
- څنګه ټول شرایط؟
زبیر- د ریاست جمهوری شرایط یادوم، ته نه یې خبر چې څه دی؟
- څه دروغ ووایم نه والله نه یم خبر.
زبیر په افسوس سر وخوځاوه.
— دا لا ته زموږ تعلیم‌یافته یې، افسوس... افسوس غوږ شه! ریاست‌جمهورۍ ته ځان نوماند کول درې مهم شرایط لري:

لومړی باید نر اوسې ...
دویم د څلوېښت کالو اوسې ...
دریم باید د افغانستان تابعیت ولرې...
البته اوس وخت کې مسلمان اوسېدل هم فکر کوم ورزیات شوي.

- یعنې ښځه نشي کولای ځان نوماندہ کړي؟
زبیر څو شیبېپه تعجب راوکتل چې ما وویل: هان؟ څه دي؟
زبیر- ته اوس افغانستان کې ژوند کوې که خارج کې؟
- څه ربط لري؟ موږ اوس په ډیموکراسۍ کې روان یو، نو ښځه دې هم رئیس‌جمهوره شي، لږ خو به عصري ښکاره شو! دومره نرانو چور کړو، یو څه دې ښځې هم چور کړې.

زبیر پخندا سر وخوځاوه:
– په دې خبره درې موافق یم، د ښځو چور کول بیل خوند لري، هغوی که کمیس چور کړې خلک ورپسي نارې وهې: اې راشه کنه زه پاتي شوم ما هم چور کړه ...

د زبیر په دې خبره دواړه پخندا شو، چې زبیر ناڅاپه وویل: ته صبر، زه لاړ شم د یو سندرې فرمایش ورکړم.
- چاته؟
– هماغه دوه کسانو ته چې سندرې وایي.
په تلوار مې وویل: نــه ...

خو زبیر زما "نــه" ته غوږ ونه نیوه. پاڅېد د سټېج خواته لاړ، د هغو کسانو غوږ کې یې څه وویل او په پټه یې یو څه د هغوی جیب ته واچول، بیا په خوشحالۍ بېرته راغی او کښېناست، چې ما په ورخطایې ورڅخه وپوښتل: ورک شې زبیرا څه دې ورته وویل؟

زبیر په کراره باندې څوکۍ ته تکیه ورکړه:
– هېڅ، فرمایش مې ورکړ. یوه سندره مې خوښه وه، ما ویل همغه راته ووایست.
- دا اوس ستا واده دی چې ته فرمایشونه ورکوې؟ څه یې درته ونه ویل؟

زبیر په شیطنت رانږدې شو:
– نه، څه به وایي؟ یو سلګون مې ورته جیب کې کېښود، هغوی هم فکر وکړ چې زرګون دی داسې خوشحاله شول، ته اوس ګوره څنګه په شوق زما سندره وایي.
غوښتل مې ووایم چې امکان نه لري، خو د خولې خلاصولو مخکې، سندرغاړې ستونی صاف کړ او ویې ویل: د یو معزز مېلمه په غوښتنه، دا سندره تاسو ته وړاندې کوو...

او د زبیر خواته یې اشاره وکړه.
زبیر هم لاس پورته کړ، داسې یې وښوراوه لکه ټول مجلس چې د ده وي.

کرار مې وویل: باور مې نه کېږي...
زبیر- باور وکړه، اوس وخت ټول کارونه په پیسو کېږي. بس د بنډل سر ښکاره کړه!

سندره شروع شوه. زبیر هم ورسره په شوق ویل شروع کړل، د میز سر یې په لاس واهه، کله به یې ځان هم خوځاوه، دومره جالب کارونه یې کول چې بېاختیاره یې زما خندا راوړل، موبایل مې راوویست او د هغه ویډیو نیول مې شروع کړل، زبیر چې کله ولیدل چې ویډیو یې نیسم نو لا په جذباتو کې راغې ته وا اصلي سندرغاړی چې همدا دی وی ...

زبیر:

بیا امیل ته شړنګ ورکړه.
و شونډو ته رنګ ورکړه.
نن خمار مئین درځې ..
نن خمار مئین درځې ..

ځای په سره پلنګ ورکړه.
ځای په سره پلنګ ورکړه.
وکه زورور تعویذ، ځان ته د خطر تعویذ.
وکه زورور تعویذ، ځان ته د خطر تعویذ.
په مولا یې ولیکه، په مولا یې ولیکه.
ګراني د نظر تعویذ، ګراني د نظر تعویذ.

انجلۍ مستانه یې مست خرمانه یې.
انجلۍ مستانه یې مست خرمانه یې.
دا دي د ځوانۍ موسم،دا دي د ځوانۍ موسم.
ګل غوندی خندانه یې ګل غوندی خندان یې.

زما فکر بیخي سندرې ته نه و، زما ټول فکر د زبیر ادا، ناز او کرشمي ته وو، داسې په ناز خپل سترګي اړول، خپل شونډې چیچل،خپل لاس یې په ویښتیانو کې تېروي ته وا د کلونو تجربه کار، ماهر نڅاګر چې وی، زه ورته د خندا مړ وم، دومره د هغه دي کارونو کې غرق شوی وم چې شاوخوا ماحول مې یو دم لیاده وتي وو. د سندرې په خلاصیدو زبیر په خندا وویل: څنګه و؟ خوښ دې شوو؟

- وای زبیر، ته باید لاړ شې نڅاګر یا بازیګر شې! دا دومره سندره تا څنګه حفظ کړې وه؟ په قسم سره درته ویلې شم ولاکه دې دومره د قران ایتونه لا د حفظ زده کړې وی، څومره چې دې دا سندره زده وه ...

زبیر- دا اوس تعریف و که توهین؟
غوښتل مې ځواب ورکړم، چې دوه ګارسون رانږدې شول او ډېر ژر یې زموږ د میز سر په مختلف خوراکونو وپوښو، قورمه، کباب، سلاد، مستې... داسې رنګارنګ شیان وه د هغه په لیدو د زبیر سترګي د خوشحالۍ وپړقیدل او همدا چې ګارسون لرې شو پخندا یې وویل: واااه! دغه ژوند دی طاها دغه ...

په خندا مې وویل: تاته ژوند په ډوډۍ کې تمام کېږي ..
زبیر بې له ځنډه قاشوغه راواخیسته:
—فلسفي بحثونه مه کوه، د پردی خلکو کمیس تر نیمه شپه وي، ژر، ژر یې خوره چې راباندی خبر نشې.

خپل د دې خبرې سره سم هغه خوړل شروع کړل، خو زما زړه نه غوښتو که څه هم د څو ورځو وږی وم، خو همدا چې بوی راباندی ولګید اشتها مې صفر شول. داسې احساس مې کاوه ته وا دا ټول شیان چې ما خوړلې او نور د یو ګولې ځاې لا معده کې نه وی، زبیر چې ولیدل زه څه نه خورم په کراره یې وویل: څه ته ګوری؟ ست ته ولاړ یې؟ خو شروع کړه.

- زړه مې نغواړي.
زبير- ناز مه کوه.
- د ناز خبره نه ده، هغه شپه خو مې درته وويل، چې د بوی په لګيدو د هر څه د خوراک لوېږم.
زبير- مکوه ټوکي.
- په قرآن، رښتيا وايم.

زبير چې وليدل زه څه نه خورم د هغه اشتها هم لکه چې خرابه شوه، ځکه لاس يې ونيو د هغه د دی حال په ليدو بيحد شرمنده شوم.

- ولې دی لاس ونيو؟
زبير- ته لکه د کونډي چرګي په شان راته ناست يې، اشتها دی راخراب کړه.

د هغه په دی خبره خندا راغلل، او د دروغو مې لاس وړاندی کړ، پوه شوم که بوډۍ ونخورم په هغه هم زهر کيږي نو د مجبوری مې وخندل او ومې ويل: نه دومره خو اشتها لرم بسم الله کړه.

د دروغو مې يو قاشوق د خدای د وچ زور وخوړل، خو ښه و د زبير فکر يې پر بله کړ او په اشتها يې بيرته خپل بوډۍ خوړل شروع کړل.په همدې وخت کې يو نفر زموږ د ميز څنګ ته راغی. تور کالي يې اغوستي وو، مخ يې جدي و. زموږ مخې ته ودرېد او په درنه لهجه يې وويل:

— بخښنه غواړم، تاسو دواړه مهرباني وکړئ له ما سره راشئ.

د هغه په دي خبره زړه مې درب وهل، قاشوغه مې نيمه لاره کې لاس کې ودرېده، زړه کې مې د ځان سره وويل: برباد شو راګير يې کړو ..

زه بيحد ورخطا شوم، خو زبير عادي ناست و ته وا هېڅ خبره چې نه وی شوی، په ارامه يې خپل خوله پاکه کړه، بيا يې هغه سرې ته وکتل:

زبیر- یو څو دقیقې صبر کوه، دا ډوډۍ وخور بیا درسره ځو.

سرې جدي وویل: امر شوی همدا اوس باید راشې .
زبیر لږ ځان د هغه خواته ورنږدې کړ او په کراره یې وویل: ته خپله د کوم خوا یې؟ د زوم که د ناوې؟

سرې لږ ګنګس شو:
— زه؟ زه د هوټل کارکونکي یم.
زبیر سمدلاسه سر وخوځاوه:
— آهان، ښه .. ښه موږ بیا د زوم لخوا یو، زوم راته وویل دلته کښیني، یو کس په تمه یو. اوس تللې نشو کولای شې هغه کس ته ووایې خپل دلته راشې. څه کار زموږ سره لرې؟

سرې څو شیبې په شکمن انداز ودرېد، بیا یې سر وخوځاوه:
— ښه، سمده اوس ورته وایم صبر وکړئ.

او روان شو.
ما په حیرت زبیر ته وکتل:
- دا تا څه وکړل؟

زبیر په خندا وویل: مغز ... د مغز څخه مې ګټه واخیسته طاها.
- که بېرته راغی؟
زبیر په بې‌پروا خپل قاشوغه پورته کړه: را دې شې هغه وخت به نور موږ دلته نه یو.

د دې خبرې سره سم، په تلوار یې دوه درې ګولې ژر،ژر د ډوډۍ څخه وخوړل یو دوه کیلې او سیبان یې هم خپل جیب ته واچول او خپل د لاس پاکولو حال کې کرار وویل: ولاړېږه، باید لاړ شو مخکې له دې چې جنګ جهاني جوړ شې ..

د دې خبرې سره سم دواړه کرار له څوکۍ پاڅېدو، او داسې عادي روان شو لکه اصلي مېلمانه چې موږ یو او اوس په خلکو ګرځو چې د کوم شئ کمې خو نلرې؟ په همدې حال د هوټل د دروازې څخه ووتلو او هېڅا زموږ خواته فکر نشو ...

تر سړک مو شاته ونه کتل کله چې ښه د سړک هغه بلخوا واوړېدو،نو تازه هلته ودریدو او شاوخوا مو وکتل خو ناڅاپه دواړه پخندا شو ...

زبیر- وای .... و دې لید طاها؟ دیته وایې مهارت ...
پخندا مې وویل: په قران ما خو د یو رسوای تصور کړی و، خو لنډ بچ شو.
زبیر- که زه نه وایې ته کچکول به اوس د هوټل شاته کوټه کې ولاړ وایې او لوښي به دی مینځل.

د هغه په دی خبره یو ځل بیا دواړه پخندا شو، چې زبیر خپل جیب ته لاس کړ، یوه کیله او سیب یې زما خواته ونیو او په شیطنت یې وویل: واخله سیب وخوره، زما سره چې ګرځی داسې سره، سره سیبان به خوری..

دواړه د سړک په غاړه روان شو د سیب خوړولو حال کې مو پخندا خپل د کړی کار په اړه خبری کول چې ناڅاپه یو موټر زموږ څنګ ته هارنګ وواهه.

د هغه په غږ دواړه یو دم ودرېدو.
زبیر- دا نو کوم خر دی؟ زمانه اخره شوی، پخوا وخت کې د انجونو پسې خلکو د موټر هارنګ واهه اوس یې د سړیانو پسې وهې ..

شا ته مې وکتل، یو تور موټر کرار زموږ تر څنګ ودرېد او ښیښه یې راښکته کړه. د ښیښې د ښکته کولو او موټر کې د ناست کس په لیدلو زما د زړه درزا و درېده ...

څو شیبې زه او زبیر دواړه په حیرت کې ولاړ وو.تر دې چې زبیر په کرار، خو اندېښمن غږ وویل: دا دلته څه کوي؟

د زبیر پوښتنې ته مې ځواب ورنکړ، ځکه ځواب راسره نه و… خو دومره پوهېدم چې دا د خیر راتګ نه دی،په ځانګړي ډول د هغه ګواښونو او ریشخند وهلو وروسته اوس خو بیخي د خیر راتګ نه دی.

د موټر دننه یې په سر اشاره وکړه:
— راشئ، کښېنئ.

تر ما مخکې زبیر په تلوار وویل:
— نه مننه جنرال صاحب، موږ خپله ځو.

جنرال پرته له دې چې خپل دروند نظر زما څخه واړوي، په کلکه لهجه وویل: ست مې ونه کړه… کښېنئ.

د هغه په دې خبره هغه لږ شک مې هم لمینځه لاړ او سل په سل ډاډه شوم چې راتګ یې خالص شر دی، او تصادفي راتګ هم نه راته ښکاریدی، د هغه سپین اتو شوی کالي، واسکټ، لونګۍ له ورایه ښکارېدل چې د واده له محفل څخه راوتلی. ذهن ته مې نیغ یوه خبره ودریدل: ایا جنرال خو همغه کس نه و چې موږ یې غوښتلې و؟ ژوره ساه مې واخیسته. پوهېدم مخالفت کول حماقت دې. دا ورځ راتلونکې وه.

هغه ورځ چې له عزیزی سره مې لاس یو کړ، هماغه ورځ پوه شوم چې یو وخت به راګیرېږم.بې له دې چې خپله ویره ښکاره کړم، د موټر خواته روان شوم.
خو زبیر په تلوار زما لاس ونیو:
— چیرته روان یې؟

د موټر خواته مې اشاره وکړه:
- راځه… یوازې خبرې کوو.

د زبیر سترګو کې ښکاره وېره وه، هغه ته مې مخکې د جنرال کیسه کړې وه،نو اوس یې شک درلود چې خبره ساده نه ده.

زبیر- فکر نه کوم تګ دی ښه کار اوسیږي.
په ټیټ غږ مې وویل: که ولاړ نه شو، لا به بد شي.

زبیر څو شېبې په اندیښنې راوکتل، خو بیا زما سره د موټر خواته راروان شو، زه لومړی کښیناستم او زبیر زما شاته غوښتل کښیني خو جنرال اجازه ورنکړل او ویې ویل: ستا سره مې کار نشته ځوانه تللې شې.

زبیر په حیرت د جنرال خواته وکتل.
— څـــه؟ نـــه ... زه هم راځم.
جنرال په کلک لهجه وویل: نه یې خورم یوازې خبرې ورسره کوم.
زبیر هم په کلک وویل: زه هم پوهېږم چې نه یې خوری، زه راځم یو کونج کې کښینم تاسو خپل خبرې وکړی.

د جنرال خواته مې وکتل د هغه راتګ په دې وخت او په دی حال کې هغه هم د هغه خبرو وروسته هیڅ راته خوند رانکړ بد احساس مې درلود، د زبیر خواته مې ځان لږ کش کړ او په احتیاط مې خپل د جیب موبایل په پټه داسې چې د جنرال فکر نشي د هغه جیب ته واچو او په کراره مې وویل: لاړ شه زبیر، هغه هیڅ پر ما نشي کولای، که ناوخته شو او رانغلم زما په موبایل خپل ورینداری ته مسج ورکړه او ورته ووایه چې شپه ستا سره یم تر څو ورخطا نشي، خو که تر سهار هم درک مې ونشو نو د موبایل لیست کې مي د اشرف په نوم یو نمبر ثبت کړی هغه ته زنګ وواهه او ورته ټوله کیسه وکړه.

د دی خبری کولو وروسته شاته شوم، چې زبیر په ورخطایې راوکتل، غوښتل یې مخالفت وکړی، خو جنرال وار ورنکړ او موټروان ته یې د موټر روان کولو وویل، زبیر یو څو ګام د موټر پسي راوځغاستي او زما پسې غږ کړل، خو د موټر سرعت چیرته او د هغه چیرته! ډېر ژر شاته پاتي شو.

د موټر فضا بیخي درنه وه... داسې چې ما پکې سم ساه لا نشو اخیستلای.
جنرال بغیر له دې چې زما خواته راوګوري وویل: دا ستا ملګری او خپلوان ولې تل زما په وړاندې داسې منفي او توند غبرګون ښايي؟

د هغه په دې خبره پوسخند مې په شونډو راغې، زړه کې مې وویل: ځکه ته منحوس یې او ټول پوهیږي چې ستا راتګ د فساد او بدبختي څخه ډک دی. خو دا خبره مې زړه کې وکړل او په ظاهر په کرار مې وویل: موږ د دولتي کسانو سره تګ راتګ نه لرو، نو ځکه ستاسو په لیدو اندیښمن او ورخطا کیږي ..

جنرال نیم نظر د سترګو له کونج راواچو او سر یې د پوهیدو په انداز وخوځاوه، بیا یې وویل: ته د کوم چا لخوا واده ته دعوت وی؟

ور ومې کتل،یعنې زه یې خپل موټر ته راپورته کړی یم تر څو راڅخه وپوښتي چې د چا لخوا واده ته دعوت وم؟
- زه دعوت نه وم، زما ملګری یو چا غوښتي وو.

جنرال- اوممم ښه ده... کله کله بې‌دعوت محفل ته تلل خوند لري ..خو انسان باید وګوري چې کوم محفل دی او د چا محفل دی؟

څو شیبې مې بغیر د څه ویلو وروکتل، خو نور صبر مې ونشو او ومې ویل: کولای شې اصل مطلب ته راشې؟ زه ډیر وخت نه لرم.
جنرال سترګې زما خواته راوګرځولې.
— جالب ده، د مطلب خبره؟ فکر کوم ته به پرې پوه یې؟

- نه ولای علم غیب نه لرم، که خبره مو وکړی مهربانی به مو وی.

د جنرال تندی تروش شو خو ځان یې کنټرول کړ:
— ته په هغه چا نازیږې چې ستا ژوند او مرګ ورته هیڅ ارزښت نه لري، فکر نه کوې چې د داسې کس خوا نیول بې‌عقلي ده؟

په بې پروایۍ مې وویل: ما د هېڅا خوا نه ده نیولې، جنرال صیب.
جنرال په پوسخندا وویل: خو ستا د هغه ورځ خبرو بل شئ ښودو!
- زه په دې لوبه کې یوازې یم، نه ستاسو پر خوا یم او نه هم د هغه. زه درېیم لوری یم، چې یوازینی هدف مې د ځان او خپلې د کورنۍ ساتنه ده.

جنرال- خو زه فکر نه کوم چې ته دې  بې طرفه اوسېږې ..
اوږه مې پورته واچول.
- شاید، دا لوبه هم د سیاست په شان ده هر خوا چې تله درنه وي، سړی هماغه خوا ته ځان کشوی.

جنرال- نو ستا په نظر اوس د عزیزی تله درنه ده؟
نه مې غوښتل جنرال په غوسه کړم خو، د حق ویلو څخه هم نشوم تېرېدلې، نو ځکه ومې ویل: ما لومړی پناه تاسو ته راوړه، خو تاسو زه پرېښودم.هغه ورځ مې هېڅکله نه هېرېږي... چې الفا زما پسې و او تاسو د مرستې پر ځای د امتیاز په لټه کې واست.

جنرال خپل غاښونه سره وچیچل خو زه چوپ نشوم او داوم مې ورکړ.
- تاسو زما د ژوند په سر معامله وکړه، نو اوس زما څخه ګیله مه کوی.

جنرال- نو مطلب هغه خوا تله درنه ده؟
په کلک مې وویل: که د همدی خبری لپاره مو راپورته کړی یم نو هو، د اوس لپاره هم د هغه خوا تله درنه ده او هم صداقت.
جنرال په پوسخند وویل: صداقت؟ تله شاید په ظاهره د هغه خوا درنه ښکاری، خو صداقت هیڅکله هم نه ... ته هلته موجود وې چې هغه موږ ته د الفا د نیولو وعده راکړه، خو هغه ورځ دی ولید چې څنګه رنګ یې واړو او خپل د خبری څخه پر شا شو، نو صداقت نشته هسې خپل زړه مه خوشحاله کوه.

کرار مې وویل: شاید، خو یوه خبره چې دا څو وخته مې ستاسو په برکت ښه درک کړې هغه داده چې هیڅ کس نه سپین،سپین دی نه تور، تور او نه هم دې نړۍ که ښه ښه شته او نه هم بد بد ټول خړ دی هر یو خپل د ګټې په اساس بدلیږي. لنډ مثال یې همدا تاسو، عزیزی ستاسو په نظر وطن خرڅونکي، مجرم او مفسد کس و او غوښتل مو هغه ووژني خو د زوی پر وژل کیدو مو د هغه سره لاس یو کړ، نو مطلب تاسو خپل د ګټې لپاره حاضر یاست د بد کس ملاتړ هم وکړې، زما حال هم ستاسو په شان دی.

جنرال ژوره ساه واخیسته او ښه شیبه چوپ شو، د هغه وروسته یې وویل: سمده، ته صحیح وایې ما غلطي وکړل، حرص مې وکړ څنګه چې حق و هغسې مې ستا ملاتړ ونکړ صحیح؟

په چوپتیا کې ورته ځیر شوم، عجیب وه جنرال او د خپلې غلطۍ منل؟

جنرال ژوره ساه واخیسته، غږ یې لږ نرم کړ:
– خو اوس پښېمانه شوم... خپله غلطي مې ومنله. ستا خبره سمه ده، په دې نړۍ کې نه بشپړ سپین شته او نه هم بشپړ تور... ټول خړ یو. ما غلطي وکړه... خو ته یې مه کوه. عزیزی د هغه څه څخه چې ته فکر کوې، ډېر خطرناک او رذیل دی.

یوه شېبه چوپ شو، بیا یې په کلک غږ وویل:
– که نن موږ یو توافق ته ونه رسیږو، سبا به هغه موږ یو یو له مېدانه وباسي او ختم به مو کړي.

د جنرال په دی خبره د عزیزی خبره ذهن ته رانغلل، هغه کله ناکله پخندا ویل: د دښمن دښمن دوست دی، اوس هم جنرال همغه کوښښ کوو، خو نه پوهیدی چې زه د عزیزی دښمني د جنرال په دوستي نه ورکوم، خو ځان مې داسې ونیو لکه د هغه خبره چې مې خوښ شوی وی او ومې ویل: تاسو رښتیا وایست خو زما د لاس اوس هیڅ نه کیږی.

جنرال چې دا خبره زما له خولې واورېده، ته وا د جنت تلو ټکيټ چې دی ورکړې وی داسې خوشحاله شو، سترګې د شيطنت وځليدل او په شونډو يې خبيث مسکا خپره شوه:

– ولې نه کولای شې؟ اوس وخت يوازيني کس چې عزيزی لمينځه وړلی شې ته يې طاها ته ...

- هغه نو څنګه؟
جنرال په تلوار وويل: د څو مياشتو مخکې ماموريت دی په ياد دی؟ تا معلومات راټول کړل،ثبتونه دی پيدا کړل تا يوازی ځان عزيزی او الفا ونيو اوس هم همغه کار يو ځل بيا وکړه.

- هغه سندونه مګر اوس ستاسو سره نشته چی نور غواړی؟
جنرال په غوسه خپل شونډه وچيچل او ويې ويل: نـــه، هغه خبيث خپل ټول اسناد د دی خبری په بدل کی پر مورِ لمينځه ويوړل چې زمورِ سره مرسته کوی، اوس مورِ د هغه خلاف هيڅ نه لرو خو که ته همکاری وکړې مورِ يو ځل بيا هغه راګيرولې شو، او دا ځل چې لاس ته راغې خير به يې نه وی.

- نو دې منځ کې زما فايده څه ده؟

جنرال چې فکر وکړ زه لږ نرم شوی يم او نور يوازې څو خبرې پاتې دي چې بېرته مې خپل طرف ته راواړوي، نو د زقوم په شان په وسوسه کوونکي غږ يې وويل: ستا امنيت زمورِ پر غاړه... تر څو چې الفا نيول کېږي، ستا د کورنۍ او خپلوانو ټول امنيت مورِ نيسو. نه يوازې امنيت، بلکې مالي مرسته هم درسره کوو.

هغه ځل مې سل لکه افغانۍ درکړې، خو دا ځل که همکاري وکړې، د دولت له خوا به تر دې هم ډېرې پيسې درکړل شي. عزيزی يو خاين دی... د داسې خاينانو نيول ملي او اسلامي وجيبه ده. دا وطن زمورِ مور ده... او د دې خاورې ساتنه زمورِ او ستاسو دنده ده.

جنرال داسې خبرې کولې ته وا ماشوم ته چې ګپ ورکوی،هر دویم لفظ کې یې "وطن" دنده "مور"وجیبه" فرض "خاوره" ډیالوګونه تکرارول، د هغه په دې کار بې‌اختیاره خندا راغله. جنرال چې زما خندا ولیده نو سمدستي چوپ شو او تندی یې تروش کړ چې ما په ریشخند وویل: جالب ده جنرال صیب... کله چې د جګړې وار راشي، وطن زمونږ مور شي او مونږ د همدې مور په نوم مرګ ته لېږئ. خو کله چې د ګټې وخت شي، بیا همدا وطن یوازې ستاسو مور ده، وزیر تاسو شئ، جنرال تاسو شئ، مارشال تاسو شئ او جیبونه هم تاسو ډکوئ.

جنرال څو ځله خوله خلاصه او بنده کړه، خو غږ ورڅخه را ونه وت.

چې ما دوام ورکړ.
- عزیزی که هر څومره رذیل او بې‌شرف شې، بیا هم سپی شرف لري ستاسو په شان کسانو باندې ...

زما دا جمله لا نه وه ختمه شوې چې جنرال ناڅاپه لاس پورته کړ او یو تېز دروند، او بې‌خبره څپېړه یې زما پر مخ راکړه. ضربه دومره ځواکمن وه چې سر مې یوې خواته کوږ شو، شونډه مې وشلېده او د پوزې څخه مې وینه خولې ته راغله.درد مې احساس کړ، خو غوسه تر درده ډېره وه.

غوښتل مې د هغه ټک ته په ټک ځواب ورکړم،خو باید ومنم چې یو نظامي کس تل نظامي وی، تر څو چې زه په خود راتلم او ځان مې راټولوي جنرال زما لاس شاته په زور قات کړ او زه یې د شالخوا د ویښتیانو څخه راکش کړم، پدرلعنت په دې بوډا قواره باندی ډېر زور درلود، دومره په کلک یې زما لاس کات کړ چې فکر مې وکړ لاړ مات شو، د ویښتیانو څخه یې چې کش کړم "اخ" مې بې اختیاره له خولې ووت.

خو هغه ونه درېد، په غوسه یې وویل: نو د هغه وفادار سپی جوړ شوی یې؟ زما سره همکار نه کوې، داسې بلا به دې په سر راولم چې عمر لری زما د نوم په اورېدو دې لا بدن له وېرې ولړزېږي!

د درد سره سره مې پوسخند وواهه.
- کوم سپي چې ډېر غاپي، هغه داړل نشي کولای جنرال! ته هم غپیدونکې سپي یې ...

د دې خبرې سره سم جنرال دا ځل یو کلک بوکس پر خوله راکړ، دومره کلک چې نږدې و غاښونه رامات کړي، په سترګو مې توره شپه راغلل.

چې جنرال د ویښتیانو څخه کش کړم او ویې ویل: پوهېږې څه دربندې کوم؟ پنځه کیلو هیروین ستا په نوم ثبتوم، داسې زندان ته دې اچوم چې هډوکي دې هم هلته خاورې شي.

پوهېدم چې دا کار کولی شي، دا دروغ یا ګواښ نه وو، دا د جنرال ربښتیني مرداره څیره وه، هغه په مفت جنرال شوی نه و، خدای خبر د څومره بې ګناه خلکو ژوند یې تباه کړی و ..خو عجیبه دا وه چې زه ونه ډارېدم، زړه مې ډاډه و یا هم بې‌پروا شوی وم؟!

د څو دقیقو وروسته موټر ناڅاپه بریک وواهه او ودرېد، دومره ناڅاپه و چې زما سر د مخامخ څوکۍ په سیټ ولګید او "اخ" مې له خولې ووت. جنرال هم په څوکۍ ولګید او غوسه ناک چغه یې پورته شوه.
— دا څه مرګ کوې؟ دا څنګه موټرواني ده؟

د موټروان ډارېدلې غږ مې واورید چې ویې ویل: ښا ... ښاغلي لاره بنده ده.
جنرال- څنګه بند ..

د جنرال خبره خوله کې وچوه شوه، چې ما کرار سر پورته کړ او د موټر د ښیښې څخه مې مخامخ وکتل، درې موټر څنګ په څنګ د سړک مخې ته قصداً ولاړ وه او لاره یې بنده کړې وه، شا ته مې وکتل دوه موټر هم شاته وه، داسې چې د هر خوا ته د تلو لاره بنده وه او موږ محاصره وو.

درنه چوپټیا خپروه، د سرک د څنګ څراغونو لږ رڼا کړې وه،جنرال کرار سر وخوځاوه.

— دا نو څوک دي...؟

خو مخکې له دې چې څوک ځواب ورکړي، د مخامخ او شاته موټرونو دروازې ناڅاپه خلاصې شوې او د مرمیو باران زموږ په موټر پیل شو، ما خو دومره فرصت وکړ چې د سیټ لاندی ننوځم، خو د موټروان چغه مې واوریدل او پوه شوم چې لګیدلې، جنرال هم سمدستي ځان د سیټ لاندی کش کړ او خپل توفنچه یې راوباسل، که رښتیا ووایم لومړی کې ما ګومان کړې و چې شاید د عزیزی کسان اوسیږی، خو په داسې بې دریغ مرمی ویشتلو یوازی دوه فکر مې ذهن ته راتلل، لومړی دا چې د جنرال دښمنان دی هغه یې په نښه کړې و خو زما د بدبخت زه ورسره په ګیر لاړم او دویم ..

دویم فکر چې هېڅ مې زړه نغوښت چې په خوله یې لا راوړم هغه دا و چې د ال .. الفا کسان دی ...

جنرال یو څو هوایي ډزی وکړې البته ما خو ونه لید ما سر لاندی ښکته کړی و او څه آیتونه او سورتونه مې چې زده وه پر ځان مې ویل او چوف کول، نه پوهېږم تر کوم وخت به دا ټک،ټک روان و خو یو وخت خپل پر ملا باندی د یو دروند شئ په کیخودل کیدو لږ مې سر راوویست، د جنرال سپین کالې په سرو وینو باندی لړلې وه او پر ما راپروت و، خو مړ نه و، زخمي و دا مې د هغه د ژور، ژور ساه ګانو د اخیستلو څخه پوه شوم.

لا په خود نه وم راغلې چې زما د خوا دروازه په زوره خلاصه شوه او یو ناشنا کس چې خړ رنګ کالې اچولې وه په زور د موټر څخه راکش کړم او خپل په ملګرو یې غږ کړ.

– د مشر غوښتلې کس مو راپیدا کړ، جنرال تاسو راوړې، موټر ته هم اور واچوی ... له ګریوان یې ونیولم او په یو جست یې خپل د موټر شاته سیټ ته خطا کړم د لاس د درد څخه مې شونډه وچیچل، چې هغه ناشنا کس بیا له ګریوان راکش کړم.

– په کراره کښېنه که وخوځیدی، یو مرمۍ دی دا سر ته حراموم.

سر مې د تایید په توګه ژر وخوځاوه، چې هغه هم د آفرین په ویلو خوشې کړم، د لاس درد مې دومره ډېر و چې بیخي د زغمولو نه و، ډېر مې کوښښ وکړ هوښ کې اوسیږم خو درد راباندی دومره زور کړی و چې نور مې مقاومت ونشو کړی او سترګي مې وترېل شول.

***

– ژوندی دي؟

– هو مشره نفس اخلې، فکر کوم لاس یې مات شوی د هغه د درد څخه بې هوښ شوی.

– ما خو ویلې وه چې زیان مه ورته رسوی.

– مورې هیڅ زیان نه دی ورته رسولي، کله چې مو راګیر کړ، لاسونه یې ولچک وه او په دی حال و لکه چې جنرال رانیولې وو.

په دی خبره هغه آشنا غږ پخندا وویل: عجب! نو مورې د غله څخه غلا کړی!

دا خبری مې د بې هوښي او هوښیارتیا منځ کې لږ، لږ واوریدل، خو بیا بې هوښ شوم، دویم ځل چې په هوښ راغلم نو په درد مې ځان راټول کړ، سترګي مې نشو خلاصولې، په ډېر زحمت د څو ځلو خلاصولو او بندولو وروسته وتوانیدم شاوخوا لږ وګورم، په یو کوټه کې وم خو جالب وه د کوټي دیوالونه د اوسپني څخه جوړ وه!

شاوخوا هیڅ نه وه یوازې یو خیرن کټ و چې زه ورباندی پروت وم، په درد باندی ځاې کې کښېناستم سر او لاس مې بیحد درد کو دومره چې ساه اخیستل یې لا راته

سخت کړې وه. په مغزی کې مې دروند شې احساس کړ، لاس مې چې پورته ویوړ ... دا نو څه مرگ و؟ ځنځیر مې په غاړه ووا!

خو عادی ځنځیر نه و د هغه ځنځیرو په شان و کوم چې د عزیزی د سپیانو په غاړه کې وو، څو ځله مې کوښښ وکړ خو ونه توانیدم چې خلاص یې کړم، د ځنځېر بل سر په کټ باندی بند و کوښښ مې وکړ د هغه ځایه یې راخلاص کړم خو بیحد کلک و، دومره مې ځنځیر کش راکش کړ چې مغزی راته زخمي کړ، که څه هم زخم یې ژور نه و خو بیحد سوځېدي، ناڅاپه مې خپل لاس ته فکر شو گوتمۍ مې په لاس نه وه!

د لیونیانو په شان مې شاوخوا وکتل، نه ... نه گوتمۍ مې کومه ده؟ امکان نه لری څوک هغه زما د لاس وباسي، خو نه وه، گوتمۍ هېڅ ځای نه وه، د لومړۍ ځل لپاره و بډار شوم، نه گوتمۍ راسره وه او نه هم توفنچه، په یو نامعلوم کوټه کې چې شاوخوا دیوالونه یې لا د اوسپني څخه جوړ دی د یو پنډ ځنځېر په واسطه راگیر شوی وم.

سترگي مې وتړل او کوښښ مې وکړ ارام اوسیږم، په اندیښمن او ورخطا کیدو هېڅ نه کیږی، هو طاها آرام اوسیږه، نه معلومیدل راته چې سهار دی که ماښام؟ خو دومره پوهیدم چې وخت ډېر تیر شوی او امکان لری زبیر تر دی وخت ورخطا شوی اوسیږی اشرف ته به یې زنگ وهلي وی او هغه به عزیزی ته خبر ورکړی وی، نو باید دعا وکړم او امید وساتم چې عزیزی ژر لاس په کار شي.

په همدی فکر کې وم او ځانته مې دروغجن دلداریۍ ورکول چې دروازه خلاصه شوه، همغه د ماښام سړی چې خړ کالي اچولي وه مخ ته راغلو، بې حرکت خپل ځای کې ناست وم، راوړاندی شو د زنځېر هغه بل سر چې په کټ ترلي و په کیلي خلاص کړ او په ریشخند باندی هغه خوا کش کړل، د هغه د کش کولو سره مردار درد مې په مغزی کې وپیچل شو، په زور مې خپل ځان کنټرول کړ، چې هغه په پوسخند وویل: یو ښه سپي باید وغپېږي.

په درد مې ساه واخیسته او په زور مې وخندل.
- اوه .. متاسفانه زه هېڅ ښه سپي نه یم، باید ډېر خپل پام ونیسې څکه امکان لری ناڅاپه مو ستوني در څیرې کړم.

د کلک څپېړې په خوړلو د شونډې زخم مې بیا خلاص شو او وینه مې تر زنې راغلل، د ځنځېر په کش کولو مجبور شوم لڅایه پاڅېږم، په غټ ګامونو د دراازی خواته روان شو او همغه حال کې زه هم د ځان پسې کش کړم، د ځنځیر کش کېدل درد درلود نو د دې لپاره چې درد یې کم کړم مجبور شوم د هغوي په رفتار ورسره یوځای حرکت وکړم، د یو کوټې مخې ته ودرید یو څو ټک یې دروازه ووهل او د اجازی په تمه ودریدل، د هغه خوا د یو آشنا غږ په اوریدو چې ویې ویل: راځه ..

دروازه یې خلاصه کړه او بیا یې د ځنځیر کش کړم، سترګې مې تیز شاوخوا وڅرخول خو عجیب وه دا کوټه هم د هغه بل کوټې په شان شاوخوا یې د اوسپنې څخه جوړ وه! لا مې سم شاوخوا نه وه کتلې چې کلک یې په زنګون ووهلم او مجبور یې کړم ګونډې ووهم، په درد مې "اخ" له خولې ووت او پر ځمکه وولیدم، د ویني جریان مې خپل په مغزی احساس کړ.

— ټول د باندی ووځې.

هغه کس چې زه راوړی وم کلک یې "په سترګو" وویل او له کوټې ووت، په سترېیا مې خپل لاسونه پر ځمکه کیخودل او غوښتل مې پاڅیږم، چې د قدمونو کرار غږ نږدی راغې، تور بوټونه یې اوس زما ومخ ته وه، په کلاره مې د بوټانو څخه نظر واخیست هېڅ مې زړه نه غوښت د هغه منحوس مخ ته وګورم خو چاره نه وه، نظر مې پورته ویوړ خو د مخامخ کس په لیدو د یوې شیبې لپاره فکر مې وکړ چې خوب وینم!

څو ځله مې سترګې خلاصې او پټې کړې تر څو که خوب وینم راویښ شم ورڅخه خو نه... دا خوب نه و. زما مخې ته ولاړ کس هماغه و...

بې‌اختیاره مې نوم ورڅخه واخیست: تا... تاسو دلته څه کوئ، حاجي صیب؟

حاجي صیب پخندا خپل ږیره کې لاس وواهه، لکه دا صحنه چې ورته عادي وي، بیا یې وویل: په خیر راغلې، بچیه...

زړه مې په زروه درزېدي باور مې نه راتلو. دا ځای، دا حالت او دا سړی؟
زه د الفا په تمه وم... خو زما مخې ته د آغاګل پلار ولاړ و. او تر دې لا بتر دا چې د هغه د حرکاتو، خبرو او انداز څخه واضح ښکارېدل چې دا همغه مشر دی کوم چې دا کسانو یې په اره ویل،خو څنګه امکان لري؟

کرار زما خواته راغی، زه هم لږ شاته شوم د ځنځیر لږ شور پورته شو،زما مخې ته پر ځمکه کښېناست، زه په حیرت ورته ځېر وم،چې هغه کرار وخندل او ویې ویل: لکه چې ډېر حیران شوی یې؟ البته لږ وېرېدلی هم ښکارې ..
یوه شېبه چوپ شو، بیا یې سترګې نېغ زما سترګو ته راواچول.
— مه وېرېږه، نه دې وژنم.

دا جمله یې داسې وویل لکه مرګ او ژوند چې د ده په اختیار کې وي، خو په دې خبره یې پوه شوم چې دا نه خوب دی او نه هم دا کس یو معمولې کس!

په غوسه مې وویل: ته څوک یې؟

هغه خپل سر لږ کوږ کړ په شونډو یې شیطاني موسکا خپره شوه:
— اوممم زه ډېر نومونه لرم، کوم یو یې ته اوریدل غواړې؟
غاښونه مې سره وچیچل.
- هغه نوم ووایه چې ستا دلته شتون تشریح کړي.

حاجي کرار وخندل.
— هغه نوم شاید تا ډېر خپل شاوخوا اوریدلې وي او پیژني یې.

چوپ ناست وم ساه مې درنه شوې وه. زړه مې نه منله خو بیا هم غوږونه مې تېز کړې وه او په تمه وم.

لږ رانږدې شو غږ یې ټیټ کړ:
– هغه نوم چې الفا لا ورڅخه وېرېږي ..زه همغه یم
په کراره خو کش شوې لهجه یې وویل: ســـایــــه.

زړه مې د درزیدو څخه ودرېد.
- نه... نه... دا امکان نه لري!

هغه ناڅاپه نور هم رانږدې شو، سترګې یې راباندې کلکې کړې:
– ولې نه؟ ولې امکان نه لري؟ هوم؟زه دې مخې ته ناست یم، خپله درته وایم بیا هم باور نه کوې؟

بیا یې سر لږ کوږ کړ:
– که غواړې... درته ثابت یې کړم؟

زما د ځواب اوریدو پرته زما له مخې پاڅید، د کوټې په کونج کې د یو شئ خواته چې ماته الماری ښکارېدل خو په یو تور ټوکر پوښل شوی و، ودرېد بیا ناڅاپه یې ټوکر کش کړ، ساه مې سینه کې بنده شوه او سترګې مې له حیرت پراخې شوي.هغه الماری نه وه ... قفس و .. یو دروند، د اوسپنې څخه جوړ قفس. او دننه .. دننه یې ...

- ز... زقوم ..!

د قفس په کونج کې غونج ناست و، سر یې ټیټ نیولې و او سترګې نیمه پټې وې، داسې ښکارېده چې حالت یې بیحد خراب دی. حاجي په پښه باندی قفس کلک وواهه.

– پاڅېږه، څوک مې درته راوستی.

زقوم کرار وخوځېد، سترګې يې په زحمت خلاصې کړې، که څه هم حالت يې بيحد خراب و خو ژبه يې هماغسې توند او تيزه وه: خېل د مور مېږه به دې راوستی وي.

حاجي په لوړ غږ وخندل بيا يې زما خواته راوکتل:
– وګوره، څومره بې‌ادب قرين لری.

زما نفس د ډېر حيرت څخه له سيني څخه نه راوت، فکر مې کوو ليوني شوی يم، يا هم دا ټول د زقوم مضريت دی او بيا يې زه خوب کې راګير کړې يم، خو نـــه .. هر څه بيحد رښتيني ښکاريدل.

– ته دومره ارام او قرين دې دومره بې ادب دا څنګه امکان لريـ؟

د حاجي دا خبره لا نه وه ختمه چې زقوم په تلوار زما خواته راوکتل، دواړو يو بل ته په حيرت، شک او يو پټ وېرې باندی وکتل، خو زقوم ژر خپل مخ په پوسخند راڅخه واړاوه، چې حاجي بېرته زما خواته راغی.

– ښه نو، اوس دې باور وشو؟

خو زما نظر لا هم په زقوم و، په ذهن کې مې زر ډول پوښتني پورته ښکته کېدل. زقوم دلته څه کوي؟ حاجي زما قرين څنګه پېژني؟ ولې زقوم حرکت نه شي کولای؟ ولې قفس کې اچولې؟ او د ټولو څخه مهم دا چې هغه ولې نه تښتي؟ صحيح دي چې زقوم کامل پيری نه دی خو بيا هم دا توان لری چې غيب شې نو ولې اوس نه غيب کېږې؟ ولې دلته بندې دی؟

په کرار خو دروند غږ مې وويل: ته څوک يې؟ الفا له کومه پېژني؟ زما قرين له کومه پېژني؟ دلته څه روان دی؟ څه خبره ده؟

حاجي زما و مخ ته پلتي ووهل او چهار زانو کښېناست.
– دا ډېره اوږده کيسه ده.

په پوسخند مې وویل: زه هم بیکار یم او کیسې مې هم خوښېږي ..

حاجي کرار وخندل:
– خو زه دومره بیکار نه یم.

یوه شېبه چوپ شو،بیا یې پخندا وویل: خو اوس چې ته وایې نو ستا خبره هم نشم رد کولاي، څه وکړم راته ګران یې ...

لږ شاته لاړ اوسپنیز دیوال ته یې تکیه ورکړل او د فکر کولو په انداز یې وویل:
اوممم د کوم خوا درته کیسه شروع کړم؟ اهان! د الفا څخه به شروع کړم ځکه فکر کوم ستا ستونزې هم د همغه وخت شروع شوې چې هغه دې پیژندلي، نو بچي! الفا زه د ډېر پخوا څخه پېژنم، د هغه وخت څخه چې لا "الفا" نه وو، بلکې یو غل وو.

- غـــل؟

حاجي خپل سر وخوځاوه او پخندا یې وویل: هو غل، اوس چې کیسه غواړې نو صبر زه هم درته سم د کیسه ویوونکو په شان کیسه وکړم، وو نه وو د نن څخه شاوخوا پنځه څلوېښت کاله مخکې، هغه وخت چې روس تازه زموږ له وطنه وتلی و او د مجاهدینو خپلمنځي جګړو افغانستان په اور اخیستی و. خلک په وېرې کې ژوند کاوه،شپه او ورځ یې د ډار په سیوري کې تېرېدې.

زه هغه وخت د دوه ویشت، درې ویشت کلونو ځوان وم. زما پلار قاچاقبر و او ما هم له هغه نه دا کار زده کړی و. هغه وخت قاچاق ډېر ګټور و، ځکه وطن کې جګړه وه او هر چا د ژوندي پاتي کیدلو لپاره نور مملکتونو ته منډې وهل.همدغه قاچاقي لارو کې د الفا سره مې پېژندګلوي وشوه.

هغه وخت هغه یوازې یو غل و، خو داسې ساده غل نه. د هغه نوم د کاروانونو د لوټلو سره تړلی و. خلک یې په لارو کې چورول،موږ مجبور شو چې هغه له ځان سره کړو، ځکه د قاچاق په لاره کې یا باید غل له ځان سره ملګری کړې یا نو د غل لخوا

لوټ کيږي. هغه هم زموږ ډله کې شامل شو. څو ځله مو ګډ سفرونه وکړل او کرار،کرار زموږ ترمنځ د اعتماد يو نازک رسۍ وغځېده.

يوه شپه مو لاره د سيستان بلوچستان څخه د ايران په لور وه، او له هغه ځايه عربو هېوادونو ته تلو.نيمه شپه وه، موږ د يوې دښتې په منځ کې کمپ واچو، او اراده مو وه چې د هوا له لږ رڼا کېدو سره حرکت وکړو يو مزل ووهو او بيا صبر شو تر څو شپه درنه شې، او بيا حرکت وکړو. همدې آرام وخت کې پورته د غر څنډې ته مې فکر شو چې څو خيمې ښکارېدې او تر څنګ يې اور بل و.

عجيبه وه! ځکه په دې لارو زه بار،بار تللې وم خو هيڅکله، هېڅوک مې دلته نه و ليدلې، الفا مې راويښ کړ او دواړه د خيمو خواته روان شو. لومړی مو فکر وکړ چې شايد غله وي، خو کله چې ورنږدې شو، صحنه بدله وه.ښځې وې، ماشومان وو، بوډاګان وو، يو بشپړ کوچي کورنۍ قافله وه.

لږ آرام شوو، پوه شوو چې غله نه دي، ځکه غله هېڅکله د ښځو او ماشومانو سره نه ګرځي. کرار ورنږدې شو دا منطقه د بلوجستان د سرحد خوا وه، شپه هم درنه وه، يوازې د اور کمزورې لمبه د خيمو لخوا راپورته کېده. يو څهارشانه، غښتلی سړی زموږ مخې ته راووت. سلام عليک مو وکړ.

ما ورته وويل: تاسو څوک ياست؟ دلته د دې دښتې په منځ کې څه کوئ؟
هغه بې له ځنډه وويل: مهاجر يو، له افغانستانه مو ګډه کړې، بلوجستان ته روان يو. ظاهراً خبره سمه وه، خو نه پوهېږم ولې باور مې ورباندې رانغې.
بيا مې پوښتنه وکړه: قاچاقبر مو څوک دی؟

هغه د لاس په اشاره يو نفر وښود، د هغه کس خواته ورغلم، د عمر څخه بيحد مشر ښکاريدی تور چپنه يې سر تر پښو اچولې وه او داسې عجيب نظر يې وو چې تراوسه زما له ذهن څخه نه دې وتلې، يو څه مې ورسره خبرې وکړې خو هر څومره چې مې فکر وکړ، هر څومره مې چې ذهن وځغلاوه، ونه توانېدم چې هغه سړی

وپېژنم او دا عادي خبره نه وه، ځکه په هغه مسير کې کوچني، لوی، زاړه، نوي، ټول قاچاقبران ما پېژندل.

يو عجيب شک مې زړه ته ولوېد، شاوخوا مې وکتل ماشومان وو .. ښځې وې .. بوډاګان وو. هر څه عادي ښکاره کېدل خو بيا هم يو څه غلط و.

هغه اور، هغه چوپتيا د هغوي د سترګو هغه خالي نظر، هيڅ عادی نه وو، خو څه مې ونه ويل. بېرته راوګرځېدو. شپه په همدې فکرونو کې راباندی تيره شوه، سهار چې راويښ شوم نو زړه مې درب وهل.نه خيمه وه .. نه خلک .. نه ماشوم ..نه ښځه ... حتی د هغه بل شوي اور يو سوځېدلی انګار لا په هغه شاوخوا نه و پاتې. لکه هېڅکله چې هلته څوک نه وي تېر شوي.

يوه شپبه هماغسې ولاړ وم،سترګې مې پر دښتې وګرځولې، باد روان و او شګه داسې هوارېدله لکه د ژوند هر نښه چې پټوي.د پښو هېڅ اثر نه و ..هېڅ. هلته نو تازه پوه شوم چې دا کوم عادي خلک نه وو، کرار مې الفا ته وويل: دا نو څوک وه؟ هغه په بې‌پروا يې اوږه پورته کړه:

– هر څوک چې وه په موږ يې څه؟

خو ما هېڅ بډول دا پيښه نشو هېرولې، راوړې کسان مو چې له مرز واړول بېرته هغه ځاې ته راوګرځېدم،شاوخوا مې ښه وکتل حتی شګه مې وکېندله خو هېڅ نه وه، هيڅ نښه نه وه.هلته يقيني شوم چې هغه خلک انسانان نه وو.

حاجي درنه ساه يې واخيسته او کرار يې وويل: دا د پيريانو قبيله وه.
يوه شپبه چوپ شو بيا يې زما خواته راوکتل او ويې ويل: د همغه ورځ څخه د پيريانو فکر ذهن ته راوولېد ..غوښتل مې پوه شم چې دوی څوک دي؟څنګه راځي؟ څنګه ژوند کوی؟ څنګه ځواکونه لری؟ څنګه ورکېږي؟ دا ټول فکرونه ذهن ته راغلل،

حاجي یو څه شاته تکیه شو، د کوټې چت ته یې وکتل، لکه زاړه تصویرونه چې ذهن کې راژوندي شوی وي.

– هغه شپه، زما لپاره ختمه نه شوه ..
کرار یې سر وخوځاوه:
– د نور خلکو لپاره شاید دا یوازې یو عجیبه پېښه وه، خو زما لپاره ..
یوه شېبه چوپ شو، بیا یې وویل: زما لپاره دا یو دروازه وه.

سترګې یې زما خواته راوګرځولې:
– د داسې نړۍ دروازه چې تر مونږ پټه وه، همغه وخت دا فکر ذهن ته راغلو که دا مخلوق داسې کولی شي چې د انسانانو له سترګو پناه شي، که داسې راځي او داسې ورکېږي، چې هېڅوک یې محسوس کولای نشي ..

یو څه رانږدې شو:
– نو ته فکر وکړه که یو سړی د داسې بلې سره ملګری شي بیا ..
په شونډو یې وړه، خو خطرناکه موسکا راغله:
– بیا به څوک د دې کس مخه ونیولې شي؟

یوه درنه چوپتیا خپره شوه، چې حاجی خپل ځواب پخپل ورکړ.
– هېڅوک، هېڅوک د داسې کس مخه نشي نیولې، نو ما همغه ځای کې فیصله وکړه چې زه باید هغوی پیدا کړم، باید د هغوی نړۍ وپېژنم. باید پوه شم چې دا څه دي؟ او څنګه کار کوي؟

پخندا شو خو دا خندا یې د خوشحالۍ څخه نه وه، د لیونتوب وه.
– خو دا کار اسانه نه و، میاشتې او کلونه په هماغه دښتو کې وګرځېدم، هغه ځایونه مې وکتل، هغه لارې مې وڅارلې، کله کله به مې یوازې سیوري ولید، کله به مې غږونه واورېدل، خو چې ورنږدې به شوم.
سر یې وخوځاوه:

@Shuhab09

– هېڅ ... هېڅ به نه وه، هغوی څوک تر هغه وخت نشې لیدلې، تر کوم وخت چې خپله یې ونه غواړي.

زما سترګو ته یې راوکتل:
– خو ما هم په کراره پرېښودل، کرار،کرار مې د هغوی د ښو پېژندل شروع کړل، د هغوی د تګ لارې .. د هغوی د راتګ وختونه .. د هغوی د شتون بوی .. ما ډېر څه د هغوي په اړه زده کړل طاها ... او بیا د وخت په تېرېدو د هغوی د نړۍ او خپل د نړۍ منځ کې مې یو دروازه جوړه کړه ...

د حاجي په دی خبره ما بې اختیاره د زقوم خواته وکتل، هغه بغیر د څه ویلو قفس ته تکیه کړې ناست وو، که څه هم سترګې ترلې وه خو پوهیدم چې غږ اوري، اوس پوهېدم چې هغه ته چا چل ورکړی وو، هغه قاچاقبر چې د پیریانو او انسانانو نړۍ کې لاس درلود حاجی وو، البته باید ووایم سایه وو.. نه حاجی د حاجي د لفظ اخیستل لا ده ته کفر وو ..

– ما ډېر څه د هغوي په برکت لاس ته راوړل خو ..
ناڅاپه یې مخ سخت شو:
– خو یو کار مې هېڅکله ونشو کړی.

ور ومې کتل، غوښتل مې پوه شوم کوم کار یې نه دی کړی او په زړه کې آرمان پاتي، پوهیدم چې د همغه آرمان په سبب یې زه او زقوم رانیولې یو.

– کنټرول.
غږ یې دروند شو:
– پیریان، هېڅکله د انسان تر کنټرول لاندې نه راځي او نه تابع کېږی، هغوی د انسانانو څخه لا ډېر ضدي او چلباز دي.

په پوسخند مې سر وخوځاوه.
- جالب کیسه وه خو زه پوه نشوم، دې مینځ کې زما او زما د قرین شتون څه مانا

لرى؟ مورې دې د څه لپاره رانيولې يو؟

زما په دى خبره سايې پخندا وويل: دا خو د الفا سره زما د پيژندګلوي کيسه وه، ستا سره خو زما خاص کار دى، او پاتي شول خبره ستا د قرين نو هغه زما سره معامله وکړل خو اخر کې نه يوازى پر شا شو، بلکې ماته چل هم راکړ نو ما هېڅ داسې کسان نه خوښيږي چې خپل د خبرى څخه اوړى او يا چل ورکوى.

د زقوم په پوسخند مې د هغه خواته وکتل، چې هغه بغير له دې چې سترګي خلاصي کړې ويې ويل: هو نو، تخو ډېر صادق او امين انسان يې، نو ځکه دى د چل او چلبازى څخه بد راځې خبيث ...

حاجي نيم نظر د زقوم خواته واچو او پخندا يې وويل:
– خوله دې لا هم کار کوي؟

زقوم پوسخند وواهه، خو څه يې ونه ويل.

غوښتل مې وپوښتم چې زما سره مو څه کار دى؟ ولې مو په دې حال را نيولى يم؟ خو لا مې خوله نه وه خلاصه کړې چې د کوټې دروازه کرار وټکېده.

– راځه...

د حاجي د اجازې سره سم آغاګل راننوت.

د هغه په ليدو حيران نشوم،يوازې دا فکر مې ذهن ته راغى چې آيا آغاګل د حاجي رښتينى زوى دى که نه؟

حاجي په خندا وويل: اووو... آغاګل، خپل ملګرى دې ليدلې؟

آغاګل زما خواته راوکتل، خو هغه پخوانى آشناي په څېره کې نه ښکاريدل په بې تفاوت لهجه يې وويل: څنګه يې، طاها؟

د هغه د لهجې په اوریدو ما هم د هغه په شان په بې احساس لهجه وویل: ستاسو د اصلي خبرو لیدو مخکې ډېر ښه وم.

هغه په ریشخند وخندل:
– څنګه ده... ښځه دې؟

ځواب مې ورنکړ. هېڅ مې زړه نه غوښت د اقرا بحث د دې کسانو مخ کې راخلم.
حاجي د خبرو خوا بدل کړ:
– څنګه شو کار؟

آغاګل سمدستي سم ودرېد، غږ یې جدي شو:
– لکه څنګه چې مو امر کړې و مشره... هماغسې مو وکړل. د جنرال جسد مو د عزیزی د شرکت مخې ته وغورځاوه او پیغام مو هم ورسره پرېښود.
لږ ودرېد... بیا یې په شیطنت وویل: داسې چې فکر وکړي دا کار د الفا دی.

حاجي کرار سر وخوځاوه او د خولې موسکا یې پراخه شوه:
– ښه... نو مطلب اوس اصل لوبه شروع شوه ..!
لځایه پاڅید او دوام یې ورکړ.
– اوس نو یا عزیزی د الفا له لاسه وژل کېږي .. یا الفا د عزیزی له لاسه.
آغاګل کراز وویل: فکر نه کوم الفا دې عزیزی ووژني.

حاجي په درنه لهجه وویل: الفا کم لاس مه نیسه، هغه چې څومره ځان ښکاره کوي، تر هغه سل چنده خطرناک دی.

ما په حیرت د هغوی خبرو ته غوږ نیولې و باور مې نه راتلو چې جنرال وژل شوی وی، که وژلې هم وی نو ولې د عزیزی د شرکت سره جسد غورځولې؟ ولې دوي غواړي الفا د جنرال په مرګ ملامت کړي؟ ولې زه نیولې یم؟ ولې **زقوم** نیولې؟ د دوي اصل موخه څه ده؟ دا فکرونو دومره لیوني کړم چې بې اختیاره مې غږ پورت شو.

- ولې دا کار کوئ؟ ولې مو جنرال وواژه؟ ولې غواړئ د هغه مرګ د الفا په غاړه واچوئ؟ زه مو ولې راوتښتولم؟

آغاګل چوپ پاتې شو، خو حاجي په مرموز نظر راوکتل او ویې ویل: لومړی مو یوازې ستا نیول پلان وه خو تا خپل دا طلایي چانس زموږ لاس ته راکړ، هغه وخت چې خپل ملګری دې د عزیزی خواته واستاوه، داسې حال کې چې هغه شاهد و چې جنرال ته لڅان سره ویوړې( لږ یې سر کوږ کړ: نو هغه وخت دا پلان ذهن ته راغلو .. فکر وکړه، جنرال مړ دی ته نادرکه یې، نو دا کار چا کړی؟

ځواب واضح و،خو ما نه غوښت باور ورباندی وکړم، اصلاً دوي له کوم خوا پوه شوي چې زبیر ما د عزیزی خواته استولې؟ غوښتل مې بیا څه ووایم، خو حاجي د دروازې پر لور روان شو خو د وتلو مخکې یې آغاګل ته وویل: د خپل ملګري ښه مېلمه پالنه وکړه.

آغاګل- په سترګو، مشره.
- نه... صبر!
په غوسه مې غږ وکړ:
- ماته ځواب راکړه! زه دې د څه لپاره نیولی یم؟ ما څه کړي؟

خو هغه بغیر له دې چې راوګرځي له کوټې ووت او دروازه یې وتړل.

هماغه شېبه آغاګل زما د غاړې ځنځیر کش کړ چې مجبور شوم ورسره ولاړ شم. هغه زه د زقوم د قفس ترځنګ وتړلم ړ، چې ما په تلوار ورته وویل: آغاګل! ته ولې دا کارونه کوې؟ ته داسې نه وې، ما تاته څه زیان در رسولې چې دا کار راسره کوی؟

خو هغه هېڅ ځواب رانکړ،ځنځیر یې کلک وتړو بیا یې خپل موبایل راواخیست. او یو چاته یې مسج وکړ، څو شېبې وروسته هماغه د پرون شپې خړ کالو والا کس کوټې ته رانوت. په لاس کې یې ډوډۍ او د پانسمان شیان وو.

آغاګل په چوپتیا کې زما لاس پانسمان کړ،بیا یې ډوډۍ زما ومخ ته کېښوده او غوښتل یې لاړ شي چې ما یې اوږه ونیوله.

- آغاګل مور یو وخت ملګري وو. همسایه ګان و، د یو بل ډوډۍ او مالګه مو خوړلې، دا څه کوې؟ لږ تر لږه دومره خو ووایه چې جرم مې څه دی؟

لکه چې خبرو مې لږ ګټه ورسوله، ځکه د اغاګل نظر لږ نرم شو او کرار یې وویل: زه هم نه پوهېږم، زه یوازې د هغوي امرونه پر ځای کوم،خو دومره پوهېږم چې د مشر کار تاته بند دی. که ورسره همکاري وکړې شاید خوشې دې کړي.
- همکاري؟ د څه شي همکاری؟ څنګه همکاری؟
آغاګل- نه پوهېږم طاها .. وخت یې چې راشي مشر پخپله درته ووایي.

آغاګل دا وویل او له کوټې ووت، هر څومره مې چې غږ ورپسې وکړ، نور یې را ونه کتل. د هغه په تلو کوټه په درنه چوپتیا کې غرقه شوه.نظر مې په وچې ډوډۍ او د هغه تر څنګ په لوبیا ولګېد.غوسه مې دومره زیاته وه چې قاب مې راپورته کړ او په اوسپنیز دیوال مې وویشت.

د هغه په ټک د زقوم ناراض غږ پورته شو:
— عه .. دومره وحشي توب مه کوه، په کراره کښېنه.
په غوسه مې د هغه خواته وکتل.
- ته دلته څه مرګ غواړې؟

زقوم خپل یوه سترګه خلاصه کړه او په ریشخند یې وویل: نه وینې؟ واده دی زه هم زوم یم ..
په غوسه مې وویل: بې ځایه ټوکې مه کوه! ته حاجي له کومه پېژنې؟ څه معامله دې ورسره کړې؟ تا خو ویل هغه ستا سره چل کړی، خو هغه وایې تا ورسره چل کړی، حقیقت څه دی؟ او تر ټولو مهم... ته ولې نه وځې له دې ځایه؟

زقوم خپل دواړه سترګې خلاصې کړې،څو شېبې یې راوکتل بیا کرار وخندل:
— اوه... دا دومره پوښتنې؟
سر یې لږ کوږ کړ:
— کوم یو ته ځواب درکړم؟
په تلوار مې وویل: ټول.
زقوم په شیطنت وخندل:
— سمده، خو څه راکوې؟ ته خو پوهېږې زه چاته مفت معلومات نه ورکوم.

په غوسه مې ورته وکتل.یعنې زقوم د مرګ په حال کې هم خپل کارونه نه پرېږدي.

- کنځل راسره شته، هغه هم ښه پرېمانه غواړې؟

زقوم سر وخوځاوه:
— نچ، نچ... بد اخلاق.

په بې‌حوصله لهجه مې وویل: بس کړه دا ټوکې راته ووایه، څه روان دي دلته؟
زقوم اوږه پورته کړه:
—څه چې وینې، هماغه روان دي، موږ دواړه بندیان یو او امکان لري چې ووژل شو.
په بې حوصلې لهجې مې نوم ورڅخه واخیست:
- زقـــــوم ....

هغه سمدستي په شیطنت وویل:
— جــان! ته چې زما نوم اخلې، یو بل خوند لری، داسې چې سړی په خپل نوم مئین کیږی ..

سترګې مې تنګې کړې: غواړې همداسې اپلاتې ووایې؟
زقوم- هو... ماته خو ډېر خوند راکوي ستا سره خبرې.

@Shuhab09

چوپ شوم،د زقوم نه د جدي خبرو تمه کول،خپله ليونتوب وو. مخ مې ورڅخه واړاوه او سترګې مې پټې کړې.

چې هغه راغږ کړل:
– څه وشو؟ مرور شوې؟ هان؟ طاها ... زما ګرانه قرين ...خفه شوې؟ مه کوه دا کار... ژوند لنډ دی بايد په خوشحالۍ تېر کړو ..
هيڅ ځواب مې ورنکړ، چې د څو شې وروسته هغه وويل: عه ..سمه ده درته وايم.

په تلوار مې سترګې خلاصې کړې، چې زقوم د قفس د هغه بل کونج څخه زما خواته رانږدی شو، له څېرې يې داسې ښکارېده چې درد لري.

بې‌اختياره مې وپوښتل: درد لرې؟
زقوم- هان؟
- رنګ دې بدل شوی، حالت دې ښه نه ښکاري.
زقوم په پوسخند راوکتل: ته هم درد لرې.
- زه؟
– هو، ته.

خپل لاس ته مې وکتل درد يې درلود خو دومره ډېر نه و، زقوم چې زما نظر په لاس وليد نو پخندا يې وويل: نو درد نه لری، انسان اوسيدل هم ښه دی، خو فکر نه کوم ډېر دوام راوړی.

- څه مانا؟

زقوم کرار وويل: دا ځای ..

خپل لاس يې د قفس له منځه راوويست او زما د غاړې ځنځير يې کش کړ. غوښتل مې لرې شم او منع يې کړم خو کله چې لاس يې زما په لاس کې راغې د ډېر حيرت څخه مې سترګې پراخې شوې.

- ز... زقوم... ستا لاس...

هغه کرار خپل لاس زما له لاسه کش کړ.
— هو... دلته کولی شې ما لمس کړې.
په حیرت مې وویل: څنګه ممکن ده؟

زقوم شاوخوا ته اشاره وکړه:
— دا کوټه... دا قفس... دا ټول د خامې اوسپنې څخه جوړ دي.
- خامه اوسپنه؟ څه مانا؟

زقوم یو څو شېبې چوپ شو بیا یې کرار وویل:
— دا عادي اوسپنه نه ده. دا اوسپنه زموږ لپاره زهر دي.

سترګې مې د حیرت نور هم پراخې شوې.
چې هغه ادامه ورکړه: پیریان په خپل اصل کې انرژي ده، نیمه وجود، نیمه سیوري، خو دا خامه اوسپنه زموږ دا تعادل ماتوي.په لاس یې خپل سینه ووهله: دلته هر څه ګډوډوي. مجبوروي مو چې شکل واخلو، وزن واخلو او درد احساس کړو.

زقوم څو شېبې چوپ شو بیا یې کرار وویل: دا حرم* دا ځای خاص زموږ لپاره جوړ کړي، خامه اوسپنه د دې نړۍ هغه "خام عنصر" دی چې لا یې طبیعت نه دی پوخ شوی. په همدې کې د ځمکې ناپاکه توازن پروت وي.

ما په ګنګس انداز ورته وکتل.
- څه معنا ناپاک توازن؟ لږ واضح وغږېږه.
زقوم په افسوس سر وخوځاوه، لکه چې پوهېده زه به همدا پوښتنه کوم.

زقوم- مطلب دا ځاي زموږ پیریانو لپاره جوړ شوي، موږ د خام اوسپني څخه چې د ځمکې اصل انرژی لرې نشو رد کیدلې، موږ دلته خپل تعادل له لاسه ورکوو، خامه

اوسپنه زمونږ د وجود جریان ګډوډوي، دا خامه اوسپنه یوازې د پیریانو نړۍ کې پیدا کیدی شي، ځکه هغوي د همدې اوسپني څخه خپل په نړۍ کې زندانونه جوړوی.

په پراخو سترګو د حیرت مې وویل: یعني دا د پیریانو د نړۍ زندان دی؟
زقوم- یوازې اوسپنه د هغوي د نړۍ ده، کنه مونږ اوس هم د انسانانو نړۍ کې یو.
بغیر د څه ویلو په حیرت مې ورته کتل، حاجي دا اوسپنه څه ډول د پیریانو د نړۍ څخه ترلاسه کړې وه؟ زقوم لکه چې زما په ذهني کشمکش پوه شو چې پخندا یې وویل: ما ورته راوړل.

تقریباً په چغه مې وویل: څـــه؟

زقوم- معامله وه.
- معامله؟ یعنې ته دومره عقل نه لرې او نه پوهېږې چې د پیریانو د نړۍ اوسپنه راوړل اخر یوه ورځ تاته هم خطرناک کېدای شي؟ او امکان لري ته هم پکې ونیول شې؟

زقوم په پوسخند وویل: نه نو، زما سره د چا کار نشته. اوس چې هم نیول شوی یم، ستا د برکت یم.
- یعنې څه زما د برکت؟ ته نیول شوی یې ځکه تا په معامله کې چل کړی و.
زقوم- دا هسې بهانه ده. ما دومره هم چل نه و کړی، ما یوازې هغه اندازه اوسپنه چې ویلې وه لږه کمه راوړل او هغه هم ځکه چې د ده کار غلط ووت او زه هلته ګیر شوم. که ده خپل کار سم کړی وای او زه نه وای ګیر شوی، نو ما هم خپل کار کاوه. زه معامله کې د چل کولو نفر نه یم... خو اصل مطلب ته وی طاها.

- زه؟ ولې؟

زقوم په ریشخند وویل: نه پوهېږم، خو ستا دښمنان په شرق او غرب کې هر ځای خپاره دي.

زقوم نور څه ونه ويل او چوپ شو، خو زما فکر د هغه په خبرو کې بند شو. حاجي له اول څخه غوښتل چې ما راګیر کړي خو ولې؟ ولې زما د نيولو لپاره يې د زقوم څخه ګټه واخيسته؟ اصلاً زه يې د څه لپاره نيولی یم؟ په يوه خبره ډاډه وم... موضوع يوازې د الفا او عزيزی نه ده. حاجي نور حسابونه هم لري...

په همدې فکرونو کې نه پوهېږم څنګه خوب وړی وم. کله چې راويښ شوم، درد مې درلود... خو عادي درد نه و. داسې نه و چې يوازې لاس مې درد کوي دا درد بل ډول و. داسې لکه په يو وخت کې په ټول بدن کې مې ميخونه ټکول کېږي. بې‌اختياره مې د ډېر درد نه "اخ" له خولې ووت، چې د زقوم غږ مې تر څنګ واورېد.

زقوم- لکه چې پيل شو؟

په همغه درد کې مې مخ د هغه خواته وګرځوه. په خپل قفس کې کرار ناست و، خو رنګ يې د پرون نه لا ډېر خراب شوی و. سترګې يې تر بل هر وخت تورې ښکارېدې او د مخ رنګ يې دومره سپين و لکه روح.

زما نظر چې يې پر ځان وليد په مات غږ يې وويل: تر پرون خپل په انساني بڼه کې وی طاها ... نو ځکه دې د دې ځای تاثير نه احساسوو. خو نن... ته لږ زموږ بڼې ته راغلې يې، نو ځکه درد احساسوې.

په ډېر زور، زحمت او درد کښېناستم او قفس ته مې تکيه ورکړه. تر ټولو زيات درد مې په مغزې کې و. داسې مې احساس کاوه لکه ځنځير مې ستوني ته ننوتلی وي او د ساه اخيستو مخ چې مې نيسې، کوښښ مې وکړ چې ځنځير ليرې کړم، خو هر څومره چې مې کش کاوه، هغومره درد زياتېده.

په همدې کشمکش کې د کوټې دروازه خلاصه شوه او حاجي په خلاصې خولې د خندا رانننوت. چې زه يې وليدم، سترګې يې د شيطنت او خوشحالۍ څخه وځلېدې.

حاجي- اووو... بلاخره، ته ډېر په سختۍ خپل هغه بل مخ راښکاره کوې طاها...
- دا څه روان دي؟ ته زمونږ څخه څه غواړې؟
حاجي په خندا زما مخې ته کښیناست او ویې ویل: دا خبرې پرېږده... پوهېږې چېرته وم؟ ستا د ملګرو شاوخوا ګرځېدم، د هغوی خبرې مې اورېدې. ټول لګیا وو دا پلان یې جوړاوه چې څنګه تا پیدا کړی؟
که څه هم درد مې درلود، خو په پوسخند مې وویل: اوممم... دا خو ښه خبر دی.

حاجي وخندل:
— خو زه داسې فکر نه کوم. پوهېږې تر ټولو جالبه خبره څه وه؟ کاکا دې ویل که تا ژوندی پیدا کړي، نو په خپلو لاسونو به دې ووژني.

خندا راغله، ځکه پوهېدم دا خبره پخپل ذوالفقار کړې، هغه د غوسې پر وخت اکثر داسې ویل.

-د هغه عادت دی، تل داسې خبرې کوي.
حاجي- کله کله ستا د کاکا کارونه زما اعصاب خرابوي. څو ځله مې د هغه د وژلو اراده کړې، خو یوازینی دلیل چې نه مې دی وژلی، دا و چې ته ورباندې ګران یې. د داسې کسانو ساتل ډېر خوند لري، د دوی هره شېبه په درد کې لیدل، اندېښمن کېدل، او تر مرګه رسېدل دا له مرګه هم ډېر خوند لري.خو یو ځل یې مجبور کړم چې و یې وهم.

په حیرانتیا مې وپوښتل: تا ذوالفقار وهلی؟ ولې؟ د څه لپاره؟
حاجي په شیطاني خندا وویل:
— ما پخپله نه دی وهلی... یو پیری مې ورولېږه. دا خبره د ډېر پخوا ده، هغه وخت چې ته راغلی وې او زمونږ همسایه شوی وې. هغه وخت نږدې و چې هغه ستا آدرس پیدا کړي، نو ما هم وواهه.

- عجیبه ده، هغه ما ته هېڅ دا خبره نه ده کړې.
حاجي بیا وخندل:
– له دې وروسته به هم دا خبرې ونه کړي. پوهېږې څه یې وکړل؟

حاجي په هیجان خپل لاس پر ځمکه وواهه.
– ما فکر کاوه چې جنګ به د عزیزی او الفا تر منځ ونښلي، خو بل څه وشوو، ټوپک راووت، ډزې وشوې، پوچ و فحش وویل شول خو ستا د کاکا لخوا. نږدی و چې بدبخت خپل د اعصاب رشتي وشلوي او هماغه ځای سکته وکړي، خو تر دې هم جالب پوهیږی څه وو؟

نه پوهېږم ولې، خو د حاجي د هرې خبرې سره چې د ذوالفقار په اړه یې کول، داسې مې احساس کاوه لکه بدن مې اور اخلي. زړه مې غوښتل ورټوپ کړم، غاړه یې ټینګه ونیسم او تر هغه یې خفه کړم تر څو ساه یې ووځي...

نه پوهېږم حاجي زما په نظر کې څه ولید، خو ناڅاپه یې سترګې وځلېدې.

حاجی- عزیزی ... هره شیبه په تمه وم چې هغه به یو مرمۍ ستا د کاکا په هغه خراب دماغو کې خالي کړی او کیسه خلاصه، خو عجیبه دا وه چې هغه بیحد ډېر ستا د کاکا مراعات وکړ ولاکه چې ولې؟ خو پوهېږې هماغه د سپیانو کوټه کې یې واچوه، کوم کې چې ته وې. په هر حال، په دې منځ کې زما زړه ستا په ملګري وسوځېد... بیچاره ژړل او ویل یې دا ټول زما د لاسه وشوو که ما طاها یوازې نه وای پرېښی، نو داسې به نه وای شوي .. نچ نچ په هغه غټ سر باندی یو غمجن ډرام ...

حاجي لا خپله خبره نه وه پوره کړې چې ما ورباندې حمله واچوله، خو باور مې نه راتلو... هغه زما نه په دوه چند سرعت تاو شو، او زما د وار نه مخکې د هغه وار زما په خوله ولګېد او ځای پر ځای یې په ځمکه وویشتم. دومره کلک یې وهلی وم چې څو ثانیې خپل نوم هم رانه هېر شو.

د څو شيبو وروسته کرار زما ومخ ته راغلو په ګونډو کښېناست، د ويښتيانو څخه يې راکش کړم او مجبور يې کړم چې د هغه خواته وګورم.

په پوسخند يې وويل: ما ستا څخه مشران، مشران راچپه کړي هغه وخت ته فکر کوې په دې نيم پيري قواره کې دومره ځواک لرې چې ما ووهي؟
په غوسه مې خپل غاښونه وچيچل.
- دا کار دې بې‌ځوابه نه پرېږدم.

حاجي په پوسخند سر وخوځاوه:
— پوهېږم چې د چا په سر داسې ګواښونه کوې، خو بايد ووايم، هغه ملګرى دې همدا اوس په غصب کې دى له هرې خوا... حتا د خپل ګران ورور له خوا د مرګ په ګواښ کې دى. ته فکر کوې په دې حالت کې به هغه ستا د ژغورلو لپاره راشي؟

خوله مې وچه شوه، دې ..دې له کومه شموئيل پېژني؟

حاجي چې زما حيران نظر وليد، ويښته يې راخوشي کړل او د ولاړېدو په حال کې يې په خندا وويل: زه تا دومره پېژنم طاهاا... څومره چې ته خپل ځان هم نه پېژنې.

بيا يې شا وګرځوله:
— اوس بايد لاړ شم، خو ژر راځم بيا به کيسې وکوو ستا کيسې خوښيږي کنه؟ البته که ښه هلک اوسې نو کيسې به کوو. نو کوښښ وکړه چې ښه هلک اوسې.

حاجي دا وويل او له کوټې ووت،د هغه په تلو دومره درد مې درلود چې د کښېناستو توان مې هم نه درلود. ناخاپه شاته کش شوم، په تلوار مې وکتل زقوم و. زه يې بېرته خپل قفس ته تکيه کړم او کرار يې وويل: دومره بې‌عقله مه اوسه، طاها هغه قصداً غواړي تا غوسه کړي. هر څومره چې ته دلته غوسه کېږې، هغومره له خپل انساني بڼې وځې او هر څومره چې د پيريانو خواته مايل شې، هغومره به درد زيات احساسوې.

لږ چوپ شو، بیا یې دروند غږ وکړ: نو هوښیار اوسه، دلته ستا انساني پاتې کېدل، ستا په ګټه دي.

د زقوم خبرې مې په غوږونو کې انګازې کولې، خو بدن مې بل څه ویل. درد داسې زیاتېده لکه رګ، رګ مې چې یو بل پسې تاوېږي. سترګې مې پټې کړې، کوښښ مې وکړ ځان ارام وساتم.

مه غوسه کېږه... مه غوسه کېږه طاها... دا ټول هسې د هغه اپلاتې دي... ذوالفقار داسې کوم کار نه دې کړې ... هغه شموئیل نه پېژني... هېڅ خبره نشته...

خو ذهن مې نه ارامېده. د هغه خبرې چې د ذوالفقار او زبیر په اړه یې کړې وې، هره شېبه مې ذهن کې تاوېدې. بې‌اختیاره مې غاښونه سره وچیچل.

-لعنت دې پر تا وي، حرمو*...
زقوم سمدستي په توند لهجه وویل:
— بس کړه! هر څومره چې د دې خبرو په اړه فکر کوې، هغومره ځان ته درد زیاتوې بې‌عقله.

- خو هغه شموئیل پېژني ..
زقوم- ته اوس پوه شوې؟ هغه له اول څخه شموئیل پېژنده، زموږ شتون دلته د هغه له لاسه دی.
- یعنې څه؟ څه مطلب زموږ شتون دلته د هغه له لاسه دی؟
زقوم څو شېبې راوکتل، بیا یې کرار سر وخوځاوه:
— زه هم په ډېر څه نه یم خبر، خو هغه وخت چې ته ویده وې، ما یو څه احساس کړل.

- څــه؟

زقوم- د یو بل پیري شتون، لومړی مې ګومان وکړ چې شاید ته د پیریانو بنې ته رااوړې، خو نه... ته نه و. یو قوي شتون و .. د یو مارد پیري.

په ګنګس انداز مې وویل: مارد؟ دا نو څوک دی؟
زقوم- څوک نه دی، دا د پیریانو یوه ډله ده. لکه څنګه چې شموئیل د عفریت له ډلې څخه دی، همداسې مارد هم یوه قبیله او ډله ده.
- ښه نو؟ څه وشو؟ د څه لپاره راغلی و؟

زقوم په پوسخند خپل قفس ته اشاره وکړه:
— متاسفانه، څنګه چې وینې زه دلته بندی وم، نو نه مې شو کولای د هغوی خبرې واورم او تاته معلومات درکړم، یوازې شتون مې ورڅخه احساس کړ، خو پوهېږې دعا وکړه چې زه غلط اوسیږم او هغه مارد نه وي ..
- ولې؟ که هماغه وي بیا څه کېږي؟

د لومړي ځل لپاره د زقوم په څېره کې مې وېره ولیده.
— که هغه وي، نو خپل د مرګ بستره وتړه.

په حیرت مې وروکتل، چې هغه په ریشخند وویل: پوهېږې؟ مارد هغه قبیله ده چې کلونه ستا پسې وه او غوښتل یې تا ووژني او له دې هم جالبه دا چې دا قبیله ستا د ملګري خسرخېل دی ..
بې‌اختیاره مې له خولې ووت:
- عبدالرحمـــان ...

زقوم- هو، عبدالرحمان... که پرون شپه چې ما د کوم پیری شتون احساس کړ مارد وي، نو د حاجي خبرې تر یو حده سمې دي، شموئیل راګیر شوی.

د زقوم په دې خبرو یو نااشنا تودوخه مې له سینې پورته شوه، داسې لکه دننه مې چې اور بل شوی وي. ساه مې درنه شوه، رګونه مې تاو تاو کېدل. هغه مخکینې درد چې د میخونو ټکولو په شان و اوس بدل شوی و، اوس یوازې درد نه و بلکې سوځېدل هم و.

په زوره مې سترګې خلاصې کړې.
- زقوم... دا ... دا څه کیږي ..

هغه په تیز نظر راوکتل، غږ یې ټیټ خو جدي شو:
– په کراره، طاها... مه وېرېږه. دا خبرې مې ستا د وېرولو لپاره ونکړې، ارام اوسه... ته د وېرې او غوسې په وخت کې ډېر زموږ خواته رانږدې کېږې، ځکه داسې شوی، ارام ساه واخله څه نشته.

ځو دانې ژورې ساګانې مې واخیستې. د ځان د ارامولو لپاره بې‌اختیاره مې د قرآن کریم ویل شروع کړل چې ناڅاپه د زقوم چغه پورته شوه.

– بنده کړه خوله دې، منحوس!

د زقوم په چغه په تلوار مې د هغه خواته وکتل. هغه خپل غوږونه کلک نیولي وو او داسې ښکارېده لکه سخت درد چې لري.

ډېر ژر په موضوع پوه شوم، هغه نیم شیطان و، نو ځکه د قرآن په اورېدو پعذابېده. په کراره مې وویل:وبخښه... تاته مې فکر نه و، غوښتل مې ځان ارام کړم.

زقوم په غوسه خپل لاسونه له غوږونو لیرې کړل:
– خپل د ارامېدو لپاره غوارې ما ووژنې؟
- وبخښه، باور وکړه هېڅ مې تاته فکر نه و.

زقوم د شونډې لاندی څو کنځل راته وکړل، جالبه وه د زقوم چغې کار وکړ. وېره مې لږ کمه شوه او بې‌اختیاره مې خندا پیل کړه. چې هغه بد، بد راوکتل، خو لا یې څه نه وو ویلي چې ناڅاپه د کوټې دروازه خلاصه شوه او حاجي رانوت.

زما په خندانه څېره چې یې نظر ولګېد، په حیرت یې ورځې پورته کړې.
حاجي- عجب! ما فکر کاوه تر اوسه به ناست یې او ماتم به دې نیولی وي، ته خو

خاندې؟

په پوسخند مې وويل: ماتم؟ فکر کوم هغه باید ته ونیسې، نه زه.

حاجي خپل د څو دقیقو مخکې ځای ته راغی او کښېناست. خو د ځواب راکولو مخکې یې د آغاګل نوم واخیست. ډېر ژر آغاګل پتنوس په لاس کوټې ته راننوت او پرته له دې چې زما خواته راوګوري، پتنوس یې زموږ مخې ته کېښود او په تلوار له کوټې ووت، لکه له ما چې شرمېده!

بې‌اختیاره مې پوسخند وواهه او ځان سره مې وویل:
– ښه ده، یو نفر خو دومره انسانیت لري چې شرمېږي له خپل کاره.

حاجي یو پیاله چای ځان او بله ماته ډکه کړه، بیا یې په خندا زقوم ته وویل:
وبخښه، ستا لپاره څه نه لرم.
زقوم په پوسخند وویل:ولې لرې یې، ستا وینه .. فکر کوم ډېره مزه به ولري د یو خبیث انسان وینه څښل؟

حاجي بې له دې چې تندی تروش کړي یا غوسه شې کرار وخندل:
– ستا وحشیتوب مې خوښیږي، که اصل پیری وای، شاید یو بل معامله مو هم سره کړې وای... خو افسوس یو قرین زما په هېڅ کار نه راځې.

زقوم نور څه ونه ویل. ما خپل مخې ته ایښودل شوې پیاله چای او وچه ډوډۍ ته وکتل، بیا مې نیم نظر د زقوم خواته واچاو. هغه د سترګو په پټولو او خلاصولو راته اشاره وکړه چې کوم لیوتتوب ونه کړم او په کراره ډوډۍ وخورم.

جالبه وه، خو خبره مې ورخخه ومنله. کرار مې ډوډۍ خوړل شروع کړل چې حاجي په خندا وویل: جالب ده، د کوم وخت څخه تاسو دواړه د یو بل خبرې منئ؟
نه پوهېږم ولې، خو بې‌اختیاره مې ورته د عزیزی خبره خولې ته راغله:
- د دښمن، دښمن دوست وی.

حاجي په حیرت یوه وریځه پورته کړه، بیا په خندا لږ شاته شو او ویې ویل: څومره اشنا جمله ده، دا جمله یو نفر ډېر کاروي.

- عزیزی؟
حاجي سر وخوځاوه:
— نه... الفا.

د چای پیالې څخه مې یو غړپ واخیست او ومې ویل:
- جالبه ده، ما بیا دا جمله د عزیزی څخه ډېر اورېدلې.
حاجي کرار وخندل:
— هو، ډېر جالب ده.

زقوم د سترګو په اشارې پوه کړم چې همداسې دوام ورکړم، د هغه مطلب مې واخیست هغه غوښتل زه حاجي د خبرو لاندې ونیسم نه دا چې حاجي ما د خبرو لاندې ونیسی او غوسه مې کړي.

- تاسو پرون د الفا سره خپل د شناخت کیسه مو وکړل، خو دا مو ونه ویل چې څنګه دا دوستي مو په دښمني واوښته؟
حاجي نیم نظر د سترګو له کونج راواچاو، بیا یې خپل د چای نه یو غړپ واخیست او ویې ویل: الفـا ... د هغه شپې د پیښې وروسته زما ټول فکر د پیریانو خواته شو، خو هغه زما په شان فکر نه کاوه، هغه د پېټو نرۍ او کسانو شوقي نه وو، هغه د زور سړی و.

حاجي خپل سترګې لږ تنګې کړي، لکه هغه وختونه چې خپل ذهن کې تکراروي.

— یوه ورځ یو ډله مو په قاچاقي توګه وړل، هغه کې موجود ټول کسان د یو کورنۍ غړۍ وه، د سړیانو څخه نیولې، ماشومان، بوډاګان، ښځې، انجوني ټول له یوې کورنۍ څخه وه، او دا کورنۍ هم کوم عادی کورنۍ نه وه یو نظامي کورنۍ وه چې د ډاکټر نجیب د وخت جنرال وو، هغه د مجاهدینو لخوا په خطر کې و نو ځکه

غوښتل يې خپل د کورنۍ سره د وطن ووځي او ايران ته لاړ شي، د هغه د ټول کورنۍ په امن کې د مرز څخه اړول زما په غاړه و، خو .. الفا هغه په نيمه لاره کې د دې کورنۍ يوه پيغله جنۍ وتښتول ...

د حيرت مې سترګې پراخي شوي چې حاجي پخندا راوکتل او ويې ويل: جنۍ ښايسته وه، بيحد هم ښايسته وه، څه دروغ درته ووايم څو ځله زما زړه هم ورته لاړ خو امکان يې نه درلود هغوي ټول نظاميان وه، ما جرئت ونکړ خو الفا ... هغه حرمو* بغير له دې چې ما ته څه ووايې جنۍ وتښتول، ته فکر وکړه د هغه په دی کار زما په سر به څه بلا راغلې وی ..؟

لږ مې فکر وکړ او خندا راغلل، جنۍ الفا وتښتول او راګير شوی دی وو، عجب زدن به يې خوړلې وی. حاجي کرار وخندل او سر يې وخوځاوه.

– هو، دقيقاً دومره وهل مې وخوړل چې عمر کې مې نه وه خوړلې، نږدی و چې ووژل شم خو خدای بچ کړم.

- نو په دې خبره د الفا سره دوښمن شوی؟

حاجي- نــه، منم چې غوسه راغله، عصبي شوم. خو دښمني نــه. د هغه د ورکېدو وروسته ما قاچاقبري پرېښوده او لا ژور د پيريانو نړۍ ته ورننوتم، د هغوی قوانينو ته، د هغوی کمزوريو ته.

سترګې يې زما په سترګو کې ټينګې کړې.

– خو بيا هم ونه توانېدم چې هغوی خپل تابع کړم. يوازې دومره پوه شوم چې د پيريانو نړۍ تر هغه ډېره لويه ده څومره چې زه يې په اړه فکر کوم. زه د خپلې نوې پيدا کړې نړۍ په کشمکش کې وم، او دې منځ کې تقريباً کلونه تېر شوي وو چې الفا يو ځل بيا راڅرګند شو.

حاجي خپلې سترګې لږ تنګې کړې، داسې لکه هغه ورځ چې ببرته ذهن ته راولي.

– کله چې راغلو، ما هغه پخوانۍ خبرې تر ډېره هېرې کړې وې او د يو ملګري په شان مې د هغه ښه راغلاست وکړ. هغه هم نور د پخوا سړی نه و، بدل شوی و. د يوې ډلې مشر و، هغه هم کوم عادي مشر نه، بلکې داسې چې خلکو يې نوم په وېره اخيست. ځانته يې سيستم، قوانين، خلک، وسلې او لارې جوړې کړې وې.ما ته يې وړانديز راکړ چې د هغه په ډله کې شامل شم، خو ما رد کړ. ما تر هغه ډېر قيمتي خزانه پيدا کړې وه، نو ځکه نه مې غوښتل د دوه روپو لپاره هغه له لاسه ورکړم.

حاجي د چای يو غړپ واخيست او ادامه يې ورکړه:
– الفا يوه شپه زما سره پاتې شو، خو دا شپه د کلونو وروسته زموږ د ملګرتيا د تازه کولو شپه وه. الفا راته د هغې ورځې کيسه وکړه چې هغه جينۍ يې تښتولې وه.

غړ يې لږ ښکته شو.
– راته ويې ويل چې جينۍ مې له ځان سره په بله لاره بلوچستان ته يوړه. ښايسته جينۍ وه... کرار، کرار ورباندې مئين شوم. له ځان سره مې وساتله، هر څه مې ورته برابرول، کوښښ مې کاوه خپل د ځان سره يې عادت کړم خو هغه جينۍ به تل ژړل. هر څه چې ما کول، د هغې ژړا نه بندېده، تر دې چې يوه ورځ مې اعصاب خراب شول او ټوپک مې ورباندې راواخيست ورته ومې ويل: "که ژوند غواړې، نو خوله به دې بنده ساتې، کنه همدلته دې ضربه کوم."
وايي، جينۍ د وېرې پر ځای په بېحده زړورتيا راته وويل: "که نر يې، و مې وله."

حاجي پخندا سر وخوځاوه.
– الفا ويل د هغې دا جرئت بيحد خوند راکړ. مينه مې نوره هم ورباندې زياته شوه. نو کوښښ مې وکړ چې د زور پر ځای يې د مينې په ژبه خامه کړم او دې کار لږه فايده هم وکړه، خو يوه ورځ يې په ژړا راته وويل: ظالمه، اوس چې دې تښتولې يم او پرېږدې مې هم نه، نو نکاح خو راسره وکړه او د دې ننګ او پيغور څخه خو مې خلاصه کړه.

حاجي په خندا خپله د چای پیاله پورته کړه.
– الفا هغه حرمو* عصبي او رواني انسان دی چې نرۍ کې به یې ثاني نه وي، خو دا خبره باید ومنم چې په هغې جینۍ مئین و. ځکه ویې ویل: ما ته د نکاح لفظ بې‌معنا و، خو د هغې د ډېرې ژړا او بدحالۍ له امله مې یو ملا پیدا کړ او نکاح مې ورسره وتړله. له هغه وروسته د رښتیا هم جینۍ لږه کراره شوه. نور یې هغه بدې ورځې نه کولې او یو ډول عادت شوې وه.

څو میاشتې همداسې تېرې شوې. یوه ورځ د یوې ډلې څخه راته د کار وړاندیز راغی، ډېرې پیسې پکې وې. مجبور شوم خپله ښځه یوازې پرېږدم او وطن ته راستون شم. خو د راتلو نه مخکې مې یو کس ورباندې ودرولو، تر څو ونه تښتي.څو میاشتې زه دلته د کارونو پسې وم، تر دې چې بېرته ورغلم ...کله چې ورغلم، هغه امیندواره وه.

نه پوهېږم ولې، خو د حاجي د دې خبرې سره ناڅاپه ډېر بد احساس مې زړه کې راپورته شو. ساه مې درنه شوه،حاجي زما غبرګون ته راوکتل او کرار یې وویل:
– الفا ډېر بد زړه او شکمن انسان دی. هغه فکر کاوه چې ښځه یې شاید د هغه د ساتونکي سره جوړه شوې وي او دا ماشوم به هم د هغه وي.

حاجي په پوسخند سر وخوځاوه.
– وایي زړه مې په څلور مذهب نه منل چې دا ماشوم دې زما وی. نو خپله ښځه مې د وهلو لاندی ونیول تر څو یا رښتیا راته ووایي چې دا ماشوم د چا دې؟ یا هم ماشوم د هغې په نس کې مړ شي.خو د دومره وهلو باوجود ښځې مې یوه خبره کول ماشوم ستا دی ظالمه .. او ماشوم هم مړ نه شو.

حاجي خپل د چای پیاله دویم ځل ډکه کړل، بیا یې پخندا کیسه راوخیستل هغه دا کیسه داسې په خوند کول ته وا کوم هیجاني فلم چې وی، خو ما د هغه دا خندا هیڅ نه خوښېدل.

حاجي- مینه د انسان سترګې ړندوي، فکر وکړه د دومره شکونو او تهمتونو باوجود الفا هغه ونه وژله، خو هغه ساتونکی یې مړ کړ، وايې دیته مې څه ونه ویل او یو ځل بیا له کوره ووتم، تقریبا شپږ میاشتي د هغې خواته لاړم نه، د شپږ میاشتو وروسته چې ورغلم ښځې مې زوي نړی ته راوړی و خو زما زړه کې لا هم هماغه شک و، لومړی مې غوښتل ماشوم همغلته ووژنم، خو په دې خبره پوهېدم چې د هغه ماشوم مرګ زما د ښځې د مرګ مانا لری او د عمر تر پایه به راڅخه کرکه وکړي.

نو هلته مې ونه وژلو په بهانو، بهانو مې ماشوم ورڅخه واخیست، موټر ته مې واچاوه او روان شوم. غوښتل مې یو ځای یې یوسم او ویې وژنم، خو و مې نه شو کړی.

حاجي خپلې ګوتې د پیالې شاوخوا ټینګې کړې.
– ماشوم د بلوچستان څخه نیولې تر افغانستانه یو ځاځکی شیدې هم نه وې څښلې، وایې ما غوښتل په دی بډول یې ووژنم،خو هغه لا هم ژوندی و، وایې کله چې مې د هغه خلاصې سترګې ولیدې، نو د ځان سره مې وویل: دا کوم عادي ماشوم نه دی .. پدرلعنت دا نړی په دومره آساني نه پرېږدي. نو زه هم د هغه د وژلو څخه تېر شوم او یو یتیم‌خانې ته مې وسپاره.

د حاجي په دې خبره ساه اخیستل رانه هېر شول، داسې مې احساس کاوه لکه د زړه درزا مې چې په مغزو کې ده. درب... درب... درب...
یوازې یو لفظ مې ذهن کې تاوېده:
یتیم‌خانه... یتیم‌خانه...
الفا یو ماشوم یتیم‌خانې ته سپارلی و...
شاید په ظاهر عادي خبره وه، خو زما زړه بده ګواهي راکوله.

حاجي- د ماشوم سپارولو وروسته الفا تر کلونو،کلونو هغه لیاده باسې او ځانته کاروبار، نوم او نښان جوړوي. تر دې چې یوه ورځ اتفاقاً د هماغه یتیم‌خانې له لارې

تېرېږي او زړه کې يې وسوسه راځي چې: راځه، د هغه ماشوم يو درک خو معلوم کړه چې ژوندی دی که مړ؟

حاجي په شيطان او مرموز موسکا زما خواته راوکتل:
– پوهېږې طاها هلته د تلو وروسته الفا په څه پوهېږي؟

درنه چوپتيا کوټه کې خپره شوه. ما خپل د زړه درزا واضح اورېده. داسې حالت مې درلود لکه يو ماهی چې له اوبو بهر غورځېدلی وي او د ژوندي پاتې کېدو لپاره خوله خلاصه او بنده کوي. ما هم د ساه اخيستلو لپاره خوله خلاصه او بنده کوله.

حاجي په خندا وويل:
– نړۍ ډېر عجيب قوانين لري، طاها... د کوم کس او شئ څخه چې موږ کلونه تښتو او کرکه ورځخه کوو، يوه ورځ قسمت او تقدير هماغه کس او شئ بېرته زموږ مخې ته راولي.

لږ رانږدې شو.
– د الفا سره هم همداسې چل وشو، هغه ماشوم چې ده غوښتل ووژني، کلونو وروسته د ده لوی رقيب او سيال جوړ شوی و. ځانته يې اصول، قانون او نظم درلود، نيمه پکتيا يې تر لاس لاندې کړې وه، داسې تجارت يې درلود نمبر اول ..
حاجي په مرموز انداز کرار وويل: تجارت يې شايد تاته لږ آشنا وی؟
بې اختياره مې د خولې لاړې تېرې کړل چې هغه وويل: د موټـــرانو تجارت...

د حاجي په دې خبره نور مې څه وانه ورېدل. په غوږونو کې مې بنګهارې شو او هر څه مې د سترګو مخې ته دوه، دوه کېدل.

د موټـــرانو تجارت...
دا لفظ لکه د ثبت شوي ريکارډ په شان بيا بيا زما ذهن کې تکرارېده.
د موټـــرانو تجارت...

بې‌اختیاره مې سر دوارو لاسونو کې ونیو.
نه... نه... دا امکان نه لري ...

په چغه مې وویل: نه! ته دروغ وایې، دا ټول دروغ دي!

په غوسه مې د هغه خواته حمله واچوله، خو ځنځیر مې غاړه کې کش شو. داسې احساس مې وکړ لکه ستونی مې چې په چاړه پرې شوی وی، د زقوم ورخطا غږ مې واورېد چې زما نوم یې اخیست او د ارامېدو یې ویل، خو ما د لیونیانو په شان ځان د حاجي خواته کش کوو.

- لکه د سپي غوندې دروغ وایې، زه پوهېږم غواړې په دې خبرو ما غوسه کړې. دا ټول اپلاتې دي... دا حقیقت نه لري... ووایه چې دروغ وایې! ووایه.

خو حاجي بې‌غمه ناست و. یوازې یې په خندا سر وخوځاوه.
— اوو ... طاها .. نه وم خبر چې عزیزی دومره درته ګران دی.

د عزیزی نوم په اورېدو مې بدن اور واخیست، حاجي هغه نوم واخیست کوم چې ما هیڅ نه غوښتل په ذهن کې لا راوړم .. نه... نه... دا خبره غلطه وه.عزیزی او الفا ...
نه الفا د عزیزی پلار؟ دا امکان نه لری ..
بې‌اختیاره مې سر وخوځاوه.
- نه... عزیزی شاید یتیم خانه کې اوسېدلې وی، شاید پلار یې نه وی معلوم، خو نه .. ته دروغ وایې ..

حاجي په پوسخند وویل: دروغ؟ که زه دروغ وایم نو ته ولې دومره وارخطا شوې؟
- ځکه چې ته یو حرمون* ...
حاجي زما په خبره د غوسه کېدو لځایه کرار وخندل.
— هر څه چې وایې ووایه، خو حقیقت بیا هم حقیقت دې، زما او ستا نه منلې یې نشې بدلولي ..

حاجي- الفا ویل کله چې یوه شوم هغه ماشوم اوس دومره لوی شوی او دومره غټ کاروبار یې جوړ کړی، نو زړه کې مې یوه وسوسه راپورته شوه. ځان سره مې وویل: "هسې نه دا رښتیا هم زما زوی وي؟ او که وي نو ما ورسره څه وکړل؟"

حاجي لږ چوپ شو، سترګې یې پر ما تنګې کړې، بیا یې ادامه ورکړه:
— له هماغه ورځې د الفا لپاره هر څه بدل شول. کرار، کرار باوري کېده چې عزیزی د هغه خپل زوی دی، خو مشکل پوهېږې څه و؟
زما خواته یې راوکتل.
— هغه دا خبره هېڅکله عزیزی ته ونکړه.

د حاجي په دې خبره بې‌اختیاره مې هوسا ساه واخیسته. ما تراوسه فکر کاوه چې الفا او عزیزی یو ځای شوي او ما ته یې چل راکړی. دا چې دومره غوسه هم راغلې وه، وجه یې همدا وه. خو کله چې حاجي وویل عزیزی تر اوسه نه دی خبر نو خپل په فکرونو خندا راغله.

حاجي په پوسخند وویل: د رښتیا هم خندونکې ده، خو الفا دومره جرئت نه درلود چې عزیزی ته حقیقت ووایي. پر ځای د دې چې هغه خپل زوی ومني، پعذابوه یې. هر کار کې به یې د ځان سره کشاوه، هره معامله کې به یې ورننویست. داسې لکه غوښتل یې خپل زوی د خپل لاس لاندې وساتي، یا شاید د خپل ګناه کفاره یې په دې ډول ادا کوله.

د حاجي خبره چې ختمه شوه، کوټه یو ځل بیا په درنه چوپتیا کې ډوبه شوه. زه لږ آرام شوی وم، خو لا هم ذهن مې د سل فکرونو ځخه ډک و.
عزیزی؟
الفا؟
پلار او زوی؟

دا څنګه امکان درلود؟ دواړه خو حتی یو بل ته ورته هم نه وو.
د حاجي خاموشۍ خبرې ته مې وکتل.
شاید دروغ وایي، شاید غواړي زما ذهن خراب کړي.
حاجي لکه زما فکرونه چې لوستي وي، کرار یې وخندل.

— پوهېږم د منلو وړ نه ده خو همدا حقیقت دی. البته زما لپاره خو جالبه دا ده چې...

خپله د چای پیاله یې کرار پر ځمکه کېښوده.
— پلار او زوی، دواړه یو بل ته نږدې ګرځېدل، جنګونه یې سره کول، معامله یې سره کوله، خو نه الفا هیڅکله دا جرئت وکړ چې حقیقت ووایي او نه هم عزیزی هیڅکله شک وکړ.

- که ستا دا ټولې خبرې رښتیا هم وي، بیا هم زه وربانديې باور نشم کولای.

حاجي په بې‌پروا خپل اوږه پورته کړه.
— ما درته لومړۍ وویل ستا په باور کولو او نه کولو حقیقت نه بدلېږي.

- که عزیزی د الفا زوی وي، نو بیا الفا ولې غوښتل هغه ووژني؟ ولې یې زندان ته واچاوه؟ ولې یې غوښتل په خپل نوم یې اعدام کړي؟ حتا ټول په دې باور دي چې د عزیزی ښځه او ماشومان هم الفا وژلي او که هغه هم نه وي نو برهان ..کوم کس چې عزیزی ته د ورور په شان و، هغه یې ولې وواژه؟ یو پلار تر دې حده د خپل زوی بد نه غواړي.

حاجي کرار وخندل.
— اوو... طاها، ته فکر هم نشې کولای چې الفا تر کوم حده خطرناک سړی دی. هغه د عزیزی پرته بل اولاد نه لري، ځکه تل وایي: "کورنۍ د انسان کمزورتیا ده." نو ځکه تل یوازې ګرځي.
لږ چوپ شو، بیا یې ادامه ورکړه:

— خو دا خبره دې سمه ده، هغه د یو پلار په حیث دومره هم ظالم نه شو پاتې کېدای. کله چې پوه شو عزیزی د هغه خپل زوی دی، نو د هغه ژوند ته مایل شو. غوښتل یې پوه شي چې څنګه رالوی شوی؟ څه کارونه یې کړي؟ او څنګه دې ځای ته رسېدلی؟

دوه سترګې یې زما خواته ونیولې.
— او هماغه پلټنو کې د برهان نوم مخې ته راغی .. هغه هلک چې له عزیزی سره په یوه یتیم‌خانه کې رالوی شوی و. د وینې ورور نه و خو تر وینې زیات یو بل ته ګران وو. عزیزی دومره ورباندې باور درلود چې خپل ټول ژوند یې ورته سپارلی و.

حاجي په افسوس سر وخوځاوه.
— خو ژوند دومره هم ساده نه دی. دا خبره دې سمه ده، الفا نه یوازې برهان، بلکې د عزیزی ټوله کورنۍ هم ووژله خو پوهېږې ولې؟

بغیر له څه ویلو مې وروکتل.

حاجي- ځکه چې الفا په یو راز پوه شوی و ...
هغه کس چې عزیزی ورته ورور ویلو، کورنۍ یې بلله او له خپل ځانه یې ډېر وربانديې باور درلود، هماغه ورور، هماغه ملګری عزیزی د شالخوا په خنجر واهه، هغه د عزیزی د ښځې سره پټ اړیکه درلوده ...

فکر مې کاوه خوب وینم. په یوه ورځ، یوه ساعت، یوه شېبه کې دومره خبرې مې ذهن ته ننوتې وې چې نور مې دماغو دا هر څه نشو هضم کولای، زړه مې غوښتل سترګې پټې کړم، ویده شم او چې راویښ شم، حاضر وم د عزیزی د سپیانو په کوټه کې اوسم یا د هغه د کور په هغه منحوس زیرزمیني کې اوسم خو دا ټولې خبرې دروغ وي ..

حاجي کرار وویل: عزیزی په برهان باندی په پټو سترګو باور درلود. هیڅکله یې فکر هم نه شو کولای چې هغه به داسې کار وکړي. خو الفا چې کله په دې حقیقت پوه

شو، نو همدلته یې پلارتوب ښکاره شو.

سترګې یې ماته ځیر کړل:
– په پوره چالاکۍ او فریب یې داسې حالت جوړ کړ چې برهان د پولیسو په ګیر کې ولوېد او بیا همدلته یې د هغه د وژلو حکم صادر کړ. خو حقیقت یې عزیزی ته ښکاره نه کړ، ځکه نه یې غوښتل د خپل زوی غرور مات شوی ووینې.

په پوسخند یې سر وخوځاه:
– دا ستا په نظر پلرني مینه نه ده؟ پر ځای د دې چې عزیزی د رښتیا په ښکاره کولو لیوني کړي، زړه کې د انتقام اور او جذبه ورواچول، عزیزی د همغه پیښې او خبرو وروسته د الفا خلاف ودرېد، خو باور وکړه الفا هېڅکله د عزیزی د مرګ اراده نه درلود، کنه بیحد چانسونه یې په لاس کې وه.

د طلا په خبره یو د بل سره څه ناڅه چپ شول، خو الفا بیا هم د هغه د مرګ اراده نه درلوده. که یاد دې وي، عزیزی دومره سخت زخمي شوی و چې د مرګ امکان یې سل په سلو کې و، خو بیا هم ژوندی پاتې شو پوهېږې ولې؟

ما څه ونه ویل، یوازې مې ورته کتل.

حاجي کرار خپل د چای پیاله پورته کړه، یو غړپ یې ورڅخه واخیست او بیا یې وویل: ځکه الفا ورته یو خاص، تکړه او تجربه‌کار ډاکټر هماغه زندان ته ورولېږه او د هغه علاج یې ورباندې وکړ. که د دولت لاس کې وایې ولاکه یې یو نرس هم وراستولې وایې ډاکټر خو لرې ... خو الفا؟ هغه خپل زوی مړ کېدو ته نه پرېښود.

زړه مې دروند شو.
حاجي ادامه ورکړه:
– او پاتې شوه خبره د اعدام. الفا شاید په ظاهر ټول جرمونه د عزیزی پر غاړه اچولي وو، خو همدغه الفا د جنرال د زوی په وژلو او د هغه د کسانو په ختمولو دولت مجبور کړ چې عزیزی ته پناه ویسي او هغه راخوشی کړي.

زقوم چې تراوسه چوپ و په پوسخند وویل: زموږ شیطانانو نوم هسې بدنام دی، کنه تاسو انسانان زموږ څخه ډېر چلباز یاست، خپل یې زندان ته اچوی او خپل یې هم راباسي.

حاجي په خندا سر وخوځاوه.
— همدا خو د الفا لوبه ده، هغه هیڅکله مستقیم کوم کار نه کوي، تل خلک داسې تاووي چې فکر کوي خپل تصمیم یې نیولی.

بیا یې زما خواته راوکتل.
— اوس هم چې عزیزی مثلاً په ډېرې چالاکۍ د الفا کسان خپل خواته رااړوي، ته فکر کوې الفا نه دی خبر؟ الفا یوازې د عزیزی ژنتیکي پلار نه دی، په دې لوبه کې هم د هغه پلار دی.

د هغه دا خبری مې زړه ولړزو.

حاجی- هغه په هر څه پوهېږي، خو بیا هم چوپ ناست دی او همدا د الفا چوپ پاتې کېدل عزیزی دومره دلاور کړی چې فکر کوي ډېر هوښیار دی.
کوټه څو شیبې چوپه شوه، زړه مې درب... درب... درب... درزیدی..

الفا...
عزیزی...
برهان...
برهان...

لا مې هم ذهن دا خبره نه وه هضم کړې چې برهان... هماغه برهان... چې عزیزی خپل ټول ژوند ورباندی قربانولو ته چمتو وو همغه عزیزی ته دوکه او چل ورکړی.. هغه چې د ورور نه هم زیات ورباندې باور درلود او ګران وو ورباندی ..

بې‌اختیاره مې کرار وویل: نو ته په دې منځ کې څنګه د دې دوارو دښمن شوې؟
حاجي په خندا خپل ځان ته اشاره وکړه.
– زه؟ زه له الفا سره دښمن نه شوم. الفا له ما سره دښمن شو.
- ولې؟
حاجي کرار شاته تکیه شو.
– ما خپل ډېر وخت بلوچستان کې د پیریانو د نړۍ په اړه د معلوماتو راټولولو کې تېر کړی و، خو تقدیر زه د پکتیا خواته راوستم. کله چې راغلم، الفا د خطر احساس وکړ. هغه فکر وکړ زه راغلی یم تر څو عزیزی ته حقیقت ووایم.

حاجي په پوسخند سر وخوځاوه.
– لومړی یې کوشش وکړ ما له ځان سره وساتي، بیا یې کوشش وکړ ما وکاروي، خو کله چې پوه شو زه د هغه په شان نه یم، نو زما د ختمولو فکر یې ذهن ته راغی.
زقوم په کراره وویل: نو څکه دې عزیزی ته اور واچاوه؟

حاجي په لوړ غږ وخندل.
– هوښیار کس مې ډېر خوښیږي، البته اور مې وانچو یوازې لږ مې د هغه غوږونه تاو کړل، یوازې دومره ورته وویل چې الفا تر هغه ډېر رازونه لري چې ته فکر کوې، نور څه مې ونه ویل خو عزیزی هم اخر د الفا زوی دی خپل په کار ښه پوهیږي.

د حاجي خندا مې اعصاب خرابول،هغه داسې خندل لکه د دوو انسانانو ژوند چې ورته یوازې لوبه ښکاري او خوند ورڅخه اخلي.

حاجي- د هغوی جنګ روان شو او زما پلټنه د پیریانو په اړه.
غږ یې کرار،کرار جدي شو.
– تر دې چې د پیریانو له یوې ډلې سره مې اړیکه پیدا شوه. هغوی راته وویل ځینې داسې انسانان شتون لري چې نیم انسان وي او نیم جن.

د هغه دا خبره مې د زړه درزا تېزه کړه او بې‌اختیاره مې خپل د خولې لاړې تېرې کړې. حاجي په دقت زما حالت ته راوکتل.

– لومړی مې فکر وکړ دا هسې خبرې دی او دروغ دي خو کله چې پخپله مې پلټنه شروع کړه نو...

لږ چوپ شو.
– نو يو هلک مې پيدا کړ،عرب و عراق کې اوسېده. کله چې خبر شوم نيم انسان او نيم جن دی، په تلوار ورپسې ولاړم، خو زما تر رسېدو مخکې هغه مړ شوی و. دلیل يې دا و چې هغه دوه ځواکونه په يو وخت کې خپل په وجود کې نشو زغملای.

زقوم کرار وويل: کمزروی وجود.

حاجي د زقوم خبرې ته پام ونه کړ، او ويې ويل: د هغه د مرګ وروسته تر څو مياشتو په ګرځیدو وم، تر دې چې پیریانو يو بل کس را وښود.

بد احساس مې وکړ،حاجي مستقيم زما سترګو ته راوکتل.
– هغه نيم پیری نه و، خو د يو پيري شيدې يې څښلې وې.

د هغه دا جمله مې د وجود وينه يخه کړه، زقوم هم ناڅاپه زما خواته راوکتل.
حاجي په شيطان موسکا ادامه ورکړه:
– لومړی مې فکر وکړ چې دومره خاص شئ به نه وی، يو ماشوم دی چې د پيري شيدې څښلي، خو کله چې خبر شوم د هغه ساتنه يو عفريت کوی او يوازې ځان د هغه د ساتني لپاره د دوولسو قبايلو مخې ته ولاړ دی نو پوه شوم موضوع عادي نه ده.

حاجی لږ رانږدې شو.
– نو ورپسې شوم، پوهېږې کوم وخت مې ته پيدا کړې؟
د هغه سترګو کې عجيب ځلا وه.

– هغه وخت چې تا د جنرال پيشنهاد رد کړ او له خپلې کورنۍ څخه لرې ژوند کول دی انتخاب کړل.

بې‌اختياره مې تندی تروش کړ.
- نو له قصده زما همسايه شوې؟
حاجي په بې‌غمۍ وخندل.
– هو. ستا د څنګ کور کې د آغاګل د پلار په نوم.
زقوم په غوسه وويل: خبيـــث ...

خو حاجي د زقوم د خبرې هېڅ پروا ونکړه.
– غوښتل مې پوه شم ته څه يې؟ کوم ځواکونه لرې؟ خو تا هېڅ نه ښودل. کرار، کرار درڅخه نااميد کېدم. تر دې چې آغاګل د غلو فکر ذهن ته راواچاوه.

خوله مې د حيرت خلاصه پاتې شوه چې، حاجي په خندا وويل: هغه شپه هغه غله ما ستا مخې ته دروااستول.

په ذهن کې مې د هماغې شپې تصوير راژوندی شو، د آغاګل هغه بيځايه کار راپه ياد شو چې د يو خرابه موټرسايکل لپاره د غلو سره لاس او ګريوان شو، بايد هغه شپه مې شک کړی وايې چې دا ټول هسې پلان دی ...

– کله چې تا يوازې ځان درې واړه راونيول، نو يقين مې راغی چې ته عادي انسان نه يې.غوښتل مې هماغه وخت دې راونيسم، خو پيريانو راته د صبر وويل، د هغوي په نظر لا ستا وجود خام و لا بشپړ شوی نه وې.

حاجي په شيطاني خندا وويل: اه طاها .. ما چې څومره تاته صبر کړی، دومره صبر ولاکه يو ميړه خپلې ښځې ته لا کړی وي.

خپل په بې مانا ټوکه يې هر،هر وخندل کله چې زما تروش تندی وليد نو چوپ شو او ويې ويل: تر هغه ورځ مې درته صبر وکړ چې ملګري دې هغه ګوتمۍ درکړه.

د حاجي په دې خبره بې‌اختیاره مې لاس ولړزېد. ساه مې لنډه شوه، کرار مې خپل خالي لاس ته وکتل،هماغه لاس ته چې ګوتمۍ پکې وه، خو اوس نه وه ... نو زما ګوتمۍ دې رزیل اخیستې وه.

- زما ګوتمۍ!
حاجي- هو، ستا ګوتمۍ.

زقوم ناڅاپه سر راپورته کړ، څېره کې عجیب وېره او اندېښنه ښکاریدل.
حاجي- هغه ګوتمۍ ستا د څواکونو قفل و، تر هغې ورځې ستا وجود نیم ویده و، څواک دې تړلی و، خو کله چې دې ګوتمۍ وکاروله ..

لږ چوپ شو، سترګې عجیب و ځلېدل کله چې ویې ویل: نو قوت دې فعال شو او زما د صبر مېوه اخره پخه شوه.

د زړه درزا مې تېزه شوه، د کوټې هوا راته درنه ښکاریدل، داسې احساس مې کاوه لکه کوټه چې کرار،کرار کوچني کیږي ..

زقوم په تروش تندي حاجي ته وکتل.
— ته ډېر خبیث انسان یې.
حاجي په خندا اوړه پورته کړه.
— خبیث نه... فقط صبور.
بیا یې زما خواته مخ راواړاوه.
— پوهېږې طاها؟ ما په میاشتو، میاشتو انتظار وکړ تر څو ستا وجود بشپړ شي، غوښتل مې هغه څواک وګورم د کوم چې زه غوښتونکي یم.

- څه غواړې ...؟

حاجي سمدستي ځواب رانکړ، کرار له ځایه راپورته شو. د هغه د پښو غږ کرار، کرار کوټه کې انګازې کول، زما مخې ته ودرېد.لږ رانږدې شو. تر دې حده چې د ساه

تودوخه یې ما خپل پر مخ احساس کولای شول.
زقوم سمدستي په غوسه وویل: شاته لاړ شه منحوسه ...

خو حاجي پروا ونه کړه، سترګې یې مستقیم زما سترګو کې خښې کړې.

– تا ..

هغه دا لفظ داسې وویلو لکه زه چې کوم میوه یم او هغه یې غواړی!؟
زړه مې و درېد، نه پوهیدم د هغه د دې خبرې مطلب څه دی؟ څه مطلب چې ما غواړی؟

– زه ستا څواک غواړم طاها .. ستا د پیریانو انرژي او ستا قدرت.

د هغه د وروستي لفظ سره داسې احساس مې وکړ لکه ناڅاپه چې کوټه یخه شوی وی، زقوم ځان د قفس خواته راکش کړ او په غوسه یې وویل: دا کوم د واده چاکلیټ نه دی چې ته یکې فرمایش کوی چې ککوی غواړی که ساده ...

حاجي په لوړ غږ خندا شروع کړل.
– د واده چاکلیټ؟ ښه لفظ و خو د طاها ټول څواک زما خپل دی، فرمایشي نه اختصاصي ..

عجیب وه زما لځایه زقوم جنجال کوو.
زقوم- ته چې کوم کار غواړې وکړی د هغه په اړه په هیڅ نه پوهیږی.
حاجي زما خواته راوکتل.
– برعکس، زه ډېر ښه پوهیږم ما کلونه د همدي په اړه مطالعه کړې. پیریان، عفریت، مارد .. د هغوی قوانین، د هغوی قوتونه، د هغوی ضعفونه، خو ستا په شان موجود ما هیڅکله نه و لیدلی.

ساه مې درنه شوه، نه پوهېدم ولې، خو د هغه خبرې مې هېڅ نه خوښېدل، داسې احساس مې کاوه لکه ما ته چې د کوم وسیلې په نظر ګوري نه انسان.د حاجي سترګو کې عجیبه حرص و.

– پوهېږې طاها؟ عادي انسانان کمزوري وي، پیریان هم خپل حد لري، خو ته .. ته د دواړو ترمنځ یې.

زقوم په توند لهجه وویل: او همدا دلیل دی چې باید ورڅخه لیرې اوسې!

حاجي بې‌پروا وخندل.
– خو زه لیرې پاتې کېدل نه غواړم.
زقوم په پوسخند وویل: ته د هغه ځواک نشې اخیستي، هسې په ویښ خوبونه مه ګوره، هر چا چې دا خبره درته کړې ډېــر ... ډېـــر بد یې کړې.

حاجي کرار، کرار زما شاوخوا په قدم وهلو شو.
– ما په میاشتو تاته انتظار وکړ، ستا بدلېدل مې ولیدل، ستا غوسه، ستا درد، ستا وېره... حتی هغه شپه چې لومړی ځل دې ځواک راویښ شو، زه پوه شوم چې نور وخت رانږدې دی، زما معلومات غلط نشي کېدلی ...

په نیولي غږ مې وویل: ته د کوم وخت راهیسې زما پسې یې؟

د قدم وهلو څخه ودرېد.
– د ډېر وخت.

هغه دا لفظ دومره په آرام وویل چې زما د بدن ویښتیان یې زیغ کړل. هغه د ډېر وخت راهیسې زما پسې و، نو مطلب خلاصېدل مې ورڅخه دومره په اسانه ناشوني وه.

حاجي- ته زما د ټول عمر د زحمت نتیجه یې، طاها.

زقوم په غوسه وويل: دا نتيجه به ستا په ډېر بد تمام شي، دا خبره ذهن کې ساته.

د زقوم دومره غوسه مې نشو درک کولای. هغه داسې غوسه و او داسې خبرې يې کولې، ته وا د يو څه په اړه پوهېږي او پوهېږي چې د حاجي پلان څه دی؟

حاجي- ما تل غوښتل چې پوه شم، که د انسان او پيري قوت يو ځای شي، نو نتيجه به يې څه وي؟

په وېره مې خپل د غاړې ځنځير لږ کش کړ، خو د خلاصېدو نه و، بې‌حده کلک و.

- ته ليونی شوی يې، پوهېږې موږ انسانان اجازه نه لرو چې د پيريانو نړۍ ته ډېر ننوځو، خدای زموږ لپاره دا منع کړې، البته که ته خدای ومنې.

حاجي په پوسخند سر وخوځاوه:
— نچ نچ ... د يو بل لارې کوښښ وکړه چې ما منع کړي. په قرآن او حديث زما مخ نشې نيولی.

- ولې؟ مګر ته کافر يې چې قرآن او حديث نه منې؟
حاجي کرار وخندل.
— هو، شايد ...

زما د نور څه ويلو مخکې ناڅاپه هغه جدي شو.
— ته نه پوهېږې چې ستا دننه څه پروت دي.
لږ رانږدې شو.
— هغه ځواک چې ستا وجود کې دی، کولی شي د پيريانو ټول قوانين مات کړي.

زقوم- او تا هم ...
حاجي- ستا ځواکونه يو عفريت فعال کړي، پوهېږې د دې مطلب څه دی؟
کله چې زما ګنګس نظر يې وليد، نو په افسوس يې سر وخوځاوه: ته د دې ځواکونو

لیاقت نه لرې، ته حتا په دې لا نه پوهېږې چې څه کارونه کولای شې؟ دا ځواکونه زما حق دي تر څو په دواړو نړۍ و حکمراني وکړم.

زقوم په ریشخند وویل: البته په خوب کې خـــــوب ...

حاجي په کرار خو خطرناکه توګه وخندل او سر یې وخوځاوه.
– خوب؟ زقوم، ته فکر کوې زه تر دې ځایه د ماشومانو د لوبو لپاره راغلی یم؟

زقوم په غوسه ځان په قفس وواهه. د اوسپنې د ټکر غږ کوټه کې خپور شو.

زقوم- ته نه پوهېږې د څه شي سره لوبې کوې.

حاجي کرار زما خواته راوکتل.
– برعکس، زه ډېر ښه پوهېږم.

بیا یې خپلې ګوتې زما د غاړې ځنځیر ته رانږدې کړې. ما بې‌اختیاره ځان شاته کش کړ، چې هغه په پوسخند وویل: وېرېږې؟

په غوسه مې وروکتل.
- که دا ځنځیرونه نه وای، بیا مې تاته ښودل چې وېره څه ده.

حاجي په لوړ غږ وخندل.
– همدا ... همدا مې خوښېږي. دا غوسه، دا اور، همدا ستا د ځواک نښې دي.
زقوم په کرار غږ وویل: مه غوسه کېږه، هغه همدا غواړي.

خپل غاښونه مې سره وچیچل. هغه منحوس د رښتیا همدا غوښتل. هر ځل چې غوسه کېدم، بدن مې بل ډول احساس کاوه. هغه تودوخه، هغه سوځېدل، هغه لعنتي درد ...

حاجي کرار، کرار یو ځل بیا زما شاوخوا په تاوېدو شو، د هغه چا په شان چې خپل په لومه کې نښتی ښکار شاوخوا ګرځي.

— پوهېږې طاها، کلونه د پیریانو پسې وګرځېدم، د هغوی قوانین، طاقت، کمزورۍ، هر څه مې وپلټل، خو یوه خبره مې ژر درک کړه. هغه دا چې خالص پیریان محدود دي. هغوی خپل قوانین لري، خپل حدونه لري او له هغه څخه نشي اوړېدلی، خو ته؟

لږ رانږدې شو.
— خو ته یو بل شی یې ... ستا وجود د دوو نړۍو ترمنځ یو پل دی او که زه ستا ځواک خپل کړم، نو بیا به داسې دروازې خلاصې کړم چې هېڅ انسان، هېڅ پیري تراوسه نه دي خلاصې کړې.

زقوم ناڅاپه په قهر چغه کړه: خبیث! ته به ټول تباه کړې!
حاجي په بې‌پروا نظر وروکتل.
— تباهي؟ هر لوی کار د تباهۍ څخه شروع کېږي.

د دې خبرې سره سم خپل جیب ته یې لاس کړ او یو شی یې راوویست. کله چې ښه مې ورته وکتل، نو زما ګوتمۍ وه. عجیب وه، خو زما ګوتمۍ د هغه لاس نه سوځاوه لکه څنګه چې د زبیر لاس یې سوځولی و.

ګوتمۍ یې زما مخې ته وخوځوله. فکر مې کاوه غواړي په دې کار ما غوسه کړي، خو هغه په یو ناڅاپه حرکت کې زما لاس ونیو او ګوتمۍ یې زما په ګوته کړه.

د ګوتمۍ په ګوته کولو سره احساس مې وکړ، ساه مې بنده شوه، بې‌اختیاره مې خپله سینه ونیوله. احساس مې کاوه د بدن ذره، ذره مې د یو ټریلر د ټایرونو لاندې راغلې او هډوکي مې مخ پر ماتېدو دي. دومره درد و چې چغه مې پورته شوه او ځان مې په ځمکه غونج کړ.

زما د درد څخه په ډکه چغه، زقوم سمدستي په ورخطا غږ کړل:
– طاها ...!

خو حاجي په خندا زما ترڅنګ کښېناست.
– احساس کوې، طاها ... دا درد ... دا ستا دننه هغه برخه راویښوي کومه چې زه یې غواړم.

درد شېبه په شېبه مخ پر زیاتېدو و. داسې احساس مې کاوه لکه دننه مې چې یو شی په حرکت کې وي او غواړي راووځي. رګونه مې تاو، تاو کېدل. د سترګو دید مې ځو ځله لاړ. غږونه مې صحیح نشو اورېدل. د زقوم د چغو او کنځلو غږ راته د لرې احساس کېده.

وجود مې د کنټرول څخه وتی و، چې ناڅاپه حاجي ګوتمۍ زما د لاس څخه وایسته. د ګوتمۍ د ویستلو سره سم مې غټ نفس واخیست او اکسیجن مې سږو ته کش کړ. ګوتمۍ دومره سره شوې وه چې د حاجي له لاسه لاندې وغورځېده.

حاجي په غوسه وویل: عه، لعنت دې وي آغاګله ...

د آغاګل د نوم له اخیستو سره سم هغه له یوه تور صندوق سره کوټې ته راننوت، داسې لکه له ډېر وخته چې دباندې په تمه ولاړ وي.

یو زوړ، تور صندوق و. آغاګل هغه د حاجي څنګ ته کېښود. صندوق داسې ښکارېده لکه کلونه، کلونه چې پټ ساتل شوی وي. حاجي د صندوق خلاصولو نه مخکې ګوتمۍ د خپلو کالو په څوکه کې ونیوله تر څو لاس یې ونه سوځي، بیا یې په خندا وویل: چا به فکر کاوه کوم شی چې ستا ملګري د ساتنې لپاره درکړی و، هماغه به دې یوه ورځ وژني، هوم طاها؟

زه دومره بې‌حاله وم چې هیڅ مې نشو ویلای. بدن مې حرکت نه کاوه، یوازې دوه سترګې مې د هغه خواته نیولې وې.

حاجي کرار د صندوق سر خلاص کړ، د سر په خلاصېدو سره د صندوق له دننه یو عجیب بوی پورته شو، د زړو بوټو، وینو او سوځېدلو شیانو ګډ بوی.

د زړه درزا مې دومره تېزه شوې وه چې ګومان مې کاوه کوټه کې موجود ټول کسان یې اوري.حاجي کرار په زنګنو کښېناست او له صندوقه یې یو څو عجیب شیان راوویستل، تورې دبرې، وچ شوي بوټي، د حیواناتو هډوکي او یو کوچنۍ د اوسپنې کاسه.

زقوم ناڅاپه په قفس کې وخوځېد.
– دا کار مه کوه، آخر تاسو انسانان د څه څخه جوړ شوی یاست چې پر خپل هم‌جنس هم رحم نه لرئ؟

د لومړي ځل لپاره مې د زقوم په غږ کې رښتینې اندېښنه واورېده.

حاجي ورباندې وخندل.
– ولې وېرېږې زقوم؟ هوم؟ ته خو ډارن نه وې.

زقوم غاښونه سره وچیچل.
– ته نه پوهېږې د څه شي سره لوبې کوې.

خو حاجي ورته پام ونه کړ، په کراره یې د کاسې دننه یو تور پوډر واچاوه، بیا یې د کوم حیوان وچ شوی هډوکی ورباندې کېښود. شېبه وروسته یې اور ورته نیږدې کړ.

لوګی پورته شو...
خو عادي لوګی نه و.

تور، غلیظ او داسې لکه ژوندی شی چې وي. مستقیم پورته نه تله، بلکې زما پر لور راخوځېده، سمدستي مې سینه درنه شوه، ساه اخیستل بیا راته سخت شول.
زقوم په توند غږ وویل: طاها! سترګې پټې کړه، لوګي ته مه ګوره!

خو ناوخته شوې وه، هغه لوګي داسې احساس راکاوه لکه سلګونه ستنې مې چې د پوستکي لاندې ننوځي. رګونه مې یو ځل بیا په تاو راتاو کېدو شول، خو دا ځل د هغه وار نه لا ډېر.

په درد مې چغه کړه:
- آخ!

حاجي په عجیب سکون زما مخې ته ناست و او د نامعلومې ژبې لفظونه یې ویل. لفظونه یې داسې وو لکه نیم سوځېدلي دعاګانې، نه پوره عربي، نه کومه بله ژبه. د هغه غږ کله ښکته او کله پورته کېده، خو هر ځل چې یې کوم لفظ ادا کاوه، زما درد زیاتېده.احساس مې کاوه وجود مې له دننه چاودېږي.

زقوم په قهر قفس وواهه.
– بس کړه حرمو* نه ویني درد لري؟ غواړې ویې وژنې؟!

حاجي په کراره وخندل.
– نه .. مرګ دومره آسانه نه دی، لا ډېر طاقت لري.

بیا یې ناڅاپه زما زنه ونیوله او سر یې راڅخه پورته کړ.
سترګې یې مستقیم زما سترګو ته ونیولې.
– غوسه شه طاها... راځه هماغه ځواک راویښ کړه، شابه بچیه...!

په غوسه مې د هغه لاس لرې کړ.
– ما ته لاس مه راوړه خنزیره!

خو همدغه غوسه بس وه چې سمدستي مې بدن اور واخلې. د بدن رګونه مې تور، تور رابرسېره شول. درد دومره زیات شو چې چیغه مې له خولې ووتله.
حاجي په خوشحالۍ وویل: همداسې... همداسې...

هغه کاسه یې زما سینې ته نیږدې راوړه.
ناځاپه داسې احساس مې وکړ لکه یو شئ چې د تور لوګي په شان زما له وجوده رااېستل کېږي. د هغه د وتلو سره کرار، کرار کمزوری کېدم او د سترګو دید مې له لاسه وته.

زقوم په وارخطایۍ چغه کړه:
— بس یې کړه! ته نشې کولای په یو ځل ټول د هغه له وجوده وباسې!
حاجي په خندا وویل: زه هم په یو ځل نه غواړم ټول وباسم... هر څومره چې د ده په بدن کې پاتې شي، هغومره ځواکمن کېږي.

د دې خبرې سره سم ناځاپه یې له هغه منحوس صندوقه یو نری، اوږد ستن راوویست.عادي ستن نه ښکارېده.تور رنګ یې درلود او سر یې بې‌حده نری او تېز و.

زقوم په غوسه وویل: غواړې څه غول وخورې؟!
حاجي په مرموزې موسکا وویل: یوازې یو کوچنی امتحان...

او مخکې له دې چې په ځان پوه شم، ستن یې مستقیم زما د سینې منځ کې راننویست.احساس مې وکړ لکه اور چې مې زړه سوری کړی وي.په دومره درد مې چغه کړه چې خپل د ستوني زخمي کېدل مې هم احساس کړل.

- آآآآآآخ!

بدن مې په لړزېدو شو، ساه مې بنده، بنده کېده، حاجي کرار ستن بېرته راوویست.د ستنې پر سر یوازې یو څاڅکی وینه وه،خو هماغه یو څاڅکی داسې ځلېده لکه دننه یې چې اور بل وي.د حاجي سترګې هم د هغه وینې له څاڅکي سره په ځلېدو شوې.
په تلوار یې هغه یو څاڅکی وینه په یوه ښیښه‌یي بوتل کې واچوله.ما نور د خپل بدن حس له لاسه ورکړی و.سترګې مې درنې شوې.غږونه رانه لرې شول، وروستی شی چې مې واورېد د حاجي غږ و:

@Shuhab09

— د نن لپاره بس دی، پرېږدئ پوره ارام وکړي او د بدن انرژي یې بېرته راوګرځي لا اوږده لار مخې ته لرو.
آغاګل سمدستي وویل: په سترګو مشره...

د دې خبرې سره سم هر څه مې د سترګو مخې ته تور شول او د ناخبرۍ نړۍ ته لاړم ...

کله چې راویښ شوم، نه پوهېدم څو ساعتونه تېر شوي وو. بدن مې داسې درد کاوه لکه هډوکي مې چې مات، مات وي. سینه مې سوځېده. په سختۍ مې سترګې خلاصې کړې. کوټه تیاره وه، یوازې د قفس خواته کمزورې رڼا ښکارېده.زقوم خاموش ناست و. زما راویښېدو ته چې یې پام شو، سمدستي ځان زما خواته راکش کړ.

— طاها...

غږ کې یې عجیب نرموالی و.
په سختۍ مې وویل: ژوندی یم که مړ؟
زما په دې خبره د هغه په شونډو موسکا خپره شوه.
— متأسفانه ژوندی یې.

بې‌اختیاره مې کمزورې خندا وکړه، خو درد مې سمدستي سر راپورته کړ.
زقوم څو شېبې خاموش راوکتل بیا یې کرار وویل: احمق، ما درته نه وو ویلي چې غوسه کېږه مه؟
- ځان مې کنټرول نشو کړای.
زقوم ژوره ساه واخیسته.
— پوهېږم.

د لومړي ځل لپاره یې په غږ کې نه ریشخند و، نه مسخره یوازې خواخوږي او همدردي.

کرار یې وویل: فکر نه کوم په دې یو ځل دې خوشې کړي. شاید څو ځله نور هم دا کار وکړي، نو کوښښ وکړه ځان کنټرول کړې. هر څومره چې غوسه شې، هغومره هغه ته ګټه او ځانته تاوان رسوې.

د زقوم په دې خبره مې زړه درووند شو.
- څو ځله؟ یعنې هر ځل باید همداسې درد وزغمم؟
— هوم.
په ناباوره غږ مې وویل: نــه... امکان نه لري. دا ځل تر مرګه لاړم، فکر نه کوم دویم ځل ته لا ورسېږم، څو ځله خو لا پرېږده.

زقوم بغیر له څه ویلو راوکتل، چې ما په هیله‌منه لهجه وویل: ما هغه ګوتمۍ په لاس کړې وه کومه چې شموئیل راکړې وه، نو امکان لري هغه ته خبر رسېدلی وي چې زه په ستونزه کې یم. که خبر شي، سل په سلو کې ډاډه یم چې ځان به زما مرستې ته راورسوي.

زقوم په هماغه درووند نظر راوکتل، بیا یې سر راسته او چپه خواته وخوځاوه او کرار یې وویل: ډېر مې زړه غوارې ستا خبره تایید کړم او خوشحاله دې کړم، خو متأسفانه فکر نه کوم داسې څه وشي.
- ولې؟ ایا ته هم فکر کوې چې د حاجي خبره رښتیا ده او شموئیل په خطر کې دی؟
زقوم سمدستي وویل: زه د هغه خبیث خبره هېڅکله نه تاییدوم، ځکه شموئیل دومره کمزوری نه دی چې د دوه مارد پیریانو لخوا راونیول شي.

- نو څه؟

زقوم د کوټې شاوخوا ته وکتل.
— طاها، درته مې ویلي وو کنه، دا ځای زموږ انرژي ګډوډوي. کله چې داسې شي، شموئیل زموږ شتون نشي احساسولای. یعنې که شموئیل اوس هم د دې دیوال شاته

@Shuhab09

ولاړ وي، بیا هم زموږ حضور دلته دننه نشي حس کولای، ځکه دا اوسپنې موږ قید کړي یو.

د هغه په دې خبره هغه لړه هیله مې هم مړه شوه. هماغسې څملاستم او نظر مې د کوټې چت ته ونیو. چت هم د اوسپنې څخه جوړ و.

- نو مطلب، موږ دلته مرو؟

زقوم کرار وویل: نــه، ته دوام راوړلای شې. تر هغه وخته شاید بله لاره پیدا شي، یا هغه ملګری دې... څه نومېږي... عزیزی، هغه مو پیدا کړي.

په پوسخند مې وویل: دومره باوري یې؟

زقوم دوه سترګې زما خواته ونیولې.
— ته ډېر صبر او طاقت لرې، طاها. تا چې څومره د دې ستونزو مخکې دوام راوړی، که ستا پر ځای زه وای، شاید لا پخوا مې خپل سر په دیوال وهلی وای او ځان مې وژلی وای.

بې‌اختیاره مې د سترګو له کونجه وروکتل. باور مې نه راتلو. هغه زقوم چې ما تل د کرکې، نفرت او چل سمبول ګاڼه، نن ما ته د یو خواخوږي ملګري په شان دلداري راکوله.رښتیا هم نړۍ د عجایبو څخه ډکه ده.

زقوم کرار وویل: موږ به له دې ځایه ژوندی وځو، طاها، ډېر فکرونه مه کوه.

- که له دې ځایه ووځو، بیا ته زما سره دښمن کېږې؟
زقوم په خندا خپل قفس ته تکیه ورکړه.
— زما او ستا حساب پر ځای دی، اوس ستا خبره د "دښمن دښمن دوست دی."
- اوممم... نو مطلب موږ اوس ملګري یو؟

@Shuhab09

— هو، البته د اوس لپاره، تر څو چې دا خبيث له مخې لرې کړو.
- دا هم ښه ده، البته زموږ دښمني بې‌معنا ده، ته داسې فکر نه کوې؟

— شايد تر يو حده، خو ته زما خبره نه منې، ځکه مې غوسه راځي. او هو، له ياده مه باسه، اوس چې پر دې حال يو، هغه هم ستا د لاسه يو. که تا هغه شپه زما خبره منلې وای، نو نن به دلته دواړه د حيواناتو په شان نه وای راګير شوي.

- واقعاً!؟ ته فکر کوې ته پر حق وې؟
— سل په سل، شک مه کوه.
سر مې د هغه خواته کوږ کړ او په پوسخند مې وويل: تا غوښتل زما جسم واخلې، ستا په نظر دا معامله وه؟
زقوم په پوسخند راوکتل:
—دا ستا دوه وچ کلک هډوکي خو مې څه خوړل نه! يوازې دا خبيث ته مې داسې درس ورکاوه چې عمر يې درلود نور يې زموږ د نرۍ خواته چپ نه وايې راکتلې.

- ښنګه درس دې ورکاوه؟ اوس يې نشې ورکولای؟
زقوم قفس ته اشاره وکړه.
— د دې ځايه درس ورکړم؟ زه دلته خپل درس وايم.

د هغه په دې خبره کرار مې وخندل.
- که ته زما وجود ته رانوتی وای، بيا زه پر ځان پوهېدم؟ مطلب تا زه کنټرولولم؟
زقوم سر وخوځاوه.
— نه، طاها. زه تا مکمل نشم کنټرولولای، يوازې دومره کولای شم لکه څومره چې ته د غوسې پر وخت خپل کنټرول له لاسه ورکوې.
- يعنې ما هر څه ليدلای شول؟
— هو.

- نو مړ شې زقوم! خو همدا خبره به دې راته کړې وای. تا داسې ویل "خپل جسم راکړه" چې ما فکر کاوه ته ما له سره حذف کوې او زما په بدن قبضه اچوې.

زما په دې خبره زقوم په خندا سر وخوځاوه.
– هې بدبخته! هې کله به ته د عقل خاوند شې؟ ما ویل ته ولې دومره په کلک مخالف یې، نو تا داسې جاهلانه فکر درلود؟ نچ نچ...

***

ورځې یو د بل پسې تېرېدې، که رښتیا ووایم نو راته معلوم نه وه چې څو ورځې تیر شوی، او اوس ورځ ده که شپه؟ نور مې فرق نشو کولای. دلته دننه وخت لکه درېدلې چې وی. نه د لمر رڼا وه، نه د باندې د ژوندی شئ کوم غږ .. یوازې درد، درد اوسپنه او د حاجي د قدمونو اواز. هغه اواز اوس هره ورځ رانږدې کېده، هر ځل به هماغه شکنجه تکرارېده.

تور لوګی...
ګوتمې...
او هغه لعنتي ستن...

هر ځل به حاجي زما له وجوده څه ایستل، هر ځل به زه دومره کمزوری کېدم چې فکر مې کاوه نور به راویښ نشم او دا به مې اخیره وي، خو عجیب دا وه چې بله ورځ به مې بیا ځان ژوندی احساساوه حتا... لږ ښه.

په لومړیو کې مې فکر کاوه دا وهم دی، خو نــه .. زما بدن د رښتیا هم بدلیده. نور مې د لومړۍ ورځ په شان درد نه احساس کاوه، ساه اخیستل مې هم دومره سخت نه و او تر ټولو عجیب دا چې ورځ تر بلې زه مخ په ښه کیدو وم، خو د حاجي حالت مخ پر خرابیده.

هغه چې به اول کوټې ته په ډاډ او غرور راننوت، اوس به يې ساه درنه وه.سترګې به يې سرې وې.مخ به يې زېړ ښکارېده.حتا څو ځل مې وليدل چې د کوټې دروازې ته به لږ شېبه ودرېد، داسې لکه ځان مجبوروي چې دننه راشي.په څلورمه يا پنځمه ورځ، کله چې کوټې ته راننوت نو سمدستي يې پر ديوال لاس کېښود.ساه يې صحيح نشو اخيستې.آغاګل په وارخطايي وويل: مشره ښه ياست؟

حاجي په تلوار لاس د ديوال واخيست او "هو" يې وويل، خو غږ يې د پخوا په شان قوي نه و.

زقوم دوه سترګې د حاجي خواته نيولې وه، تر دې چې حاجي خپل هغه منحوس کاسه او شيان راوخيستل او خپل د دې څو ورځو په کار بوخت شو، زقوم کرارزما خواته رانږدې شو.

– طاها...

د سترګو له کونج مې وروکتل او سر مې د "څه؟" په انداز وخوځاوه چې زقوم په مشکوک توګه خپل سترګې راتنګې کړې او ويې ويل: يو شئ ته دې پام دی؟

د هغه په شان په کراره مې وويل: څه شي ته؟
هغه د حاجي خواته اشاره وکړه.
– ورځ تر بلې کمزوری کېږي.
د هغه په دې خبره کرار مې د حاجي خواته وکتل، رښتيا يې ويل.حاجي چې به اول د ليوني په شان خندل، اوس به يې کله، کله د درد نه سترګې پټولې.حتا لاسونه يې هم لږ رپېدل.

زقوم په همغه مشکوک لهجه وويل: دا ځای اوس يوازې زموږ زندان نه دی!
زره مې درب وهل:
- څه مطلب؟

@Shuhab09

زقوم خپل سترګې تنګې کړې.
– هغه ستا انرژي اخلي او استعمالوي یې، نو مطلب د هغه په بدن کې د پېریانو ځواک راویښ شوی. هماغه ځواک چې ته یې کمزوری کولای اوس هغه د پښو اچوي. ځانته دې فکر نه دی؟ ته مخ پر ښه کېدو یې خو هغه دلته ورځ تر بلې نفس تنګیږي.

د زقوم په دې خبره بې‌اختیاره مې د حاجي خواته وکتل. لګیا و هغه منحوسه کاسه کې یې هغه عجیب غریب شیان اچول، مخ یې تک سور شوی و، ته وا ساه چې سم نشي اخیستلې، د تندي خولې یې پر مخ روانې وې. ناڅاپه سخت په ټوخېدو شو، د ټوخي سره یې لړه وینه پر لاس راغله.

آغاګل وارخطا ورمنډه کړه.
– مشره!
حاجي په غوسه شاته ټېله کړ.
– هېڅ نشته،لرې شه.

د هغه په دې کار ما او زقوم په حیرت یو بل ته وکتل.
د زقوم خبره صحیح وه، دا ځای اوس د حاجي لپاره هم زندان جوړ شوی و.
زقوم په کرار سر وخوځاوه او په پوسخند یې وویل:
– نو څکه داسې په تلوار دی.

نور څه مو ونه ویل. حاجي خپل د دې څو ورځو کار تکرار کړ. کله چې یې ستنه زما سینه کې ننباسله، یوازې د ستنې درد مې احساس کړ، نور مې کوم خاص درد د هغه اولې ورځې په شان احساس نه کړ. حاجي څو شیبې راوکتل، بیا له ځایه پاسېد.
آغاګل په حیرت وپوښتل: کار مو خلاص شو؟

حاجي په تلوار د کوټې د دروازې خواته روان شو او همغه حال کې وویل: فکر کوم نور څه یې بدن کې نشته، یو سبا هم امتحان کوو که ونشو کار خلاص دی، د نن لپاره په آرام یې پرېږدئ.

د هغه په تلو په ورخطا مې د زقوم خواته وکتل.
— وا دې وریدل؟

زقوم- اهوم، تا هم د هغه حال ولید؟
— زه د هغه حال څه وکړم؟ هغه یوازې دلته په تکلیف دی، بیرون شاید ډېر هم خوشحاله وي، خو سبا زموږ اخره ورځ ده. که کار یې زموږ سره خلاص شي، ژوندی مو نه پرېږدي.

— شاید، خو هغه یو شی نه دی درک کړی ...
- څه؟
زقوم مستقیم زما سترګو ته وکتل.
— ستا وجود عادت کېږي.

د زقوم دا خبره تر ډېر بریده صحیح وه. هغه درد چې زه یې اول د مرګ تر حده رسولم، اوس لا هم دردناک و، خو بدن مې زغملای شو. حاجي زما انرژي ایستله خو زما وجود هم کرار، کرار قوي کېده.لکه هر ځل شکنجه مې چې دننه کوم بل شی راویښوي.

زقوم کرار وویل: هغه فکر کوي ستا د ټول ځواک په ایستلو ته مړ کېږې، خو خبر نه دی چې ته انساني ځواک اخلې، انساني ځواک د پیریانو د ځواک نه ډېر قوي دی طاها ..

- نو اوس څه وکړو؟
— ځان مریض ونیسه، داسې چې هغه فکر وکړي د رښتیا پر مرګ یې.
- فکر کوم دروغو ته به ضرورت نه وي، زه په خپله د رښتیا هم پر مرګ یم. صحیح ده چې د پخوا په شان درد نه لرم خو بدن مې کمزوری شوی، دا څو ورځې کېږي صحیح ډوډۍ مې نه ده خوړلې او هره ورځ هم دومره غټه ستنه مې سینه کې ننوځي.

زقوم خوله خلاصه کړه چې کوم څه ووايي، خو ناڅاپه چوپ شو، بیا یې په تلوار وویل: څمله ... څمله .. ځان ناروغ ونیسه.

د هغه په هدف پوه نشوم، خو همغه کار مې وکړ. خپل یو لاس مې په سینه کېښود او ځان مې داسې راغونج کړ، ته وا د مرګ پر حال یم. سترګې مې هم وتړلې.
د باندې د قدمونو اواز راغی، بیا څو شېبې وروسته کرار د کوټې دروازه خلاصه شوه او آغاګل راننوت.

په لاس کې یې د اوسپنې یو لوی پتنوس و چې پکې خوراکي شیان وو. نه پوهېږم د حاجي څه شوق د لوبیا سره و چې دا څو ورځې هره ورځ او هره ورځ لوبیا ماته راستول. نور نو د لوبیا د رنګ نه مې لا بد راتلل.

آغاګل بې‌غږه هر څه پر ځمکه برابرول شروع کړل چې ما په کرار او مثلاً دردمند غږ ورته نارې کړل: آغاګل ...

د هغه لاس لږ ولړزېد، خو سر یې پورته نه کړ.

- آغاګل ... مرسته راسره وکړه، ته دومره ظالم نه یې .. پوهېږم د مجبورۍ څخه هغه ته کار کوې، زما وجود کې نور هیڅ نه دي پاتې، ته خپله هم پوهېږې ...
هغه چوپ ناست و، چې ما په سختۍ ساه واخیسته.
- ته بد انسان نه یې ... زه پوهېږم، نو مرسته راسره وکړه، خواهش کوم ..

د آغاګل سترګې راپورته شوې، زما خبرې ته یې په ځیر راوکتل. د هغه په سترګو کې واضح پښېماني وه، ویره هم وه. زما ګومان صحیح و، هغه د زړه څخه دا کار نه کاوه، مجبور و.

شوندې یې وخوځېدې، غوښتل یې څه ووايي، خو ناڅاپه د زقوم شیطاني خندا کوټه کې خپره شوه.

@Shuhab09

زقوم- عه آغاګل .. ته پوهېږې ستا مشر ولې دا هر څه کوي؟

آغاګل سمدستي زقوم ته وکتل. زقوم په هماغه وسوسه کوونکي انداز ځان د قفس خواته راکش کړ او ويې ويل: دا د څواک او نرۍ بدلول او نور اپلاتي ټول دروغ دي، هغه يوازې د يوې خبرې لپاره موږ دلته ساتلي يو، پوهېږې هغه څه دي؟

آغاګل په توجه د هغه خبرو ته غوږ نيولی و، چې زقوم په وسوسه کوونکي انداز وويل: موږ پيريان د خزانو په ځايونو پوهېږو او هغه دا معلومات غواړي ..

د آغاګل سترګې د زقوم په دې خبره پراخې شوې، البته آغاګل څه چې زما سترګې لا د حيرت نه پراخې شوې، دا د خزانو لفظ نو د کومه راغلو؟

زقوم په هماغه وسوسه کوونکي انداز دوام ورکړ: داسې خزانه، چې ټوله طلا ده، هغه هم خالصه طلا .. که ته زموږ سره مرسته وکړې، نو موږ به درته هغه ځای وښيو.
آغاګل بې‌اختياره يو قدم د زقوم د قفس خواته رانږدې شو.
– کوم .. کوم ځای کېدی؟

د زقوم په څېره کې د څو ورځو وروسته ما هغه پخوانۍ شيطاني موسکا وليده.

– لومړی درته يو نږدې ادرس درکوم تر څو زما په خبره باور وکړې، هلته لږ طلا ده خو کله چې دې هغه راوويسته او زما په خبره ډاډمن شوې، نو د هغې ډېرې طلا ځای درته ښايم. مرسته هم اوس مه کوه، لومړی لاړ شه هغه طلا واخله، د هغې وروسته مرسته وکړه.

آغاګل- چ ... چيرته دی؟
زقوم- د *** څنګ ته يو زوړ ودانۍ ده، هلته چې لاړې نو يوه ونه ده، د هغې ونې لاندې درې، څلور متره ځمکه که وکېنې نو طلا به ومومې.
د آغاګل ساه تېزه شوه.

— ته ... ته رښتیا وایې؟
زقوم خپل یو لاس پورته کړ.
— په شیطان مې دې قسم وي.

د زقوم په دې خبره زما سترګې د حیرت خلاصې پاتې شوې.
آغاګل څو شېبې غلی و، بیا یې په تلوار، تلوار شیان زما مخې ته کېښودل او دروازې خواته روان شو.

لکه چې واقعاً د طلاوو تصویر یې ذهن کې جوړ شوی و؟

دروازه بنده شوه، د هغه په تلو څو شېبې چوپتیا خوره شوه، چې زه په تلوار پخپل ځای کې کښېناستم او د زقوم خواته مې مخ ورواړاوه.

- ولې دې د دروغو ادرس ورکړ؟

زقوم څو ثانیې غلی پاتې شو، بیا ناڅاپه د لیونیانو په شان په خندا شو.
— بېعقله، ما دروغ نه دي ویلي.
- څه مطلب دروغ دې نه دي ویلي؟
زقوم په شیطنت وویل: طلا واقعاً هلته شته، خو د عزیزی طلا ده، هغه خپله طلا د کوم ادرس چې تاته یې درکړی و وویستله او هلته یې پټه کړه.

په حیرت مې وروکتل.
- ته څنګه په دی خبره پوه شوی؟
زقوم پخندا اوږه پورته واچول:
— ما خوشبیری ستاسو انسانانو په کارونو سر خلاص کړم.
- سمده، خو ولې دې د طلاوو آدرس اغاکل ته ورکړ؟

زقوم په پوسخند راوکتل:
— لا هم همغه بیعقل یې طاها ... هغه د عزیزی طلا ده پوهیږی څه مانا؟ هغه د

طلاوو په سر خپل په پلار لا رحم ونکړ او ورځخه غلا یې وکړل، نو ته فکر کوې اغاګل هغه ورځخه پېبولې شي؟ عزیزی هلته څلرویشت ساعته امنیت ایښی .. د اغاګل د قدم ایښودلو سره سم زه باوړه یم چې هغه راګیر کیږي ..

سترګې یې په عجیبه توګه وځلېدې.
— او که راګیر شو نو هغه عزیزی دې، ستا په شان بې‌عقله نه دی، زه سل په سل باوړه یم چې د آغاګل له خولې خبرې راویستلې شي، او که اغاګل په خبرو شو نو پوهیږې څه کیږي؟

زړه مې په تېز په درزېدو شو.
زقوم سر شاته تکیه کړ او د لیونیانو په شان یو ځل بیا په خندا شو.
— ګوره زه څومره هوښ او ذکاوت لرم، د دې معاملې هر طرف ته چې وګورې نو زموږ ګټه ده، یا نجات راځي یا هم طلا ... البته فکر نه کوم چې طلا یوازې راشي ..

بیا یې زما د حیرت څخه خلاصې خولې ته راوکتل او په سر یې د ډوډۍ خواته اشاره وکړل:
— ته دې اوس ښه سم صحیح ډوډۍ وخوره او انرژي دې راجمع کړه، سبا یو ډېره مهمه ورځ مخې ته لرو، زما ګرانه قرین ...

هغه څو ساعتونه په څه ډول پر ما تېر شول، یو خدای خبر دی. دومره مې فکر خراب و، دومره فکرونه مې ذهن کې ګرځېدل چې نږدې و لیوني شم، که د زقوم خبره صحیح ونه وځي؟ که آغاګل هلته لاړ نشي؟ که عزیزی هغه و نه نیسي؟ یا که یې ونیسي او هغه خبرې ورنکړي؟ او که خبرې وکړي خو ناوخته شي، بیا به څه کېږي؟

د لومړي ځل لپاره مې داسې احساس کاوه چې د مرستې لپاره، له خدای او خپل ځان پرته بل هېڅوک نه لرم. پخوا به مې زړه څه ناڅه باوړه و که ګیر شم شموئیل

شته، که ګیر شم عزیزي شته، یا ذوالفقار، زبیر حتا پر بوډا هم باړه وم، خو اوس... اوس راته هېڅوک د مرستې لپاره نه ښکارېدل.

نه پوهېږم څومره وخت به تېر شوی و، خو په دې منځ کې مې د دومره فکرونو وروسته یو انډې خوب هم کړی و. بیا مې د زقوم سره په څو ساعتونو کې یو بل پلان هم جوړ کړی و. که عزیزي راغلو څه وکړو؟ که رانغلو څه وکړو؟ او اخر دې پایلې ته رسېدلي وو چې د عزیزي راتګ به خپل دویم پلان په توګه کاروو، خو له هغه مخکې باید په خپله د ځان ژغورلو لپاره لاره پیدا کړو.

او مقصد واضح و، د حاجي نیول او له دې ځایه تښتېدل.

هر څومره چې د حاجي د راتګ وخت نږدې کېده، هغومره زما د زړه درزا او وارخطايي ډېرېده. تر دې چې د کوټې دروازه خلاصه شوه،سمدستي مې احساس کړل چې یو څه فرق لري؟! د آغاګل د قدمونو اواز نه و، یوازې د یوه کس درنې ساه‌ګانې کوټه کې انګازې کولې.

کرار مې سترګې راپورته کړې.حاجي و ...
خو دا ځل یې حالت د پخوا په شان نه و. مخ یې د پرون څخه لا ډېر زېړ ښکارېده، د سترګو لاندې تورې حلقې جوړې شوې وې او ساه یې داسې اخیسته لکه ډېر اوږد مزل یې چې کړی وي. سترګې یې سمدستي د کوټې شاوخوا وګرځولې.

– آغاګل؟
تندی یې تروش شو.
بیا یې لږ په لوړ غږ ناري کړل:
– آغاګل!

د هغه په دې غږ، د کوټې د باندې د پښو اواز شو او ډېر ژر هماغه کس چې زه او جنرال یې هغه شپه نیولي وو، کوټې ته رانوت او په کراره یې وویل: هغه لږ مریض و مشره، کور ته لاړ. کوم کار لرئ، مهرباني زه یې ترسره کوم.

د هغه په دې خبره ما او زقوم یو د بل خواته وکتل او د دوارو پر شونډو موسکا راغله، خو ژر مو ځانونه راټول کړل.

حاجي څو شیبې هغه کس ته وکتل، بیا یې پر لاس د کوټې څخه د وتلو اشاره وکړه.
– نه، لاړ شه کوم کار نشته.

د هغه په تلو، حاجي په چټکو ګامونو زما خواته راغی. ما هم د زقوم په خبره ځان د مرګ پر حال اچولی و. حاجي په غوسه د هغه منحوس صندوق خوله خلاصه کړه او هماغه حال کې یې د شونډو لاندې آغاګل ته کنځل شروع کړل.

– احمق انسان، دا وخت د تلو و؟ هغه هم داسې بېخبره؟
د هغه د غږ نه معلومېده چې لږ وارخطا دی.
زقوم کرار خپل قفس ته تکیه ورکړه او په پوسخند یې وویل: شاید د طلاوو په شمېرلو بوخت وي؟
حاجي سمدستي زقوم ته مخ راوګرځاوه.
– څه دې وویل؟

زقوم په بېغمه خندا اوره پورته کړه.
– هېڅ نه، ما ویل شاید عاجل مریض به و؟

حاجي څو ثانیې په مشکوک انداز د زقوم خواته وکتل، بیا یې په سختۍ ساه واخیسته او زما خواته راوګرځېد.
– مهمه نه ده، زه یوازې هم ستاسو چاره کولای شم.
زقوم په هماغه پوسخند سر وخوځاوه.
– اهوم ... امتحان یې ضرر نه لري...

ما خپلې سترګې ترلې وې تر څو حاجي ډاډمن شي چې د رښتیا نور توان بدن کې نه لرم او د مرګ پر حال یم، تر څو ښه رانږدې شي. زما د غاړې ځنځیر ماته د ډېر حرکت اجازه نه راکوله.

د څو شېبو وروسته خپل څنګ کې مې د حاجي شتون احساس کړ، او د هغه سره سم د غاړې ځنځیر مې کش شو چې زقوم په کرار غږ وویل: اوس...

د زقوم په دې خبره سترګې مې خلاصې کړې، ټول زور مې لاسونو کې راجمع کړ او مخکې له دې چې حاجي پوه شي چې څه روان دي، ناڅاپه مې خپل ټول بدن مخکې وغورځاوه.

زنځیرونه په زور وشرنګېدل، حاجي د حیرت په پراخو سترګو راوکتل، خو مخکې له دې چې کوم کار وکړي، ما ورباندې ځان واچوه او دواړه پر ځمکه وغورځېدو.
د حاجي له خولې غوسه ناکه چیغه ووتله:
– حرمـ...

خو ما وار ورنکړ چې خبره بشپړه کړي. د ستوني څخه مې راونیو او یو کلک بوکس مې پر خوله ورکړ چې د وینې بوی شاوخوا خپور شو.حاجي په قهر زما په سینه ګوزار وکړ. درد مې تر هډوکو ورسېد، خو ونه لوېدم.
زقوم په قفس کې، په داسې غږ چې کوښښ یې کاوه بهر لاړ نشي، وویل: خوله یې... خوله یې وتړه، ژر کوه!

او د دې خبرې سره سم، هغه ټوکر چې د ده پر قفس اچول شوی و او دا څو ورځې زه پرې ویده کېدم، زما لاس ته راکړ.

ما هم په داسې تلوار چې خپله هم حیران شوم، د حاجي خوله کلکه ورباندې وتړله. حاجي لا هم لاس او پښې وهلې، خو نه د پخوا په شان زور یې درلود او نه هم غږ و یستلې شو ...
زقوم داسې حال کې چې د قفس څخه یې خپل دواړه لاسونه راویستلي وو او د حاجي ویښتان او ستونی یې نیولی و، ماته په تلوار وویل: جیبونه یې وګوره! کلیانې یې هلته دي.

حاجي چې دا واورېدل، سترګې یې له وحشته پراخې شوې او سمدستي یې خپل لاس جیب ته یوور، خو ناوخته وه. ما یې لاس کلک ونیو چې هغه خوله ترلې په غوسه د نامعلومې ژبې یو څو لفظونه نیم، نیم ګنګوسه کړل. ناڅاپه مې بدن کې هغه سوځېدونکی درد احساس کړ. زقوم چې زما حالت ته فکر شو، د حاجي ستونی یې لا پسې کلک ونیو چې د هغه خبرې بندې شي. د هغه په بندېدو ساه مې راووتله، دومره هغو الفاظو وحشتناک درد سینه کې راپورته کړی و چې په ټول زور مې خپل سر د هغه پر تندي وواهه.

- حرمو* جادوګره ..

د حاجي سر شاته پر ځمکه ولګېد او لږ ګنګس شو. ما هم د هغه د دې حالت ګټه پورته کړه، لاس مې د هغه جیب ته دننه کړ او هر څه چې یې جیب کې وو راومې ویستل. ډېر شیان یې جیب کې وو، د هغه منځ کې د اوسپنې د کلیانو یو دسته وه چې هغه مې راوخیسته او نور ټول شیان مې خپل جیب ته کړل.
زقوم په هیجان غږ وویل: وګوره ... وګوره، دا تور لاستی کیلي زما د قفس د قلف ده .. همدا .. همدا یې راوباسه!

کومه کیلي چې زقوم یاده کړې وه، هغه مې په تلوار راوویستله، چې حاجي په وحشت سر وخوځاوه او خوله ترلې یې یو څه وویل، خو ما یوازې د "مممم! مممم!" غږ اورېده.

کیلي مې په لړزېدونکو لاسونو د قفس قلف ته واچوله. د دوه درې ځله اخوا دېخوا کولو وروسته قلف خلاص شو.
د قلف په خلاصېدو سره زقوم په تلوار ورځخه راووت. پر شونډو یې داسې شیطاني موسکا خپره وه چې زما د بدن ویښتیان یې لا د وېرې څخه نیغ ودرول.
څو شېبې یې یوازې حاجي ته وکتل، بیا ناڅاپه ورمخکې شو او په همغه شیطاني لهجه یې وویل: بلاخره ته زما لاس ته راغلې خبیث ..

د دې خبرې سره سم، سوک يې مستقيم د حاجي پر مخ وواهه.
دومره په کلک يې وواهه چې د حاجي سر د قفس پر اوسپنه ولګېد او مات شو، خو زقوم ونه دریږد. حاجي يې د قفس دننه خواته کش کړ او هلته يې د ليوني په شان يو پر بل پسې د لغتو او سوکانو لاندې ونيو.
لکه دا د څو ورځو قهر، سپکاوی او بند کې پاتې کيدل يې ټول په هماغه سوکانو باندی تشاوه.
د هر سوک او لغت سره يې ورته ويل: دا زما د قفس حساب ...دا ماته د چل راکولو حساب .. دا پر ما د ريشخند وهلو حساب ...

زقوم لګيا و خپل حسابونه يې ورسره کول، خو زما يوه سترګه د دروازې خواته وه او پر بل مې ژر، ژر کيلیانې بدلولې. د دوه درې کيليو اخوا دېخوا کولو وروسته بريالی شوم خپل د غاړې ځنځير خلاص کړم.

په خلاصېدو يې بې‌اختياره مې ژوره ساه واخيسته، خو ژر مې ځان راټول کړ او د زقوم خواته، چې حاجي يې د قفس کونج ته کړی و او هېڅ رحم يې ورباندې نه کاوه روان شوم. په تلوار مې له اوږې ونيو.

- بس دی، مړ دی کړو.

زقوم په سختو ساه‌ګانو شاته شو، سترګې يې لا هم د قهر څخه سرې وې.
— مړ دې شي، ته يې د ژوند په غم کې يې؟
- معلومداره ده چې نه يم، خو وخت نه لرو، هره شېبه امکان لري کسان يې راشي.

زما په دې خبره زقوم ودرېد او شاوخوا يې وکتل، لکه تازه چې زمونږ موقعيت ته يې پام شوی وي. مخکې شو هماغه ځنځير چې زه ورباندې تړل شوی وم هغه يې راوخيست او د حاجي د غاړې نه يې کلک د قفس سره وتاړه. بيا يې د قفس دروازه قلف کړه او په شيطاني موسکا يې وويل: اوس نو خپل د جوړ کړي قفس څخه خوند واخله، رزيله.

حاجي د بې‌هوښۍ په حال کې و. د خولې او پوزې څخه یې وینه رابهېده او یوازې یې راته کتل، خو کتل یې داسې وو لکه په سترګو کې چې وایي: ګیر مو کړم، وژنم مو ..

نظر مې د هغه له سترګو واخیست او د زقوم خواته، چې لا هم په خوند، خوند د حاجي خواته کتل، مخ ورواړاوه.
- اوس څه وکړو؟

زقوم څو شېبې د قفس دننه حاجي ته وکتل. سترګو کې هغه پخوانۍ ریشخند بېرته راګرځېدلی و.

– نچ نچ مشره .. اوس څنګه احساس لرې؟ زندان ښه شی دی کنه؟

حاجي په هغه زخمي او تقریباً بې‌هوښه حالت کې په قهر قفس وښوراوه، خو زور یې د پخوا څخه ډېر کم و.

ما ژوره ساه واخیسته او د دیوال سره تکیه شوم. بدن مې لا هم درد کاوه، خو د څو ورځو وروسته دا لومړی ځل و چې د زندان احساس لږ کم شوی و.
زقوم ناڅاپه زما خواته راوکتل.
– راځه، وخت کم دی.

- خو لاره؟ مونږ خو نه پوهېږو چې څنګه ووځو؟ دباندې یو فوج د حاجي د کسانو ولاړ دی.

زقوم په غرور موسک شو.
– زه په لاره پوهېږم.

په حیرت مې وروکتل.
- څنګه؟

زقوم د کوټې په اوسپنیز دیوال لاس کېښود.
— لکه چې له یاده دې ووتل؟ د دې ځای نیمه اوسپنه ما راوړې. هغه وخت مې فکر نه کاوه چې یوه ورځ به زه پخپله په دې ځای کې بندي کېږم .. په هر حال د دې ځای نقشه راته معلومه ده.

امید مې لږ راژوندی شوه.
- نو وتلی شو؟

زقوم سر وخوځاوه.
— که ژر حرکت وکړو او څوک خبر نه شې نو هو.
بیا یې ناڅاپه په دروند نظر راوکتل.
— خو طاها .. کله چې له دې ځایه ووځو، نو باید سمدستي یو ځای شو او ته خپل جسم ماته راکړې.

تندی مې تروش شو.
- ولې؟ مه وایه چې بیا کوم د دښمنۍ نقشه راته لرې؟ لا وتلي نه یو ګوره؟!

زقوم په غوسه راوکتل:
— چټیات مه وایه احمقه! ته نه ګورې؟ (د حاجي خواته یې اشاره وکړه) دا خبیث ستا ځواک اخیستی، مطلب که له دې ځایه راووځو دواړه باید ځانونه مړه حساب کړو. موږ دې(د حاجي خواته یې اشاره وکړه) یوازې دلته کنټرول کولای شو، ځکه ځواک یې زموږ په برابر دی، خو له دې ځایه بیرون دې پر موږ غښتلی دی، اوس وخت یوازې یو کس کولای شي چې دې کنټرول کړي ..

بېاختیاره مې وویل: شموئیل ..
زقوم- هو.
لږ رانږدې شو.

— او شموئیل ته د رسېدو لپاره موږ دواړه باید یوځای شو. ته یوازې اوس ډېر کمزوری یې، زه هم خپل پوره قوت نه لرم.

څو ثانیې دواړه چوپ شوو. د زقوم خبرې منطقي وې. د لومړي ځل لپاره مې احساس کاوه چې د هغه دې وړاندیز کې هېڅ کوم چل او فریب نشته، نو ځکه کرار مې وویل: سمه ده، خو لومړی باید له دې ځایه ووځو.
زقوم په موسکا سر وخوځاوه.
— آفرین، همداسې هوښیار انسان شه او زما خبره منه.

بیا زما د ځواب په تمه نه شو، مخکې روان شو. زه هم کرار ورپسې شوم. زقوم په احتیاط د کوټې دروازه خلاصه کړه او دباندې یې وکتل. کله چې ډاډه شو شاوخوا څوک نشته، لومړی خپله ووت او بیا یې ماته د وتلو اشاره وکړه.
ورپسې شوم.دباندې یو اوږد دهلېز و چې تک توره شپه پکې خوره وه. ما فکر نه کاوه دا ځای به دومره لوی وي، خو دا یوازې یوه کوټه نه وه، ډېرې نورې کوټې هم وې. د یو ربښتیني زندان په شان جوړ شوی و. نقشه یې د هغه زندان په شان وه کوم کې چې عزیزی بندي و او زه د جنرال او بوډا سره ملاقات ته ورغلی وم.

زقوم کرار وویل:عجیب ده! ما چې څومره اوسپنه راوړې وه، پر هغې یوه کوټه لا پوره نه جوړېده. لکه چې حاجي د نورو پیریانو سره هم د دې اوسپنې پر سر معامله کړې؟

- څه مطلب؟ یعنې ته په کامله نقشه نه یې خبر؟

زقوم- دومره وېرېږه مه، د وتلو لاره راته معلومه ده، خو نور شیان دلته احساس کوم او دا هیڅ ښه نه دي.

د هغه د "نور شیانو" په لفظ بې‌اختیاره مې بدن د وېرې څخه ولړزېد.
- څ ... څه مطلب نور شیان؟

خو زقوم بغير له ځواب راکولو مخکې روان شو، زه هم جوخت ورپسې شوم.
دهلېز اوږد، تیاره او یخ و. یوازې پر چت راځړېدلو ګروپونو کمزورې ژیړه رڼا کوله، چې هغه هم کله، کله رپېده یا به کامله مړه شوه او بیا به بېرته بله شوه.
زموږ د قدمونو اواز لږ، لږ په دهلېز کې انګازې کولې. البته زما د قدمونو آواز ځکه، پر پښو مې د شپږ ورځو راهیسې بوټان وو.
زقوم د تلو په حال کې ودرېد او کرار یې وویل: دا منحوس بوټان دې وباسه.

- سمه ده ..

په تلوار ښکته شوم تر څو خپل د پښو بوټان وباسم. زقوم هم همغه حال کې شاوخوا چاپېریال ته غوږ نیولی و.بوټان مې لاس کې راوخیستل. له دې ځایه د وتلو وروسته شاید په کار مې راغلي وای، البته زړه مې ونشو چې دلته یې پرېږدم، دا بوټان راته اقرا اخیستي وو.

زقوم بیا روان شو، خو هر څو ګامه اخیستلو وروسته به ودرېد، شاوخوا ته به یې غوږ نیوه، بیا به یې د بلې لارې اشاره کوله.
په کرار مې وپوښتل: ولې دومره احتیاط کوې؟

زقوم بغیر له دې چې شاته راوګوري وویل: ومې ویل دلته نور شیان هم شته او هغه شیانو کې د یو شیطان پیری بوی هم دی، که د رښتیا هغه دلته وي نو که راویښ شو زموږ د دواړو پوستکي به په ژوندوني وباسي.

د هغه په دې خبره د زړه درزا مې تېزه شوه.
- شیطان پیری؟ یعنې دلته ن ... نور پیریان هم شته؟
زقوم- اهوم.
- حاجي ته کار کوي؟
زقوم- فکر نه کوم، داسې ښکاري لکه دلته چې بندی دي؟
په حیرت مې وویل: بندی؟

د زقوم د ځواب راکولو مخکې، له یوې کوټې څخه چې زموږ څنګ ته وه، یو عجیب غږ راغی.
سمدستي ودرېدم.
- دا ... دا څه و؟
زقوم هم ودرېد، څو ثانیې یې غوږ ونیو، بیا یې په ټیټ غږ وویل: مه ګوره ورته، یوازې روان شه.

خو ناوخته و ما بې‌اختیاره د هغه دروازې خواته وکتل، د کوم خوا څخه چې دا غږ راغي او ساه مې بنده شوه.

د کوټې دننه تک توره شپه وه، خو هماغه تیاره کې یو سیوری ناست و. نور نه ښکارېدې چې څه دی، یوازې دوه سرې د اور په شان سترګې ښکارېدې چې ځلیدې. دوه سترګې یې زما خواته نیولې وې.

عجیبه دا وه چې زه ورڅخه ونه ډار شوم، برعکس ... د هغه سترګو کې عجیب درد او وېره وه، داسې لکه مرسته چې غواړي.
بې‌اختیاره یو ګام ورنږدې شوم، خو زقوم سمدستي زما لاس ونیو.
— څه کوې؟

نه پوهېږم پیری و، شیطان و انس و که جن. هر څه چې و د هغه خواته مې اشاره وکړه.
- هغه ... زقوم، فکر کوم هغه مرستې ته اړتیا لري؟
زقوم په غوسه ځان خواته کش کړم:
— مه درېږه طاها ... دلته راغلی هر موجود مرستې ته اړتیا لري. هغه خبیث یوازې موږ نه یو نیولي، ډېر نور پیریان یې هم نیولي دي. که غواړې د رښتیا مرسته وکړې، نو باید ځان تر شموئیل ورسوو.

د دې خبرې سره سم یې زه د ځان پسې تقریباً په کش کولو روان کړم.
چې شاته مې د ټک، ټک او کمزوری غږ واورېد، لکه هغه شی چې راپسې ناړې وهلې؟!

زقوم په غوسه زما لاس کلک ونیو او د شونډو لاندې یې وویل:راځو ... لعنتي صبر ولره، راځو .. مرسته دې راځو ..

نور څه مې ونه ویل او په تلوار مخکې روان شوم. هر قدم سره مې داسې احساس کاوه لکه څوک مو چې څاري، لکه د تیارو نه چې سترګې راته ګوري.
ناڅاپه زقوم لاس پورته کړ.
– ودرېږه.

سمدستي ودرېدم، د دهلیز په پای کې د قدمونو غږ راغی.

ټک...
ټک...

زړه مې ودرېد،یو کس د دهلیز له سره راښکاره شو. د حاجي نفر و، خو لا یې موږ نه وو لیدلي.
زقوم په کرار غږ وویل: که جنګ وکړو، یو خوا وخت ضایع کېږي، له بلخوا دومره ځواک هم نه لرو .. نو منډه کړه!

د هغه په دې خبره ناڅاپه دواړه په منډه شوو.

– هی! څوک یې؟!
د هغه سړي چغه شاته خپره شوه، خو موږ ونه درېدو.
هغه هم د خطر احساس وکړ او په تلوار یې خپل توفنچه راوویسته.
ډز شو، مرمۍ د دیوال سره ولګېده او شرنګ یې دهلیز کې خپور شو. ما په سختۍ ځان تاو کړ. زقوم مخکې روان و.

– مه درېږه طاها!

زړه مې دومره په زور درزېده چې ساه مې بندېده.
د دهلېز پای ته چې ورسېدو، يوه غټه اوسپنيزه دروازه مو مخې ته وه. زقوم سمدستي زما له لاسه کليانې واخيستې، او عجيبه دا وه چې په هغه توره تياره کې يې لومړی کيلي سمه پيدا کړه.قلف خلاص شو دروازه شاته لاړل، يخه هوا سمدستي دننه راغله او پر مخ مې ولګېده.

دا ځاې داسې ښکارېدې لکه کوم زوړ فلزي کانټېنر چې وو.شپه تياره وه.همدا چې پښه مو دباندې کېښوده، هغه کس هم زموږ شاته راورسېد، خو عجيبه دا وه چې زموږ پسې رانغی. برعکس، هماغلته ودرېد او په وېرېدلو سترګو يې شاته يو قدم واخيست.

د هغه دې کار ته مې په حيرت وکتل، چې زقوم په پوسخند وويل: موږ آزاد يو طاها ... دا انسان هوښيار دی. پوهېږي چې د هغه منحوسې اوسپنې دېخوا د ده د نيکه زور هم پر موږ نه رسېږي.

د زقوم په دې خبره زما سترګې د حيرت څخه لا پراخې شوې، چې زقوم دروازه وتړله او کرار يې وويل: البته د ده د مشر زور دلته نو ښه پر موږ رسيږی نو تښته .. د دې څخه مخکې چې په هوښ راشې او خپل ملګري راوغواړي ..

- څه وکړم؟
زقوم خپل لاس زما خواته ونيو، د هغه لاس ته مې څو شېبې وکتل او بيا بغير له دې چې ډېر فکر وکړم، د هغه لاس مې ونيو چې ناڅاپه ...

داسې احساس مې وکړ لکه اور چې مې د رګونو دننه خپور شوي،بدن مې په زور ولړزېد، سترګې مې بې‌اختياره وتړلې او د غوږونو دننه مې د سلګونو چيغو آوازونه خپره شول، داسې لکه لسګونه آوازونه چې يو ځای خبرې کوي.

@Shuhab09

زقوم په سخت غږ وویل: مقاومت مه کوه احمقه! پرېږده جریان پیدا کړي!

غوښتل مې لاس مې ورڅخه راکش کړم، خو ناوخته وه.
د زقوم د لاس څخه توره، د لوګي په شان سایه راپورته شوه او زما د لاس له لارې بدن ته ننوتله.

سینه مې داسې سوځېده لکه دننه چې یې اور بل دې.

- آآآخ!

پر زنګنو ولوېدم. ساه مې بنده شوه داسې احساس مې کاوه لکه رګونو کې مې د وینو لځایه اور روان دې او هډوکي مې له دننه ماتېږي.
خو څو شېبې وروسته هغه درد کرار، کرار کم شو،کمزوري مې لږه کمه شوه. د بدن رپېدنه مې ودرېده.او هغه انرژي او ځواک چې حاجي زما څخه اخیستی و، داسې احساس مې کاوه لکه بېرته چې بدن ته مې راګرځیدلې وی.

زقوم لا هم زما لاس نیولی و، خو وجود یې کرار، کرار د تور لوګي په شان کېده او کرار،کرار له منځه تلو چې ما په وحشت ورباندی غږ کړل:
- زقوم ...

هغه په موسکا وویل: مه وېرېږه، ومې ویل کنه باید یو ځای شو.

غوښتل مې نور څه ووایم، خو مخکې له دې چې خوله خلاصه کړم، د هغه ټول وجود په تور لوګي بدل شو او مستقیم زما د سینې منځ ته ننوت.

ناڅاپه مې بدن شاته کش شو.

- آآآآخ!

سترګې مې په زور وتړلې، د څو ثانیو لپاره مې بیا همغه وحشتناک درد احساس کړ، خو عجیب وه د هغه څنګ کې داسې احساس مې کاوه لکه بدن کې مې بل څوک هم وي!

څو شیبې وروسته مې کرار سترګې خلاصې کړې.شاوخوا لا هم تیاره وه، خو دا ځل هر څه بدل ښکارېدل.غږونه مې تر پخوا ډېر واضح اورېدل.د لرې څخه د موټرو د ټایرونو غږ، د خلکو د قدمونو شور، حتا د باد حرکت مې هم واضح احساسوو.
بې‌اختیاره مې خپل لاس ته وکتل،د لاس پر رګونو مې نرۍ توري کرښې راښکاره شوې،خو ډېر ژر ورکې شوې.

د ذهن دننه مې د زقوم غږ واورېد:
— عجیب ده ... داسې ښکاري چې لا هم یو څه ځواک دې په بدن کې پاتې دی.

سمدستي ودرېدم.
- زقوم؟!
— چغې مه وهه، ستا وجود کې یم. غږ دې همداسې هم اورم.
د هغه په دې خبره تندی مې تروش شو.
- بل ځای درته پیدا نه شو؟ وځه زما له سره.
زقوم کرار وخندل.
— اوس نو ناوخته ده، تر شموئیل پورې به یو ځای ګرځو.

غوښتل مې څه ورته ووایم چې ناڅاپه یو ځل بیا مې د موټرو د انجن غږونه واورېدل، خو دا ځل ډېر نږدې وو.

زقوم سمدستي جدي شو.
— لکه چې ستا عزیزی راغی؟

د زړه درزا مې تېزه شوه.
د څو شیبو وروسته مې د لرې څخه د موټرو څراغونه ولیدل چې په چټکۍ زموږ

خواته رانږدې کېدل.

بې‌اختیاره مې وویل: باور مې نه کېږي ... لکه چې دویم پلان مو هم کار وکړ؟ عزیزي د آغاګل څخه د دې ځای ادرس اخیستی. ښه ده کنه؟!
زقوم په غوسه وویل: نه احمقه، موږ اوس باید ځان تر شموئیل ورسو. د عزیزي راتګ هغه وخت ښه و چې موږ وژغوري، نه اوس چې موږ د وخت لا وتلي یو. او له بلخوا اوس خبره یوازې زموږ نه ده هلته دننه نور کسان هم بندي دي، که حاجي په هوښ راشي او دباندې راووزي، نو پوهېږې څه مصیبت به جوړ شي؟

د هغه خبره سمه وه،ما شاته هغه فلزي دروازې خواته وکتل.د څو ثانیو لپاره مې ذهن کې د حاجي سرې سترګې چې د انتقام اخیستلو څخه ځلیدل او هغه منحوس قفس ذهن ته راغلو که راووځي ...د زړه درزا مې لا تېزه شوه.

- اوس څه وکړو؟!
څو شېبې چوپتیا شوه،بیا مې د ذهن دننه د زقوم کرار غږ واورېد:
— ځان مه خوځوه، یوازې زما خبره واوره.

سمدستي مې احساس کړل چې بدن مې بې‌اختیاره دروند شو،د پښو لاندې مې تور لوګی راپورته شو.شاوخوا هوا غلیظه شوه، داسې لکه تیاره چې ژوندۍ شي.د موټرو څراغونه نور هم رانږدې کېدل.د څو ثانیو لپاره مې احساس کړل چې بدن مې له ځمکې جلا کېږي.د غوږونو دننه مې ټول غږونه ورک شول. یوازې د باد یو اوږد شور پاتې شو.

او بیا ...

وجود مې د تور سیوري په شان کرار، کرار د شپې په تیاره کې ورک شو،لکه هېڅکله چې هلته موجود نه وم.نه پوهېږم څومره وخت تېر شو.

څو ثانې؟
که څو دقیقې؟

خو ناڅاپه مې احساس کړل چې د پښو لاندې مې ځمکه بدله شوه،پښې مې پر یخو ډبرو ولګېدې. سمدستي مې سترګې خلاصې کړې، چې د مخامخ صحنې په لیدو نفس مې سینه کې قید شو.

دا ځای .... دا ځای د ځمکې هېڅ ځای ته ورته نه و.
څو شېبې مخکې آسمان تک تور و، خو اوس آسمان ژور شین رنګ درلود، داسې لکه د زمردو رڼا چې پکې ګډه شوې وي.د لرې څخه سپین لوګي هوا ته پورته کېدې او ټول چاپېریال ته یې یو عجیب، مرموز آرامښت ورکړی و.هوا نه یخه وه، نه ګرمه ... خو هره ساه چې مې اخیسته، داسې احساس مې کاوه لکه بدن ته مې نوې انرژي داخلیږي.

په حیرت مې شاوخوا وکتل،د هوا منځ کې دوه غټې، غټې تیرې ولاړې وې.
نه لوېدې، نه خوځېدلې، داسې لکه هوا کې چې بندې شوې وي.لاندې تر کومه چې سترګو کار کاوه، شنو ځنګلونو ته ورته سیمې ښکارېدې، خو ونې یې عجیبه وې.د پاڼو څخه یې نرۍ شنه رڼا راپورته کېده داسې لکه د ستورو ورې ټوټې چې ورباندې نښتې وي.

د لرې څخه د اوبو د بهېدو غږ هم راتلو.خو عجیبه دا وه چې شنه رڼا هم ورڅخه راپورته کېده.
په حیرت مې کرار وویل: دا ... دا نو کوم ځای دی؟

د ذهن دننه مې د زقوم غږ په کراره راووت:
– د عفریتو قلمرو، د شموئیل پادشاهي ته ښه راغلې.

په حیرت مې شاوخوا ته یو ځل بیا وکتل.

امکان نه لری یعنې دا اوس د پیریانو نړۍ ده؟ ولې دومره ښکلې ده؟ د لرې څخه د شنو رڼاګانو انعکاس پر اسمان خپور و، او هغه غټې تیږې یې چې د هوا منځ کې ولاړې وې، کله، کله به وربانديې نرۍ نښې وځلیدې، داسې لکه ژوندۍ چې وي.

کرار مې وویل: رښتیا وایې؟ دا د شموئیل د قبیلې ځای دی؟ ... څومره عجیب آرامښت لري!

— تا تر اوسه نه و لیدلې؟
- نه.
زقوم کرار وخندل:
— نو ښه ده، بلاخره یو چا ته خو مې خیر ورسید او د پیریانو نړۍ مې ورته وښوده. هو، دا د شموئیل د قبیلې ځای دی. او ځکه داسې آرامښت دی ځکه ستا ملګری بیحد سخت مزاج اړ با نظم دی هیڅ ډول بې نظمي نه من، هر څه کنټرولوي.

- ټول پیریان داسې ژوند کوي؟
— نه.
د زقوم غږ لږ جدي شو.
— د پیریانو نړۍ هم د انسانانو په شان ده. جګړې شته، قبیلې شته، خبیثان شته... خو د شموئیل سیمه بېله ده.
په غږ کې یې عجیب احترام و. دا لومړۍ ځل و چې ما د زقوم له خولې د یو چا لپاره داسې لهجه اوریده.

- ته ورڅخه ویرېږې؟

زقوم څو شیبې خاموش شو.
— که ووایم نه، نو دروغ به وی خو دا خبری مې د وېرې څخه ونکړل، هغه د رښتیا هم یو ښه مشر دی البته خپل د خلکو او قبیلي لپاره.

غوښتل مې بل څه ورځخه وپوښتم، خو ناځاپه مې پام بل لور ته شو،د لرې څخه څو موجودات روان وو. وو.سمدستي ودرېدم. هغوی د انسان په شان وو، خو بشپړ انسانان نه.قدونه یې تر عادي انسانانو اوږده وو، جامې یې د تور او شین رنګ ترمنځ ځلېدې او د سترګو شاوخوا یې نری ـ شنې نښې وې.هغوی زموږ خواته نه کتل.کرار، منظم او خاموش روان وو.

په حیرت مې وویل: دا... پیریان دي؟
زقوم- اهوم.
- خو د انسانانو غوندې ښکاري؟
زقوم په ریشخند وویل: ته فکر کوې پیریان ښکرونه او لکۍ لري؟
په تلوار مې وویل: نه... خو شموئیل کله ناکله ویل چې د پیریانو شکلونه مختلف وي... نو ما فکر کاوه شاید دا نور هم بېل وي.

زقوم څه ونه ویل.
ما هم بیرته هغه کسانو ته سترګې ونیول چې ناڅاپه یو ماشوم زموږ له مخې تېر شو،ظاهراً د لسو یا یوولسو کالو ښکارېده.په لاس کې یې یو کوچنی شین رنګ شئ نیولی و او د بل ماشوم پسې منډه وهله. ساه مې بنده شوه. د پیری چوچي ..

زقوم په غوسه وویل: مرګ ... مرګ د پیری چوچی، هغه یو ماشوم دی، ستاسو انسانانو په شان یوازی خلقت یې فرق کوی هغه پیری دی تاسو انسان، بل ځل ورته د پیری چوچي ونه وایې ..

د هغه په دې تونده لهجه چوپ شوم،خو ذهن مې ګډوډ شو.هغه تصویر چې ما د پیریانو لپاره خپل ذهن کې جوړ کړی و، کرار، کرار ماتېده.

ما فکر کوو هغوی به په سر باندی ښکرونه لری، د بزی په شان به پښې لری او مردار ځیری به یې وی، خو دا ځای دا خلک ډېر ښکلې وه، ناځاپه د لرې څخه یو دروند غږ راغی. سر مې چې پورته کړ نو زموږ څخه ډېر لری یو غټ مانۍ ته ورته ودانۍ

ولاړه وه.ټوله د تورو ډېرو څخه جوړه شوی وه، خو شنه رڼا يې شاوخوا ځلېدل. د ماڼۍ پر سر، يو لوی څلور کونج ډبره د نښان په شان معلوميدل.

سترګې مې لږ تنګې کړې. دا نښان بيحد زما د ګوتمۍ غمی ته ورته و، همغه چې شموئيل راکړی وه.

زقوم کرار وويل: هغه ځای ته مه ګوره.

- ولې؟

— هغه د شموئيل ماڼې ده، که اوس زمونږ شتون احساس کړي او دلته راشې نو ما به ټوټې کړي.

په حيرت مې وويل: ولې؟ موږ خو د هغه د ليدو لپاره راغلي يو، نو بيا ته ولې وايې چې اوس ځان پټ کړو؟ ته نه غواړې هغه ووينې؟

زقوم- غوارم چې ويې وينم، خو اوس نه ..

-ولې؟

زقوم- لومړی خو ځکه چې ته انسان يې او دا د پيريانو نړۍ ده. شموئيل ما ته سپارښتنه کړې وه چې تا د پيريانو څخه ليرې وساتم، خو ما د ليرې ساتلو پر ځای بيخي د هغوی نړۍ ته رانبلسلې که خبر شي ژوندی مې نه پرېږدي.

لږ چوپ شو، بيا يې په کراره وويل: او دويم دليل ... ته يو ځل خپل شاوخوا وګوره. دا دوه غټې ډبرې د پيريانو نړۍ کې يوازې په دوو حالتو کې هوا ته پورته کيږي.

د هغه په دې خبره نظر مې بې اختياره د هغو دوو لويو ډبرو خواته واوښت چې د اسمان منځ کې ځوړندې وې او شنه ځلا ترې خپرېده.

زقوم- لومړی د جګړې پر وخت، کله چې قبيله په خطر کې وي، نو دا ډبرې پورته کيږي او سره ځلېږي، تر څو ټول پيريان پوه شي چې خطر راغلی او دويم... د خوشحالۍ پر وخت. خو هره خوشحالي نه. د عفريتو په قبيلو کې يوازې د مشر د

کورنۍ د غرو د واده پر وخت ټوله سیمه داسې سینګارېږي او دا ډبرې هوا ته پورته کېږي او شنه ځلا ترې خپرېږي.

د هغه خبره لا نه وه ختمه شوې چې ما بې‌اختیاره وویل: عبدالرحمان ...
زقوم ورو وویل:هو... ګومان کوم د هغه د واده مراسم دي. دا شنې ځلاوې، دا تور او شین لباسونه، د مابۍ رڼاګانې دا ټول د واده د مراسمو نښې دي.

څو شېبې چوپ پاتې شوم،عجیبه احساس مې درلود.زه د مرګ له خولې په تېښته دلته راغلی وم، حاجي ژوندی و او زما د مړ کولو په تمه و، خو دلته... دلته د وېرې او جګړې پر ځای د جشن فضا خوره وه.د لرې څخه د شنو رڼاګانو انعکاس پر اسمان خپور و، د اوبو غړ راتلو، پیریان کرار، کرار روان وو، او د هوا منځ کې ځورېندې ډبرې داسې ښکارېدې لکه ټول اسمان چې د یو لوی محفل لپاره تیار شوی وي.

بې‌اختیاره مې کرار وویل: یعنې.. شموئیل ته زما نادرکه کېدل هېڅ ارزښت نه درلود؟

د ذهن دننه مې د زقوم غږ پورته شو:
— خبره د ارزښت نه ده بیعقل! ته فکر کوې ستا داسې ناڅاپه تښتول، د هغه مارد پیري راتلل او د حاجي سره معامله کول بې‌دلیله وو؟

چوپ شوم، چې زقوم ادامه ورکړه: هغوی قصداً ته نادرکه کړې، تر څو شموئیل مجبور کړي چې د انسانانو نړۍ ته ستا پسې راشي. مقصد یې دا و چې د هغه قبیله د هغه پر ضد راوپاروي. ته خپل ښه پوهېږې چې د هغوي په دی صلح او واده کې لومړۍ قانون دا و ټاکل شو چې هیڅ پیری نور حق نه لري د انسانانو په نړۍ کې ښکاره مداخله وکړي یا کوم انسان ته نږدې شي، هغوی غوښتل ستا څخه د یو لومې په توګه کار واخلي او شموئیل راګیر کړي ..

لږ تم شو، بیا یې په پوسخند وویل: خو شموئیل دومره هم بې‌عقله نه دی. هغه د دوی په چل پوه شوی. نو د دې پر ځای چې ستا پسې راشي او ځان کمزوری وښایي

دلته یې واده نیولی.

د زقوم خبرې مې ذهن کې وګرځېدې، تر یو حد یې خبرې منطقي وه، شموئیل د تلو مخکې راته ویلې وه چې دښمنان یې همداسې یو پلان لری تر څو زما په واسطه هغه په قبیله کې د هغه د خلکو وړاندی مجرم ثابت کړی.

زقوم- خو شک نه لرم، کوم پیریان چې هغه زندان کې بندیان وه، ډېری یې د شموئیل کسان دي. شاید خپل ستا پسې نه وی راغلې خو خپل کسان یې د انسانانو نړۍ ته ستا د پیدا کولو پسې راستولې وه.

د زقوم په دې خبره لږ ارام ساه مې واخیسته، یعنې بشپړ بې‌پروا هم نه و او زه یې په یاد کې وم؟! دا هم د امید ځای دی.

زقوم ناڅاپه جدي شو:
— خو دا واده په دې وخت کې هېڅ ښه نه دې.
- ولې؟
زقوم- څکه موږ اوس نه د انسانانو نړۍ ته بېرته تللی شو او نه هم د شموئیل خواته تللې شو، نن دلته یوازې د شموئیل د قبیلې خلک نه دي راغلي، بلکې د هغه دښمنان هم شته. د عفریتو مشران، مارد پیریان، شیطانان ټول راغلې نو دې وخت کې ...
د هغه په غږ کې لومړی ځل ما رښتینې اندېښنه محسوسه کړه.

— که زموږ بوی احساس کړي، امکان لري همدا تور بیا د شموئیل پر غاړه واچوي او یو لوی جنګ جوړ کړی.

په غوسه مې وویل: مننه، ډېر ښه خبرونه راکوې.
زقوم په ریشخند وویل: حقیقت تر دروغو ښه وي،موږ باید د هر حالت لپاره تیار واوسو.

غوښتل مې ځواب ورکړم چې ناڅاپه د لرې څخه یو درونډ غږ پورته شو، غږ دومره درونډ و چې ځمکه لږ ولړزېده.سمدستي مې سر پورته کړ.د شموئیل د ماڼۍ له پاسه سرې رڼاګانې اسمان خواته پورته شوې، داسې لکه د اور باران چې وی، او د همغه رڼاګانو په منځ کې یو غټ موجود د هوا له منځه تېر شو.ساه مې سینه کې بنده شوه.

هغه د انسان په شکل و .. خو تر عادي انسان څو چنده لوې، اوږد او غټ وو ..
تورې جامې یې اغوستې وې چې د هوا سره رپېدې، خو تر ټولو حیرانونکی شی یې وزرې وې.دوه غټې تورې وزرې درلود کله چې یې وزرې ووهلې، د هوا منځ کې شنه دوره پورته شول او لاندې د پیریان شور ماشور جوړ شو ... که څه هم موږ ورڅخه لرې و خو د همدی ځایه مې لا د هغه درونډ حضور احساس کولای شو یو ډول منفي انرژی خپرول.

په حیرت مې وویل: دا... دا نو څوک دی؟
زقوم په ورخطا غږ وویل: امکان نه لری ... دا دلته څه غواړی؟
- ته یې پیژني؟

— هو ... خو شتون یې دلته نشم درک کولاي.
- واده دې شاید دې هم دعوت وی! ته ولې دومره ورخطا شوی؟
زقوم په همغه اندیښمن لهجه وویل: صحیح دې چې د کلونو وروسته لومړۍ ځل دې چې یو عفریت او مارد پیری واده کوی، خو بیا هم د ده شتون هیڅ د خیر نښه نه ده.

- یعنې دا شموئیل نه دې راغوښتي؟
— نه، فکر نه کوم چې هغه راغوښتي وي، شموئیل چندان ښه ارتباط د دې پیریانو سره نه لرې.
- نو ولې راغلي؟

— نه پوهیږم، یا خپل راغلې یا مارد پیریانو راغوښتي، خو په دواړه صورت کې شتون هېڅ ښه نه دې.

زما ذهن کې لا هم د هغه د وزرو وهلو تصویر و، کرار مې وویل: و دې لید؟ وزرې یې درلودي.
زقوم- اهوم ... دا د شیطان پیریانو له بدترینو ډلو څخه دي. تر اووم آسمانه په دې وزرو پورته کېږي او د ملایکو خبرو ته غوږ نیسي.

په حیرت مې وویل: د دوی په اړه مې اورېدلي، مه وایه چې دا همغه پیری دی کوم چې ملایکې په شهاب ثاقب ولي؟

— مسترق السمع.
- څه؟
— د دې پیریانو ډلې ته "مسترق السمع" وایې یعنې په غلا غوږ نیونکي، دا یوازینۍ ډله پیریان دي چې د منع کېدو باوجود اوس هم پورته ځي او د آسمانونو خبرونه راټولوي. خو ملایکي چې کله ورته پام شې نو په شهاب ثاقب یې ولي، زیاتر مړه کیږي خو ځینې ژوندی راوځي او بیا خپل اوریدلي خبرونه، لاندی ځمکه کې جادوګرانو او فالګیرانو ته راوړي.

د زقوم په دې خبره لړ و ډار شوم.
- دا خو د جنګ لپاره نه دې راغلې کنه؟

— نه ګومان نه کوم چې دومره بیعقل اوسیږي چې د دوه، درې کسانو سره د عفریت قلمرو ته د راننوتلو جرئت وکړي، ستا د ملګري د خسر قبیله، مارد پیریان دي هغه کې ډیری یې شیطانان او کافران دي امکان لرې د هغوی مېلمانه اوسیږي!

په حیرت مې وویل: حیران یم عبدالرحمان څنګه دې واده ته زړه ښه کړی؟ او د هغه څخه لا ډېر حیرت په دې خبره راځي چې شموئیل څنګه خپل کور ته خپل ټول دښمنان راغوښتي او آرام ناست دی؟!

زقوم كرار وخندل.

– مجبورۍ ډېره بده وی طاها... شموئیل ته عبدالرحمان یوازې ورور نه دی. هغه ورته د خپل اولاد په شان دی، د کلونو وروسته یې یو ناز ورباندې کړی.

په غوسه مې وویل: ورک دې شي دا ناز! سړی باید خپل شاوخوا هم وګوري. ته څنګه خپل د وینو تږي دښمنان د یوې مینې لپاره خپل کور ته راپرېږدې؟ دومره عقل نه لرې؟

زقوم څو ثانیې چوپ شو بیا یې وویل: یوه خبره درته کوم خو زموږ ترمنځ به راز پاتې کېږي. ځکه موږ شیطانان حق نه لرو دا خبرې انسانانو ته وکړو.

- څه خبره؟

زقوم- موږ شیطانان د انسان د وسوسه کولو لپاره هره لاره کاروو. قدرت... غوسه... شهوت... غرور... هر څه،خو کله چې دا یوه لاره هم کار ونکړی بیا نو زموږ وروستۍ او خطرناکه لاره ورته ښځه وي.

په حیرت مې وویل: ښځه؟

زقوم- اهوم... ښځه،دا زموږ تر ټولو خطرناک جال دی او ډېر کم کسان ورڅخه روغ وتلې شي، زیاتر په دې لومه کې راګیر کیږې،عبدالرحمان هم همدلته راګیر شو البته د عبدالرحمان څخه مخکې دوی دا جال د شموئیل لپاره غوړولی و.

په حیرت مې وویل: شموئیل لپاره؟!

زقوم کرار وخندل.

– هو... خو باید ومنم شموئیل د عبدالرحمان څخه ډېر هوښیار و، په دې جال کې راګیر نشو شاید یو دلیل یې دا و چې هغه له وخت زړه بایللې و پر یو چــــا ...

زقوم دا خبره په شیطنت وکړل چې ما په غوسه وویل: بنده کړه منحوس خوله دی.

زقوم پخندا وویل: باور وکړه طاها یو آرمان مې دا دې چې ستا مور وګورم، چې اخر دا څه رقم وه چې شموئیل ورباندی مئین شوی؟!

- په خبره نه يې .. وايم بنده کړه خوله دی ..
— عه .. سمده ولې دومره غوسه کيږې؟ يوازې خپل يو آرمان مې درته وويلو نچ نچ ..

د هغه دی خبرو بيحد غوسه کړم، که څه هم نه مې هېڅکله هغه ليدلې وه او نه هم په اړه يې ډېر پوهيدم خو له دې چې، زقوم يې په اړه داسې خبرې کول زور يې راکوو.

زه لا هم زقوم ته غوسه وم، چې ناڅاپه د مخ څخه مو څو ډله پيريان چې ټولو يې يو ډول تور جامې اغوستې وه، په ځغاستو د شموئيل د ماښې خواته روان شول، د هغوي په دی تلوار تللو زقوم کرار وويل: دا ساتونکي پيريان دی، داسې په تلوار تلل يې هېڅ د خير نښه نه ده.

- راځه موږ هم لاړ شو.
— چېرته؟!
د ماښې خواته مې اشاره وکړه:
- لاړشو وګورو چې څه خبره ده او دا پيريان ولې دومره په تلوار دي؟
زقوم په قهر وويل: ليونی شوی يې؟ ته انسان يې احمقه! دا ستاسو د انسانانو نړۍ نه ده چې سر ښکته واچوې او هر ځای ننوځې. دلته عفريت، مارد، شيطانان او سل نور ډوله موجودات اوسيږي. که ستا بوی احساس کړي، ژوندی دې ټوټه، ټوټه کوي.

- نو څه وکړو؟ شاته خو هم تللی نه شو. زما خبره ومنه اوس چې تر دې ځايه راغلې يو نو مخکې به لاړ شو، او ګومان نه کوم چې په دې شرايطو کې د هغوی فکر زموږ خواته شي.

د دې خبرې سره سم مخکې روان شوم،زقوم څو ځل کوښښ وکړ چې ما ودروي، خو ما خپل تصميم نيولی و. يا به نن هر څه ختمېدل .. يا به زه ختمېدم. نور هره ورځ تېښته، جګړې او ويره مې له وسه وتلې وه.

زقوم په غوسه وویل: نن هېڅ ښه ورځ نه ده چې ته غیرتي شې! راځه بېرته لاړ شو. اصلاً راځه د انسانانو نړۍ ته ولاړ شو، عزیزی ته به هر څه ووایو او غوښتنه به ورڅخه وکړو چې هغه خبیث حاجي همغه زندان کې بندې وساتي تر څو شموئیل بیکاره کېږي ..

په کلک لهجه مې وویل: بیځایه ځان مه ستړی کوه زقوم، ته خپل ښه پوهیږی چې حاجي به وخت د زندان څخه راوتي وی او خدای خبر عزیزی به پر څه حال وی؟ زموږ یوازینی چاره هلته ده ..

د شموئیل د ماڼۍ خواته مې اشاره وکړه.

- یا به دا ستونزه د یو ځل لپاره د ریښې څخه حل کوم... یا به خپل فاتحه وایم. خو نور دا هره ورځ جګړې او پټېدل نه شم زغملای.

زقوم څو ثانیې چوپ شو،د ذهن دننه مې د هغه ژوره ساه واورېده.
— لعنت دې وي طاها... ته کله کله د یو عفریت او شیطان څخه لا زیات سختسری کېږي ..

نور یې څه ونه ویل او راسره روان شو، د شموئیل د ماڼۍ مخې ته یو غټ میدان و. د هوا منځ کې شنې رڼاګانې تاوېدې، داسې لکه د اوبو نړۍ څپې چې په اسمان کې خپرې شوې وي. اوږدې تورې پردې د ماڼۍ له برجونو راځړېدلې وې او د میدان په منځ کې د شنو اورونو غټې ستنې بلې وې چې لمبې یې پورته کېدې خو عجیبه دا وه چې تودوخه یې نه لرله.هوا د خوشبویۍ او لوګي ګډ بوی درلود.

په سلګونو پیریان هلته موجود وو.
عفریت...
مارد...
شیطانان...
او داسې موجودات چې ما یې حتا شکل هم نه شو تشخیص کولای.

ځینې د انسانانو په شان وو، خو سترګې یې غیرطبیعي رنګ درلود.
ځینو یې بیا کوچني سره ښکرونه پر سر درلودل.
ځینو یې بیا د ځمکې څخه څو سانتي پورته روان وو.
او د څو موجوداتو تر شا نری، وزرې ښکارېدې چې د شنو رڼاګانو انعکاس وربانديې لګېده.

خو بیا هم، د هغه تور وزري موجود په شان هیڅوک نه وو.د هغه وزرې بل ډول وې. د باز د وزرو په شان غټې، خو تکې تورې.داسې تورې چې رڼا یې هم خوړله. ما لا هم د هغه حضور احساساوه.د میدان ټول شور عجیبه کم و.
نه موسیقي وه ... نه خندا ...نه د واده عادي خوشحالي.
یوازې درنه خاموشي خوره وه،ټول د مانۍ خواته کتل.

زقوم کرار وویل: فکر کوم یوه ستونزه پیدا شوې، ځکه دا ټول دومره چوپ دي.
غوښتل مې ځواب ورکړم، خو هغه بیا وویل: پیریان ډېر شوقي موجودات دي. خاصتاً د واده پر وخت. دلته باید ترنم، موسیقي او شور وای خو دا خاموشي ښه نښه نه ده.

زړه مې لږ ناارامه شو، خو بیا هم مخ ته روان شوم، د هیچا د مخ خواته مې نه کتل، که کتلې مې وایې شاید د حیرت یا وېرې څخه مې چغه وهلې ویې او ځای پر ځای راګیر شوی وایې، څو قدمه مخکې لا تللي نه و چې ناڅاپه زما څنګ ته ولاړ یو غټ وجود وښورېد.سمدستي ودرېدم.هغه پیری تقریباً دوه متره قد درلود،پښې یې بیخي پر ځمکه نه لګېدې، پورته په هوا کې ولاړ و او مخ یې داسې اوږد و لکه نیم انسان نیم حیوان.

ناڅاپه یې خپله پوزه هوا ته پورته کړه. یو...دوه ځل...لکه د بوی اخیستلو هڅه چې کوي. بیا یې سر زما خواته راوګرځاوه.زړه مې سینه کې ودرېد.د هغه شنې سترګې مستقیم پر ما ودریدې.همغه شیبه مې د ذهن دننه د زقوم غوسه ناک غږ واورېد:

– بدبخت شو طاها... هغه ستا بوی احساس کړ.

لا مې صحیح درک نه وه کړې چې څه وايي، چې د هغه پیرې د سترګو رنګ بدل شو. شنه ځلا يې کرار،کرار سره شوه. او بیا يې د حیرت څخه په ډک غږ چې زیاتر د یو حیوان د ستمي په شان و وویل: انسان...

غږ يې لوړ نه و، خو په دې خاموش میدان کې همدا یوه کلمه کافي وه.په یوه شېبه کې لسګونه سترګې زما خواته راوګرځېدې. بیا سلګونه. د میدان فضا ناڅاپه بدله شوه.د "انسان" لفظ د هوا ترمنځ داسې خپور شو لکه چا چې د اور لمبه په وچو واښو باندی غورځولې وي.

– انسان؟
– دلته؟!
– امکان نه لري!
– د انسان بوی دی!
– څوک دی؟!

د هغوي په خبرو د زړه درزا مې دومره پورته شول چې فکر مې کاوه ټول يې اوري،بې‌اختیاره مې یو ګام شاته واخیست.
زقوم سمدستي په غوسه وویل: مه خوځېږه! اوس چې دومره دلاور شوی وې نو ټینګ شه ورته.

که رښتیا ووایم، پښېمانه شوی وم.ما فکر نه کاوه دومره ژر به ونیول شم. البته ګومان مې هم نه کوو چې دومره بد غبرګون به دوي وښايي، زه په دی امید چې دا د شموئیل ځای دی داسي دلاور راغلې وم.

ټول میدان ماته کتل،ځینو سترګو کې حیرانتیا وه.ځینو کې کرکه.او د ځینو نورو په نظر کې داسې لوړه وه چې بدن مې یخ شو.ناڅاپه د میدان د بل سر څخه یو دروند غږ پورته شو:

— انسان؟!
غږ دومره دروند و چې حتا د شنو اورونو لمبې لړ ولړزېدې.
— چا جرئت وکړ د انسان منحوس نوم دلته واخلي؟!
زقوم سمدستي وویل: دا مارد دی...

د هغه د خبرې سره سم ټول پیریان یو طرف ته شول،لکه اوبه چې د یوې کښتۍ په راتګ لاره خلاصوی او دوه خواوو ته څیری کېږی .. زه د میدان په منځ کې یوازې ولاړ وم، نه پوهیدم چې کومې خواته لاړ شم؟ د ماڼۍ د دروازې له خوا یو لوړ قدی سړی را روان و.اوږده توره چپنه یې اغوستې وه.د غاړې شاوخوا یې سره نښې بلېدې، لومړۍ نظر کې داسې ښکاریدل لکه ټېټو چې د غاړی شاوخوا وی خو نه، هغه د ده د بدن یوه برخه وه .. سترګې یې د قهر او شیطنت څخه ځلیدې.

د هغه د هر قدم نږدې راتلو سره ما احساس کاه چې ساه اخیستل راته سخت کېږي. شاوخوا ځینو پیریانو ورته سرونه ټیټ کړل.

زقوم په کرار غږ وویل: لعنت دې وي... همدا هغه مارد پیری دی چې ما یې د حاجي په زندان کې حضور احساس کړی و. ګومان کوم د مارد قبیلې مشر همدا دی.

- او... اوس څه وکړو؟
د څو ثانیو چوپتیا وروسته زقوم کرار وویل: دعا وکړه... که شموئیل رانشي، همدلته به ټوټې شې.

د زقوم په دې خبره وېره مې لا پسي زیاته شوه،مارد یو بل قدم رانږدې شو.
د هغه د وجود څخه داسې منفي انرژي خپرېده چې احساس مې کاوه د ژمي په زړه کې لوخ لپړ په یخ کې ولاړ یم دومره د شاوخوا هوا مې ناڅاپه یخه شوه. زما و مخ ته و درید سترګې یې مستقیم زما سترګو ته راواچول خو ما ورڅخه نظر واخیست، سترګو ته کتل یې زما وجود کمزوری کو.

– انسان نجس دی...

غږ یې د میدان په دیوالونو ولګېد.

– زموږ مقدسو مراسمو ته یې د ننوتلو جرئت څنګه وکړ؟!

د دې خبرې سره سم د میدان شاوخوا کې غوسه ناک غږونه پورته شول.

– انسان!

– ووژنئ یې!

– دلته څنګه راغلی؟!

– دا بدشګون دی!

– وینه یې توی کړئ!

د هغوی په خبرو بې‌اختیاره مې خپل د خولې لاړې تېرې کړې.زړه مې دومره په زور درزېده چې ساه اخیستل راته سخت شوي وو. د تېښتې لپاره مې شاوخوا وکتل... خو هره خوا پیریان ولاړ وو. سلګونه سترګې ... سلګونه عجیب وجودونه...داسې احساس مې کاوه لکه د سلګونو لېوانو منځ کې چې یو کمزوری بزه راګیر شوی وی.

د ذهن دننه مې د زقوم اندیښمن غږ پورته شو:

– طاها... که حالت خراب شو، بدن راته پرېږده.

په حیرت مې وویل: څه؟!

– همدا اوس! که مجبور شوو، زه به کنټرول واخلم تر یوازې دی ورلې شم.

غوښتل مې مخالفت وکړم، چې ناڅاپه د میدان ټوله فضا ولړزېده.

د ماڼۍ له پاسه شنې رڼاګانې په زور وځلېدې.د هوا منځ کې تاوېدونکې لمبې ناڅاپه دوو خواوو ته خپرې شوې.او هماغه شېبه ټول پیریان خاموش شول. حتا هغه مارد پیری هم ودرېد. هوا درنه شوه.بیا د شنو لمبو له منځه یو کس کرار،کرار راښکاره شو. ساه مې سینه کې بنده شوه.

شموئیل ...

اوږده توره چپنه يې اغوستې وه، د اوږو دوارو خواته يې شنې نښې ځليدې،د سر د پاسه يې يو عجيب تاج و چې شنه او تور انعکاس ترې خپرېده، عجيب وه بيحد غټ ښکاريدی! يعنې لکه څنګه چې ما ليدلې و اوس هغسې نه و بدن يې بيحد غښتلې معلوميدی،حتا قواره يې هم لږ فرق کړې وه، خو سترګې ... سترګي همغه وي. ارامې، درنې او د سکون څخه ډکي ..داسې لکه دا ټول ميدان، دا ټول موجودات او دا ټول خطرونه چې ورته هيڅ اهميت ونه لري.

د هغه په راتلو د ميدان ګڼ پيريان بې‌اختياره لږ شاته شول.
نه پوهېږم د احترام څخه يا که د وېرې؟

شموئيل لومړی شاوخوا په ميدان کې موجود ټول پيريانو باندی نظر وګرځو بيا يې سترګې پر ما ودريدې. د څو ثانيو لپاره، ټول ماحول خاموش پاتې شو. واضح مې وليدل چې د هغه د سترګو ارامي بدله شوه. لومړی حيرانتيا... بيا بې‌باوري...او وروسته داسې خوشحالي چې ما هېڅکله د هغه په څېره کې نه وه ليدلې.

— ماشومه... ته دلته؟

د شموئيل په غږ زړه مې عجيب آرام شو. د دومره وحشتناکو موجوداتو ترمنځ، يوازينی کس چې پوهېدم زيان نه را رسوي، شموئيل و.بې‌اختياره يو ګام ورنږدې شوم.

- شموئيل ..

خو د دويم ګام د اخيستلو مخکې د هغه څنګ ته ولاړو ساتونکو خپلې نيزې زما خواته ونيولې. د نيزو سرونه شنه ځلېدل. په حيرت بيرته شاته شوم، چې شموئيل سمدستي خپل لاس پورته کړ او پخپله زما خواته راروان شو، داسې زما خواته کتل لکه لا يې هم باور نه وي شوی.

په کرار غږ يې ووېل: چېرته وې دومره وخت؟

@Shuhab09

د هغه په غږ کې اندېښنه له ورایه ښکارېده. غوښتل مې ځواب ورکړم، خو ناڅاپه هغه مارد پیری رامخکې شو او په خباثت یې وویل: انسان... ته د یو انسان لپاره د واده مراسم ګډوډوې؟

د هغه د خبرې سره د میدان فضا یو ځل بیا درنه شوه. شموئیل کرار زما مخې ته ودرېد. د هغه حرکت په ظاهر عادي ښکارېده، خو مانا یې واضحه وه. هغه زه د ځان تر شا پټ کړم.

مارد پیري په قهر وویل: دا زموږ ترړون نه و! تا پخپله ویلي و چې نور حق نه لرو د انسانانو نړۍ ته لاړ شو، خو اوس دې یو انسان زموږ نړۍ ته راوستی!

شموئیل کرار مخکې لاړ، سترګې یې مستقیم د هغه مارد پر مخ ټینګې کړې:
— قانون؟ ترړون؟
بیا یې شاوخوا ټولو پیریانو ته وکتل او غږ یې ناڅاپه دروند شو:
— ته ماته زما د نړۍ قانون راښیې؟

په میدان کې بلې لمبې په زور وخوځېدې،شموئیل یو بل ګام مخکې واخیست:
— دا زما نړۍ... زما قلمرو او زما قوانین دي او ته پکې د خبرو حق نه لرې.

د شموئیل د غږ سره د میدان ځمکه لږه ولړزېده، ګڼ شمېر پیریان بې‌اختیاره شاته شول. د ذهن دننه مې د زقوم کرار خندا واورېده:
— ستا د ملګري دا لیونۍ ځېره مې خوښېږي ..

د زقوم خبره لا نه وه ختمه شوې چې ناڅاپه، د ماڼۍ د دننه څخه یو دروند، یخ غږ پورته شو:

— نو ځکه دې قبیله ورځ تر بلې کمزورې کېږي، شموئیل ..

ټول ودرېدل. ما هم د غږ خواته وکتل او ساه مې بنده شوه.
همغه و... هماغه تور وزری موجود. خو اوس چې مې له نږدې ولید، تر پخوا څو چنده ډارونکی و. هغه د انسان په شان شکل درلود، خو وجود یې غیرطبیعي و. د سر له دوارو خواوو یې غټ تاو ښکرونه راوتلي وو. سترګې یې داسې ښکارېدې لکه د اور لمبې چې پکې بلې وي. او د خولې شاوخوا یې تور درزونه درلودل، داسې لکه مخ یې چې سوځېدلی وي.

د هغه د راڅرګندېدو سره د میدان فضا بشپړه بدله شوه. څو شېبې مخکې چې کوم کسان د شموئیل د وېرې له امله شاته تللي وو، اوس یو څه مخکې راغلل. عجیبه وه، خو یوازې هغه پیریان مخکې راغلل چې په سرونو یې ښکرونه وو. شموئیل مې ولید چې تېز نظر یې شاوخوا وګرځاوه او د هغه مارد پیري څخه لرې لیرې شو.

زقوم کرار وویل: عجیب ده! دا پیریان ولې د ده پرخوا ولاړ دي؟

هغه کرار، کرار مخکې راغی. د پښو لاندې چې کوم شنه لمبه راتلل نو مړه کیدل به، تور وزري یې کرار، کرار خوځېدې او د هوا منځ کې به یې تورې دوړې خپرولې. ما بې‌اختیاره د شموئیل خواته وکتل.عجیبه وه، د شموئیل څېره لا هم ارامه وه. نه یې وېره ښکارېده، نه حیرانتیا...خو دروند نظر یې پوهولم چې هېڅ یې د دې موجود څخه ښه نه راځي ..

شموئیل- دا موضوع زموږ د قبایلو تر منځ ده، خناس! نو غوره به وي چې لاړ شې. ستا ځواب ما څو شېبې مخکې درکړی.

مارد پیري چې تر دې شېبې په قهر ولاړ و، خو د شموئیل د وېرې څخه یې کوم څه نشو ویلې ناڅاپه د هغه په لیدو یې زړه او جرئت پیدا کړ او په مکار لهجه یې وویل: ښه شوه چې تاسو راغلې،وګورئ څنګه چې مې ویلي و، د عفریت قبیله د انسانانو سره په تګ راتګ کې ده. هر مصیبت چې زموږ پر سر راځي، لاره یې دوي برابروي.

د زقوم غوسه ناک غږ مې واورید:
— خبیث، خپل کارونه په شموئیل اړوي.

ما په حیرت د دوی خواته کتل، البته زیات حیرت مې د هغه په نوم "خناس" و، څومره عجیب او جالب! په همدې شېبه کې هغه تور وزری موجود، چې اوس پوهېدم نوم یې "خناس" دی، خپل د اور په شان سترګې لومړی شموئیل ته ونیولې، بیا یې کرار، کرار ټول میدان تر نظر لاندې تېر کړ، او آخر کې سترګې یې پر ما ودریدې.

زقوم سمدستي په تلوار وویل: سترګو ته یې مه ګوره.
- ولې؟!
— یوازې مه ګوره!

خو ناوخته و. د یوې شېبې لپاره مې د هغه سرې سترګې واضح ولیدې. د هغه نظر بیحد عجیب و. کله چې سترګې مې د هغه د اور د سکروټو په شان سترګو ته ونیولې، داسې احساس مې وکړ لکه ټول بدن مې چې اور واخیست. د سترګو مخې ته مې هر څه تیاره شول، او یوازې هغه د اور په شان سترګې مې لیدلې.

احساس مې کاوه چې له دې ځایه ډېر لیرې، د حاجي په زندان کې یم... هماغه د زندان دهلیز کې، شاوخوا مې توره شپه وه. د هغه دروازې مخې ته ولاړ وم چې هغه عجیب موجود یې شاته و. سترګې اوس راته واضح ښکاریدې، د هغه سترګې د دې موجود د سترګو په شان وه.. سترګو ته په کتلو یې عجیب غږونه ذهن کې راپورته شول:

"مرسته وکړه.."
"زه دلته یم.."
"خناس... زه دلته یم.."

داسې احساس مې کاوه لکه یو څوک چې زما وجود ته راننوځي.
- آآخ!
په درد باندي مې خپل لاس پر سر کېښود. چې شموئیل سمدستي زما مخې ته ودرېد. د هغه په نږدې راتلو ناڅاپه لکه یو چا چې د هغه تیارو لمینځه راکش کړی اوسیږم، د سترګو دید مې بیرته راغلو، شاوخوا مې شنه رڼا خپره شوه او هماغه شیبه هغه غږونه ورک شول.

د شموئیل سترګې په قهر وځلیدې او په غوسه یې د خناس خواته مخ کړو:
― ته حق نه لري خپل د ځواک څخه زما په ځمکه کې کار واخلي.

خناس څو ثانیې چوپ ودرېد،بیا یې سترګې تنګې کړې.
― انسان...

د هغه غږ لکه د غار دننه چې خپور شوی وی داسې دروند او انګازې لرونکی و. د میدان شاوخوا پیریانو سرونه ښکته کړل.خناس یو بل ګام مخکې راغی.

― عجیبه ده، یو انسان ... یو قرین ... او یو بوی چې ...

ناڅاپه چوپ شو،سترګې یې پر ما ټینګې شوې.لکه د پېژندلو هڅه یې کوله.
زقوم ناڅاپه په ورخطایې وویل: هغه زه احساس کړی یم.

خناس مستقیم زما خواته راغی،هر ګام چې نږدې راتلې زما ساه سینه کې بندېده.
د شموئیل ساتونکي سمدستي د هغه لاره ونیول.په همدې وخت کې مې عبدالرحمان ولید. د ساتونکو په لومړۍ سر کې هغه ولاړ و، څېره یې له غوسې ډکه وه،د عبدالرحمان ترڅنګ یو بل کس هم ولاړ و او جالب وه خو د هغه څېره بیحد شموئیل ته ورته وه،البته په دې تفاوت چې دا څېره ډېره ځوانه وه.

زقوم- هغه د شموئیل زوی دی، ورک شې طاها د مرګ په حال کې ته دیته فکر وړې یې چې ولې د دی کس څیره د شمویل په شان ده؟!

د زقوم په خبره سترګي مې د حيرت پراخي شوی! د شموئيل زوی.؟! خو بدبختانه چې دا حيرت مې ډېر دوام را نه ورو، خناس د شموئيل د ساتونکو په ليدو خپل ځای کې و دریږد، څو ثاني دواړه يو بل ته په خاموش وکتل، د ميدان ټول پيريان چوپ وو. داسې احساس کېده لکه که يو غلط حرکت وشي، نو سمدستي به جګړه پيل شي.

خناس کرار وويل: ته زما څخه څه پټوې شموئيل؟
شموئيل- هېڅ. هغه څه چې پوهېدم، درته مې وويل.
خناس په وحشتناک انداز وخندل:
— نه... ته دروغ وايې.
ناڅاپه يې هوا بوی کړه،سترګې يې پراخې شوې.
— ناممکن ..

ټول پيريان وارخطا شول، خناس يو بل ګام هم مخکې راغی. هماغه شېبه عبدالرحمان د هغه مخ ته سينه په سينه ودريد.
عبدالرحمان- لياده مه باسه چې چيرته يې خناس .. يوازې يو اشاره کافي ده چې چاره دې وکړم، نو حد کېدی اوسيږه.

خو خناس هغه ته هېڅ پام ونه کړ.
سترګې يې زما پر خوا وې.
— دا بوی ...

د هغه په غږ او نظر چې مخامخ يې زما خواته راکتل د زړه درزا مې تېزه شوه او بې اختياره يو ګام نور هم شاته شوم او د شموئيل شاته پټ شوم، نظر يې ته وا د جهنم د تل چې راوتې وې دومره ډارونکې وو..

خو د هغه حيرت ناکه غږ مې واورید:
—د دې انسان څخه ولې زما د زوی بوی راځې؟

د هغه په غږ ټولو حتا شموئیل لا زما خواته په حیرت راوکتل، ما پخپل هم حیرت وکړ! نه پوهیدم چې څه چل دی؟ زه د ده زوی څه کوم؟

خناس ناڅاپه عبدالرحمان خپل د مخ څخه لری کړ، عبدالرحمان چې نظر یې زما خواته و او د دی حرکت تمه یې نه درلود لږ شاته لاړ خو ژر یې ځان راټول کړ، خو ناوخته وه همغه فاصله کې خناس ځان زموږ تر مخ رارسولې وو ..د هغه د سترګو لمبې اوس د غوسې پر ځای ګنګس ښکارېدې.

– انسان .. تا زما زوی لیدلی؟
د شموئیل ساتونکو غوښتل خناس کش کړی، خو شموئیل د لاس په پورته کولو منع کړل، همدی وخت کې مارد پیری هم رامخکې شو او ویې ویل: همدا ستا زوی نیولی خناس، اوس دی باور وشو کنه؟ ما درته ویلې وه چې عفریت پیران لګیا دی موږ خرخوی ...

د مارد په دی خبره شموئیل نیم نظر د هغه خواته واچو، خو کوم څه یې ونه ویل د شموئیل لځایه د عبدالرحمان ناراض غږ پورته شو، خو جالب وه خناس د دواړو خبرو ته کوم توجه ونکړل، او یوازی زما خواته دوه سترګي نیولې وه، بیا یې کرار وویل: راووځه ..
ما په ګنګس انداز سر وخوځاوه:
- څـه؟

خناس یو بل ګام رانږدې شو، توري وزرې یې کرار،کرار وخوځېدې او د میدان شنې لمبې یې کم رنګ کړې.
– راووځه...
غږ یې دروند شو.
– ته د شیطان د نسل څخه یې، د انسان تر شا پټېدل درسره ښه نه ښایي زقوم...

د هغه په دې خبره زما سترګې د حیرت څخه پراخې شوې، زقوم ... ده له کومه زقوم پېژند؟

د ذهن دننه مې د زقوم غوسه ناک غږ واورېد:
– لعنت دې وي ... نور وخت خو زه یوازې قرین یم، خو اوس ... اوس بیا د شیطان د نسل څخه شوم ..

د دې خبرې سره سم، ناڅاپه د وجود دننه مې د اور په شان تودوخه خپره شوه. سترګې مې پراخې شوې. احساس مې وکړ لکه یو څوک چې زما د بدن دننه راویښ شي.

شموئیل سمدستي زما خواته راوکتل.
– په کراره ..

خو ناوخته وه. زما د وجود شاوخوا تور لوګی راپورته شو او هماغه تور لوګی د یو سیوري په شان کرار، کرار زما د شا له خوا پورته شو. د څو ثانیو وروسته زقوم زما څنګ ته ولاړ و.

د هغه په راوتلو احساس مې وکړ لکه ټول انرژي چې مې ناڅاپه صفر شوی وی، د سترګو مخې ته مې هر څه تور شول، خو د غورځېدو مخکې شموئیل له اوږې ونیولم او خپل ځان ته یې تکیه کړم. د هغه اندېښمن او غوسه ناک غږ مې د غوږ تر څنګ واورېد:

– هېڅ څواک درڅخه نشم محسوسولای ماشومه، څه بلا دې پر سر راغلې؟!

زما د ځواب ورکولو مخکې زقوم په پوسخند وویل: جالب ده ... تا زه د ځان سره حساب کړم!

خناس خپل د اور په شان نظر باندی په خاموش توګه زقوم ته وکتل، چې زقوم په بې‌غمه لهجه وویل: څه غواړې؟
خناس- زوی مې ..
زما خواته یې اشاره وکړه: هغه انسان لیدلی، نو د هغه لیدل مطلب ستا لیدل دي. زه د انسان په خبره باور نه لرمـ ..

زقوم په ریشخند د هغه خبره پرې کړه او ویې ویل: جالب ده! یعنې زما په خبره باور لرې؟ که درته ووایم، منې یې؟

د خناس د ځواب ورکولو مخکې مارد پیری رامخکې شو. د هغه په نظر کې وېره ښکارېده، او جالبه دا وه چې د زقوم خواته یې بد، بد کتل. مطلب د خطر احساس یې د زقوم څخه کړی و؟!

مارد- خناس! ته غواړې د یو بې‌ارزښته قرین خبرو ته غوږ ونیسې؟ دا ټول د شموئیل لوبه ده. همدا عفریت و چې له پیله یې غوښتل زموږ قبیله کمزورې کړې. ستا زوی یې زندان ته واچو، اوس یې دا انسان او دا نیم شیطان ستا مخې ته راوستي تر څو ستا ذهن ګډوډ کړي.

زقوم په لوړ غږ وخندل. د هغه په خندا خناس د سترګو له کونج وروکتل، چې زقوم وویل: جالب ده کنه! هېڅوک خبر نه دي چې ستا زوی چېرته و؟ او موږ له کوم ځایه راغلي یو؟ خو دی خبر دی چې هغه زندان کې دی؟ ستا په نظر دا جالبه نه ده خناس؟

د زقوم په دې خبره د مارد څېره ناڅاپه بدله شوه، او خپله هم لکه چې پوه شو ځان یې په ګیر ورکړی، ځکه په غوسه یې چغه کړه: چــوپ شــه!

د هغه له غږ سره شنې لمبې پورته شوې، خو خناس خپل لاس پورته کړ.
یوازې همدومره.ټول میدان بېرته خاموش شو.

خناس خپلې سترګې د مارد پر مخ ټینګې کړې.
— پرېږده خبرې وکړي.

دا ځل د مارد په څېره کې رښتینې وارخطايي ښکاره شوه.
— خناس ... ته د دې کم‌اصله قرین خبرو ته اهمیت ورکوې؟ دا د انسان قرین دی! واضح ده چې د هغه په خوا به خبرې کوي.

خناس کرار وویل: خو د وېرې او شک بوی ستا څخه راځي، نه د ده څخه.

د خناس په دې خبره میدان کې موجود ټولو پیریانو یو بل ته وکتل. د مارد سترګې هم له قهر وځلېدې.

— ته زما سپکاوی کوې؟!

خناس یو ګام ورمخکې شو، تورې وزرې یې کرار وغځېدې او د هوا منځ کې تورې دورې پورته کړې.

خناس- زه دروغ، شک، شهوت، چلبازي او چل دومره ښه پېژنم، څومره چې ستا عمر دی. ځکه زه خپله د دې شیانو استاذ یم او دا ټول مې نرۍ ته ښودلي. لیاده مه باسه، مخکې دې زه ولاړ یم ... خناس. د ټولو وسوسو مشر.

د هغه په دې خبره زما سترګې د حیرت څخه پراخې شوې. ما دا نوم اورېدلی و، خناس ... دا همغه پیری دی کوم چې د سورت الناس په آخري آیت کې الله"ج" پیغمبر ﷺ ته فرمایي: چې د ده د وسوسو څخه ما ته پناه وغواړه، که دا همغه خناس وي، نو رښتیا هم د نړۍ د ټولو وسوسو او چلبازیو پلار دی.

د شموئیل په کار چې زما اوږه یې کنښکارېله، نیم نظر مې د هغه واچاوه، هغه کرار سر د تایید په توګه وخوځاوه. پوه شوم چې هغه زما د ذهن خبره اورېدلې او اوس

یې تاییدوي. ژر مې بېرته د خناس خواته وکتل. نو د هغه له راتګ څخه مې بد احساس بیځای نه و، دا د رښتیا یو جهنمي موجود و.

مارد چې د خناس په خبرو خوله بنده شوې وه، د لیوني سپي په شان د دې پر ځای چې د هغه ځواب ورکړي، شموئیل ته یې خوله واچوله.

– ګورې خناس؟! همدا یې عادت دی. خاموش دربېږي، ټول د یو بل پر ضد استعمالوي او آخر کې ځان پاک ثابتوي. ستا زوی همده نیولی.

د دې خبرې سره د میدان فضا یو ځل بیا درنه شوه. ومې لیدل چې د شموئیل سترګې لږ تنګې شوې. عبدالرحمان هم یو قدم مخکې شو تر څو کوم ځواب ورکړي، خو د شموئیل په اشاره ودرېد.

خناس پرته له دې چې د مارد خبرو ته کومه توجه وکړي، د زقوم خواته مخ کړ او ویې ویل: چېرته دی؟ زما زوی دې چېرته لیدلی؟

زقوم شاوخوا کسانو ته وکتل، بیا یې په ریشخندي لهجه وویل: اوه خناس ... ته خو پوهېږې، زه مفت چاته معلومات نه ورکوم.

د زقوم په دې خبره زما سترګې د حیرت څخه راووتلې.معامله؟! هغه هم د داسې یو موجود سره؟ هره شېبه په تمه وم چې خناس به زقوم ونیسي او ښه به یې وډبوي، خو برعکس خناس کرار وخندل او ویې ویل: پوهېږم ... وایه، څه غواړې؟

زقوم لکه چې پوهېده خناس د هغه خبره مني، ځکه په مضریت او شیطنت یې د مارد خواته اشاره وکړه او ویې ویل: لومړی خو باید د خپل سر غم وخورم. خبرې مې ترخې دي، شاید د ځینو په مزاج ښه ونه لګې، نو زما د سر امن راکوئ؟

مارد چې د زقوم په دې خبره د انفجار حالت ته رسېدلی و، غوښتل یې څه ووایي، خو خناس په دروند غږ وویل: هو...

بیا یې د مارد خواته مخ کړ:
— او ته... که یو ځل بیا د خبرو منځ کې راولوېدې، د هرې بلې خبرې څخه مخکې به ستا سر درپرې کړم. که ملامت نه یې، نو ولې وېرېږې؟

مارد چې د خناس له خبرې رښتیا هم وېرېدلی و، په لړزېدونکي غږ یې وویل: دا... دا دروغ وایي...

خناس په یخه لهجه وویل: او زه هم دروغ ښه پېژنم... نو اړتیا نشته زما لپاره اندېښمن اوسېږې.

مارد داسې چوپ شو، ته وا چا یې خوله ګنډلې وي.

کله چې خناس دویم ځل د زقوم خواته مخ راوګرځاوه، سترګې د سکروټو په شان وځلېدې. د هماغه نظر سره سم زقوم خپل ریشخند کم کړ او په تلوار یې وویل: څو وخت مخکې ما د یو انسان سره معامله وکړه. هغه زما څخه د پیریانو د نړۍ د زندان اوسپنه وغوښته او په بدل کې یې ماته د یو اصیل پیري بوی راکړ.

د زقوم په دې خبره د میدان ګڼ پیریان په خوځېدو شول،حتا خناس هم سترګې تنګې کړې.

ورخطا شوم. زقوم ولې دا خبره وکړل؟ د پیریانو توند غبرګون پوه کړم چې دا موضوع د دوی مینځ کې ډېره بده سزا لری، جالب وه تر څو وخت مخکې مې د زقوم مرګ غوښت خو اوس هغه ته ورخطا وم، وېرېدم چې هسې نه کوم څه ورباندی وکړی. غوښتل مې مخه یې ونیسم، خو شموئیل سمدستي زما لاس ونیو. د هغه خواته مې وکتل. شموئیل په کراره سر دواړو خواوو ته وخوځاوه او د مداخلې څخه یې منع کړم.

بېرته مې د زقوم خواته وکتل.

– ما هم معامله ومنله، خو د یو څه اوسپنو د ورلو وروسته پوه شوم چې هغه بوی چې ماته یې راکړی و، موقتي و. ډېر ژر ختم شو او زه ونیول شوم.

زقوم کرار وخندل، خو دا خندا یې زیاتر د غوسې ښکاریده.

– د دې کار وروسته د هغه انسان سره مې دښمني پیدا شوه. ما هغه ته د زیان رسولو هڅه کوله او هغه ماته... تر دې چې آخر هغه زه ونیولم.

د میدان فضا درنه وه، خو زقوم خبرو ته دوام ورکړ:
– ما فکر نه کاوه چې یو عادي انسان دې دومره زورور اوسیږي چې ما ونیسي، خو هغه نه یوازې زه، بلکې ډېر نور پیریان یې هم بندیان کړي وو.

بیا یې ناڅاپه د مارد خواته اشاره وکړه.
– او د هغه ټول دلیل، همدا و.

د مارد څېره سمدستي بدله شوه.
زقوم په لوړ غږ وویل: ده د هغه جادوګر انسان سره همکاري کړې وه، ما دومره اوسپنه هغه ته وړې وه چې هغه وربانديې یو دیوال لا نشو جوړولی،خو ده ورته د یو مجهز زندان جوړولو لپاره کافي اوسپنه رسولې وه.

د دې خبرې سره سم، ټول میدان په شور شو. په ځانګړې ډول مارد پیریان وارخطا شول.د مارد قبیلې څو کسان سمدستي رامخکې شول، غوښتل یې زقوم چوپ کړي، خو ناڅاپه خناس خپلې وزرې خلاصې کړې.

د هغه د وزرو د خلاصېدو غږ داسې و، ته وا د آسمان څخه چې تندر رالویدلې وی.
ټول پیریان شاته شول، حتا زما اوږې لا د وېرې څخه وپریدې.
خناس بغیر له دې چې شاوخوا ته وګوري، خپل د اور په شان سترګې د زقوم خواته ونیولې او په دروند غږ یې وویل: بیا...؟

دا ځل مې د زقوم په غږ کې رښتینی ډار محسوس کړ. حتا غږ یې لږ وریږېده:
— ه... هغه زندان کې یې هر ډول پیریان بندیان کړي وو. تاسو ټول پوهېږئ چې زما قرین د ځینو پیریانو ځانګړې ځواکونه درلودل، ده هغه جادوګر ته زما قرین په لاس ورکړ او هغه د تور جادو په وسیله د هغه ځواک راویست.

د زقوم په دې خبره، د لومړي ځل لپاره مې خپل څنګ ته د شموئیل غوسه محسوسه کړه.

زقوم دوام ورکړ:
— خو هغه جادوګر په دې هم قانع نه شو. هغه غوښتل دا ځواک د نورو پیریانو د ځواکونو سره یوځای کړي او داسې قوت ته ورسېږي چې د انسانانو او پیریانو دواړو څخه غښتلی وي.

د میدان شنې لمبې لږې زوروري شوې.
— مور په ډېر مشکل د هغه ځای څخه وتښتېدو. د راتلو پر وخت مو ستا زوی هم ولید... هماغه زندان کې بندي و. مرسته یې غوښتله. د سترګو څخه یې ښکارېدل چې ډېر په عذاب کې دی.

د زقوم د هرې خبرې سره د میدان فضا درنه کېده.
په ځانګړې ډول د خناس سترګې چې د غوسې څخه داسې سره کېدل لکه د جهنم اور چې پکې بل وی.

د هغه د سترګو د سره کیدو سره سم، ناڅاپه ماحول دومره دروند شو چې ساه اخیستل راته سخت شول.شموئیل چې زما حالت ته متوجه شو، کرار یې زما د غوږ ترڅنګ څو عجیب لفظونه وویل او د هغه سره سم یوه شنه حلقه زما شاوخوا تاوه شوه.

د حلقې د تاوېدو سره سم بې اختیاره مې ژوره ساه واخیسته، زه لا په خپل حالت کې وم، چې ناڅاپه مارد په غوسه رامخکې شو او مستقیم یې پر زقوم حمله وکړه.

خو لا يې لاس زقوم ته نه و رسېدلی چې د بريښنا په شان يو دروند غر پورته شو.

او ورسره د مارد د درد څخه ډکه چغه اسمان ته وخته،هر څه دومره ژر وشول چې زه هېڅ و نه پوهېدم څه پېښ شول؟! د مارد د حملې څخه مخکې خناس خپل په يو وزر باندی هغه وهلې و،خو دا کوم عادي ګوزار نه و.د خناس وزر د تورې په شان تېز و او دد مارد لاس يې د اوږې څخه قلم غوځ کړی و.

مارد په درد شاته وغورځېد،د میدان ټول مارد پیریان سمدستي د خپل مشر خواته رامنډه کړل.شموئیل زما شاوخوا شنه حلقه لا قوي کړه او عبدالرحمان ته یې غږ وکړ. خو د هر چا د کوم حرکت څخه مخکې، ځمکه په زور ولړزېده،خناس وزرې ووهلې او هوا ته پورته شو.

دومره لوړ ودرېد چې ټول پیریان یې تر پښو لاندې ښکارېدل،بیا یې په داسې دروند غږ چغه کړه چې ټول میدان ولړزېد:

– بس دې!

د خناس په لوړ غږ د میدان شنې لمبې په زور پورته شوې او د هغه د وزرو څخه تورې دوړې د طوفان په شان خورې شوې. د میدان ګڼ پیریان بې‌اختیاره پر ګونډو شول. ما داسې احساس کاوه لکه د غوږونو پردې چې مې شلېدلې وی.

مارد پیری د درد څخه په ځمکه تاوېده، د پرې شوي لاس له ځایه یې توره وینه بهېدله. د هغه شاوخوا نور مارد پیریان راټول شوي وو، خو هېچا د خناس مخې ته د ورتلو جرئت نه درلود.

خناس کرار، کرار بېرته ځمکې ته راښکته شو،د هغه د وزرو څوکې لا هم په هوا کې خوځېدې او سترګې یې د اور په شان لمبې کول.

خناس- زه د اول پر تا شکې وم، نو ځکه یوازی راغلم، تا چې کله ما ته پیغام راوستو او ودې ویل چې خبر یې زوی دی شموئیل نیولې! نو پوه شوم چې اصل خبره ضرور د کوم بل ځای څخه خرابه ده ..

مارد په درد خپل غاښونه ټینګ کړل او په لړزېدونکي غږ یې وویل: دا... دا ټول دروغ وایی. دا لعنتي قرین تاته چل درکوی.

خناس ناڅاپه د هغه مخې ته ودرېد.

— چل؟

بیا یې په کرار، خو خطرناک غږ وویل: حافظه دې لکه چې کمزروی شوی؟ هره شیبه لیاده باسې چې مخې ته دې څوک ولاړ دی؟ کوم پلان چې تا جوړ کړې زه د هغه پلانو استاذ یم.

ټول میدان چوپ شو،حتا زقوم هم غلی شو. خناس د مارد سترګو ته وکتل.

— ته ماته د چلبازۍ درس راکوې؟زه خناس یم... د وسوسو او شکونو پلار.

د دروغو بوی د یو کس په رګ،رګ کې پېژنم.

د مارد څېره کرار،کرار سپینه کېده.خناس یو بل ګام ورنږدې شو.

— عفریت شاید زموږ د بلې څخه وتلي وي، شاید زموږ ترمنځ جګړې شوې وي، خو نسل مو بیا هم ستا څخه یو بل ته ډېر نږدې دی.

د میدان شاوخوا څو عفریت پیریانو سرونه پورته کړل.

— موږ که خپله غوښه وخورو هډوکي نه ماتوو، خو ته مارد...

د خناس غږ ناڅاپه له کرکې څخه ډک شو.

— تا تل غلامي کړې، عفریتو دومره جرئت درلود چې مخامخ زموږ څخه جلا شول او اسلام یې ومنو، خو ستاسو نسل ... تاسو زموږ سره د پاتي کیدو باوجود تل موږ د شالخوا وهلې یو ..

د خناس د خبرې د خلاصیدو سره سم میدان کې موجود ځینو پیریان یو بل ته وکتل او ناڅاپه یو مارد پیری په غوسه د خناس پر خوا حمله وکړل او همغه حال کې چغه کړه:

– ته دروغجن یې مرداره.!

او د دې خبری سره د خناس خواته رانږدی شو، خو لا خناس ته رسیدلې نه و، چې د ټوپک د مرمۍ په شان شــغ غږ پورته شو او د هغه مارد پیرې بدن په هوا کې شاته وغورځېد خو سر یې د خناس پښو ته وولید ...
د حیرت څخه مې خوله خلاصه پاتې شوه.
ه .... هغه عبدالرحمان و ...په لاس کې شنه اوږده توره ځلیده، خپل توره یې وڅنډل او په دروند غږ یې وویل: د عفریتو په قبیله کې د هغه د مشر په وړاندی د غږ پورته کولو سزا مرګ ده ...

خپل د څنګ څخه مې د شموئیل د خندا کرار غږ واورید او خوله مې د حیرت څخه لا خلاصه پاتې شوه، زقوم لکه چې رښتیا ویل!؟" ستا لیوني ملګری" شموئیل د رښتیا هم لیوني و، کنه د یو چا پر مرګ څوک خوشحاله کیږی؟!

د عبدالرحمان توره لا هم په شنه رڼا ځلېده، او د هغه مارد پیری پرې شوی سر د خناس د پښو مخې ته پروت و. ټول میدان ناڅاپه چوپ شوی و، د هر چا نظر هماغه پرې شوي سر ته و. خو د څو شېبو وروسته د هغه پیری سر او بدن د تور دود په شان ورک شو، د هغه په ورکېدو د مارد د قبیلې له منځه غوسه ناک غږونه هوا ته پورته شو.

– خاینان!
– عفریتو زموږ وینه توی کړه!
– وینه په وینه!

د هغوی د غړونو سره سم، هغه عفریت ساتونکي چې موږ د راتلو مخکې لیدلي وو، ناڅاپه مخې ته راغلل. د هغوی د وسلو شاوخوا شنې لمبې تاوې شوې. مارد پیریان هم شاته نه شول. په څو ثانیو کې د واده میدان د جګړې پر میدان بدل شو.

یو مارد پیری مستقیم د زقوم خواته حمله وکړه، خو زقوم د دې پر ځای چې ځان وژغوري، هماغسې په کراره ولاړ و او د ریشخند په نظر یې ورته کتل. مارد پیری چې رانږدې شو زه بې‌اختیاره مخې ته لاړم تر څو زقوم راکش کړم، خو تر ما مخکې د خناس تور وزر د یو محافظتي دیوال په شان د زقوم مخې ته ودرېد او هغه مارد یې په زور شاته وغورځاوه.

په حیرت خپل ځای کې ودرېدم او د زقوم خواته مې وکتل.
نو هغه معامله چې زقوم وکړل مانا یې دا وه؟!

نظر مې د زقوم څخه بېرته د میدان خواته واوښت. یو عفریت پیرې د درې مارد پیریانو سره نښتې وو. شنې لمبې، تور لوګي او د وسلو غړونه سره ګډ شوي وو.
خو جګړې ډېر دوام ونه کړ.عفریت پیریان په ښکاره ډول تر مارد پیریانو غښتلي وو. په څو شېبو کې یې هغوی پر شا وتمبول. یو شمېر مارد پیریان زخمي شول، ځینې ووژل شول او پاتې نورو ډېر ژر خپلې وسلې وغورځولې. شاید پوه شوی وه چې د ژوندي پاتې کېدو یوازینۍ لار تسلیمېدل دي؟!

د دومره اخ و ډب ترمنځ شموئیل لا هم په کراره او بې‌غم ولاړ و. ټوله جګړه عبدالرحمان او د شموئیل ځوان زوی کنټرولوله. خناس هم یوه سترګه پر زقوم او بله پر جګړه نیولې وه، او د څېرې څخه یې واضح ښکارېدل چې اعصاب یې خراب دي.

کله چې پاتې مارد پیریانو وسلې وغورځولې، عفریت پیریانو سمدستي شاوخوا حلقه ورباندې جوړه کړه او ټول یې تر محاصرې لاندې ونیول.هماغه وخت شموئیل زما له څنګ تېر شو ... د هغه یوازې یو قدم مخکې تلل ټول چوپ کړل.

شموئیل پر ټول میدان سترګې وګرځولې، بیا یې په داسې دروند غږ چې ما تر اوسه ورځخه هېڅکله نه و اورېدلی وویل: مارد... تاسو هغه ډله یاست چې د ځمکې له پیل راهیسې مو فساد خپور کړی. قرنونه کېږي چې موږ او تاسو په جګړه کې یو. هره ورځ زموږ او ستاسو لسګونه کسان وژل کېږي، هغه هم د داسې خبرو لپاره چې هېڅ مانا نه لري.

یو څو شېبې چوپ شو، بیا یې دوام ورکړ:
— کله چې ستاسو مشرانو ماته د سولې وړاندیز وکړ، زه حیران شوم. باور مې نه راتلو چې تاسو دې له جګړې ستړي شوي یاست،خو بیا مې هم ومنله.

شموئیل خپلې سترګې د هغه ځوان مارد پیریانو خواته واړولې چې اوس چوپ ولاړ وو.

— ستاسو د ځوان نسل لپاره مې ومنله... ځکه تاسو هم زما خپل یاست.
د میدان فضا لږه ارامه شوه.
— ستاسو د پلرونو او نیکونو جګړې، پر تاسو اړه نه لري. ښې وې که بدې، هغه وختونه تېر شول. خو ستاسو مشرانو یو ځل بیا ستاسو له احساساتو څخه غلطه استفاده وکړه.
بیا یې د زخمي مارد مشر خواته اشاره وکړه.
— حقیقت ستاسو مخې ته پروت دی. دې کس ته یوازې ځواک مهم دی، هغه ته فرق نه کوي چې ستاسو د قبیلې پیریان مري که زما.

د شموئیل غږ لا دروند شو.
— د یو جادوګر انسان سره معامله کول، زموږ د دواړو قبیلو په قانون کې جرم دی. او تر هغه لا بتر ده زموږ د نړۍ ارزښتمنه سرمایه د انسان لاس ته ورکړل.
بیا یې په کلک غږ وویل: اوس تاسو خپله ووایاست... د دې سزا څه ده؟

په میدان کې درنه چوپتیا خپره شوه.

څو شېبې وروسته، هماغه مارد پیریان چې لړ مخکې د شموئیل پر ضد ولاړ وو، اوس یې خپل زخمي مشر ته په غوسه کتل. خو هغه لا هم د خپل پرې شوي لاس په غم کې ورک و او پاتې لاس یې دومره کلک نیولی و، ته وا وېره لرله چې دا به هم پرې شي.

شموئیل کرار وویل: دروازې خلاصې دي.

ټولو د هغه خواته وکتل.
— خپل مشر او زخمیان واخلئ او له دې ځایه لاړ شئ. تر هغه وخته چې د رښتینې سولې لپاره تیار شوي نه یاست، او بل مشر مو نه وي ټاکلی، هېڅ مارد پیری حق نه لري د دې وروسته زما د قلمرو خواته راشي ...

هیڅا څه ونه ویل، زما نظر پر عبدالرحمان ولګید چې په اندېښمن نظر یې د ماښې خواته کتل. شموئیل هم لکه چې د هغه د نظر په مانا پوه شو، ځکه څو ثانیې وروسته یې کرار وویل: خو واده... پخپل ځای دی.

ټول پیریان حیران شول، شموئیل د ماښې خواته وکتل او ویې ویل: موږ خپله ښځه همدلته ساتو... حتا که د قبیلې له مخې زموږ دښمنه هم حساب شي.

د هغه د دې خبرې سره د میدان فضا یو ځل بیا بدله شوه.ځینې مارد پیریانو په حیران نظر یو بل ته وکتل. ځینو په غوسه، خو ځینې نورو بغیر له دې چې دې خبرې ته کوم پروا وکړې لګیا وه خپل زخمي ملګري له ځمکې راپورته کول او د میدان څخه وتل.

شموئیل حتا د مارد هغه مکار مشر هم خوشی کړ.

زقوم چې د شموئیل د خبرو پر وخت زما څنګ ته راغلی و، کرار مې ورڅخه وپوښتل: شموئیل ولې دا مشر مارد پرېښود؟ د دومره کارونو وروسته حق یې نه و چې سزا ورکړې؟

زقوم نیم نظر راواچوه او په کراره یې وویل:د یو مشر داسې ذلیل کېدل، د هرې سزا څخه درنه سزا ده... او بل، هغه خناس پخپل وزر وهلی.
- څه مطلب؟

زقوم کرار وخندل.
— د خناس وزرې د مارد پیریانو لپاره د زهر حکم لري. څوک چې پرې زخمي شي، ژوندی پاتې کېدل یې تقریباً ناممکن وي. هغه به په څو ساعتونو کې، په ډېر دردناک عذاب مړ شي.

په حیرت مې د زقوم خبرې ذهن کې اړولې رااړولې چې خناس رامخکې شو.
د هغه په رانږدې کېدو، د سترګو له کونجه مې د شموئیل تېز حرکت هم ولید چې سمدستي زمونږ خواته راوګرځېد.

خناس څو ثانیې په خاموش نظر مونږ دواړو ته وکتل. د هغه د اور په شان سترګو کې لا هم غوسه ښکاریده،د څو شیبو کتلو وروسته یې کرار خپلې تورې وزرې راټولې کړې او د شموئیل خواته یې مخ واړاوه.
— ستا د منطقي خیال مې وساتو کنه، حق خو دا و چې د مارد قبیلې یو پیری لا د دې ځایه ژوندی نه وایې وتلې ..

شموئیل خپل لاسونه شاته وتړل او په درونډ غږ یې وویل: ټول بد نه دي خناس ... زه امید لرم د دې پیښو وروسته هغوی پر عقل راشي.

خناس په پوسخند سر دواړو خواوو ته وخوځاوه:
— امید ساتل دي بې مانا دی شموئیل ... هغوی هیڅکله نه سمیږي ځکه ذات یې خراب دی.
شموئیل- زه په دی خبرو باور نه لرم(خپل ځانته یې اشاره وکړل) زما ذات هم د شیطان دی، خو مسلمان یم، نو هر کار دی نړۍ کې امکان لری.

د مسلمان د لفظ په اوریدو د خناس تندی تروش شو او په توند لهجه یې وویل: باید ژر لاړ شو اوس چې حقیقت معلوم شو، زه خپل حساب له هغه انسان سره کوم.

د "انسان" په لفظ پوه شوم چې مطلب یې حاجي ته دی.
شموئیل غوښتل کوم څه ووایې چې، د ماښي څخه یو ساتونکی پیری په منډه راوووت، ساه یې بنده بنده کېده.

— مشـــره...!
د هغه غږ کې ویره له ورایه ښکاریده، ټولو د هغه خواته وکتل شموئیل په درنه لهجه وویل: څه شوي؟

ساتونکي په وارخطایۍ وویل: ناوې .... ناوې تښتېدلې ...

د ساتونکي په دې خبرې د میدان فضا یو ځل بیا ګډه وډه شوه. ځینو پیریانو په ورخطایې یو بل ته وکتل، ما بیا په اندیښني دعبدالرحمان خواته وکتل خو د شموئیل په ناڅاپه خندا ټولو په حیرت د هغه خواته وکتل،شموئیل خپل لاس د عبدالرحمان پر اوږه کېښود او په ریشخند یې وویل: ولاړ شه وروره! فکر کوم ښه سرګرمي دې ځانته پیدا کړه.

عبدالرحمان په ګنګس انداز وویل: څه وایې؟
خو شموئیل په همغه خندا چې غږ کې ښکاریدل ویې ویل: دا د کافر نسل دی عبدالرحمان، فکر نه کوم چې دا دې تاته ښځه شي، د دې وروسته به هغه مخ ته وې او ته به وریسې د لیونیانو په شان ځغلې ..

د شموئیل په دی خبره د میدان د شاوخوا ځو عفریتو د کرار خندا غږ پورته شو.
زقوم هم پخندا وویل: عجب خوند به وکړي.
عبدالرحمان په قهر د زقوم خواته وکتل:
— بنده کړه خوله دی.
زووم ژر چوپ شو خو شموئیل په داسې مضریت چې ما لومړۍ ځل ورڅخه لیدو

عبدالرحمان ته وويل: پام کوه ناوی دې د خسرخېلو خواته لاړه نشې، کنه بیا به مو تاواني کړې او خسرخېل به دې دویم ځل درڅخه ولور واخلې ..

د هغه په دې خبره دا ځل میدان کې موجود ټول پیریانو په لوړ غږ خندا شروع کړه، چې عبدالرحمان په غوسه ټولو ته وکتل، خپل توره یې لاس کې کلک ونیول او د ماڼۍ خواته روان شو. او همغه حال کې په غوسه ناک غږ وویل: چې پیدا مې کړه، لومړی به هغه ځوک وژنم چې هغې ته یې د تښتېدلو لاره ښودلې ..

شموئیل په خندا ورپسې غږ کړل:
– ته لومړی ښځه دې پیدا کړه وروره! بیا خلک ووژنه ..

عبدالرحمان بغیر له دې چې شاته وګوري په غوسه یې خپل لاس وخوځاوه او ماڼي ته ننوت، خو د میدان د ګڼو پیریانو خندا لا پسې زیاته شوه.

ما په حیرت د شموئیل خواته کتل، باور مې نه راتلو هغه او دومره شیطنت؟! لکه چې بیحد خوشحاله وو! شموئیل د خوشحالۍ وخت کې کله ناکله داسي شوخ کیدی، د خناس په غږ فضا ناڅاپه بیرته درنه شوه:

– هغه زندان چیرته دی؟

زقوم په تلوار وویل: ما لیدلی، زه مو هلته وړلی شم.

سمدستي مې د زقوم خواته وکتل، باور مې نه راتلو دا نن څنګه دومره نیک صالح شوی؟ شموئیل هم سترګې تنګې کړې.

شموئیل- نن ډېر مرسته نه کوی؟!
زقوم په ریشخند وویل: زه تل مرسته کوم، خو تاسو یې نه ویني!؟

شموئیل یو دوه ګام د هغه خواته نږدی شو، د هغه سترګو ته یې سترګي واچول او ویې ویل: لیاده مه باسه، ستا سزا لا پر خپل ځای ده.

د شموئیل غږ ارام و، خو خطر پکې واضح محسوسېده.
— لومړی دې طاهاا خطر کې واچو، بیا دې دلته راوست او تر دې هم بتر ... زموږ د نرۍ اوسپنه دې په جادوګرانو خرڅوله.

زقوم د څو ثانیو لپاره کوم څه ونه ویل، خو بیا یې په مضریت وخندل او ویې ویل: اوه شموئیل ... تخو باید زما څخه منندوي اوسیږې،ځکه زما په برکت د مارد قبیلي د شر څخه خلاص شوی.

شموئیل پخندا ورته سر وخوځاوه:
— او ته هم باید د طاهاا څخه منندوی اوسیږې چې د هغه قرین یې او د هغه په برکت تر اوسه دې سر پر تنه پاتي دې.

د زقوم موسکا ناځاپه د خولې څخه یې ورکه شوه،د لومړي ځل لپاره مې احساس کړل چې د شموئیل دا خبره پر هغه اثر وکړ او وډار شو.

د خناس په غږ هغوی یو دبل څخه نظر واخیست.
— بس دې تاسو خپل حساب کتاب وروسته وکړی(د زقوم خواته یې وکتل او ویې ویل: ما هغه لعنتي زندان ته ویسه.

د خناس په دې خبرې شموئیل د میدان په منځ کې ولاړ یو پیري ته اشاره وکړه. هغه د قد او څېرې د مخې د نورو پیریانو په پرتله غښتلی او د ډېر عمر ښکارېده. پیری سمدستي رامخکې شو.

شموئیل کرار وویل: د مانۍ ساتونکي ډېر کرې. تر هغه چې زه بېرته نه یم راغلی، نه زموږ له ډلې څوک د وتلو حق لري او نه د نورو قبیلو کوم پیری د راننوتلو اجازه.

د شموئیل په خبره هغه پیری لږ حیران شو.
— تاسو پخپله غواړئ لاړ شئ، مشره؟!

— هو.
د شموئیل د "هو" سره د میدان فضا ناارامه شوه.
یو عفریت پیری رامخکې شو او په ښکته خو درناوي ډک غږ یې وویل: مشره...
ستاسو داسې تګ ښه نه ښکاري. امکان لري دا کومه لومه وي.

شموئیل مستقیم وروکتل.
— که لومه هم وي، بیا هم باید لاړ شو. زموږ خلک او زموږ د نړۍ اوسپنه هلته ده...
دا عادي خبره نه ده.

خناس په یخه لهجه وویل:وخت ضایع کوې شموئیل... که وېرېږې، پاته شه. زه
یوازې هم دا کار کولای شم، یو انسان دومره وېره نه لري.

شموئیل بغیر له دې چې څه ووایي، په دروند نظر یې د خناس خواته وکتل. بیا یې
خپل تاج له سره ښکته کړ او هماغه لومړي پیري ته یې ورکړ، ښکارېده د هغه نږدې
او وفادار ساتونکی دی.

وروسته یې د زقوم خواته په پوښتنې ډک نظر وکتل.
زقوم په تلوار وویل: ځای به زه دروښایم، خو ..

لا یې خبره نه وه بشپړه کړې چې شموئیل په تېز غږ خبره ورپرې کړه:
— ته نور د معاملې کولو قابل نه یې، زقوم. مجبور یې هغه زندان وښایې. که په رضا
یې نه ښایې ..

د خناس خواته اشاره وکړه.
— نو موږ پوهېږو څنګه درڅخه معلومات وباسو.

د شموئیل په دې خبره د زقوم خوله بنده شوه، خو بیا هم ناامیده نه شو او په بیحد
عاجزانه لهجه یې وویل: لږ تخفیف هم نه راکوئ؟

@Shuhab09

د هغه په عاجزانه لهجه ما ته خندا راغله، خو شموئیل په بې‌تفاوته نظر وروکتل.
زقوم په ناراض غږ وویل: یو مشر باید سخاوتمند اوسیږی شموئیل... خو افسوس، تا د بخیلانو نوم لا وربد کړی.

د دې خبرې سره سم یې د یو ځای نوم واخیست. که څه هم زه ونه پوهېدم څه یې وویل، خو دومره مې درک کړل چې د هغه منحوس زندان ځای یې وښود.

هماغه شېبه شموئیل خپل لاس هوا کې وخوځاوه.
د هغه د لاس شاوخوا تور لوګی راوګرځېد او زموږ پر شاوخوا د یوې حلقې په شان تاو شو.
د خناس ناراض غږ مې واورېد:
— موږ پخپله هم تللی شو. څه ضرورت دی چې ته خپل ځواک پر موږ و ازمایې؟

خو د هغه د اعتراض په ځواب کې هېڅ ونه ویل شول، بله شیبه هماغه احساس راباندې راغی کوم چې د زقوم سره دلته د راتلو پر وخت مې کړی و. هر څه شاوخوا تیاره شول. داسې احساس مې کاوه لکه پورته چې روان یم. هېڅ غږ نه اورېدل کېده.د تیارو په منځ کې د څو شېبو سفر وروسته ناڅاپه شاوخوا فضا ولړزېده.

د غوږونو تر څنګ مې د باد شور ورک شو او پښې مې پر ځمکه ولګېدې.
سمدستي مې سترګې خلاصې کړې، خو ساه مې سینه کې بنده شوه.

هماغه منحوس زندان مخې ته ولاړ و،شپه لا هم هماغسې تیاره وه، خو دا ځل د زندان مخې ته پنځه موټر او لسګونه کسان ولاړ وو او د دړزو غږونه یو په بل پسې پورته کېدل.

هره مرمۍ چې به د زندان په هغه منحوسه اوسپنه ولګېده، داسې عجیب غږ به ورڅخه پورته شو، ته وا تندر چې راپرېوځي.

د عزيزي کسانو د موټرو شاته سنګر نيولی و او د حاجي د کسانو سره يې جګړه روانه کړې وه.

په حيرت مې وويل: حاجي راوتلی؟!
زقوم کرار وويل: هو... ښکارې خو همداسې. که هغه نه وای، فکر نه کوم د هغه کسان دې د عزيزي مخې ته دومره ټيګ شوی وای.

هماغه وخت مې نظر پر حاجي ولګېد،خو هغه نور د څو ساعتونو مخکې حاجي نه و... کوم چې موږ وهلی و او قفس ته مو اچولی و.د هغه د وجود شاوخوا تور لوګی تاوېده. سترګې يې غيرطبيعي سرې ښکارېدې او پر لاسونو يې تورې نښې بلې وې.

شموئيل پر هغه نظر ټينګ کړ او په قهرجنه لهجه يې وويل: د هغه له وجوده څخه ستا د ځواک بوی محسوسوم... همدا دی هغه جادوګر؟

د شموئيل په خبره خناس سمدستي د حاجي خواته وکتل او سترګې يې د غوسې او کرکې څخه وځلېدې.

ما د تاييد په توګه سر وخوځاوه، د جګړې شور ډېر زيات و.د عزيزي يو کس پر حاجي ډزې وکړې، خو مرمۍ لا هغه ته نه وې رسېدلې چې د حاجي شاوخوا تور لوګی وخوځېد اړ هغه سړی په زور هوا ته وغورځېد.د هغه د بدن د لګېدو دروند غږ پورته شو.

زما سترګې د حيرت څخه پراخې شوې.
– دا... دا څنګه امکان لري؟
زقوم په غوسه ناک غږ ووېل: د هغه سره ستا ځواک او د هغه خپل منحوس جادو يوځای شوی نو ځکه دومره ځواکمن شوی.

هماغه وخت مې عزيزي وليد،هغه د خپل موټر شاته ولاړ و، لاس يې پر وينو لړلی و او ښکارېده چې زخمي شوی.

په قهر یې اشرف ته، چې د هغه څنګ ته ولاړ و، وویل: کسانو ته ووایه شاته دې نه ځي... هغه دومره شئ نه دی ګېرولې شو.

د عزیزی په غږ کې ما لومړی ځل لږ وېره محسوس کړل، او حق یې هم درلود، د هغه مخې ته کوم عادي انسان نه و ولاړ چې په توفنچي او مرمۍ ورسره وجنګېږي. د هغه مخې ته نیم پیری او جادوګر ولاړ و، داسې څوک چې مرمۍ ته یې هېڅ اړتیا نه درلودل او همداسې د څو لفظو پر ویلو یې خلک هوا ته غورځول.

خناس ناڅاپه مخته لاړ، چې شموئیل په تلوار له اوږې ونیو:
— چېرته روان یې خناس؟ دا د انسانانو نړۍ ده، پوهېږې چې زموږ مستقیمه مداخله کومې پایلې لري؟!

خناس سترګې لږې تنګې کړې، بیا یې د زندان خواته اشاره وکړه او په قهر یې وویل: زما زوی هلته بندی دی، شکنجه شوی او په عذاب دی... هغه هم د یو انسان له لاسه. نو لومړی لاس وهنه هغوی زموږ په نړۍ کې کړې ده، زه دلته راغلی یم چې د هغه دې کار ځواب ورکړم.

شموئیل کرار وویل: ته صحیح وایې، خو هغه یو کس دا کار کړی. دا نور... (د عزیزی او د هغه کسانو خواته یې اشاره وکړه) دوی دلته ستا د زوی لپاره نه دي راغلي. موږ نشو کولای قوانین مات کړو.

څو ثانیې چوپتیا خپره شوه.
بیا خناس په کرار، خو خطرناک غږ وویل: چا چې زما پښه قصداً دې لوبې ته راکش کړې، زما کار یوازې له هغه سره دی. زه د بل چا سره کار نه لرم.

د دې خبرې سره سم یې مخ واړاوه او د زندان خواته روان شو.
شموئیل ژوره ساه واخیسته، بیا یې خپل زوی ته چې زما څنګ ته ولاړ و وکتل:
— ذهان...

د لومړي ځل لپاره مې د شموئيل د زوی نوم واورېد.
هغه سمدستي څو ګامه وړاندې شو او د شموئيل مخې ته ودرېد:
– امر وکړه، پلاره.

شموئيل د زندان مخې ته ولاړ عزيزي او د هغه کسانو ته اشاره وکړه او ويې ويل: انسانان بې‌هوښه کړه. هېڅوک بايد د نن شپې پېښه په ياد را نه وړي.

ذهان په تلوار سر وخوځاوه او مخکې روان شو د راونيدو سره سم د هغه د لاسونو څخه يوه عجيب شنه رڼا راپورته شوه.

په څو ثانيو کې مې احساس کړل چې د ميدان هوا درنه شوه. يو نری شنه دوړه د ميدان پر سر خپره شوه، او دا دوړه چې د هر چا تر مخ تېرېده، هغه کس به پر ځمکه غورځېدی، حتا عزيزی کله چې دا دوړه يې شاوخوا خپره شوه څو شيبې ګنګس خپل ځای کې ودريد، بيا پر زنګنو شو او د موټر څنګ ته ولوېد.

زقوم پخندا وويل: ښه ځواک دی، خو دومره قوي نه دی. فکر نه کوم د شموئيل وروسته د پاچاهۍ تخت ته ورسېږي.
- څه مطلب؟
زقوم- شموئيل د دواړو خواوو له طرفه عفريت دی، ځکه ډېر ځواکمن دی او مشر شوی. خو دا زوی يې د مور له طرفه د کمزوري پيري له قبيلې سره تړاو لري، نو ځکه يې ځواک کم دیـ ..

لا يې خبره نه وه بشپړه کړې چې شموئيل يې خبره پرې کړه:
– مشري په ځواک نه کېږي زقوم... مشري په هوښيارۍ او دلاورتيا کېږي.(بيا يې نيم نظر د زقوم خواته واچو او د لومړۍ ځل لپاره ما د شموئيل لهجه کې پلرني غرور احساس کړ کله چې ويې ويل: او اوس وخت موجود عفريت ځوانانو کې زما زوی ثاني نه لری، خو هغه د مشرۍ غوښتونکي نه دی، نو زموږ د مشرۍ غم ته مه کوه، يو دانه مشر پيدا کولای شو.

د شموئیل دا خبره دومره په غرور او باور وه چې نه یوازې د زقوم خوله بنده شوه، بلکې ما ته هم یو عجیب احساس راغی... چې ای کاش زما پلار هم داسې زما خوا نیولې وای. او زما شتون ورته د غرور سبب وایې نه د شرم.

شموئیل چې راوکتل نظر مې ورځخه واخیست او د خناس خواته مې سترګې ونیول، چې خپل وزرې خلاصې کړې وه او کرار،کرار د موټروانو د منځ څخه د حاجی خواته نږدې ورتلو.

حاجي درنه ساه واخیسته او شاوخوا یې وکتل. ګنګس و نه پوهېدې چې دا کسان څنګه ناڅاپه راغورځېدلې؟!

د خناس په دروند غږ مخ یې په تلوار د هغه خواته وګرځو:
– نو ته هغه کم اصل جادوګر یې؟

حاجي لکه چې باور نه کیده، چې مخې ته یې داسې موجود ولاړ دی، ځکه څو ځله یې سترګې خلاصې او بندې کړې، خو بیا یې کرار،کرار پر شونډو موسکا خپره شوه.

– نو آخر راغلې خنـــــاس ...!

په حیرت مې د هغوی خواته وکتل، خناس بې تفاوت ښکاریدی خو حاجي بیحد خوشحاله و، لکه چې خناس یې پیژندی! خو څنګه؟ د حاجي په خوله تر اوسه همغه موسکا وه خو سترګې یې... سترګې یې د عادي انسانانو په شان نه وه، داسې وه لکه د تور لوګي تر شا چې کوم کس پټ وي.

حاجی درنه ساه واخیسته او بیا په داسې غږ چې ما فکر کو یو وخت کې څو عجیب غږونه یې د خولې څخه راوځې وویل: پوهېږې خناس... ما څومره وخت ستا د راتلو انتظار کړی؟!

خناس بې‌حرکته و لاړ و. وزرونه یې نیم خلاص وو او د شاوخوا تیاره یې لا پسې درنه کړې وه.

حاجي کرار وخندل.
– هره لاره او هر طریقه مې امتحان کړل، کلونه ستا پسې وم، خلک مې قرباني کړل... جادوګران مې پیدا کړل، یوازې د دې لپاره چې ستا پام ځانته راواړوم. خو تا ...

د حاجي شاوخوا تور لوګی تاو شو.
– تا هیڅ ځواب نه راکوو.

زقوم زما د غوږ څنګ ته په کراره وویل: د ده خبیث څخه هم کوم څوک نه دی پاتي، هر خوا یې لاس غځولې او زړه یې بایللې، لکه د سلو ښځو کونډ هر چاته په تمه ناست وو.

په هغه خطرناک شرایطو کې د زقوم دی خبری ته مې خندا راغلل، مثال یې که څه هم لږ بې ډیزاین و خو رښتیا ویل، حاجي په هر چا زړه بایللې وو، ماته یې ویل تاته کلونه په تمه وم اوس بیا خناس ته لګیا و، شاید مارد ته یې هم دا خبره کړې وه د زقوم خبره د سلو ښځو کونډ هر چا ته په تمه ناست وو.

د حاجي په غږ د زقوم څخه مې مخ وګرځو.
– اخر مجبور شوم د هغه بیعقل مارد سره معامله وکړم، اوسپنه، پیریان او حتا ستا زوی ورڅخه واخلم.

د حاجي په دې خبره د خناس له وجود څخه یو دروند فشار پورته شو چې د زندان شاوخوا موټرونه او ځمکه یې ولړزول.

زقوم په ورخطا غږ وویل: خپل قبر یې وکیندلو.
خو حاجي لکه هېڅ ویره چې ونه لري، یو قدم مخکې راغی.

@Shuhab09

– ته فکر کوې ما ستا زوی د ساتیرۍ لپاره نیولی و؟ نه... زه پوهېدم چې د هغه درد به بالاخره تا تر دې ځای راکش کړي.

خناس په لومړي ځل خبرې وکړې، خو غږ یې دومره دروند او ډارونکې و چې زما د وجود ویښتان یې زیغ ودرول:
– نو تا له قصد زه راوغوښتلم، پوهیږې د دې سزا څه ده؟!

حاجي د خناس خبرې ته په عجیب سکون غوږ ونیو. او پر شونډو بیا هماغه نری موسکا خپره شوه ته وا د خناس قهر ورته کومه مانا نه لري.

کرار یې وویل: سزا؟ ته فکر کوې زه له سزا وېرېږم؟
بیا یې خپل لاسونه لږ وغځول. د وجود شاوخوا تور لوګی یې د مارانو په شان وخوځېد.

– خناس... ته او زه یو بل ته اړتیا لرو. ته په دې ښه پوهېږې.

خناس بې‌احساسه ورته وکتل.
حاجي دوام ورکړ:
– ما د انسانانو نړۍ ولیده... د پیریانو نړۍ مې هم ولیده. دواړه کمزورې دي. دواړه د پټو قوانینو غلامان دي. خو ما داسې ځواک واخیست چې دواړه قوانین مات کړم، او ته هم همدا غواړې ته تل د داسې کس پسې وې، چې دواړه قوانین مات کړي او یو نوی لاره جوړه کړي.

د شموئیل تندی تروش شو.
حاجي د خناس خواته یو بل قدم هم ورنږدې شو.
– زما سره مرسته وکړه، ترڅو دواړه خپل غوښتنو ته ورسیږو.

زقوم ناڅاپه په اندېښنه شموئیل خواته وکتل، ما هم احساس کړل چې د فضا فشار بدل شو.

خو خناس هېڅ غبرګون ونه ښود.
حاجي کرار،کرار خبرې کولای او جالب وه هغه غوښتل خناس وسوسه کړي! هغه کس چې خپل د وسوسه اچولو پلار وو!

حاجي- ته پوهېږې زه د څه خبره کوم... هغه ځواک... هغه ځای... چې ټول پیریان ورڅخه وېرېږي.

د خناس سترګې لږې تنګې شوې،حاجي موسک شو.
– ته د نورو پیریانو په شان نه یې. ته ولې باید د مارد، عفریت او زر نور کمزرور پیریانو خبره ومنی او د هغوی د قوانینو لاندی ژوند وکړې؟ ولې باید خپل ځواک محدود کړې؟

د هغه غږ کرار خو خطرناک شو.
– زما سره اوسه... زه به تا هغه څه ته ورسوم چې تر اوسه دې یوازې په کیسو کې اوریدلی، همغه ستاسو پخواني ځواک او شرف کوم چې انسانانو ستاسو څخه واخیست.

څو ثانیې چوپتیا خپره شوه، خو بیا خناس کرار خپل وزرونه راټول کړل او په داسې یخ نظر یې حاجي ته وکتل چې زما وجود ولړزېد.

– پوهېږې ولې تر اوسه مې ستا غږ ته جواب نه و ویلی؟
حاجي په تلوار وویل: ځکه زما سره کوم خاص ځواک نه و، خو اوس شته.
خناس کرار وویل: نه، ځکه مې ځواب نه درکو ځکه ته د ملاقات قابل نه یې.

د هغه غږ لا پسې دروند شو.
– قرنونه کېږي چې انسانان زموږ نوم اخلي، موږ غواړي، زموږ په نوم قربانۍ کوي، خو موږ ... موږ نه ورځو، ځکه ستاسو نسل کمزوری، حریص او خاین دی.

د حاجي موسکا لږه کمرنګه شوه، خناس یو قدم مخته لاړ.
– خو ته...
د هغه سترګې د اور په شان وځلېدې.
– ته دومره احمق وې چې زما د ځواب نه در کولو باوجود دې زه په زور وغوښتلم.
حاجي لکه چې د خطر احساس کړې و، ځکه ناڅاپه يې موضوع بدل کړل او په تلوار يې وويل: زه خپل روح غوارم په شیطان باندی خرڅه کړم.

خناس په پوسخند سر وخوځاوه:
– روح! ستا وجود کې د روح په نوم کوم شئ نه دې پاتي چې ته وغواړې وړباندی معامله وکړې ... هغه هم د لوی مشر سره ... د انسانانو روح تر هغه وخت پاک او د معاملې قابل ده تر کوم وخت چې زموږ د نرۍ په تور ځواکونو نه وی اخته شوی، خو ستا روح ... تا د تور جادو په استعمال خپل روح له وخت خرڅه کړی.

د خناس په دې خبره زما سترګي د حیرت پراخي شوی، د هغه دا خبره یو دم صحیح وه، د پیغمبر"ص " حدیث دې فرمایي تر هغه وخت د یو انسان جادو اثر نه کوی تر کوم چې هغه انسان په جهنم کې خپل خیمه نه وې درولې، مطلب تر څو چې کفر ته نه وی اوړیدلې جادو یې کار نه کوی، او د حاجی جادو کارو کو! نو مطلب د ده ایمان او کوم روح چې خناس یادول هغه له وخت تللې وه!

حاجي د دې خبرو په اوریدو لا ورخطا شو، غوښتل يې کوم بل څه ووایې خو د هغه څخه مخکې د خناس له وجوده یو توره دوره پورته شوه او د زندان شاوخوا ځمکې باندی حلقه ووهل حتا د حاجي شاوخوا تور لوګی هم شاته کړ.
خناس په کرار، خو د مرګ څخه په ډک غږ وویل: اوس چې دی راغوښتلې یم نو تګ به مې بې څه نه وی.

د دې خبرې سره سم د خناس په سترګو کې د اور په شان سره لمبې لا پسې تیزې شوې او کرار، کرار د حاجي خواته ورنږدې شو.

د هغه د هر قدم اخیستلو سره د زندان شاوخوا فضا لا پسې درنېده، ما داسې احساس کاوه لکه ساه اخیستل چې شیبه په شیبه راته سخت کیږي. د حاجي شاوخوا تور لوګی لا هم په کراره خوځېده، خو اوس هغه لوګی د خناس د موجودیت مخې ته کمزوری ښکارېده.

حاجي غوښتل هغه منحوس موسکا خپل پر شونډو وساتي او خپل وېره ونه ښايي، خو د لاسونو رپیدل، او ژر،ژر د خولې لاړې تېرولو یې هر څه ښکاره کول.خناس د هغه مخ ته ودرېد.بیا یې خپل لاس کرار پورته کړ او د حاجي پر اوږه یې کېښود. حاجی دومره وېرېدلې و چې حتا د یو ګام شاته اخیستلو جرئت یې لا نه درلود. د خناس لاس چې د هغه پر اوږه کیخودل شو بدن یې د وېرې څخه ولړزېد.

خناس خپل د اور په شان سترګې د هغه سترګو ته ونیولې، د حاجی لځایه زما ساه د هغه نظر په لیدو درنه شوه، دا همغه نظر و ... هماغه دروند، منحوس نظر چې لومړۍ ځل لیدو باندی ما ته راچولې و او ما احساس کاوه چې زما ذهن ته رانونتلې، د بدن ویښتیان مې د وېرې څخه ودرېدل، احساس مې کاوه چې شاوخوا هوا بیحد درنه شوی.

زقوم نیم ګام شاته واخیست او په اندیښمن لهجه یې وویل: غ... غوارې څه وکړې؟! د هغه د دی پوښتني ځواب زما سره نه و، نو ځکه د شموئیل خواته مې وکتل.خو شموئیل بېحرکته ولاړ و، لاسونه یې شاته تړلي وو او په خاموش نظر یې خناس ته کتل... ته وا د هغه د دې کار سره چې موافق وی؟!

څو ثاني یو دم خاموشي وه او خناس یوازی د حاجي سترګو ته کتل خو بیا ناڅاپه حاجي داسې چغه کړه چې زما زړه یې د ډېر وېرې څخه خولې ته راوړو.

— نــــــه!!

د هغه بدن په شدیده توګه په رپېدو شو،دواړه لاسونه یې خپل سر ته ونیول او پر زنګنو ولوېد.

— نــــه!! ودروه... ودروه!! بس ... دی ... بس دی...

د حاجي د سترګو شاوخوا رګونه تک تور راوتلي وو داسې ښکارېده لکه کوم وحشتناک شی چې يې ذهن ته ننوتی وي.

يو دم يې خپلو سترګو ته حمله واچول لکه غوښتل يې د سترګو په راايستلو هغه وحشت له ذهنه وباسي.د سترګو څخه يې وينې راوبهېدې.خو چيغې يې لا پسې زياتې شوې.

— نه!! زه نه غواړم هغه ځای ووينم!! نــــــــه!!

د هغه چيغې دومره وحشتناکې وې چې حتا د زندان شاوخوا ولاړ پيريان هم په وېره شاته ولاړل.

ما په رپېدلي غږ وويل: هغه... هغه ته څه ښيي؟

زقوم په ټيټ او وېرېدلي غږ وويل: خناس د هغه ذهن ته ننوتي، او دومره پوهيږم چې هغه څه ورته ښايي کوم چې د انسان ذهن يې د زغملو طاقت نه لري.

حاجي پر ځمکه راولوېد،خپل مخ يې په خاورو موښه او لا يې هم په چيغو ويل: وباسه... ما له دې ځايه وباسه...!

دا کار شايد دوه دقيقې وخت لا ونه نيو، خو همدومره وخت کافي و چې حاجي خپل پر لاسونو خپل ځان ټوټه،ټوټه کړی، سترګې خو هېڅ ښکاريدل نه، يوازې وينه وه چې ورڅخه راتلل د سترګو وروسته، خپل غوږونو کې ګوتې ننويستلې تر څو خپل د ذهن غږونه بند کړي، خو د غږو بنديدلو لځايه يې خپل د غوږ پردی وشلولې، کله چې بيخی د توان ووليد، هغه وخت خناس ورڅخه نظر واخيست.

د هغه د نظر اخيستلو سره حاجي لکه بې ساه جسد په شان پر ځمکه وغځېد. ټول بدن يې رپېده او لا يې هم خپل پر وينو لړلي لاسونه پر سترګو نيولي وو.

@Shuhab09

خناس خپل عادي شکل ته راوګرځېد او خپل وزرې ټولې کړل. بیا یې د حاجي خواته په سپک نظر وکتل او په کراره، خو د ریشخند څخه په ډکه لهجه وویل: دا د هغه جهنم د دروازې یو کوچنی انځور و، کوم چې تا غوښتل خلاصه یې کړې، جادوګره ..

بیا یې لړ سر ټیټ کړ او په کلک لهجه یې وویل: ډېر بد دې وکړل چې زه دې راوغوښتلم، د عمر تر آخره به نور د ارام ورځ ونه وینې.

د دې خبرې وروسته یو دوه ګام شاته شو خو لا هم د حاجی خواته یې کتل،حاجي پر ځمکه پروت و، ساه یې په سختۍ راوتله او د وینو لړلي لاسونه یې پر سترګو کلک نیولي وو، ته وا لا هم وېرېده چې که سترګې خلاصې کړي نو بېرته به هماغه وحشت ووینې. البته که سترګې ورته پاتي وی!

خناس- دا لا پیل دی ډېر نور لاره مخته لرو.
د حاجي بدن ورپېد او د وېرې څخه په ډک غږ یې وویل: نــ... نه...

د حاجي د وېرېدلې غږ په اوریدو د خناس پوسخند لا ژور شو، چې شموئیل په درنو قدمونو د هغوی خواته ورنږدی شو، لومړی نیم نظر د حاجي خواته واچو بیا یې د خناس خوا ته وکتل او ویې ویل: خپل کار دې وکړ خناس .. اوس نو راځه خپل زوی واخله او د دی ځایه لاړ شه ..

خناس بغیر له دې چې شموئیل ته وګوري، کرار وویل: لاړ شم؟ زما خو لا کار نه دی خلاص.

شموئیل- غواړې څه وکړې؟
خناس د سترګو د کونج څخه د زندان خواته وکتل او بیا د شموئیل خواته راوګرځید او ویې ویل: کوم انسان چې ما دعوت کړي، هغه نور زما دی.

د شموئیل تندی تروش شو، خوله یې مخالفت ته خلاصه کړه خو خناس ورته د خبرو موقع ورنه کړه.

– ته پخپله ښه پوهېږې شموئيل... کله چې يو انسان موږ په خپله خوښه راوغواړي، نو هغه وخت زموږ تر منځ جوړ شوی قوانين لمينځه ځي ..
بيا يې خپل د اور په شان سترګې د حاجي پر خوا واړولې.
– او دې انسان زه په زور راغوښتی يم، نو خبره ختمه ده .. دا نور زما دی.

د دې خبرې سره سم د زندان پر خوا روان شو، شموئيل ځو شېبې په خپل ځای کې ودرېد او په تروش تندی شاوخوا وکتل ته وا په ذهن کې چې کوم مشوره د ځان سره کوی؟ بيا يې خپل څو پيريانو ته اشاره وکړه.

– ديته ګوری.

اشاره يې د حاجي خواته وه، چې لا هم پر ځمکه رغړېده او د وېرې څخه په ډک غږ يې "نه... نه..." ويل.

پيريان چې د حاجي خواته نږدی شول شموئيل هم د خناس پسې د زندان خواته روان شو، ذهان هم سمدستي ورپسې شو، خو زندان ته د ننوتلو مخکې شموئيل ودريد او مخ يې شاته راوګرځو، خپل زوی چې خپل شاته وليد نو په درنه لهجه وويل: ته همدلته پاتې شه.

ذهان ودرېد او شموئيل زندان ته ننوت، خو د ذهان د څېرې څخه ناخوښي له ورايه ښکارېده.زقوم پخندا ورباندی غږ کړ:
– مه خپه کېږه... پلار دې ستا لپاره دا خبره وکړل.

ذهان په تروش نظر د زقوم خواته وکتل:
– څه مطلب؟
زقوم اوږې پورته کړې:
– هغه ځای خالص اوسپنه ده. پيريان د هغې مقابل کې د درېدو توان نه لري. که دننه لاړ شې، ځواک به دې کمزوری شي او امکان لری خوږ شې.
ذهان کرار وويل: نو پلار مې ولې ننوت؟

زقوم پخندا سر وخوځاوه:

– ځکه هغه شموئيل دی.

ذهان نور څه ونه ويل او خاموش ودرېد. ما هم ځان د زقوم خواته لږ نږدې کړ او کرار مې وويل: زه لاړ نه شم؟

زقوم راوکتل.

– چېرته؟

د زندان خواته مې اشاره وکړه، چې د زقوم تندی تروش شو.

– هلته کومه مفته بوډۍ نه وېشل کېږي چې ته غواړې لاړ شې.

- پوهيږم، خو زه اوس کوم ځواک نه لرم، نو هغه اوسپنه هم کوم ضرر نه شي رارسولای. شايد شموئيل مرستې ته اړتيا ولري؟!

زقوم په پوسخند راوکتل او ويې ويل: ته خپله مرستې ته اړتيا لرې، ضرورت نشته د نورو غم وکړې.

بيا لږ رانږدې شو او په کراره يې وويل: دا يوه خبره زما لخوا د نصيحت په توګه ياد ساته... هر حالت او هر وخت کې تر ټولو مهم کس ته خپله يې. تل لومړی ځان ته فکر وکړه، بيا نورو ته.

غوښتل مې ورته ووايم چې زه ستا په شان نه يم، چې په هر حالت کې يوازې خپل د ځان په غم کې اوسيږم، خو د زندان له دننه څخه يو دروند غږ پورته شو او خبره مې په خوله کې وچه شوه.داسې غږ و، ته وا کومه غټه اوسپنه چې پر ځمکه راغورځېدلې وي.

ذهان سمدستي د زندان خواته وکتل.

– دا د څه شي غږ و؟

زقوم په بې‌پروايۍ اوږه پورته کړه.

– مه وېرېږه، تر څو چې شموئيل او خناس دننه وي، حالت د هغوی تر کنټرول لاندې

دی.

د زقوم د خبرې سره سم د زندان له دننه څخه یو بل غږ هم پورته شو. دا ځل د هغه غږ سره د څو کسانو د چیغو اواز هم ګډ و.

ذهان یو قدم مخته واخیست.
– پلار مې...

خو لا د زندان دروازې ته نه و رسېدلی چې ناڅاپه دروازه په زور خلاصه شوه.
ما بې‌اختیاره شاته ګام واخیست،د زندان د تیاره دهلیز له منځ څخه لومړی کس چې راووت، خناس و.

د هغه غټې تور وزرونه نیم خلاص وو، او تر شا یې شموئیل او لسګونه پیریان راووتل.خو زما نظر د هغوی ټولو تر منځ سمدستي هغه کوچني موجود ته ولاړ، کوم چې خناس تر خپل غټ وزر لاندې نیولی و. همغه و...همغه د اور په شان سرو سترګو والا موجود.اوس چې مې واضح ولید، د هغه وخت څخه لا ډېر کمزوری او دردمند ښکارېده. هغه دومره لوی نه و، یوازې یو کوچنی موجود و.

د بدن رنګ یې تک سور و، پر سر یې واړه سره ښکرونه ولاړ وو او نري، نازک وزرونه یې تر شا رېپېدل.هغه دومره کمزوری ښکارېده لکه هره شېبه چې به مړ شي. خو عجیب دا و...کله چې یې سترګې پورته کړې، مستقیم یې زما خواته راوکتل.
ما هم سترګې ورباندې ټینګې کړې،هغه څو شېبې همداسې راوکتل، بیا یې خپل کوچنی لاس د خناس د غوږ خواته یووړ او کرار یې څه ورته وویل.

خناس خپل غوږ د هغه خواته ټیټ کړ او په توجه سره یې د خپل زوی خبرو ته غوږ ونیو.څو ثانیې وروسته یې سر پورته کړ.او مستقیم یې زما خواته راوکتل.د هغه د نظر په لیدو ناارامه شوم او بې‌اختیاره مې یو قدم شاته واخیست.د خناس د اور په شان سترګو کې که څه هم هغه پخوانی قهر نه و، خو یو عجیب دروندوالی لا هم پکې موجود و.

خناس خپلو دوو پیریانو ته چې تازه مې د هغوی شتون ته پام شوی و اشاره وکړه.
هغوی سمدستي د خناس خواته راغلل.
خناس ورته یو څه وویل چې هغوی د سر په خوځولو تایید کړل.
بیا یو یې هغه کوچنی موجود د خناس څخه واخیست، بل بیا د حاجي خواته لاړ، کوم چې پر ځمکه په نیم بې‌سده حالت کې پروت و او تر اوسه یې د لیونیانو په شان له ځان سره "نه... نه..." ویل.

هغه پیري حاجي په یو جست له ځمکې راپورته کړ او د ځان سره یې بوتلو.
په حیرت مې ورپسې کتل،دوی غواړي څه ورسره وکړي؟ اصلاً چیرته یې وړي؟
خو زما د پوښتنې ځواب لا نه و پیدا شوی چې هغه دواړو پیریانو خپل وزرونه خلاص کړل او مخ پر اسمان په الوتو شول. ړما تر هغو د هغوی پسې کتل تر څو یې سیوري د شپې په تیارو کې ورو، ورو ورکیدی.

د هغوی د تلو وروسته فضا ناڅاپه عجیبه خاموشه شوه.
شموئیل په درنه لهجه هغو پیریانو ته چې د زندان څخه راوتلي وو اشاره وکړه:
– ټول لاړ شئ.

هیڅا کوم بحث ونه کړ او یو د بل پسې د تیارو په منځ کې ورک شول، تر دې چې یوازې زه، زقوم، شموئیل، ذهان او خناس پاتې شو.
کله چې ټول ولاړل، خناس په درنو خو کرارو قدمونو زما خواته رانږدې شو.
له هغه څخه مې ښه احساس نه اخیست، نو ځکه په رانږدې کېدو یې د زړه درزا مې تېزه شوه.

زما مخې ته ودرېد،د څو ثانیو لپاره یې یوازې راوکتل، بیا یې کرار وویل: زوی مې ستا څخه مننه کوله.

په حیرت مې وروکتل،زما څخه یې مننه کوله؟!

خناس- ویل یې دې انسان په سترګو کې مې همدردي ولیده.

خوله مې وچه شوه،نه پوهېدم څه ووایم.
خناس ځو شېبې چوپ پاتې شو، بیا یې په درنه لهجه وویل: تا زما زوی وژغورلو... نو باید انعام درکړم.

د خناس د "انعام" په لفظ سترګې مې د حیرت پراخې شوې او بې‌اختیاره مې د شموئیل خواته وکتل.

خو هغه یوازې په خاموش نظر مورې ته کتل،نه یې د خناس خبره بنده کړه، نه یې کوم غبرګون وښود.

ذهان هم چوپ ولاړ و، خو زقوم خوشحاله ښکارېده،خناس یو ګام نور هم رانږدې شو.

– ووایه، انسانه... څه غواړې؟

د هغه غږ که څه هم درند و، خو غوسه پکې نه ښکاریده، بې له څه ویلو مې وروکتل. ذهن مې دومره ګډوډ و چې نه پوهېدم د داسې موجود څخه څه وغواړم. زما په نظر خناس سره تر پایه مصیبت او خطر و، نو ځکه مې جرئت نه درلود چې کوم څه ورڅخه وغواړم.

زقوم د سترګو په اشاره پوه کړم چې یو څه وغواړم، خو زه لا هم چوپ ولاړ وم. تر دې چې خناس کرار وویل: ژر ووایه، زه نه دومره وخت لرم او نه هم دومره صبر. ژوره ساه مې واخیسته او په کلک غږ مې وویل: هېڅ... زه له تا هېڅ انعام نه غواړم.

د ذهان سترګې لږې پراخې شوې، شاید د داسې ځواب تمه یې نه درلوده. زقوم هم د غوسې څخه تندی تروش کړ، او بې له دې چې څه ووایي پوهېدم چې په زړه کې کنځل راته کوي.

خو د شموئیل پر شونډو نرۍ موسکا خپره شوه.
خناس څو ثانیې بې‌حرکته پاتې شو، بیا یې کرار وویل: پوهېږې څنګه وړاندیز ردوې؟ همدا څو شېبې مخکې دې په خپلو سترګو ولیدل چې هغه انسان د همدې موقع لپاره خپل روح خرڅولو ته تیار و... او ته وایې هېڅ نه غواړې؟

په هماغه کلک غږ مې وویل: هغه د جادو په کولو خپل روح خرڅه کړی وه، خو زه شکر مسلمان یم او زما ایمان وایي چې مرسته او غوښتنه باید یوازې له یو خدایه وشي، نه د شیطانانو او پیریانو څخه.
بیا مې کرار دوام ورکړ: او ما ستا د زوی سره د دې لپاره همدردي ونه کړه چې د کوم انعام تمه ولرم، ما ورباندې زړه وسوځېد.

یو لحظه چوپ شوم، خو بیا بې‌اختیاره مې په پوسخند وویل: البته فکر نه کوم ته په همدردۍ او زړه‌سوي پوه شې.

زما په دی خبره ناڅاپه زقوم په ټوخېدو شو،شاید باور یې نه کېده چې ما هغه خناس ته، کوم چې ده دومره اسمان ته پورته کړی و، داسې مخامخ توند ځواب ورکړی وو.شموئیل هم یو ګام زما خواته رانږدې شو. ښایي هغه هم د خطر احساس کړی و.

خو برعکس، خناس د غوسه کېدو پر ځای مستقیم زما سترګو ته راوکتل.
د هغه نظر دروند و، ته وا زما د ذهن دننه کوم څه چې لټوي! خو بیا ناڅاپه په کراره یې وخندل.لومړی ځل و چې د خناس خندا مې اورېده او عجیبه دا وه چې د تمسخر پر ځای پکې یو ډول حیرانتیا ښکارېده.

– عجیبه انسان یې...
بیا سر تر پښو راوکتل:
– ډېر وخت کېږي چې ستا په شان انسان مې نه و لیدلی.

په حیرت مې ځانته اشاره وکړه:
- زما په شان؟!

خناس بغیر له دې چې نظر راځخه واخلي ووېل: هو، ستا په شان .. اکثره انسانان چې زموږ نوم اوري، یا د ځواک لپاره ځان خرڅوي... یا د وېرې څخه پر ځمکه رپېږي.

بیا یې لږ سر کوږ کړ.
— خو ته... دواړه نه یې.

نه پوهېدم څه ووایم، زړه مې غوښتل ژر تر ژره راځخه لرې شئ او لاړ شې... شتون یې یو بد احساس او نفس تنګي راکول.
خناس کرار خپل لاس پورته کړ، د هغه په دی کار بې اختیاره مې یو ګام شاته واخیست، چې هغه خپل ګوتي د نامفهوم الفاظو د ویلو سره هوا کې وخوځول چې یو نری تور مانند لمبه د لوګی په شان د هغه د ګوتو شاوخوا راپیدا شو.

شموئیل سمدستي تندی تروش کړ.
— خناس...

خو خناس یې خبرې ته پام ونه کړ،هغه تور لوګی زما خواته راخوشی کړ، چې د وحشت څخه مې سترګي خلاصی پاتي شوی،غوښتل مې شاته شم خو پښې مې لکه پر ځمکه چې ترږل شوی وی، ښور مې نشو خوړلې.
هغه تور لوګی په تېزې سره زما خواته راغې او بغیر له دی چې زه کوم کار وکړی شم، زما د اوږی چپ اړخ باندی ولګید، عجیبه تودوخه مې د هغه په لګیدو محسوس کړه.لاس مې سمدستي خپل د اوږی خواته یووړ.

- دا... دا دې څه وکړل؟
خناس کرار ووېل: انعام ..

د زقوم سترګې د ډېر حيرت څخه پراخې شوې او په داسې غږ چې ناباوري په کې څرګنده وه وويل: مهـــــر ...؟!

شموئيل هم حيران ښکارېده.
ما په ګنګس نظر د هغوی حيرانو څېرو ته وکتل او ومې ويل: مهر؟(ټاپه) دا نو څه دی؟

خناس څو ګامه راڅخه ليرې شو او هماغه حال کې يې کرار وويل: دا مهر شايد تا له هر مصيبته ونه ساتي، خو هغه مصيبت چې زموږ لخوا تاته رارسيږي، تر ډېر بريده د هغه څخه دې ساتنه کوي.
بيا يې په درنه لهجه دوام ورکړ:
— له دې وروسته هېڅ شيطان دا جرئت نه شي کولای چې زما لخوا مهر ورکړل شوي انسان ته زيان ورسوي. که يې وکړ... نو مانا يې مستقيم زما مخالفت او دښمني ده.

که رښتيا ووايم، د هغه د نيمو خبرو په مانا پوه نه شوم.يوازې خپل اوږه مې نيولې وه چې لږ سوخت او درد يې درلود، خو کومه نښه يا مهر چې دوی ياداوه، ما ته نه ښکارېده.

خناس يو ځل بيا زما خواته راوکتل او د تلو مخکې يې وويل: دا مې ځکه درکړ، چې همدردي زموږ په نړۍ کې نايابه ده.

بيا يې سترګې لږې تنګې کړې.
— خو غلط فکر مه کوه، انسانه...که يوه ورځ دې دا باور مات کړ... همدا نښه به دې تر ټولو لوی عذاب شي.

د دې خبرې سره سم يې خپل غټ تور وزرونه خلاص کړل.
د وزرو په خلاصېدو يې شاوخوا خاوره هوا ته پورته شوه، ما ژر خپلې سترګې په لاس پټې کړې.څو شېبې وروسته د هغه د وزرو دروند غږ پورته شو.کله چې مې

سترګې خلاصې کړې، نو خناس د زندان پر سر ولاړ و.
ناڅاپه يې په بېحد شدت خپل وزرونه وښورول،د وزرو له سخت حرکت سره يې غليظ تور لوګی شاوخوا خپور شو او د زندان هغه کلکې اوسپنې داسې ولړزېدې چې کړس يې پورته شو.

په بله شېبه کې د اوسپنې ځينې برخې د ټوټو په شان هوا ته والوتې، د اوسپنې ټوټې د شپې په تياره کې د بريښنا په شان وځليدې خو بيا ناڅاپه ورکې شوی.
زما سترګې د حيرت څخه پراخې شوې.د حاجي د جوړ کړي زندان څخه تقريباً هېڅ نه وو پاتې... يوازې څو ټوکران او فرشونه پر ځمکه پراته وو.د اوسپنې يوه ذره هم نور نه تر سترګو کيدل.

د دې کار وروسته خناس کرار، کرار اسمان ته پورته شو او ډېر ژر د شپې په تيارو کې ورک شو.

زقوم چې دا صحنه وليده، پخندا يې شموئيل ته وويل: ښه و... تاسو ته يې هم انعام درکړ. ستاسو د نرۍ اوسپنه يې درورسوله. فکر کوم په دې منځ کې يوازې زه يم چې هېڅ مې په برخه نه شول!

شموئيل کرار خپل نظر له هغه ځايه راوګرځاوه چې څو شېبې مخکې زندان و، خو اوس هېڅ نه وو ورڅخه پاتې او کرار يې وويل: فکر کوم، تاته يې هم درکړ.

زقوم په حيرت وويل: څه؟
شموئيل- دننه زندان کې يې ستا سپارښتنه وکړه. ويل يې ډېره سخته سزا درنکړم او ستا خبره تخفيف درکړم.

د زقوم د مخ رنګ يو دم بدل شو.
بيا يې په ناباوره لهجه وويل: نه... هسې زما زړه خوشحالوي. خناس او د چا سپارښتنه کول؟ ناممکن.

شموئیل سر وخوځاوه.
– زړه دې نو چې منې او کنه؟ البته زه هم د هغه خبره دومره نه منم، خو کوښښ کوم ټاکلې سزا دې لږه کمه کړم.

زقوم څو شیبې چوپ پاتې شو، بیا یې په خوشحاله لهجه وویل: ستا څخه خو ګیله نشته... خو باید د خناس څخه مننه وکړم چې لږ شعور یې درلود.

زما نظر لا تر اوسه د اسمان خواته و،د خناس د وزرو غږ لا هم زما په غوږونو کې انګازې کولې. عجیبه وه...د هغه د تلو وروسته هم د فضا دروندوالی نه و ختم شوی، ته وا د هغه موجود اثر لا هم پر هوا پاتې وي.

زقوم ناڅاپه زما خواته راوګرځېد او زما د اوږې په لیدو یې په حیرت وویل: باور مې نه کېږي... طاها، ته پوهېږې اوس څه وشول؟!
ما په ګنګس نظر وروکتل او ومې ویل: زما څخه د باور پوښتنه مه کوه، زقوم .. نن شپه مې دومره شیان ولیدل چې که یې چاته کیسه وکړم، مستقیم به مې د لیونیانو روغتون ته واستوي.

زما په دې خبرې شموئیل او ذهان کرار وخندل.
خو زقوم په هماغه حیران نظر رانږدې شو، زما اوږه یې په لاس کې ونیوله او ویې ویل: څومره عجیب مهر دی... د دې په اړه مې ډېر اورېدلي وو، خو هېڅکله مې نه و لیدلی.
بیا یې په بې‌باورۍ وخندل.
– د خناس مهر ... یا خو ستا قسمت ډېر قوي دی، یا زموږ قسمت ډېر خراب .. چې په مفت میدان دا مهر تا ته دوررسېد. کاش ما هم د هغه د زوی خواته یو د زړه‌سوي نظر اچولی وای، شاید دا مهر ماته هم را رسېدلی وای؟!

- بخیلي دې کېږي؟
زقوم سمدستي وویل: نه... خو پوهېږې که دا مهر راسره وای، بیا هېڅچا راته څه نه

شو ویلی. بېغمه ګرځېدم.

ذهان په خاموش نظر زما د اوږې خواته کتل، چې ما بې اختیاره وویل: ته یې وینې؟
ذهان په حیرت راوکتل.
– څه؟
خپل اوږې ته مې اشاره وکړه.
– هماغه مهر... زه یې نه وینم. ایا رښتیا هم شته؟ که هسې ټوکې کوئ؟

ذهان په حیرت لومړی شموئیل ته وکتل، بیا یې زما خواته نظر راوګرځاوه.
– ته یې نه وینې؟

زما د څواب مخکې شموئیل کرار زما خواته راغی او ویې ویل: نه... د طاها څواک نور له هغه سره نشته، نو ځکه یې نه شي لیدلی.
ذهان په حیرت وویل: یعنې نور ..
شموئیل یې خبره پرې کړه:
– هو، هغه نور کامل انسان دی ... البته په دی تفاوت چې د خناس مهر لري ...
نور نه زموږ بوی ورسره پاتې دی او نه هم زموږ څواک.

بیا یې زما خواته راوکتل او پخندا یې وویل: تاسو انسانان یو تکیه کلام لری چې وایست" دې شر کې زموږ خیر وو" اوس هم همغه چل وشو، د دی جادوګر په شر کې تاته ډېر خیر پروت و طاها ..

په حیرت مې وویل: خیر؟
شموئیل سر وخوځاوه.
– هو، خیر .. ته پوهیږی د خناس مهر عادي خبره نه ده. هغه موجود حتی خپل قبیلې ته هم په اسانه څه نه ورکوي.

زقوم پخندا وویل: عادی خبره؟! کوم خبری چې طاها خناس ته وکړل، زه په تمه وم په څواب کې هغه سر ورپرې کړی نه دا چې خپل مهر ورکړی.

د زقوم په دې خبرې مې په حیرت وروکتل، چې زقوم په همغه خندا وویل: که ستا لځای زه وایې د هغه خبرو وروسته مې یو لس ځله بښنه ورڅخه غوښتل خو تا سترګی د هغه سترګو ته اچولې وه او د ځان څخه دی قهرمان جوړ کړی و، پوهیږی که غوسه شوی وایې ژوندی یې نه پریخودلې!
ذهان ناڅاپه وویل: خو هغه غوسه نه شو.

د هغه په ناڅاپه غږ ټولو د هغه خواته وکتل، چې ذهان په کرار وویل: د هغه له څېری داسې ښکارېده لکه چې د طاها خبرې خوښې شوی وی؟!
شموئیل څو شیبې چوپ پاتې شو، بیا یې کرار وویل: صحیح وایې، خناس د طاها مخالفت خوښ شو، ځکه هغه د چاپلوس او حریص کس څخه بد راځې ..

زقوم په ریشخند خپل سترګې وځرخولې.
— خپل د ځان په شان عجیب خویونه لری ...
شموئیل- نور باید لاړ شو، د انسانانو نړۍ کې د اوسیدلو قانون لا تراوسه پخپل ځای دی، موږ حق نه لرو ډېر دیخوا راشو، البته بغیر د نن څخه ..نن یو استثنا وه.

د شموئیل په دی خبره زقوم په تلوار وویل: هو، ته یو دم رښتیا وایې ښه نو... زه به طاها تر کوره ورسوم.
شموئیل په کلک وویل: نه.

د زقوم پر خوله راغلې موسکا وچه شوه،چې شموئیل په هماغه کلک لهجه دوام ورکړ:
— خناس اوسپنه زموږ د نړۍ تر مرز رسولی د هغه ځای څخه د ټول اوسپنې ټولول او وړل ستا کار دی.

زقوم سمدستي په اعتراض امیز لهجه وویل: زه؟! ولې زه؟ دا دومره پیریان لری هغوی ته وو‌ایه.

شموئیل په بې‌تفاوته لهجه وویل: هو، ته .. څکه دا ټول مصیبت ستا د حماقت څخه شروع شوی ..

د ذهان پر شونډو نرۍ موسکا خپره شوه، خو زقوم تندی تروش کړ او د ځان سره یې په غوصه یو څه وویل.

چې ما په کراره وویل: نو زه د چا سره لاړ شم؟ زه اصلاً خبر نه یم چې چیرته یم؟
شموئیل- حافظه دی کمزروی شوی طاها!
بیا یې د سترګو له کونج د عزیزي خواته اشاره وکړه.
– ته د هغه سره ځې.

د شموئیل په خبره تازه مې فکر د عزیزي خواته شو، هغه مې بیخی لیاده وتي وو. شموئیل نور څه ونه ویل،څو قدمه شاته لاړ، بیا یې خپل لاس پورته کړ.تور لوګی د هغه شاوخوا تاو شو، خو د غیب کیدلو مخکې وویل: بیا لیدو ته دې راځم ماشومه ... او زما درکړې ګوتمۍ په لاس کړه، جیب کې ساتل کومه فایده نه لری.

د دی خبری سره سم ورک شو، په حیران نظر مې د هغه تش ځای ته سترګي ونیول، د هغه ګوتمۍ؟! هغه خو د حاجی .. په تلوار مې خپل جیب ته لاس کړ کله چې ټول شیان می راوویستل نو د رښتیا هم د شموئیل راکړې ګوتمۍ په همغه شیانو کی وه، پخندا مې د هغه خواته وکتل دومره یې په لیدو خوشحاله شوم چې حد یې نه درلود، د دی ګوتمۍ سره مې عجیب مینه پیدا شوی وه، ژر مې په ګوته کړل چې فیرزوي ځلا یې وکړل ..

نظر مې ورڅخه واخیست او هغه نور شیانو ته مې سترګی ونیول کوم چې د حاجی له جیب څخه مې راویستلی وه، یو کوچنۍ ځنځیر،ګوتمی، یو څو دانې کاغذونه چې عجیب شیان ورباندی لیکل شوی وه او یو څه ویښتیان ..عجیبه وه، خو ویښتیان د حاجي نه ښکاریدل د یو ځوان کس ښکاریدل. په حیرت مې د ویښتیانو خواته کتل دا ویښتیانو نو حاجی څه کول؟!

د ذهان په غږ د هغه خواته مې وکتل:
— دا شیان زیاتر د تور جادو وخت کې جادوګران کاروی، تور جادو زیاتر په انسان باندی د مربوط شیانو په واسطه کیږی، لکه ویښتیان، کالي،ګوتمۍ او هر هغه شئ چې هغه انسان کارولی وی .. ځکه جادوګران دا اعتقاد لری چې هر شئ چې انسان کاروی نو په مرور د زمان د انسان د وجود یو برخه روح هغه شیانو ته منتقل کیږی نو دوی وربانډی جادو کولای شې.

په حیرت مې هغه شیانو ته وکتل چې ذهان وویل: که زما خبره منې نو بغیر د پلار د ګوتمۍ څخه مې دا نور ټول شیان د خاور لاندی پټ کړه.
- ولې؟
ذهان- په دی ټولو تور جادو کارول شوی طاها، نو فکر نه کوم ساتل یې ښه کار وی.

زقوم چې تراوسه چوپ ولاړ و د ذهان په دی خبره په پوسخند یې زما خواته راوکتل او ویې وویل: هسې اپلتې وایې، ویې ساته په کار به دې راشی، که کوم شیطان پیری هم خواته دی درغلو نو غم نشته د خناس مهر لری ...

د دی خبری سره سم کرار د زندان خواته چې اوس ورخخه په تش میدان یوازی څو ټوکران او فرشونه پاتي وه روان شو، جالب وه بغیر د ویلو پوه شوم چې د زقوم مقصد او هدف څه دی! نو ځکه په تلوار مې په ذهان غږ کړ او ومې ویل: ویې نیسه ..

هغه په حیرت راوکتل زقوم هم ودرید چې ما بیا وویل: زقوم ونیسه او ویسه د دې ځایه همدا اوس.

ذهان چې زما په کلک لهجه د خطر احساس کړی و، د زقوم خواته په کتو شو چې زقوم په ګنګس لهجه وویل: اعصابو کېدی ېز شوی؟ ما پر تا څه کړی چې غواړی ومې نیسې؟!
- نه، اعصابو کې مې ېز نه دی شوی، خو پوهیږم چې غواړی څه وکړی.

زقوم په مشکوک توګه راوکتل:
— غوارم څه وکړم؟!
په پوسخند مې سر ورته وخوځاوه:
- دا یو هفته ستا سره یو ځای بندی کیدلو فکر کوم لږ فایده وکړل! ځکه پوهیږم چې د حاجي د صندوق پسی روان یې، او ذهن کې به دی یو معامله هم جوړه کړې وی چې دا به پر چا په کوم بیه خرڅوی!؟

زما په دی خبره د زقوم سترګی د حیرت راووتل، چې ما په همغه لهجه دوام ورکړ:
- خو، نور معامله نشته زقوم .. ته به ځې د شمویل د خوا درکړی سزا به تېروی او د هغه وروسته د یو نیک صالح قرین په شان بیرته راځی.

یو دوه ګام د هغه خواته نږدی شوم او په کراره مې وویل: که څه هم لومړۍ کې مو ښه یو بل سره و ډېول خو د دی وروسته به ملګری شو!
زقوم- ملګری؟! زما ګټه ستا په ملکرتیا کې څه ده؟!

د زقوم په دی خبره نرۍ موسکا مې پر شونډو راغلل، زقوم .. زقوم دی هیڅ حال کې نه بدلیږی:
- ګټه دی دا ده چې هفته کې یو ورځ کولای شې زما جسم ته راننوځي او هر چیرته او ځای ته چی دی زړه غواړی لاړ شو. البته خراب ځایونه او خراب کارونه نکوو.

زما په دی خبره زقوم څو شیبی په چوپ نظر راوکتل او بیا بغیر له دی چی زما خبره تایید کړی یا انکار ورڅخه وکړی د ذهان خواته روان شو، ذهان نیم نظر زما خواته راواچو، لکه زما څخه چې د تلو اجازه غواړی؟! جالب وه خو ذهان مې په همدی لومړۍ ځل لیدو خوښ شو.

سر مې ورته د تایید په توګه وخوځاوه، چې هغه هم مقابل کې کرار د شونډی لاندی "خدای پامان" وویل او د زقوم د اوږی پر نیولو غیب شو.

د هغوی په تلو شاوخوا مې وکتل، د دښتې یخه شپه، تیاره اسمان ... هر څه ناڅاپه ډېر خاموش شول. ژوره ساه مې واخیسته او کرار، کرار د عزیزي خواته روان شوم. چې خپل د موټر څنګ ته بې‌هوښه پروت و.شا یې موټر ته تکیه وه او یو لاس یې لږ پر وینو لړلی و، خو زخم یې دومره خطرناک نه ښکارېده. مخ ته یې کښیناستم، څو شیبې مې یوازې وروکتل، خپل ویښتیان یې د لومړۍ ځل په شان اخر ماشین کړی و، د ګریوان پورته دوه تنې خلاصې وه او هغه منحوس د مار ټېټو یې واضح ښکاریدل ..

د ده له لاسه دا ټول مصیبتونه زما پر سر راغلل، ده زه د و حشي سپیانو سره بندی کړم او پر هغوی ټوټه،ټوټه کړم، د همده له لاسه جنرال زما سره دښمن شو، که ده هغه ورځ جنرال نه وایې غوسه کړی شاید جنرال زما سره هغسې توند چلند نه وایې کړي، شاید بیخي خپل موټر ته نه وایې پورته کړی او شاید د حاجی سره نه وایی مخ شوی.

په دی فکرونو لاس مې پورته کړ، هسې هم بې هوښ دی، همدای وخت دی خپل د دې ټول عذابونو په بدل کې یو زندي څپېړه ورکړم! که پر هوښ راغي بهانه مې جوړه ده وایم ته مې راویښولې!

په دې فکر شیطاني موسکا مې پر شونډو خپره شوه، خو د وهلو مخکې د حاجي خبرې مې ذهن ته راغلې او لاس مې بېرته ودراوه.

دې زما څخه لا ډېر بدبخت دی، بیا هم په دې دومره بدبختۍ کې زما پسې تر دې ځایه راغلی، نو ګناه لري چې زه هم ورته اغیار شم او ویې وهم؟
د ده هغه خبره مې ذهن ته راغله چې تل به یې راته ویل: زما سره به دوکه نه کوې.

هغه وېرېده...
د دوکې، چل، فریب او یوازې پرېښودلو څخه.
هو...

@Shuhab09

سلطان عزیزي د یوازې پاتې کېدلو څخه وېره درلوده.
دا هغه حقیقت و چې شاید هېڅکله یې پر خوله نه وراوړی، خو د هغه له حرکاتو او خبرو څخه واضح ښکارېده.
څو شېبې مې د هغه بې‌هوښه څېرې ته وکتل.
د شپې یخ باد د هغه صفر ماشین شوی ویښتان کرار ښورول، لاس یې لږ په وینو لړلی و او سر یې د موټر دروازې ته تکیه و.

کرار مې د ځان سره وویل: تا زما لپاره ځان دومره خطر ته واچولو، ته بد انسان نه یې زماني بد کړې یې ..

عجیبه احساس مې درلود،نن ما زقوم ته د ملګرتیا لاس اوږد کړی و، او اوس هم ناست وم او د عزیزي لپاره مې همدردي احساسول!

سر مې وخوځاوه.
لکه چې لارم لیوني شوم، عزیزی ته همدردی! الله اکبر ..!

ښکته شوم او د عزیزي جیبونو کې مې لاس وګرځاوه.
د سګریټو قوطي او لیټر مې ورڅخه راوویستل او خپل جیب ته مې واچول.
بیا کرار د هغه له څنګ پورته شوم، هغه لا هم بې‌هوښه و.
نه پوهېدم کله به پر هوښ راشي، خو د هغه د راویښېدو مخکې باید ما خپل کار خلاص کړی وای.

د عزیزي د موټر خواته ورنږدې شوم.
هغه تل یو عادت درلود، په موټر کې به یې ضرور یو اضافي د پطرولو قوطي کیخودو. نن هم هماغسې و.قوطي مې راوخیست او د زندان د پاتې شوی شیانو خواته روان شوم.شاوخوا خیرن فرشونه، شلېدلي ټوکران او څه ناڅه لرګیان پراته وه.کرار، کرار مې فرشونه یوې خواته کول، تر دې چې بلاخره هغه منحوس صندوق مې پیدا کړ.

صندوق لا هم هماغسې تور او بدرنګه ښکارېده، ته وا لا هم کومه سا چې پکې بنده وي.بغير له دې چې خلاص يې کړم، شاوخوا مې ورباندی فرشونه راټول کړل او پطرول مې وربانديې واچول.د پطرولو تېز بوی سمدستي هوا کې خپور شو.
څو ګامه شاته شوم او جيب ته مې لاس کړ،غوښتل مې ليټر بل کړم او دا هر څه وسوځوم...

خو د ليټر وهلو مخکې ناڅاپه پام مې خپل لاس کې ګوتمۍ ته شو.
فېروزه يې ځلا يې د شپې په تياره کې عجيبه برېښدل ...
بې اختياره مې لاس له جېبه راوويست او د سترګو له کونجه مې شاوخوا وکتل.
زما څخه څو قدمه ليرې يو موجود ولاړ و.
ځکه چې تياره وه، نو لومړی مې سم ونه ليد او مجبور شوم سر پورته کړم او ښه ورته ځير شم.

پيری و، خو عجيب پيری و نه د عفريتونو په شان ښکارېده، نه د مارد پيريانو په شان، او نه يې د خناس د پيريانو غوندې وزرونه لرل.
د بزې په شان پښې يې لرلې، بدن يې د حيوان غوندې و، خو پر دوو پښو ولاړ و او لاسونه يې د انسانانو په شان وو.
قواره يې دومره عجيبه او وحشتناک وه چې عادي وخت کې شايد په لېدو يې وېرېدلې وايې خو اوس ... اوس که ډارېدلی وای، نو عجيب به و.

ما نن شپه دومره عجيب، او ډارونکې شيان ليدلي وو چې دا بدبخته راته تقريباً معصوم ښکارېده. هغه نه رانږدې کېدې او زه پوهېدم چې ولې نه رانږدې کېږي خناس ... د هغه د مهر له امله ليرې ولاړ و.
کله چې يې وليدل ورته ګورم، نو په ډېر غږ يې وويل: مه يې سوځوه.

بې له وېرې مې وروکتل:
- ولې؟

هغه شاوخوا وکتل، لکه غوښتل یې چې ډاډه شي چې کوم بل څوک نشته، بیا یې وویل: ځکه سوځول یې تا ته خطر لري.

دا ځل لږ حیران شوم،ځان ته مې اشاره وکړه.
- ما ته؟ د څه خطر؟
هغه څو شېبې خاموش و، بیا یې وویل: هو، تاته هغه کې د جادو شیان دی او ځینې جادو په سوځولو باندی فعال کېږي.
د هغه خبره راته منطقي ښکاره شول، رښتیا وایې حاجي چې کله غوښتل هغه منحوس جادو وکاروی نو تل به یې اور روښانه کو.

- ولې دا خبری ما ته کوی؟
– ځکه چې نه غوارم کوم څه دربانډې وشي.
- ولې؟
– ځکه تا زه ژغورلې یم.

د هغه په دې خبره لږه خندا راغله، جالب وه! نن ما څومره کسانو ته ګټه رسولې وه. په کراره مې وویل: یاد ته مې نه راځي چې ته مې کوم وخت لیدلې لا اوسیږی، ژغورل خو لا پرېږده.

هغه یو څو شېبې چوپ شو، د شپې باد د هغه د بدن شاوخوا دورې خوځولې.
بیا یې په همغه ډډ غږ وویل: زما نوم مردآزماي دی ..
(د خلکو په ولسي روایتونو کې "مرد آزمایی" دا هغه موجود دی کوم چې زړور خلکو ته راځې او غوارې هغوی وډار کړی، د همدی سبب خلکو په ده باندی د مرد آزمایي یعنې "د سړي ازموینه" یا "زړور انسان امتحانولو" نوم کیخودلې،خلک باور لري چې دا ډول پیریان په شاړو ځایونو، هدیره، غرونو، دښتو او یا تیاره ځایونو کې ژوند کوی. خلک وایي چې کله څوک ډېر وډار شي، عجیب سیوري، غږونه یا خوبونهویني نو هغه د "مرد آزمایی" کار وي.)

— کلونه کېږي چې په دې دښته کې اوسېږم، خو څو وخت مخکې هغه جادوګر دلته راغلو، او زه یې بندی کړم، خو نن هم ستا په واسطه آزاد شوم، څو ساعت کېږي چې دلته پټ وم تر څو، یوازې دې ووینم او مننه درڅخه وکړم.

جالب وه! بیحد راته جالب وه، موږ ژوند کې شاید د ډېر انسانانو سره مرسته وکړو خو هغوی یو وچ کلک"خیرو ویسي" به لا ونه وايي خو پیریان، نه یوازې مننه کوی بلکې انعام هم ورکوی! فکر کوم د انسانانو څخه بغیر هر موجود په احسان پوهیږي، د هغه خواته مې وکتل او ومې ویل: نو څه ورسره وکړم؟ څنګه یې د شر خلاص شم؟

— د خاورو لاندی پټ کړه، خو داسي ځای باید وی، چې انسانانو ورباندی تګ راتګ وکړی تر څو پیریان او شیطانان جرئت ونکړی ورته نږدی شي.

څو شیبې چوپ شو بیا یې په درنه او جدی لهجه دوام ورکړ:
— کوښښ وکړه، چې د ټولو د لاس څخه یې لری او خوند وساتي، دې صندوق کې هغه شیان دی که د غلط کس لاس ته ورشي تباهي به رامنځ ته کړی.

په پوسخند مې وویل: ستا په نظر تر اوسه د غلط کس لاس کې نه وه!؟
— هو، د غلط کس لاس کې و، خو هغه دومره هم هوښیار نه و.
هغه فکر کاوه د دې په واسطه د نور کسانو ځواک اخیستلې شي، خو خبر نه و چې اصل ځواک خپل د همدی دی.

د هغه په دې خبره په حیرت مې د هغه صندوق خواته وکتل:
- دې کې اخر څه دی چې دومره ستا خبره ځواکمن دی؟
— کتـــاب ...
- څه؟ کتاب؟
— هو، کتاب خو کوم معمولي کتاب نه دی، دا د تور جادو کتاب دی کوم چې اصل

کې د یو شیطان پیری لخوا لیکل شوی، هر کس د دی رمز او راز نشې حل کولای، هغه جادوګر هم یوازې د دی کتاب ځینې برخي ویلی وه.

- دا که دومره ارزښتمند کتاب دی، نو ولې ما ته راکوی؟ اصلاً دا کتاب څنګه د یو انسان لاس ته وولید؟
— نه پوهېږم، چې څه ډول د هغه جادوګر لاس ته ورغلې و، خو ته ورڅخه ساتنه کولای شې، ته د خناس مهر لری ...

د دی خبره سره سم بغیر له دې چې زما د کوم ځواب په تمه شې، کرار،کرار شاته شو او تیاره کې ورک شو، د هغه د تلو وروسته د هغه منحوس صندوق خواته مې څو شیبی وکتل بیایې خواته ورغلم د فرشونو او ټوکرانو لمینځه مې راوویست، که څه هم ډېر مې زړه غوښتل چې خلاص یې کړم او هغه کتاب کوم چې مردآزمای په اړه ویلې وه وګورم، خو اوس یې وخت نه و، د عزیزی د یو کس څخه چې بې هوښ پروت و پېتو مې راواخیست او صندوق مې ورباندی وپیچو، بیا خپل په همغه صندوق کښېناستم او هغه فرشونو ته مې اور واچو.

د اور لمبو شاوخوا فضا روښانه کړه، ما هم خپل جیب ته لاس کړ او د عزیزی د سګریټو قوطي مې راواخیست، دوه سګریټ پکې پاتې وه، بېحد مې نن زړه غوښتل چې سګریټ ووهم نو ځکه یو مې روښانه کړو او د اور لمبو ته په کتلو اوږد کش مې ورڅخه واخیست او خپل په فکرونو کې غرق شوم، نه پوهېږم څومره وخت به تېر شوی و خو زما د بل کړی سګریټ اخری کش پاتې و چې ...

— برهان ..!

د عزیزي غږ و. لاس مې هماغسې د سګریټ سره هوا کې ودرېد. کرکه لرم د دې نوم څخه، د مخکې هم چندان ښه مې ورڅخه نه راتلل او اوس ... اوس چې حاجي په اړه راته ویلې وه بیخي نو د دې نوم سره مې حساسیت پیدا شوی و، کرار مې سر د

@Shuhab09

هغه خواته وگرځاو. عزيزي لا هم موټر ته تکيه و، خو سترگې نيمې خلاصې وې. د اور د لمبو نارنجي رڼا يې پر سترې مخ لگېده.

د سگريټ اخري کش مې ښه غټ واخيست او د لوگي د خوشي کولو حال کې مې وويل: طاها... محمد طاها احمدزي مې نوم دی.

د هغه حيرت څخه ډکو سترگو ته چې د اور په رڼا کې پرقېدې بيا مې وکتل او دوام مې ورکړ:
- نو اميد لرم د دې وروسته دا نوم نور ما ته وانخلې، ښاغلی سلطان عزيزي.

عزيزي لکه چې نه زما په داسې شتون باور راتلو او نه هم زما په خبرو، شاوخوا يې د نظر لاندې تېر کړل بيا په سختې خپل لځايه راپاسيد او په کنگس، کنگس قدمونو زما خواته راغی. کله چې څنگ ته مې راورسېد نو په ځمکه کښېناست، څو شيبې يې ښه په ځېر راوکتل، بيا يې د هغه زندان خواته چې اوس يوازې تش ميدان و او ما وربانډی اور بل کړې و وکتل او ويې ويل: څه وشول؟
نظر يې د اور لمبو ته ولگېد.
— څه شی سوځوې؟

د اور لمبو ته مې وکتل او کرار مې وويل: زموږ د بدبختۍ ريښې.
عزيزی څو ثانيې چوپ شو، لکه زما په خبره چې نه وی پوه شوی، بيا يې کرار وويل: ته چيرته وې؟ څه دربانډې شوي؟
- همدلته وم ...
— هغه .. هغه کس...

عزيزي نه غوښتل ووايي "سايه"، شايد تر اوسه يې گومان کاوه دا کوم پټ راز دی.
په پوسخند مې خبره ورته اسانه کړه او ومې ويل: سايه...

د عزيزي سترگو کې لږ حيرت ښکاره شو، خو ډېر دوام يې ونکړ چې ما وويل: خپل د کارونو سزا يې وليده.

— د څه سزا؟ چیرته دی؟

اوږه مې پورته واچوله:

- زه هم نه یم خبر چې چیرته دی؟ خو دومره پوهېږم چې چندان ښه ځای کې نه دی.

عزیزي ښه شیبه بغیر د څه ویلو راوکتل، بیا یې خپل په سر لاس تېر کړ او ویې ویل: دا شیان، دا کسان، دا شپه... دا ټول عادي نه وو، طاها...

د سترګو له کونج مې وروکتل چې هغه دوام ورکړ:

— د ډېر کسانو څخه مې اورېدلي و چې سایي ته ځکه سایه وایې، ځکه چې د پیریانو په شان په سیوري کې اوسیږي او هر چیرته د سایې په شان د انسان پسې وي او جادوګر دي ... خو باور مې نه کیده، فکر مې کاوه هسې اپلتې دي.

په پوسخند مې وویل: څنګه، اوس دې باور وشو؟

د شپې یخ باد د اور لمبې وښورولې. د سوځېدلو فرشونو بوی له لوګي سره هوا کې ګډ شو. عزیزي بغیر د کوم ځواب راکولو خپل جیب ته لاس کړ، خو ژر یې تندی تروش شو.

— سګریټ مې چېرته دی؟

بې له دې چې ورته وګورم، د هغه قوطي مې له جیب څخه راوویست او د هغه غېږې ته مې وغورځاوه.

عزیزي په ناباورۍ خپل د سګریټو قوطي ته وکتل او ویې ویل: دوه پاتې وو... یو دې وهلی؟

- اعتراض لرې؟

— نه... خو عجیبه ده.

هغه د قوطي څخه اخري سګريټ راوويست، پر شونډو يې کېښود، چې ما ليټر هم د هغه خواته واچاوه، عزيزی د ليټر راخيستلو حال کې وويل: تا سګريټ وهل نه خوښېدل ...

په پوسخند مې سر وخوځاوه:
— ما ډېر شيان نه خوښېدل او نه خوښېږي؛ خو دا څو وخت ټول همغه کارونه کوم.
عزيزي د ليټر د بلولو وخت کې ودرېد، سترګې يې کرار زما خواته راوګرځولې:
— لکه څه؟

چوپ شوم، نه پوهېدم څه ځواب ورکړم. ورته ووايم نه مې خوښېدل چې هره ورځ د جادو لاندی ونيول شم، يا د هغه منحوس جادو په واسطه زما د وجود ځواک وباسل شي، هغه ځواک چې د پيريانو څخه ماته رارسيدلې وو، يا دا چې نه مې خوښېدل په هغه نفس تنګ کوټه کې ځنځېر په غاړه بندی شم، يا دا چې نه مې خوښېدل د يو جماعت شيطانانو، پيريانو، جادو او مرګ شاهد اوسېږم، يا دا چې اصلاً نه مې خوښېدل د يو رټل شوی شيطان مهر ولرم؛ حتا نه مې خوښيږی ستا سره کار وکړم خو، د نه خوښېدلو باوجود دا ټول شيان مې ليدلي او کړی ...

زما په ځواب نه ورکول عزيزي د سګريټ روښانه کولو حال کې نيم نظر راواچو او ويې ويل: برهـ ...

خبره مې په غوسه وربانديٰ پرې کړه:
— طاها... زما نوم طاها دی، حق نه لرې د دې وروسته خپل د مړ شوي کس نوم پر ما واخلې! زه نوم لرم، نو که غږ کوې د انسان په شان خپل نوم مې راته واخله، يا هر بل مرګ راته ووايه، خو دا نوم نور هيڅکله راته مه وايې، ځکه زه هغه نه يـــم ...او هيڅکله هم نه غوارم هغه اوسم.

عزيزي لکه چې د دومره توند چلند توقع زما څخه نه درلوده، ځکه د يوې شيبې لپاره د حيرت څخه جام ودريد، خو بيا يې ژر ځان راټول کړ او په غوسه يې وويل: څه

مرګ درباندې شوی؟ دا څو وخت هغه خبیث څه کار درسره کړی؟ ولې هره شیبه د لیوني سپي په شان دارې وهې؟

له دې چې زه یې د سپي سره مقایسه کړم سخت زور یې راکړ:
– زه سپی یم؟ ته خپل سپی یې، خپل القاب ماته مه اخله ...

غوښتل مې یو دوه نور کنځل هم خپل د خبرو سره وصل کړم او ښه خپل زړه ورباندې یخ کړم، خو کله چې ومې لید د عزیزي لاس خپل د جیب خواته لاړ نو چوپ شوم، هغه غوښتل توفنچه راوباسي! دغه شرم پاتي چې د دومره شیطانانو، پیریانانو او جادوګرانو لمینځه ژوند ووځم خو اخر کې د یو انسان په لاس ووژل شم ..

عزیزي چې زما ناڅاپه چوپتیا ولیده، کرار یې خپل لاس پر مخ راکش کړ او ژوره ساه یې واخیسته. لا هم ستړی او ګنګس ښکارېده. نظر یې د اور لمبو ته ونیو:
– زه نه پوهېږم څه شوي؟ او ته د څه لپاره نیول شوی وې؟ ما دا څو ورځې یو کس هم پرېښېود، کوڅه په کوڅه، کور په کور درپسې وګرځېدم خو پیدا مې نه کړې. ته راته ووایه، هغه رذیل ستا څخه څه غوښتل؟ څه کار یې درسره کړی؟ ولې دومره عصبي یې؟!

- هېڅ .. هېڅ نه دې شوی، د هغه ستونزه هم ستا سره وه ستا په خاطر یې زه نیولې وم.
– دروغ مه وایه طاها ... منم چې زه ډېر دښمنان لرم، خو سایې سره مې کوم کار نه دی کړی. چې د هغه په خاطر راشې تا ونیسي، ته هغه پیژنې؟!
په کلک مې وویل: نـــه.

عزیزي په مشکوک نظر راوکتل، لکه باور یې چې نه وی شوی، خو کرار یې وویل: سمده، زه دې درک کوم شاید درته سخته وي د هغه وخت په اړه خبرې کول، خو دومره خو ویلی شې چې هغه څه شو؟ دا (خپل د بې‌هوښه کسانو خواته یې اشاره وکړه) دا ټول ولې پر دې حال دي؟ تا ولې دا اور بل کړی؟ دا خو راته ووایه.

- ومې ویل نه پوهېږم چې هغه چیرته تللی؟ او نه هم پوهېږم چې ستا په کسانو څه شوي؟ خو دا اور .. یخ مې کیده ځکه مې روښانه کړ ..
عزیزی کرار وخندل، د سترګو له کونج مې وروکتل چې هغه خپل سر دواړو خواو ته وخوځاوه او ویې ویل: عجیب شوی یې طاها .. او عجیب خبرې هم کوې.

کوم ځواب مې ورنه کړ او د اور لمبو ته مې سترګې ونیولې، چې عزیزی خپل سترګې وتړلې، د ویده کېدو په څېر همداسې پټې کړې او دواړه لاسونه یې شاته پر ځمکه تکیه کړل.

د اور لمبې کرار، کرار کمزورې کېدې او د شپې یخ باد د دښتې پر خاموشۍ ګرځېده.
ناڅاپه یې همغسې په پټو سترګو وویل: د څه شي په اړه فکر کوې؟
څو شېبې مې ځواب ورنه کړ. بیا مې په کرار غږ وویل: د دې په اړه چې د دې وروسته به څه کېږي؟

عزیزی همغسي په پټو سترګو وویل: اومم .. څه به کیږی! خو د پخوا په شان ژوند به کوی.
په پوسخند مې سر وخوځاوه:
- ژوند! هغه ژوند نه دی کوم چې زه کوم.
سر مې پورته د اسمان خواته ونیو:
- هغه شکنجه ده او زه د دې شکنجې څخه نور ستړی شوی یم عزیزی ..

خپل د غږ په اوریدو حیران شوم! باور مې نه کېدې چې دا مات او دردمند غږ دې زما وی:
- نور د ځغاستلو، پټېدلو او جنګ کولو توان نه لرم، نور نه شم کولای هره ورځ په دی وېره تېره کړم چې الفا به څه کوی؟ بیا به یې کوم پلان جوړ کړی وی؟ پر ما حمله کوی که زما په کورني؟ زه نور د دی لوبي څخه ستړی راغلی یم عزیزی ...
زه حتا ستا څخه لا ستړی شوی یم نه مې خوښیږی هغه منحوس شرکت ته دی راشم او د یو نوکر په شان درته هره ورځ چای دم کړم.

ناځاپه د زقوم خبره ذهن ته راغله او په ترخه خندا مې وویل: نه کېږي، لږ تخفیف راکړي او ما د دې لوبې څخه وباسي؟

عزیزی په کامل چوپتیا کې راته غوږ نیولی و.
د هغه چوپتیا جرئت راکړ او دوام مې ورکړ: غواړم لږ ارام وکړم، له خپلې کورنۍ سره واوسم، له خپل زوی سره.
ستونی مې لږ بند شو:

- پوهېږې؟ د کوم وخت څخه چې ستاسو او ستاسو د دې مرداري نړۍ سره اشنا شوی یم، دومره بیکار شوی نه یم چې له هغه سره کښېنم او خبرې وکړم.
د اور لمبو ته مې وکتل:
- کله کله احساس کوم چې د هغه ماشومتوب رانه هسې تېر شو، ما د خپل زوی غټېدل ونه لیدل عزیزی؛ د هغه د ماشومتوب په شیطنتو پوه نه شوم. یو ګډ خاطره مو سره جوړه نه کړه، زه ډېر بد پلار یم...

چوپ شوم، خو د عزیزی دروند نظر مې پر ځان احساس کاوه. څو شېبې هغه هم چوپ و، بیا وروسته په ارام خو دروند غږ یې وویل: فکر کوم شاید درته لږ تخفیف درکړی شم.

په حیرت مې وروکتل، چې هغه وخندل او ویې ویل: ارمانونه دې هم د زړه په شان کوچني دي پیشو ..

بغیر له څه ویلو مې وروکتل، چې هغه ژوره ساه واخیسته:
— د دې وروسته نور الفا نشته ..
د هغه په دې خبره زړه مې درب وهل.
- څ... څه مطلب الفا نشته؟ چیرته دی؟

عزیزی په پوسخند پورته اسمان خواته اشاره وکړه، چې زما زړه د درزېدو څخه ودرېد.

عزیزی- خدای ته نږدې او د خدای د بندګانو څخه ډېر لیرې دی، نو نور په اره یې غم مه کوه...

د ډېر حیرت، وحشت او ناباورۍ څخه خندا راغله، خو عزیزی فکر وکړ چې د خوشحالۍ خندا ده، څکه په خوشحالۍ یې وویل: ومې وژلو .. نه یوازې هغه، بلکې د هغه سره مربوط ټول هغه کسان چې هغه ته وفادار وو، ټول مې ووژل او دا ټول ستا له برکته ..

په بنده،بنده لهجه مې وویل: ز... زما؟

عزیزی- هو ستا، نه پوهېږم تا څنګه او د کوم ځای خو زما د طلاوو دقیق آدرس دی د سایې هغه کس ته ښودلې و، هغه کس چې کله زما کسانو راګیر کړ او ستا آدرس یې د هغه د خولې څخه راوویست نو د الفا د مرګ لاسیک یې وکړ، ما ستا د ورکیدو په دریم ورځ الفا نیولې و، او هره ورځ مې شکنجه کاوه تر څو ستا د ځای آدرس راکړې خو هغه یوازې یوه خبره کول" ما نه دی تښتولی" خو زما باور نه راتلو...

بیا یې وخندل او ویې ویل: خو اوس مې باور راغلو هغه رښتیا ویل، ستا تښتول د هغه کار نه و، خو د هغه وژل زما کار و ..نو بېغم اوسه، الفا نور نشته. جنرال هم نشته، د جنرال پر وژلو کیدو د امنیت کسان د دې دوسیې څخه پر شا شول او په کامل ډول د الفا کیسه وتړل شوه. اوس نور هېڅوک نشته چې تاته څه ووایي، نو کولای شم تخفیف درکړم.

عزیزی لا هم په خپل خیال لګیا و، ماته یې دلداري راکوله، خو زما ذهن کې د هغه دا خبره چې ویې ویل: «الفا وژل شوی او مرګ یې زما پر لاس و» غوږونو کې انکازې کولې.له بلې خوا د حاجي خبره چې راته ویلې وه «الفا د عزیزی پلار دی...» ګرځیده.

یعنې عزیزی، خپل پلار وژلی و؟!
یعنې الفا تر اخره هغه ته ونه ویل چې ته زما زوی یې؟!

په دې فکر د عزیزی د خبرو منځ کې وغورځېدم او ومې ویل: څ ..څه یې ونه ویل؟
عزیزی په ګنګس انداز راوکتل:
— چا څه ونه ویل؟
- ا... الفا! د مرګ وخت کې یې تاته کوم څه ونه ویل؟
عزیزی ناڅاپه تندی تروش کړ، بیا یې پوسخند وواهه او ویې ویل: هو، ویې ویل.
په تلوار مې وپوښتل: څ... څه؟ څه یې وویل؟

عزیزی د اور نیمه مړه شوی لمبو ته سترګې ونیولې. د سګریټ لوګی یې کرار هوا ته خوشې کړ، بیا یې په بې‌تفاوته لهجه وویل: ویل یې ته مې مه وژنه ..

د زړه درزا مې ناڅاپه ودرېده،دوه سترګې مې د عزیزی خولې ته ونیولې، چې هغه بیا په پوسخند خپل د سګریټ څخه کش واخیست او د لوګي د خوشې کولو حال کې یې زما خواته راوکتل او ویې ویل: ما ته یې ویل ته د دې لایق نه یې چې ما ووژنې ..

بې‌اختیاره مې سترګې وتړلې.
الفا...
الفا...
باور مې نه راتلو یو انسان څنګه تر دې حد ظالم اوسېدلی شي؟ هغه هم پر بل چا نه .. پخپل ځان او پخپل اولاد ...! یعنې د مرګ تر شیبې عزیزی ته رښتیا ونه ویل، خو ولې؟

له یوې خوا خوشحاله وم چې بلاخره د الفا په نوم هغه بلا نور شتون نه لري، چې زما د مرګ پسې وګرځي، خو له بلې خوا... خپه وم. نه پوهېدم ولې. شاید ځکه چې زړه مې غوښتل هغه لږ تر لږه عزیزی ته رښتیا ویلي وای! دا د عزیزی حق و، خو کله چې د عزیزی خوشحاله څېرې ته مې وکتل نو کرار مې د ځان سره وویل: شاید همدا بېخبری دی په خیر کی وي!

عزیزی هغه هېڅکله نه شو بخښلی، عزیزی هغه ته د خپل کورنۍ د قاتل په نظر کتل. که خبر شوی وایې الفا یې پلار دی نو د دی څخه هم خبریدی، چې برهان څه کار وسره کړی او حتا ښځې .. شاید الفا هم دی خبرو ته فکر کړی و، نو ځکه مرګ ته یې په رښتیا ویلو ترجیح ورکړی و!

عزیزی چې د الفا د مرګ خبرې کولې، نو خوشحاله ښکارېده، داسې لکه بلاخره د کلونو وروسته چې خپل یو ډېر زورې دښمن د لارې لرې کړی وي. زړه مې غوښتل حقیقت ورته ووایم، خو د هغه حقیقت ویلو څه فایده چې درد ډېرولې شې خو درمان نشې کولای ..

د عزیزی په غږ د هغه خواته مې وکتل:
- هان؟ څه دې وویل؟

عزیزی د هغه صندوق خواته، چې زه ورباندې ناست وم، اشاره وکړه:
— وایم دا څه دي؟
- دا .. دا زما شیان دي.
عزیزی په خندا راوکتل:
— ستا شیان؟ ته دلته چکر ته راغلی وې چې ستا شیان دي؟
- نه .. خو اوس زما شیان دي، او خواهش کوم چې لاس ورنه وړې.

عزیزی په حیرت خپل وریځې پورته واچولې او پخندا یې وویل: مه وېرېږه، که ټول صندوق د طلاوو څخه هم ډک وي، بیا هم نه یې درڅخه اخلم.

ژر مې وویل: نه، طلا نه ده.
عزیزی- سمه ده، غواړې د ځان سره یې ویسې؟
- هو.

عزیزی د ځمکې څخه پاڅېد، خپل کالي یې وڅنډل او خپل وهل شوی سګریټ پاتي شوني د اور خاموش ایرو ته وغورځول، چې زه هم پاڅېدم. او هماغه وخت د

عزیزی کسان هم په ښورېدو شول. او د اخ او آه پر ویلو پر هوش راغلل. عزیزی صندوق راواخیست او خپل موټر کې یې کېښود، بیا یې ماته د پورته کېدو اشاره وکړه. بغیر د څه ویلو موټر ته پورته شوم. خو عزیزی د راپورته کیدلو مخکې اشرف ته چې ګنګس ناست و او شاوخوا یې کتل غږ کړ:

عزیزی- راځه د کتلو کوم شئ نشته موټر چالاند کړه.

اشرف په ګنګس انداز راپورته شو، خو کله چې پر ما نظر ولګید نو سترګې د حیرت پراخې شوی، خو د تل په شان د عزیزی مخ ته د کوم څه ویلو جرئت یې ونکړ او د موټر د شټرینګ شاته کښیناست.

موټر چې د سړک پر اوږد، خام او خاموشه لار روان شو، تازه لمر کرار،کرار د غرونو په سر راپورته شوی او خپل طلایي وړانګې د دښتې په تیاره خپره کړل، خو زما ذهن کې لا هم شپه وه.

عجیبه ده...
انسان ټول عمر د ځینو خلکو څخه د خلاصون لپاره جنګېږي، فکر کوي که هغه کسان ورک شي نو ژوند به یې ارام شي، خو کله چې ریښتیا هم ورک شي، نو د ارام پر ځای یو عجیب تشوالی پاتي شي.

الفا مړ و.
هغه نوم چې زما د هرې وېرې، هرې منډې او هرې بدبختۍ تر شا ولاړ و، اوس وجود نه درلود، خو د هغه د ختمېدو باوجود مې زړه لا هم درووند و.
شاید ځکه چې بعضې انسانان د مرګ وروسته هم نه ختمېږي.
هغوی خپل اثر د نورو انسانانو په ژوند کې پرېږدي. لکه زخم، چې انسان تر رغېدو وروسته هم کله، کله درد احساسوي.

نظر مې د موټر له ښیښې څخه دباندې واچو.غرونه، دښتې، اسمان، هر څه عادي ښکارېدل، ته وا هېڅ چې نه وي شوي.خو حقیقت دا و چې څو ساعت مخکې همدې

ځمکې د انسانانو، شیطانانو، نفرت، وېرې او مرګ ننداره کړې وه.
او تر ټولو عجیبه دا وه؛ چې دنیا بیا هم نه درېږي.

نه د چا په مرګ اسمان راپرېوځي،نه ځمکه د څرخیدو څخه درېږي او نه لمر د راختلو څخه انکار کوي. شاید همدا د ژوند تر ټولو بې‌رحمه حقیقت وي،چې نړۍ ستا د درد پروا نه لري.

سترګې مې پټې کړې، ذهن کې مې سل ډوله فکرونه ګرځېدل،په هغه فکرونو کې دوه فکر تر ټولو درانه وو.لومړی: زه به څنګه د خپلې کورنۍ، بابا، ادې، اقرا، استاد، ذوالفقار او نورو خپلوانو سره مخ کېږم؟
او دویم: ایا د عزیزی مور ژوندی ده کنه؟ او که ژوندی ده نو چیرته ده؟ او ایا عزیزی نور خپلوان لری؟! حاجی خو ویل عزیزی د مور لخوا نیکه، ماماګان او لوی فامیل درلود چی ټول هم غټ،غټ جنرالان او صاحب منصبان وه، نو اوس چیرته دی؟

د عزیزی په غږ د هغه خواته مې وکتل:
– غواړې خپل کور ته لاړ شې؟!

یوه شېبه چوپ پاتې شوم. ذهن مې لا هم ګډوډ و، لکه د څو نړۍو تر منځ چې بند پاتې وم. بیا مې کرار وویل: هو.
عزیزی لنډ نظر راواچاوه:
– خو ګومان کوم ښځه او زوی دې د پلار په کور کې دي؟
د هغه په دی خبره لږ پر خود راغلم او ومې ویل: ته د کوم خوا خبر یې؟ زما کاکا .. تا ذوالفقار او زبیر نیولی و؟ د هغه سپیانو منحوس کوټه کې دی اچولې وه؟ اوس هم هلته دی بندیان کړی؟!

عزیزی په حیرت راوکتل:
– ته د کوم خوا خبر شوی چې ستا کاکا او ملګری ما نیولې او چیرته مې بندیان کړی؟

په بې‌تفاوته لهجه مې وویل: سایه راته وویل.

– سایه؟! هغه څنګه خبر شو؟!

- نه پوهېږم، وګوره شاید کوم جاسوس په خپله ډله کې لري؟!

زه پوهېدم چې حاجي ته دا خبرونه د هغه پیریانو راوړلي وو، خو عزیزی ته مې د پیریانو په اړه ویلې نشو، نو ځکه مې د دروغو وویل: "جاسوس."

عزیزی په کلک غږ وویل: نه، امکان نه لري. د کوم وخت چې ستا له لاسه مې چل خوړلی، تر هغه وروسته په خپلو کسانو کې یو سړی هم نه نیسم تر څو د اووه پشت نه یې ځان خبر نه کړم.

د هغه په دې خبره خندا راغله:

- ګوره، زما لخوا هم فایده در رسېدلې.

زما په خندا عزیزی هم کرار وخندل:

– انسان باید یوه غلطي دوه ځله تکرار نه کړي.

- جالب ده، دا خبره ما هم اورېدلې.

عزیزی د سر په خوځولو وویل: چیرته؟

- حدیث شریف دی.

– حدیث؟

- اومم... البته په لږ تفاوت، خو معنا یې همدا ستا خبره کېږي.

– ویې وایه.

بې له فکره مې عربي الفاظ په خوله راغلل:

– لا يُلْدَغُ الْمُؤْمِنُ مِنْ جُحْرٍ وَاحِدٍ مَرَّتَيْنِ.

"مؤمن له یوې سوریې دوه ځله نه چیچل کېږي."یعنې یو غلطي دوه ځله نه تکرار کوی'

عزیزی سر د پوهېدو په انداز وخوځاوه:
– جالب ده، عربي لهجه دې ډېره ځواکمنه ده.

زه خپل هم حیران وم. هغه رښتیا ویل، زما عربي لا هم قوي وه. خپل لاس کې مې د شموئیل راکړې ګوتمۍ ته وکتل چې شنه ځلا یې کوله.

یعنې امکان لري لا هم ځواک ولري؟
شموئیل یې په لاس کې اچولو باندې ډېر ټینګار کاوه.
د خبرو بدلولو لپاره مې وویل: ستا فارسي لهجه هم قوي ده.

عزیزی لنډه موسکا وکړه:
– یو څه وخت مې ایران کې تېر کړی.

نور څه مې ونه ویل، که څه هم زړه مې غوښتل وپوښتم: ولې؟ د څه لپاره؟
خو حوصله یې نه وه.

موټر په خاموشۍ کې خپله لاره وهله.
د کړکۍ څخه بهر غرونه تېرېدل، او د سهار کمزورې رڼا ورو، ورو د شپې وروستی اثر ختمول، اشرف د سټېرینګ شاته خاموش ناست و.یوازې د موټر د ماشین غږ و او اوږده، ستړې او خاموش لاره ..

څو دقیقې وروسته عزیزی ناڅاپه وویل: غواړې د الفا قبر ووینې؟

نه پوهېږم ولې، خو بې‌اختیاره مې لهجه ترخه شوه:
- بس دی عزیزی، د مړي پسې څوک خبرې نه کوي.

عزیزی په خندا وویل: اووو، لیاده مې وتلې وه تخو مولا صیب یې، ما فکر کاوه د دومره پعذاب کولو وروسته خوشحاله به شې د قبر په لیدو یې، البته قبر خو ورته نشو ویلی. زیاتره د کندې په شان ده.

څه مې ونه ويل،نه پوهېږم ولې، خو احساس مې کاوه بعضې انسانان باید هماغسې ورک پاتې شي، نه قبر ..نه نښه ..نه یاد.

موټر د بابا دوی د کور د کوڅې سر ته ودرېد.
عجیب و،که څه هم ډېر وخت د دې کور خواته نه وم راغلی، خو احساس مې کاوه د دې زړو دیوالونو پسې مې لا زړه تنګ شوی.دروازه مې خلاصه کړه او ښکته شوم.
خو د تلو مخکې عزیزی راباندې غږ وکړ:
— طاها...

ورو مې کتل، څو شېبې یې فقط راوکتل بیا یې وویل: صندوق دې پاتې شو.
ژر بېرته د موټر خواته وګرځېدم. عزیزی صندوق زما لاس ته راکړ، د راکولو مخکې یې لږ وخوځاوه او په شیطنت یې وویل: طلا خو پکې نه ښکاري،داسې غږ لري لکه کاغذ ... شاید ډالر وي؟!

خپل په خبره یې وخندل، ما ته هم خندا راغله.
- دومره کنجوس مه اوسېږه عزیزی، درې منه طلا لري.
عزیزی په موسکا سروخوځاوه:
— اهومم .. خو حیران یم څنګه پوه شوې ما طلا هلته پټه کړې؟
څو قدمه شاته شوم، خو د تلو مخکې مې وویل: هر انسان د یو شي شوق لري عزیزی او ستا شوق د طلاو پټول د ځمکې لاندې دي.

زما په دی خبره عزیزی په لوړ غږ پخندا شو او د موټر د دروازی بندولو حال کې وویل: نو باید دا شوق بدل کړم مخکې له دې چې ټوله طلا مې له لاسه ووځي.

ما ته یې د څه ویلو موقع رانکړل او اشرف ته یې د تګ وویل او ډېر ژر موټر د کوڅې له سره ورک شو. د هغه په تلو تازه مې ځان یوازې احساس کړ. ژوره ساه مې واخیسته او د کور پر خوا روان شوم. د سهار هوا یخه وه. د مونځو وخت و کله چې

د دروازې مخې ته ودرېدم. لاس مې د دروازې د ټکولو لپاره پورته کړ، خو ناڅاپه زړه نا زړه شوم.

یعنې زه چې د لسکونو پیریانو، شیطانانو او نورو موجوداتو مخکې ودریدلې شوم اوس خپل د کورنۍ سره د مخامخ کېدلو څخه مې وېره درلود.
صندوق په لاس ولاړ وم او د راتلونکي حالت تخمین مې کاوه، چې د کوڅې له سره د قدمونو اواز مې واورېد. سر مې وګرځاوه. بابا و... د مسجد له خوا راروان و.

نسواری رنګ کالي اغوستې وه او خپل مشهور فیرزوی رنګ تسبیح په لاس کې وه، خو نن ډېر بدل ښکارېده. د پخوا په شان نه راته ښکاریدی. داسې قدمونه یې اخیستل لکه درونه بار چې پر اوږو پروت وی، څیره راته داسي ښکاریدل لکه لس کاله چې په یو هفته کې ورباندی تیر شوی وی دومره بوډا او مات معلومیدی.

کرار ګامونو یې اخیستل او سر یې ښکته و، خدای خبر په کوم فکرونو کې به ورک و. څکه زه یې د کور مخکې ولاړ وم خو تر اوسه یې نه وم لیدلی. بې حرکت تر هغه وخت ولاړ وم تر څو چې بابا د کور د دروازی مخ ته راورسید تازه هغه وخت یې سر پورته کړ او سترګې یې پر ما ولګېدې.

قدمونه یې ناڅاپه ودرېدل، تسبیح یې د لاس په منځ کې بنده پاتې شوه.
د څو ثانیو لپاره یوازې راوکتل، په داسې نظر لکه خوب چې ویني او باور یې نه وی شوی، څو شیبی وروسته شونډې یې لړ وخوځېدې، خو غږ ورڅخه را ونه وت. بیا یې کرار، ډېر کرار زما خواته قدم واخیست.زما مخې ته چې ودرېد، څو شیبې بیا په ځیر نظر راوکتل داسې لکه ځان ډاډه کوي چې رښتیا یم او خیال نه یم.

کرار یې لاس پورته کړ، رښتیا که ووایم د څپېړې په انتظار وم خو کله چې یې لاس زما پر مخ، سترګو، ږیره او ویښتیانو تېر کړل، پوه شوم چې غواړی خپل زړه ډاډه کړی چې د رښتیا یې زه مخ ته ولاړ یم او راغلی یم.

ژوره ساه یې واخیسته او کرار یې وویل: طاها ... زویه ..!

د بابا غږ کې عجیب درد او سترېیا پرته وه دومره چې ستونی مې وچ شو.څو ځله مې غوښتل څه ووایم، خو الفاظ مې له خولې راونه وتل، یوازې مې د بابا سترګو ته کتل. هماغه توری هیبتناکې سترګې خو نن راته پکې د زور او غوسې لځایه یوازې د یو پلار سترګی ښکاریدل ... یو مات شوی پلار ..

بابا کرار خپل لاس زما د مخ څخه زما د اوږې خواته یوړ او زما اوږه یې لاس کې کلک ونیول او د سترګو له کونج یې سر تر پښو راوکتل داسې لکه وېرېدی چې زخمی ونه اوسیږم، بیا یې کرار وویل: هره ورځ د دروازې اواز ته مې غوږ نیولی و، په هر ټک به مې کتل چې شاید ته راغلی اوسېږی(د بابا په دی خبره په شرم مې سر ښکته واچو) زما خو دی په دا څو ورځو کې ملا رامات کړه بچیه ...

هر ځل چې محمد ته مې کتل له خدایه مې غوښتل چې ستا بلا دی پر ما راشې او ما دی واخلی، خو تا دی د دې ماشوم په روی که لا کیږی ژوندی ولری.

په تلوار مې سر پورته کړ د بابا سترګو کې مې لومړی ځل اوښکې ولیدل، ما ته هم ژړا راغلی وه، زما یو بد خاصیت دا دی چې د ژړا او احساساتې کیدلو وخت کې خبری نشم کولای، غوښتل مې ورته ووایم خدای دی هغه ورځ نه راوړی چې پر تاسو دی کوم څه وشی، خو ومې نشو ویلې، هېڅ مې ونشو ویې. خو بابا لکه چې د نظر مې پوه شو ځکه ترخه موسکا یې پر شونډو راغلل او ویې ویل: همغه ماشوم یې طاها .. د دومره کلونو وروسته بیا هم غبې نه شوی، ذوالفقار چی کله راته وویل د یو ګوردی لپاره دی څه کارونه کړی، حیران شوم!

ذهن مې هیڅ نه منل چې اخر څنګه یو کس د یو داسې کوچنی کار لپاره دومره خپل ځان په مصیبت کی اچولی شی! خو وروسته می یاد ته راغلل چی ته هر کس نه یې. ته(په همغه ترخه موسکا یې سرو خوځاوه) ته همغه ډبو سری طاها یې ...

د بابا په دی خبره مې شونډه وچیچل تر څو ونه ژاړم، کلونه کیدل چې بابا نور دا نوم نه و راته اخیستی "ډبو سری" دا هغه نوم و چې بابا به راته اخیست او دلیل یې

دا و چې تل به چې کوم مصیبت، جنګ او جګړه وايې نو که زه ملامت وايې او کنه، خو سر به مې ضرور پکې پرېسیدلې وو ..

کرار مې وویل: خلک خپل پر ماشومانو ښه نومونه ږدی،ځکه نوم ډېر تاثیر لری.
د بابا سترګو ته مې وکتل:
- خو تاسو دا نوم ماته راکړ، نو ځکه تر اوسه چې د آسمان سر کې هره بلا وی زما په سر رانازل ده.

زما په دی خبره بابا په لوړ غږ وخندل، دا لومړی ځل و چې ما بابا پخندا لیدی، هغه هم زما خبری ته خندیدل عجیب راته ښکارید، خو عین حال کې بیحد خوشحال وم، بیحد ...

بابا- زه دا ګیله به دی پر ځای کړم، یو خیرات به وکم، خلک به راټول کم او دا نوم به درڅخه واړوم، او نوی نوم به درکړم د کور خاوند ... شاید د دی نوم په برکت نور په کور پاتې شې او میاشت کی یو ځل د پیریانو په شان غیب نشي.

رښتیا که ووایم فکر مې کاوه خوب وینم! خو حاضر وم خپل ټول ژوند ورکړم، خو دې خوب کې د تل لپاره اوسیږم، ما د بابا د همدی طنز امیز لهجې،خنداګانو او خبرو لا حسرت درلود، ما تر اوسه بابا یوازی پر وهلو، ټکولو، تندی تروش کولو، غوسه کولو او بد رد ویلو لیدلې وو .. عمر کې مې د هغه د ځیری دا اړخ نه وه لیدلې ..

بابا خپل لاس زما د اوږی څخه راتاوو کړ او د کور دروازه یې خلاصه کړه او د هغه وختونو په شان چې کلې کی و او بابا به کوم وخت ډېر خوشحاله و نو کور ته د راننوتلو سره سم به یې ادی ته ناری وهل:

— اوو! انارګلې تخو یو ځل سر دې خوا راښکاره کړه.

د بابا په دی لهجه زما خندا راغلل، بابا هم کرار وخندل، چې د کور له دننه څخه په یوه شیبه کې څو جوړه سترګي راښکاره شوې هر سترګې، یوه جلا کیسه درلود او زه

پوهېدم، لا ډېرې خبرې پاتې دي ..لا ډېر زخمونه پاتې دي او لا ډېر څه ېرته رغول پاتې دي. خو په یوه خبره سل په سل ډاډه وم، هغه دا چې تر څو چې د انسان په بدن کې ساه ګرځي، تر څو چې یې زړه درزېږي تر هغه وخت امید شته او هېڅ کار ناممکن نه دی.

نه وایم چې د تیارو وروسته رڼا ده، یا د سختي وروسته آساني ده، یا د غم وروسته خوشحالي .. ځکه دا هسې ډیالوګ دی بلکې د خدای خبره وایم چې فرمایي: فَإِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا." بېشکه له سختۍ سره اساني شته" یعني ګډ، خوشحالۍ کوم دور نه دی چې راشي او لاړ شي، غم هم کوم وخت نه دی چې تیر شي، دا دواړه تل یو دبل سره ترلي، دواړه امکان لری په یو ورځ کې د یو انسان سره پیښ شي، شاید سهار وژاړې خو ماښام وخاندی ...

#د_ابلیس_ناول_د_څلورم_پړاو_زقوم_ناول_پای.
#لیکوال_خواجه_زي.

#په دې امید چې ناول مو د خوښې وړ ګرځیدلې وی او سترې شوی نه یاست. او مننه له دې چې زما لیکنه مو څارل او هر برخه کې مو خپل ښکلې او مثبت نظرات راسره شریکول، ستاسو شتون د تل په شان ماته د لیکلو ځواک راکو، نو تل خوشحاله اوسیږی ملګرو❤️

او خاص مننه د هغه ملګرو څخه چې برخه، په برخه او کرښه په کرښه یې ناول تعقیب کړو، صبر، انتظار او زغم یې وکړو❤️ هغه کسان چې فایل ته ولاړ دی او تر اوسه یې ناول نه دې ویلې زه هغوی ته له سر خپل د قلم مینوال نه وایم، ځکه اصل مینوال هغه کسان وه چې پنځه میاشتې او څلور ورځې .. هره ورځ، هر ساعت او هر دقه زما لیکنه تعقیب کړل دا کسان ما ته د زړه له تل ګران او عزیز دی. د همدی کسانو پر مټ ما دا ناول پای ته ورسو که د هغه کسانو په امید پاتی شوی وایې چې

ولاړې دی تر څو فایل په مکمل توګه په یو ځل ووایې نو شاید د عمر تر اخره مې دا ناول نه وایي تمام کړی. زه یو عادت لرم د نور لیکوالانو په شان نشم کولای یو کیسه شروع کړم یوه میاشت کی پای ته ورسوم بیا د هغه وروسته ټول فایل نشر کړم.

زه ډېر لحظي لیکوال یم همغه شیبه کی لیکنه وکړم ښه تر ښه، که وروسته ته یې پریږدم نو وروسته په وروسته کې راڅخه پاتي کیږی😬 نو بیا هم جهان سپاس ستاسو د فعال شتون څخه، تر بل ناول ستاسو څخه مې یو درخواست درلود هغه دا چې لومړی لایک او کمینټ مو لا فعال کړی او هغه خوبجن کسان هم راویښ کړی او بل دا چې زما د چینل لینک خپل د ملګرو سره نشر کړی، اوس وخت تاسو ټول فسبوک لری که فسبوک نه وی ټیک ټاک خو ضرور لری که هغه هم نه وی، نو وټساپ کې خو یو دوه خیرن ملګری ضرور لری😬

نو بهاني مه راوړی چی زه ولای فلان نه لرم او بستان نه لرم یو وخت کی د یو ځل لپاره که تاسو ټول زما د چینل لینک نشر کړی او یو پوسټ وکړی زما لپاره نو دا به زما لپاره نړی ارزښت ولری، ما د دی ناول سره تقریبا 13 ناول نشر کړی دي او ټول هم یا زما لیکلي ناولونه دی یا هم ژباړلې یعني کاپي یا زوړ ناول نه دی.

خو بیا هم زما د چینل ممبر د هغه چینل څخه چې زما ناولونه کاپي او نشر کوی کم دی😵 نو خدای و راستي ستاسو په نظر دا ظلم نه دی؟! نو شابه لږ همکاری وکړی راویښ شې، ژوندی شې تر څو زه هم یو بل ښکلې ناول د نشر کولو لپاره چمتو کړم. بل ناول ستاسو پر فعالیت کار لری ګلانوو، هر څومره چې تاسو فعال اوسیږی ملګری رادعوت کړي هغومره ژر به زه بل ناول نشر کړم❤️

#خواجه_زی

دا زما شخصي د ټلګرام چینل دي زه خپل ټول ناولونه همدلته نشر کوم.
https://t.me/pashtoonovels0
که ټلګرام کې دا ایډي هم سرچ کړی نو زما چینل پیدا کولای شې
shuhab09@